هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ

تفہیم القرآن

سُورۃ محمدؐ ـــــ سورۃ الطّلاق

ابوالاعلیٰ مودودیؒ

پنجم جلد

پشتو ترجمہ

پروفیسر شفیق الرحمٰن تنکیؒ

ناشر۔ مکتبۃ الہدیٰ

نیو بس اڈہ فوارہ مارکیٹ مردان

جملہ حقوق بحق ناشر محفوظ ہیں

چاپ کونکے اوخورونکے: حافظ عبیداللہ ناظم مکتبہ الہدیٰ فوارہ مارکیٹ نیوادہ مردان

پریس:۔

اول حل:۔

کتابت کونکے: احمد گل جلالہ

ھدیہ:۔

تعداد: یوزر (ایک ہزار)۔

پہ سرپرستی د

جماعت اسلامی تخت بھائی ضلع مردان

د ملاویدونکے

(۱) دفتر جماعت اسلامی رشید مارکیٹ تخت بھائی۔
(۲) نور محمد ایڈووکیٹ البدر سٹیل ورکس بٹ خیلہ ملاکنڈ ایجنسی
(۳) البدر بک سیلرز ایئرپورٹ روڈ مینگورہ سوات
(۴) مکتبہ دعوۃ القرآن والحدیث نیو روڈ مینگورہ سوات
(۵) الفضل بکسیلرز دیر خاص۔
(۶) حرا بک ڈپو عقب فلائنگ کوچ اڈہ مین روڈ تیمرگرہ
(۷) محمود بک سیلرز سواڑی بازار بونیر
(۸) مکتبۂ تطہیر افکار ڈھکی منور شاہ قصہ خوانی پشاور شہر
(۹) پیر سردار شاہ پبی جی ٹی روڈ ضلع نوشہرہ
(۱۰) دفاتر تحریک محنت پشاور، نوشہرہ، مردان، صوابی، مینگورہ سوات۔
(۱۱) عبدالغفور عابدی بمعرفت محمد اسحاق کونسلر فرنٹیئر کالونی کراچی
(۱۲) حاجی شیر خان نیو محمدی کالونی لیاری سٹیشن ماڑی پور روڈ کراچی

چاپ کونکے

مکتبۂ الہدیٰ نیوادہ فوارہ مارکیٹ ضلع مردان

فون: ۶۳۲۶۹۴

دَسُورتونو فہرست

نمبر شمار	دَسُورۃ نوم	دَسُورہ نمبر	صفحہ
۱	مُحَمّد	۴۷	۶
۲	الفتح	۴۸	۳۶
۳	الحجرات	۴۹	۶۸
۴	قٓ	۵۰	۱۰۶
۵	الذّاریات	۵۱	۱۳۰
۶	الطّور	۵۲	۱۶۰
۷	النّجم	۵۳	۱۸۸
۸	القمر	۵۴	۲۲۶
۹	الرَّحْمٰن	۵۵	۲۴۴
۱۰	الواقعۃ	۵۶	۲۷۴
۱۱	الحدید	۵۷	۲۹۸
۱۲	المُجادلۃ	۵۸	۳۳۶
۱۳	الحشر	۵۹	۳۷۰
۱۴	المُمتحنۃ	۶۰	۴۲۰
۱۵	الصّف	۶۱	۴۵۲
۱۶	الجُمعۃ	۶۲	۴۸۲
۱۷	المنافقون	۶۳	۵۰۸
۱۸	التّغابن	۶۴	۵۲۴
۱۹	الطّلاق	۶۵	۵۵۰
۲۰	دَموضوعاتو فہرست	*	۵۸۵

تفهم القرآن

محمد

٤٧

محمد

نوم د آیت نمبر ۲ د فقرے وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ نه اخستلے شوے دے۔ مطلب دادے چه دا هغه سورة دے چه په دے کښے د مُحَمَّدٌ صلی الله علیه وسلم نوم مبارک راغلے دے۔ دے نه علاوه دے ته یوبل مشهور نوم "قتال" هم دے چه د آیت ۲۰ د فقرے وَذُكِرَ فِيْهَا الْقِتَالُ نه اخستلے شوے دے

د نازلیدو زمانه دے سورة د مضمونونه دا معلومیږی چه دا د هجرت نږدے شوې په مدینه کښے په هغه وخت کښے نازل شوے وُو چه د کفر سره جنګ حکم خو شوے وُو لیکن جنګ لا عملاً شروع شوے نه وُو۔ دے ته تفصیلی دلیلونه وړاندے په حاشیه ۸ کښے راځی۔

تاریخی حالات په کومه زمانه کښے چه دا سورة نازل شوے ده په هغه وخت کښے حالات داوُو چه په مکه معظمه کښے خاص طور د مسلمانانو سره او په مکه کښے عام طور په هر ځای کښے په مسلمانانو ظلمونه کیدل او ژوند پرې تنګ شوے وُو۔ مسلمانان د هر طرف نه راغلی وُو د مدینے په دارالامان کښے جمع شوی وُو، لیکن قریشی کافرانو دلته هم هغوئ په آرام نه پریښودل۔ د مدینے ورور کے شان کلے د هر طرف نه د کافرانو په کیږه کښے وُو او هغوئ دے کلی د ختمولو پخه اراده کړی وه۔ په دا سے سخت حالت کښے د مسلمانانو د پاره صرف دوه لارے پاتے شوی وے۔ یا خو دا چه هغوئ د حق دین د تبلیغ او پیروی نه منع شی او د جاهلیت مخے ته ټوره دال خوزا کړی۔ او یا دا چه د خپل سرنه ورتیږی او د جنګ د پاره راپاسی او د همیشه د پاره دا فیصله اوکړی چه د عرب په زمکه به اسلام وی یا جاهلیت۔ په دے موقع الله تعالیٰ مسلمانانو ته د هغه لوړهمت لار اُوښودله چه هغه د مؤمنانو د پاره اکئ یوه لاره ده۔ هغه ورته اول د سورة حج په آیت ۳۹ کښے د جنګ اجازت ورکړو او بیا ئے ورته د سورة بقرے په آیت ۱۹۰ کښے د جنګ حکم اُوکړو۔ لیکن په هغه وخت کښے هرسړی ته معلومه وه چه په دے حالا تو کښے جنګ کول څه معنی لری۔ په مدینه کښے د مومنانو یو موټے خلق وُو چه پوره زرکسان کښے هم د جنګ کولو قابل نه وُو او هغوئ ته حکم کیدو چه د ټول عرب د جاهلیت سره د وغږے خوړلو د پاره ټوره راواخلی او راپاسی۔ بیا د جنګ د پاره چه د کوم سازوسامان ضرورت وُو هغه خو څه خبره وه هغوئ د یرې په مشکل سره د خپلے خپلے نورئ یمه کره او یو څو سوُ بے کوره مهاجرولے ئے په خپل کلی کښے ځایئے ورکړو بیا هم مهاجرین پوره ټیکاؤ شوی نه وُو او د څلورو واړو طرفونو نه ورسره عربو روزګاربند کړے وُو او هغے ښه زپلی وُو۔

موضوع او مضمون په دے حالا تو کښے دا سورة نازل کړے شوه۔ د دے موضوع دا ده چه مومنان جنګ ته تیار کړے شی او په دے سلسله کښے ورته اولنی هدایات ورکړے شی۔ په دے مناسبت سره دے سورة ته سورة قتال هم ویلے شوے دے۔ په دے کښے ترتیب وار لاندینی مضمونونه ذکر کړے شوی دی:

په شروع کښې د ټیلې شوی دی چه په دے وخت کښې د دوو ډلو په منځ کښې مقابله ده۔ یوه ډله د حق د منلو نه انکار کړے دے او د الله په لارکښې د لارې خنډ جوړ شوے دے۔ او دویمه ډله هغه حق منلے دے کوم چه د الله تعالیٰ د طرف نه د هغه په بنده حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوے وو۔ اوس د الله تعالیٰ صفا فیصله داده چه د اولے ډلے ټول کوشښونه هغه ضائع کړل، او د دویمے ډلے حالات ئے صحیح کړل۔

د دے نه روستو مسلمانانو ته د جنګ اولنی هدایات ورکړے شوی دی۔ هغوی ته د الله تعالیٰ امداد او د هغه د رهنمایئ یقین ورکړے شوے دے۔ هغوی له اُمید ورکړے شوے دے چه چا د الله په لارکښې قربانی اُوکړه هغه له به د هغه بهترین اجر ورکړے کیږی۔ هغوی له تسلی ورکړے شوی ده چه د حق په لارکښې به د هغوی کوشښونه عبث نه څی بلکه په دُنیا کښې به ورته هم ښه بدله ملاویږی او په آخرت کښې هم۔

بیا د کافرانو په حقله ټیلې شوی دی چه هغوی د الله د مرستے او د هغه د رهنمایئ نه محروم دی۔ د هغوی هر کوشش به د مومنانو په مقابله کښې ناپائده مند نه وی او هغوی به په دُنیا او په آخرت دواړو کښې د خراب انجام سره مخ کیږی۔ هغوی چه د الله نبی د مکے نه اُووېستو او دائے وُکنډله چه کښې هغوی تر غټه کامیابی نصیب شوی ده، حالانکه هغوی په اصل کښې په دے کار کولو سره خپله تباهی پخپله په ځان راوستله۔

کوے نه روستو خبره منافقانو ته کیږی چه د جنګ د حکم د راتلونه مخکښې خو ئے د مسلمانئ غټے دعوے کولے، خو چه کله د جنګ حکم راغے نو بیا ئے خپے اُوخوئیدلے او د خپل خیر لټولو په فکر کښې ئے د کافرانو سره په دے غرض سازباز شروع کړو چه د جنګ د خطرنه ځان بچ کړی۔ هغوی ته صفا صفا اُوو ئیلے شو چه څوک د الله او د هغه د دین په معامله کښې منافقت کوی نو د هغوی یو عمل هم د الله په دربار کښې قبول نه دے۔ دلته خو هغه بنیادی خبره چه په هغے د ایمان د دعوی کیږو خلقو آزمیښت کیږی دا ده چه آیا سړے د حق سره دے او که د باطل سره؟ چه آیا د سړی مینه د اسلام او د مسلمانانو سره ده او که د کفر او د کافرانو سره ده؟ چه آیا هغه ته خپل ځان او خپلے فائدے خوږه دی او که هغه حق چه په هغے باندې د ایمان راوړلو هغه دعوی کوی؟ په دے آزمیښت کښې چا څوک ګوته اُوخیژی هغه هر و د سړه مومن نه دے، نو د هغه مُونځ او د هغه روژه او د هغه زکوٰة به د خدائے په دربار کښې د څه اجر مستحق شی۔

بیا مسلمانانو ته نصیحت شوے دے چه د خپل کم تعداد او کم سامان، او د کافرانو د ډیر تعداد او د ډیر سامان په وجه حوصله او همت مه بائیلئ، د ګیلے په لاس ور اُوږد دلو سره هغوی ته د خپلے کمزورئ اظهار مه کوئ چه په داسان هغوی د اسلام او د مسلمانانو په مقابله کښې نور زیات زړه ورنشی، بلکه د الله په بروسه باندې ډاډمنی او د کفر د غرله

په دغره ورشئ۔ الله د مسلمانانو منکرے دے۔ هم دوئ به غالب کیږی اوهم د دوئ په دغره به د کفرد اغږ درے وړے کیږی۔

په آخر کښے مسلمانانو ته د الله په لار کښے د خرچ کولو په حقله وینا شوی ده۔ اګرچه په هغه وخت کښے د مسلمانانو مالی حالت دیر کمزورے وُو، لیکن لږے ته مسئله د اپیښه وه چه آیا په عربو کښے د اسلام او مسلمانان ژوندی پاتے شی اوکه نه؟ دا مسئله دیره اهمه اونازکه مسئله وه، په دے وجه مسلمانانو له پکار وُو چه خپل ځان اوخپل دین د کفر د غلبے نه د پخپل کولو د پاره او د الله د دین د غالب کولو د پاره پخپله هم او جنګیږی اوخپل مالونه هم د امکان د حده پورے خرچ کړی۔ په دے وجه مسلمانانو ته اُوفرمایئلے شوچه په دے وخت کښے کوم سړی د بُخل نه کار واغلی نو هغه به د الله هیڅ نقصان اُونه کړی بلکه پخپله به خپل ځان د هلاکت په خطره کښے واچوی۔ الله خود انسانانو محتاج نه دے۔ د هغه د دین د پاره که یوه ډله د قربانئ ورکولو نه ډډه کوی نو الله به هغه لرے کړی اود هغے په ځائے به بله ډله راولی۔

ایاتہا ۳۸ سُوْرَةُ مُحَمَّدٍ مَّدَنِيَّةٌ رکوعاتہا ۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ①

کومو خلقو چہ کفر اوکړو[1] او د اللہ د لارې نه یې خلق منع کړل[2] نو اللہ د هغوی عملونه ضایع کړل[3]

[1] یعنی د هغه تعلیم او د هغه هدایت منلو نه یې انکار وکړو کوم چې محمد صلی اللہ علیہ وسلم پیش کولو۔

[2] په اصل کښې صَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الفاظ استعمال شوی دی۔ صَدّ په عربۍ ژبه کښې لازم او متعدی دواړه استعمالیږی۔ نو دې الفاظو مطلب داهم دے چه هغوی پخپله د اللہ لارې نه راتلو نه منع شو، او داهم دے چه هغوی نورخلق دې لارې ته د راتلونه منع کړل۔

نورخلق د اللہ د لارې نه د منع کولو دوه صورتونه دی۔ دَدې یو صورت دا دے چه سړے په زور باندې بل څوک د ایمان راوړلونه منع کړی۔ دویم صورت دا دے چه سړے په ایمان راوړونکو باندې داسے ظلمونه شروع کړی چه د هغوی د پاره په ایمان باندې ټینګیدل او د نورو خلقو د پاره په داسے ظلمونو کښې ایمان راوړل ګران شی۔ دریم صورت دا دے چه سړے په مختلفو طریقو سره د دین خلاف او د دیندارو خلقو خلاف خلق په دوکه کښې اچوی او داسے وسوسے د خلقو په زړونو کښې اچوی چه په هغے سره هغوی د دین نه بدګمانه شی۔ دا دے نه علاوه هر کافر د اللہ د لارې نه منع کونکے دے ځکه چه هغه خپل پخې د کفر په طریقه لویوی او بیا د هغوی د نوی نسل د پاره د پلار بنکه دین پریښودل او اسلام قبلول ګران شی۔ د غه شان ټول کافران د خدائے په لارې یو لوی خنډ دے ځکه چه هغوی د خپل تعلیم او تربیت په ذریعه، د خپل اجتماعی نظام په ذریعه، د خپلو رسمونو ریواجونو په ذریعه او د ننګ ناموس په ذریعه د حق دین په خوریدو کښې سخت بندیزونه راولاړوی۔

[3] اصل الفاظ دی اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ۔ د هغوی عملونه ئے بے لارې کړل، په غلطه لارې ئے وګرځول، ضایع ئے کړل۔ دا الفاظ د مطلب نه ډک الفاظ دی۔ دَدې یو مطلب دا دے چه اللہ تعالیٰ د هغوی نه دا توفیق واغستو چه د هغوی کوشښونه او محنتونه دې په صحیح لارې کښې اوګی۔ اُوس چه هغوی هرڅه کوی نو د غلط مقصد د پاره به ئے په غلطو طریقو کوی او د هغوی تولې مندې تره به د هدایت په ځلاند کمراهئی د پاره وی۔ دویم مطلب دا دے چه کوم کار هغوی په خپل نزکښې د خیر کار ګڼلے دے او اُوس ئے هم کوی، مثلاً د خانه کعبے شوکیداری، د حاجیانو خدمت، د میلمنو خدمت، د رشته دارانو سره خپلوی قایم ساتل او دغسے نور ډیر کارونه چه هغه به په عربو کښې مذهبی او اخلاقی کنړلے شو، اللہ تعالیٰ هغه ټول ضایع کړل۔ د هغے هیڅ اجر او ثواب به هغوی ته نه ملاویږی۔ ځکه چه هر کله هغوی د اللہ د توحید او خاص

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى
مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ۝۲
ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَاَنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

اوکومونخلقو چه ایمان راوړو اونیک عمل ئې اوکړو اوهغه څیزئې اومنو کوم چه په محمدؐ باندې نازل شوې دے ـــــ اوهغه سراسر حق دے دهغوئ ډرب دطرفنه ـــــ الله دهغوئ ګناهونه دهغوئ نه لرے کړل اودهغوئ حال ئې صحیح کړو۔ داحکمه چه کافران په باطل پسے لاړل اومومنان

دالله دعبادت کولونه انکار کوی اونورخلق هم دیے لارے نه منع کوی نو دهغوئ یو عمل هم دالله په دربار کښے قبلیدے نشی۔ دویم مطلب دادے چه دحق دلارے ډبندولو اوپه عربو کښے دکفر دخورولو دپاره کوم کوششونه هغوئ دمحمدؐ صلی الله علیه وسلم په مقابله کښے کوی، الله هغه ټول ضایع کړل۔ دهغوئ ټول تدبیرونه اوس هیسے تش ډرند وغشی دی۔ په دے تدبیرونو سره به هغوئ خپل مقصد ته هرګز اونه رسیدے شی۔

۴ اګرچه دالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ته روستو دا مَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وئیلو شه حاجت نه پاتے کیږی ځکه چه په ایمان راوړلو کښے په محمد صلی الله علیه وسلم اودهغه په تعلیماتو باندې ایمان راوړل پخپله شامل دی، لیکن دیے جُدا ذکر خاص طور دیے دپاره شوے دے چه دمحمدؐ صلی الله علیه وسلم دراتلونه روستو که څوک خدائے اوآخرت او محکمې رسولان او محکمې کتابونه منی هم خو هغه ترهغه وخته پورے فائده نه لری ترڅوچه هغه نبی صلی الله علیه وسلم اودهغه په راوړے شوی تعلیماتو باندې ایمان نه وی راوړے۔ داصفاتو ځکه ضروری دی چه دهجرت نه روستو په مدینه کښے هغه خلق هم اوسیدل چه دایمان نورے تولے خبرے ئے منلے خوډ محمدؐ صلی الله علیه وسلم دډ رسالت نه ئے انکار کولو۔

۵ دیے دوه مطلبونه دی۔ یو داچه دجاهلیت په زمانه کښے کومه ګناهونه دهغوئ نه شوی وو الله تعالیٰ هغه ټول دهغوئ دکهاتے نه لرے کړل۔ اوس به دهغه ګناهونو ټپوس دهغوئ نه نه کیږی۔ دویم مطلب دادے چه دهغوئ په عقیده او خیالاتو کښے اودهغوئ په اخلاقو اودهغوئ په عملونو کښے چه کومے خرابیانے وے الله تعالیٰ هغه دهغوئ نه لرے کړے۔ اودهغوئ ذهنونه بدل شو۔ دهغوئ عقیدے اودهغوئ خیالات بدل شو۔ دهغوئ عادتونه اودهغوئ خیونه بدل شو۔ دهغوئ عملونه اودهغوئ کردار بدل شو۔ اوس په هغوی کښے دجاهلیت په ځائے ایمان دے اودبد عمل په ځائے نیک عمل دے

۶ دیے هم دوه مطلبونه دی۔ یو داچه الله تعالیٰ ورله هغه حالت بدل کړو اودآینده دپاره ئے په صحیح لار ورسم کړل اوژوند ئے ورله صحیح کړو۔ اودویم مطلب داچه دهغوئ دوسه پورے په هغوی کښے کومے کمزورياني وے اودبے وسئ اودمظلومئ په کوم حالت کښے هغوئ اخته وو

اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِن رَّبِّهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ لِلنَّاسِ أَمْثَالَهُمْ ﴿٣﴾ فَإِذَا
لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّىٰ إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا
الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّىٰ تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ۚ ﴿٤﴾ ع ۱۳

په هغه حق پسے لاړل کوم چه د هغوی د رب د طرفنه راغلے دے - د غه شان الله تعالیٰ خلقو ته د هغوی ټیک ټیک حیثیت بنائی ۵

پس هرکله چه د دے کافرانو سره ستاسو مقابله وی نو اولنے کار څټونه وهل دی، آن تر دے پورے چه تاسو هغوی بنه اوکړئ نو بیا د هغے قیدیان مضبوط اړتړئ، نو بیا (تاسو ته اختیار دے) که احسان کوئ او که د فدیے معامله کوئ، تر هغه وخته پورے چه جنګ خپله وسله غوزاره کړی ۸

الله تعالیٰ هغوی د هغے نه ابتلی دی - اوس هغه د هغوی د پاره داسے حالات پیدا کړی دی، چه په هغے کښے به هغوی د ظلم د برداشت کولو په ځائے د ظالمانو مقابله کوی، د محکوم اوسیدو په ځائے به د خپل ژوند انتظام پخپله په آزادئ سره چلوی او د مغلوب کیدو په ځائے به غالب اوسی.

۵ اصل الفاظ دی كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ - د دے فقرے لفظی ترجمه خو داده چه "د غه شان الله د خلقو د پاره د هغوی مثالونه وړکوی" لیکن په دے لفظی ترجمے سره اصل مطلب نه واضحه کیږی. اصل مطلب دا دے چه د غه شان الله تعالیٰ دا وړاندے د هغوی حیثیت ټیک ټیک وړښائی - یوه دله په باطل پسے وړپسے ده نو په دے وجه الله تعالیٰ د هغوی ټول کوششونه او عملونه بے فایدے کړل - او بلے دله د حق پیروی اختیار کړه ده په دے وجه الله تعالیٰ هغوی د ګناهونو نه پاک کړی دی او د هغوی حالات ئے صحیح کړی دی.

۸ د دے آیت د الفاظو نه هم، او په کوم عبارت کښے چه دا آیت راغلے دے د هغے نه هم دا خبره صفا معلومیږی چه دا آیت د جنګ د حکم د راتلو نه روستو او د جنګ شروع کیدو نه مخکښے نازل شوے دے. "هرکله چه د کافرانو سره ستاسو مقابله وی" دا الفاظ په دے خبره دلالت کوی چه تر اوسه لا مقابله شوی نه ده، او د مقابلے د کیدو نه مخکښے دا هدایت ورکړے کیږی چه کله مقابله وی نو څه کول پکار دی

وړاندے د شلم نمبر آیت الفاظ په دے خبره گواهی کوی چه دا سورة په هغه زمانه کښے نازل شوے وو کله چه د سورة حج په آیت ۳۹ کښے، او د سورة بقرے په آیت ۱۹۰ کښے د جنګ حکم راغلے وو او د دے د یرے د وجے نه د مدینے د منافقانو او د کمزورو ایمان والو خلقو حال داجور شوے وو چه لکه په هغوی باندے د مرګ تیرے راخورے شوی دی.

د دے نه علاوه د سورة انفال آیتونه ۶۷، ۶۹ هم په دے خبره گواه دی چه دا آیت د جنګ بدر نه مخکښے نازل شوے وو. هلته حکم شوے دے چه:

"د یو نبی سره دا نه ښائی چه د هغه سره د قیدیانو وی تر څو چه هغه په زمکه کښے

دُشمنان بنه ریزمریزنه کړی۔ تاسو دُنیا فایدے غواړئ، حالانکه د الله په نظر کښے آخرت دے۔ او الله غالب او حکیم دے۔ که د الله لیک مخکښے لیکلے شوے نه وے، نو څه چه تاسو اغستلی دی د هغے په بدله کښے به تاسو ته لوے یه سزا درکړے شوے وے۔ پس تاسو چه کوم مال حاصل کړے دے هغه خوړئ ځکه چه هغه حلال او پاک دے۔"

په دے عبارت باندے او خاص طور د خط د لاندے په عبارت باندے چه سړے غور اوکړی نو دا خبره په ډاګه کیږی چه په دے موقعه په کومه خبره زُور نه ورکړے شوی وه هغه دا وه چه په جنګ بدر کښے مسلمانانو خپل دُشمنان لا بنه ریزمریز کړی نه وُو او د هغوئ په قید و لوټے شروع کړی وه، حالانکه د جنګ نه مخکښے چه کوم هدایت په سورۀ محمد کښے هغوئ ته شوے وُو هغه دا وُو "چه هرکله تاسو هغوئ بنه ریزمریز کړئ نو پس د هغے قیدیان مضبوط اُوتړئ۔" بیا هم چونکه په سورۀ محمد کښے مسلمانانو ته د قیدیانو نه د فدیے اغستلو اجازت شوے وُو نو په دے وجه د جنګ بدر د قیدیانو نه چه کوم مال واغستلے شو هغه الله تعالیٰ حلال کړو او د هغے په اغستونکے مسلمانانو نه سزا ورنه کړه۔" که د الله لیک مخکښے لیکلے شوے نه وے" دا الفاظ دے خبرے ته صفا اشاره کوی چه د دے واقعے نه مخکښے د فدیے اغستلو اجازت په قرآن کښے راغلے وُو۔ او بنکاره خبره ده چه په قرآن کښے د سورۀ محمد د دے آیت نه سوا بل دویم آیت دا سے نشته چه په هغے کښے دا فرمان موندے شی۔ نو په دے وجه موږ به ضرور دا منو چه دا آیت د سورۀ انفال د پاسنی آیت نه مخکښے نازل شوے وُو (زیاته تشریح د پاره اُوګوره تفهیم القرآن دوم جلد، سورۀ انفال حاشیه ۴۹)۔

دا د قرآن مجید اولنے آیت دے چه په دے کښے د جنګ د قانون په حقله اولنی هدایات ورکړے شوی دی۔ دا دے نه چه کوم حکمونه را اُوزی، او دا دے مطابق چه نبی صلی الله علیه وسلم او صحابه کرام موځنګ عمل کړے دے او فقهاؤ چه د دے آیت او سُنّت نه کوم مسئلے را ایستلی دی د هغے لنډه خلاصه دا ده:

(۱) په جنګ کښے د مسلمانانو د فوج اصلی کار د دُشمن جنګی طاقت ختمول دی، اَن تر دے پورے چه په هغوئ کښے د جنګ کولو طاقت پاتے نشی او جنګ ختم شی۔ مسلمانانو له پکار نه دی چه د دے اصل کار نه خپله توجه لرے کړی او د دُشمنانو په نیولو شروع اُوکړی۔ قیدیانو نیولو ته هسله توجه پکار ده چه دُشمن بنه ریزمریز کړے شی او په میدانِ جنګ کښے د هغوی څه کسان باقی پاتے شی۔ عربیانو ته دا هدایت په شروع کښے په دے وجه ورکړے شوے چه هسے نه هغوئ د فدیے حاصلولو یا د غلامانو جوړولو په لالچ کښے اخته شی او د جنګ اصلی مقصد (یعنی د دُشمن جنګی طاقت ختمول) تر هیر شی۔

(۲) په جنګ کښے چه کوم خلق اُونیولے شی د هغوئ په باره کښے او فرمایښے شوے چه تاسو ته اختیار دے که په هغوئ احسان کوئ او د هغوئ سره د فدیے معامله کوئ۔ دا دے نه عام قانون دا را اُوښتی چه جنګی قیدیانو د نه وژلے کیږی۔ حضرت عبد الله بن عُمر، حسن بصری، عطاء او حمّاد بن ابی سلیمان

دَدے قانون نہ عام مطلب اخلی، او دا په خپل ځای بالکل صحیح دے۔ هغوئ وائی چه سړے د جنګ په حالت کښے وژلے کیدے شی۔ هرکله چه جنګ ختم شوا و یو قیدی زمونږ په قبضه کښے راځے نو د هغهٔ وژل صحیح نه دی۔ د ابن جریر او د ابوبکر جصّاص روایت دے چه حجّاج بن یوسف د جنګی قیدیانو نه یو قیدی حضرت عبدالله بن عمر ته حواله کړو او حکم ئے ورته اوکړو چه دے قتل کړه۔ هغه انکار اوکړو او دا آیت ئے اُولوستو او دے فرمائیل چه مونږ ته د قید په حالت کښے د چا د قتلولو حکم نه دے شوے۔ امام محمد هم په السِّیَرالکبیر کښے یوه واقعه لیکلی ده چه عبدالله بن عامر حضرت عبدالله بن عُمر ته د یو جنګی قیدی د قتلولو حکم کړے وُو او هغهٔ هم په دے وجه د هغه د حکم منلو نه انکار کړے وُو۔

(۳) لیکن چونکه په دے آیت کښے د قتل صفا منع هم نه ده شوی، نو په دے وجه رسول الله صلی الله علیه وسلّم د الله تعالیٰ د دے حکم مطلب دا اُوکنړو او په دے ئے عمل هم اُوکړو چه کله چرے څه خاص وجه دا سے وی چه د هغے په وجه د اسلامی حکومت واکدار یو قیدی یا د یو قیدیان قتلول ضروری اُوګنړی نو هغه دا سے کولے شی۔ دا عامه قاعدهٔ نه ده بلکه د عامے قاعدے نه یو جُدا حکم دے چه د ضرورت په وخت کښے به استعمالیږی۔ په دے لړ کښے رسول الله صلی الله علیه وسلّم د جنګِ بدر نه اویا قیدیانو نه صرف عُقْبه بن ابی مُعَیط او نضر بن الحارث قتل کړل۔ د جنګِ اُحد نه قیدیانو نه صرف ابوعَزّه شاعر قتل کړو۔ بنی قُریظه قبیلے چونکه خپل ځان د حضرت سعد بن مُعاذ فیصلے ته حواله کړے وُو، او د هغه فیصلے داوه چه د هغوئ نارینه دِ قتل کړے شی، نو په دے وجه نبیؐ د هغوئ د قتلو حکم اوکړو۔ د خیبر په جنګ کښے چه کوم خلق اونیولے شو په هغوئ کښے صرف کِنانه ابن ابی الحُقَیق قتل کړے شو ځکه چه هغه وعده ماته کړی وه۔ د مکے د فتحے نه روستو نبیؐ د مکے د ټولو اُوسیدونکو نه صرف د یو څو کسانو په حقله حکم اوکړو که د هغوئ نه هر څوک اونیولے شو هغه دِ قتل کړے شی۔ دِ دے یو څو اقعو نه سوا د نبیؐ عامه طریقه د جنګی قیدیانو د قتلولو نه وه۔ او دا عمل د خلفائے راشدینو هم وُو۔ د هغوئ په زمانه کښے هم د جنګی قیدیانو د قتلولو مثالونه دِ برکم دی او په هر مثال کښے قتل د څه وجے نه شوے دے۔ حضرت عُمر بن عبدالعزیز هم په خپل ټول خلافت کښے صرف یو جنګی قیدی قتل کړے وُو او د هغے وجه دا وه چه هغه مسلمانانو ته د ډیرو زیاتو تکلیفونو ورسولی وُو۔ دا وجه د چه اکثر فقهاء دِ دے خبرې قائل دی چه که اسلامی حکومت ضروری اُوګنړی نو قیدی قتلولے شی۔ لیکن دا فیصله کول د حکومت کار دے۔ هر فوجی ته دا اختیار نشته چه کوم قیدی غواړی بس هغه دِ قتلوی البته که چرے د قیدی د تښتیدو یا د هغه نه د یو څه شرارت ویره وی نو هر چا ته چه د دا سے حالت پته اوشی نو هغه ئے قتلولے شی۔ په دے کښے د اسلام فقهاؤ درے خبرې نورے هم کړی دی، یوه دا که قیدی اسلام قبول کړی نو بیا به نشی قتل کیدے۔ دویمه دا چه قیدی هله قتل کیدے شی چه تر څو هغه د حکومت سره په قبضه کښے وی۔ که د تقسیم یا د خرڅ په ذریعه د هغه څوک مالک شوے وی نو بیا هغه نشی قتل کیدے۔ دریمه دا چه قتل دِ په ساده طریقه وی په سزا سزا کښے دِ نه وژلے کیږی۔

(۴) د جنګی قیدیانو په بارہ کښے عام حکم چه کوم ورکړے شوے دے هغه دا دے چه یا په هغوئ احسان اوکړئ او یا د فدیے معامله اوکړئ۔

په احسان کښے څلور څیزونه شامل دی۔ یو دا چه د قید په حالت کښے د دهغوئ سره ښه سلوک کیږی۔ دویم دا چه د قتل یا د هیشه قید په ځائے د هغوئ غلامان کړے شی او مسلمانانو ته د حوالہ کړے شی۔ دریم دا چه جزیه د پرے ولګولے شی او ذمیان د ترجور کړے شی۔ څلورم دا چه هغوئ د بے د څه معاوضے اهستلو نه آزاد کړے شی۔

د فدیے د معاملے کولو درے صورتونه دی، یو دا چه د مال په بدلہ کښے د پریښودے شی۔ دویم دا چه خه خاص خدمت د هغوئ د آزادیدو د پاره شرط کړے شی او د هغه خدمت کولو نه د روستو د پیا پریښودے شی۔ دریم دا چه کوم مسلمانان قیدیان د دشمن په قبضه کښے وی د هغوی په تبادله کښے د ورکړے شی۔

په دے تولو مختلفو طریقو باندے نبی صلی اللہ علیہ وسلم او صحابه کرامو په مختلفو وختونو کښے د موقعے مطابق عمل کړے دے۔ د خدائے شریعت داسے نه ده کړی چه اسلامی حکومت ئے د یوے خاصے طریقے پابند کړے دے۔ حکومت چه په څه وخت کښے کومه طریقه زیاته مناسبه ګڼی په هغے عمل کولے شی۔

(۵) د نبی صلی اللہ علیہ وسلم او د صحابه کرامو د عمل نه دا ثابته ده چه یو جنګی قیدی ترڅو پورے د حکومت په قید کښے وی نو د هغه د خوراک او د هغه د جامو، اوکه بیمار وی یا زخمی وی نو د هغه د علاج ذمه واری په حکومت باندے ده۔ قیدیان وژل، یا هغوئ له سزا کانے ورکول په اسلامی شریعت کښے هیڅ کله جائز نه دی۔ بلکه دے نه برعکس د قیدیانو سره د ښه سلوک کولو هدایت هم شوے دے او په عمل کښے هم د ښه سلوک مثالونه په سُنّتو کښے ملاویږی۔ د جنګی بدر قیدیان رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم د مختلفو صحابو په کورونو باندے تقسیم کړل او حکم ئے اوکړو چه "استوصوا بالاسارٰی خیرًا"۔ د دے قیدیانو سره ښه سلوک کوئ"۔ په هغوی کښے یو قیدی ابو عزیز بیان کوی چه زه د کوموانصارو یا نو په کورونو کښے پلتے شوے وُم نو هغوی به پخپله کجُورے خورلے او مانه به ئے سحر ما بسنام دوډئ راکولہ سُهیل بن عمرو یو بل قیدی وُو چه د هغه په حقله نبی صلی اللہ علیہ وسلم ته اُوویلے شو چه دے د کُلے نه دانے نه پریږدے، هروخت ستاخلاف تقریرونه کوی۔ نو د دهٔ غاښونه ډمات کړے شی، نبیؐ وفرمایل "که ما د دهٔ غاښونه مات کړل نو الله به زما غاښونه مات کړی اګرچه زهٔ نبی یم"۔ (سیرت ابن هشام)۔ د یمامه سردار ثُمامه بن اُثال چه کله اُونیولے شو نو هغه چه ترڅو په قید کښے وُو نو د نبیؐ په حکم سره ورته ښه خوراک اونبیؐ راوړلے کیدل (ابن هشام) هم دغسے کار د صحابه کرامو په دور کښے وُو۔ د جنګی قیدیانو سره د خراب سلوک کولو یو مثال د صحابه کرامو په دور کښے نه ملاویږی۔

(۶) د قیدیانو په معامله کښے دا خبره هدایت د سرنه په اسلام کښے شته دے نه چه قیدیان د هیشه په قید کښے اُوساتلے شی او حکومت د ترجیری محنت اخلی۔ که چیرے د هغوئ سره یا د هغوئ د قوم سره د جنګی قیدیانو د تبادلے یا د فدیے څه معامله اُونه شی نو د هغوئ په بارہ کښے د احسان دا طریقه نیولے شوی ده چه هغوئ د غلامانو په حیثیت مسلمانانو ته حوالہ کړے شی او د هغوئ مالکانو ته د هدایت

اُوکړه شي چه د هغوئ سره ښه سلوک کوی۔ د نبی صلی اللہ علیه وسلم په زمانه کښے هم په دغه طریقه عمل شوے دے، او د صحابه کرامو په زمانه کښے هم دا طریقه جاری وه، او دا سلام فقهاء په اتفاق سره د دغه جواز قایل دی۔ په دے سلسله کښے حسن په دے خبره پوهه کول پکار دی چه کوم سړی د قید کیدو نه مخکښے اسلام قبول کړے وی او بیا په څه طریقه اُونیوے شی نو هغه به آزاد ولے کیږی، خو کوم سړی چه د قید کیدو نه روستو اسلام قبول کړی یا چا ته د حواله کیدو نه روستو مسلمان شو نو دا اسلام د هغه د پاره د آزادی سبب نه شی جوړیدے۔ په مسند احمد، مسلم او ترمذی کښے د حضرت عمران بن حصین روایت دے چه د بنی عقیل قبیلے یو سړے اُونیوے شو او هغه اُوویل چه ما اسلام قبول کړو۔ نبی صلی اللہ علیه وسلم اُو فرمایل "لو قلتها وانت تملك امرك افلحت كل الفلاح۔" "که دا خبره تا په هغه وخت کړے وے کله چه تا آزاد وے نو یقیناً په فلاح به دے موندلے وے" هم دا خبره حضرت عمر فرمایلی ده چه: اذا اسلم الاسير في ايدي المسلمين فقد امن القتل وهو رقيق۔ "هرکله چه یو قیدی د مسلمانانو په قبضه کښے د راتلو نه روستو مسلمان شی نو هغه خو به د قتل نه محفوظ وی لیکن غلام به وی۔" دا وجه ده چه د اسلام د فقهاؤ په دے خبره اتفاق دے چه کوم قیدی د قید کیدو نه روستو مسلمان شو نو هغه د غلامئ نه نشی بچ کیدے (السیر الکبیر امام محمد) او دا خبره سراسر مناسبه هم ده۔ که چرے زمونږ دا قانون وے چه کوم سړے د قید کیدو نه روستو اسلام قبول کړی هغه به آزاد ولے کیږی نو آخر داسے به کوم نا پوهه قیدی وے چه د کلے په ویلو سره به ځان نه آزاد ولے۔

(۷) د قید یا نوسره د احسان کولو دریم صورت په اسلام کښے دا دے چه په هغوئ د جزیه اُولګولے شی او د ذمی رعیت په حیثیت د په دار الاسلام کښے وسی او هغوئ ته د هغے آزادی حاصله وی لکه څنګه چه مسلمانانو ته حاصله وی۔ امام محمد په السیر الکبیر کښے لیکی چه "د کوم سړی نه غلام جوړول جائز دی نو د هغه نه ذمی جوړول هم په جزیه اُولګولو سره جائز دی۔" او په بل ځائے کښے فرمائی "د مسلمانانو حاکم ته دا حق حاصل دے چه په هغوئ جزیه اُولګوی او د هغوئ په زمکو باندے خراج اُولګوی، او هغوئ اصلاً آزاد اوګرځوی" په دے طریقه باندے عام طور په هغه حالا تو کښے عمل شوے دے چه کله قیدیان د یوے علاقے اُوسیدونکی وی او هغه علاقه د فتح کړے شوی وی او په اسلامی مملکت کښے شامله شوی وی۔ د مثال په طور نبی صلی اللہ علیه وسلم د خیبر د خلقو په معامله کښے دا طریقه اختیار کړی وه، او بیا حضرت عمرؓ د سواد عراق او د نور وعلاقو د فتح کولو نه روستو په لویه پیمانه باندے دا طریقه اختیار کړه۔ ابو عبیدؒ په کتاب الاموال کښے لیکلی دی چه د عراق د فتح کولو نه روستو د هغه علاقے د هغتو نو خلقو یوه ډله حضرت عمرؓ ته حاضره شوه او هغوئ عرض اوکړو چه "اے امیر المومنین اوّل ایرانیان په موږ مسلط وو۔ هغوئ موږه دیر تنګ کړو، زمونږ سره ئے دیر خراب سلوک اُوکړو، او قسما قسم زیاتیانے بے ئے په موږ باندے کولے۔ بیا چه کله الله پاک تاسو را اُولیږلئ نو موږه ستاسو په راتلو دیر خوشحاله شو، نه موستاسو مقابله اُوکړه او نه موږ په جنګ کښے حصه واخسته۔ اُوس موږه اوریدلی دی چه تاسو زمونږ نه غلامان جوړول غواړے" حضرت عمرؓ جواب درکړو "تاسو ته اختیار دے چه که مسلمانیږئ او که جزیه ورکوئ او آزاد وسئ" هغوئ جزیه

قبولہ کړہ او آزاد پریښودے شو. هم په دغه کتاب کښے په یو بل خلے کښے ابوعُبَید بیان کوی چه حضرت عُمرؓ حضرت ابوموسیٰؓ اشعری تہ اویلی چه "په جنګ کښے کوم خلق نیولی شوی دی په هغوئ کښے چه شوک کروندکړ او زمینداردی هغه پریږده."

(۸) د احسان څلورم صورت دا دے چه د قیدی نه څه معاوضه یا فدیه وانخستلے شی او هم دغسے آزاد کړے شی. دا یوخاص رعایت دے چه اسلامی حکومت ته صرف په هغه حالت کښے کولے شی کله چه د یوخاص قیدی سره داسے کول مناسب وی، یا دا اُمید وی چه دا رعایت به هیشه د دغه قیدی د پاره یو احسان وی او هغه به د دشمن نه دوست شی یا به د کافر نه مومن شی. کنئ نو ظاهره خبره ده چه د دُشمن د قوم یو سړے د یه د پاره پریښودل چه هغه صباله بیا زمونږ سره اُوجنګیږی هیڅکله هم د هوښیار تیا خبره نه ده. په دے وجه د اسلام فقهاؤ عام طور د دے مخالفت کړے دے او د دے د جواز د پاره ئے دا شرط لګولے دے چه "که چرے احسانی طور په ټولو یا ځینو قیدیانو آزاد ولو کښے د مسلمانانو امام ته څه نیکړه بنکاریدله نو بیا خیر دے که قیدیان احسانی طور آزاد کړے شی." (السیَر الکبیر). د نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے دا دے د پیرمثالونه ملاویږی او تقریباً په ټولو کښے د نیکړے اړخ څرګند دے.

د جنګ بدر د قیدیانو په حقله نبیؐ اُوفرمایئل لوکان المطعم بن عديٍّ حيًّا ثم كلّمني في هؤلاء النتنى لتركتهم له (بخاری، ابوداؤد، مُسند احمد). "که مُطعِم بن عَدِی ژوندے وے او هغه زما سره د دے پلیتو خلقو په باره کښے خبری کړے وے نو ما به د هغه د خاطره دوئ هم دغسے پریښودی وے." دا خبره نبیؐ هغه وخت فرمایلی وه چه کله نبیؐ د طائف نه واپس مکّے ته راتلو نو مطعم په خپله پناه کښے اغستے وو او د هغه هلکانو د وسلو په حفاظت کښے حرم ته بوتلے وو. نو نبیؐ په دے طریقه د هغه د احسان بدله ورکړل غوښتل.

د بُخاری، د مُسلم او د مُسند احمد روایت دے چه د یَمامه سردار ثُمامه بن اُثال کله اُونیوے شو او نبیؐ له راوستے شو نو نبیؐ ترټولو اوکړه چه "ثُمامه، ستاسره خیال دے؟" هغه ورته اُووئیل "که زه د قتل کړم نو دا سے سړے به قتل کړے چه د هغه وینه څه قیمت لری، که په مادِ احسان اوکړو نو په دا سے سړی به احسان اوکړے چه احسان منونکے دے، او که ته مال اغستل غواړے نو اُوغواړه." تاله به درکړے شی." د دیو ورځو پورے نبیؐ د هغه نه دا ټولو کوؤ او هغه به هم دغه جواب ورکوؤ. آخر دا چه نبیؐ حکم اوکړو چه ثُمامه پریږدئ. د پریښودو سره هغه نزدے د کجرو باغ ته لاړو، غُسل ئے اُوکړو، واپس راغے، کلمه ئے اُووئیله، مسلمان شو، اووے ویئل چه "د ځمکے مخ نه ستاد ین د ټولونه زیات بدی شو، لیکن اُوس زما ستاد ین د ټولونه زیات خوښ دی." بیا هغه د عُمرے د پاره مکے ته لاړو او هلته ئے د قریشو خلقو ته وِیَ اکه اُووئیل چه د ځمکے نه روستو به تاسو ته د یَمامه نه غَلّه نه راځی تر څو چه نبی صلی الله علیه وسلم اجازت نه وی کړے. هغه هم دغسے اوکړه او د مکّے خلق دِے ته موتازه شو چه نبیؐ ته درخاست اوکړی چه د یَمامه نه د هغوئ د غلّے رَسَد نه بند وی.

د بنی قُریظه په قیدیانو کښے نبیؐ زُبیر بن باطا او عَمرو بن سعد (یا ابن سُعدٰی) معاف کړل. زُبیر ئے په دے وجه پریښود چه هغه د جاهلیت په زمانه کښے د جنګ بُعاث په موقعه باندِ حضرت ثابت

بن قیس انصاری له پناه ورکړی وه، او هغه ئے حضرت ثابت ته په دے وجه حواله کړو چه د احسان بدله ورأوکړی. او عمرو بن سعد ئے په دے وجه پریښود چه بنی قُریظو کله د نبیؐ سوْ و عدْ خلافی کوله نو په هغه وخت کښے هم دِ ے سړی خپله قبیله د غدّاری نه منع کوله (کتاب الاموال لابی عُبَید).

د بنی المُصطلق د غزا نه روستو چه کله د دغے قبیلے قیدیان راوستلے شو، او په خلقو کښے تقسیم کړے شو، په هغه وخت کښے چه حضرت جُویریه د کوم سړی په حصه کښے راغلی وه هغه له نبیؐ د هغے معاوضه ورکړه او هغه ئے آزاده کړه او بیا ئے ورسره پخپله نکاح اوکړه. په دے باندے ټولو مسلمانانو د خپلے خپلے حصے قیدیان آزاد کړل، او دا به ئے وئیل چه دوئی خو "اُوسرد رسول الله صلی الله علیه وسلّم رشته داران شوی دی." دغه شان د سلو خاندانونو سړی آزاد کړے شو (مُسنَد احمد. طبقات ابن سعد. سیرت ابن هشام).

د صُلحِ حُدیبیئے په موقع د مکے اُتیاکسان د تنعیم د طرفنه راغلل او د سحر ما نخه ته نزدے هغوی د نبیؐ په کیمپ باندِ د حملے کولو اراده اوکړه. لیکن هغوی ټول اُونیوے شوا و نبیؐ هغوی ټول په دے وجه پریښودل چه په دے نازکه موقعه دا معامله د جنګ سبب جوړه نه شی (مُسلم، ابوداؤد، نسائی، ترمذی، مُسنَدِ احمد).

د مکے د فتحے په موقعه نبیؐ د یوشخو کسانو نه علاوه نور ټول مکے والا د احسان په طور معاف کړل، او چه کوم څے نه وْ و معاف کړی په هغوی کښے هم د دریو څلورو کسانو نه سوا څوک قتل نه کړے شو. د عربو ټولو خلقو ته معلومه وه چه مکے والو په رسول الله صلی الله علیه وسلّم باندِ څنګه څنګه ظلمونه کړی وو. لیکن نبیؐ چه کله مکه فتح کړه او د مکے خلقو ته ټول په خوشحالئ سره معاف کړل نو د عربو ټولو خلقو ته دا اطمینان حاصل شو چه د هغوی معامله د یو ظالم سره نه ده بلکه د یو داسے رحمدل او مهربانه او سخی رهنما سره ده. دا وجه وه چه د مکے د فتحے کولو نه روستو د عربو د ټولے جزیرے په تابع کولو کښے د دوُ د کالونه زیات وخت اُونه لګیدو.

د حُنَین د جنګ نه روستو چه د هَوازِن قبیلے و له کله د خپلو قیدیانو نو د آزادولو د پاره راغله نو ټول قیدیان تقسیم کړے شوی وُو. نبیؐ ټول مسلمانان راجمع کړل او دے فرمائیل چه د اخلق تو به کار شوی دی او زما رائے داده چه د دوئی قیدیان دِ دوئی له واپس ورکړے شی. په دے تاسو کښے چا څوک په خپله خوشئی سره خپل قیدی بے معاوضے پریښودل غواړی هغه دِ بے معاوضے آزاد کړی، او چه څوک معاوضه اغستل غواړی هغه له به موږ د د بیت المال د اولنی آمدن نه معاوضه ورکړو. نو په دے طریقه شپږ زره قیدیان آزاد کړے شوا و چه کومو خلقو معاوضه اغستله هغوی له د حکومت د طرفنه معاوضه ورکړے شوه (بخاری، ابوداؤد، مُسنَدِ احمد، طبقات ابن سعد). دَدے نه دا هم معلومه شوه چه د قیدیانو نو تقسیمیدو نه روستو حکومت ترد هغوی د آزادولو اختیار نشته، بلکه حکومت به دا کار هلته کوے شی چه کومو خلقو ته قیدیان حواله کړے شوی وی چه د هغوی رضا حاصله کړی یا هغوی نه معاوضه ورکړی.

د نبی صلی الله علیه وسلّم نه روستو د صحابه کرامو په دور کښے هم د احسان په طور د قیدیانو نو آزادولو مثالونه مسلسل ملاویږی. حضرت ابوبکرؓ اَشعث بن قیس کِندی آزاد کړو، او حضرت عُمرؓ هُرمُزان لمانو د مَناذِر او میسان قیدیانو نه آزادی ورکړه (کتاب الاموال لابی عُبَید).

ذٰلِكَ ۚ وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَا بَعْضَكُمْ
بِبَعْضٍ ۗ وَالَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَنْ يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝۴

دا دے ستا سو د کولو کار۔ که الله غو ښتلے نو پخپله به ئے د دوئ فیصله ختمه کړے وے، لیکن (دا طریقه هغه حکمه اختیار کړی ده) چه تاسو د یو بل په ذریعه وآزمائ۔ او کوم خلق چه د الله په لار کښے اووژلے شی الله به د هغوئ عملونه هرگز نه ضائع کوی۔

(۹) د مال په بدله کښے د قیدیانو د آزادولو مثال د نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے صرف د بدر د جنګ په موقع ملاویږی چه د یو قیدی په بدله کښے د یو زر نه واخله د څلورو زرو پورے پیسے واخستلے شوے او هغوئ آزاد کړے شو (طبقات ابن سعد کتاب الاموال)۔ د صحابه کرامو په دور کښے دا سے یو مثال نشته۔ او د اسلام فقهاء عام طور دے ته په ښه نظر نه کوری، حکمه چه د دے د امطلب دے چه موږ پیسے واخلو او د دشمن یو سړے د دے د پاره پریږدو چه هغه بیا زموږ خلاف توره را واخلی۔ لیکن چونکه په قرآن کښے د فدیے اخستلو اجازت شوے دے او رسول الله صلی الله علیه وسلم په دے باندے یو ځل عمل کړے دے، نو په دے وجه دا سے کول مطلقاً منع نه دی۔ امام محمد په السیر الکبیر کښے وائی چه که چرے مسلمانانو ته د دے ضرورت پیښ شی نو هغوئ د مال په بدله کښے قیدیان آزاد ولے شی۔

(۱۰) د خدمت په بدله کښے د قیدی د آزادولو مثال هم د جنګ بدر په موقع ملاویږی۔ د قریشو په قیدیانو کښے چه کوم خلق مالی فدیه نه شوه ورکولے، د هغوئ د آزادولو د پاره نبی ﷺ داشرط اولګوو چه هغوئ د انصارو لسو لسو بچوته لیکل اوښائی (مسند احمد، طبقات ابن سعد، کتاب الاموال)۔

(۱۱) د کافرو قیدیانو په بدله کښے د خپلو قیدیانو د آزادولو دیر مثالونه موږ ته د نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے ملاویږی۔ یو ځل نبی ﷺ حضرت ابوبکر رضی الله عنه د جنګ په کار اولیږو او په هغے کښے یو څو قیدیان اونیولے شو۔ په هغوئ کښے یوه بنائسته نجونه هم وه چه د حضرت سلمه بن اکوع په حصه کښے راغله۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه د حضرت سلمه نه دیر په تینګتیا سره او غوښتله او بیا ئے هغه مکے ته اولیږله او د هغے په بدله کښے ئے دیر مسلمانان قیدیان آزاد کړل (مسلم، ابوداؤد طحاوی۔ کتاب الاموال لابی عبید۔ طبقات ابن سعد)۔ د حضرت عمران بن حصین روایت دے چه یو ځل ثقیف قبیلے د مسلمانانو دوه سړی قید کړل د دے نه لږه موده روسته د ثقیف د حلیف قبیلے د بنی عقیل یو سړے مسلمانانو اونیوو۔ نبی ﷺ هغه طائف ته اولیږو او د هغه په بدله کښے ئے هغه دواړه مسلمانان راآزاد کړل (مسلم، ترمذی مسند احمد) په فقهاؤ کښے امام ابو یوسف، امام محمد، امام شافعی، امام مالک او امام احمد د قیدیانو تبادلے ته جائز وائی۔ د امام ابوحنیفه رح یو قول دا دے چه تبادله نه کول پکار دی، لیکن دویم قول د هغه هم دغه دے چه تبادله کیدے شی۔ البته یو دے خبره باندے د ټولو اتفاق دے چه کوم قیدی مسلمان شی نو هغه ته په تبادله کښے کافر نو نه حواله کیږی

سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۝٥ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ۝٦
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ۝٧
وَالَّذِينَ كَفَرُوا فَتَعْسًا لَهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ ۝٨ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا

هغه به هغوئ تدلارښود نه کوی، د هغوئ حالت به صحیح کوی، او هغوئ به هغه جنت ته داخلوی چه د دوی نه هغه هغوئ خبردار کړی دی۔[11]

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، که چرے تاسو د الله امداد کوئ نو هغه به ستاسو امداد کوی[12] او ستاسو څنګه به مضبوط وی۔ او وبائے شو هغه خلق چه کفر ئے کړے دے[13] نو د هغوئ د پاره هلاکت دے او الله د هغوئ عملونه ضائع کړی دی۔ ځکه چه هغوئ هغه څیز ناخوښ کړو کوم چه

د دے تشریح نه داخبره څرګنديږی چه اسلام د جنګی قیدیانو په معامله کښے یوه داسے فرابنه ضابطه جوړه کړی ده چه په هغے کښے د هرے زمانے او د هر قسم حالاتو مطابق د دے مسئلے د حل کیدو ګنجائش شته۔ کوم خلق چه د قرآن مجید د دے آیت بن دا مختصر شان مطلب اخلی چه په جنګ کښے قید شوی کسان خو یا "د احسان په طور آزاد کړے شی او یا د د هغوئ د فدیه واخستلے شی او آزاد کړے شی" نو هغوئ د دے خبرے نه نه دی خبر چه د جنګی قیدیانو معامله څومره مختلف ارخونه لری، او په مختلفو زمانو کښے د دے نه څومره مسئلے پیدا شوی دی او په راتلونکی زمانه کښے ترې نورے مسئلے هم پیدا کیدے شی۔

[9] یعنی الله تعالیٰ کوم چرے باطل پرستو خلقو له تشه سزا ورکولے نو هغه د دے کار د پاره ستاسو محتاج نه دے دا کار خو هغه په یوه زلزلے یا یو طوفان د ستړکے په رب کښے کولے شو۔ لیکن د هغه مقصد خو دا دے چه په انسانانو کښے څوک حق پرست دی هغه د باطل پرستو سره او جنګیږی او د هغوئ په مقابله کښے کوشش او کړی، د پاره د دے چه په چا کښے څه صفتونه دی هغه په دے امتحان کښے بنه پوره راڅرګند شی او هر یو چه د خپل عمل په لحاظ سره د کوم مقام او د کوم مرتبے مستحق وی هغه ورله ورکړے شی۔

[10] مطلب دا دے چه د الله په لار کښے د وژلے کیدو مطلب دا هرګز نه دے چه سړے مړ شو او ذاتی طور چه هغه څه کړی دی هغه ټول ختم شو۔ که څوک دا وائی چه د شهیدانو قربانیانے پخپله د هغوئ د پاره نه بلکه صرف د هغه خلقو د پاره فائده مند دے دی څوک چه د هغوئ نه روستو په دے دنیا کښے ژوندی پاتے شی او د هغوئ د قربانونه د ملت فائده واخلی، نو هغوئ غلط سوچ کوی۔ اصل حقیقت دا دے چه پخپله شهیدان کیدونکو د پاره هم دا د نقصان سودا نه ده بلکه د نفع سودا ده۔

[11] دا ده هغه نفع چه د خدائے په لار کښے سر ورکونکو خلقو ته به حاصلیږی، دے دے درے مرتبے بیان کړے شوی دی۔ یوه داچه الله به د هغوئ رهنمائی کوی۔ دریم داچه د هغوئ حال به صحیح کوی۔ دریم داچه هغوی به جنت ته بوځی د کوم نه چه هغوئ مخکښے خبر کړے شوی دی۔ د

مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ۝٩ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا
كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ
اَمْثَالُهَا ۝١٠ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ
لَا مَوْلٰى لَهُمْ ۝١١ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

اللہ نازل کړے دے[۱۱] نو حکماً اللہ د هغوی عملونه ضائع کړل ۔ آیا هغوی په زمکه کښے ګرزیدلی راګرزیدلی نه وو چه د هغه خلقو انجام ئے لیدلے وے کوم چه د هغوی نه مخکښے تیر شوی دی؟ اللہ د هغوی هرڅه په هغوی باندے استر کړل ۔ او هم دغسے انجام د دے کافرانو د پاره لیکلے شوے دے[۱۵]۔ داځکه چه د مومنانو مرستیال اومدګار اللہ دے او د کافرانو مرستیال اومدګار هیڅوک نشته[۱۲]۔ ع کومر خلقو چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی اللہ به هغوی

رهنمایئ کولو نه مراد جنت ته رهنمائی کول دی ۔ د حالت صحیح کولو نه مراد دا دے چه جنت ته د ننوتو نه مخکښے به اللہ تعالیٰ هغوی په جامو بنایسته کړی او پس د هغے نه به ئے جنت ته بوځی او هر هغه کنډک به ترڅ کړی کومه چه هغوی ته په دُنیا کښے لکیدلی وی ۔ او د دریمے مرتبے مطلب دا دے چه په دُنیا کښے د مخکښے نه هغوی ته د قرآن او د نبی صلی اللہ علیه وسلم په ژبه ویلے شوی دی چه کوم جنت اللہ تعالیٰ د هغوی د پاره تیار کړے دے هغه څنګه دے ۔ هغه جنت ته چه کله هغوی ورځی نو بالکل به آشنا ځائے نه به ور ننوزی او هغوی ته به معلومه شی چه د کوم څیز وعده د هغوی سره شوی وه هم هغه هغوی له ورکړے شوی ده، په هغے کښے د و یخته هومره فرق نشته۔

۱۲ د اللہ د مدد کولو یو ساده مطلب خو دا مے چه د هغه د کلمے د اوچتولو د پاره په سر و مال سره جهاد اوکړے شی ۔ لیکن د دے یو بل مطلب هم شته چه د دیرې په کرانه پرسره پوهیدے شی چه د هغے تشریح موږ ده دے نه مخکښے کړی ده (اوګورئ تفہیم القرآن اول جلد، آل عمران حاشیه ۵۰)۔

۱۳ اصل الفاظ دی فتعساً لهم۔ تعس د ے ته وائی چه سړے تیندک اوخوری او پرهغے پریوزی

۱۴ یعنی هغوی د جاهلیت خپلو پخوانو خیالاتو او رسمونو ریوا جولو او د اخلاقی له ترجیح ورکړه او هغه تعلیم ئے خوښ نه کړو کوم چه اللہ هغوی ته د ښے لارے ښودلو د پاره نازل کړے وو۔

۱۵ د دے فقرے دوه مطلبونه دی ۔ یو دا چه کومه تباهی په هغه کافرانو راغلی وه هم هغه تباهی اوس د دے کافرانو د پاره لیکلے شوی ده څوک چه د محمد صلی اللہ علیه وسلم دعوت نه منی ۔ دویم مطلب دا دے چه د هغه خلقو تباهی صرف د دُنیا په عذاب باندے ختمه شوی نه ده بلکه د هغه تباهی د هغوی د پاره په آخرت کښے هم لیکلے شوی ده۔

۱۶ په جنګ اُحد کښے چه کله نبی صلی اللہ علیه وسلم ژخمی شو او هغه د یو څو صحابو سره په یو میدان کښے ولاړ وُو نو په هغه وخت کښے ابو سفیان په زوره زوره نعرے کړے چه لَنَا عُزّٰى وَلَا عُزّٰى لَكُمْ

جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا یَتَمَتَّعُوْنَ وَ
یَاْكُلُوْنَ كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿۱۲﴾ وَكَاَیِّنْ مِّنْ قَرْیَةٍ
هِیَ اَشَدُّ قُوَّةً مِّنْ قَرْیَتِكَ الَّتِیْۤ اَخْرَجَتْكَ ۚ اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ
لَهُمْ ﴿۱۳﴾ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰی بَیِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ كَمَنْ زُیِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ
وَاتَّبَعُوْۤا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۴﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِیْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ فِیْهَاۤ اَنْهٰرٌ

هغه جنتونو ته داخل کړی چې لاندې ترې نهرونه بهیږي، او کفرکونکي خلق بس د دنیا ډیو ځوړو ډزوند مزې چټروي، د څناورو په شان خوراک څکاک کوي[۱۷]، او د هغوی د اوسید و آخری ځای دوزخ دے۔

اے نبیؐ، څومره ډیر کلی دا سے تیر شوی دی چې هغه ستا د هغه کلی نه ډیر زیات زور ور وو کوم کلی چې تا ۱ ایستلے یې۔ هغوی موبږه دا سے هلاک کړل چې هیڅوک د هغوی پرې کونکے نه وو[۱۸]۔ آیا دا سے چرته کیدے شی چې څوک د خپل رب د طرفنه په یو صفا او څرګند هدایت باندې وی، هغه د هغه خلقو په شان شی چې د هغوی د پاره د هغوی بد عمل ښائسته جوړ کړے شوے دے او هغوی په خپلو خواهشاتو پسے روان شوی دی؟[۱۹] د پرهیزګارو خلقو سره چې د کوم جنت وعده شوی ده د هغے شان خو دا دے چې په هغے کښے به د صفا اوبه

"زمونږ سره عزّیٰ دے او ستا سو عزّیٰ نشته" نو نبی صلی الله علیه وسلم صحابو ته اُو فرمائیل چې جواب ورکړئ او ورته وایئ چې "اللهُ مَوْلَانَا وَلَا مَوْلٰی لَكُمْ" زمونږ مرستیال او مددګار الله دے او ستا سو مرستیال او مددګار نشته۔" د نبیؐ دا جواب هم د دے آیت نه اخیستے شوے وُو۔

۱۷ یعنی لکه څنګه چې څناور خوراک کوی او څه سوچ نه کوی چې دا رزق کوم ځائے نه راغلے دے، چا پیدا کړے دے، او د دے رزق سره په ما باندې د رازق څه حقونه راځی، د هغه شان داخلق هم بس خوراک کوی، د څښید و نه وړاندې د دوئ سره بل هیڅ فکر نشته۔

۱۸ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د مکے نه په وتلو د ډیر خفګان وُو۔ کله چې هغه په هجرت کولو مجبوره شونو د ښار نه بهر اُووتو او مکے ته ئے مخ کړو او وے فرمائیل: "اے مکے، ته د دُنیا په ټولو ښارونو کښے خدائے ته د ټولو نه زیات غوره ئے، او د خدائے په ټولو ښارونو کښے زما د ټولو نه زیات مینه ستا سره ده، که مشرکانو زه نه وے ایستلے نو زه ستا نه هیڅکله نه وتلم۔" په دے باندې اُو فرمائیلے شوچې ستا په ایستلو سره د مکے د خلقو دا خیال دے چې هغوی ګویې لویه کامیابي حاصله کړی ده۔ حالانکه په دے کار کولو سره هغوی خپل بد انجام ته آوازکړے دے۔ د آیت د اندازِ کلام نه صفا معلومیږی چې دا آیت به ضرور د هجرت سره جوبنت نازل شوے وی۔

مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ
خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۭ وَلَهُمْ فِيْهَا
مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ۭ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ

نهرونه بهیر ی،[20] اودا سے پیو نهرونه بهیر ی چه په خوند کښے به ئے ذره هومره فرق نه وی راغلے[21] اودا سے شراب نهرونه بهیر ی چه ډنګو نکو ډاره به خوند ناک وی،[22] اوه صفا شهد ونهرونه به بهیر ی[23] په هغے کښے به ډهغوئ ډاره هر قسم میوے وی اوه هغوئ ډخپل رب[24] طرفنه به بخښنه[25] وی۔ آیا هغه سړے چه ډهغه په حصه کښے دا جنت راتلونکے دے) ډهغه خلقو پشان کیدے شی چه هغوئ به په دوزخ کښے هیشه

[19] یعنی آخر دا څنګه کیدے شی چه پیغمبر اوه هغه اُمتیان، چه ډخدائے ډ طرفنه ورته یوه صفا او نیغه لار ملاؤ شوی ده اوهغوئ بنه ډ زړه په دلیل سره په هغے لار باندے تینګ و دریدلی دی، نو اُوس د هغوئ ډهغه خلقو سره روان شی چه هغوئ په خپل پخوانی جاهلیت پورے ختلی دی، چه خپله کمراهی هدایت کنړی اوخپله بدعملی ورته بنه ښکاری، اوچه ډځه دلیل په بُنیاد نه بلکه تش ډخپلو خواهشاتو په بنیاد باندے دا فیصلے کوی چه دا حق دے اودا باطل دے۔ اُوس خونه په دے دُنیا کښے ډدے دواړو لوڅوند یو شان کیدے شی اونه په آخرت کښے ډهغوئ انجام یو شان کیدے شی۔

[20] اصل الفاظ دی مَاءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ۔ اٰسِن هغه اُوبو ته وائی چه ډهغے خوند اورنګ بدل شوے وی یا کښے څه بدبوئی پیدا شوی وی۔ په دُنیا کښے ډدریا بونو اوډ نهرونو اُوبه عام طور خرابه وی۔ ډ هغے سره شکه، خاوره اونور قسما قسم بوتی وغیره شامل شوی وی اوډ هغے رنګ اوخوند بدل وی۔ او څه نه څه بُوئی کښے هم وی۔ په دے وجه ډجنت ډ دریا بونو اوډ نهرونو اُوبو دا تعریف بیان شوے دے چه هغه به غیر اٰسن وی۔ یعنی هغه به خالصه اوصفا سُتره اُوبه وی۔ هیڅ قسم کدورت به کښے نه وی۔

[21] په مرفوع حدیث کښے ډدے تشریح دا شوی ده چه "هغه به ډ څارُوډ تیُولونه راوتلی پُټی نه وی"۔ یعنی الله تعالیٰ به دا پُټی ډ زمکے نه ډ چینو په شکل کښے راأوباسی اوډ نهرونو په شکل کښے به ئے بهیوی۔ دا هے به نه وی چه ډ څارُوډ تیُولونه به راالوتلے کیږی اوبیا به ډجنت په نهرونو کښے اچولے کیږی۔ ډدے قدرتی پُټیُو دا تعریف بیان شوے دے چه "ډدے په مزه کښے به ډ ذرے هومره فرق نه وی راغلے"۔ یعنی په هغے کښے به هغه معمولی شان سور بُوئی هم نه وی کوم چه ډ څارُونه په لوښلو شوُډ پټیُو کښے وی۔

[22] په مرفوع حدیث کښے ډدے تشریح دا شوی ده چه شراب به "انسانانو ډخپو په ذریعه نهوړ کړی نه وی"۔ یعنی هغه به ډ دُنیا ډ شرابو پشان ډ سخا شوُ میوُونه ډخپو په ذریعه نه وی راایستلے شوی بلکه الله تعالیٰ به هغه هم ډچینو په شکل کښے راپیدا کوی اوډ نهرونو په شکل کښے به ئے بهیوی۔ بیا هغه

وَسُقُوْا مَآءً حَمِيْمًا فَقَطَّعَ اَمْعَآءَهُمْ ﴿۱۵﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ
حَتّٰٓى اِذَا خَرَجُوْا مِنْ عِنْدِكَ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ
اٰنِفًا ۭ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰي قُلُوْبِهِمْ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَاۗءَهُمْ ﴿۱۶﴾

اُو سیبزی اودا سے اُوبہ بہ پرِ ځکولے کیږی چه کولے به ورله پریکوی؟

په دوی کښے څه خلق دا سے دی چه په غور سره ستا خبری اَوری اوبیا چه کله ستا د مجلس نه بهر اُوزی نو د هغه کسانو نه چه هغوی ته د علم نعمت ورکړے شوے دے، تپوس نه کوی چه اُوس اُوس ئے څه وئیلی وُو[۲۵] د هغه خلق دی چه په زړونو ئے الله تا پرکولی دُ[۲۶] او دوی په خپلو خواهشاتو پسے روان شوی دی۔

تعریف بیان شوے دے چه "هغه به د ځکونکو د پاره خوند ناک وی"۔ یعنی د دُنیا د شرابو پشان به هغه تراخه اوبدبُویه نه وی چه د غټونه غټ پوشرابی ئے ځکی نو هغه هم پرخُله وراتوی۔ په سورۃ صافات کښے دوے زیات تعریف راشوے دے چه د دے په ځکلو به بدن ته څه نقصان نه وی اونه به پرعقل خرابیږی۔ (آیت ۴۷) اوپه سورۃ واقعه کښے نرمابشلے شوی دی چه پردے سره به نه سرګردانی راځی اونه به سر ک کا واکے وائی (آیت ۱۹)۔ د دے نه معلومه شوه چه هغه شراب به نشه نه راولی بلکه خوند ناک اومزه ناک به وی۔

۲۳ په مرفوع حدیث کښے د دے تشریح راشوی ده چه "هغه به د چوړ کیدونه راوتلی شهد نه وی"۔ یعنی هغه به هم د چینو نه راوُزی اوپه نهرونو کښے به بهیږی۔ نوپه هغے کښے به د تش کبین تو تے اود مړو شوړ و چوچے وغیره نه وی، بلکه هغه به خالص شهد وی۔

۲۴ د جنّت د دے نعمتونو نه روستو چه د الله د طرفه د بخښنے ذکر اوشو نو د دے د وُ مطلبونه کیدے شی۔ یو دا چه د دے ټولو نعمتونو نه زیات نعمت دا دے چه الله تعالیٰ به هغوی ته بخښنه اُوکړی۔ دوهم مطلب ئے دا دے چه په دُنیا کښے کوم ګناهونه د هغوی نه شوی وُو هغه به په جنت کښے دوی ته هیر او یاد ولے کیږی نه بلکه الله تعالیٰ به پرد هیشه د پاره پرده اچوی چه په جنت کښے چرته شرمنده نه شی۔

۲۵ دا د هغه کافرانو او منافقانو او اهلِ کتابُو ذکر دے چه د نبی صلی الله علیه وسلم په مجلس کښے به کینا ستل اود هغه خبری اوقرآن مجید آیتونه به ئے اَوریدل، خوچونکه د نبی ؐ خبری د هغوی زړونو ته نه لګیدے، نوپه دے وجه به ئے د هرڅه اَوریدل د باوجود هیڅ نه اَوریدل اوچه بهرته به اُوتل نو د مسلمانانو نه به ئے تپوس نه کول چه اُوس اُوس ئے څه وئیل؟

۲۶ دا وُو هغه اصلی سبب چه د دے په وجه د هغوی د زړه غوږونه د نبی صلی الله علیه وسلم د وینا د پاره کانړه شوی وُو۔ هغوی د خپلو خواهشاتو بندګان وُو، او نبی ؐ چه کوم تعلیمات بنودل هغه د دوی د خواهشاتو خلاف وُو، په دے وجه که هغوی به چرته

وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ﴿۱۷﴾ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ
اِلَّا السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى
لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ﴿۱۸﴾ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ

پلتہ شو هغه خلق چې هغوئ په سمه لار روان دی، الله هغوئ تنور زیات هدایت کوی[۲۷] او هغوئ ته د هغوئ د حصے تقوای ورکوی۔[۲۸] نو آیا دا خلق بس د قیامت په انتظار دی چه ناسپه پرې راشی؟[۲۹] د قیامت علامات خو راغلی دی۔[۳۰] او کله چه هغه پخپله راشی نو بیا به د دوئ د پاره د نصیحت قبلولو موقع چرته وی؟

نو اے نبیؐ، بنه پوه شه چه د الله نه سوا بل څوک د عبادت مستحق نشته، او معافی غواړه

د نبیؐ مجلس ته راغلل او په ناڅرګنده بڼه د هغه خبرو ته غوږ هم کیښودو خو د هغوئ په دماغونو به څه نه کیناستل۔

۲۷ یعنی کافرانو او منافقانو چه به کوم خبرې اوریدلے وے او بیا به ئے هم ټپوسونه کول چه اُوس اُوس هغه څه[۱] فرمایئل هم هغه خبرې به د هدایت موندونکو (یعنی د اسلام په نیغه لارتلونکو خلقو) د پاره زیات د هدایت سبب وی، او د کوم مجلس نه چه به هغوئ بد نصیبه تش طور راپاسیدل هم د هغے مجلس نه دا خوش قسمته خلق د علم او د پوهے یوه نوے خزانه د ځان سره واپس راوړی۔

۲۸ یعنی کومه تقوای او پرهیزګاری چه هغوئ په خپل ځان کښے پیدا کوی الله تعالیٰ ورله د هغے توفیق ورکوی۔

۲۹ یعنی د کومه پورے چه د حق واضحه کولو تعلق دے هغه خو پوره لیلونو سره، د قرآن مجید په معجزانه بیان سره، د محمد صلی الله علیه وسلم په پاک سیرت سره، او د صحابه کرامو د ژوند په انقلاب سره دیر په صفا طریقه واضحه کړے شوے دے۔ آیا اُوس د ایمان راوړلو د پاره داخلق د دے انتظار کوی چه قیامت ورته مخے له راشی؟

۳۰ د قیامت د علاماتو نه مراد هغه علامات دی چه د هغے نه معلومیږی چه د قیامت د راتلو وخت اوس راتلے شوے دے۔ په هغے کښے د ټولو نه غټه علامه د خدائے آخری نبی راتلل دی چه د هغه نه روستو به د قیامته پورے بل نبی نه راځی۔ په بخاری، مسلم، ترمذی او مسند احمد کښے د حضرت انسؓ، د حضرت سهیل بن سعد ساعدی او د حضرت بریدهؓ روایتونه نقل کړے شوی دی چه نبیؐ خپله مسواکه کوته او منځنۍ کوته دواړه نیغے کړے اوو ئے فرمایئل: بُعِثْتُ اَنا والساعة کهاتین۔ "زما پیغمبری او قیامت دے دوُ کو ته پشان دی۔" یعنی لکه څنګه چه د دے دوُ کو ترمنځ کښے بله کوته نشته دغه شان زما او د قیامت

لِذَنْۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَ
مَثْوٰىكُمْ ﴿١٩﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ ۚ فَاِذَآ اُنْزِلَتْ
سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَّذُكِرَ فِيْهَا الْقِتَالُ ۙ رَاَيْتَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ
مَّرَضٌ يَّنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۭ فَاَوْلٰى

ځپل قصور وپاره هم اوځ مومنانو سړو اوښځو پاره هم۔ الله تعالیٰ ته ستاسو مندۍ تر ړ ځایونو هم معلومے دی اوستاسو استوکنے ځایونو هم ښه خبر دے ﴿۱۹﴾

کومو خلقو چه ایمان راوړے ځ هغوی په وییل چه یو (دا سه) سورۃ ولے نه نازلیږی (چه په هغے کښے ځینک حکم اوشی) خو چه کله یو محکم سورۃ نازل کړے شو چه په هغے کښے ځینک ذکر وو نو تاولیدل چه ځکومو خلقو په زړونو کښے مرض وو هغوی تاته داسے کورځی لکه څنګه چه په چا مرګ راخور شوے وی۔ افسوس

په منځ کښے بل نبی هم راتلو والا نشته۔ زمانه روستو به اوس قیامت راځی۔

۳۱ ﴿۱۹﴾ اسلام چه کوم اخلاق انسان ته ښودلی دی، په هغے کښے داهم دی چه بنده ځپل رب په بندګۍ اوعبادت کولو کښے، اوځپل دین ځپاره په محنت کولو کښے، ځپل طرفنه هرځومره کوشش کوی، خو هغه له دا هیڅکله نه دی پکار چه دا ګمان اوکړی چه څه ماله کول پکار وو هغه ما کړی دی، بلکه هغه له ځ هیشه ځپاره دا سوچ کول پکار دی چه زما ځ مالک په ما باندې کوم حق وو هغه ما ادا نه کړے شو، اوپکار دی چه هروخت ځپل قصور اقرار کوی اوځ الله نه داډ ځ اغواری چه ستا په خدمت کښے زمانه څه کوتاهی شوی ده هغه ماته معاف کړه۔ هم دا اصل روح دے ځ الله تعالیٰ ځدے حکم چه "اے نبیؐ، ځپل قصور معافی غواړه"۔ ځدے مطلب دا نه دے چه معاذ الله نبی صلی الله علیه وسلم واقعی قصداً څه قصور کړے وو۔ بلکه ځدے صحیح مطلب دا دے چه کوم بنده ځ خدائے ځ ټولو بندګانو نه زیات بندګی کولے وو، ځهغه مقام هم دا نه وو چه په خپله کارنامه باندې ځ هغه په زړه کښے ځ ذرځې خیال راشی، بلکه ځهغه مقام هم دا وو چه ځ خپلو ټولو قدرمنزلتو با وجود ځ خپل رب په دربار کښے هروخت ځ قصور اقرار کوی۔ دا وجه وه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به هیشه استغفار ډیر ډیر ویلو۔ ځ ابو داؤد، نسائی او مسند احمد په روایت کښے ځ نبیؐ دا حدیث نقل کړے شوے ځچه "زه هر ورځ سل ځله ځ الله نه ځپل قصور بخښنه غواړم (یعنی استغفار کوم)"۔

۳۲ ﴿۱۹﴾ مطلب دا دے چه په هغه وخت کښے په مسلمانانو کوم حالات تیریدل، اوځ کافرانو ځ اسلام اوځ مسلمانانو سره څه سلوک وو، ځهغے په وجه ځ جنګ ځ حکم ځ راتلونه هګښے ځ مومنانو دا عامه رائے وه چه "اوس مونږ نه ځ جنګ اجازت پکار دے۔ بلکه هغوی به ډیر په بے قراری سره ځ الله ځ فرمان انتظار کولو او بار بار به ځے ټپوسونه کول چه ځدے ظالمانو سره ځ جنګ کولو حکم مونږ نه ولے نه کیږی؟ لیکن کوم

لَهُمْ ﴿٢٠﴾ طَاعَةٌ وَّقَوْلٌ مَّعْرُوفٌ ۚ فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ ۚ فَلَوْ صَدَقُوا اللّٰهَ
لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴿٢١﴾ فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي
الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ

دَ هغوئ پەحال باندې. (دَهغوئ پەژبه) دَاطاعت اقرار اوښې خبرې دی۔ خوچه هرکله قطعی حکم اُوکړے شو او په هغه وخت کښے هغوئ دَ الله سره پەخپله وعدې کښے رښتینی ثابت شوی وے نو دَ هغوئ دَپاره بنه وه۔ آیا اُوس ستاسو نه دَدے نه سواځه بله توقع کیدے شی چه که چرے تاسو څخه دارَوُدونو[33] پەزمکه کښے به بیا فساد راپورته کوئ او په خپلو کښے به دَیو بل په مَرَئ چارې راکاږئ؟[34] داهغه خلق دی چه الله پرلعنت اوکړو

خلق چه دَمُنافقت سره په مسلمانانو کښے شامل شوی وُو دَ هغوئ حال دَ مومنانو دَ حال نه بالکل مختلف وُو۔ هغوئ نه خپل سر اومال دَخدائے اودَ هغه دَدین نه غوره وُو او دے ته تیار نه وُو چه دَخدائے اودَ هغه دَدین دَپاره څه خطره په خپل سر واخلی۔ دَجنګ دَحکم دَرانلو سره دَمنافقانو اودَ رښتینی مومنانو پته اولګیده له۔ ترڅوچه دَ جنګ حکم نه وُو راغلے ترهغے پورے په منافقانو کښے اوپه عامو رښتینو مومنانو کښے پظاهره هیڅ فرق نه کیدو۔ مونږ به هغوئ هم کوُو اودوئ هم۔ په روزه نیولو کښے به ځے هم ناراستی نه کوله۔ آسان آسان دَمنے اسلام دَ هغوئ قبول وُو۔ خوچه کله دَ اسلام دَپاره دَسر ورکولو وخت راغے نو دَهغوئ منافقت بنکاره شو او دَ ایمان هغه نښانشی چه دَهغوئ نه اُوتلے کړے چه هغوئ دَخپل منافقت پتولو دَپاره اغوستلے وِے۔ په سورۀ نساء کښے دَ هغوئ داحالت په دے طریقه بیان کړے شوے دے: "اوولیدل هغه خلق چه ورته ویلے شوی وُو چه خپل لاسونه رامنع کړئ او مونځ قایم کړئ او زکوٰة ورکوئ؟ اُوس چه هغوئ ته دَجنګ حکم ورکړے شو نو په هغوئ کښے دَیوے دلے حال دادے چه دَانسانانو نه داسے یَریږی لکه څنګه چه دَخدائے نه یَرَه پکار ده بلکه دَدے نه هم څه زیات۔ هغوئ وائی اے خدایه! داجنګ حکم موږ ته ولے راکړے شو؟ موږ ته دے نور مُهلت ولے را نه کړو؟" (آیت ۷۷)۔

۳۳ ؎ اصل الفاظ دی اِنْ تَوَلَّيْتُمْ۔ دَدے یوه ترجمه هغه ده کومه چه مونږ ده برده په متن کښے کړی ده او دویمه ترجمه داده چه "که چرے تاسو دَخلقو حاکمان جوړ شوئ۔"

۳۴ ؎ دَدے حکم یومطلب دادے چه که چرے تاسو په دے وخت کښے دَ اسلام دَپاره دَجنګ کولو نه ډډه کوئ اودَ هغه لوئ اصلاحی انقلاب[35] دَپاره دَ سرو دَ مال قربانولو نه اړوئ دَکوم کوشش چه محمد صلی الله علیه وسلم او مومنان کوی، نو دَدے نتیجه آخر دَدے نه سِوا بله څه کیدے شی چه تاسو بیا دَجاهلیت هغه نظام ته واپس شئ چه په هغے کښے تاسو سوُ نوکالو راسے دَیو بل په مَرَئ چرے راکاږئ، اَن تردے پورے چه خپل بچی هم ژوندی خښوئ، اودَ خدائے زمکه دَظلم اودَ فساد نه ډکوئ۔ دویم مطلب دادے

فَاَصَمَّهُمْ وَاَعْمٰٓى اَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ اَمْ عَلٰى
قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ ارْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ
مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ الشَّيْطٰنُ سَوَّلَ لَهُمْ وَاَمْلٰى لَهُمْ ﴿٢٥﴾

اوړندۍ کا نړه ټے کړل۔ آیا دے خلقو په قرآن غور اُونه کړو، یا ئے زړونو ته جندرې ټکیدلی دی؟ حقیقت دا دے چه څوک د هدایت واضح کیدو نه روستو د هغې نه په شا شول د هغوئ د پاره شیطان دا لار آسانه کړی ده او د دروغژنو اُمیدونو سلسله ئے د هغوئ د پاره اُوږده کړی ده۔

چه هر کله ستاسو عمل د احال څخه په کوم دین باندې د ایمان راوړلو اقرار تاسو کړے دُو د هغې د پاره په تاسو کښے څه اخلاص او وفاداری نشته، او د هغې د پاره تیاری درکولو ته تیار نه یئ نو دا دے اخلاقی حالت ستاسو که چرے الله تعالیٰ تاسو له اقتدار درکړی او د دُنیا د معاملاتو واګے ستاسو په لاس کښے راشی نو ستاسو نه د ظلم او فساد نه سوا او د رڼا د رولئ د ختمولو نه سوا بل څه خیر اُمید کیدے شی۔

دا آیت دا دے خبرې څرګندې د ونکوی چه په اسلام کښے خپلوی ختمول حرام دی۔ بل طرف ته په قرآن مجید کښے په ډیرو ځایونو کښے د رشته دارانو سره ښه سلوک ساتلو ته غټه نیکی ویئلے شوی ده او د صلہ رحمئی یعنی د رشته دارئ د قایم ساتلو حکم شوے دے۔ د مثال په طور او کورہ البقرہ ۸۳، ۱۷۷۔ النساء ۸۔ ۳۶۔ النحل ۹۰۔ بنی اسرائیل ۲۶۔ النور ۲۲)۔ د "رحم" لفظ په هر هغې ژبه کښے د خپلوئ او رشته دارئ د پاره د استعارے په طور استعمالیږی۔ د یوسرې ټول رشته داران، که نزدے وی او که لرے وی، د هغه ذوی الارحام وی۔ د چا سره چه څومره نزدے رشته وی هغومره د هغه حق په سرې باندې زیات دے او د هغه سره خپلوی ختمول هغومره غټه ګناه ده۔ صلہ رحمئی دا ده چه د خپل رشته دار سره څه نیکی کول د سرې په وس کښے وی چه د هغې نه مخ وانړوی۔ او قطعه رحمی دا ده چه سړے د هغه سره خرابه سلوک اوکړی، یا ورسره څه نیکی کولے شی او د هغې نه قصداً ډډه اوکړی۔ حضرت عمر رضی اللہ عنہ د دے آیت نه دلیل پیش کړے وُو او د اُمّ ولد ے خرڅول ئے حرام کړی وو او صحابه کرام مو د سره اتفاق کړے وُو۔ حاکم په مُستدرک کښے د حضرت بریده نه دا روایت نقل کړے دے چه یوه ورځ زه د حضرت عُمرؓ په مجلس کښے ناست وُوم چه ناسپاه په محله کښے شور جوړ شو۔ د تپوس نه روستو معلومه شوه چه یوه ښځه خرڅولے کیږی او د هغې لوُرې په چغو چغوڑ اری۔ حضرت عُمرؓ په هغه وخت انصار او مهاجرین راجمع کړل او د هغوئ نه ئے تپوس اوکړو چه کوم دین محمد صلی اللہ علیہ وسلم راوړے دے آیا په هغې کښے تاسو ته معلومه ده چه خپلوی قطع کول جائز دی؟ ټولو اووئیل چه نه۔ حضرت عمرؓ اوفرمائیل چه داځکه خبره دا چه په تاسو کښے مورد نُورنه نُجدا کیږی؟ دا دے نه غټه قطع رحمی بله څه کیدے شی؟ بیا هغه دا آیت تلاوت کړو۔ خلقو ورته اُووئیل چه ستاپه رائے کښے دا دے د منع کولو د پاره څه

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ كَرِهُوْا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ سَنُطِيْعُكُمْ فِيْ بَعْضِ
الْاَمْرِ ۖ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾ فَكَيْفَ اِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ
يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ﴿٢٧﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اتَّبَعُوْا مَآ اَسْخَطَ

پہ دے وجہ هغوی هغه خلقونه چه د خدائے دیدلے خوښ نه وو، اودبل چه په هغینو معاملا تو کښے به موښره ستاسو اومنو[۳۶] الله تعالیٰ د هغوی په دے پټو خبرو بنه پوهږی. نو په هغه وخت کښے به د هغوی څه حال وی چه فرښتے تر کله روحونه اخلی اود هغوی مخونه او شاګانے به وهی او بوځی به ئے؟[۳۷] دا خو به هغه وی چه هغوی په هغه لاره لاړل پے کومه چه الله ناراضه کیږی

مناسب وی هغه اوکړه. نو حضرت عمرؓ ته ولوا سلامی ملکو نو ته دا عام فرمان جاری کړو چه داسے وینځه دے نه خرڅولے کیږی چه د مالک په کور کښے د هغے نه اولاد پیدا شوے وی هغه چا قطعۂ رحمی وکړه اود احلال[۳۵] ۵ یعنی یا خو داخلق په قرآن مجید باندے غور نه کوی، یا د غور کو نو کوشش خو کوی لیکن د قرآن تعلیمات او مطلب ئے زړونو ته نه کوزیږی هغه چه د هغوی زړونو ته جذبے نه کیدلی وی. او دا چه فرمایلے شوی دی چه "د هغوی زړونو ته جذبے نه کیدلی وی" نو دے ځکه مطلب دادے چه زړونو ته ئے هغه جذبے نه کیدلی وی کوم چه د اسے حق شناسو زړونو ته پاره خاص وی.

۳۶ ۵ یعنی باوجود دے چه د ایمان اقرار ئے کړے وو اود مسلمانانو په ډله کښے شامل وو، هغوی پټ په پټه د اسلام د دشمنانو سره ساز باز کولو اووعدے ئے ورسره کولے چه په هغینو معاملا تو کښے به موښره ستاسو ملګرتیا کوو.

۳۷ ۵ یعنی په دنیا کښے خو هغوی دا عمل په دے وجه اختیار کړو چه خپله فانیه[۳۸] په حفاظت کښے اوساتی، اود کفر اود اسلام د جنګ د خطرونو نه اوساتی، لیکن د مرګ نه روستو به دوئی د خدائے د ګرفت نه څرنګه ځی؟ په هغه وخت کښے به د هغوی یو تدبیر د فریبتو د هلونه هغوی نشی بچ کولے.

دا آیت هم د قرآن مجید په هغه آیتونو کښے شامل دے چه هغه د څرګندو نه کوی چه عذاب برزخ (یعنی د قبر عذاب) شته دے. د دے نه صاف معلومیږی چه د مرګ سره سم په کافرانو او منافقانو باندے عذاب شروع کیږی، اود عذاب د هغے سزا نه مختلف دے کوم چه به په قیامت کښے د هغوی د مقدمے د فیصلے کیدو نه روستو هغوی له درکړے کیږی. د ذیلے تشریح د پاره اوګورئ سورۃ نساء آیت ۹۷. الانعام، ۹۳، ۹۴. الانفال ۵۰. النحل ۲۸، ۳۲. المومنون ۹۹، ۱۰۰. یٰسٓ ۲۶، ۲۷ (سره د حاشیے ۲۲، ۲۳). المومن ۴۶ (سره د حاشیے ۶۳).

اللّٰهَ وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿۲۸﴾ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ
فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ اَضْغَانَهُمْ ﴿۲۹﴾ وَلَوْ نَشَآءُ
لَاَرَيْنٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ؕ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ ؕ
وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۰﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ
مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ ۙ وَنَبْلُوَا۟ اَخْبَارَكُمْ ﴿۳۱﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ
صَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَشَآقُّوا الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ

اوده هغه د رضا په لاره تلل ته خوښ نه کړل. په دې وجه هغه د هغوی ټول عملونه ضایع کړل. ع

آیا هغو خلکو چې په زړونو کښے ئے مرض پروت دے دا ګمان کوی چه الله به د هغوی د زړونو خرابتیا نه را برسیره کوی؟ که موږ وغواړو نو هغوی به درته ښکاره ښایو او تاسو به ئے د مخونو نه او پیژنئ او د خبرو د طرز نه خو به ئے خامخا او پیژنئ. الله ستاسو ټول عملونه پښه خبره. موږ به ضرور تاسو په آزمیښت کښے آچوو چه ستاسو حالا تو جاج واخلو او وګورو چه په تاسو کښے مجاهدین او مضبوط دریدونکی څوک دی.

هغو خلقو چې کفر اوکړو او د خدائ د لارے نه ئے خلق منع کړل او د رسول سره ئے جګړه اوکړه، دوستو دیے نه چه هغوی ته ښیغه لار

۳۸ د عملونو نه مراد هغه ټول عملونه دی کوم چه به هغوی د مسلمان په حیثیت سره کول. د هغوی مونځونه د هغوی روژے، د هغوی زکوٰة، غرض دا چه هغه ټول عبادتونه او هغه ټولے نیکیانے چه په ظاهره به په نیکو عملونو کښے شمار ریدلے، په هغه وجه ضایع شولے چه هغوی د مسلمانئ باوجود د الله سره او د هغه د دین سره او د اسلامی ملت سره اخلاص او وفاداری اونه کړه، بلکه صرف د خپلے دُنیاوی فایدے د پاره ئے د دین د دُشمنانو سره ساز باز کولو او کله چه د الله په لار کښے د جهاد کولو موقع راغله نو هغوی د خپل ځان د بچ کولو په فکر کښے اخته شو.

۳۹ آیتونه بالکل دیے خبرے څرګندوونه کوی چه د کفر او د اسلام په جنګ کښے د کوم سړی هیڅ ردیاغه او مینه د اسلام او د مسلمانانو سره نه وی، یا د کفر او د کافرانو سره وی نو د هغه ایمان هډو د سړه معتبر نه دے نو عمل به ئے څنګه خدائ ته قبول وی.

لَهُمُ الْهُدٰى ۙ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ۭ وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَهُمْ ﴿۳۲﴾
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَلَا تُبْطِلُوْٓا
اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ مَاتُوْا
وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ﴿۳۴﴾ فَلَا تَهِنُوْا وَتَدْعُوْٓا اِلَى السَّلْمِ ۖ
وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ۚ وَاللّٰهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَّتِرَكُمْ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۵﴾

واضحه شوی وه، په حقیقت کښے هغوی د الله هیڅ نقصان هم نشی کولے، بلکه الله به د هغوی ټول عملونه برباد کړی۔[۳۹] اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، تاسو د الله حکمونه منئ او د رسول خبره منئ او خپل عملونه به برباد وئ۔[۴۰] کومو خلقو چه کفر اوکړو او د خدائے د لارے نه ئے خلق منع کړل او د مړکه پورے په کفر باندے ټینګ ولاړ نو الله به هغوی هرگز معاف نه کړی۔ پس تاسو بزدله (کم همته) مه جوړیږئ او د صلح درخاسونه مه کوئ[۴۱] هم تاسو به غالب یئ۔ الله ستاسو سره دے او ستاسو عملونه به هغه هرگز نه ضایع کوی۔

۳۹ د دے فقرے دوه مطلبونه دی۔ یو دا چه کوم کارونه هغوی په خپل تر کښے د نیکئ په گمان کړی دی، الله به هغه ټول ضایع کړی او په آخرت کښے به د هغے هیڅ اجر بیا اونه مونده شی۔ دویم مطلب دا دے چه هغوی د الله او د هغه د رسول د دین د لارے نه د خلقو منع کولو د پاره څومره تدبیرونه کوی هغه ټول به ناکام او بے فایده شی۔

۴۰ یعنی د عملونو فایده هله سړی ترسی چه سړے د الله او د هغه د رسول حکم منونکے بنده شی۔ او چه سړے د حکم نه غځ وایی نو بیا د هغه یو عمل هم نیک عمل نه شی ویلے کیدے چه هغه پرے څه اجر مرتب شی۔

۴۱ دلته دا خبره په نظر کښے ساتل پکار دی چه دا حکم په هغه زمانه کښے شوے ؤ کله چه د مدینے په یو ورکی شان کلی کښے یو څو سوه مهاجرین او انصار د اسلام جنده اوچته کړی وه او مقابله ئے یو از د قریشو د طاقتور قبیلے سره نه وه بلکه د ټول عرب د کافرانو د مشرکانو سره وه۔ په دے حالت کښے فرمایلے کیږی چه همت مه بائیلئ او دے دشمنانو ته د صلحے درخاسونه مه کوئ بلکه خان قربانولو ته تیار شئ۔ دا دے حکم دا مطلب نه دے چه مسلمانانو له هر وخت صلحے خبری کول نه دی پکار۔ بلکه دا دے مطلب دا دے چه په داسے حالت کښے د صلحے درخاسونه کول صحیح نه دی کله چه د هغے نه د خپلے کمزورئ اظهار کیږی او په هغے سره د دشمن نور هم زیات زړه ورکیږی۔ مسلمانانو له پکار دی چه اول د خپلے بهادرئ طاقت دشمنانو ته اوښائی او پس د هغے نه د صلحے خبری کوی نو باک نشته۔

إِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ۭ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا
يُؤْتِكُمْ اُجُوْرَكُمْ وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ ﴿٣٦﴾ اِنْ يَّسْـَٔلْكُمُوْهَا
فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوْا وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ ﴿٣٧﴾ هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَاۗءِ
تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ فَمِنْكُمْ مَّنْ يَّبْخَلُ ۚ وَمَنْ
يَّبْخَلْ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ ۭ وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَاۗءُ ۚ

دَ دُنیا اژوند خو یوه لوبه او تماشه ده[۴۲]۔ که تاسو ایمان راوړو او دَ تقوٰی پلار روان شوئ نو
الله به ستاسو اجرتاسو له درکړی او ستاسو مال به ستاسو نه غواړی[۴۳]۔ که چرے هغه ستاسو مالونه
ستاسو نه اُوغواړی او سرا سر ټول مال درنه اُوغواړی نو تاسو به شومتیا اُوکړئ او هغه به
ستاسو عیبونه راڅرګند کړی[۴۴]۔ مګورئ، تاسو ته بلنه درکړه کیږی چه دَ الله په لار کښے مال خرچ
کړئ۔ نو په تاسو کښے څه خلق دی چه شومتیا کوی، حالانکه څوک چه شومتیا کوی هغه
په حقیقت کښے دَ خپل ځان سره شومتیا کوی۔ الله خو غنی دے، او تاسو هغه ته محتاج یئ۔

۴۲ یعنی دَ آخرت په مقابله کښے دَ دے دُنیا حیثیت دَ دے نه زیات نورځه نه دے چه بس دَ زړهٔ
دَ خوشحالئ یوځورښے دی۔ دَ دے ځائے کامیابی او ناکامی څه حقیقی او پائیدار څیز نه دے۔ اصل ژوند
دَ آخرت ژوند دے چه دَ هغے دَ کامیابئ دَ پاره انسان له فکر کول پکار دی (دَ زیاتے تشریح دَ پاره اُوګورئ
تفہیم القرآن دریم جلد، دَ سورة عنکبوت تفسیر، حاشیه ۱۰۲)۔

۴۳ یعنی هغه غنی دے، دَ هغه هیڅ ضرورت نشته چه دَ خپل ذات دَ پاره ستاسو نه څه داخلی۔
که هغه تاسو ته دا وائی چه زما په لار کښے څه خرچ کړئ نو هغه دَ خپل ځان دَ پاره نه بلکه ستاسو دَ
نیکئ دَ پاره وائی۔

۴۴ یعنی هغه په دومره لوئ آزمیښت کښے تاسو نه آچوی چه په هغے سره ستاسو کمزورئ ته
را برسیره شی۔

وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۙ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا اَمْثَالَكُمْ ﴿٣٨﴾ ع

کہ تاسو مخ وارِ وُدِ نو اللہ بہ ستاسو پہ ځائے یو بل قوم راولی او هغوئ بہ ستاسو غوندِ نہ وی۔ ع

تفهم القرآن الكريم

الفتح

٤٨

الفتح

نوم | دا اولنی آیت اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا نه اخلے شوے دے۔ دا یوازے دَدے سورۃ نوم نه دے بلکه دَ مضمون پلحاظ سره هم دَدے عنوان دے، حُکمه چه په دے کښے په هغه لویه فتح باندے کلام شوے دے کومه چه الله تعالیٰ نبی صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو له دَ صُلح حُدَیبیئے په شکل کښے ورکړی وه۔

دَ نازلیدو زمانه | تول روایتونه په دے مضمون متفق دی چه دا سورۃ دَ شپږمے هجریٔ دَ ذی القعدے په میاشت کښے په هغه وخت نازل شوے وُو کله چه نبی دَ مکے دَ کافرانو سره دَ صلح حدیبیئے معاهده اوکړه او واپس مدینے منورے ته روان وُو۔

مختصر تاریخی حالات | دَ کومو واقعاتو په سلسله کښے چه دا سورۃ نازل شو هغه په دے ډول شروع شوی دی چه یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب کښے اولیدل چه هغهٔ دَ خپلو ملګرو سره مکے معظمے ته تلے دے او هلته ئے عُمره کړی ده۔ دَ پیغمبر خوب خو هسے یو خوب او خیال نه شوکیدے۔ هغه خو دَ وحی دَ قسمونو نه یو قسم دے، او وراندے په اُوِّیشتم آیت کښے الله تعالیٰ پخپله دَدے خبری پخلے کړے دے چه دا خوب موبږه خپل رسول ته ښودلے وُو۔ نو په حقیقت کښے دا هسے یو خوب نه وُو بلکه دَ خدائے دَ طرفنه یوه اشاره وه چه په هغے عمل کول نبی له ضروری وُو۔

په ظاهره خو په دے حکم باندے دَ عمل کولو څه اِمکان په نظر نه راتلو۔ دَ قریشو کافرانو دَ شپږو کالو راسے دَ بیت الله لارے دَ مسلمانانو دَ پاره بنده کړی وه او په دے تولهٔ موده کښے ئے یو مسلمان هم دَ حج او دَ عُمرے دَ پاره دَ حرم حدُود و ته نزدے نه وُو پریښودلے۔ اُوس آخر دا اُمید څنګه کیدے شوچه هغوئ به رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ خپلو ملګرو سره مکے ته پریږدی دَ عُمرے دَ پاره ئے احرام ترلے او دَ جنګی سازوسامان سره وتلے، نو دا خو پخپله جنګ ته بلنه ورکول وُو، او که بے وَسُلے تللے نو خپل ځان او خپل ملګری دَ مرګ دَ خطرے سره مخامخ کول وُو۔ په دے حالاتو کښے هیڅوک په دے نه شو پوهیدلے چه دَ الله تعالیٰ په دے اشاره باندے به څنګه عمل کیدے شی۔ لیکن دَ پیغمبر مقام دا وُو چه خپل رب هغه ته څه حکم اُوکړی نو په هغے به بے شکه بے شُبهے عمل کوی۔ دا وجه وه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زر خپل خوب صحابه کرامو ته واوْرَوه او دَ سفر دَ پاره ئے تیاری شروع کړه۔ خو وُ شا چه کوم قبائل وُو هغوئ ته ئے هم عام اِعلان اوکړو چه موبږه عُمرے له څو، څوک چه زمونږ سره تلل غواړی هغوئ دے راځی۔ دَ کومو خلقو نظر چه په ظاهری اسبابو باندے وُو هغوئ دا خیال اوکړو چه دا خلق دَ مرګ خُلے له څی۔ په هغوئ کښے هیڅوک دَ هغه سره تلو ته تیار نه شو۔ خو دَ چا چه په الله او دَ هغه په رسول باندے ریښتینے ایمان وُو هغوئ دَدے خبری هیڅ پروا نه کړله چه انجام به څه وی۔ دَ هغوئ دَ پاره بس دا خبره کافی وه چه دَ الله اشاره ده او دَ الله رسولؐ دَ حکم منلو دَ پاره راپاسید لے دے۔ دَدے نه

روستو هیڅا هغوی د خدائے د رسول سره د منکرتیا کولو نه نه شو منع کولے۔ څوارلس سو صحابه کرامؓ د نبیؐ په ملکرتیا کښے دے خطرناک سفر ته د تللو د پاره تیار شو۔

د شپږمے هجرۍ د ذی القعدے د میاشتے په اوّلو ورځو کښے دا مبارکه قافله د مدینے نه روانه شوه چه ذوالحلیفه[1] ته اُورسیدل نو تول د عُمرے د پاره احرام اُوترړه۔ د قربانئ د پاره ځُویا اوښان د ځان سره روان کړل چه په ځار و کښے ئے د هَدْی د علامے په طور پتئ پرتے وے۔ په سامانونو کښے ئے صرف یوه یوه توره کیښودله چه د عربو د عاے قاعدے مطابق د هغے د کیښودلو اجازت هر حاجی ترڅو اود دے نه سیوا د جنګ نور سامان ئے د ځان سره وے نه وړو۔ پدے شان سره دا قافله د لبّیك لبّیك د اُوچتو آوازونو سره بیت الله شریف ته روانه شوه۔

په هغه وخت کښے چه د مکّے او د مدینے د یو بل سره کوم تعلقات وُو، هغه د عربو هر چا ته معلوم وُو۔ تیر کال د پنځمے هجرۍ د شوال په میاشت کښے خو قریشو د عربو د قبائیلو سره په شریکه په مدینه باندے حمله کړې وه او مشهوره غزا "غزوهٔ احزاب" شوې وه۔ دا وجه وه چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلّم د دومره لوئے قافلے سره د خپلو هغو دُشمنانو کلی ته روان شو چه هغوی د هغه د ښوڅکلوته نکی ناست وُو، نو د تول عرب ستر کے دے نا آشنا سفرته را اوکرزیدلے، او خلقو دا هم اولیدل چه دا قافله د جنګ د پاره نه ده بلکه په محترمه میاشت کښے، احرام تړلی، د هَدْی د اُوښانو سره د بیت الله شریف طواف له ځی او بالکل بے وَسُلے دی۔

د نبیؐ په دے کار سره د قریشو خلق سخت په پریشانئ کښے پریوتل۔ د ذی القعدهٔ میاشت په هغه محترمه میاشتو کښے وه چه په عربو کښے د حج او د عُمرے د پاره د سوُو نو کالو راتلے عزتمنده کښے شوے۔ په دے میاشت کښے چه به کوم قبیلے احرام اُوترړه او د حج او د عُمرے د پاره به روانه شوه نو هیڅا ته به د هغے د منع کولو حق نه وُو۔ آن تردے پورے چه که د هغے به د یوے قبیلے سره دُشمنی هم وه نو د عربو د ملی شوی قانون ترڅه هغوی په خپله علاقه باندے د تیریدو نه نه شو منع کولے۔ د قریشو خلق به په دے پریشانئ کښے پریوتل چه که چرے موږه د مدینے په دے قافله باندے حمله اوکړه او هغوی مو مکے ته د را تلونه منع کړل نو تول ملک به په دے باندے واویلا جوړه کړی۔ د عربو هر سړے به اُوائی چه دا سړا سر زیاتے دے۔ د عربو د تولو قبائیلو به دا خیال راشی چه موږه د ځانه کجے مالکان جوړ شوی یُو۔ هره قبیله به په دے شک کښے پریوزی چه بل کال له به څوک حج او عُمرے ته پریښودل اُوس زمونږ په مرضاوی، چه د چا نه مونږه نا رضایو هغه به د بیت الله نه داسے منع کوُ لکه څنګه چه نن د مدینے دا خلق منع کوو۔ دا به داسے غلطی وی چه په دے سره به تول عرب زمونږ نه واوړی۔ لیکن که چرے مونږه محمد صلی الله علیه وسلم له د دومره لوئے قافلے سره خپل بغارته په خیریت سره د ا خلید و اجازت ورکړو نو په تول ملک کښے به زمونږه دبدبه

[1] دا ځائے د مدینے نه مکے طرفته تقریبًا شپږ میله لرے دے۔ اُوس ورته خلق بئر علی وائی او د مدینے جیانب دے ځائے نه د حج او د عُمرے احرام تړی۔

ختمه شی او خلق به وائی چه موښره د محمد صلی الله علیه وسلم نه اوبرید و۔ آخر دا چه د ډیر سوچ نه روستو د هغوی جاهلی ضد په هغوی باندې غالب شوا وهغوی د خپل عزت د خاطره دا فیصله اوکړه چه په هیڅ قیمت باندې دا قافله موښره خپل ښار ته نه پریږدو۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم د بنی کعب قبیلې یو سړی د مخبر په حیثیت مخکښې لیږلے وو چه هغه ته د قریشو د اراده او د هغوی د تیاری خبر په وخت باندې ورکوی۔ هرکله چه هغه عسفان[1] ته اورسید و نو هغه راغے او نبی[2] له یې اطلاع ورکړه چه د قریشو خلق بنه د تیاری سره ذی طوی[3] ته راغلے دی او خالد بن ولید ته د دوو سوو سورو سره کراع الغمیم[4] طرفته مخکښې لیږلے دے د پاره د دے چه ستاسو لاره بنده کړی۔ د قریشو کاردا وو چه پرته طریقه د نبی د ملکرو سره چیرې چار اوکړی او هغوی ځان ته اوقهروی او بیاکه جنګ او شی نو په ټول ملک کښے دا مشهوره کړی چه داخلق په اصل کښے د جنګ د پاره راغلی وو، خو بهانه ئے د عمرے کړی وه او احرام ئے د دوکے د پاره تړلے وو۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دے اطلاع سره فوراً لاره بدله کړه او په یوه سخته لاره باندې ډیر په سختئ سره د حدیبیے[5] مقام ته اورسید و چه بالکل د حرم په سرحد باندې پروت وو۔ دلته د بنی خزاعه سردار بدیل بن ورقاء د خپلے قبیلے د یو څو کسانو سره نبی له راغے او تپوس ئے ترې اوکړو چه تاسو د څه غرض د پاره راغلی یئ؟ نبی ورته اوفرمایل چه موږ د چا سره جنګ له نه یو راغلی، صرف د بیت الله زیارت او د هغے نه چار چاپیره طواف کول زمونږ غرض دے۔ هغوی لاړل او هم دا خبره ئے د قریشو سردارانو ته اوکړه۔ او دا مشوره ئے ورله ورکړه چه د حرم د زیارت کونکو لاره مه بندوئ۔ لیکن هغوی په ضد ټینګ و د ریدل او د احابیش[6] سردار حلیس بن علقمه ئے نبی ته اولیږلو چه هغه واپس تللو ته تیار کړی۔ د قریشو د سردارانو مقصد[7] وو چه هرکله محمد صلی الله علیه وسلم د هغه خبره اونه منی نو هغه به تړ خفه شی او واپس به لاشی او بیا به د احابیش ټول طاقت زمونږ سره وی۔ خو چه کله هغه راغے او په خپلو ستر کونو اولیدل چه تولے قافلے احرام تړلے دے۔ د هدی اوښان مخے ته ولاړ دی چه په غاړو کښے ئے پټی پرتے دی او دا خلق جنګ له نه بلکه د بیت الله طواف له راغلی دی نو هغه د نبی[8] سره

---

[1] دا ځائے د مدینے نه د مکے په لاره د مکے نه تقریباً د دوو درځو په فاصله لرے دے (یعنی د اوښ په سولۍ باندې دوه ځائے نه مکے ته پرسید وکښے دوه ورځے لږی۔

[2] د مکے نه د بهر د عسفان په لاره باندې یو ځائے دے۔

[3] د عسفان نه آته میله لرے مکے طرفته۔

[4] د جدے نه چه مکے نه کوم سړک تلے دے په هغه سړک باندې دا ځائے ټیک هلته دے د کوم ځائے نه چه د حرم حدود نه شروع کیږی۔ اوس ورته شمیسی ویښلے کیږی د مکے نه تقریباً دیارلس میله لرے دے۔

[5] دا یو څو قبایلو وو چه د مکے په اطراف کښے وسیدل او د قریشو سره ئے حلیفانه تعلقات وو۔

څه خبری اُونډ کړه او سیده مکے ته واپس لاړ او د قریشو سردارانو ته ئے صفا صفا اووئیل چه داخلق د بیت الله شریف عظمت یعنی لوئی والے منی او د بیت الله زیارت له راغلی دی ـ که تاسو دوئی منع کوئ نو احابیش به په دے کار کښے ستاسو سره ملکرتیا هرگز نه کوی ـ موښږه د دے ډلے ستاسو حلیفان نه یو جوړشوی چه تاسو به حرمتونه د خپلولا نه دی کوئ او موښږ به درسره په هغے کښے مرسته کوؤ ـ

بیا د قریشو د طرفنه عُروه بن مسعود ثقفی راغے او هغه په خپل تړکښے د پیرے کوز پاس خبری اوکړے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دے ته اماده کړی چه هغه مکے ته د داخلیدو د اراده نه منع شی، لیکن نبیؐ هغه له هم هغه جواب ورکړو کوم چه هغه د بنی خزاعه سردار له ورکړے وُو چه موښږه د جنګ په اراده نه یو راغلی بلکه د بیت الله په تعظیم کښے د یوے دینی فریضے اداکولو د پاره راغلی یُو ـ واپس چه عُروه لاړو نو د قریشو خلقو ته ئے اُووئیل چه زهٔ د قیصر او د کسرٰی او د نجاشی دربار دنو ترهم تلے یم، لیکن په خدائے مے قسم وی، ما وُلیدل چه د محمدؐ ملکری د محمد (صلی الله علیه وسلم) څنګه قدر کوی، اسے قدر ما د نوبو نوبو بادشانوهم نه دے لیدلے ـ د هغوئ خو داحال دے چه محمدؐ اوس کوی نو د هغه ملکری (اصحابان) د اُوبو یو څاڅکے په زمکه پریوتو نه نه پریږدی او تړلے په خپل بدن او کپړو پورے مَږدی ـ اُوس تاسو پخپله سوچ اوکړئ چه ستاسو مقابله د چا سره ده ـ

د آستاذو د تلو راتلو او د هغوئ د خبرو اترو په دوران کښے قریشو بار بار دا کوشش کولو چه پټ په پټه د نبیؐ په کیمپ باندے حمله اوکړی او صحابه کرام په غُصه کښے راولی او په څه طریقه د هغوئ د لاسه څه کار اوکړی چه د هغے نه د جنګ بهانه جوړه شی ـ لیکن هر ځُل د صحابو د صبر او تحمل په وجه، او د نبیؐ د حکمت او هوښیارتیا په وجه د هغوئ ټول تدبیرونه ناکام شول ـ یو ځُل د هغوئ څلویښت پنځوس کسان د شپے راغلل او د مسلمانانو په کیمپ باندے ئے کانړی او غشی وَرول شروع کړل صحابو هغه ټول راوُنیول او نبیؐ کریم ته ئے پیش کړل، لیکن هغه هغوئ ټول پریښودل ـ په یوه بله موقعه کښے د تنعیم[1] د طرفنه اتیاکسان عین د سحر د مانځه په وخت کښے راغلل او ناسپه ئے حمله اوکړه ـ دوئی هم اُونیوے شو لیکن نبیؐ هغوئ هم پریښودل ـ په دے طریقه به د قریشو هر کارادا هر تدبیر ناکام کیدو ـ

آخر داچه نبیؐ پخپله د خپل طرفنه حضرت عثمانؓ د آستاذی په حیثیت مکے ته اولیږلو او د هغه په ذریعه ئے د قریشو سردارانو ته داپیغام اولیږلو چه موښږه جنګ له نه یو راغلی بلکه د زیارت د پاره د هدی سره راغلی یو، چه طواف او قربانی اوکړو او واپس به شو ـ لیکن هغوئ داخبره اونه منله او حضرت عثمانؓ ئے په مکه کښے منع کړو ـ په دے دوران کښے داخبر خو رشوچه حضرت عثمانؓ وژلے شوے دے او هغه چه واپس را نغے نو د مسلمانانو دا یقین شوچه داخبر ریښتیا دے ـ اُوس د ذیات صبر څه

---

[1] دا مکے ته نزدے د حرم د حدود نه بهر یو مقام دے ـ د مکے خلق عام طور د عُمرے کولو د خاطره دے مقام ته ځی او احرام تړی او بیا واپس ځی او عُمره ادا کوی ـ

موقعہ نہ وہ ، مکّے تہ د نبوتلو خبرہ خوبلہ وہ ، دھغے د پارہ د طاقت د استعمالولو خیال هرگز نہ وو۔ خو چہ کلہ خبرہ د استاذی (یعنی د سفیر) وژلو تہ اُورسیدہ نو بیا خو دے نہ سوا بلہ څہ چارہ پاتے نہ شوہ چہ مسلمانان د جنگ د پارہ تیار شی۔ داوجہ وہ چہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم خپل ټول ملگری راجمع کړل او د هغوی نہ ئے پہ دے خبری پخہ وعدہ واغستلہ چہ اُوس بہ مونږ دَدے ځائے نہ د مرکہ مرکہ پورہ نہ روستو کیږو۔ د موقعے باریکوالے چہ پہ نظر کښے وی نو سړی تہ پتہ لږی چہ داخہ معمولی وعدہ نہ وہ۔ مسلمانان صرف څوارلس سَوہ وو او د سامانِ جنگ نہ بغیر راغلی وو۔ د خپل مرکز نہ دوہ نیم سوہ میلہ لرے ، بالکل د مکّے پہ سرحد باندے دیرہ شوی وو چہ هلتہ پرے د دُشمن بنہ د پورہ طاقت سرہ حملہ کولے شوہ۔ او د خواؤ شا علاقے نہ ئے هم خپلے ملگری قبیلے راوستلے شوے او هغوی ئے راکیرولے شو۔ کدے باوجود یو سړی نہ سِوا تولہ قافلہ د نبی صلی اللہ علیہ وسلم پہ لاس باندے د مرگ جنگ وعدے تہ بنہ پہ راستی سرتیارہ شوہ۔ دَدے خلقو د ایمان پہ اخلاص باندے او د خدائے پہ لارکښے د سرتربا نولو دَدے نہ زیات بل غټ ثبوت څہ کیدے شی۔ داهغہ وعدہ دہ چہ د بیعتِ رضوان پہ نوم د اسلام پہ تاریخ کښے مشهوره ده۔

روستو پتہ اولگیدہ چہ د حضرت عثمانؓ د قتل کولو خبر غلط وو۔ حضرت عثمانؓ پخپلہ هم واپس راغے او د قریشو د طرفنہ د سُهیل بن عمرو پہ مشرگی کښے یوہ ډلہ هم د صُلحے د خبرو اترو د پارہ د نبیؐ کیمپ تہ راأورسیدلہ۔ اُوس قریشو خپل داصنډ پریښودے وو چہ هغوی بہ نبیؐ او د هغہ ملگری مکے تہ هډو پریږدی نہ۔ البتہ د خپل عزت بچ کولو د پارہ هغوی پہ دے خبرہ ټینگ وو چہ مسلمانان دِ سکال واپس لاړشی، او بل کال لہ د عُمرے د پارہ راتلے شی د اُوږدو دوخبرونہ روستو چہ پہ کومو شرطونو صلح نامہ اولیکلے شوہ هغہ شرطونہ داوو۔

(۱) د لسو کالو پورے بہ د دواړو ډلو پہ مینځ کښے جنگ بند وی، او د یوبل خلاف بہ پہ پتہ یا پہ ښکاره هیڅ قسم څہ کارروائی نہ کیږی۔

(۲) پہ دے دوران کښے کہ د قریشو یو سړے د خپل سرپرست د اجازت نہ بغیر او تښتیدو او محمد صلی اللہ علیہ وسلم ته راغے نو هغہ بہ تاسو واپس کوئ، او کہ ستاسو د ملگرو نہ څوک قریشو لہ راغے نو هغہ بہ هغوی نہ واپس کوی۔

(۳) د عربو پہ قبایلو کښے چہ کومہ قبیلہ د کومے ډلے سرہ حلیف جوړیدل غواړی او پہ دے معاهدہ کښے شامیدل غواړی نو هغے تہ بہ د دواړو کولو اختیار وی۔

(۴) محمد صلی اللہ علیہ وسلم بہ سکال واپس ځی او بل کال لہ بہ د عُمرے د پارہ راځی او صرف دری ورځے بہ پہ مکہ کښے تیرَوی۔ خو پہ دے شرط چہ د ځان سرہ بہ صرف یوہ تورہ راوړی او د جنگ سامان بہ د ځان سرہ نہ راوړی۔ پہ دے درے ورځو کښے بہ د مکے خلق هغوی تہ بازار خالی کوی۔ (د پارہ د دے چہ جنگ جگړہ اونہ شی)۔ لیکن واپس چہ ځی نو د دے ځائے پرسرے بہ هم د ځان سرہ

نہ بوئی۔

څه وخت چه دغه معاهدے د شرطونو فیصله کیدله نو د مسلمانانو ټول لښکر ډیر پریشانه وُو۔ هیڅوک په هغه نیکره نه پوهیدل د کوم ترڅه چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم دا شرطونه قبلول۔ د هیڅ نظر ورمه لرلے نه لکیدو چه په دے صلح کښے د مسلمانانو کوم لوئی خیر وُو چه هغه ګټلے لے وے۔ د قریشو کافرانو دا خپله کامیابی ګڼله او مسلمانان په دے خفه وُو چه مونږه دا ذلیله شرطونه آخر ولے قبلَوُو۔ د حضرت عُمر غوندے پوهه انسان هم دا حال وُو چه هغه ویَیل چه د مسلمانید و نه روستو هیڅکله زما زړه له شک نه وُو راغلے، لیکن په دے موقعه زهٔ هم دَیے نه محفوظ پاتے نه شوم۔ هغه ډیر په بے قراریٔ سره د حضرت ابوبکرؓ خوا له لاړ او ورته ئے اُوویَیل" آیا حضرتؐ د الله رسول نه دے؟ آیا مونږ مسلمانان نه یُو؟ آیا دا خلق مشرکان نه دی؟ نو آخر د خپل دین په معامله کښے مونږ دا ذلت وَلے قبول کړو؟" هغه ورته اُوویَیل چه" اے عُمره! هغه د الله رسول دے او الله به هغه هرکز نه ضائع کوی۔ بیا تر صبر اُونه شو نو لاړ او هم دا ټوسونه ئے پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه هم اوکړل او نبیؐ ورله هغسے جواب ورکړو کوم چه ورله حضرت ابوبکرؓ ورکړے وُو۔" روستو بیا حضرت عُمرؓ ډیره مړه په هغه خبرو اترو باندے شرمنده وُو کوے چه هغه په هغه موقعه باندے د رسول الله صلی الله علیه وسلّم سره کړے وے، او صدقے به ئے ورکوله او نفلونه به ئے کول چه الله تعالیٰ هغه ته معافی اوکړی۔

په دے معاهدے کښے خلق په دوُو خبرو د ټولو نه زیات خفه وُو۔ یو، دویم نمبر شرط وُو، چه خلقو به د هغے په حقله ویَیل چه دا بنکاره د بے انصافئ شرط دے۔ که د مکے نه راتښتید ونکی خلق مونږ ته واپس کوُو نو د مدینے نه راتښتید ونکی خلق هغوئ ولے نه واپس کوی؟ نبیؐ ورته د دے په جواب کښے اُوفرمایَیل چه څوک زمونږ نه اُوتښتی او هغوئ له لاړشی نو آخر هغه زمونږ د څه کار دے؟ الله دِ مونږه د هغه نه لرے اُوساتی۔ او څوک چه د هغوئ نه راوُتښتی او مونږ له راشی هغه که مونږه واپس کړو نو الله به هغه له د خلاصی څه یل شکل پیدا کړی۔ دویم د څخکان څیز څلورم شرط وُو۔ مسلمانانو د آکنړله چه دَیے مسلو مطلب دا دے چه که مونږه د ټول عرب په مخکښے په ناکامئ سره واپس څو۔ په دے د پاسه به دا خبره هم په زړونو کښے راوُچتید له چه نبیؐ خو په خوب کښے دا لیدلی وُو چه مونږه په مکّه کښے طواف کوُو، لیکن دلته مونږه د طواف کولو نه بغیر د واپس تلو شرط منو۔ نبیؐ خلق پوهه کړل چه په خوب کښے خو اسے صفا نه وُو ویَیلی شوی چه مونږه به خامخا په دے کال کښے طواف کوُو۔ د صُلحے د شرطونو مطابق که سکال نه وی نو انشاء الله را تلونکی کال له به طواف اُوشی۔

د ځیل کړی وُو د پاسه تیل په هغه وخت کښے او ریدل کله چه د معاهدے صُلح لیکلے کیدله، او د سهیل بن عمرو خپل خوے ابوجَندل چه مسلمان شوے وُو او د مکے کافرانو قید کړے وُو، په څه طریقه راوُتښتید و او د نبیؐ کیمپ ته راوُرسید و۔ د هغه په خپو کښے بیړیٔ پرتے وے او په بدن ئے د وهلو

کولو نبی ښکاریدلے۔ هغه نبیؐ ته فریاد اوکړو چه مادے حابه قید نه خلاص کړه۔ صحابه کرام وچه دا حالت اولیدو نو خان قابو کول ورته کران شو۔ لیکن سهیل بن عمرو اوویېل چه صلح نامه اکرچه لیکلے شوی نه ده، خو زمونږه اوستاسو په منځ کښے شرطونه فیصله شوی دی په دے وجه دا هلک دے مانه حواله کړه شی۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه دلیل اومنو او ابوجندل ظالمانو ته حواله کړه شو۔

چه د صلح نه وزګار شو نو نبیؐ صحابو ته اوفرمایل چه اوس هم دلته قربانیانے اوکړئ، سرونه اوخرئ او احرام ختم کړئ۔ لیکن هیڅوک د خپل ځائے نه اونه خوزیدو۔ نبیؐ درے ځله حکم اوکړو لیکن په صحابو باندې په هغه وخت کښے داسے سخت غم او خفګان وو چه هغوی د خپل ځائے نه هم اونه خوزیدل۔ د نبیؐ د پیغمبرئ په تولو زمانه کښے دا دے یوه موقعه وه څکله نه د دا غلے چه نبیؐ دے صحابو ته حکم کړے وی او هغوی د پرعمل نه وی کړے۔ نبیؐ ته په دے باندې سخت تکلیف اورسید او خپلے خیمے ته لاړو او امّ المؤمنین حضرت امّ سلمه ته ئے د خپل خفګان اظهار اوکړو۔ هغے ورته اووے چه ته په خاموشئ سره لاړ شه او خپل اوښ پخپله ذبح کړه او نائی راأوغواړه او خپل سر اوخرو۔ بیا به خلق پخپله ستا پشان عمل کوی او پوهه به شی۔ چه کومه فیصله شوی ده هغه اوس بدلیدو کی نه ده۔ بس هم دغسے اوشوه، د نبیؐ کار ته چه خلقو اوکتل نو هغوی هم قربانیانے اوکړے، سرونه ئے اوخرول یائے ویښته واړه کړل او احرام ئے مات کړو۔ لیکن زړونه ئے د غم نه ډک وو۔

بیا چه کله دے قافلے په زړه کښے د حدیبیے صلح خپل شکست او ذلت کنړلو او مدینے ته واپس روانه ده، نو په هغه وخت کښے په صحابانو[1] نوے ځائے کښے (یاد خینو خلقو د وینا مطابق په کراع الغمیم کښے) داسورة نازل شو، چه پکښے مسلمانانو ته اوویېلے شوچه دا کومه صلحه تاسو د خپل ځان د پاره شکست ګڼرئ، دا په اصل کښے لویه فتحه ده۔ دے سورة د نازلیدو نه روسته نبیؐ مسلمانان راجمع کړل او ورته ئے اوفرمایل چه ما باندې هغه څیز نازل شوے دے چه هغه زما د پاره د دُنیا و مافیهانه زیات قیمتی دے۔ بیا دا سورت نبیؐ تلاوت کړو او خاص طور حضرت عمرؓ ته ئے اوغونښتو او هغه ته ئے واورو وئیلے چه هغه د تولو نه زیات خفه وُو۔

اګرچه مؤمنان خو د الله تعالیٰ دے سورة په اوریدو سره مطمئن شوی وُو، لیکن څه زیاته مُوده لا نه وه تیره شوی چه دے صلحے فایدے په بنکاره کیدو شروع شوے آن تردے پورے چه هیڅات په دے خبره کښے شک پاتے نه شوچه واقعی دا صلحه یو عظیم الشانه فتحه وه۔

(۱) په دے کښے په اول ځل په عربو کښے د اسلامی ریاست وجود باقاعده اوُمنلے شو۔ دے نه مخکښے د عربو په نظر کښے محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه د مکرو حیثیت د قریشو او د عربو د قبائیلو خلاف د یوے بغاوت کونکی د لے وُو او هغوی د رورد لوئی نه بهر (Out Law) ګڼلے شو۔ اوس پخپله

---

[1] د مکے نه تقریباً پنځیشت میله لرے یو ځائے دے۔

قریشو دَ هغوئ سره معاهدهٔ اوکړه او دَ اسلامی سلطنت چې په کومو علاقو تبضه وه پرهغے باندے دَ هغوئ اقتدار اُومنلو او دَ عربو دَ قبائلو دَ پاره دا دروازه هم پرانستے شوه چې په دے دوارو سیاسی طاقتو نو کښے هغوئ دَ چا سره دَ حلیف جوړید و وعده کوی نو کولے شی۔

(۲) قریشو چې دَ مسلمانانو دَ پاره دَ بیت الله شریف دَ زیارت کولو حق اُومنو دا لکه چې هغوئ پخپله دا خبره هم اُومنله چې اسلام څه بے دینی نه ده، لکه څنګه چې به هغوئ دَ اوسه پورے ویل، بلکه دَ عربو دَ منلو شوو دینونو نه یو دین دے او دَ نورو عربو پشان دَ دے دین پیروکاران هم دَ حج او دَ عمرے کولو حق لری۔ په دے سره دَ عربیانو دَ زړونو هغه نفرت کم شو کوم چې دَ قریشو دَ پروپیګنډے په وجه دَ اسلام خلاف را پیدا شوے وُو۔

(۳) دَ لسو کالو دَ جنګ بندئ په معاهدهٔ سره مسلمانانو ته اَمن حاصل شو او هغوئ دَ عربو په خوا او علاقه کښے خواره شوا و دومره په تیزئ سره نے اِسلام خورکړو چې دَ صُلح حُدیبیئے نه پخوا په نولسو کالو کښے دومره کسان مسلمانان شوی نه وُو لکه څومره چې دَ دے نه روسته په دوه کالو کښے دننه مسلمانان شو۔ دا دَ دے صُلحے برکت وُو چې یا خو هغه وخت وُو چې دَ حدیبیئے په موقعه باندے دَ نبی سره صرف څوارلس سوه کسان وُو یا دوه کاله روسته چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ قریشو دَ وعدے دَ ماتولو په وجه په مکه باندے حمله اوکړه نو لس زره کسان دَ هغه سره منګړی وُو۔

(۴) دَ قریشو دَ طرفنه چې کله جنګ بندی او شوه نو بیا نبی تہ دا موقعه ملاوُ شوه چې دَ خپلے قبضے په علاقه باندے اسلامی حکومت په ښه شان سره محکم کړی او اسلامی قانون جاری کړی او مسلمانانو له دَ ژوند تیرولو یوه مکمله نقشه ورکړی۔ دا هغه لوئ نعمت دے چې دَ دے په حقله الله تعالیٰ دَ سورة مائدے په آیت ۳ کښے فرمائی چې "اَلیوم ما ستاسو دین ستاسو دَ پاره مکمل کړے دے او خپل نعمت ما په تاسو تمام کړے دے او ستاسو دَ پاره مې اسلام ستاسو دَ دین په حیثیت سره قبول کړے دے" (دَ تشریح دَ پاره اوګورئه تفہیم القرآن اول جلد، دیباچه دَ سورة مائدے۔ او حاشیه ۱۵)۔

(۵) دَ قریشو سره دَ صُلحے کولو نه روسته چې دَ جنوب دَ غاړے نه اطمینان نصیب شو نو دَ دے دا فائده هم اُوشوه چې مسلمانانو دَ عربو دَ قطبی او وسطی علاقے تول مخالف طاقتونه په آسانئ سره تابع کړل۔ دَ صُلحے حدیبیئے صرف دریمیاشتے شوی وے چې دَ یهودیانو دَ تولونه لوئ مرکز یعنی خیبر فتح شو او دَ هغے نه روسته فدک، وادی القریٰ، تیما، او دَ تبوک یهودی کلی دَ اسلام ماتحت شول۔ بیا دَ عربو دَ وسطی علاقے هغه تولے قبیلے هم تابع شوے دَ کومو چې دَ یهودو او دَ قریشو سره دوستانه وه۔ په دا شان دَ حدیبیئے دَ صُلح سره په دوه کاله کښے دننه په عربو کښے حالت دومره بدل شو چې دَ قریشو او دَ مشرکانو طاقت کم شو او دَ اسلام غلبه یقینی شوه۔

دا وُ هغه برکتونه چې مسلمانانو ته دَ هغے صلحے په وجه حاصل شو چې هغه مسلمانانو خپله ناکامی او قریشو خپله کامیابی ګڼله۔ په دے صلحه کښے چې مسلمانان دَ تولونه زیات په کوم څیز خفه شوی وُو، او چې قریش پرے دَ تولونه زیات خوشحاله شوی وو هغه دا وُو چې دَ مکے نه څوک مدینے ته

اُو تبنتی هغه به واپس کیدے شی او چه د مدینے نه څوک مکے ته اُو تبنتی هغه به نشی واپس کیدے۔ لیکن لږه موده شوی وه چه دا شرطهم د قریشو خلاف شوا و په تجربے سره ثابته شوه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیرکتیا نظر ډیر لرے لګیدو څکه ئے دا شرط قبول کړے وُو۔ د ځلے نه یوڅو ورځے روستو د مکے نه یو مسلمان ابو بصیر د قریشو د قید نه اُو تښتیدو او مدینے ته اُو رسیدو۔ قریشو د هغه د واپس کولو مطالبه اوکړه او نبیؐ د معاهدے مطابق هغه، هغه خلقوته حواله کړو څکه چه د هغه د ښارو د پاره د مکے نه راایستے شوی وُو۔ لیکن مکے ته چه تلل نو په لاره کښے هغه بیا د هغوئ نه ځان آزاد کړو او د بحرِ احمر په غاړه په هغه لاره باندے کښاستو په کومه چه به د قریشو تجارتی قافلے تللے۔ بیا چه به کوم مسلمان د قریشو د قید نه تښتیدو نو هغه به مدینے ته نه تلو، بلکه ابو بصیر ته به ئے ځان رسولو، آئ تردے پورے چه او یا کسان هلته جمع شو او هغوئ به د قریشو په قافلو باندے حملے کولے او هغوئ ئے ډیر تنګ کړل۔ آخر دا چه قریشو پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته درخواست اوکړو چه دا خلق مدینے ته راا وغواړه، او د حدیبیے د معاهدے دا شرط پخپله ختم شو۔

چه دا تاریخی حالات په نظر کښے اُوساتلے شی او دا سورت اُولوستلے شی نو بیا پرے سړے ښه پوهیدے شی۔

سُورَةُ الْفَتْحِ مَدَنِيَّةٌ

اٰيَاتُهَا ۲۹ رُكُوعَاتُهَا ۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ۙ﴿۱﴾ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ
ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۙ﴿۲﴾

اے نبیؐ، موږه تا ته ښکاره فتح درکړه[1] دپاره دې چه الله ستا وړاندې روستو هره کوتاهي معاف کړي[2] او په تا باندې خپل نعمت تمام کړي[3] او تا ته سیده لاره اوښائي[4]

[1] د صلح حدیبیې نه روستو چه کله د فتحې دا خوشخبري واورولے شوه نو خلق حیران وو چه آخر دے صلحے ته فتحه څنګه ویلے کیدے شي. د ایمان په وجه د الله تعالیٰ د حکم منلو خبره خو بیله وه. لیکن د دے صلحے د فتحې اړخ د چا په عقل کښے نه راتلو. حضرت عمرؓ دا آیت واوریدو او وپوښتے او کړو، اے د الله رسوله آیا دا فتحه ده؟ نبيؐ اوفرمایيل هو (ابن جریر) یو بل صحابي راغے او هغه هم دا پوښتنه او کړه. نبي اونرمایيل ای والذی نفس محمد بیده انه لفتح. "قسم دے په هغه ذات چه د هغه په لاس کښے د محمدؐ روح دے، یقیناً دا فتحه ده" (مسند احمد. ابوداؤد) مدینے ته چه راأورسیدل نو یو بل صاحب خپلو ملګرو ته اوویيل "داڅنګه فتحه ده؟ موږه د بیت الله د تلو نه منع کړے شو، زمونږه د قربانئ اوښان هم ځکښے لاړ نه شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیبیه کښے مجبوراً پاتے شو او دا دے صلحے په وجه زمونږ دوه مظلومان رونړه (ابوجندل او ابوبصیر) ظالمانو ته حواله کړے شوه" دا خبره چه نبي صلی الله علیه وسلم ته اورسیده نو دے فرمایيل "دا ډیره غلطه خبره شوې ده په حقیقت کښے دا ډیره لویه فتحه ده. تاسو د دشمن کورته أورسیدئ او هغوئ درته سوال او کړو چه سکال واپس لاړشئ او راتلونکی کال له عمرے له راشئ. هغوئ ستاسو سره پخپله د جنګ بندولو او د صلحے کولو خواهش او کړو حالانکه د هغوئ په زړونو کښے چه ستاسو د پاره کوم بغض دے هغه تاسو ته معلوم دے. الله تعالیٰ تاسو ته هغوئ باندې غلبه درکړې ده. ولے ستاسو هغه وخت هیر شوے چه په أحد کښے مو منډے وهلے او مادرته د روستو نه آوازونه کول؟ ولے هغه وخت موهیر شوے چه په جنګ احزاب کښے د هرطرفنه دشمنانو حملے کړې وې او زړونه مخلے ته راختلی وو؟" (بیهقی په روایت د عمرو بن زبیر) لیکن څه زیاته مودې نه وه تیره شوې چه دا خبره بالکل ځرګنده شوه چه دا صلحه فتحه ده او هرڅاص و عام ته پته او ګڼیدله چه واقعی د اسلام د فتحې شروع هم د صلحے حدیبیې نه شوې وه. د حضرت عبدالله بن مسعود، د حضرت جابر بن عبدالله، او د حضرت براء بن عازب، درویاړونه تقریباً په یو معنیٰ سره دا قول نقل کړے شوے دے چه "خلق د مکے فتحے ته فتحه وائی، حالانکه موږه اصلی فتحه

حدیبیئے تر وایُو" (بخاری، مُسلم، مُسند احمد، ابن جریر)۔

۲ ؎ پہ کومہ موقعہ چہ دا خبرہ ویلے شوی دہ هغہ موقعہ چہ سرے پہ نظر کښے اُوساتی نو صفا معلومیږی چہ دلتہ دَ کومو کوتاهیانو دَ معاف کولو ذکر دے دَ هغے نہ مراد هغہ کهدے کوم چہ دَ اسلام دَ کامیابئ او ترقئ پارہ پہ هغہ کوششونو کښے پاتے شوے وُو کوم چہ دَ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم پہ مخ ئے کښے دَ تیرو تولسو کالو راسے مسلمانانو کولو۔ دا کهے دَ انسان پہ علم کښے نہ راځی، بلکہ دَ انسان عقل خو دَ دومره قطعی طور عاجزہ دے چہ پہ هغہ کوششونو کښے څہ کهے بیا موږ۔ لیکن دَ اللہ تعالیٰ پہ نظر کښے چہ دَ کمال کوم لوړ معیار دے دَ هغے پہ لحاظ سره پہ هغے کښے څہ دا سے کهے وُو چہ دَ هغے پہ وجہ مسلمانانو تہ دَ عربو پہ مشرکانو باندے آخری فتحہ دومره زرنہ شوہ حاصلیدے۔ دَ اللہ تعالیٰ دَ فرمان مطلب دا دے چہ کہ چرے تاسو دِ دے خامیانو سره کوشش کولے نو دَ عربو پہ تابع کولو کښے لاړ یره مودہ پکار وہ، لیکن موږ دہ هغہ تولے کمزورياني او کوتاهیانے معاف کړے او خالص پہ خپل فضل سره موږ پہ حدیبیہ کښے ستاسو دَ پارہ دَ هغے فتحے او کامیابئ دروازہ پرانستہ چہ هغہ دَ معمول مطابق ستاسو پہ خپلو کوشش نو سره نہ شوہ نصیب کیدے۔

دلتہ پہ دے خبره هم بنه حُان پوهہ کول پکار دی چہ دَ څہ خاص مقصد دَ پارہ یوه دلہ کوم کوشش کوی او پہ هغہ کوشش کښے څہ خامیانے او کمزورياني موجود وی نو دَ هغے دَ پارہ دَ هغے دِلے مشرتہ مخامخ خبره کیږی۔ دَ دے مطلب دا نہ وی چہ هغہ کوتاهیانے دَ هغہ دِلے دَ مشر ذاتی کوتاهیانے وی۔ پہ اصل کښے هغہ دَ هغہ کوشش کمزورياني وی چہ یوه دلہ ئے پہ مجموعی حیثیت سره کوی۔ لیکن خبره دَ دِلے مشرتہ کیږی چہ ستاسو پہ کار کښے دا کمزورياني دی۔

بیا هم چونکہ خبره نبئ پہ نیغہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم تہ دہ، او دا فرمایلے شوی دی چہ اللہ تعالیٰ ستاسو وړاندے روستو کوتاهی معاف کړہ، نو پہ دِ وجہ دَ دے عاموالفاظونہ دا مطلب هم نا اُوده چہ اللہ تعالیٰ دَ خپل پاک رسول تولے کوتاهیانے (چہ دَ هغہ دَ لوړ مقام پہ لحاظ سره کوتاهیانے وی) اُو بخښلے۔ دا وجہ وه چہ کلہ پہ صحابو نبئ کریم اولیدو چہ پہ عبادت کښے دِ یرے سختے برداشت کوی نو عرض ئے کولو چہ ستاسو وړاندے روستو تولے کوتاهیانے معاف شوی دی، نو بیا ولے پہ خپل حُان دومره سختی تیروُے؟ او نبئ پہ ورتہ پہ جواب کښے فرمائیل: افلا اکون عبدًا شکورًا۔ "آیا زہ دِ یو شکر کذار بنده جوړ نہ شم؟" (احمد، بخاری، مُسلم، ابو داؤد)۔

۳ ؎ دَ نعمت دَ پوره کیدو نه مراد دا دے چہ مسلمان دَ هر مخالفت او دَ بهرنی هر مداخلت نه محفوظ شی او دَ اسلامی نقشے مطابق دَ اسلامی حکمرانئ دَ ژوندتیر ولو دَ پارہ پوره آزادی او دا طاقت ورته هم نصیب شی چہ هغہ پہ دُنیا کښے دَ اللہ کلمہ اُوچته کړے شی۔ دَ کفر او دَ نافرمانئ هغہ غلبہ چہ دَ پرورد کار دَ بندګئ پہ لارکښے خنډ وی او دَ اللہ دَ کلمے دَ اُوچتولو پہ کوشش کښے رکاوټ وی، دَ مومنانو دَ پارہ دَ تولو نه غټ مصیبت دے چہ قرآن ورته "فتنہ" وائی۔ دَ دے فتنے نه چہ مومنان خلاص شی او بودا سے دارالاسلام ورته ملا وُ شی چہ پہ هغے کښے دَ اللہ پوره دین پوره پہ پوره جاری وی، او ورسره هغوی تہ دا سے ذریعے هم پہ لاس ورشی چہ دَ هغے پہ وجہ هغوی دَ خدائے پہ زمکہ دَ

وَّيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ۝٣ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ
فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ۗ
وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝٤

او تاله زبردست امداد درکړي.[۴] هم هغه دی چې د مومنانو په زړونو کښې سکینت نازل کړو[۵] دپاره دې چې هغوی د خپل ایمان سره یو ایمان بل زیات کړي.[۶] د زمکې او د آسمانونو ټولې لښکرې د الله په قدرت کښې دي او هغه په هرڅه پوهږي او د حکمت خاوند دی.[۷] (هغه دا کار دې دپاره وکړي چې)

کفر او د نافرمانۍ په ځلې د ایمان او د تقوی حکومت جاري کړي شي، نو دا په هغوی باندې د الله نعمت پوره کیدل دي. دا نعمت چونکه مسلمانانو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ذریعه حاصل شوے وو، نو په دې وجه الله تعالیٰ بیا ته فرمائي چې موږ په تاباندې خپل نعمت پوره کول غواړتل نو ځکه موږ فتحه تاله درکړه.

۴ یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ښکاره لاړ ښودلو مطلب د فتحې او د کامیابۍ لاره ښودل دي یعنې دې نه مراد دا دے چې الله تعالیٰ د حدیبیې په مقام کښې د صلحې دا معاهدې د مسلمانانو او د کافرانو په منځ کښې اوکړه نو د بنې د پاره یې یوه داسې لار هواره کړه او یوه داسې تدبیر یې ورته اوښودو چې په هغې سره هغه د اسلام مخالف ټول طاقتونه لاندې کړي.

۵ دویم ترجمه داهم کیدے شي چې "تاله بې مثاله امداد درکړي" په اصل کښې لفظ نَصْرًا عَزِيْزًا استعمال شوے دے. د عزیز معنیٰ زبردست هم ده او بې مثاله هم ده. د اولې معنیٰ په لحاظ سره د دې فقرے مطلب دا دے چې د دې صلحې په ذریعه الله تعالیٰ ستا دے سره مدد کړے دے چې د هغې سره به ستا دشمن عاجزه شي. او د دویم معنے په لحاظ سره د دې مطلب دا دے چې د امداد کولو دا سے عجیبه طریقه د چې کومه کوزه اختیار کړے شوې ده چې په ظاهره کوم څیز خلقونه هسې د دل د رضا یوه صلحنامه بنکاري خو په حقیقت کښې هغه یوه فیصله کن فتحه جوړیدونکې وي.

۶ "سَکِیْنَت" په عربي ژبه کښې آرام او اطمینان او د زړه مضبوطیا ته وائي، او دلته الله تعالیٰ د مومنانو په زړه کښې سَکِیْنَت نازلولو ته د هغې فتحې یو اهم سبب وائي کومه چې د حدیبیې په مقام کښې اسلام او مسلمانانو ته نصیب شوه. د هغه وخت په حالاتو باندې چې سرسري نظر شان غور اوکړي نو دا خبره ورته بیخه معلومه شي چې هغه کوم قسم سکینت وو چې په هغه ټوله زمانه کښې د مسلمانانو په زړونو کښې نازل کړے شو او هغه څنګه د دې فتحې سبب جوړ شو. په کوم وخت کښې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د عمرے د پاره مکې معظمې ته د تللو اراده ظاهره کړه، که چېرې په هغه وخت کښې په مسلمانانو یره راغلې وے او د منافقانو پشان ئې دا سوچ شروع کړے وے چې دا خو بنکاره د مرګ خُلے له ورتلل دي، یا په لاره چې کله دا خبر ملاؤ شو چې د کافرانو جنګ ته تیار شوي دي، که په هغه

لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا

چه مومنان سړي اوښځې دهمیشه اوسید ودپاره دا سے جنتونو ته داخل کړي چه لاندې به ترې

وختاکنے د مسلمانانو سره دا ډیره منکري شوی وے چه موږ به د جنګی سامان نه بغیر د دشمن متابله ځکه اوکړو، اوپه دے وجه په هغوی کنے اړے کړے شروع شوے وے، نو بنکاره خبره ده چه هغه فایدے به هیڅکله نه وے حاصلے شوے کومے چه په حدیبیه کنے حاصلے شوے. بیاچه په حدیبیه کنے کله کافرانو مسلمانان د ورانډ تللو نه منع کړل، کله چه کافرانو د شپے شپے حملے شروع کړے او د مسلمانانو د غصه کولو کوشش ے شروع کړو او کله چه د حضرت عثمان رضی الله عنه د شهادت خبر ملاؤ شو، او کله چه ابو جندل د یو مظلوم په حیثیت مسلمانانو له راغے، په دے کنے هره یوه موقعه دا سے وه چه کومے مسلمانان په غصه کنے راغلے وے او هغه نظم او قاعدے ته ماته کړے وے کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم قایم کړے وو نو ټول کار به خراب شوے وے. او د ټولو نه زیات خو اپه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه شرطونو باندې صلحے کولو ته تیار شو په کومو شرطونو چه ټول مسلمانان سخت خفه وو، که چرے په هغه وخت کنے هغوی د نبی نافرمانی کړے وے نو د حدیبیے لویه فتحه به په لوی شکست کنے بدله شوی وے. اوس دا خاص د الله فضل وو چه په دے نازکو وختونو کنے مسلمانانو ته د رسول پاک په رهنمایۍ باندې، د حق دین په صداقت باندې او د خپل کار په حقانیت باندې پوره اطمینان نصیب شو. خاص په دے وجه هغوی د زړه په تسلۍ سره دا فیصله اوکړه چه د الله په لار کنے هر څه را پیښ شی هغه ټول موږ خوښ دی. خاص په دے وجه هغوی ډیر ځیرک نه شو، د غصے او د ناامیدۍ نه محفوظ پاتے شو. د دے په برکت د هغوی په کیمپ کنے پوره نظم او ضبط برقرار پاتے شو. او خاص هم په دے وجه هغوی د سخت خفګان باوجود د صلحے شرطونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فیصلے مطابق اومنل. دا هغه سکینت وو چه الله تعالیٰ د مومنانو په زړونو باندې نازل کړے وو، او خاص د دے دا برکت وو چه دا سخت خطرناک کار یعنی د عمرے د پاره وتل د بهترینے کامیابۍ سبب جوړ شو

یعنی یو ایمان خو هغه وو چه د دے صلحے د معاملے نه مخکنے هغوی ته حاصل وو، او په هغے باندې زیات ایمان هغوی ته په دے وجه حاصل شو چه د دے صلحے په معامله کنے څومره سخت سخت آزمینتونه مخے ته راتلل په هغے ټولو کنے هغوی د اخلاص، د تقوی او د اطاعت په لار ثابت پاتے شو. دا آیت هم د هغے آیتونو نه دے چه د هغے نه دا معلومیږی چه ایمان یو مستقل حالت نه دے، بلکه په دے کنے زیاتے هم راځی او کمے هم. د اسلام قبلولو نه روسته د مرګ د وخته پورے مومن ته په ژوند کنے دا سے آزمینتونه مخے ته راځی چه په هغے کنے به هغه خامخا دا فیصله کوی چه آیا هغه د الله د دین د پاره خپل سر او مال، خپلو جذباتو او خواهشاتو، او خپلو وختونو او فایدو قربانولو ته تیار دے او که نه. که په دا سے هر آزمینت کنے هغه د قربانۍ لار اختیار کړه نو د هغه ایمان زیاتیږی او ترقی کوی، او که مخ ے وار وو نو د هغه ایمان کمیږی، آن تردے پورے چه یو وخت دا سے هم راځی چه د

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ
اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيْمًا ۝ وَّيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ
وَالْمُشْرِكٰتِ الظَّاۗنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ۭ عَلَيْهِمْ دَاۗىِٕرَةُ السَّوْءِ ۚ
وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ۭ وَسَاۗءَتْ مَصِيْرًا ۝

نهرونه بهیږی او چه د هغوی کناهونه هغوی ته معاف کړی ۸ ــــ د الله په نزد دا لویه کامیابی ده
ــــ او چه هغه منافقانو سړو او ښځو له او هغه مشرکانو سړو او ښځو له سزا ورکړي چه
هغوی د الله په حقله بدګمانی ۱۱ ساتی ۔ د بدۍ په چکر کښې هغوی پخپله راغلل ۱۲ په هغوی د الله غضب راغی
او هغه په هغوی لعنت اوکړ او د هغوی د پاره ئې جهنم تیار کړو چه ډیر خراب ځای د اوسیدو دی ۔

دسری هغه ایمان هم په خطره کښې پریوزی د کوم په وجه چه هغه په اسلام کښې داخل شوے وو ۔ (د زیاتے تشریح د پاره اوګورۀ تفهیم القرآن دویم جلد، د سورۀ انفال تفسیر حاشیه ۲ ۔ څلورم جلد، الاحزاب حاشیه ۳۸) ۔

۸ مطلب دا دے چه د الله سره خو دا سے لښکرے دی چه هغه کله اوغواړی نو په هغے کافران تس نس کولے شی لیکن هغه د حکمت په وجه داڈمه واړی په مومنانو اچولی ده چه هغوی د کافرانو په مقابله کښې کوشش اوکړی او د الله دین اوچت کړی ۔ په دے سره د هغوی درجے اوچتیږی او د آخرت کامیابی ورته نصیب کیږی لکه څنګه چه په وړاندې آیت کښې راځی ۔

۹ په قرآن مجید کښې عام طور د مومنانو د اجر ذکر په مجموعی طور کیږی، نارینو او زنانو ته د اجر ملاویدو ذکر جدا جدا نه کیږی، لیکن دلته که جدا ذکر نه وے شوے نو دا ګمان راپیدا کیدے شوے شاید دا اجر یوازے د نارینو د پاره وی، نو ځکه الله تعالیٰ د مومنو زنانو په حقله جدا ذکر اوکړو چه هغوی هم د مومنانو نارینو سره شریک دی ۔ دے ته وجه صفا ظاهره ده ۔ چه کومو خدا پرستو زنانو خپل خاوندان، ځامن، رونړه اوپلاران دے خطرناک سفرونه منع نه کړل اوژړا الکولا ئے اونه کړه او د هغوی حوصلے ئے خراب نه کړے بلکه د هغوی د حوصلو اوچتولو د پاره ئے هغوی له داد ورکړو، هغوی ئے دخپل کور، د خپل مال، د خپل عزت او د خپلو پسو د طرفنه بے فکره کړل، هغوی په دے خبره هم هیڅ واویلا اونه کړه چه څوارلس سوه صحابه نا ساپه روانی شی او ټول کلے خالی کړی نو هغے نه چه د خواؤ کافران او منافقان په مونږه حمله اوکړی، نو دا قسم خدا پرستے زنانه کړه خپلو کورونو کښې ناستے هم وی خوپکار دی چه د جهاد په اجر کښې د خپلو نارینو سره یو شان شریکے وی ۔

۱۰ یعنی د انسانی کمزورۍ په وجه چه څه کناهونه د هغوی نه شوی وی هغه ورته معاف

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝۷
اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝۸ لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ
رَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ؕ وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝۹

د زمکے اود آسمانونو لښکرے خاص د اللہ په قدرت کښے دی اوهغه زبردست[13] دے اود حکمت نو خاوند دے
اے نبیؐ، موږ ته د شهادت ورکونکی،[14] د زیری ورکونکی، اود خبردارونکی[15] په حیثیت لیږلے ئے
د پاره دے چه اے خلقو، تاسو په الله اود هغه په رسول ایمان راوړئ اود هغه ملګرتیا اوکړئ
د هغه تعظیم اوعزت اوکړئ اوسهار مابنام د هغه تسبیح بیان کړئ[16]

کړی[11] جنّت ته د بوتلونه مخکښے هغوی د کناهونو د هرا څنه پاک کړی، اود جنت ته په داسے شان سړورښی
چه هیڅ یو داغ د هغوی په لمنه دا سے نه وی چه د هغے په وجه هغوی هلته شرمنده وی۔

[11] د مدینے د خوا څخه منافقانو خو په دے موقع دا ګمان وکړو، لکه څنګه چه ئے په آیت ۱۲ کښے
ورانده ذکر شوے دے، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اود هغه ملګری به د دے سفر نه واپس ژوندی
رانشی۔ پاتے شوه ګے مشرکان اوکافران، نو د هغوی دا خیال وو چه هغوی کښی د عمرے نه په منع کولو
سره رسول الله صلی الله علیه وسلم اود هغه ملګرو له کامیاب شکست ورکړو۔ دے دواړو دلو چه
دا هرڅه سوچ کړے وو په دے کښے په حقیقت کښے د الله تعالیٰ په حقله د هغوی دا بدګمانی وو چه
هغه به د خپل نبی امداد نه کوی اود حق اود باطل په دے جنګ کښے به باطل له په حق باندے د غلبے ورکړو
آزادی ورکوی۔

[12] یعنی د کوم بد انجام نه چه هغوی بچکیدل غوښتل اوچه د هغے نه د بچکید د پاره هغوی
دا تدبیرونه کړی وو، هم په هغے کښے پخپله راګیر شو، اوهم د هغوی هغه خپل تدبیرونه د هغه انجام د رانږدے کولو
سبب جوړ شو۔

[13] دلته دا خبره د یوبل مقصد د پاره بیان کړے شوی ده۔ په آیت نمبر ۴ کښے هغه خبره د دے
غرض د پاره بیان کړے شوی وه چه الله تعالیٰ د کافرانو مقابله د خپل فوق الفطری لښکرو په ذریعه
اُونه کړه بلکه د مومنانو په ذریعه ئے په دے وجه اوکړه چه هغه هغوی له درجے اُوچتول غوښتل
اوه لته دا خبره دوباره د دے غرض د پاره بیان کړے شوی ده چه الله تعالیٰ چاله سزا ورکول اوغواړی
نو هغه له د سزا ورکولو د پاره د خپلو بے شماره لښکرونه چه کوم لښکر اوغواړی هغه استعمالولے شی،
په هیڅ کښے دا طاقت نشته چه په خپلو تدبیرونو سره د هغه سزا منع کړی۔

[14] شاه ولی الله صاحب د شاهد ترجمه "اظهارِ حق کنندهٔ" کړی ده او نور ترجمه کونکی د دے
ترجمه "ګواهی ورکونکے" کوی۔ د شهادت په لفظ کښے دا دواړه مطلبونه شامل دی۔ د تشریح د پاره

إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ ۚ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ
أَيْدِيهِمْ ۚ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِ ۖ وَمَنْ
أَوْفَىٰ بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٠﴾

اے نبیؐ، کومو خلقو چہ ستا سرہ لوز (یعنی بیعت) کولو هغوی په اصل کښے د الله سره لوز کولو د هغوی په لاس باندے د الله لاس[۱۸] وو۔ اوس چہ څوک دالوز مات کړی نو د هغه د بے لوزی سزا به د هغه په خپل ذات باندے وی، او چا چه هغه لوز پوره کړو کوم چه هغه د الله سره کړے[۱۹] دے، نو دے زر به الله هغه له لوئی اجر ورکړی ع

اوکوره تفهیم القرآن څلورم جلد، د سورة احزاب تفسیر، حاشیه نمبر ۸۲۔

۱۵ د تشریح د پاره اوکوره تفهیم القرآن څلورم جلد، د سورة احزاب تفسیر، حاشیه ۸۳۔

۱۶ څینو مفسرینو د تُعَزِّرُوهُ او د تُوَقِّرُوهُ ضمیرونه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کړځولی دی، او د تُسَبِّحُوهُ ضمیر ے الله تعالیٰ ته کړځولے دے۔ یعنی د هغوی په نزد آیت مطلب دا دے چه "تاسو د رسول ملګرتیا اوکړئ او د هغه تعظیم او عزت اوکړئ او سحر ما بنام د الله تسبیح وایئ"۔ لیکن په یوه خبره کښے دوه جُدا جُدا ضمیرونه وئیل، چه څه نزدے مناسبت ے نه وی، صحیح نه معلومیږی۔ په دے وجه د مفسرینو یوے بلے ډلے ټول ضمیرونه الله تعالیٰ ته راکړځولی دی او د هغوی په نزد آیت مطلب دا دے چه "تاسو د الله ملګرتیا اوکړئ او د هغه تعظیم او عزت اوکړئ او سحر ما بنام د هغه تسبیح بیان کړئ"۔

د سحر ما بنام تسبیح بیانولو نه مُراد یوا زے سحر ما بنام نه دے بلکه هر وخت تسبیح بیانول دی۔ دا دا سے ده لکه چه مونږه وایو چه فلانئ خبره په مشرق او مغرب کښے خوره شوی ده، نو د دے دا مطلب نه وی چه یوا زے د مشرق او د مغرب خلقو ته دا خبره معلومه ده، بلکه د دے مطلب دا وی چه په ټوله دنیا کښے دا مشهوره شوی ده۔

۱۷ اشاره ده هغه بیعت (یعنی لوز) ته کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو نه په هغه وخت کښے اخستے وو کله چه هغوی په مکه کښے د حضرت عثمانؓ د شهادت خبر واوریدو۔ د حُسینو روایتونو ترمخه دالوز په مرګ باندے وُو او د حُسینو روایتونو مطابق لوز په دے خبره باندے وُو چه موږ به د میدان جنګ نه نه تښتو۔ اولنئ خبره د حضرت سَلَمه بن اَکوَع نه روایت کړے شوی ده، او دویمه خبره د ابن عُمر، جابر بن عبد الله او معقل بن یسار نه روایت کړے شوی ده۔ انجام د دواړو روایتونو اکثریت دے۔ صحابه کرامو د رسول پاکؐ په لاس باندے لوز د دے خبرے کړے وُو چه کله چرے د حضرت عثمانؓ د شهادت معامله صحیح ثابته شوه نو ټول به هم دلته په دے وخت کښے د قریشو سره جنګیږو اګرکه موږ

سَيَقُوْلُ لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ اَمْوَالُنَا وَ
اَهْلُوْنَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ مَّا لَيْسَ فِيْ
قُلُوْبِهِمْ ۭ قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـــًٔا اِنْ اَرَادَ بِكُمْ
ضَرًّا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ۭ بَلْ كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ⑪

اے نبیؐ، پہ باندینو عربیانو ته وایه چه کوم خلق روستو پاتے کړه شوی وو اوس به هغوی خامخا تاله راځی اووایی به چه موږ ډیره خپلو مالونو او بال بچو مشغوله ساتلی وو، ته زمونږ د پاره د بښنې دُعا اوغواړه؛ دا خلق په خپلو ژبو هغه خبرې کوی چه د هغوی په زړونو کښے نه وی۔ ووایه چه اُوس دا څوک ستاسو په معامله کښے د الله د فیصلے د بدلولو څه اختیار هم لری که الله تاسو ته څه نقصان یا نفع درسول اوغواړی؟ ستاسو د عملونو خو خاص الله خبر دار دے۔ (لیکن اصل خبره هغه نه ده کومه چه تاسو وایئ)۔

قول مړ شو په دے موقع چونکه دا خبره هم یقینی نه وه چه حضرت عثمانؓ واقعی شهید شوے دے او که ژوندے دے، نوځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله خپل یو لاس په بل لاس باندے کیښود او د هغه د طرفنه ئے لوز اوکړو او په دے طریقه هغه ته دا لوی عزت حاصل شو چه نبیؐ خپل لاس مبارک د هغه د لاس په ځائے مقرر کړو او هغه ئے په دے لوز کښے شریک کړو۔ نبیؐ چه د هغه د طرفنه پخپله لوز اوکړو نو دے دا مطلب دے چه د نبیؐ په هغه باندے دا پوره اعتماد وو چه که چرے هغه موجود وے نو یقیناً چه لوز به ئے کولے۔

۱۸ یعنی چه په کوم لاس باندے خلقو په هغه وخت کښے لوز کولو د رسول د ذات لاس نه وو بلکه د الله د نمایندے لاس وو او دا لوز د رسول په واسطه سره په حقیقت کښے د الله سره کیدو۔

۱۹ دلته یوه باریکه نکته په نظر کښے ساتل پکار دی۔ د عربی د علمے قاعدے مطابق دلته عَهْدَ عَلَيْهِ اللّٰه وئیل پکار وو، لیکن دلته دے د علمے قاعدے نه بدل عَلَيْهُ اللّٰهَ وئیلے کیږی۔ علامه آلوسی دے دوه وجے بیان کړی دی۔ یوه دا چه په دے خاص موقع باندے هغه لوی او بزرګ ذات شان سنګاره کول مقصد دی د چا سره چه دا لوز کیږی نو په دے وجه دلته د عَلَيْهِ په ځائے عَلَيْهُ زیات مناسب دے۔ دوهم دا چه په عَلَيْهِ کښے "ه" په اصل کښے د "هُوَ" په ځائے ده او اصلی اعراب دے دے پیښ وو نه چه زیر۔ نو په دے وجه دے دے اصلی اعراب برقرار ساتل د وعدے او د لوز د خبرې سره زیات مناسبت لری۔

۲۰ دا د مدینے د خواو شا د هغه خلقو ذکر دے چه هغوی ته رسول الله صلی الله علیه وسلم عمرے ته د یوځائے د تلو دعوت ورکړے وو، لیکن هغوی د ایمان د دعوے با وجود صرف په دے وجه د خپلو کورونو نه وو وتلی چه هغوی ته خپل ځان خوږ وو۔ د دوی یتو نه معلومیږی چه دا د اسلم،

بَلْ ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ اِلٰٓى اَهْلِيْهِمْ اَبَدًا وَّزُيِّنَ ذٰلِكَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَظَنَنْتُمْ ظَنَّ السَّوْءِ ۚ وَكُنْتُمْ قَوْمًۢا بُوْرًا ﴿۱۲﴾ وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَاِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَعِيْرًا ﴿۱۳﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ يَغْفِرُ

بلکہ تاسو دا خیال اوکړو چې رسول او مومنان به خپل کورونو ته هرګز واپس راتلی او دا خیال ستاسو زړونو ته ډیر ښه ۲۱ ښکلی ۲۲ او تاسو ډیر خراب کمانونه اوکړل او تاسو په زړه کښے سخت خراب ۲۳ خلق یئ۔"

کوم خلق چې په الله او ده غه پیغمبر باندې ایمان نه لري نو ده غسے کافرانو ډاره موږ د غرغنده دوزخ تیار ساتلے دے ﴿۱۵﴾ آسمانونو او ځمکے باد شاهی خاص الله لره ده ۔ ده غه خپله خوښه ده

مُزَیِّنہ: جُھَیْنہ، غِفار، اَشْجَع، دیل وغیرہ قبائیلو خلق وُو۔

۲۱ ځ دے دوه مطلبونه دی۔ یو دا چې تاسو کله مدینے ته اُوړسئ نو دا خلق چې به اُوس دَ خپلونه تلو کوم عُذر پیش کوی هغه به هسے دَ درغو بهانه وی، کنئ نو هغوئ ته به خپلو زړونو کښے معلومه ده چې هغوئ ولے روستو پاتے شوی وُو۔ دویم دا چې دَ الله دَ رسول نه بخښنه غوښتل به دَهغوئ هسے دَ ځُلے تشه وینا وی ۔ په اصل کښے هغوئ نه په خپل کار شرمنده دی، نه ورسره دا فکر شته چې کښی دَ رسول په مخکرتیا نه کولو سره هغوئ څه ګناه کړی ده، او نه ئے په زړونو کښے دَ بخښنے څه خیال شته، دَ هغوئ خو دا خیال دے چې دے خطرناک سفر ته به نه تلو سره هغوئ لوبه هوښیارتیا کړی ده۔ که چرے دَ هغوئ سره واقعی دَ الله او دَ رسول دَ بخښنے څه فکر وے نو به کوښښ به ئے کولے ۔

۲۲ ځ یعنی دَ الله تعالیٰ خپله دَ هغه علم په بنیاد باندې وی کوم چې هغه ستاسو ټولو دَ حقیقت په حقله لری ۔ که ستاسو عمل دَ سزا مستحق وی او زهٔ ستاسو دا ډاډ دَ بخښنے دُعا او غوارم نو زما دا دُعا به تاسو دَ الله دَ سزا نه نه بچ کړی ۔ او که ستاسو عمل دَ سزا مستحق نه وی او زهٔ ستاسو په حق کښے دَ بخښنے دُعا او نه غوارم نو زما دُعا نه غوښتل به تاسو ته څه نقصان نه درسوی ۔ اختیار زما نه دے بلکه دَ الله دے او دَ چا دَ ځُلے خبرې هغه له دوکه نشی ورکولے ۔ نو که زهٔ ستاسو ظاهری خبرې ریښتیا هم اُوکنړم او دَ هغے په وجه ستاسو په حق کښے دَ بخښنے دُعا اُو غوارم نو دَ دے هیڅ فایده نشته۔

۲۳ ځ یعنی تاسو په دے خبره ډیر خوشحاله شوئ چې تاسو دَ هغه خطرے نه خپل ځان بچ کړو کوے خطرے لکه چې رسول او دَ هغه مرستیال مومنان ورسیږی۔ ستاسو په نظر کښے دا ډیره هوښیارتیا کار وُو۔ او تاسو له دَ دے خبرې په خوشحالیدو شرم هم نه دَ تلو چې رسول او مومنان یو دا سے کار له روان دی چې دَ هغے نه به هغوئ بچ نشی ۔ دَ ایمان دَ دعوے کولو با وجود هم تاسو له په دے خطرناک سفر نه بکه

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۴﴾
سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا
ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ۭ قُلْ

چه څوك معاف کوی او چاله سزا ورکوی، او هغه بخښونکے مهربانه دے ﴿۱۴﴾ څه وخت چه تاسو غنیمت د مال حاصلولو پاره روان شئ نو دا روستو پاتے کیدونکی خلق به تاته ضرور وائی چه موږ هم پریږده چه درسره لاړشو۔[۲۳] دوی غواړی چه د الله فرمان بدل کړی۔[۲۴] دوی ته

خپل دا کار دته دیر بنه معلومرشو چه تاسو خپل شان د رسول سره په دے خطره کښے شامل نه کړو۔

۲۳ اصل الفاظ دی کُنْتُمْ قَوْمًا بُوْرًا۔ بُور جمع ده د بائر۔ او د بائر دوه معنے دی۔ یو معنی د هغه فاسد او خراب سړے چه د هیڅ بنه کار لائق نه وی، چه په نیت کښے ئے فساد وی۔ دویمه معنی ده هلاکیدونکے، خراب انجام والا د تباهئ په لار باندے تلونکے۔

۲۴ دلته الله تعالیٰ په صفا ټکو سره وائی چه څوک د الله او د هغه د دین په معامله کښے مخلص نه وی او چه څوک د آزمینت په وخت کښے د دین د پاره خپل سر او مال او د خپلو فایکه وقربا نولونه ورکوی نو هغوئ کافران دی او د ایمان نه خالی دی۔ لیکن خیال کوئ چه دا هغه کفر نه دے د کوم په وجه چه په دنیا کښے یو سړے یا یوه ډله د اسلام نه بهر کنړلے کیږی، بلکه دا هغه کفر دے چه د دے په وجه به هغه ته په آخرت کښے مومن نشی ویلے کیدے۔ د دے دلیل دا دے چه د دے آیت د نازلیدو نه روستو هم رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه خلق، د کومو په باره کښے چه دا آیت نازل شوے ږو، د اسلام نه بهر اونه کنړل، او نه ئے د هغوئ سره هغه معامله اوکړه کومه چه د کافرانو سره کیږی۔

۲۵ بره دیره سخته خبره شوی ده او د هغے نه روستو دا ذکر دے چه الله بخښونکے مهربانه دے نو په دے کښے د نصیحت یوه باریکه شان نکته ده۔ د دے مطلب دا دے چه که چرے اوس هم تاسو د منافقت لار پریښوده او د اخلاص لار موخپله کړه نو الله بخښونکے مهربانه دے۔ هغه به ستاسو ټولے ګناهونه معاف کړی او آئنده به ستاسو سره هغه معامله کوی چه د کوے تاسو د خپل خلوص په وجه مستحق یئ۔

۲۶ یعنی دیر زر هغه وخت راتلونکے دے چه دا کوم خلق ټول د خطرے د وجے نه ستاسره د ملګرتیا کولو نه ډډه کوی، د دوئ چه کله تاسو وینی چه تاسو یوداسے کار له روان ئے چه په هغے کښے فتحه آسانه ده او مال غنیمت پکښے دیر دے، نو په هغه وخت کښے به دوئ پخپله راځندی وهی او وائی به چه موږه هم د ځان سره بوځه۔ دا وخت د ځان بیلئے د صلحے نه درے میاشتے روستو راغے څه وخت چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خیبر حمله اوکړه او دیر په آسانئ سره ئے هغه فتحه کړو۔ په هغه وخت کښے هر سړی ته دا خبره صفا په نظر راتلله چه د قریشو سره د صلحے کولو نه روستو اوس یوازے خیبر

لَنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ ۚ فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ
تَحْسُدُوْنَنَا ۭ بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝١٥ قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ
مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ
تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ فَاِنْ تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا ۚ

صفا اُوویله چه "تاسو زمونږ سره هرګز تلے نه شئ، الله مخکښے دا فرمایلی دی"؛ دوئ به وائی چه "نه، بلکه تاسو زمونږ سره حسد کوئ." (حالانکه خبره د حسد نه ده) بلکه د اخلق په صحیح خبره د پیر کم پوهیږی. دے روستو پاتے کیدونکو عربیانو ته اُوویله چه "په زر زره تاسو د اسے خلقو سره د جنګ کولو د پاره رااُوبللے شئ چه هغوئ پیر زور وردی. تاسو به د هغوئ سره جنګ کوئ یا به هغوئ سلامی شی. په هغه وخت کله چه تاسو جهاد حکم اُومنلو نو الله به تاسو ته اجر درکړی.

نه، بلکه د یتیما، د فدک، د وادئ القریٰ، اوه قطعی حجاز نور یهودیان د مسلمانانو د طاقت مقابله نشی کولے او دا ټول کلی به د پخے میوے پشان د اسلامی حکومت په غیږ کښے را پریوزی. په دے وجه الله تعالیٰ په دے آیتونو کښے رسول الله صلی الله علیه وسلم مخکښے خبر دار کړو چه د مدینے د خواؤشا د اسے مطلب پرست خلق کله دا آسانے فتحے اُوینی نو په دے کښے به د حصے اغستلو د پاره را پاسی، لیکن ته هغوئ له صفا جواب ورکړه چه په دے کښے به تاسو له د حصے اغستلو موقع هرګز نه درکړے کیږی، بلکه دا د هغه خلقو حق دے چه د خطر په مقابله کښے سر قربانولو ته وړاندے شوی وُو.

۲۸ د الله د فرمان نه مُراد دا فرمان دے چه د نبی سره به خیبر ته د تلو اجازت صرف هغه خلقو ته وی کوم چه حدیبیے ته د هغه سره تلی وُو او په بیعتِ رضوان کښے شریک شوی وُو. الله تعالیٰ د خیبر مالِ غنیمت خاص د دے خلقو د پاره مخصوص کړے وُو نکه څنګه چه وړاندے په آیت ۸ کښے صفا حکم شوے دے

۲۹ "الله مخکښے دا فرمایلی دی"؛ د دے الفاظو نه په مطلب اغستلو کښے خلق غلط شوی دی چه یعنی د دے آیت نه به مخکښے څه حکم دا سے را ځلے دی چه دلته هغے ته اشاره شوی ده، او چونکه په دے سورة کښے د هغے څه حکم د دے آیت نه مخکښے نه ملاویږی نو په دے وجه هغوئ د قرآن مجید په نورو ځایونو کښے د دے لتون شروع کړی اَن تر دے چه د سورة توبه آیت ۸۳ ورته ملاؤ شو چه په هغے کښے هم دا خبره په یوه بله موقع باندے شوی ده. لیکن په حقیقت کښے هغه آیت د دے سره نه لږی، ځکه چه هغه د تبوک د غزا په سلسله کښے نازل شوے وُو او د هغے د نازلیدو زمانه د سورة فتح د نازلیدو د زمانے نه درے کاله روستو ده. اصل خبره دا ده چه د دے آیت اشاره پخپله د دے سورة آیتونو ۱۸، ۱۹ نه ده، او د الله د مخکښے فرمایلو مطلب د دے آیت نه مخکښے فرمایل نه دی بلکه د روستو پاتے کیدونکو سره د دے خبرو کولو نه مخکښے فرمایل دی. دا کومه خبره چه دلته رسول الله صلی الله علیه

وَاِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٦﴾
لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى
الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ
مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٧﴾

او که تاسو بیا لکه څنګه چې پخوا مخ واړوئ نو الله به تاسو ته دردناک سزا درکړي. که چیرې روند او کوډ او مریض جهاد له راشي نو هیڅ باک نشته لیکن څوک چې د الله او د هغه د رسول حکمونه منی الله به هغه داسې جنتونو ته ورداخل کړي چې لاندې به ترې نهرونه بهیږي، او څوک چې مخ واړوي هغه له به دردناک عذاب ورکوي ۲۶

وسلم تر پیښې ورکیږي دا به د روستو پاتې کیدو ولکو خلقو سره په هغه وخت کې وي له کله چې به دیبیه میاشتې روستو رسول الله صلی الله علیه وسلم په خیبر حمله کوله، او دا ټول سورۃ چې په هغې کې آیتونه ۱۸ - ۱۹ هم شامل دي، د هغې نه دیبیه میاشتې پیښې په هغه وخت کې نازل شوې وو کله چې نبي ﷺ د حدیبیې نه واپس راتلو او په لاره روان وو - د کلام ټولې سلسلې ته په غور سره د کوږ نو معلومه کیږي چې د الله جل جلاله رسول ته د هدایت ورکړی چې کله تاسو مدینې ته واپس راشئ او روستو پاتې شوي خلق تاله راشي او د هغوی نه څه بیان کړي نو نه ورله د جواب ورکړه، او کله چې خیبر ته روانیږئ او دوی درسره د تلو خواهش ظاهر کړي نو دا ورته اوفرمایه.

۳۰ اصل الفاظ دي اَوْ يُسْلِمُوْنَ. د یوې دوه معنې کیدې شي او دوه به تیاره دي. یوه دا چې هغوی اسلام قبول کړي، دویمه دا چې هغوی د اسلامي حکومت اطاعت قبول کړي.

۳۱ یعنې د کوم سړي د پاره چې د جهاد نه د پاتې کیدو واقعي عذر موجود نه وي هغه د پاڼې هیڅ باک نشته چې پاتې شي، لیکن کوم چې روغ رمټ او غټ کټ خلق بهانې جوړې کړي او په خپلې کیفي نو هغوی د الله او د هغه د دین په معامله کې مخلصان نشي ګڼلې کیدې او هغوی له دا اجازت نشي ورکړه کیدې چې په مسلمانانو کې خرڅ شامل وي او رفاقت ورسره ونه لګوي، لیکن کله چې د اسلام ګټې د قربانۍ ورکولو وخت راشي نو د خپل مال او سرښیندو غواړي.

دلته هغه خبره ښکاره کړل ګوري چې په شریعت کې کوم خلق په جهاد کې د شاملیدو نه معاف کړه شوي دي هغه دوه قسمه خلق دي. یو هغه چې د بدن په لحاظ سره د جنګ قابل نه وي مثلاً د کم عمر هلکان، ښځې، لیونۍ، روند، اندې مریض چې جنګي کار نه نه شي کولې او دا هغه معذور انسان چې لاس یا خپګه بیکاره شوي وي او په جنګ کې حصه نشي اخستې. دویم هغه خلق چې په خپلو مناسبو وجوهاتو د هغوی د پاره په جنګ کې شاملیدل ګران وي، مثلاً غلام

لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ

الله ډ مومنانو نه خوښاله شوځه وخت چه هغوی ډونې لاندې ستاسره بیعت (یعنی لوڑ اکولو

یا هغه خلق چه جنګ ډپاره تیاری لیکن جنګی وسله او ضروری سامانونه ورسره نه وی ؛ یا هغه ترضداره انسان چه زرتر زره خپل قرض ادا کړی او قرض خو نښتونکے ورله مهلت نه ورکوی ، یا هغه خلق چه هغوی مورا وپلار دوابه یا په هغوی کښې یو ژوند نه وی او هغه دے ته محتاج وی چه پکې هغه ټکرانی اوکړی ۔ دلته ډیره خبری وضاحت هم ضروری دے چه که چرته مورا وپلار مسلمانان وی نو اولاد له پکار دی چه د هغوی اجازت نه بغیر جهاد له لاړشی ، خوکه چرته مورا وپلار کافران وی نو بیا د هغوی منع کولو منلو کیدل جائز نه دی ۔

۳۲ دلته بیا د هغه لوړه کرشمه ګوم چه د حدیبیې په مقام باندې د صحابه کرامو نه د خطاب شوې وه چه لوړته "بیعت رضوان" وائی ، ځکه چه د الله تعالیٰ په دې آیت کښې د اریه اوړه لسو کښې چه هغه هغه خلقو نه راضی شوی دی خلقو چه په دې خطرناکه موقع باندې د سرو ټکولو نه د ده اوکړه او د رسول په لاس باندې د سرتړلو نو لوړ اوکړو او د خپل ایمان د صداقت ثبوت ئې پیش کړو ۔ وخت هغه وړوکې مسلمانان صرف درې دیرش سوه را ټول وو ۔ په لښکر صرف څلور سوه وو ۔ د جنګ جلے ورسره هم نه وے بلکه د احرام ځاندې ئې ټنګ کړے وے ۔ هغوی د خپل کلی یعنی مدینې نه د دوه نیم سوه میله لرے وو او د ډیر شمیر نوځلے چه هغوی ټول هر قسم امداد حاصلولے شو ، صرف دیارلس میله لرے وو ۔ که چرته په دې خلقو کښې د الله او د هغه د رسول او د هغه د دین د پاره مضبوط اخلاص نه وے نو هغوی به په دې خطرناکه موقع باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرتیا پریښودے وے او اسلام به ډیشې پاره شکست خوړلے وے ۔ د هغوی دخپل اخلاص نه سیوا بل هیڅ داسے دباؤ نه وو چه د هغه په وجه هغوی په بیعت ته مجبوره شوی وے ۔ په دغه وخت کښې د الله تعالیٰ هغوی ته د خپلے رضا مندۍ د زیرے وارډ ورکړو ۔ او د الله د زیرې او رسولونه روستو که څوک د هغوی نه ناراضه وی ، یا په هغوی باندې بد وائی نو د هغوی بګړ د هغوی سره نه ده بلکه د الله سره دے ۔ ولکه څرک د وائی چه په کوم وخت کښې الله تعالیٰ هغوی ته د رضا مندۍ د زیرے اوړه لوړو نو په هغه وخت کښې څرهغوی خلصان وړ ، لیکن روستو د خدائے او د رسول به رضا شو ، شاید چه هغوی په خدائے د ابدی کامیابۍ کوی چه هغه د دے آیت د نازلیدو په وخت کښې د هغوی د مستقبل نه ناخبره وو ، په دے وجه هغه ټول د خالق په لید وسره د زیرے ورکړو ، او غالباً دے نه خبرې په وجه ئې په خپل پاک کتاب کښې اولیکو چه روستو کله د خلق به وفادار شی ، څرچه د هغوی په حقله د ډیرو خلقو د آیت لوړی ، او هغه خدائے د علیم غیب تصریف نه کړی چه په معاذ الله دے به بے وفا خلقو نه خپله رضا مندۍ د اسناد ورکړے وے ۔

فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا
قَرِيبًا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا
حَكِيمًا ﴿١٩﴾ وَعَدَكُمُ اللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ
لَكُمْ هَٰذِهِ وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ وَلِتَكُونَ آيَةً

د هغوی د زړونو حال هغه ته معلوم وو، نو ځکه ئې په هغوی باندې سکینت[۳۳] نازل کړو. هغوی له ئې په انعام کښې نږدې فتحه ورکړه، او ډیر مال غنیمت ئې ورکړو چې هغوی به ئې (ډیر زر) حاصل کړی۔ الله زبردست او حکیم دے۔ الله ستاسو سره د ډیر مالِ غنیمت وعده کړی چې هغه به تاسو واخلئ[۳۴] نو ری[۳۵] طور خو هغه دا فتحه تاسو ته نصیب کړه[۳۶] او ستاسو خلاف ئې د خلقو لاسونه د اوچتید[۳۷] ونه منع کړل، د پاره د دے چې دا د مؤمنانو د پاره یوه نښه

د کومے وُنے لاندې چې د الوزشوے وُو د هغے په حقله د حضرت نافع مولیٰ ابن عمر دا روایت عام طور مشهور شوے دے چې خلقو د هغه وُنے خواته مونځونه شروع کړی وُو، حضرت عمرؓ ته چې پته اولګیدله نو هغه خلقو له زور زنه ورکړه او هغه ونه ئې پریکړه (طبقات ابن سعد، ج ۲، ص ۱۰۰) لیکن ډیر روایتونه د دے خلاف هم دی۔ یو روایت چې له د حضرت نافع نه په طبقات ابن سعد کښې دا نقل کړے شوے دے چې د بیعتِ رضوان نه ډیر کلونه روسته صحابه کرامو د هغه وُنے لټون او کړو خو هغه ئې اُونه پیژندے شوه او په دے خبره کښې ئې اختلاف راغے چې هغه ونه کومه یوه وه (ص ۱۰۵) دویم روایت په بخاری او په مُسلم او په طبقات ابن سعد کښې د حضرت سعید بن المُسَیَّب دے۔ هغه وائی چې زما پلار په بیعتِ رضوان کښې شریک وُو هغه ما ته اُوویَیل چې په دویم کال کلمونږه قضاقُمرے له لاړو نو هغه وُنه زمونږ نه هیره شوی وه، ډیره موا وکړله خوبیا مو اُونه موندے شوه۔ دریم روایت د ابن جریر دے۔ هغوی وائی چې حضرت عمرؓ کله د خپل خلافت په زمانه کښې په حُدیبیه تیریدو نو هغه ټیوس او کړو چې هغه ونه کوم ځائے دے چې د هغے لاندې بیعت شوے وُو۔ چا اُوویَیل چې فلانئ ونده وه او چا اوویَیل چې فلانئ۔ بیا حضرت عمرؓ او فرمایَیل چې پریږدئ د دے کوشش څه ضرورت دے۔

۳۳ د لته د سکینت نه مُراد د زړه هغه حالت دے چې په هغے کښې یو سړے د ډیرلوئ مقصد د پاره بنه په اطمینان سره د خطرے مخے له ورځی او په زړه کښې ئې هیڅ ډیره نه وی او دا ځکه چې دا کارکول په هر حالت کښې ضروری دی خواه که انجام ئې څه رښه وی۔

۳۴ دا اشاره ده د خیبر فتحے ته او د هغے مالِ غنیمت ته۔ او دا آیت د دے خبرې څرګندونه کوی چې الله تعالیٰ دا انعام صرف د هغه خلقو د پاره خاص کړے وُو څوک چې په بیعتِ رضوان کښې شریک شوی وُو، د هغوی نه سوا یې چا ته په دغه فتحه او په دغه غنیمتونو کښې د شریکیدلو حق نه وُو۔ دا وجه وُه

لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿٢٠﴾ وَّاُخْرٰى لَمْ تَقْدِرُوْا
عَلَيْهَا قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ﴿٢١﴾
وَلَوْ قٰتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّ
لَا نَصِيْرًا ﴿٢٢﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ

جوړه شي او الله تاسو ته د يقين لارې هدايت اوکړي. ۳۹ دې نه علاوه هغه ستاسو ۳۸ د نورو غنيمتونو هم وعده کوي چې لا تر اوسه پورې تاسو قادر شوي نه ئ او الله هغه پرې کيږ کښې احاطه دې کړې ده الله په هر شي قادر دے.

دا کافران خلق که په دې درخت کښې ستاسو سره جنګيدلي وے نو يقيناً چې په شا به تښتيدلي وے او هيڅوک مرستيال او مددګار به ئے نه موندلے. ۴۱ دا د الله دستور دے چې د پخوا راسے راچلېږي او ته به د الله په دستور

چې کله رسول الله صلي الله عليه وسلم د هجرت په اوم کال د صفر په مياشت کښې په خيبر باندې د حملے کولو د پاره روان شونو يوازې هم د هغه کسانو ۳۶ د ځان سره روان کړل. په دے کښې شک نشته چې روستو بيا بنې هغه مهاجرينو ته چې هغوئ د جشن نه واپس راغلي وو او حنينو د وسي او اشعري صحابيانو ته هم د خيبر د مالونو نه څه حصه ورکړه، ليکن هغه يا خو د خمس نه وه، يا د بيعت رضوان د ملګرو په رضامندئ سره ورکړے شوه. په دے سال کښې د حق په طور هيڅوک حصه دار جوړ نه کړے شو.

۳۵ دې نه مراد هغه نور فتوحات دي کوم چې د خيبر نه روستو مسلمانانو ته مسلسل حاصليدل.

۳۶ دې نه مراد د صلح حديبيه چې د سورة په شروع کښې ورته فتحه مبين ويلے شوې ده.

۳۷ يعنې د قريشو کافرانو ته الله دا هڅت ورنه کړو چې په حديبيه کښې ستاسو سره جنګيدلے وے، حالانکه په ظاهره د هغوئ حالت د يربنه وو، او په جنګي لحاظ سره تاسو د هغوئ په مقابله کښې د پرکمزورئ بنکاريدئ. او دې نه دا مراد هم دے چې يو دشمن ته هم په دے زمانه کښې په مدينه باندې د حملے کولو همت اونه شو، حالانکه د مدينې هاذ د ځوارلس سوو جنګيالو په وړاندې سره د پرکمزورے شوے وو او يهوديانو او مشرکانو او منافقانو ته دې موقعے نه فائده اخستلے شوه.

۳۸ نبنه دې خبرې چې څوک د الله او د هغه د رسول اطاعت نه مضبوطه او دېرې او د الله په بروسه باندې د حق او د صداقت مرستې ته راپاسې نو د هغه سره الله تعالیٰ په کومه طريقه امداد کوي.

۳۹ يعنې چې تاسو ته زيات پوهه او يقين حاصل شي، او آئنده تاسو هم د غسے د الله او د رسول په اطاعت باندې قايم پاتے شئ او د الله په اعتماد باندې پخه لاره کښې درانديدو والے کوئ، او دا تجربه تاسو ته د اسبق اوښانئ چې د خداے دين څه غواړي، نو د مومن سړي دا کار دے چې د خداے په بروسه باندې هغه اوکړي، او په دے بحثونو کښې اخته نه شي چې زما طاقت څومره دے او د باطل

اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ
عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ
بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿۲۴﴾ هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ
الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوْفًا اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ ۭ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ
وَنِسَاۗءٌ مُّؤْمِنٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ اَنْ تَطَـــُٔوْهُمْ فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ
مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَاۗءُ ۚ

کښې هیڅ تبدیلی بیا نه مومی. هم هغه دے چې د مکې په میدان کښې ئې هغوی لاسونه ستاسو لاندې او ستاسو لاسونه ئې د هغوی نه منع کړل، حالانکه هغه تاسو ته په هغوی بانډې غلبه درکړې وه او هغه چې تاسو کول الله هغه لیدونکی. دا خو هغه خلق دی چې کفر ئې اوکړو او تاسو ئې د مسجد حرام نه منع کړئ او د قربانئ اونښانه ئې د قربانئ ځایته نه د رسیدو نه منع کړل. که چیرې (په مکه کښې) دلته مومنان سړي او مومنانې ښځې موجود نه وای چې هغوی تاسو ئې نه پیژندئ، او دا خطره نه وه چې تاسو به په ناپوهۍ کښې هغوی د ځپلو لاندې جګړې کړئ او د هغې په وجه به په تاسو باندې الزام راشی (نو جنګ به نه وه بند کړه شوه جنګ په دې وجه بند کړه شوه چې الله په خپله رحمت کښې څوک داخلول غواړي) چې هغه داخل کړي

د طائف تر لرې پورې وه.

۴۰ غالب یقین دا دے چې دا اشاره د حدیبیې کلي ته ده. هم دا رائے د قتاده ده او هم دې ته ابن جریر ترجیح ورکړې ده. د آیت نه دا مطلب معلومیږي چې اوس خو مکه ستاسو په قابو کښې نه ده راغلې لیکن الله هغه په کیرې کښې اخستلې دا د حدیبیې د صلح لپاره یو نتیجه کښې به هغه هم ستاسو په قبضه کښې راشی.

۴۱ یعنې په حدیبیه کښې الله په دې وجه جنګ بند نه کړو چې کنې ستاسو شکست یقیني وه بلکه په هغې کښې خو بل مطلب وو چې هغه په وړاندې آیتونو کښې بیان نه دے. که چیرې دغه مطلب په ذهن کښې نه وے، او په دغه خاطر کښې الله تعالیٰ د جنګ موقع راوستې وے نو یقیناً چې کافرانو به شکست خوړلے وے او مکه معظمه به په هغه وخت فتحه شوې وے.

۴۲ د الله د الله تعالیٰ د سنّت (یعنې دستور) نه مراد دا دے چې کوم کافران د الله د رسول سره جنګ کوی الله تعالیٰ هغوی ذلیل کوی او د خپل رسول مدد کوی.

۴۳ یعنې چې د کوم خلقو اوږه کفر سره تاسو د حق دین قربانئ کولو ته تیار شوې وې او په احرام کښې به خپله ځای تاسو د رسول اطاعت کولو الله هغه لیدل، او دا هم لیدل چې کافران

لَوْ تَزَيَّلُوا لَعَذَّبْنَا الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٢٥﴾

که هغه مومنان[ن] جګ (شوی وی نو په مکه کښې) چې څرګ کافران وو نو هغوی له به مونږ ضرور سخته سزا ورکړی وه.

سزا سره زیاته کړی. ۲ یعنې ترڅو خپل کار دا وه چې هم هلته په هغه وخت کښې ستاسو په لاس هغوی له سزا ورکړه شوې وه. لیکن دې سره باوجود یو خاص غرض وو چې هغه په وجه الله تعالیٰ ستاسو لاسونه د هغوی نه او د هغوی لاسونه ستاسو نه منع کړل.

۴۴ ۲ او دا هغه غرض چې دا دی په وجه الله تعالیٰ په حدیبیه کښې د جنګ موقع رانه وسته. دا یې غرض وه (پرځونه وی). یوه اړخه په هغه وخت کښې په مکه کښې د مسلمانانو سړي او ښځې د هغه موجود وو چې هغوی خو یا خپل ایمان نه پټ کړی وو، یا ځکه ایمان نه معلوم وو، خو ځپلې به ږسئ په وجه ځکه هجرت نه شو کولے او ظاهره به پرې کیدل، په دې حالت کښې که چرې جنګ شوې وے او مسلمانانو کافران په هغه راغلی وے او هغوی ته د اهل شوی وے نو د کافرانو سره سره د مسلمانانو هم په هغوی کښې د مسلمانانو لاسه وهلې شوی وے نو بیا به مسلمانان هم خفه وو او افسوس به ئې کولے او د هغو په مشرکانو به هم د وینځلے چې د اخلاق خو په جنګ کښې په حنیفو دیني روزنو باندې هم هیڅه نه کوی. د وجه دا چې الله تعالیٰ په دې موقع په دې ږسه مسلمانانو باندې رحم او کړو او صحابه کرامو ځخګان او د بدنامئ نه پرې کړی او جنګ اونه شو. بل اړخ د او وجه الله تعالیٰ د مکې خو بښتنه چې ګرېښتونه په یو خوا کې جنګ شکست ورکړی او مکه فتحه کړی بلکه هغه د خو بښتنه چې په دې کاله کښې د الله هغوی د هر طرفه راکیږ کړی او دا سے به وسه ئې کړی چې په مقابله خپل شکست اوګرځی، او بیا ټوله قبیله اسلام قبول کړی او د الله په رحمت کښې داخل شی، لکه څنګه چې دا کار وقتې په موقع اوشو.

۲ نکته د فقهی بحث را پیدا کیږی چې که چرې د مونږ او د کافرانو په منځ کښې جنګ وی او د کافرانو په لبضه کښې څه مسلمانان سړي، او ښځې او ښځې او بوډا کان وی او هغه هغوی ځان ګرځاره د ال کړی او ځان له راوړی، یا د کافرانو په کوم ښار، چې مونږ حمله کوو هلته مسلمانان هم موجود وی، یا د کافرانو په جګ جهاز (مونږ په کښتۍ کښې وی) او په هغې کښې د کافرانو څه مسلمانان هم بندی کړی وی نو آیا به د هغه صورت کښې مونږ په هغوی باندې ګولی ورګولے شو؟ ۲ دې به جواب کښې چې هغتلو فقهاؤ کرام لیکلے کړی دی هغه دا دی چې لیکلے شوی دی.

امام مالک وائی چې په دې حالت کښې ګولی ورګولے شی، او د دې د پاره هغه هم د آیت په دلیل کښې پیش کړی. هغه وائی چې الله تعالیٰ خو خاص د مسلمانانو د پاره کوم د پاره په حدیبیه کښې جنګ بند کړو (احکام القرآن لابن العربی). لیکن په دا خبره کښې دا یو کمزوری دلیل دے. په آیت کښې د لفظ دا سے نشته چې د هغه د اطلاق راوځی چې په دې حالت کښې حمله کول حرام او ناجائز وی، بلکه د دا تو نه زیاته چې کومه خبره د یې نه راوځی هغه دا ده چې په دې حالت کښې د مسلمانانو د پاره د ګولو ورګولے نه وو هغه کیدے شی چې د اضطرار له وی چې کافران به په مسلمانانو باندې غلبه پیدا کړی، یا به یې کافرانو باندې د مونږ

اِذْ جَعَلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ

(د اړجه ده چې) کله چې کافرانو په خپلو زړونو کښې د جاهلیّت ننګ را پیدا کړو[۴۵]

کامیابئ موقع ختمے شی.

امام ابو حنیفہؒ، امام ابو یوسفؒ، امام زفرؒ او امام محمدؒ وائی چې په دے حالاتو کښې کولئ ځړول بالکل جائز دی، اُن تردے پورے که چرے کافران د مسلمانانو نیمې د ځان د پاره وال کړي او مخے ته ئے راولی نو بیا هم په هغوئ باندې کولئ چلول څه ګناه نه ده - او کوم مسلمانان چې په دے حالت کښے مړه شی د هغوئ د وینے کفاره او تاوان (دیت) په مسلمانانو باندې واجب نه دے (احکام القرآن للجصّاص، کتاب السِّیَر للامام محمد، باب قطع الماء عن اهل الحرب).

امام سُفیان ثوری هم په دے حالت کښے کولئ ورځولو ته جائز وائی، لیکن هغه وائی چې کوم مسلمانان په دغه حالت کښے مړه شی نو د هغوئ دیت (یعنی د وینے تاوان) خو نه، البته کفاره (یعنی د ګناه بدله) په مسلمانانو باندې واجب ده (احکام القرآن للجصّاص).

امام اوزاعی او لیث بن سعد وائی چې که چرے کافران د ځان د پاره مسلمانان ډال کړي او مخے ته ئے راولی نو په هغوئ باندې کولئ چلول نه دی پکار. دغه شان که چرے موږ ته پته وی چې د کافرانو په جنګی جهاز کښے زموږ د قیدیان هم موجود دی نو په دے حالت کښے هغه تباه کول نه دی پکار. لیکن که موږ ته د کافرانو په بنارونو باندې حمله اوکړو او موږ ته پته وی چې په دے بنارونو کښے مسلمانان هم شته نو په هغه بنارونو باندې کوله باري کول جائز دی، ځکه چې داخبره یقینی نه ده چې زموږ د کولئ کولئ به په مسلمانانو باندې پریوزی، او که چرے مسلمان په دے کوله باري باندې مړ شی نو دا به زموږ د طرفه قصداً د مسلمان وژل نه وی بلکه په بے علمئ کښې به یوه حادثه وی. (احکام القرآن للجصّاص)

د امام شافعیؒ مذهب دا دے چې که چرے په دے حالت کښے کوله باري کول ضروري نه وی نو مسلمانان د هلاکت نه ډک کول بهتر دی. اګرچه په دے حالت کښے کوله باري کول حرام نه دی خو مکروه ضرور دی، لیکن که چرے واقعی د کوله باري ضرورت وی، او داخطره وی چې که چرے کوله باري اونه کړے شی نو دا به د کافرانو د پاره په جنګی حیثیت سره فائده مند وی او د مسلمانانو د پاره به نقصانی وی نو بیا کوله باري کول جائز دی. لیکن په دے حالت کښے هم د مسلمانانو د ډک کولو کوشش د خپله وسه پورے پکار دے دے نه علاوه امام شافعیؒ دا هم وائی چې که چرے د جنګ په میدان کښے کافران د ځان د پاره مسلمانان ډال کړي او مسلمانانو ته ئے ورورانده کړي او هغه د مسلمان د لاسه قتل شی نو دے دے دوه حالتونه دی یو دا چې قاتل ته معلومه وی چې دا مسلمان دے، او بل دا چې هغه ته معلوم نه وی چې دا مسلمان دے. په اول حالت کښے دیت او کفاره دواړه واجب دی، او په دویم حالت کښے یوازے کفاره واجب ده. (مغنی المحتاج)

[۴۵] د جاهلیّت د ننګ نه مطلب دا دے چې یو سړے تش د خپل غیرت د خاطره یا د خپلے خبرې په

فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَلْزَمَهُمْ
كَلِمَةَ التَّقْوٰى وَكَانُوْٓا اَحَقَّ بِهَا وَاَهْلَهَا ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ
شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝۲۶ لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّءْيَا بِالْحَقِّ ۚ
لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ اِنْ شَاۗءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ ۙ مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ

نو الله تعالیٰ په خپل رسول باندې او په مومنانو باندې سکینت نازل کړو او مومنان ئې د تقوی کلمې پابند او ساتل ځکه چې هم هغوی د هغې زیات حقدار وو او د هغې اهل وو۔ الله هر څیز علم لري ۔ واقعي چې الله خپل رسول ته رښتیا خوب ښودلے وو چې ښه ښکاره تاسو به ان شاء الله مسجد حرام ته خامخا پوره په امن سره ورننوزئ، خپل سرونه به خرو ئ

ضد کښې یو ناروا کار اوکړي۔ د مکے کافرانو پخپله دا خبره منلې چې هر سړی ته د احرام حاصل کړې د حج او د عمرې د پاره د بیت الله شریف زیارت اوکړي، او د هیچا د احرام نشته چې څوک د دې مذهبي فریضې نه منع کړي۔ دا د حربو پخوانے مېنځ شوے قانون وو۔ لیکن د دې باوجود چې خپل ځان ئے سراسر پناه حق کنړلو او مسلمانان ئے بالکل په حقه کنړل، هغوی ټول د خپل غیرت د خاطره مسلمانان د عمرې نه منع کړل پخپله په مشرکانو کښې چې کوم سړه خلق وو هغوی به هم دا ویل چې کومو خلقو احرام ترلے دے او د قربانۍ اوښان ئے د ځان سره راوستي دي او عمره له راغلي دي هغوی منع کول هسې بے ځایه کار دے۔ لیکن د قریشو سړدارانو صرف په دې خیال هغوی منع کړل چې که چرې محمد صلی الله علیه وسلم د دومره لوئے دلے سره مکے ته ورننوزي نو په ټول عرب کښې به زمونږ د عزت خاورې شي۔ هم دا د هغوی د جاهلیت ننګ وو۔

۴۷ دلته د سکینت نه مراد دې صبر او درونده خوئ چې په هغے سره نبي صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو د کافرانو د دې جاهلي ننګ مقابله اوکړه۔ هغوی د کافرانو په دې ضد او ښکاره زیاتي باندې غصه او ننګ کړه، او د هغوی په جواب کښے ئے هیڅ داسے خبره اونه کړه چې هغه د حق نه خلاف وی، یا په هغے سره معامله د سمید و په خلاف ښه ورانیزی۔

۴۸ دا د هغه خبرې جواب دے کومه چې به بار بار د مسلمانانو په زړونو کښې راتلله هغوی به ویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خو خوب لیدلے وو چې هغه مسجد حرام ته داخل شوے دے او د بیت الله طواف ئے کړے دے، نو بیا دا څه اوشو چې مونږه د عمرې ادا کولو نه بغیر راپس شو۔ د دې په جواب کښې اگرچه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي وو چې په خوب کښې خو سکال د عمرې کولو خو نه وو، لیکن د دې باوجود بیا هم څه نه څه تلوسه په زړونو کښې باقي وه۔ د دې وجې نه الله تعالیٰ پخپله دا اوفرمایل چې هغه خوب مونږه ورښودلے وو، او هغه بالکل رښتیا وو، او هغه به خامخا پوره کیږي۔

وَمُقَصِّرِيْنَ ۙ لَا تَخَافُوْنَ ؕ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ
ذٰلِكَ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۲۷﴾ هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ
الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ؕ ﴿۲۸﴾

اوخپل ویښته به پریکوئ، اوپښتانو به ځیر نه وی. هغه ته هغه خبره معلومه وه کومه چه تاسو نه معلومه نه وه نو دا هغه خوب پوره کیدو له مخکښ هغه دا نزدې فتحه تاسو له درکړه.

هغه هم الله دے چه خپل رسول ئے د هدایت او د حق دین سره لیږلے دے د دې پاره د دے چه هغه په ټول جنس دین باندې غالب کړی او په دے حقیقت باندې د الله شاهدي کافی دے.

۴۸ دلته چه الله تعالیٰ خپله د خپل وعدے سره د "ان شاء الله" کوم الفاظ استعمال کړی دی، په دے باندې یو اعتراض کولے شی چه هر کله الله تعالیٰ خپله دا وعده کړی نو د دے د الله د خوښے سره د شرط کولو څه مطلب دے؟ د دے جواب دا دے چه دلته دا الفاظ په دے معنی کښے نه دی استعمال شوی چه که چیرته الله نه غواړی نو دا خپله وعده به نه پوره کوی. بلکه په اصل کښے دا دے تعلق د هغه مخکښو حالاتو سره دے په کومو حالاتو کښے چه دا وعده شوی ده. د مکے کافرانو چه په کوم گمان باندې مسلمانان د عمرے نه منع کړی وو هغه دا وو چه مونږ څوک عمرے ته پریښودل نه غواړو نو هم هغه به عمره کولے شی او هم په هغه وخت کښے ئے پریښودل نه غواړو هم په هغه وخت کښے به ئے کولے شی. په دے باندې الله تعالیٰ فرمائیلی دی چه دا د هغوئ په غوښتلو پورے نه ده بلکه زمونږ په غوښتلو پورے ده. سکال چه عمره اوکړئ شوه نو دا دے وجه دا نه وه چه د مکے کافرانو دا غوښتلے چه دا دې اوکړئ شی، بلکه د دے وجه دا وه چه مونږه نه غوښتلے چه دا دې اوکړئ شی. او بیا چه کله مونږه دا عمره کول اوغواړو نو کیدی به خو اه کافران ئے غواړی اوکه نه. د دے سره په دے الفاظو کښے دا مطلب هم پټ پروت دے چه مسلمانان هم کومه عمره کوی نو په خپل زور به ئے نه کوی بلکه هغه به ئے کولے شی چه مونږه ئے اوغواړو. اوکه نه چرته مونږه نه غواړو نو هغوئ دا طاقت نشته چه خپله عمره اوکړی.

۴۹ دا وعده مخے کال له د اوومے هجرئ د ذی القعدے په میاشت کښے پوره شوه. په تاریخ کښے د "عمرة القضاء" په نوم مشهوره ده.

۵۰ دا الفاظ په دے خبره دلالت کوی چه په عمره کښے او په حج کښے سر خړول لازم نه دی بلکه ویښته پریکول هم جائز دی. البته سر خړول بهتر دی حکمه چه الله تعالیٰ د هغے بیان مخکښے کړے دے او د ویښتو پریکولو ذکر ئے روستو کړے دے.

۵۱ دلته د دے خبرې د کولو وجه دا ده چه په حدیبیه کښے کله د صلح معاهدې لیکلے کیدله نو د مکے کافرانو د نبی د نوم سره په "رسول الله" لیکلو باندې اعتراض کړے وو او دوئ مخکښه د هغوئ په تیکنیتا باندې د معاهدے د خط نه دا الفاظ لرے کړی وو. په دے باندې الله تعالیٰ فرمائی چه زمونږ رسول خو

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ
بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ز
سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي

محمد د الله رسول دے، او کوم خلق چه د هغه سره ملګری دی هغوی په کافرانو باندې سخت[۵۱] دی او په خپل منځ کښې رحم کونکی دی[۵۲] تـه چـه ښه وخت کوې نو هغوی به په رکوع او سجده کښې، او د الله د فضل او د رضا په تلاش کښې مشغوله بیا مړه. د سجدو اثرات د هغوی په مخونو باندې موجود دی چه د هغې په وجه هغوی بشکاره پیژندلے شی[۵۳]. دا دے د هغوی صفت په

په حقیقت کښې رسول دے، په هغه کښې د چا په منلو یا نه منلو سره هیڅ فرق نه راځی. هغه که څوک نه منی نو نه یې منی. د هغه په حق والی باندې یوازے زمونږه گواهی کافی ده. د هغوی په انکار کولو سره به دا حقیقت نه بدلیږی، بلکه دے رسول چه زمونږ د طرفنه کوم هدایت او حق دین راوړے دے هغه به په ټولو دینونو باندې غالب کیږی، خواه که دا منکرین د هغې د غم ښیږی د پاره هڅومره زور اولګوی.

د "ټولو جنس دین" نه مراد د ژوند هغه ټول نظامونه دی کوم چه د "دین" حیثیت لری. د دے تفصیلی تشریح مونږه د دے نه مخکښې په تفهیم القرآن څلورم جلد، د سورۃ زمر په تفسیر حاشیه ۳ کښې او د سورۃ شوریٰ په تفسیر حاشیه ۲۰ کښې کړی ده. دلته چه کومه خبره الله تعالیٰ په صفا ټکو کښې فرمائیلی ده هغه دا ده چه د محمد صلی الله علیه وسلم د رالیږلو مقصد یوازے کړه دین تبلیغ نه وو بلکه د ژوند په نورو ټولو دینونو باندې د دے غالب کول وو. یعنی هغه دا دین د دے د پاره نه وو راوړے چه د ژوند په ټولو څانګو باندې د غلبه خو د یو باطل دین وی او د هغه د حکومت لاندې د دا دین د هغه حدونو دننه اوسی د کومو دننه چه غالب دین هغه ته د اوسید و اجازت ورکړی، بلکه دین حق نبی د دے د پاره راوړے وو چه د ژوند غالب دین د دا وی او بل دین که چرے وی هم نو د هغه حدونو دننه د اوسی د کومو دننه چه دا حق دین هغه ته د اوسید و اجازت ورکړی. (د زیاتے تشریح د پاره اوګورئ تفهیم القرآن څلورم جلد، د سورۃ زمر تفسیر حاشیه ۴۸).

۵۲ اصل الفاظ دی اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ. په عربی ژبه کښې وائی فُلَانٌ شَدِيْدٌ عَلَيْهِ، فلانے سړے هغه ته سخت دے، یعنی هغه رضا کول او خپل مطلب له راوستل د هغه د پاره ګران دی. کافرانو ته د محمد صلی الله علیه وسلم د ملګرو د سخت کید و مطلب دا نه دے چه هغوی ګنې د کافرانو سره په سختۍ او په تریو تندی ملا ویږی، بلکه د دے مطلب دا دے چه هغوی د پوخ ایمان، د خپلو مضبوطو اصولو، د خپل روښانه خړی او د خپل ایمانی هوښیارتیا په وجه کافرانو ته د کار وی د غږ پشان دی. هغوی د مړو مړوم ګودا کی نه دی چه کافران ئے په خپله خوښه آروی را آروی، هغوی نرمه پسته غله نه دی چه کافران ئے په آسانۍ سره تیره کړی. هغوی په یره دیا ویږی نه. او هغوی په هیڅ لالچ خرڅیږی نه. په کافرانو کښې دا طاقت نشته چه

التَّوْرٰىةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۚ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْئَهٗ

تورات کښے۔ ۵۲ اوپا انجیل کښے د هغوئ مثال داسے بیا کړے شوے دے لکه چه یو پټه دے چه اول نے تیغ زرغونه کړه

هغوئ د هغه لوئ مقصد نه وارروی د کوم مقصد د پاره چه هغوئ د محمد صلی الله علیه وسلم سره د ملګرتیا کولو

د پاره خپل سر قربانولو ته تیار شوی دی۔

۵۳ یعنی د هغوئ تولـه سختی د دین د دشمنانو د پاره ده۔ د مومنانو د پاره نه ده۔ مومنانو ته هغوئ

نرم دی، په مومنانو رحم کونکی او مهربانه دی، د مومنانو په درد مند او په غم غټون دی۔ د اصولو او د

مقصد د یووالی په وجه په هغوئ کښے د یوبل سره مینه، یوشان والے او موافقت پیدا شوے دے۔

۵۴ دا دے نه مراد د تندی هغه تورداغ نه دے کوم چه د سجدے کولو په وجه د څینو مونځ ګذارو

خلقو په تندی جوړیږی۔ بلکه دا دے نه مراد د خدا ترسئ او د شرافت او د ښو اخلاقو هغه اثرات دی

کوم چه د سړی په مخ باندے خدائے تعالیٰ د هیڅیدو په وجه فطرةً بنکاری۔ د انسان مخ یوځور کتاب دے چه په

هغے کښے د سړی د زړه حالات په آسانئ سره کتلے شی۔ د یو مغروره انسان مخ د عاجز مزاجه

انسان د مخ نه مختلف وی۔ د یو بد اخلاقه انسان مخ د یو نیک او خو اخلاقو والا انسان د مخ نه ځیر پیژندے

شی۔ د یو لفنګ او بدکار انسان په شکل کښے او د یو شریف او پاکباز انسان په شکل کښے بنکاره فرق

وی۔ د الله تعالیٰ د فرمان مطلب دا دے چه د محمد صلی الله علیه وسلم دا ملګری خو داسے دی چه د دوئ

په لید وسره یو سړے په اول نظر دا معلومولے شی چه دا د ښو اخلاقو انسانان دی، ځکه چه د خدا پرستئ

نور د هغوئ په مخونو باندے ځلیږی۔ دا هم هغه څیز دے چه دا دے په حقله امام مالک فرمائی چه کله د

صحابه کرامو فوځونه د شام زمکے ته ورننوتل نو د شام عیسایانو به ویل چه د عیسیٰ د حواریانو په

حقله به کومه خبری موږه اوریدلے دوئ خو هم بالکل د هغوئ په شان په نظر راځی۔

۵۵ غالباً چه دا اشاره د کتاب استثناء، باب ۳۳، آیتونو ۲-۳ ته ده چه په هغے کښے د رسول الله

صلی الله علیه وسلم د ذکر سره د هغه صحابو د پاره "قدسی" لفظ استعمال کړے شوے دے۔ دا دے نه علاوه که

د صحابه کرامو څه صفت په توراة کښے بیان شوے وو خو هغه اوس په موجوده بدل شوی توراة کښے

نه ملاویږی۔

۵۶ دا مثال د حضرت عیسیٰ علیه السلام په یو وعظ کښے بیان شوے دے چه د بائیبل په نوی عهدنامه

کښے پرے دے طریقه نقل کړے شوے دے:

"او هغه اووئیل د خدائے بادشاهی داسے دے لکه چه یو سړے په زمکه کښے تخم واچوی او شپے

اوده شی او د ورځے راپاسی او هغه تخم په داسے طریقه راوخیژی او لوئ شی چه هغه ته

هیڅ پته اونه لږی۔ زمکه په خپله میوه نیسی۔ اول پانړه، بیا وږی، بیا دوبره نه تیارے

دانے، بیا چه کله فصل پوخ شی نو هغه زرکه ریبلو د پاره لوڑ راواخلی، ځکه چه د ریبلو

وخت راورسید و..... هغه د وری د دانے پشان دے چه کله په زمکه کښے اوکړلے شی

نو د زمکے د تولو تخمونو نه وړوکے وی۔ خو چه کله اوکړلے شی اوزرغون شی نو بیا د تولو

فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ
لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ ع

بیا ئے هغه مضبوط کړو، بیا هغه راڅو ټوکیدو، بیا په خپله تنه ودریدو۔ هغه کروندګر خوشحالوی ډپاره ډډے چه کافران ډ هغوئ په ترڅ باندې اوسوزی۔ ډډے دلے ډ خلقو سره، چه ایمان لے راوړے دے او نیک عملونه لے کړی دی، الله ډ بخښنے او ډلوئ اجر وعده کړی ده ۔ ع

ترکارپانو نه لوئ ښکی او دا سے لوئ لوئ ځانګے اوکړی چه ډ هوا مارغان ډ هغے په سوری کښے کور جوړ ولے شی۔" (مرقس، باب ۴، آیتونه ۲۶ تا ۳۲۔ ډډے وعظ آخری حصه په انجیل متی، باب ۱۳، آیتونو ۳۱ - ۳۲ کښے هم ده)۔

۵۵ یوه وله په دے آیت کښے ډ مِنْهُمْ ډ "مِنْ" نه ډ تبعیض معنیٰ اخلی او ډ آیت ترجمه داکوی چه "په هغوئ کښے کو موخلقو ایمان راوړو او نیک عملونه لے اوکړل الله ډ هغوئ سره ډ بخښنے او ډلوئ اجر وعده کړی ده۔" دغه شان داخلق په صحابو باندې ډ طعن لار اوباسی او دعوی کوی چه ډډے آیت ترمخه په صحابو کښے ډیر خلق مومنان او صالحان نه وو۔ لیکن دا تفسیر هم ډډے سورة ډ آیتونو ۴ - ۵ - ۱۸ او ۲۶ نه خلاف دے، او پخپله ډډے آیت ډ اولنو فقروسره هم مطابقت نه لری۔ په آیت ۴ او ۵ کښے الله تعالیٰ ډ هغه ټولو صحابو په زړونو کښے ډ سکینت نازلولو او ډهغوئ په ایمان کښے ډ زیاتوالی راوستلو ذکر کړے دے کوم چه په حدیبیه کښے ډ نبی سره ملګری وو، او هغوئ ټولو ته ے جنت ته ډ داخلیدو زیرے ورکړے ده۔ په آیت ۱۸ کښے الله تعالیٰ ډ هغه ټولو خلقو په حق کښے ډ خپلے رضا اظهار کړے دے چا چه ډ وُنے لاندې ډ نبی سره بیعت یعنی لوَز کړے وُو، او په هغے کښے ے هم څوک پریښودی نه وُو۔ په آیت ۲۶ کښے ے هم ډ نبی ډ ټولو ملګرو ډ پاره لفظ مومنین استعمال کړے دے، په هغوئ باندې ډ خپل سکینت نازلولو خبرے ورکړے ده، او فرمائیلے ے دی چه دا خلق ډ تقوی ډ کلمے ډ پابندئ زیات حقدار او اهل دی۔ دلته ے هم دا اُونه فرمائیل چه په هغوئ کښے کوم مومنان دی صرف ډ هغوئ په حق کښے دا خبر درکړے کیږی۔ بیا پخپله ډډے آیت په اولنو فقرو کښے هم چه کوم تعریف بیان کړے شوے دے هغه ډ هغه ټولو خلقو ډ پاره دے کوم چه ډ محمد صلی الله علیه وسلم سره ملګری وُو۔ الفاظ دا دی چه کوم خلق ډ هغه ملګری دی هغه دا سے او دا سے دی۔ ډډے نه روستو یوم په آخری فقره کښے ډډے ویناآخر څه مرتبه وه چه په هغوئ کښے څه خلق مومنان او صالحان وُو او څه نه وُو۔ دا وجه ده چه دلته مِنْ ډ تبعیض په معنیٰ کښے اغستل ډ کلام ډ نظم نه خلاف دے۔ په حقیقت کښے دلته مِنْ ډ بیان ډ پاره دے لکه څنګه چه په آیت فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ (ډ بتانو ډ کلڅ څخه ځان ساتئ) کښے مِنْ ډ تبعیض ډ پاره نه دے بلکه لازما ډ بیان ډ پاره دے۔ کنئ نو بیا ډ آیت معنیٰ دا سے شی چه "په بتانو

کښے کوم پاک نۀ دی دَهغے نه ځان ساتئ۔" او دَدے نه به دا مطلب راأوځی چه څه بُتان پاک هم دی چه دَ هغوئ نه به ځان ساتنه لازم نۀ وی۔

تفهم القرآن

الحجرات

٤٩

الحُجُرات

نوم دا نوم د آیت ۴ د فقرے اِنَّ الَّذِیْنَ یُنَادُوْنَکَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ نه اغستے شوے دے۔ مطلب دا دے چه هغه سورة چه په هغے کښے لفظ الحُجُرات راغلے دے۔

د نازلیدو زمانه دا خبره د روایتونو نه معلومیږی او د سورة مضمون نه هم دا ډیره ښکاره ده چه دا سُورة د هغه حکمونو او هدایاتو مجموعه ده کوم چه په مختلفو موقعو باندے نازل شوی دی خو د مضمون په مناسبت سره رایو ځائے کړے شوی دی۔ دا ډیره نه علاوه د روایتونو نه دا هم معلومیږی چه د دے اکثر حکمونه د مدینے په آخری دور کښے نازل شوی دی۔ مثلاً د آیت ۴ په حقله د مفسرینو بیان دے چه دا د بنی تمیم په بارہ کښے نازل شوے وُو خو وخت چه د هغوی یوه وفد راغلی وه او نبی صلی اللہ علیہ وسلم تر ے د کور د بهر نه نعرے وهلے، او د سیرت په ټولو کتابونو کښے دی چه دا وفد له په نهمه هجری کښے راغلی وه۔ د غه شان د آیت ۶ په حقله د ډیرو حدیثونو نه معلومیږی چه دا د ولید بن عُقبه په بارہ کښے نازل شوے وُو، چه رسول اللہ علیہ وسلم بنی المُصطَلِق قبیلے ته د زکوٰة اغستلو د پاره لیږلے وُو، او دا خبره معلومه ده چه ولید بن عُقبه د مکے د فتحے په موقع مسلمان شوے وُو۔

موضوع او بحثونه د دے سُورة موضوع مسلمانانو ته هغه آداب ښودل دی چه کوم د مومنانو د شان سره ښائی۔

په اولنو پنځو آیتونو کښے هغوی ته هغه آداب ښودلے شوی دی کوم چه د الله او د هغه د رسول په معامله کښے هغوی له پکار وُو۔

بیا د احکامو شوے دے چه په هره خبره باندے یقین کول او په هغے باندے عمل کول مناسب نه دی۔ که د یوسړی یا د ډیرو وګړو خلاف څه خبر ملاوُشی نو په غور سره ټکل پکار دی چه د خبر ملاویدو ذریعه د بروسے قابل ده او که نه۔ که د بروسے قابل نه وی نو په هغے باندے د عمل کولو نه مخکښے د تحقیق کول پکار دی چه خبر صحیح دے او که نه دے۔

د دے نه روستو بیا دا ویلے شوی دی چه که چرے د مسلمانانو دوه وګړے په خپلو کښے په جنګ شی نو نور و مسلمانانو له په دے کښے څه کول پکار دی۔

بیا مسلمانانو ته تاکید شوے دے چه د هغه بدئ نه ځان ساتئ چه هغه په اجتماعی ژوند کښے فساد راپورته کوی او چه د هغے د وجے نه په خپلو کښے تعلقات خرابیږی۔ په یو بل پورے ټوکے کول د یو بل خلاف بدے ردے ویل، یو بل له خراب خراب نومونه کیښودل، بدګمانی کول، د بل حالات رالټول، د خلقو پښے شا د هغوی بد ویل، دا هغه کارونه دی چه پخپله گناه هم ده او په خلقو کښے فساد هم راپورته کوی۔ الله تعالیٰ د ډیرو یوے بدئ نوم ذکر کړے دے او هغه ته ے حرام کړی دی۔

ددے نه روستوه هغه خیالا تو خلاف ذکر شوے مه چه هغه د قومونو او د نسلونو په منځ کښے فرق راپیدا کوی او چه هغه په دنیا کښے د عالمګیر فساد سبب جوړیږی. قومونه او قبیلے او خاندانونه چه خپل ځان په فخر او غرور سره اوچت کړی او نور خلق د ځان نه کم کړی او د خپلے لوئی قایمولو د پاره د بل د راغورزولو کوشش کوی، نو دا ټول هغه کارونه دی چه ددے په وجه دنیا د ظلم نه ډکه شوی ده، الله تعالیٰ په یو مختصر غوندے آیت کښے ددے د بدئ جړ اوو ښکلے اووے فرمائیل چه ټول انسانان د اګی یو نسل نه پیدا شوی دی او د قومونو او د قبیلو تقسیم د یوبل د پیژندګلو د پاره دے په یوبل باندے د فخر کولو د پاره نه دے، او د یو انسان په بل انسان باندے د برتری د پاره د اخلاقی غوره والی نه سوا هیڅ جائز بنیاد نشته۔

په آخر کښے خلقو ته ویلے شوی دی چه اصل څیز د ایمان زبانی دعوی نه ده بلکه د زړه په صدق سره الله او د هغه رسول منل دی، عملاً حکم منلے جوړیدل دی، او په اخلاص سره د الله په لار کښے خپل سر او مال قربانول دی۔ حقیقی مومن هم هغه دے څوک چه دا طریقه خپله کړی پاتے شو هغه خلق چه د زړه د صدق نه بغیر تش په ژبه د اسلام اقرار کوی او بیا دا سے طریقه اختیار وی لکه چه هغوئی په اسلام راوړلو سره په اسلام باندے احسانکړے وی، نو په دنیا کښے خو هغوئی په مسلمانانو کښے شمارلے کیدے شی، او هغوئی سره د مسلمانانو پشان سلوک هم کیدے شی، لیکن د الله سره هغوئی د مومنانو په ځیر کښے نشی راتللے۔

سُوْرَةُ الْحُجُرٰتِ مَدَنِيَّةٌ

اٰیاتُها ۱۸ رُکُوعاتُها ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝۱ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ۝۲

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، د الله او د هغه د رسول نه ځان مه وړاندې کوئ او د الله نه اُوېرېږئ، الله هر څه اوریدونکے دے او پوهه دے۔[۲]

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، خپل آواز د نبی د آواز نه مه اُوچتوئ او مه د نبی سره په هغے اُوچت آواز خبرې کوئ لکه څنګه چه تاسو په خپل منځ کښے د یو بل سره کوئ هسے نه چه ستاسو کړې عملونه ټول برباد شی او تاسو ترخبر هم نه یئ۔[۴]

---

[۱] د دا ایمان د تولونه اولنئ او بنیادی خبره ده۔ څوک چه الله خپل رب منی، او د الله رسول خپل رهنما او رهبر منی، هغه که چرې په دے خپله عقیده کښے ریښتینے وی نو هغه هیڅکله دا نه شی کولے چه خپله رائے او خپل خیال د الله او د رسول د فیصلے نه وړاندې کړي، یا په معاملاتو کښے آزاده رائے قایم کړي او د خپلو معاملاتو فیصلے د خپله ځانه اوکړي او دا هیڅ فکر ورسره نه وی چه په دے معاملاتو کښے د الله او د هغه د رسول څه حکم شته او که نه، او که شته نو هغه څه دے۔ په دے وجه حکم شوے دے چه اے مومنانو، د الله او د هغه د رسول نه "ځان مه وړاندې کوئ" یعنی د هغوئ نه مخکښے مه ځئ بلکه روستو ځئ پیشوا مه جوړوئ تابع جوړ شئ۔ دا حکم د سورة احزاب آیت ۳۶ د حکم نه یو قدم وړاندې دے۔ هلته فرمایلے شوے وو چه د کوم معاملے فیصله الله او د هغه رسول کړې وی نو یو مومن ته دا اختیار نشته چه د هغے په باره کښے د خپله ځانه یوه جُدا فیصله اُوکړي۔ او دلته دا فرمایلے شوے دی چه مومنان ته د خپلو معاملاتو په فیصلو کولو کښے خپل ځان نه وړاندې کوی یعنی د خپلو معاملاتو فیصلے د خپله ځانه نه کوی بلکه کوری چه د الله په کتاب کښے او د هغه د رسول په سنتو کښے د هغے په حقله څه حکم ملاویږی دا حکم یوازے د مسلمانانو د انفرادی معاملاتو د حد پورے محدود نه دے بلکه په دے کښے د مسلمانانو اجتماعی معاملات هم شامل دی۔ په حقیقت کښے دا د اسلامی قانون بنیادی دفعه ده چه د دے د پابندی نه نه د مسلمانانو حکومت آزاد دے شی، نه عدالت او نه قانون ساز مجلس۔ په مُسند احمد، ابوداؤد

ترمذی او ابن ماجه کښے د روایت د صحیح سند و نو سره نقل کړے شوے دے چه کله نبی صلی الله علیه وسلم یمن ته حضرت معاذ بن جبل د عدالتی حکم په حیثیت سره لیږلو نو نبی د هغه نه پوښتنه اوکړه چه "ته به د کوم څیز مطابق فیصله کوے؟" هغه عرض اوکړه چه "د الله د کتاب مطابق". نبی پوښتنه اوکړه "که چرے د الله په کتاب کښے د یوے معاملے حکم ملاو نه شی نو بیا به کوم څیز ته رجوع کوے؟" هغه اووئیل "د رسول الله سنتو ته". نبی اوفرمایئل "که چرے په هغے کښے هم څه ملاو نه شی؟" هغه عرض اوکړو "بیا به زه پخپله اجتهاد کوم". په دے خبره نبی د هغه په سینه لاس کښنود و او وے فرمایئل "شکر دے د هغه الله چه هغه د خپل رسول نمایئنده ته هغه لار اوښودله کومه چه د هغه د رسول خوښه ده". په خپل اجتهاد باندے د الله کتاب او د رسول سُنّت هغه کښے کول او د هدایت حاصلولو د پاره د تولو نه اول هغے ته رجوع کول، دا هغه څیزونه دی چه د یو مسلمان حج او د غیر مسلمان حج په منځ کښے فرق راولی. دغه شان د قانون جوړولو په معامله کښے په دے خبره قطعی طور اتفاق دے چه د قانون د تولو نه اولنے بنیاد د خدائے کتاب دے او د هغے نه روستو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سُنّت دی. د تول اُمت اجماع نه د دے دواړو نه خلاف کیدے شی او نه د دے دواړو نه آزاده کیدے شی نو لاد یو اُمتی قیاس او اجتهاد به دے نه څنګه خلاف یا آزاد شی۔

۲ یعنی که تاسو چرته د الله او د هغه د رسول نه بے پروا شوئ او خپل اختیار مو شروع کړو یا مو خپله رائے او خپل خیال د هغوئ په حکم باندے ورپاندے کړو نو پوهه شئ چه ستاسو معامله د هغه خدائے سره ده چه هغه ستاسو تولے خبرے آوری او ستاسو د نیتونو نه هم خبر دے۔

۳ دا ادب هغه خلقو ته بنودلے شوے وُو څوک چه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مجلس کښے کیناستل او د هغه خدمت کښے به حاضریدل. دے ته غږ ورځ مومنان د نبی سره په ملاقات کولو کښے او په خبرو اترو کښے د هغه د عزت د یر خیال اُوساتی. د چا آواز د د نبی د آواز نه اُوچت نه وی. د نبی سره د خبرو اترو کولو په وخت کښے د خلق دا خبره نه هیروی چه هغوئ د یو عام سړی سره یا د خپل څان برابر سړی سره خبرے کوی بلکه د الله د رسول سره خبرے کوی. په دے وجه د یو عام سړی سره په خبرو اترو کولو کښے او د نبی سره په خبرو اترو کولو کښے بنکاره فرق پکار دے او هیڅوک له پکار نه دی چه د نبی سره په اُوچت آواز خبرے اوکړی۔

دا ادب اګرچه د نبی صلی الله علیه وسلم د مجلس د پاره بنودلے شوے وُو او دا حکم نیغ په نیغه هغه خلقو ته وُو څوک چه د نبی په زمانه کښے موجود وُو، لیکن روستنو خلقو له پکار دی چه کله د نبی ذکر کیږی، یا د هغه حکم اورولے کیږی، یا د هغه احادیث بیانیږی نو چه د هغے هم د غے سے ادب اوکړی. دے نه علاوه دا خبره هم د دے آیت نه راوُځی چه د خپل څان نه د مشرانو او بزرګانو خلقو سره په خبرو اترو کښے څه طریقه اختیارول پکار دی. څوک چه د خپلو مشرانو په مجلس کښے هغسے خبرے کوی لکه څنګه چه هغه د خپلو دوستانو یا د عامو خلقو په مجلس کښے خبرے کوی، نو دا په اصل کښے د دے خبرے علامه ده چه د هغه په زړه کښے د هغوئ د پاره څه احترام نشته او هغه په خپلو مشرانو کښے او په عامو خلقو کښے هیڅ فرق نه کوی۔

۴ د دے حکم نه معلومیږی چه په دین کښے د رسول الله د ذات د بزرګئ څومره اهم مقام دے. د رسول پاک

إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ
امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ ۚ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٣﴾
إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤﴾
وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ

کوم خلق چه د الله د رسول ﷺ مخبر کولو په وخت کښے خپل آواز ونه لاندې ساتی هغوی په حقیقت کښے هم هغه خلق دی چه زړونه ئے الله تعالیٰ د تقوی د پاره آزمایلی دی، ۵ هغوی د پاره بخښنه ۶ او لوی اجر دے

اے نبی کوم خلق چه تاته د کور د بهرنه نعرے وهی په هغوی کښے اکثر خلق بے عقله دی. که چرے هغوی ستا د راوتو پورے صبر کولے نو د هغوی د پاره بهتره وه، ۶ الله معاف کونکے

نه سوابل شوک، که په خپل خالق هر څومره د عزت قابل وی، خو د حیثیت په هیڅ حال کښے نه لری چه د هغه سره بے ادبی وکړی د الله په دربار کښے د هغے سزا مستحق وی کومه چه په حقیقت کښے د کفر سزا ده. دا د زیا تو نه زیاته بد تهیزی ده، د تهذیب نه خلاف یو حرکت دے. لیکن د رسول الله صلی الله علیه وسلم په عزت کښے د ذرے هومره کمی هم دومره لوی گناه ده چه په هغے سره د سړی د ټول عمر کمه بربادیږے شی. ځکه چه د نبی ﷺ عزت کول په اصل کښے د هغه خدائے عزت دے چا چه هغه د خپل رسول په حیثیت سره راپیژندلے دے او د هغه په عزت کښے کے کول د خدائے په عزت کښے کے کول دی.

۵ یعنی کوم خلق چه د الله په آزمینټو نو کښے پوره ختلی دی او دا ئے ثابته کړی ده چه د هغوی په زړونو کښے واقعی تقوی موجوده هم هغوی د الله د رسول ادب کوی او د هغه د عزت خیال ساتی. د دے حکم نه داخبره پخپله راڅرګنده چه په کوم زړه کښے د رسول عزت نه وی په حقیقت کښے هغه د تقوی نه خالی وی او د رسول د آواز د پاسه خپل آواز اوچتول یوازے په ظاهره بد تهذیبی نه ده، بلکه په باطن کښے د تقوی د نیشوالی علامه ده.

۶ د نبی ﷺ په مبارکه زمانه کښے چه کوم خلق د هغه په مجلس کښے د سیدلی وو او د اسلامی آداب او د اسلامی تهذیب تربیت ئے موندلے وو هغوی خو به همیشه د هغه د وختونو لحاظ ساتلو. د هغوی سره د دے خبرے پوره فکر وو چه نبی ﷺ د الله په کار کښے څومره مصروف ژوند تیروی، او د دے پیغمبری کار په دوران کښے څه وخت ضرورت د هغه د آرام د پاره، څه وخت د هغه د خپلو اهمو کارونو د پاره او څه وخت د هغه د خپلو کورنی معاملاتو د پاره هم پکار دے. نو هغوی به د هغه سره د ملاقات کولو د پاره په هغه وخت کښے راتلل څه وخت چه به هغه د کور نه بهر را وتلو، او چه به هغه لانډ وورا وتلے نو د هغه د راوتلو انتظار به ئے کولو او د سخت ضرورت نه بغیر به ئے هغه له د بهر را وتلو تکلیف نه ورکولو. لیکن د عرب و خلق تر لاپه هغه وخت کښے د سر پټوب او د اخلاقو تربیت نه وو ملاوشوے، نو په هغوی کښے به داسے شریر

رَّحِيمٌ ۝٥ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْٓا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًۢا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰي مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ۝٦

اور رحم کونکے دے ۔ ۵

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، که چرے یو فاسق تاسو ته څه خبر راوړي نو تحقیق ئے کړئ هسے نه چه تاسو پوهے ولے ته په ناپوهئ کښے نقصان ورا ورسوئ او بیا په خپلو کړو پښیمانه نه یئ ۔ ۶

کسان هم د نبئ ملاقات له راتلل چه د هغوئ داخیال وو چه څوک د دعوت الی الله او د خلقو د اصلاح کار کوی نو هغه ته په هیڅ وخت کښے د آرام کولو حق نشته ، او زمونږ د حق دے چه د شپے او د ورځے کله او غواړو نو هغه له به ورځو او د هغه د فرض دی چه کله مونږه راشو نو هغه به زمونږ سره د ملاویدو وپاره تیار وی ۔ په داسے قسم خلقو کښے به عام طور ، او د عربو د خو اوشانه چه به کوم خلق راتلل په هغوئ کښے به خاص طور حیني داسے بے ادبه خلق هم وو چه کله به د نبئ ملاقات له راتلل نو د نوکر په ذریعه د اطلاع ورکولو تکلیف به ئے نه کولو بلکه د پاکو بیبیانو د کور دونو نه به تاویدل او د بهر نه به ئے نعره وهله ۔ دا قسم درواقعات په احادیثو کښے صحابو بیان کړی دی ۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به په دے خبره سخت تکلیف رسیدو لیکن د خپل صبرناک طبیعت په وجه به هغه دا تکلیف برداشت کولو ۔ آخر د اچه الله تعالیٰ په دے بے ادبئ او بد اخلاقئ باندے خلق ملامته کړل او دا هدایت ئے ورته اوکړو چه کله تاسو د نبئ ملاقات له راشئ او هغه بهر موجود نه وی نو په ځائے د دے چه د بهر نه نعرے اروهئ ، تاسو په صبر سره کینئ او هغه وخت انتظار اوکړئ چه هغه بخپله ستاسو ملاقات له بهر راوځی ۔

۵ یعنی د اوسه پورے چه څه اوشو هغه اوشو ۔ که د آیندې د پاره دا غلطی دوباره اونه کړے شوه نو الله تعالیٰ به مخکینی کناهونه معاف کړی او د خپل رحم په وجه به هغه خلق نه رانیسی چا چه د هغه رسول ته دا قسم تکلیفونه ورکړل ۔

۶

اکثر مفسرین وائی چه دا آیت د ولید بن عُقبه بن ابی مُعیط په بارہ کښے نازل شوے دے ۔ د دے قیصه داده چه بنی المصطلق قبیله کله مسلمانه شوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ ته ولید بن عُقبه اولیږو چه د هغوئ نه زکوٰة وصول کړی ۔ دے چه د هغوئ علاقے ته اورسید نو په څه وجه اویریدو او د قبیلے والو سره ملاونه شو ۔ مدینے ته واپس راغے او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئے شکایت اوکړو چه هغوئ د زکوٰة ورکولو نه انکار کړے دے او زما وژلو ته تیار وو ۔ نبئ چه دا خبر واوریدو نو سخت خفه شو او اراده ئے اوکړه چه د دے خلقو د سزا د پاره څه خلق اولیږی ۔ په حُنینو روایتو کښے راغلی دی چه نبئ څه خلق لیږلی وو او په حُنینو کښے راغلی دی چه بس لیږل ئے ۔ بهر

حال پہ دے خبرہ دَ تولو اتفاق دے چہ دَ بنی المصطلق سردار حارث بن ضرار (چہ دَ اُم المومنین حضرت جویریہؓ پلار وُو) پخپلہ دَ یوے ډلے سرہ دَ نبیؐ پہ خدمت کښے حاضر شو او عرض ئے اُوکړو چہ پہ خدائے مې قسم وی موبږہ خوولیدل لیدلے هم نۀ دے نو دَ زکوٰۃ نہ انکار او دَ هغہ دَ وژلو خیال څنګہ اوشو، موبږہ پہ ایمان باندې مضبوط ولاړ یو او دَ زکوٰۃ ورکولو نه هم کزا انکار نۀ کوُو۔ پہ دے باندې دا آیت نازل شو۔ دَ لږ شان لفظی اختلاف سره دا قیصہ امام احمد، ابن ابی حاتم، طبرانی او ابن جریر دَ عبداللہ بن عباس، دَ حارث بن ضرار، دَ مجاهد، دَ قتاده، دَ عبدالرحمٰن بن ابی لیلیٰ دَ یزید بن رومان، دَ ضحاک او دَ مُقاتل بن حیّان نه نقل کړې ده۔ دَ حضرت اُمِّ سلمےٰ پہ روایت کښے دا ټوله قیصہ بیان شوې خو هم دغسے ده لیکن پہ هغے کښے دَ ولید نوم نۀ دے ځکه ذکر کړے شوے۔

پہ دے نازکه موقعه چه پہ یوے بنیاد خبر باندې دَ اعتماد کولو پہ وجه یوه لویه غلطی کیدونکی وه خواُونۀ شوه، اللہ تعالیٰ مسلمانانو ته دا اُصولی حکم اُوکړو چه کله تاسو ته یو داسے غټ خبر ملاوَ شی چه دَ هغے یوه لویه نتیجه را وتونکی وی، نو پہ هغے باندې دَ عمل کولو نه مخکښے دا تحقیق اوکړئ چه خبر را وړونکے څنګه سړے دے۔ که هغه یو فاسق سړے وی، یعنی که دَ هغه ظاهری حال نه دا معلومیږی چه دَ هغه خبره دَ باور سے لائقه نۀ ده، نو دَ هغه په خبر باندې دَ عمل کولو نه مخکښے تحقیق اُوکړئ چه حقیقت څه دے۔ دَ اللہ تعالیٰ دَ دے حکم نه یوه داسے اهمه شرعی قاعده را اُوځی چه پہ هغے باندې دَ عمل کولو میدان ډیر فراښه دے۔ دَ دے حکم ترڅنګه دَ مسلمانانو حکومت له دا جائز نۀ دی چه دَ بے اعتماده مُخبر انو پہ خبر باندې دَ یو بل سړی یا دَ یوے ډلے یا دَ یو قوم خلاف څه کارروائی اوکړی۔ هم دَ دے قاعدے پہ بنیاد یا نور محدثینو پہ علم حدیث کښے دَ جرح او دَ تعدیل فن ایجاد کړو او پاره دَ دے چه دَ هغه خلقو دَ حالاتو تحقیق اُوکړی چه دَ هغوئ پہ ذریعه روستنو نسلونو ته دَ نبی صلی اللہ علیہ وسلم احادیث رسیدلی وُو، او فقهاوو دَ شهادت پہ قانون کښے دا اُصول قایم کړو چه پہ یوه داسے معامله کښے چه دَ هغے نه یو شرعی حکم ثابتیږی، یا پہ یو انسان باندې څه حق راځی، دَ فاسق سړی گواهی قبول نۀ دَ۔ البته پہ دے خبره دَ عالمانو اتفاق دے چه پہ عامو دُنیاوی معاملاتو کښے دَ هر خبر تحقیق کول او دَ خبر را وړونکی پہ حقله څیړل بړوسه را وستل څه ضروری خبره نۀ ده، ځکه چه پہ آیت کښے لفظ نَبَأ استعمال شوے دے او نبأ هر خبر ته نۀ وائی بلکه یو اهم او غټ خبر ته وائی۔ پہ دے وجه فقهاء وائی چه پہ عامو معاملاتو کښے دا قاعده نۀ جاری کیږی۔ مثلاً ته دَ چا کره ځے او کور ته دَ ننوتو اجازت اوغواړے او دَ دننه نه څوک راشی او اُووائی چه راځه، نو تۀ دَ هغه پہ ویلو دننه تلے شے اګر که دَ کور والو دَ طرف نه دَ اجازت خبر ورکونکے سړے فاسق وی او که صالح وی۔ دغه شان دَ عالمانو پہ دے خبره هم اتفاق دے چه کوم خلق دروغژن او بد عمله نۀ وی خو عقیده ئے خرابه وی نو دَ هغوئ شهادت هم قبلیدے شی او خبر هم۔ یوازے دَ هغوئ دَ عقیدے دَ خرابتیا پہ وجه دَ هغوئ شهادت یا روایت ردیدے نۀ شی۔

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۭ لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ
لَعَنِتُّمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ
وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ۭ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ
الرّٰشِدُوْنَ ۙ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۸

جنبہ پوہ شئ چہ ستاسو په منځ کښے د الله رسول موجود دے ۔ که چرے هغه په دیرو معاملاتو کښے ستاسو خبره منل شروع کړی نو تاسو به پخپله په مشکلاتو کښے اخته شئ[۹] لیکن الله تاسو ته د ایمان محبت درنصیب کړو او هغه ستاسو زړونو ته غوړیز کړو، او کفر او فسق او نافرمانی ئے درته بده بنکاره کړه ۔ دغسے خلق د الله په فضل او احسان سره په نیغه لار روان دی[۱۰] او الله علیم (یعنی په هر څه پوهه) او حکیم (یعنی د حکمت خاوند) دے[۱۱]

۹ داخبره د وړاندے روستو عبارت نه هم معلومیږی، او دیرو منسرینو هم دے آیت نه دا مطلب اخستے دے چه د بنی المصطلق قبیلے په معامله کښے ولید بن عقبه کوم خبر راوړے وو په هغے باندے نبی صلی الله علیه وسلم د هغوی خلاف په فوجی کارروائی کولو کښے تلوار نه کوله، لیکن حُنینو خلقو کښے زُور اُوکړو چه په هغوی د فوراً حمله اُوکړے شی ۔ په دے باندے هغه خلقو ته خبردارے ورکړے شوے چه تاسو د اخبره مه هیرے چه ستاسو په منځ کښے رسول الله صلی الله علیه وسلم موجود دے چه هغه ستاسو په فائده ستاسو نه زیات پوهیږی۔ ستاسو دا خیال چه په دومعاملاتو کښے کومه رائے تاسو ته مناسبه بنکاره شی هم په هغے د عمل اُوشی۔ دا سخته بے ځایه خیال دے ۔ که چرے د غسے ستاسو په دینا عمل کولو شروع شی نو په دیرو موقعو کښے به داسے غلطیانے اُوشی چه د هغے سزا به هم ستاسو سره راشی ۔

۱۰ مطلب دا دے چه تولو مومنانو دا غلطی اُونه کړه بلکه یوځو کسان وُو چه دا ئے غوښتله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د زمونږ د رائے مطابق کار اُوکړی ۔ او د کومو مومنانو دله چه په نیغه لار قایم پاتے شوے د هغے وجه دا ده چه الله تعالیٰ په خپل فضل او احسان سره د ایمان لار هغوی ته خوښه او غوړیزه کړی ده او د کفر او د فسق او د نافرمانی لارے هغوی ته بده بنکاره کړی ده ۔ د دے آیت په دوُو حصو کښے خبرُه دوُه جُدا جُدا دلوته شوی ده ۔ په لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ کښے خطاب تولو صحابو ته نه دے بلکه هغه خاص صحابو ته دے چه هغوی دا زور لکولے وُو چه په بنی المصطلق قبیلے باندے حمله اُوشی ۔ او په وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمْ کښے خطاب عام صحابو ته دے چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په محکمے پیغام خپلے رائے له هیڅکله زور نه ورکوُو بلکه په نبی پیغمبر ئے پوره اعتماد وُو، او همیشه به ئے د هغه خبره منله او هم دا د ایمان تقاضا ده ۔ دے نه دا نتیجه نه راوُځی چه کوم خلقو خپلے رائے له زور ورکوُو د هغوی کنی د ایمان سره محبت نه وُو ۔ بلکه دے نه چه کومه خبره راوُځی هغه دا ده چه د بے فکرئ په وجه د هغوی نه د ایمان

وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَى الْاُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى

او کہ چرے د مومنانو دوہ ډلے په خپل منځ کښے اُوجنګیږی[۱۲] نو د هغوی په منځ کښے صُلح اُوکړئ[۱۳]۔ بیا که چرے په هغوی کښے یو ډله په بله ډله باندې زیاتے اُوکړی نو د زیاتی کونکی ډلے سره اُوجنګیږئ[۱۴] ان تر دے

د اتقاضا هیره شوی وه چه د هغے په وجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په موجودګی کښے خپلے راتلے له د ژور ورکولو غلطی اُوکړه۔ ځکه خو الله تعالیٰ اول هغوی په د غلطئ کولو باندې او د ډے په خراب انجام باندې خبردار کړل، او بیائے دا اُو فرمایئل چه د ایمان صحیح لار هغه ده په کومه چه عام صحابه روان دی۔

[۱۱] یعنی د الله د افضل او احسان څه د ریدو تقسیم نه دے۔ دا لوئی نعمت چه هغه چا له ورکوی نو د حکمت او د ډے علم په بنیاد باندې ئے ورکوی چه هغه د ډے مستحق دے۔

[۱۲] دا ئے نه دی فرمایئلی چه "کله د مومنانو دوه ډلے په خپل منځ کښے جنګ اُوکړی"، بلکه دا ئے فرمایئلی چه "که چرے د مومنانو دوه ډلے په خپل منځ کښے اُوجنګیږی"۔ د ډے الفاظو نه دا خبره پخپله را اُوځی چه په خپل منځ کښے جنګ کول د مومنانو کار نه دے او نه ئے پکار دی چه جنګ اُوکړی۔ نه د هغوی نه د ډے خبری توقع ده چه د ایمان باوجود به په خپل منځ کښے جنګ نه کوی۔ البته که چرے دا سے اُوشی نو بیا په هغه طریقه عمل پکار دے کوم چه وړاندې بیا بیږی۔ د ډے نه علاوه د ډلے د پاره هم د لفظ "فرقے" په ځائے لفظ "طائفه" استعمال کړے شوے دے۔ په عربی ژبه کښے فرقه د ډلے د پاره او طائفه د ورے ډلے د پاره ویلے کیږی۔ د ډے نه هم دا خبره راڅرګنده یږی چه د الله تعالیٰ په نظر کښے دا یو ډیر ناخوښه حالت دے چه په دے کښے د مسلمانانو لُویو لُویو ډلو له اخته کیدل نه دی پکار۔

[۱۳] دا حکم هغو ټولو مسلمانانو ته دے څوک چه په دے دوو ډلو کښے شامل نه وی، او څوک چه د هغوی پ منځ کښے د صُلحے کوششونه کولے شی۔ یعنی د الله تعالیٰ په نزد مسلمانانو دا کار نه دے چه د هغوی د ملّت دوه ډلے د ډے په خپلو کښے جنګونه کوی او هغوی د ډناست وی د هغوی تماشه ډکوی۔ بلکه دا د افسوس نه ډک حالت چه کله را پیدا هم شی، نو ټولو مومنانو له پکار دی چه فکرمند شی او د هغوی د اصلاح د پاره چه تر څو مره کیدے شی هغومره کوشش ډ اوکړی۔ دوارو ډلو ته د نصیحت اُوشی چه د جنګ نه منع شی۔ هغوی د خدائے نه اُوېروے شی۔ بالاخره خلق د دوارو ډلو د ذمه وار و خلقو سره ملاؤ شی۔ د جګړے اسباب د معلوم کړی۔ او د خپله وسه پورے د هر هغه کوشش اوکړی چه په هغے سره د هغوی په منځ کښے صُلحه راتلے شی۔

[۱۴] یعنی د مسلمانانو دا کار هم نه دے چه هغوی د زیاتی کونکی خلق زیاتی کولو ته پریږدی او چه په چا زیاتے کیږی هغوی د په خپل حال پریږدی، یا دا اُو لټا د زیاتی کونکو خلقو منګر تیا اُوکړی۔ بلکه د هغوی فرض دا دے چه که چرے د دوارو ډلو په منځ کښے د صُلحے ټول کوششونه ناکام شی، نو بیا د ا اوکړی چه په حقه څوک دی او زیاتے څوک کوی۔ چه څوک په حقه وی د هغوی منګر تیا د اُوکړی او چه څوک زیاتے کوی د هغوی

فَفِيْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ فَآءَتْ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ

چه هغوی د الله حکم ته واپس راشی[۱۵]. بیا که چرې هغوی واپس راشی نو د هغوی په منځ کښے په انصاف سره صلح اوکړئ

سره د اوجنګیږی. دا ډیره جنګ حکم چونکه الله تعالیٰ کړه ده نو په ده وجه دا واجب دے او د جهاد په حکم کښے راځی. دا په هغه فتنه کښے نه شمارېږی د کوم په حقله چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه القائم فیها خیرٌ من الماشی والقاعد فیها خیرٌ من القائم (په هغے کښے ولاړ سړے د روان نه، او ناست سړے د ولاړ نه بهتر دے). حکمه چه د هغه فتنے نه خو مراد د مسلمانانو په خپل منځ کښے هغه جنګ دے چه په هغے کښے دوه ډلے قصداً د ناروا کار د پاره، او د جاهلی ضد د را تپینکو لو د پاره او د دُنیا د پرولو د پاره جنګیږی او په دواړو ډلو کښے یوه ډله هم پرحقه نه وی. پاتے شو دا جنګ چه د زیاتی کونکے ډلے په مقابله کښے د حق ډلے د ملګرتیا د پاره کیږی، نو دا په فتنه کښے حصه اغستل نه وی بلکه د الله تعالیٰ حکم منلے دی. د ټولو فقهاؤ په دے اتفاق دے چه دا جنګ واجب دے او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحابو کښے د دے په واجب کیدو کښے هیڅ اختلاف نه وو (احکام القرآن للجصاص). بلکه حُسینی فقهاء خو دا جهاد نه هم غوره کنړی او د هغوی دلیل دا دے چه حضرت علیؓ د خلافت خپله ټوله زمانه د کافرانو سره د جهاد کولو په ځای د باغیانو سره په جنګ کولو کښے تیره کړه. (رُوح المعانی) د دے په نه واجب کیدو کښے څوک دا خبره په دلیل کښے پیش کوی چه د حضرت علیؓ په دے جنګونو کښے حضرت عبد الله بن عُمر او حُسینو نورو صحابو حصه نه وه اغستے نو هغه په غلطه دے. ابن عُمر په خپله فرمائی چه "ما وجدت فی نفسی من شئ ما وجدت من هذه الآیة اَنّی اقاتل هذه الفئة الباغیة کما امرنی الله تعالیٰ". (المستدرک للحاکم، کتاب معرفة الصحابه، باب الدفع عمن قعدوا عن بیعة علی). "ما ته په زړه کښے دومره خفګان نه دے را غلے لکه څومره چه د دے آیت په وجه راغے، چه ما د الله د حکم مطابق د دے باغی ډلے سره جنګ اُونه کړو".

د زیاتی کونکے ډلے سره د "قتال" کولو د حکم خا مخا دا مطلب نه دے چه د هغوی خلاف د په وسلو سره جنګ اوکړے شی او ضرور د هغوی قتل کړے شی، بلکه د دے نه مراد د هغوی خلاف د طاقت استعمال دے، او اصل مقصد د هغوی زیاتے ختمول دی. د دے مقصد د پاره چه د کوم طاقت استعمال ضروری وی هغه استعمالول پکار دی او چه څومره طاقت استعمالول کافی وی، نه د هغے نه کم استعمالول پکار دی او نه د هغے نه زیات.

دا حکم هغه خلقو ته دے چه هغوی په دے خبره قادر وی چه د طاقت په استعمال سره زیاتے ختم کړی.

[۱۵] د دے نه معلومه شوه چه دا سزا باغی (یعنی زیاتی کونکی ډلے) لپاره بغاوت (یعنی د زیاتی) د سزا ورکولو د پاره نه ده بلکه د دے د پاره ده چه باغیان د الله حکم ته واپس مجبوره کړے شی. د الله د حکم نه مراد دا دے چه د الله د کتاب او د رسول الله د سنتو ترڅه کومه خبره حقه وی چه هغے قبلولو ته دا باغی ډله تیاره شی او کوم عمل چه د حق د دے معیار ترڅه زیاتے وی چه هغه پریږدی. او کله چه یوه باغی ډله د الله د دے حکم ته غاړه کیږدی او راضی شی نو په هغه وخت د هغوی خلاف د طاقت استعمال بندول پکار دی. حُکمی چه هم دا د قتال مقصد او آخری حد دے. د دے نه روستو چه څوک څه کوی

وَاَقْسِطُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ

او انصاف کوئ حکمہ چہ اللہ تعالیٰ انصاف کونکی خوښوی ۱۵ مومنان خو ډیو ډل

هغه ډیو ډلې زیاتی کوونکے وی۔ اُوس پاتے شوه د اخبره چه د اللہ د کتاب او د رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم د سنتو ترڅنګ په یو جنګ کښے حق څه دے او زیاتے څه دے، نو دا دے فیصله کول د هغه خلقو کار دے چه هغوئ په اُمت کښے د علم او د پوهے په لحاظ سره ډیر د تحقیق کولو خاوند وی۔

۱۶ یوازے د صُلحے کولو حکم نه دے بلکه د عدل او د انصاف سره د صُلحے کولو حکم دے۔ دا دے نه معلومه شوه چه د اللہ تعالیٰ په نظر کښے د هغے صُلحے هیڅ قدر نشته چه په هغے کښے د حق او د باطل لحاظ اُونه ساتلے شی او نه ش د ښکنګ د بند ولو د پاره صُلحه اُوکړے شی او چه کومه ډله په حقه وی هغوئ دباؤ کړے شی او د زیاتی کونکی ډلے سره بے جا یه رعایت اُوکړے شی. صُلحه هغه صحیح ده چه هغه د انصاف صُلح وی. هم په دے سره فساد ختمیږی، کینۍ او د حقے ډلے د دباو هلو او د زیاتی کونکو د حوصلے اُوچټ نتیجه به خامخا دا وی چه د فساد جړپه به په ځای پاتے وی، بلکه هغه به نور هم زیاتیږی، او د هغے نه به بار بار فساد راپورته کیږی۔

۱۷ د مسلمانانو په منځ کښے چه کله جنګ اُونخلی نو دا آیت د هغے په باره کښے د شرعی قانون اصلی بنیاد دے۔ دا دے قانون تشریح د رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم په سنتو کښے د یو حدیث نه سوا، چه وړاندے به مونږه ذکر اُوکړو، په بل ځای کښے نه ملاویږی، حکمه چه د نبیؐ په زمانه کښے د مسلمانانو په منځ کښے جنګ چرته راغلے نه دے چه د هغے په حقله د نبیؐ د عمل او د قول نه د هغے د حکمونو تفصیلات معلوم شی۔ روستو بیا دا دے قانون مستند تشریح په هغه وخت کښے اُوشوه کله چه د حضرت علیؓ د خلافت په زمانه کښے پخپله د مسلمانانو په منځ کښے جنګونه اُوشو۔ په هغه وخت کښے چونکه ډیر صحابه موجود وُو، نو په دے وجه د هغوئ د عمل نه او د دے په حقله چه هغوئ کوم حکمونه بیان کړی دی د هغے نه د اسلامی قانون دے ځای کښے تفصیلی قاعدے مقرر شوه۔ خاص طور د حضرت علی رضی اللہ عنه نمونه په دے معامله کښے د ټولو فقهاؤ اصل بنیاد دے۔ لاندے مونږه د دے قاعدے یوه ضروری خلاصه لیکو:

(۱) د مسلمانانو په خپل منځ کښے د جنګ ډیر صورتونه دی چه د هغے حکمونه جُدا جُدا دی۔

(الف) چه جنګ کونکی د وارې ډلے د یو مسلمان حکومت رعیت وی۔ په دے صورت کښے د هغوئ په منځ کښے صُلح کول، یا دا فیصله کول چه په هغوئ کښے زیاتی والا څوک دے، او د طاقت په زور هغه حق طرفته مجبوره کول د حکومت کار دے۔

(ب) چه جنګ کونکی ډلے دوه ډیرے غټے غټے ډلے وی، یا دوه مسلمانان حکومتونه وی، او د دوارو جنګ د دُنیا د پاره وی۔ په دے صورت کښے د مومنانو کار دا دے چه په دے فتنه کښے د هیڅ اغښتونه قطعی ځان ساتی او دوارو ډلو ته د خدائے ټره وړاندے کوی او د جنګ بند ولو نصیحت د ورته کوی۔

(ج) جنګ کونکی هغه دوه ډلے چه په جُز (ب) کښے ئے ټره ذکر شوے دے، په هغوئ کښے یوه ډله

پہ حقہ وی او بلہ۔ زیاتے کوی، او پہ نصیحت سرہ صُلحے تہ نہ تیاریږی۔ پہ دے صورت کښے د مومنانو کار دا دے چہ د زیاتی کونکی د لے خلاف د د حق د د لے ملکرتیا اُوکړی۔

(د) پہ دوُر د لو کښے چہ یوہ د لہ رعیت وی او هغوی د حکومت، یعنی د مسلمانانو د حکومت خلاف خروج کړے وی۔ فقہاء دے خروج کونکی د لے تہ "باغی" وائی۔

(۲) باغی، یعنی د حکومت خلاف خروج کونکی د لہ هم پہ دیر قسمہ کیدے شی:

(الف) هغہ د لہ چہ صرف فساد پورتہ کولو د پارہ پاسیدلی وی او د دے خپل خروج د پارہ د رسرہ هیڅ شرعی دلیل نہ وی۔ د هغوئ خلاف د حکومت جنگ پہ اتفاق سرہ جائز دے او د هغہ ملکرتیا کول پہ مومنانو باندے واجب دہ، کہ حکومت عادل وی او کہ نہ وی۔

(ب) هغہ د لہ چہ د حکومت اړ ولو د پارہ خروج اوکړی او د هغوئ سرہ هیڅ شرعی دلیل نہ وی بلکہ د هغوئ د ظاهر حال نہ دا معلومیږی چہ هغوئ ظالمان او فاسقان دی۔ پہ دے صورت کښے کہ چرے حکومت عادل وی نو بیا خو د هغہ ملکرتیا بے ویٹا واجب دہ، لیکن کہ چرے حکومت عادل نہ هم وی نو د هغے حکومت د برقرار ساتلو د پارہ جنگ واجب دے د دے کوم پہ ذریعہ چہ فی الحال د وطن نظم قایم دے۔

(ج) هغہ د لہ چہ د یو شرعی دلیل پہ بنیاد باندے د حکومت خلاف خروج اوکړی، لیکن د هغوئ دلیل باطل وی او د هغوئ عقیدہ فاسدہ وی مثلاً خوارج۔ پہ دے صورت کښے هم، مسلمان حکومت خواہ کہ هغہ عادل وی او کہ نہ وی، د هغوئ سرہ د جنگ کولو جائز حق لری او د هغہ ملکرتیا واجب دہ۔

(د) هغہ د لہ چہ د یو دا سے عادل حکومت خلاف خروج اوکړی چہ د هغے مشر پہ جائزہ طریقہ جوړ کړے شوے وی۔ پہ دے صورت کښے کہ د هغوئ سرہ څہ شرعی دلیل وی او کہ نہ وی، بهرحال د هغوئ سرہ د جنگ کولو حق حکومت تہ حاصل دے او د هغہ ملکرتیا واجب دہ۔

(ھ) هغہ د لہ چہ د یو دا سے ظالم حکومت خلاف خروج اوکړی چہ د هغے مشر پہ زور نا ستے او حاکمانہ فاسقان وی، او خروج کونکی د عدل د پارہ او د اللہ د حدودو قائمولو د پارہ پاسیدلی وی او د هغوئ د ظاهر حال نہ دا معلومیږی چہ هغوئ پخپلہ نیکان خلق دی۔ پہ دے صورت کښے هغوئ تہ "باغیان" یعنی زیاتی کونکی وئیل او د هغوئ خلاف جنگ کولو تہ واجب وئیل د فقهاؤ پہ منځ کښے سخت اختلاف خبرہ دہ، چہ دلتہ مونږہ مختصر بیانوو۔

د جمهور فقهاؤ یعنی د اکثر و فقهاؤ او د اهل حدیثو رائے دا دہ چہ د کوم امیر مشری یو خُل قائمہ شوی وی او د وطن امن و امان او نظم و نسق د هغہ د انتظام لاندے چلیږی خواہ کہ هغہ عادل وی او کہ ظالم وی، او د هغہ مشری کہ پہ هره طریقہ قایمہ شوی وی، د هغے خلاف خروج کول حرام دی، ماسوا د دے نہ چہ هغہ څرګند کفر اوکړی۔ امام سرخسیؒ لیکی چہ "کلہ مسلمانان د یو مشر جوړ کړی او د هغہ پہ وجہ ورتہ امن حاصل وی او لارے محفوظ وی، پہ دا سے حالت کښے کہ د مسلمانانو یوہ د لہ د هغہ خلاف خروج اوکړی نو څوک چہ د جنگ طاقت لری پہ هغہ باندے واجب دی چہ د مسلمانانو د د غے مشر یا حاکم سرہ ملګرے شی او د خروج کونکو خلاف

جنګ اوکړي" (المبسوط، باب الخوارج) ۔ امام نووی د مسلم په شرح کښے وائی چه" د امامانو یعنی د مسلمانانو د بادشاهانو (مشرانو) خلاف خروج او جنګ حرام دے، خواه که هغه بادشاه فاسق او ظالم وی" او امام نووی دا دعوی کوی چه په دے باندے اجماع هم شوی ده ۔

لیکن په دے باندے د اجماع دعوی صحیح نه ده ۔ د اسلام د فقهاؤ یوه لویه ډله چه په هغے کښے لوئی لوئی عالمان شامل دی، خروج کونکو خلقو ته صرف په هغه صورت کښے" باغیان" وائی چه هغوی د عادل امام خلاف خروج اوکړي ۔ د ظالمانو او فاسقانو مشرانو خلاف چه نیکان خلق خروج اوکړي نو هغے ته هغوی د قرآن مجید د اصطلاح مطابق "بغاوت" نه وائی او نه د هغوی خلاف جنګ کولو ته واجب وائی ۔ د ظالم بادشاه سره د جنګ کولو په معامله کښے د امام ابوحنیفهؒ طریقه عالمانو ته معلومه ده ۔ ابوبکر جصّاص په احکام القرآن کښے صفا لیکی چه امام صاحب دے جنګ ته نه ږیوازے جائز وائی بلکه ساز کار حالا تو کښے ورته واجب وائی (اول جلد، ص ۸۱، دویم جلد ص ۳۹) ۔ د بنی اُمیّه خلاف چه زید بن علی کوم خروج کړے وُو په هغے کښے هغه نه ږیوازے مالی امداد اوکړو بلکه نورو خلقو ته ئے هم ویلی اوکړه (الجصّاص ج ۱، ص ۸۱) ۔ د منصور خلاف د نفس زکیّه په خروج کښے هغه ډیر په سرګرمئی سره د نفس زکیّه حمایت کولو او د ے جنګ ته ئے د کافرانو سره د جهاد کولو غوره جنګ وئیلو (الجصّاص ج ۱، ص ۸۱ ۔ مناقب ابی حنیفه للکردری ج ۲، ص ۱۷۰) بیا حنفی فقهاء هم په هغه مسلک باندے متفق نه دی کوم چه امام سرخسی بیان کړے دے ۔ ابن همام د هدایه په شرح الفتح القدیر کښے لیکی چه الباغی فی عرف الفقهاء الخارج عن طاعة امام الحق" د فقهاء په عُرف کښے باغی هغه ته وائی چه د حق امام د اطاعت نه اُوځی" په حنبلیانو کښے ابن عقیل او ابن الجوزی د غیر عادل (یعنی ظالم) امام خلاف خروج ته جائز وائی او په دے باندے دلیل د حضرت حسین خروج پیش کوی (الانصاف ج ۱۰، باب قتال اهل البغی) امام شافعیؒ په کتاب الاُم کښے باغی هغه سړی ته وائی چه هغه د عادل امام خلاف جنګ کوی (جلد ۴، ص ۱۳۵) ۔ په المدوّنه کښے د امام مالک مسلک دا نقل کړے شوے دے چه" که د عادل امام خلاف خروج کونکی د جنګ د پاره وا اُوځی نو د هغوی خلاف د جنګ اوکړے شی" (جلد اول ص ۴۰۰) ۔ قاضی ابوبکر ابن العربی په احکام القرآن کښے د هغه دا قول را نقل کوی:" هر کله چه یو سړے د عمر بن عبدالعزیز غوندے عادل بادشاه خلاف خروج اوکړي نو د هغه دفعه کول واجب دی" او که بل قسم امام وی نو هغه په خپل حال باندے پریښودے شی ۔ الله تعالیٰ به د ے یو بل ظالم په ذریعه هغه له سزا ورکړي او بیا به د ے دریم ظالم په ذریعه هغه دواړو له سزا ورکړي ۔" هغه د امام مالک یو بل قول دا نقل کړے دے:" هر کله چه د ے دوو امام سره بیعت یعنی لوز شوے وی او بیا د هغه رُوړ د هغه د مقابلے ته ودریږی نو د هغه سره به جنګ کیږی که چرے هغه عادل امام وی ۔ پاتے شوه دا زمونږ د زمانے امامان (یعنی بادشاهان) نو د دوئی د پاره څه بیعت نشته، ځکه چه د دوئی بیعت په زبردستئی سره اخستلے شوے دے" بیا د مالکی عالمانو چه کوم مسلک د سَحنُون په حواله سره قاضی صاحب بیان کړے دے هغه دا دے چه" جنګ خو به صرف د عادل امام په مقابله کښے کیږی خواه که اوسنے امام عادل وی یا هغه سړے چا چه د هغه خلاف خروج کړے وی ۔ لیکن که چرے دواړه عادلان نه وی نو د دواړو نه جُدا دُوئی،

البتہ کہ چرے پخپلہ پہ تاسو باندِ حملہ اُوشی یا مسلمانان مظلومان کیږی نو مدافعت (یعنی مقابلہ) کوئ۔ دِے مسلکونو دَ نقل کولو۔ روستو قاضی ابو بکر وائی لا نقاتل الا مع امامٍ عادل یقدمہ اھل الحق لانفسھم" مونږ بہ صرف دَ ھغہ عادل امام پہ ملکرتیا کښے جنګ کوو چہ ھغہ اھلِ حق خلقو دَ خپلے امامتی (یعنی مشرئ) دَ پارہ وراندِ کړے وی "

(۳) خروج کونکی خلق کہ چرے پہ کم تعداد کښے وی او دَ ھغوئ شاتہ دَ یوے لوئے ډلے حمایت نہ وی، او نہ ورسرہ زیات جنګی سامان وی، نو ھغوی دَ بغاوت پہ قانون کښے نہ راځی بلکہ دَ ھغوئ سړہ بہ دَ سزا احکامو دَ عام قانون مطابق سلوک کیږی، یعنی کہ ھغوئ قتل اُوکړی نو دَ ھغوئ نہ بہ قصاص اعتنلے کیږی او کہ دَ مال نقصان اوکړی نو دَ ھغے تاوان بہ ادا کوی۔ دَ بغاوت پہ قانون کښے صرف ھغہ باغیان راځی چہ دَ ھغوئ سرہ لوئ طاقت وی، او دَ لوئے ډلے او دَ ویرجنګی سامان سرہ خروج اوکړی۔

(۴) خروج کونکی خلق چہ ترڅو پورے خپلے فاسدے عقیدے ھسے بیانوی، یا دَ حکومت او دَ ھغے دَ سربراہ خلاف ھسے دَ بغاوت او دَ دُشمنئ خبرے کوی، نو ترھغے پورے بہ نہ ھغوئ قتلولے کیږی او نہ بہ قیدولے کیږی دَ ھغوئ خلاف بہ جنګ صرف پہ ھغہ وخت کښے کیږی کلہ چہ ھغوئ دَ وسلے سرہ عملاً بغاوت اوکړی او پہ مرکز ډوبلہ شروع اوکړی۔ (المبسوط، باب الخوارج۔ فتح القدیر، باب البغاۃ احکام القرآن للجصاص)۔

(۵) دَ باغیانو خلاف دَ جنګ شروع کولو نہ مخکښے بہ ھغوئ تہ دَ قرآن دَ ھدایت مطابق اُویلے شی چہ بغاوت پریږدئ او دَ انصاف لارا اختیار کړئ۔ کہ چرے دَ ھغوئ څہ شک شُبہے او اعذار صونہ وی نو دَ ھغوی دَ پوھ کولو کوشش بہ اوکړے شی۔ او کہ پہ دے ھم منع نہ شوا و دَ جنګ شروع دَ ھغوئ دَ طرفہ اُوشوہ نو پس دَ ھغے بہ دَ ھغوئ خلاف ثُورہ راختے کیږی۔ (فتح القدیر، احکام القرآن للجصاص)۔

(۶) دَ باغیانو سرہ بہ چہ پہ جنګ کولو کښے دَ کومو خبرو لحاظ ساتلے کیږی دَ ھغے بنیاد دَ نبی صلی اللہ علیہ وسلم ھغہ حدیث دے کوم چہ دَ حضرت عبداللہ پہ حوالہ حاکم، بزار او الجصاص نقل کړے دے: "نبیؐ دَ حضرت عبداللہ بن مسعودؓ نہ پوښتنہ اوکړہ چہ ابن اُمِّ عَبْد، پوھیږے چہ دَ دے اُمت دَ باغیانو پہ بارہ کښے دَ اللہ څہ حکم دے؟ ھغہ عرض اوکړو چہ اللہ او دَ ھغہ رسول ښہ پوھیږی۔ نبیؐ اُو فرمائیل دَ ھغوئ پہ زخمیانو بہ حملہ نہ کیږی، دَ ھغوئ قیدیان بہ نہ قتلولے کیږی، ھغوئ چہ تیښتہ اوکړی نو روستو بہ ورپسے نہ خُئ، دَ ھغوئ مال بہ دَ غنیمت پہ طور نہ تقسیمیږی۔" دَ دے تاعدے دویم بنیاد دَ حضرت علی رضی اللہ عنہ قول او عمل دے چہ دَ اسلام تولو فقھاؤ پرے اعتماد کړے دے۔ ھغہ چہ پہ جنګ جمل کښے فتح اوکړہ نو اعلان یے اوکړو چہ څوک تیښتہ اوکړی پہ ھغہ پسے روستو مہ خُئ، پہ زخمیانو حملہ مہ کوئ، چہ څوک بندی شوی وی ھغوئ مہ قتلوئ، څوک چہ وسلہ کیږدی ھغوئ لہ امن ورکړئ، دَ خلقو پہ کورونو کښے مہ ورننوزئ، او پہ نجونو حملے مہ کوئ اګرکہ ھغوئ تاسو تہ کنځلے کوی۔ دَ ھغوئ دَ فوج جینو خلقو مطالبہ اوکړہ چہ مخالفین او دَ ھغوئ بال بچے دِ غلامان کړے شی او تقسیم دِ کړے شی۔ ھغہ پہ دے غصہ شو او دے فرمائیل، پہ تاسو کښے څوک اُمّ المؤمنین حضرت عائشہؓ پہ خپلہ حصہ کښے اعتنلے غواړی؟

(۷) د باغیانو د مالونو حکم، چې کوم د حضرت علیؓ د عمل نه اغستلے شوے دے، هغه دادے چې د باغیانو مال که په لښکر کښے ملاؤ شوے وی او که د هغوئ نه روستو د هغوئ په کورونو کښے وی، او که هغوئ ژوندی او که مړه وی، بهرحال هغه به نه د مالِ غنیمت وی او نه به په فوج کښے تقسیمولے کیږی۔ البته چې د کوم مال نقصان شوے وی د هغے هیڅ ضمانت نشته۔ د جنګ د ختمیدو او د بغاوت د ختمید و نه روستو به د هغوئ مالونه هم هغوئ ته واپس ورکړے کیږی۔ د هغوئ وسله او سورلۍ که د جنګ په وخت کښے لاس له راشی نو هغه به د هغوئ خلاف استعمالیدے شی، لیکن نا تحیینوله به په ملکیّت کښے د مالِ غنیمت په طور نه شی ورکړے کیدے، او که چرے د هغوئ نه بیا د بغاوت یره نه وی نو د هغوئ د اخیزونه به هم هغوئ له واپس ورکړے کیږی۔ صرف د امام ابو یوسف رائے دا ده چې حکومت ته هغے نه غنیمت جوړوی (المبسوط، فتح القدیر، الجصّاص)۔

(۸) په بغاوت کښے چې کوم خلق ښیولے شوی وی د هغوئ نه به د اوعدہ اغستلے کیږی چې هغوئ به بیا بغاوت نه کوی، نو بس د هغے په آزاد ولے کیږی (المبسوط)

(۹) د وژلو شوو باغیانو نه سر پریکول او هغه د ځان سړکول سخت مکروه کار دے، حکه چې دا مُثله ده او د دے نه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړې ده۔ حضرت ابوبکرؓ له چې د روی بطریق سر راوړے شو نو هغه په سخت خفه شو او وے فرمایئل چې د رومیانو او ایرانیانو پشان کار کول زمونږ کار نه دے۔ هر کله چې دا کار د کافرانو سره ناروا دے نو د مسلمانانو سره خو خامخا ناروا دے (المبسوط)۔

(۱۰) د جنګ په دوران کښے چې د باغیانو د لاسه کوم جانی او مالی نقصان شوے وی، د جنګ د ختمید و او د امن تامید و نه روستو به د هغے هیڅ قصاص او تاوان په هغوئ نه راځی۔ نه به د یو مړی بدله د هغوئ نه اغستے کیږی او نه به پرځه مالی تاوان راوستے کیږی، د پاره د دے چې د فتنے وُوربیا لیه نه شی۔ د صحابه کرامو د مخیل منځ په جنګونو کښے هم د دے قاعدے لحاظ ساتلے شوے وُو (المبسوط۔ الجصّاص۔ احکام القرآن ابن العربی)۔

(۱۱) په کوم علاقو باندې چې باغیانو قبضه کړی وی او هلته هغوئ خپل انتظام شروع کړے وی او د خلقو نه ئے زکوٰۃ او نور محصولونه وصول کړی وی، بیا چې کله حکومت په هغه علاقو دوباره قبضه او کړی نو د خلقو نه به بیا دوباره د دغه زکوٰۃ او د دغه محصولونو مطالبه نه کوی۔ که چرے باغیانو دغه مالونه په شرعی طریقه خرچ کړی وی نو د الله په نزد هم د ورکونکو خلقو ذمه خلاصه وی، لیکن که چرے هغوئ په غیر شرعی طریقه خرچ کړی وی نو دا د اداکونکو خلقو او د هغوئ د خدائے په منځ کښے معامله ده۔ که هغوئ پخپله غواړی نو خپل زکوٰۃ بیا دوباره ادا کړی (فتح القدیر، الجصاص۔ ابن العربی)۔

(۱۲) باغیانو چې په خپله قبضه کړی علاقه کښے کوم عدالتونه قایم کړی وی، که د هغے قاضیان عادلان وی او د شریعت مطابق ئے فیصلے کړی وی، نو هغوئ به په خپل ځائے برقرار ساتلے کیږی اګرچه د هغوئ مقرر کونکی د بغاوت مجرمان خلق وُو۔ البته که چرے د هغوئ فیصلے غیر شرعی وی او د بغاوت د ختمید و نه روستو هغه فیصلے د حکومت عدالتونو ته راوړے شی نو هغه به نه جاری کړے کیږی۔ د دے نه علاوه د باغیانو د قایم کرد عدالتونو د طرفنه چې کوم وارنټ یا حکم جاری شوے وی هغه به د حکومت

إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٠﴾

رُونړه دی، نو د خپلورو نږدې تر مخه تعلقات صحیح کړئ او د الله نه اُوږیږئ اُمید دے چه په تاسو به رحم اوکړے شی ع

په عدالتونو کښے نه قبلولے کیږی (المبسوط۔ الجصاص)۔

(۱۳) د باغیانو گواهی په اسلامی عدالتونو کښے نه قبلولے کیږی ځکه چه د انصاف د خاوند او خلاف جنګ کول فسق دے۔ امام محمد وائی چه تر څو پورے هغوی جنګ نه وی کړے او د انصاف د خاوند او خلاف ئے عملاً خروج نه وی کړے نو د هغوی گواهی به قبلولے کیږی خو چه کله ئے جنګ اوکړو نو بیا به زړه د هغوی گواهی نه قبلوم (الجصاص)۔

دے حکمونو نه داخبره معلومیږی چه د کافرانو خلاف د جنګ په قانون کښے او د مسلمانانو خلاف د جنګ په قانون کښے څه فرق دے۔

۱۸ د دا آیت د دُنیا د تولو مسلمانانو تر مخه یوه فرابنه رورولی قایموی او دا دے برکت دے چه د بل دین یا د بل مسلک په خلقو کښے هغه رورولی نه وی کومه چه په مسلمانانو کښے وی۔ دے دے حکم الهیت او دے دے تقاضے رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو کنړو احادیثو کښے بیان کړی دی چه د هغے نه دے دے پوره مطلب واضحه کیږی۔

حضرت جریر بن عبد الله وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زمانه د دریو خبرو بیعت یعنی لوزا غښتو د۔ یو داچه مونځ به قایموم۔ دویم داچه زکوٰة به ورکوم۔ دریم داچه د هر مسلمان خیرخواه به یم۔ (بخاری۔ کتاب الایمان)

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه روایت دے چه نبی ﷺ فرمایلی دی "مسلمان ته کنځلی کول فسق دے او د مسلمان سره جنګ کول کفر دے" (بخاری۔ کتاب الایمان۔ په مسند احمد کښے هم دغسے روایت حضرت سعید بن مالک هم د خپل پلار نه نقل کړے دے)۔

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی "په هر مسلمان باندے د بل مسلمان مرګ، مال او عزت حرام دے" (مسلم کتاب البر والصلة۔ ترمذی، ابواب البر والصلة)۔

حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وائی چه نبی ﷺ فرمائی "یو مسلمان د بل مسلمان رورے هغه په هغه ظلم نه کوی، د هغه منګر تیا نه پریږدی، او د هغه بے عزتی نه کوی۔ د یو سړی د پاره دا شر دیر دے چه هغه د خپل مسلمان رور سپکاوے اوکړی" (مسند احمد)۔

حضرت سهل بن سعد ساعدی د نبی ﷺ دا حدیث روایت کوی چه "د مومنانو د ډلے سره د یو مومن تعلق هغسے دے لکه څنګه چه د سر سره د بدن تعلق وی۔ هغه تنده مومنانو تکلیف دا سے وررسی لکه څنګه چه سر ته د بدن د هر حصے درد وررسی" (مسند احمد)۔ هم داخبره په یو بل حدیث کښے ده چه نبی ﷺ فرمائی "د مومنانو مثال د یو بل سره په مینه محبت کښے، په تعلقاتو کښے او په یو بل باندے د رحم وکرم په معامله کښے دا سے دے لکه یو بدن چه د بدن یو اندام ته هم تکلیف وی نو تول

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۚ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، نړۍ دی سړی په نورو سړو پورے ټوقے کوی، کیدے شی چه هغوی د دوئی نه بهتر وی، اونړۍ ښځے په نورو ښځو پورے ټوقے کوی، کیدے شی چه هغوی د دوئی نه بهتره وی۔

بدن دهغے سره تبی ینولے وی او بے خوبه وی۔" (بخاری۔ مسلم)۔

په یو بل حدیث کښے د نبیؐ دا حدیث نقل کړے شوے دے چه "مومنان د یو بل د پاره د دیوال د منځو پشان وی چه هریو په بل مضبوط یږی۔" (بخاری۔ کتاب الادب۔ ترمذی۔ ابواب البر والصلہ)۔

۱۹ے په تیرو شوو دوو آیتونو کښے د مسلمانانو په خپل منځ کښے د جنګ په حقله ضروری هدایات ورکړے شوی وو۔ او د هغے نه روسته مومنانو ته دا خبره شوی وه چه د دین د پلکے رشتے په وجه تاسو د یو بل ورونړه یئ او تاسوله دا کوشش پکار دے چه د خدائے د یرے په خپل منځ کښے تعلقات صحیح ساتئ۔ اوس په وراندے دوو آیتونو کښے حکم کیږی چه د هغه بدو کارونو منع ښوے اوشی چه هغه عام طور د خلقو په منځ کښے تعلقات خرابوی۔ د یو بل په عزت باندے حمله کول، د یو بل زړونه آزارول، په یو بل باندے بدګمانی کول، او د یو بل عیبونه لټول، دا په حقیقت کښے هغه اسباب دی چه په دے سره په خپل منځ کښے دشمنیانے راپیدا کیږی او بیا چه نور اسباب ورسره ملګری شی نو لوئے لوئے فتنے تر جوړیږی۔ په دے سلسله کښے چه کوم حکمونه په وراندے نیولے آیتونو کښے ورکړے شوی دی او د هغے چه کومه تشریح په احادیثو کښے ملاویږی د هغے په بنیاد باندے د بے عزتئ کولو په تفصیلی قانون (Law of Libel) چه پریږده شی په دے معامله کښے د مغرب د بے عزتئ په قانون کښے دومره کمے دے چه یو سړے د هغے مطابق دعوی اوکړی چه زمایه عزتی شوی ده نو نور هم ورپسے بے عزته کیږی۔ دا ډیے برعکس اسلامی قانون د هر سړی د یو بنیادی عزت قائل دے چه په هغے باندے هیڅوک د حملے کولو حق حاصل نه دے، خواه که حمله واقعی وی او که نه وی، او چه په چا حمله شوی ده د هغه څه "عرفی حیثیت" وی او که نه وی تشه دا خبره چه یو سړی د بل سړی بے عزتی کړی ده د هغه د مجرم کیدلو د پاره کافی ده، سوا د دے نه چه د دغه بے عزتئ څه شرعی جواز ثابت کړے شی۔

۲۰ے د ټوقو کولو نه مراد تش په ژبه په چا پورے ټوقے کول نه دی، بلکه د چا پینے کول، د چا طرفته اشاریے کول، د چا په خبره پورے یا د چا په کار پورے یا د چا په شکل پورے یا د چا په جامه پورے خندا کول، یا د چا عیب ته د خلقو توجه پیدا کے طریقه را کړول چه هغوی ورپورے اوخاندی، دا ټول کار ونه په ټوقو کولو کښے داخل دی۔ کوم اصلی خیر چه منع دے هغه دا دے چه یو سړے په بل سړی پورے په څه نړۍ څه طریقه خندا اوکړی، حکمه چه په دے خندا کښے خامخا خپله لوړی او د بل بے عزتی او سپکاوے شامل وی چه اخلاقاً سخت عیبناک کار دے۔

وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ۭ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَتُبْ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝۱۱

په خپل منځ کښے په یوبل باندې طعن مه کوئ[۲۱] او مه یوبل په خرابو نومونو سره یاد وئ[۲۲]۔ د ایمان راوړونه روستو په فسق کښے نوم پیدا کول ډیره خرابه خبره ده[۲۳]۔ کوم خلق چه دې کار نه منع نه شوهم هغوئ ظالمان دی۔

اوبلل داچه دې په وجه د بل سړی زړه تنه آزار رسی او په دې سره په خلقو کښے فساد راپورته کیږی، په دې وجه دا کار حرام گرځولے شوے دے۔

د سړو او د ښځو جُدا جُدا ذکر کولو مطلب دا نه دے چه کنې د سړو د ډلې په ښځو پورے تبصرې کول یا د ښځو ډلې په سړو پورے تبصرې کول جائز دی۔ په اصل کښے چه په کومه وجه د دواړو ذکر جُدا جُدا شوے دے هغه وجه دا ده چه اسلام هدایت د سړو نه دے خبرې قائل نه دے چه پردې نارینه او زنانه دې شریک ژوند تیروی۔ په یوبل پورے خندا کول عام طور په آزاد و مجلسونو کښے کیږی او په اسلام کښے دې خبرې هدایت اجازت نشته چه غیر محرمه یعنی چه د یوبل سره ټے نکاح کیدی هغه نارینه او زنانه دې په یو مجلس کښے راجمع شی او په خپلو کښے د ټوقے خندا کانے کوی۔ په دې وجه په مسلمانانو کښے دې خبرې ته د توجه کولو ضرورت نه دے پیښ شوے چه په یو مجلس کښے به سړی په ښځو پورے خندا کوی یا په ښځے په یوسړی پورے خندا کوی۔

۲۱ په اصل کښے لفظ لَمز استعمال شوے دے چه په هغے کښے د بدے ردے وینا نه علاوه نورے ډیرے معنے هم شامل دی، مثلاً په خبرو کښے ټکونه ورکول، په مثالونو سره په چا پورے خندا کول، الزامونه لګول، اعتراضونه کول، عیبونه لټول، په ښکاره یا په پټه یا په اشارو سره څوک ملامتول۔ دا ټول کارونه هم چونکه په خپلو کښے تعلقات خرابوی او په خلقو کښے فساد راپورته کوی نو په دے وجه حرام کړے شوی دی۔ د اللہ تعالیٰ د کلام صفائی دا ده چه د "لَا يَلْمِزْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا" (په یوبل باندې طعن مه کوئ) په ځائے د "لَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ" (په خپل ځان طعن مه کوئ) الفاظ استعمال کړے شوی دی چه پخپله تر دا خبره راأوښی چه څوک په بل باندې د طعن د پاره څه وایی نو دا په اصل کښے په خپل ځان طعنے کوی۔ ظاهره خبره ده چه د چا څه به د بل خلاف ترهغے نه را برسیږه کیږی تر څو چه د هغه زړه د بل خلاف د خرابو جذباتو نه ډک شوے نه وی۔ هغه شان دے خرابو جذباتو په موجودګی سړی خو د هرچا نه محکمے د سړی خپل زړه د بدی کورجوړیږی۔ بیا چه کله هغه په بل چا باندې د طعنے کوزاروونه کوی نو دې ته مطلب دا دے چه هغه پخپله په خپل ځان باندې د طعنے کولو د پاره نور وله دعوت ورکوی۔ دا بیله خبره ده چه څوک د خپل شرافت په وجه د هغه د طعنو جواب ورنه کړی۔ لیکن هغه خود خپل طرفنه دا لار جوړه کړه چه هغه بل سړے دې هم په هغه باندې طعنے شروع کړی څوک چه د هغه د ژبے د لاسه زخمی زخمی دے۔

۲۲ ؎ دَ دے حکم دا مطلب دے چہ څوک ہ چا تہ دا سے نوم نہ وائی یا دِ دَ هغہ دَ نوم سرہ دا سے تکے نہ یو ځائے کوی چہ هغہ دَ هغہ خوښ نہ وی یا په هغے سره دَ هغه سپکاوے یا بے عزتی کیږی۔ مثلاً چا تہ فاسق یا منافق ویئل۔ چا تہ کوڈ یا رُوند یا کانړا ویئل۔ دَ چا سره دَ هغه خپل عیب یا دَ هغه دَ مور یا دَ پلار یا دَ خاندان عیب ښکول۔ چا تہ دَ مسلمانید و نہ روستو دَ هغه دَ مخکینی مذهب په مناسبت سره یهودی یا نصرانی ویئل۔ یو سړی له یا یو خاندان له یا یوے ولے له دا سے نوم کیښودل چه په هغے کښے دَ هغه سپکاوے وی۔ په دے حکم کښے صرف هغه نومونه شامل نہ دی چه هغه په ظاهره خو بد غوندِ ښکاری لیکن دَ هغے نه بدی مُراد نہ وی بلکه هغه دَ هغه خلقو دَ پیژندلو ذریعه وی چا تہ چه هغه نومونه ویئلے کیږی۔ په دے وجه محدّثینو په اسماء الرّجال کښے سلیمان الاعمش (سلیمان چُوچن ستړکے) او واصل الاحدب (واصل ټینګا) غوندِ نومونه جائز کړی دی۔ چه په یو نوم دیر سړی وی او په هغے کښے یو خاص سړے په یو خاص نوم سره پیژندے کیږی نو هم هغه نوم استعمالول جائز دی اګر که هغه نوم په خپل ځائے خراب وی۔ مثلاً دَ دیر سړو نوم عبدالله وی او په هغوئی کښے یو رونړ وی نو دَ هغه دَ پیژندو دَ پاره رونړ عبدالله ویئل جائز دی۔ دا رنګے دا سے نومونه هم په دے حکم کښے نه دی شامل چه دَ هغے نه خو په ظاهره سپکاوے معلومیږی لیکن هغه په حقیقت کښے دَ مینے نه ویئلے کیږی، او چا تہ چه هغه نوم ویئلے کیږی هغوئی تے په خپله هم خوښوی لکه ابو هریره او ابو تراب۔

۲۳ ؎ یعنی دَ یو مومن دَ پاره دا سخته دَ شرم خبره ده چه دَ ایمان را وړلو با وجود هغه په بد زبانئ کښے نوم پیدا کړی۔ یو کافر سړے ګډه یے مشهورشی چه هغه په خلقو پورے نه نه توقے کوی، یا په خلقو پورے بنه مثالونه جوړوی، یا خراب خراب نومونه بنه ږدی، نو دَ انسانیت په لحاظ سره اګر که بنه شهرت نه وے خو دا دَ هغه دَ کفر سره دیر بنه نه لږی۔ لیکن چه یو سړے په الله او دَ هغه په رسول او په آخرت باندِ ایمان لږی او بیا هم په دغے ذلیلو صفتو نو سره مشهورشی نو دا دَ مرګ لائق خبره ده۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ ۖ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ۭ اَيُحِبُّ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، ډیر گمان کولو نه ځان ساتئ ځکه چه ځینی گمان گناه وی۔ [۲۴] تجسّس یعنی په چا پسے ډوندمه لګوئ [۲۵] او په ټاسو کښے د شوک ډبل چا غیبت نه کوی [۲۶]۔ آیا په ټاسو کښے شوک دا خوښوی

۲۴ د مُطلق گمان کولو منع نه ده شوی بلکه د ډیرو زیات گمان کولو نه او په هر قسم گمان پسے د تللو نه منع شوی ده او دے ته وجه دا بنودلے شوی ده چه ځینی گمانونه گناه وی۔ په دے حکم باندے پوهیدلو د پاره موږ له لاندے پکار دی چه د گمان څو قسمونه دی او د هر یو گمان اخلاقی حیثیت څه دے:

یو قسم گمان هغه دے چه اخلاقاً ډیر غوره دے او دین اسلام هم هغسے گمان د خلقو نه غواړی او د هغے ستائنه کوی، مثلاً د الله او د هغه د رسول نه نیک گمان کول او د هغه خلقو سره د نیک گمان سلوک کول د چا سره چه د سړی ناسته پاسته وی او چه د چا په حقله د بد گمانئ کولو څه مناسبه وجه نه وی۔

دویم قسم گمان هغه دے چه د هغے نه بغیر په ژوند کښے کار نه چلیږی۔ مثلاً په عدالت کښے د دے نه بغیر کار نه چلیږی چه د عدالت حاکم د گواهئ جاج واخلی او په غالب گمان فیصله اوکړی، ځکه چه د معاملے د حقیقت علم نیغ په نیغه هغه ته نه شی کیدے، او د گواهئ په بنیاد باندے چه کومه رائے قایمیږی هغه اکثر په یقین باندے نه وی بلکه په غالب گمان باندے وی۔ د غه شان په اکثرو معاملاتو کښے چه څه نه څه فیصله کول ضروری وی او په هغے کښے د حقیقت علم حاصلول ممکن نه وی نو د انسان د پاره دے نه بغیر بله څه چاره نه وی چه د گمان په بنیاد باندے یوه رائے قایمه کړی۔

د گمان یو دریم قسم هغه دے چه اگرچه ده خو بد گمانی، لیکن جائز ده او په گناه کښے نه شی شمارلے کیدے۔ مثلاً د یو سړی یا د یوے ډلے په عمل کښے یا د هغه په معاملاتو او په طور طریقو کښے داسے شکار نښے وی چه د هغے په وجه هغه د بنه گمان مستحق نه وی او د هغه سره د بد گمانئ کولو د پاره مناسب وجوهات موجود وی۔ په داسے حالت کښے د شریعت مطالبه داهر گز نه ده چه سړے د سادګی اختیار کړی او خامخا د هغه نه بنه گمان ساتی۔ لیکن دے ته جائز بد گمانئ آخری حد دا دے چه د هغه د شر نه د بچ کیدو د پاره د بې د احتیاط نه کار واخلی۔ دے نه وړاندے صرف د گمان په بنیاد باندے د هغه خلاف څه کارروائی کول صحیح نه دی۔

څلورم قسم گمان چه په حقیقت کښے گناه ده، هغه دا دے چه یو سړے د بل سړی سره بے سببه بد گمانی کوی، یا د بل چا په حقله هیشه بد گمانی لری، یا د داسے خلقو په معامله کښے د بد گمانئ نه کار اخلی چه د هغوئ د ظاهری حالاتو نه دا معلومیږی چه هغوئ نیکان او شریفان دی۔ د غه شان دا هم گناه ده چه د یو سړی یوه خبره یا یو کار سره او بد دواړه طرفته اوریدے شی او موږ یوازے د بد گمان نه کار اخلو او هغه بد طرفته اړ ګرځو۔ مثلاً یو سړے د یو محفل نه را پاسیدو او د څپل پیژار په خائے

د بل چا پیزار د خان سره واغستو او موبنزه پرې د اکمان او کړو چه هغه د ا کار خا مخا د غلا په ښت کړې دے حالانکه د ا کار په خطاهم کیدے شی او ښه طرفته د اړولو په څلئے بد طرفته د راړولو وجه د بد کمانئ نه سوا بله نشته۔

دے ته تشریح نه د اخبره څرګنده پرې چه کمان په خپل ځائے څه خراب څیز نه دے، بلکه په ځینو حالاتو کښے غوره یزدے، په ځینو حالاتو کښے ضروری دے، په ځینو حالاتو کښے د یو حد پورے جائز دے او د هغے نه وړاندے ناجائز دے او په ځینو حالاتو کښے بالکل ناجائز دے۔ په دے وجه د اُونه فرمایئے شوچه د کمان کولو نه یا د بدکمانئ کولو نه مطلقاً ځان ساتئ، بلکه د ا فرمایئے شوی دی چه د ډیرزیات کمان کولو نه ځان ساتئ. بیا د حکم ښه واضحه کولو د پاره د ا فرمایئے شوی دی چه یعنی کمان ګناه وی۔ دے خبرداری نه پهځله د ا نتیجه راأوځی چه کله سړے د کمان په بنیاد باندے یوه رائے قایموی یا د څه کار کولو فیصله کوی نو هغه له پکار دی چه ښه سوچ فکر أوکړی او اوکوری چه د ا زه کوم کمان کوم چه د اچرته ګناه خو نه ده؟ آیا واقعی دے کمان ضرورت دے؟ آیا دے کمان کولو د پاره زما سره مناسب دلیل شته؟ آیا دے کمان په وجه چه زه کوم کار کوم چه هغه جائز دے؟ د ا احتیاط به لازماً هر هغه سړے کوی چه څوک د خدائے نه ډیر ډیر ډیری۔ خپل کمان ته بالکل قطعی وئیل صرف د هغه خلقو کار دے چه هغوی د خدائے نه نه ډیر ډیری او د آخرت د حساب کتاب نه بے فکره وی۔

۲۵ یعنی د خلقو راز ونه مه لټوئ۔ د یو بل عیبونه مه لټوئ۔ د بل په حالاتو او معاملاتو پسے لټون مه کوئ۔ د ا کار خواه که د بدکمانئ په وجه اوکړے شی، یا د بد نیتئ په وجه چا ته د نقصان رسولو د پاره اوکړے شی، یا هسے تش د خپل شک (Curiosity) لپاره اوکړے شی، بهرحال د شرعے په لحاظ سره د ا کار منع دے۔ د یو مومن سړی د ا کار نه دے چه د خلقو د پټو حالاتو لټون اوکړی او د دے خبرې د معلومولو کوشش اوکړی چه په چا کښے څه عیب دے او په چا کښے کومے کومے کمزورۍ پټے دی۔ د خلقو ذاتی خطونه کتل، د دوئ کسانو خبروته غوږ کیښودل، د کاوندۍ یا نورو کورتنو کتل، او په مختلفو طریقو سره د بل چا د کورنۍ ژوند یا د هغوی د ذاتی معاملاتو لټون کول ډیر د بد اخلاقئ کار دے چه قسما قسم فساد ونه تر را ولاړیږی۔ د ا وجه ده چه نبی صلی الله علیه وسلم یو ځل په خپله خطبه کښے د تجسّس کوتکو یعنی په چا پسے د ډوندو لګولو کښے خلقو په حقله اُو فرمایئل،

یا معشر من اٰمن بلسانه ولم یدخل الایمان قلبه لاتتبعوا عورات المسلمین فانه من اتبع عوراتهم یتبع الله عورته ومن یتبع الله عورته یفضحه فی بیته (ابو داؤد)۔

اے خلقو چه په ژبه مو ایمان راوړے دے خو لا زړونو ته مو ایمان نه دے کوز شوے، د مسلمانانو د پټو حالاتو لټون مه کوئ لکه چه څوک د مسلمانانو په عیبونو بسکار کولو پسے اوګئ الله به د هغه په عیبونو پسے اوګئ او الله چه په چا پسے ورپسے شی نو هغه د هغه په کورکښے رسوا کوی۔

حضرت معاویهؓ وائی چه ما پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی:

انك ان اتبعت عورات الناس تمه که چرے د خلقو د پټو حالاتو په معلومولو پسے ورپسے شوے نو

افسدتهم او کدت ان تفسد هم تہ یې هغوی خراب کړے یا یې نږدے خرابولو ته نږدے کړے۔

(ابو داؤد)

په یو بل حدیث کښے د نبی فرمان دے:

إذا ظننتم فلا تحققوا۔ هرکله چه د یو سړی په حقله شاید کمانی راشی نو د هغے تحقیق مه کوه۔

(احکام القرآن للجصاص)

په یو بل حدیث کښے دی چه نبی فرمائی:

من رأی عورة فسترها کان کمن احیا موؤدة۔ چاچه د چاپیر عیب اولید ولو یې هغے پرده واچوله نو دا داسے ده لکه چه چا یوه ژوندۍ خښه شوې مائشومه د مرګ نه یې خلاص کړے وی۔

(الجصاص)

د تجسس نه کولو احکام یوازے د افرادو د پاره نه دے بلکه د اسلامی حکومت د پاره هم دے۔ شریعت چه د نهی عن المنکر کوم کار حکومت ته حواله کړے دے د هغے دا مطلب نه دے چه هغه یې د جاسوسۍ یو نظام قایم کړی او د خلقو د پټو عیبونو د ښکولو یې لکوی او په هغے یې سزا ورکوی، بلکه حکومت له پکار دی چه د هغه کناهونو خلاف د خپل طاقت استعمالوی چه کوم بسکاره شی۔ پاتے شوې کناهونه نو د هغے د صحیح کولو طریقه د جاسوسۍ لاړنه نه ده بلکه تعلیم، وعظ او نصیحت، د عوامو اجتماعی تربیت، او د یو پاک ماحول پیدا کولو کوشش دے۔ په دے باره کښے د حضرت عمرؓ دا واقعه ډیره عبرتناکه ده چه یوه شپه هغه د یو سړی آواز واوریدو چه په خپل کور کښے ټیلے۔ د هغه پرشک راغے او په دیوال ور واؤړیدو۔ څه کوری چه هلته شراب هم دی او یوه ښځه هم ده۔ هغه ورته په زوره آواز اوکړو چه "اے د خدا ے دشمنه آیا ستا دا خیال دے چه ته به د الله نافرمانی کوے او الله به ستا پرده نه بسکاره کوی؟" هغه ورله جواب ورکړو "امیرالمؤمنین تلوار مه کوه۔ که چرے ما یوه کناه کړی ده نو تا درے کناهونه کړی دی۔ الله ﷻ تجسس کولو نه منع کړی وه او تا تجسس اوکړو۔ الله حکم کړے وو چه کور ونو ته په دروازو ورځئ او نه په دیوال راواوړیدے۔ الله حکم کړے وو چه د خپلو کورونو نه بغیر د یل چا کورونو ته بے اجازته مه ورځئ او ته زما د اجازت نه بغیر کورته راغلے۔" حضرت عمرؓ چه دا جواب واوریدو نو خپله غلطی ته اومنله او د هغه خلاف ته هیڅ کارروائی اونه کړه، البته د هغه نه ته دا وعده واخستله چه هغه به د نیکئ لار اختیار وی۔ (مکارم الاخلاق لابی بکر محمد بن جعفر الخرائطی)۔ د دے نه معلومه شوه چه یوازے د افرادو د پاره نه بلکه پخپله د اسلامی حکومت د پاره هم دا خبره جائز نه ده چه د خلقو راز ونه د لټوی او د هغوی د کناهونو پته د لکوی او بیا د پرهغوی رانیسی۔ هم دا خبره په یو حدیث کښے شوی ده چه په هغے کښے نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی:

ان الامیر اذا ابتغی الریبة فی الناس افسدهم۔ (ابو داؤد) حکمران چه کله په خلقو کښے د شک شبهو د وجوهاتو لټون شروع کړی نو هغه خلق خرابوی۔

په دے حکم کښے صرف هغه خاص حالات شامل نه دی په کومو کښے چه په حقیقت کښے د تجسس ضرورت

وی۔ مثلاً چہ د یوسړی یا د یوے ډلے په حقله د ورانی کولو څه ننګے څرګندے معلومے شی او دا یره وی چه هغه به څه جُرم کوی نو حکومت د هغه د حالاتو تحقیق کولے شی۔ یا مثلاً چا ته د واده پیغام لیږل وی یا د چا سره کاروبار شروع کول وی نو د خپل اطمینان د پاره د هغه د حالاتو تحقیق سړے کولے شی۔

۲۶ غیبت دے ته وائی چه "یوسړے د چا په حقله پښے شاه داسے خبرې اوکړی چه که چرے هغه ته د هغے پته اولګی نو هغه پرے خفه کیږی"۔ دا تشریح پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کړے شوی ده۔ د حضرت ابوهریرهؓ په روایت کښے، چه مُسلم، ابوداؤد، ترمذی، نسائی او نورو محدثینو نقل کړے دے، نبیؐ د غیبت دا تعریف بیان کړے دے:

ذکرك اخاك بمایکره۔ قیل افرأیت ان کان فی اخی ما اقول۔ قال ان کان فیه ما تقول فقد اغتبته وان لم یکن فیه ما تقول فقد بهتّه۔

غیبت دے ته وائی چه "ته د خپل ورور په حقله داسے خبرے اوکړے چه هغه د هغه خوښه نه وی"۔ چا اووئیل چه که چرے زما په ورور کښے هغه خبره وی کومه چه زه کوم نو بیا ستاسه خیال دے؟ نبیؐ اوفرمایئل چه که چرته په هغه کښے هغه خبره وی نو تا د هغه غیبت اوکړو، او که چرے په هغه کښے نه وی نو تا په هغه بهتان اوتکوو۔

یوبل روایت چه امام مالکؒ په مؤطّاء کښے د حضرت مُطّلب بن عبدالله نه نقل کړے دے د هغے الفاظ دا دی:

ان رجلا سئل رسول الله صلی الله علیه وسلم ما الغیبة؟ فقال ان تذکر من المرء ما یکره ان یسمع۔ قال یا رسول الله وان کان حقّا؟ قال اذا قلت باطلا فذلك البهتان۔

یوسړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو چه غیبت څه دے؟ نبیؐ اوفرمایئل "دا چه ته د یوسړی په حقله داسے خبره اوکړے چه کله ئے هغه واوری نو هغه پرے خفه شی"۔ هغه عرض اوکړو اے د الله رسوله اګرکه زما خبره حقه وی؟ نبیؐ جواب ورکړو که ستا خبره باطله وی نو بیا خو دا څیز بهتان دے۔

د دے احادیثو نه معلومه شوه چه د چا خلاف پښے شا د دروغو الزام تکول بهتان دے او د چا حقیقی عیبونه بیانول غیبت دے۔ دا کار که په څرګند و الفاظو سره اوکړے شی یا په اشارو کنایو سره، بهر حال حرام دے۔ دغه شان که دا کار د چا په ژوند کښے اوکړے شی او که د چا د مرګ نه روستو، په دواړو حالتونو کښے د دے حرامولے یوشان دے۔ د ابوداؤد روایت دے چه کله ماعز بن مالک اسلمی له د زنا په جُرم کښے د رجم سزا ورکړے شوه نو نبی صلی الله علیه وسلم په لاره کښے واوریدل چه یو سړے چا ملګری ته وائی چه "دے سړی ته اوګوره، الله په دې پرده اچولی وه، خو د دې نفس دے ترهغے پرے نښه ودوچه ترڅو ئے دے سپی په مرګ مرګ په نه وُوژه"۔ چه لږ لرے لاړل نو په لاره کښے یو مړ خر ځغلے لاړے چه بُوئے ئے کړے وُو۔ نبیؐ اودریدل او دا دواړه کسانو ته اُوغوښتل او وے فرمایئل "کوز شئ او دې مړ خر نه اُوخورئ"۔ دواړو عرض اوکړو چه اے د الله رسوله دا به څوک اُوخوری؟ نبیؐ اوفرمایئل فما نلتما من عرض اخیکما انفاً اشد من اکل منه۔ "اُوس اُوس چه تاسو

دَخپل رُور دَ عزّت په حقله کوے خبری کولے هغه دَ دے مرغۍ دَ خوراک نه زیاتے خرابے وے"

په دے حکم کښے صرف هغه حالات شامل نه دی په کومو کښے چه دَ چا پښے شایا دَ چا دَ مرګ نه روستو دَ هغه دَ بدئ بیانولو یوه داسے ضرورت وی چه هغه دَ شریعت په نظر کښے یو صحیح ضرورت وی، اوهغه ضرورت دَ غیبت کولو نه بغیر نه شی پوره کیدے، اودَ هغے دَ پاره که غیبت اُونه کړے شی نو دَ غیبت نه زیانه ګناه کیږی. نبی صلی الله علیه وسلم دَ دے دَ پاره دا اُصول بیان کړی دی.

ان من اربی الربا الاستطالة فی عرض دَ یو مسلمان په عزت باندے په ناحقه حمله کول دَ تولو المسلم بغیرحق. (ابو داؤد) نه غټ زیاتے دے.

په دے حدیث کښے دَ لفظ "ناحق" نه دا معلومیږی چه "په حقه" دا سے کول جائز دی. بیا پخپله دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ عمل نه موږ ته یو څو مثالونه دا سے ملاویږی چه دَ هغے نه دا معلومیږی چه "حق" څه شے دے او په کومو قسم حالاتو کښے دَ ضرورت مطابق غیبت کول جائز کیدے شی.

یو ځلے یو باندے راغے او په نبیؐ پسے په ماښام کښے شامل شو او دَ موښځو دَ خبرو سره روان شو او دائے وئیل چه "اے خدایه په ما رحم اوکړے او په محمدؐ باندے، اورموږ نه بغیر بل څوک په دے رحمت کښے مه شریکوه." نبیؐ صحابو ته اوفرمائیل: اتقولون هو اضلّ ام بعیره؟ الم تسمعوا الی ما قال؟ "تاسو څه وایئ چه دا سړے زیات ناپوهه دے اوکه دَ دۀ اُوښ؟ تاسو وانه ریدل چه دۀ څه وئیل؟" (ابو داؤد). دا خبره نبیؐ دَ هغه پښے شا و فرمائیله ځکه چه هغه خو دَ سلام کړولو سره تلے وُو. هغه چونکه دَ نبیؐ په موجودګئ کښے یوه ډیره غلطه خبره کړی وه او نبیؐ له په هغے باندے خاموشه پاتے کیدل دَ یو پاره دَ غلطید و سبب جوړیدے شو چه کنې دا سے خبره کول څه نه څه جائز کیدے شی، نو دَ دے وجے نه دا ضروری وه چه نبیؐ دَ هغے تردید اُوکړی.

دَ قیس لُور فاطمے نه دوُو کسانو دَ نکاح پیغام ورا ولیږو. یو حضرت معاویه وُو او بل حضرت ابوالجهم. هغه نبیؐ له دَ مشورے دَ پاره راغله. نبیؐ ورته اوفرمائیل "معاویه غریب دے او ابوالجهم بنځے ډیره وهی." (بخاری او مسلم) دلته دَ یوه بنځے دَ آیښنه ټول ژوند مسئله وه او هغے دَ نبیؐ نه مشوره غوښتلی وه نو په دے حالت کښے نبیؐ ضروری اوګڼله چه دَ دواړو کسانو کمزورۍ دَ هغه په علم کښے دی چه هغه ورته اُوښائی.

یوه ورځ نبیؐ دَ حضرت عائشے رضی الله عنها کره وُو. یوسړے راغے او دَ ملاقات دَ پاره ئے اجازت اُوغوښتو. نبیؐ اوفرمائیل چه دا په خپله قبیله کښے ډیر خراب سړے دے. بیا نبیؐ بهرته راوُوتو او دَ هغه سره ئے ډیره نرمئ خبری اُوکړے. نبیؐ چه کورته واپس راغے نو حضرت عائشے رضی الله عنها ورته عرض اوکړو چه تا خو دَ هغه سره ډیره نرمئ خبری اوکړے حالانکه چه کله ته بهرته وروتلے نو تا دَ هغه په حقله نورځه فرمائیلی وُو. په جواب کښے ورته نبیؐ اوفرمائیل ان شرّ الناس منزلةً عند الله یوم القیٰمة من ودعه (او ترکه) الناس اتقاء فحشه. "دَ قیامت په ورځ به دَ خدائے په نزد دَ تولونه خراب ځائے دَ هغه چا وی چه دَ هغه دَ ژبے دَ خرابوالی دَ ډیرے نه خلق دَ

هغه سره ملاویدل پریږدی" (بخاری او مسلم)۔ چې په دے واقعه سره غور اوکړی نو معلومیږی چې نبیؐ د هغه سړی په حقله بنه رائے نه لرله او بیائے هم د هغه سره خبری اتری په بنه طریقه اوکړې ځکه چې نبیؐ خو د بنو اخلاقو مالک وُو۔ لیکن د نبیؐ سره دا فکر شوچې دے سړی سره د نرم سلوک کولو په وجه زما کوروالا یوتنه دا سړے زما دوست اُونه کړی او هغه روستو په څه وخت کښے دے نه ناجائزه فایدہ واخلی، په دے وجه نبیؐ حضرت عائشہؓ خبردار کړه چې دا سړے په خپله قبیله کښے دیر خراب سړے دے۔

پدیؤ مرتبه کښے د حضرت ابو سفیان بنځه هند بنت عُتبه راغله او نبیؐ ته ئے عرض اوکړو چې "ابوسفیان یو شُوم سړے دے، ماله او زما بچوله دومره نه راکوی چې زمونږ د ضرورت د پاره کافی شی" (بخاری او مسلم) د بنځے د طرفنه نه دا شکایت د خاوند په غیر موجودګئ کښے اګرچه غیبت دُو، لیکن نبیؐ جائز اوګنړو، ځکه چې د مظلوم د حق دے چې د ظلم شکایت یوه اسے سړی له وکړی چې هغه هغه څه ورکولے شی۔

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو دے مشالونو نه فقهاؤ او محدثینو فایده اخستی ده او دا قاعده ئے تړلا ده چې "غیبت صرف په هغه وخت کښے جائز دے کله چې د یو صحیح (یعنی شرعًا صحیح) غرض د پاره د هغے ضرورت وی او هغه ضرورت د هغے نه بغیر نه شی پوره کیدے"۔ بیا دے قاعدے لاندے عالمانو د غیبت لاندینی شکلونه جائز کړی دی:

(۱) مظلوم سړے د ظالم خلاف خپل شکایت هر هغه چا ته وئیلے شی چې د هغه نه د مظلوم دا توقع وی چې هغه د دغه ظلم لرے کولو د پاره څه نه څه کولے شی۔

(۲) د اصلاح په نیت د چا بد دا سے خلقو ته بنکاره کول چې د هغوئ نه دا اُمید وی چې هغوئ به د دغه بدئ لرے کولو د پاره څه اوکړے شی۔

(۳) د فتوے اخستلو په غرض یو مفتی ته دا سے واقعه بیانول چې په هغے کښے د یو سړی د یو غلط کار ذکر راشی۔

(۴) خلق د یو سړی یا د یو سړو سړدو شر نه خبردارول چې هغوئ د هغه د نقصان نه بچ شی۔ مثلاً د راویانو، د کواهانو او د مصنفینو کمزورۍ نے بیانول په اتفاق سره جائز نه بلکه واجب دی ځکه چې دے نه بغیر شریعت د غلطو روایتونو د خوریدو نه بچ کول، عدالتونه د بے انصافئ نه بچ کول، او عام خلق یا طالب علمان د کمراهئ نه بچ کول ممکن نه دی۔ یا مثلاً یو سړے په یو خاندان کښے واده کول غواړی، یا د چا په کاونده کښے کورا غستل غواړی، یا د چا سره د شراکت معامله کول غواړی، یا چا ته خپل امانت حواله کول غواړی، او هغه سړے نه مشوره اخلی نو سړے د پاره واجب دی چې د هغه عیب او بنه والے هغه ته اُو بنائے هسے نه چې په ناپوهتیا کښے چرته دوکه نه شی۔

(۵) کوم خلق چې بدی او ګناه خوروی، یا د بدعاتو (یعنی په دین کښے د نوو کارونو) او د کمراهو خورولو کار کوی، یا خلق په بے دینئ کښے او د ظلم په نتنو کښے اخته کوی، نو د هغوئ

خلافی آواز اوچتول جائز دی۔

(۹) کوم خلق چه په خواب نوم دومره مشهور شوے وی چه هغوئ دهغه نوم نه بغیر په بل نوم نشی پیژندلے کیدے نو دَ پیژندګلو په غرض دَ هغوئ دَ پاره هغه نوم استعمالول جائز دی نه دَ سکاوی په غرض۔ (دَ تفصیل دَ پاره اوګورئه فتح الباری جلد ۱۰، ص ۳۶۲۔ شرح مسلم للنووی، باب تحریم الغیبة۔ ریاض الصالحین، باب مایُباح من الغیبة، احکام القرآن للجصّاص وروح المعانی، تفسیر آیة ولا یغتب بعضکم بعضًا۔)

دَدے خاصوحالاتونه ماسوا پشے شا دَ چا بد ویل مطلقًا حرام دی۔ دا بدّا ویناکه ربنتیا په چا کښے وی نو دا غیبت دے، اوکه په چا کښے نه وی نو بهتان دے، اوکدَ دوُ کسانو دَ جنګلو دَ پاره وی نو چُغلی دګه۔ شریعت دے دریوارو شیانو نو تر حرام وائی۔ دَ مسلمانانو په وطن کښے په هر مسلمان دا لازم دی چه که چرے دَ هغه په مخکښے په چا پسے دَ تهمت خبری کیږی نو هغه دے په هغے خاموشه نه پاتے کیږی بلکه دَ هغے تردید دے کوی، اوکه چرے دَ یو جائز شرعی ضرورت نه بغیر څوک دَ چا دلے بدیانے بیانوی چه هغه واقعی په هغه کښے وی نو هغوئ ته دے نصیحت کوی چه دَ خدائے نه اُویریږی اودَ دے کناه نه منع شئ۔ دَ نبی صلی الله علیه وسلم حدیث دے چه:

ما من امرئٍ یخذل امرءًا مسلمًا فی موضع تنتهك فیه حرمته و ینتقص فیه من عرضه إلّا خذله الله تعالیٰ فی مواطن یحبّ فیها نصرته، و ما من امرئٍ ینصر امرءًا مسلمًا فی موضع ینتقص فیه من عرضه و ینتهك فیه من حرمته إلّا نصره الله عزوجل فی مواطن یحبّ فیها نصرته۔ (ابوداؤد)	که چرے یو سړے دَ بل مسلمان مرسته په داسے وخت کښے نه کوی څه وخت چه دَ هغه پکاوے کیږی اودَ هغه عزت لوټلے کیږی نو الله تعالیٰ هم دَ هغه مرسته په داسے وخت نو کښے نه کوی څه وخت چه دَ الله تعالیٰ نه مدد غواړی۔ او که چرے یو سړے دَ مسلمان مرسته په داسے وخت کښے کوی څه وخت چه دَ هغه عزت لوټلے کیږی او هغه پکاوے کیږی نو الله تعالیٰ دَ هغه مدد په داسے وخت کښے کوی څه وخت چه هغه دَ الله امداد غواړی۔

پاتے شو غیبت کونکے سړے، نو هغه تر چه څه وخت دا پته اولګی چه زهٔ غیبت کوم یا م غیبت کړے دے، نو دَ هغه اولنے کار دا دے چه الله تعالیٰ ته راوګرځی او توبه اُوباسی اودَ دے حرام کار نه منع شی۔ دَ دے نه روستو دَ هغه دویم کار دا دے چه دَ خپلو وسه پورے دے دَ هغے کمے پوره کړی۔ که چرے هغه دَ یو صړی غیبت کړے وی نو دَ هغه په حق کښے چه دَ څنسانے دیره دیره دعا کاته او غواړی۔ که دَ یو څو ونډی سړی غیبت ئے کړے وی اوهغه دَ حقیقت نه خلاف هم وی نو دَ چا په مخکښے چه ئے دَ بهتان دا خبری کړی وی دَ هغوئ په مخکښے دَ هغے تردید اوکړی (چه دَ فلانی په حق کښے ما دا خبری کړے وے خو هغه ما دروغ وئیلی وُو)۔ اوکه ربنتیا غیبت ئے کړے وی نو آینده دے بیا هیڅکله دَ هغه بد نه وائی اودَ چا بد چه ئے ویلی وُو دَ هغه نه دے معافی اوغواړی یعنی عالمان وائی چه معافی تر هغه غوښتل پکار دی چه کله هغه ته دَ هغے پته لګیدلی وی، کنئی نو یوانے توبه ایستل کافی دی، حکه چه که چرے هغه سړے نا خبره وی او غیبت کونکے معافئ

اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ؕ

چہ دَخپل مړ رُور غوښے اُوخورئ؟[۲۷] کورئ، تاسو پخپله دا نۀ خوښوئ۔

غونښتلوله ورشی او دا ورته اُووائی چه ماستا غیبت کړے وُو نو دا به دَ هغه دَ پاره دَ خفګان سبب جوړشی[۲۷ه] په دے فقره کښے الله تعالیٰ دَ غیبت کولو تشبیه دَ مړ رُورَ دَ غوښو خوړلو سره دَدے دَ پاره درکړی ده چه انسان دَ غیبت نه کرکه اُوکړی. دَ مُردار ے غوښے نه خوهسے هم کرکه کیږی، اوچه لا هغه غوښه دَ ځاروی نۀ وی بلکه دَ انسان وی، او انسان هم بل څوک نۀ بلکه خپل سکه دُور وی. بله داچه دا تشبیه دَ ټپوس په اندازکښے ده چه په دے سره خبره نوره هم زُوردار ه شوی ده چه هر سړے دِ دَخپل زړۀ نه ټپوس اوکړی او پخپله دِ فیصله اُوکړی چه آیا هغه دَ خپل مړ رُور غوښے خوړلو ته تیاردے؟ که چرے نۀ دے تیارا وهغه له تړ کرکه وړئ نو آخر هغه دا خبره څنګه خوښوی چه هغه دِ پښے شا دِ یو مومن رُور په عزت حمله اوکړی چه نۀ هغه له دَهغے دَجواب ورکولو دَ پاره څوک شته اونۀ تړ هغه خبردے چه زما ے عزتی کیږی؟ دَدے حکم نه دا خبره هم معلومه شوه چه دَ غیبت دَحرامولو بنیاد ی وجه دا نۀ ده چه په دے سره دَ سړی زړۀ ته خفګان رسی، بلکه پښے شا دَ چاپه ویَل پخپل خائے یو حرام کارد ے خواه که هغه ته دَ هغے پته وی اوکه نۀ وی او خواه که هغه ته دَ هغے نه تکلیف رسی او که نۀ رسی. بنکاره خبره ده چه دَ مړی غوښه خوړل په دے وجه حرام نۀ دی چه مړی ته دَهغے نه تکلیف رسی. مړه خودَ مړک نه پس دَدے نه خبر نۀ وی چه څوک دَ هغه نه غوښه پرې کړی۔ لیکن دا کار پخپله دِیر سخت دَ کرکے کارد ے۔ د غه شان دَ چا چه غیبت شوے وی هغه ته هم که چرے دَدے غیبت اطلاع ورا ونۀ رسی نو هغه به ټول عُمر دَدے خبری نه ناخبره وی چه چا دَ هغه په عزت باندِ دَ کومو خلقو په مخکښے او په څه وخت کښے حمله کړی وه او دَ هغے په وجه هغه دَ چاپه نظر کښے سپک بنکاره شو۔ دَ نا خبرئ په وجه یه هغه ته دَدے غیبت نه هډ وخه تکلیف ورا ونۀ رسی، لیکن دَ هغه عزت ته خو بهرحال دَدے نه نقصان رسی، نو په دے وجه دا کار دَ خپل مړ رُور دَ غوښے خوړلو نه مختلف نۀ دے۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَاۗىِٕلَ لِتَعَارَفُوْا ۭ اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿١٣﴾

دَ اللہ نہ اُویَریږی، اللہ ډیر توبہ قبلونکے او رحم کونکے دے۔

اے خلقو مونږہ تاسو دَیو سړی او دَیوے ښځے نہ پیدا کړی او بیا مو ستاسو قومونہ او قبیلے جوړے کړے دَ پارہ دَدے چہ تاسو یو بل اُوپیژنئ۔ پہ حقیقت کښے پہ تاسو کښے دَ ټولو نہ زیات عزتمند دَ اللہ پہ نزدے[28] ډیر متقی چہ پہ تاسو کښے دَ ټولو نہ زیات پرہیزگار دے[29]۔ یقیناً چہ اللہ پہ هر څہ پوهږی او دَهر څہ نہ خبرہ دے

[28] پہ تیرو شوو آیتونو کښے مسلمانانو تہ دَ کنا هونو نہ دَ محفوظ پاتے کیدلو دَ پارہ ضروری حکمونہ شوی وُو۔ اُوس پہ دے آیت کښے ټولو انسانانو تہ خطاب شوے دے او دَ هغہ لویے کمزورئ اصلاح شوی دَ کومہ چہ پہ دُنیا کښے هیشہ دَ لوئی فساد سبب جوړیږی، یعنی نسل، رنګ، ژبہ، وطن او دَ قومیت ننګ۔ دَ پخوا زمانے راسے دَ دغو ویشے پورے پہ هر دور کښے انسان عام طور دَ انسانیت نہ ستر کے پټوی او دَ خپل ځان نہ چاپیرہ یو څو ورے وړے کرښے راکاږی او چہ څوک پہ هغہ کرښو کښے دننہ پیدا شوے وی هغہ تہ خپل وائی او چہ څوک دَ هغہ کرښو نہ بهر پیدا شوے وی هغہ تہ پردے وائی۔ دا کرښے دَ عقل او دَ اخلاقو پہ بنیاد نہ دی راښکلے شوی بلکہ دَ اتفاقی پیدائش پہ بُنیاد باندے راښکلے شوی دی۔ پرتہ دَدے بُنیاد پریوخاندونکے، پریوہ قبیلہ کښے یا پہ یو نسل کښے پیدا کیدل وی، او چرتہ دَ زمکے پہ یوٗ ټکړہ کښے یا دَ یو خاص رنګ پہ قوم کښے یا دَ یوے خاصے ژبے ویونکی پہ قوم کښے پیدا کیدل وی۔ بیا چہ پہ دے بنیاد دونو باندے دَ خپل او دَ پردی پہ منځ کښے دَ فرق کولو کوم اُصول جوړ کړے شوی دی، هغہ یوازے دا نہ دی چہ دَ خپلو سرہ بہ دَ پردو پہ نسبت زیاتہ مینہ او زیاتہ مرستہ وی، بلکہ دَ دغہ اُصولو وجے نہ خبرہ کړکے تہ، دُشمنئ تہ، سپکاوی تہ او ظلم زیاتی تہ رسیدلی دہ۔ دَدے دَ پارہ فلسفے جوړے کړے شوے دی۔ مذهبونہ جوړ کړے شوی دی۔ قانونونہ جوړ کړے شوی دی۔ اخلاقی اُصول جوړ کړے شوی دی۔ قومونو او حکومتونو تر څانګہ لہ خپل مستقل قانون جوړ کړے دے او دَ سوٗ نو کا لو پورے ئے پرعمل کړے دے۔ یهود یانو هم پہ دے بنیاد باندے بنی اسرائیل دَ خدائے غوره مخلوق او کنړل او پہ خپلو مذهبی حکمونو کښے ئے دَ غیر اسرائیلیانو حقونہ او مرتبے دَ اسرائیلیانو نہ لاندے کړلے۔ پہ هند وانو کښے وَرن آشرم (یعنی دَ نسل مقام) هم دَدے فرق پہ بنیاد باندے پیدا شوچہ دَ هغے ترڅنګہ برهمن اُوچت نسل اُوکنړلے شو اُونور ټول انسانان لاندے او ناپاک اُوکنړلے شو او پہ شُودر باندے دَ ذلت تر پہ اُوهلے شوہ۔ پہ افریقہ او امریکہ کښے چہ دَ تورو او دَ سپینو پہ جګړہ کښے پہ تورو خلقو باندے کوم ظلمونہ اُوشو، دَ تاریخ پہ پاڼو کښے دَ هغے کتلو تہ ضرورت نشتہ، نن پہ دے شلمہ صدئ کښے هر سړے هغہ پہ خپلو سترګو کتلے شی۔ دَ یُورپ خلق چہ امریکے تللارل او دَ ډیرو اِندیَن نسل سرہ ئے کوم سلوک اوکړو او دَ ایشیا او دَ افریقے پہ کمزورو

قومونو باندې چې غلبه حاصله کړه او دهغوئ سره ئې کوم سلوک او کړو د هغې اصلي سبب هم دا وو چې د هغوئ په خیال کښې کوم خلق د هغوئ د وطن او د هغوئ د قوم نه بهر پیدا شوی وی نو د هغوئ سر او مال او عزت ټوپول په هغوئ باندې حلال دی او هغوئ ته دا حق حاصل دے چې د هغوئ مالونه لوټ کړي، د هغوئ نه غلامان جوړ کړي او که ضرورت پیښ شو نو هغوئ د مخې نه ټرے کړي۔ په مغربي قومونو کښې چې کومه قوم پرستي ده هغه خو چې یو توم د بل قوم د پاره په کومه طریقه ماتونکے ځناور جوړ کړے دے د هغے کندې مثالونه د نزدے زمانے په جنګونو کښې لیدلے شوی دی او نن هم لیدلے کیږی۔ خاص طور د نازی جرمنی د نسلیت فلسفه او د نارډک نسل د اوچتوالی فکر چې په تیر شوی جنګ عظیم کښې کومے کارنامے ښکاره کړی دی هغے نه چې سړے اوګوری نو په آسانئ سره دا اندازه لګولے شی چې د دیرے غټے کمراهئ د اصلاح د پاره د قرآن مجید دا آیت نازل شوے دے۔

په دے ورکی شان آیت کښې الله تعالیٰ ټولو انسانانو ته درے اهم اصولي حقیقتونه بیان کړی دی:

یو د اچه ستاسو د ټولو اصل یو دے، د یونا رینه او د یوے زنانه نه ستاسو ټول پیدا شوی یئ او نن چې ستاسو څومره نسلونه په دُنیا کښې خواره دی هغه په حقیقت کښې د یو نسل شاخونه دی چې د یوے مور او د یو پلار نه شروع شوی دی۔ د پیدائش په دے د ز ځیر کښې په یو ځائے کښې هم د هغے د لډ بازئ او غوره ذات او د نیچ ذات د پاره هیڅ بنیاد نشته کوم چې ستاسو په باطل ګمان کښې موجود دے۔ اکئ یو خدائے ستاسو خالق (یعنی پیدا کونکے) دے، داسے نه ده چې مختلف انسانان مختلفو خدایانو پیدا کړی دی۔ د اکئ یوے مادے نه تاسو جوړ شوی یئ، داسے هم نه ده چې څه انسانان د پاکے او غوره مادے نه جوړ شوی دی او څه انسانان د ګندو یا خرابے مادے نه جوړ شوی دی۔ په اکئ یوه طریقه تاسو پیدا شوی یئ، داهم نه ده چې د مختلفو انسانانو د پیدا کیدو طریقے جُدا جُدا دی۔ او تاسو د یو مور او پلار اولاد یئ، داهم نه ده شوی چې اولنئ انسانی جوړه دیرے وے چې کنې د دُنیا د مختلفو حصو آبادیانے جُدا جُدا پیدا شوی دی۔

دویم دا چې د اصل په اعتبار سره تاسو ټول یو یئ خو بیا هم په قومونو او په قبیلو کښې ستاسو تقسیمیدل یو فطري کار وُو۔ ښکاره خبره ده چې په ټوله زمکه باندې د ټولو انسانانو اکئ یو خاندان خونه شوکیدے۔ د نسل د دیرښت دا خبره ضروري وه چې بے شماره خاندانونه جوړ شی او بیا د خاندانونو نه قبیلے او قومونه جوړ شی۔ دغه شان د زمکے په مختلفو حصو کښې د آبادیدو نه روستو په رنګونو کښې، په شکلونو کښې، په ژبو کښې او د اوسیدو په طریقو کښې مختلف کیدل ضروري وُو، او د یوے حصے په اوسیدونکو کښې د یو بل سره نزدے والے او د لرو لرو حصو په اوسیدونکو کښې لرے والے هم ضروري وُو۔ لیکن د دے فطري نرق او اختلاف مطلب هرګز دا نه وُو چې د دے په بنیاد باندې د اوچت ذات او د نیچ ذات د شرافت او د رذالت غوره او ناغوره والے جوړ کړے شی، یو نسل د په بل نسل باندې ځان برابر او کنټرول د یو رنګ خلق د بل رنګ خلق ذلیل او سپک او کنټرول، یو قوم د په بل قوم باندې خپل ځان لوی کنټرول او په انسانی حقونو کښې د یو هغه د بل تر په بله د لډ باندې برتری حاصلولو۔ الله تعالیٰ چې په کومه وجه

انسانی ډلے په تومونو او په قبیلو کښے تقسیم کړی دی هغه صرف داوه چه دهغوی په منځ کښے د پیژندګلوو د یو بل سره د امداد کولو فطری طریقه هم داوه۔ هم په دے طریقه د یو خاندان او د یوے رُوړو لئی خلقو، د یوے قبیلے او د یو قوم خلقو په شریکه ژوند تیرولے شوا د د ژوند په معاملاتو کښے ځکه د یو بل سره امداد کولے شو۔ لیکن دا ټول شیطانی جهالت وُو چه د الله تعالیٰ جوړ کړے شوی فطرت د پیژندګلو د پاره کوم څیز جوړ کړے وُو د هغے نه په یو بل باندے د فخر کولو او د یو بل نه د نفرت کولو ذریعه جوړه کړه شوه او بیا خبره ظلم او زیاتی ته اُورسولے شوه۔

دریم داچه د انسانانو په منځ کښے که د برتری او غوره والی څه بنیاد کیدے شی نو هغه صرف اخلاقی غوره والے دے۔ د پیدائش په اعتبار سره ټول انسانان یو شان دی، ځکه چه د هغوی پیدا کوونکے یو دے، د هغوی د پیدا کیدو مادہ او د پیدا کیدو طریقه اِکّی یوه ده، او د هغوی تولو نسب اِکّی یو مور او پلار ته رسی۔ دے نه علاوه د چا په یو خاص ملک کښے یا په یو خاص قوم کښے، یا په یو خاص رُوړو لئی کښے پیدا کیدل یوه داسے اتفاقی خبره ده چه په هغے کښے د چا د خپلے ارادے، د چا د خپلے خوښے او د چا د خپل کوشش هیڅ دخل نشته۔ هیڅ مناسب وجه نشی کیدے چه په دے لحاظ سره د یو انسان ته په بل انسان باندے فضیلت یعنی غوره والے حاصل وی۔ د کوم اصل څیز په وجه چه یو انسان ته په بل انسان باندے فضیلت حاصلیږی هغه دادے چه هغه د بل نه زیات د خدائے نه یرید ونکے، د کناهونو نه پرهیز کید ونکے او د نیکئ په لاره تلونکے وی۔ دا سے انسان که د هر نسل، د هر قوم او د هر ملک سره تعلق لری، خو هغه د خپلے ذاتی خوبئ په وجه د قدر کولو قابل دے۔ او څوک چه د دے نه خلاف وی هغه بهرحال د یو ے کے د بے انسان دے خواه که هغه تُور وی او که سپین وی، که په مشرق کښے پیدا شوے وی او که په مغرب کښے۔

د قرآن دا کوم حقیقتونه چه په دے مختصر شان آیت کښے بیان کړے شوی دی، دا رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو مختلفو خطبو کښے زیات په تفصیل سره بیان کړی دی۔ د مکے د فتحے په موقعه چه د کعبے د طواف کولو نه روستو نبی کوم تقریر کړے وُو په هغے کښے ئے فرمائیلی وُو:

الحمد لله الذی اذهب عنکم عیبة الجاهلیة وتکبرها۔ یا ایها الناس، الناس رجلان، برٌ تقی کریمٌ علی الله، وفاجر شقی هینٌ علی الله۔ الناس کلهم بنو آدم وخلق الله آدم من تراب۔

(بیهقی فی شعب الایمان۔ ترمذی)

شکر دے د هغه الله چه ستاسو نه ئے د جاهلیت عیب او د جاهلیت تکبر لرے کړو۔ اے خلقو، ټول انسانان پس په دوو حصو کښے تقسیمیږی۔ یو نیک او پرهیزګار، چه د الله په نظر کښے عزت مند دے۔ دویم گنهګار او بد بخته، چه د الله په نظر کښے ذلیل دے۔ ټول انسانان د آدم اولاد دی او الله تعالیٰ آدم د خاورے نه پیدا کړے وُو۔

د حجة الوداع په موقع د ایام تشریق په منځ کښے نبی یو تقریر او کړو او په هغے کښے ئے او فرمائیل:

یا ایها الناس، الا ان ربکم واحدٌ لا فضل لعربی علی عجمی ولا لعجمی علی

خلقو خبردار شئ، ستاسو د ټولو خدائے یو دے، عربی له په عجمی باندے او عجمی له په عربی باندے او سور له په تُور

عربی ولا لاسود علی احمر ولا لاحمر علی اسود الا بالتقوٰی، ان اکرمکم عند اللہ اتقٰکم، الا ھل بلغت؟ قالوا بلیٰ یارسول اللہ، قال فلیبلغ الشاھد الغائب۔

(بیہقی)

دَ بنیؐ یو حدیث دے۔

کلکم بنو آدم وآدم خلق من تراب ولینتھین قوم یفخرون بآبائھم او لیکونن اھون علی اللہ من الجعلان۔

(بزّار)

پہ یو بل حدیث کښے نبیؐ فرمائی:

انّ اللہ لا ینظر الی صورکم واموالکم ولکن ینظر الی قلوبکم واعمالکم۔

(مسلم، ابن ماجہ)

بانديا او تورله په سور باندې هيڅ فضيلت نشته، اوګه شته نو صرف په تقوٰی سره دے۔ دَ اللہ په نزد په تاسو کښے دَ ټولو نه زيات عزت والا هغه دے چې هغه دَ ټولو نه زيات پرهيزګار وی۔ آيا ما تاسو ته خبره دَ رسول او رسوله؟ ټولو خلقو اووئيل چې هو، اے دَ اللہ رسوله۔ رسول او فرمائيل، چې څوک موجود دی نو هغوی دِ هغه خلقو ته اخبره اورسوی څوک چې موجود نه دی۔

تاسو ټول دَ آدم اولادئ او آدم دَ خاورے نه پيدا کړے شوے وُو۔ خلق دِ په خپل پلار نيکه فخر پريږدی کنئ نو هغوی به دَ اللہ په نظر کښے دَ ډوسپک چينجی نه زيات ذليل وی۔

په يو بل حديث کښے نبیؐ فرمائی:

انّ اللہ لا ينظر الی صوركم واموالكم ولكن ينظر الی قلوبكم واعمالكم۔

(مسلم، ابن ماجہ)

اللہ به دَ قيامت په ورځ ستاسو نه ستاسو دَ اصل نسل تپوس نه کوی۔ دَ اللہ په نزد ټولو نه زيات عزتمند هغه دے چې هغه دَ ټولو نه زيات پرهيزګار وی۔

دَ يو بل حديث الفاظ دا دی:

اللہ ستاسو شکلونو او ستاسو مالونو ته نه کوری بلکه هغه ستاسو زړونو او ستاسو عملونو ته کوری۔

دا تعليمات هيڅ تشے خبرې نه دی بلکه اسلام دَ هغه مطابق دَ مومنانو يوه داسے لوی يه رُوڼه ولی عملاً قايم کړی ده چې په هغے کښے دَ رنګ، دَ نسل، دَ ژبے، دَ وطن او دَ قوميت هيڅ فرق نشته، چې په هغے کښے دَ اُوچت او دَ لانديو دَ کنډو نسل او دَ اعلیٰ نسل او دَ جُدا ايئ او دَ ننګ هيڅ تصوّر نشته، چې په هغے کښے دَ هر نسل، دَ هر قوم او دَ هر وطن خلق شاميدے شی او شامل شری دی، او دَ شاميدو نه روسته دَ هغوی ټولو يوشان برابر حقونه دی، کوم خلق چې دَ اسلام مخالف دی هغوی هم دا خبره منلی ده چې دَ انسانی برابرئ او يووالی په اُصولو يا دِ په مسلمانانو کښے څومره په کاميابئ سره عمل شوے دے دَ هغے مثال دَ دُنيا په بل يو دين او بل يو نظام کښے نه موندے کيږی او نه چرته موندے شوے دے۔ يوازے اسلام هغه دين دے چې دَ زړګے په مخ باندې خواره شوی بے شمارہ فسلونه او تاموندنے رايو ځائے کړل او يو اُمت نے ترجوړ کړو۔

په دے سلسله کښے دَ يوے غلط فهمئ لرے کول هم ضروری دی۔ دَ واده کو ټبيدن په معامله کښے چې اسلام قانون "کفو" ته کوم اهميت ورکوی دَ هغے نه څيني خلقو دا مطلب اخستے دے چې څه خلق شريفان دی او څه خلق رذيلان دی او دَ دوئ په منځ کښے يو بل سره نکاح کول بنه خبره نه ده۔ ليکن دا په اصل کښے

قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا ؕ قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا

دا باندې بیسیان وائی چې "موږه ایمان راوړو" دوی تر اووایه، "تاسو ایمان نه دے راوړے بلکه داسے وایئ چې "موږه غاړه کیښوده یعنی تابع شوے"

یو غلط خیال دے۔ د اسلامی قانون ترمخه د هر مسلمان سړی د هرے مسلمانے نه نکاح کیږی، لیکن کورنۍ ژوند په هله بنه کامیاب وی چه د نکاح اود خاوند ترمنځ په عادتونو کښے، په خوئ خصلت کښے، د ژوند په طریقو کښے، په خاندانی رسمونو کښے او د میل ملاپ په یواجوتوب کښے د زیاتو نه زیات مطابقت وی د پاره دے چه هغوئ د یو بل سره بنه ژوند تیر کړی۔ دا د کفاءت اصلی مقصد دے۔ چرته چه د سړی اود نکے په منځ کښے په دے لحاظ سره د پام زیات فرق وی نو هلته ټول عمر د خوږ ژوند تیرولو اُمید لږ کم کیدے شی، په دے وجه اسلامی قانون دا سے کسان یو خلئے کول نه خوښوی، په دے وجه نه چه په دوارو کښے یو شریف دے اوبل کمینه دے، بلکه په دے وجه چه کله د دوارو په حالاتو کښے د پام زیات فرق او اختلاف وی نو د وادۀ د ژوند د ناکامیدو زیات امکان وی۔

۲۹ یعنی داخبره الله ته معلومه ده چه څوک واقعی د اعلیٰ درجے انسان دے۔ خلقو چه د خپله خانه د اعلیٰ او د ادنیٰ کوم معیار جوړ کړے دے هغه د الله سره نه چلیږی۔ کیدے شی چه یو سړے په دُنیا کښے د اُوچتے مرتبے کنړے شی او هغه د الله تعالیٰ په آخری فیصله کښے د کمے درجے په خلقو کښے راشی، اوکیدے شی چه یو سړے دلته په دُنیا کښے سپک کنړے شی او هغه هلته په اُوچته مرتبه کښے راشی۔ اصل څیز د دُنیا عزت او ذلت نه دے بلکه اصل عزت او ذلت هغه دے کوم چه د الله سره د انسان ته نصیب شی۔ په دے وجه انسان له پکار دی چه ټول فکر دے خبرې اوکړی چه په خپل خانکښے هغه حقیقی صفتونه پیدا کړی چه هغه د الله په نظر کښے سړے د عزت لائق جوړ ولے شی۔

۳۰ دے نه مُراد ټول باندې بیسیان خلق نه دی بلکه دلته د باندې بیسیانو د هغو خاصو ډلو ذکر کیږی چه هغوئ د اسلام د زیات طاقت په لید وسره صرف په دے خیال مسلمانان شوی وُو چه د مسلمانانو د حملونه به هم محفوظ پاتے شی او د اسلامی فتوحاتو ټائید ے به هم واخلی۔ دے خلقو په حقیقت کښے د زړه په صدق سره ایمان نه وُو راوړے، ځکه په ژبه ئے د ایمان اقرار کړے وُو او خانونه ئے په مسلمانانو کښے شمار کړی وُو۔ او هغوئ د زړه دا راز به په هغه وخت کښے بیکاره کید و کله چه به هغوئ رسول الله صلی الله علیه وسلم له راغلل او قسما قسم مطالبے به ئے کولے او خپل حق به ئے په دے طریقه زیاتلو لکه چه هغوئ به اسلام قبلولو سره په نبی ﷺ دیر احسان کړے دے۔ په روایتونو کښے د کنړو قبائلی ډلو د دے عمل ذکر راغلے دے، مثلاً مزینه، جُهینه، اَسْلَم، اَشْجَع، غِفار وغیره۔ خاص طور د بنی اَسَد بن خُزیمه په حقله د ابن عباس او د سعید بن جُبیر بیان دے چه یو خُلے په سوکړه کښے هغوئ مدینے ته راغلل، د مالی امداد مطالبه ئے کوله او بار بار ئے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وئیل چه "موږه بغیر د جنګ نه مسلمانان شوی یُو، موږه ستاسره هغسے جنګ نه دے کړے لکه څنګه چه فلانئ او فلانئ قبیلے کړے دے" دے نه د

هغوی صفا مطلب دا وُوچه د الله د رسول سره جنګ نه کول او اسلام قبلول د هغوی د طرفنه یو غټ احسان دے چه د رسول او د مومنانو د طرفنه ورته د هغے بدله ملا ویدل پکار دی. د مدینے د خواؤ شا د باندې بسیانو دا هغه عمل وُوچه په دے آیتونو کښے پرې تبصره شوی ده. د دے تبصرے سره چه د سورۃ توبے آیتونه ۹۰ تا ۱۱۰ او د سورۃ فتح آیتونه ۱۱ تا ۱۴ یو ځلے او لو تسلے شی نو په خبره به نورهم زیات سړے پوهه شی

۳۱ ـــ په اصل کښے د قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا الفاظ استعمال شوی دی چه د هغے بله ترجمه داهم کیدے شی چه "اُووایئ، موبږه مسلمانان شوی یُو" د دے الفاظو نه څینو خلقو دا نتیجه را اېستلی ده چه د قرآن په ژبه کښے "مومن" او "مسلم" دوه مخالف ټکی دی، مومن هغه دے چه د زړه په صدق سره ے ایمان راوړے وی او "مسلم" هغه دے چه د ایمان نه بغیرے تش په ظاهره اسلام قبول کړے وی. لیکن په حقیقت کښے دا خیال بالکل غلط دے. په دے کښے هیڅ شک نشته چه دلته د ایمان لفظ د زړه د تصدیق د پاره او د اسلام لفظ تش د ظاهري اطاعت د پاره استعمال شوے دے. لیکن دا خبره صحیح نه ده چه دا کښې د قرآن دوه مستقل او دیو بل نه مخالف ټکی دی. د قرآن په کومو آیتونو کښے چه اسلام او مُسلم الفاظ استعمال شوی دی په هغے باندې د غور کولو نه دا خبره معلومیږی چه د قرآن په ژبه کښے "اسلام" د هغه حق دین نوم دے چه هغه الله تعالیٰ د ټولو انسانانو د پاره نازل کړے دے، د هغے په مفهوم کښے ایمان او حکم منل دواړه شامل دی، او "مُسلم" هغه دے چه د زړه نه ے اُومنی او عمل پرې اوکړی. د مثال په طور لاندې آیتونه اُوګورئ:

اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ (آل عمران ۱۹)	یقیناً د الله په نزدې دین صرف اسلام دے۔
وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۔ (آل عمران ۸۵)۔	او څوک چه د اسلام نه علاوه بل دین اُوغواړی د هغه هغه دین به هرګز قبول نه کړے۔
وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا (المائدہ ۳)	او ما ستاسو د پاره اسلام د دین په حیثیت سره خوښ کړے دے۔
فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ (الانعام ۱۲۵)	الله چه چا ته هدایت کول غواړی نو د هغه سینه د اسلام د پاره فراښه کوی۔

ښکاره خبره ده چه په دے آیتونو کښے د "اسلام" نه مراد بے ایمانه حکم منل نه دی۔ بیا اُوګورئ د حالتے په حالتے دا قسم آیتونه راځی:

قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَسْلَمَ (الانعام ۱۴)	اے نبی اُووایه، ماته د حکم شوے دے چه د ټولو نه اول زه اسلام قبلوونکے یم۔
فَاِنْ اَسْلَمُوْا فَقَدِ اهْتَدَوْا (آل عمران ۲۰)	پس که چرے هغوی اسلام راوړو نو هدایت ته به یا موند و۔
يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا۔ (المائدہ ۴۴)	پیغمبرانو به د تورات مطابق فیصلے کولے هغه پیغمبرانو چه اسلام ته راوړے وُو۔

وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ ۖ وَإِنْ تُطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَا يَلِتْكُمْ مِنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْئًا ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٤﴾ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ﴿١٥﴾

ایمان لا ستاسو په زړونو کښے ورننوتے نه دے ۔ که چرے تاسو د الله او د هغه د رسول حکمونه اُومنل نو هغه به ستاسو د عملونو په اجر کښے هیڅ کمے اُونه کړی، بے شکه چه الله ډیر بخښونکے او مهربانه دے ۔ په حقیقت کښے خو مومنان هغه خلق دی چه په الله او د هغه په رسول ئے ایمان راوړو او بیا ئے هیڅ شک اُونه کړو او د الله په لار کښے ئے په خپل سرو مالونو سره جهاد اوکړو هم دغه رښتینی خلق دی ۔

آیادلته اودغه شان په نورو ډیرو ځایونو کښے د اسلام قبلولو یا د اسلام راوړلو مطلب د ایمان نه بغیر حکم منل دی؟ دغه شان د "مسلم" لفظ چه بار بار په کومه معنیٰ کښے استعمال شوے دے د هغے د پاره د نمونے په طور لاندینی آیتونه اوګورئ:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ۝ (آل عمران - ۱۰۲)

اے خلقو چه ایمان مو راوړے دے، د الله نه اُویریږئ لکه څنګه چه د هغه نه ډیره حق دے او تاسو له ډیر مرګ نه راځی مګر په داسے حال کښے چه تاسو مسلمانان یئ ۔

هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَٰذَا (الحج - ۷۸)

هغه اول هم ستاسو نوم مسلمان ایښودلے وُو او په دے کتاب کښے هم ۔

مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِنْ كَانَ حَنِيفًا مُسْلِمًا ۔ (آل عمران ۶۷)

ابراهیم نه یهودی وُو او نه نصرانی وُو، بلکه هغه یو خالص مسلمان وُو ۔

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ ۔ (البقرہ - ۱۲۸)

(دکعبے د جوړولو په وخت کښے د حضرت ابراهیم او اسماعیل دُعا) اے زمونږه ربه، او مونږه دواړه د خپل ځان مسلمانان کړه او زمونږ د نسل نه یوه داسے اُمت راپیدا کړه چه ستا مسلمانان وی ۔

يَا بَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ۝ (البقرہ - ۱۳۲)

(د حضرت یعقوبؑ وصیت خپل اولادته) اے زما بچو الله ستاسو د پاره هم دا دین خوښ کړے دے نو تاسو له ډیر مرګ نه راځی مګر په داسے حال کښے چه تاسو مسلمانان یئ ۔

قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ
وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۱۶ يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ
اَنْ اَسْلَمُوْا ۭ قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ ۚ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ
عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۱۷ اِنَّ اللّٰهَ
يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۱۸

اے نبیؐ، دے (د ایمان دعوه کیږو) ته اووایه، آیا تاسو الله ته د خپل دین خبر ورکوئ؟ حالانکه الله د زمکې او د آسمانونو هر شیز نه خبر دے او هغه د هر شیز علم لري۔ داخلق په تا باندې احسان زباتي چه دوئ اسلام قبول کړو۔ دوئ ته اووایه چه د خپل اسلام احسان په ما مه کوئ بلکه د الله په تاسو احسان دے چه هغه تاسو ته د ایمان لار اوښودله که چرے واقعي تاسو د ایمان په خپله دعوه کښے ریښتینی یئ۔ الله ته د زمکې او د آسمانونو د هرڅه شیز علم دے او څه چه تاسو کوئ هغه ټول د هغه په نظر کښے دی۔ ع

دَدے آیتونو د لوستلو نه روستو آخر څوک دا ویلے شی چه په دے کښے د مسلمان نه مراد هغه سړے دے چه د زړه نه ئے نه منی، خو بس ظاهري طور اسلام قبول کړی؟ په دے وجه دا دعوٰی بالکل غلطه ده چه په قرآن کښے د اسلام نه مراد بغیر د ایمان نه حکم منل دی، او مسلمان تش په ظاهره اسلام قبلونکی ته وائی۔ د هغه شان دا دعوٰی هم غلطه ده چه د "ایمان" او د "مومن" الفاظ په قرآن مجید کښے خا مخا د زړه پېه صدق سره د منلو په معنٰی کښے استعمال شوی دی بے شکه چه په دیرو ځایونو کښے دا الفاظ هم دَدے معنٰی د پاره را غلی دی، لیکن دیرو ځایونه داسے هم دی چه هلته دا الفاظ د ایمان د ظاهري اقرار د پاره هم استعمال کړے شوی دی اود يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا خطاب هغه ټولو خلقو ته شوے دے څوک چه د ژبے په اقرار سره د مسلمانانو په ډله کښے شامل شوی دی خواه که هغه ریښتینی مومنان دی او که کمزوری ایمان والا دی، او که صرف منافقان دی۔ دَدے دیر مثالونه دی خو صرف دیو مثالونو د پاره اوکورئ آل عمران، آیت ۱۵۶۔ النساء، ۱۳۶۔ المائدہ، ۵۴۔ الانفال، ۲۰، ۳۴۔ التوبہ، ۳۸۔ الحدید ۲۸۔ الصّف، ۲

تفهم القرآن

ق

٥٠

ق

نوم د اوّل ټکی ق نه اغستلے شوے دے۔ مطلب دا دے چه هغه سورة چه د هغے شروع د ق ټکی نه شوی دے۔

د نازلیدو زمانه د یو معتبر روایت نه دا پته نه لږی چه دا سورة تیک په کومه زمانه کښے نازل شوے ده، لیکن د دے په مضمون چه سړے غور اوکړی نو معلومیږی چه د دے د نازلیدو زمانه د مکے معظمے دویم دور دے چه د نبوّت د دریم کال نه شروع شوے وو او د پنځم کال پورے وو۔ د دے دور خاصیتونه موږ د سورة انعام په دیباچه کښے بیان کړی دی۔ د هغه خاصیتونو په لحاظ سړه اندازه دا تیاس کیدے شی چه دا سورة به د نبوّت په پنځم کال نازل شوے وی چه د کافرانو مخالفت ښه په زور سړه وو، لیکن د ظلمونو شروع لا نه وه شوی۔

موضوع او مضمون د معتبرو روایتونو نه معلومیږی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به اکثر دا اختر په مونځونو کښے د دے سورة تلاوت کولو۔ اُمِّ هِشام بن حارثه، چه د نبیؐ کاونډۍ وه، وائی چه ماته سورة ق یاد شوے په دے طریقه دے چه د جمعے په خطبو کښے به ما اکثر د نبیؐ د خُلے مبارکے نه دا آوریدو۔ په مُسلم نور روایتونو کښے راغلی دی چه د سحر په مونځ کښے به هم نبیؐ اکثر دا سورة لوستلو۔ د دے نه دا خبره معلومیږی چه د نبیؐ په نظر کښے دا یو دیر اهم سورة وو۔ په دے وجه به هغه یار یار لوستلو چه د دے مطلب د زیاتونه زیاتو خلقو ته اُورسی۔

چه سړے دا سورة په غور سره اُولولی نو دے د دا اهمیّت په وجه په آسانئ سره پوهیږی۔ د تول سورة موضوع آخرت دے۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کله په مکّه معظمه کښے خپل د عوت شروع کړو نو خلق چه به د تولونه زیات په کومه خبره حیرانیدل هغه دا وه چه د مړک نه روستو به انسان دوباره راژوندے کیږی او د هغوئ سړه به د عملونو حساب کتاب کیږی۔ خلقو به وئیل چه دا خو بالکل ناشونی خبره ده، عقل نه منی چه دا سے کیدے شی، آخر دا خبره څنګه ممکنه ده چه کله موږ ذرّه ذرّه شوی یو او په زمکه کښے خواره واره شوی یو نو دا خوږے وږے ذرّے به زرکونه کاله روستو بیا رایو ځائے کړے شی او زموږ دا بدن به تر بیا جوړ شی او موږ به ژوندی شو او راپاڅه سو؟ دے دے په جواب کښے د الله تعالیٰ د طرف نه دا نقل یر نازل شو۔ په دے کښے دیر په مختصره طریقه په وړو وړو فقرو کښے یو طرفته د آخرت د امکان او د را تلو دلیلونه ورکړے شوی دی او بل طرفته خلقو له خبردارے ورکړے شوے دے که تاسو حیرانتیا کوئ، او که د عقل نه لرے خبره کنړئ، او که دروغ ګڼئ، بهرحال دے سړه حقیقت نشی بدلیدے۔ او حقیقت او قطعی حقیقت دا دے چه ستاسو بدن هغه یوه یوه ذرّه کومه چه په زمکه کښے خوره وره شوی وی هغه الله ته معلومه ده چه هغه په کوم ځائے کښے ده او په څه حال کښے ده۔ د الله تعالیٰ یوه

اشارہ دَدے دَپارہ کافی دہ چہ دا ټولے خورے دَرے ډلے بیا راجمع شی او تاسو دَ مخکینی پشان بیا دوباره جوړ کړے شئ او جوړ ژوندی اللہ تعالیٰ تہ مخامخ کړے شئ۔ دغہ شان ستاسو دا خیال هم غلط دے چہ تاسو دلتہ دَ بے مُهاره اُوبن پشان پریښودلے شوی یئ او ستاسو نہ بہ هیڅوک تپوس نہ کوی۔ حقیقت دادے چہ اللہ تعالیٰ نیغ پہ نیغہ پخپلہ هم ستاسو دَ هرے خبرې او دَ هر کار نہ، بلکہ ستاسو پہ زړونو کښے چہ کوم خیالات تیریږی دَ هغے ټولونہ خبردے، او دَ هغہ فرښتے هم پہ هرسړی پسے ګکیدلی دی او دَ هغہ ټولے خبرې اترې او دَ هغہ ټول کاروبار محفوظ ساتی۔ چہ وخت راشی نو تاسو بہ پریوځای بالکل هغسے راژوندی شئ لکہ څنګہ چہ دَ باران پہ ځاځکو دَ زمکے بوټی زرغونیږی۔ اُوس چہ دَ غفلت کومہ پردہ ستاسو پہ عقل پرتہ دہ هغہ بہ پہ هغہ وخت کښے ستاسو دَ مخے نہ لرے شی او تاسو بہ پہ خپلو سترګو هغہ ټول هرڅہ اُوګورئ دَ کومو نہ چہ تاسو نن انکار کوئ۔ پہ هغہ وخت کښے بہ تاسو تہ معلومہ شی چہ تاسو پہ دنیا کښے غیر ذمہ وار نہ وئ بلکہ ذمہ وار خلق وئ۔ نن چہ درتہ دَ جزا او دَ سزا، دَ عذاب او دَ ثواب او دَ جنت او دَ دوزخ خبرې هسے ناآشنا قیصے غوندے بنکاری، دا ټول حقیقتونہ بہ پہ هغہ وخت کښے ستاسو دَ سترګو وړاندے وی۔ دَ حق سرہ دَ دُشمنئ کولو پہ وجہ بہ هغہ دوزخ تہ ورغوزار کړے شئ چہ نن ئے تاسو دَ عقل نہ لرے کنړئ، او کوم خلق چہ دَ خدائے نہ یریږی او پہ نیغہ لارہ روان دی هغوئ بہ ستاسو پہ مخکښے هغہ جنت تہ وځی چہ نن دَ هغے پہ ذکر آوریدو سرہ تاسو حیرانیږئ۔

سُوْرَۃُ قٓ مَکِّیَّۃٌ

اٰیَاتُہَا ۴۵ رُکُوْعَاتُہَا ۳

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِیْدِ ۝۱ بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَہُمْ مُّنْذِرٌ
مِّنْہُمْ فَقَالَ الْکٰفِرُوْنَ ہٰذَا شَیْءٌ عَجِیْبٌ ۝۲ ءَاِذَا مِتْنَا
وَکُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِکَ رَجْعٌۢ بَعِیْدٌ ۝۳ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ

ق. قسم دے په قرآن مجید [1] ــــ بلکه داخلق پدے خبره حیران شوچې یو خبردار ورته د دوی د خپل قوم نه دوی ته راغے [2] بیا انکار کونکو اووئیل" داخو عجیبه خبره ده، کله چې مونږه مړه شواوخاوری شو (نو کیدی دوباره به بیارا ژوندی کیږو) ؟ دا واپسی خو د عقل نه لرے خبره ده [3]"، (حالانکه) زمکه چه د دوی د بدن نه څه خوری هغه ټول زمونږ

[1] د "مجید" لفظ په عربی ژبه کښے د دوو معنو د پاره استعمالیږی. یوه معنی ده "اوچته مرتبه لویی والا، بزرګ او عزتمند. دویمه معنی ده کریم یعنی سخی، ډیر ورکړے والا، ډیره نفع رسونکے. د قرآن د پاره دالفظ په دے دواړو معنو کښے استعمال کړے شوے دے. قرآن په دے لحاظ سره عظیم دے چې د دنیا یو کتاب څوک د دے په مقابله کښے نشی پیش کولے. قرآن د خپلے ژبے اود خپل ادب په لحاظ سره هم معجزه دے اود خپل تعلیم او حکمت په لحاظ سره هم معجزه ده. په کوم وخت چې قرآن نازل شوے وو په هغه وخت کښے هم انسان د دے په پشان د کلام جوړولو نه عاجزه وو او نن هم عاجزه دے. د قرآن یوه خبره هم چرته په یوه زمانه کښے غلطه نه ده ثابته کړے شوی اونه غلطه ثابتیدے شی، باطل نه مخامخ د قرآن مقابله کولے شی اونه د روستو نه شکست ورکولے شی. او قرآن په دے لحاظ سره کریم دے چې انسان د ده نه د خومره زیاتے رهنمائی حاصلولو کوشش کوی هغومره زیاته رهنمائی هغه ته کوی او چې خومره زیاته د ده پیروی کوی هغومره ورته د دنیا او د آخرت نیکیانے زیاتے حاصلیږی. د قرآن د فائدو څه داسے حد نشته چې هلته انسان اورسی او نور نو ګنی بے پروا به شی، یا به د قرآن فائدے ختمے شی.

[2] د افقره د فصاحت بهترینه نمونه ده. په دے کښے یو لوی مضمون په یو څو الفاظو کښے راپوخائے کړے شوے دے. د قرآن قسم چې په کومه خبره خوړلے شوے دے هغه نه ده بیان کړے شوی. د هغے د بیانولو پاره "بلکه" په منځ کښے یوه باریکه خلا پریښودے شوی ده او وروسته نیئی خبره د "بلکه" نه شروع کړے شوی ده سره له چې یو شان غور او کړی او په هغه حالا توهم نظر اولړی چې په کومو کښے د اخبره شوی ده نوو اپته لږی چې د قسم او د "بلکه" په منځ کښے کومه خلا پریښودے شوی ده د هغے مضمون څه دے. په هغے کښے چې په اصل کښے په کومه خبره قسم خوړلے شوے دے هغه دا ده چې "د مکے خلقو د محمد صلی اللہ علیہ

هُمْ وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ ۝۴ بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ

یه علم کښے دی او زمونږ سره یو کتاب دے چه پکښے هرشے محفوظ دی۔[۴]
بلکه دے خلقو نه چه څه وخت حق راغے نو په هغه وخت ئے صفا دروغ او ګنړد۔

وسلم د پیغمبرئ د منلو نه انکار څه د حقے خبرې په بنیاد باندې نه دے کړے بلکه د دے سرا سر ناحقے خبرې په بنیاد باندې ئے کړے دے چه د هغوئ د خپل جنس نه یو انسان، او د هغوئ د خپل قوم نه یو تن د خدائے د طرفنه د خبرد ارولو کې په حیثیت سره راغلے دے نو دا د هغوئ د پاره سخته د حیرانتیا خبره ده۔ حالانکه د حیرانتیا خبره وه نو هغه دا وه چه خدائے تعالیٰ د خپلو بندګانو د پښه اوبد نه بے پروا شوے وے او د هغوئ د خبردارولو څه انتظام ئے نه کولے، یائے د انسانانو د خبردارولو د پاره د انسان نه علاوه بل څه مخلوق رالیږلے وے، یائے د عربیا نو د خبردارولو د پاره د چین یو سړے لیږلے وے۔ نو د انکار کولو دا بنیاد ئے بالکل نامناسب دے او یو عقلمند انسان یقیناً د دے خبرې په منلو مجبوره دے چه د خدائے تعالیٰ د طرفنه د بندګانو د خبردارولو د پاره انتظام ضروری پکار دے او په دے شکل پکار دے چه خبردار ونکے انسان د خاص هم د هغه خلقو نه وی چا ته چه هغه لیږلے شوے وی۔" اُوس پاتے شوه دا خبره چه آیا محمد صلی الله علیه وسلم خاص هم هغه سړے دے چه خدائے د دے کار د پاره رالیږلے دے او که نه دے، نو د دے فیصلے کولو د پاره د بل شهادت حاجت نشته، د اعظیم او کریم قرآن چه هغه ئے پیش کوی بس هم دا د دے خبرې د ثبوت د پاره بالکل کافی دے۔

د دے تشریح نه معلومیږی چه په دے آیت کښے په دے خبره د قرآن قسم خوړلے شوے دے چه محمد صلی الله علیه وسلم واقعی د الله رسول دے او د هغه په رسالت باندې د کافرانو حیرانیدل بے ځایه دی۔ او د قرآن صفت "مجید" د دے دعوے په ثبوت کښے پیش کړے شوے دے۔

۳؎ دا د دے خلقو دویمه حیرانیتا وه۔ اولنۍ او اصل حیرانیتا د مړک نه پس په دوباره ژوندانه وه بلکه په دے وه چه د دوئ د جنس او د دوئ د قوم یو سړے راپاسید لے وو او د عوای ئے کړی وه چه زه د خدائے د طرفنه ستاسو د خبردارولو د پاره راغلے یم۔ د دے نه روستو هغوئ په دے خبره نورهم زیات حیران شوچه هغه سړی هغوئ ته د کوم څیز خبردارے ورکولو هغه دا وو چه ټول انسانان به د مړک نه روستو دوباره راژوندی کیږی، او ټول به په جمع د الله په عدالت کښے پیش کړے کیږی، او د عمل نامو د حساب کتاب نه به روستو هغوئ له جزا او سزا ورکړے کیږی۔

۴؎ یعنی دا خبره که د دے خلقو په عقل کښه نه راځی نو دا د دوئ د خپل عقل تنګوالے دے۔ دے سره خو دا نه لازمیږی چه د الله علم او د هغه قدرت دهم تنګ شی۔ د دوئ دا خیال دے چه د اول شروع نه د قیامت پورے کوم بے شماره انسانان مړه کیږی او د هغوئ د بدن کوم حصے چه په زمکه کښے خوړے شوی دی او لانورے به هم خوړیږی، د هغوئ راجمع کول په هیڅ طریقه ممکن نه دی۔ لیکن حقیقت دا دے چه د بدن هره هره حصه چه په کوم څانګے کښے په کوم شکل کښے ده هغه الله تعالیٰ ترشیخ په ښه معلومه ده او

فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ۝۵ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ
بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۝۶ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا

پہ دے وجہ اُوس دوئ پہ دے تردُّد کښے پریوتی دی۔ ۵

بنہ۔ ۶ نو دوئ چرتہ دَ ځان کو پاسہ آسمان تہ نہ دی کتلی؟ هغہ مزبرہ څنګہ جوړ کړو او څنګہ مو بنایسته کړو، ۷ او په هغے کښے هیڅ دَر زچرتہ نشته۔ ۸ او زمکہ مزبرہ او غورولہ او په هغے کښے

بلہ داچہ دَهغے پورہ پورہ دیکارہ دَ اللہ په دفتر کښے محفوظ سلسلے کیږی او یوہ ذرّہ قدرلہ ترهم نہ پاتے کیږی۔ څہ وخت چہ دَ اللہ حکم اُوشی په هغہ وخت به یودم دَ اللہ فرښتے دَ دغہ دیکارہ نړیوہ یوہ ذرّہ او با اوۀ ټولو انسانانو هغہ بدن به بیا جوړ کړی په کوم کښے چہ هغہ دَ دُنیا په ژوند کښے کار کړے وُو۔

دا آیت هم دَ هغہ آیتونو نه یو آیت دے په کوم کښے چہ دَیہ خبری څرګندَوَنہ شوی دہ چہ دَ آخرت ژوند به نہ صرف داچہ هم هغسے جسمانی ژوند وی لکہ څنګہ چہ په دے دُنیا کښے دے، بلکہ دَهر سړی بدن به هم هغہ وی کوم چہ په دنیا کښے وُو۔ که چرے حقیقت دا نہ وے نو دَ کافرانو دَ خبری په جواب کښے دا وینا بالکل بے مطلبہ وہ چہ زمکہ ستاسو دَ بدن نه څہ خوری هغہ ټول زمونږ په علم کښے دی او دَ ذرّے ذرّے ریکارډ موجود دے۔ (دَ زیاتے تشریح دَپارہ اوګورہ تفہیم القرآن څلورم جلد، تفسیر دَ سورۃ حٰمٓ السجدۃ حاشیہ ۲۵)

۵ په دے مختصر شان فقرہ کښے هم یو ډیر لوئے مضمون بیان شوے دے۔ دَیہ مطلب دا دے چہ دے خلقو یوازے په حیرانتیا کولو او دَ عقل نه پرلے کښ لو اکتفا اُونہ کړہ، بلکہ څہ وخت چہ محمد صلی اللہ علیہ وسلم خپل حق دعوت پیش کړو نو په هغہ وخت تے تلوار اوکړہ او قطعی دروغ ګمراوکښ لو۔ دَیے نتیجہ به خامخا دا وہ او دا شوہ هم چہ دَیے دعوت په معاملہ کښے او دَیے دَ پیش کونکی رسول په معاملہ کښے دَهغوئ خبرہ یوہ نہ دہ۔ کلہ هغہ تہ شاعر وائی، کلہ کاهن (غیب ویونکے) او کلہ مجنون (یعنی لیونے)۔ کلہ وائی چہ دے جادوګر دے، او کلہ وائی چہ چا پرے جادو کړے دے۔ کلہ وائی چہ دَخپل زورتایُولو دَپارہ تے داخیز پیښہ جوړ کړے دے، او کلہ دا الزام لګوی چہ دَدۂ په شا باندے دَ بل چا لاس دے چہ دا کلام دَدۂ دَپارہ جوړ وی او دَدۂ له تے ورکوی۔ دَیے او دلوبدلو خبرو تہ معلومیږی چہ دا خلق په خپله خبره په شک کښے دی۔ په دے شک او تردُّد کښے به هرګز دوئ نہ پریوتلے کہ چرے تلوار تے نہ وے کړے او دَ بنیٔ خبرہ تے په اول حمل دروغ نہ وے ګنړلے او دَ بے سوچہ بے فکرہ فیصلے کولو نه مخکښے تے بنه په فکر سره غور کړے وے چہ دا دعوت څوک پیش کوی، څہ خبرہ کوی او دَیے دَپارہ څہ دلیل ورکوی۔ بنکارہ خبرہ دہ چہ هغہ سړے دوئ تہ څہ ناآشنا نہ وُو۔ نا ساپہ چرتہ دَ بل وطن نہ نہ وُو راغلے۔ دَدوئ دَ خپل قوم سړے وُو۔ هر چا پیژندو۔ دَ هغہ خوئ بوئ او دَ هغہ دَ تابلیت نه ناخبرہ نہ وُو۔ دَدا ډیر سړی دَ طرفنہ چہ هر کلہ یوہ خبرہ پیش کړے شوی وہ نو هغہ که فوراً نہ وہ قبوله کړے شوی نو نہ دے وہ قبوله کړے شوی لیکن دا کار ورسره هم نہ وُو پکار چہ دَ اوریدو سره دے رد کړے شی۔ بیا هغہ خبرہ بے دلیله هم نہ وہ۔

هغه به ډهغې ډپاره دلیلونه پیش کول. پکار وه چه ډ هغه دلیلونه په آزاد دغور و نوا وریدلے شوے وے او ډ ضدانه بغیر ډهغې جاج اغتلے شوے وے اوکتلے شوے وے چه هغه دلیلونه ډکومه حد پورے مناسب دی. لیکن ډیے په ځانے چه کله دوئ په ضد کښے راغلل او ډ اول سره نے هغه دروغژن اوکنړو نو نتیجتاً دا شوه چه حقیقت نه ډرسید و درواړه خو دوئ پخپله ډځان ډپاره بنده کړه اوهر طرفته ځے تیندکو نو خو رلو ډپاره لاړه جوړے کړلے. اوس دوئ ډ خپلے اولنئ غلطئ ډپوره کولو ډپاره لس آډلے بډلے خبرے خو جوړولے شی لیکن په دے یوه خبره سوچ کولو ته تیار نه دی چه نبی ربنتینی کیدے هم شی او ډهغه خبره حقیقت هم کیدے شی.

ع ۶ پاسنو پنځو آیتونو کښے دا خبره واضحه کړے شوه چه ډمکے ډکافرانو ضد یا لکل نامناسب دے او اوس ویئیلے کیږی چه محمد صلی الله علیه وسلم ډآخرت په حقله کوم آوازکړے دے ډهغې ډصحیحوالی دلیلونه څه شے دی دلته دا خبره بنه په ذهن کښے کیښول پکار دی چه کافرانو ډکومو دوو خبرو په حقله ډحیرانتیا اظهارکولو په هغے کښے ډیوے، یعنی ډمحمد صلی الله علیه وسلم ډپیغمبرئ ډحقانیت دوه دلیلونه په اول کښے بیان کړے شوی دی اول دا چه هغه ستاسو په وړاندې قرآن مجید پیش کوی چه ډهغه ډپیغمبرئ بنکاره ثبوت دے. دویم دا چه هغه ستاسو ډخپل جنس او ستاسو ډخپلے ټولنئ سړے دے. ناسا په ډآسمان نه یا ډبلے زمکے نه چرته نه دے راغلے چه تاسو ته کښې ډهغه ډخوئ بوئ او ډهغه ډژوند په حقله دا تحقیق کول کرانې چه آیا هغه ډاعتماد قابل سړے دے اوکه نه دے. او دا قرآن ډهغه خپل جوړکړے کلام کیدے شی اوکه نه، په دے وجه ډهغه په پیغمبرئ باندې ستاسو حیرانتیا بے ځایه ده. دا دلیلونه په تفصیل سره د پیش کولو په ځائے ډدوئ مختصر و اشارو په شکل کښے بیان کړے شوی دی، ځکه چه په کومه زمانه کښے محمد صلی الله علیه وسلم پخپله په مکه کښے راپاسید و اوهغه خلقو ته ئے قرآن اورولو چه هغه ټول ژوند ډورځو الی نه ډځانونو اوډ پوخ عمر پورے لیدلے وو، په هغه وخت کښے په دغه اشارو باندې هرسړے پخپله بنه په تفصیل سره پوهیدو په دے وجه اوس دا پیژندی او ډهغه دویمے خبرے ډصداقت ډپاره بنه په تفصیل سره دلیل بیانولو ته چه هغوئ ډحیرانتیا په نظر کوی او ډعقل نه ئے لرے کنړی.

ع ۷ دلته ډآسمان نه مراد پورته هغه ټول جهان (یعنی عالم) دے کوم چه انسان شپه او ورځ ډځان ډپاسه ګیر چاپیره وینی. چه کښے ډورځے نمر ځلیږی او ډشپے سپوږمئ او بے شماره ستوری روښانه بنکاری. چه هغه سړے هم دغسے په لغړو ستړکو اووینی نو حیرانیږی، لیکن که چرے دوربین اولکوی نو بیا دے فراښه کائنات ته ځغلے ته راځئ چه آخر حد ئے نه معلومیږی او دا پته نه لږی چه ډکوم ځائے نه شروع شوے دے او په کوم ځائے ختم شوے دے. زمونږ ډ زمکے نه په لکو نو چنده لوئے لوئے سیارے په هغے کښے ډښاد سونو پشان چوړلګونه خوری. زمونږ ډ نمر نه په زرګونو درجے زیات روښانه ستوری په هغے کښے ځایږی. زمونږ دا ټول نظام شمسی ډهغې صرف ډیوکهکشان (GALAXY) په یوکوت کښے پروت دے. یوازے په دے یوکهکشان کښے زمونږ ډ نمر غوندې کم نه کم درے اربه نور ستوری (ثوابت) موجود دی، او ډاوسه پورے ډانسان په معلوماتو کښے دغسے ډلسولکو کهکشانونو پته لږیدلی ده. په دے لکګونو کهکشانونو کښے موږ نه ډټولو نه نزدے کهکشان دومره لرے دے چه ډهغې رڼا په سیکنډ کښے ډیولاک شپږ اتیا زره میله په رفتار سره

وَالْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۝٧

موغږونه کلک وَدَرول اوپه هغې کښې موهر قسم بناسته بناسته بُوټي زرغون کړل۹ ـ داټول څیزونه

په لس لاکه کاله کښې زمکې تدراړسۍ ـ داخو دکائناتو دَ فرانبۍ صرف دَ هغه حصې حال دے چه هغه دَ انسان په عِلم اومعلُوماتو کښې راغلی دے ـ دَ خدائے خدائی څومره فراښه ده، دَدے هیڅ اندازه موږ نه شو لګولے کیدے شی چه انسان تر کوم کائنات معلوم دے هغه دَ ټول کائنات په مقابله کښې داسے وی لکه دَ سمندر نه څاڅکے ـ دالوئی جهان چه کوم خدائے پیدا کړے دے دَ هغه په بارے کښې دا په زمکه باندې ورو کے شان کړځند کویا نه ځناور، چه نوم ئے انسان دے، که چرے دا حکم اولکوی چه هغه دَ دے دَ مرګ نه روستو دوباره بیا نشی راپیدا کولے، نو دا دَدۀ دَ خپل عقل تنګوالے دے، دَ کائنات دَ خالق قدرت به په دے سره څنګه تنګ شی؟

۸ یعنی دَ کائناتو دَ دے دومره فراښتیا باوجود دَدے نظام دومره باقاعدۀ اومضبوط دے اودَدے ترون دومره سخت دے چه په دے کښې په هیڅ ځائے کښې چرته دَرز یا سُوریے نشته اودَدے تسلسل چرته ماتیږی نه ـ داخبره په یو مثال سره بنه په ذهن کښې راتلے شی ـ دَنوے زمانے هغه عالمان چه دَغږاودَستورو اودَ سپوږمئ وغیره ریږیاتی عِلم (یعنی دَ بے تاره پیغامونو عِلم) لرې هغوئ یو کمکشانی نظام لیدلے دے چه هغوئ ورته منیع ۳ ج ۲۹۵ (Source 302.5)) والی ـ دَدے په څنګله دَ هغوئ اندازه داده چه دَدے کوے رنړا کالنے اُوس موږ ته راړسی هغه به دَ څلورو لیږه کالنه زمکے ځنګې دَ هغې نه راروانه شوی وی ـ دَدے دومره لرے فاصلے نیږه دا رنړا کالنے آخر زمکے ته څنګه راړسیدلی دے که چرے دَ زمکے اودَ هغه کهکشان په منځ کښې دَ کائناتو تسلسل چرته مات شوے دے اودَ هغې په ترون کښې دَ زړ راغلے دے ـ الله تعالیٰ دے حقیقت ته اشاره کوی اوپه اصل کښې داخبره دَ انسان مخې ته راولی چه هر کله ته دَ زمادَ کائناتو په دے نظام کښې دَ ذرے هومره عیب هم نشی په کوته کولے نو زمادَ قدرت په حقله دا کمزورے خیال ستا په دماغو کښې څنګه راغے چه هر کله ستا دَ امتحان وخت ختم شی اودَ حساب کتاب کولو دَپاره تا بیا دوباره راژوندے کول غواړم اوځان ته دے حاضرول غواړم نو نه به ئے شم کولے ـ

دا یوازے دَ آخرت دَ امکان ثبوت نه دے بلکه دَ توحید ثبوت هم دے ـ دَ رنړا دَ رفتار په حساب سره دَ څلورو لیږه کالنے فاصلے نه دَدے رنړا کالنو زمکے ته راړسیدل، اودلته دَ انسان په جوړولو کړے شوو آلاتو کښې راتلل بیکاره په دے خبره دلالت کوی چه دَ هغه کهکشان نه راواخله دَ زمکے پورے دا ټوله دُنیا مُسلسل دَ اکیٔ یوے مادے نه جوړه کړے شوی ده، یو قسم طاقتونه پکښې کارکوی، اودَ څرنګوالی نه بغیر ټول دَ یو قسم قانون لاندې کارکوی ـ که چرے داسے نه وے نو دا رنړا کالنے ټکر دلته راړسیدے شوے اوهغه آلاتو راپیږے شوی کوم چه انسان دَ زمکے دَ قانون په پوهه جوړ کړی دی ـ دَدے نه ثابتیږی چه اکیٔ یو خدائے دَدے ټول کائنات خالق او مالک اوحاکم او انتظام چلوونکے دے ـ

۹ دَ تشریح دَپاره اوګورئ تفهیم القرآن دویم جلد، النحل، حاشیے ۱۲-۱۳-۱۴ ـ دریم جلد النمل

تَبْصِرَةً وَّ ذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۝٨ وَنَزَّلْنَا مِنَ
السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ۝٩
وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ۝١٠ رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۙ وَ
اَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ؕ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ۝١١

ستر کے رنړا کونکی او نصیحت کونکی دی د هغه بنده د پاره څوک چې (حق ته) رجوع کونکی وی۔ او موږ ده د آسمان نه برکتی اوبه نازلے کړے، بیا مو په هغے سره باغونه او د هغې غلے او د کجورو ونے لوړے وُنے پیدا کړے چې د میوو نه ډک غوڼچکونه قط په قط نیسی۔ دا انتظام دے بندګانو ته د رزق د رکولو۔ په دے اوبو موږ مړه زمکه راژوندی کوو۔ هم دغسے به وی (د مړو شوو انسانانو د زمکے نه) راوتل۔[۱۱]

حاشیے ۴۳-۴۴- څلورم جلد، الزُّخرُف، حاشیه ۷)۔

[۱۰] د تشریح د پاره اوګورۀ تفہیم القرآن دویم جلد، النمل، حاشیے ۷۳-۷۴۔ ۸۱۔ الروم، حاشیے ۲۵-۳۳-۳۵۔ څلورم جلد، یٰسٓ، حاشیه ۲۹۔

[۱۱] دلیل دا دے چې کوم خدائے چې زمکه باندې د ژوندو مخلوقاتو د اُوسیدو د پاره مناسب ځائے جوړ کړو او چې کوم خدائے د زمکے د مړے خاورے سره د آسمان مړه اُوبه یوځائے کړے او دومره ښکلے د ګړ توڼ ونے پیدا کړو چې تاسو نے د خپلو باغونو او د خپلو فصلونو د پښکل کیدنے په غور رنګونو وینئ، او چې کوم خدائے دا ګوتې د انسانانو او د ټولو حیواناتو د پاره د رزق ذریعه جوړه کړه، د هغه په حقله ستاسو دا ګمان چې هغه ستاسو د مړ کیدو نه روستو دوباره ستاسو په پیدا کولو باندې قادر نه دے، سراسر د بے عقلئ ګمان دے تاسو هره ورځ په خپلو سترګو وینئ چې یوه علاقه بالکل وُچه او مړه وه۔ د باران په څاڅکرو سره په هغے کښے یو دم د ژوند چینے راأوخو ټکیږی، د مُردو مُردو مړے جړے یو دم څنے شی، او قسما قسم زندګئ سرے د زمکے د لاندے نه راأوزی او منډے ترے شروع کړی۔ دا د دے خبرې بسکاره ثبوت دے چې د مړ کیدو نه روستو دوباره ژوندا ناممکنه نه دے۔ هرکله چې تاسو دا خپلو سترګو لیدلے حال نه شئ دروغ ګڼلے نو دا خبره څنګه دروغ نه کوئ چې کله خدائے اُوغواړی نو تاسو به پخپله هم هغسے د زمکے نه راأوځئ نکه څنګه چې د ګوتو تینګے راأوځی۔ په دے سلسله کښے دا خبره د ذکر کولو قابل ده چې د عربو په زمکه کښے د دیرے علاقے دا حال دے چې هلته اکثر پنځه پنځه کاله باران نه کیږی، بلکه کله نا کله د دے نه هم زیاته موده تیره شی او د آسمان نه یو څاڅکے راپرے نوځی۔ په کومو سترګو کښے د دومره دیرے زمانے پورے د ګوتو جوړے او زندا سرے ژوندی پاتے کیدل په غفل کښے د را تلو خبره نه ده۔ د دے باوجود هم چې کله هلته په څو وخت کښے څه لږ شان باران اُوشی نو کیا زرغونه شی او د زمکے نه د ده سرے راژوندی

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَّاَصْحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُوْدُ ﴿١٢﴾
وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ وَاِخْوَانُ لُوْطٍ ﴿١٣﴾ وَّاَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ وَ
قَوْمُ تُبَّعٍ ؕ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيْدِ ﴿١٤﴾ اَفَعَيِيْنَا
بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ ؕ بَلْ هُمْ فِيْ لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿١٥﴾ ع

دَه وئ نه مخکښے دَ نوحؑ قوم، او اصحاب الرَّس[۱۲] او ثمود، او عاد، او فرعون[۱۳]، او دَ لوط رونړه او دَ ایکه خلقو، او دَ تُبَّع[۱۴] دَ قوم خلقو هم دروغژن کنړلی دی[۱۵] هریو رسولان دروغژن او کنړل[۱۶] او آخر اچه زما عذاب په هغوئ باندِ راغے[۱۷]

آیا مونږه دَ رومبی خل پیدا کولو نه عاجزه وُو؟ خو داخلق دَ یو نوی پیدائش په حقله په شک کښے پراته دی[۱۸] ع

شی - په دے وجه دَ عربو خلق دَ هغه خلقو په نسبت په دے دلیل نه پوهیدے شی چا چه دومره لویه سُوکړه نه وی لیدلی -

۱۲ دَ دے نه مخکښے په سورة فرقان کښے، په آیت ۳۸ کښے دَ اصحاب الرَّس ذکر تیر شوے دے، او په دویم خل اوس دلته دَ هغوئ ذکر کیږی - خو په دواړو خایونو کښے دَ هغه قوم نوم په سلسله کښے صرف دَ هغوئ نوم اغستلے شوے دے کومو چه خپل خپل پیغمبران دروغژن کنړلی دی، او دَ نوم اغستو نه سوائے زیات تفصیل نه دے بیان کړے شوے - دَ عربو په روایتونو کښے دَ الرَّس په نوم دوه خایونه مشهور دی - یو په نجد کښے، بل په شمالی حجاز کښے - په دے کښے دَ نجد الرَّس زیات مشهور دے او دَ جاهلیت په شعرونو کښے زیات تر ذکر دَ هغے راغلے دے - اُوس قطعی طور دا وئیل کران دی چه اصحاب الرَّس په دے دواړو خایونو کښے دَ کوم خائے اُوسیدونکی وُو - دَ هغوئ دَ تفصیل هم چرته په یو روایت کښے نه ملاویږی - دَ زیاتو نه زیاته بس دومره صحیح خبره سړے کولے شی چه دا یو داسے قوم چه خپل نبی ئے کومی ته غورزولے وُو - لیکن لکه څنګه چه په قرآن مجید کښے هغوئ ته صرف اشاره شوی دَه او بیا په خائے پریښودلے شوی دی دَ دے نه معلومیږی چه دَ قرآن دَ نازلیدو په زمانه کښے دَ عربو خلق عام طور دَ دے قوم نه او دَ هغوئ دَ تیښے نه خبر وُو او روستو بیا دا روایات په تاریخ کښے محفوظ پاتے نه شو -

۱۳ دَ فرعون دَ قوم په خائے صرف دَ فرعون نوم اغستلے شوے دے، حکمه چه دَ هغه په خپل قوم باندِ داسے غلبه وه چه دَ هغے په مقابله کښے دَ قوم څه آزاده رائے او حوصله نه وه پاتے شوی - چه کومے کراهئ ته به هغه تلو قوم به ورپسے بے اختیاره روان وُو - په دے وجه دَ ټول قوم دَ کمراهئ ذمه وار یوازے هغه شو - چرته چه دَ قوم دَ پاره دَ رائے او دَ عمل آزادی وی هلته هغوئ دَ خپلو عملونو بوج پخپله

اُوچتنوی۔ اوچرته چه دَیو سړی دَکُل اختیارئ دَوجے نه توم پے وَسه وی هلته هم هغه یو سړے دَ ټول قوم دَکناهونو پیټے پے خپل سر اخلی۔ دَدے مطلب دا نه ده چه کنی په یو تن باندِ دَبے پیټی دَبارکید و نه روستو دَ قوم غاړه آزاد پرے۔ نه، په قوم باندِ خاص دَدے اخلاقی کمزورئ ذمه واری راځی چه هغوی ولے یو سړے پے خپل ځان باندِ غالب کید و ته پریښود و۔ دِے خبرئ ته دَ سورۃ زخرف په آیت ۵۴ کښے اشاره شوی ده چه فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ "فرعون خپل قوم سپک اوکنړه او هغوئ دَهغه حکم اومنو، په حقیقت کښے هغوئ وو فاسقان خلق"۔ دَتشریح دَپاره اوګورئ تفہیم القرآن څلورم جلد، تفسیر دَ سورۃ زخرف، حاشیه ۵۰)۔

۱۴ دَتشریح دَپاره اوګورئ تفہیم القرآن، څلورم جلد، تفسیر دَ سورۃ سبا، حاشیه ۳۷، سورۂ دخان حاشیه ۳۲

۱۵ یعنی دے ټولو دَخپلو رسولانو پیغمبرئ هم دروغ اوګنړله او دَهغوئ دَ طرفنه دا خبرے هم دروغ اوګنړه وچه تاسویه دَمرګ نه روستو بیا راژوندی کیږئ۔

۱۶ اګرچه هر قوم صرف هغه رسول دروغژن کنړے وُو کوم چه هغوئ ته لیږلے شوے وُو، خو چونکه هغوئ هغه خبره دروغ کنړلو کوم چه په اتفاق سره ټولو رسولانو پیش کړی وه نو په دے وجه یو رسول دروغ ګنړل په حقیقت کښے ټول رسولان دروغ کنړل وُو۔ دَدے نه علاوه په دے ترمونو کښے هر قوم یوازے دَخپل رسول دَ پیغمبرئ نه انکار نه وُو کړے بلکه هغوئ هر دے خبرئ منلو ته نیار نه وُو چه دَ انسانانو دَ لارښود نے دَپاره یوازے دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه راتلے شی، په دِے وجه هغوئ دَ نورو پیغمبرئ نه منکر وُو او په هغوئ کښے دَیو تن جُرم هم یوازے دا نه وُو چه بس صرف دَیو رسول تکذیب ئے کولو۔

۱۷ دا دَ آخرت په حق کښے تاریخی دلیل دے۔ دَدے له پاره وراندینو شپږو آیتونو کښے دَ آخرت دَامکان دلیلونه ورکړے شوی وُو، او اُوس په دے آیتونو کښے دَعربو او دَ عربو دَ خوا شا قومونو تاریخی انجام دَدے خبرئ دَپاره دَ دلیل په طور پیش کړے شوے دے چه دَ آخرت کومه عقیده ټولو پیغمبرانو پیش کوله هم هغه بالکل دَ حقیقت مطابق ده، ځکه چه دَ هغے نه کوم قوم انکار کړے دے هغوئ په سخته بد اخلاقئ کښے اخته شوی دی او آخر دا چه دَ خدائے عذاب پرے راغلے دے او دَ هغوئ نه ئے دنیا پاکه کړی ده۔ دَ تاریخ په دوران کښے چه دا کومه خبره مُسلسل مخے ته راځی چه دَ آخرت نه دَ انکار کولو سره بد اخلاقی خامخا پیدا کیږی، نو دا دَدے خبرئ ثبوت دے چه انسان واقعی په دے دنیا کښے دا سے نه دے پریښودے شوے چه نه به پرښه ذمه واری وی او نه به ترښه پوښتنه کیږی، بلکه دَمرګ نه روستو به دَهغه نه خامخا دَهغه دَخپلو عملونو پوښتنه کیږی۔ هم دا وجه ده چه کله هغه خپل ځان غیر ذمه وار اوګنړی او په دنیا کښے کار کوی نو دَ هغه ژوند دَ تباهئ پلار روانیږی۔ دَیو کار چه مسلسل غلط انجام راخیژی نو دا صفا دَدے خبرئ علامه ده چه هغه کار دَ حقیقت نه خلاف دے۔

۱۸ دا دَ آخرت په حق کښے عقلی دلیل دے۔ ځوک چه دَ خدائے نه منکر نه وی او دَ بے وتونتیا دِے حده نه وی رسیدلے چه دَدے منظم کائنات پیدائش ته او په دے کښے دَ انسان پیدائش ته هسے یوه اتفاقی

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ ۚ
وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ﴿۱۶﴾ اِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيٰنِ
عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿۱۷﴾ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا
لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴿۱۸﴾ وَجَآءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ؕ

[۱۵] مونږه انسان پیدا کړے دے او ده ځه په زړه کښے چه کوم وسوسے را اوچتیږی په هغه هم مونږ پوهیږو۔ مونږه هغه ته ده هغه ډیر نږدے یو (اوزمونږ ډیر نږدے نیغ په نیغ علم نه علاوه) دوه لیکونکی ده هغه ښۍ اوکس نه ناست دی اوهر څیز لیکی۔ یولفظ ده هغه د خُلے نه دا سے نه را اُوځی چه ده هغے د محفوظ ساتلو ډپاره هروخت حاضر اُوسید ونکے نګران موجود نه وی [۲۱] بیا کوره هغه د مرګ سکرات د حق سره را اُور سیږی [۲۲] ،

حاده څ اُووائی، نو ده هغه ډپاره ډیر نه بغیر څه بله چاره نشته چه دا اُومنی چه خاص هم یو الله مونږ پیدا کړی یُو او دا ټول کائنات ئے پیدا کړے دے۔ اُوس دا حقیقت چه مونږه په دے دنیا کښے موجود یُو او ذمکه او د آسمان دا ټوله کارخانه زمونږ په محکمه چلیږی، پخپله ډیر خبرې څرګندے ثبوت دے چه الله تعالیٰ زمونږه او ډیر کائناتو ډپیدا کولو نه عاجزه نه ږُو۔ ډیر نه روستو که یو سړے دا وائی چه د قیامت راوستلو نه روستو به هم هغه خدائے د جهان یو بل نظام نشی جوړولے، او د مرګ نه روستو به هغه دوباره مونږه نشی راپیدا کولے، نو هغه خالص د عقل نه خلاف یوه خبره کوی۔ که خدائے عاجزه وے نو په اول ځل به ئے پیدا کول نه شو کولے۔ اُوس چه هغه اول ځل پیدا کول کړی دی او د هغے په وجه مونږ پخپله دا ډیر جوړ څرندی کړو، نو آخر ډیر خبرې ډپاره هغه پرتوک جوړیدے شی چه څنګه جوړ کړے شوے څیز د ماتولو نه روستو بیا دوباره هغه نشی جوړولے ؟

[۱۹] د آخرت په حقله د دلیلونو بیانولو نه روستو اُوس دا وئیلے کیږی چه که تاسو آخرت منئ او که نه ئے منئ هغه بیه هرحال کښے راتلے او دا یوه داسے حقیقت دے چه ستاسو د انکار باوجود به راتلے۔ که پیغمبرانو خبره مو اُومنله او د آخرت ډپاره موځه تیاری اوکړه نو د ځان سره به ښه اوکړئ۔ که مو اُونه منله نو پخپله به د ځان سره بد اُوکړئ۔ ستاسو په نه منلو سره به آخرت د راتلو نه منع کیږی او که خدائے د انصاف قانون به نه ختمیږی۔

[۲۰] یعنی انسان زمونږ په قدرت او زمونږ په علم کښے دے چه د هغه د مړئ رګ هم هغه ته دومره نږدے نه دے لکه څنګه چه زمونږه علم او زمونږه قدرت هغه ته نږدے دے۔ د انسان د خبرې د اوریدو ډپاره مونږه مزل نه کوو د هغه د زړه پټ خیالات مونږ ته نیغ په نیغه معلوم دی۔ د هغه شان به د هغه د ښولو ډپاره مونږه مزل نه کوو، هغه چه په کوم ځائے کښے دے، هروخت زمونږ په قبضه کښے دے چه کله او څوا پورا نیسو به ئے

ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيْدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ ۭ ذٰلِكَ يَوْمُ

داهم هغه څیزدے چه تۀ یې تېرتبنتیدے[۲۱] اوبیا په صور کښې پوکے اووهلے شو، دا دۀ هغه ورځ چه تۀ یې تېر

[۲۱] یعنی یوطرفته خومونږه پخپله دانسان ډهرعمل نه اودانسان ډهرخیال نه نیغ په نیغه خبر یو او بل طرفته په هرانسان باندې دوه فرښتې مقرردی چه ډهغه هره خبره لیکی اودهغه هرعمل په ریکارډ کښې محفوظ ساتی۔ دغه مطلب دادے چه څه وخت دالله تعالیٰ په عدالت کښې دانسان پیشی وی نو په هغه وخت کښې به الله تعالیٰ ته پخپله هم دامعلوم وی چه انسان څه کړی دی، اودۀ شهادت دپاره به پرېږدوکو اهان هم موجودوی چه دۀ هغه دۀ عملونو ریکارډ به په ثبوت کښې مخې ته کیږدی۔ دا ریکارډ (یعنی لیکلے شوے ثبوت) به په څه شکل کښې وی، دغه تیک تیک تصوّر کول خو زمونږ دپاره ګران دے۔ لیکن کوم حقیقتونه چه نن زمونږ مخې ته رانۍ ډهغې په لید وسره دا خبره بالکل یقینی معلومیږی چه په کومه فضا کښې انسان ژوند کوی اوکارکوی په هغې کښې هرطرفته دۀ هغه آوازونه، اودۀ هغه تصویرونه، اودۀ هغه هره ناسته پاسته په هره ذرّه باندې نقش کیږی اوبیادوباره ډهغې نه هرڅیز بالکل هم په هغه شکلونو اوآوازونو کښې پیش کړے کیږی شی چه په اصل کښې اوپه نقل کښې دذرّے هومره فرق نه وی۔ انسان وپه محدوده پیمانه باندې دآلاتو په مدد سره داکارکوی۔ لیکن دخدائے فرښتې نه دے آلاتو ته محتاجه دی اونه دنورو څیزونو پابند دے۔ دانسان خپل بدن اودهغه نه کیرچاپیره هرڅیز دهغوی ټیپ اودهغوی فلم دے چه په هغې باندې هغوی هرآواز اوهرتصویر بالکل هُوبهُو هُوډهغې پشان محفوظ کوے شی اودقیامت په ورځ سړی ته دهغه خپلو غوږونو ته دهغه په خپل آواز کښې دهغه خپلې هغه خبرې اوروے شی کوے چه په هغه په دُنیا کښې کولے، اودهغه خپلو سترګو ته دهغه دخپلو تولو عملونو تصویرونه ښودلے شی چه دهغې نه انکارکول به دهغه دپاره ممکن نه وی۔

دلته په دے خبره هم ځان بنده پوهوکول پکار دی چه دآخرت په عدالت کښې به الله تعالیٰ چا ته دیوازے دخپل ذاتی علم په بنیاد باندې سزانه ورکوی بلکه دانصاف تول شرطونه به پوره کوی نوهغه به سزا ورکوی داوجه ده چه په دُنیا کښې دهرسړی دخبرو اودعملونو مکمل ریکارډ تیارولے کیږی چه دشهادتونو په ذریعه دهغه دعملونو پوره ثبوت تیارشی۔

[۲۲] دحق سره دارسیدونه مراد دے چه دمرګ دسکرشروع کیدلو سره هغه حقیقت بنکاره کیدل شروع شی چه په کوم باندې دُنیا په ژوند کښې پرده پرته وه۔ دغه وخت نه سړے هغه دویم ځله صفا وینی دکوم په حقله چه پیغمبرانو خبرورکړے وو۔ په دغه وخت کښې سړی ته داهم معلومیږی چه آخرت بالکل حق دے، اوداحقیقت هم سړی ته بالکل معلومیږی چه دژوند په دے دویم مرحله کښې هغه دنیک بخت په حیثیت سره ورننوزی اوکه دبد بخت په حیثیت سره۔

[۲۳] یعنی داهم هغه حقیقت دے چه تاته نه منلو اودې ته ترکوله۔ تاغوښتله چه په دُنیا کښې دې مُهاره ځاردی پشان آزاد اوګرځے اودمرګ نه روستو بل ژوند نه وی چه تاته په هغې کښې دخپلو عملونو

الْوَعِيْدِ ﴿٢٠﴾ وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ﴿٢١﴾
لَقَدْ كُنْتَ فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ
فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿٢٢﴾ وَقَالَ قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿٢٣﴾

یَرَ ولے کیدے۔ هر سړے په دا سے حال کښے راغے چې ډهغه سړه یورا وستونکے دے او یو کواهی کونکے۔ ۲۵ ډډے شیز نه تڼه په غفلت کښے وے، مونږ درنه هغه پرده لرے کړه کومه چې ستا څخه تړلې وه او نن ستا نظر ډیر تیز دے۔ ۲۶ ډهغه ملکری اووئیل ما ترچه څوک حواله وُو هغه دا دے حاضر دے۔ ۲۷

سزا ملاؤ شی۔ په دے وجه به تڼه ډ آخرت نه لرے تبتید لے او په هیڅ طریقه دے منلو ته تیار نه وے چې لا آخرت دهم راشی۔ اُوس او کوره دا هغه دویم جهان ستا څخه تر اروان دے۔

۲۴ ډدے نه مُراد ډ شپیلئ (صُور) هغه آواز دے چې ډهغے سړه به تول مړی دوباره بیا راژوندی شی۔ ډ تشریح ډ پاره او کوره تفهیم القرآن اول جلد، الانعام، حاشیه ۴۷، دویم جلد ابراهیم حاشیه ۵۰۔ دریم جلد، طٰهٰ، حاشیه ۷۸۔ الحج، حاشیه ۱۔ څلورم جلد، یٰسٓ، حاشیے ۴۶، ۴۷۔ الزمر، حاشیه ۷۹۔

۲۵ زیات غالب ګمان دا دے چې ډدے نه مُراد هم هغه دوه فرښتے دی کوے چې په دنیا کښے ډهغه سړی ډ تول او ډ عمل لیکلو ډ پاره مقرر شوی وے۔ ډ قیامت په ورځ چې کله ډ صُور (یعنی ډ شپیلئ) آواز شروع شی او هر انسان ډ خپل قبر نه راپاسی نو فوراً به هغه دوه فرښتے راشی او ډدے به په خپله قبضه کښے واخلی۔ یو فرښته به ئے ډ خدائے عدالت ته بوځی او بله فرښته به ورسره ډهغه عملنامه وړی۔

۲۶ یعنی اُوس خو دته ښه په نظر راځی چې هغه ټول هرڅه دا دی دلته موجودی ډ کومو په حقله چې به دنیا ډ خدائے ﷻ خبردارے درکولو۔

۲۷ ځینو مفسرینو ډدے سطلب دا بیان کړے دے چې ډ "ملکری" نه مُراد هغه فرښته ده چې هغه ته په آیت نمبر ۲۱ کښے "کواهی کونکی" فرښته ویلے شوی ده۔ هغه به اُووائی چې دا دے سړی عملنامه زما سره تیاره ده۔ ځینی نور مفسرین وائی چې ډ "ملکری" نه مُراد هغه شیطان دے چې هغه په دنیا کښے ډهغه سړی سره ټکیدلے وُو۔ هغه به اُووائی ما چې کوم سړے په خپل تابو کښے لاد ستلے وُو او ډ دوزخ ډ پاره لازم تیار کړے وُو هغه هم اُوس دا دے تاسو ته حاضر کړو۔ لیکن ډ هغې ډ رو ستو عبارت سره چې کوم تفسیر سمون خوری هغه هغهٔ تفسیر دے کوم چې ډ قتاده او ډ ابن زید نه نقل کړے شوے دے۔ هغوی وائی چې ډ ملکری نه مراد را وستونکی فرښته ده او هم هغه چې کله ډ خدائے عدالت ته اُورسی نو عرض به او کړی چې ما ترکوم سړے حواله کړے شوے وُو هغه دا دے مالک ته حاضر دے۔

اَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ
مُّرِيْبِ ﴿٢٥﴾ الَّذِيْ جَعَلَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَاَلْقِيٰهُ فِي الْعَذَابِ
الشَّدِيْدِ ﴿٢٦﴾ قَالَ قَرِيْنُهٗ رَبَّنَا مَآ اَطْغَيْتُهٗ وَلٰكِنْ كَانَ فِيْ

حکم اُوکړے شو" اُوغورزوئ دوزخ تہ[۲۸] هغه یوسخت[۲۹] کافر چه هغه دحق سره په ضد کښے وُو، خیر[۳۰] منع کونکے اودحد نه اوړیدونکے[۳۱] وُو، په شک کښے پروت[۳۲] وُو، او الله سره ئے بل خدائے جوړ کړے وُو، اُوغورزوئ هغه سخت عذاب[۳۳] تہ" دا هغه ملکری عرض اوکړو" اے خدایه ما دا ده نه سرکشه نه ده جوړ کړے

[۲۸] اصل الفاظ دی اَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ " اُوغورزوئ جهنم ته تاسو دواړه" دا روانے خبرے نه پخپله دا پته لږئ چه دا حکم به هغه دوو فرښتو ته کیږی کومو چه دا قبر نه دا پاسید وسره مجرم ښیولے وُو او بیائے راوستے وُو اودا خدائے عدالت تہ حاضر کړے وُو۔

[۲۹] په اصل کښے لفظ "کَفَّارٍ" استعمال شوے دے چه دا هغے دوه معنے دی۔ یوه معنیٰ ده سخت ناشکره۔ بله معنیٰ ده دحق نه سخت منکر۔

[۳۰] دا خیر لفظ په عربئ ژبه کښے دمال دپاره هم استعمالیږی اودا نیکړے دپاره هم۔ دا اولے معنے په لحاظ سره ئے مطلب دا دے چه هغه دخپل مال نه دچا حق نه اداکولو، نه دخدائے او نه د بندګانو۔ دا دویمے معنے په لحاظ سره به مطلب دا وی چه دا نیکړے دا لارے نه پخپله منع کیدو سره هغه اکتفا نه کوله بلکه نورخلق به ئے هم دا هغے نه منع کول۔ په دنیا کښے دا خیر دا پاره دا لارے ختمه جوړ شوے وُو۔ خپل ټول طاقت ئے په هغه کار کښے لګول چه نیکی په څه طریقه خوره نه شی۔

[۳۱] یعنی په خپل هر کار کښے دا اخلاقو حدونه ماتونکے وُو۔ دا خپلے نایدے اودا خپل غرض اودا خپلو خواهشاتو دپاره هرڅه کولو ته تیار وُو۔ په حرامه طریقه به ئے مال راجمع کولو او په حرامو لارو به ئے خرچ کولو۔ دا خلقو حقونه به ئے په زُور اغستل۔ نه دا هغه ژبه دا څوحد پابند وه او نه دا هغه لاسونه دا یو ظلم اوزیاتی نه منع وُو۔ یوازے دا نه چه دا خیر په لارکښے به ئے بندیزونه راوستل بلکه ځوک چه به دا نیکئ په لار روان وُو هغوئ به ئے تنګول اوچاچه دا نیکئ دپاره کار کولو په هغوئ به ئے ظلمونه کول۔

[۳۲] په اصل کښے لفظ مُرِیب استعمال شوے دے چه دا هغے دوه معنے دی۔ یوه معنیٰ ده شک کونکے۔ بله معنیٰ ده په شک کښے اچولے، اودواړه مطلبه دلته مُراد دی۔ مطلب دا دے چه هغه پخپله په شک کښے پروت وُو اودا نورو خلقو په زړونو کښے به ئے شکونه اچول۔ دا هغه په نزاالله اوآخرت او فرښتے او پیغمبرئ اووحی غرض دا چه دا دین ټولے خبرے شکمنے وے۔ دا حق کومه خبره چه به دا پیغمبر انودا طرفنه پیش کړے کیده، دا هغه په خیال کښے به هغه دا یقین کولو تایله نه وه، اوهم دا مرض به هغه دا الله په نورو بندګانو ورپورے کوُو۔ چه کوم سړے به ورله غے له ورتلو دا هغه په زړه کښے به ئے څه نه څه شک اوشه نه شه وسوسه اچوله۔

ضَلٰلٍۢ بَعِيْدٍ ﴿۲۶﴾ قَالَ لَا تَخْتَصِمُوْا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ اِلَيْكُمْ
بِالْوَعِيْدِ ﴿۲۸﴾ مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۲۹﴾ ع

بلکہ مے پخپله پیره لره کراهی کښے پروت دی۔" په جواب کښے حکم اُوشو" زما او راښه جګړه مه
کوئ، ما تاسو مخکښے د بد انجام نه خبردار کړی وی۔ زما په دربار کښے خبره واپس کیږی نه او زه
په خپلو بندګانو باندې ظلم کوونکے نه یم۔" ع

۳۳ په دے آیتونو کښے الله تعالیٰ هغه صفتونه په شمار راښودلی دی کوم چه انسان د دوزخ مستحق کوی:
(۱) د حق نه انکار (۲) د خدائے ناشکری۔ (۳) د حق سره او د حق پرستو خلقو سره ضد او عناد (۴) د نیکئ
په لار کښے بندیز جوړیدل (۵) د خپل مال نه د خدائے او د بندګانو حق نه ادا کول۔ (۶) په خپلو معاملاتو
کښے د حد نه اوړیدل (۷) په خلقو باندې ظلم زیاتے کول (۸) د دین په خبرو باندې شک کول (۹) د نورو خلقو
په زړونو کښے شکونه اچول او (۱۰) د الله سره نور څوک په خدائیۍ کښے شریک کول۔

۳۴ دلته د کلام د انداز نه پخپله معلومیږی چه د "ملکری" نه مراد هغه شیطان دے کوم چه په دُنیا
د هغه سره لګیدلے وُو۔ او دا خبره هم معلومیږی چه هغه سړے او د هغه شیطان دواړه د خدائے په
عدالت کښے د یو بل سره جګړه کوی۔ هغه سړے وائی چه دا ظالم په ما پسے راپسے شوے وُو او آخر دا چنډه
ئے بے لاړے کړم، نو سزا دهٔ له پکار ده۔ او شیطان په جواب کښے وائی چه جناب زما خو په دهٔ باندې څه زور نه
وُو چه کښی د سرکشه جوړیدل نه غوښتل او ما په زور دے سرکشه جوړ کړو، دے کم بخت خو پخپله د
نیکئ نه نفرت کولو او د بدئ سره ئے مینه لرله۔ په دے وجه د پیغمبرانو خبره د د نه غوښه نه شوه او زما
د لمسون په خبره او لسیدو۔

۳۵ یعنی تاسو دواړو ته ما خبردار کړے وُو چه په تاسو کښے څوک بل څوک بے لاړے کوی هغه به څه
سزا موی او څوک چه بے لاړے شی هغه به څه سزا موی۔ زما دمے خبردارئ باوجود چه کله تاسو
دواړه د خپلے خپلے حصے د جُرم کولو نه منع نه شوئ نو اوس د جګړے کولو نه څه جوړیږی۔ بے لاړه شوی
سړی ته بد د بے لاړے کیدو او بے لاړے کونکی سړی ته بد د بے لاړے کولو سزا اُوس لازمًا ملاویږی۔

۳۶ یعنی د فیصلے بدلولو طریقه زمونږ په دربار کښے نشته۔ دوزخ ته ستاسو د غورزولو کوم حکم
چه ما کړے دے هغه اوس واپس کیدے نشی۔ او نه هغه قانون بدلیدے شی چه د هغے اعلان ما
په دنیا کښے کړے وُو چه د بل کار بے لاړے کولو او پخپله کار بے لاړے کیدلو به په آخرت کښے څه سزا ورکړه کیږی
۳۷ په اصل کښے لفظ "ظَلَّامٍ" استعمال شوے دے چه معنیٰ ئے ده دیر ظالم۔ د دے دا مطلب
نه دے چه زه د خپلو بندګانو په حق کښے ظالم خو یم لیکن ډیر ظالم نه یم۔ بلکه مطلب دا دے چه که
چرے زه د یو خالق او پروردګار په حیثیت سره په خپل پالنې شوی مخلوق باندې ظلم او کړم نو
ډیر غټ ظالم به یم۔ په دے وجه زه په خپلو بندګانو باندې هدو د سره څه ظلم هم نه کوم۔
دا کومه سزا چه زه تاسو له درکوم دا تیک تیک هم هغه سزا ده چه تاسو ئے پخپله خپل ځان

وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿٣١﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ
أَوَّابٍ حَفِيظٍ ﴿٣٢﴾ مَّنْ خَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ
مُّنِيبٍ ﴿٣٣﴾ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ۖ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُودِ ﴿٣٤﴾ لَهُم

اوجنت به متقیانو تہ ورنزدے کړے شی، لیرہ به هم لرے نۀ وی۔[۳۹] حکم به اُو شی "دا هغه څیز دے چه ستا سو سره به ئے وعدہ کیدله، دَ هر هغه سړی دَپاره چه ډیر رجوع کونکے[۴۰] اوډیر حفاظت کونکے[۴۱] وو، چه بے لیدو به دَ رحمٰن نه یَرِیدلو[۴۲] اوچه دَ رجوع کونکی زړۀ سره را غلے دے[۴۳] ورننوزئ جنت ته دَ سلامتیا سره۔[۴۴]" هغه ورځ به دَ همیشه ژوند ورځ وی۔ هلته به دَ هغوئ دَپاره

۳۹ یعنی دَ الله تعالیٰ دَعدالت نه چه څنګه دَ یو سړی په حقله دا فیصله اُو شی چه هغه متقی دے او دَ جنت مستحق دے نو فوراً به جنت دَ هغه ځے ته حاضر وی۔ هلته دَ رسیدو دَ پاره به هغه څه مزل نۀ کوی چه کنې پیاده مزل به اوکړی یا دَ څه سورلئ په ذریعه به سفر اوکړی او هلته به اُو رسی او دَ فیصلے په وخت کښے او جنت ته دَ ننوتو به منځ کښے به څه وخت اُولږی۔ بلکه دے خو به فیصله اُو شی او اخو به متقی جنت ته ورننوزی یعنی هغه به جنت ته رسولے شوے نۀ وی بلکه جنت به دَ هغه خوا ته را نزدے کړے شوے وی۔ دَ دے نه لږه لږه اندازه لګیدے شی چه دَ آخرت په جهان کښے به دَ وخت او دَ خلقو تصورات زمونږ دَ دے دنیا دَ تصور او تو نه څومره مختلف وی۔ زر او نا وخته، لږے او نزدے کوم الفاظ چه موږ په دنیا کښے استعمالوو هغه ټول به هلته بے معنے وی۔

۴۰ په اصل کښے لفظ "اَوَّابٌ" استعمال شوے دے چه مطلب ئے ډیر فرمانبرداره دے۔ دَ دے نه مُراد دا ده سړے چه دَ نافرمانئ لارو او دَ نفس دَ خواهشاتو لارے ته پرېښودے وی او دَ حکم منلو او دَ الله دَ رضا لټولو لارے ته اختیار کړی وی۔ هر هغه څیز چه هغه دَ الله خوښ نۀ وی هغه پرېږدی، او کوم څیز چه دَ الله خوښ وی هغه اختیار وی، چه دَ بندګئ دَ لارے نه ئے یو ذره خپه اخو اکړی نو ټوله پرې راځی او زر توبه اُو باسی او دَ بندګئ لارے ته واپس راځی، چه الله ډیر ډیر یاد وونکے وی او په خپلو تولو معاملاتو کښے خاص الله ته رجوع کونکے وی۔

۴۱ په اصل کښے لفظ "حفیظ" استعمال شوے دے چه معنیٰ ئے ده "حفاظت کونکے" دَ دے نه مراد دا ده سړے چه هغه دَ الله دَ حدونو او دَ هغه دَ فرائضو او دَ هغه دَ حرامو او دَ هغه دَ امانتونو حفاظت کوی، چه دَ الله دَ طرفنه په هغه کوم حقونه دی دَ هغے حفاظت کوی، چه دَ خپل رب سره ئے دَ ایمان راوړلو په ذریعه کومه وعده کړی ده دَ هغے پابندی کوی، چه هغه دَ خپلو وختونو او دَ خپلو طاقتونو او دَ خپلو محنتونو او کوششونو نګرانی کوی چه چرته په غلطو کارونو کښے اُونۀ لږی، چه هغه دَ خپلے توبے حفاظت کوی چه واپس ئے ماته نه کړی، چه هغه هر وخت دَ دَ خپل ځان جائزه اخلی او کوری چه څه خوبه خپل قول کښے او په خپل عمل کښے چرته دَ خپل پروردګار نافرمانی نه کوم۔

۴۲ یعنی باوجود دَ دے چه رحمٰن هغه ته چرته په نظر نۀ راللو، او دَ نورو حواسو په ذریعه ئے هم نۀ شو

محسوسولے، خوبیاهم دهغه د نافرمانۍ نه یَرَیدلو۔ د نورو محسوسو طاقتونو او د څرګندو زورو روهستیا نو نه د یَرے کولو په نسبت د هغه په زړهٔ باندې د نالیدلی رحمٰن یَرَه ډیره غالبه وه۔ او دا ځکه چې یُوخ یقین وُو چې هغه رحمان یعنی بخښونکے دے، خوبیاهم د هغه د رحمت په بروسه باندې کنهکار جوړ نه شو بلکه همیشه د هغهٔ ناراضه کیدو نه یَرَیدو۔ په دے طریقه دا آیت د مؤمن دوُو بنیادی خوبیانو ته اشاره کړی۔ یوه خوبی داچه مؤمن نه خدائے ویرې او نه ئے په نورو خواسو محسوسو خوبیاهم د خدائے نه یَرَیږی۔ بلکه خوبی داچه مومن د خدائے د بخښنے د صفت نه بنه خبرځ خوبیاهم په کناهونو زړه ورکیږی نه۔ دویمه دوُو خوبیانو په وجه هغه د الله بسره قدر من کیږی۔ دویمه نه علاوه په دے کښے یو ۶ بله باریکه نکته هم ده چه هغه امام رازی بیان کړی ده۔ هغه داچه په عربی ژبه کښے د خوف او د خشیت دوه لفظونه استعمالیږی چه د دواړو په مطلب کښے یو باریک شان فرق دے۔ د "خوف" لفظ عام طور د هغه یَرے د پاره استعمالیږی چه هغه د یو طاقت په مقابله کښے د ځان کمزورۍ کنړلو په وجه د سړی په زړهٔ کښے راپیدا شی۔ او خشیت هغه هیبت ته وائی چه هغه د چا د لویۍ د خیال کولو د وجے نه د سړی په زړهٔ کښے راشی۔ دلته د خوف په ځائے د خشیت لفظ استعمال کړے شوے دے چه مقصد ئے دا دے چه د مؤمن په زړهٔ کښے د الله یَرَه تشه د هغه د سزا د یَرے د وجے نه نه وی بلکه د هغه سره د ډیر نه زیات د الله د لویۍ او د بزرګۍ هیبت هروخت په زړهٔ کښے ملکرے وی

۴۳ اصل الفاظ دی د "قلبٍ منیب" سره را غلے دے۔ مُنیب د انابت نه دے چه معنیٰ ئے ده یو طرفته هغ کول او یار یار هغے طرفته واپس کیدل۔ لکه څنګه چه د قطب نامه ستن همیشه قطب طرفته ولاړه وی او ټوله کهکشانونه هر څومره اُوخوږوے راُوخوږوے، هغه اخاديخوا لاړه شی او بیا قطب طرفته راشی۔ نو د قلبِ مُنیب نه مُراد دا دے زړهٔ دے چه د هر طرفنه ئے څخ یو د الله طرفته راوړو او بیا په ژوند کښے چې هر څنګه حالات راغلل په هغے کښے هغه یار یار د الله طرفته راګرزیدو۔ دا مطلب موږ ده په "دِلِ ګرویده" یعنی د "رجوع کونکی زړهٔ" په الفاظو سره اداکړے دے۔ دلته نه معلومه شوه چه د الله سره اصلی قدر د هغه سړی دے چه تش په ژبه نه بلکه د زړهٔ په خلوص او د زړهٔ په صداقت سره خاص د الله شی۔

۴۴ اصل الفاظ دی اُدْخُلُوْهَا بِسَلَامٍ۔ سلام که د سلامتیا په معنیٰ کښے راغلے شی نو د هغے مطلب دادے چه د هر قسم خطرونه او د هر قسم غم او فکر او آفتونو نه محفوظ شه او دے جنت ته ورننوزه۔ او که دا هم د سلام په معنیٰ کښے راغلے شی نو مطلب به ئے دا وی چه راشه دے جنت ته د الله او د هغهٔ فرښتو د طرفنه په تا سلام دے۔

په دے آیت نوکښے الله تعالیٰ هغه صفتونه بیان کړی دی چه د هغے په وجه یو سړے د جنت مستحق کیږی او هغه دادی (۱) تقویٰ (۲) الله ته واپس کیدل (۳) د الله سره د څیل تعلق ساتلو حفاظت کول (۴) د الله نه یَرَیدلو او د هغه د بخښنے ئے په صفت باندې د یقین ساتلو باوجود د هغه نه یَرَیدل او (۵) د قلب منیب یعنی د مَیَن زړهٔ سره الله ته رسیدل، یعنی د مرکز پورے الله ته رجوع کول۔

مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴿٣٥﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ
هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِى الْبِلَادِ هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿٣٦﴾ اِنَّ
فِىْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴿٣٧﴾
وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ

هغه هرڅه وی څه چه هغوئ غواړی، او زمونږ سره ډډه نه هم زیات ډیرڅه د هغوئ ډیاره دی.
مونږ د دوئ نه مخکښې ډیر قومونه هلاک کړی دی چه هغوئ د دوئ نه ډیر زیات طاقتور وو او
د دُنیا مملکونه ئې چاڼ کړی وو۔[۴۵] نو آیا هغوئ څه د پناه ځای بیا موندو؟[۴۶] په دې تاریخ کښې د عبرت
سبق دے د هر هغه چا د پاره چه زړه لری یا خبره په توجه سره آوری۔[۴۷] [۴۸]
مونږ زمکه او آسمانونه او د دې په منځ کښې ټول څیزونه په شپږو ورځو کښې پیدا کړل[۴۹]

۴۵ یعنی څه چه هغوئ غواړی هغه خو به ورته ملاویږی، لیکن د هغے د پاسه به مونږ نه هغوئ ته هغه څه هم ورکوو چه هغه د هغوئ په خیال کښې هم نه دی راغلی چه لا د هغے د حاصلولو خواهش به اُوکړی۔

۴۶ یعنی یوازے په خپل ملک کښې هغوئ زور ور نه وو بلکه د دُنیا نور ډیر ملکونه هم ورننوتی وو او د هغوئ د حملو او د تباهئ سلسله د زمکے په مخ د لرے لرے پورے رسیدلی وه۔

۴۷ یعنی هرکله چه د خدائے د طرفه د هغوئ د نیولو وخت راغے نو آیا د هغوئ هغه طاقت هغوئ ته کرے شول؟ او آیا په دُنیا کښې بیا چرته هغوئ ته پناه ملاؤ شوه؟ اُوس آخر تاسو په کومه بروسه د اُمید لرئ چه د خدائے په مقابله کښې به بغاوت اوکړئ او تاسو ته به چرته د پناه ځائے ملاؤ شی؟

۴۸ یعنی چه یا خو پخپله دومره عقل لری چه د صحیح خبرې سوچ اوکړی، او که نه وی نو چه د غفلت او د تعصب (یعنی ضد) نه دومره پاک وی چه بل څوک ئې په حقیقت پوهوی نو د هغه خبره په آزاد دماغ ونو اُوری داسے نه وی چه د پوهو کونکی آواز ئے په غوږ ونو تیر یږی او د آوریدونکی دماغ په بل طرف کښې مشغول وی۔

۴۹ د تشریح د پاره اوګورئ تفہیم القرآن څلورم جلد، تفسیر د سورۃ حٰمٓ السجدۃ، حاشیے ۱۱ تا ۱۵۔

وَّمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿۳۸﴾ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ
رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿۳۹﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ
وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿۴۰﴾ وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿۴۱﴾

او مونږ له څه ستړي والے رانغے۔ نو اے نبی، کوے خبری چه دا خلق جوړوی په هغے صبر کوه، او د خپل رب د حمد سره د هغه تسبیح وایه، د نمر ختلو او د نمر پریوتلو نه مخکښے، او د شپے په وخت کښے یاد هغه تسبیح وایه او د سجدو د وزګاریدو نه روسته هم۔

او واوره، په کومه ورځ چه آواز کوونکے (هر سړی ته) د نزدے نه آواز اوکړی،

۵۰ یعنی حقیقت خبره داده چه دا ټول کائنات مونږ په شپږو ورځو کښے جوړ کړی دی او دے په جوړ ولو مونږ نه ستړی شوی نه یو چه کښی دے دے دوباره آبادول زمونږ په وس کښے نه دی۔ اوس که چرے دا به وفها خلق د مرګ نه روستو دوباره ژوندی کید و خبری ستاسو واورئ او پتا پورے تو تے کوی او ناته لیونے وائی نو په دے صبر کوه۔ بنه په صبر سره د دوئ هره بے عقله خبره اورئ او د کوم حقیقت بیانو لو د پاره چه تاسو مقرر کړے شوے ئے هغه بیانوه۔

په دے آیت کښے یو باریک شان طنز پرته دے۔ یهود او نصاریٰ باندے هم دے چه د هغوئ په بائبل کښے دا قصه د دغه نه جوړه کړے شوی ده چه الله تعالیٰ په شپږو ورځو کښے زمکه او آسمان جوړ کړل او په اومه ورځ ئے آرام اوکړو (پیدائش ۲:۲)۔ اګرچه اوس مسیحی پادریان دے خبری نه شرمیدلی دی او هغوئ د خپل مقدس کتاب تورات نو په اردو ترجمه کښے لفظ آرام اوکړو په لفظ "فارغ هوا" یعنی وزګار شو سره بدل کړے دے۔ لیکن د دے کښے جیمز پرته مستند انګریزی بائبل کښے (And he rested on the seventh day) الفاظ صاف موجود دی۔ او هم دا الفاظ په هغه ترجمه کښے دی کومه چه په ۱۹۵۲ء کښے یهودیانو د فلیډلفیا نه شائع کړی ده۔ په عربی ترجمه کښے هم "فاستراح فی الیوم السابع" الفاظ دی۔

۵۱ دا هغه ذریعه ده چه په دے سره سړی ته دا طاقت حاصلیږی چه حق ته د ماتے پرته کښے که هر څومره د زړه ماتی او خطرناک حالات مخے ته راشی، او د هغه د کوشش نو که هدف نه پرته نظر نه راځی، خو بیا به هم هغه د کلکے ارادے سره خپل ټول عمر د حق د اوچتولو او نیکئ ته رابللو کوشش جاری ساتی۔ د رب د حمد او د هغه د تسبیح نه دلته مراد مونځ دے، او په قرآن مجید کښے چه په کوم ځائے کښے حمد او تسبیح د خاصو وختونو سره خاص کړے شوی وی د هغے نه مراد مونځ وی۔ "د نمر ختو نه مخکښے" د سحر مونځ دے "د نمر پریوتو نه مخکښے" دوه مونځونه دی، یو ماسپښین، بل ماښام۔ د "شپے د وخت" نه مراد د ماښام او د ماسخوتن مونځونه دی او دریم د تهجد مونځ هم د شپے په تسبیح کښے شامل دے (د تشریح د پاره اوګورئ تفہیم القرآن دوم جلد، بنی اسرائیل، حاشیے ۱۰۲ تا ۱۰۹۔ دریم جلد، طٰہٰ، حاشیه ۱۱۱۔ الروم حاشیے

۲۳-۲۴) ۔ پلتے شوه هغه تسبیح چه د هغې هدایت " د سجدو د وزکاریدو ۔ نه روستو شوې ده، نو دلته نه مُراد د مانځه نه روستو ذکر هم کیدے شي او د فرضونه روستو نفل کول هم ۔ حضرت عُمرؓ، حضرت علیؓ، حضرت حسن بن علی، حضرت ابوهریره، ابن عباس، شَعبی، مُجاهِد، عِکرِمه، حسنِ بصری، قتاده، ابراهیم نَخَعِیؒ او اوزاعی دَډے نه مُراد د مابنام د مانځه نه روستو دوه رکعته اخلی ۔ د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص او د یو روایت په سبب سره د حضرت عبد الله بن عباس هم داخیال دے چه دَډے نه مُراد د مانځه نه روستو ذکر دے ۔ او ابن زید وائی چه دَډے حکم مقصد دادے چه د فرضونه روستو د نفل مونځ ادا کولے کیږی ۔

په صحیحینو کښے د حضرت ابوهریره روایت دے چه یو څلے غریبانان مهاجرین حاضر شو او عرض ئے اوکړو چه اے د الله رسوله مالدار و خلقو خولوئے لوئے درجے حاصلے کړے ۔ نبیؐ او فرمائیل " څه چل اوشو؟ " هغوئ عرض اوکړو هغوئ هم مونځونه کوی لکه څنګه چه موږه کوُو، او روژے نیسی لکه څنګه چه موږه نیسو ۔ لیکن صدقے ورکوی او موږه نه شو ورکولے، هغوئ غلامان آزاد وی او موږه نه شو آزاد ولے ۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل " راځئ چه زُه درته داسے کار او بنایم چه کله چرے تاسو اوکړو نو تاسو به د نورو خلقونه وړاندے شئ بغیر د هغه چا نه چه هغه عمل اوکړی کوم چه تاسو کوئ ۔ هغه کار دا دے چه تاسو د هر مانځه نه روستو دری دیرش، دری دیرش څله سبحان الله، الحمد لله او الله اکبر وایئ " څه موده روستو هغوئ عرض اوکړو چه زمونږه مالدار و رونړو هم داخبر اوریدلی دے او هغوئ هم دا عمل شروع کړے دے ۔ نو نبیؐ او فرمائیل ذٰلك فضل الله یؤتیه من یشآء ۔ په یو روایت کښے دَډے کلمُو شماره د دری دیرش څله پرځائے لس لس څله هم روایت کړے شوی دے ۔

د حضرت زید بن ثابت روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته فرمائیلی وو چه د هر مانځه نه روستو دری دیرش دری دیرش څله سبحان الله او الحمد لله وایئ او څلور دیرش څله الله اکبر وایئ ۔ روستو بیا یو انصاری عرض اوکړو چه ما په خوب کښے لیدلی دی چه څوک وائی که تاسو پنځیشت پنځیشت څله دا درے کلمے اووائے او بیا پنځیشت څله لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُووائے نو دا به زیات بهتر وی ۔ نبیؐ او فرمائیل دیره ښه ده دغسے کوه ۔ (احمد ۔ نسائی ۔ دارمی)

حضرت ابوسعید خُدرِی وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله مونځ اوکړو او راُوبه کړځید و نو ما اَوریدلی دی چه هغه دا الفاظ وَیل سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ۝ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِیْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۔ (احکام القرآن للجصاص) ۔

دَډے نه علاوه هم د مونځ نه روستو د ذکر په برخلیک نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کړے شوی دی ذکرونه چه د قرآن مجید په دے هدایت باندے عمل کول غواړی هغه د مشکوٰة شریف باب الذکر بعد الصلوٰة نه یو ذکر چه کوم د هغه ښه خوښ وی را واخلی او هغه د یاد کړی او هغه د ولولی ۔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښودلے شوی ذکر نه بهتر ذکر بل څه کیدے شی ۔ لیکن دا خیال ساتئ چه د ذکر اصلی مقصد صرف په ژبه الفاظ وَیل نه دی بلکه د هغے مطلب په ذهن کښے کینول دی او محکم کول دی ۔ دا وجه ده چه د هر ذکر په مطلب څان ښه پوه کول پکار دی او بیا د پوهے شوے ذکر کول پکار دی ۔

يَوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ۚ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ ﴿٤٢﴾
إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا الْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾ يَوْمَ تَشَقَّقُ
الْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ۚ ذٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾

پہ کومہ ورځ چہ ټول خلق د حشر چغہ ټیک ټیک واورې[۵۳]، هغہ ورځ بہ د زمکے نہ د مړو د راوتلو ورځ وی۔ خاص هم موږ بہ ژوندون ورکوُو او هم موږ بہ مړک راولو، او خاص هم موږ بہ تہ د ټولو واپس راتلل دی پہ هغہ ورځ چہ کلہ زمکہ اُوشلیږی او خلق د هغے نہ را اُوزی او پہ منډہ منډہ را زغلی د حشر (یعنی د خلقو راغونډولو) موږ بہ تہ ډیر آسان دی[۵۴]

۵۲ یعنی انسان چہ پہ کوم ځائے کښے مړ پروت وی، یا پہ دنیا کښے پہ کوم ځائے کښے هغہ تہ مړک راغلے وی هم هلتہ بہ د خدائے د آواز کونکی آواز هغہ تہ اُورسیږی چہ پاسہ اوځہ خپل رب تہ د حساب کتاب د پارہ۔ دا آواز بہ څہ دا زمکے وی چہ د زمکے پہ مخ پہ هرځائے کښے څوک راژوندے شی نو هغہ بہ وائی چہ کښی آواز کونکی چرتہ د نزمہ نہ مانتہ آواز کړے دے۔ پہ یو وخت بہ دا یو آواز د ټولے زمکے پہ هرځائے کښے یوشان واورېدے شی۔ دا دے نہ هم اندازہ لګیدے شی چہ د آخرت پہ جهان کښے بہ د زمان او مکان پیمانہ د موجودہ دنیا پہ نسبت څومرہ بدلہ یدلہ وی او څہ څہ طاقتونہ بہ د څہ رنګے قانون مطابق کار کوی۔

۵۳ اصل الفاظ دی يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ۔ دا دے دوہ معنے کیدے شی۔ یوہ دا چہ ټول خلق یو د حق آواز اورې۔ دویمہ دا چہ خلق بہ د حشر چغہ ټیک ټیک اورې۔ دا اولے معنے پہ لحاظ د سرہ مطلب دا دے چہ خلق بہ د هغہ حق آواز پہ خپلو غوږونو اورې د کوم منلو تہ چہ هغوی پہ دنیا کښے تیار نہ وُو، د کوم نہ چہ هغوی پہ انکار کولو کښے پہ سند ټینګ ولاړ وُو، د کوم خبرچہ بہ پیغمبرانو کولو او هغوی بہ ورپورے ټوقے کولے۔ د دویم معنے پہ لحاظ د سرہ مطلب دا دے چہ هغوی بہ پہ یقین سرہ د حشر آواز اورې، هغوی تہ بہ پخپلہ پتہ اولګی چہ دا څہ وهم نہ دے بلکہ واقعی دا خاص د حشر آواز دے۔ د هغوی بہ پہ دے خبرہ کښے هیڅ شک نہ وی چہ د کوم حشر هغوی لہ خبر ورکړے شوے وُو هم هغہ حشر را غلے دے او دا هم خاص د هغے آواز دے۔

۵۴ دا د کافرانو د هغہ خبرې جواب دے کومہ چہ پہ آیت نمبر ۳ کښے نقل کړے شوی دہ۔ هغوی بہ وئیل چہ بنہ دا الاتنګ کیدے شی چہ موږ بہ مړہ شوی یو او خاورے شوی یو نو پس د هغے بہ موږ بہ بیا راژوندی کړے شو دا خو د عقل نہ لرے خبرہ دہ۔ د هغوی د دے خبرې پہ جواب کښے فرمائیلے شوی دی چہ دا حشر یعنی دا ډیر روستو ټول انسانان پہ یو وخت راژوندی کول او ر جمع کول زموږ د پارہ بالکل آسان دی۔ زموږ د پارہ دا معلومول څہ ګران نہ دی چہ د یو انسان خاورہ پہ کوم ځائے کښے پرتہ دہ۔ موږ تہ بہ پہ دے معلوماتو کولو کښے هم څہ مشکلات لګے تہ نہ راځی چہ پہ دے څوُرُو وروڼو روڼو کښے د "زید" ذرے کوے کوے دی او د "بکر" ذرے کوے کوے دی۔ هغہ ټولے ذرے جُدا جُدا را غونډول او د یو یو سړی بدن بیا جوړول،

نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ ۣ فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ ﴿۴۵﴾

اے نبیؐ کومے خبری چہ دا خلق جوړوی هغه مونږ ته ډیرے ښے معلومے دی، اوستا کارد ا نۍ دے چہ په دوئ خبرہ په زور اوځئے - بس تہ دے قرآن په ذریعہ هرهغه سړی ته نصیحت کوہ ځوک چہ زما د خبری نه ډیرہ کوی [۵۶] ع

اوپه هغه بدن کښے هم هغه سړے بیا د نوی سوند جوړول کوم چہ اول په هغے کښے پاتے شوے وُو، زمونږ د پاره د ځه محنت کار نۍ دے، بلکه زمونږ د پاره یوه اشاره دا ټول هرڅه په یو ساعت کښے کیدے شی - کوم انسانان چہ د آدمؑ د وخت نه د قیامت پورے په دنیا کښے پیدا شوی دی هغوئ ټول په دے یو حکم د ډیر په آسانئ سره راجمع کیدے شی - که ستاسو واړه شان دماغ دا د عقل نه لرے خبرہ کنړی نو کنړی د، خو د کائنات د خالق د قدرت نه لرے خبرہ نۍ ده -

[۵۵] په دے فقره کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاره تسلی هم ده او د کافرانو د پاره خبرداری هم دے - نبیؐ ته فرمائیلے کیږی چہ دا خلق په تا پورے کومے خبری جوړوی د هغے بالکل پروا مۍ کوه، مونږ ه هرڅه آورو او د هغوئ سره کار ختمول زمونږ ه کار دے - کافرانو ته خبردارے ورکړے کیږی چہ زمونږ په نبی پورے کومے خبری تاسو جوړوئ هغه به درته ډیرے کرانے پریوزی - مونږ ه پخپله یوه یوه خبرہ آورو او د هغے سزا به خامخا تاسو مومئ -

[۵۶] د دے دا مطلب نۍ دے چہ نبی صلی الله علیه وسلم په زور خپله خبره په خلقو منله او الله تعالیٰ هغه د هغے نه منع کړو - بلکه دا خبره نبیؐ ته کیږی او په اصل کښے کافرانو ته اورولے کیږی - یعنی هغوئ ته دا وئیلے کیږی چہ زمونږ نبی خو داسے نۍ دے د لږولے شوے چہ ستاسو نه په زور کار اخلی - د هغه کار دائ دے چہ تاسو په زور مؤمنان کړی چہ تاسو نه منل غواړی او هغه ډنډے درباندے په زور اومنی - د هغه خو بس دومره ذمه واری ده چہ د چا عقل کار کوی نو چہ هغه ته قرآن و اوروی او په حقیقت ځے پوهه کړی - اوس که چرے تاسو نه منئ نو بیا به ستاسو سره خبره نه ختمری بلکه مونږ به ستاسو سره خبره ختمو او فیصله به کوو -

تفہیم القرآن

الذّٰریٰت

۵۱

الذّٰریٰت

نوم دَدے سورۃ نومرہ اولنی ګڼل کی وَالذّٰرِیٰتِ نه اخلے شوے دے۔ مطلب دا دے چه هغه سورۃ چه دَهغې شروع دَلفظ الذّٰرِیٰتِ نه شوی ده۔

دَنازلیدو زمانه دَمضمونونو او دَانداز بیان نه صفا معلومیږی چه دا سورۃ په هغه زمانه کښې نازل شوې ده چه کله دَنبی صلی الله علیه وسلم دَعوت مقابله په ټوټو ټقالو سره او دَدروغو په الزامونو سره خو ډیره په زور شور سره کیدله، لیکن دَظلم زیاتی دَورلا شروع شوې نه وُو۔ پدې وجه دا سورۃ هم دَهغې دَورنازل شوې سورۃ معلومیږی چه په کوم دَورکښې سورۃ قٓ نازل شوې ده۔

موضوع او بحثونه دَدے سورۃ ډیره حصه دَآخرت په حقلده۔ او په آخر کښې دَتوحید دعوت پیش کړے شوے دے۔ دَدے سره سره خلق دَدے خبرې نه هم خبرداره کړے شوی دی چه دَپیغمبرانو خبره نه منل او دَجاهلیت په خبرو باندې ټینګیدل پخپله دَهغه تومونو دَپاره دَتباهئ سبب جوړ شوے دے کومو چه دا طریقه اختیار کړې ده۔

دَآخرت په حقله چه کومه خبره دَدے سورۃ په وړو وړو فقرو او دَمطلب نه په دوکو فقرو کښې بیان کړے شوې ده هغه دا ده چه دَانسانانو دَآخرۍ انجام په بارہ کښې دَخلقو کومے مختلفے او دَیو بل نه بَدلے بَدلے عقیدے دی، دا پخپله دَدے خبرې څرګنده ثبوت دے چه په دے کښې یوٗ عقیده هم دَعلم په بنیاد باندې نه ده بلکه هر یو خپل خپل قیاسونه زغلولی دی او ځان له ئے یوه نظریه جوړه کړې ده او هم دَهغې نه ئے دَځان دَپاره عقیده جوړه کړې ده۔ چا دا خیال او کړو چه دَمرګ نه پس به ژوند نه وی۔ چا دَمرګ نه پس ژوندون اُومنو خو دَتناسخ (یعنی کوم شیز چه مرشی نو دَهغه رُوح په بدل کښې نوے) په شکل کښې ئے اُومنو۔ چا دَآخرت ژوند او جزا او سزا اُومنله خو دَعملونو دَبدلے نه دَپرې کیدلو دَپاره ئے قسما قسم خبرې جوړې کړے۔ دا دومره لویه او اهم ترینه بنیادی مسئله ده چه کوم دَدے په حقله دَسړی رائے غلطه شوه نو دَهغه تول ژوند پرغلطیږی او دَهمیشه همیشه دَپاره ئے راتلونکے ژوند برباد یږی۔ او ځوک چه دَعلم نه بغیر تش دَقیاسونو او کمانونو په بنیاد باندې دَځان دَپاره یوه عقیده جوړه وی نو دا دَبے وقوفتیا حده ده او دَتباهئ جړه ده۔ دَدے مطلب دا دے چه یو سړے ځان په غټه دوکه کښې واچوی او خپل تول عُمر دَجاهلیت په غفلت کښې تیر کړی او دَمرګ نه روسته ناسپاه دا دے حالت سره مخ شی چه دَهغې دَپاره هغه قطعًا شه تیاری نه وه کړې۔ دَدے مسئلے په بارہ کښې دَصحیح رائے قایمولو لپاره اِکې یوه لاره ده، او هغه دا ده چه انسان ته دَآخرت په حقله کوم علم دَخدائے دَطرفنه هغه نبی بنائی چه په هغې دَپوهے سره غور او کړی او دَزمکے او دَآسمان په نظام باندې او پخپله په خپل وجود باندې نظر واچوی او په غږیدلو ستر کو او کوری چه آیا دَهغه علم دَصحیح والی شهادت هر طرفنه موجود نه دے؟ په دے سلسله کښې دَهوا او دَباران انتظام، دَزمکے جوړښت او په هغې کښې ئے

وُسید ونکی مخلوقات، دَ انسان ځپل نفس، دَ آسمان پیدا وښت، او دَ دُنیا ټول ځیزونه دَ جوړ د جوړوپه شکل کښے جوړیدل په دے طور کښے پیش کړے شوی دی چه دا ټول کارونه دَ آخرت کواهی کوی۔ او دَ انسانی تاریخ نه مثالونه ورکړے شوی دی او ویُیلے شوی دی چه دَ کائناتو دَ بادشاهئ طرز دا ہے بنکاری چه په دے کښے دَ بدلے او دَ سزا قانون یعنی قانون مکافات پکار دے۔

دَدے نه روستو دیر په مختصر انداز کښے دَ توحید دعوت ورکړے شوے دے او ویُیلے شوی دی چه ستاسو خالق تاسو دَ بندګئ دَ پاره نه یُیلی پیدا کړی بلکه دَ خپلے بندګئ دَ پاره ئے پیدا کړی یُیۍ۔ هغه ستاسو دَ جوړولو کړو معبودانو پشان نۀ دے چه ګنې ستاسونه رزق اخلی او ستاسو دَ امداد نه بغیر دَ هغه خدائی نه شی چلیدے۔ هغه دا ہے معبود دے چه ټولوله رزق ورکوی، دَ چا نه دَ رزق دَ اغتلو محتاج نه دے او چه دَ هغه خدائی دَ هغه په ځپل طاقت چلیږی۔

په دے سلسله کښے دا خبره هم شوی ده چه دَ پیغمبرانو مقابله کله هم شوی ده نو په څه مناسب بنیاد باندے نۀ ده شوی بلکه په هغه ضد او ډاهلانه غرور باندے شوی ده کوم چه ن دَ محمد صلی الله علیه وسلم سره کیږی، او دَدے اصل سبب دَ سرکشئ نه بغیر بل هیڅ ځیز نۀ دے۔ یا محمد صلی الله علیه وسلم هدایت شوے دے چه دَ سرکشانو خلقو ته توجه مۀ ورکوه، او دَ خپل دعوت او دَ خپلے بلنے کار کوه، ځکه دا کار دَدے خلقو دَ پاره فائدمند نۀ وی نو نۀ به وی لیکن دَ مومنانو دَ پاره فایده مند دے۔ پاتے شو هغه ظالمان خلق چه هغوئ په خپله سرکشئ باندے تینګ ولاړ دی، نو دَ دوئ نه مخکښے چه کوم خلق په دے لار تلل هغوئ ته دَ خپلے حصے عذاب ملاؤ شوے دے او دَ دوئ دَ حصے عذاب تیار دے۔

سُوْرَةُ الذّٰرِيٰتِ مَكِّيَّةٌ

اٰيَاتُهَا ۶۰ رُكُوْعَاتُهَا ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ۝۱ فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ۝۲ فَالْجٰرِيٰتِ يُسْرًا ۝۳
فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ۝۴ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ۝۵ وَّاِنَّ الدِّيْنَ

قسم دے پہ هغه هوا گانو چې ډوړي الوزونکي دي، بیا د اوبو نه پکے وړیچے اوچتونکي دي، بیا پہ مزه مزه چلیدونکي دي، بیا د یو لوی کار (یعنی د باران) تقسیموونکي دي، حق دا دے چه د کوم خبرو نه تاسو ویرولے کیږئ هغه رښتیا دے او د عمل نو بدلے به

۱ پدے خبره د ټولو مفسرینو اتفاق دے چه د الذّٰریٰتِ نه مُراد خیزرونه کډوونکي او دوړي الوزونکي هوا گانے دي، او د "اَلْحٰمِلٰتِ وِقْرًا" (دروند بوج اوچتونکو) نه مُراد هغه هوا گانے دي چه د سمندرونو نه لکونو کروړونو گیلن اوبه د براس یعنی د وریځو په شکل کښے اوچتوي۔ هم دا تفسیر حضرت عُمرؓ، د حضرت علیؓ، د حضرت عبد اللہ بن عباس، د حضرت عبد اللہ بن عُمر او د مجاهد، د سعید بن جُبیر، د حسن بصری، د قتادہ او د سُدّی وغیره حضراتو نه نقل کړے شوے دے۔

۲ د الجَارِیَات یُسْرًا او د اَلْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا په تفسیر کښے د مفسرینو په منځ کښے اختلاف دے۔ یو ډلے دے خبرې له ترجیم ورکړی دے، یانے تر دا مطلب اغستل جائز ګڼلی دی چه د دے هوا رونه هم مُراد هوا گانے دي، یعنی هم دا هوا گانے د ریځے د ځان سره وړي او بیا د زمکے په مختلفو حصو کښے تقسیم شي او د اللہ تعالیٰ د حکم مطابق، چه کوم ځائے څومره حکم وي هلته هغومره اوبه تقسیموي۔ دویمه ډله د اَلْجٰرِیٰتِ یُسْرًا نه مُراد په مزه مزه ملونکي کشتۍ اغستلی دي او د اَلْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا نه مراد هغه فرښتے اغستلی دي چه هغوئ د اللہ تعالیٰ د حکم مطابق د خلقو تر د نصیب خیزرونه په هغوئ کښے تقسیموي۔ د دے روایت مطابق حضرت عُمر رضی اللہ عنہ دے دوارو فقرو دا مطلب بیان کړو او دے فرمایلے چه کله چه ما د رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم نه نه وی آوریدلی نو ما دا نه بیانوو۔ په دے وجه علامه آلوسی دے دے خیال اظهار کړی چه دے سوا بل مطلب دے فقرونه اغستل جائز نه دے او کوم خلق چه تر بل مطلب اغستلے دے هغوئ بے ځایه زور ورتیا کړی ده۔ لیکن حافظ ابن کثیر وائی چه دے دے روایت سند کمزورے دے او په دے وجه قطعی طور ټوک دانه شي وئیلے چه واقعی نبی دے دے فقرو دا تفسیر بیان کړے دے۔ په دے کښے هیڅ شک نشته چه د صحابو او د تابعینو د یوے لوئے ډلے نه هم دا دویم تفسیر نقل کړے شوے دے۔ لیکن د مفسرینو یو خلے ډلے اولنے تفسیر هم بیان کړے دے او د کلام د سلسلے سره هغه زیات سمون خوري۔ شاه رفیع الدین صاحب، شاه عبد القادر صاحب او مولانا محمود الحسن صاحب هم په خپلو ترجمو کښے اولنے مطلب اغستلے دے

لَوَاقِعٌ ﴿٦﴾ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ﴿٧﴾ اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ

ضرور مخے تہ راځی ۴

قسم دے پہ آسمان باندې چہ مختلف ټکلونو والا دے ۵ (د آخرت پہ بارہ کښے) ستاسو خبرہ ډیوبل نہ

۳ پہ اصل کښے لفظ تُوْعَدُوْنَ استعمال شوے دے۔ داکہ چیرے د وَعْد نوی نوډیے مطلب یہ دا وی "د کوم څیز چہ ستاسو سرہ وعدہ کیږی"۔ د ژبے پہ لحاظ سرہ دوارہ مطلبونہ یوشان مہیم دی۔ لیکن د موقعے اود محل سرہ دویم مطلب زیات سمون خوری، ځکہ چہ خبرہ هغہ خلقو نہ کیږی څوک چہ پہ کفر او پہ شرک کښے اوپہ کناهونو کښے ډوب وُو او دے خبرې منلو تہ تیار نہ وُو چہ لا هسې کتاب ہم کیږی او د عملونو بدلے ہم ورکړے کیږی۔ پہ دُوجہ موږ دہ تو عدون د وعدے پہ ځائے د وعید (یعنی ډیرونے) پہ معنی کښے اخستلے دے۔

۴ دا د هغہ خبرے چہ پرے قسم خوړلے شوے دے۔ دے قسم مطلب دا دے چہ د کوم بے مثاله انتظام او روانې سرہ د یاوان د اعظیم الشانہ طریقہ ستاسو ستر کوپہ وړاندې چلیږی، او کوم حکمتونہ او کوم فایدے چہ پہ دے کښے څرکند دے پہ نظر راځی، هغہ د دے خبرې گواهی کوی چہ دا دُنیا څہ بے مقصدہ او بے مطلبہ کُوړکے نہ دے چہ یکښے د لکونو کروړونو کلُونو راسے یوہ ختمہ لوبہ ہم بس ہم دغسے پہ آنکل راروانہ کیږی، بلکہ دا پہ حقیقت کښے د کمالے درجے پورے حکمتی نظام دے چہ هر کار یکښے د څہ مقصد او د څہ فایدے سرہ کیږی۔ پہ دے نظام کښے دا پہ هیڅ شان سرہ ممکنہ نہ دہ چہ دلتہ د انسان غوندې مخلوق لہ عقل، شعور، تمیز او پہ خپلہ خوښہ د کار کولو اختیار ورکړے شی، پہ هغہ کښے دے د نیکئ او د بدئ معلومولو اخلاقی پوهہ پیدا کړے شی او هغہ تہ دے هر قسمہ د ښو او بدو کارونو، د صحیح او د غلطو کارونو موقعے ورکړے شی، او هغہ دے پہ زمکہ کښے د لوټ مار او مندو تررو د پاره هسے بے مطلبہ او فضول پرېښودے شی، او د هغہ نہ دے چرتہ دا تپوس نہ کیږی چہ زرہ او دماغ او د بدن کوم طاقتونہ چہ هغہ لہ ورکړے شوی وُو، پہ دنیا کښے د کار کولو د پاره چہ کوم فرانبہ ذریعے هغہ تہ حواله کړے شوے دے او د خدائے پہ بے شماره مخلوقاتو چہ د ځمکے کولو کوم اختیارات هغہ لہ ورکړے شوی وُو، دا ټول هغہ پہ څہ طریقہ استعمال کړل، د کائنات پہ کوم نظام کښے چہ هرڅہ څانګړہ مقصد لری نو پہ هغے کښے د انسان غوندې عظیم مخلوق پیدا ئش څنګہ بے مقصدہ کیدے شی؟ پہ کوم نظام کښے چہ هر څیز د حکمت نہ ډک دے پہ هغے کښے یوازے د یو انسان پیدا ئش څنګہ فضول او عبث کیدے شی؟ د مخلوقاتو تر کوم قسمونہ چہ عقل او شعور نہ لری د هغوی د پیدا ئش غرض پہ دے طبیعی جهان کښے یعنی پہ دے دنیا کښے پوره کیږی۔ نو هغوی کہ چرے د خپل عُمر د ختمیدو نہ روستو ضائع کړے شی نو دا بالکل مناسب خبرہ دہ، ځکہ چہ هغوی لہ خو څہ اختیارات هم ورکړے شوی نہ دی چہ کنې څہ حساب کتاب ډ ورسرہ او کړے شی۔ لیکن هغہ مخلوق چہ عقل او شعور او اختیارات ورکړے شوی دی، چې هغوی کارونہ یوازے د دنیا د ځوړه پورے محدود نہ دی بلکہ اخلاقی حیثیت هم لری، او چہ د هغوی هغہ علونہ چہ د هغے نہ څہ نہ څہ اخلاقی انجام راوُزی، د هغے سلسلہ تش د دُنیا د ژوند د آخری ساعت پورے نہ چلیږی بلکہ د مرګ نہ روستو هم د هغے اخلاقی اثرات پاتے کیږی، نو هغہ صرف د هغہ د دُنیا د کار د ختمیدو نہ روستو د ځناورو او د بوټو پہ شان څنګہ ضائع کړے شی؟ هغہ څوچہ پہ خپل اختیار او ارادے سرہ

کومه نیکی یا بدی کړی ده دَهغے بدله هغه ته نیک نیک دَ حواوَ انصاف مطابق ملاویدل پکار دی
ځکه چه دا دَ هغه مقصد تر څه ضروری ده دَ کوم مقصد لاندِ چه دَ نور و مخلوقاتو خلاف هغه
یو اختیار والا مخلوق جوړشوے دے - که دَ هغه سره حساب کتاب نه وی، او دَ هغه دَ اخلاقی کارونو
هغه له څه سزا یا جزا نه وی، او هغه دَ بے اختیاره مخلوقاتو پشان دَ دُنیا دَ ژوند دَ ختمیدونه
رد ستو ضائع کړے شی، نو بیا به خامخا دَ هغه پیدا کیدل عبث وی او دَ یو حکیم نه دَ عبث کار
کولو اُمید کیدے نه شی -

دَ دے نه علاوه دَ آخرت او دَ جزا او دَ سزا په واقع کیدو باندِ دَ کائناتو په دے څلورو څیزونو دَ قسم
خو رلو یوه بله وجه هم ده - دَ آخرت نه انکار کونکی چه دَ مرګ نه پس ژوند په کومه وجه ناممکنه ګڼی
هغه دا ده چه هغه وائی چه کله موبږه مړه شوا و دَ خاورو سره خاوره شو، او چه کله زمونږه یوه
یو ذره په زمکه کښے خوره وره شی نو څنګه کیدے شی چه دَ بدن ډاخورے ورے ذرے بیا راجمع شی
او موبږه دوباره جوړ کړے شو - دا شک دَ کائناتو په هغه څلورو څیزونو باندِ په غور کولو سره پخپله
ختمیږی کوم چه دَ آخرت دَ پاره دَ دلیل په طور پیش کړے شوی دی - دَ نمرونړا ګانے چه دَ زمکے په مخ
دَ اوبو کومو ذخیرو تر رسی په هغے تولو باندِ دَ کرمنی اثر غورزوی - دَ دے عمل دَ وجے نه دَ اوبو بے
حسابه قطرے دَ سمندرونو نه والوزی - لیکن هغه ختمیږی نه بلکه دَ بړاس په شکل کښے یوه یو قطره
په هوا کښے محفوظ وی - بیا چه کله دَ خدائے حکم او شی نو هم دا هوا دَ هغے بړاس قطرے راغونډے
کړی، هغه دَ درنو وریځو په شکل کښے راجمع کړی، بیا دغه وریځے دَ ځمکے سره واخلی او دَ زمکے په
مختلفو حصو کښے خوره شی، او دَ خدائے دَ طرفنه چه کوم وخت مقرر دے تیک په هغه وخت یو یوه
قطره هم په هغه شکل کښے چه په کوم شکل کښے اول وه زمکے ته واپس راوسوی - دا کوم کار چه هره
ورځ دَ انسان دَ ستر کو دَ وړاندِ کیږی دَ دے خبرې ګواهی ورکوی چه دَ مرو شوو انسانانو دَ بدن ذرے
هم دَ الله تعالیٰ په یوه اشاره راجمع کیدے شی او تول انسانان هم په هغه شکل کښے بیا راژوندی
کولے شی په کوم شکل کښے چه اول هغوی موجود وو - دا ذرّے خواه که په خاورو کښے وی، او که په
اوبو کښے وی، او که په هوا کښے وی، بهرحال هغه وی په دے زمکے او دَ دے په ماحول کښے - کوم
خدائے چه دَ اوبو بخارات په هوا کښے ګرځوی او نه دوستو بیا هم ډهغے هوا په ذریعه راغونډ وی او هغه
بیا دَ اوبو په شکل کښے راوَروی، دَ هغه خدائے دَ پاره به دَ انسان بدن خورے ورے ذرے دَ هوا او دَ
اوبو او دَ خاورے نه راغونډ ول، او بیا په پخوانی شکل کښے راجمع کول آخرولے ګران دی؟

۵ په اصل کښے لفظ ذَاتِ الْحُبُكِ استعمال شوے دے - حُبُك لاروتړم وائی، حُبُك هغه چپو تړم وائی
چه دَ هوا دَ چلید و سره په شکلنه علاقه کښے او په ولاړو اوبو کښے پیدا کیږی - او په کلکتو و ریځو کښے چه کوم لاړے
جوړ یږی هغے تړم دالفظ ویلے کیږی - دلته آسمان ته حُبُك والا یا خو په دے لحاظ سره ویلے شوے دے چه په آسمان
باندِ اکثر دا ډول وریځے خوری وی چه ډهغے قسما قسم شکلونه وی او هغه دَ هوا دَ وجے نه بار بار بدلیږی رابدلیږی
نه ځے همیشه یو شکل وی او نه ځے یو شکل دَ بدشکل پشان وی - یا ورته په دے وجه حُبُك والا فرمایلے شوے دے چه په
کله په آسمان باندِ ستوری خواره واره حُلیږی نو سړے وینی چه دَ هغے د یر مختلف شکلونه دی او یو شکل قبل شکل پشان نه دے

مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾ يُّؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴿٩﴾ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ
هُمْ فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ﴿١١﴾ يَسْـَٔلُوْنَ أَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٢﴾
يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُوْنَ ﴿١٣﴾ ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ هٰذَا الَّذِيْ

مختلف دے۔[۶] دھغے نه هغه څوک مخ اړوی څوک د حق نه په شاشوے دے۔[۷]
په تیاس اوپه ګمان سره حکم لګونکی خلق تباه شو،[۸] چه په جهالت کښے د وب اوپه غفلت کښے بے هوشه پرانه دی۔[۹] پوښتنه کوی چه آخرهغه د بدلے ورځ به کله راځی؟ هغه به په هغه ورځ راځی چه کله داخلق په وُور سوزولے کیږی۔[۱۰] (دوئ ته به ویلے کیږی چه) اُوس اُوځکئ مزه د خپلے فتنے۔[۱۱] دا هم هغه څیز دے

[۶] په دے مختلفو خبرو باندے تشبیه په طورے مختلفو شکلونو والا آسمان قسم خورلے شوے دے۔ یعنی لکه څنګه چه د آسمان د ورځو او د ستورو ټولګوشکلونه مختلف دی اوپه هغے کښے هیڅ مطابقت د یو بل سره نه وی، دغسے د آخرت په حقله تاسو د خپلے خپلے رائے مطابق خبرے کوئ او د هر یو خبره د بل نه مختلف ده۔ څوک وائی چه دا دنیا هیڅکله ده او قیامت نشی راتلے۔ څوک وائی چه دا نظام فانی دے اوپه یو وخت کښے دا خلقیدے هم شئ لیکن د انسان سره چه کوم څیزونه یو ځل فنا شو، بیا د هغے دوباره راژوندی کیدل ممکن نه دی، څوک دا منی چه دوباره ژوندی کیدل شته لیکن د هغوئ عقیده دا ده چه انسان د خپلو عملونو د بنیے به بدلے د دوباره بار بار هم پیدا کیدو کښے راپیدا کیږی۔ څوک د جنت او د دوزخ هم قائل دی، لیکن د دے سره د تناسخ عقیده هم شامله وی یعنی د هغوئ دا خیال دے چه نیکوکار انسان د سزا د پاره دوزخ ته هم څی او بیا په دے دنیا کښے هم سزا د پاره راپیدا کیږی۔ څوک وائی چه د دُنیا ژوند پخپله یو عذاب دے، ترڅوچه د انسان د نفس تعلق د مادی دنیا سره باقی وی ترهغے به هغه انسان په دے دنیا کښے بار بار راوړی او بار بار به ژوندے کیږی، او د هغه حقیقی خلاصے (یعنی نروان۔ نجات) دا دے چه هغه بالکل فنا شی۔ څوک د آخرت او د جنت او د دوزخ قائل دی، لیکن وائی چه هغه انسان خپل څوئے په صلیب مرکړے دے او د انسان د هیڅ کناه کفاره ئے ادا کړی ده، او څوک چه په هغوئ باندے ایمان راوړی نو هغه به د خپلو بد او علونو د بد انجام نه بچ شی۔ څوک آخرت او جزا او سزا، او هر څه نه خو څینی دا سے بزرګان د ځان د پاره سفارشیان کړی چه هغوئ د الله دا سے نیازبین دی، یا د الله په دربار کښے ئے دا سے زور چلیږی چه چا د هغوئ لمن اونیولو نو هغه کس په دنیا کښے هر څه کوی نو د سزا نه بچ کیدے شی۔ دوے بزرګو هستیانو پسے باره کښے هم د دے عقیدے په خلقو کښے اتفاق نشته، بلکه هر یو یو د خپل ځان د پاره جُدا جُدا سفارشیان جوړ کړی دی۔ دا مختلف ټولونه پخپله د دے خبرے ثبوت دے چه انسان کله خپل ځان د وحی او د رسالت نه بے پروا کړے دے او د دے دنیا د انجام په حقله ئے خپله رائے قائم کړی ده، نو د علم نه بغیر ئے قایم کړی ده۔ او که نه چرے د انسان سره په دے معامله کښے واقعی نیغ په نیغه د علم څه ذریعه وے نو دومره مختلف او د بدلے بدلے عقیدے به نه پیدا کیدے۔

[۷] اصل الفاظ دی یُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ۔ په دے فقره کښے چه په عَنْهُ کښے کوم ضمیر دے هغه د دوو

خابونو ته کیدے شی. یو ډعملونو بدلے ته. دویم مختلف قولونه. ډ اولے معنے مطابق مطلب دا دے چه "ډعملونو بدله خو به ضروری ستاسو ډ هغې په باره کښے مختلفے عقیدے دی، لیکن ډ هغې ډ منلو هغه سپه مخ اړوی چه هغه ډحق نه مخ اړولے وی." ډ دویمے معنے مطابق مطلب دا دے چه" ډ دے مختلفو قولونو په وجه هغه سپه بے لارے کیږی چه هغه په اصل کښے ډحق نه مخ اړولے وی".

۸ په دے الفاظو کښے قرآن مجید انسان ته ډ بواهم حقیقت خبرداره ورکوی. ډ قیاس او ډ گمان په بنیاد باندې یوه اندازه نکړل، ډ ډې بنیاد په ورو ورو معاملو کښے خو ډ څه حد ده پورے چلیدے شی اګرچه ډ علم څلمے سیاهم نشی بلیدے، لیکن دومره لویه بنیادی مسئله چه آیا زمونږ نه به ډ خپلو عملونو تپوس کیږی او که نه او آیا مونږ به ډ خپلو عملونو ذمه وار یو او که نه، او که یو نو چا ته یو، کله به یو او ډ څه تپوس به زمونږ نه کیږی" او په هغې سوال او جواب کښے به ډ کامیابۍ او ناکامۍ څه انجام وی، دا دا سے مسئله نه ده چه ډ ډې په حقله سپه لمن ډ خپل قیاس او ګمان مطابق یوه اندازه قایمه کړی او بیا یو ډ ډې جوړ ته په دوو باندې ډ خپل ژوند تولې پنګه لاهو کړی. ځکه چه که چرے دا اندازه غلطه شوه نو ډ ډې به دا مطلب وګڼه چه سړی خپل ځان بالکل تباه او برباد کړو. ډ ډې نه علاوه دا مسئله هغه دوه سرنه په هغه مسئلو کښے شامله نه ده چه ډ هغې په حقله سپه لمن ډ قیاس او ګمان او ډ تخمینې په ذریعه صحیح رائے قایمولے شی ځکه چه قیاس په هغه کارونو کښے چلیدے شی چه هغه ډ انسان ډ علم په ذریعو (یعنی محسوساتو) کښے شامل وی، او دا مسئله دا سے ده چه ډ ډې یو اړخ هم ډ محسوساتو په دائرې کښے نه راځی - نو په دے وجه دا خبره هره ډ ممکنه نه ده چه ډ ډې مسئلے په باره کښے څه قیاسی اندازه صحیح شی. اُوس پاتے شوه دا خبره چه بیا ډ انسان ډ پاره ډ محسوساتو نه ډ پورته مسئلو په باره کښے ډ رائے قایمولو صحیح شکل څه دے، نو ډ ډے جواب په قرآن مجید کښے ځائے په ځائے ډاسے ورکړے شوے دے، او پخپله ډ ډې سورۃ نه هم دا جواب څرګندیږی چه انسان ډ بیخ په بیخه پخپله حقیقت ته نشی رسیدے، ډ حقیقت علم الله تعالیٰ ډ خپل نبی په ذریعه بنائی، او ډ هغه علم ډ صحیح والی په حقله سپے خپله تسلی په دے طریقه کولے شی چه په زمکه او په آسمان کښے او پخپله ډ انسان په خپل نفس کښے ډ هغه بے شمارو نښو موجودګی چه په هغې ژور نظر واچوی او ډ کورې او بیا په خیر جا بندارۍ سره سوچ او کړی چه آیا دا نښے ډ هغه حقیقت ګواهی کوی کوم چه نبی بیانوی، یا ډ هغه مختلفو نظریو تائید کوی کوم چه نور و خلق ډ ډې په باره کښے پیش کړی دی؟ ډ خدائے او ډ آخرت په حقله ډ هغې تحقیق هم دا یوه طریقه ده کومه چه په قرآن کښے بنودلے شوی ده. ډ ډې نه برعکس چه هر څوک په خپل قیاسی اندازو روان شو هغه برباد شو.

۹ یعنی هغوی نه هیڅ پته نشته چه هغوی ډ ډې خپلو غلطو اندازو په وجه کوم انجام ته روان دی. ډ ډې اندازو په بنیاد باندې چه کوم لاره چا اختیار کړی ده هغه نیغه ډ تباهۍ طرف ته ځی. څوک چه ډ آخرت نه منکروی هغه هره ډ سرنه ډ جواب ورکولو تیار نه کوی او په دے خیال کښے مست وی چه ډ مرګ نه روستو به بل ژوند نه وی، حالانکه ناسپاه به هغه وخت راشی کله چه ډ هغه ډ اُمید دلونه بالکل خلاف په دویم ژوند کښے ډ هغه ستړکے او غریبۍ او لوړتے معلومه شی چه دلته به هغه ډ خپل یو یو عمل جواب ورکوی. څوک چه په دے خیال کښے خپل تول عُمر تیروی چه ډ مرګ نه روستو به بیا واپس دے دنیا ته راځم، هغه ته به ډ مرګ سره پته اولګی چه اوس ډ واپس تلو تولے دروازے بندے دی، او په

نوی عمل سره د تیرشوی ژوند د عملونو کمی پوره کولو او س هیڅ موقع نشته، او وایی یوبل ژوند ته چه په هغے کښے به د همیشه همیشه د پاره د خپل د ځینوی ژوند انجام ویني او هغه به برداشت کوی۔ څوک چه په دے اُمید کښے خپل عُمر په سختئ کښے تیروی چه کله زهٔ خپل نفس او د نفس خواهشات په پوره طریقه سره کوم نو د خالص فنا کیدو په شکل کښے به ماته د هستئ یعنی د موجودګئ د عذاب نه خلاص ملاؤشی، هغه چه د مرګ د دروازے نه ورتیرشی نو اُوبه ویني چه هلکینے فنا کیدل نشته بلکه همیشه ژوند وی او اوس به د هغه نه دے خبری پتوس کوی چه آیا تاله د موجود کیدو نعمت دے د پاره د رکړے شوے وُو چه تا دے د جوړولو او خالقیت کولو په حُسنه دے په ختمولو کښے خپل هنتونه لګول؟ د هغه شان څوک چه د الله د څوئ د کفاره جوړیږی و یا د یو بزرګ د سفارش جوړیږی و په بروسه باندے ټول عُمر د الله نافرمانیانے کوی هغه چه د خدائے تعالیٰ او د پیغمبرانو د صحیح علم نه د دوئ د کوم جهالت په وجه مخ اړوی هغه دوئ کوم طرفته بوځی۔

۱۰ د کافرانو دا پتوس چه د بدلے ورځ به کله راځی، د څان د خبرو لو د پاره نه وُو بلکه د ځنے او د خندا په طور وُو، په دے وجه هغوئ له جواب په دے اندازکښے ورکړے شو۔ دا بالکل داسے ده لکه چه ته چا د بدعملئ نه د منع کیدو نصیحت کړے او هغه ته او وائے چه یوه ورځ به دے کار خراب انجام وینے، او هغه په برق برق اُو خاندی او ستا نه پتوس اوکړی چه حضرته، آخر هغه ورځ به کله راځی؟ بسکاره خبره ده چه د هغه دا پتوس د خراب انجام د تاریخ معلومولو د پاره نه دے بلکه ستا په نصیحتونو پورے د خندا د پاره دے۔ په دے وجه د دے صحیح جواب دا دے چه هغه انجام به په هغه ورځ راځی کله چه ستا د سزا وخت راځی۔ دے ته سره په دے خبره هم خان بنه پوهه کول پکار دی چه د آخرت په مسئله باندے که د آخرت نه منکر سره بنه د پوهے سره بحث کوی نو هغه خو د آخرت په حق کښے یا هغالفت کښے خبری کولے شی، لیکن ترڅو چه د هغه دماغ بالکل خراب شوی نه وی هغه دا پتوس هیڅکله نشی کولے چه اُووایه هغه آخرت به په کوم تاریخ راځی۔ د هغه د طرفنه چه دا پتوس کله هم وی هغه به د توقے او د خندا په طور وی۔ حُکمه چه د آخرت د راتلو د تاریخ بیانولو او نه بیا نولو هیڅ اثر په اصل بحث باندے نه پریوزی۔ څوک نه پدے بنیاد باندے د آخرت نه انکار کوی چه د آخرت د راتلو کال، میاشت او ورځ نه د سنودلے شوی، او نه پدے او ویږی و سره د آخرت راتلل منی چه هغه به په فلانی کال او په فلانی میاشت کښے او په فلانی تاریخ راځی۔ تاریخ مقرول هډو د سونه څه لیل نه دی چه یو منکر به ګنی اقرار ته تیار کړی حُکمه چه د هغے نه روستو بیا دا پتوس کیدے شی چه د هغه ورځ د راتلو نه هلکینے آخر د یقین څنګه او کړے شی چه په هغه ورځ به واقعی آخرت وی۔

۱۱ د فتنے د لفظ دلته دوه معنے دی۔ یوه معنی دا ده چه د دے خپل عذاب مزه اُوځکه، دویمه معنی دا ده چه خپلے هغه فتنے مزه اوځکه کومه چه تا په دنیا کښے راپورته کړی وه۔ په عربی ژبه کښے د دے لفظ دواړو مطلبونو ګنجائش شته۔

كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۴﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۱۵﴾
اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ﴿۱۶﴾

چه "تاسو به ورته تلوار کوله.[۱۲] البته متقیان خلق به[۱۳] په هغه ورځ په باغونو او په چینو کښې وی، څه چه ورله خپل رب ورکوی هغه به په خوشحالئ خوشحالئ سره[۱۴] اخلی. هغوی د هغه ورځ د راتلو نه مخکښې نیکان وو۔

۱۲ د کافرانو د اپتوس کول چه "آخر هغه ورځ به کله راځی" د دے نه پخپله دا مطلب راأوزی چه د هغې په راتلو کښې وخت ولے لږ دی؟ هرکله چه موږ ده د هغې نه انکار کوؤ او د هغې د درو غو کښرلو سزا په موږ لازم شوی ده نو هغه راځی ولے نه؟ دا وجه ده چه کله هغوی په دوزخ کښې سوزولے کیږی نو په هغه وخت کښې به ورته اووئیلے شی چه دا دے هغه څیز چه تاسو به ورته تلوار کوله۔ د دے فقرے نه دا مطلب پخپله راأوزی چه دا خو د الله تعالیٰ مهربانی وه چه ستاسو نافرمانئ کولو سره نو ږ ا تاسو راأونه نیولئ او تاسو له ئے د سوچ کولو د پوهے حاصلولو او د ځان تیارولو د پاره یو اوږد مهلت درکړو۔ لیکن تاسو داسے بے وقوفان وئ چه د دے مهلت نه د فایدے اغستلو په ځائے مو الټا دا مطالبے کولے چه دا وخت ډیر په تاسو زړ راشی۔ اوس اوکورئ چه هغه څه څیز وو چه تاسو ئے د زر ر آتللو مطالبه کوله۔

۱۳ په دے ورانډے روستو عبارت کښې د لفظ مُتَّقِی صفا دا مطلب دے چه د دے نه مراد هغه خلق دی چه هغوی د خدائے په کتاب او د هغه د رسول په خبرو یقین اوکړو او د آخرت ئے اومنو، او په هغه لارروان شو کومه چه د آخرت د کامیابئ د پاره هغوی ته بنودلے شوی وه، او د هغه لارے نه ئے ځان په وډه کړو چه د هغې په حقله هغوی ته دا ویلے شوی وو چه د د خدائے د عذاب لاردہ۔

۱۴ اګرچه اصل الفاظ اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ دی، او د دے لفظی ترجمه صرف دا ده چه "اخلی به هغوی هر هغه څه چه ورله خدائے ورکړی وی" لیکن د موقعے او د محل په مناسبت سره دلته د "اغستلو" مطلب تش "اغستل" نه دی بلکه په خوشحالئ خوشحالئ سره اغستل دی، مګر خکه چه یو ښځی سړی ډک موټی انعامونه چاله ورکوی او هغه ئے په خوشحالئ سره د هغه نه اخلی۔ هرکله چه چا ته د هغه د خوښے څیز ورکړه شی نو د هغې په اغستلو کښې پخپله په خوشحالئ سره د قبلولو مطلب راپیدا کیږی په قرآن مجید کښې په یو ځائے کښې فرمایلے شوی دی چه اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَاْخُذُ الصَّدَقٰتِ (التوبہ ۱۰۴) "آیا خلقو ته معلومه نه ده چه هغه خاص الله دے چه د خپلو بندګانو توبه قبلوی او صدقے اخلی" دلته د صدقو اغستلو نه مراد صرف د هغې اغستل نه دی بلکه په خوښتیا سره د هغې قبلول دی۔

كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ
يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَفِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿۱۹﴾

د شپے به ډیر کم اُوده کیدل[۱۵] بیا به هم هغوی د شپے په روستو حصو کښے معافیانے غوښتلے[۱۶] او د هغوی په مالونو کښے حق وو د سوالګر او[۱۷] د محروم ماتو د پاره۔

۱۵ د مفسرینو یوه ډله د دے آیت مطلب دا اخستلے دے چه ډیر کم به دا سے کیدله چه تولـه شپه به هغوی اُوده وُو او د شپے څه نهٔ څه حصه، کمه یا زیاته، په اوله شپه کښے یا په منځ کښے یا په آخر کښے به نهٔ راپاسیدل او د الله تعالیٰ په عبادت کښے به ئے نهٔ تیرولـه۔ دا تفسیر د لږ شان لفظی اختلاف نا توسره د حضرت ابن عبّاس انس بن مالک، محمد الباقر، مطرف بن عبد الله، ابو العالیه، مجاهد، قتاده او د ربیع بن انس وغیرونه نقل کړے شوے دے۔ دویمه ډله د دے مطلب دا بیان کړے دے چه هغوی به د شپو زیاته حصه د الله تعالیٰ په عبادت کښے تیرولـه او ډیر کم به اُوده کیدل۔ دا قول د حضرت حسن بصری، احنف بن قیس او د ابن شهاب زُهری دے۔ او روستنو مفسرینو او مترجمینو هم دے له ترجیح ورکړے ده، ځکه چه د آیت د الفاظو سره او د موقعے او د محل په لحاظ سره هم دا تفسیر زیات مناسب په نظر راځی۔ په دے وجه موږ ده په ترجمه کښے هم دا معنیٰ کړے ده۔

۱۶ یعنی هغوی هغه خلق نهٔ وُو چه خپلے شپے به کنا هونو او بے حیائیو کښے تیره کړی او بیائے هم د بخښنے خبره په خیال کښے نهٔ راځی۔ بلکه دوے برعکس د هغوی دا حال وُو چه د شپے دیره حصه به ئے د الله تعالیٰ په عبادت کښے تیرولـه او بیا به ئے هم د شپے په روستنو حصو کښے د خپل رب نه معافیانے غوښتلے چه سنا د بندګئ کوم حق په موږ ده وُو هغه موږ ده پوره نهٔ دے ادا کړے۔ په هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ کښے يوه اشاره ده دے خبرے ته هم ده چه دے عمل د هغوی سره خوند کوُ۔ هم هغوی د دا رنګه عبادت کولو لائق وُو چه د خپل رب په بندګئ کښے ځان هم ستړے کوی او بیا په هغے باندے د خوشحالیدو او په خپله نیکئ باندے د فخر کولو په ځائے ډیر په عاجزئ سره د خپلو کنا هونو معافی هم غواړی۔ دا د هغه بے شرمو کنهګارو کار نهٔ وُو چه کناه به ئے هم کوله او بیا به ئے د پاسه غرور هم کولو۔

۱۷ یعنی، یو طرفته هغوی د خپل رب حق په دے طریقه پیژندو او ادا کولو به ئے، او دویم طرفته د بندګانو سره د هغوی معامله دا وه۔ څه چه ورله الله تعالیٰ ورکړی وُو، که لږ وُو او که ډیر وُو، په هغے کښے به هغوی صرف د خپل ځان او د خپل یال بچو حق نهٔ کنړلو، بلکه د هغوی سره به دا فکر وُو چه زمونږ په دے مال کښے د الله تعالیٰ د هر هغه بنده حق دے څوک چه زمونږ د مدد محتاج وی۔ هغوی به د بندګانو امداد د خیرات په طور نهٔ کولو چه کښی د هغوی نه به د شکریے طلبګار وُو او هغوی به ئے د خپل احسان لاندے راوستل، بلکه هغوی به دا د هغوی حق کنړلو او د هغوی سره امداد کول به ئے خپل فرض کنړلو هغوی به صرف د هغه خلقو امداد نهٔ کولو چه پخپله به هغوی له د سوالګرو په حیثیت د امداد غوښتلو

وَفِي الْأَرْضِ اٰيٰتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ۭ اَفَلَا

په زمکه کښې د يقين کونکو د پاره ۱۸ او پخپله ستاسو په خپل وجود کښې دي ۱۹ آيا

د پاره راتلل، بلکه د چا په حقله چې به هغوی ته پته او کليد له چې هغه د روزۍ کتلو نه محروم شوے دے نو د هغه امداد له به پخپله تلل. يو يتيم پېغلے چې بے آسره پاتے شوے وي، يوه کونډه چې څوک سرپرست نے نه وي، يو معذوره انسان چې د خپلو روزۍ کتلو د پاره د لاس څېنے نشي وهلے، يو سړے چې روزګار نے ختم شوے وي يا نے کتلو د ضرورياتو نه کمه وي، يو سړے چې د لت پرې راغلے وي او خپل کے په خپله نشي پوره کولے، غرض داچې يو حاجتمند داسے نه وي چې د هغه نه هغوئ خبر وي او هغوئ نے امداد کولے نشي، او بيائے هم د هغوئ د امداد کولو نه سنډه کړي وي.

دا د ډېره صفتونه دي چې د ډېر په وجه الله تعالیٰ هغوئ نه متقي او محسن وائي او فرمائي چې د ډېر صفتونو په وجه هغوئ د جنت مستحق شوي دي. يو ۱۷ دا چې په آخرت نے ايمان را وړو او د هر هغه لارې نه ځان وساتو او کړه چې هغے ته الله تعالیٰ او د هغه رسول د آخرت د تباهئ لار وئيلې وه. دويم دا چې هغوئ د الله د بندګئ په حق ادا کولو کښے د زړه د اخلاصه کوشش اوکړو او په هغے باندې د ځان کولو په ځائے بے د الله نه د بخښنے دُعا غوښتله. دريم دا چې هغوئ د الله د بندګانو خدمت کول خپل فرض او د هغوئ حق ګڼلي، د هغوئ په خدمت کولو سره پسې هغوئ خپل احسان نه زباتي.

د ټولو نه ډېر خبره هم ځان پوهول پکار دي چې د مومنانو په مالونو کښے د سوال کړو او د هر مانو د کوم حق ذکر د ټولو شوے دے خو نه مراد زکوٰة نه دے چې په شريعت کښے په هغوی فرض کړے شوے دے، بلکه دا هغه حق دے چې د زکوٰة ورکولو نه روستو نے يو مالدار مومن په خپل مال کښے ثابت کړي او د خپل زړه په خوښه نے ادا کوي اګرچه شريعت په هغه لازم کړے نه وي. ابن عباس، مجاهد، او زيد بن اسلم وغيره بزرګانو دا ډېر آيت همدا مطلب بيان کړے دے. په حقيقت کښے د الله تعالیٰ ډېر فرمان اصلي مقصد دا دے چې يو متقي او نيکوکاره انسان هيڅکله هم د ډېرے نه دا غلط مطلب نه اخلي چې د الله او د هغه د بندګانو کوم حق زما په مال کښے دے، د هغے نه کنې زه په زکوٰة ادا کولو سره خلاص شوم، اُوس ما د ډېر خبرې څه تېښه نه ده اختلي چې د هر لوري، او د هر وړي، او د هر مصيبت زيلي انسان امداد به کوم. د ډېر برعکس چې د الله کوم بنده واقعي متقي او نيکوکاره انسان وي هغه هر وخت هر هغه نيکئ ته د زړه د اخلاصه تيار وي کومه چې د هغه په وس کښے وي، او په دنيا کښے چې د نيک کارونو کومه موقع هغه ته ملا وي هغه په هيڅ شان سره نه ضايع کوي. هغه هر وخت په دے اندازه سوچ نه کوي چې کومه نيکي په ما فرض کړے شوې وه هغه ما کړې ده، اُوس زياته نيکي ولے اوکړم؟ د نيکئ تل چې چا پېژندلے وي هغه د نيکئ کار په ځان بوج نه ګڼي بلکه د خپلے نفسے سودا ګڼي او د زياتے کښے کوشش کوي.

۱۸ د ښکته نه مراد هغه ښکته دي چې د آخرت د خاطر خاکيد وشهادت پيش کوي. د زمکے خپل وجود او خپل شکل، زمکه د ځمکه په يوه خاص فاصله او په يو خاص طرف باندې لرے ساتل، په هغے باندې د کرښو

او د نړۍ انتظام په هغې باندې د مختلفو موسمونو او ریبل را او ریبل، د هغې د پاسه د هوا او د اُوبو موجود والے، په هغې کښے د ننه قسما قسم خزانے، د هغې په سر باندې یو زرخیزه فرش خوروول، په هغې کښے قسما قسم بے حسابه بوټے را زرغونول، په هغې کښے د اُوچے او د اُوبو او د هوا د ځنا ورو بے شماره نسلونه جاري کول، په هغې کښے د هر قسم مخلوق د ژوند د پاره د مناسبو حالاتو او د مناسب خوراک انتظام کول، په هغې کښے د انسان د پیدا کیدو نه مخکښے هغه ټولے ذریعے او هغه ټول وسائل پیدا کول چه هغه د تاریخ په هره مرحله کښے یوازے د انسان د ضرورتونو سره نه بلکه د هغه د ودد ستور د ترقی سره هم پرمخ تګ کوی، ۱۱ او داسے نور بے شماره نښے دی چه هغے تر عقلمند سړے د زړهٔ په سترګو اوکوری نو د هغه زړهٔ ځان طرفته را کاږی. چاچه د یقین د پاره د خپل زړهٔ دروازے بند ے کړی دی نو د هغه خبره خوبه له ده. هغه به په هغې کښے نور هرڅه وینی، خوبس کومه نښه چه حقیقت ته اشاره کوی هغه به نه وینی. لیکن د چا زړهٔ چه د منه نه پاک ے او د صداقت د پاره فرابنه دے هغه چه دے خپلو نوته اوکوری نو دا خیال به هرګز په زړهٔ کښے نه راولی چه دا ټول هرڅه د یوې انکلی چاوړنے په وجه په وجود کښے راغلی دی چه هغه په اربونو کاله مخکښے په کائنا تو کښے ناساپه شوی وه، بلکه د هغه په دے خبره یقین راځی چه دا د حکمت نه ډک د کمالے درجے کاریګری ده او دا دے پیدا کونکے ضرور یو قادر او پوهه خدائے دے، او هغه خدائے چه دا زمکه ئے جوړه کړی ده هغه نه د دے خبرې نه عاجزه کیدے شی چه انسان د مړک نه روستو دوباره پیدا کړی، او نه دا سے ناپوهه کیدے شی چه په خپله زمکه کښے د عقل او د سوچ والا یو مخلوق له اختیارات ورکړی او بیائے د یو بے شماره ځنا ورو پشان پریږدی. اختیارات ورکول پخپله د محاسبے تقاضا کوی ځکه چه که چرے د اختیارات و سره محاسبه نه وی نو دا به د حکمت او د انصاف نه خلاف وی. او په کائنا تو کښے د یو مطلق قدرت مونږ پخپله د دے خبرې ثبوت دے چه په دنیا کښے د انسان د کارد ختمید ونه روستو د هغه خالق کلاوغواړی چه د محاسبے د پاره د د نیا ټول انسانان د زمکے د مړکوتې نه، چه په هرځائے کښے هغوی مړه پراته وی، راوښلے شی۔

۱۹ یعنی بهرکتلوته هم حاجت نشته، خپل ځان ته د ننه اوکوره نو تا ته به دا سے بے شماره نښے ملاؤ شی چه هغه به په دے حقیقت کوا هی کوی۔ په نظر نه راتلونکے یو ورو کے چینجے د یو نه لید و نکی آئی سړه په څه طریقه یو ځائے کړے شو او د مورد بدن نه په یوکوټ کښے ستاد پیدا کیدو بنیاد کیښودے شو. په دغه تورتیاړ کوټ کښے ستا پالنه څنګه اوشوه او په څه طریقه ته د ړو ړو لوئی کړے شوے. تاله څنګه یو بے مثاله بدن او د نا آشنا قوتونو نه ډک نفس درکړے شو. د مور په خیټه کښے ستاد جوړښت پوره کیدو نه روستو نه په څه طریقه د دغه تنګ تورځاے نه راا و وتلے شوے او دے فرابنه دُنیا ته په دے شان سړا و ښلے شوے چه په تا کښے پخپله چلیدو نکے یو داسے زبردست شین لګیدلے دے چه هغه د پیدا کیدو د وړځ نه د ځوانئ او د بوډا والی پورے د ساا عنتلو، د خوراک هضمولو، د ژوند جوړولو، او په ډک ډک کښے د وینے د ګرځولو، د ګندګئی د یهرکولو، او د بدن د حل شو د حصو

په ځائے د نوروحصوتیارولو، ددننه آنتونو سړیا د بهرنوآنتونو سره د مقابلے کولو او د نفسانو نوپوره کولو، اَن ترهغے پورے چه د ستړی والی نه روستو تاله د آرام درکولو د پاره د اُودهٔ کولو کارهم پخپله کوی، او د ژوند د ډیے بنیادی ضرورتونو په پوره کولو کښے ستاد غور فکر کولو او ستاد کوششونو هیڅ حصه نه خرچ کیږی۔ داسے عجیبه دماغ ستاد سر په کنډول کښے کیښودلے شوی دی چه د هغے په کرکیچنو قطونو کښے د عقل، د فکر، د خیالاتو، د شعور، د تمیز، د ارادے، د حافظے، د خواهشاتو، د احساساتو او د جذباتو، د مینے او د خوښے او د نورو ډهنی قوتونو یو قیمتی دولت پروت دے۔ د علم د ډیرے د ذریعے تاله درکړے شوی دی چه په ستر کو او په پوزه او په غوږونو او د بدن په څومره تاله هرقسم خبر در رسوی۔ د ژبے او د وینا طاقت تاله درکړے شوے دے چه د هغے په ذریعه ته د خپلو خیالاتو اظهار کولے شے۔ بیا ستاد بدن په دے ټولو بادشاهئ باندے ستاځان (آنا) د یو سردار په حیثیت سره کیښولے شوے دے چه د ډیے ټولو قوتونو نه کار واخلی او یوارانے قایمه کړی او دا یصله او کړی چه ته به په کومو لارو کښے خپل وختونه او محنتونه او کوششونه لګوے، کوم شیزونه به ردکوے او کوم شیزونه به قبلوے، کوم شیزونه به خپل مقصود جوړوے او کوم شیزونه نه جوړوے۔

کله چه داسے هستی د رنه جوړه شوه او د نیاته راوستلے شوے نو لږ شان او کوره چه دلته د راتلو سره څومره سامانونه ستاد پالنے، ستاد غټیدو، او ستاد ترقئ، او ستاد ذات د پوره کیدو د پاره تیار وو چه د هغے په وجه ته د ژوند یوے خاصے مرحلے ته اُورسیدے او د ډیے خپلو اختیاراتو استعمالولو قابل شوے۔ د ډیے اختیاراتو د استعمالولو د پاره تاله پهزمکه کښے د ډیرے ذریعے درکړے شوے۔ تاته د ډیرے موقعے جوړے کړے شوے۔ په ډیرو شیزونو باندے تاله د واک اختیار طاقت درکړے شو۔ د ډیرو انسانانو سره د تاسو قسم معاملات او کړل۔ تاته د کُفر او د ایمان د منلو او د نه منلو، د ظلم او د انصاف، د نیکئ او د بدئ، او د حق او د باطل تولے لارے پرانستے شوے وے، او هرے یوے لارے ته بلونکی او بوتلونکی اسباب موجود وو۔ په تاسو کښے چه چا کومه لار خوښه کړه هغه ئے په خپله ذمه واری سره خوښه کړه۔ حکمه چه د فیصلے او د خوښے طاقت په هغه کښے د امانت په طور کیښودے شوے وو۔ هر یو ته چه د خپلے خوښے مطابق خپلو نیتونو او د خپلو اراد و پوره کولو موقعے په لاس ورغلے د هغے نه ئے فائده اُوچته کړه او څوک نیک انسان جوړ شو او څوک بد، څوک د ایمان په لاره لاړو او څوک د کُفر او د شرک یا د دهریت په لاره لاړو، چا خپل ځان د ناجائزه خواهشاتو نه منع کړو او چا د نفس په بندګئ کښے هرڅه او کړل، چا ظلم او کړو او چا ظلم برداشت کړو، چا حقونه ادا کړل او چا حقونه اُووهل، چا د مرګ پورے په دنیا کښے نیکی او کړه او چا د ژوند د آخرئ سګرټ پورے کنا هونه کول، چا د حق د اُوچتولو د پاره ځان قربان کړو، او چا د باطل د اُوچتولو د پاره په حق پرستو خلقو حملے کولے۔

آیا دا درس پرسرے چه د هغه د زړهٔ ستړے بالکل چاودلے نه وی، دا ویلے شی چه دا قسم یوه هستی په زمکه باندے اتفاقاً را پیدا شوی ده؟ په دے کښے څه پټ کنی څه حکمت او څه مقصود نشته؟ په زمکه چه د هغه د لاسه دا کومے هنګامے را پورته کیږی دا تولے بے مقصده دی او هیڅ نتیجه ئے نشته؟ د نیکئ څه فائده او د بدئ څه نقصان نشته؟ د ظلم څه سزا او د ظالم نه څه پوښتنه نشته؟ دا قسم خبرے خو یوے عقله

تُبْصِرُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَفِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿۲۲﴾ فَوَ
رَبِّ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ ﴿۲۳﴾
هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿۲۴﴾ اِذْ دَخَلُوْا

وقف لازم

تاسو تہ پہ نظر نہ راځی؟ خاص پہ آسمان کښے ستاسو رزق هم او هغه څیز هم چہ دهغے ستاسو سره وعده کیږی۔ نو د آسمان او د زمکے په مالک م قسم مے چه دا خبره حقه ده، بالکل دا سے یقینی ده لکه څنګه چه تاسو خبری کوئ۔ ع

اے نبی د ابراهیم د عزتمندو میلمنو قیصه هم تا ته درسیدلی ده؟ کله چه هغوی د هغه کره

انسان کولے شی؟ یا ئے هغه سره کولے شی چه هغه د مخکښے نه دا قسم خوړلے وی چه د انسان په پیدا کیدو کښے د یو حکیم حکمت په هیڅ شان سره نه منم۔ لیکن یو غیر جانبدار عقلمند سړے بغیر د دے منلو نه نشی پاتے کیدے چه انسان د کومو قوتونو او قابلیتونو سره په دے دُنیا کښے پیدا کړے شوے دے او کوم حیثیت هغه له دلته ورکړے شوے دے هغه یقیناً چه یوه ډیره حکمتی مصلحت ده، او د کوم خدائے چه دا مصلحت ده د هغه حکمت خامخا دا تقاضا کوی چه د انسان نه د هغه د عملونو پوښتنه اوشی، او د خدائے د قدرت په باره کښے دا گمان کول هرگز صحیح کیدے نشی چه کوم انسان هغه د وده وموه ورکی څیز نه راشروع کړو چه هغه اول په نظر نه شو راتلے او بیا مرتبے تدریجی راوړ سوو نو هغه به څنګه بیا دوباره راژوندے نه کړے شی۔

۲۰ دلته د آسمان نه مراد پاسنے جهان دے۔ د رزق نه مُراد هغه قول هرڅه دی کوم چه په دُنیا کښے انسان تدریجاً ترلو د پاره او د کارکولو د پاره ورکړے کیږی۔ او د مَا تُوْعَدُوْنَ نه مُراد قیامت، حشر نشر، حساب کتاب، جزا او سزا، او جنت او دوزخ دی چه د دے د رالتلو وعده په تولو آسمانی کتابونو کښے او په دے قرآن کښے کیږی۔ د الله د بیان مطلب دادے چه په پاسنی جهان کښے دا فیصله کیږی چه په دُنیا کښے د چا څه څه ورکړے شی، او هم د هغه څانے نه بدا فیصله هم کیږی چه د حساب کتاب او د عملونو د بدلے د پاره د تاسو کله راوُغونډلے شئ۔

۲۱ اُوس دلته د هغے رکوع د ختمیدو پورے د پیغمبرانو او د څینو تیرو شوو قومونو نومونه هم ترپلے مختصرے اشارے شوی دی چه د هغے نه دوه خبری په ذهن کښے کینول مقصد دی۔

یوه دا چه په انسانی تاریخ کښے د خدائے د بدلے قانون برابر کارکوی چه په هغے کښے د نیکانو خلقو د پاداښ او د ظالمانو د پاداښ د سزا شالوند مسلسل موندلے کیږی۔ دا دے خبری بنکاره علامه ده چه د دُنیا پدے څرونډ کښے هم د انسان سره د هغه د خالق معامله یوازے د طبیعی قانون (Physical Law) په بنیاد نه ده بلکه اخلاقی قانون (Moral Law) دے سره کارکوی۔ او هرکله چه د کائنات د بادشاه مزاج دادے چه کوم مخلوق له په طبیعی بدن کښے دننه د اخلاقی عملونو موقع ورکړے شوی وی د هغوئ

عَلَيْهِ فَقَالُوْا سَلٰمًا ۭ قَالَ سَلٰمٌ ۚ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ۝۲۵ فَرَاغَ اِلٰٓى
اَهْلِهٖ فَجَاۗءَ بِعِجْلٍ سَمِيْنٍ ۝۲۶ فَقَرَّبَهٗٓ اِلَيْهِمْ قَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ۝۲۷
فَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيْفَةً ۭ قَالُوْا لَا تَخَفْ ۭ وَبَشَّرُوْهُ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ ۝۲۸

راغلل نو ویل پرتاسلام دے۔ هغه ورته اووئیل په تاسوهم سلام دے ـــــ څه ناآشنا شان خلق دے[۲۳]، بیا هغه غلے شانه خپل کور خلقو ته لاړو[۲۴]، او یو خوب[۲۵] سخے راوړ او ورته میلمنو مخے ټے کیښود۔ هغه اووئیل تاسو خوری نه؟ بیا هغه په خپل زړه کښے ده هغوی نه اویریدو[۲۶]۔ هغوی اووئیل یربوه مه، او هغه ته ے دیو عالم هوی د پیدا کیدو زیرے واورد[۲۷]۔

سره د ځناورو او د بوټو پشان یوازے په طبیعی قانون باندے معامله اونه کړے شی بلکه د هغه په اخلاقی عملونو د اخلاقی قانون هم جاری کړے شی، نو دا خبره پخپله دے حقیقت ته صفا اشاره کوی چه په دے بادشاهی کښے یو وخت داسے ضرور راتلل پکار دی چه په دے طبیعی دنیا کښے کله د انسان کار ختم شی نو چه د هغے نه روستو خالص د اخلاقی قانون مطابق د هغه د اخلاقی عملونو انجام پوره راشرکند شی، ځکه چه په دے طبیعی دنیا کښے هغه مکمل طور نشی راشرکند یدے۔

دویمه خبره دا ده چه کومو قومونو د پیغمبرانو خبره نه ده منلے او خپل ټول ژوند ے د توحید، رسالت او د آخرت په انکار کښے تیر کړے دے هغوی آخر تباه شوی دی۔ د تاریخ دا مسلسله تجربه په دے خبره کواهی کوی چه هغه اے کوم اخلاقی قانون د پیغمبرانو په ذریعه راپرے دے او چه د هغے مطابق به د انسانانو نه د هغوی د عملونو تپوس په آخرت کښے کیږی، هغه سراسر حقیقت دے، ځکه چه کوم قوم د دے قانون نه بے پروا هی کړی ده او خپل ځان ے غیر ذمه وار او بے تپوسه کړے دے او د هغے مطابق ے په دنیا کښے ژوند تیر کړے دے نو هغوی آخر نه آخر د تباهی سره مخامخ شوی دی۔

۲۲ ے دا قیصه په قرآن مجید کښے په دریے ځایونو کښے مختلف تیره شوی ده۔ او کوره تفهیم القرآن دویم جلد ص ۳۵۳ تا ۳۵۵، ۳۰۹ تا ۵۱۱۔ دریم جلد، ص ۶۹۶۔

۲۳ ے د ورانډے روستو عبارت سره د دے فقرے دوه مطلبه کیدے شی۔ یو دا چه حضرت ابراهیم علیه السلام پخپله هغه میلمنو ته اووئیل چه ستاسو سره مخکښے چرته ملاقات نه دے شوے۔ کیدے شی چه دے علاقے ته نوی راغلی یئ. دویمه دا چه د هغوی د سلام د جواب ورکولو نه روستو حضرت ابراهیم په خپل زړه کښے اووئیل، یا ے چه کله په کور کښے د میلمستوب انتظام کوو نو خپلو نوکرانو ته ے اووئیل چه دا څه ناآشنا شان خلق دے، مخکښے چرته په دے علاقه کښے دا قسم خلق نه دی لیدلی شوی۔

۲۴ ے یعنی خپلو میلمنو ته ے دا اونه وئیل چه زه ستاسو د پاره د خوراک انتظام کوم بلکه هغوی ته ے کینول او د میلمستیا د انتظام د پاره غلے شان لاړو، چه میلمانه دا اونه وائی چه

فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ فِیْ صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوْزٌ عَقِیْمٌ ﴿۲۹﴾
قَالُوْا كَذٰلِكِ ۙ قَالَ رَبُّكِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْحَكِیْمُ الْعَلِیْمُ ﴿۳۰﴾
قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَیُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوْۤا اِنَّاۤ اُرْسِلْنَاۤ

الجزء ۲۷

دَدِے پہ اَوریدو سرہ دَ هغہ ټینځے یوہ چغہ کړہ او راوړاندِ شوہ او خپل مخ یې لـ ے یوتس ورکړو او وے ویل "بوډۍ، شنډہ[۲۸]!" هغوئ اووئیل "هم دا فرمایئلی دی ستاربہ، هغہ دَ حکمت خاوند دے[۲۹] او په هرڅه پوهیږی۔"[۳۰]

ابراهیمؑ ورتہ اُووئیل، اے دَ خدائے اَستاذو، مخے تہ موڅہ لوئی کارونہ[۳۱] هغوئ اووئیل، "موبږہ یو

تکلیف مہ کوہ هیڅ حاجت نشتہ۔

۲۵ په سورۂ هود کښے دَ عِجْلٍ حَنِیْذٍ (وریت کړے سخے) الفاظ دی۔ دلتہ ویئلے شوی دی چہ هغہ بنہ څوب سخے کتلے وُو، اوهغہ ئے وریت کړے وُو۔

۲۶ یعنی هرکلہ چہ ئے لاسُونہ خوراک تہ راُونہ غزول نو دَ حضرت ابراهیمؑ په زړہ کښے یرہ راپیدا شوہ دَدے یَرے وجہ دا هم کیدے شی چہ نا اَشنا سړی دَ چا کورتہ لاړشی او خوراک نہ کوی نو په قبائیلو کښے دا دَدے خبری علامہ وی چہ هغوئ دَ خراب نیت سرہ راغلی دی۔ لیکن غالبہ خبرہ دادہ چہ دَ هغوئ دَ خوراک نہ کولو نہ حضرت ابراهیمؑ پوهہ شوچہ دا فرښتے دی او په انسانی شکل کښے راغلی دی، او فرښتے عامٌ طور دَ څہ لوئی کار دَ پارہ په انسانی شکل کښے راځی، نو په دے وجہ هغہ اُویرید وچہ څہ خطرناکہ معامله مخ تہ دہ چہ دَ هغے دَ پارہ دا کسان په دے شان سرہ راغلی دی۔

۲۷ په سورۂ هود کښے ویئلے شوی دی چہ دا دَ حضرت اسحٰق علیہ السلام دَ پیدا کیدو زیرے وُو او په هغے کښے دا زیرے هم ورکړہ شوہ وُوچہ دَ حضرت اسحٰقؑ نہ بہ دَ هغہ نوسے حضرت یعقوبؑ هم کیږی۔

۲۸ یعنی یوخو دا چہ زہ بوډی یم او بلہ دا چہ شنډہ هم یم۔ اُوس به زما څنګہ کیږی؟ دَ بائیبل بیان دے چہ په هغہ وخت کښے دَ حضرت ابراهیمؑ عُمر سل کالہ وُوا او دَ حضرتِ سارے عُمر لس اتیا کالہ وُو (پیدائش، ۱۸: ۱۷)۔

۲۹ دَدے تیمے دَ بیانونو دا مقصد دے چہ کوم بندۂ دَ خپل رب دَ بندګئ حق په دے دُنیا کښے ټیک ټیک ادا کړے وُو، دَ هغہ سرہ خو چہ به په آخرت کښے څہ معامله وی هغہ به وی، په دے دنیا کښے هغہ لـ دا انعام ورکړہ شوچہ دَ عالمے قاعدے ترڅہ په کوم عُمر کښے دَ هغہ اولاد نہ شو پیدا کیدے، او دَ هغہ بوډی ښځہ چہ ټول عُمر شنډہ وہ او دَ هغی را وړونہ بالکل ناامیدہ شوی وہ په هغہ وخت کښے الله تعالیٰ هغہ له نړیوالہ اولاد ورکړو بلکہ دا سے بے مثاله اولاد ئے ورکړو چہ هغے اولاد دَ نن ورځے پورے چا تہ نہ دے نصیب شوے۔ په دُنیا کښے بل یو انسان دا سے نشتہ چہ دَ هغہ په نسل کښے پرلپسے څلور پیغمبران پیدا شوی وی۔ هغہ صرف حضرت ابراهیمؑ وُوچہ دَ هغہ دَ کورنۍ دَ نبوت سلسله دَ دریو پُښتہ

إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن طِينٍ ﴿٣٣﴾
مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ ﴿٣٤﴾ فَأَخْرَجْنَا مَن كَانَ
فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٣٥﴾ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ
الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ

مجرم قوم تہ رالیږلی شوی ﴿۳۱﴾ چې په هغوئ باندې د ډبرو شوی خټې کانړی اوورځوو چې په هغې باندې
د حد نه د اوړیدونکو خلقو د پاره ستا د رب سره ښې نښې لګیدلی دی ﴿۳۲﴾ بیا په هغه کلی کښې چې کوم مومنان
وُو هغوئ ټول ترمونږه را اُوویستل او هلته مونږه د یوکور نه سوا د مسلمانانو بل کور اُو نه مونده ﴿۳۳﴾ د ډې نه
روستو مونږ ﴿۳۴﴾ په هغه ځائے کښې بس یوه نښه د هغه خلقو د پاره پرېښوده څوک چې د دردناک عذاب نه

پورے اوچلیدهٔ او حضرت اسمٰعیل، حضرت اسحٰق، حضرت یعقوب او حضرت یوسف علیهم السلام غوندې
قدرمن پیغمبران د هغه په کورنئ کښې پیدا شول۔

۳۰ ﴿ فرښتے چې کله په انسانی شکل کښې راځی نو د ډیو لوئی کار د پاره راځی، او په دے وجه حضرت
ابراهیم علیه السلام د هغوئ نه په لفظ خطب سره تپوس اوکړو۔ خطب په عربی ژبه کښې د معمولی کار د پاره
نه ویلے کیږی بلکه د یو لوئی کار د پاره ویلے کیږی۔

۳۱ ﴿ اشاره ده د لوط ؑ قوم ته۔ د هغوئ جرمونه دومره زیات شوی وُو چې تش د "مجرم قوم" لفظ
د دے د پاره کافی وُو چې د دے نه کوم قوم مُراد دے۔ د دے نه مخکښې په قرآن مجید کښې په لاندې ټوکو کښې
د هغوئ ذکر شوے دے: تفهیم القرآن، دویم جلد، ص ۵۱ تا ۵۳۔ ۳۵۵ تا ۳۵۹۔ دریم جلد ص ۲۰۰ تا ۲۰۲،
تا ۵۳۰، ۵۸۲۔ ۵۸۷۔ ۵۹۴ تا ۵۹۸۔ څلورم جلد الصّافات۔ ص ۳۰۶۔

۳۲ ﴿ یعنی په یوه کانړی باندې ستا د رب د طرفه نښه لکولے شوی وه چې دا به د کوم مجرم په سر راغورزولے
کیږی۔ په سورة هود او په سورة الحجر کښې د دے عذاب تفصیل دا بیان کړے شوے دے چې د هغوئ
کلی تباه کړے شوا و د ډبرو نه یې د پخ شوی خټے کانړی را اُورولے شو۔ د دے نه دا تصور کیدے شی چې
ټوله علاقه د سخت زلزلے سره پاسترکړے شوه، او کوم خلق چې د زلزلے نه پخ شوا و تښتلے کولے نو هغوئ
د آتش فشانی کانړو په باران سره ختم شو۔

۳۳ ﴿ په منځ کښې دا قیصه پرېښوده شوی وه چې د حضرت ابراهیم علیه السلام د خوانه دا فرښتے
خنګه د حضرت لوط ؑ خوا ته اورسیدے او هلته د هغوئ او د لوط ؑ د قوم په منځ کښې څه اُو شو۔ دا تفصیلات
په سورة هود، الحجر او العنکبوت کښې ټیر شوی دی۔ دلته صرف د هغه آخرۍ وخت ذکر کیږی کله چې پدے
قوم باندې عذاب نازلیدونکے وُو۔

۳۴ ﴿ یعنی په پوره قوم کښې، او د هغوئ په پوره علاقه کښې صرف یو کور وو چې په هغے کښې د ایمان او

الْاَلِيْمَ ﴿۳۷﴾ وَفِيْ مُوْسٰٓى اِذْ اَرْسَلْنٰهُ اِلٰى فِرْعَوْنَ بِسُلْطٰنٍ

۳۵ یَرِیبُنِی۔

او (ستاسو د پارہ نمبر ۲۷) د موسیٰؑ په قیصه کښے۔ کله چه موږ ده هغه د واضحه سند سره فرعون اسلام رڼاوه، او هغه اکړی یواز د حضرت لوط علیه السلام کور وو۔ باقی ټول قوم په ګناهونو کښے ډوب شوے وو، او د هغوئ ټول ملک د ګندګئ نه ډک شوے وو۔ په دے وجه الله تعالیٰ د هغه یو کور خلق د دے تکړل او د هغے نه روستو ئے په هغه ملک باندے هغه تباهی راوستله چه د هغے نه د هغه بدکارو توا یوتن هم بچ پاتے نه شو۔

په دے آیت کښے درے اهم مضمونونه بیان شوی دی۔

یو۔ داچه د الله د بدلے قانون ترهغه وخته پورے د یو قوم د مکلے تباهئ فیصله نه کوی ترڅو چه په هغه قوم کښے څه نه څه نیکی موجوده وی۔ د دے پرته خرابو خلقو په مقابله کښے که لږ خلق هم دا سے وی چه هغوئ د بدئ نه منع کول کوی او نیکئ ته رابلل کوی، نو الله تعالیٰ هغوئ له د کار کولو موقع درکوی او د هغه قوم مهلت زیاتوی چه لا د خیر نه بالکل خالی شوی نه وی۔ لیکن هرکله چه حالت داشی چه په قوم کښے دومره قدرله خیر هم پاتے نه شی لکه چه په اوږو کښے مالکه وی نو بیا د الله قانون داسے چه قوم دوه درے انسانان د هغه قوم په کلو کښے د بدئ خلاف په جنګیدو جنګیدو عاجزه شوی وی هغه الله تعالیٰ په خپل قدرت سره په څه طریقه بچ کوی او د باقی پاتے خلقو سره هغه معامله کوی کومه معامله چه هر هوښیار مالک د خپلے سخا شوی میوے سره کوی۔

دویم داچه "مسلمان" صرف د هغه اُمت قوم نه دے کوم چه د محمد صلی الله علیه وسلم پیروکاران دی بلکه د نبئ نه مخکښے تول پیغمبران او د هغوئ پیروکاران هم مسلمانان وُو۔ د هغوئ دینونه جُدا جُدا نه وُو چه کنی شوک د ابراهیم په دین وُو او شوک د موسیٰ او شوک د عیسیٰ۔ بلکه هغوئ تول مسلمانان وُو او د هغوئ دین هم دا اسلام وُو۔ په قرآن مجید کښے دا حقیقت ځائے په ځائے دومره په وضاحت سره بیان کړے شوے دے چه په دے کښے د شک شُبهے کولو هیڅ ګنجائش نشته۔ د مثال په طور لاندنی آیتونه او ګورئ: البقره ۱۲۸ - ۱۳۱ - ۱۳۲ - ۱۳۳ - آل عمران ۷۰ - مائده ۴۴، ۱۱۱ - یونس ۷۲، ۸۴ - یوسف ۱۰۱ - الاعراف ۱۲۶ - النمل ۳۱ - ۴۲ - ۴۴۔

دریم داچه په دے آیت کښے د "مومن" او د "مسلمان" الفاظ بالکل په یوه معنیٰ کښے استعمال کړے شوی دی۔ دا آیت که چرے د سورۃ حجرات د آیت ۱۴ سره یوځائے اولوستلے شی نو د هغه خلق د خیال غلطی بالکل صفا څرګنده ږی چه وائی چه "مومن" او "مسلم" د قرآن مجید دوه داسے مستقل نومونه دی چه په هر ځائے کښے د جُدا جُدا مستقل معنو د پاره استعمال شوی دی او "مسلم" خامخا هغه سړی ته وائی چه هغه د ایمان نه بغیر تش په ظاهره په اسلام کښے داخل شوے وی۔ (د زیاتے تشریح د پاره اوګورئ تفهیم القرآن، پنځم جلد، تفسیر د سورۃ حُجُرات حاشیه ۳۱)۔

مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿۳۹﴾ فَاَخَذْنٰهُ
وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِى الْيَمِّ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿۴۰﴾

تہ اُولیږ[۳۶] د نو هغه ځپل زور په غرور کښے مخ واړوا وے ویېل چې دا جادوګر دے یا لیونے دے[۳۷] ۔ آخر دا چې موږ نه هغه او د هغه لښکرے راواُنیولے او ټول مو په سمندر کښے وراُوغورزول او هر چا په هغه ملامتیا وئیله[۳۸] ۔

۳۵ ؎ دا دے نېنے نه مُراد بحیرۂ مُردار (Dead Sea) دے چه د هغے سویلی علاقه نن هم د یوه لوئے تباهئ پته ورکوی۔ د آثارو قدیمه د پوهانو اندازه ده چه د لُوط ؑ د قوم لوئ لوئ ښارونه غالباً چه د سختے زلزلے په وجه په زمکه کښے دننه ننوتلی وُو او د هغے د پاسه د بحیرۂ مُردار اُوبه خوږے شوی وِے ځکه چه د دے دریاب هغه حصه کومه چه د "اللسان" نوے ورڅخه شان جزیره نما په جنوب کښے پرتنه ده صفا معلومیږی چه روستو جوړه شوی ده او د پخوانی بحیرۂ مُردار کوے نېنے چه د دے جزیره نما د شمال پورے په نظر راځی هغه د هغه ښونه دیرے مختلفے دی کوے چه په جنوب کښے موندے شی۔ د دے نه دا قیاس راپیدا کیږی چه د جنوب حصّه اول د دے دریاب د سطحے نه اُوچته وه، روستو بیا په څه وخت کښے لاندے ننوتله۔ د دے د ننوتلو زمانه تقریباً د مسیح ؑ نه وه زره کاله مخکښے معلومیږی، اوتاریخی طور هم دا زمانه د حضرت ابراهیم ؑ او د حضرت لُوط ؑ زمانه ده۔ ۱۹۶۵ء کښے د آثارِ قدیمه لټونکی امریکنو ډلے ته په اللسان باندے یو غټ قبرستان ملاؤ شوے دے چې په هغے کښے د شلو زرو نه زیات قبرونه دی۔ دا دے نه اندازه لګی چه خوا ته به ئے یو غټ ښار ضرور آباد وو۔ لیکن د یوے داسے ښار نښے خو اُوشانه هیڅ ځے نشته چه د هغے سره جوخت دومره لوئ قبرستان جوړ پیدے شی۔ دا دے نه هم دا شُبه قوی کیږی چه دا قبرستان د کوم ښار وُو هغه په دریاب کښے ډوب شوے دے۔ د دریاب په جنوب کښے چه کومه علاقه ده په هغے کښے اُوس هم هرطرفته د تباهئ نښے موجود دی او په زمکه کښے د کوکړو، د چیرسلیخ، د تارکولو او د قدرتی کیس دومره ډیرے ذخیرے دی چه سره ورته اوکورې نو وائی چه څه وخت به د ټنډرونو راغورزید وسره یا د زلزلے په وجه د پیسترپه راټولوسره دلته یو قیامت جوړ شوے وی (د زیاتے تشریح د پاره اوګورئه تفهیم القرآن دریم جلد، الشعراء، حاشیه ۱۱۴) ۔

۳۶ ؎ یعنی دا سے څرګند ومعجزو او د اسے څرګندو نښونو سره موسیٰ اُولیږ وچه د هرچا د یقین راتلوچه هغه د زمکے او د آسمان د خالق د طرفنه رالیږلے شوے دے۔

۳۷ ؎ یعنی کله ښے هغه ته جادوګر وئیلو او کله ښے وئیل چه دا سړے لیونے دے۔

۳۸ ؎ په دے وړه شان فقره کښے د تاریخ یو اُوږد داستان راپوځائے کړے شوے دے۔ د څان پوهه کولو د پاره لږ شان د خیال ستر کونه دا نقشه راوله چه فرعون په هغه وخت کښے د دُنیا د تولو نه لوئ مرکز یو لوئ بادشاه وُو چه د هغه د دبدبے نه به د خواُوشا تول قومونه یَرېدل۔ بنکاره خبره ده چه هغه کله د ځپلو لښکرو سره یوه وړځ ناسپه ډوب شوے وی نو یوازے په مصر کښے به نه، بلکه خواُوشا

وَفِيْ عَادٍ اِذْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ﴿۴۱﴾ مَا تَذَرُ مِنْ شَيْءٍ اَتَتْ عَلَيْهِ اِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيْمِ ﴿۴۲﴾ وَفِيْ ثَمُوْدَ اِذْ قِيْلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوْا حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۴۳﴾ فَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ فَاَخَذَتْهُمُ

او (ستاسو د پارہ نہہ دہ) په عاد کښے، کله چه موږه په هغوی باندې یوه داسے بے خیره هوا راولیږله چه په کوم شیز به ورتله نو هغه به ئے خاورے هیرے کوو[۳۹]

او (ستاسو د پارہ نہہ دہ) په ثمود کښے، کله چه هغوی ته ویلے شوی وو چه د یو خاص وخته پورے مزے کوئ[۴۰]۔ لیکن دے خبردارئ باوجود هغوی د خپل رب د حکم نه غځ وارړوو۔ آخر دا چه هغوی د عذاب

په ټولو قومونو کښے به یوه غوغا جوړه شوی وی۔ لیکن په دے باندې بغیر د هغه خلقونه چه د هغوی خپل نژدے رشته داران وو ب شوی وو، بل هیڅوك داسے نه وو چه د هغوی د پاره ئے په خپل ملک کښے یا د دُنیا په نورو قومونو کښے ماتم کړے وے، یا ئے په هغوی خفګان بنکاره کړے وے، یا ئے کم نه کم دومره ویلے وے چه افسوس دے، د یربنه خلق په دے حادثه کښے مړه شول۔ د دے په ځائے د هغوی په دے عبرتناک انجام باندې هرسړی د اطمینان سا واخسته، هرے خوشحاله شول چه هغوی باندې ملا متیا اووئیلے، او هرچا اووئیل چه دا ظالمان هم د دے انجام مستحق وو، داځکه چه ټوله دنیا د هغوی د ظلمونو نه تنګه شوی وه۔ په سورۂ دُخان کښے دا حالت په دے الفاظو سره بیان کړے شوے دے چه فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ "بیا پرے نه آسمان اُوژړل او نه زمکے"۔ (د تشریح د پاره اوګورئ تفہیم القرآن څلورم جلد، تفسیر د سورۃ دُخان، حاشیه ۲۵)۔

۳۹ دے هوا د پاره لفظ عَقِيْمٌ استعمال شوے دے چه د شنډے ښځے د پاره ویلے کیږی، او په لُغت کښے د دے اصلی معنیٰ ده "وچ" شیز۔ که د دے لُغوی معنیٰ اوکړے شی نو د دے مطلب به دا وی چه هغه داسے سخته کرمه اووچه هوا وه چه په کوم شیز به ورتله هغه به ئے وَچولو۔ او که د محاورے معنیٰ ئے اوکړے شی نو مطلب به ئے دا وی چه هغه د شنډے ښځے په شان داسے هوا وه چه هیڅ فایده پکښے نه وه۔ نه مزیدار وه، نه پکښے باران وو، نه د ونو باردار کولو والا وه او نه پکښے د هغه فایدے وه چه یوه فایده وه د کومو فایدو د پاره چه هوا کانے چلیږی۔ په نورو ځایونو کښے ویلے شوی دی چه دا یوازے وچه او بے خیره هوا نه وه بلکه د تیز طوفان په شکل راغلے وه چه خلق یه ئے اُوچتول او په زمکه به ئے راکوز اړولے او هغه پرلپسے اَته ورځے اوه شپے چلیدله۔ تر دے پورے چه د عاد قوم ټوله علاقه ئے تس نس کړله (د تشریح د پاره اوګورئ تفہیم القرآن، څلورم جلد، تفسیر د سورۃ حٰمٓ السجدہ، حاشیے ۲۰، ۲۱ - الاحقاف، حاشیے ۲۵ تا ۲۸)۔

۴۰ د مفسرینو په دے خبره کښے اختلاف دے چه د دے نه مراد کوم مهلت دے۔ حضرت قتادہ

الصَّعِقَةُ وَهُمْ يَنْظُرُونَ ﴿۴۴﴾ فَمَا اسْتَطَاعُوا مِنْ قِيَامٍ وَّمَا كَانُوا
مُنْتَصِرِينَ ﴿۴۵﴾ وَقَوْمَ نُوحٍ مِّنْ قَبْلُ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا
فَاسِقِينَ ﴿۴۶﴾ وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَّإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿۴۷﴾ وَالْأَرْضَ

یوناسپی شرق[۴۱] راکیږکړل اوهغوی ورته په غټو غټو کتل. بیا نو په هغوی کښے د راپاسیدو طاقت وو اونه هغوی خپل بچاؤ کولے شو[۴۲]

او د هغوی ټولو نه مخکښے موښ ه د نوحؑ قوم هلاک کړو ځکه چه هغوی ناسقان خلق وو[ع]
آسمان[۴۳] موښ ه په خپل زور جوړ کړے دے او موښ ه دے طاقت لرو[۴۴] زمکه موښ ه

والئ چه دا اشاره د سورة هود هغه آیت ته ده چه په هغے کښے ویلے شوی دی چه د ثمود خلقو کله د حضرت صالح اُوښ سره کړه نو د الله تعالیٰ د طرفه هغوی ته خبردارے ورکړے شو چه د درے ورځو پورے نمزے کوئ، د هغے نه روستو به دربانډ عذاب راځی. دے به برخلاف د حضرت حسن بصری خیال دے چه دا خبره حضرت صالح علیه السلام د خپل دعوت په شروع کښے خپل قوم ته کړی وه او دے نه د هغه مطلب دا وو چه که چیرے تاسو د توبے او د ایمان په لاره لا نه ځئ نو دے یو خاص وخته پورے به تاسو ته په دنیا کښے د ژوند تیرولو مهلت نصیب شی خو بیا به د ربانډ عذاب راځی - په دے دواړو تفسیرونو کښے دا دوهم تفسیر زیات صحیح معلومیږی، ځکه چه روستنے آیت نَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ (بیا هغوی د خپل رب د حکم نه مخ واړوو) نه دا معلومیږی چه د کوم مهلت ذکر دلته کیږی هغه د مخ اړولو نه مخکښے درکړے شوے وو او هغوی د هغه خبرداری نه روستو مخ واړوو - دے برعکس چه د سورة هود په کوم آیت کښے د دریو ورځو د مهلت ذکر شوے دے هغه ظالمانو له هلو ورکړے شوے وو کله چه هغوی آخری نافرمانی اوکړه

۴۱ ه په قرآن مجید کښے په مختلفو ځایونو کښے د دے عذاب د پاره مختلف الفاظ استعمال شوی دی په یو ځائے کښے دے ته رَجْفَة (یره راوستونکے او خوږونکے آفت) ویلے شوے دے - په بل ځائے کښے دے ته صَيْحَة (لوئ کړس) ویلے شوے دے - په بل ځائے کښے د دے د پاره د طَاغِيَه (ډیر سخت آفت) الفاظ استعمال کړے شوی دی - او دلته دے ته صَاعِقَة ویلے شوی دی چه معنیٰ ئے د ټندر ریشان ناسا په ناتلونکے آفت هم دے او سخت کړس هم دے - غالباً چه دا عذاب د یوے داسے زلزلے په شکل کښے ناغلے وو چه د هغے سره خطرناک آواز هم وو -

۴۲ ه اصل الفاظ دی مَا كَانُوا مُنْتَصِرِينَ - لفظ انتصار په عربی ژبه کښے د دوو معنو د پاره استعمالیږی - دے یو معنیٰ ده خپل ځان د چا د حملے نه بچ کول - او دویمه معنیٰ ده د حمله کونکی نه بدله اخستل -

۴۳ ه د آخرت په حق کښے د تاریخی دلیلونو پیش کولو نه روستو اُوس بیا د آخرت په ثبوت کښے

فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ
تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۹﴾ فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۭ اِنِّىْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۵۰﴾

غور دلی دکا او مونږه ډیر ښه هوارے را وستونکی یو۔ او مونږه د هر څیز جوړے کړی دی[۴۷] کیدے شی چه تاسو د ے نه سبق واخلئ[۴۸] نو منډه کړئ د الله طرفته، زهٔ ستاسو د پاره د هغه د طرفنه صفا صفا خبردار د نکے یم۔

آفاقی یعنی په ټوله دنیا هم کیږ دلیلونه پیش کیږی۔

۴۴ اصل الفاظ دی وَ اِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ۔ د موسع معنیٰ طاقت او قدرت لرونکے هم کیدے شی او فراښه کوونکے هم۔ د اولے معنیٰ په لحاظ سره د ے مطلب دا دے چه د آسمان مونږه د چا په امداد سره نه د ے جوړ کړے بلکه په خپل زور موجود کړے دے او د ے جوړول زمونږ د قدرت نه بهر نه وو۔ بیا دا خیال ستاسو په دماغو کښے آخر څنګه راغے چه مونږه به دوباره تاسو پیدا نه کړے شو؟ د دوے معنیٰ په لحاظ سره ئے مطلب دا دے چه دا سے نه ده چه مونږه دالوئی کائنات بس یو ځل جوړ کړے دے او بیا په قلاره ناست یو بلکه په دے کښے مسلسل فراښی کیږی او هر وخت په دے کښے زمونږه د جوړښت نوی نوی کارنامے راڅرګندیږی۔ الله تعالیٰ دا سے یوه زبردسته پیدائښ کونکی هستی ده آخر هغه تاسو د ے مخلوق د دوباره پیدا کولو نه عاجز ه کنډے دے؟

۴۵ د ے تشریح په حاشیه ۱۸ کښے تیره شوی ده۔ د زیاتے تشریح د پاره اوګورئ تفهیم القرآن دریم جلد، النمل، حاشیه ۷۴۔ څلورم جلد، تفسیر د سورهٔ یٰسٓ، حاشیه ۲۹۔ الزُّخرف، حاشیے ۷ تا ۱۰۔

۴۶ یعنی د دُنیا ټول څیزونه د جوړیدو په اُصولو جوړ کړے شوی دی۔ د ټول جهان دا کارخانه په دے قاعده چلیږی چه د ځینو څیزونو جوړه د ځینو څیزونو نوسره لګی او بیا د جوړ لګیدو سره نئے قسما قسم نور څیزونه جوړیږی۔ دلته یو څیز هم داسے یوازے نشته چه د هغے د بل څیز سره جوړنه وی بلکه هر څیز چه د خپلے جوړیدو سره یو ځائے شی نو هله فائدهٔ کوی۔ (د زیاتے تشریح د پاره اوګورئ تفهیم القرآن، څلورم جلد یٰسٓ / حاشیه ۳۱۔ الزُّخرف، حاشیه ۱۲)۔

۴۷ مطلب دا دے چه ټول کائنات د جوړیدو په اصولو جوړول، او د دُنیا ټول څیزونه جوړیدو جوړیدل یو دا سے حقیقت دے چه د آخرت په راتلو څرګنده ګواهی کوی۔ که چرے ته غور اوکړے نو ستا عقل په خپله د ے نه دا نتیجه راایستلے شی چه هرکله د دُنیا د هر څیز یوه جوړه شته، او هر څیز د خپلے جوړے سره د یو ځائے کیدو نه بغیر فائدهٔ منډ نه وی، نو د دُنیا دا ژوند څنګه بے جوړه کیدے شی؟ د ے جوړه خاخا آخرت دے۔ که آخرت نه وی نو دا دنیا قطعًا بے فائده پاتے کیږی۔

په دراندینئ خبره باندے د ځان پوهه کولو د پاره دلته ځان په دے خبره هم پوهه کول پکار دی چه دلته ټول بحث په آخرت باندے کیږی، لیکن د ے بحث او د ے دلیلونو نه د توحید ثبوت هم ملا ویږی۔ د باران انتظام، د زمکے جوړښت، د آسمان پیدائښ، د انسان خپل وجود، په کائنا تو کښے د جوړیدو جوړی

وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۚ اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝۵۱
كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ
اَوْ مَجْنُوْنٌ ۝۵۲ اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ۝۵۳ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ

اومۂ جوړوی د الله سره بل معبود، زهٔ ستاسو د پاره د هغه د طرفنه صفا صفا خبردارونکے یم۔

هم د غسے کیږی، د دوی نه مخکینو قومونو ته یو رسول داسے نه دے راغلے چه هغوی ورته دا نه وی ویلی چه دا ساحر دے یا لیونے دے۔ آیا دے تولو خلقو په خپلو کښے په دے خبره باندے څه فیصله کړی ده؟ بلکه دا تول سرکشه خلق دی۔ نو اے نبیؐ، ته د دوی نه مخ واړوه،

کید د قانون کارنامے، دا تول څیزونه لکه څنګه چه د آخرت په کیدو او د آخرت په راتلو گواه دی، دغه شان هم دا څیزونه د دے خبرے گواهی کوی چه دا کائنات نه بے خدایه دی او نه د دے د یو خدایان دی بلکه اکیلا یو حکیم او قادر خدائے د کائنات تو پیدا کونکے، او مالک او انتظام چلونکے دے۔ په دے وجه وړاندے هم د دے دلیلونو په بنیاد باندے د توحید دعوت پیش کیږی۔ د دے نه علاوه د آخرت د منلو لازمی نتیجه دا ده چه انسان د خدائے نه د بغاوت کولو لار پریږدی او د حکم منلو او د بندگئ په لار روان شی۔ انسان د خدائے نه د هغه وخته پورے په شاکړئ تر څو چه هغه پے دے غفلت کښے مبتلا وی چه زمانه د تپوس کولو څوک نشته او د عملونو حساب کتاب نشته۔ دا غلط فهمی چه په څه وخت کښے ختمه شی د هغے سره فوراً د سړی په زړه کښے دا فکر را اُوچتیږی چه ځان غیر ذمه وار کنټرول د یر سخته غلطی ده او دا فکر د خدائے ته په واپس کیدو مجبوره کوی۔ په دے وجه د آخرت د دلیلونو ختمولو سره جوخت دا اوامر شوی چه "نو منډه کړی د الله طرفته"۔

۴۸ دا فقره اگرچه د الله کلام دے لیکن په دے کښے خبره کونکے الله نه دے بلکه نبی صلی الله علیه وسلم دے۔ یعنی خبره په اصل کښے دا سے ده چه الله د خپل نبیؐ په ژبه دا وائی چه منډه کړی د الله طرفته نه تاسو د هغه د طرفنه خبرؤم۔ په دے طرز یو مثال د قرآن مجید په اولنی سورة، یعنی سورة فاتحه کښے موجود دے چه په هغے کښے کلام خو د الله تعالیٰ دے لیکن د خبره کونکی په حیثیت سره بنده عرض کوی: اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ۔ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ۔ لکه څنګه چه هلته دا خبره نه ده شوې چه "اے مونانو تاسو د خپل رب نه دا سے دعا غواړئ" لیکن د کلام د الله اړے نه پخپله دا خبره معلومیږی چه دا یو د عادة الله څه خپلو بندګانو ته بنائی، د غه شان دلته هم دا نه دی فرمائیلے شوی چه "اے نبی ته دے خلقوته اُوواید" لیکن د کلام د الله اړے نه پخپله دا معلومیږی چه دا د توحید یو دعوت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د الله تعالیٰ د هدایت مطابق پیش کوی۔ د سورة فاتحے نه علاوه د کلام د دے طرز نورهم د یر مثالونه په قرآن مجید کښے موجود دی چه په هغے کښے کلام خو د الله تعالیٰ وی لیکن خبره څوک کونکے کله نه وی شوی او کله نبی صلی الله علیه وسلم، او د دے اظهار کولو نه بغیر چه دلته خبره کونکے څوک

دے، د عبارت نه پخپله دا معلومیږی چه الله تعالیٰ داخپل کلام د چا په ژبه ادا کوی۔ د مثال په طور اوګورئ سورۂ مریم ۶۴۔ ۶۵۔ الصّافات ۱۵۹ تا ۱۶۶۔ الشوریٰ ۱۰۔

۴۹ یعنی نن داخو اول حل نه دے چه کنی خلقو د الله د رالیږلی شوی رسول د خبرو نه د آخرت خبری او د توحید دعوت راوړی او هغه ته جادوګر اولیونے وائی۔ د پیغمبرۍ تول تاریخ په دے ګواه دے چه د کلمه نه انسان ته د هدایت د پاره رسولان راتلل شروع شوی دی د هغه وخت نه د ټول زمانے پورے جاهلان خلق هم دا یوه خبره په یو طرز باربار کوی۔ کوم رسول چه را غلے او دا خبره ئے کړی ده چه تاسو د پیړو منډو خدایانو بندګان نه ئ بلکه اکیلا یو خدائے ستاسو خالق او معبود دے او ستاسو د قسمتونو مالک او اختیار دے، نو جاهلانو شور جوړ کړے دے چه دا جادوګر دے او دے غواړی چه په خپل جادو زمونږ عقلونه خراب کړی۔ کوم رسول چه را غلے دے او دا خبره ئے کړی ده چه تاسو په دنیا کښے غیر ذمه وار مخلوق نه ئ ئ بلکه ستاسو چه کله د دُنیا ژوند ختم شی نو خپل خالق او مالک ته به حاضر پرئ او حساب کتاب به درسره کیږی او د خپلو عملونو مطابق به جزا او سزا مومئ، نو به وقوفانو خلقو چنے جوړی کړی دی چه دا پاګل دے، د ده عقل کار نه کوی، د مړګ نه روستو به موږ ده دوباره بیا څنګه راژوندی کړے شو؟

۵۰ یعنی دا خبره خو څرګنده ده چه د زړګونو کلونو پورے په هره زمانه کښے د مختلفو ملکونو او د مختلفو قومونو خلق د پیغمبرانو د دعوت په مقابله کښے کومه یوه خبره کوی، نو دا اسے نه وه چه کنی وړاندے روستو نسلونو په خپلو کښے د تفرس کښے دا فیصله کړی وه چه کله یو نبی راشی او دا دعوت پیش کړی نو د هغے به دا جواب ورکوو۔ نو بیا هغوئ دا یو شان خبره ولے کوی او باربار په یو طرز جواب ولے ورکوی؟ دے بله وجه د دے نه سوا نشته چه د ټولو سرکښو صفت په دوئ ټولو کښے شریک دے۔ چونکه د هرے زمانے جاهلان خلق د خدائے د بندګئ نه آزاد او د حساب کتاب نه بے پروا په دنیا کښے د ګمراهئ خُناور پشان ژوند تیرول غواړی، نو په دے وجه چه څوک ئے د الله بندګئ ته رابلی او ورته وائی چه د الله نه پرے پرے ژوند تیروئ نو هغوئ ورله هم دغه یو جواب په یو لهجه ورکوی۔

د دے آیت نه بل یو اهم حقیقت هم راخرګندیږی، او هغه دا دے چه د ګمراهئ او د هدایت، د نیکئ او د بدئ، د ظلم او د انصاف او د دا رنګه د نورو عملونو کومے اړخے چه د انسان په نفس کښے قدرتی طور موجودی هغه په هره زمانه کښے او د زمکے په هره حصه کښے همیشه په یو طرز څرګندیږی اګرکه د وسائلو د ترقئ په وجه د هغے شکلونه په ظاهره هر څومره مختلف ښکاری۔ نن که انسان د ټینکونو او د هوائی جهازونو او د هایډروجن بمونو په ذریعه جنګ کوی او پخوا په زمانه کښے که انسان د کانړو او د لرګو په ذریعه جنګ کولو، خو د انسانانو په منځ کښے د جنګ په بنیاد اسباب کښے د سرد و نیخه هومره فرق نه دے را غلے۔ د هغه شان د ټول زمانے کافران که د خپل کفر د پاره د دلیلونو هر څومره انبار وناُو نکی، خو د هغوئ د کُفر اسباب بالکل هم هغه دی کوم چه د ټول نه شپږ زره کاله مخکښے د یو کافر زړو۔ او هغوئ په خپلو دلیلونو پیش کولو کښے هم بنیادی طور د خپلو مخکینو مشرانو نه هیڅ مختلف نه دی۔

فَمَآ اَنۡتَ بِمَلُوۡمٍ ﴿۵۴﴾ وَّ ذَكِّرۡ فَاِنَّ الذِّكۡرٰى تَنۡفَعُ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۵۵﴾

په تا باندې هیڅ ملامتیا نشته۔[۵۱] البته نصیحت کوه، ځکه چې نصیحت د مومنانو د پاره فایده مند دے۔[۵۲]

---

۵۱ په دے آیت کښے د دین د تبلیغ کولو یوه قاعده بیان کړے شوی ده چې په هغے سره ځان پوه کول پکار دی۔ د حق یو داعی چې کله د یو سړی په مخکښے د مناسبو لیلونو سره خپل دعوت صفا صفا پیش کړی او د هغه د شک شبهو او د هغه د اعتراضونو او دلیلونو جواب هم ورکړی نو د حق واضحه کولو چې کوم فرض د هغه په ذمه وُو د هغه نه هغه خلاص شو۔ دے نه روستو هم که هغه سړے په خپله عقیده او په خپل خیال باندې تینګ پاتے شی نو د حق په داعی باندې د هغے هیڅ ذمه واری نه راځی۔ بیا دے خبرې هیڅ ضرورت نشته چې هغه د په هغه سړی پسے اُولګی او خپل ټول عمر د هغه سړی سره په بحثونو کولو کښے تیر کړی، او بس د هغه د دا کار شی چې د هغه سړے د په غلط طریقه د خپل خیال ملګرے کړی۔ داعی خپل فرض ادا کړو۔ که هغه نه منی نو نه منی۔ هغه ته په توجه نه ورکولو سره په داعی باندې څوک دا الزام نه شی لګولے چې تا یو سړے بے لارے پریښود، ځکه چې اُوس هغه د خپلے ګمراهئ په خپله ذمه وار دے۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا قاعده دے د پاره نه ده بیان کړه شوی چې معاذ الله کنې نبی ﷺ به په خپل تبلیغ کښے په غلطه طریقه په خلقو پسے لګید و او الله تعالیٰ غوښتل چې هغه دے نه منع کړی۔ په اصل کښے دے قاعدے د بیا نولو وجه دا ده چې هرکله د حق یو داعی څه خلقو ته د زیاتو نه په زیاته مناسبے طریقے سره د هغوئ د پوهه کولو حق ادا کړی او په هغوئ کښے د منډا وډ جګړه نښے او وینې او د هغوئ نه وده کول شروع کړی نو هغوئ په داعی پسے اُولګی او په هغه باندې الزام لګول شروع کړی چې واه صاحبه، ته خو د حق د دعوت پیش کولو دپاره نه ځوی کوے، موږ ده ځان پوهه کولو پاره ستا سره بحث کول غواړو او ته موږ ته توجه نه راکوے۔ حالانکه د هغوی مقصد ځان پوهه کول نه وی بلکه په خپل بحث کښے داعی ته خلل غواړی او خالص د هغه وخت ضائع کوی۔ په دے وجه الله تعالیٰ په خپل کلام پاک کښے په څرګند والفاظو دا اُو فرمایئل چې "دا سے خلقو ته توجه مه ورکوه، هغوئ ته په توجه نه ورکولو سره په تا هیڅ ملامتیا نشته۔" دے نه روستو چا په رسول الله صلی الله علیه وسلم دا الزام نه شو لګولے چې کوم کتاب تا راوړے مه د هغے ترڅه خو ته په دے مقرر شوے ئے چې موږ ته په دین پوهه کړے نو بیا زموږ د خبرو جواب ولے نه راکوے۔

۵۲ په دے آیت کښے د تبلیغ دویمه قاعده بیان کړے شوی ده۔ د حق د دعوت اصلی مقصد هغه نیکان خلقو ته د ایمان نعمت ورکړل دی څوک چې د دے نعمت قدر پیژنی او دا نعمت پخپله حاصلول غواړی۔ لیکن داعی ته دا نه وی معلوم چې په زړګونو لکو نو انسانانو کښے هغه نیکان خلق په کوم ځانګے کښے دی۔ په دے وجه د دا عی کار دا دے چې د خپل عام دعوت سلسله برابر جاری اُوساتی د پاره د دے چې په کوم کوم ځانګے کښے ایمان قبلونکی خلق موجود وی چې هلته د هغه آواز ورا اُورسی۔ هم دا خلق د هغه اصلی دولت دے۔ هم د دے خلقو لپاره کول د هغه اصلی کار دے۔

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ مَآ اُرِيْدُ مِنْهُمْ
مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَآ اُرِيْدُ اَنْ يُّطْعِمُوْنِ ﴿۵۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ

مَا پیریان او انسانان پیدا کړي دي چه هغوئ زما بندګي اوکړي ۵۳ زه د هغوئ نه څه رزق نه غواړم او نه دا غواړم چه ماله ډوډۍ راکوي. ۵۴ الله خو پخپله روزي ورکوونکی دی

اوهم د خلق را جمع کول او د هغوئ له پاره روانول د هغه مقصد پکار دی - په منځ کښے چه د آدمؑ په اولاد کښے کوم فضول خلق هغه ته ملاؤ شي هغوئ ته پس د هغه وخته پورے داعی له توجه ورکول پکار دی ترڅو پورے چه هغه ته په تجربه سره دا معلومه شوی نه وی چه هغوئ د دعوت هیڅ اثر نه قبلوی. هرکله چه داعی ته د هغوئ د دعوت نه قبلولو بنه تجربه اُوشی نو پس د هغے په دغه قسم خلقو باندې خپل قیمتی وخت ضائع کول نه دی پکار، ځکه چه هغوئ د نصیحت نه فایده اغستونکی خلق نه دی، او په هغوئ باندې د خپل توت ګکولو سره نقصان د هغه خلقو کیږی څوک چه د نصیحت نه فایده اغستونکی دی.

۵۳ یعنی ما دوئ د بل چا د بندګئ د پاره نه بلکه د خپلے بندګئ د پاره پیدا کړی دی. زما بندګی خو دوئ له په دے وجه پکار ده چه زه د هغوئ خالق یم. نو رچا چه دوئ پیدا کړی نه دی نو د هغوئ څه حق دے چه دوئ د هغه بندګی اوکړي، او د دوئ د پاره داځکه جائز کیدے شی چه د دوئ خالق خو زه یم او دوئ د بندګی کوی د بل چا.

دلته دا ټپوس کیدے شی چه الله تعالیٰ پوازے د پیریا نو او د انسانانو خالق نه دے بلکه د ټول جهان او د هرشے خالق دے، نو بیا دلته خاص د پیریا نو او د انسانانو په خلقه ولے او فرمائیلے شو چه ما هغوئ د خپلے بندګئ نه سوا د بل چا د بندګئ د پاره نه دی پیدا کړی؟ حالانکه د مخلوقاتو یوه یوه ډډه خاص د الله د بندګئ د پاره ده - د دے جواب دا دے چه په زمکه باندې پوازے پیریان او انسانان داسے مخلوق دے چه هغوئ ته د آزادئ ورکړے شوی ده چرکه هغوئ په خپل اختیار د الله تعالیٰ بندګی کول غواړی نو کوی یې، کنئ نو هغوئ د بندګئ نه مخ هم اړولے شی، او د الله نه سوا د بل چا بندګی هم کولے شی - نو رڅومره مخلوقات چه په دے دنیا کښے دی هغوئ دا قسم هیڅ آزادی نه لری. د هغوئ هډوکے اختیار شته دے نه چه هغوئ په هغے کښے د الله بندګی اونه کړی یا د بل چا بندګی اوکړے شی - په دے وجه دلته صرف د پیریا نو او د انسانانو په خلقه فرمائیلے شوی دی چه که هغوئ په خپل اختیار سره د خپل خالق د اطاعت او د بندګئ نه مخ اړوی، او د خالق نه سوا د بل چا بندګی کوی، نو هغوئ پخپله د خپل فطرت خلاف جنګیږی، هغوئ له څان په دے پوهه کولے پکار دی چه هغوئ د خالق نه سوا د بل چا د بندګئ د پاره نه دی پیدا کړے شوی او د هغوئ د پاره نیغه لاره دا ده چه کومه آزادی هغوئ له ورکړے شوی ده هغه په غلطه استعمال نه کړی بلکه په دے آزادئ کښے د ننه هم پخپله مرضی سره د خدائے بندګی هغے اوکړی لکه څنګه چه د هغه د بدن یو یو وینځتبه

ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ ﴿۵۸﴾ فَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا مِّثْلَ ذَنُوْبِ

د لوئ طاقت خاوند دے او مضبوط دے ﴿۵۸﴾ نو کو موخلقو چہ ظلم کړے دے ﴿۵۹﴾ هغوئ لپاره هغے عذاب تیار دے

د هغه د ژوند په بے اختیاره حد کښے دننه د خدائے بندگی کوی۔

د عبادت لفظ په دے آیت کښے یوازے د مونځ روژے او دے قسم نورو عبادتونو په معنیٰ کښے نه دے استعمال کړے شوے چه کنی څوک تړ دا مطلب واخلی چه پیریان او انسانان یوازے د مونځ کولو او د روژے نیولو او د تسبیح تهلیل وئیلو د پاره پیدا کړے شوی دی۔ دا مطلب هم اګرچه په دے کښے شامل دے لیکن دا د دے پوره مطلب نه دے۔ د دے پوره مطلب دا دے چه پیریان او انسانان د الله نه سوا د بل چا د عبادت د پاره، د بل چا د حکمونو منلو د پاره، بل چا ته د عاجزئ کولو د پاره نه دی پیدا کړے شوی۔ د هغوئ کار بل چا ته سر ښکته کول، د بل چا حکمونه منل، د بل چا نیږه کول، د بل چا په جوړ کړے شوی دین پسے تلل، بل څوک خپل قسمتونو جوړولو او ورانولو والا ګڼل، او بل چا ته د دعا د پاره لاسونه خوړول نه دی۔ (د زیاتے تشریح د پاره اوګورئ تفہیم القرآن څلورم جلد، تفسیر د سورۂ سبا، حاشیه ۶۳۔ الزُّمر، حاشیه ۲۔ الجاثیه، حاشیه ۳۰)۔

یوه بله خبره چه د دے آیت نه څرګنده یږی هغه دا ده چه پیریان د انسانانو نه جُدا یو مستقل مخلوق دے۔ د دے نه د هغه خلقو خیال بالکل غلط ثابتیږی چه هغوئ دا دعوٰی کوی چه په قرآن مجید کښے په انسانانو کښے دننه څه خلقو ته پیریان ویلے شوی دی۔ په دے حقیقت باندے د قرآن مجید لاندینی آیتونه هم مکمل شهادت پیش کوی: الانعام ۱۰۰، ۱۲۸۔ الاعراف ۳۸۔ ۱۷۹۔ هود، ۱۱۹ الحجر، ۲۷ تا ۳۳۔ بنی اسرائیل، ۸۸۔ الکهف، ۵۰۔ السجدۃ ۱۳۔ سبا، ۴۱۔ حٰمٓ، ۲۵، ۲۶۔ حٰمٓ السجدہ ۲۵۔ الاحقاف، ۱۸۔ الرحمٰن، ۱۵، ۳۹، ۵۶ (په دے مسئله باندے د تفصیلی بحث د پاره اوګورئ تفہیم القرآن دریم جلد، الانبیاء، حاشیه ۲۱۔ النمل، حاشیه ۲۳ و ۴۵۔ څلورم جلد، تفسیر د سورۂ سبا، حاشیه ۴۲)۔

۵۶ یعنی زما پیریا نو او انسانانو نه څه حاجت نشته چه که دوئ زما عبادت کوی نو زما خدائی به چلیږی او که دوئ زما د بندګئ نه مخ واړوو نو زما به خدائے پاتے نه شم۔ زه د دوئ د عبادت محتاج نه یم بلکه زما عبادت کول پخپله د دوئ د فطرت تقاضا ده، هم دے د پاره دوئ پیدا کړے شوی دی، او د خپل فطرت سره په جنګیدو کښے د دوئ خپل نقصان دے۔

او دا چه وے فرمائیل چه "زه د دوئ نه رزق نه غواړم او نه دا غواړم چه دوئ ما له خوراکونه راکړی۔" په دے کښے معمولی شان د اعتراض یوه پټه خبره ده۔ کافران چه په دنیا کښے د چاپیلا کوی، هغوئ تول په حقیقت کښے د دے خپلو بندګانو محتاجه دی۔ که دوئ د هغوئ خدائی نه چلوی نو هغه یوه ورځ هم نه چلیږی، هغوئ د دوئ روزی رسان نه دی بلکه اُلټا دوئ هغوئ له روزی ورکوی۔ هغوئ دوئ له خوراکونه نه ورکوی، بلکه اُلټا دوئ هغوئ له خوراکونه ورکوی۔

اَصۡحٰبِہِمۡ فَلَا یَسۡتَعۡجِلُوۡنِ ﴿۵۹﴾ فَوَیۡلٌ لِّلَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا مِنۡ یَّوۡمِہِمُ الَّذِیۡ یُوۡعَدُوۡنَ ﴿۶۰﴾

لکه څنګه چې د دوئ غوندې خلقوته د خپلے حصے عذاب ملاوَ شوے دے، دَدے د پاره یې داخلق په ماتلوا رنه کوی۔ آخر دا چې تباهی ده د کافرانو د پاره په هغه ورځ چې د کوے ورځ د راتلو نه هغوئ یَرولے کیږی ع

هغوئ د دوئ محافظان نه دی بلکه اُلټا دوئ د هغوئ حفاظت کوی۔ دوئ د هغوئ لښکریان دی او د دوئ په وجه د هغوئ خدائی چلیږی۔ په کوم څائے کښے چې د دے دروغو خدایانو حمایتان بند کان نه وی، یا بند کا نو د هغوئ حمایت پریښومے وی هلته د هغوئ ټول شان شوکت ختم شو۔ او د دُنیا خلقو د هغوئ په حال اُولید و۔ په ټولو معبودانو کښے اکیلا یو الله جلّ شانه هغه حقیقی معبود دے چې د هغه خدائی په خپل طاقت چلیږی، چې هغه د خپلو بندګانو نه نه څه اخلی نه بلکه هغه خپلو بندګانو له هر څه ورکوی۔

۵۵ په اصل کښے لفظ "متین" استعمال کړے شوے دے۔ چې معنیٰ ئے ده مضبوط او نه رقیدونکے چې څوک ئے خوزولے نشی

۵۶ د ظلم نه مُراد دلته په حقیقت او په صداقت باندې ظلم کول دی، او پخپله په خپل فطرت باندې ظلم کول دی۔ د ورانډې روستو عبارت نه پخپله معلومیږی چې دلته د ظلم کولو نه مُراد هغه خلق دی چې هغوئ د خدائ نه سوا د بل چا بندګی کوی، د آخرت نه منکر دی، او خپل ځان په دُنیا کښے غیر ذمه وار ګڼری، او هغه پیغمبران د روغژن ګڼری کومو چې هغوئ ته د حقیقت نه د خبرداری لوکوشش کړے دے۔

۵۷ دا جواب دے د کافرانو د دے مطالبے چې هغه د بدلے ورځ به آخر کله راځی؟۔

تفهم القرآن

الطور

٥٢

الطُّوْر

نوم | دَدے سورۃ نوم دَ اولنی لفظ "وَالطُّوْرِ" نه اخستلے شوے دے ۔

دَ نازلید وزمانه | دَ نه دَ مضمون دَ شهادت نه دا اندازه معلومیږی چه داسورۃ هم دَ مکّے معظّمے په هغه دَور کښے نازل شوے دے په کوم دَور کښے چه سورۃِ ذاریات نازل شوے وُو۔ دَدے دَ لوستلو په دوران کښے خو دا ضرور معلومیږی چه دَدے دَ نازلیدو په زمانه کښے دَ نبی صلی اللّٰه علیه وسلم خلاف پیر و پیر الزاموا و اعتراضونه وُو، لیکن دا تِر نهٔ معلومیږی چه ظلم زیاتے پِرے په زُور شُور سره شروع شوے وُو ۔

موضوع او مضمون | دَدے سورۃ په اوله رکوع کښے دَ آخرت بیان شوے دے ۔ په سورۃِ ذاریات کښے دَ آخرت دَ امکان او دَ آخرت دَ راتلو دلیلونه ورکړے شوی وُو ، په دے وجه دلته دوباره دَ هغے ذکر اُونهٔ کړے شو، البته په یوځو هغو حقیقتونو او علامو باندِ قسم خوړلے شوے دے چه هغه دَ آخرت په راتلو باندِ گواهی کوی ، او وِیر په زُور سره دا فرمائیلے شوی دی چه هغه به یقیناً راځی او په هیڅ کښے دا طاقت نشته چه هغه دَ راتلونه منع کړی ۔ بیا دا ویلے شوی دی چـــه کله آخرت راشی نو څوک چه آخرت دروغ ګڼی دَ هغوی انجام به څه وی، او څوک چه آخرت منی او دَ خدائے دَ حکمونو مطابق ژوند تیرَوی هغوی ته به اللّٰه څه انعامونه ورکوی ۔

دَدے نه روستو په دویمه رکوع کښے دَ قریشو دَ سردارانو په هغه عمل تنقید شوے دے کوم چه هغوی دَ رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم دَ دعوت په مقابله کښے شروع کړے وُو۔ هغوئ به نبیٔ ته کله کاهِن (یعنی غیبی خبری کونکے) ، کله لیونے او کله شاعر وئیلو او عام خلق به ئے دَ هغهٔ نه دَدے غرض دَپاره په شاکول چه دَ هغه پیغام په توجه سره وانَوری ۔ هغوئ نبیٔ دَ خپل ځان دَپاره یوناسا پی آفت ګڼلو او په دِ اګه به ئے وئیل چه که په نبیٔ څه آفت راځے نو موږ به تِر خلاص شو۔ هغوئ به په نبیٔ الزام لګولو چه دا قرآن د ے پخپله دَ ځان نه جوړ وی او دا یوه دوکه ده چه دهٔ جوړه کړی ده (معاذاللّٰه) ۔ هغوئ به بار بار دَ توقو په طور دا خبره کوله چه خدائے دَ پیغمبرئ دَ پاره رالیږو نوبس دا صاحب ئے را اُولیږو بل څوک نهٔ وُو ۔ هغوئ به دَ دعوت او دَ تبلیغ نه داسے تښتیدل لکه چه هغه دَ هغوئ نه څه غواړی او هغوی تِر دَ ځان خلاصولو دَ پاره پټ پټ کړزی ۔ هغوئ به په خپلو کښے کینا ستل او سوچونه به ئے کول چه دَ نبیٔ خلاف څه داسے کار اُوکړی چه په هغے سره دَ هغه دعوت ختم شی ۔ دا ټول هرڅه به ئے کول او دَدے خبری ته ئے هلپو فکر نهٔ کوُو چه دا موږ ته څنګه جاهلانه عقیدو کښے ښتی یو چه محمّد صلی اللّٰه علیه وسلم دَ هغ دَ تیَرونه دَ خلقو دَ راایستلو دَ پاره بالکل

په بے غرضئ سره خپل کوشش نه کوی ـ الله تعالیٰ د هغوئ په دے عمل تنقید کړے دے اوپر لپسے ئے ترڅه تپوس نه کړی دی چه په هغے کښے هر تپوس یا خو د هغوئ د یو تپوس جواب دے یا د هغوئ په جهالت تبصره ده ـ بیائے فرمائیلی دی چه ستا د نبوّت د قائل کولو د پاره دِ ے خلقو ته څه معجزه ښودل بالکل بے فائدے دی، ځکه چه دا دا سے ضدیان خلق دی چه دوئ ته که هرڅه اُوښودلے شی خو دوئ به د هغے څه وجه بیانوی او د ایمان راوړلو نه به پاته کوی۔

دَدے رکوع په شروع کښے هم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا فرمائیلے شوی دی چه دَدے مخالفو خلقو او دَدے دُشمنانو د الزامونو او اعتراضونو پروا مه کوه او د خپل دعوت کار جاری ساته، او په آخر کښے هم فرمائیلے شوی دی چه دَدے مخالفتونو مقابله په صبر سره کوه اَنُ تردے پورے چه د الله تعالیٰ فیصله راشی ـ دَدے سره هغه ته تسلّی ورکړے شوی ده چه ستارب ته د حق د دُشمنانو په مقابله کښے وَدْرَولے ئے اونه ئے په خپل حال نه ئے پریښودے بلکه هغه برابر ستا نگرانی کوی ـ چه ترڅو د الله د فیصلے وخت نه وی راغلے ترهغے ته هرڅه برداشت کوه او د خپل رب حمد او تسبیح وایه او په دے سره هغه طاقت حاصلوه کوم چه په دا سے حالا تو کښے د الله د کار کولو د پاره ضروری وی ـ

سُوْرَةُ الطُّوْرِ مَكِّيَّةٌ

اٰیاتُہا ۴۹ رُکُوعاتُہا ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالطُّوْرِ ۝۱ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ۝۲ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ۝۳ وَّالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ ۝۴

قسم دے په طور[1] باندِ، او په دا سے ښکاره کتاب باندِ چه هغه په نرمه څرمن کښے لیکلے شوے[2] دے، او په آباد کور[3] باندِ،

---

[1] د "طور" اصلی معنیٰ ده غر۔ اود الطّور نه مُراد هغه خاص غر دے چه هلته الله تعالیٰ حضرتِ موسیٰ له پیغمبری ورکړی وه۔

[2] پخوا په زمانه کښے چه به کوم کتابونه اوکوم خطونه د ډیرے زمانے پورے محفوظ ساتل پکار وُو نو هغه به د کاغذ په ځائے د هوسئ په څرمن لیکلے کیدل۔ داځرمن به د لیکلو د پاره خاص طور نرمه کړے کیدله او خلقو به ورته رق وئیلو۔ اهلِ کتابو به توراة، زبور، انجیل او د پیغمبرانو صحیفے په دے رق باندِ لیکلو چه د ډیرے مودے پورے محفوظ پاتے شی۔ دلته د ښکاره کتاب نه مُراد هم دا د مقدس کتابونو مجموعه ده چه د اهلِ کتابو سره موجود وه۔ هغے ته "ښکاره کتاب" ځکه وئیلے شوے دے چه هغه څه ورک کتاب نه وُو، هرچا به لوستلو، او په آسانئ سره به معلومیدله چه په هغے کښے څه لیکلے شوی دی۔

[3] د "آباد کور" نه مُراد د حضرت حسن بصری په نز بیت الله، یعنی خانه کعبه ده چه هیڅکله د حاجیانونه، د عمرے کونکونه، او د طواف کونکونه نه ځالی کیږی۔ او حضرت علی، ابن عباس، عِکرمه، مُجاهد، قتاده، ضحّاک، ابن زید او نور مفسّرین وائی چه دد ے نه مراد هغه بیتِ معمور دے چه د هغے ذکر د معراج په سلسله کښے نبی صلی الله علیه وسلم کړے دے، چه د هغے د دیوال سره هغه حضرت ابراهیم علیه السّلام لید لے وُوچه وده ئے ورته وهلی وه۔ مجاهد، قتاده او ابن زید وائی چه لکه څنګه خانه کعبه د زمکے د خلقو د پاره د خدا پرستو خلقو مرکز ده، د غه شان په هر آسمان کښے د هغه آسمان د اوسیدونکو د پاره هم د غسے یوه کعبه ده چه هغه د الله د عبادت گزار و خلقو د پاره د مرکز حیثیت لری۔ په د غه کعبو کښے یوه کعبه هغه وه چه د هغے دیوال ته حضرت ابراهیم علیه السّلام وده وهلی وه او نبی صلی الله علیه وسلم په معراج کښے لید لے وُو، او د هغے سره د حضرت ابراهیم علیه السّلام مناسبت فطری وُوځکه چه هغه د زمکے د کعبے جوړ وُنکے وُو۔ په دے تشریح چه نظر اُوساتلے شی نو دا دویم تفسیر د حضرت حسنِ بصری د تفسیر نه مخالف کیږی نه، بلکه دواړه چه رایوځائے شی نو مونږ تر دا مطلب اغستلے شو چه دلته قسم یوازے د زمکے په کعبه نه دے خو رلے شوے بلکه په دے کښے په هغه ټولو کعبو باندِ قسم هم شامل دے چه هغه په ټول کائنات کښے موجود دی۔

وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ۝۵ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ ۝۶ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ
لَوَاقِعٌ ۝۷ مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ ۝۸ يَّوْمَ تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا ۝۹

اوپه اُوچت چت باندِ[4]، اوپه چپو وهونکی سمندر باندِ[5]، چه ستا د رب عذاب خامخا را تلونکے دے د هغے ځخوک د دفع کولو نشته[6]۔ هغه به په هغه ورځ وی کله چه آسمان په سختئ سره اُوخوزیږی[7]

[4] د اُوچت چت نه مراد آسمان دے چه د زمکے د پاسه د ګنبد پشان خور شوے بنکاری. اودلته دالفظ د ټول عالم بالا د پاره استعمال شوے دے (د تشریح د پاره اُوګورئ تفهیم القرآن، پنځم جلد تفسیر د سورۃ ق، حاشیه نمبر ۷)۔

[5] په اصل کښے لفظ البَحْرِ الْمَسْجُوْر استعمال شوے دے۔ د دے دوه معنے بیان کړے شوی دی۔ ځینو مفسرینو د دے معنیٰ "د وُورنه وچ" کړی ده۔ ځینی وائی چه د دے معنیٰ خالی سمندر دے چه د هغے اُوبه په زمکه کښے غیبے شوی وی۔ ځینی وائی چه د دے معنیٰ محبوس یعنی "بند" ده، اودا مطلب ئے بیانوی چه سمندر را بند کړے شوے دے، نهٔ ئے اُوبه په زمکه کښے غائبیږی او نهٔ په اُوچه خوریږی چه د زمکے خلق وډوب کړی۔ ځینی وائی چه د دے معنیٰ مخلوط ده، په دے کښے خوږے، تروے، کړوے، یعنے هر قسم اُوبهٔ وی۔ او ځینی وائی چه د دے معنیٰ ده وچ اوچپے وهونکے۔ په دے کښے اولنیٔ دوه معنے خو د موقع اود محل سره سمون نهٔ خوری۔ د سمندر دا دواړه حالتونه چه تل ئے اُوشلیږی او اُوبهٔ په زمکه کښے غیبے شی اوهغه د وُورنه وچ شی، به د قیامت په وخت کښے ظاهریږی، لکه څنګه چه د سورۃ تکویر په آیت ۶ اود سورۃ انفطار په آیت ۳ کښے د دے بیان شوے دے۔ د اتلونکے زمانے حالت په دے وخت کښے موجود نهٔ دے چه په هغے قسم اُوخوړلے شی اود آخرت په راتلو باندِ د ټول زمانے د خلقو یقین را وستلے شی۔ په دے وجه د دے دوو معنو په ځائے دلته د البَحْرِ الْمَسْجُوْر معنیٰ محبوس (یعنی را بند)، مخلوط او وچ اوچپے وهونکے کیدے شی۔

[6] داهغه حقیقت دے چه په هغے باندِ د دے پنځو څیزونو قسم خوړلے شوے دے۔ د رب د عذاب نه مراد آخرت دے۔ چونکه دلته خبره په آخرت باندِ ایمان راوړ نکو خلقوته نهٔ کیږی بلکه د آخرت نه انکارکونکو خلقوته کیږی، اود هغوی په حق کښے آخرت را تلل عذاب را تلل دی، نو په دے وجه هغه ته د قیامت یا د آخرت یا د بَدْلے د ورځے وئیلو په ځائے د "رب عذاب" وئیلے شوے دے۔ اُوس سوچ اوغور اُوکړئ چه د هغے په راتلو هغه پنځه څیزونه څنګه دلالت کوی په کوموچه قسم خوړلے شوے دے۔

طُور هغه ځائے دے چه هلته د یوپریوتی قوم د اُوچتولو اود یو غالب اوظالم قوم د را غورزولو فیصله اُوکړے شوه، اودا فیصله د طبیعی قانون (Physical Law) په بنیاد نهٔ بلکه د اخلاقی قانون (Moral Law) اود قانونِ مکافات (Law of Retribution) په بُنیاد باندِ وه۔ په دے وجه د آخرت په حق کښے د تاریخی دلیل په طور

طُور دَ یوے علاقے په طور پیش کړے شوے دے۔ مطلب دا دے چه د بنی اسرائیلو غوندِ یو بے وَسَه قوم اُوچتول او د فرعون غوندِ یو زبردست بادشاه د خپلو لښکرو یا نوسره ډوبول، چه فیصله ئے د څښے په چُپه چپیا کښے په کوہِ طور کښے شوی وه، دا په انسانی تاریخ کښے د دے خبرې د ټولو نه واضحه اوصفا مثال دے چه د کائناتو نظام د اغواړی چه د انسان غوندِ یو عقلمند او اختیار مند مخلوق سره د اخلاقی محاسبه اُو شی او هغهٔ له د دهغه د عمل بدله ورکړے شی، او د دے د پاره د حساب کتاب یوه داسے ورځ پکار او ضروری ده چه په هغے کښے ټول انسانان راجمع کړے شی او د هغوئ سره حساب کتاب اُوشی (د زیاتے تشریح د پاره اُوګورهٔ تفہیم القرآن، پنځم جلد، تفسیر د سورۂ ذاریات، حاشیه ۲۱)۔

د مقدسو کتابونو په مجموعه باندِ قسم په دے وجه خوړلے شوے دے چه د الله تعالیٰ د طرفه د نړیاته ځومره پیغمبران راغلی دی او هغوی د ځان سره ځومره کتابونه راوړی دی، هغوئ ټولو په هره زمانه کښے هم د دغه یوه خبره کړی ده کومه چه محمد صلی الله علیه وسلم کوی، یعنی دا چه وړاندِ روستو ټول انسانان به یوه ورځ د ځنی سرنه بیا راژوندی کیږی او خپل خدائے ته به د حساب کتاب د پاره حاضریږی او د خپلو عملونو مطابق به جزا یا سزا مومی۔ یو آسمانی کتاب داسے نهٔ دے راغلے چه په هغے کښے دا خبره نهٔ وی یا په هغے کښے انسان ته دا خبره شوی وی چه ژوند هم بس دا د دُنیا ژوند دے، او انسان چه مړ شی نو بس خاورے شی د هغے نه روستو بیا څه حساب کتاب نشته۔

د بیتِ مَعْمُور قسم په دے وجه خوړلے شوے دے چه خاص طور د عربو د خلقو د پاره په هغه زمانه کښے خانه کعبه یوه داسے ښکاره نښه وه چه هغے د پیغمبرانو په صداقت باندِ ګواهی کوله او په دے حقیقت باندِ ګواهی کوله چه د هغے په شا باندِ د الله تعالیٰ لوئ طاقت او حکمت دے۔ د دے آیتونو د نازلیدو نه دوه نیم زره کاله مخکښے یوسړے بے لښکره او بے ساز و سامانه داسے غیر آباد غر ونو ته راځی چه نهٔ پکښے اُوبهٔ شته او نهٔ شینکے او هغه خپله یوه ښځه او یو د ځی بچے بے اسرے پریږدی او واپس ترځی۔ بیا څه موده روستو هم دغه سړے راځی او په دغه خُوښی ځائے کښے د الله تعالیٰ د عبادت د پاره یو کور جوړوی او آواز کوی چه اے خلقو راشئ، او دے کور ته حج اوکړئ۔ دغه کور او دغه آواز په عجیبه طریقه خوریږی او دغه کور د ټولو عربیانو مرکز جوړیږی، او په دغه آواز خلق د عربو د هرکوټ نه لَبَّیْکَ لَبَّیْکَ وائی او راځی، د دوه نیم زره کاله پورے دا کور د امن داسے مقام وی چه چارچاپیره په ټول ملک کښے جنګ جګړے کیږی خو د دے کور حد ته چه را اُورسی نو څوک په چا لاس نهٔ شی اُوچتولے، او د دے کور په وجه په هرکال کښے څلور میاشتے د عربیانو د پاره داسے امن وی چه په هغے کښے قافلے په اطمینان سره سفر کوی، تجارتونه کیږی او بازارونه لږی۔ بیا د هغه کور د اشان او د بد به وه چه د غټونه غټ ظالم به هم هغے ته په ورانو ستړګونهٔ شوکتلے، او چا چه ورته په بَد نیت کتلی وُ و هغوئ د الله په غضب کښے داسے راګیر شو چه د عبرت نښه ترجوړه شوه۔ دا کارنامه د دے آیتونو د نازلیدو نه صرف پنځه څلویښت کاله مخکښے خلقو په خپلو ستړګو لیدلی وه،

او کله چه دا آیتونه د مکّے خلقو ته اورَسول کیدل نو په هغه وخت کښے د یر خلق په مکّه معظمه کښے داسے موجود وُ چه هغوی دا حالت په خپلو ستړګو لیدلے وُو۔ د دے نه زیات بل څه څیز د دے خبرې دلیل کیدے شو چه د خدائے پیغمبران هوائی خبرې نهٔ کوی۔ هغوئ هر هغه څه وینی چه نور څوک ئے نهٔ شی لیدے۔ هغوی هر هغه څه وائی چه هغے ته د بل چا عقل نهٔ شی رسیدے۔ هغوئ په ظاهره داسے کارونه کوی چه هغه د یو وخت خلق اُووینی نو لیونتوب ئے ګڼی او

چه د سوونو کالو روستنی خلق ورته اوګوری نو د هغوی پوهے ته حق حیران پاتے شی ۔ دا سے شان خلق چه کله په اتفاق سره په هره زمانه کښے د اخبره کوی چه قیامت به راځی او حشر نشر به کیږی نو دا لیونتوب ګنړل پخپله لیونتوب دے ۔

په اوچت چت (یعنی په آسمان) او په چپو وهونکی سمندر قسم ځکه خوړلے شوے دے چه دا دواړه خیزونه د اللہ په حکمت او د هغه په قدرت دلالت کوی او د دے حکمت او قدرت نه د آخرت امکان هم ثابتیږی او د آخرت راتلل هم ۔ د آسمان په دلالت باندے دا دے نه مخکښے مونږ د سورۃ ق په تفسیر حاشیه ۷ کښے خبری کړی دی ۔ پاتے شو سمندر، نو هر هغه څوک چه د انکار فیصله ئے د مخکښے نه په خیال کښے نه وی، دے ته د غور په نظر سره اوګوری نو د هغه زړه به داګواهی ورکوی چه په زمکه کښے دومره ډیرے اوبه ساتل پخپل ځای یوه دا سے کاریګری ده چه هغه هیڅکله د یوے اتفاقی حادثے نتیجه نه شی کیدے ۔ بیا د هغے سره دومره بے شماره حکمتونه ترلے شوی دی چه اتفاقاً دا سے حکمتی نظام قایمیدل ممکن نه دی ۔ په سمندر کښے بے حسابه ځناور پیدا کړے شوی دی د هر قسم ځناور جسمانی نظام ټیک د هغه ژور والی مناسب جوړ کړے شوے دے په کوم کښے چه هغه اوسی ۔ د هغے اوبه مالګینے جوړے کړے شوی دی د پاره دا دے چه په هغے کښے روزانه کوم په کروړونو ځناور مړه کیږی چه هغه ټولے نه شی ۔ د هغے اوبه د یو خاص حده پورے په دا سے طریقه رابندے ږه شوی دی چه نه خو هغه د زمکے په دې زونو کښے بنکته د زمکے خیټے ته کوزیږی او نه وچے ته راخیږی، بلکه د لکونو کروړونو کلومتو راسے هم په دغه یو حد ولاړ دی ۔ دا دے دومره ډیرو اوبو برقرار پاتے کیدو سره د زمکے په وچه حصه باندے د باران انتظام کیږی چه په هغے کښے د نمر کرښی او د هوا کا نو چلن د هغے سره برابر امداد کوی ۔ د هغے د آبادیدو او په هغے کښے د قسما قسم مخلوقاتو د پیدا کیدو نه دا فایده حاصله شوی ده چه انسان د هغے نه خپل خوراکونه او د خپل ضرورت ډیر څیزونه په زیات مقدار کښے حاصلوی ۔ په یو حد باندے د سمندر د اوبو د وږدیدو د وجے نه د زمکے هغه وچے حصے قایمے دی چه په هغے انسانان وسیږی ۔ او د سمندر اوبه چه د کوم خاصے قاعدے په سختئ سره پابندی کوی د هغے د وجے نه د اوبو په مخ د کشتئ او د جهازونو چلول ممکن شوی دی ۔ د یو حکیم د حکمت او د یو طاقتور د طاقت نه بغیر دا انتظام د چا په خیال کښے هم نه شی راتلے اونه دا د د چا په خیال کښے راتلے شی چه د انسان او د زمکے د نور و مخلوقاتو د مفاد و سره د سمندر د دے د انتظام داژور تعلق بس په اتکل باندے قایم شوے دے ۔ اوس که چرے واقعی دا د دے خبری یر مضبوط شهادت دے چه یو حکیم او قادر خدائے په زمکه باندے د انسان د آباد ولو د پاره د نورو بے شمارو انتظامونو سره دا مالګین سمندر هم د دے شان سره پیدا کړے دے نو هغه سړے به سخت بے وقوف وی چه د هغه حکیم ذات نه د دے به وقوفتیا امید لری چه هغه خربه د دے سمندر په ذریعه د انسان د فصلونو اوبه کولو او د هغے په ذریعه انسان له د رزق ورکولو انتظام کوی لیکن د انسان نه به هیڅکله دا تپوس نه کوی چه تاسو ما د رزق حق څنګه ادا کړو، او هغه خوبه د سمندر په سینه باندے انسان له د کشتئ او د جهازونو زغلولو قدرت ورکوی لیکن د هغه نه به دا تپوس هیڅکله نه کوی چه تا دا کشتئ او جهازونه د حق د پاره زغلولی وو او که د دے په ذریعه د په دنیا کښے لوټ مار کړے وو ۔ د هغه شان دا خیال کول هم ډیره د بے عقلئ خبره ده چه د کوم قادر مطلق ئے د قدرت

وَتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ﴿١٠﴾ فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١١﴾
الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ ﴿١٢﴾ يَوْمَ يُدَعُّوْنَ إِلٰى نَارِ
جَهَنَّمَ دَعًّا ﴿١٣﴾ هٰذِهِ النَّارُ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿١٤﴾

اوغرونه به په هوا کړي[۸] - تباهي ده په هغه ورځ ټاهغه دروغ ګڼونکو خلقو دپاره چه هغوی نن د لوبو په طور په خپلو دلیل بازوکښې مشغوله[۹] دی - په کومه ورځ چه هغوی د دوزخ وُورته په دیکو دیکو بوتلے کیږی په هغه وخت به هغوئ ته اُووئیلے شی چه " داهم هغه وُور دے کوم چه به تاسو دروغ ګڼلو ،

دا یوه ادنیٰ کارنامه ده چه داعظیم الشان سمندرئے پیدا کړے دے ، چه هغه په دے آویزانه اوچوُر لید ونکی زمکه باندِ د اوبو دومره لویه ذخیره را بنده کړی ده ، چه هغه دومره ډیره مالکه په دے کښے ویلی کړی ده ، چه هغه په دے کښے قِسما قِسم بے شماره مخلوق پیدا کړی دی او د هغوی د روزئ انتظام ئے په هغے کښے د ټنه کړے دے ، چه هغه هرکال په اربونو ټنه اُوبهٔ د دِے نه اُوچتوی او د هوا په ذریعه ئے وُچو علا قوته وُړی او هلته په باقاعدګئ سره بارانونه وَرَوی ، نوهغهٔ اګرچه انسان یوځل پیدا کړے دے خو بیا دوباره ئے که پیدا کول غواړی هم نونهٔ ئے شی پیدا کولے -

[۸] اصل الفاظ دی تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا - مَور په عربئ ژبه کښے چُور لیدو، لوټ کاږی اړولو ، تالئ وهلو، چور لکونو خوړلو او بار بار مخکښے روستو کیدو ته وئیلے شی - د قیامت په ورځ چه به د آسمان څه حالت وی هغه په دے الفاظو سره بیان کړے شوے دے او دے خبری ته د انسان فکر راګرزولے شوے دے چه په هغهٔ ورځ به د عالم بالا پټول نظام ګډوډ شی او کټونکے چه کله آسمان ته ګوری نوهغه ته به داسے بنکاری چه هغه مضبوطه نقشه چه همیشه به په یوشان سره بنکاریدله بالکل ګډوډه شوی ده او هرطرفته آړے ګړے شروع دے -

[۸] یعنی د زمکے هغه ټرون چه غرونه ئے را ټینګ کړی دی ، هغه به پرانستے شی او غرونه به د وینے نه راوځی او په هوا کښے به داسے اُلوزی لکه چه وریځے اُلوزی -

[۹] مطلب دا دے چه د نبیؐ نه کله د قیامت او د آخرت او د جنّت او د دوزخ خبری واوری نو په هغے پورے ټوقے کوی او په هغے باندِ د سوچ فکر کولو په ځائے د ځان خوشحالولو د پاره په هغے پورے خندا ګانے کوی - هغوی چه په آخرت باندِ بحثونه کوی نو د دے نه د هغوی مقصد په حقیقت باندِ د ځان پوهه کولو کوشش نهٔ وی بلکه یوه لوبه ده چه خپل زړونه پرِ خوشحالوی او او د هغوی وے ته هیڅ فکر نشته چه په حقیقت کښے هغوی د کوم انجام سره مخ کیدو ته روان دی -

أَفَسِحْرٌ هٰذَآ أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ﴿١٥﴾ اصْلَوْهَا فَاصْبِرُوٓا
أَوْ لَا تَصْبِرُوا سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ
تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَٰكِهِينَ
بِمَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ ۚ وَوَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ﴿١٨﴾
كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيٓـًٔا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِـِٔينَ

اُوس اُوا ئیٔ چه داجادو دے اوکه تاسوته په نظر نه ٔ راځئ ؟ ځئ اُوس سوزئ په دے کښے ، تاسوکه صبر کوئ اوکه نه ٔ کوئ ، دواړه تاسوله یوبرابر دی ، تاسوله هم هغسے بدله درکړے کیږی لکه څنګه چه به تاسوعمل کوؤ ۔

متقیان خلق[10] به هلته په باغونواو نعمتونوکښے وی ، مزے به اخلی د هغه څیزونو نه کوم چه به ورله خپل رب ورکوی ، اوخپل رب به ئے د دوزخ د عذاب نه بچ کړی[11] ۔ (هغوی ته به اووئیلے شی) ښه په مزه سره خورئ ځکئ د خپلو هغو عملونو په بدله کښے کوم چه به تاسوکول ۔ هغوی به یو بل ته مخامخ په غوړیدلو

[10] یعنی په دُنیا کښے چه به کله رسول تاسو د دے دوزخ د عذاب نه یَرَوَلئ نو تاسو به وئیل چه داهسے د خبرو جادوګری ده چه زمونږ نه پرے وقوفان جوړ وی ۔ اُوس اُوا ئیٔ چه داکوم دوزخ ستاسو مخے ته دے آیا داد هغه جادوکارنامه ده اوکه اُوس هم ستاسو په عقل کښے نه ٔ راځی چه واقعی داهم هغه دوزخ دے د کوم خبرچه به تاسوته درکړے کیدو ۔

[11] یعنی هغه خلق چه هغوی په دُنیا کښے د پیغمبرانو په خبره ایمان راوړو اوخپل ځان ئے بچ کړو او د هغه ګرونواوکارونونه ئے پرهیز اُوکړو چه په هغے سره انسان د دوزخ مستحق کیږی ۔

[12] جنّت ته د داخلولو ذکر کولو نه روسته بیا د دوزخ نه د بچ کولو ذکر په ظاهره بے حاجته بنکاری ۔ لیکن په قرآن مجید کښے په ډیرو ځایونو کښے داد واړه خبرے په یوځای جُدا جُدا بیان کړے شوی دی چه د دوزخ نه د بچکیدل پخپل ځائے یو ډیر لوئ نعمت دے اوداهغه زمان چه " الله هغوی د دوزخ د عذاب نه بچ کړل " په اصل کښے اشاره ده دے حقیقت ته چه د دوزخ نه بچکیدل هم خاص د الله په فضل سره کیدے شی ، کنئ نوانسانی کمزوریانے د هرسړی په عمل کښے داسے خامیانے راپیدا کوی چه که چرے الله تعالیٰ په خپله مهربانئ سره هغه معاف نه کړی او سخت حساب کتاب ورسره شروع کړی نو هیڅوک هم د سزا نه نه شی بچ کیدے ۔ داوجه ده چه جنّت ته ننوتل د الله تعالیٰ څومره لوئ نعمت دے د هغے نه کم نعمت دا نه ٔ دے چه سړے د دوزخ نه بچ کړے شی ۔

عَلٰى سُرُرٍ مَّصْفُوْفَةٍ ۚ وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴿٢٠﴾ وَالَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِاِيْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ
وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ ۭ كُلُّ امْرِئٍۢ بِمَا كَسَبَ

تختونو باندې وهلی وی اوناست به وی اوموبز. به د بنایسته ستر کو حورو هغوی ته واده کړو۔ کومو خلقو چه ایمان راوړے دے اود هغوی اولادهم د ایمان په یوه درجه کښے د هغوئ په قدم پسے تلی دی نود هغوئ هغه اولاد به هم موبزه (په جنت کښے) د هغوی سره یوځائے کړو اود هغوئ په عمل کښے به هغوی له څه نقصان نه ورکوو۔[15] هرسړے د خپلے کیتے په بدله کښے

[13] دلته لفظ "بنهٔ په مزه سره" ډیر فراخه مطلب لری ۔ په جنت کښے چه انسان ته څه ملاویږی هغه بے محنته بے مشقته هغه ته ملاویږی ۔ د هغے د خمیدو یا په هغے کښے د کمی راتلو هیڅ یره به نه وی ۔ د هغے د پاره به انسان هیڅ نه خرچ کوی ۔ هغه به بالکل د هغه د خواهش او د هغه د زړه مطابق وی ۔ څومره چه غواړی او کله چه غواړی هغومره به په هغه وخت حاضر کړے کیږی ۔ هلته به هغه د میلمه په طور نه وی چه په څه غوښتلو سره به شرمیږی بلکه ټول هرڅه به د هغه د خپلو عمل دو بدله وی او د هغهٔ د خپلے کیتے نفع به وی ۔ د هغه د خوراک ځکاک نه به چاته د مرض خطره نه وی ۔ هغه به د لوږے خمولو د پاره نه وی بلکه صرف د خوند حاصلولو د پاره به وی اوسړے چه تر څومره خوند حاصلول غواړی هغومره به حاصلولے شی او د هغے د وجے نه به پر بد هضمی نه راځی ۔ او هغه خوراک به څه قسم کندګی هم نه پیدا کوی ۔ داوجه ده چه په دنیا کښے د مزه ناک خوراک ځکاک کوم مطلب دے په جنت کښے به د مزه ناک خوراک ځکاک مطلب د هغے نه په څوڅو چند اعلیٰ اواوچت وی ۔

[14] د تشریح د پاره اوګورئ تفهیم القرآن څلورم جلد، تفسیر د سورة الصافات حاشیے ۲۶ - ۲۹ ۔ الدخان، حاشیه ۴۲ ۔

[15] داخبره د دے نه مخکښے د سورة رعد په آیت ۲۳ کښے او د سورة مومن په ۸ آیت کښے تیره شوی ده، لیکن دلته د هغه دواړو څلیرونو نه هم یوه ډیره زیاته خوشخبری اورولے شوی ده ۔ د سورة رعد په آیت کښے صرف دومره خبره شوی وه چه د جنتیانو په پلار نیکونو کښے او د هغوی په اولاد کښے او د هغوی په بیبیانو کښے چه کوم خلق نیکان صالحان وی هغوی به ټول د هغوی سره جنت ته ننوزی ۔ او په سورهٔ مؤمن کښے وئیلے شوی وُو چه فرښتے د مومنانو په حق کښے د الله تعالیٰ نه دُعا غواړی چه د هغوی په اولاد کښے او د هغوی په بیبیانو کښے او د هغوی په پلارانو کښے کوم صالحان وی هغوی هم په جنت کښے د هغوی سره یوځائے کړے ۔ دلته د دے دواړو آیتونو نه زیاته کومه خبره چه شوی ده هغه دا ده چه که چرے اولاد د ایمان د څه نه څه درجه کښے هم د خپلو پلارانو پیروی کړی وی، نو اګر چه هغوی به د خپل عمل په لحاظ سره د هیڅ مرتبے حقدار نه وی کومه مرتبه چه د هغوی پلارانو ته د هغوی د ښه ایمان او د ښه عمل په وجه حاصله شوی وی، خوبیا به هم دا اولاد د خپلو پلارانو سره

رَهِيْنٌ ﴿۲۱﴾ وَاَمْدَدْنٰهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَّلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۲۲﴾

کانړه[16] دے - مومن به هغوئ له هر قسم میوے او غوښے[17]، او چه څه څیز د هغوئ زړه غواړی، ډیر ډیر ورکوو -

یوځای کړے کیږی - او دا یوځای کیدل به داسے نه وی لکه څنګه چه څوک وخت په وخت د چا سره ملاقات کوی، بلکه دا د "دپاره اَلْحَقْنَا بِهِمْ" الفاظ استعمال کړے شوی دی چه د هغے مطلب دا دے چه هغوی به په جنّت کښے د هغوئ سره یوځای ساتلے کیږی - او په دے د پاسه دا تسلی ورکړے شوی ده چه د اولاد سره د ملاویدو د پاره به پلار ان لائق درجے ته نه راکوزوَ لے کیږی، بلکه د پلار انو سره د ملاویدو د پاره به اولاد برَه درجے ته رسَولے کیږی -

دلته په دے خبره هم ځان پوهه کول پکار دی چه دا حکم د هغه بالغ اولاد په باره کښے دے چه هغوی څلمیتوب ته رسیدلی وی او په خپل اختیار او په خپلے ارادے سره ئے د ایمان راوړلو فیصله کړی وی او چه هغوی په خپله مرضئ سره د خپلو نیکانو مشرانو په نقش قدم تلی وی - پاتے شو د یو مومن هغه اولاد چه هغوی څلمیتوب ته د رسیدو نه مخکښے مړه شوی وی نو د هغوی په معامله کښے د کفر او د ایمان د حکم منلو اونه منلو هډوځه خبره نشته - هغوی خو به هسے هم جنّت ته ځی او د هغو د پلار انو د خوشحالئ د پاره به د هغوی سره وُسی -

[16] دلته د لفظ "رهن" استعمال د معنیٰ نه وک دے - یوسړے چه د چا نه قرض واخلی او قرض ورکونکے د ضمانت په طور د هغه نه څه څیز د ځان سره کانړه کیږدی نو تر څو چه قرض اغستونکی قرض نه وی ورکړے تر هغے قرض غوښتونکے کانړه نه ورکوی، او که چرے د مقرر شوے نیټے د تیریدو نه روسته هم هغه خپله کانړه خلاصه نه کړی یعنی قرض ورنه کړی نو هغه کانړه شوے څیز ضبط شی - د انسان او د خدائے په منځ کښے د معاملے تشبیه په دے طریقه ورکړے شوی ده - الله تعالیٰ چه انسان له کوم څیزونه، کوم طاقتونه او صلاحیتونه او کوم اختیارات په دُنیا کښے ورکړی دی هغه لکه یو قرض دے چه مالک خپل بنده له ورکړے دے، او د دے قرض په ضمانت کښے د بنده نفس د خدائے سره کانړه دے - بنده که چرے دا څیزونه او دا طاقتونه او دا اختیارات په صحیح طریقه استعمال کړی او هغه نیکی او کتې چه په هغے دا قرض ختمیدے شی نو هغه به خپل کانړه شوے نفس آزاد کړی، کنئ نو دا به ضبط کړے شی - په تیر شوی آیت پسے جوخته دا خبره څکه اوکړے شوه چه مومنان صالحان که په خپل ځائے هر څومره د لوئے مرتبے خلق وی خو د هغوی د اولاد کانړه بغیر د دے نه نه ئ شی خلاصیدے چه هغوی پخپله پخپل محنت سره خپل نفس آزاد کړی - د پلار نیکه په کتې اولاد نه ئ شی آزادیدے البته اولاد که چرے د ایمان په یوه درجه سره او د نیکانو خلقو په پیروئ سره خپل ځان آزاد کړی نو بیا دا د الله فضل او کرم دے چه په جنّت کښے هغوی د پلار نیکه سره د ملاویدو د پاره د لائق مرتبے نه اوچتے مرتبے ته بوځی - د پلار نیکه د نیکو دا فایده خو اولاد ته ملاویدے شی، لیکن که چرے هغه په خپل عمل سره خپل ځان د دوزخ مستحق کړی نو دا څنګه کیدے شی چه هغوی د پلار نیکه د خاطره جنّت ته اوُرسولے شی - د دے سره دا خبره هم د دے آیت نه راوُځی چه د

يَتَنَازَعُونَ فِيهَا كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ﴿٢٣﴾ وَيَطُوفُ
عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ

هلته به هغوئ د شرابو جام د يوبل نه په لاس لاس کښې زرزر زغلوی - چه په هغې کښې به نهٔ اوتے بوتے وی اونهٔ به پکښې بدکرداری[18] وی - او د هغوئ په خدمت کښې به هغه هلکان منډی وهی چه هم د هغوئ د پاره به خاص کړے شوی[19] وی ، داسے ښائسته لکه پټے سائلی شوی ملغلری - د اخلق به په خپلو کښې د يوبل نه (د د نيا د تير و شوو) حالاتو

کے درجے نيکان اولاد د لوئے درجے نيکانو پلارانو سره يوځائے کول په اصل کښې د هغه اولاد د عمل نتيجه نهٔ ده بلکه د هغه پلارانو د عمل نتيجه ده - هغوی به په خپل عمل سره د الله تعالیٰ د د ے فضل مستحق وی چه د هغوی د زړه خوښالو د پاره يې د هغوئ اولاد د هغوئ سره يوځائے کړے شی - په د ے وجه الله به دا سے نهٔ کوی چه د پلارانو درجه به کمه کړی او د اولاد خواله به ئے بوځی بلکه د اولاد درجه به اوچته کړی او د پلارانو خواله به ئے بوځی ، د پاره د د ے چه د نعمتونو مستحق پلاران د خپل اولاد نه په جُدا کيدو خفګان اونهٔ کړی او د خدائے په نعمتونو کښې د د ے نعمت کمے پاتے نهٔ شی -

[17] په د ے آيت کښې جنتيانو ته مطلقاً د هر قسم غوښې ورکولو ذکر دے ، او د سورة واقعه په آيت ۲۱ کښې فرمائيلے شوی دی چه جنتيانو له به د مرغ غوښې ورکړے کيږی - دا خبره مونږ ته ټيک ټيک معلومه نهٔ ده چه دا به څه قسم غوښه وی - ليکن د قرآن په حُسنو بيانا تو کښې او په حُسنِ احاديثو کښې د د جنّت د پيوپه حقله ويلے شوی دی چه هغه به د څارو د تيونو نه وی راوتلی ، او د جنت د شحمُ په حقله ويلے شوی دی چه هغه به مچونهٔ وی جوړ کړی ، او د جنّت د شرابو په حقله ويلے شوی دی چه هغه به د ميوُو پخور شوی اُوبه نهٔ وی بلکه د الله په قدرت سره به دا څيزونه د چينونه را اُوزی او په نهرونو کښې به بهيږی ، د د ے نه سړے دا قياس لګولے شی چه د جنّت غوښه به هم د څارو و غوښه نه وی بلکه دا به هم قدرتی طور پيدا کيږی - کوم خدائے چه د زمکے د څيزونو نه نبغ په نيغه پټئ ، شحمُ او شراب پيدا کولے شی د هغه د قدرت نه دا بعيد نهٔ ده چه د هغه څيزونو نه داسے خوند تاکه غوښه پيدا کړی چه هغه د څارو و د غوښے نه هم په خوند کښې زيات بهتره وی (د زيات تشريح د پاره اُوګورئ تفهيم القرآن څلورم جلد ، تفسير د سورة صافات ، حاشيه ۲۵ - پنځم جلد ، تفسير د سورة محمد ، حاشيے ۲۱ تا ۲۳) -

[18] يعنی هغه شراب به نشه نهٔ راوړی چه سړے ئے اُوښکی نوکنی نشه کيږی به او فضول بکواس به کوی ، يا به شور شغف اوکړی کوی ، يا به هغسے کارونه کوی لکه څنګه چه په د نيا کښې يو شرابی سړے کوی - (د زيات تشريح د پاره اُوګورئ تفهيم القرآن څلورم جلد ، تفسير د سورة صافات ، حاشيه ۲۷) -

[19] په د ے ټکی غور پکار دے چه غِلْمَانٌ نُهُمْ نهٔ بلکه غِلْمَانٌ لَّهُمْ فرمائيلے شوے دے - که غِلْمَانُ نُهُمْ ويلے شوے وے نو دا ګمان کيدے شوچه په د نيا کښې د هغوی کوم خادمان وُو هم هغوی به په جنت کښې د هغوی خادمان وی ، حالانکه د د نيا کوم سړے چه جنّت ته ځی هغه به د خپل عمل په وجه ځی او داکيدے نهٔ شی چه څوک جنّت ته لاړ شی هغه به هم

عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿٢٥﴾ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا
مُشْفِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقٰىنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾
اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ ﴿٢٨﴾
فَذَكِّرْ فَمَآ اَنْتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَّلَا مَجْنُوْنٍ ﴿٢٩﴾

تپوسونه کوی - دوی به وائی چه مونږ به مخکښې د خپل کور په خلقو کښې په یره یره ژوند تیرولو[۲۰]، آخرچه الله را باندې فضل اوکړو او مونږه ئې د سوزونکې[۲۱] هوا د عذاب نه بچ کړو - مونږ به په تیرشوی ژوند کښې هم د هغه نه دُعا کانې غوښتله، واقعي چه هغه پیر احسان کوونکے او رحم کوونکے دے - ع

نوا ے نبیؐ، ته نصیحت کوه، ته د خپل رب په فضل سره نه کاهن[۲۲] ئے اونه لیونے -

د هغه خپل نائیک نوکروی د کوم چه ده په دُنیا کښې خدمت کولو - بلکه داهم کیدے شی چه یونوکر د خپل عمل په وجه د خپل نائیک په نسبت اُوچته مرتبه په جنّت کښې حاصله کړی - په دے وجه غِلْمَانٌ لَّهُمْ استعمال کړے شوا ودے گمان را تلو کښې ئے پرې نه ښودو - دالفظ د دے خبرې څرګندونه کوی چه دا به هغه هلکان وی چه په جنّت کښې به د هغوی د خدمت د پاره خاص کړے شوی وی (د زیاتے تشریح د پاره اُوګورئه تفهیم القرآن څلورم جلد، تفسیر د سورۂ صافات، حاشیه ۲۶) -

۲۰ یعنی مونږه هلته د دُنیا په عیش عشرت کښې اخته نه وُو چه کنی د غفلت ژوند موتیږ وُو، بلکه زمونږ سره به هروخت دا یره وی چه چرته داسے کار رانه اُونه شی چه په هغې مونږه خدائ را اونیسی - دلته خاص طور د خپل کور په خلقو کښې په یره یره د ژوند تیرولو ذکر په دے وجه شوے دے چه سړے د ټولو نه زیات په کومه وجه په ګناهونو کښې اخته کیږی هغه د خپل بال بچو د عیش او د هغوی د دُنیا جوړولو فکر دے - هم د دوئ د پاره سړے حرام کړی، د بل حقونه څان ته راکاږی او قسما قسم ناجائزه کارونه کوی - په دے وجه جنتیان به په خپلو کښې وائی چه خاص طور د کوم څیز په وجه مونږ د خراب انجام نه بچ شو هغه داوُوچه مونږ به په دُنیا کښې کله د خپل بال بچو سره ژوند تیرولو نو زمونږ سره به د هغوئ د عیش او د هغوی د دُنیا جوړولو فکر دومره نه وُو لکه څومره چه به راسره د دے خبرې فکر وُوچه چرته د هغوئ د خاطره هغه لارے چارے اختیار نه کړو چه په هغې سره آخرت برباد شی، او خپل اولاد هم په داسے لارو روان نه کړو چه هغوئ پرې د عذاب مستحق شی -

۲۱ په اصل کښې لفظ سَمُوم استعمال شوے دے چه معنی ئے سخته ګرمه هوا ده - دا دے نه مُراد د ګرمے هوا هغه شُغلے دی چه د دوزخ نه به اُوچتیږی -

۲۲ د آخرت په حقله د بحث کولو نه روستو اُوس خبره د مکّے کافرانو ته راواړوی -

د مکې کافرانو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت په مقابله کښې کوم ضد ټینګ کړې وُو اُوس په هغې بحث کیږی۔ دلته په ظاهرُ خو خبره نبیؐ ته ده لیکن په اصل کښې دا خبری د هغه په واسطه سره د مکې کافرانوته اَورَوَل مقصد دی۔ هغوی ته چه به کله نبیؐ د قیامت، د حشر نشر، د حساب کتاب او د جزا سزا او د جنت دوزخ خبری کولے، او د دے مطابق چه به ورته هغه د قرآن مجید آیتونه اَورَوَل او دا دعویٰ به ئے کوله چه دا خبری ماته د الله تعالیٰ د طرفنه راغلی دی او دا د الله کلام دے چه په ما باندِ د وحی په ذریعه نازل شوے دے، نو د هغوی سړو اړانو او مذهبی مشرانو او غنډه کانو خلقو به د هغه په دے خبرو د پوهے په غرض نهٔ پخپله غور کولو، اونهٔ به ئے دا غوښتله چه عام خلق ډے خبرو ته توجه اُوکړی۔ نو په دے وجه هغوی به کله وئیل چه دے کاهن دے اوکله به ئے وئیل چه دے لیونے دے اوکله به ئے وئیل چه دے شاعر دے، اوکله به ئے وئیل چه دے د ځانه نا اشنا خبری جوړوی او بیا وائی چه دا خدائے وحی نازله کړی ده۔ د هغوی داخیال وُو چه په دے خبرو به هغوی خلق د هغه نه بدکمانه کړی او د هغه ټولے خبری به بے اثره شی۔ په دے حقله فرمائی چه اے نبی، واقعی حقیقت خو هم دغه دے کوم چه، د سورۃ د شروع نه د دے ځائے پورے بیان شوے دے، اُوس که چرے داخلق په دے خبرو تاته کاهن اولیونے وائی نو هیڅ پروا مه کوه او د خدائے بندګان د غفلت نه بیدار وه او د حقیقت نه ئے خبردار وه، ځکه چه د خدائے په فضل سره نهٔ تهٔ کاهن ئے او نهٔ لیونے۔

کاهن په عربی ژبه کښے جوګی، غیب ویونکی اوچالاک سړی ته وائی۔ د جاهلیت په زمانه کښے دا یوه مستقله پیشه وه۔ کاهنانو به دعویٰ کوله، او د کمزورے عقیدے خلقو به هم د هغوی په حقله دا سے ګڼله چه هغوی د ستورو په حالاتو پوهیږی، یا د اړواحانو او د شیطانانو او د پیریانو سره د هغوی خاص تعلق دے چه د هغې په وجه هغوی د غیبو خبری معلومولے شی۔ چه څه څیز ورک شی نو هغوئ ئے معلومولے شی چه هغه په کوم ځائے کښے پروت دے۔ چه غلا وُشی نو هغوئ سنوولے شی چه غل څوک دے۔ چه څوک د خپل قسمت په حقله تپوس اُوکړی نو هغوئ ورته وئیلے شی چه د هغهٔ په قسمت کښے څه لیکلے شوی دی۔ د دے کارونو د پارهٔ به خلق هغوی له تلل اوهغوی به ترِ نذرانے اوشکرانے اغستلے او د غیبو خبری به ئے ورته کولے۔ هغوی به اکثر پخپله هم په کوڅو کښے نعرے وهلے چه خلق ورته توجه اُوکړی۔ د هغوی به یو خاص قسم جامے او شکل وُو چه خلق به پیژندل۔ د هغوی ژبه به هم د عامے وینانه مختلفه وه۔ هغوی به د شاعرئ په رنګ قافیه دارے خبری په خوند خوند کولے او عام طور دا سے ګڼل مول فقرے به ئے استعمالولے چه هر سړی به ترِ د خپل مطلب خبره را ایستله۔ د قریشو سړو اړانو عوامو له د دوکے ورکولو د پاره په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندِ د کاهن الزام صرف په دے وجه اُولګوئ چه نبیؐ به د هغه حقیقتونو په حقه خبرے کولے کوم چه د خلقو د نظر نه پناه وُو او هغه به دا دعویٰ کوله چه د خدائے د طرفنه یوه فرښته په ما وحی نازلوی، او د خدائے کوم کلام چه به هغه پیش کوُو هغه هم قافیه دار وُو۔ لیکن په عربو کښے هیڅوک

أَمْ يَقُولُونَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِ رَيْبَ الْمَنُونِ ﴿٣٠﴾ قُلْ
تَرَبَّصُوا فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾ أَمْ تَأْمُرُهُمْ

آیا داخلق وائی چه دے شاعر دے او مونږ ددۀ پۀ حق کښے د زمانے دگردش انتظار کوؤ؟[۲۳]
دوئی ته اووایه بنه د انتظار کوئ، څه هم ستاسو سره انتظار کوم[۲۴]۔ آیا دوئی ته خپل عقلونه

د هغوئ په دے الزام نۀ شو دوکه کیدے ۔ ځکه چه د کاهنانو د پیشے، د هغوئ د شکل و شباهت، د خبرو اترو، او د هغوئ د کاروبار نه هیڅوک ناخبره نۀ وُو۔ هرچانه معلومه وه چه هغوئ څه کارکوی، خلق هغوئ له د څه مقصد د پاره حُی، هغوی خلقو ته څه څه خبری کوی، د هغوئ قافیه دارے فقرے څنګه وی او په هغے کښے څه مطلب پروت وی ۔ او د ټولو نه غټه خبره داده چه د کاهن سړی به هیڅو دا کار نۀ وُوچه د قوم د موجوده عقیدے خلاف یوه عقیده را اُوچته کړی او شپه وُرځ د هغے په تبلیغ کښے منډے ترپے وهی او د هغے د خاطره د ټول قوم دُشمنی په خپل سر واخلی ۔ دا وجه وه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د کهانت دے الزام هیڅوڅه دا سے سَمُون نۀ خوړو چه دا الزام په هغه لګیدلے وے او د عربو یوبے وقوف انسان پرے دوکه شوے وے ۔

دغه شان په نبیؐ به د لیونی الزام هم د مکے کافرانو تش د خپل زړه د تسلئ د پاره لګولو لکه څنګه چه د ننه زمانے څینی بے شرمه مغربی لیکوالان د اسلام خلاف د خپلے غصے سړولو د پاره دا دعوئ کوی چه په نبی به (معاذالله) د مرګی (Epilepcy) دوره راتلله او دده دوړو په حالت کښے چه به څه د هغه د خلے نه وتل خلقو به هغه وحی ګڼله ۔ دا سے فضول الزامونو ته نۀ په هغه زمانه کښے د یو عقلمند سړی توجه تلله او نۀ په ننه زمانه کښے چه څوک قرآن اُولګوَلی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مشرئ لاندے حیرا نۀ ځنکی کارنامے اُوویني، دا باور کولے شی چه دا ټول هرڅه د مرګو د دوړو کارنامے دی ۔

۲۳ یعنی مونږه په انتظار کښے یو چه په دے سړی څه آفت راشی او په څه طریقه ترے مونږه خلاص شو ۔ غالباً چه د هغوی خیال دا وُو چه محمد (صلی الله علیه وسلم) خو زمونږ د معبودانو مخالفت کوی او د هغوئ کرامات نۀ منی، یا خو به پرے زمونږ د معبودانو قهر نازل شی، یا به یو زړور سړے دده په دے خبرو غصه شی او قتل به ئے کړی ۔

۲۴ د دے دوه مطلبونه کیدے شی ۔ یو داچه څه هم ګورم چه ستاسو دا آرزو پوره کیږی اوکه نۀ ۔ دویم داچه څه هم انتظار کوم چه سزا به ځماوی اوکه ستاسو ۔

أَحْلَامُهُمْ بِهٰذَآ أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٣٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ ۚ
بَل لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ إِن كَانُوا صَٰدِقِينَ ﴿٣٤﴾

دَ دا سے خبرو حکم کوی؟ یا دوئ پہ ضد کښے دَ حد نہ اوړید ونکی خلق دی؟ [۲۵]
آیا دوی وائی چہ دے سړی دا قرآن پخپلہ دَ ځان نہ جوړ کړے دے؟ اصل خبرہ دا ہ چہ دوئ ایمان راوړل نہ غواړی۔ [۲۶] کہ دوئ پہ دے خپلہ ویناکښے ریښتینی وی نو دَ دے غوندے یو کلام دِ جوړ کړی اوړ اوړی۔

۲۵ پہ دے دوو فقرو کښے دَ مخالفینو دَ تولے پروپیګنډے حقیقت بالکل بنکارہ کړے شوے دے۔
دَ دلیل خلاصہ دادہ چہ دا دَ قریشو سرداران او هوښیاران خو ځان تہ عقلمند خلق وائی، خو آیا دَ دوئ عقل دوی تہ دا وائی چہ کوم سړے شاعر نہ دے هغہ تہ شاعر اوو ایئ، چہ ټول خلق ورتہ هوښیار سړے وائی هغہ تہ لیونے اوو ائی، او چہ دَ کوم سړی دَ ګهانت سره څہ لرے تعلق هم نشتہ هغہ تہ خامخا کاهن اوو ایئ۔ او بیا کہ دَ عقل پہ بُنیاد باندے دوئ څہ حکم لګولے نو یو حکیم بہ ئے لګولے وے۔ او پر مخالف حکمونہ خوئے پہ یو وخت نہ شو لګولے۔ یو سړے پہ یو وخت کښے هم شاعر او هم لیونے او هم کاهن څنګہ کیدے شی۔ کہ هغہ لیونے وی نو نہ شاعر کیدے شی او نہ کاهن۔ کہ کاهن وی نو شاعر نہ شی کیدے، او کہ شاعر وی نو کاهن نہ شی کیدے، ځکہ چہ دَ شعر خبرې او بحث جُدا وی او دَ ګهانت خبرې او بحث جُدا وی۔ یو کلام تہ پہ یو وخت هم شعر وئیل او هم ګهانت وئیل دَ دا سے سړی کار نہ شی کیدے چہ هغہ دَ شعر او دَ ګهانت پہ فرق پوهیږی۔ بس دا بالکل بنکارہ خبرہ دہ چہ د محمّد صلی اللہ علیہ وسلّم پہ مخالفت کښے دا مختلفے مختلفے خبرې د عقل پہ بُنیاد نہ کیږی بلکہ سراسر دَ ضد او دَ کینے پہ بنیاد باندے کیږی۔ دا ودَ قوم دا لوئ لوئ سرداران دَ حسد او دَ کینے پہ جوش کښے پاتہ شوی دی او دا سے کاواک الزامونہ لګوی چہ پوهہ انسان پرې هیڅ پروا نہ لری۔ (دَ زیاتے تشریح دَ پارہ اوګورہ تفہیم القرآن دویم جلد، الاعراف، حاشیہ ۱۰۴۔ یونس، حاشیہ ۳۔ بنی اسرائیل، حاشیے ۵۳۔ ۵۴۔ دریم جلد، الشعراء، حاشیے ۱۳۰، ۱۳۱، ۱۴۰، ۱۴۲، ۱۴۳، ۱۴۴)۔

۲۶ یعنی دَ دے آیت مطلب دادے چہ دَ قریشو کوم خلق قرآن تہ دَ محمّد صلی اللہ علیہ وسلّم خپل جوړ کړے کلام وائی هغوی پہ خپلہ پہ خپل زړہ کښے پہ دے پوهہ دی چہ دا دَ محمّد کلام نہ شی کیدے، او نہ یو از دے اهلِ زبان خلق پہ دے پوهیدل چہ دا کلام دَ انسانی کلام نہ پر اعلیٰ او پر اوجت دے بلکہ پہ هغوی کښے چہ څوک هم دَ محمّد صلی اللہ علیہ وسلم نہ واقف وُ هغہ داګمان نہ شوکولے چہ دا واقعی دَ هغہ کلام دے۔ نو بس سیدہ صفا خبرہ دادہ چہ څوک قرآن مجید دَ نبی جوړ کړے کتاب ګڼری هغوی پہ اصل کښے ایمان نہ راوړل غواړی ځکہ هغوی قسماً قسم دَ دروغو بهانے جوړوی چہ پہ هغے کښے یو بهانہ دا هم دہ۔ (دَ زیاتے تشریح دَ پارہ اوګورہ تفہیم القرآن دویم جلد، یونس، حاشیہ ۲۱، دریم جلد الفرقان حاشیہ ۱۲۔

القصص، حاشیہ ۶۴۔ العنکبوت، حاشیہ ۸۸ - ۸۹ - ثلورم جلد، السجدہ، حاشیہ ۱۱۔ حٰم السجدہ، حاشیہ ۵۴ - الاحقاف، حاشیہ ۸ تا ۱۰)۔

۲۷ یعنی خبرہ صرف دومرہ نہٗ دہ چہ داد محمد صلی اللہ علیہ وسلم کلام نہٗ دے، بلکہ حقیقت داد دے چہ دا انسانی کلام ھیڅ ودے نہٗ اوداخبرہ دَ انسان دَ وس نہ بھرہ چہ دا سے کلام جوړ کړی۔ کہ تاسو وے تہ انسانی کلا وایئ نو دَ دے پہ رنگ دا سے کلام اُوښایئ چہ ھغہ یو انسان جوړ کړے وی۔ دَ مقابلے کولو دا خبرہ نہٗ یوازے قریشوتہ، بلکہ دَ ټولے دُنیا منکرو خلقوتہ دَ ټولو نہ ځکنے پہ پہ دے آیت کښے شوی وہ۔ دَ دے نہ روستو درے ځلہ پہ مکّہ معظّمہ کښے او بیا پہ آخری ځل پہ مدینہ منورہ کښے شوی دہ۔ (اُوګورہ تفہیم القرآن، یونس، آیت ۳۸ - ھود، ۱۳۔ بنی اسراءیل، ۸۸۔ البقرہ، ۲۳)۔ لیکن نہٗ چا پہ ھغہ وخت کښے دَ دے دَ جواب ورکولو ھمت اُوکړے شو او نہٗ دَ ھیڅ نہ روستو دَ نن ورځے پورے چا دَ قرآن پہ مقابلہ کښے انسانی کلام پیش کړو۔

ځینی خلق دَ مقابلے پہ دے اعلان نہٗ دی پوھہ شوی، او دَ ځیلے ناپوھتیا پہ وجہ داوائی چہ یوازے قرآن نہٗ بلکہ یوسړے دَ بل سړی پہ طرز نہ نثر لیکلے شی او نہٗ نظم۔ ھومر، رومی، شیکسپئر، ګوئٹے، غالب، اقبال ټول پہ دے لحاظ سرہ بے مثالہ دی چہ دَ ھغوی غوندے کلام جوړول دَ چا پہ وَس کښے نہٗ دی۔ دَ قرآن دَ مقابلے چہ څوک دا جواب ورکوی ھغوی پہ اصل کښے پہ دے غلط فہمئ کښے دی چہ دَ "فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ" مطلب دَ قرآن پہ طرز کښے دَ قرآن غوندے یوکتاب لیکل دی۔ حالانکہ دَ دے نہ مُراد پہ طرز کښے یوشان والے نہٗ دے بلکہ مُراد دادے چہ دَ دے پائے او دَ دے شان او دَ دے مرتبے یوکتاب راوړئ چہ صرف پہ عربئ ژبہ کښے نہٗ، بلکہ دَ دُنیا پہ ھرہ ژبہ کښے چہ وی خو چہ ھغہ خاصیتونہ پکښے وی دَ کوم پہ وجہ چہ قرآن یوہ معجزہ دہ۔ مختصر طور یوځولوئ لوئ خاصیتونہ لاندے لیکلے شوی دی چہ دَ ھیڅ پہ وجہ قرآن اوّل ھم معجزہ وہ او نن ھم معجزہ دہ۔

۱۔ قرآن مجید چہ پہ کومہ ژبہ کښے نازل شوے دے ھغہ نہٗ دَ ھیڅ ژبے دَ ټولونہ لوړہ او مکمّلہ نمونہ دہ۔ پہ ټول کتاب کښے یولفظ او یوہ جُملہ ھم دَ معیار لاندے نشتہ۔ کوم مضمون چہ بیان شوے دے ھغہ پہ مناسبو الفاظو کښے او پہ مناسب انداز کښے ابیان شوے دے۔ یوہ خبرہ بار بار بیان شوی دہ او ھر ځل دَ بیان انداز داسے نوے دے چہ بار بار راتلل ئے بد نہٗ لږی۔ دَ اول نہ واخلہ دَ آخرہ پورے پہ ټول کتاب کښے ھر ټکے داسے لګیدلے دے لکہ چہ ملغلری پہ ځائے ځائے لګیدلی شوی وی۔ کلام دومرہ اثر ناک دے چہ پہ ژبہ پوھیدو نکے سړے ئے واوری نو دَ سر خوږ ولونہ بغیر نہٗ پاتے کیږی، اَن تردے پورے چہ دَ مُنکرو دَ مخالف سړی رُوح ھم بے اثرہ نہٗ پاتے کیږی۔ دَ څوارلس سَوُ کالو تیریدونہ روستو ھم دَ نن زمانے پورے دا کتاب دَ ځیلے ژبے دَ ادب ټولو نہ اَعلیٰ نمونہ دہ۔ دَ عربئ ژبے پہ ادب کښے دے تہ یوکتاب ھم نہٗ رسی۔ یوازے دا نہٗ، بلکہ دِے کتاب عربی ژبہ داسے رانیولی دہ چہ دَ څوارلس سَوُ کالو تیرید و نہ روستو ھم دَ دے ژبے بنا یئست او فصاحت ھم ھغہ دے کوم چہ دِے ژبے قایم کړے وُو، حالانکہ پہ دومرہ مودہ کښے ژبے پیرے بدلیږی رابدلیږی۔ پہ دُنیا کښے یوہ ژبہ داسے نشتہ چہ دَ دومرہ اُوږدے مودے پورے دَ ھغے الفاظ، دَ ھغے لیکل، دَ ھغے وینا، دَ ھغے

قاعدے اوژبه او د الفاظو استعمال په یوشان قایم وی لیکن دا صرف د قرآن طاقت دے چه عربی ژبه ئے د خپل مقام نه خوزیدو ته نه ده پریښودے - د قرآن یولفظ هم د نن ورځ پورے خلقو پریښودے نه دے - د هغه هره محاوره د نن ورځ پورے په عربیٔ ژبه کښے استعمالیږی - د قرآن د ژبے ادب نن هم د عربیٔ ژبے معیار، ادب د ، اوپه لیک او په تقریر کښے نن هم فصیح ژبه هغه ته وئیلے شی کومه چه څوارلس سوه کاله مخکښے په قرآن کښے استعمال شوی وه - آیا د دُنیا په بله ژبه کښے یوانسانی لیک د دے شان کیدے شی؟

۲ دا د دُنیا واحد کتاب دے چه د انسان په فکر، په اخلاقو، په عمل او د ژوند په طرز باندے دومره فرانبه، ژور او په هراړخ خورا ښ اچولے دے چه په دُنیا کښے د هغے مثال نه ملاویږی - اول د هغے د اثر په وجه د یوقوم حالت بدل شو او بیا هغه قوم راپاسید او د دُنیا یوه لویه حصّه ئے بدله کړه - بل یوکتاب دا سے نشته چه دومره حالت بدلونکے ثابت شوے وی - دا کتاب یواز دے د کاغذ په پاڼو باندے لیکلے نه دے پاتے شوے بلکه د عمل په دُنیا کښے د دے کتاب یویولفظ خیالا تو له ترتیب ورکړے دے او د ژوند یوه مستقله اړه نه ئے جوړه کړی ده، د څوارلس سوُو کالے را سے د دے د اثراتو لړئ جاری ده او وُرځ په وُرځ د دے دا اثرات بنه خوریږی -

۳ د کومو خبرو په حقله چه دا کتاب بحث کوی هغه دومره فرانبه خبری دی چه د ازل نه د آخرے پورے ټول کائنات پکښے شامل دی - هغه د کائناتو په حقیقت باندے، او د هغے په شروع او په انجام باندے، او د هغے په نظم او د هغے په قانون باندے بحث کوی - هغه وائی چه د دے کائناتو خالق او انتظام چلوونکے څوک دے، د هغه څه صفتونه دی، د څه اختیارات دی، او هغه اصلی حقیقت څه دے چه په هغے باندے هغه د دے ټول نظام قایم کړے دے - هغه په دے ځان کښے د انسان حیثیت او د انسان مقام ټیک ټیک مقرّر وی او وائی چه دا د هغه فطری مقام دے او دا د هغه پیدائشی حیثیت دے چه د هغے په بدلولو هغه قادر نه دے - هغه وائی چه د دے مقام او د دے حیثیت په لحاظ سره د انسان د پاره د فکر او د عمل هغه صحیح لارکومه یوه ده چه هغه د حقیقت سره پوره پوره سمون خوری، او هغه غلطے لارے کومے دی چه هغه د حقیقت سره سمون نه خوری - د صحیح لارے په صحیح والی او د غلطے لارے په غلط والی باندے هغه د زمکے او د آسمان د یوبوشیز نه، د کائناتو د نظام د یوبوکوټ نه، د انسان د خپل نفس نه او د هغه د خپل وجود نه او د انسان د خپل تاریخ نه بے شماره دلیلونه پیش کوی - او د دے سره سره هم دا هم وائی چه انسان په غلطولارو باندے څنګه او د کومو اسبابو په وجه روانیږی، او صحیح لار، چه د همیشه نه اِکّے یوه لارده او اِکّے یوه به وی، هغه په کومه ذریعه هغه ته معلومیدے شی او په څه طریقه هغه ته په هره زمانه کښے ښودلے کیږی - هغه صحیح لارے ته یواز اِشارے نه کوی بلکه په هغه لاره باندے د تللو د پاره د ژوند د پوره نظام نقشه پیش کوی، چه هغے کښے د عقیدے، د اخلاقو، د نفس د پاکوالی، د عبادتونو، د ژوند د روزګار، د سیاست، د عدالت، د قانون، غرض دا چه د انسانی ژوند د هر اړخ په حقله د یوبل سره تړلی شوی قاعدے بیان کړے شوی دی - د دے سره هغه پوره په تفصیل سره ښودلے کوی چه په دے صحیح لاره باندے د تللو او په هغو غلطولارو باندے د تللو په وجه د دُنیا کښے څه انجام دے او په آخرت کښے به ئے څه انجام وی - هغه د دُنیا د ختمیدو او د آخرت د شروع کیدو حالت دیر په تفصیل سره بیانوی -

دَ دے بدلون ټولے مرحلے یو په یو بیانوی، دَ آخرت پوره نقشه ستر ګوته وړاندِ راولی، او په ډیر وضاحت سره وائی چه هلته به دَ انسان دویم ژوند څنګه وی، دَ هغه سړیه دَ دُنیا دَ عملونو حساب کتاب څنګه کیږی، دَ کومو کومو خبرو تپوس به تر کیږی، په څنګه ناخوښه حالت کښے به دَ هغه ټوله عملنامه دَ هغه مخے ته کیښود ے کیږی، څنګه زبردست شهادتونه به دَ هغه په ثبوت کښے پیش کړے کیږی، جزا او سزا به چاته په کوم کوم عمل ملاویږی، ښه بدله چه چاته ملاؤ شی هغه ته به څنګه انعامونه ورکړے کیږی اودَ بد و عملونو سزا به په کوم کوم شکل کښے ملاویږی۔ په دے خبرو چه کوم بحث په دِے کتاب کښے شوے دے هغه په دے حیثیت سره نهٔ دے چه دَ دے مُصنّف ګڼی څه هغه دغه راجمع کړی دی اوتش قیاسونه ئے جنګولی دی، بلکه هغه په دِے حیثیت سره دے چه دَدِے مُصنّف نیغ په نیغه دَ حقیقت علم لری، هغه دَ ازل نه دَ ابد پورے هرڅه وینی، ټول حقیقتونه هغه ته څرګند دی، ټول کائنات هغه ته دَ یو غوړید لی کتاب پشان پرانهٔ دی، دَ انسانی ژوند دَ شروع کیدونه دَ ختمیدو پورے نهٔ بلکه دَ ختمیدونه رو ستو دَ دویم ژوند پورے هم هغه هرڅه په یونظر وینی، اوهغه دَ قیاس اودَ ګمان په بنیاد باندِ نهٔ بلکه دَ علم په بُنیاد باندِ انسان ته لارښود نه کوی۔ کوم حقیقتونه چه هغه دَ علم په حیثیت سره پیش کوی په هغے کښے یوهم دَ ظن ورځے پورے غلط نه دے ثابت کړے شوے۔ دَ انسان اودَ کائناتو کوم تصور چه هغه پیش کوی هغه دَ ټولو څیزونو اودَ ټولو واقعاتو مکمل دلیل دے اوهغه دَ علم په هره څانګه کښے دَ تحقیق بُنیاد جوړ پدے شی۔ دَ فلسفے اودَ سائنس دَ مسئلو جوابونه، اودَ انسانی روزګار دَ ټولو مسئلو جوابونه دَ هغه په کلام کښے موجود دی اودَ هغوی ټولو په مخ کښے دا سے سلسله وار ترون موجود دے چه په هغے باندِ یو مکمل، او دَ یوبل سره تړلے شوے اوپه هرارخ باندِ پوره نظام فکر قائم ږی۔ بیا دَ عمل په حیثیت سره چه کومه لارښودنه هغه دَ ژوند دَ هرارخ په حقله انسان ته کړی ده هغه یوازے پرے مناسبه او پاکیزه نهٔ ده بلکه دَ څوارلس سَوُ کالورا سے پرِ دَ دُنیا په مختلفو حصو کښے بے شماره انسانانو عمل کړے دے او په تجربے سره هغه عمل بهترین ثابت شوے دے۔ آیا دا قسم انسانی کتاب په دُنیا کښے چرته شته یا مخکښے چرته وُوچه هغه دَ دے کتاب په مقابله کښے راوړے شی۔

۴ دا کتاب په یووخت پوره پوره لیکلے شوے دُنیا ته نهٔ وُو پیش کړے شوے بلکه دَ یوڅوارلسو حکمونو سره یواصلاحی تحریک شروع شوے وُو اودَ هغے نه روستو دَ دِے ریشتو کالو پورے هغه تحریک چه به دَ کومو کومو مرحلونه تیرید و دَ هغے دَ حالاتو اودَ هغے دَ ضرورتو یاتو مطابق به دَ دَ کتاب حصے دَ هغه تحریک دَ رهنما په شکل کښے راتلزید لے۔ بیا چه کله دَ دین کله دَ اوږد واوږد و خطبو په شکل کښے اوکله دَ لنډو لنډو وفقرو په شکل کښے راتلزید لے۔ بیا چه کله دین مکمل شو او په مختلفو وختونو کښے چه کومے حصے نازلے شوے هغے له دَ یومکمل کتاب په شکل کښے ترتیب ورکړے شو نو دُنیا ته دَ "قرآن" په نوم راوُلیږلے شو۔ دَ دے تحریک مشر رهنما وائی چه داخطبے اوداجُملے هغه دَ خپلے څانه نهٔ دی جوړے کړی بلکه دَ خدائے دَ طرفنه په هغه باندِ نازلے شوی دی۔ که څوک وائی چه دغه رهنما دا خپله دَ څانه جوړ کړے دے نوهغه دِ دَ دُنیا په ټول تاریخ کښے یو داسے مثال پیش کړی چه یو انسان دَ ډیرو کلونو پورے پخپله دَ یوزبردست اِجتماعی تحریک مشری کړی وی اوکله دَ یو نصیحت کونکی اودَ اخلاقو دَ اُستاذ په حیثیت سره، کله دَ یوے مظلومے ولے دَ مشر په حیثیت سره، کله دَ یو وطن دَ بادشاه په حیثیت سره، کله دَ یو جنګی فوج دَ سپه سالار په حیثیت سره، کله دَ یو فاتح په حیثیت

سره ، کله د یو شریعت او د یو قانون جوړونکی په حیثیت سره ، غرض داچه هغه په مختلفو حالاتو کښے په مختلفو حیثیتونو سره کوم مختلف تقریرونه کړی دی یا ئے کوے مختلے خبری کړی وی هغه ټولے راجمع شی او یو مکمل، اود یو بل سره تړلے شوے او په هرا ړخ پوره د فکر او د عمل یو نظام جوړ کړی، او په هغے کښے هیڅرته د یو بل سره ټکراؤ او د یو بل مخالفت اُونه ُ موندے شی، او په هغے کښے هغه د اوّل نه د آخره پورے د عقایدو او د اعمالو یوداسے په هرا ړخ پوره نظام جوړ وی چه د هغے هره حصّه د بلے حصّے سره مکمل سَمُون خوری، او هغه مجموعه چه یو پوهه سړے لولی نو خامخا دا محسُوسوی چه د تحریک د شروع کولو په وخت کښے د تحریک د مشر مخے ته د تحریک د آخری مرحلے پورے ټوله نقشه موجود وه او داسے هیڅرے نه ُ دی شوی چه په منځ کښے د هغه په ذهن کښے څه داسے خیال راغلے وی چه هغه اول هغه ته معلوم نه ُ وُ یا ئے روستو بدل کړو۔ داسے انسان که چرته تیر شوے وی او دومره کمالات ئے ښودلی وی نو هغه د په ګوټه کړے شی ۔

۵ ۔ د کوم مشر په ژبه چه د اخطے او د انقریرونه کیدل هغه به ناسپاه د یو ګوټ نه دوئ ته د اور ولو د پاره نه ُ راټلواو د اور ولونه روستو به چرته بل خوا نه ُ تلو۔ هغه د د ے تحریک نه ځکښے هم په انسانانو کښے ژوند تیرکړے وُ واو د هغے نه روستو هم د ژوند د آخری ساعته پورے په انسانانو کښے اوسیدو۔ د هغه د خپلے وینا او د خپلو تقریرونو طرز خلقوته ښه معلوم وُ و ۔ په احادِ یثو کښے د هغه د و ینا د پیره حصّه اُوس هم محفوظ ده چه هغه د روستو زمانے عربیان خلق اُولولی نو په آسانئ سره معلومولے شی چه د هغه رهنما د خپلو خبرو طرز څه ُ وُ۔ د هغه د خپلے ژبے خلقوته په هغه وخت کښے هم ښه معلومه وه او نن هم په عربئ ژبه پوهیدونکی خلق په د ے پوهه دی چه د د ے کتاب الفاظ او د د ے طرز د هغه رهنما د خپلو الفاظو او د هغه د خپل طرز نه د یر مختلف د ے، ان تردے پورے چه کله د هغه د خپل تقریر په منځ کښے د د ے کتاب څه عبارت راشی نو د د واړو په الفاظو او په طرز کښے صفا فرق معلومیږی ۔ دا ټوس کید ے شی چه آیا په دُنیا کښے یو انسان چرته په د ے خبره قابو موندلی ده یا موندے شی چه د یرو کلونو پورے د دوُ و مختلفو طرزونو کلام پیش کوی او چاته د د ے راز پته اُونه ُ لږی چه دا دوه طرزونه په اصل کښے د یو سړی دی ؟

عارضی او وخټی طور په د ے قِسم دوو کلامونو جوړ ولو کښے کامیابیدل خو ممکن دی ۔ لیکن مسلسل د ډیر یشتو کلونو پورے داسے کول په هیڅ شان سره ممکن نه ُ دی چه یو سړے کله د خدائ د طرفنه د وحی په طور کلام کوی نو د هغے الفاظ او طرز د یو شان وی، او چه کله هغه د خپل طرفنه خبرے یا تقریر کوی نو د هغے الفاظ او طرز د بالکل بل شان وی۔

۶ ۔ د د ے تحریک د مشرئ په دوران کښے به په هغه رهنما باندِ مختلف حالات راتلل ۔ کله به د یر کلونه د خپل وطن او د خپلے قبیلے خلقو په هغه پورے خندا کانے کولے، او په هغه به ئے سخت ظلمونه کول ۔ کله د هغه په ملګرو باندِ دومره ظلمونه شروع شوچه هغوئ په وطن پریښود و باندِ مجبوره شو ۔ کله به د ُ شمنانو د هغه د وژلو سازشونه کول ۔ کله خو پخپله د خپل وطن نه په هجرت کولو مجبوره شو۔ کله ئے د یر د تنګسیا او د لورے تندے ژوند تیرولو۔ کله به په یو مخه جنګونه وُ و چه کټه او بائیلات دواړه به پکښے وُ و۔ کله به هغه په د ُ شمنانو غالب شواوچه کومو د ُ شمنانو به په

أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا
السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ
رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ ۖ فَلْيَأْتِ

آیا دوئ د خالق نه بغیر پخپله پیدا شوی دی؟ یا دوئ پخپله د خپل ځان خالقان دی؟ یا زمکه او آسمانونه دوی پیدا کړی دی؟ اصل خبره داده چه دوئ یقین نه لری [۲۸] ۔
آیا ستاد رب خزانے د دوئ په قبضه کښے دی؟ یا په هغے باندِ د دوی حکم چلیږی؟ [۲۹]
آیا د دوئ سره اندر پایه ده چه په هغے خیژی او د عالِم بالا خبری اوری؟ په دوئ کښے چه چا

هغے ظلم کړے وُو هغوئ به ورته اکثر سر تپیږي ولاړ وُو ۔ کله ورته داسے اقتدار نصیب شو چه هغسے وبرکم چاته نصیب کیږی ۔ په دے ټولو حالاتو کښے ظاهره خبره ده چه د یو انسان جذبات یو شان نه ٔ شی پاتے کیدے ۔ هغه رهنما چه کله په دے مختلفو حالاتو کښے په خپل حیثیت سره څه خبری کړی دی په هغے کښے هغه جذبات په واګه بنکاری کسوم چه په داسے موقعو کښے د یو انسان په زړه کښے راپیدا کیږی ۔ لیکن په دے مختلفو حالاتو کښے چه کله هغه د خدائے د طرفنه د وحی په طور کوم کلام اوریږلے دے هغه د انسانی جذباتو نه بالکل خالی دے ۔ په یوځائے کښے هم د لوئ نه لوئ تنقید کوُنکے داخبره نه ٔ شی په ګوته کولے چه دلته انسانی جذبات راڼی زیدلی بنکاری ۔

۷ ۔ کوم فرانبه اوجامع علم چه په دے کتاب کښے دے هغه د هغه زمانے په اهلِ عرب او او په اهلِ روم اویونان اوایران کښے خولا پریږده نن هغه دوے شلے صدئ په لویو لویو عالمانو کښے هم د چاسره نشته ۔ نن حالت دا دے چه د فلسفے او د سائنس او د انسان په حقله څومره علمونه دی د هغے دوے څانګے په مطالعه کښے د خپل ټول عُمر لګولونه روستو سړی ته پته لږی چه د علم د دغه څانګے آخری مسئلے څه دی ۔ او بیا چه کله هغه قرآن مجید په ژور نظر سره اُوګوری نو معلومه شی وُرته چه په دے کتاب کښے د هغه ټولو مسئلو یو واضحه جواب موجود دے ۔ دا معامله یوازے د یو علم په حقله نه ٔ ده بلکه د هغه ټولو علمونو په حقله صحیح ده کوم چه د کائناتو او د انسان سره څه تعلق لری ۔ څنګه باور کیدے شی چه څوارلس سوه کاله مخکښے د عربو په ریګستان کښے یو اُمّی سړی ته د علم په هر ګوټ باندِ دومره فرانبه پوهه حاصله وه او هغه په هره بُنیادی مسئله باندِ سوچ فکر کړے وُو او د هغے یو صفا او قطعی جواب ئے را ایستلے وُو ۔

اګرچه د قرآن د معجزه کیدو نور هم وجوهات دی ، لیکن صرف په دے یوځو وجوهاتو باندِ که سړے غور اُوکړی نو هغه ته به پته اُولږی چه څومره د قرآن د نازلیدو په زمانه کښے د قرآن معجزه کیدل واضحه وُو د هغے نه پیر زیات نن واضحه دی او انشاء الله چه د قیامته پورے به بنه واضح کیږی ۔

مُسْتَمِعُهُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ اَمْ لَهُ الْبَنٰتُ وَلَكُمُ الْبَنُوْنَ ﴿۳۹﴾

څه اوریدلی دی هغه دِ یوځ کړئ دلیل راوړی۔ آیا دَ الله دَ پارهٔ خودی لونږه او ستاسو دَ پارهٔ دی ځامن ؟ ۳۰

۲۸ دَ دِے نه مخکښے چه په کومو خبرو بحث شوے وُو هغه دَ دے دَ پارهٔ وُوچه دَ مکے دَ کافرانو فکر دِے خبرې ته راوګرزو لے شی چه تا دَ محمد صلی الله علیه وسلّم دَ پیغمبرئ دَ دروغژن کولو دَ پارهٔ کوے خبرې جوړوئ هغه څومره بے مناسبه دی ۔ اُوس په دے آیت کښے هغوی ته دا خبره وړاندِ کړے شوی ده چه کوم دعوت محمد صلی الله علیه وسلّم پیش کوی آخر په هغے کښے هغه خبره څه ده چه تاسو پرِ دومره غصّه کیږئ ۔ هغه خوهم داوائی چه الله ستاسو خالق دے او تاسوله پکار دی چه خاص دَ هغه بندګی اُوکړئ ۔ په دے باندِ ستاسو دَ غصّه کیدو آخرځه وجه ده ؟ آیا تاسو پخپله جوړ شوی یَئ ، چا جوړونکی نه یئ جوړ کړی ؟ یا دَ ځانونو جوړونکی پخپله یئ ؟ یا دا فرا ښه کائنات تاسو جوړ کړے دے ؟ که په دے کښے یوه خبره هم صحیح نه وی او تاسو پخپله منئ چه ستاسو خالق هم خاص الله دے او دَ دے کائنات و خالق هم هغه دے ، نو دَ هغه سرې په خبره تاسوله غصّه ولے درځئ چه تاسو ته وائی چه خاص هم دغه الله ستاسو دَ بندګئ او ستا دَ عبادت مستحق دے ؟ دَ غصّے لائق خبره داده اوکه داچه کوم خالق نه دے دَ هغه بندګی دِ اُوکړے شی اوچه کوم خالق دے دَ هغه بندګی دِ نه کیږی ؟ تاسو خوپه ژبه دا اقرار ضرور کوئ چه الله ستاسو او دَ کائنات و خالق دے ،لیکن که چرے واقعی ستاسو په دے خبره یقین دے خبره یقین وے نو دَ هغه بندګئ ته چه څوک را بلل کوی په هغه پسے به نه ور پسے کیدئ ۔

دا یو دا سے بیدارؤنکے تپوس وُوچه دَ مشرکانو عقیدے ځے دَ بیخه اُوخوزولے ۔ دَ بخاری او دَ مُسلم روایت دے چه جُبَیْر بن مُطْعِم دَ جنګ بدر نه روستو دَ قید یانو آزاد ولو په باره کښے دَ خبرواترو کولو دَ پارهٔ دَ مکّے دَ کافرانو دَ طرفنه مدینے ته راغے ۔ دلته رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَ مانښام مونځ مخکښے ورکولو اوپه هغے کښے ئے سورهٔ طور لوستلو۔ هغه په خپله وائی چه نبیّ کله دے ځائے را اُورسید و نو ځما زړه ځما دَ سینے نه سم بهر راوتلو۔ روستو دَ هغه دَ مسلمانیدو یوه غټه وجه داوه چه په هغه ورځ دَ دِے آیتونو په اوریدو سره اسلام دَ هغه په زړه کښے ننوتلے وُو ۔

۲۹ دا دَ کافرانو دَ دے اعتراض جواب دے چه آخر محمد بن عبدالله (صلی الله علیه وسلّم) ولے رسول جوړ کړے شو ۔ دَ دے جواب مطلب داد ے چه دَ ګمراهئ نه دَ را ایستلو دَ پاره دِے خلقوته خو بهرحال یو رسول رالیږل ضروری وُو ۔ اُوس خبره داده چه دا فیصله به څوک کوی چه خدائے خپل رسول څوک مقرر کړی او څوک نه ؟ که دا خلق دَ خدائے دَ مقرر کړے شوی رسول دَ منلو نه انکار کوی نو دَ دے خو دا مطلب دے چه یا خو دوئ پخپله خپل ځان دَ خدائے دَ خدائیَ مالکان ګڼلی دی ، یا بیا دَ دوئ ګمان داد ے چه خدائے خو دِ دَ خپلے خدائیَ مالک وی لیکن په هغے کښے دِ حُکم دَ دوئ چلیږی ۔

أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٠﴾ أَمْ عِندَهُمُ
الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤١﴾ أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ

آیا تہٗ دَ دوئ نہ څہ اجر غواړے چہ دوئ دَ جبرنی تاوان دَ بوج لاندِ زُور لے کیږی ؟ ۳۱ھ
آیا دَ دوئ سرہ دَ غیبی حقیقتونو علم دے چہ دَ هغہ پہ بُنیاد باندِ دوی لیکل کوی ؟ ۳۲ھ
آیا دوئ څہ چل جوړول غواړی ؟ ۳۳ھ (کہ دا خبرہ وی) نو کافران بہ پہ خپل چل کښے

۳۰ھ پہ دے وړو وړو فقرو کښے یو تفصیلی دلیل راښکاره کړے شوے دے۔ تفصیل دَ دے دادے چہ کہ چرے تاسو دَ رسول دَ خبرے نہ انکار کوئ نو ستاسو سرہ پخپلہ دَ حقیقت دَ پیژندلو دَپارہ آخر څہ ذریعہ دہ ؟ آیا پہ تاسو کښے څوک عالِم بالا تہ رسیدلے دے او هغہ دَ اللہ تعالیٰ، یا دَ هغہ فرښتونہ نیغ پہ نیغہ دا معلومہ کړی دہ چہ هغہ عقیدے بالکل دَ حقیقت مطابق دی پہ کومو چہ تاسو دَ خپل دین بُنیاد کینبودلے دے ؟ دا دعویٰ کہ څوک کوی نو مخے تہ دِ راشی او اُودِ وائی چہ هغہ کلہ او څنګہ عالِم بالا تہ رسیدلے دے او دَ هغہ ځائے نہ ئے کوم علم راوړے دے۔ اوکہ دا دعویٰ تاسو نہ کوئ نو بیا پخپلہ غور اُوکړئ چہ دَ دے نہ زیاتہ دَ خندا عقیدہ بلہ څہ کیدے شی چہ تاسو دَ اللہ رب العالمین دَپارہ اولاد جوړوئ، او اولاد هم جینکئ، چہ تاسوئے دَ خپل ځان دَپارہ دَ شرم او دَ ننګ سبب ګڼئ؛ تاسو دَ علم نہ بغیر دَ جهالت پہ تیرو کښے تینګ کونہ خورئ، او څوک چہ دَ خدائے دَ طرفنہ تاسو تہ دَ علم رڼا پیش کوی دَ هغہ دُ شمنان شوی یئ۔

۳۱ھ یتوس پہ اصل کښے دَ کافرانو نہ شوے دے۔ مطلب دادے چہ کہ چرے رسول ستاسو نہ څہ غوښتلے او دا ټولے منډے تر پرے ئے دَ خپلے فایدے دَپارہ وهلے نو بیا دَ هغہ نہ ستاسو دَ تیښتے کولو څہ مناسب وجہ وہ لیکن تاسو پخپلہ پوهیږئ چہ دَ هغہ پہ دیکښے څہ خپل غرض نشتہ او هغہ خالص ستاسو دَ بنیګړے دَ پارہ خپل ځان ستړے کوی۔ نو بیا څہ وجہ دہ چہ تاسو پہ غور سرہ دَ هغہ خبرہ هم نہ اوریئ ؟ پہ دے یتوس کښے یو باریک اعتراض هم دے۔ دَ ټولے دُنیا دَ بناوټي پیشواګانو او دَ مذهبی درباروںو دَ مجورانو پشان پہ عربو کښے هم دَ مشرکانو مشرانو، استاذانو او عالمانو پہ بنکاره مذهبی کاروبار چلولو۔ پہ دے باندِ دا یتوس دَ هغوی نہ اُوشو چہ یو طرفتہ دا مذهبی سوداګران دی چہ پہ بنکاره ستاسو نہ دَ هر مذهبی خدمت پہ بدلہ کښے نذرانے او شُکرانے اخلی۔ بل طرفتہ یو سړے بالکل پہ بے غرضئ سړ، بلکہ خپل تجارتی کاروبار ئے تباہ کړو او تاسو تہ پہ مناسبو دلیلونو سره دَ دین دَ نیغے لارے بنودلو کوشش کوی۔ اُوس دا بنکاره بے عقلی نۂ ده نو نُور څہ دی چہ تاسو دَ دہ نۂ تیښتہ کوئ او هغوئ تہ پہ منډہ ورځئ۔

الْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ ۚ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾

راګیر یږی ۳۴ ۳۵
آیا دَ الله نه سِوا دَ دوئ بل معبود شته؟ الله پاک دے دَ هغه شرک نه کوم چه دا خلق کوی۔

۳۲ یعنی رسول چه تاسوته کوم حقیقتونه پیش کوی دَ هغې دَ دروغ ګنړلو دَ پاره آخر ستاسو سره کوم علم دے چه دَ هغې په وجه تاسو دا دعویٰ اُوکړئ چه دَ ظاهری پردے شاته کوم پټ حقیقتونه دی هغه نیغ په نیغه تاسو پیژنئ؟ آیا تاسو ته واقعی دا علم دے چه خدائے یو نهٔ دے بلکه تاسو چه کوم معبودان جوړ کړی دی هغوی هم خدائی صفتونه او اختیارات لری؟ آیا تاسو واقعی فرښتے لیدلی دی چه هغه جینکئ دی او نعوذ بالله، دَ خدائے نه پیدا شوی دی؟ آیا واقعی تاسوته دا علم دے چه نهٔ په محمد صلی الله علیه وسلم وحی را غلی ده او نهٔ په بل بنده دَ خدائے دَ طرفنه وحی را تلے شی؟ آیا آخرت به نهٔ راځئ چه په هغې کښے به دَ انسان سره حساب کتاب کیږی او هغه له به جزا یا سزا ورکړے کیږی؟ که تاسو دَ دے قِسم علم دعویٰ لرئ نو آیا تاسو دے لیکلو ته تیار یئ چه دَ دے قِسم خبرو په حقله تاسو دَ رسول بیانونه څکه دروغ ګنړئ چه دَ غیبی پردے شاته تاسو ته دا معلومه شوی ده چه حقیقت هغه نهٔ دے کوم چه رسول بیانوی؟ دلته یو سړے داشک ظاهر ولے شی چه که چرے دَ دے په جواب کښے هغه خلقو دَ ضد دَ وجے نه دا لیکل کړے دے نو آیا دا دلیل به بے مطلبه کیدونهٔ؟ لیکن داشک په دے وجه غلط دے چه که چرے دَ ضد په وجه هغوئ لیکل کړے هم وے نو کوموخلقو ته چه دَ مقابلے دا عام دعوت ورکړے شوے وُو هغوئ خوځه راننده نهٔ وُو۔ هرچاته به پته وے چه دا لیکل سراسر دَ ضد په وجه شوی دی او په حقیقت کښے څوک دَ رسول بیانونه په دے بُنیاد هرګز دروغ نهٔ شی ګنړلے چه هغه ته دَ هغې دَ خلاف واقعه کیدو علم حاصل دے۔

۳۳ هغه تدبیرونو او چلونونه اشاره ده کوم چه به دَ مکے کافرانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دَ نقصان رَسولو او دَ هغه دَ هلاکولو دَ پاره کول۔

۳۴ دا دَ قرآن دَ څرګندو پیشګوئیانونه یوه پیشګوئی ده۔ دَ مکے دَور په اوله زمانهٔ کښے، چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په ظاهره دَ یومونې مسلمانانو نه سِوا بل څه طاقت نهٔ وُو، او ټول قوم دَ هغه مخالف شوے وُو، دَ اسلام او دَ کفر مقابله هرچاته برابر مقابله نهٔ بنکاریدله۔ هیڅا په هغه وخت کښے دا اندازه نهٔ شوه لګولے چه یوځوکاله روستو به دلته دَ کفر دبدبه بالکل ختمه شی۔ بلکه په ظاهره خو دا معلومیدله چه دَ قریشو او دَ ټول عرب دَ مخالفت په وجه به آخر دا دعوت ختم شی۔ لیکن په دے حالت کښے پوره په یقین سره کافرانو ته

وَاِنْ يَّرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَآءِ سَاقِطًا يَّقُوْلُوْا سَحَابٌ مَّرْكُوْمٌ ﴿۴۴﴾
فَذَرْهُمْ حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ فِيْهِ يُصْعَقُوْنَ ﴿۴۵﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِيْ
عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَاِنَّ لِلَّذِيْنَ
ظَلَمُوْا عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۷﴾

داخلق که د آسمان نه راپریوتونکی ټوټه هم اووینی نووائی به چه داکنړه ورېځ راروانه دی - نو اے نبیؐ، دوئ په خپل حال باندې پریږده ترهغې چه خپلې هغ ورځې ته ور اورسی چه دوئ به پکښے په وهلو وهلورا غورزولے کیږی، هغه ورځ چه نهٔ به پکښے د دوئ تدبیرونه په کارراځی اونهٔ به ورله څوک امداد له ورځی - اود دغه وخت د راتلونه مخکښے هم د ظالمانو د پاره یو عذاب دے، لیکن په دوئ کښے اکثرنهٔ پوهیږی[۳۷] -

واصفاصفا اووئیلے شوچه د دے دعوت د ختمولو د پاره څومره تدبیرونه تاسوکول غواړئ هغهٔ اوکړئ - هغه به ټول الټا ستاسو خلاف کیږی اوتاسو به دے په شکست ورکولوکښے هرگز کامیاب نهٔ شی -

۳۵ یعنی حقیقی خبره داده چه هغوئ د چانه معبودان جوړکړی دی هغوئ په حقیقت کښے معبودان نهٔ دی اوشرک سراسر یو بے بُنیاده څیز دے - داوجه ده چه څوک د توحید د دعوت سره راپاسیدلے دے د هغه سره د ربنتیاوُ وطاقت دے اوځوک چه د شرک مرسته کوی هغوی د یو بے حقیقته څیز د پاره جنګ کوی - په دے جنګ کښے به شرک آخرځنګه کتله اُوکړی؟

۳۶ د دے حکم مقصد یوطرفته دادے چه د قریشو د سردارانو ضد یې اګے ته کړے شی، اوبل طرفته رسول الله صلی الله علیه وسلّم او د هغه ملګرو له تسلّی ورکړے شی - د نبیؐ او د صحابه کرامو په زړه کښے به بار بار دا خواهش را پیدا کیدو چه دے خلقوته د د الله تعالیٰ د طرفنه یوه داسے معجزه اُوښودلے شی چه په هغې سره دوئ ته د محمدؐ د پیغمبرئ صداقت معلوم شی - په دے حکمِ اُوفرمایلے شو چه دوئ که یوه معجزه په خپلو سترګو هم اُووینی خوبهرحال دوئ به د هغې څه بَدَله تشریح کوی او په خپل کفر باندې د ټینګیدو د پاره به څه بهانه لټوی، ځکه چه د هغوئ زړونه ایمان راوړلوته تیارنهٔ دی - په قرآن مجید کښے په نورو ډیرو ځایونوکښے هم د هغوی د دے ضد ذکر شوے دے - مثلاً په سورۃ انعام کښے فرمائی " که چرے مونږه فرښتے هم په هغوئ نازلے کړے وے اومړ ودهغوئ سره خبرے کړے وے اود ټولے دُنیا څیزونه مونږه د هغوی مخے ته راجمع کړے وے خوبیا هم هغوئ ایمان راوړونکی نهٔ وُو" (آیت ۱۱۱) - او په سورۃ حجر کښے

وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ
حِينَ تَقُومُ ﴿٤٨﴾ وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ﴿٤٩﴾

اے نبیؐ، د خپل رب د فیصلے د رانلو پورے صبر کوہ، تہٗ زمونږ په نظر کښے ئے، څه وخت چه تہٗ پاسے نودۀ خپل رب د حمد سره د هغه تسبیح وایه، د شپے هم د هغه تسبیح وایه او ستوری چه کله واپس کیږی په هغه وخت کښے هم۔

فرمائی، "که چرے مونږه دوئ ته د آسمان دروازے هم پرانستے وے او دوئ په ږنډا وَرځ په هغ کښے ورختلے هم وے، بیا به هم دے خلقو دا ویلے چه زمونږه ستر کے دوکه کیږی، بلکه په مونږه جادو شوے دے"۔ (آیت ۔ ۱۵)۔

۳۷ؔ دا دوباره بیا هغه خبره شوی ده کومه چه په سورۃ السجدہ آیت ۲۱ کښے تیره شوی ده چه "د هغه لوئ عذاب نہٗ مخکښے به مونږه په دے دُنیا کښے د یوورکی عذاب مزه دوئ ته ورځکوو، شاید چه دوئ د خپل باغیانه عمل نه منع شی"۔ یعنی په دُنیا کښے مونږ وخت په وخت شخصی او قومی مصیبتونه نازلوؤ او دوئ ته داخبره ورپاد وؤ چه د پاس نه یو بالا ترطاقت د دوئ د قسمتونو فیصلے کوی او هیڅوک د هغه د فیصلے د بدلولو طاقت نہٗ لری۔ لیکن کوم خلق چه په جهالت کښے مبتلا دی هغوئ نه مخکښے د دے نه څه سبق اغستلے دے او نہٗ به ترڅو آئنده د پارہ څه سبق واخلی۔ په دُنیا کښے چه کوم واقعات کیږی د هغے په مطلب هغوئ نہٗ پوهیږی، داوجه ده چه د هغے هر هغه تشریح کوی کومه چه دوئ د حقیقت نه نور هم زیات لرے کوی، او داسے تشریح ته د هغوئ ذهن هلاو واکرزی نہٗ چه په هغے سره د هغوئ د خپل دهریت یا د خپل شرک غلطی هغوئ نه واضحه شی، هم داخبره ده چه په یو حدیث کښے رسول الله صلی الله علیه وسلّم فرمائیلی ده "إِنَّ الْمُنَافِقَ اذا مرض ثم أعفى كان كالبعير عقله اهله ثم ارسلوه فلم يدر لِمَ عقلوه ولم يدر لم ارسلوه" (ابوداؤد ۔ کتاب الجنائز)۔ "یعنی منافق سړے چه کله ناجوړه شی او بیا ښه شی نو د هغه مثال د هغه اُوښ پشان وی چه هغه خپلو مالکانو اُوتړو نو هغه پرېږدی پوهه نہٗ شوچه ولے ئے هغه تړلے دے او چه کله ئے پرانستو نو هغه هیڅ پوهه نہٗ شوچه ولے ئے پرانستو"۔ (د زیاتے تشریح د پارہ اُوګورئ تفہیم القرآن دریم جلد، الانبیاء، حاشیه ۴۵ ۔ النمل، حاشیه ۶۶۔ العنکبوت، حاشیه ۷۲-۷۳)۔

۳۸ؔ دویم مطلب دا هم کیدے شی چه په صبر او استقامت سره د خپل رب حکم منه او په هغے مضبوط او دریږه۔

۳۹ؔ یعنی مونږه ستا نګرانی کوؤ۔ تہٗ مو خپل حال نہٗ ئے پریښودے۔

۴۰ؔ د دے حکم د پیر مطلبونه کیدے شی، اوکیدے شی چه دا ټول تر مُرادوی۔ یو مطلب دا دے چه تہٗ کله د مجلس نه پاسے نو د الله حمد او تسبیح وایه۔ نبی صلی الله علیه وسلّم به پخپله په دے باندے عمل کولو، او مسلمانانو ته ئے هم دا فرمائیلی وُ چه د مجلس نه پاسَئ نو د الله حمد او تسبیح وایئ، په دے سره

د هغه ټولو خبرو کفّاره ادا کیږی کومے چه په هغه مجلس کښے شوی وی ـ ابوداؤد ، تِرمِذی ـ نَسائی او حاکم د حضرت ابوهریره په واسطه سره د نبیؐ دا حدیث نقل کړے دے چه یوسړے په یومجلس کښے ناست وی او په هغے کښے هر رنګه خبری اتری شوی وی ، نوهغه که چرے د پاسید ونه مخکښے دا الفاظ اُووائی نو الله تعالیٰ هغه خبری معاف کوی کومے چه هلته شوی وی : سبحانك اللّٰهم وبحمدك ، اشهد ان لا اله الا انت ، استغفرك و اتوب اليك ـ " اے خدایا ، څه ستا د حمد سره ستا تسبیح وایم ، څه ګواهی کوم چه ستا نه بغیر بل خدائے نشته ، څه ستانه بخښنه غواړم او تا ته توبه اُوباسم "۔

دویم مطلب د دے دا دے چه کله تهٔ د خوب نه راویښ شے او د بستر ے نه پاسے نو د خپل رب د تسبیح سره د هغه حمد وایه ـ په دے باندِ به هم نبی صلی الله علیه وسلّم پخپله عمل کولو او خپلو صحابوته ئے دا تعلیم ورکړے وُوچه د خوب نه راویښ شئ نو دا الفاظ وایئ ، لا اله الا الله وحده لا شريك له ، له الملك وله الحمد و هو علیٰ کل شیءٍ قدیر ـ سبحان الله والحمدُ لِلّٰه ، ولا اله الا الله ، والله اکبر ، ولا حول ولا قوة الا بالله ـ (مسند احمد ، بخاری ، په روایت د عُباده بن الصامِت)ـ

دریم مطلب د دے دا دے چه کله تهٔ ما نخُه ته ودریږے نو شروع د الله د حمد او د تسبیح نه کوه ـ په دے حکم باندِ د عمل کولو د پاره رسول الله صلی الله علیه وسلّم دا اُوفرمائیل چه د تکبیر تحریمے (یعنی الله اکبر) نه روستو د مونځ شروع په دے الفاظو سره کوئ ، سبحانك اللّٰهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالیٰ جدك ولا اله غیرك ـ

څلورم مطلب د دے دا دے چه کله تهٔ د الله طرفته خلقوله دعوت ورکوے نو د هغے شروع د الله د حمد او تسبیح نه کوه ـ داهم د نبی صلی الله علیه وسلّم مستقل معمول وُوچه هغه به هميشه خپلے خطبے د الله د حمد او د ثنا نه شروع کولے ـ

مفسّر ابن جَرِیر د دے یوبل مطلب دا بیان کړے دے چه کله تهٔ د غرمے د خوب (قیلوله) نه راپاسے نو مونځ کوه ، او د دے نه مراد د ما سپښین مونځ دے ـ

۴۱ د دے نه مُراد د مابنام او د ما سختن او د تهجّد مونځونه هم دی ، او د قرآن تلاوت هم او د الله ذکرهم ـ

۴۲ د ستورو د واپس کیدونه مُراد د شپے په آخری حصّه کښے د هغوئ پوبیدل او د صبا په سپینوالی کښے د هغوئ ړانړاتیدل دی ـ دا د سحر د ما نخُه وخت دے ـ

تفهم القرآن الكريم

النّجم

٥٣

النجم

نوم | د دے سورۃ نوم د اولنی لفظ وَالنَّجْمِ نه اغستلے شوے دے ۔ دا نوم هم د مضمون په لحاظ سره د سورۃ عنوان نهٔ دے بلکه صرف د علامے په طور یو نوم دے ۔

د نازلیدو زمانه | په بخاری ، مسلم ، ابوداؤد ، او نسائی کښے د حضرت عبدالله بن مسعودؓ روایت دے چه اَوَّلُ سُوْرَةٍ اُنْزِلَتْ فِيْهَا سَجْدَةٌ النَّجْمُ (النَّجْمُ اولنے سورۃ دے چه د سجدے آیت پکښے نازل شوے دے) ۔ د دے حدیث کومے حصّے چه د اَسْود بن یزید ، د ابو اسحاق او د زُهَیر بن معاویه په روایتونو کښے د حضرت ابن مسعودؓ نه نقل شوی دی د هغے نه معلومیږی چه دا د قرآن هغه اولنے سورۃ دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم د قریشو په یوعام مجلس کښے (او د ابن مَرْدُوْیه د روایت مطابق په حرم کښے) اَورَولے وُو ۔ په عام مجلس کښے کافران اومومنان ټول موجود وُو ۔ په آخر کښے چه کله نبیؐ د سجدے آیت اُولوستلو او سجده ئے اُوکړه نو ټولو حاضرو خلقو د هغه سره سجده اُوکړه او د مشرکانو هغه لوئ لوئ سرداران ، چه د نبیؐ په مخالفت کښے به مخکښے مخکښے وُو ، هم د سجدے نه بغیر پاتے نهٔ شو ۔ ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه ما په کافرانو کښے صرف یوسړے اُمَیّه بن خَلَف اُولیدو چه هغه د سجدے کولو په ځائے څه خاوره را اُوچته کړه او د خپل تندی سره ئے اُولګوله اووے وئیل چه حُمَا د پاره بس دا کافی ده ۔ روستو بیا ما اُولیدو چه هغه د کفر په حالت کښے قتل شو ۔

د دے واقعے دویم د ستړګوګواه حضرت مُطّلب بن ابی وداعه دے چه په هغه وخت کښے لا مسلمان شوے نهٔ وُو ۔ په نسائی اوپه مُسنَد احمد کښے د هغه خپل دا بیان دے چه کله نبیؐ سورۃ النَّجْمُ اُولوستلو او سجده ئے اُوکړه او ټول حاضر خلق د هغه سره په سجده پریوتل نو ما سجده اُونهٔ کړه ، او د هغے کیے څه اُوس په دے طریقه پوره کوم چه د دے سورۃ د تلاوت په وخت کښے سجدهٔ هیڅکله نهٔ پریږدم ۔

د ابن سعید بیان دے چه د دے نه مخکښے د نبوّت د پنځم کال په رجب میاشت کښے د صحابه کرامویو ورو کی شان جماعت حبشو ته هجرت کړے وُو ۔ بیا چه کله هم په دغه کال کښے د رمضان په میاشت کښے دا واقعه اُوشوه چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم د قریشو په عام مجلس کښے د سورۃ نجم تلاوت اُوکړو او کافران اومومنان ټول د هغه سره په سجده پریوتل ، نو د حبشو مهاجرینو ته دا قیصه په دے شکل کښے اُورسیده چه د مکّے کافران مسلمانان شوی دی ۔ د دے خبرې په اَوریدو سره څه مهاجرین د نبوّت په پنځم کال په شوال میاشت کښے مکّے ته واپس راغلل ۔ خو چه دلته راغلل نو معلومه شوه چه ظلم هم هغسے دے لکه څنګه چه مخکښے وُو ۔

آخر دا چه حبشے ته دویم هجرت اُوشو چه په هغے کښے د اولنی هجرت نه هم زیات خلق د مکّے نه لاړل ـ

دغه شان دا خبره تقریباً یقینی طور معلومیږی چه دا سورة د نبوّت د پنځم کال په رمضان میاشت کښے نازل شوے دے ـ

مخکینی تاریخی حالات

دَدے سورة د نازلیدو د زمانے نه معلومیږی چه دا سورة په کومو حالاتو کښے نازل شوے وُو ـ د نبوّت د شروع کیدو نه واخله د پنځو کالو پورے به رسول الله صلی الله علیه وسلّم صرف پخپلو ذاتی او خاصو مجلسونو کښے د الله کلام اَورَولو او د الله دین ته به ئے خلق رابلل ـ په دے تولہ موده کښے نبیؐ ته چرته په عام مجلس کښے د قرآن اَورَولو موقعه نهٔ وه میلاؤ شوی ، ځکه چه کافران مخے ته یو لوئ رُکاوټ وُو ـ هغوئ ته دَدے خبرے بنه اندازه وه چه د نبیؐ په ذات کښے او د هغه په تبلیغ کښے ، او د قرآن مجید په آیتونو کښے څومره لوئ اَثر وُو ـ په دے وجه هغوئ به کوشش کوُو چه نهٔ پخپله واورے ، نهٔ ئے بل څوک واورے ، او د نبیؐ خلاف به ئے قسما قسم غلطے خبرے خورَولے او تش د دروغو پروپیګنډو په زُور به ئے د هغهٔ د دعوت مقابله کوله ـ دَدے غرض دَ پاره به یو طرفته هغوئ ځائے په ځائے دا خبره مشهورَوله چه محمد صلی الله علیه وسلّم بے لارے شوے دے او خلق ګمراهه کوی ـ بل طرفته د هغوئ دا مستقل کار وُو چه په کوم ځائے کښے به نبیؐ د قرآن اَورَولو کوشش کولو هلته به هغوئ شور جوړکړو چه خلقو ته هډو دا پته اُونهٔ لږی چه هغه کومه خبره ده چه خلق پرِ نبیؐ ته ګمراهه او بے لارے وائی ـ

په دے حالاتو کښے یوه وُرځ رسول الله علیه وسلّم په حرم شریف کښے ، چه هلته د قریشو ګنډ خلق موجود وُو ، ناسپه د تقریر د پاره وُدریدو او په هغه وخت کښے د الله تعالیٰ د طرفنه د نبیؐ په ژبه مبارکه دا خطبه جاری شوه کومه چه د سورة نجم په شکل کښے زمونږ مخے ته ده ـ دَدے کلام د اَثر د احال وُو چه کله هغه دا شروع کړو نو د مخالفو خلقو هډو شور کولو ته فکر نهٔ شو ، او کله چه ختم شو او نبیؐ سجده اُوکړه نو ورسره هغوی هم په سجده پریوتل ـ روستو بیا هغوئ سخت پریشانه وُو چه دا زمونږ نه څه کمزوری اُوشوه ، او خلقو پرِ هم ملامتیا وئیل شروع کړه چه نو رخلق دَدے کلام د اَوریدو نه منع کوئ ، نن مو نهٔ صرف پخپله واوریدو بلکه د محمد صلی الله علیه وسلّم سره مو سجده هم اُوکړه ـ آخر دا چه هغوئ د ځان خلاصولو دَ پاره دا خبره جوړه کړه چه مونږ خو : اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى، وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْاُخْرٰى نه روسته د محمّد د خولے نه دا الفاظ اَوریدلی وُو : تلك الغرانقة العُلیٰ ، و ان شفاعتهن لترجیٰ (دا د اُوچتے مرتبے د یوکنډے دی او د دوئ شفاعت خامخا متوقع دے) ، په دے وجه زمونږ ه دا خیال را غے چه محمد زمونږ ه لارے ته واپس را غے حالانکه صرف یو پاکل سړی دا سوچ کولے شو چه دَدے پوّل سورة په عبارت کښے هغه فقرے

هم سَمون خوری دَ کومو په حقله چه دَ هغوی دعویٰ وه چه دَ هغوئ غوږونو اوریدلی دی (دَ تفصیل دَپاره اُوګورہ تفہیم القرآن، دریم جلد، الحج، حاشیے ۹۶ تا ۱۰۱)۔

موضوع اومضمون | دَ مکّے کافرانو چه دَ قرآن اودَ محمد صلی اللہ علیه وسلّم په مقابله کښے کومه لاره خپله کړی وه دَ هغے خبردارے ورکول دی چه داغلطه ده۔

دَ کلام شروع په دے طریقه شوی ده چه محمد صلی اللہ علیه وسلّم بے لارے او گمراهه سړے نهٔ دے، لکه څنګه چه تاسو دَ هغه پخپله شهرت کوئ، اونهٔ دَ اِسلام دا تعلیم اودعوت هغه دَ خپله ځانه جوړ کړے دے، لکه څنګه چه ئے تاسو ګڼړئ، بلکه هغه چه څه پیش کوی دا خالصه وحی ده چه په هغه نازلیږی۔ کوم حقیقتونه چه هغه ستاسو په مخکښے بیانوی دا هغه دَ خپل قیاس اوګمان نه نهٔ دی جوړ کړی بلکه دا هغه په خپلو سترګولیدلی دی۔ هغهٔ هغه فریښته پخپله لیدلی ده دَکومے په ذریعه چه هغه ته دا علم ورکړے کیږی۔ هغه ته دَ خپل رب لوئے لوئے ښکے نیغ په نیغه ښودلے شوی دی۔ هغه چه څه وائی نودَ سوچ نه پس ئے نهٔ وائی، بلکه دَ لیدلونه پس ئے وائی۔ دَ هغه سره ستاسو جګړه بالکل دا سے ده لکه څنګه چه یوړوند دَ سترګو والا سره په هغه څیز جګړه شروع کړی کوم چه هغه ته په نظر نهٔ راځی اوستر ګو والا ته په نظر راځی۔

دَدے نه روستو ترتیب وار دریے مضمونونه بیان شوی دی:

اوّل اَوریدونکوته وئیلے شوی دی چه تاسو په کوم دین پسے روان یئ؟ هغه تش ګمانونه او دَ خپله ځانه جوړ کړی قیاسونه دی۔ تاسو دَ لات اودَ منات او دَ عُزّیٰ غوندے د یو ګڼړونه معبودان جوړ کړی دی حالانکه په خدایئ کښے دَ هغوی هډو څه حصّه نشته۔ تاسو فریښتوته دَ اللہ لونړه وایئ، حالانکه تاسو دَ خپل ځان دَپاره لُور شرم ګڼړئ۔ تاسو په خپل نزکښے دا فرض کړی ده چه ستاسو دا معبودان په اللہ تعالیٰ ستاسو کار کولے شی، حالانکه ټولے مقرّبے فریښتے چه رایوځائے شی نو هم په اللہ باندے خپله څه خبره نشی منلے۔ دَدے قِسم عقیدو لاندے چه تاسو ژوند تیروئ په هغے کښے یوه عقیده هم دَ علم او دَ دلیل په بُنیاد باندے نهٔ ده، بلکه څه خواهشات دی چه دَ هغے دَ خاطره تاسو حُسنی وهمونه حقیقت ګڼړلی دی۔ دا یوه ډیره غټه بُنیادی غلطی ده چه تاسو په کښے اخته یئ۔ دین هغه صحیح دے چه هغه دَ حقیقت مطابق وی۔ او حقیقت دَ خلقو دَ خواهشاتو تابع نهٔ وی چه خلق څه ته حقیقت اُووائی نو هغه به حقیقت وی۔ دَ حقیقت سره دَ مطابقت پیدا کولو دَپاره قیاس اوګمان کار نهٔ کوی، بلکه دَ هغے دَپاره علم ضروری دے۔ هغه علم چه تاسو ته پیش کړے کیږی نو تاسو ترِ مخ اَروئ او اُلټا هغه سړی ته ګمراهه وایئ چه هغه تاسو ته صحیح خبره بنائی۔ ستاسو دَدے غلطئ اصل وجه داده چه ستاسو سره دَ آخرت څه فکر نشته، بس دُنیا موخپل غرض جوړ کړے دے۔ په دے وجه نهٔ تاسو دَ حقیقت علم زده کوئ اونهٔ دَدے خبرې څه پروا

لرئ چه ستاسو کومه عقیده ده چه هغه د حق مطابق ده اوکه نهٔ ده -

دویم خلقو ته دا وئیلے شوی دی چه خاص الله د ټول کائنات مالک او اختیار مند دے په نیغه لار هغه څوک دے، څوک چه د هغه په لاره وی، اوګمراهه هغه څوک دے څوک چه د هغه د لارے نه بے لارے وی - د خلقو د ګمراهئ او د هغوئ په نیغه لاره د تلو حال د هغه نه پټ نهٔ دے - د هر چا عمل هغه ته معلوم دے د هغه په دربار کښے به د بدئ بدله بده او د نیکئ بدله نیکه وی - اصل فیصله به په دے خبره نهٔ وی چه تاسو په خپل ګمان کښے څان څه ګنړلو، او په خپله موده خپل څان د پاکئ څومره دعوے کولے، بلکه فیصله به په دے خبره وی چه د خدائے په علم کښے تاسو متقیان یئ اوکه نهٔ - که چرے تاسو د لویو لویو ګناهونو نه څان اوساتو نو د هغه رحم دومره فراښه دے چه واړه واړه ګناهونه به د رته معاف کړی -

دریم، د حق دین یوځو هغه بُنیادی خبری خلقو ته پیش کړے شوے چه هغه د قرآن مجید د نازلیدو نه په سَوُونو کاله مخکښے د حضرت ابراهیمؑ او د حضرت موسیٰؑ په صحیفو کښے بیان شوے وے، د پاره د دے چه خلق په دے غلط فهمئ کښے پاتے نشی چه محمد صلی الله علیه وسلم کښے یونوے او نا آشنا دین راوړے دے، بلکه چه هغوئ ته دا معلومه شی چه دا هغه بُنیادی حقیقتونه دی چه همیشه د خدائے پیغمبرانو بیان کړی دی - د دے سره د هغه صحیفو نه دا خبره هم نقل کړے شوی ده چه د عاد او د ثمود او د نوحؑ د قوم او د لوطؑ د قوم تباهی هیڅ اتفاقی نهٔ وه بلکه الله تعالیٰ هغوئ د هغ ظلم او سرکشئ په سزا کښے هلاک کړی وُو په کوم ظلم او سرکشئ کښے چه د مکے کافران اخته وُو او په هیڅ شان سره د هغ نه اوړیدو ته تیار نهٔ وُو -

د دے نه روسته تقریر په دے خبره ختم کړے شوے دے چه د فیصلے وخت راتلونکے دے هغه څوک بدلولے نشی - د هغه وخت د را تلونه مخکښے د محمد صلی الله علیه وسلم او د قرآن مجید په ذریعه تاسو ته هغسے خبردارے درکړے کیږی لکه څنګه چه مخکښی خلق خبردار کړے شوی وُو - آیا اوس هم دا هغه خبره ده چه تاسو ته نا آشنا بنکاری؟ چه تاسو ورپورے خندا کانے کوئ؟ چه تاسو ئے پخپله هم اوریدل نهٔ غواړئ او شُور د دے د پاره جوړوئ چه نور څوک هم واونوری؟ تاسو له په دے خپله بے وقوفتیا باندے ژړا نه درځی؟ بس کړئ دا خپل کار، الله ته سر ښکته کړئ او د هغه بندګی اوکړئ -

دا هغه اثر ناکه تقریر وُو چه د دے په اوریدو سره د سخت نه سخت کافران هم تینګ نهٔ شول او رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کله دا کلام اولوستو او سجدهٔ ئے اوکړه نو هغوئ هم بے اختیاره په سجده پریوتل -

سُوْرَةُ النَّجْمِ مَكِّيَّةٌ

اٰيَاتُهَا ۶۲ رُكُوْعَاتُهَا ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ۝۱ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ۝۲

قَسم دے په ستوری[1] کله چه هغه ډوب شو، ستاسو ملګرے[2] نهٔ بے لارے شوے دے او نهٔ په غلطه لار روان شوے دے[3]۔

[1] په اصل کښے لفظ "النَّجْم" استعمال شوے دے۔ ابن عباس، مجاهد، او سُفیان ثَوری وائی چه دَ دے نه مُراد ثریّا ستوره (Pleiades) دے۔ ابنِ جَرِیر او زَمَخْشَری دے قول له ترجیح ورکړی ده، ځکه چه په عربۍ ژبه کښے کله مطلقاً لفظ النَّجْم وئیلے کیږی نو عام طور دَ هغے نه مراد ثریّا ستوره وی۔ سُدّی وائی چه دَ دے نه مراد زُهره ستوره (Venus) دے۔ اَو ابوعبیده نَحْوِی وائی چه دلته دَ النَّجْم نه مراد عام ستوری دی، یعنی مطلب دا دے چه کله سحر شو او ټول ستوری ډوب شو۔ دَ موقع اودَ محل په لحاظ سره زمونږ په ښه دا آخری قول دَ ټولو نه زیات قابل ترجیح دے۔

[2] مراد ترِ رسول الله صلی الله علیه وسلّم دے اوخبره قریشوته ده۔ اصل الفاظ صَاحِبُكُمْ (ستاسو صاحب) استعمال کړے شوے دے۔ "صاحب" په عربۍ ژبه کښے دوست، ملګری، رفیق، یوځائے ناسته پاسته کوونکی ته وائی۔ دلته دَ نبیؐ نوم نهٔ دے اغستلے شوے اونهٔ دَ "زمونږه رسول" الفاظ وئیلے شوی دی بلکه دَ دے په ځائے "ستاسو ملګرے" وئیلے شوے دے، نو په دے کښے ډیر ژور مطلب پروت دے۔ دَ دے دا مقصد دے چه دَ قریشو فکر دے خبرے ته راوکړی چه کوم سړے تاسوته یا دَ ولے کیږی هغه تاسوته دَ بهر نه نهٔ دے راغلے، څه نا اشنا سړے نهٔ دے چه ګنی دَ ځکښے نه ئے پیژنئ۔ ستاسو دَ خپل قوم سړے دے۔ ستاسو سره یوځائے ژوند تیروی۔ ستاسو بچے بچے هغه پیژنی چه څوک دے، دَ کوم خوئ انسان دے، څنګه ئے معاملات دی، څنګه ئے عادتونه اوخصلتونه دی، اودَ ښ وړ ئے پورے ستاسو تر منځه دَ هغه ژوند څنګه دے۔ دَ هغه په باره کښے که څوک ځان ستړے کړی اوڅه اُووائی نو په تاسو کښے په زړګونو خلق داسے موجود دی چه هغه بنه پیژنی او په دے بنه پوهیږی چه دا خبره دَ هغه سره لږ ډیر هم اوکه نهٔ۔

[3] دا ده هغه خبره چه دَ دوبید ونکی ستوری یا دَ دوبید ونکو ستورو قسم پرخوړلے شوے دے۔ دَ ضَلَّ نه مراد دے چه یوسړی ته لار نهٔ وی معلومه اودَ غَوٰی په وجه په غلطه لار روان شی اودَ غَوٰی نه مراد دے چه یوسړے قصداً په غلطه لار روان شی۔ دَ آیت مطلب دا دے چه په محمد صلی الله علیه وسلّم باندِ ستاسو دا الزام بالکل غلط دے چه هغه ګمراه شوے یا بے لارے شوے دے۔ په حقیقت کښے نهٔ هغه بے لارے شوے دے اونهٔ په غلطه لار روان شوے دے۔ په دے خبره باندِ چه دَ ستورو دَ دوبید وقسم په کوم مناسبت سره

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ۝٣ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ۝٤ عَلَّمَهٗ

هغه د خپل نفس د خواهش نه خبری نه کوی ، دا خو یوه وحی ده چه په هغه نازلوَلے کیږی ۔ هغهٔ ته

خوږلے شوے دے هغه دادے چه د شپے په تیاره کښے کله ستوری راختلی وی نوسړے د خپل خواؤ شا څیزونه صفا نشی لیدلے او د مختلفو څیزونو د خړوخړو شکلونو په باره کښے د غلطۍ اندازے لګولو امکان وی ۔ مثلاً په تیاره کښے د لرے نه یوه وُنه هسے یو بَوبنکاری ۔ رَسۍ سړی ته مار بنکاری ۔ د خاورے خټ سړی ته یو خطرناک څناور بنکاری ۔ لیکن کله چه ستوری ډوب شی او صبا را اُوخیژی نو هر څیز په خپل اصلی شکل کښے بنکاره شی ۔ دا رنګ معامله ستاسو د محمد صلی اللہ علیه وسلّم سره هم ده چه د هغه ژوند په تیاره کښے پټ نهٔ دے بلکه د صبا په شان بنکاره دے ۔ تاسوته پته ده چه ستاسو دا "صاحب" یو بنه طبیعت والا هوښیار سړے دے ۔ د هغه په باره کښے به د قریشو یو سړے څنګه دوکه شی چه هغه به لاړے شوے دے ۔ تاسوته دا هم پته ده چه هغه د پیرنیک او ریښتیني سړے دے ۔ د هغه په حقله په تاسو کښے څوک دا څنګه وئیلے شی چه هغه قصداً پخپله هم په کږه لاره روان شوے دے او نورخلق هم د غه کږے لارے ته را بَلی ۔

مطلب دادے چه د کومو خبرو په وجه تاسو په هغه باندِ دا الزام لګوئ چه هغه ګمراهه شوے دے یا په غلطه لارروان شوے دے ، هغه خبری هغه د خپلو ځانه نهٔ دی جوړے کړی ، نهٔ ئے د خپل نفس د خواهش نهٔ وئیلی دی ، بلکه هغه د اللہ د طرفنه په هغه باندِ د وَحی په ذریعه نازلے شوی دی او نازلیږی ۔ نبی جوړیدو ته د هغه خپل زړه نهٔ وُو چه ګنی د خپل خواهش پوره کولو د پاره هغه د نبوّت دعویٰ اُوکړه ، بلکه اللہ تعالیٰ چه ورله د وَحی په ذریعه پیغمبری ورکړه نو پس د هغے هغه ستاسو په منځ کښے د پیغمبریٔ د تبلیغ د پاره را پاسید و او تاسوته ئے اُووئیل چه څه ستاسو د پاره د خدائے نبی یم ، دغه شان د اِسلام دا دعوت ، د توحید دا تعلیم ، د آخرت او د حشر او د نشر او د عملونو د بدلے دا خبری ، د کائناتو او د انسان په حقله دا حقیقتونه ، او د پاک ژوند تیرولو دا اصول چه هغه پیش کوی ، دا ټول هرڅه هغه د خپله ځانه نهٔ دی جوړ کړی بلکه اللہ تعالیٰ د وحی په ذریعه هغه ته دَدے خبرو علم ورکړے دے ۔ دغه شان دا قرآن چه هغه تاسوته اَوروی ، دا هم هغه د خپله ځانه نهٔ دے جوړ کړے ، بلکه دا د خدائے کلام دے چه د وَحی په ذریعه په هغه باندِ نازلیږی ۔

دلته دا پوښتنه کیدے شی چه د نبی صلی اللہ علیه وسلّم په باره کښے د اللہ تعالیٰ دا فرمان چه "نبی د خپل نفس د خواهش نهٔ خبری نهٔ کوی بلکه هغه چه څه وائی هغه یوه وَحی ده چه په هغه باندِ نازلوَلے کیږی" ؛ دا د نبیٔ د کومو خبرو په حقله دے ؟ آیا دَدے نه مُراد هغه ټولے خبری دی کومے چه به هغه کولے ، یا څینی خبری تر مراد دی او څینی نهٔ دی ؟ دَدے جواب دا دے چه ترڅو پورے د قرآن مجید په حقله خبرو نو هغه په اَولیٰ درجه

دَد ے نه مُراد دے ۔ پاتے شوے هغه نُورِے خبری چه دَ قرآن مجید نه علاوه به نبیؐ کولے نوهغه درے قِسمه کیدے شی ،

یو قِسم هغه خبری چه هغه به دَ دین دَ تبلیغ اودَ دعوت اِلَی اللّٰه دَ پاره کولے ، یا به ئے دَ قرآن مجید دَ تعلیماتو او دَ هغے دَ حکمونو تشریح کوله ، یا به ئے دَ قرآن دَ مدعا پوره کولو دَ پاره وعظ او نصیحت کولو او خلقو ته به ئے تعلیم ورکولو ۔ دَ دِے په حقله خوظاهره خبره ده چه دَ دِے شک کولو هیڅوڅه گنجایش نشته چه دا خبری به گِنی هغه (معاذاللّٰه) دَ خپله خانه کولے ۔ په دِے خبروکښے خودَ هغه حیثیت په حقیقت کښے دَ قرآن دَ سرکاری ترجمان ، او دَ اللّٰه تعالیٰ دَ مجازی نمائیندہ وُو ۔ دا خبری به اگرچه په هغه باندِ هغسے تکی په تکی نهٔ نازلیدلے لکه څنگه چه به پرِ قرآن نازلیدو ، لیکن دا خبری لازماً دَهغے علم په بُنیاد باندِ وے کوم چه دَ وحی په ذریعه هغه ته ورکړے شوے وُو ۔ په دے کښے معنے اومطلبونه هغه وُوکوم چه دَ اللّٰه دَطرفنه هغه ته بنودلے شوی وُو او الفاظ دَ نبیؐ خپل وُو ۔ دَ دِے فرق په بُنیاد باندِ قرآن ته وحیِ جَلِي ، او دَ نبیؐ نُور وخبرو ته وحیِ خَفِي وئیلے کیږی ۔

دویم قِسم خبری هغه وے چه هغه به دَ اللّٰه دَکلمے دَ اُوچتولو او دَ دین دَ قایمولو په سلسله کښے کولے ۔ په دے کارکښے به هغه دَ مسلمانانو دَ یومشر رهنما په حیثیت سره مختلف قِسم بے شماره کارونه کول ، په دا سے کارونوکښے هغه اکثر دَ خپلو ملگرونه مشوره هم اغستلی ده ، خپله رائے ئے پریښودی ده او دَ هغوئ رائے ئے هم منلی ده ، دَ هغوی په تپوس سره ئے کله ناکله داخبره صفاهم وئیلی ده چه دا خبره څه دَ خدائے په حکم نهٔ کوُم ، بلکه دَخپلے رائے په طور ئے وایم ، او دِیرځله دا سے هم شوی ده چه نبیؐ دَ خپل اِجتهاد نه یوه خبره کړی ده او روستو دَ اللّٰه دَ طرفنه دَ هغے خلاف هدایت راغلے دے ۔ دا قِسم څومره خبری چه نبیؐ کړی دی په هغے کښے یوه خبره هم دا سے نهٔ ده او قطعاً کیدے نهٔ شوه چه هغه به دَ هغه دَ خپل نفس دَ خواهش مطابق وه ۔ پاتے شوه داخبره چه آیا دِے قِسم خبروته وحی وئیلے کیږی ؟ دَ دِے جواب دا دے چه بغیر دَ هغه خبرونه دَکومو په حقله چه نبیؐ پخپله فرمائیلی دی چه دا دَ اللّٰه حکم نهٔ دے ، یا په کومو خبروکښے چه نبیؐ دَصحابو نه مشوره اغستلی ده او دَ هغوی رائے ئے قبول کړی ده ، یا دَ نبیؐ دَ قول او فعل نه روستو اللّٰه تعالیٰ دَ هغے خلاف حکم نازل کړے دے ، باقی نُورے ټولے خبری هم هغسے وحی خَفِي وے لکه څنگه چه دَ اوّل قِسم خبری وِے ۔ ځکه چه دَ اسلامی دعوت دَمشرئ اودَمومنانو دَ سرداریٔ اودَ اِسلامی حکومت دَ حاکم کیدو کوم منصب چه هغهٔ ته حاصل وُو هغه هغهٔ پخپله نهٔ وُو حاصل کړے ، نهٔ ورله خلقو ورکړے وُو بلکه په هغے باندِ هغه دَ اللّٰه دَطرفنه مقرر شوے وُو ، او دَ دِے منصب دَ حق ادا کولو دَ پاره چه به هغه څه وئیل یا به ئے څه کول په هغے کښے دَ هغهٔ حیثیت دَ اللّٰه تعالیٰ دَ یو نمائیندہ وُو ۔ په دے کارکښے چه نبیؐ کومے خبری دَخپل اِجتهاد نه کړی دی په هغے کښے هم دَ هغهٔ اِجتهاد دَ اللّٰه خوښ وُو او دَ هغه علم په رښتیا کښے وُوکوم چه اللّٰه تعالیٰ هغه له ورکړے وُو ۔ ځکه خوچه کله دَ نبیؐ اِجتهاد یوه ذره دَ اللّٰه دَ مرضا نه خلاف شوے دے نو په هغه وخت فوراً په وحی جَلِي سره

شَدِيدُ الْقُوٰى ۝۵ ذُو مِرَّةٍ ۭ فَاسْتَوٰى ۝۶ وَهُوَ بِالْاُفُقِ

یوزبردست قوّت والا تعلیم ورکړے[۵] دے چه هغه وپیرته حکمت خاوند[۶] دے۔ هغه مخامخ راغے اووُدریده و

دَ هغے اصلاح شوی ده ۔ دَ نبیؐ دَ حُینو اِجتهاداتو دا اصلاح کول پخپله دَ دے خبرې دلیل دے چه دَ نبیؐ باقی نور ټول اِجتهادونه بالکل دَ الله تعالیٰ دَ مرضئ مطابق وُو۔

دریم قِسم خبرې هغه وے چه نبیؐ به دَ دیوانسان په حیثیت سره دَ ژوند په عامو معاملاتو کښے کولے، چه دَ هغے تعلق به دَ پیغمبرئ دَ کارونو سره نهٔ وُو، چه نبیؐ به دَ نبوّت نه مخکښے هم کولے او دَ نبوّت نه روستو بـــه ئے هم کولے ۔ دَ دے قِسم خبرې په حقله دَ ټولونه اوّل په دے خبره ځان پوهه کول پکار دی چه دَ هغه خبرو په باره کښے دَ کافرانو سره هیڅ جګړه نهٔ وه ۔ کافرانو دَ هغے په وجه نهٔ هغه ته بے لارے وئیلے وُو او نهٔ ئے ورته په غلطه لار وئیلے وُو بلکه په اولنو دوُو قِسمو خبرو باندِ به هغوئ دا الزامونه لګول ۔ په دے وجه دا دریم قِسم خبرې هډوډ دَ بحث لاندِ نهٔ وے چه الله تعالیٰ دَ هغے په باره کښے دا آیت نازل کړے وے۔ لیکن دلته اګرچه په دے قِسم خبرو باندِ هډوډه څه بحث نهٔ وُو خوبیاهم دا حقیقت دے چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَ خُلے نه یوه خبره هم دَ خپل ذاتی ژوند په اړخ کښے دَ حق نه خلاف نهٔ وه شوی، بلکه هروخت به په هرحال کښے دَ نبیؐ قول اوفعل په هغه حد کښے دَ ننه وُوکوم چه الله تعالیٰ دَ یو پیغمبرې ژوند تیرولو دَ پاره هغه ته ښودلے وُو ۔ نوپه حقیقت کښے دَ وحی نُور په هغے کښے هم موجود وُو ۔ هم دا خبره دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم په حُینو احادیثو کښے نقل کړے شوی ده ۔ په مُسنَدِ احمد کښے دَ حضرت ابوهـریرهؓ روایت دے چه په یوه موقعه کښے نبیؐ اُوفرمائیل لا اقول الّا حقّا " څه دَ حق نه سِوا بله هیڅ خبره نهٔ کوم"۔ یوصحابی عرض اُوکړو ، فَاِنّك تداعِبُنا یا رسول الله ،" اے دَ الله رسوله کله نا کله خوتهٔ زمونږ سره ټوقے خندا هم کوے"۔ نبیؐ اُوفرمائیل اِنّی لا اَقُول الّا حقّا ، " واقعی چه څه دَ حق نه سِوا بل هیڅ نهٔ وایم"۔ په مُسنَدِ احمد او ابوداوُد کښے دَ حضرت عبدالله بن عَمرو بن عاص روایت دے، هغه وائی چه مـا بـه څه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم نه اوریدل هغه به یم لیکل چه زما سره محفوظ پاتے شی ۔ دَ قریشو خلقو څه دَ دے نه منع کړم اووے وئیل چه تهٔ هره خبره لیکے ، حالانکه رسول الله صلی الله علیه وسلّم انسان دے ، کله په غُصه کښے هم خبره کوی، نو ما لیکل پرینبودل ۔ روستو ما دا خبره نبیؐ ته اُوکړه نو هغه اُوفرمائیل اکتب فوالّذی نفسی بیده ماخرج مِنّی اِلّا الحق ، " ته لیکه ، په هغه مِ دِ قَسم وی چه خُما روح دَ هغه په لاس کښے دے ، خُما دَ خُلے نه هیڅکله یوه خبره دَ حق نه سِوا نهٔ ده وتلی"۔ (په دے مسئله باندِ دَ زیات تفصیل دَ پاره اُوګورئ خُما کتاب تفهیمات اوله حصّه مضمون "رسالت اور اس کے احکام") ۔

۵ یعنی انسان هغه ته ښودنه نهٔ کوی ، لکه څنګه چه ستاسو ګمان دے ، بلکه دا علم هغه ته په بالائی ذریعه حاصلیږی ۔ " دَ زبردست قوّت والا " نه مراد دَ حُینو خلقو په نزد الله تعالیٰ ذات دے ، لیکن دَ مفسّرینو لویه ډله په دے خبره متفق ده چه دَ دے نه مراد حضرت جبریل علیه السّلام دے ۔ دَ حضرت عبدالله بن مسعودؓ

د حضرت عائشہؓ، د حضرت ابوهریرہؓ، د قتادہ، د مجاهد اود ربیع بن انس نه هم دا قول نقل کړے شوے دے۔ ابن جریر، ابن کثیر، رازی او آلوسی وغیره هم دا قول اختیار کړے دے۔ شاولی الله صاحب او مولانا اشرف علی صاحب هم په خپلو ترجمو کښے د دے پیروی کړی ده، اوصحیح خبره داده چه پخپله د قرآن مجید د نورو ځایونونه هم دا ثابته ده۔ په سورۃ تکویر کښے د الله تعالیٰ فرمان دے: اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ، ذِىْ قُوَّةٍ عِنْدَ ذِى الْعَرْشِ مَكِيْنٍ، مُّطَاعٍ ثَمَّ اَمِيْنٍ، وَمَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُوْنٍ، وَلَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ الْمُبِيْنِ ۝ (آیتونه ۱۹ - ۲۳)۔ "په حقیقت دا د یوے بزرګ فرښتے بیان دے چه هغه زبردست قوت والا ده، د عرش د مالک سره هغه لوړه درجه لری، د هغې حکم منلے کیږی او هلته هغه قابل اعتبار ده۔ ستاسو ملګرے لیونے نه دے، هغه دغه فرښته د آسمان په سپکاره غاړه باندې لیدلی ده"۔ بیا د سورۃ بقرے په آیت ۹۷ کښے د هغه فرښتے نوم هم بیان کړے شوے دے د کومے په ذریعه چه دا تعلیم د نبیؐ په زړه باندې نازل شوے وُو: قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ عَلٰى قَلْبِكَ بِاِذْنِ اللّٰهِ - دا پټول آیتونه چه د سورۃ نجم د دے آیت سره یوځای اولوستے شی نو په دے خبره کښے څه شک نه پاتے کیږی چه دلته د زبردست قوت والا معلم نه مراد جبریل امین دے نه چه الله تعالیٰ - په دے مسئله باندې تفصیلی بحث وړاندې راځی۔

دلته څینی حضرات دا شُبهه ظاهر وی چه جبریل امین ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم مُعَلِّم څنګه ویلے کیدے شی، د دے خوبه دا مطلب وی چه هغه اُستاذ دے او نبیؐ شاګرد دے، او د دے نه به د جبریلؑ فضیلت په نبیؐ باندې خامخا راځی۔ لیکن دا شُبهه په دے وجه غلطه ده چه جبریلؑ د خپل ذاتی علم نه نبیؐ ته تعلیم نه ورکولو چه په هغې سره د هغه فضیلت په نبیؐ باندې لازم شی، بلکه هغه الله تعالیٰ نبیؐ ته د علم رسولو ذریعه جوړه کړی وه او هغه صرف د تعلیم د ذریعے په حیثیت سره مجازاً د نبیؐ مُعَلِّم وُو۔ په دے سره د هغه د فضیلت څه خبره نه راپیدا کیږی۔ دا بالکل دا سے خبره ده لکه څنګه چه د پښتو خته مونځونو فرض کیدو نه روستو الله تعالیٰ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د مونځونو د صحیح وختونو بنودلو د پاره جبریلؑ هغه ته راولیږلو او هغه دوه ورځے پښتو خته مونځونه هغه له ورکړل۔ دا واقعه په بُخاری، مُسلم، ابوداوُد، ترمذی او مُؤطّا وغیره کتابونو کښے د صحیح سنَدونو سره بیان شوی ده او په هغې کښے رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله فرمائی چه څه متندی وُوم او جبریلؑ امام وُو۔ لیکن د څه شان صرف د تعلیم په غرض سره د هغه اِمام جوړیدل دا مطلب نه لری چه هغه د نبیؐ نه غوره وُو۔

۶ په اصل کښے لفظ ذُوْمِرَّةٍ استعمال کړے شوے دے۔ ابن عباس او قتادہ وائی چه د دے معنیٰ ده بنایسته او شاندار۔ مُجاهد، حسن بصری، ابن زید او سُفیان ثَوری وائی چه د دے معنیٰ ده طاقتور۔ د سعید مُسَیَّب په نزد دے نه مراد دے د حکمت خاوند۔ په حدیث کښے نبیؐ صلی الله علیه وسلم فرمائی: لا تحل الصدقة لغنی ولا لذی مِرَّةٍ سَوِیٍّ۔ په دے حدیث کښے لفظ ذُومِرَّةٍ د تندرست او د صحیح قوت په معنی کښے استعمال کړے دے۔ په عربی ژبه کښے دا لفظ د هغه صحیح رائے والا او د عقلمند او د هوښیار په معنیٰ کښے هم استعمالیږی۔ الله تعالیٰ دلته د جبریل علیه السّلام د پاره دا جامع لفظ په دے وجه غوره کړے دے چه په دے کښے د عقلی او جسمانی، دواړو قسمونو طاقتونو کمال موندے شی۔ په اُردو (یا پښتو) ژبه کښے

الْاَعْلٰى ۝٧ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ۝٨ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ
اَدْنٰى ۝٩ فَاَوْحٰٓى اِلٰى عَبْدِهٖ مَآ اَوْحٰى ۝١٠ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ

په داحال کښے چه هغه د اُفق په اُوچته غاړه وُو، بیا نزدے راغے اوښکته (په هوا کښے) آویزان وُدریدو، اَنُ تردے پورے چه د دوو لیندو وبرابر یا دَدے نه څه کمه فاصله پاتے شوه۔ پس د هغے هغه د اللہ بنده ته هغه وحی اُورَسوله د کومے رَسول چه د هغه په ذمه وُو۔ هغه چه څه په نظر

یولفظ دا سے نشته چه دا ټولے معنے پکښے راجمع کړے شی په دے وجه مونږ په ترجمه کښے د دے صرف یوه معنی کړی ده، ځکه چه د جسمانی طاقتونو ذکر دے نه په حکیمی فقره کښے راغلے دے۔

۷ د اُفق نه مراد دے د آسمان نمرختیزه غاړه چه د کوم خوا نه نمر راخیژی اود ورځے رڼا تر راخوریږی۔ دے ته د سورۂ تکویر په آیت ۲۳ کښے اُفق مُبین وئیلے شوے دے۔ دواړه آیتونه دا څرګندونه کوی چه کله نبیؐ صلی اللہ علیه وسلم ته په اول ځل جبریل علیه السّلام په نظر راغے نو په هغه وخت کښے هغه د آسمان د نمرختیز ے غاړے نه راښکاره شوے وُو۔ او د ډیرو معتبرو روایتونه معلومیږی چه په هغه وخت کښے هغه په هغه اصلی شکل کښے وُو په کوم شکل کښے چه اللہ تعالیٰ پیدا کړے دے۔ وړاندے به مونږ هغه ټول روایتونه را نقل کړو په کوموچه دا خبره بیان شوی ده۔

۸ یعنی کله چه جبریل علیه السّلام د آسمان د اُوچتے نمرختیز ے غاړے نه راښکاره شو نو بیا د رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم طرفته ور روان شو آن تر دے پورے چه د نبیؐ د سر د پاسه راغے او په هوا کښے وُدریدو۔ بیا هغه نبیؐ ته راټیت شو او د وے ره راتر دے شو چه د نبیؐ او د هغه په منځ کښے د دوو لیندو وبرابر یا څه کمه فاصله پاتے شوه۔ عام طور مفسّرینو د قَابَ قَوْسَيْنِ معنیٰ "په قدر د دوو لیندو" کړی ده لیکن حضرت عبداللہ بن عباسؓ او حضرت عبداللہ بن مسعودؓ د قوس معنی ذراع (یعنی لاس) کړی ده او د کَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ دا مطلب بیانوی چه د دواړو په منځ کښے صرف د دوو لاسونو هومره فاصله پاتے شوه۔

او داچه فرمائیلے شوی دی چه فاصله د دوو لیندو وبرابر یا د دے نه څه کمه وه نو د دے دا مطلب نه دے چه (معاذ اللہ) گنی د فاصلے په کچ مچ کښے د اللہ تعالیٰ څه شک وُو۔ په اصل کښے خبره په دے طرز ځکه شوی ده چه ټولے لیندے خامخا په یوکچ نه وی او د لیندو په حساب سره چه کله یوه فاصله بیانیږی نو د هغے په مقدار کښے به ضرور څه کمے زیاتے وی۔

۹ اصل الفاظ دی فَاَوْحٰٓى اِلٰى عَبْدِهٖ مَآ اَوْحٰى۔ د دے فقرے دوه ترجمے مُمکنے دی۔ یوه داچه "هغه وحی اُوکړه د هغه په بنده باندے څه چه هغه وحی اُوکړه"۔ او دویمه داچه "هغه وحی اُوکړه په خپل بنده باندے څه چه هغه اُوکړه"۔ د اولے ترجمے په لحاظ سره به د دے معنی دا وی چه جبریلؑ وحی اُوکړه د اللہ په بنده باندے څه وحی کول چه د هغه په ذمه وُو۔ او د دویمے ترجمے په لحاظ سره به مطلب داوی چه اللہ تعالیٰ وحی اُوکړه د جبریل په ذریعه څه وحی چه د هغه په ذمه وه۔ مفسّرینو دا دواړه معنے بیان کړی دی۔ لیکن د وړاندے روستو عبارت

مَا رَاٰى ﴿١١﴾ اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ﴿١٢﴾ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً
اُخْرٰى ﴿١٣﴾ عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ﴿١٤﴾ عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى ﴿١٥﴾

اُولیدل، په هغې کښے زړه دروغ شامل نه کړل۔ ایا اوس تاده هغهٔ سره په هغه څیز جګړه کوئ چه هغه ئے په سترګو وینی؟
اویوځل بیا هغه د سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰى په خوا کښے هغه اُولیدو چه هلته ورسره جَنَّتُ الْمَاْوٰى دے۔

سره آولنے مطلب زیات مناسبت لری اوهم دا مطلب د حضرت حسن بصری اوابن زید نه نقل کړے شوے دے۔ په دے حقله څوک دا ټپوس کولے شی چه د عبدهٖ ضمیر د اَوْحٰى فاعل ته د راتلو په ځائے الله تعالیٰ ته څنګه راتلے شی هرکله چه د سورة د شروع نه د دے ځائے پورے د الله نوم هم ودسر نه راغلے نهٔ دے؟ د دے جواب دا دے چه په کوم ځائے کښے د وړاندے روستو عبارت نه صفا معلومیږی چه ضمیر یوخاص سړی ته دے نو هلته ضمیر پخپله هغه ته کوزی اګرکه د هغه ذکر مخکښے نهٔ وی راغلے۔ دا دے د پیرمثالونه پخپله په قرآن مجید کښے موجود دی۔ د مثال په طور د الله تعالیٰ فرمان دے: اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ "مونږ هغه په لیلة القدر کښے نازل کړے دے" دلته د قرآن هم ودسر نه چرته ذکر نهٔ دے راغلے۔ لیکن د عبارت نه پخپله معلومیږی چه ضمیر قرآن ته دے۔ په یوبل ځائے کښے دی: وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَآبَّةٍ۔ "که چرے الله تعالیٰ خلق د خپلو عملونو په وجه رانیول شروع کړی نو د هغے په شا باندے به یو د ساځیز پرے نږدی"۔ دلته وړاندے روستو د زمکے ذکر هم وراغلے نهٔ دے۔ لیکن د عبارت نه پخپله معلومیږی چه "د هغے د شا" نه مُراد "د زمکے شا" ده۔ په سورة یٰس کښے فرمائی: وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ۔ "مونږ هغه ته د شعر تعلیم نهٔ دے ورکړے اونهٔ شاعری د هغه سره بنائی"۔ دلته مخکښے یا روستو د رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ ذکر نهٔ دے راغلے لیکن د عبارت نه معلومیږی چه دواړه ضمیرونه رسول الله ته دی۔ په سورة رحمٰن کښے فرمائی: كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ، "هغه ټول هرڅه چه په هغے دی، فانی دی"۔ وړاندے روستو هیڅ ذکر د زمکے نشته لیکن د عبارت د اندازنه معلومیږی چه د علیها ضمیر زمکے ته دے۔ په سورة واقعه کښے فرمائی: اِنَّآ اَنْشَاْنٰهُنَّ اِنْشَآءً۔ "مونږ به هغوی خاص طور پیدا کړی وی"۔ خو اُوشاته هیڅ څیز نشته چه د هُنَّ ضمیر ورته راوګرځی۔ دا د کلام د انداز نه پخپله معلومیږی چه دَدے نه مُراد د جنّت بنځے دی۔ پس د اَوْحٰى اِلٰى عَبْدِهٖ مطلب خو په هیڅ حال دا نشی کیدے چه جبریلؑ په خپل بنده وحی اُوکړه، نو په دے وجه د دے نه به خامخا دا معنٰی اخستلے کیږی چه جبریلؑ د الله په بنده وحی اُوکړه، یا بیا دا چه الله د جبریلؑ په ذریعه په خپل بنده وحی اُوکړه۔

۱۰ یعنی دا کوم لیدل کتل چه د وُرځے په رڼا کښے او پوره د بیدارئ په حالت کښے په غږیدلو سترګو محمد صلی الله علیه وسلم اُوکړل، په دے باندے هغه ته خپل زړه دا اُونهٔ وئیل چه دا د نظر دوکه ده، یا یوپیړے

یا شیطان دے چه ماته په نظر راځی، یا څما مخے ته یو خیالی شکل را ښکاره دے اوځه په ویخه یوخوب وینم، بلکه کوم څه چه د هغه ستړکو لیدل د هغه زړه ټیک ټیک هغه رښتیا ګڼزل - په دے باره کښے بے شکه د هغه دا یقین ؤو چه واقعی دا جبریل دے اوکوم پیغام چه د دے راړسوی دا واقعی د خدائے د طرفنه وحی ده -

دلته دا تپوس کیدے شی چه آخر هغه څه خبره ده چه د هغے په وجه د یو دا سے عجیبه او نا اشنا کار په باره کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ شک را نغے او پوره یقین ئے اوکړه چه څما ستړکے څه وینی هغه بالکل حقیقت دے یو خیالی تصویر نهٔ دے او یو پیړے یا شیطان هم نهٔ دے؟ په دے خبره چه کله مونږ ه غور کوؤ نو دا دے پینځه وجے زمونږ په ذهن کښے راځی:

یوه داچه په کومو بهرنی حالاتو کښے دا واقعه شوی وه هغه بالکل درست او صحیح ؤو - رسول الله صلی الله علیه وسلم چه جبریلِ امین لیدو نونهٔ تیاره وه، نهٔ د مراقبے حالت ؤو، نهٔ اُوده ؤو او نهٔ پرکاله ؤو، بلکه د سحر رڼا راختلی وه، هغه پوره بیدار ؤو، ښه په ډاکه او په رڼا ؤړځ ئے په خپلو ستړکو جبریلؑ ټیک دا سے لیدو لکه څنګه چه یو سړے د دُنیا نُور څیزونه وینی - که چرے په دے کښے د شک څه ګنجائش وی نو بیا خوچه مونږ ه د ؤړځے کوم دریا بونه، غرونه، مکانونه، او انسانان وغیره وینو هغه ټول شکمن کیدے شی او سړے ورته د نظر دوکه ویلے شی -

دویمه داچه د نبیؐ خپل اندرونی حالت هم د یقین کولو د پاره بالکل صحیح ؤو - نبیؐ ښه پوره په هوش کښے ؤو حوصله ئے ټیک وه - د څخکښے نه د هغه په ذهن کښے دا قسم خیال هډو ؤونهٔ چه دا سے څه واقعه پکاردہ یا به دا سے څه واقعه کیږی - د هغه په ذهن کښے دا سے فکر بالکل نهٔ ؤو - او په دے حالت کښے نا سا په هغه د دے واقعے سره مخ شو - په دے کښے د دے شک کولو هیڅ ګنجائش نهٔ ؤو چه ګنی د ستړکو مخے ته یوه حقیقی واقعه نهٔ ده بلکه یو خیالی تصویر مخے ته راغلے دے -

دریمه داچه په دے حالاتو کښے کومه هستی د هغه مخے ته راغلی وه هغه دا سے لویه اوشاندار ه، اوښکلے، اور وښانه وه چه نهٔ د نبیؐ په خیال اوګمان کښے چرته د دے نه مخکښے دا سے هستی په فکر کښے راغلی وه چه ګنی د هغے په وجه د هغه دا ګمان راتلو چه دا هسے څما د فکر خیالی واقعه ده، اونهٔ یو پیړے یا شیطان په دے شان سره کیدے شو چه هغه د فرښتے نه سوا بل څه ګڼلے وے - د حضرت عبد الله بن مسعودؓ روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه ما جبریلؑ په دے شکل کښے اُولید وچه د هغه شپږ سوه وزر دے وے - (مُسندِ احمد) - په یوبل روایت کښے ابن مسعودؓ زیاته تشریح کوی چه د جبریل علیه السّلام یو وزر دومره لوی ؤو چه په اُفق باندِ خور ښکاریدو (مُسندِ احمد) - الله تعالیٰ پخپله د هغه شان په شَدِیدُ القُوٰی او ذُوْمِرَّةٍ الفاظو سره بیانوی -

څلورمه داچه کوم تعلیم هغه هستئ نبیؐ له ورکوؤ هغه هم د دے واقعے د صحیح والی د پاره تسلے ناک ؤو - د هغه تعلیم په ذریعه چه نا څاپه کوم علم، او د ټول کائنات د حقیقتونو په حقله علم نبیؐ ته ملا ؤشو د هغے څه خیال د اوّل نه د هغه په ذهن کښے نهٔ ؤو چه هغه پرِ شک کړے وے چه دا کنی څما هغه خپل خیالات دی چه څما مخے ته راغلی دی - د هغه شان په هغه علم باندِ د دے شک کولو هم څه ګنجائش نهٔ ؤو چه ګنی شیطان په دے شکل کښے راغلے دے او نبیؐ له

دوکه ورکوی۔ ځکه چه د شیطان دا کارکله کیدے شی اوکله هغه دا کارکړے دے چه انسان ته د شرک او د بت پرستئ خلاف د خالص توحید تعلیم ورکړی؟ د آخرت د سوال جواب نه ئے خبردار کړی؟ د جاهلیت نه او د جاهلیت د رسمونونه ورله زړه تورکړی؟ بنواخلاقو ته ئے را اوبلی؟ او یوسړی ته دا اووائی چه نهٔ یوازے ته پخپله دا تعلیم قبول کړه بلکه د ټولو ئیا نه د شرک او د ظلم او د ګناه د ختمولو او د هغے په ځائے د توحید او د عدل او د نیکئ قایمولو د پاره را پاسه؟

پینځمه او د ټولونه اهمه وجه داده چه الله تعالیٰ کله یوسړے د خپل نبوّت د پاره غوره کوی نو د هغه زړه د شک شبهو او د وسوسونهٔ پاک کړی او د یقین او د بروسے نه ئے ډک کړی۔ په دے حالت کښے چه د هغه ستړکے څه وینی، او د هغه غوږونه څه اوری، او د هغے د صحیح والی په حقله معمولی شان شک هم د هغه په ذهن کښے نهٔ راپیدا کیږی۔ هغه ښه په یقین سره هرهغه حقیقت قبلوی کوم چه د هغه د رب د طرفنه هغه ته ظاهریږی، خواه که هغه د لیدو په شکل کښے وی چه هغه ته په ستړګو اوښودلے شی، اوکه د الهامی علم په شکل کښے وی چه د هغه زړه ته ورواچولے شی، اوکه د وحی د پیغام په شکل کښے وی چه هغه ته ټکے په ټکی او ورو ورو لے شی۔ په دے ټولو شکلونو کښے پیغمبر ته د دے خبرې پوره یقین وی چه هغه د هرقسم شیطانی مداخلت نه قطعی طور محفوظ او په امن دے او هرڅه چه هغه ته په هرشکل کښے ورورسی هغه ټیک د هغه د رب د طرفنه دی۔ الله تعالیٰ چه انسان له کوم علمونه ورکړی دی د هغے ټولو علمونو پشان د پیغمبر دا علم هم یوداسے یقینی څیز دے چه په هغے کښے د دوکه کیدو څه امکان نشته۔ لکه څنګه چه مهې ته د خپلے لامبو وهلو، مرغئ ته د خپلے مرغئ والی او انسان ته د خپل انسانو الی فکر بالکل د خدائے د طرفنه ورکړے شوے وی او په هغے کښے د دوکه کیدو هیڅ شک نشی کیدے، د غه شان پیغمبر ته د خپل پیغمبر کیدو فکر هم د خدائے د طرفنه ورکړے شوے وی، د هغه په زړه کښے د یو ساعت د پاره هم داشک نهٔ راځی چه شاید هغه د پیغمبرئ په حقله په دوکه کښے پروت دے۔

۱۱ دا د نبی صلی الله علیه وسلم سره د جبریل علیه السلام د دوو ملاقات ذکر دے۔ په دے ملاقات کښے هم جبریلؑ نبیؐ ته په خپل اصلی شکل کښے ښکاره شوے وُو۔ د دے ملاقات ځائے "سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰى" دے، او دا هم ویلے شوی دی چه د هغے سره نزدے "جَنَّةُ الْمَاْوٰى" دے۔

سِدْره په عربئ ژبه کښے د بیرے وِنے ته وائی، او د مُنْتَهٰى معنیٰ ده آخری سر۔ د "سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰى" لغوی معنیٰ ده "د بیرے هغه وِنه چه په آخر سر کښے وی"۔ علامه آلوسیؒ په رُوحُ الْمَعَانی کښے دا تشریح کړی ده چه: الیها ینتهی علم کل عالم وماوراء ها لا یعلمهٗ الا الله۔ "په دے باندے د هر عالم علم ختمیږی او راندے چه څه دی د هغے علم د الله نه سوا بل چاته نشته"۔ تقریباً هم دا تشریح ابنِ جریر په خپل تفسیر کښے، او ابن اثیر په النهایه فی غریب الحدیث والاثر کښے کړی ده۔ زمونږ د پاره دا معلومول گران دی چه د دے مادّی دُنیا په آخری سر باندے د بیرے هغه وِنه څنګه ده او د هغے حقیقی حیثیت څه دے۔ دا د الله تعالیٰ د کائناتو هغه رازونه دی چه هغے ته زمونږ د پوهه نهٔ رسی۔ بهرحال هغه یوداسے څیز دے چه د هغے د پاره د انسانی ژبے په الفاظو کښے د "سِدْره" ټکی نه زیات مناسب ټکے د الله تعالیٰ په نزبل نهٔ وُو۔

إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ﴿١٦﴾ مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ﴿١٧﴾ لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَىٰ ﴿١٨﴾

په هغه وخت کښے په سِدْره باندِ راخوریدل څه چه راخوریدل ۔ نۀ ستر کے اُوبریښید اونۀ دَحد نه واوړید اوهغه دَ خپل رب لوئے لوئے بنښے اُولیدلے ۔

دَ "جَنَّتُ الْمَاوٰى" لغوی معنیٰ ده " هغه جنّت چه دَ سړی دَ اُوسیدو ځائے شی "حضرت حسن بصریؒ وائی چه داهم هغه جنّت دے چه په آخرت کښے به مومنانو اوپرهیزګارو خلقو ته ملاویږی ، اودَ دے آیت نه هغه دا دلیل پیش کوی چه هغه جنّت په آسمان کښے دے۔ قَتَادہؒ وائی چه دا هغه جنّت دے چه په هغے کښے دَ شهیدانو روحونه ساتلے کیږی ، دَ دے نه مُراد هغه جنّت نۀ دے چه په آخرت کښے به ملاویږی ۔ ابن عباسؓ هم دا وائی اوورپسے بله داخبره هم کوی چه په آخرت کښے کوم جنّت مومنانوته ورکړے کیږی هغه په آسمان کښے نۀ دے بلکه دَ هغه ځائے هم دا زمکه ده ۔

۱۲ یعنی دَ هغے شان اودَ هغے حالت دَ بیانولونه بهر دے ۔ هغه داسے پلوشے وے چه نۀ انسان دَ هغے تصوّر کولے شی اونۀ انسانی ژبه دَ هغے صفت بیانولے شی ۔

۱۳ یعنی یوطرفته دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَ صبر اودَ برداشت دا حال وُو چه داسے تیزو شُغلوته هم دَ هغه ستر کے اُونۀ بریښید ے اوهغه ورته بنه په آرام سره کتل ۔ بل طرفته دَ هغه دَ کلکے حوصلے داکمال وُو چه دَ څه مقصد دَ پاره هغه غوښتلے شوے وُو په هغے ئے کلک نظر وُو اوچه کومه نا آشنا واقعه هلته وه هغے ته ئے دَ یو تماشګیر پشان اخوا دیخوا نۀ کتل ۔ دَدے مثال داسے دے لکه چه یوسړے دَ یو لوئ باد شاه دربار ته لاړشی اوهلته هغه داسے شان اوشوکت اُووینی چه چرته دۀ نۀ وی لیدلے ۔ اُوس که چرے هغه دَ کے حوصلے یولاندِ سړے وی نوهلته به حیران دریان وُدریږی ، اوکه چرے دَ درباری آداب وسره نابلَد وی نودَ شاهانه مقام قدر به ترهیرشی اودَ دربار دَ سَیل دَ پاره به هرطرفته چاپیره کتل شروع کړی ۔ لیکن دَ غټے حوصلے ، دَ ادَب سره آشنا او قدرمن سړے به نۀ خوهلته څه ته حیرانیږی اونۀ به دَ دربار په تماشا کښے مشغولیږی ، بلکه هغه به بنه په قدر اوعزت سره حاضریږی اوخپل تول فکر به هغه مقصد ته راکړ وی چه دَ کوم دَ پاره هغه شاهی دربار ته غوښتلے شوے وی ۔ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَدے خوبئ تعریف په دے آیت کښے بیان شوے دے ۔

۱۴ دا آیت دَدے خبرې څرګندونه کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم الله تعالیٰ نۀ وُلیدلے بلکه دَ هغه لوئے لوئے بنښے ئے لیدلے وُو ۔ اوچونکه دَ وړاندِ روستو عبارت ترمخه دا دویم ملاقات هم دَ هغه هستئ سره شوے وُو دَ کومے سره چه اولنے ملاقات شوے وُو ، نوخامخا دا منل لازمی دی چه په اُفقِ اعلیٰ باندِ نبیؐ په اوّل ځل څوک لیدلے وُو هغه هم الله نۀ وُو ، او په دویم ځل چه دَ سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰى سره څوک لیدلے وُو

هم هغه الله نهٔ وُو۔ که چرے هغه په دے یوه موقعه کښے هم الله تعالیٰ لیدلے وے نو دا دومره لویه خبره وه چه دلته به ئے ضرور صفا ذِکر شوے وے ۔ د حضرت موسیٰؑ په حقله په قرآن مجید کښے فرمائیلے شوی دی چه هغه د الله تعالیٰ د لیدلو درخواست کړے وُو او هغه ته جواب ورکړے شوے وُو چه، لَنْ تَرَانِیْ، "ته ما نشے لیدلے"۔ (الاعراف ۱۴۳)۔ اُوس شکاره خبره ده چه د کوم قدر اوعزت موقعه حضرت موسیٰؑ له نهٔ وه ورکړے شوی، هغه چرے رسول الله صلی الله علیه وسلم له ورکړے شوے وے نو دا پخپله دومره لویه خبره وه چه په صفا الفاظو کښے به بیان کړے شوے وے ۔ لیکن مونږ وینو چه په قرآن مجید کښے هیڅ ته دا نهٔ دی فرمائیلے شوی چه نبیؐ خپل رب لیدلے وُو، بلکه د معراج کومه واقعه چه په سورهٔ بنی اسراءیل کښے بیان شوی ده په هغے کښے الله تعالیٰ فرمائی چه مونږه خپل بنده د دے غرض د پاره بوتلے وُو چه "مونږه هغه ته خپلے نښے اُوښایو" (لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا)، او دلته د سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰى په خواکښے د حاضریدو په سلسله کښے هم دا فرمائیلے شوی دی چه "هغه د خپل رب لوئے نښے اُولیدلے" (لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى)۔

د دے وجوهاتو په بنا باندے په ظاهره د دے بحث هیڅ گنجائش نهٔ وُو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دے دوارو موقعو باندے الله تعالیٰ لیدلے وُو اوکه جبریل علیه السّلام؟ لیکن په کومه وجه چه دا بحث پیدا شو هغه داد دے چه په دے مسئله باندے د احادیثو په روایتونو کښے اختلاف دے ۔ لاندے مونږه ترتیب وار هغه احادیث لیکو کوم چه په دے سلسله کښے د مختلفو صحابونه نقل کړے شوی دی۔

(۱) د حضرت عائشےؓ روایتونه،

د بُخاری په کتاب التفسیر کښے د حضرت مَسْرُوق بیان دے چه ما حضرت عائشے ته عرض اُوکړو "مورنی بی، آیا محمد صلی الله علیه وسلم خپل رب لیدلے وُو"؟ هغے جواب راکړو "ستا په دے خبره خوځما غوږونه زیږ زیږ شو۔ ستا نه دا څنګه هیر شوچه درے خبرے دا سے دی که څوک د هغے د دعوٰی اُوکړی نو د عوٰی به ئے دروغ وی"۔ (په هغے کښے اولنۍ خبره حضرت عائشےؓ دا اُوفرمائیلے چه) "څوک چه قاته دا اُووائی چه محمد صلی الله علیه وسلم خپل رب لیدلے وُو نو هغه دروغ وائی"۔ بیا حضرت عائشےؓ دا آیتونه اُولوستل، لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ (د نظرونو په قابو کښے هغه نشی راتلے)، اوما كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ مَا يَشَآءُ (د بشر دا مقام نهٔ دے چه الله د هغه سره خبرے اُوکړی، اوکه کوی نو یا د وحی په طور، یا د پردے نه شاته، یا داچه یوه فرښته را اُولیږی اوهغه په هغهٔ باندے د الله په حکم سره وحی اُوکړی څه چه هغه غواړی) د دے نه روسته هغے اُوفرمائیل "لیکن رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه ځله جبریل علیه السّلام په خپل اصلی شکل کښے لیدلے وُو"۔

د دے حدیث یوه حصّه د بُخاری په کتاب التوحید باب ۴ کښے هم ده ۔ او په کتاب بدء الخلق کښے چه د مَسْرُوق کوم روایت امام بُخاری نقل کړے دے په هغے کښے بیان کوی چه ما د حضرت عائشے دا خبره واوریده نو عرض م اُوکړو چه بیا به د الله تعالیٰ د دے حکم څه مطلب وی ثُمَّ دَنٰى فَتَدَلّٰى، فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى؟ د دے په جواب کښے هغے اُوفرمائیل "د دے نه مُراد جبریلؑ دے۔ هغه به همیشه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د انسان په شکل کښے راتلو، لیکن په دے موقعه هغه په خپل اصلی شکل کښے هغه ته راغلے وُو او تول اُفق د هغه نه ډک شو"۔

د مُسلم په کتاب الایمان باب فی سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰی کښے د حضرت عائشے سره د مَسْرُوْق دا خبری اتړے زیاتے په تفصیل سره نقل شوی دی اوده د ے د ټولونه اهمه حصّه داده، حضرت عائشےؓ اُوفرمائیل، "څوک چه دا دعوٰی کوی چه محمد صلی اللّٰه علیه وسلّم خپل رب لیدلے وُ نو هغه په اللّٰه تعالیٰ پوره دروغ جوړوی"۔ مَسْرُوْق وائی چه ما وپوښه وهلی وه اوناست وُم - دا خبره مې چه واوریده نو را ویښ شوم اوعرض مې اُوکړو، ام المؤمنین تلوار مه کوه - وَ لے اللّٰه تعالیٰ دا نه دی فرمائیلی چه وَ لَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ الْمُبِیْنِ ؟ ، او لَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰی ؟ حضرت عائشےؓ په جواب کښے اُوفرمائیل چه په دے اُمّت کښے د ټولونه اوّل ما د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم نه په د ے معامله کښے تپوس کړے وُو - نبیؐ اُوفرمائیل انما هو جبریل علیه السّلام، لم ارَهُ علی صورته التی خلق علیها غیر هاتین المرتین، رایته مُنهبطا من السّماء سادًّا عظم خلقه ما بین السماء والارض - "هغه خو جبریل علیه السّلام وُو - هغه چه اللّٰه تعالیٰ په کوم اصلی شکل کښے پیدا کړے د ے، ما په هغه اصلی شکل کښے د دوو موقعونه سِوا په بله موقعه نه د ے لیدلے - په د ے دُوموقعو کښے مَا هغه لیدلے د ے چه د آسمان نه راکوزیدو، اود هغه لویه هستی د زمکے او د آسمان په منځ کښے په ټوله فضا کښے خوره شوی وه"۔

ابن مَرْدُوَیه چه د مَسْرُوق دا روایت په کومو الفاظو کښے نقل کړے د ے هغه الفاظ دادی، "حضرت عائشےؓ اُوفرمائیل، د ټولونه اوّل ما د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم نه دا تپوس کړے وُو چه تا خپل رب لیدلے وُو؟ نبیؐ جواب راکړو، نه ما خو جبریل علیه السّلام لیدلے وُو چه د آسمان نه راکوزیدو"۔

(۲) د حضرت عبداللّٰه بن مسعودؓ روایتونه:

د بُخاری په کتاب التفسیر کښے، د مُسلم په کتاب الایمان کښے اود تِرمِذی په ابواب التفسیر کښے د زِرّ بن حُبَیْش روایت د ے چه حضرت عبداللّٰه بن مسعودؓ د فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰی په تفسیر کښے دا اُوفرمائیل چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم جبریل علیه السّلام په دا سے شکل کښے اُولیدو چه د هغه شپږ سوه وزَرے وے -

د مُسلم په دوهم روایت کښے هم دا تفسیر د مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰی اود لَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰی، عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰی په تفسیر کښے فرمائی، قال رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم رأیت جبریل عند سدرة المنتهٰی علیه سِتّمائة جناح - "رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم فرمائی چه ما جبریلؑ د سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰی خواته اُولیدو، د هغه شپږ سوه وزَرے وے"۔ د غه شان روایت امام احمدؒ د شقیق بن سَلَمه نه هم نقل کړے د ے چه په هغه کښے هغه وائی چه ما د حضرت عبداللّٰه بن مسعودؓ د خُلے نه دا واوریدل چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم په خپله دا فرمائیلی وُو چه ما جبریل علیه السّلام په د ے شکل کښے په سِدْرَةُ المنتهٰی باندِ لیدلے وُو -

(۳) د حضرت ابوهریرهؓ نه عَطَاء بن ابی رَباح تپوس اُوکړو چه دَ لَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰی څه مطلب دے نو هغه ورته په جواب کښے اُوفرمائیل رَاٰی جبریل علیه السّلام - " نبیؐ جبریل علیه السّلام لیدلے وُو" (مُسلم کتاب الایمان) -

(۴) د حضرت ابوذرؓ غفاری نه د عبدالله بن شقیق دوه روایتونه امام مُسلمؒ په کتاب الایمان کښے نقل کړی دی - په یو روایت کښے هغه فرمائی چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اُوکړو چه تا خپل رب لیدلے وُو؟ نبیؐ را ته په جواب کښے اُوفرمائیل ، نُوْرٌ اَنّیٰ اَرَاه - او په دویم روایت کښے فرمائی چه حُما د دے تپوس په جواب کښے نبیؐ دا اُوفرمائیل چه رَاَیتُ نُورًا - د نبیؐ د اولنی حدیث مطلب ابن قیّم په زاد المعاد کښے دا بیان کړے دے چه " حُما اوحُما د رب په لیدو کښے نُور یو د بل تر منځه وُو" - او د دویم حدیث مطلب هغه دا بیانوی چه " ما خپل رب نهٔ دے لیدلے بس یونُور م اولیدو" -

نَسائی او ابن ابی حاتم د حضرت ابوذرؓ قول په دے الفاظو کښے نقل کړے دے چه " رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل رب په زړه سره لیدلے وُو، په ستر کو سره نهٔ " -

(۵) د حضرت ابوموسیٰ اشعریؓ نه امام مُسلم په کتاب الایمان کښے دا روایت نقل کړے دے چه نبیؐ اُوفرمائیل ما انتهیٰ الیه بصرمن خلقه - " د الله تعالیٰ په مخلوق کښے الله تعالیٰ ته د چا نظر نهٔ رسی" -

(۶) د حضرت عبدالله بن عباسؓ روایتونه :

د مُسلم روایت دے چه د حضرت عبدالله بن عباسؓ نه دَ مَاکَذَبَ الْفُؤَادُ مارأیٰ، وَلَقَدْ رَاٰه نَزْلَةً اُخْرٰی مطلب اُو تپوسلے شو نو هغه اُووئیل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل رب دوه ځله په زړه سره لیدلے وُو - دا روایت په مُسنَدِ احمد کښے هم دے -

ابن مَرْدویه د عطاء بن ابی رَباح په حواله سره د ابن عباس دا قول نقل کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم الله تعالیٰ په ستر کو سره نهٔ بلکه په زړه سره لیدلے وُو -

په نَسائی کښے د عکرمه روایت دے چه ابن عباسؓ اُوفرمائیل اتعجبون ان تکون الخلة لابراهیم والکلام لمُوسیٰ والرؤیه لمحمد؟ " آیا تاسو په دے خبره حیرانتیا بنکاره کوئ چه د ابراهیم علیه السّلام نه الله خپل خلیل (یعنی دوست) جوړ کړو، او د موسیٰ علیه السّلام سره ئے کلام اُوکړو او محمّد صلی الله علیه وسلم له ئے د خپلو لیدو عزت ورکړو" - حاکم هم دا روایت نقل کړے دے اوهغه ته ئے صحیح وئیلی دی -

په تِرمذی کښے د شعبی روایت دے چه ابن عباس په یو مجلس کښے اُوفرمائیل " الله تعالیٰ خپل رؤیت (یعنی دیدار) اوخپل کلام د محمد صلی الله علیه وسلم اود موسیٰ علیه السّلام په منځ کښے تقسیم کړے وُو - د موسیٰ علیه السّلام سره هغه دوه ځله کلام اُوکړو ، او محمد صلی الله علیه وسلم دوه ځله هغه اُولیدو" - د ابن عباس دا ویناچه مَسْرُوق واوریده نو هغه حضرت عائشے له لاړو او د هغے نه ئے تپوس اُوکړو چه " آیا محمد صلی الله علیه وسلم خپل رب لیدلے وُو"؟ هغے اُوفرمائیل " تا داسے خبره اوکړه چه دَهغے په اوریدو سره حُما غوږونه زیږ شو" - د دے نه روستو د حضرت عائشےؓ او د مسروق په منځ کښے هغه خبری اترې اُوشوے کومے چه مونږ ته د حضرت عائشےؓ په روایتونو کښے نقل کړی دی -

هم په ترمذی کښے چه کوم روایتونه د ابن عباسؓ نه نقل شوی دی د هغے نه په یوکښے هغه فرمائی چه نبیؐ الله تعالیٰ لیدلے وُو - په دویم کښے فرمائی چه دوه ځله ئے لیدلے وُو - او په دریم کښے فرمائی چه هغه الله تعالیٰ په زړه سره لیدلے وُو -

په مُسند احمد کښے د ابن عباسؓ روایت دے چه قال رسول الله صلی الله علیه وسلم رأیت ربی تبارک و تعالیٰ - " ما خپل رب تبارک وتعالیٰ لیدلے وُو" - په دویم روایت کښے هغه وائی ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال اتانی ربی اللیلة فی احسن صورة، احسبه یعنی فی النوم - " رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی ما شپه خُما رب په بهترین شکل کښے خُما خوالهٔ راغلے وُو - خُه گمان کوم چه د نبیؐ دَد ے وینا مطلب دا وُو چه هغه په خوب کښے الله تعالیٰ اُولیدو"

طبرانی او ابن مَرْدُویه د ابن عباس نه دا روایت هم نقل کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل رب دوه ځلے اُولیدو، یو ځل په ستر گو او بل ځل په زړه -

(۷) محمد بن کعب القُرَظی وائی چه د رسول الله علیه وسلم نه څینو صحابو تپوس اُوکړو، آیا تاسو خپل رب لیدلے دے؟ نبیؐ په جواب کښے اُوفرمائیل " ما هغه دوه ځله په زړه سره لیدلے دے" (ابن ابی حاتم) - دا روایت ابن جریر په دے الفاظو کښے نقل کړے دے چه نبیؐ اُوفرمائیل، " ما هغه په ستر گو نه بلکه په زړه سره لیدلے دے "-

(۸) د حضرت انسؓ بن مالک کوم روایت چه د معراج د قیصے په سلسله کښے د شریک بن عبدالله په حواله سره امام بُخاری رحمة الله علیه په کتاب التوحید کښے نقل کړے دے په هغے کښے دا الفاظ دی: حتی جاء سِدْرَةَ المُنْتَهٰی ودنا الجبّار رب العزة فتدلّی حتّی کان منه قاب قوسین او ادنیٰ فاوحی الله فیما اوحی الیه خمسین صَلٰوة - یعنی "کله چه هغه سِدْرَةُ المُنْتَهٰی ته اُورسید و نو الله رب العزة هغه ته نزدے راغے او د هغه د پاسه په هَوا کښے اُودریدو او ان تردے پورے چه د نبیؐ او د الله په منځ کښے دوه لیندے یا دَد ے نه هم څه کمه فاصله پاتے شوه، بیا چه الله تعالیٰ په هغه باندے کومه وحی را اُولیږله په هغے کښے یو د بلنُوسو موخُو نو حکم وُو" لیکن کوم اعتراضونه چه دَد ے روایت په سند او مضمون باندے امام خطّابی، حافظ ابن حَجَر، ابن حَزْم او حافظ عبد الحق صاحبُ الجمع بین الصحیحین کړی دی د هغے نه علاوه د نورو نه لوئ اعتراض په هغے باندے دا راځی چه دا بنکاره د قرآن خلاف دے - ځکه چه قرآن مجید د دوو جُدا جُدا رُویتونو ذکر کوی چه په هغے کښے یو اوّل په اُفُقِ اَعلیٰ باندے شوے وُو او بیا په هغے کښے د "دَنا فتدلّی فکان قاب قوسین او ادنیٰ" معامله مخے ته راغلی وه، او دویم رؤیت د سِدْرَةَ المُنْتَهٰی خوانه شوے وو - لیکن دا روایت دا دواړه رُویتونه گډ کاږے کوی او یو روایت ترجیح ورکوی - نو د قرآن مجید سره د ټکراؤ خو رلو په وجه دا په هیڅ شان سره نشی قبلیدے -

اُوس پاتے شوه هغه نُور روایتونه کوم چه مونږه تَبره نقل کړی دی، په هغے کښے د نورو نه زیات وزندار روایتونه هغه دی کوم چه د حضرت عبدالله بن مسعودؓ او د حضرت عائشےؓ نه نقل کړے شوی دی، ځکه چه دے دواړو په اتفاق سره پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا حدیث بیان کړے دے چه په دے دواړو موقعو باندے نبیؐ الله تعالیٰ نه وُو لیدلے بلکه جبریل علیه السّلام ئے لیدلے وُو، او دا روایتونه د قرآن مجید د بیانا تو او اِشارا تو

أَفَرَءَيْتُمُ اللَّٰتَ وَالْعُزَّىٰ ﴿١٩﴾ وَمَنَوٰةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ ﴿٢٠﴾
أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْأُنثَىٰ ﴿٢١﴾ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ ﴿٢٢﴾

اُوس راته دالږ اُووایئ چه آیا تاسو چرے دَ دے لات اودَ دے عُزّٰی، اودریم دَ دیوے بلے بزرګے مَنات په حقیقت باندِ څه غور هم کړے دے ؟[۱۵] آیا ځامن ستاسو دَپاره دی او لُونړه دَ خدائے دَپاره[۱۶] ؟ داخو ډیر دَ بے انصافئ تقسیم شو!

سره پوره سمُون خوری - دَ دے دَپاسه دَ هغے تائید دَ نبیؐ دَ هغه احادیثونه هم کیږی کوم چه حضرت ابوذرؓ او حضرت ابوموسیٰ اشعریؓ دَ هغه نه نقل کړی دی - دَ دے برعکس چه دَ حضرت عبدالله بن عباس کوم روایتونه دَ حدیثو په کتابونو کښے نقل کړے شوی دی په هغے کښے سخت شک راپیدا کیږی - په حُینو روایتونو کښے هغه دواړه څله دیدار ته دَ ستړګو لید لے دیدار وائی، په حُینو کښے یوته دَ ستړګو دیدار اوبل ته دَ زړه دیدار وائی، او په حُینو کښے دَ ستړګو دَ دیدار نه صفا انکار کوی - په هغے کښے یو روایت هم داسے نشته چه هغه پکښے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل حدیث نقل کوی - او په کوم ځائے کښے چه هغه بخپله دَ نبیؐ خپل حدیث نقل کړے دے هلته خو اوّل په هغه دواړو رؤیتونو کښے دَ یو ذکر هم نشته کوم چه په قرآن مجید کښے بیان کړے شوی دی، او بله دا چه دَ هغے دَ یو روایت تشریح دَ دویم روایت نه دا معلومیږی چه نبیؐ په څه وخت کښے دَ بیداریٔ په حالت کښے نه، بلکه په خوب کښے الله تعالیٰ لید لے وُو - نو په دے وجه په حقیقت کښے دَ دے آیتونو په تفسیر کښے په هغه ټولو روایتونو باندِ اعتماد نشی کیدے کوم چه حضرت عبدالله بن عباسؓ ته منسوب شوی دی - د غه شان دَ محمد بن کعب القُرَظِی روایتونه هم، اګرچه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم یوحدیث نقل کوی، لیکن په هغے کښے دَ هغه صحابو دَ نومونو صفا ذکر نشته کوموچه دَ نبیؐ نه دا خبره اَوریدلی ده - دار نګے په هغے کښے په یو کښے وئیلے شوی دی چه نبیؐ دَ ستړګو دَ دیدار صفا صفا نفی کړی وه -

۱۵؎ مطلب دادے چه محمد صلی الله علیه وسلّم تاسوله کوم تعلیم درکوی هغے ته خوتاسو ګمراهی وایئ، حالانکه دا علم هغه ته دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه ملاویږی او الله تعالیٰ هغه ته په ستړګو هغه حقیقتونه ښودلی دی دَ کومو ګواهی چه هغه ستاسو په مخکښے کوی - اُوس لږ شان تاسو پخپله اُوګورئ چه په کومو عقیدو تاسو ټینګتیا کوئ هغه څومره نامناسبه عقیدے دی، اودَ دے په مقابله کښے چه څوک تاسو ته نیغه لار ښائی دَ هغے په مخالفت کولو سره آخر تاسو دَ چا نقصان کوئ په دے سلسله کښے هغه درځ دیوکښے (یعنی بزرګے ښځے) دَ مثال په طور پیش کړے شوی دی دَ کوموچه دَ مکّے، دَ مدینے، دَ طائف اودَ حجاز دَ خواوشا خلقودَ ټولونه زیات عبادت کولو - دَ هغوی په بارہ کښے تپوس شوے دے چه چرے تاسو دَ عقل نه کار اخستے دے او داسوچ موکړے دے چه دَ زمکے اودَ آسمان دَ خدائیٔ په معاملاتو کښے دَ دوئ څه معمولی شان دخل هم کیدے شی؟ یا دَ خدائے تعالیٰ سره واقعی دَ دوئ څه رشته کیدے شی؟

دَ لات دربار په طائف کښے وُو اودَ بنی ثقیف قبیلے دَ دے سړدومړ سخته عقیدو وچه کله ابرهه

دَ هایانو فوج را روان کړو او دَ کعبے دَ وَرانولو دَ پارہ ئے په مکه حمله کوله نو په هغه وخت کښے دے خلقو صرف دَ دے خپل معبود دَ دربار دَ بچ کولو دَ پارہ د غه ظالم له دَ خپل طرفنه څه حفاظتی کَسَن ورکړل چه دَ مکّے لا رورته اُوښائی او په لات بُت باندِ څه غرض اُونۀ لری ، حالانکه دَ پټولو عربیانو پښان دَ ثقیف خلقوهم دا منله چه کعبه دَ اللہ کور دے ۔ دَ "لات" په معنی کښے دَ عالمانو اختلاف دے ۔ دَ ابن جریر طبری تحقیق دا دے چه دا دَ اللہ تانیث دے یعنی په اصل کښے د الفظ اَللّٰهَةٌ وُو چه اللّات ترجور کړشو ۔ دَ زمخشری په نزدا دَ لوی یلُوی نه مشتق دے ۔ چه معنیٰ ئے ده تاویدل او یو طرفته تبدیل ۔ چونکه مشرکانو به دَ عبادت دَ پارہ دِے ته رجوع کوله او دِے نه به تبدیل او دَ دے نه به تاویدل نو په دے وجه به ورته خلقو لات وئیلو ۔ ابن عباس رضؓ دا دَ "ت" په شد سره لاتّ وائی او وائی چه دا دَ لتّ یلتّ نه مشتق دے چه معنی ئے ده شاربل اولَرَل ۔ دَ هغه اودَ مجاهد بیان دے چه دا په اصل کښے یو سړے وُو چه دَ طائف خواته په یوخټ اُوسید و اوچ له چه به څوک تلل په هغوی به ئے دَ ستوان اُوبهٔ ځکولے او پوښتنهٔ به ئے پرے خورَوَله ۔ چه هغه مړ شو نو خلقوهم په هغه خټ باندِ دَ هغه دربار جوړ کړو او دَ هغه عبادت ئے شروع کړو ۔ لیکن دَ لاتّ دا تشریح اگرچه دَ ابن عباس او مجاهد غوندِ بزرگانو کړی ده خو بیا هم په دوُو وجو سره قابل قبول نهٔ ده ۔ یو دا چه په قرآن کښے دے ته لات ویلے شوے دے نهٔ چه لاتّ ۔ دوم دا چه قرآن مجید دے درے واړو ته بزرگانے بتانے ویلی دی ، او په دے روایت کښے دی چه لاتّ سړے وُو بتهٔ نهٔ وه ۔

عُزّیٰ لفظ دَ عزّت نهٔ دے اودَ دے معنیٰ ده عزّتمنده بتهٔ ۔ دا دَ قریشو خاص بزرگ له وه اودَ دِے دربار دَ مکّے اودَ طائف ترمنځه په نخله میدان کښے په حُراض نومے ځائے کښے وُو (نخله په کوم ځائے کښے ده ، دَ دے دَ پارہ اُوګورہ تفہیم القرآن ، څلورم جلد ، الاحقاف ، حاشیه ۳۳) ۔ دَ بنی شَیبَان قبیلے خلق چه دَ بنی هاشم حلیفان وُو ، هغوی دَ دے مجبوران وُو ۔ دَ قریشو اودَ نورو قبایلو خلق به زیارت له تلل او په هغے به ئے نذرانے اَچولے اودَ هغے دَ پاڼ به ئے قربانیانے کولے ۔ دَ کعبے پښان به دے ته هم خلقو دَ قربانئ څاروی بوتلل او دَ پټولو بتانو نه به دَ دے زیات عزّت کیدو ۔ دَ ابن هشام روایت دے چه ابرَهَهٔ کله مرګ ته نږدے شو نو ابولهب ئے تپوس له لاږو ۔ کوری چه هغه ژاړی ۔ ابولهب ورته اُووے چه وَلے ژاړے ابو اُحَیحَه ؟ ولے دَ مرګ نه یَرَیږے ؟ حالانکه دا به په پټولو راځی ۔ هغه اُوویل په خدائے مې دِ قسم وی چه دَ مرګ دَ یَرَے نه نهٔ ژاړم ، بلکه څماسره داغم دے چه څمانه روستو به دَ عُزّیٰ عبادت څنګه کیږی ۔ ابولهب ورته اُوویل چه دَ دے عبادت ستاپه ژوند کښے نهٔ ستاد خاطره کیدو اونهٔ به ستانه روستو دَ دے عبادت پریښود ے شی ۔ ابو اُحَیحَه اُوویل اُوس څما تسلّی اُوشوه چه څمانه روستو څما دَ ځائے سنبالونکے څوک شته ۔

دَ مَنَاة دربار دَ مکّے اودَ مدینے ترمنځه دَ بحرِ احمر په غاړه په قدید نومے ځائے کښے وُو او خاص طور دَ خُزَاعه او دَ اَوس اودَ خَزرَج خلق دَ دے زیات معتقد وُو ۔ خلقو به دَ دے ته حج او طواف کولو او دَ نذر قربانیانے به ئے پرے کولے ۔ دَ حج په زمانه کښے چه به کله حاجیان دَ بیت اللہ دَ طواف اودَ عرفات اودَ مِنٰی نه وزګار شوُنو هم دَ هغه ځائے نه به دَ مَناة دَ زیارت دَ پارہ دَ لبّیکَ لبّیکَ آوازونه اُوچت کړے شو او کومو خلقو چه به دَ دے دویم "حج" نیت کړے وُو هغوی به دَ صفا اودَ مَروَہ په منځ کښے سعی نهٔ کوله ۔

إِنْ هِيَ إِلَّا أَسْمَاءٌ سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا أَنْزَلَ
اللَّهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ ۚ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى
الْأَنْفُسُ ۖ وَلَقَدْ جَاءَهُمْ مِنْ رَبِّهِمُ الْهُدَىٰ ﴿٢٣﴾ أَمْ

په اصل کښے دا نور هیڅ نه دی بس تش یو څو نومونه دی چه تاسو او ستاسو پلار نیکونو ایښودلی دی - الله دَ دوی دَ پاره هیڅ سند نه دے[۱۵] نازل کړے - حقیقت داد ے چه داخلق تش په وهم او گمان پسے روان دی او دَ نفس دَ خواهشاتو مُرید ان جوړشوی[۱۸] دی - حالانکه دَ خپل رب دَ طرفنه هغوی ته هدایت راغلے دے[۱۹] - آیا

[۱۶] یعنی دے بزرگانو بنځوته تاسو دَ الله ربُّ العالمین لُونړه وایئ او دا ډیره سخته غلطه عقیده ده - دَ دے عقیدے دَ جوړولو په وخت کښے تاسو دا سوچ هم اُونه کړو چه دَ خپل ځان دَ پاره خو دَ لُونړو پیدا ئښت یو ذلت گنړئ او نارینه اولاد موخوښ وی ، لیکن دَ الله دَ پاره چه اولاد جوړوئ نو مغه هم لُونړه !

[۱۷] یعنی تاسو چه چاته بزرگه بنځه او بزرگ سړے وایئ هغوئ نه بزرگے دی اونه بزرگان، نه په هغوئ کښے دَ خدایئ یو صفت شته اونه دَ خدایئ دَ اختیارا تو څه ادنیٰ شان حصّه هغوئ ته حاصله ده - تاسو دَ خپله ځانه دوئ دَ خدائے اولاد او معبودان او په خدایئ کښے شریکان گنړلی دی - دَ خدائے دَ طرفنه څه سند داسے نه دے راغلے چه هغه تاسو دَ دے خپلو خیالاتو په ثبوت کښے پیش کړے شی -

[۱۸] یعنی دَ هغوئ دَ گمراهئ بُنیادی وجے دوه دی - یوه دا چه هغوئ دَ خپلے عقیدے او دَ دین جوړولو دَ پاره دَ حقیقت دَ علم څه ضرورت لازمی نه گنړی بلکه تش په قیاس او په گمان سره یوه خبره ځان ته مخے ته کړی او بیا په هغے هغسے ایمان راوړی لکه چه هغه یو حقیقت وی - بله دا چه هغوئ دا عمل په اصل کښے دَ خپل نفس دَ خواهشاتو پوره کولو دَ پاره اختیار کړے دے - دَ هغوئ زړه داغواړی چه یو داسے معبود وی چه هغه په دُنیا کښے خو دَ دوئ کار جوړوی او آخرت کښه چرے راشی نو هلته هم دَ هغوئ دَ بخښنے ذمه وار شی ، لیکن دَ حرامو او دَ حلالو څه پابندی په هغوئ اُونه لگوی او دَ اخلاقو څه ذمه واری پرے رانه لی - دا وجه ده چه هغوئ دَ پیغمبرانو په طریقه باندِ دَ یو خدائے بندگئ کولو ته نه تیاریږی او دَ دے جوړ وکړو معبودانو او معبود نړو عبادت ئے خوښیږی -

[۱۹] یعنی په هره زمانه کښے پیغمبران دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه دے گمراهانو خلقو ته حقیقت بنائی او اُوس محمد صلی الله علیه وسلم هغوئ ته دا حقیقت بنکاره کړے دے چه په کائنات کښے اصلی خدائی دَ چا ده -

لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿۲۴﴾ فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى ﴿۲۵﴾ وَكَمْ مِّنْ
مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِيْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ
اَنْ يَّاْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى ﴿۲۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ
بِالْاٰخِرَةِ لَيُسَمُّوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْاُنْثٰى ﴿۲۷﴾ وَمَا لَهُمْ

انسان چه څه غواړي دهغه دپاره هم هغه حق[۲۰] دے؟ دد نیا اودآخرت مالک خو خاص الله دے۔ ع
په آسمانونو کښے څومره پیرے فرښتے دی، دهغوی سفارش هیڅ هم په کارنۀ شی
راتلے تر څوچه الله ډیوداسے سړی په حق کښے د سفارش کولو اجازت اونۀ کړی چه دهغه دپاره
هغه څه درخواست اوریدل غواړی اودهغه خوښ[۲۱] وی۔ خوکوم خلق چه آخرت
نۀ منی هغوئ په فرښتو باندې دبزرګو زنانو نومونه ږدی[۲۲]، حالانکه دې ته معامله

۲۰ه دے آیت دویم مطلب داهم کیدے شی چه آیا انسان ته داحق حاصل دے چه هغه څخپله خوښه ځان له معبود جوړ کړی؟ اودریم مطلب تر داهم اغستلے کیدے شی چه انسان دد ے معبودانونه د خپلو مُراد ونو پوره کیدو کومه آرزو لری آیا هغه چرے پوره کیدے هم شی؟

۲۱ه یعنی که ټولے فرښتے هم رابوځائے شی اودچا سفارش کوی نوهغه ته هیڅ فائیده نشی رَسولے، لاسته اسودچوړ وکړ ومعبودانوسفارش به دچاڅه ګورانه وډانه کړے شی۔ د خدائیۀ اختیارات بالکل ټول د الله په لاس کښے دی۔ فرښتے هم دچا په حق کښے هغه ته تر هغے سفارش نۀ شی کولے تر څوچه هغه اجازت نۀ وی کړے اودچا په حق کښے د هغوی په سفارش اوریدو باندې راضی نۀ وی۔

۲۲ه یعنی یوه بے وقوفتیا خودهغوی داده چه دا بے اختیاره فرښتے چه الله ته د سفارش کولو طاقت قدرله نۀ لری، دوئ دهغوئ نه معبودان جوړ کړی دی۔ اودد ے دپاسه بله بے وقوفتیا داده چه هغوئ فرښتے زنانه ګڼی اودخدائے لونړه ورته وائی۔ دهغوئ دد ے ټولو جهالتونو بُنیاد دی وجه داده چه هغوی آخرت نۀ منی۔ که هغوی آخرت منلے نوهیڅرے به ئے داسے خبری نۀ وے کړے۔ د آخرت نه د انکار په وجه هغوئ دانجام نه بے فکره شوی دی اووائی چه خدائے منل یانۀ منل یاپه زړګونو خدایان منل هیڅ فرق نۀ لری، ځکه چه په دے کښے د یوے عقیدے هم څه ښه یا بد انجام د دُنیا په ژوند کښے په نظر نۀ راځی۔ که د خدائے نه منکر خلق دی اوکه مشرکان دی اوکه خدائے ته یو ویونکی خلق دی دهغوئ ټولو فصلونه پخیر ښ شم اوسوزیږی هم۔ ټول بیمار ان کیږی هم اوښه کیږی هم۔ هرقسم ښه اوخراب حالات په هرچا تیریږی۔ په دے وجه دهغوئ دپاره دا دڅه په پیرغور فکر خبره نۀ ده چه سړے څوک معبود اومنی اوکه وے نۀ منی، یاچه څومره اوڅنګه

بِهٖ مِنْ عِلْمٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ ۚ وَاِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ
مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ﴿۲۸﴾ فَاَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلّٰى ۙ عَنْ ذِكْرِنَا وَ
لَمْ يُرِدْ اِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ؕ

هیڅ علم هغوئ ته حاصل نهٔ دے - هغوئ صرف په ګمان پسے روان دی[۲۳]، او
ګمان د حق په ځای هیڅ کار نهٔ شی ورکولے -
نو اے نبیؐ، څوک چه زمونږ د ذکر نه مخ اړوی[۲۴]، او د دُنیا د ژوند نه سوا بل هیڅ مقصد نهٔ لری،
هغه په خپل حال باندِ پریږده[۲۵] ـــــــــ دده[۲۶] خلقو د علم حد بس هم دا دے[۲۷]،

غواړی هغومره او هغسے معبودان دِ جوړوی - هرکله چه د هغوئ عقیده داده چه د حق او د باطل
فیصله به هم په دے دُنیا کښے کیږی، او په دے دُنیا کښے چه څه کیږی هم دا د خلقو د عملونو آخری
انجام دے، نو بنکاره خبره ده چه د دُنیا انجام نهٔ خو د چا د عقیدے د حق والی قطعی فیصله
کوی او نهٔ د چا د عقیدے د باطل کیدو - نو د دا سے خلقو د پاره یوه عقیده اختیارول او
بله ردّ کول هسے د مزے خبره ده -

۲۳ یعنی د فریبتو په حقله د هغوئ دا عقیده څه په دے وجه نهٔ ده چه هغوئ ته
ګڼی د علم په ذریعه دا معلومه شوی ده چه هغه زنانه دی او د خدائے لونړه دی، بلکه
هغوئ تش په خپل قیاس او ګمان سره یوه خبره رانیولی ده او د هغے په وجه ئے دا دربارونه جوړ
کړی دی چه مُراد ونه تر غوښتلے کیږی او نذرانے شکرانے وُړلے کیږی -

۲۴ د لفظ ذکر دلته ویرے معنے دی - د دے نه مُراد قرآن هم کیدے شی، صرف نصیحت
تر هم مُراد کیدے شی، او د دے دا مطلب هم کیدے شی چه د خدائے ذکر او ریدل ئے خوښ نهٔ دی -

۲۵ یعنی په هغه پسے مَه ورپسے کیږه او د هغه په پوهه کولو وخت مَه ضائع کوه - ځکه
چه داسے سړے به یو دا سے دعوت قبلولو ته تیار نهٔ شی چه د هغه نه خدا پرستی غواړی،
چه هغه د دُنیا د مادّی فایدو نه اُوچتو فایدو ته را بلی، او چه په هغے کښے اصل مقصد
د آخرت همیشه کامیابی وی - په دے قسم مادّه پرست او خدا بیزاره انسان باندِ د محنت
کولو په ځائے خپله توجه هغه خلقو ته کړه چه هغوئ د خدائے ذکر او ریدو ته تیار وی او د
دُنیا پرستئ په مرض کښے اخته نهٔ وی -

۲۶ دا د روان تقریر په منځ کښے یوه خبره ده چه د تیرے شوے خبرے
د تشریح په طور فرمائیلے شوی ده -

۲۷ یعنی دا خلق د دُنیا او د دُنیا د فایدو نه وړاندِ نهٔ
څه پیژنی نهٔ څه سوچ کولے شی، په دوی باندِ محنت کول بے فائدے
دی -

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ
اهْتَدَىٰ ﴿٣٠﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ لِيَجْزِيَ
الَّذِينَ أَسَاءُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَىٰ ﴿٣١﴾
الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ

داخبره ستاسو رب ته ښه معلومه ده چه د هغه د لارې نه څوک بې لارې شوی دی او څوک په
ښه لاره روان دی، او د زمکې او د آسمانونو د هر څیز مالک خاص الله دی[۲۸]۔
د پاره[۲۹] د دی چه الله تعالیٰ بد عمله خلقوله د هغوی د عملونو بدله ورکړي او هغه خلقوله ښه
بدله ورکړي چا چه نیک عمل اختیار کړی دی، او د لویو لویو ګناهونو[۳۰] او د بې حیایئ د
ډکارونو[۳۱] نه ځان ساتی، سوا د دی نه چه څه وړه ګناهونه ترې اوشي[۳۲]۔

۲۸ یعنی دا فیصله به نه په دی دنیا کښې چه فلانے سړے ګمراهه دی یا په ښه لاره دی، او نه
دا فیصله د دنیا خلقو ته پریښود شوی ده۔ دا دی فیصله خود الله په لاس کښے ده، هم هغه د
زمکې او د آسمان مالک دی، هم هغه ته دا خبره معلومه ده چه د دنیا خلق په کومو مختلفو لارو
روان دی په دوئ کښے څوک په ښه لاره لاړی دی او څوک بې لارې دی۔ نو ته د دی خبرې پروا مه
کوه چه دا د عربو مشرکان او د مکې کافران تا ته بې لارې وائی او خپل جاهلیت ته حق او
هدایت وائی۔ دوئ که چرې په دی خپل باطل ګمان کښے اوسیدل غواړی نو اوسی دِ۔
د دوئ سره په بحث کولو کښے سر خوږ و نه کولو ته او وخت ضائع کولو ته هیڅ ضرورت نشته۔

۲۹ د دی ځائے نه بیا هغه خبره شروع ده کومه چه د بره نه را روانه ده۔ یعنی چه په منځ کښے جمله معترضه نه وی نو عبارت دا سے دی: "هغه په خپل حال باندې پریږده چه الله
بد عمله خلقوله د هغوی د عمل بدله ورکړی"۔

۳۰ د تشریح د پاره اوګورئ تفہیم القرآن، اوّل جلد، النّساء، حاشیه ۵۳۔

۳۱ د تشریح د پاره اوګورئ تفہیم القرآن اوّل جلد، الانعام، حاشیه ۱۳۔ دویم جلد، النحل، حاشیه ۸۹۔

۳۲ اصل الفاظ دی اِلَّا اللَّمَمَ۔ په عربیٰ ژبه کښے لفظ لَمَم د یوځیز د لږ مقدار د پاره،
یا د هغې د معمولی اثر د پاره، یا تش د هغې د نږدے والی د پاره، یا د هغې د لږ شان ناوخته والی د پاره
استعمالیږی مثلاً وائی چه اَلَمَّ بِالْمَكَانِ، هغه په فلانی ځائے کښے لږ شان وخت ودریدو، یا د
لږ وخت د پاره هلته لاړو۔ اَلَمَّ بِالطَّعَامِ، هغه لږه شان خواړه اوخوړه۔ بِهٖ لَمَمٌ، د
هغه دماغ لږ شان بے ځایه شوی دی، یا په هغه کښے د نیوسټوب څه اثر دے۔ دا لفظ د دے
معنیٰ د پاره استعمالیږی چه یو سړی یوکار کړے خو نه دے لیکن د هغې کولو ته نږدے شوے دے۔
فرّاء وائی چه ما د عربونه دا قسم فقرے اوریدلی دی: ضربه ما لمم القتل

"فلانی هغه دومره اووهوچه بس مرګ ته نزدے دے ۔ او اَلَمَّ یفعل، قریبه وه چه فلانی دا کارکړے وے ۔ شاعر وائی اَلَمَّت فحیّت ثم قامت فودّعت ،" هغه بس لږه شان راغله ، سلام ئے اُوکړو ، پاسیده او رخصت شوه "۔

دَدے استعمال په وجه حُینی مفسّرین وائی چه دَ لَمَم نه مُراد واړه واړه ګناهونه دی ۔ حُینی وائی چه دَدے مطلب دادے چه یوسړے لوئے ګناه ته نزدے شی خو ځے نهٔ کړی ۔ حُینی وائی چه دَ څه وخته پورے ګناه اُوکړی خوبیا ترمنع شی ۔ او حُینی وائی چه دَدے نه مُراد دادے چه سړے دَ ګناه خیال یا خواهش یا اراده خو اُوکړی لیکن عملاً هیڅ اُونهٔ کړی په دے سلسله کښے دَ صحابو او دَ تابعینو قولونه لاندے لیکلے شوی دی :

زید بن اسلم او ابن زید وائی ، او دَ حضرت عبدالله بن عباسؓ هم یو قول دے چه دَدے نه مُراد هغه ګناهونه دی چه دَ اسلام نه مخکښے به دَ جاهلیت په زمانه کښے خلقو کول ، او بیا دَ اِسلام قبلولونه روستو ئے پریښودل ۔

دَ ابن عباسؓ دویم قول دادے ، او دا دَ حضرت ابوهریرهؓ ، دَ حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ، مجاهدؒ ، حسن بصریؒ ، او دَ ابوصالح قول هم دے چه دَدے نه مُراد دادے چه سړے یوه لویه ګناه یا دَ بے حیائئ یوکار دَ څه وخته پورے کوی یا تر په یوه وخت کښے اُو شی او بیا ئے پریږدی ۔

حضرت عبدالله بن مسعودؓ او مسروق او شعبی فرمائی او دَ حضرت ابوهریرهؓ او دَ حضرت عبدالله بن عباس نه هم په معتبرو روایتونو کښے دا قول نقل کړے شوے دے چه دَدے نه مُراد دادے چه سړے لوئے ګناه ته نزدے اُورَسی او دَ هغے په اولنو مرحلو کښے ورداخل شی خو آخری مرحلے ته چه ورا اُورَسی نو بیا منع شی ۔ مثلاً یوسړے غلا له روان شی ، خودَ غلا کولونه ځان اُوساتی ۔ یا دَ یوے نا اشنا ښځے سره یوځائے شی ، خوزنا اُونهٔ کړی ۔

حضرت عبدالله بن زبیر ، عِکرِمه ، قَتَاده او ضحّاک وائی چه دَدے نه مُراد هغه واړه واړه ګناهونه دی چه دَ هغے دَپاره په دُنیا کښے هم څه سزا نهٔ ده مقرر کړے شوے دے او په آخرت کښے هم په هغے باندے دَ عذاب ورکولو څه یاد ګیرنه نهٔ ده شوی ۔

سعید بن المسیّب فرمائی چه دَدے نهٔ مُراد دادے چه دَ ګناه خیال په زړه کښے راشی خو عمل پرِ اُونهٔ کړی ۔

دا دَ صحابو او دَ تابعینو مختلف تفسیرونه دی چه په روایتونو کښے نقل کړے شوی دی ۔ روستنی اکثر مفسّرین او امامان او فقهاء دَدے خبری قائل دی چه دا آیت او دَ سورة نساء یودیرشم آیت یو ډول ګناهونه په دوو قِسمونو کښے تقسیموی ، یولوی ګناهونه او بل واړه ګناهونه ۔ او دا دواړه آیتونه انسان له دا اُمید ورکوی چه که چرے هغه دَ لویو ګناهونو نه او دَ بے حیائئ دَ کارونو نه ځان اُوساتی نو الله تعالیٰ به ورته واړه ګناهونه معاف کړی ۔ اګرچه حُینو لویو عالمانو دا خیال هم ظاهر کړے دے چه یوه نافرمانی هم ورپه نهٔ ده ، بلکه دَ خدائے نافرمانی پخپل ځائے لویه ګناه ده ۔ لیکن لکه څنګه چه امام غزالیؒ فرمائیلی دی ، دَ لوئے ګناه او دَ وړے ګناه په نفع کښے فرق ضرور شته ، څنګه چه دَ شریعت دَ حکمونو علم دَ کومو ذریعو نه حاصلیږی په هغے تهولو کښے لویه ګناه او وړه ګناه په ګوته کړے شوی ده ۔

إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ۚ هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنشَأَكُم
مِّنَ الْأَرْضِ وَإِذْ أَنتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ ۖ فَلَا
تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ ﴿٣٢﴾ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾
وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰ ﴿٣٤﴾ أَعِندَهُ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرَىٰ ﴿٣٥﴾
أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّىٰ ﴿٣٧﴾

بے شکه ستاسو ب د فراښې بخښنې مالک دے[۳۳] ـ هغه تاسو د هغه وخت نه ښه پیژني کله چه هغه د زمکې نه تاسو پیدا کړئ اوځه وخت چه تاسو لا د خپلو میندو په خیټو کښې پرانه ټوئ ـ نو د خپل ځان د پاکئ دعوے مه کوئ، هغه ښه پیژني چه په حقیقت کښې متقی څوک دے ـ ع

اے نبیؐ، تا هغه سړے اُولیدو چه هغه د خدائے د لارے نه واړید واو لږ شان (مال) ئے ورکړو او منع[۳۴] شو ـ آیا د هغه سره د غیبو علم دے چه هغه حقیقت وینی[۳۵] ؟ آیا هغه ته هغه خبرې نه دی رسیدلی کومے چه د موسیٰ په صحیفو کښې اود هغه ابراهیم په صحیفو کښې بیان شوی دی چه هغه د وفا حق ادا کړو[۳۶] ؟

اُوس پاتے شوه داخبره چه په وړو کناهونو اولویو کناهونو کښے څه فرق دے اوکوم قسم کناهونه وارِه دی اوکوم قسم کناهونه لوئ دی، نو په دے باره کښے چه په کومه خبره باندِ زمونږه اطمینان دے هغه داد ے چه " هر هغه کار لویه کناه ده چه هغے ته په کتاب اللهؐ او سنّتِ رسولؐ کښے حرام وئیلے شوی وی، یا د هغے د پاره اللهاود هغه رسول په دُنیا کښے څه سزا مقرر کړی وی، یا په هغے باندِ په آخرت کښے د عذاب ورکولو حکم نازل شوے وی، یا د هغے په کوڼکی لعنت وئیلے شوے وی، یا د هغے په کوڼکی باندِ د عذاب د نازلیدو خبر ورکړے شوے وی "۔ دد ے قسم کناهونه سوا نورځومره کارونوته چه شریعت په ښه ستر که نه کوی هغه ټول وارِه کناهونه دی ـ دغه شان د لوئے کناه هغے خواهش یا اراده کول هم لویه کناه نه ده بلکه وارِه کناه ده ـ ان تر دے پورے چه د لوئے کناه په اولنو مرحلو کښے داخلیدل هم د هغه وخته پورے لویه کناه نه ده ترڅوچه سړی هغه کړی نه وی ـ البته د وړے کناه نه هم په هغه حالت کښے لویه کناه جوړیږی کله چه هغه د دین د سپکاوی په جذبه سره اود الله تعالیٰ په مقابله کښے د لوئیٔ کولو په جذبه سره اوکړے شی، او د هغے کوڼکے د هغه شریعت هیڅ پروا اونه لری په کوم کښے چه هغے ته بدی وئیلے شوی ده ـ

أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرَىٰ ﴿٣٨﴾ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾

"داچه یو بار اُوچتوُ نکے به دَبل بار نهٔ اُوچتوی ۳۷،
او داچه دَ انسان دَپاره بس هغه څه دی چه دَ کوم دَپاره هغه کوشش اُوکړو، ۳۸

۳۳ یعنی دَ وړوکنا هونو دَ معاف کولو دا مطلب نهٔ دے چه وړه ګناه ګنی څه ګناه نهٔ ده، بلکه دَدے مطلب دادے چه الله تعالیٰ دَ خپلو بندګانو سره دَ لنډ خوئ معامله نهٔ کوی او په وړو وړو خبرو ئے نهٔ را نیسی - بنده چه دَ نیکئ په لار روان شی او دَ لویو لویو ګناهونه او دَ بے حیایئ دَ کارونه ځان ساتی نو الله تعالیٰ به ئے په وړو وړو خبرو نهٔ را نیسی او دَ لوئ رحم په وجه به ئے هم دغسے معاف کوی -

۳۴ دا اشاره ده ولید بن مُغیره ته چه دَ قریشو په سردارانو کښے یولوئ سردار وُو - دَ ابن جریر طبری روایت دے چه دا سړے اوّل دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم دعوت قبلولو ته تیار شوے وُو - خوکله چه دَ هغه یو مشرک دوست ته پته اُولږیدهٔ چه هغه دَ مسلمانید و ارادہ کړی ده نو هغه ورته اُووئیل چه دَ پلار دین مَه پریږده، که تهٔ دَ آخرت دَ عذاب نه یریږے نو ماله دومره پیسے راکړه، څه دَدے خبری ذمه اخلم چه هلته دِ ستا په بدله کښے ماله عذاب راکړی - ولید دا خبره اُومنله او دَ خدائے لارے ته دَ راتلونه منع شو، خو دَ کومو پیسو ورکولو وعده چه هغه دَ خپل مشرک دوست سره کړی وه هغه ئے هم څه لږے شان ورکړے او باقی نورے ئے ورنهٔ کړے - دِے واقعے ته دَ اشارے کولو مقصد دادے چه دَ مکّے کافرانو ته دا اُوښائی چه کله هغوی دَ آخرت نه بے فکره شوا و دَدین دَ حقیقت نه بے خبره شونو په څه رنګ جهالت او بے وقوفتیا کښے اخته شو -

۳۵ یعنی آیا هغه ته دا معلومه ده چه دا عمل دَ هغه دَپاره فائده مند دے؟ آیا هغه ته دا پته ده چه دَ آخرت دَ عذاب نه څوک په دے طریقه هم بچ کیدے شی؟

۳۶ وړاندِ هغه تعلیمات په لنډو الفاظو کښے بیا نیږی کوم چه دَ حضرت موسیٰؑ او دَ حضرت ابراهیمؑ په صحیفو کښے نازل شوی وُو - دَ حضرت موسیٰؑ دَ صحیفو نه مراد تورات دے - پاتے شوے دَ حضرت ابراهیمؑ صحیفے نو هغه ښ په دُنیا کښے هیڅ ته نشته، او دَ یهود یانو او عیسایانو په مقدسو کتابونو کښے هم دَ هغے څه ذکر نشته - صرف قرآن هغه کتاب دے چه په هغے کښے په دوو ځایونو کښے دَ ابراهیمؑ دَ صحیفو دَ تعلیماتو څینی حصّے نقل کړے شوی دی، یو دا ځائے، اوبل دَ سورة الاعلیٰ آخری آیتونه -

۳۷ دَدے آیت نه درے غټ غټ اُصول را اُوزی - یو دا چه هر سړے دَ خپل کار پخپله ذمه وار دے - دوئم دا چه دَ یو سړی دَ کار ذمه واری په بل سړی نهٔ شی اچولے کیدے سِوا دَدے نه چه دَ هغه کار په کولو کښے دَ هغه سړی خپله څه حصّه وی - دریم دا که یو سړے غواړی هم خودَ بل دَ کار ذمه واری په ځان نشی را وستلے، نهٔ اصلی مجرم په دِے وجه پرینبودے شی چه دَ هغه په ځائے بل سړے دَ سزا دَپاره ځان پیش کړی -

۳۸ـه دَدے حکم نه هم درے اهم اُصول را اُوزی ـ یو دا چه هرچاته به صرف دَ خپل عمل بدله مِلا ویږی ـ دویم دا چه دَ یوسړی دَ عمل فائده به بل له نشی ورکړے کیدے سوا دَدے نه چه په هغه عمل کښے دَ هغه خپله څه حصّه وی ـ دریم دا چه یوسړے دَ کوشش او دَ عمل نه بغیر هیڅ نشی موند لے ـ

خُپنی خلق دا دے وارِه اُصولَ دَ دُنیا دَ معاملا تو سره په غلطه طریقه ګډوی او دا نتیجه تړ را اُوباسی چه هیڅوک دَ خپل محنت دَ کتپے (Earned income) نه سوا دَ یو څیز جائز مالک نشی جوړیدے ـ لیکن دا خبره دَ قرآن مجید دَ ډیرو حکمونو سره ټکر اُوخوری ـ مثلاً دَ وراثت قانون، چه دَ سړی په میراث کښے دَ ډیرو کسانو حصّه وی او هغوی دَ هغے جائز وارثان وی حالانکه دَ میراث مال دَ هغوی دَ خپل محنت کتپه نهٔ وی، بلکه دَ تی دَ بچی په حقله خو دا هډو ثابتیدے نشی چه دَ پلار په میراثی مال کښے دَ هغه دَ محنت هم څه حصّه وه ـ دَ هغه شان دَ زکاة او صدقو حکمونه دی چه دَ یوسړی مال بل سړی ته صرف په شرعی او اخلاقی لحاظ سره مِلا ویږی او هغه دَ هغے جائز مالک جوړیږی، حالانکه دَ هغه مال په پیدا کیدو کښے دَ هغه هیڅ حصّه نهٔ وی ـ نو دَ قرآن دَ یو آیت نه دا سے نتیجے را اُوښکل چه هغه بخپله دَ قرآن د نُورو تعلیماتو سره ټکراویږی، دَ قرآن دَ منشا نه بالکل خلاف خبره ده ـ

خُپنی نور خلق دا اصول دَ آخرت سره تړی اودا نتیجه کوی چه آیا دَدے اُصولو ترڅنګه دَ یوسړی عمل دَ بل سړی دَ پاره په څه شکل کښے فائده مند کیدے شی ؟ او آیا یوسړے که دَ بل سړی دَ پاره څه عمل اُوکړی یا دَ هغه په بدله کښے څه عمل اُوکړی نو هغه دَ هغه دَ طرفنه قبلیدے شی ؟ او آیا دا هم کیدے شی چه یوسړے دَ خپل عمل بدله بل له ورکړی ؟ دَدے ټولو سو نو جواب که چرے په "نهٔ" کښے وی نو "ثواب رسیدل" او دَ "بل په ځائے حج کول" وغیره ټول مسئلے ناجائزه کیږی، بلکه دَ بل په حق کښے دَ بخښنے دُعا غوښتل هم بے مطلبه کیږی، ځکه چه دا دُعا هم دَ هغه سړی خپل عمل نهٔ دے دَ چا په حق کښے چه دُعا اُوغوښتلے شی ـ لیکن دا انتهائی فکر دَ معتزلو نه نه سوا په مسلمانانو کښے بل هیڅوک نهٔ دے اختیار کړے ـ صرف هغوی دَدے آیت نه دا مطلب اخلی چه دَ یو سړی کوشش دَ بل دَ پاره په هیڅ حال کښے فایده مند کیدے نهٔ شی ـ دَدے برخلاف اَهلِ سُنّت په اتفاق سره دا خبره منی چه دَ یوسړی دَ پاره دَ بل دُعا فائده مند کیدے شی، ځکه چه دا دَ قرآن نه ثابته ده، البته په ثواب رسیدلو کښے او نیابةً دَ بل دَ طرفنه په نیک کارکولو کښے دَ هغوی په منځ کښے اصولاً هیڅ اختلاف نهٔ دے بلکه صرف په تفصیلاتو کښے اختلاف دے ـ

(۱) ایصالِ ثواب (یعنی ثواب رسیدل) دا دے چه یوسړے یو نیک کار اُوکړی او بیا دَ الله نه دُعا اُوغواړی چه اے الله دَدے نیک کار ثواب فلانی له ورکړے ـ په دے مسئله کښے امام مالکؒ او امام شافعیؒ فرمائی چه خالص بدنی عبادتونه مثلاً لمونځ، روژه او دَ قرآن تلاوت وغیره، دَدے ثواب بل ته نهٔ شی رسیدے، البته مالی عبادتونه مثلاً صدقه، یا مالی او بدنی شریک عبادت مثلاً حج، نو دَ دے ثواب بل ته رسیدے شی، ځکه چه اصل مسئله داده چه دَ یوسړی عمل دِ دَ بل دَ پاره فایده مند نهٔ وی، لیکن دَ صحیح احادیثو ترڅنګه دَ صدقے ثواب رسیدے شی او دَ بل دَ پاره حج هم کیدے شی، نو په دے وجه

موښږه صرف دَ دے قِسم عباد تونه ایصالِ ثواب صحیح تسلیم کوُاو دَ نور قِسم عباد تونو ایصالِ ثواب نهٔ تسلیم کوُ ۔ دَ دے برخلاف دَ حنفیانو مسلک داد ے چه انسان دَ خپل هرنیک عمل ثواب بل ته بخښلے شی، خواه که هغه مونځ وی که روژه وی، که دَ قرآن تلاوت وی، که ذِکر وی، که صدقه وی او که حج یا عُمره وی ۔ دَ دے دلیل داد ے لکه چه څنګه یوسړے مزدوری اُوکړی او مالک ته داوښلے شی چه ځما دَ دے کار اُجرت دِ فلانی له ورکړے شی، د غه شان انسان چه نیک عمل اُوکړی نو دَ الله تعالیٰ نه دا دُعا هم غوښتلے شی چه دَ دے ثواب دِ ځما دَ طرفنه فلانی له ورکړے شی، اوبه دے کښے هرقِسم نیکی شامله ده ۔ او داخبره دَ پیرو احادیثونه هم ثابته ده :

په بُخاری، مُسلم، مُسندِ احمد، ابن ماجه، طَبَرانی (فی الاوسط)، مستدرِک او په ابن ابی شیبه کښے دَ حضرت عائشےؓ، حضرت ابوهریرهؓ حضرت جابر بن عبدالله، حضرت ابو رافِع، حضرت ابوطَلحَه انصاری، او دَ حُذَیفه بن اُسید الغِفاری متفقه روایت د ے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوکښ دَ خپل طرفنه او دَ خپل کورِوالو دَ طرفنه قربانی کړو او بل ئے دَ خپل اُمّت دَ طرفنه ۔

په مُسلم، بُخاری، مُسنَدِ احمد، ابوداوُد، او نَسائی کښے دَ حضرت عائشے روایت د ے چه یوسړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اُوکړو چه ځما مور ناسا په ناڅاپه مَړه شوی دَ ۔ ځما خیال د ے که چرے هغے ته دَ خبو کولو موقع مِلاؤ شوی وے نو هغے به ضرور دَ صدقے کولو وصیّت کړے وُو ۔ اُوس که ځه دَ هغے دَ طرفنه صدقه ورکړم نو آیا هغے ته ئے ثواب رسی ؟ نبیؐ اُوفرمائیل چه هَوُ ۔

په مُسند احمد کښے دَ حضرت عبدالله بن عَمرُو بن العاص روایت دے چه دَ هغه نیکه عاص بن وائِل دَ جاهلیت په زمانه کښے دَ سَلوُاُو بنا نو دَ ذبحه کولو نذر منلے وُو ۔ دَ هغه ټُرهَ هِشام ابن العاص دَ خپلے حصّے پنځوس اُوښان ذبحه کړل حضرت عَمرو بن العاص دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم نه تپوس اوکړو چه ځه ځه اوکړم ۔ نبیؐ ورته اُوفرمائیل که چرے ستاپلار دَ توحید اقرار کړے وُو نو تهٔ دَ هغه دَ طرفنه روژه اُونیسه یا صدقه ورکړه، دابه دَ هغه دَ پاره فائِده مند وی ۔

په مُسنَدِ احمد، ابوداوُد، نَسائی او ابن ماجه کښے دَ حضرت حسنِ بصری روایت دے چه حضرت سعدؓ بن عُبادهٔ دَ رسول الله علیه وسلم نه تپوس اُوکړو چه ځما مور وفات شوی ده، آیا ځه دَ هغے دَ طرفنه صدقه ورکړم ؟ نبیؐ اوفرمائیل هَو ۔ دارنګه نورهم پیر روایتونه دَ حضرت عائشےؓ، دَ حضرت ابوهریرهؓ اودَ حضرت ابن عباسؓ نه په بخاری، مُسلم، مُسنَدِ احمد، نَسائی، تِرمذی، ابوداوُد اوابن ماجه وغیره کښے موجود دی چه په هغے کښے رسول الله صلی الله دَ مَړی دَ طرفنه دَ صدقے ورکولو اجازت کړے دے اوفرمائیلی ئے دی چه دا مړی له فائِده ورکوی ۔

په دارقُطنی کښے دی چه یوسړی دَ نبیؐ نه تپوس اُوکړو چه ځه خودَ خپل مور اوپلار خدمت دَ هغوی په ژوند کښے کوم، دَ هغوی دَ مرګ نه روستو ئے څنګه اوکړم ؟ نبیؐ اُوفرمائیل "دا هم دَ هغوی خدمت دے چه دَ هغوی دَ مرګ نه روستو تهٔ دَ خپل مونځ سره دَ هغوی دَ پارهٔ هم مونځ اُوکړے اودَ خپلو روژو سره دَ هغوی دَ پارهٔ هم روژے اُونیسے" ۔ په دارقُطنی کښے یوبل روایت دَ حضرت علیؓ نه روایت کړے شوے دے چه نبیؐ اُوفرمائیل څوک چه په مقبره ور ځی او یٰسٓ وُلولس ځله ئے قُلْ هُوَاللّٰه اَحَد اُوُلوے اودَ هغے ثواب ئے دَ مَړو په حق کښے اُوبخښو

نوچه څومره مړی وی هغومره ثواب به دهٔ له ورکړے شی ۔

دا کنړ روایتونه چه د یوبل تائید کوی، دا دے خبری وضاحت کوی چه ایصال ثواب (یعنی ثواب رسیدل) نهٔ یوازے داچه ممکن دے، بلکه د هرقسم د عباد تونو او د نیکیانو ثوابونه بل ته رسیدے شی او په دے کښے د خاصو عملونو تخصیص نشته ۔ لیکن په دے سلسله کښے څلور خبری په ذهن کښے کینول پکار دی:

یوه داچه د هغه عمل ثواب بل ته رسیدے شی چه هغه خالص د الله د پاره وی او د شریعت د قاعدے مطابق شوے وی، کنهٔ نو ظاهره خبره ده چه کوم کار د غیر الله د پاره وی او د شریعت قاعدے نه خلاف اوشی نو د هغے ثواب خو پخپله عمل کوونکی ته نشی ملاویدے، نو لا بل ته به څنګه ورسی ۔

دویمه خبره داده چه کوم خلق د نیکانو صالحانو په حیثیت سره د الله تعالیٰ میلمانه دی هغوی ته یقیناً چه د ثواب تحفه به رسی، خو کوم خلق چه هلته په حوالات کښے د مجرم په حیثیت سره بند دی هغوی د ثواب د رسیدو امید نشته ۔ د الله میلمنو ته خو تحفه رسیدے شی، لیکن امید نهٔ دے چه د الله مجرم ته تحفه اورسیدے شی ۔ هغه ته که څوک د خلاصۍ په وجه خپل ثواب بخښی نو د هغه ثواب به نهٔ ضائع کیږی بلکه مجرم ته به نهٔ څی دهٔ له به واپس راځی ۔ لکه څنګه چه منی آرډر چاته لیږلے شوے وی او هغه ته اونهٔ رسی نو لیږونکی ته واپس راځی ۔

دریمه خبره داده چه ثواب رسیدل خو ممکن دی لیکن عذاب رسیدل ممکن نهٔ دی ۔ یعنی داخو کیدے شی چه سړے نیکی اوکړی او ثواب ئے بل ته اوبخښی او هغه هغهٔ ته اورسی، لیکن دا نهٔ شی کیدے چه سړے ګناه اوکړی او د هغے ګناه بل ته اوبخښی او هغه د هغهٔ ته اورسی ۔

او څلورمه خبره داده چه د نیک عمل دوه فائدے دی ۔ یو هغه اثرات دی کوم چه د عمل کوونکی په خپل روح او اخلاقو باندے کیږی او چه د هغے په وجه هغه د الله په دربار کښے د جزا مستحق ګرزی ۔ دویم هغه اجر چه الله تعالیٰ ئے د انعام په طور هغه له ورکوی ۔ د ایصالِ ثواب تعلق د اولنی څیز سره نهٔ دے بلکه صرف د دویم څیز سره دے ۔ د دے مثال داسے دے لکه چه یو سړے ورزش کوی او په کشتئ کښے د ځان تکړه کولو کوشش کوی ۔ په دے سره چه کوم طاقت او مهارت په هغه کښے پیدا کیږی هغه بهرحال د هغه د ذات سره خاص دے، بل چاته نشی منتقل کیدے ۔ د غه شان هغه که چرے په یو دربار کښے نوکر دے او د پهلوان په حیثیت سره د هغه د پاره یوه تنخواه مقرره نوهغه به هم هغه ته ملاویږی، بل چاته به نهٔ ورکړے کیږی ۔ البته چه د هغه مشر د هغه د کارنه خوشحاله شی او هغه له کوم انعام ونه ورکوی نو د هغے په حقله هغه درخواست کولے شی چه دا د ځما اوستاذ له، یا ځما مور او پلار له، یا نور د دوستانو نه ځما د طرفنه ورکړے شی ۔ دا ټکے معامله د نیکو عملونو ده چه د دے روحانی فائدے منتقل کیدے نهٔ شی او د دے بدله هم چاته منتقل کیدے نشی، لیکن د دے د اجر او د ثواب په حقله هغه الله تعالیٰ ته دُعا کولے شی چه هغه د یو نزدے خپلوان یا یو دوست ته ورکړے شی ۔ په دے وجه دے ته ایصالِ جزا نهٔ وئیلے کیږی بلکه ایصال ثواب ورته وئیلے کیږی ۔

(۲) د یوسړی کوشش د بل سړی د پاره د فائدے مند کیدو دویم شکل دا دے چه سړے یا خو د بل په خواهش یا د بل په وینا باندے د هغه د پاره نیک عمل اوکړی، یا د هغه خواهش او د هغه د وینا نه بغیر یو داسے عمل اوکړی چه هغه په اصل کښے واجب خو د هغه په ذمه وُو لیکن هغه پخپله نهٔ وُو کړے ۔ د دے په باره کښے حنفی فقهاء وائی چه عباد تونه

په درے قسمه دی - یو خالص بدنی عبادت لکه مونځ - دویم خالص مالی عبادت ، لکه زکوٰة - او دریم مالی او بدنی دواړه ، لکه حج ، په دے کښے اولنے قسم عبادت ډیر ډیر طرفنه نشی کیدے ، مثلاً یوسړے ډیر سړی ډیر طرفنه مونځ نشی کولے - دویم قسم عبادت ډیر ډیر طرفنه کیدے شی ، مثلاً ډیر څوک زکوٰة خاوند ورکولے شی - دریم قسم عبادت صرف په هغه حالت کښے ډیر طرفنه کیدے شی کله چه اصلی سړے مستقل طور ډیر هغے ادا کولے نه عاجزه وی ، مثلاً حج بدل ډیر سړی ډیر طرفنه کیدے شی چه هغه په خپله حج ته ډیر تلو طاقت نه لری او نه ډیر اُمید وی چه هغه به چرته ډیر تلو قابل شی - مالکیه او شافعیه هم ډیر قائل دی - البته امام مالک ډیر حج بدل ډیر پاره دا شرط لګوی چه که چرے پلار وصیت کړے وی چه ډیر هغه څوئے دِ ډیر هغه نه روستو ډیر هغه ډیر طرفنه حج اوکړی نو هغه حج بدل کولے شی کنئ نو نه شی کولے - لیکن احادیث په دے معامله کښے بالکل صفادی چه که پلار وصیت کړے وی اوکه نه وی ، خو څوک ډیر هغه ډیر طرفنه حج بدل کولے شی ، ډیر ابن عباسؓ روایت دے چه ډیر خثعم قبیلے یوے ښځے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه ځما پلار ته ډیر حج ډیر فرض کید و حکم په دا سے حالت کښے راورسید لے دے چه هغه ډیر بوډا شوے دے ، ډیر اُوښ په شا نشی کینا ستے - نبیؐ اُوفرمائیل فَحُجِّي عَنْهُ ، " نو ډیر هغه ډیر طرفنه ته حج اوکړه " (بخاری ، مُسلم ، احمد ، تِرمذی ، نَسائی) - تقریباً هم دا رنګے یو روایت حضرت علیؓ هم بیان کړے دے (احمد ، تِرمذی) -

حضرت عبدالله بن زُبیر ډیر قبیله خثعم ډیر یوسړی ذکر کوی چه هغه هم ډیر خپل بوډا پلار پحقله دا پوښتنه کړے وُو - نبیؐ تر پوښتنه اوکړو آیا ته ډیر هغه ډیر پولونه مشر څوئے ؟ هغه ورته اُوویئل چه هو - نبیؐ اُوفرمائیل اَرَاَيْتَ لَوْكَانَ عَلٰى اَبِيكَ دَيْنٌ فَقَضَيْتَهُ عَنْهُ اَكَانَ يُجْزِئُ ذٰلِكَ عَنْهُ ؟ " ستا څه خیال دے که ستا په پلار قرض وی او ته هغه ورکړے نو هغه به ډیر هغه ډیر طرفنه ادا شی ؟ هغه اُوویئل چه هو - نبیؐ اُوفرمائیل فَاحْجُجْ عَنْهُ " بس دغه شان ته ډیر هغه ډیر طرفنه حج هم اُوکړه " (احمد ، نَسائی) -

ابن عباسؓ وائی چه ډیر جُهَینه قبیلے یوه ښځه راغله او عرض ئے اُوکړو چه ځما مور ډیر حج نذر منلے وُو خو هغه ډیر هغے نه مخکښے مړه شوه ، اُوس څه ډیر هغے ډیر طرفنه حج کولے شم ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم جواب ورکړو " که ستا په مور باندِ قرض وے نو آیا تا به هغه نه ورکولے ؟ دغه شان تاسو ډیر الله حق هم ادا کړئ ، او الله ډیر دے زیات مستحق دے چه ډیر هغه سره دِ شوی وعدے پوره کړے شی " (بخاری - نَسائی) - په بخاری او مسنَدِ احمد کښے یو بل روایت داد ے چه یوسړے راغے او ډیر خپلے خُور په باره کښے هم هغه تپوس اُوکړو کوم چه بَرَه ذکر شوے دے او نبیؐ ورله هم دا جواب ورکړو -

ډیر دے روایتونه دا واضحه ثبوت مِلاویږی چه مالی او بدنی شریک عبادت مثلاً حج ډیر بل ډیر پاره کیدے شی - پاتے شو خالص بدنی عبادتونه نو څینی احادیث دا سے شته چه ډیر هغے نه دا ثابتیږی چه بدنی عبادتونه هم ډیر بل ډیر طرفنه کیدے شی - مثلاً ډیر ابن عباس دا روایت چه ډیر جُهَینه قبیلے یوه ښځه ډیر نبیؐ نه تپوس اُوکړو " ځما مور څه روژے نذر منلے وے او هغه ډیر نذر پوره کولو نه مخکښے مړه شوه ، آیا څه ډیر هغے ډیر طرفنه روژے نیولے شم " ؟

وَاَنَّ سَعْيَهٗ سَوْفَ يُرٰى ﴿۴۰﴾ ثُمَّ يُجْزٰىهُ الْجَزَآءَ الْاَوْفٰى ﴿۴۱﴾

اوداچه دَ هغه کوشش به ډیر زر راُولیدے شی[۳۹] اودهغې پوره بدله به هغه له ورکړے شی،

نبیؐ اُوفرمائیل " دَ هغې دَ طرفنه روژے اُونیسه" (بُخاری، مُسلم، احمد، نسائی، ابوداؤد)۔ اودَ حضرت بُرَیدہؓ دا روایت چه یوے نبیؐ دَ خپلے مور په حقله تپوس اُوکړو چه دَ هغې په ذمه دَ یوے میاشتے (یا دَ بل روایت مطابق دَ دوو میاشتو) روژے وے، آیا هغه دا روژے اُونیسم ؟ نبیؐ هغې ته هم دَ هغې اجازت ورکړو (مُسلم، احمد، ترمذی، ابوداؤد) ۔اودَ حضرت عائشےؓ روایت چه نبیؐ اُوفرمائیل من مات وعلیه صیام صام عنه ولیّه، " څوک چه مړشی اودَ هغه په ذمه روژے پاتے وی نودَ هغه دَ طرفنه دِ دَ هغه وَلی هغه روژے اُونیسی" (بُخاری، مُسلم، احمد - دَ بزّار په روایت کښے دَ نبیؐ الفاظ دادی چه فلیصم عنه ولیه انشاء - یعنی دَ هغه ولی که غواړی نودَ هغه دَ طرفنه دِ دا روژے اُونیسی)۔ دَدے دَ حدیثونو په وجه اصحاب الحدیث اوامام اوزاعی اوظاهریّه دَدے قائل دی چه بدنی عبادتونه هم دَ بل دَ طرفنه جائزدی ۔لیکن دَ امام ابوحنیفه، امام مالک، اوامام شافعی اوامام زید بن علی فتویٰ داده چه دَ مړی دَ طرفنه روژه نهٔ شی نیولے کیدے، او امام احمد، امام لَیث اواسحق بن راهَویه وائی په هغه حالت کښے دا سے کیدے شی چه مړی دَ هغې نذر منلے وی او بیائے پوره کړے نهٔ وی ۔ دَ نهٔ منونکو دَلیل داده چه دَ کومو احادیثونه دَدے دَ جواز ثبوت مِلاویږی دَ هغې راویانو پخپله دَدے خلاف فتویٰ ورکړی ده ۔ دَ ابن عباس فتویٰ نَسائی په دے الفاظو کښے نقل کړی ده چه لا یصلّ عن احدٍ ولا یصم احد عن احدٍ ،"څوک دِ نهٔ دَ چا دَ طرفنه مونځ کوی اونهٔ دِ روژے نیسی"۔ اودَ حضرتِ عائشےؓ فتویٰ دَ عبدالرزاق دَ روایت مطابق داده چه لا تصوموا عن موتٰکم و اطعموا عنهم، " دَ خپلومړو دَ طرفنه روژے مَه نیسئ ۔ بلکه په خلقو دِ وویږئ اُوخورَوئ "۔ دَ حضرت عبدالله بن عمرؓ نه هم عبدالرزاق داخبره نقل کړی ده چه دَ مړی دَ طرفنه دِ روژه نهٔ نیولے کیږی ۔ دَدے نه معلومیږی چه اوّل په بدنی عبادتونو کښے دَ بل دَ طرفنه دَ کولو اجازت وُو، لیکن اخری حکم دا مقرر شوچه دا سے کول جائز نهٔ دی ۔ کنئ نوداځکه کیدے شوه چه چا دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا احادیث نقل کړی دی هغوئ دِ پخپله دَ هغې خلاف فتویٰ ورکړی ۔

په دے سلسله کښے ځان په دے خبره بنه پوهه کول پکاردی چه دَ بل دَ طرفنه فرض ادا کول صرف دَ هغه خلقو په حق کښے فائده ورکولے شی چه هغوی پخپله دَ فرض ادا کولو خواهشمند وی اودَ عذر په وجه نِه پاتے شوی وی ۔ لیکن که یوسړے دَ طاقت باوجود قصداً دَ حج نه پاته کوی او په زړه کښے ئے دَدے فرض ادا کولو هیڅ خیال نهٔ وی، دَ هغه دَ پاره که هرڅومره حج بدل اُوکړے شی، هغه دهغهٔ په حق کښے هیڅ فائده نهٔ لری ۔ دا دا سے ده لکه چه یوسړی دَ چا قرض قصداً اُوخوړو اودَ مرګه پوړے دَ قرض ورکولو اراده نهٔ وه ۔ دَ هغې دَ مرګ نه روستو که دَ هغه دَ طرفنه ټول قرض ادا کړے شی خوهغه به دَ الله تعالیٰ په نظر کښے قرض خوړونکے شماریږی دَ بل دَ طرفنه په ادا کولو سره صرف دَ هغه سړی ذمه خلاصیږی چه هغه په خپل ژوند کښے دَ قرض ورکولو خواهش لرو خودَ څه مجبورۍ په وجه نشوادا کولے ۔

وَاَنَّ اِلٰى رَبِّكَ الْمُنْتَهٰى ﴿۴۲﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَضْحَكَ وَاَبْكٰى ﴿۴۳﴾
وَاَنَّهٗ هُوَ اَمَاتَ وَاَحْيَا ﴿۴۴﴾ وَاَنَّهٗ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ
وَالْاُنْثٰى ﴿۴۵﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ﴿۴۶﴾ وَاَنَّ عَلَيْهِ النَّشْاَةَ
الْاُخْرٰى ﴿۴۷﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَغْنٰى وَاَقْنٰى ﴿۴۸﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰى ﴿۴۹﴾

اوداچه آخرنه آخرستا رب ته رسیدل دی،
اوداچه خاص هغه اُوخندَول اوهغه اُوژړَول[۴۰]،
اوداچه خاص هغه مرګ اوژوندورکړو،
اوداچه خاص هغه دَ نر اودَ ښځې جُوړه پیدا کړه دَ نطفې دَ یوڅاڅکی نه
کله چه هغه (رِحم ته) واچولے شی[۴۱]،
اوداچه دوباره ژوندورکول هم دَ هغه ذمه واری ده[۴۲]،
اوداچه خاص هغه (انسان) غنی کړو اوجائیداد ئے ورکړو[۴۳]،
اوداچه هغه دَ شِعرٰی رب[۴۴] دے،

۳۹ یعنی په آخرت کښے به دَ خلقودَ عملونو جاج اغستلے کیږی اودے ته به کتلے کیږی چه چا څه عمل کړے دے - داخبره چونکه په اولو خبرو پسے جوخته وئیلے شوی ده نو په دے وجه ددے نه پخپله داخبره څرګنده ده چه دَ اولنیُ خبرو تعلق خاص دَ آخرت دَ جزا اودَ سزا سره دے اودَ هغه خلقو خبره صحیح نه ده چه دادَ دے دُنیا دَ پاره دَ معاشی اُصولو په طور پیش کوی - دَ قرآن مجید دَ یوآیت نه دا سے مطلب اغیستل صحیح کیدے نشی چه هغه دَ وړاندِ روستو عبارت نه هم خلاف وی اودَ قرآن دَ نورو تشریحاتو سره هم ټکراوُخوری -

۴۰ یعنی دَ خوشحالیُ اودَ غم اسباب دواړه دَ الله دَ طرفنه دی - بنه اوبد قسمت دَ هغه په لاس کښے دے - چاته چه آرام اوخوشحالی نصیب شوی ده - نوخاص دَ الله دَ طرفنه نصیب شوی ده - اوچاته چه مُصیبتونه اوتکلیفونه ورپیښ شوی دی نوخاص دَ هغه په ارادہ ورپیښ شوی دی - بل څوک په دے کائنات کښے دا سے نشته چه هغه کنی دَ چا په قسمتو نو جوړَولو اوورانولو کښے څه قسم دخل لری -

۴۱ دَ تشریح دَ پاره اُوګورئ تفہیم القرآن، دریم جلد، حاشیے ۲۷ تا ۳۰ - څلورم جلد، الشوریٰ، حاشیه ۷۷ -

۴۲ دَ پاسنو دوُ آیتونو سره چه دا آیت یوڅائے اُولوستلے شی نومعلومیږی چه دَ کلام دَ ترتیب نه پخپله دَ مرګ نه روستو دَ ژوند دلیل هم راُوخی - کوم خدائے چه دَ مرګ اودَ ژوند

وَاَنَّهٗٓ اَهْلَكَ عَادَا ِۨلْاُوْلٰى ﴿۵۰﴾ وَثَمُوْدَا فَمَآ اَبْقٰى ﴿۵۱﴾ وَقَوْمَ
نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا هُمْ اَظْلَمَ وَاَطْغٰى ﴿۵۲﴾ وَالْمُؤْتَفِكَةَ

اودا چه خاص هم هغه اولنی عادیان[۴۵] هلاک کړل، او ثمودیان ئے دا سے ختم کړل چه په هغوی کښے ئے هیڅوک باقی پرے ښښودو، اودهغوئ نه مخکښے ئے د حضرت نوحؑ قوم تباه کړو ځکه چه هغوئ سخت ظالمان او سرکشه خلق ؤو، او پاسترشوی کلی ئے

ورکولو قدرت لری، او کوم خدائے چه د نُطفے د یو معمولی شان څاڅکی نه د انسان غوندے مخلوق پیدا کوی، بلکه د تخلیق د یوقسم مادّے نه په یوشان طریقه دوه جُدا جُدا قِسمونه یعنی نارینه اوز نانه پیدا کوی، د هغه د پاره انسان دوباره پیدا کول هیڅ گرانه خبره نه ده۔

۴۳ه په اصل کښے لفظ اَقْنٰی استعمال شوے دے چه لغت والو او مفسّرینو ئے مختلفے معنے بیان کړی دی۔ قتادہ وائی چه ابن عباس د دے معنیٰ اَرْضٰی (یعنی هغه ئے راضی کړو) کړی ده۔ عِکرِمه د ابن عباس نه د دے معنیٰ قَنَّعَ (یعنی مُطمئن ئے کړو) نقل کړی دی۔ امام رازی وائی چه سړی ته د هغه د حاجت نه زیات هرڅه ورکړے شی هغه اِقْناء ده۔ ابوعُبیده او نور ډیر اهلِ لُغت وائی چه اَقْنٰی د قُنْیَة نه مُشتق دے چه معنیٰ ئے ده باقی محفوظ پاتے کیدونکے مال، لکه مکان، زمکه، باغونه، څاروی وغیره۔ د دے ټولونه یوجُدا مطلب ابن زید بیان کړے دے۔ هغه وائی چه اَقْنٰی دلته د اَفْقَرَ (یعنی فقیرئے کړو) په معنیٰ کښے دے او د آیت مطلب دادے چه هغه په خپله خوښه څوغنیان کړل او څوک ئے فقیران کړل۔

۴۴ه شِعْریٰ په آسمان کښے د ټولونه روښانه ستوری دے۔ دا د مِرزم الجَوزاء، اَلکلب الاکبر، الکلب الجبّار، الشِعْری العَبُور وغیره په نومونو سره یادیږی۔ په انګریزئ ژبه کښے دے ته (Sirius) او (Dog Star) او (Canis Majuris) وائی۔ دا د نمرنه درېشت چنده زیات رُوښانه دے، لیکن د زمکے نه د دے فاصله د رڼا په رفتار سره د آته کاله رفتار نه هم زیاته ده په دے وجه دا د نمرنه ورکوتے او د کهکشاں رڼا والا ښکاری۔ د مِصر خلقو به د دے عبادت کولو، ځکه چه د دے د راختلو په زمانه کښے به د دریائے نیل فایدے شروع کیدلے، نو هغوی به داخیال کولو چه داګنی د دے د راختلو فایدے دی۔ په جاهلیّت کښے د عربو د خلقوهم دا عقیده وه چه دا ستوری د خلقو په قِسمتونو اثر کولے شی۔ په دے وجه دا د عربو په خدایانو کښے شامل ؤو، او خاص طور د قریشو کاونډی قبیله خُزَاعَة د دے په عبادت کښے مشهوره وه۔ د آیت مطلب دادے چه ستاسو قِسمتونه شِعْریٰ ستورے نه جوړوی بلکه د هغه رب ئے جوړوی۔

۴۵ه د اولنی عادیانو نه مُراد پخوانی عادیان دی چه حضرت هود علیه السّلام ورته د پیغمبر په حیثیت لیږلے شوے ؤو۔ دے قوم چه کله حضرت هودؑ دروغژن اُوګنړلو او د هغے په سزا کښے چه پرې کوم عذاب راغے نو د هغے نه صرف هغه خلق بچ شوکومو چه په هغه باندے ایمان راوړے ؤو۔ د دوی نسل ته په تاریخ کښے عادِ اُخریٰ یا عادِ ثانیه (یعنی دویم عادیان) وائی۔

أَهْوٰى ﴿٥٣﴾ فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ﴿٥٥﴾
هٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْأُولٰى ﴿٥٦﴾ أَزِفَتِ الْآزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا

اُوچت کړل اوغوزارئے کړل، بیائے خورکړو په هغوئ باندِ هغه څه چه (تاسوئے ښه پیژنئ چه) څه ئے خُورکړو[۴۶]۔
نو ائے[۴۷] انسانه، تهٔ به دَ خپل رب په کومو کومو نعمتونو کښے شک کوے[۴۸]؟
دا یو خبردار دے[۴۹] دَ پرومبنو خبردارونه[۵۰]۔ راتلونکے ساعت نزدے[۵۱] راغلے دے[۵۲]، دَ اللہ نه

۴۶ دَ پاسترشوُو کلونه مُراد دَ لوطؑ دَ قوم کلي ده۔ او "خُورئے کړو په هغوئ باندِ هغه څه چه خُورئے کړو" دَ دے نه مُراد غالباً چه دَ بحرِ مُردار اُوبهٔ دی چه کله دَ لوطؑ دَ قوم کلي په زمکه کښے ښخ شوې نو دَ بحرِ مُردار اُوبهٔ پرِ راخورے شوے[۵۳] او دَ ټول ورځ پورے په هغه علاقه باندِ خورے دی۔

۴۷ دَ ځینو مفسّرینو په نزد افتره هم دَ صُحُفِ ابراهیم او دَ صُحُفِ مُوسٰی دعبارت یوه حصّه دهٔ۔ او ځینی مفسّرین وائی چه هغه عبارت په فَغَشّٰهَا مَا غَشّٰی باندِ ختم شو، دَ دے ځائے نه دویمه خبره شروع کیږی۔ دَ وړاندِ روستو عبارت سره اولنے قول زیات صحیح معلومیږی۔ ځکه چه روستنے دا عبارت چه "دا یو خبردار دے دَ پرومبنو راغلو شوو خبردارونه" دے خبرې ته اشاره کوی چه دَ دے نه اولنے ټول عبارت هغه پرومبنئ خبردارانے دی کومے چه دَ حضرت ابراهیمؑ او دَ حضرت مُوسٰی په صحیفو کښے بیان شوی دی۔

۴۸ په اصل کښے لفظ تَتَمَارٰی استعمال شوے دے چه معنیٰ ئے "شک کول" هم ده او "جګړه کول" هم۔ خبره هرا وریدونکی ته ده۔ هرڅوک چه دا کلام اوری هغه ته فرمائیلے کیږی کومو خلقو دَ اللہ تعالیٰ نعمتونه دروغژن کنړلی دی او دَ هغے په باره کښے ئے دَ پیغمبرانو سره جګړې کړی دی دَ هغوی چه دَ انسان په تاریخ کښے کوم انجام شوے دے آیا دَ هغے نه روستو به هم تهٔ هغه بے وقوفتیا کوے؟ تیر شوُو قومونو خو هم دا شک کړے وُو چه دَ کومو نعمتونو نه مونږه په دِ دُنیا کښے فایُده اخلو آیا دا دَ یو خدائے نعمتونه دی اوکه بل هم څوک په دے کښے شریک شته، یا دا دَ چا دَ طرفنه دی اوکه هم دغسے په خپله راپیدا کیږی۔ دَدے شک په بُنیاد باندِ هغوی دَ پیغمبرانو سره جګړې کړے وے۔ پیغمبرانو به هغه ته وئیل چه دا ټول نعمتونه تاسوته خدائے او اِکّا یو خدائے درکړې دی، په دے وجه تاسوله پکار دی چه اِکّا یوازے دَ هغه شکراُوبا سئ او دَ هغه بندګی اُوکړئ۔ خو هغوئ به دا نهٔ منله او په دے خبره به ئے دَ پیغمبرانو سره جګړې کولے۔ آیا اُوس تهٔ په تاریخ کښے دا نهٔ وینے چه دَ دے شک او دَ دے جګړو په وجه دَ پخوانو قومونو څه انجام شوے وُو؟ آیا تهٔ به هم هغه شک او هغه جګړې کوے کوے چه دَ نورو خلقو دَ پاره دَ تباهئ سبب جوړ شوے دے؟
په دے سلسله کښے داخبره هم په نظر کښے ساتل پکار دی چه عادیان او ثمودیان او دَ نوحؑ دَ قوم

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ ﴿٥٩﴾
وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿٦١﴾
فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿٦٢﴾

بغیر بل څوک دهغې دفع کونکے نشته[۵۱] - آیا داهغه خبرې دی چه تاسو پرې تعجب کوئ[۵۲]؟
خاندئ اوژاړئ نه[۵۳]؟ اوپه سندرو تماشوداشاته غورزوئ[۵۴]؟ الله ته سجده[۵۵]
اُولکوئ اوبنده کی اُوکړئ -

خلق د حضرت ابراهیمؑ نه نجکنے تیرشوی وُو او د لوطؑ په قوم باندې خو پخپله د حضرت ابراهیمؑ په زمانه کښے عذاب راغلے وُو، نوپه دے کښے هیڅ شک نشته چه داعبارت د حضرت ابراهیمؑ د صحیفے یوه حصّه ده -

۴۹ه اصل الفاظ دی هٰذَا نَذِيْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْاُوْلٰى - ددے آیت په تفسیر کښے د مفسّرینو درے قولونه دی - یوداچه د نذیر نه مُراد محمد صلی الله علیه وسلّم دے - دوّیم داچه دَدے نه مُراد قرآن دے - دریم داچه دَدے نه مُراد د پخوانو هلاک شوو قومونو انجام دے چه حال ئے په پاسنو آیتونو کښے بیان شوے دے - د کلام په مناسبت سره زمونږ په نزهم دا دریم تفسیر قابل ترجیح دے -

۵۰ه یعنی داخیال مه کوه چه د سوچ کولو د پاره لا اُوس هم وخت پاتے دے، زمونږ څه تادی ده چه فوراً په دے خبرو غور شروع کړو او د دے د منلو د زر تر زره فیصله اُوکړو - نهٔ، په تاسو کښے داهیڅانه نهٔ ده معلومه چه د هغه څومره ژوند پاتے دے - هروخت په تاسو کښے د هرچا مرګ هم راتلے شی او قیامت هم ناڅاپه راتلے شی - نو د فیصلے وخت لره مه ګنړه - د هرچا سره چه د خپل آخرت فکر وی هغه د زر تر زره خپل ځان صحیح کړی - ځکه چه د هرے ساه د اغستلو نه روستو دا امکان شته چه د دوے ساه د اغستو موقع مسلاً نهٔ شی -

۵۱ه یعنی د فیصلے وخت چه کله راشی نو بیا ئے نهٔ تاسو دفع کولے شئ او نهٔ ستاسو په معبودانو کښے د چا دا طاقت شته چه هغه دفع کړی - د یو الله نه بغیر بل هیڅوک ئے نهٔ شی دفع کولے او هغه د هغې دفع کوُنکے نهٔ دے -

۵۲ه په اصل کښے لفظ هٰذَا الْحَدِيْث استعمال شوے دے چه مطلب ئے هغه ټول تعلیم دے کوم چه د رسول الله صلی الله علیه وسلّم په ذریعه په قرآن مجید کښے پیش کړے کیدو - او د تعجّب نه مُراد هغه حیرانتیا ده چه کله سړے یوه نا اشنا خبره واوری او حیران شی - د آیت مطلب دادے چه محمد صلی الله علیه وسلم کوم څیز ته خلقوله دعوت ورکوی هغه خو هم داځیزدے چه تاسو واورید و - بنه نو کښے دا هغه خبرې دی چه ستاسو پرغوږونه بوځ شواو د حیرانتیا نه مو څله داسے وَرانه شوه لکه چه پرے نا اشنا خبرې مو واورید لے؟

۵۳ یعنی په ځائے دے چه تاسوله پخپله ناپوهتیا اوپه خپله کمراهئ باندِ ژړا درغلے وے ، ئوتاسو الټا په دے حقیقت پورے پوهے کوئ کوم چه ستاسو په وړاندِ پیش کیږی ۔

۵۴ په اصل کښے لفظ سَامِدُوْنَ استعمال شوے دے چه لغت والوئے دوه معنے بیان کړی دی ۔ ابن عباس، عِکرِمه اوابوعبیده نحوی وائ چه په یمنی ژبه کښے دَ سُمُود معنیٰ سندرے ویل دی او دَ آیت اشاره دے طرفته ده چه دَ مکے کافرانوبه دَ قرآن دَ آوازه دباوهلودَ پاره اودَ خلقو توجه بل طرفته کړنولودَ پاره په زُوره زُوره سندرے شروع کولے ۔ ابن عباس اومجاهد دویمه معنیٰ دا بیان کړی ده چه السُّمُود البَرطَمَةَ وَهِیَ رفع الراس تکبرا ، کانوا یمرّون علی النبی صلی اللّٰه علیه وسلّم غضابامبرطمین ۔ یعنی دَتکبر دَ وجے نه سر نیغ وړلوته سُمود وائ ، دَ مکے کافران چه به کله دَ رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم په خوا کښے تیریدل نو سر به ئے نیغ کړے وُو او په غصّه غصّه به تیریدل ۔ راغب اصفهانی په مفردات کښے هم دا معنیٰ کړی ده ، اوهم دَدے معنے په لحاظ سره دَ سَامِدُون مطلب قَتاده غَافِلُون بیان کړے دے اوسعید بن جُبیر مُعرِضُون بیان کړے دے ۔

۵۵ دَامام ابوحنیفه ، دَ امام شافعی اودَ اکثرُو عالمانو په نزد په دے آیت باندِ سَجده کول لازم دی ۔ امام مالکؒ به اگرچه پخپله دَدے ځائے په تلاوت سُجده کوله (لکه څنګه چه قاضی ابوبکر بن العربی په احکام القرآن کښے لیکلی دی) لیکن دَ هغه مسلک داوُو چه دلته سجده کول لازم نهٔ دی ۔ دَهغه دارائے دَحضرت زید بن ثابت دَدے روایت دَ وجے نه ده چه " ما دَ رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم په مخکښے سورهٔ نجم اُولوستو او نبیؐ سجده اُونهٔ کړه " (بُخاری ، مُسلم ، احمد ، ترمذی ، ابوداؤد ، نَسائی) ۔ لیکن دَدے حدیث نه دا مطلب نهٔ راأوځی چه کُنی په دے آیت باندِ سجده کول لازم نهٔ دی ، ځکه چه کیدے شی چه نبیؐ دَ څه وجے نه په هغه وخت کښے سجده نهٔ وی کړی اوبیا روستو ئے کړی وی ۔ په نورو روایتونو کښے داخبره ځرګنده ده چه په دے آیت باندِ لازمی طور سجده شوی ده ۔ دَ حضرت عبد اللّٰه بن مسعودؓ ، ابن عباسؓ اومُطّلبؓ بن ابی وَداعَه متفقه روایتونه دادی چه نبیؐ کله په اوّل ځل په حرم کښے داسورهٔ اُولوستو نوهغه سُجده اُوکړه اودَ هغه سره مسلمانان اوکافران ټول په سجده پریوتل ۔ (بُخاری ، احمد ، نَسائی) ۔ دَ ابن عُمرؓ روایت دے چه نبیؐ په مانځه کښے سورهٔ نجم اُولوستو او سجده ئے اُوکړه اودَ دیرش ساعته پورے په سجده پروت وُو (بَیهقی ، ابنِ مَردُویه) ۔ سَیرَةُ الجُهَنِی وائ چه حضرت عُمرؓ دَ سحر په مانځه کښے سورهٔ نجم اُولوستو او سجده ئے اُوکړه او بیا پاسیدو سورهٔ زلزال ئے اُولوستو او رکوع ئے اُوکړه ۔ (سعید بن منصور) ۔ په خپله امام مالک هم دَ مؤطّا په باب ماجاء فی سجود القرآن کښے دَحضرت عُمرؓ دا فِعل لیکلے دے ۔

تفهم القرآن

القمر

٥٤

القمر

نوم | دَدے سورۃ نوم دَ اولنی آیت دَ ټکی وَانْشَقَّ الْقَمَرُ نه اغستلے شوے دے۔

مطلب دادے چه هغه سورۃ چه په هغے کښے لفظ "القمر" راغلے دے۔

دَ نازلیدو زمانه | په دے کښے دَ شَقَّ الْقَمَرُ واقعے ذکر راغلے دے چه دَ هغے نه دَ نازلیدو زمانه مقرریږی۔ محدثینو او مفسرینو په دے خبره اتفاق دے چه دا واقعه دَ هجرت نه تقریباً پنځه کاله مخکښے په مکّه معظمه کښے دَ مِنیٰ په مقام کښے شوی وه۔

موضوع او مضمون | په دے سوره کښے دَ مکّے کافرانو ته په هغه ضد باندِ خبردارے ورکړے شوے دے کوم چه هغوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ دعوت په مقابله کښے شروع کړے وُو۔ دَ شَقَّ الْقَمَر دا نا اشنا واقعه دَدے خبرې صفا علامه وه چه دَ کوم قیامت دَ راتلو خبر رسول الله صلی الله علیه وسلم خلقو ته ورکولو، هغه واقعی چه راتلے شی، او دَ هغے دَ راتلو وخت ډیر نږدے راغلے دے۔ لویه سپوږمۍ دَ هغوئ په مخکښے دوه ټوکړی شوی وه۔ دواړه ټوکړے دَ یوبل نه دومره لرے تلے وے چه کښونکو ته یوه ټوکړه دَ غر یو طرفته او بله ټوکړه بل طرفته په نظر راغلی وه۔ بیا دَ ستړکے په رپ کښے هغه دواړه ټوکړے بیا یوځائے شوی وے۔ دا دَدے خبرې ښکاره ثبوت وُو چه دَ جهان نظام همیشه او غیر فانی نه دے دا ورانیدے شی۔ لوئ لوئ ستوری دوه کیدے شی۔ ځواره واره کیدے شی۔ دَ یو بل سره جنګیدے شی۔ او هغه هرڅه کیدے شی کوم چه به دَ قیامت په وخ دَ قرآن دَ وینا مطابق کیږی۔ یواځے دا نه، بلکه دَدے نه دا خبره هم معلومیدله چه دَ جهان دَ نظام په ورانیدو شروع شوی ده او دَ قیامت دَ راتلو وخت نږدے دے۔ نبی صلی الله علیه وسلم په دے حیثیت سره دَ خلقو توجه دے واقعے ته راوکړوله او وے فرمائیل، اوګورئ اوګواه شئ۔ لیکن کافرانو دا جادو اوکنړو او په خپل انکار باندِ ټینګ پاتے شو۔ په دے ضد باندِ هغوئ په دے سورۃ کښے ملامته کړے شوی دی۔

دَ کلام په شروع کښے اوفرمائیلے شوچه دا خلق نه په پوهه کولو سره خبره منی نه دَ تاریخ نه عبرت حاصلوی، او نه دَ څرګند و نښو په لید لو سره ایمان راوړی۔ اوس به دوی هله مَنی کله چه په حقیقت کښے قیامت راشی او دوی دَ قبرونو نه راوزی او الله تعالیٰ ته منډے وَهِی۔

دَ دے نه روستو هغوی ته دَ نوحؑ دَ قوم ، دَ عادیانو، دَ ثمودیانو، دَ لوطؑ دَ قوم اودَ آلِ فرعون حال په مختصرو الفاظو کښے بیان کړے شوے دے او ورته وئیلے شوی دی چه دِے قومونو دَ خدائے دَ رالیږلو شوو پیغمبرانو خبرې دروغ اُوګڼلے نو کوم قسم دردناک عذاب پرِ را غے ، او بیا دَ یو یو قوم قیصه بیان کړے شوه او په دِے خبره بار بار زور ورکړے شو چه دا قرآن دَ نصیحت یوه آسانه ذریعه ده که دَدِے نه یو قوم سَبَقْ زدَه کړو او په بیغه لار روان شو نو دَ هغه عذابونونه به هیڅ شی کوم چه په هے قومونو راغلی وُو - اُوس آخر دا څه بے وقوفتیا ده چه دَدے آسانے طریقے په ذریعه څوک نصیحت نهٔ قبلوی او خامخا په دِے خبره پوهیګتیا کوی چه هغه دَعذاب لیدلو نه بغیر منلوته نهٔ تیاریږی -

د غه شان دَ پخوانو قومونو دَ تاریخ نه عبرتناک مثالونه ورکړے شوی دی او دَ مکّے کافرانو ته وئیلے شوی دی چه دَ کوم عمل په وجه نورو قومونو سزا موندلی ده هم هغسے عمل که چرے تاسو اُوکړو نو آخر تاسو به وَلے سزا نهٔ مومئ؟ آخر ستاسو په سر کومه جنده ولاړه ده چه دَ هغے په وجه تاسو له دَ نورو پشان سزا درنهٔ کړے شی ؟ یا تاسو ته څه خاص معافی شوی ده چه په کوم جُرم نور خلق را نیولے کیږی هغه که تاسو اُوکړو نو تاسو به پرِ نهٔ را نیولے کیږئ ؟ او که تاسو په خپله وله غَړه یَئ نو په یو زر به ستاسو دا وله ماتے اُوخوری او تیښته به اُوکړی ، اودَ قیامت په ورځ به دَدِے نه زیاته سخته معامله ستاسو سره وی -

په آخر کښے کافرانو ته وئیلے شوی دی چه دَ قیامت راوستلو دَ پاره الله تعالیٰ ته دَ څه لوئے تیارئ حاجت نشته - دَ هغه په یو حکم سره به دَ ستر ګے په رپ کښے قیامت راځی - لیکن دَ هرشے پشان دَ انسان اودَ کائنات هم یو تقدیر لیکلے شوے دے - دَدے تقدیر مطابق چه کوم وخت دَدِے کار دَ پارهٔ مقرر دے هغه به هم په هغه وخت کیږی - دا سے نشی کیدے چه څوک دَ قیامت نه انکار اُوکړی نو دَ هغه دَ قائل کولو دَ پاره دِ قیامت راوستلے شی - که قیامت دِ راروان اُونه لیدو او دَ سرکښئ په لار روان شوے نو دَ خپل عمل سزا به خپله برداشت کوے - ستاسو صحیح صحیح حال دَ خدائے سره تیاریږی چه په هغے کښے ستاسو وړو کے یا لوئ عمل دَ لیکلو نه پاتے شوے نهٔ دے -

ایاتہا ۵۵ سُوْرَةُ الْقَمَرِ مَكِّيَّةٌ رکوعاتہا ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ① وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً

د قیامت وخت نزدے راغے او سپوږمئ دوه ټوټے شوه۔[1]
خودډے خلقو حال دادے چه که هره ښښه اُو وِینی

[1] یعنی د سپوږمئ دوه ټوټے کیدل د ډے خبری علامه ده چه د قیامت هغه وخت، چه د هغے د راتلو خبر تاسوله درکړے کیږی، رانزدے شوے دے، اود کائناتو د نظام په ړانیدو شروع شوی ده - دارنګے دا واقعه چه لویه سپوږمئ دوه ټوټے شوه، د د ے خبری ښکاره ثبوت دے چه کوم قیامت تاسوته یادولے کیږی هغه راتلے شی - ظاهره خبره ده چه سپوږمئ دوه ټوټے کیدے شی نو زمکه هم شلیدے شی، د ستورو د تلولارے هم بدلیدے شی اود آسمان دا ټول نظام ګډوډ کیدے شی - په ډے کښے هیڅ څیز هیشه اومستقل نه ډے چه کښی قیامت نه شی راتلے۔

خُینو خلقو د ډے آیت نه دا مطلب اغستلے دے چه "سپوږمئ به دوه ټوټے شی"۔ اګرچه دا مطلب به د عربئ ژبے په لحاظ سره اغستلے کیدے شی، لیکن د وړاندِ روستو عبارت سره دا مطلب قطعاً نه لږی - اوّل خو د ډے مطلب په اغستلو سره اولئ فِقره بے مطلبه کیږی - سپوږمئ که چرے د ډے کلام د نازلیدو په وخت کښے دوه ټوټے شوی نه وه، بلکه په راتلونکی وخت کښے چرته دوه ټوټے کیدونکی وه نو د هغے په بُنیاد باندِ د اخبره کول بالکل بے مطلبه ده چه د قیامت وخت نزدے راغلے دے - آخر په راتلونکی وخت کښے د یوے واقعے راتلل د قیامت د نزدیکت د پاره یوه علامه څنګه کیدے شی چه هغه د شهادت په طور پیش کړے شی او هغه یو مناسب دلیل وی - دویم، د ډے مطلب د اغستلونه روستو چه کله مونږه وړاندِ عبارت لَولُو نو دا سے معلومیږی چه هغه د ډِ ے سره هیڅ سُمُون نه خوری - د وړاندینی عبارت نه صفا معلومیږی چه خلقو په هغه وخت کښے څه نښه لیدلی وه چه هغه د قیامت د راتلو څرګنده نښه وه خو هغوی اُوویچه دا جادو ده او دروغ ئے اُوګنړله او په د ډے خبره ټینګ شو چه قیامت راتلل ممکن نه دی - د ډے عبارت سره د اِنْشَقَّ الْقَمَرُ الفاظ هله ټیک لږی چه د هغے مطلب "سپوږمئ دوه ټوټے شوه" وی - که "دوه ټوټے به شی" مطلب ترِ واغستلے شی نو روستنئ ټوله خبره ورسره بے جوړه کیږی۔ د روان عبارت سره ئے اُو وایه نوتانه به پخپله معلومه شی چه د د ے په وجه ټول عبارت بے مطلبه کیږی:

"د قیامت وخت نزدے راغے او سپوږمئ به دوه ټوټے شی - د د ے خلقو حال دادے چه که هره ښښه اُو وینی خوځ اړوی اووائی چه دا خو روان جادو د ے - دوی دروغ اُوګنړی او د خپل نفس په خواهشاتو پسے روان شو"۔

نو حقیقت دا دے چه د شق القمر واقعه د قرآن د الفاظو نه صفا ثابته ده او د حدیث په روایتونو باندې د هغې هیڅ دارومدار نشته - البته د روایتونو نه دا دے تفصیلات معلومیږي او پته لږي چه دا کله شوی وه او څنګه شوی وه - د روایتونه بخاری، مُسلم، تِرمذی، احمد، ابُوعَوانه، ابوداؤد طیالسی، عبدالرزّاق، ابن جَرِیر، بَیهَقی، طبرانی، ابن مَردُویه، اَوابونُعیم اصفهانی د دې ټولو سندونو سره د حضرت علیؓ، حضرت عبدالله بن مسعودؓ، حضرت عبدالله بن عباسؓ، حضرت عبدالله بن عُمرؓ، حضرت حذیفهؓ، حضرت انسؓ بن مالکؓ، او د حضرت جُبَیر بن مطعم نه نقل کړی دی - په دوئ کښے د ټولو نه زیات روایتونه د حضرت عبدالله بن مسعودؓ، حضرت حُذَیفه، او حضرت جُبَیر بن مُطعِم صفاوائی چه هغوئ د دې واقعې د ستر کولیدلی کواهان دی - او دوه داسے بل کسان دی چه د هغې د ستر کولیدلی کواهان نشی کیدے، ځکه چه دا په هغوی کښے د یو (یعنی د عبدالله بن عباسؓ) د پیدا کیدو نه مخکینۍ واقعه ده، او دویم (یعنی انَس بن مالکؓ) په هغه وخت کښے بچے وُو - لیکن چونکه دا دواړه کسان صحابه دی نو په دے وجه دا ظاهره خبره ده چه هغوی به دا د دا سے مشرانو صحابو نه اوریدلی وی چه هغوی به د دے واقعې نه نیغ په نیغه خبر وُو -

ټول روایتونه چه راجمع کړے شی نو د هغې نه چه څه واقعه جوړیږی هغه داده چه دا واقعه د هجرت نه تقریباً پنځه کاله مخکښے شوی ده - د سپوږمئ د میاشتے څوارلسمه شپه وه - سپوږمئ تازه تازه راختلی وه، ناڅاپه هغه دوه ټوټے شوه یوه ټوکړه ئے د مخامخ غرنه یوطرفته او بله ټوکړه ئے بل طرفته بښکاره شوه - دا حالت بس یوساعت قدرله وُو او بیا دواړه ټوکړے یوځائے شوے - نبی صلی اللّٰه علیه وسلّم په هغه وخت کښے په مِنیٰ کښے وُو - هغه خلقوته اُوفرمائیل چه اُوګورئ او ګواه شئ - کافرانو اُووئیل چه محمد (صلی الله علیه وسلّم) په موږ باندې جادو کړے وُو نو په دے وجه زمونږه سترګے دوکه شوے - نور و خلقو اُووئیل چه محمدؐ په موږ باندې جادو کولے شو، په ټولو خلقو ئے نه شو کولے - د بهر خلق به راشی د هغوئ نه به تپوس اُوکړو چه دا واقعه هغوئ لیدلی وه او که نه وه - د بهر نه چه څه خلق را غلل نو هغوئ ګواهی اُوکړه چه هغوی هم دا حالت لیدلے دے -

د څینو روایتونو نه، چه هغه د حضرت انَسؓ نه روایت کړے شوی دی، دا غلط فهمی راپیدا کیږی چه د شقّ القَمَر واقعه یوځل نه، بلکه دوه ځله شوی وه - لیکن اوّل خو بل یو صحابی دا خبره نه ده بیان کړی - دویم دا چه پخپله د حضرت انَسؓ په څینو روایتونو کښے مرّتین (دوه ځله) الفاظ دی او په څینو کښے د فرقتین او شقّتین (دوه ټوټے) الفاظ دی - دریم دا چه قرآن صرف د یو انشقاق ذکر کوی - په دے وجه صحیح خبره دا ده چه دا واقعه صرف یوځل شوی وه - پاتے شوے هغه قیصے کوے چه په عوامو کښے مشهور دے دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم په ګوته سپوږمئ ته اِشاره اُوکړه او هغه دوه ټوټے شوه او د سپوږمئ یوه ټوکړه د نبیؐ په ګریوان کښے ورننوتله او په نستونړی اُوتله، نو دا بالکل بے بُنیاده قیصے دی -

دلته دا تپوس کیدے شی چه دا دے واقع اصلی حقیقت څه وُو؟ آیا دا یوه مُعجزه وه چه د

مکّے کافرانو د رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلّم نه غوښتلی وه او نبیؐ ورته د خپل رسالت په ثبوت کښے ښودلی وه ؟ یا دا یوه حادثه وه چه د اللہ په قدرت په سپوږمئ کښے اوشوه. اورسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلّم د خلقو توجه دے ته صرف دده غرض د پاره وو اوکرزوله چه دا د قیامت د امکان اود قیامت د نزدے والی یوښنبه دپاره د عالمانو لویه وله دا د نبیؐ په معجزو کښے شماروی اود هغوی داخیال دے چه د کافرانو په مطالبه باندے دا معجزه هغوی ته ښودلے شوی وه ـ لیکن د دے رائے بُنیاد صرف په هغو روایتونو باندے دے کوم چه د حضرت انسؓ نه روایت کړے شوی دی ـ د هغه نه سوا بل یو صحابی هم داخبره نه ده بیان کړی ـ په فتح الباری کښے ابن حجر وائی چه " داقیصه په څومره طریقوسره نقل کړے شوی ده په هغے ټولو کښے په یوکښے هم د حضرت انسؓ د حدیث نه سوا داخبره نه ده نظر نه ده تیره شوی چه د شقّ القمر واقعه د مشرکانو په مطالبه باندے شوی وه " (باب انشقاق القمر) ـ یو روایت ابونعیم اصفهانی دلائل النبوّة کښے د حضرت عبداللہ بن عباسؓ نه هم دے ته پشان نقل کړے دے، لیکن د هغے سند ضعیف دے، او د قوی سندونو سره چه څومره روایتونه د حدیثو په کتابونو کښے د ابن عباسؓ نه نقل کړے شوی دی په هغے کښے په یوکښے هم دے ذکر نشته ـ دده نه علاوه حضرت انسؓ اوحضرت عبداللہ بن عباسؓ، دواړه د دے واقعے د زمانے نه دی ـ دده برخلاف چه کوم صحابه په هغه وخت کښے موجود وُو، یعنی حضرت عبداللہ بن مسعودؓ، حضرت حُذیفهؓ، حضرت جُبیر بن مُطعمؓ، حضرت علیؓ، حضرت عبداللہ بن عمرؓ، په هغوی کښے یوهم دا نه دی ویلی چه د هغے مشرکانو کښے د نبیؐ نه د ثبوت د پاره څه ښکاره غوښتلی وه او نبیؐ ورته د شقّ القمر معجزه اوښود له د ټولونه لویه خبره داده چه قرآن مجید پخپله هم داواقعه د محمد د رسالت د پاره د ښے په طور نه بلکه د قیامت د نزدیکت د پاره د ښے په طور پیش کوی ـ البته دا په دے لحاظ سره د نبیؐ د صداقت یوه څرګنده ښکاره ضروره وه چه نبیؐ د قیامت د راتلو کومے خبرے خلقو ته کړے وے، دے واقعے د هغے تصدیق کولو ـ

اعتراض کونکی په دے باندے دوه قسمه اعتراضونه کوی ـ اوّل خو د هغوی په نزد اهم وممکنه نه ده چه سپوږمئ دوه ټوټے شی اوهغه ټوټے دے په سوُرنومیله د یوبل نه لرے لاړشی اوبیا دے یوځائے شی، دویم، هغوی داوائی چه که چرے داسے شوے وے نودا واقعه به په ټوله دُنیا کښے مشهوره وے، په تاریخ کښے به د دے ذکر راغلے وے، اود علم نجوم په کتابونو کښے به د دے بیان شوے وے ـ لیکن په حقیقت کښے دا دواړه اعتراضونه هیڅ وزن نه لری ـ ترڅوچه د دے د امکان خبره ده، نوشاید چه په پخوازمانه کښے دا اعتراض چلیدے هم شو، لیکن په موجوده دور کښے چه د ستورو د جوړښت په حقله انسان ته کوم معلومات حاصل شوی دی د هغے په بُنیاد باندے داخبره بالکل ممکن ده چه یوه کرّه د خپلے اندرونی آتش فشانئ په وجه دوه ټوټے شی اود دیر زور د لاسه د هغے دوه ټوکړے لرے لرے لاړ شی اوبیا د خپل مرکز د مقناطیسی قوت په وجه د یوبل سره یوځائے شی ـ پاتے شو دویم اعتراض نو هغه په دے وجه وزن نه لری چه داواقعه ناسا په وه او بس د یوساعت د پاره وه ـ ضروری نه وه چه په هغه خاص وخت کښے د ټولے دُنیا د خلقو نظر په سپوږمئ پریوتے وی ـ د هغے سره د کړس آواز نه وُو چه د خلقو توجه ورته وګرزیدلے وے ـ د اوّل نه د هغے څه اطلاع نه وه چه خلقو انتظار کولے

يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿٢﴾ وَكَذَّبُوا وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ
وَكُلُّ أَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣﴾ وَلَقَدْ جَاءَهُم مِّنَ الْأَنبَاءِ مَا فِيهِ

خومخ اړوی اووائی چه داخوروان جادو دے۔ دوئ (داهم) دروغ اوکړو اودَ خپل نفس په خواهشاتو پسے لاړل۔ هره معامله به آخرنه آخر یوانجام ته ورسی۔

دِے خلقو ته (دَ پخوانوقومونو) هغه حالات مخے ته راغلی دی په کومو کښے چه دَ سرکشئ نه دَ ځان

اوآسمان ته ځی کتلے۔ دَ زمکے په مخ په هرځائے کښے هغه لیدلے کیدے هم نهٔ شوه، بلکه صرف په عربو کښے اودَ عربو دَ مشرقی اړخ په ملکونو کښے په دغه وخت کښے سپوږمئ راختلی وه۔ دَ تاریخ لیکلو شوق اوفن هم په هغه وخت کښے دومره ترقی نهٔ وه کړی چه که په مشرقی ملکونو کښے کومو خلقو هغه لیدلے وے نوچه هغه ځے لیکلے وے اودَ یوتاریخدان سره دا شهادتونه راجمع شوے وے اوهغه بیادَ تاریخ په یوکتاب کښے لیکلے وے۔ بیاهم دَ مالاپار په تاریخونو کښے دا ذکر راغلے دے چه په هغه شپه دَ هغه ځائے یوراجا داحالت لیدلے ؤو۔ پاتے شودَ علمِ نجوم کتابونه اوجنتریانے، نوپه هغے کښے دَ ذکر راتلل صرف په هغه حالت کښے ضروری ؤوچه کله دَ دے دَ دوجے نه دَ سپوږمئ په رفتار کښے، اودَ دے دَ تلو په لارکښے، او دَ دے دَ راختواو پریوتو په وختونو کښے څه فرق راغلے وے۔ دا کارچونکه اونهٔ شونو په دے وجه دَ پخوانئ زمانے دَ نجوم دَ عالمانو توجه دے طرفته راانهٔ ګرزیدله۔ په هغه زمانه کښے رصدګاهونو دومره ترقی نهٔ وه کړی چه په افلاک کښے دَ هغے کیدونکی واقعے نه خبرشی او هغه په ریکارډ محفوظ اوساتی۔

۲ اصل الفاظ دی سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ۔ دَ دے دِ برمطلبونه کیدے شی۔ یوداچه (معاذالله)، شپه اوورځ دَ جادوګرئ کومه سلسله محمد (صلی الله علیه وسلم) شروع کړی ده، داهم دَ هغه جادو یوه کړۍ ده۔ دویم داچه داپوخ جادو دے، دِ په هُنرسره بنودلے شوے دے۔ دریم داچه لکه څنګه دَ جادو نور اثرات تیرشوی دی دغه شان به دَ دے اَثرهم تیرشی، دَ دے اَثر دَ پیر وخت دَ پاره پاتے کیدونکے نهٔ دے۔

۳ یعنی دوی چه دَ قیامت دَ نهٔ منلوکومه فیصله کړی ده، دَ دے ښے په لیدلوسره هم دوی په هغے ټینګ ولاړ دی۔ قیامت منل چونکه دَ دوئ دَ نفس دَ خواهشاتو نه خلاف ؤو نوپه دے وجه دَ بنکاره ښے لیدلونه روستوهم دوئ دَ هغے منلوته غاړه کینښودله۔

۴ مطلب داد ے چه داسلسله دَ نامعلومه مودے پورے نشی چلیدے چه محمد صلی الله علیه وسلم دِ تاسو حق ته رابلی اوتاسو دِ په خپل باطل باندِ په ضد سره ټینګ یئ، اودَ هغوی حق والے اوستاسو باطل والے دِ هډو ثابت نشی۔ پټول معاملات به آخرنهٔ آخر یوانجام ته ورسی، دغه شان ستاسو اودَ محمد صلی الله علیه وسلم ترمنځه دَ دے ځکړے هم لازماً یوانجام دے چه هغے ته به داضرور ورسی۔ یووخت به خامخا راځی

مُزْدَجَرٌ ﴿۴﴾ حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ﴿۵﴾ فَتَوَلَّ
عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلَىٰ شَيْءٍ نُّكُرٍ ﴿۶﴾ خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ
يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ﴿۷﴾
مُّهْطِعِينَ إِلَى الدَّاعِ ۖ يَقُولُ الْكَافِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴿۸﴾

ساتلو د پاره د عبرت کافی سامان موجود دے اوداسے حکمت چه په انتهائی اعلیٰ درجے سره د نصیحت مقصد پوره کوی ـ خویږونه په دوئ اثر نه کوی ـ نو اے نبیؐ، د دوئ نه مخ واړوه ـ په کومه ورځ چه آواز کونکے یو سخت ناخوښه شیز ته رابلل کوی، خلق به د یرید لو ستړ کو سره د خپلو قبرونو نه داسے رااوزی لکه خواره واره مولخان، د آواز کونکی طرفته به منډې وهی اوکومو کافرانو چه په دُنیا کښے د دے نه انکار کولو هغوئ به په هغه وخت کښے وائی چه دا خو پیره سخته ورځ ده ـ

چه صفا به دا ثابته شی چه هغوی په حقه وُو اوتاسو بالکل په باطل پسے روان وئ ـ دغه شان حق پرست خلق به د خپلے حق پرستئ، او باطل پرست خلق به د خپلے باطل پرستئ انجام هم خامخا یوه ورځ وینی ـ

۵ یعنی دوئ په خپل حال پریږده ـ هرکله چه دوئ په ښه طریقه پوهه کړے شو، او د انسانی تاریخ نه مثالونه هم ورکړے شو اوورته اُویلے شو چه د آخرت نه د انکار کولو انجام څه دے اوکومو قومونو چه د رسولانو خبرو اُونه منله هغوی د څنګه عبرتناک انجام سره مخ شوی دی، او بیاهم دوئ د خپل ضد نه نه واپس کیږی، نو دوئ هم په دغه خپله بے وقوفتیا کښے پریږده ـ دوئ به هغه وخت اُومنی کله چه د مرګ نه روستو د قبرونو نه راُوځی اوپه خپلو ستړکو اُووینی چه واقعی هغه قیامت شروع شو چه د هغے د راتلونه مخکښے به دوئ ته خبردارے ورکړے کیدو او دا مشوره به ورکړے کیده اودا مشوره به ورکړے کیده چه په نیغه لار روان شی ـ

۶ دویم مطلب ناآشنا څیز هم کیدے شی ـ یعنی داسے څیز چه د هغوئ په ګمان کښے هلته نه وُو، چه د هغے هیڅ فکر د هغوئ په ذهن کښے نه وُو، چه د هغے هیڅ اندازه هغوئ نه شوه لګولے چه داسے هم لاچرته کیدے شی ـ

۷ اصل الفاظ دی خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ ، یعنی د هغوی ستړکے به د خشوع (یعنی د یرے) په حالت کښے وی ـ د دے د یر مطلبونه کیدے شی ـ یو دا چه په هغوئ به د یرے حالت راغلے وی ـ دویم دا چه هغوئ به د ذلیله اوشپیمانه وی ځکه چه هغوی کله د قبرونو نه راوځئ نو پته به ورته اُولږی چه دا خو هم هغه دویم ژوند دے چه مونږ به تر انکار کولو، چه مونږ ورله هیڅ تیاری نه ده کړی،

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ
وَّازْدُجِرَ ۝٩ فَدَعَا رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ ۝١٠ فَفَتَحْنَآ
اَبْوَابَ السَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ۝١١ وَّفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا
فَالْتَقَى الْمَآءُ عَلٰٓى اَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ۝١٢ وَحَمَلْنٰهُ عَلٰى ذَاتِ
اَلْوَاحٍ وَّدُسُرٍ ۝١٣ تَجْرِيْ بِاَعْيُنِنَا جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ ۝١٤

د دوئ نه مخکښے د نوحؑ قوم (آخرت اونبوّت) دروغ ګنړلے دے[۵۸]۔ هغوئ زمونږه بنده دروغژن اوګنړواو وے وئیل چه دالیونے دے، او هغه ته ډیرے بد ے ردِ ے اُووئیلے شوے[۵۹]۔ آخر دا چه هغه رب ته آواز اُوکړو" ځه بے وسه شوم، اُوس تهٔ د دوئ نه بدله واخله"۔ پس د هغے مونږه د تیز باران سره د آسمان دروازے پرانستے، زمکه مواُو شلوله اوهرځائے چینے چینے شو[۶۰]، اوداپتولے اُوبهٔ د هغه کار د پوره کولو د پاره رایوځائے شوے کوم چه اندازه کړے شوے ؤو، اونوحؑ مونږه د تختواود میخونو[۶۱] په کشتئ کښے سُورکړو چه زمونږ په نګرانئ کښے به چلیدله ۔ دا وه بدله د هغه سړی د پاره د چا چه بے قدری شوی وه[۶۲]۔

چه مونږ به پکښے اُوس د مُجرم په حیثیت سره خپل خدائے ته حاضریږو۔ د آدم دا چه هغوئ به د قیامت منظر ته په ډیره ډیره کوری حریان دریان به هغے ته کوری بل خوا به نشی کتلے۔

۵۸ د قبرونو نه مُراد هغه قبرونه نهٔ دی چه زمکه اُوکنستے شی او مړے پکښے ښخ کړے شی ۔ بلکه په کوم ځائے کښے چه سړے مړ شوے وی، یا په کوم ځائے کښے چه د سړی خاوره پرته وی، هم د هغه ځائے نه به د آواز کوونکی په یو آواز باندے راپاسی او محشر ته به منډے وهی ۔

۵۹ یعنی دا خبر ئے دروغ ګنړلے دے چه آخرت به راځی او په هغے کښے به د انسان سره د خپلو عملونو حساب کتاب کیږی، هغه نبی ئے دروغژن ګنړلے دے چه خپل قوم به ئے د دے حقیقت نه خبرولو، او د نبی هغه تعلیم ئے دروغ ګنړلے دے چه دا حقیقت به ئے څرګندولو چه د آخرت په سوال جواب کښے د کامیابیدو د پاره څنګه عقیده او څنګه عمل اختیارول پکار دی اود کوم څیزنه ځان ساتل پکار دی۔

وَلَقَدْ تَّرَكْنٰهَآ اٰيَةً فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿١٥﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿١٧﴾

هغه کشتئ مودَ ښځې په طور پریښوده[۱۴] ، نو آیا څوک نصیحت قبلوونکے شته ؟ اوګوره څنګه وُو ځما عذاب او څنګه وِے ځما یَرَوِنے ۔ مونږه دا قرآن دَ نصیحت دَ پاره یوه آسانه ذریعه جوړه کړی ده[۱۵] ، نو آیا شته څوک نصیحت قبلوونکے ؟

[۱۰] یعنی دے خلقو یوازے نبیؑ ته په دروغژن وئیلو اکتفا اُونه کړه ، بلکه اُلټا ئے هغه ته لیونے اُووے ، هغه ته ئے د مکیانے ورکړے ، دَ هغه خلاف ئے بدِ ے رَدِ ے اُووئیلے ، په زُور ظلم سره ئے دا کوشش اُوکړو چه هغه دَ صداقت دَ تبلیغ نه منع کړی او دَ هغه ژوند ئے تنګ کړو ۔

[۱۱] یعنی دَ اللہ په حکم سره زمکه دا سے اُوشلیده او اُوبهٔ تِر روانے شوے لکه چه هغه زمکه نهٔ وه بلکه ټولے چینے چینے وے ۔

[۱۲] دَدے نه مُراد ده هغه کشتئ کومه چه دَ طوفان راتلونه مخکښے حضرت نوحؑ دَ اللہ تعالیٰ دَ حکم مطابق جوړه کړی وه ۔

[۱۳] اصل الفاظ دی جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ ، یعنی " دا هرڅه دَ هغه سړی دَ خاطر دَ بدلے اغستلو دَ پاره اُوشو چه دَ چا کفر شوے وُو " کُفر که دَ انکار په معنیٰ کښے وی نو مطلب به ئے داوی " چه دَ چا دَ خبرې منلونه اِنکار شوے وُو " اوکه هغه دَ نعمت دَ ناشکرئ په معنیٰ کښے واغستے شی نو مطلب به ئے داوی چه " دَ چا موجودګی یو نعمت وُو لیکن دَ هغه ناقدرې اُوکړے شوه " ۔

[۱۴] دا معنیٰ هم کیدے شی چه مونږه دا عذاب دَ عبرت یوه نښه اُوګرزولے ۔ لیکن زمونږ په نزِ نښه ترجمه داده چه هغه کشتئ دَ عبرت نښه اُوګرزولے شوه ۔ هغه په یو دنګ لُوړ غر باندِ دَ سُوونو زرګونو کالو پورے پرَته وه او خلق ئے دَ خدائے دَ غضب نه خبردارَ ول او هغوی ته ئے دا خبره ورِیادَ وله چه په وے زمکه دَ خدائے په نافرمانه خلقو باندِ څنګه عذاب راغلے وُو او مومنانِ دَ هغے نه څنګه بچ کړے شوی وُو ۔ امام بُخاریؒ ابن ابی حاتم ، عبدالرزاق او ابن جریر دَ قتادهؒ نه دا روایتونه نقل کړی دی چه مسلمانانو کله عراق او الجزیره فتح کړل نو په هغه زمانه کښے دا کشتئ په جُودی باندِ (او دَ یو روایت مطابق باقِردی نومے کلی ته نزدے) پُرَته وه او دَ اولنی دَور مسلمانانو لیدلی وه ۔ په موجوده زمانه کښے هم څینو خلقو دَ هوائی جهازنه دَ دے علاقے په یو اُوچت غر باندِ دَ کشتئ غوندِ یو څیز لیدلے دے چه په هغے دَ نوحؑ دَ کشتئ ګمان راځی ، او هم په دے بُنیاد باندِ دَ هغے دَ لټون دَ پاره وخت په وخت پلے لیږلے کیږی ۔ (دَ زیاتے تشریح دَ پاره اُوګوره تفهیم القرآن ، دویم جلد ، الاعراف ، حاشیه ۴۷ ۔ هود ، حاشیه ۴۶ ۔ دریم جلد ، العنکبوت ، حاشیه ۲۵) ۔

[۱۵] څینو خلقو دَ یَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ نه دا غلط مطلب راایستلے دے چه قرآن یو آسان کتاب دے ،

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا
عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنزِعُ النَّاسَ

عاد یانو درو غژن اُوکنړو ، نو کوره چه څنګه وُو ځما عذاب او څنګه وو ے ځما
یَرَونے - موږ په هغوئ باندِ یوه سخته طوفانی هوا په داسے وُرځ[16]
ور اُولیږله چه د هغ منحوستیا مُسلسل وه - هغ هوا به خلق داسے غورزول

په دے باندِ د پوهید و د پاره د علم ضرورت نشته ، اَن تر دے پورے چه که څوک د عربئ ژبے نه هم خبر نه وی
خو د دے تفسیر کولے شی او د دے د آیتونو نه چه کوم حکمونه را ایستل غواړی هغه تر د حدیث او د فقهے
د پوهے نه بغیر را ایستلے شی - حالانکه چه په کوم عبارت کښے د نننه دا الفاظ را علی دی هغ ته چه
سړے اُوګوری نو معلومیږی چه د دے آیت مقصد خلق په دے خبرو پوهول دی چه د نصیحت یوه ذریعه
خو هغه عبرتناک عذابونه دی کوم چه په سرکشو قومونو باندِ نازل شو ، او دویمه ذریعه دا قرآن
دے چه په دلیلونو او نصیحتونو سره تاسو ته نیغه لار بنائی - د هغه ذریعے په مقابله کښے د نصیحت
دا ذریعه ډیره آسانه ده - نو تاسو ولے د دے نه فائیده نه اخلئ او خامخا عذاب لیدل غواړئ ؟ دا خو
سراسر د الله تعالیٰ فضل دے چه د خپل نبی په ذریعه ئے دا کتاب را اُولیږلو او تاسو له خبردار ے درکوی چه
په کومه لار باندِ تاسو روان یئ هغه د تباهئ لارده او ستاسو خیر په کومه لار کښے دے - د نصیحت
دا طریقه خو د دے د پاره خپله کړے شوی ده چه د تباهئ کندے ته د غورزیدو نه مخکښے تاسو
د هغے نه بچ کړے شئ - اُومې په د هغه چانه زیات ناپوهه بل څوک وی چه د نصیحت خبره نه
منی او چه کندے ته پریوزی نو بیا اُوعنی چه واقعی دا کنده وه -

[16] یعنی یوه داسے وُرځ چه د هغے منحوستیا د یوځور وُرځو پورے مسلسله جاری وه - د سورۂ
حٰمٓ السجده په آیت ۱۶ کښے فِیْ اَیَّامٍ نَّحِسَاتٍ الفاظ استعمال شوی دی ، او د سورۃ الحاقّه په آیت
۷ کښے فرمائیلے شوی دی چه د هغه دا طوفان مُسلسل اوۀ شپے او اته ورځے جاری وُو - دا خبره
مشهوره ده چه دا عذاب د شوربو په ورځ شروع شوے وُو - دا دے نه په خلقو کښے دا خیال راپیدا شو چه د
شروع ورځ منحوسه ده ، په دے ورځ څه کار شروع کول نه دی پکار - حُینی پیرکمزوری احادیث هم په دے
سلسله کښے نقل کړے شوی دی چه د هغے دَوجے نه د دے ورځے منحوستیا د خلقو په ذهن کښے ناسته ده - مثلاً
د ابن مَرْدُوَیه او د خطیب بغدادی دا روایت چه آخر اربعاء فی الشهر یوم نحس مستمر (د میاشتے آخری د
شورو ورځ منحوسه ده د دے منحوستیا مسلسل جاری وی) - ابن جَوزی دے ته موضوع (یعنی د ځانه جوړه
کړی خبره) وائی - ابن رجب وئیلی دی چه دا حدیث صحیح نه دے - حافظ سخاوی وائی چه په څومره طریقو
سره دا حدیث نقل کړے شوے دے هغه ټولے طریقے لَغْوه یعنی کمزورے اوناقابلِ قبول دی - د غه شان
د طَبَرانی دا روایت هم محدثینو کمزورے گرزولے دے چه " یوم الاربعاء یوم نحس مستمر (د شُورو
وُرځ د مسلسلے منحوستیا ورځ ده) - په حُینو نورو روایتونو کښے دا خبری هم شته چه د شورو په ورځ
سفر ، لین دین ، نوکونه پریکول ، د مریض تپوس له تلل ښه نه دی ، او د جُذام او د برص مرض
په دے ورځ شروع کیږی ، خو دا ټول روایتونه کمزوری دی او په دے باندِ عقیده کول

كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ ﴿۲۰﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿۲۱﴾
وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۲۲﴾ كَذَّبَتْ
ثَمُوْدُ بِالنُّذُرِ ﴿۲۳﴾ فَقَالُوْٓا اَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهٗٓ
اِنَّآ اِذًا لَّفِيْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿۲۴﴾ ءَاُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنْۢ بَيْنِنَا

لکه چه هغوی ډایستلو شو و کجور و تنے وی ۔ نو اوګورئ چه څنګه وُو ځما عذاب او څنګه وے ځما خبردارياني ۔ مونږه دا قرآن د نصيحت د پاره يوه آسانه ذريعه جوړه کړی ده ، نو آيا شته څوک نصيحت قبلونکے ؟ ع

ثمود يانو خبردارياني دروغ اُوګڼلے اووے وئيل " آيا اُوس مونږه د خپل قوم په اِکّی يوسړی پسے روان شو ؟ که د هغه مشری موقبول کړه نو د ده به دا مطلب وی چه مونږ بے لارے شوی يو او زمونږه عقل خراب شوے دے ۔ آيا په مونږ کښے بس هم دا يوسړے وُوچه په هغه باندِ د خدائے ذکر نازل کړے شو ؟

بنه خبره نهٔ ده ۔ تحقيق کونکے مُناوی وائی : توقی الارنبا ء علی جهة الطيرة وظن اعتقاد المنجمين حرام شديد التحريم ، اذ الايام کلها لله تعالیٰ لا تنفع ولا تضر بذاتها ، " د بد فالئ په خيال سره د شُورو ورځ منحوسه ګڼل او په دے باره کښے د نجومیانو پشان عقيده لرل حرام او سخت حرام دی ، ځکه چه ټولے ورځے د الله تعالیٰ دی ، ورځ نهٔ چاته فائيده رَسَولے شی او نهٔ نقصان " ۔ علامه اُلوسی وائی " ټولے ورځے يو شان دی د شُورو د ورځے خصوصيّت نشته ۔ په شپه ورځ کښے يو ساعت دا سے نشته چه هغه د چا د پاره بنه او د چا د پاره بد نهٔ وی ۔ هر وخت الله تعالیٰ د چا د پاره بنه او د چا د پاره نابنه حالات پيدا کوی "

يعنی د حضرت صالح د پيروئ کولو نه د هغوئ د انکار کولو درے وجے وے ۔ يوه وجه داوه چه هغه بشر دے ، د انسانيت نه بالا تر نهٔ دے چه مونږه د هغهٔ لوئ اُومنو ۔ دويمه داچه هغه زمونږ د خپل قوم يوسړے دے ۔ هغه زمونږ نه په هيڅ وجه غوره نهٔ دے ۔ دريمه داچه هغه يوازے دے ، يو عام سړے دے ، لوئ سردار نهٔ دے چه غټه پله ورسره وی ، نوکران او لښکرے ورسره وی چه مونږ ئے د هغے په وجه لوئ اُومنو ۔ هغوئ دا غوښتله چه نبی يو د انسان نه پورته څه بله هستی وی يا که انسان هم وی نو هغه د زمونږ په خپل قوم او په خپل ملک کښے نهٔ وئ پيدا شوے ، بلکه چرته د بره نه د راکوزشی يا د بحر نه را اُولير لے شی ، او که دا هم نهٔ وی نو کم از کم هغه د يوسردار وی چه د هغه د اعلیٰ شان وشوکت په وجه دا اُومنلے شی چه د رهنمائيئ د پاره الله تعالیٰ دے غوره کړے دے ۔ دا هغه خيالات وُوچه د مکے کافران پکښے

بَلْ هُوَ كَذَّابٌ اَشِرٌ ﴿۲۵﴾ سَيَعْلَمُوْنَ غَدًا مَّنِ الْكَذَّابُ الْاَشِرُ ﴿۲۶﴾
اِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿۲۷﴾
وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌۢ بَيْنَهُمْ ۚ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿۲۸﴾
فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ ﴿۲۹﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِىْ

نهٔ، بلکه دا غټ دروغژن اوغلط انسان دے[۱۸]" (مونږه خپل پیغمبر ته اووئیل) "صبا له به دوئ ته معلومه شی چه څوک غټ دروغژن اوغلط انسان دے۔ مونږه اُوښه ددوئ د پاره د فتنې په طور درلیږو۔ اُوس لږ په صبر سره انتظار کوه چه ددوئ څه انجام کیږی۔ دوئ ته خبر ورکړه چه اُوبهٔ به ددوئ اودّ اُوښے په منځ کښے تقسیمیږی اوهر یوبه د خپلے وارے په ورځ اُوبولهٔ[۱۹] راځی" آخر دا چه هغوی خپل ملکری ته آواز اوکړو اوهغه ددے کار ذمه واغسته اواُوښه ئے اُووژله[۲۰]۔ بیا اُوګورچه څنګه وُو ځما عذاب

اخته وُو۔ د محمد صلی الله علیه وسلم پیغمبری هم هغوئ په دے بُنیاد نهٔ منله چه هغه بشر دے، دعامو خلقو پشان په بازارونو کښے ګرزی راګرزی، پرون زمونږ په مخکښے پیدا شوا وتن دا دعویٰ کوی چه څه خدائے پیغمبر کړے یَم۔

۱۸ په اصل کښے لفظ اَشِر استعمال شوے دے چه معنیٰ ئے ده داسے خود غرضه اوغلط اِنسان چه د هغه په دماغ کښے د خپلے لوئیٔ نه سِوا بل څه نهٔ وی اود هغے په وجه غټے غټے لاپے کوی۔

۱۹ دا د دے خبرې تشریح ده چه "مونږه اُوښه د دوئ د پاره د فتنې په طور درلیږو" هغه فتنه داوه چه یودم یوه اُوښه د هغوئ منځ ته وَدُرَولے شوه اوورته اُووئیلے شو چه یوه ورځ به دا یوازے اُوبهٔ څکی او بله ورځ به تاسو ټول خلق د خپل ځان د پاره اود څارو وُو د پاره اُوبهٔ وُړے شئ۔ د اُوښے د وارے په ورځ دِ په تاسو کښے څوک نهٔ د خپل ځان د پاره او نهٔ د خپلو څارو وُو د پاره یوے چینے یا یو کوهی له ورځی۔ دا خبره د یو داسے سړی د طرفه شوی وه چه د هغه په حقله به هغوئ پخپله وئیل چه د ے نهٔ څه لښکرے لری او نهٔ ئے چرته یوه لویه ډله په شا باند ولاړه ده۔

۲۰ د دے الفاظو نه پخپله داسے معلومیږی چه هغه اُوښه د یوے مودے پورے د هغوی په کلو کښے په آزادئ سره ګرزیدله۔ د هغے د وارے په ورځ به څوک اُوبو له نهٔ شو تلے۔ آخر دا چه هغوئ د خپل قوم یوخود اختیاره سردار ته آواز اوکړو چه تهٔ پیر بهادر او تور ه باز سړے ئے۔ په هره خبره مرګ ژوبلے ته تیار ئے،

وَنُذُرِ ﴿۳۰﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَاحِدَةً فَكَانُوا كَهَشِيمِ
الْمُحْتَظِرِ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿۳۲﴾
كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ بِالنُّذُرِ ﴿۳۳﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّا
آلَ لُوطٍ نَّجَّيْنَاهُم بِسَحَرٍ ﴿۳۴﴾ نِّعْمَةً مِّنْ عِندِنَا كَذَٰلِكَ نَجْزِي
مَن شَكَرَ ﴿۳۵﴾ وَلَقَدْ أَنذَرَهُم بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿۳۶﴾

اوشنکه وے ځما خبردار یانے ۔ مونږه په هغوئ بس اِکّی یوکړز راوستواودَ هغوئ نه
دَ شپول لکوُنکی دَ چقید لی شپول پشان بُوس جوړشول[۲۱] ۔ مونږه دا قرآن دَ نصیحت
دَپاره یوه آسانه ذریعه جوړه کړی ده ، اُوس شته څوک نصیحت قبلوُنکے ؟
دَ لوطؑ قوم خبردار یانے دروغ اُوګڼلے او مونږه په هغوئ باندِ
کانړی ورَوُنکی هوا ور اُولیږله ۔ صرف دَ لوطؑ دَ کور خلق دَ هغے نه
محفوظ پاتے شول ۔ مونږه هغوئ په خپل فضل سره دَ شپے په آخری
حصّه کښے بَهر اُووېستل او بچ موکړل ۔ دا بدله مونږه هرهغه سړی
له ورکوُو چه هغه شکرګزار وی ۔ لوطؑ دَ خپل قوم خلق زمونږ دَ نیوکے
نه خبردار کړل خوهغوی دَ یَرَوُنے ټولے خبری شکمنے اُوګڼلے او په خندائے واړولے ۔

لږشان همت اُوکړه اودَ دے اُوښے قیصه هم ختمه کړه ۔ دَ خلقو په واړه هغه وے کار ته سر
اُوټړو او اُوښه ئے اُووژله ۔ دَ دے صفا مطلب دا دے چه هغوئ دَ دے اُوښے نه سخت
په رُعب کښے وُو ، دَ هغوئ سره دا فکر وُوچه دَ دے په شا یوغټ طاقت دے ، په هغے باندِ
دَ حملے کولو نه هغوی یَرِیدل ، او په دے وجه دا اُوښه وژل دَ هغوئ دَپاره یوغټ کار وُو ،
اګرچه دَ هغے دَ پیش کوُنکی پیغمبر سره هیڅ فوج نهٔ وُو چه ګنی هغوئ تَرِیَرِیدل ۔ (دَ
زیاتے تشریح دَپاره اُوګورَه تفہیم القرآن جلد دویم ، الاعراف ، حاشیه ۵۸ ۔
الشعراء ، حاشیه ۱۰۴ ۔ ۱۰۵) ۔

[۲۱] کوم خلق چه ځاروی ساتی هغوئ دَ خپلو ځاروُو دَ حفاظت دَپاره دَ جاخو
او دَ لرګونه یو شپول جوړوی ۔ دَ هغے شپول جاخے رُو رُو وچیږی اودُوړیږی
او دَ ځاروُو دَ تلو راتلو سره دَ خپو لاندِ چقیږی او ریز مریز کیږی ۔
دَ ثمود یانو دَ ریزه شوو مړومثال دَ دے شپول دَ چقیدلو په کوم سره
ورکړے شوے دے ۔

وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَيْفِهٖ فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ فَذُوْقُوْا
عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾
فَذُوْقُوْا عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ
فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿٤١﴾
كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا فَاَخَذْنٰهُمْ اَخْذَ عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾

بیاهغوی کوشش اُوکړو چه هغه دَ خپلو میلمنو دَ حفاظت نه منع کړی ۔ آخر دا چه مونږه دَ هغوئ ستر کے ړندے کړے چه اُوځکئ ځما دَ عذاب اوځما دَ یَرو نے مزه[۲۲] ۔ سحر وختی هغوئ یو مستقل عذاب راګیر کړل ۔ اُوځکئ مزه اُوس ځما دَ عذاب اوځما دَ یَرو نے ۔ مونږه دا قرآن دَ نصیحت دَ پاره یوه آسانه ذریعه جوړه کړی ده ، نوشته څوک نصیحت قبلوُنکے ؟ ع
او آل فرعون ته هم خبردار یانے راغلے وے خو هغوی زمونږه تو لے بنے دروغ اُوګنړ لے ۔ آخر دا چه مونږه هغوی دا سے را اُونیول لکه څنګه چه یو زبردست قدرت والا نیول کوی ۔

[۲۱] دَ دے قیصے تفصیلات دَ سورۃ هود په آیتونو ۷۷ تا ۸۳ کښے اودَ سورۃ حجر په آیتونو ۶۱ تا ۷۴ کښے تیر شوی دی ۔ خلاصه دَ هغے داده چه کله الله تعالیٰ په هغه قوم باندے دَ عذاب لیږلو فیصله اُوکړه نو یو څوفرښتے ځے دَ بنکلی هلکانو په شکل کښے دَ حضرت لوط ؑ کره دَ میلمنو په طور اُولیږلے ۔ دَ هغه دَ قوم خلقو چه کله اُولیدل چه دَ لوط ؑ کره بنائسته میلمانه را غلی دی نو هغوی دَ هغه په کور ورغلل اودَ هغه نه ځے مطالبه اُوکړه چه دا بنکلی میلمانه دَ بدکارئ دَ پاره هغوی ته حواله کړی ۔ حضرت لوط ؑ هغوی ته پیرمنت اُوکړو چه دَ دے ذلیله حرکت نه منع شی ۔ خو هغوئ اُونهٔ منله اوکورته ځے ورننوتل اوپه زور ئے دَ میلمنو دَ را ایستلو کوشش اُوکړو ۔ په دے آخری کار روائی باندے یودم دَ هغوئ ستر کے ړندے شوے ۔ بیا فرښتو حضرت لوط ؑ ته اُووئیل چه ته ؑ اوستا دَ کور خلق دِ دَ صبا کیدونه مخکښے مخکښے دَ دے کلی نه اُوځی ، او دَ هغوئ دَ وتلو سره په دے قوم باندے یو خطرناک عذاب نازل شو ۔ په بائیبل کښے هم دا واقعه په دے طریقه بیان کړے شوی ده ۔ دَ هغے الفاظ دا دی ، " پس دَ هغے هغوی په هغه سړی یعنی په لوط ؑ باندے ورغلل اوورنږدے شو دَ پاره دَ دے چه دروازه ماته کړی ۔ لیکن هغه سړو (یعنی فرښتو) خپل لاس را اُوږده کړل او لوط ؑ ئے دَ خپل ځان خواته کور ته را بنکودو او دروازه ئے بنده کړه ۔ اوکوم خلق چه دَ کور دروازے ته را غلی وُو

أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُولَٰئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾
أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَ
يُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ
أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ
يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾

وقف لازم

آیا ستاسو کافران ډھغه خلقونه څه بهتر دی[۲۳ه] ؟ یا په آسمانی کتابونو کښے ستاسو ډپاره څه معافی لیکلے شوی ده ؟ یا داخلق دا وائی چه مونږ ډیره مضبوطه ډله یو، مونږ به خپل بچاؤ اُوکړو ؟ ډیرزر به دا ډله شکست اُوخوری او دا ټول به په شا اُوتښتی[۲۴ه] ۔ بلکه ډدوی سره ډ فیصلے ډپاره ډ اصلی وعدے وخت خو قیامت دے اوهغه لوئ آفت او ډیر تریخ ساعت دے ۔ دا مجرمان خلق په حقیقت کښے په غلط فهمئ کښے پراته دی او ډ دوئ عقل خراب شوے دے ۔ په کومه ورځ چه دوئ په وُور کښے پرمخے راښکود لے کیږی په هغه ورځ به دوئ ته اُووئیلے شی چه اُوس اُوځکئ ډ دوزخ ډ وُور مزه ۔

واړه لوئ ټول ، هغه ئے ژاندہ کړل ، نوهغوئ ډ دروازے په لټون لټون ستړی شو" ۔ (پیدائش ، ۱۹ : ۹ - ۱۱) ۔

۲۳ه خبره قریشوته ده ۔ مطلب دادے چه په تاسوکښے آخرځه خوښ ده ، تاسوته کوم لعلونه ځانګی ، چه ډ کوم کفر اوانکار اوضد په وجه نورو قومونوله سزا ورکړے شوی ده هغه که تاسوکوئ نوتاسوله ډ پار سزا نهٔ درکړے کیږی ؟ ۔

۲۴ه دا خبرکنده پیشګوئی ده چه ډ هجرت نه پنځه کاله مخکښے شوی وه چه ډ قریشو ډله به ډیره زر ډ مسلمانانو ډ لاسه شکست خوری ۔ په هغه وخت کښے ډ هیڅوا داخیال نهٔ راتلو چه دومره زر به دا انقلاب څنګه راشی ۔ ډ مسلمانانو ډ بے وَسئ دا حال وُو چه ډ هغوئ یوے ډلے ملک پریښودے وُو او په حبشه کښے ئے پناه اغستلی وه ، او باقی پاتے مومنان په شعب ابی طالب کښے کیر وُو چه ډ قریشو ډ بائیکاټ ډ لاسه ډلوږے نه مړه کیدل ۔ په دے حالت کښے ډ چا په خیال کښے داخبره راتلله چه په

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ
بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٥١﴾
وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾

مونږه هرشیز د یو تقدیر (یعنی د یوے خاصے اندازے) سره پیدا کړے دے[۲۵]، اوزمونږه حکم بس یوحکم وی اود سترګے په رپ کښے هغه کیږی[۲۶]۔ ستاسو غوندې په سوونو خلق مونږه هلاک کړی دی[۲۷]، آیا شته څوک نصیحت قبلوونکے؟ څه چه دوئ کړی دی هغه ټول په کتابونو کښے درج دی اوهره وړه لویه خبره لیکلی شوی پرته ده[۲۸]۔

اوّه کاله کښے د ننه نقشه بدلیدونکی ده ۔ د حضرت عبداللہ بن عباس د شاګرد عکرمه روایت دے چه حضرت عمر رضی اللہ عنه فرمائ، کله چه د سورۃ قمر دا آیت نازل شو نو څه حیران وُوم چه آخر داکومه ډله ده چه شکست به خوری؟ خوکله چه په جنګ بدر کښے کافرانو شکست اُوخوړو اَو اُو تبنتیدل نو په هغه وخت کښے ما اُولیدو چه رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم زغره اَغوستلی وه او وړاندې روان وُو او دا ئے وئیل چه سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ، پس د هغې څه پوهه شوم چه دا هغه شکست وُو د کوم په حقله چه خبر شوے وُو (ابن جریر، ابن ابی حاتم)۔

۲۵ یعنی د دُنیا یوشیزهم په رَندونهٔ دے پیدا کړے شوے، بلکه د هرشیز یوتقدیر دے چه د هغې مطابق هغه په یو مقرر وخت باندې جوړیږی، یو خاص شکل اختیارَوی، د یو خاص حده پورے غټیږی، د یوے خاصے مودے پورے باقی پاتے کیږی، او په یو خاص وخت باندې ختمیږی۔ د دے قاعدے مطابق پخپله د دے دُنیا هم یو تقدیر دے (یعنی یوه خاصه اندازه ده) چه د هغې مطابق به دا د یو خاص وخته پورے چلیږی او په یوخاص وخت به ختمیږی۔ کوم وخت چه د دے د ختمیدو د پاره مقرر کړے شوے دے نهٔ به د هغې نه یوساعت مخکښے ختمیږی او نهٔ به تر یو ساعت روسته پاتے کیږی۔ نهٔ دا ازلی او ابدی ده چه همیشه به وی او نهٔ دا د بچو لوبے دی چه کله تاسو اُوغواړئ نو په هغه وخت به ختمیږی۔

۲۶ یعنی د قیامت راوستلو د پاره به مونږه څه لویه تیاری نهٔ کوُو او نهٔ به پرِ څه ډیر وخت لږی۔ زمونږ د طرفنه بس یو حکم کولو ته خبره پاتے ده ۔ چه حکم اُوشی نو د سترګے په رپ کښے به قیامت راغلے وی۔

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَّنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ
مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾ ع

پرهیزګاران به یقیناً په باغونواو نهرونوکښے وی، په ریښتینی عزّتمند
ځائے کښے، د لویوقدرتونو د بادشاه خواته ـ ع

۲۷ یعنی که ستاسو دا خیال وی چه دا د یوحکیم اوعادل خدائ خدائ نهٔ ده بلکه د رندو بادشاهی ده چه سړے پکښے څه غواړی هغه دِ کوی، څوک د تپوس نشته، نو ستاسو د سترګو غړیدو د پاره اِنسانی تاریخ موجود دے چه په هغے کښے د دے خیال قومونه پر لیسے بنودلے کیږی چه تباه شوی دی۔

۲۸ یعنی دا خلق دِ په دِے دوکه کښے نهٔ پریږدی چه د هغوئ عملونه کِینی چرته غیب شوی دی ـ نهٔ، د هر سړی، د هرے ډلے او د هر قوم پوره پوره ریکارډ محفوظ دے او په خپل وخت به هغه مخے ته راځی ـ

تفهم القرآن

الرَّحْمٰن

٥٥

الرَّحمٰن

نوم | اولنے لفظ دَدے نوم دے - دَدے مطلب دادے چه دا هغه سورة دے چه دَ لفظ رحمٰن نه شروع شوے دے - خو بیا هم دَ دے نوم دَسورة دَمضمون سره ژور تعلق دے، ځکه چه په دے کښے دَ اوّل نه دَ آخره پورے دَ الله تعالیٰ دَ رحمت دَصفت ذکر شوے دے -

دَ نازلیدو زمانه | مفسّرین دے سورة ته عام طور مکّی سورة وائی - اگرچه په ځینو روایتونو کښے دَ حضرت عبد الله بن عباس او دَ عِکرِمه او قَتَاده نه دا قول نقل کړے شوے دے چه دا سورة مدنی دے، لیکن اوّل خو دَدے بزرګانو ځینی نور روایتونه دَدے خلاف هم نقل کړے شوی دی، دو یمه داچه دَدے مضمون دَ مدنی سورتونو په نسبت دَ مکّی سورتونو سره زیات مشابه دے، بلکه داسے معلومیږی لکه چه دَ مکّے په اولنی دَور کښے نازل شوے وی - اودَدے نه علاوه نور پیر داسے معتبر روایتونه ملاویږی چه دَ هغے نه دَدے خبری ثبوت راڅرګندیږی چه دا په مکّه کښے دَ هجرت نه یوڅو کاله مخکښے نازل شوے وُو -

په مُسنَدِ احمد کښے دَ حضرت اسماء بنت ابوبکر رضی الله عنهما روایت دے چه "ما رسول الله صلی الله علیه وسلّم اُولیدو چه په حرم کښے مونږ کوی او مخ ئے دَ خانه کعبے هغه کوټ ته دے په کوم کښے چه حجرِ اسود لږ پیدا کوی - دا دَ هغه زمانے خبره ده چه لا دَ فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ (چه دَکوم ځینِ تانه حکم کیږی هغه جَهْراً په ژوره ژوره اُوواید) فرمان نه وُو نازل شوے - مشرکانو په دے مانځه کښے دَ نبیؐ دَ خلے نه دَ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ الفاظ اوریدل"- دَدے نه معلومه شوه چه داسورة دَ سورةُ الحِجر نه مخکښے نازل شوے وُو -

البَزّار، ابن جریر، ابن المُنذِر، دارقُطنی (فی الافراد)، ابن مَردُویه، او الخطیب (فی التاریخ)، دَ حضرت عبد الله بن عُمر نه دا روایت نقل کړے دے چه یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلّم سورة رحمٰن پخپله تلاوت کړو، یا دَ هغه په مخکښے بل چا تلاوت کړو - بیا هغه خلقو ته اُوفرمائیل چه "څه وجه ده چه څه ستاسو دَطرفه هغسے ښه جواب نه اَورم لکه څنګه چه پیریانو خپل رب له ورکړے وُو"؟ خلقو عرض اُوکړو چه هغه څه جواب وُو؟ نبیؐ اوفرمائیل چه "کله ما دَ الله تعالیٰ فرمان فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ لوستلو نو پیریانو به دَدے په جواب کښے وئیل چه لَا بِشَیْءٍ مِّنْ نِعَمِکَ رَبَّنَا نُکَذِّبُ، "مونږه دَ خپل رب یو نعمت هم دروغ نه ګڼو"-

هم دَدے پشان مضمون تِرمِذی ، حاکم اوحافظ ابوبکر بزّار دَ حضرت جابر بن عبداللہ نه نقل کړے دے ۔ دَ هغه په روایت کښے دا الفاظ دی چه کله خلقو سورة رحمٰن واوریدو او خاموش پاتے شونو نبیؐ اوفرمائیل لقد قرأتها علی الجن لیلة الجن فکانوا احسن مردودا منکم ، کنت کلما اتیت علیٰ قوله فبای آلاء ربکما تکذبٰن قالوا لا بشیء من نعمك ربنا نکذب فلك الحمد ۔ یعنی " ما دا سورة پیریانوته په هغه شپه اَورَولے وُو په کومه شپه چه هغوئ دَ قرآن دَ اوریدو دَ پاره راجمع شوی وُو ، هغوی به دَدے جواب ستاسو نه ښه ورکوُو ۔ کله چه به څه دَ اللہ تعالیٰ دے فرمان ته اُورسیدم چه اے پیریانو او انسانانو تاسو به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ ، نو هغوئ به دَدے په جواب کښے وئیل چه اے زمونږ پروردګاره ، مونږ ستایو نعمت دروغ نه ګڼو ، ثنا خاص ستا دَپاره ده "۔

دَدے روایت نه معلومه شوه چه په سورة احقاف (آیتونو ۲۹ ۔ ۳۲) کښے دَ رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم دَ خُلے مُبارکے نه پیریانو کوم قرآن اَوریدلے وُو هغه سورة رحمٰن وُو چه نبیؐ په مانځه کښے لوستلو ۔ دا دَ نبوت دَ لسم کال واقعه ده کله چه هغه دَ طائف دَ سفر نه واپس راستلو او په نخله کښے ځه موده ایسار شوے وُو ۔ اګرچه په ځینو نورو روایتونو کښے دا بیان شوے دے چه په هغه موقع باندِ رسول اللہ علیه وسلّم ته دا معلومه نه وه چه پیریان ګِنی دَ هغه دَ خلے نه قرآن آوری بلکه روستو اللہ تعالیٰ هغه ته داخبر ورکړو چه پیریانو ستا تلاوت اَوریدو ، لیکن داخبرُ دَ قیاس نه لرے نه ده چه لکه څنګه اللہ تعالیٰ نبیؐ ته دَ پیریانو دَ قرآن اَوریدو خبر ورکړے وُو دغه شان به اللہ تعالیٰ نبیؐ ته داخبر هم ورکړے وی چه دَ سورة رحمٰن دَ اوریدو په وخت کښے پیریانو دَ هغے څه جواب ورکولو ۔

دَدے روایتونو نه صرف دومره قدر له معلومیږی چه سورة رحمٰن دَ سورة جِنّ او دَ سورة اَحقاف نه مخکښے نازل شوے وُو ۔ دَدے نه روستو یوبل روایت زمونږ مخے ته راځی چه دَ هغے نه دا پته لږی چه دا دَ مکّے په اولنی دَور کښے نازل شوے دے ۔ ابن اسحاقؒ دَ حضرت عُروه بن زُبَیر نه دا واقعه نقل کوی چه یوه ورځ صحابه کرامو په خپلو کښے اُوویئل چه قریشو هیڅکله په اُوچت آواز دَ چا نه قرآن نه دے اَوریدلے ، په مونږ کښے څوک دے چه یوځل دا پاک کلام هغوئ ته واورَوی ؟ حضرت عبداللہ بن مسعود اُوویئل چه ځه دا کار کوم ۔ صحابه کرامو اُوویئل زمونږ سره یَره ده چه هغوی به په تا باندِ زیاتے اُوکړی ۔ زمونږ په خیال کښے دا سے سړی له دا کار په کار دے چه دَ هغه خاندان زبردست وی ، چه که چرے قریش په هغه حمله اُوکړی نو چه دَ هغه دَ خاندان خلق دَ هغه مرستے له راپاسی ۔ حضرت عبداللہ اُوفرمائیل ماله اجازت راکړئ چه دا کار اُوکړم ، ځما محافظ اللہ دے ۔ بیا هغه په ړنډا ورځ حرم ته لاړو ، هلته دَ قریشو دَ سردارانو مجلسونه لږ پیدلی وُو ۔ حضرت عبداللہؓ چه مقامِ ابراهیم ته اُورسیدو نو په زوره ئے دَ سورة رحمٰن تلاوت شروع کړو ۔ دَ قریشو خلقو خو اوّل دا سوچ کولو چه عبداللہ ځه وائی ، بیا چه کله هغوی ته دا پته اُولږیده له چه دا هغه کلام دے کوم چه محمد صلی اللہ علیه وسلم دَ خدائے

د کلام په حیثیت سره پیش کوی نو هغوئ په هغوئ باندې حمله اوکړه او په مخ ئے سپیڑے ورکړے ۔ لیکن عبد اللہ هیڅ پروا اونه کړه ۔ هغوئ به وهو او هغه به تلاوت کوو ۔ ترڅو چه د هغه وس کیدو ترهغے ئے هغوئ ته قرآن اورولو ۔ آخر دا چه کله هغه خپلو منکرولو واپس لاړو او منکرو ئے پرسیدلے مخ اوليدو نو وے وئیل چه زمونږ سره د دے خبرې یره وه ۔ هغه ورته په جواب کښے او وئیل دا د خدائے دشمنان نن ماته په پرسپک بنکاری، که تاسو وایئ نو چه صباله بیا هغوئ ته قرآن واورُوم ۔ ټولو اوویئل ، بس دومره کافی ده ۔ څه چه هغوئ اور یدل نه غوښتل هغه تا هغوی ته واورول (سیرة ابن هشام ، اوّل جلد ، ص ۳۳۶) ۔

موضوع او مضمون د قرآن مجید صرف دا یو سورة دے چه په دے کښے انسانانو ته او ورسره د زمکے نور اختیار مند مخلوق یعنی پیریانو ته هم یوځ په یوځه خطاب شوے دے او د دواړو فکر د الله د قدرت کمالاتو ته او د هغه بے حسابه احساناتو ته راګرزولے شوے دے ، او دواړو ته وئیلے شوی دی چه تاسو د الله په مقابله کښے عاجزه او بے وسه یئ ، الله به ستاسو نه ستاسو د عملونو تپوس کوی ، د الله تعالیٰ د حکمونو نه منلو انجام به خراب وی او د حکمونو منلو انجام به ښه وی ۔ اګرچه په قرآن مجید کښے په پیرو ځایونو کښے داسے څرګندې خبرې موجودې دی چه د هغې نه معلومیږی چه د انسانانو پشان پیریان هم یو اختیار مند او جواب ورکوونکے مخلوق دے ، هغوئ ته هم د کفر او د ایمان ، د منلو او د نه منلو آزادی ورکړے شوی ده ، په هغوئ کښے هم د انسانانو پشان کافران او مومنان اوسرکشه او منونکی خلق موجود دی ، او په هغوئ کښے هم داسے ډلے شته چه هغوئ په پیغمبرانو اوپه آسمانی کتابونو ایمان راوړے دے ، لیکن دا سورة قطعی طور د دے خبرې څرګندونه کوی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د قرآن مجید دعوت د پیریانو او د انسانانو دواړو د پاره دے او د نبیؐ پیغمبرۍ یوازے د انسانانو د حده پورے محدود نه ده ۔

د سورة په شروع کښے خو خطاب انسانانو ته دے ، ځکه چه د زمکے خلافت هم دوئ ته ورکړے شوے دے ، د خدائے رسول هم په دوئ کښے راغلے دے ، او د خدائے کتابونه هم د دوئ په ژبو کښے نازل کړے شوی دی ، لیکن بیا د دیارلسم آیت نه اخوا انسانانو او پیریانو دواړو ته یوشان خطاب دے او یو دعوت دواړو ته پیش کړے شوے دے ۔

د سورة مضمونو په په یوخاص ترتیب سره په وړو وړو فقرو کښے نازل کړے شوی دی :

د آیت ۱ نه د ۴ پورے داخبره شوی ده چه د دے قرآن تعلیم د الله تعالیٰ د طرفنه دے اوډا خاص د هغه د رحمت تقاضا ده چه هغهٔ د دے تعلیم په ذریعه انسانانو ته نیغه لار اوښائ ، ځکه چه خاص هم هغه انسان د یو عقلمند مخلوق په حیثیت سره پیدا کړے دے ۔

په پنځم شپږم آیت کښے وئیلے شوی دی چه د کائناتو ټول نظام د الله تعالیٰ په حکم چلیږی

او د زمکې او د آسمان هرشیز د هغه د حکم تابع دے، دلته د بل چا خدائي نه چلیږي۔

په آیت ۷ - ۹ کښے یو بل اهم حقیقت دا بیان کړے شوے دے چه الله تعالیٰ د کائناتو دا ټول نظام ټیک ټیک په توازن سره په عدل باندې قایم کړے دے او د دے نظام فطرت دا غواړي چه په دے کښے اوسیدونکی مخلوق ډهم په خپل حد کښے د ننه په عدل باندې قایم وی او توازن ډ نه خرابوی۔

د آیت ۱۰ نه د ۲۵ پورے د الله تعالیٰ د قدرت ښے بیان کړے شوی دی او هغه نعمتونه اشارے شوی دی چه د هغې نه انسانان او پیریان دواړه فائده اوچتوی۔

د آیت ۲۶ نه د ۳۰ پورے انسانانو او پیریانو دواړو ته دا حقیقت ورياد کړے شوے دے چه په دے کائناتو کښے د یوالله نه سوا بل هیڅوک غیر فانی او بے زواله نشته او هر شیز د خپل وجود او د خپل ضرورت د پاره الله ته محتاج دے۔ د زمکے نه واخله د آسمانه پورے شپه ورځ چه څه کیږی د هغه په حکم سره کیږی۔

د آیت ۳۱ نه د ۳۶ پورے دے دواړو ډلو ته خبردارے ورکړے شوے دے چه د یرزر هغه وخت را روان دے چه ستاسونه به پکښے تپوس کیږی۔ د دے تپوس نه د بچکید و د پاره تاسو هیڅرته نه شئ تلے۔ تاسو هر طرفته د خدائے په خدائی کښے کیږئ۔ د هغه نه د تیښتے توان په تاسو کښے نشته۔ که چرے تاسو په دے غرور کښے مبتلا یئ چه کنی د هغه نه تښتیدے شئ نو اوتښتئ څه۔

په ۳۷ - ۳۸ آیتونو کښے ویلے شوی دی چه دا تپوس به د قیامت په ورځ کیږی۔

د آیت ۳۹ نه د ۴۵ پورے د هغه مجرمانو انسانانو او مجرمانو پیریانو انجام بنودلے شوے دے کوم چه په دنیا کښے د الله تعالیٰ نافرمانی کوی۔

او د آیت ۴۶ نه د سورة د آخره پورے ښه په تفصیل سره هغه انعامونه بیان کړے شوی دی کوم چه به په آخرت کښے هغه نیکانو انسانانو او پیریانو ته ورکړے کیږی چه هغوئ په دنیا کښے د خدائے نه په یره یره ژوند تیر کړے وی او هر کار ئے د دے عقیدے لاندې کړے وی چه مونږ به یوه ورځ خدائے ته حاضریږو او زمونږ نه به زمونږ د عملونو تپوس کیږی۔

دا ټول تقریر د خطابت په انداز کښے دے۔ یوه جوشناکه او آثرناکه خطبه ده چه په هغې کښے د الله تعالیٰ د قدرت یوه یوه ښه، د هغه د نعمتونو نه یو یو نعمت، او د هغه د بادشاهئ او د هغه د غلبے یو یو کار، او د هغه د جزاء او د سزا یو یو اړخ بیان کړے شوے دے او بار بار د انسانانو او د پیریانو نه دا تپوس شوے دے چه فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ۔ وړاندې به مونږه د دے وضاحت اوکړو چه آلاء لفظ یو فراخ مطلب لری او دا په دے خطبه کښے په مختلفو ځایونو کښے په مختلفو معنو کښے استعمال شوے دے او د پیریانو او د انسانانو نه دا تپوس په هر ځائے کښے د موقع او د محل سره خپل خاص مطلب لری۔

سُوْرَةُ الرَّحْمٰنِ مَدَنِيَّةٌ

اٰيَاتُهَا ۷۸ رُكُوْعَاتُهَا ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلرَّحْمٰنُ ۙ﴿۱﴾ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ؕ﴿۲﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ ۙ﴿۳﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿۴﴾

رحمٰن ډډے قرآن تعلیم ښودلے[1] دے ۔ هغه انسان پیدا کړو[2] او هغه ته ئے ډ خبرو کولو چل اُو ښودلو[3]۔

[1] یعنی ډډ ے قرآن تعلیم ډ انسان ایجاد نهٔ د ے بلکه ډډ ے مُعَلِّم پخپله رحمٰن خدائے د ے ۔ دلته ډډ ے خبری ډکولو حاجت نهٔ ووچه الله ډ قرآن دا تعلیم چاته ښودلے د ے ، ځکه چه خلقو قرآن ۔ محمد صلی الله علیه وسلّم ډ خلے نه اَوریدلو، په د ے وجه ډکلام دا مدّعا پخپله معلومیدله چه دا تعلیم محمد صلی الله علیه وسلّم ته ښود لے شوے د ے ۔

ډډ ے فقره نه ډ شروع کولو اولینے مقصد خو دا د ے چه نبیٔ پخپله ډډ ے مُصنّف نهٔ د ے بلکه ډ د ے تعلیم ښودونکے الله تعالیٰ د ے ۔ ډ د ے ډ پاسه یو دویم مقصد بل هم دے چه هغے ته لفظ رحمان اشاره کوی ۔ که صرف دومره خبره کول مقصد وے چه دا تعلیم ډ الله ډ طرفنه د ے ، ډ نبیٔ ایجاد نهٔ د ے نو ډ الله ډ اسم ذات په ځائے ډ بل اسم صفت ډ استعمالولو حاجت نه وُو، اوکه اسم صفت استعمالول مقصد وے نو صرف ډډ خبری ډ بیانولو ډ پاره ډ الله تعالیٰ ډ نومونو نه نور نومونه هم استعمالیدے شو۔ لیکن هرکله چه ډ الله ، یا ډ خالق ، یا ډ رزّاق وئیلو په ځائے دا اُوفرمائیلے شو چه ډډ قرآن تعلیم رحمٰن ښود لے دے ، نو ډډ نه پخپله دا مطلب را اُووتوچه ډ بندګانو ډ هدایت ډ پاره ډ قرآن مجید نازلول سراسر ډ الله رحمت د ے ۔ الله تعالیٰ چونکه په خپل مخلوق ډیر مهربانه د ے نو په د ے وجه ډ هغه دا خبره خوښه نهٔ شوه چه تاسو په ثیاره کښے پریږدی ، بلکه هغه ډ خپل رحمت په وجه دا اُوغوښتله چه دا قرآن را اُولیږی او تاسوله هغه علم درکړی چه په هغے باندے په دُنیا کښے صحیح ژوند اوپه آخرت کښے کامیابی نصیب کیږی ۔

[2] یعنی هرکله چه الله تعالیٰ ډ انسان خالق د ے ، او ډ خالق دا ذمه واری ده چه خپل مخلوق ته هغه صحیح لار اُوښائی چه هغوی پرډ خپلو پیدا کیدو مقصد پوره کړے شی ، نو په د ے وجه ډ الله تعالیٰ ډ طرفنه ډ قرآن نازلیدل یواز ے ډ هغهٔ ډ رحمت تقاضا نهٔ ده ، بلکه ډ هغه ډ خالق کیدو هم لازمی اوفطری تقاضا ده ۔ خالق چه خپل مخلوق ته لار نه ښودنه نهٔ کوی نو نُور به ئے څوک کوی ؟ اوچه خالق ورته لار نه ښودنه اُونهٔ کړی نو نُور ورته څوک کولے شی ؟ اوډ خالق ډ پاره ډډ ے نه بل غټ عیب څه کیدے شی چه کوم څیز هغه پیدا کړی اوډ هغه څیز ډ پیدا کیدو مقصد اوډ هغے مقصد ډ پوره کولو طریقه ورته اُونهٔ ښائی ؟ نو په حقیقت کښے ډ الله ډ طرفنه ډ انسان ډ تعلیم انتظام کیدل څه عجیبه خبره نهٔ ده ، بلکه دا انتظام ډ هغه ډ طرفنه نهٔ کیدلے نو بیا عجیبه وه ۔ په ټول کائنات کښے چه کوم څیز هغه جوړ کړے دے هغه ئے ډ پیدا کولونه

روستو بس هم دغسے نۀ دے پرېښودے ، بلکه هغه له ئے داسے مناسب شکل ورکړے دے چه دهغې په ذریعه هغه د فطرت په نظام کښے د خپلے حصے کارکولو قابل شوے دے ، اود هغه کار ډکولو طریقه ئے ورته ښودلی ده - پخپله د انسان د بدن یو یو ویخته او یوے یوے ذرے (خَلِیَّه Cell) ته خپل هغه کار معلوم دے کوم چه به هغه د انسان په بدن کښے کوی - بیا آخر انسان پخپله د خپل خالق د تعلیم او د رهنمایئ نه څنګه بے حاجته کیدے شی یا څنګه محرومه کیدے شی ؟ په قرآن مجید کښے د اخبره په مختلفو ځایونو کښے په مختلفو طریقو سره شوی ده - د سورۀ لیل په دولسم آیت کښے فرمائی اِنَّ عَلَیْنَا لَلْهُدٰی - "لارښودنه زمونږ ذمه واری ده "- د سورۀ نحل په نهم آیت کښے فرمائی وَعَلَی اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِیْلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ - " دا د الله ذمه ده چه نیغه لاره اوښائی اوکړے لارے پیرے دی "- د سورۀ طٰهٰ په آیتونو ۴۷ - ۵۰ کښے دی چه کله فرعون د حضرت موسیٰ د خلے نه د پیغمبرئ پیغام واوریدو او په حیرانتیا سره ئے تر تپوس اوکړو چه آخر ستا هغه رب څوک دے چه ماته رسول رالیږی ، نو حضرت موسیٰ ورله جواب ورکړو چه رَبُّنَا الَّذِیْٓ اَعْطٰی کُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰی - " زمونږ رب هغه دے چه هرڅیزله ئے خاص شکل ورکړو او بیائے ورته لاره اوښودله "، یعنی هغه طریقه ئے ورته اوښودله چه د هغې په ذریعه هغه په کائنات کښے د خپلے حصے کار کولے شی - دا هغه دلیل دے چه په دے سره یو بے ضده انسان ته د دے خبرې اطمینان حاصلیږی چه د انسان د تعلیم د پاره د الله تعالیٰ د طرفنه د رسولا او د کتابونو را تلل بالکل د فطرت تقاضا ده -

۳ په اصل کښے لفظ "بیان" استعمال شوے دے - د دے یوه معنیٰ خو اظهار ما فی الضمیر ده ، یعنی د خبرو په ذریعه خپل مطلب اومُدعا بیانول - او دویمه معنیٰ ده فرق پیژندل ، دلته تر مُراد دے خیر او شر او نیکی او بدی پیژندل - د دے دواړو معنو په لحاظ سره دا ورته شان فقره پاسنے دلیل پوره کوی - خبرې کول داسے صفت دے چه انسان د ځناورو او د زمکے د نورو مخلوقاتو نه جُدا کوی - دا شے وینا نۀ ده ، بلکه د دے شاته عقل ، پوهه ، اراده او نور دا سے ذهنی طاقتونه کارکوی چه د هغې نه بغیر انسان خبرې نۀ شی کولے - دا وجه ده چه خبرې کول په اصل کښے د انسان د عقلمندئ او د اختیارمندئ څرګنده نښه ده - او دا صفت چه هر کله الله تعالیٰ انسان له ورکړے دے نو ظاهره خبره دۀ چه د هغه د پاره د تعلیم هغه طریقه نۀ شی کیدے کومه چه د بے عقله او د بے اختیاره مخلوق د پاره مناسب ده - دغه شان د انسان دویم اهم صفت دا دے چه الله تعالیٰ په هغه کښے یو اخلاقی حس (Moral Sense) پیدا کړے دے چه د هغې په وجه هغه فطری طور په نیکئ اوبدئ کښے ، او په حق اوناحق کښے ، په ظلم اوانصاف کښے ، په صحیح او غلط کښے فرق کوی اود ا احساس د ډیرے کمزاهئ او د جهالت په حالت کښے هم د انسانه نۀ اُوزی - د دے دواړو صفتونو لازمی تقاضا داده چه د انسان د عقلی او اختیاری ژوند د پاره د د تعلیم طریقه د هغه پیدا شُوی طریقے نه مختلفه وی چه د هغې تر مخه مَهَی لامبو وهی او مارغان اُلوزی ، او پخپله د انسان په بدن کښے ستر کے ته پتیدل ځړیدل او لیدل ، غوږ ته آوریدل او معدے ته خوراکونه هضم کول ښودلے شوی دی - انسان پخپله د خپل ژوند په ډګر کښے اُستاذ او کتاب او مدرسه او تبلیغ او نصیحت اوپلان اوسیل اوبحث اودلیل وغیره د تعلیم ذریعه منی اوپیدا شُوی علم اوپوهه کافی نۀ ګڼی - نو بیا د اخبره د آخر

اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ۝۵ وَّالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ۝۶

نمراوسپوږمئ د یو حساب پابند دی اوستوری اووُنے ټول سجده کونکی دی۔

ولے عجیبه وی چه د انسان په خالق باندِ د انسان دلار نبود نے کومه ذمه واری راځئ د هغے د پوره کولو د پاره هغه رسول اوکتاب د تعلیم ذریعه جوړه کړی ده ؟ چه څنګه مخلوق وی هغسے د هغوی تعلیم پکار دے ، دایوه مناسبه خبره ده ۔ "بیان" چه کوم مخلوق ته ښوه لے شوے وی د هغوئ د پاره صرف "قرآن" د تعلیم ذریعه کیدے شی نهٔ بله داسے ذریعه چه هغه د هغهٔ مخلوقاتو د پاره مناسب وی کومو ته چه "بیان" نهٔ دے ښود لے شوے۔

۵ یعنی یوزبردست قانون اومضبوطه قاعده ده چه د هغے په ذریعه دالوئ لوئ ستوری تړلے شوی دی ۔ انسان د وخت او د ورځواو د تاریخونواو د فصلونواو د موسمونو کومه حساب په دے وجه کوی چه د نمرد راختلواو پریوتلو د مختلفو منزلونونه د هغه تیریدو قاعده مقرر کړے شوی ده په هغے کښے څه فرق نهٔ راځی ۔ په زمکه باندِ بے حسابه مخلوق په دے وجه ژوندی دی چه نمراوسپوږمئ ټیک ټیک په حساب سره د زمکے نه په یوه خاص فاصله لرے ګولے شوی دی اوپه دے فاصله کښے زیاتے د صحیح حساب سره په یو خاص ترتیب باندِ کیږی ۔ اوکه نهٔ چرے د زمکے نه د هغوئ فاصله د څه حساب نه بغیر زیات یا کم شی نوبیاخو دلته هډوڑوندے پاتے کیدل ممکن نهٔ دی ۔ د غه شان د زمکے نه کیرچاپیره چه نمراوسپوږمئ په خپل منځ کښے کوم ے چکرې وهی د هغے ترمنځه داسے مکمل تناسب قایم کړے شوے دے چه سپوږمئ د ټولے دُنیا د پاره یوه جنتری ده چه هره شپه په با قاعده ګئ سره ترلے دُنیا ته فصلی تاریخ ښائی ۔

۵ په اصل کښے لفظ النَّجْمُ استعمال شوے دے چه عامه اوظاهره معنیٰ ئے ده ستوری ۔ لیکن د عربوپه لغت کښے دالفظ د داسے بوټو د پاره هم وئیلے کیږی چه د هغے تنه نهٔ وی ، مثلاً ترکاریانے ، خربوزے تربوزے وغیره ۔ د مفسرینو په خپل منځ کښے په دے خبره کښے اختلاف دے چه دلته دالفظ په کومه معنیٰ کښے استعمال شوے دے ۔ ابن عباس ، سعید بن جُبیر ، سُدّی او سفیان ثوری د دے معنیٰ کوی "بے تنے بوټی" ، ځکه چه د دے نه روستو لفظ الشَّجَر (وُنه) استعمال شوے دے او د هغے سره دا معنیٰ زیات سَمُون خوری ۔ د دے برخلاف مجاهد ، قتاده او حسنِ بصری وائی چه د نجم نه مُراد دلته هم د زمکے بُوټی نهٔ دی بلکه د آسمان ستوری دی ، ځکه چه هدا د دے مشهوره معنیٰ ده ، د دے لفظ په اوریدو سره د ټولونه اوّل د سړی په ذهن کښے هم دا معنیٰ راځی ، او د نمراوسپوږمئ نه روستو د ستورو ذکر بالکل مناسب معلومیږی ۔ اکثرو مفسّرینو او ترجمه کونکو اګرچه اوله معنے له ترجیح ورکړی ده ، اوهغے ته هم څوک غلطه نشی وئیلے ، لیکن زمونږ په نزد حافظ ابن کثیر دا رائے صحیح ده چه د ژبے او د مضمون په لحاظ سره دویم مطلب زیات د ترجیح قابل بنکاری ۔ په قرآن مجید کښے په بل ځائے کښے هم د نجوم او د شجر د سجدے کولو ذکر راغلے دے اوهلته د نجوم د ستورونه سوا په بله معنیٰ کښے نشی اغستلے کیدے ۔ د آیت الفاظ دادی ، اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُوْمُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ وَكَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ . . . . . (الحج - ۱۸)

وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ۝٧ اَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيْزَانِ ۝٨
وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ۝٩

آسمان هغه اُوچت کړو او میزان ئے قایم کړو۔ نو په کار دی چه تاسو په میزان کښے خلل وانه ځوئ، ټیک ټیک په انصاف تول کوئ او په تله کښے کمے مه کوئ۔

دلته د نجوم ذکر د شمس او د قمر سره دے او د شجر ذکر د غرونو او د ځناورو سره دے، او فرمائیلے شوی دی چه دا ټول الله ته سجده کوونکی دی۔

یعنی د آسمان ستوری او د زمکے ډنے، ټول د الله حکم منی او د هغه د قانون پابند دی، کوم قانون چه د هغوی د پاره جوړ کړے شوے دے د هغے نه د ویخته هومره اخوا دیخوا کیدے نه ځ شی۔

د دے دوارو آیتونو مقصد دا دے چه د کائناتو ټول نظام الله تعالیٰ جوړ کړے دے او خاص هم د هغه په حکم چلیږی۔ د زمکے نه واخله د آسمانونو پورے نه ځوک اختیارمند شته، نه د بل چا خدائی په دے جهان کښے چلیږی، نه د خدائے په خدائی کښے د چا دخل شته، او نه ځوک داسے شته چه د هغه نه معبود جوړ کړے شی۔ ټول بندگان او غلامان دی، مالک اِکی یو ربّ قدیر دے۔ نو په دغه وجه صرف توحید حق دے چه دا قرآن ئے ښودنه کوی۔ د دے په خلاف چه څوک کفر یا شرک کوی هغه په اصل کښے د کائنات د ټول نظام سره په جنګ دے۔

تقریباً ټولو مفسرینو دلته د میزان (یعنی د تلے) نه مُراد عدل اخستلے دے، او د میزان قایمولو مطلب ئے دا بیان کړے دے چه الله تعالیٰ د کائناتو دا ټول نظام په عدل قایم کړے دے۔ دا بے حده او بے حسابه ستوری چه په دے فضا کښے ګرزی، دا لوئ لوئ طاقتونه چه په دے جهان کښے کارونه کوی، او دا بے شماره مخلوق او بے شماره ځیزونه چه په دے جهان کښے دی، د دے ټولو په منځ کښے که په اعلیٰ درجے سره عدل او توازن نه وے قایم کړے شوے نو د دے جهان نظام د یو ساعت د پاره هم نه ځ شو چلیدے۔ پخپله په دے زمکه باندے چه کومه هوا او اُوبه ځ او مخلوقات د کروړو کالو را سے موجود دی دے ته اُوکورئ، د دوئ ژوند خوځکه برقرار دے چه د دوئ د ژوند په اسبابو کښے پوره پوره عدل او توازن دے، که په دے اسبابو کښے د ذرے هومره بے اعتدالی راشی نو بیا به دلته د ژوند نوم او نشان پاتے نه ځ شی۔

یعنی تاسو په یو داسے متوازن نظام کښے اُوسئ چه ټول نظام ئے په عدل باندے قایم دے، نو په دے وجه تاسو له هم پکار دی چه په عدل باندے قایم شئ۔ تاسو له چه کوم اختیارات درکړے شوی دی په هغے کښے که تاسو بے انصافی اُوکړه، او د کومو حقدارو حقونه چه تاسو له درکړے شوی دی هغه که تاسو اداء نه کړل نو دا به د کائناتو د فطرت نه ستاسو بغاوت وی۔ د دے کائناتو فطرت ظلم او بے انصافی او حق وهل نه قبلوی دلته یولوئ ظلم کول خوغټه خبره ده، که خوځوئ که په تله کښے د ذرے هومره حق هم د چا وهی نو هغه د جهان په میزان (یعنی عدل) کښے خلل راپیدا کوی ——— دا د قرآن د تعلیم دویمه اهمه حصه

وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا لِلْاَنَامِ ﴿۱۰﴾ فِيْهَا فَاكِهَةٌ ۙ وَّالنَّخْلُ
ذَاتُ الْاَكْمَامِ ﴿۱۱﴾ وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ﴿۱۲﴾

زمکہ[۹] ھغہ ځمکہ ده چه ټولو مخلوقاتو ته[۱۰] ځای کړه - په هغې کښے هر قسم ډیرے پیرے خوندناکے میوے دی - د کجورو ونے دی چه میوے ئے په غلافونو کښے نغښتے شوی دی - قسما قسم غلے دی چه په هغې کښے بوس هم وی اوډانه هم[۱۱] -

چه په دے دریاړو آیتونو کښے بیان کړے شوے دے - اولنے تعلیم توحید دے - اوډوېم تعلم ده عدل دے - د غه شان په یوځومختصر وفقرو کښے خلقوته وسیلے شوی دی چه الله تعالیٰ د انسان د لارښودنے د پاره کوم قرآن رالیږلے دے هغه کوم تعلیم راوړے دے -

[۹] اوس دد ے ځائے نه د پنځیشتم آیته پورے د الله تعالیٰ د هغه نعمتونو او د هغه د احسانونو او د هغه د قدرت د هغه کارنامو ذکر کیږی چه انسان او پیریان دواړه تر فایدے حاصلوی - او د دے نعمتونو فطری او اخلاقی تقاضا داده چه هغوئ په خپل اختیار لو په خپله مرضا سره د خپل رب بندګی اوکړی -

[۱۰] اصل الفاظ دی زمکه ئے د "انام" د پاره "وضع کړه" - د وضع کولونه مراد دے راغونډول، جوړول، تیارول، سائل او "انام" په عربی ژبه کښے د مخلوق د پاره استعمالیږی چه انسانان او نور ټول ژوندی مخلوقات پکښے شامل دی - ابن عباس وائی کل شیء فیه الروح، په انام کښے هر هغه څیز شامل دے چه په هغې کښے روح وی - مجاهد د دے معنی "خلائق" کوی - قتاده، ابن زید، او شعبی وائی چه ټول ژوندی سری "انام" دی - د دے نه معلومه شوه چه کوم خلق د دے آیت نه دا حکم راأوباسی چه زمکه د ریاست ملکیت دے نو هغوی یوه فضول خبره کوی - دا په قرآن کښے د بمرتبو نظریاتو کیښودلو یو بے پیونده کوشش دے چه نه د آیت د الفاظو سره سمون خوری او نه د وړاندے روستو عبارت سره - انام یوازے انسانانو ته نه وائی بلکه د زمکے نورمخلوقات هم پکښے شامل دی - او زمکه د "انام" د پاره د جوړولو مطلب دا نه دے چه هغه به د ټولو مشترکه ملکیت وی - او د روان عبارت نه هم دا نه معلومیږی چه دلته ګنی یوه معاشی ضابطه بیانول مقصد دی - دلته په اصل کښے دا مقصد نه دی چه الله تعالیٰ دا زمکه په دے طریقه جوړه کړه او تیاره ئے کړه چه دا د هر قسم ژوندی مخلوقاتو د پاره د اوسیدو او په هغې کښے د ژوند تیرولو قابله شوه - دا خپله دا سے نه ده شوی - خالق دا سے جوړه کړی ده - هغه په خپل حکمت سره دا په دا سے ځائے کښے کیښوده او دا سے حالات ئے په دے کښے پیدا کړل چه د هغې په وجه دلته ژوندی مخلوقات اوسیدے شی -

(د تشریح د پاره اوګورئه تفهیم القرآن، دریم جلد، النحل حاشیے ۷۳ - ۷۴ - څلورم جلد، یٰسٓ، حاشیے ۲۹ - ۳۲ - المومن، حاشیے ۹۰ - ۹۱ - حٰمٓ السجده حاشیے ۱۱ تا ۱۳ - الزخرف، حاشیے ۷ تا ۱۰ - الجاثیه، حاشیه ۷) -

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۱۳﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ
صَلْصَالٍ کَالْفَخَّارِ ﴿۱۴﴾ وَ خَلَقَ الْجَآنَّ مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ

نو اے پیریانو او انسانانو، تاسو به د خپل رب کوم کوم نعمتونه[۱۲] دروغ ګڼئ[۱۳]؟
هغه انسان د پټکی پشان د وچے بوئینا کے خپتے نه جوړ کړو[۱۴] او پیریان ئے د دُوړد لمبے نه

[۱۱] یعنی د انسانانو د پاره دا نه او د څارُوو د پاره ګیا۔
[۱۲] په اصل کښے لفظ آلاء استعمال شوے دے چه په وړاندینو آیتونو کښے بار بار را ځلے دے او مونږه په مختلفو ځایونو کښے په مختلفو الفاظو سره د هغے مطلب بیان کړے دے۔ نو د اول شروع نه ځان په دے پوهه کول پکار دی چه د دے لفظ معنیٰ څومره فراښه ده او په دے کښے څومره غټ مطلب پروت دے۔
لغت والو او مفسّرینو د آلاء معنیٰ عام طور "نعمتونه" کړی ده۔ تهلو ترجمه کونکو هم د دے لفظ دا ترجمه کړی ده۔ اوهم دا معنیٰ د ابن عباس، قتاده او حسنِ بصری نه نقل کړے شوی ده۔ د دے معنیٰ د صحیح والی د تهلو نه غټ دلیل دا دے چه په خپله نبی صلی اللہ علیه وسلم د پیریانو هغه قول نقل کړے دے چه هغوی به د دے آیت په بار بار اوریدو سره لَا بِشَیْءٍ مِّنْ نِّعَمِکَ رَبَّنَا نُکَذِّبُ وئیل نو په دے وجه د زمانے د څیړنو محققینو د دے رائے سره زمونږ اتفاق نشته چه آلاء هډو د نعمتونو د پاره استعمالیږی نه۔
دویمه معنیٰ د دے لفظ ده قدرت او قدرت کمالات اوکارنامے۔ ابن جریر طبری د ابنِ زید قول نقل کړے دے چه د فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا معنیٰ ده فَبِاَیِّ قُدْرَةِ اللّٰهِ۔ ابن جریر پخپله هم د ۳۷-۳۸ آیتونو په تفسیر کښے لفظ آلاء د قدرت په معنیٰ کښے اخستلے دے۔ امام رازی هم د ۱۴-۱۵-۱۶ آیتونو په تفسیر کښے لیکلی دی "دا آیتونه د نعمت بیانولو د پاره نه بلکه د قدرت بیانولو د پاره دی"۔ او د ۲۲-۲۳ آیتونو په تفسیر کښے هغه فرمائی "دا د الله تعالیٰ د قدرت د کارنامو په بیان کښے دی نه چه د نعمتونو په بیان کښے"۔
د دے دریمه معنیٰ ده خوبیانے، ښه صفتونه او کمالات او فضیلتونه۔ دا معنیٰ لغت والو او مفسّرینو نه ده بیان کړی، لیکن د عربو په شعرونو کښے دا لفظ پدے زیات په دے معنیٰ کښے استعمال شوے دے۔ نابغه وائی:

هم الملوک و ابناء الملوک لهم — فضلٌ علی الناس فی الآلاء والنِعَم
هغوی بادشاهان او شهزادګان دی۔ هغوی ته — په خوبیانو او نعمتونو کښے په خلقو باندے فضیلت حاصل دے۔

مُهَلْهِل د خپل رُور کُلَیب په مرثیه کښے وائی:

الحزم والعزم کا نا من طبائعه — ما کل آلائه یا قوم اُحصیها
هوښیارتیا او مضبوطه اراده د هغه صفتونه وُو، اے خلقو، څه د هغه تولے خوبیانے نه بیانوم۔

فضالہ بن زید العدوانی د غریبئ بد بیانوی او وائی چه که غریب سړے ښه کارهم اوکړی خوبد تر جوړیږی او :

وتحمد الاء البخیل المدرهم
د مالدار بخیل سړی د کمالاتو تعریفونه کیږی۔

اَجْذَع همدانی د خپل کُمیت نومے اَس په تعریف کښے وائی :

ورضیت الاء الکمیت فمن یبع فرساً فلیس جواد نا بمباع

"حُما د کُمیت ښه صفتونه خوښ دی - که څوک اَس خرڅوی نوخرڅ دے کړی حُما اَس د خرڅولو نهٔ دے"۔

د حما سے یوشاعر دے، چه نوم ئے ابو تمام نهٔ دے اغستلے، هغه د ولید بن ادهم د اقتدار مرثیه وائی :

اذا ما امرؤ اثنیٰ بالاء میتٍ فلا یبعد اللّٰه الولید بن ادهما

"کله هم چه یوسړے د یومړی خوبیانے بیانوی نوخدائے ډنګړی چه ولید بن ادهم په دے موقع هیر کړی"۔

فما کان مفراحاً اذا الخیر مسّهٗ ولا کان متّاناً اذا هو انعما

"په هغه چه به ښه حالات راغلل نوخوشحالید وبه نهٔ اوچه په چا به ئے احسان کړو نو زبا تو به ئے نهٔ"۔

طرفه د یوسړی تعریف کوی :

کامل یجمع الاء الفتیٰ نَبَهٌ سیّد ساداتٍ خِضَمّ

"هغه کامل دے، په هغه کښے د خوا نمردئ ټول صفتونه دی - هغه شریف دے، د سردارانو سردار دے"۔

د دے تشریحاتو ترڅه موږ ته لفظ "آلاء" په فرانبه معنیٰ کښے اغستلے دے او په هرځائے کښے چه راته د موقع په لحاظ سره د دے کومه معنیٰ مناسبه ښکاره شوی ده هم هغه مو په ترجمه کښے لیکلی ده - لیکن په حُسنی ځایونوکښے د یولفظ "آلاء" پر مطلبونه کیدے شی، اود ترجمے د مجبورئ د وجے نه موږ ته صرف یوه معنیٰ کړی ده، ځکه چه په اُردُو ژبه کښے (یا په پښتوژبه کښے) دومره جامع لفظ نشته چه په هغے کښے هغه ټول مطلبونه په یو وخت پراته وی - مثلاً په دے آیت کښے د زمکے پیدائش او په هغے کښے مخلوقاتو ته د رُوزئ رسولو د انتظاماتو د ذکر کولونه روستو فرمائیلے شوی دی چه تاسو به د خپل رب کوم کوم "آلاء" دروغ ګڼړئ - دلته د آلاء معنیٰ یوازے نعمتونه نهٔ دی، بلکه د اللّٰه د قدرتونو کمالات او د هغه ستائیلے شوی صفتونه تر هم مُراد دی، داد هغه د قدرت کمال دے چه هغه دا زمکه په داسے عجیبه طریقه جوړه کړه چه په دے کښے بے شماره ژوندئ مخلوقات اُوسی او قسما قسم میوے اوغلے پکښے پیدا کیږی، او دا د هغه ستائیلے شوی صفتونه دی چه هغه د دے مخلوقاتو د پیدا کولو سره سره دلته د هغوئ د پالنے او د روزئ انتظام هم اُوکړو، او انتظام هم

په دے شان سره چه دَ هغوی په خوراک کښے یوازے غذائیت نهٔ دے بلکه په هغے کښے دَخوند رنګ هم پرلحاظ سائیلے شوے دے - په دے سلسله کښے دَ الله تعالیٰ دَ کارپګرئ صرف یوکمال ته دَ نمونے په طور اشاره شوی ده چه دَ کجورو په ونو کښے میوه څنګه په غلا فونو کښے نغښتے پیدا کیږی - دَ دے یومثال سره لږ شان نور اوګورئ چه کیلے، انار، سنګترے، کوپره او نورے میوے څومره په کمال سره په مختلفو پردو کښے بند دے کړے شوی دی، او دا قسما قسم غلے دانے، چه مونږه ئے په بے فکرئ سره پخوو اوخورو، په دے کښے هره یوه دانه څنګه دَ پاکو پستو ویخته اولشو اووړو په شکل کښے بنده کړے شوی ده او په نرو نرو پوستکو کښے را نغښتے شوی ده -

۱۳ دَ دروغ ګنړلو نه مُراد هغه مختلف عملونه دی کوم چه دا خلق دَ الله تعالیٰ دَ نعمتونو اودَ هغه دَ قدرت دَ کارنامو اودَ هغه دَ ښکلی صفتونو په معامله کښے کوی، مثلاً:

ځینی خلق هډوډا منی نهٔ چه دَ دے ټولو څیزونو خالق الله تعالیٰ دے - دَ هغوی داخیال دے چه دا ټول څیزونه دَ مادے نه اتفاقی طور پیدا شوی دی په دے کښے دَ حکمت اودَ چا دَ کارپګرئ هیڅ دخل نشته - دا صفا صفا دروغ ګنړل دی -

ځینی نور خلق دا خو منی چه دَ دے څیزونو پیدا کوونکے الله دے لیکن دَ هغه سره نُور مخلوق په خدائیئ کښے شریکوی، دَ هغه دَ نعمتونو شکریه بل چاته ادا کوی، اورزق دَ هغه خوری اوتعریفونه دَ بل چاکوی - دا دَ دروغو ګنړلو یو بل شکل دے - یو سړے چه دا اُومنی چه تاپه هغه فلانے احسان کړے دے، او بیا په هغه وخت کښے ستاپه مخ کښے دَ یودا سے سړی شکریه ادا کول شروع کړی چه هغه په حقیقت کښے په هغه باندے احسان نهٔ دے کړے، نو ته به پخپله اُووائے چه هغه ډیره غټه نمک حرامی کړی ده، ځکه دَ هغه دا کار دَ دے خبرې څرګند ثبوت دے چه هغه ستا احسان نهٔ مَنی بلکه دَ هغه سړی احسان مَنی چه دَ چا شکریه ادا کوی -

ځینی نور خلق دی چه دَ ټولو څیزونو خالق الله تعالیٰ مَنی او دا هم منی چه نعمت ورکونکے هم الله تعالیٰ دے لیکن دا خبره نهٔ مَنی چه هغه له پکار دی چه دَ خپل خالق حکمونه اُومَنی او دَ هغه په هدایاتو عمل اُوکړی - دا دَ احسان هیرَولو اودَ نعمت نه دَ انکار کولو یو بل شکل دے، ځکه چه څوک دا کار کوی هغه دَ نعمت منلو باوجود دَ نعمت ورکوونکی حق دروغ ګنړی -

ځینی خلق نهٔ په ژبه دَ نعمت نه انکار کوی اونهٔ دَ نعمت ورکوونکی حق دروغ ګنړی، لیکن دَ هغه په عملی ژوند کښے اودَ یو انکار کوونکی اودروغ ګنړونکی په ژوند کښے څه خاص فرق نهٔ وی - دا په خُله دروغ ګنړل نهٔ دی بلکه په عمل سره دروغ ګنړل دی -

۱۴ دَ انسان دَ جوړښت کومے اولنئ مرحلے چه په قرآن مجید کښے بیان کړے شوی دی هغه چه دَ مختلفو ځایونو نه راجمع کړے شی نو دَ هغے سلسله وار ترتیب دا معلومیږی:

(۱) تُراب، یعنی خاوره - (۲) طین، یعنی خټه چه په خاوره کښے دَ اُوبو اَچولو نه جوړیږی - (۳) طینِ لازب، یعنی سیخنا که خټه،

نَّارٍ ﴿١٥﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿١٦﴾ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ
وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿١٧﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿١٨﴾

پیدا کړل[۱۵]۔ نو آیا پیریانو او انسانانو، تاسو به د خپل رب د قدرت[۱۶] کومے کومے کارنامے دروغ ګڼئ؟
د دواړو مشرقونو او د دواړو مغربونو مالک اوپروردګار هم هغه دے[۱۷]، نو اے
پیریانو او انسانانو، تاسو به د خپل رب کوم کوم قدرتونه[۱۸] دروغ ګڼئ؟

یعنی هغه خټه چه ډیره موده پرته وی او ډهغې په وجه پکښے سلیخ پیدا شی۔ (۴) حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ، هغه خټه چه بوئ پکښے پیدا شی۔ (۵) صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ کالْفَخَّارِ، یعنی هغه بوئیناکه خټه چه د وچیدو نه روستو د ښکرې په شان شی۔ (۶) بَشَرً، چه د خاورے د دے آخرې شکل نه جوړ شو، چه په هغه کښے الله تعالیٰ خپل خاص روح ورپوکو، چه هغه ته په فرښتو سجده اوکړے شوه، او چه د هغه د جنس نه د هغه جوړه پیدا کړے شوه۔ (۷) ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ۔ بیا وړاندے د هغه نسل د اوبوتو یو معمولی څاڅکی د ستْ نه شروع کړے شوچه د هغې د پاره په نورو ځایونو کښے لفظ نُطفه استعمال کړے شوے دے۔
د دے هرحلو د پاره د قرآن مجید لاندینی آیتونه په ترتیب سره اوګورئ: کَمَثَلِ اٰدَمَ خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ (آل عمران ۔ ۵۹)۔ بَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ مِنْ طِيْنٍ (السجدہ ۔ ۷)۔ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ (الصّٰفات ۔ ۱۱)۔ څلورمه او پنځمه مرحله په دے آیت کښے بیان شوی ده ۔ او د دے روستنئ مرحلے په دے آیتونو کښے بیان کړے شوے دی، اِنِّيْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ طِيْنٍ ۝ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ (ص ۷۱ ۔ ۷۲)۔ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً (النساء ۔ ۱)۔ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ (السجدہ ۔ ۸)۔ فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ (الحج ۔ ۵)۔

۱۵ اصل الفاظ دی مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ۔ د نار نه مُراد یوخاص قسم وُور د هغه عام وُور تر مُراد نۀ دے کوم چه د لړکی یا د کوئلے د سوزولو نه پیدا کیږی۔ او د مارج معنیٰ خالصه شغله ده چه په هغے کښے لوګے نۀ وی ۔ د دے آیت مطلب دا دے لکه څنګه چه اولے انسان د خاورے نه جوړ کړے شو، بیا د پیدا اوښت د مختلفو مرحلو نه تیر شو او د خاورے د کالبوت نه د غوښے یوژوند بشر جوړ شو، او وړاندے د هغه نسل د نطفے نه پیدا کیدل شروع شو، د غه شان اولنے پیرے خالص د وُور د شغلے نه، یا د وُور د لمبے نه پیدا کړے شو، او روستو د هغه د بچونه د پیریانو نسل پیدا شو۔ د هغه اولنی پیری حیثیت د نورو پیریانو په معامله کښے هم هغه دے کوم حیثیت چه د آدم علیه السّلام د نورو انسانانو په معامله کښے دے ۔ کله چه آدم علیه السّلام ژوندے بشر جوړ شو نو د هغۀ او د هغه د نسل د

بد نونو هیڅ مناسبت د هغه خاورے سره پاتے نۀ شو د کومے نه چه هغوئ پیدا کړے شوی وُو ۔ اگرچه اُوس هم زمونږه بدن ټول د زمکے د حصونه جوړ دے ، لیکن دے حصو د غوښے او د وینے شکل اختیار کړے دے اود روح راتلو نه روستو هغه د خاورے په نسبت بالکل یومختلف څیز جوړ شوے دے ۔ دانګے معامله د پیریانو هم ده ۔ د هغوی بدن هم په اصل کښے یو آتشین بدن دے ، لیکن څنګه چه مونږه خالص د خاورے کالبوت نۀ یُو د غه شان هغوی هم خالص د وُور شُغله نۀ ده ۔

د دے آیت نه دوه خبری معلومے شوے یوه دا چه پیریان صرف یوازے رُوح نۀ دے بلکه یوخاص قِسم مادّی بدن لری ، لیکن چونکه هغوئ خالص د وُور د اجزاؤ نه جوړ دی نو په دے وجه هغوی د خاکی اجزاؤ نه جوړ شوو انسانانو ته په نظر نۀ راځی ۔ دے خبری ته دا آیت اشاره کوی چه ، اِنَّهٗ یَرٰىکُمْ هُوَ وَقَبِیْلُهٗ مِنْ حَیْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ۔ ”شیطان او د هغه قبیله تاسوته د دا سے ځائے نه گوری چه هلته تاسو هغوئ نۀ شئ لیدلے (الاعراف ۔ ۲۷) ۔ د غه شان پیریان چه تیز حرکت کولے شی ، او په آسانئ سره مختلف شکلونه اختیار ولے شی ، او هغه ځایونو ته په غیر محسوس طریقے سره تلے شی کوم ځایونوته چه د خاکی اجزاؤ نه جوړ شوی څیزونه نۀ شی تلے ، نودا ټول کارونه په دے وجه ممکن دی چه هغوئ آتشین مخلوق دے ۔

دویمه خبره د دے نه دا معلومه شوه چه پیریان نۀ یوازے دا چه د انسانانو نه بالکل یوجدا قِسم مخلوق دے ، بلکه د هغوی تخلیقی مادّه د انسانانو، ځناورو، بوټو او جمادا تو نه قطعی مختلفه ده ، دا آیت په صفا الفاظو کښے د هغه خلقو د خیال غلطی ثابتوی چه هغوی پیریان د انسانانو یو قِسم ګڼی ۔ هغوی د دے معنیٰ دا کوی چه د خاورے نه د انسان د پیدا کولو او د وُورنه د پیری د پیدا کولو مطلب په اصل کښے د دُو قِسمو خلقو د مزاجی کیفیت فرق بیانول دی ، یو قِسم خلق عاجز مزاجه وی ، او هم هغوئ په ریښتیا انسانان دی ، او بل قِسم خلق شُغله مزاجه وی ، او هغوی ته د انسان په ځائے شیطان وئیل زیات صحیح دی ۔ لیکن دا د قرآن تفسیر نۀ دے بلکه تحریف دے ۔ بره په حاشیه نمبر ۴ کښے مونږه په تفصیل سره داوئیلی دی چه قرآن مجید د خاورے نه د انسان د پیدا کیدو مطلب څومره په وضاحت سره پخپله بیانوی ۔ آیا د دے ټولو تفصیلاتو تولوستلونه روستو یو عقلمند سړے دا مطلب را ایستے شی چه د دے ټولو خبرو مقصد صرف د دے انسانانو د عاجز مزاجئ تعریف بیانول دی ؟ بیا آخر دا خبره د یو عقلمند سړی په ذهن کښے څنګه راتلے شی چه د انسان د خاورے نه د پیدا کیدو ، او د پیریانو د وُورنه د پیدا کیدو مطلب په اصل کښے د یو قِسم انسان د دوُو مختلفو مزاجونو لرونکو لو د جُدا جُدا اخلاقی خصوصیاتو فرق دے ؟ (د زیاتے تشریح د پاره اوګورہ تفہیم القرآن ، پنځم جلد ، تفسیر د سورۃ ذاریات ، حاشیه ۵۳) ۔

۱۶ دلته د موقع په مناسبت سره د آلاء معنیٰ ” د قدرت کارنامے “ زیاته موزون ده ، لیکن په دے کښے د نعمت اړخ هم موجود دے ۔ د خاورے نه انسان پیدا کول ، او د وُور د شُغلے نه پیریان پیدا کول لکه څنګه چه

د الله تعالیٰ د قدرت یوه عجیبه کارنامه ده ، دغه شان ددے دواړو مخلوقاتو د پاره دا خبره یو لوی نعمت هم دے چه الله تعالیٰ یوازے هغوی پیدا نهٔ کړل بلکه د هریو جوړښت ئے په دا سے شان سره اوکړواوپه هریو کښے ئے دا سے قوتونه اوصلاحیتونه کیښودل چه د هغے په وجه هغوی د لویولویو کار ونو کولو قابل شو - اګرچه د پیریانو په حقله زمونږ سره زیات معلومات نشته، لیکن انسان خو زمونږ مخے ته موجود دے انسان له چه انسانی دماغ ورکړے شوے دے او بیاورله بدن د مهی یا د هوا د مارغه یا د شاړو ورکړے شوے وے ، نوآیا د هغه بدن سره هغه ددے دماغ د صلاحیتونه څه کار اغستلے شو؟ نوآیا دا د الله لوی نعمت نهٔ دے چه کوم قیمتونه هغه د انسان په دماغ کښے کیښودلی وُو د هغے نه د کار اغستلو د پاره ئے ورله مناسب بدن هم ورکړو، دالاسونه ، دابښے ، داستړګے ، داغوږونه ، دا ژبه اودا نیغ بدن یوطرفته ، او دا عقل اوپوهه ، دا فکراودا خیال ، دا د څیزونو د جوړ ولواود د دلیل ټیولوقوتونه اوصلاحیتونه بل طرفته ، دا دواړه چه د یوبل سره مقابله کړے شی اواوکتے شی نوپته لږی چه جوړونکی دا دواړه په خاص تناسب سره جوړکړی دی که دا دواړه په خاص تناسب سره نهٔ وے جوړ کړے شوے نوبیا د انسان وجود بے مطلبه پاتے کیدو - بیاهم دا څیزونه د الله تعالیٰ په ستائیلو شؤو صفتونو باندے هم دلالت کوی - آخر د علم ، د حکمت ، د رحمت اود اعلیٰ قوتِ تخلیق نه بغیر دا رنګه انسانان اوپیریان څنګه پیدا کیدے شو؟ دا معجزے هسے اتفاقاً یا د فطرت د رو ښد قانون لاندے څنګه بنکاره کیدے شوے ؟

رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ د دوو مشرقونو اود دوو مغربونو مُراد د ژمی د موسم د وړونه د وړے ورځ او د کړۍ د موسم د لویونه د لویے وړ ځے مشرق اومغرب هم کیدے شی ، د زمکے د دوو سرونو مشرق اومغرب هم - د ژمی په موسم کښے د ټولونه په وړه ورځ کښے نمر د جنوب د غاړے نه په ټرس راخیژی اوپه ټرس پریوزی ، اود کړۍ په موسم کښے د ټولونه په لویه وړځ کښے شمال غاړے ته نیغه په نیغه راخیژی اوپریوزی - د دے دواړو په منځ کښے نمرهره ورځ مختلف مختلف ځائے راخیژی اوپریوزی چه په قرآن مجید کښے د دے دواړه په یوبل ځائے کښے **رَبُّ الْمَشَارِقِ وَالْمَغَارِبِ** (المعارج - ۴۰) الفاظ استعمال کړے شوی دی - دغه شان د دزمکے په یوه حصّه چه په کوم وخت کښے نمر راخیژی هم په هغه وخت کښے د زمکے د بلے حصّے نه پنا کیږی - دغه شان د دے نه هم د زمکے دوه مشرقونه اودوه مغربونه جوړیږی - د دے ویناچه الله تعالیٰ د دے دواړو مشرقونو او د مغربونو رب دے ، ډیرے معنے دی - یوه داچه هم د هغه په حکم سره د نمر د راختو اوپریوتو دا نظام او په کال کښے د نمر د بدلیدو را بدلیدو دا نظام قایم دے - دویمه داچه د زمکے او د نمر مالک او حاکم هم هغه دے ، که د دے دواړو رب جُدا جُدا وے نو بیا په زمکه باندے د نمر د راختو او پریوتو دا باقاعده نظام به څنګه قایم شوے وے او د همیشه د پاره به څنګه قایم پاتے وے - دریمه داچه د دے دواړو مشرقونو او مغربونو مالک او پروردګار هم هغه دے ، د دے په منځ کښے چه کوم مخلوق اوسیږی دا ټول د هغه ملکیت دے ، هم هغه دا ټول پالی ، او د دے د پالنے د پاره هغه په زمکه باندے د نمر د راختو اوپریوتو دا حکمتی نظام قایم کړے دے -

مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيٰنِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيٰنِ ﴿٢٠﴾
فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢١﴾ يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَ
الْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٣﴾

دوه سمندرونه هغه (آزاد) پریښودل چه دَ یوبل سره یوځای شی، خو بیاهم دَ هغوئ په منځ کښے یوه پرده لګید لی ده چه دَ هغے نه هغوئ په یوبل وراوړی نۀ[۱۹] نوا ے پیریانواو انسانانو، تاسو به دَ خپل رب دَ قدرت کومے کومے کارنا ے دروغ ګڼئ ؟

دَ دے[۲۰] سمندرونونه ملغلرے اومرجان راوُزی[۲۱]۔ نوا ے پیریانواو انسانانو، تاسو به دَ خپل رب دَ قدرت کوم کوم کمالونه دروغ ګڼئ[۲۲] ؟

۱۸ دلته هم اګرچه دَ موقع او دَ محل په لحاظ سره دَ آلاء معنیٰ "قدرت" زیاته څرګنده ښکاری ، لیکن په دے کښے دَ "نعمت" او دَ "ستائیلے شوو صفتونو" اړخ هم موجود دے ۔ دا غټ نعمت دے چه الله تعالیٰ دَ نمرد ختو او دَ دوو بیدو دا قاعده مقرر کړه ، ځکه چه دَ دے په وجه داسے بدل بدل فصلونه او مو سمونه راپیدا کیږی چه دَ هغے سره دَ انسانانو اودَ څناورو او دَ بوټو بے شماره فائدے ترلے شوی دی ۔ دغه شان دا خو دَ الله تعالیٰ رحمت او پالنه اوحکمت دے چه هغه په زمکه کوم مخلوقات پیدا کړی وُو دَ هغوی دَ ضرورتونو مطابق ئے په خپل قدرت سره دا انتظامات اوکړل ۔

۱۹ دَ تشریح دَپاره اوګورہ تفهیم القرآن ، دریم جلد ، سورة فرقان حاشیه ۶۸۔

۲۰ په اصل کښے لفظ مَرْجَان استعمال شوے دے ۔ ابن عباس ، قَتادہ ، ابن زید او ضحاک رحمهم الله وائی چه دَ دے نه مُراد وړے ملغلری دی ۔ اوحضرت عبد الله بن مسعودؓ فرمائی چه دالفظ په عربی ژبه کښے دَ مرجان (یعنی دَ یوسمندری چینبی ذکور) دَپاره استعمالیږی۔

۲۱ اصل الفاظ دی یَخْرُجُ مِنْهُمَا ، "دَ دے دواړو سمندرونونه راوُزی" ۔ اعتراض کونکی په دے اعتراز کوی چه ملغلرے اومرجان خو صرف دَ ټرَوُ او بونه راوُزی ، نو بیا دا څنګه اوُویلے شو چه دَ خونږ واوښ ټرَوُ او بود واړونه دا څیزونه راوُزی ؟ دَ دے جواب دا دے چه په سمندرونو کښے خونږ واوښ ټرَوے اوبهٔ دواړه راجمع کیږی ، نو په دے وجه که دا اُوویلے شی چه دَ دواړو دَ مجموعے نه دا څیزونه راوُزی ، او که دا اُوویلے شی چه هغه دَ دواړو اُوبونه راوُزی ، خبره هم هغه یوه ده ۔ اوکیدے شی چه دَ زیات تحقیق نه دا خبره ثابته شی چه دا څیزونه په سمندر کښے په هغه ځایونو کښے پیدا کیږی په کوم ځائے

وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَئٰتُ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿۲۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ
رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۵﴾ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿۲۶﴾ وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ

النصف

اودا جهازونه هم د هغه دی[۲۳] کوم چه په سمندر کښے د غرونو پشان اوچت اوچت ولاړ دی - نو اے پیریانو او انسانانو، تاسو به د خپل رب کوم کوم احسانونه درونغ[۲۴] کنړئ؟ ع
په دے زمکه[۲۵] چه هر څیز دے هغه فنا کیدونکے دے صرف ستا د رب جلیل او کریم ذات

کښے چه د سمندر د تل نه د خوږو اوبو چینے را اوزی، او د هغوئ په پیدا کیدو او غټیدو کښے د دواړو قسمو اوبو د رایوځائے کیدو څه دخل وی - په بحرین کښے چه د پخوا زمانے راسے په کوم ځائے کښے ملغلرے را ایستلے کیږی، هلته خو دا خبره ثابته ده چه د سمندر په تل کښے د خوږو اوبو چینے موجود دی -

۲۲ه دلته هم اگرچه د "آلاء" په معنیٰ کښے د قدرت اړخ څرګند دے، لیکن د نعمت او د ستایلے شوو صفتونو اړخ هم پکښے پټ نه دے - دا د خدائے نعمت دے چه د سمندر نه دا قیمتی څیزونه را اوزی، او دا د هغه د پالنے انتظام دے چه کوم مخلوق له هغه د بنائیست سره د مینے کولو شوق ورکړے وُو نو د هغه د مینے د تسکین د پاره ئے قسما قسم بنکلی بنکلی څیزونه په دے دُنیا کښے پیدا کړل -

۲۳ه یعنی خاص د هغه په قدرت سره جوړ شوی دی - هغه انسان له دا پوهه ورکړه چه په سمندر باندے د پُورِیوتو د پاره جهاز جوړ کړی - هغه په زمکه دا سے څیزونه جوړ کړل چه د هغے نه جهاز جوړ ید ے شی - او هغه اُوبه د دے خبرے پابند کړے چه په سر باندے ئے د غرونو هومره غټ غټ جهازونه کښ زید ے شی -

۲۴ه دلته د "آلاء" په معنیٰ کښے د نعمت او د احسان اړخ بنکاره دے، لیکن د پاسنئ تشریح نه دا خبره معلومیږی چه د قدرت او د بنه صفتونو اړخ هم په دے کښے موجود دے -

۲۵ه د دے ځائے نه د آیت ۳۰ پورے پیریان او انسانان د دُوو حقیقتونو نه خبردار کړے شوی دی:

یو دا چه ټه هم فانی ئے او هغه څیزونه هم زوال لری د کومونه چه ټه په دُنیا کښے فائدے حاصلوے لا فانی اولازواله خو صرف د هغهٔ لوی خدائے ذات دے چه د هغه په لوئ والی دا ټول کائنات ګواهی کوی او چه د هغه په فضل سره تاسو ته دا نعمتونه نصیب شوی دی - اُوس که چرے په تاسو کښے څوک په دے غرور کښے مبتلا وی چه ځما پشان بل څوک نشته نو دا د هغه نهٔ سرپیټوب دے - یوے وقوف سړی له چه لږ شان اختیار په لاس کښے ورشی نو هغه غټے غټے خبرے شروع کړی، یا یو څوکسان چه د هغه په قبضه کښے ورشی نو هغوی ته د ځان نه خدائے جوړ کړی، نو د دوکے دا چل چلکے د څومره وخته پورے پاتے کیدے شی - په دے فرا بنه کائنات کښے چه د زمکے حیثیت د مټر د یوے دانے هومره هم نهٔ دے، د دے په یوکونټ کښے لس شل کاله یا پنځوس شپیته کاله د چا خدائی او لوئی چلیدل او بیا ختمیدل، آخرځه څه

ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿۲۷﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۸﴾
يَسْـَٔلُهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ شَاْنٍ ﴿۲۹﴾

باقی پاتے کیدونکے دے ۔ نوامے پیریانو او انسانانو، تاسو به د خپل رب کوم کوم کمالات دروغ ګڼئ؟[۲۶] په زمکه او په آسمانونو کښے چه څه دی هغه ټول د هغهٔ نه خپل حاجتونه غواړی ۔ هر هغه وخت په یو نوی شان کښے دے۔[۲۷]

خدایئ او لویئ ده چه سړے پرې غره شی ۔
پیریانو او انسانانو ته چه د کوم دویم حقیقت خبردارے ورکړے شوے دے هغه داده چه د الله تعالیٰ نه سوا نور څوک تاسو معبودان او مشکل کشا او حاجت روا جوړ وئ ، خواه که هغه فرښتے وی ، که پیغمبران وی ، اوکه اولیاء وی ، که نبی وی او که سپورمئ وی یا بل قسم مخلوق وی ، په هغوی کښے یو هم ستاسو حاجت پوره کولے نهٔ شی ۔ هغوئ بے وسه خو پخپله د خپلو حاجتونو او ضرورتونو پوره کولو د پاره الله ته محتاج دی ۔ د هغوئ لاسونه خو پخپله هغه ته غوړید لی دی ۔ هغوی خو پخپله خپل سخته هم په خپل طاقت نشی لرے کولے نو ستاسو نه به څه سخته لرے کړی ۔ د زمکے نه د آسمانونو پورے په دے بے پایاوه کائنات کښے چه څه کیږی ، هغه اِلّا د یو خدائے په حکم سره کیږی ۔ د هغه سره په کار کښے هیڅوک شریک نهٔ دے چه کنی هغه به د یو بنده په قسمت اثر او غورزوی ۔

۲۶ دلته د موقع او د محل نه پخپله معلومیږی چه د آلاء لفظ د کمالاتو په معنی کښے استعمال شوے دے ۔ د فانی مخلوق نه چه هر څوک ځان ته د لویئ ګمان اوکړی او خپل فانی اختیارات بے زواله اوګڼړی او غرور شروع کړی نو هغه که په ژبه د الله تعالیٰ عظمت او لویئ ته دروغ نهٔ وائی نو په خپل عمل سره ئے ضرور دروغ ګڼړی ۔ د هغه غرور کول پخپله د الله لوئ دروغ ګڼړل دی ، هغه چه د کمال هره دعویٰ په خپله ژبه کوی یا د هغے دعویٰ په خپل زړه کښے لری ، نو هغه د اصلی کمال والا د مقام او د منصب نه انکار دے ۔

۲۷ یعنی په دے جهان کښے هر وخت د هغه د کارونو یوه نهٔ ختمیدونکی سلسله جاری ده ۔ څوک وژنی او څوک ژوندی کوی ۔ څوک اوچتوی او څوک را غورزوی ۔ چا له صحت ورکوی او څوک په رنځ کښے مبتلا کوی ۔ د وبیدونکے بچ کوی او لا مبوزن د وبوی ۔ بے شماره مخلوق له قسما قسم رزق ورکوی ۔ بے حسابه څیزونه د نوی نوی شکلونو او د نوو نوو صفتونو سره پیدا کوی ۔ د هغه دُنیا هیڅرے په یو حال نهٔ وی ۔ هره ګړئ د دُنیا حالات بدلیږی را بدلیږی او د هغے خالق هر ځل هغے له یو دا سے نوے شکل ورکوی چه هغه د مخکینو شکلونو نه مختلف وی ۔

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۳۰﴾ سَنَفْرُغُ لَکُمْ اَیُّهَ الثَّقَلٰنِ ﴿۳۱﴾

نو اے پیریانو او انسانانو، تاسو به د خپل رب کوم کوم صفتونه دروغ ګڼئ؟[۲۸]
اے په زمکه باندِ بار شوو پیټو،[۲۹] مونږ به ستاسو نه د تپوس کولو د پاره په زر روزګار یږو،[۳۰]

۲۸ه دلته د آلاء معنیٰ صفتونه زیات موزون ښکاری ۔ هر سړے چه څه قسم شرک کوی نو هغوی په اصل کښے د اللہ تعالیٰ یو صفت خامخا دروغ ګڼی ۔ که څوک دا اُووائی چه فلانی حمًا نه مرض لرے کړو نو دَ دے مطلب دا دے چه اللہ شفا ورکوونکے نه دے بلکه هغه فلانے شفا ورکوونکے دے ۔ که څوک دا اُووائی چه د فلانی بزرګ په مهربانئ سره ماته روزګار ملاؤ شو نو دَ دے مطلب دا شوچه اللہ روزی ورکولو والا نهٔ دے بلکه هغه بزرګ رُوزی رَسان دے ۔ که څوک دا اُووائی چه د فلانی دربار نه حمًا مُراد پوره شو نو دَ دے مطلب دا شوچه په دُنیا کښے د اللہ حکم نهٔ چلیږی بلکه د هغه دربار حکم چلیږی ۔ غرض دا چه د شرک هره یوه عقیده او د شرک هره یوه خبره خامخا د اللہ یو صفت ته د دروغو نسبت کوی ۔ د شرک معنیٰ هم دا ده چه سړے د اللہ نه بغیر بل چا ته هرڅه اوریدونکے او هرڅه لیدونکے[۲] په غیب پوهه، په خپل اختیار کار کونکے او په هرڅه قادِر وائی او د دے خبرې نه انکار کوی چه اللہ یوازے د دے صفتونو مالک دے ۔

۲۹ه په اصل کښے لفظ ثَقَلَان استعمال شوے دے چه مادّه ئے ثقل ده ۔ د ثقل معنیٰ ده پیټے، او ثِقل هغه پیټی ته وئیلے شی چه د څورلئ د پاسه اَچولے شوے وی ۔ د ثقلین لفظی معنیٰ ده "دوه بارکړے شوی پیټی" ۔ دلته دا لفظ د پیریانو او د انسانانو د پاره استعمال کړے شوے دے ځکه چه دا دواړه په زمکه باندِ بارکړے شوی دی، او چونکه دا خبره د بَرَه نه هغه انسانانو او پیریانو ته کیږی چه هغوی د خپل رب د بندګئ نه په پاسه شوی دی، او وړاندِ هم خبره د ۴۵ آیت پورے هغوئ ته ده نو په دے وجه هغوی ته اَیُّهَ الثَّقَلٰنِ لفظ وئیلے شوے دے، یعنی خالق د خپل مخلوق دِ دواړو نالا یقو مولو ته فرمائی چه اے ځما په زمکه باندِ بار شوو پیټو، په زر زرځه ستاسو د خبر اغستو د پاره روزګار یږم ۔

۳۰ه د دے مطلب دا نهٔ دے چه په دے وخت کښے اللہ تعالیٰ دا سے مشغول دے چه هغه ته د دے نا فرمانو خلقونه د تپوس کولو وخت نهٔ ملاویږی ۔ بلکه د دے مطلب په اصل کښے دا دے چه اللہ تعالیٰ یو خاص وخت مقرر کړے دے چه د هغے مطابق به هغه اوّل په دے دُنیا کښے د پیریانو او د انسانانو نسلونه د یوے خاصے مودے پورے پیدا کوی او هغوی له به په دُنیا کښے د کار کولو موقعه ورکوی ۔ بیا به په یو خاص وخت کښے د امتحان دا وخت یو دم ختم کړے شی او کوم پیریان او انسانان چه په هغه وخت موجود وی هغوی به ټول په یَو ځائے کړے شی ۔ بیا یو بل وخت د انسانانو او د پیریانونه د تپوس کولو د پاره د هغه سره مقرر دے، کله چه هغه وخت راشی نو اوّلین او آخرین به ټول د نوی سر نه بیا راژوندی کړے شی او یو ځائے ته به راغونډ کړے کړے شی ۔ د دے خاص مقرر وخت په لحاظ سره فرمائیلے شوی دی

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۳۲﴾ یٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ
اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
فَانْفُذُوْا ؕ لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿۳۳﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا

(بیا به اُوکورو چه) تاسو دَ خپل رب کوم کوم احسانونه دروغ ګڼئ[۳۱] ـ آ دَ پیریانو او دَ انسانانو ډلے، که تاسو دَ زمکے او دَ آسمانونو دَ حدونونه بهر وتلے شئ نو اُوزئ ـ نهٔ شئ وتلے ـ دَ دے دَ پاره پرزُور پکار دے[۳۲] ـ تاسو به دَ خپل رب کوم کوم قدرتونه

چه اُوس مونږه دَ اولنی دَور کارکوو او دَ دویم دَور وخت لا نهٔ دے راغلے، نو دَ دیم دَور کار به په دے وخت کښے څنګه شروع کړے شی ـ لیکن تاسو یَرَیږئ مهٔ ، پرزر هغه وخت را روان دے چه مونږه به ستاسو دَ پاره وزګار شو ـ دَ دے ناوزګار تیا دا مطلب نهٔ دے چه الله تعالیٰ په کارکښے دا سے مشغول دے چه بل کار ته نهٔ وزګاریږی ـ بلکه دَ دے مثال دا سے دے لکه چه یو سړی دَ مختلفو کارونو دَ پاره خاص خاص وختونه مقرر کړی وی او دَ هغے مطابق چه دَ کوم کار وخت نهٔ وی راغلے دَ هغے په باره کښے هغه اُوائی چه څه اُوس دَ هغه کار دَ پاره وزګار نهٔ یم ـ

۳۱ه دلته دَ آلاء معنیٰ قدرتونه هم کیدے شی ـ روان عبارت ته چه اُوکتے شی نو دا دواړه معنے په یو لحاظ سره مناسبے بنکاری ـ که یوه معنیٰ واغلے شی نو مطلب به داوی چه نن تاسو زمونږ دَ نعمتونو ناشکری کوئ او کفر او دَ شرک او دَ هریت او دَ نافرمانئ په مختلفو لارو روان یَئ او قسما قسم نمک حرامی کوئ ، خو صباله چه کله دَ تپوس وخت راشی په هغه وخت به مونږ ګورو چه زمونږ دا کوم کوم نعمت تاسو اتفاقی حادثه ، یا دَ خپل قابلیت نتیجه یا دَ یو بزرګ دَ مهربانئ کارنامه ثابتوی ـ که دویمه معنیٰ واغلے شی نو نو مطلب به داوی چه نن تاسو په قیامت پورے ، او په حشر نشر او حساب کتاب پورے ، او په جنت دوزخ پورے تړلے کوئ او دا موګمان دے چه دا سے هډ وکیدے نهٔ شی ـ لیکن کله چه مونږه دَ تپوس دَ پاره تاسو راکیږو او هغه هرڅه ستاسو مخے ته راشی چه نن تاسو دَ هغے نه انکار کوئ نو په هغه وخت کښے به مونږه اُوکورو چه تاسو زمونږ کوم کوم نعمت دروغ ګڼئ ـ

۳۲ه دَ زمکے او دَ آسمانونو نه مُراد دے کائنات ، یا دَ خدائے خدائی ـ دَ آیت مطلب دا دے چه دَ خدائے دَ ګرفت نه بچ کیدل ستاسو په وَس کښے نهٔ دی ـ دَ کوم تپوس چه تاسو له خبر درکړے کیږی دَ هغے وخت چه راشی نو کله تاسو په هرڅائے کښے یَئ اُوبه نیولے شئ ـ دَ هغے نه دَ بچ کیدو دَ پاره دَ خدائے دَ خدائیَئ نه بهر وتل ضروری دی او هغه ستاسو په وَس کښے نهٔ ده ـ

تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۴﴾ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ ۙ وَّنُحَاسٌ فَلَا
تَنْتَصِرٰنِ ﴿۳۵﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۶﴾ فَاِذَا انْشَقَّتِ
السَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿۳۷﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۸﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَنْ ذَنْۢبِهٖٓ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ﴿۳۹﴾

دروغ ګڼئ؟ (که د تیښتې کوشش کوئ نو) په تاسو به د ډول ډول شغله اولوکے[۳۳] در پریښود ے کیږی چه د هغې مقابله به تاسو نهٔ شئ کولے ۔ اے پیریانو او انسانانو، تاسو به د خپل رب د کومو کومو قدرتونو نه اِنکار کوئ؟

نو (څه حالت به وی په هغه وخت کښے) کله چه آسمان اُوشلیږی او د سُرے څرمنے پشان[۳۴] سُورشی؟ اے پیریانو او انسانانو (په هغه وخت کښے به) تاسو د خپل رب کوم کوم قدرتونه دروغ ګڼئ؟[۳۵]

په هغه ورځ به د انسان[۳۶] او د پیرئ نه د هغه د ګناهونو په حقله د تپوس کولو ضرورت نهٔ وی،

که دا سے څه خیال موپه زړه کښے وی نو خپل زور اُولګوی او اُوګورئ ۔

۳۳ یه اصل کښے الفاظ شُواظٌ او نُحَاسٌ استعمال کړے شوی دی ۔ شُواظ هغه خالص شُغلے ته وائی چه د هغې سره لُوګے نهٔ وی ۔ او نُحاس هغه خالص لُوګی ته وائی چه په هغې کښے شُغله نهٔ وی ۔ دا د واړه څیزونه به په انسانانو او پیریانو باندِ په هغه حالت کښے ورپریښود ے کیږی کله چه هغوی د اللہ تعالیٰ د تپوس نه د تیښتے کوشش کوی ۔

۳۴ دا د قیامت د ورځے ذکر دے ۔ د آسمان د شلیدو نه مُراد دے د آسمانونو تړون پرانړس کیدل، نمراوستوری سپوږمئ خواره واره کیدل، د عالمِ بالا نظام ګډوډ کیدل ۔ او دا چه فرمائیلے شوی دی چه آسمان به په هغه وخت کښے د سرے څرمنے پشان سُوروی، نو دَ دے مطلب دادے چه د قیامت په ورځ څوک د زمکے نه آسمان ته اُوګورئ نو هغه ته به دا سے معلومیږی لکه چه په ټول عالمِ بالا باندِ یو وُور لګیدلے وی ۔

۳۵ یعنی نن تاسو قیامت ناممکن ګڼئ چه د هغې مطلب دادے چه ستاسو په نزد اللہ تعالیٰ د هغې په راوستلو قادر نهٔ دے ۔ خو چه کله قیامت راشی او تاسو په خپلو سترګو هغه ټول هرڅه اُووینئ کوم چه تاسو ته ویلے کیږی، نو په هغه وخت کښے به تاسو د خپل رب د کوم کوم قدرت نه اِنکار کوئ؟

۳۶ د دے تشریح دا وړاندینئ فقره کوی چه "مجرمان به هلته د خپلو مخونونه پیژندے کیږی" ۔ مطلب دادے چه په دغه کنډه کښے،

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۴۰﴾ یُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ بِسِیْمٰهُمْ
فَیُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِیْ وَالْاَقْدَامِ ﴿۴۱﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۴۲﴾
هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِیْ یُکَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۴۳﴾ یَطُوْفُوْنَ
بَیْنَهَا وَبَیْنَ حَمِیْمٍ اٰنٍ ﴿۴۴﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۴۵﴾

وقف لازم

بیا به (اُوکتے شی چه) تاسو دواړه پ لے د خپل رب د کومو کومو احسانونو نه انکار کوئ۔ مجرمان به هلته د خپلو مخونونه پیژند ے شی او هغوئ به د تندی د ویښتونه او د خپونه نیو ے کیږی او را بنکلے کیږی به ۔ په هغه وخت کښے به تاسو د خپل رب کوم کوم قدرتونه دروغ ګنړئ ؟ (په هغه وخت کښے به اُوویلے شی) داهم هغه دوزخ د ے چه مجرمانو به دروغ ګنړلو۔ د د غه دوزخ او د یشیدلو اُوبو ترمنځه به هغوئ ځی راځی ۔ بیا به د خپل رب کوم کوم قدرتونه تاسو دروغ ګنړئ ؟

چه ټول اولین او آخرین به راجمع شوی وی ، د د ے ټپوس کولو هیڅ ضرورت نۀ وی چه څوک څوک پکښے مجرمان دی، نۀ به د انسان نه یا د پیړی نه د د ے ټپوس کولو ضرورت وی چه هغه مجرم د ے اوکه نۀ د ے۔ د مجرمانو زنګیدلی مخونه او د هغوی یرزړے ے ستړ ګے او یرزړے ے شکلونه او د هغوی نه بهیدونکی خولے به پخپله د د ے د پاره کافی وی چه هغوی مجرمان دی۔ د پولیسو په ګیره کښے چه ګنهګاراو بے ګناه خلق راګیرشی ، نود بے ګناه خلقو د مخونو اطمینان او د مجرمانو د مخونو پریشانی پخپله حال وائی چه مجرم څوک د ے او بے ګناه څوک د ے ۔ په دُنیا کښے دا خبره اکثر ځکه غلطه ثابتیږی چه د دُنیا په پولیسو باند د خلقو د انصاف کولو بروسه نۀ وی ، بلکه اکثر خو د هغوی دلاسه د مجرمانو په نسبت شریفان خلق زیات پریشان وی ، نو په د ے وجه په دُنیا کښے دا امکان شته چه د پولیسو په ګیره کښے شریفان خلق د مجرمانو نه هم زیات یرزړی وی ۔ لیکن په آخرت کښے چه د هر شریف انسان په الله تعالیٰ باند د صحیح انصاف کولو کامله بروسه وی، هلته به دایره صرف په هغه خلقو را ځی چه هغوی به د مجرم په حیثیت سره د خپل ځان نه بنه خبر وی او میدانِ حشر ته د رسید و سره به د هغوی دا یقین را غلے وی چه اُوس د هغوی د هغه سزا وخت راغلے د ے چه هغوی به په دُنیا کښے ناممکن یا شکمن ګنړلو او جرمونه به ئے کول ۔

۳۷؎ د قرآن په نظر کښے د جرم حقیقی بُنیاد دا د ے چه بنده د خپل رب د کومو نعمتونو نه فایده حاصلوی د هغے په حقله داګان اُوکړی چه دا نعمتونه ماله چا نۀ دی راکړی بلکه ماته پخپله ملاؤ شوی دی ، یا دا نعمتونه ماله خدائے نۀ دی راکړی بلکه ځما خپل قابلیت د ے او ځما خپله خوش نصیبی

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿۴۶﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

اوهر هغه څوک چه د خپل رب په دربار کښے د پیش کیدو نه یَرَیِّږی[۴۵] د هغه د پاره دوه باغونه[۴۶] دی - د خپل رب

ده ، یا دا چه راکړی خو خدائے دی لیکن د هغه خدائے په خپل بنده باندِ هیڅ حق نشته ، یا دا چه الله تعالیٰ پخپله دا مهربانیا نے په مانه دی کړی بلکه بل چا پرِ په سفارش کړی دی - دا هغه غلط خیالات دی چه دَ دے . په وجه سره د خدائے نه بے پروا اود هغه د بندګئ نه آزاد شی او په دُنیا کښے هغه کارونه کوی چه د کومونه خدائے منع کړے وی اوهغه کارونه نه کوی چه د کومو حکم هغه کړے دے - په دے لحاظ سره هر جُرم اوهر ګناه په حقیقت کښے د الله تعالیٰ احسانونه دروغ ګڼل دی خواه که څوک په ژبه د هغے اِنکار کوی اوکه اِقرار - خو څوک چه په حقیقت کښے د دروغو ګڼلو اراده نه لری ، بلکه د هغه په ذهن کښے تصدیق موجود وی ، د هغه نه چه کله نا کله د بشری کمزورئ په وجه څه قصور اُوشی نو د هغے معافی د الله تعالیٰ نه غواړی اود هغے نه د بچکید و کوشش کوی. په دے څیز سره هغوی په دروغ ګڼونکو خلقو کښے د شامل ید ونه بچ کیږی - د دے نه سِوا باقی نور ټول مجُرمان په حقیقت کښے د الله تعالیٰ نعمتونه دروغ ګڼونکی دی اود هغه د اِحسانونونه اِنکار کونکی دی - په دے وجه اُوفرمائیلے شو چه تاسو کله د مجُرم په حیثیت سره اُونیولے شئ نو په هغه وخت کښے به مونږ کور و چه تاسو زمونږ د کوم اِحسان نه اِنکار کوئ - په سورة تکاثُر کښے هم دا خبره په دے طریقه شوی ده چه لَتُسْـَٔلُنَّ یَوْمَىِٕذٍ عَنِ النَّعِیْمِ ، په هغه ورځ به ستاسونه د هغه نعمتونو په باره کښے ضرور تپوس کیږی کوم چه تاسو له درکړے شوی وُو - یعنی دا تپوس به کیږی چه دا نعمتونه مونږ د تاسو له درکړی وُو اوکه نه؟ اود دے نعمتونو د مِلا ویدونه روستو تاسو د خپل محُسِن سره څه سلوک اُوکړو؟ او د هغه نعمتونه موځکه استعمال کړو۔

۳۸ یعنی په دوزخ کښے به د هغوی د ننتدے دَلاسه بد حال وی ، په منډه منډه به د اُوبو چینوله ورځی خوهلته به پشید لی اُوبه مِلا ویږی چه د هغے په ځکولو سره به تنده نه مړه کیږی - دغه شان د دوزخ او د چینو په منځ کښے به منډو تر ړوکښے د هغوی عمرونه تیریږی -

۳۹ یعنی آیا په هغه وخت کښے به هم تاسو د نه انکار کولے شئ چه خدائے قیامت راوستے شی ، تاسو له د مرګ له روستو بیا دُوباره ژوند درکولے شی ، ستاسونه تپوس هم کولے شی ، او داد وزخ هم جوړ ولے شی چه په کوم کښے تاسو ته ننه سزا مِلا ویږی ؟

۴۰ یعنی چا چه په دُنیا کښے د خدائے نه په یَره یَره ژوند تیر کړے وی ، چه هیڅه ورسره دا فکر وی چه څه په دُنیا کښے د بے مُهاره اُوبس پشان نه یم ، بلکه یوه ورځ به څه خپل رب ته محاسبه کیږم او خُماسره به حساب کتاب کیږی - دا عقیده پخه د چاوی هغه به خامخا د نفس د خواهشاتو د بندګئ نه بچ وی - په ږند وبه په هره لاره نه ځی - په حق او په باطل کښے ، په ظلم او په انصاف کښے ، په پاک او په ناپاک کښے او په حلال او په حرام کښے به تمیز کوی - او قصداً به د خدائے د حکمونونه مخ نه اړوی - هم دا د

تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۷﴾ ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ﴿۴۸﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۹﴾
فِيْهِمَا عَيْنٰنِ تَجْرِيٰنِ ﴿۵۰﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۱﴾

کوم کوم نعمتونه به تاسو دروغ ګڼئ[۴۲] ؟ د شنو شنو څانګونه ډک - د خپل رب کوم کوم نعمتونه به تاسو دروغ ګڼئ ؟ په دواړو باغونو کښے د دوه روانے چینے - د خپل رب کوم کوم نعمتونه به تاسو دروغ ګڼئ ؟

هغه بدلے اصل سبب دے کوم چه وړاندے بیانیږی -

[۴۱] د جنت اصلی معنیٰ ده باغ - په قرآن مجید کښے خوچرته هغه ټول عالم ته جنت وئیلے شوے دے په کوم ځائے کښے چه به نیکان خلق ژوند لے کیږی ، یعنی داچه هغه پوره یو باغ دے - اوچرته فرمائیلے شوی دی چه د هغوی د پاره جنتونه دی چه لاندے به ترنهرونه بهیږی - د د مطلب دا دے چه په هغه لوئ باغ کښے بے شماره باغونه وی - او دلته خاص طور وئیلے شوی دی چه هر نیک سړی له به په هغه لوئ جنّت کښے دوه دوه باغونه ورکړے کیږی چه د هغه د پاره به خاص کړے شوی وی ، چه په هغے کښے به د هغه مانړئ وی ، چه په هغے کښے به هغه د خپلو ملګرو او خادمانو سره د شاهانه شان وشوکت سره اوسیږی ، چه په هغے کښے به د هغه د پاره هغه څه وی کوم چه وړاندے بیانیږی -

[۴۲] د دے ځائے نه د آخره پورے د آلاء لفظ د نعمتونو په معنیٰ کښے هم استعمال شوے دے او د قدرتونو په معنیٰ کښے هم - او یواړے په دے کښے د بنو صفتونو هم دے - که اوله معنیٰ واخستلے شی نو دلته به د دے فقرے د بار بار بیانولو دا مطلب وی که تاسوئے د روغ ګڼئ نو ګڼئ ئے ، خدا ترسه خلقوته خوبه د خپل رب د طرفنه دا نعمتونه ضرور ملاویږی - که دویمه معنیٰ واخستلے شی نو د دے مطلب به دا وی که ستاسو په نزد اخبار نامکنه وی چه الله بعنت جوړ ولے شی او په هغے کښے دا نعمتونه خپلو نیکو بندګانو له ورکولے شی نو وی یے ، الله یقیناً د دے قدرت لری او هغه به خامخا دا کار کوی - د دریمے معنیٰ په لحاظ سره د دے مطلب دا دے چه تاسو الله تعالیٰ دا سے ګڼئ چه هغه ګنی د نیکئ او د بدئ تمیز نهٔ شی کولے - ستاسو په نزځو هغه دومره لویه د نیا جوړه کړی ده لیکن که په هغے کښے څوک ظلم کوی او که انصاف کوی ، که د حق د پاره کار کوی او که د باطل د پاره ، که شرخور وی او که خیر ، د هغه سره د دے هیڅ پروا نشته - هغه به نهٔ ظالم له سزا ورکوی او نهٔ به د مظلوم فریاد اوری - نهٔ د خیر قدردان دے او نهٔ د شر نه نفرت کونکے - او هغه ستاسو په خیال کښے عاجز هم دے - زمکه او آسمانونه خو هغه جوړ کړی دی ، لیکن د ظالمانو د سزا د پاره دوزخ او د حق پرستو د بدلے د پاره جنّت نهٔ شی جوړ ولے - نن که تاسو هر څومره د هغه صفتونه دروغ ګڼئ نو ګڼئ ئے - صباله چه کله هغه ظالمان دوزخ ته وراړغورزوی او حق پرستو له په جنت کښے نعمتونه ورکړی ، نو آیا به هغه وخت کښے به هم تاسو دے صفتونو ته دروغ وئیلے شئ ؟

فِيهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿٥٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٣﴾
مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ فُرُشٍ بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ۚ وَجَنَى
الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٥﴾ فِيهِنَّ
قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٥٦﴾

په دوارو باغونوکښے دَ هر ميوے دوه قِسمونه[۴۳] ـ تاسو به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟ جنتيانو خلقو به په داسے فرشونو باندِ ډډے وهلی وی اوناست به وی چه دَ هغے استرَونه به دَ دبيز ريښمونه جوړ[۴۴] وی ، او دَ باغونو څانګے به دَ ميوو دَ لاسه بنکته زنګيږی ـ تاسو دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟ دَ دے نعمتونو په منځ کښے به شرمناکے بنځے[۴۵] وی چه دَ دے جنتيانونه وړومبے به ورله يو انسان يا يو پيری کوتے ور نږدے نه وی[۴۶] ـ

۴۳ دَ دے يو مطلب داکيدے شی چه دَ دواړو باغونو ميوے به نا اشنا نا اشنا وی چه يو باغ ته لاړشی نو دَ هغے ميوے به بل شان وی ـ دويم مطلب داهم کيدے شی چه په هر باغ کښے به يو قسم ميوے دَ دُنيا دَ ميوو پشان وی ، اګرچه په خوند کښے به دَ دُنيا دَ ميوونه ډيرے خوند ناکے وی ، او بل قِسم ميوے به داسے نا اشنا وی چه په دُنيا کښے به ئے چرته په خوب کښے هم نه وی ليدلی ـ

۴۴ يعنی چه اَسترے ئے داسے وی نو اندازه اُولګوه چه اَبرے به ئے څنګه وی ـ

۴۵ دا دَ بنځے اصلی بنه والے دے چه هغه بے شرمه او بے باکه نه وی بلکه په سترګو کښے حيا لری ـ دا وجه ده چه اللہ تعالیٰ دَ جنت په نعمتونو کښے دَ بنځو ذکر تولو صفتونونه وړومبے دَ هغوی دَ بنائسته صفت اُونه ګڼلو بلکه دَ هغوئ دَ حيا او دَ پاکدامنئ صفت ئے اُوګڼلو ـ بنکلے بنځے خو په کليو نو او فلمی نګارخانو کښے هم راجمع کيږی ، او دَ حُسن په مقابلو کښے خو بنکلی بنځه مُنتخب کيږی ، ليکن په هغوئ کښے خو صرف بد اخلاقه خلق دلچسپی اخيستے شی ـ دَ يو شريف انسان هغه حُسن نه خوښيږی کوم چه هر بد نظرته دَ سيل بلنه ورکوی او دَ هر ے غيږے دَ بنکلا دَ پاره تيار وی ـ

۴۶ دَ دے مطلب دا دے چه دَ دُنيا په ژوند کښے که يوه بنځه به واده مړه شوی وی اوکه دَ چا بنځه پاتے شوی وی ، که څوانه مړه شوی وی اوکه بوډئ ، په آخرت کښے چه کله دا ټول نيکان بنځے جنت ته داخليږی نو پيغلے پيغلے جونه به تر جوړے کړے شی ، اوهلته چه کومه بنځه دَ نيک سړی سره جوړه کړے کيږی نو هغه به په جنت کښے دَ خپل خاوند نه مخکښے دَ هيڅا په تصرف کښے نه وی راغلی ـ

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۵۷﴾ کَاَنَّھُنَّ الْیَاقُوْتُ
وَالْمَرْجَانُ ﴿۵۸﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۵۹﴾ ھَلْ جَزَآءُ
الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ ﴿۶۰﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۱﴾

تاسو به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟ داسے ښایسته لکه یاقوت (هیره) اومرجان (ملغلرے) ۔ تاسو به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ ؟
د نیکئ بدله د نیکئ نه سوا بله څه کیدے شی[۴۷] ۔ نو اے پیریانو او انسانانو تاسو به د خپل رب د کومو کومو بنو صفتونونه انکار کوئ؟[۴۸]

د دے آیت نه یوه خبره دا هم معلومه شوه چه جنّت ته به د نیکو انسانانو پشان نیکان پیریان هم داخلیږی، اوهلته چه څنګه د انسانانو سړو د پاره انسانانے ښځے وی د غسے به د پیریانو نارینو د پاره پیریانے زنانه هم وی ۔ د دواړو د ملګرتیا د پاره به جُوړے هم د هغوئ د جنس نه وی ۔ داسے به نهٔ وی چه د هغوی جوړئ به د بدل جنس نه وی چه فطرتونه به ئے د یو بل نه مخالف وی ۔ د آیت د الفاظ چه " د هغوی نهٔ ړومبے به ورله یو انسان یا یو پیری کوتے نهٔ وی ورورې"، دا معنیٰ نهٔ لری چه هلته به ښځے صرف د انسانانو نه وی او هغوی له به د خپلو خاوندانو نه مخکښے یو انسان یا یو پیری کوتے نهٔ وی ورورې، بلکه د دے اصل مطلب دا دے چه هلته به د پیریانو او د انسانانو، یعنی د دواړو جنسونو ښځے وی ، ټولے به حیادارے پیغلے وی ، نهٔ به ښاپیرئ ښځے ته د خپل جنّتی خاوند نه مخکے یو پیری سړی کوتے ورورې وی او نهٔ به انسانے ښځے ته د هغے د جنّتی خاوند نه مخکښے یو انسان سړی کوتے ورورې وی۔

۴۷ یعنی آخر دا څنګه کیدے شی چه کومو خلقو د اللہ د پاره په دُنیا کښے ټول عُمر په خپل نفس باندِ پابندیانے ګولی وی، د حرامونهٔ ئے ځان بچ کړے وی او په حلالو باندِ ئے صبر کړے وی، خپل فرائض ئے اداکړی وی، د هرڅه د حق ئے اداکړے وی، او د شر په مقابله کښے ئے د خیر د پاره هر قسمه تکلیفونه او مصیبتونه برداشت کړی وی، د هغه داټولے قربانیانے د اللہ عبث کړی او هغه له د دے اجر نهٔ ورکوی ؟

۴۸ ښکاره خبره ده چه څوک د جنّت نه او د هغے د اجر او د ثواب نه منکروی هغه په اصل کښے د اللہ تعالیٰ د پیرو بنو بنو صفتونونه انکار کوی ۔ هغه که چرے خدائے منی هم نو د دے په حقله ډیره خرابه عقیده لری ۔ د هغه په نزد خدائے یوړوند بادشاه دے چه په بادشاهئ کښے ئے نیکی کول هسے دریاب ته خپله نیکی غورزول دی ۔ هغه خو یا اللہ تعالیٰ یوړوند اوکوټ بادشاه ګڼی چه هیڅ د دے نه

وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ ﴿٦٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٣﴾
مُدْهَامَّتٰنِ ﴿٦٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٥﴾ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ

اودغه دُوَو باغونونه علاوه به دوه باغونه نُور وئ[۴۹] ـ تاسوبه دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ ـ ګنډشنه شنه اوتازه تازه باغونه[۵۰] ـ تاسوبه دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ ـ په دواړو باغونوکښې دوه چینې

خبرنهٔ دے چه دَ هغه په خدایئ کښے څوک دَ هغه دَ رضا دَ پاره خپل سراومال قربانوی ـ یا دَ هغه په نزاالله تعالیٰ په هیڅ نهٔ پوهیږی ، دَ بنه اوبد تمیز نهٔ شی کولے ـ یا دَ هغه په خیال کښے الله تعالیٰ عاجزه اوبے وَسه دے ـ که دَ نیکئ پیرقدر ورسره وی خودَ هغے بدله ورکول ئے په وَس کښے نهٔ دی ـ په دَ وجه ئے اوفرمائیل چه کله په آخرت کښے دَ نیکئ نیکه بدله ستاسوپه مخکښے ورکړے کیږی ، نوآیا په هغه وخت کښے به هم تاسودَ خپل رب دَ ستائیلو شوو صفتونونه انکارکولے شئ ـ

۴۹ اصل الفاظ دی مِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ ـ دُون لفظ په عربئ ژبه کښے دَ دریو مختلفو معنو دَ پاره استعمالیږی ـ یو، دَ اوچت څیز په مقابله کښے لاندے ، دویم ، دَ غوره څیز په مقابله کښے دَ کمے درجے څیز ـ دریم ، دَ یوڅیزنه ماسوا یا علاوه بل څیز ـ دَ دے مختلفو معنوپه وجه په دے الفاظوکښے یوه اندازه داده چه هرجنّتی ته به دَ اولنو دوَو باغونونه علاوه دا دوه باغونه نور ورکړے کیږی ـ دویمه اندازه داده چه دا دواړه باغونه به دَ پاسنو دوَو باغونو په نسبت په مقام یاپه مرتبه کښے کم وی ـ یعنی اولنی دوه باغونه یاخو به په اوچت ځائے باندے وی اودابه دَ هغے نه لاندے وی ، یا به اولنی دوه باغونه دَ پورے اعلیٰ درجے باغونه وی او دابه دَ هغے په مقابله کښے دَ کمے درجے وی ـ که اولنئ اندازه واغستے شی نودَ دے معنی داده چه دادوه زیاتی باغونه هم دَ هغه جنّتیانودَ پاره دی کوم چه بَره ذکرکړے شوی دی ، اوچه دویمه اندازه واغستے شی نومطلب به داوی چه اولنی دوه باغونه دَ نزدیکانودَ پاره دی اوادوه باغونه دَ اصحاب الیمین یعنی دَ نبی ارخ دَ مومنانودَ پاره دی ـ په دویمه اندازے ته چه په څه څیز تقویت ملاویږی هغه دادے چه په سورهٔ واقعه کښے دَ نیکانوانسانانودوه قسمونه بیان کړے شوی دی ـ یوسابقین ، چه مقربین ورته هم وئیلے شوی دی ، دویم اصحابُ الیمین ، چه اصحابُ المیمنه ورته هم وئیلے شوی دی ـ اودَ دے دواړودَ پاره دَ دوو جنّتونوصفتونه جُدا جُدا بیان کړے شوی دی ـ دَ دے دَ پاسه دِ دے احتمال یعنی اندازے ته هغه حدیث هم تقویت رَسَوی کوم چه دَ حضرت ابوموسیٰ اشعری نه خپل خُوی ابوبکر روایت کړے دے ـ په هغے کښے هغه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ، دوه جنتونه به دَ سابقینو ، یا مقربینو دَ پاره وی چه لُونبی اودَ بنائست هرڅیزبه ئے دَ سروزرو وی ، اودوه جنّتونه به دَ تابعینو ، یا دَ اصحاب الیمین دَ پاره وی چه دَ هغے هرڅیزبه دَ سپینوزرو وی ، فتح الباری کتاب التفسیر تفسیر سورهٔ رحمٰن) ـ

۵۰ دَ دے باغونوپه تعریف کښے لفظ مُدْهَامَّتَان استعمال شوے دے ـ مُدْهَامَّه داسے کڼ شینوالی

نَضَّاخَتٰنِ ﴿٦٦﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٧﴾ فِیْهِمَا فَاكِهَةٌ
وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٩﴾ فِیْهِنَّ
خَیْرٰتٌ حِسَانٌ ﴿٧٠﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧١﴾ حُوْرٌ
مَّقْصُوْرٰتٌ فِی الْخِیَامِ ﴿٧٢﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٣﴾

د فوارو پشان خوتکیدونکی ۔ تاسو به د څپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ ؟ په دواړو کښے دوه دوه میوے اوکجورے اوانار ۔ تاسو به د څپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ ؟ د دے نعمتونو په منځ کښے به نیک خویه اوښائسته بیبیانے وی۔ تاسو به د څپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ ؟ په خیمو کښے ساتلے شوی حُورے[۵۱] به وی ۔ تاسو به د څپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟

ته وائی چه د دوه سرشینوالی د وجے نه تورو الی ته مائل شوے وی ۔

۵۱ د حُورو د تشریح د پاره اوګورہ تفہیم القرآن ۴ څلورم جلد، تفسیر د سورۃ صافات، حاشیه ۲۸ - ۲۹ - اوتفسیر د سورۃ دُخان حاشیه ۴۲ - د خیمونه مُراد غالباً هغه قسم خیمے دی چه د امیرانو اوسردارانو د پاره د سیل په ځایونو کښے لګولے کیږی۔ غالب ګمان دا دے چه د جنتیانو بیبیانے به د هغوی سره د هغوی په مانړو کښے وی اود هغوی د سیل په ځایونو کښے به ځائے په ځائے خیمے لګیدلی وی چه په هغے کښے به د هغوی د لطف اود آرام د پاره حُورے وی ۔ زمونږ د دے قیاس بُنیاد دا دے چه اول د نیک خویه اوښائسته بیبیانو ذکر شوے دے ۔ د هغے نه روستو اُوس د حورو د ذکر کولو مطلب دا دے چه دا به د هغه بیبیانو نه جدا قسم ښځے وی ۔ دے قیاس ته زیات تقویت د هغه حدیث نه حاصلیږی کوم چه د حضرت اُمّ سَلَمے نه روایت کړے شوے دے ۔ هغه فرمائی چه "ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اُوکړو چه اے د الله رسوله د دُنیا ښځے بهتر دی اوکه حُورے ؟ نبیؐ جواب ورکړو، ته د دُنیا ښځے د حُورونه هغسے غوره دے لکه څنګه چه ابرے د استر نه غوره وی ۔ ما تپوس اُوکړو چه په کومه وجه ؟ نبیؐ اُوفرمائیل چه د دُنیا ښځو مونځونه کړی دی، روژے نیولی دی اوعبادتونه ئے کړی دی" (طبرانی) ۔ د دے نه معلومه شوه چه د جنتیانو بیبیانے به هغه ښځے وی کومو چه په دُنیا کښے ایمان راوړے وی اونیک عملونه ئے کړی وی اوهم په دے حالت کښے د دُنیا نه رخصت شوی وی ۔ دوئ به د څپل ایمان اود نیک عمل په وجه جنّت ته داخلیږی او پخپله به د جنّت د نعمتونو حقدارے وی ۔ دوئ به د څپلے مرضئ اود څپلے خوښے مطابق یا خو د څپلو مخکینو خاوندانو بیبیانے وی، په دے شرط چه هغوی هم جنتیان وی، یا به بیا الله تعالیٰ دوئ یوبل جنّتی ته ورواده کړی، خو هغه چه هغوئ دواړه د یوبل ملګرتیا خوښه کړی۔ پاتے شو حُورے، نو هغوئ به د څه نیک عمل په وجه جنتیانے نه وی، بلکه الله تعالیٰ به د جنّت د نورو نعمتونو پشان

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٧﴾ تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ
ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴿٧٨﴾

دَدے جنتیانونه ړومبے به ورله نهٔ یوانسان اونهٔ یوپیری کوتے ور ورې وی۔
تاسوبه دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟ هغه جنتیان به په شنو
قالینونو او سوتره او نا اشنا فرشونو[۵۲] باندِ ناست وی او دوے به ئے وهلی وی۔
تاسوبه دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟
ډیر برکتناک دے دَ جلیل او کریم رب نوم ـ ع

هغوئ هم دَ جنّتیانو دَ پاره دَ یو نعمت په طور پیدا کړی او جنّتیانو له به ئے ورکړی
دَ پاره دَدے چه جنتیان دَ هغوئ په ملګرتیا سره خوشحاله وی ـ لیکن دا به دَ پیریانو او
دَ بنا پیرودَ قسم نه نهٔ وی، ځکه چه انسان ځکله هم دَ بدل جنس دَ ملګرتیا سره اشنا کیدے
نهٔ شی ـ په دے وجه غالب ګمان داد ے چه دا به هغه ماشومانے جینکئ وی چه دَ ورکوالی په
حالت کښے مړے شی او مُوراو پلار ئے دَ جنّت مستحق نهٔ وی چه ځکنی دَ هغوئ دَ اولاد په
حیثیت سره دَ هغوئ سره جنّت ته بوتلے شی ـ

۵۲ه په اصل کښے لفظ عَبْقَرِی استعمال شوے دے ـ دَ جاهلیت په زمانه کښے دَ عربو په
افسانوکښے دَ پیریانو دَ دارالسَّلْطنت نوم عَبقَرْ وُو چه موبنز ورته په اُردو ژبه کښے پرستان
(او په پښتو ژبه کښے دَ بنا پیرو بنار) وایو ـ دَ هغے په نسبت سره دَ عربو خلق هر
سوتره او نا اشنا څیز ته عَبْقَرِی وائی، یعنی هغه دَ بنا پیرو دَ بنار څیز دے چه مقابله
ئے دَدے دُنیا عام څیزونه نشی کولے ـ آن ترد ے پورے چه دَ هغوی په ژبه کښے داسے
سړی ته هم عَبْقَرِی وئیلے کیدے شی چه هغه دَ اوچت قابلیت مالک وی، چه نا اشنا
نا اشنا کارنامے کوی ـ په انګریزئ ژبه کښے (Genius) هم دَدے معنی دَ پاره
استعمالیږی، اوهغه هم دَ (Genii) نه را اخستے شوے دے چه دَ جن په
معنی دے ـ په دے وجه دلته دَ عربو خلقوته دَ جنّت دَ څیزونو دَ صفایئ او دَ
خوبئ دَ بنودلو دَ پاره عَبْقَرِی لفظ استعمال کړے شوے دے ـ

تفهم القرآن الكريم

الواقعة

٥٦

الواقِعَة

نوم | دَاولنی آیت لفظ الْوَاقِعَه دَدے سورۃ نوم کیښودلے شوے دے ۔

دَ نازلید وزمانه | حضرت عبداللّٰه بن عباسؓ چه دَ سورتونو دَ نازلید وکوم ترتیب بیان کړے دے په هغې کښے هغه فرمائی چه اول سورۃ طٰهٰ نازل شو ، بیا الواقعه او دَ هغې نه روستو الشعراء (الاتقان للسیوطی) ۔ دا ترتیب عِکرِمه هم بیان کړے دے (بیهقی ، دلائل النبوّۃ) ۔

دَدے تائید دَ هغه قیصّے نه هم کیږی کومه چه دَ حضرت عمر رضی اللّٰه عنه دَ ایمان راوړلو په باره کښے ابن هِشام دَ ابنِ اسحاق نه نقل کړی ده ۔ په هغې کښے دادی چه کله حضرت عُمر رضی اللّٰه عنه دَ خپلے خُور کره ورننوتو نو سورۃ طٰهٰ لوستلے کیدو ۔ دَ هغه دَ خپو کشا چه ئے واوریده نو هغوی دَ قرآن پاڼے پټے کړے ۔ حضرت عمرؓ خو اول په خپل اوښی باندِ کوزار اُوکړو او چه کله دَ هغه خُور دَ خپل خاوند دَ بهٔ کولو دَ پاره راغله نو هغه ئے هم اُووهله اَن تردے چه سرئے مات شو ۔ دَ خور دَ سر وینے چه ئے اُولیدے نو حضرت عمرؓ سخت شرمنده شو اَووے وئیل چه مانه هغه صحیفه اُوښایئ کومه چه تاسو پټه کړی ده ۔ چه اُوخوئے کورم چه په هغې کښے څه لیکلی دی ۔ خُور ورته اُووے ، " ته دَ شرک په وجه پلیت ئے ، وَاَنَّهٗ لَا یَمَسُّهٗۤ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ، " دے صحیفے له صرف پاک سړے کوتے وو ورے شی " ۔ نو حضرت عمرؓ راپاسید واوغسل ئے اُوکړو او بیائے هغه صحیفه واغستله اوئے لوستله ۔ دَدے نه معلومه شوه چه په هغه وخت کښے سورۃ واقعه نازل شوے وُو ، ځکه چه هم په دے کښے لَا یَمَسُّهٗۤ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ آیت نازل شوے دے ۔ او دا خبره تاریخی طور ثابته ده چه حضرت عمرؓ دَ حبشے دَ هجرت نه روستو دَ نبوّت په پنځم کال کښے ایمان راوړے دے ۔

موضوع اومضمون | دَ آخرت ، دَ توحید او دَ قرآن په حقله چه دَ مکّے دَ کافرانو کوم شکونه وُو دَ هغې لرے کول دَدے سورۃ موضوع ده ۔ دَ ټولو نه زیات چه په کوم څیز دَ هغوئ یقین نه وُو هغه داوُو چه قیامت به راځی ، دَ زمکے او دَ آسمان ټول نظام به ګډوډ ږی او بیا به ټول مړه شوی انسانان دوباره راژوندی کیږی او دَ هغوئ سره به حساب کتاب کیږی ، نیکان خلق به دَ جنّت په باغونو کښے وی او ګنهګار خلق به دوزخ ته غور زَولے کیږی ۔ هغوئ وئیل چه دا ټولے خیالی خبرے دی دَدے کیدل ممکن نه دی ۔ دَدے په جواب کښے فرمائی چه کله قیامت راشی نو په هغه وخت کښے به څوک دا دروغ نه وائی چه دا قیامت نه دے ، نه به دَ چا داطاقت وی چه هغه منع کړی ، یا دَ واقع نه غیر واقعه جوړه کړی ۔ په هغه وخت کښے به ټول انسانان لاز مائه دریو طبقو کښے تقسیمیږی ۔ یوه طبقه ، سابقین ۔ دویمه طبقه ، عام صالحین ۔ دریمه طبقه هغه خلق چه دَ آخرت نه منکر وی او دَ مرګه پورے په کفر او شرک او په لویه ګناه باندِ ټینګ وی ۔ دَدے دریو طبقو سره چه به کومه معامله کیږی هغه په تفصیل سره دَ آیت ۷ نه دَ آیت ۵۶ پورے بیان کړے شوی ده ۔

دَدے نه روستو دَ آیت ۷۵ نه دَ آیت ۷۴ پورے چه دَ مکے کافرانو دَ اسلام دَ کومو بُنیادی عقیدو ، یعنی توحید او آخرت نه اِنکار کولو دَ هغې په صداقت باندِ پرلپسے دلیلونه ورکړے شوی دی ۔

په دے دلیلونو کښے د زمکے اود آسمان نور ټول څیزونه پریښودے شوی دی اود انسان توجه پخپله د هغه خپل وجود ته اوهغه خوراکونو ته چه هغه ئے خوری او هغه اوبو ته چه هغه ئے څکی اوهغه ووړته چه هغه پرخپل خورا کونه پخوی ، راګرزولے شوی ده ، اوهغه ته په دے خبره باندے د غور فکر کولو دعوت ورکړے شوے دے چه تهٔ کوم خدائے پیدا کړے ئے اود کوم خدائے په څیزونو غټیږے د هغه په مقابله کښے آخر تاته څه حق حاصل دے چه خپل واکه شے ، یا د هغه نه سوا د بل چا بندګی شروع کړے ؟ اود هغهٔ په حقله تا دا ګمان څنګه اوکړو چه تهٔ ئے یوځل پیدا کړے اوستا د یوځل پیدا کولو نه روستو بیا داسے عاجزه شوچه که دوباره تاپیدا کول غواړی هم خونهٔ دښې پیدا کولے۔

بیا د آیت ۷۵ نه د آیت ۸۲ پورے د هغوئ د هغه شکرنو تردید شوے دے کوم چه به هغوئ د قرآن په باره کښے کول اود هغوی فکر دے خبری ته راګرزولے شوے دے چه بد نصیبو ، دالوئ نعمت تاسوته راغلے دے اوتاسود د ے نه د فائدے اغستلو په ځائے الټا د د ے نه بے پروائی کوئ اودروغ ئے ګنړئ - د قرآن په صداقت باندے په دوو مختصرو فقرو کښے دا بے مثاله دلیل پیش کړے شوے دے چه که څوک په دے غور اوکړی نو په دے کښے به د ننه هغسے محکم نظام بیا موهی لکه څنګه چه د کائناتو د ستورونظام محکم دے ، اودا د د ے خبری دلیل دے چه د د ے مصنف هم هغه دے چاچه د کائناتو دا نظام جوړ کړے دے - بیا کافرانو ته وئیلے شوی دی چه داکتاب په داسے ځائے کښے لیکلے پروت دے چه هلته د مخلوق لاس نهٔ وررسی - ستاسو داخیال دے چه شیطانان دا قرآن محمد صلی الله علیه وسلم ته راوړی ، حالانکه داچه د لوح محفوظ نه د محمد صلی الله علیه وسلم پورے په کومه ذریعه رارسی په هغے کښے د پاکو اوبزرګو فرښتو نه سوا بل د هیچا یوه ذره د خل نشته -

په آخر کښے انسان ته وئیلے شوی دی چه که تهٔ هرڅومره اوچتے اوچتے خبری اوکړے او د خپل واکئ په غرور کښے هرڅومره د حقیقت نه ستر کے بند ے کړے خود د مرګ وخت ستا د بیدارولو د پاره کافی دے - په هغه وخت کښے تهٔ بالکل بے وسه ئے - خپل مور اوپلار نهٔ شے ښه کولے - خپل اولاد نشے ښه کولے - خپل مشران اوخواږه خواږه لیدرانهٔ شے ښه کولے - ټول ستا په مخ کښے مړی اوتهٔ ورته هسے کورے - که چرے یو اوچت طاقت ستا د پاسه د حاکم په حیثیت نشته اوستا دا ګمان صحیح دے چه په دنیا کښے بس تهٔ هرڅه هرڅه ئے ، خدائے وغیره نشته ، نود یومړ کید ونکی وتونکے روح ولے نهٔ واپس کوے ؟ لکه څنګه چه تهٔ په د ے معامله کښے بے وسه ئے د غه شان د خدائے حساب کتاب اود هغه جزا اوسزا منع کول هم ستا په اختیار کښے نهٔ دی - تهٔ ئے که مړے اوکه نهٔ ، د مرګ نه روستو به هرسړے خپل انجام خامخا وینی - که په نزد یکانو کښے ئے نود نزد یکانو انجام به وینے - که په نیکانو صالحانو کښے ئے نود صالحانو انجام به وینے - اوکه په دروغ ګنړونکو ګمراهانو کښے ئے نو هغه انجام به وینے کوم چه د داسے مجرمانو د پاره مقرر دے -

سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ مَكِّيَّةٌ

اٰیاتُہا ۹۶ رُکُوعاتُہا ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ۝١ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ۝٢ خَافِضَةٌ
رَّافِعَةٌ ۝٣ اِذَا رُجَّتِ الْاَرْضُ رَجًّا ۝٤ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ

هرکله چه هغه کیدونکی واقعه راشی نو دَ هغې راتلل به هیڅوک دروغ نهٔ ګڼړی[1]۔ هغه به ښکته کوونکې پورته کوونکې آفت وی[2]۔ زمکه به په هغه وخت کښې ناسا په اوچړ قوله شی[3] او غرونه به داسې ریزه ریزه

[1] دَدې فقرې نه دَ شروع کولو مطلب پخپله دا معلومیږی چه دا دَ هغه خبرو جواب دے کومے چه به په هغه وخت کښې دَ کافرانو په مجلسونو کښې دَ قیامت خلاف کیدلے۔ دا هغه زمانه وه چه دَ مکې خلقو به دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ خلے مبارکے نه دَ نوی اسلام دعوت اَوریدلو۔ په هغې کښې چه به کوم څیز هغوی ته دَ ټولونه زیات نا اشنا اودَ عقل نه لرے بنکاریدو هغه دا وُوچه یوه ورځ به دَ زمکې اودَ آسمان دا ټول نظام ګډوډ شی او بیا به یو بل جهان جوړ شی چه په هغې کښې به وړاندې روستو مړه شوی خلق ټول دوباره راژوندی کړے شی۔ دَدې خبرو په اوریدو سره به هغوی اریان دریان پاتے شو۔ هغوی به وئیل چه دا سے کیدل بالکل ناممکن دی۔ آخر دا زمکه، دا غرونه، دا سمندرونه، دا سپوږمۍ اودا نمر به کوم خواته حې؟ په سَوُونو کاله مخکښې مړه شوی خلق به څنګه راژوندی شی؟ دَ مرګ نه روستو دوباره ژوند، او بیا په هغې کښې دَ جنّت باغونه اودَ دوزخ وُور، آخر دا خیالی خبرې مونږه دَ عقل سره څنګه اُومنو؟ دا خبرې به په هغه وخت کښې په مکّه کښې په هرځائے کښې کیدلے۔ دَدې خبرو په جواب کښې اُوفرمائیلے شو چه کله هغه کیدونکی واقعه راشی نو په هغه وخت کښې به ئے هیڅوک دروغ نهٔ ګڼړی۔

په دې آیت کښې دَ قیامت دَ پاره لفظ "واقعه" استعمال کړے شوے دے چه معنی ئے تقریباً هم هغه ده کومه چه زمونږ په ژبه کښې وئیلے کیږی چه دا کار خو مخاکید ونکے دے۔ بیا دَدې کیدو ته "وَقْعَة" وئیلے شوے دے چه په عربۍ ژبه کښې دَ هغه لوئ کار دَ پاره استعمالیږی کوم چه ناسا په اُوشی۔ دَ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ دوه معنے کیدے شی۔ یوه دا چه دَ هغې نهٔ کیدل او په راتلو راتلو کښې دَ هغې ختمیدل او دَ هغې مخه بل طرفته اړول به ممکن نهٔ وی، یعنی یو طاقت به بیا دَ هغې مقابله نشی کولے۔ دوهمه دا چه په هغه وخت کښې به هیڅوک دا دروغ نهٔ وائی چه هغه واقعه نهٔ ده راغلی۔

[2] اصل الفاظ دی خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ، "راغورزونکے او اُوچتونکے"۔ دَدې یو مطلب دا کیدے شی چه هغه به هرڅه پاسترکړی۔ لاندې څیزونه به بَره شی او بَره څیزونه به

بَسًّا ۝۵ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا ۝۶ وَّكُنْتُمْ اَزْوَاجًا
ثَلٰثَةً ۝۷ فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۝۸
وَاَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ۝۹ وَالسّٰبِقُوْنَ
السّٰبِقُوْنَ ۝۱۰ اُولٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ ۝۱۱ فِىْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝۱۲

کړے شی چه خوره ورّه دُوړه به ترجوړه شی ۔

تاسو به په هغه وخت کښے په دریو ډلو کښے تقسیم شئ[۳]:

ښی لاس والا[۴]، نو د ښی لاس د خلقو (د خوش نصیبئ) به څه وائے ۔

اوکس لاس والا[۵]، نو د کس لاس د خلقو (د بد نصیبئ) به څه ځائے وی ۔

او وړاندِ خلق خو وړاندِ دی[۶] ۔ هغوی خو خاص نزدیکان خلق دی ۔ د نعمتونو نه په ډکو جنتونو کښے به اُوسی ۔

لاندِ شی ۔ دویم مطلب دا هم کیدے شی چه هغه به غور زیدلی شوی خلق اُوچتوی او اُوچت شوی خلق به راغورزوی، یعنی د هغے په راتلوسره به د انسانانو په منځ کښے د عزّت او د ذلّت فیصله په یوبل بُنیاد باندِ وی ۔ چاچه په دُنیا کښے ځان غټ کړو هغه به ذلیله شی اوځوک چه ذلیله کړلے کیدل هغوی به عزّتمند شی ۔

۳ یعنی هغه زلزله به په یوه خاصه علاقه باندِ نه وی، بلکه ټوله زمکه به په یووخت اُوجړقولے شی ۔ هغه به ناسپه یوزبردست جړق اُووهی چه د هغے سره به په خوزیدو شی ۔

۴ خبره اگرچه په ظاهره هغه خلقوته چاته چه دا کلام اَورَولے کیدو، یائے چه اُوس څوک اُولولی یائے واوری، لیکن په اصل کښے دا خبره ټولوانسانانوته ده، کوم انسانان چه د اوّل نه د قیامته پورے پیدا شوی دی هغوی ټول به په دریو ډلو کښے تقسیم شی ۔

۵ په اصل کښے لفظ اَصْحَابُ الْمَيْمَنَه استعمال شوے دے ۔ مَيْمَنَه د عربی قاعدے مطابق د يَمِين نه هم کیدے شی چه معنیٰ ئے ښئ لاس ده، او د يُمْن نه هم کیدے شی چه معنیٰ ئے "ښه فال" ده ۔ که چرے دا د يَمِين نه اُوکنړلے شی نو د اَصْحَابُ الْمَيْمَنَه معنیٰ به وی "ښی لاس والا" ۔ لیکن د دے نه لُغوی معنیٰ مُرادنه دے بلکه د دے مطلب دے د اُوچتے مرتبے خلق ۔ د عربو خلقو به ښئ لاس د طاقت او د اُوچتے مرتبے او د عزّت نښه کنړله ۔ چه د چا عزّت به ئے کولو نو هغه به ئے په مجلس کښے ښی طرفته کینول ۔ د چا په حقله چه به ئے داوئیل چه ځما په زړه کښے د هغه ډیر عزّت دے

ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٣﴾ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٤﴾ عَلٰى
سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِـِٕيْنَ عَلَيْهَا مُتَقٰبِلِيْنَ ﴿١٦﴾ يَطُوْفُ

په مخکینو کښے به د پیروی او په روستنو کښے به کم وی ۔ په داسے تختونو به ئے یو بل ته مخامخ ډډے وهلی وی چه هغه په ملغلرو باندِ بنڑلے شوی وی ۔ دَ هغوی په مجلسونو کښے به

نوویئل به ئے چه فلانٌ مِنّیَ بالیمین، "هغه څما دَ ښی لاس سړے دے"۔ په اُردو ژبه کښے هم چه چاته دَ یولوئ سړی دست راست وئیلے کیږی نو دَ هغے مطلب داوی چه هغه دَ هغهٔ خاص سړے دے ۔ او که دَ یُمن نه واغستلے شی نو دَ اصحاب المیمنه معنیٰ به وی ښه نصیبی او نیک بختِه خلق ۔

۵۵ په اصل کښے لفظ اَصْحَابُ الْمَشْئَمَه استعمال شوے دے ۔ مشئمه دَ شؤم نه دے چه معنیٰ ئے ده بد بختی، منحوستیا او بد فالی ۔ او په عربیٰ ژبه کښے کس لاس ته هم شومیٰ وئیلے کیږی ۔ په اُردو ژبه کښے شومئ قسمت دَ دے لفظ نه اغستے شوے دے ۔ عربیانو به شمال (کس لاس) اوشؤم (بد فال) په یوه معنیٰ کښے کنړل ۔ دَ هغوی په نزد کس لاس دَ کمزورئ اودَ ذلّت نښه وه ۔ چه په سفر به تلل او مارغه به کس طرفته والوتو نو دا به ئے بد فال ګڼړو ۔ چه څوک به ئے کس طرفته کینوُ نو مطلب به داوُ وچه دا دَ کے دے چه سړے دے ۔ دَ چا په حقله چه به ئے داوئیل چه څما سره دَ هغه هیڅ عزت نشته نو وئیل به ئے چه فلانٌ مِنّیَ بالشمال، "چه فلانے څما دَ کس لاس سړے دے"۔ په اُردو ژبه کښے هم چه څوک بیکار ډیر سپک او آسان ګڼړی نو وائی چه دا څو څما دَ کس لاس کار دے ۔ نو اصحاب المشئمه نه مُراد دے بد بخته خلق، یا هغه خلق چه دَ الله په دربار کښے به ذلیله کیږی او کس طرفته به ودرَولے کیږی ۔

۵۶ دَ سابقین (یعنی دَ وړاندِ خلقو) نه مُراد هغه خلق دی چه هغوئ په نیکئ کښے او په حق پرستئ کښے دَ ټولونه وړاندِ وی، چه دَ خیر په هرکار کښے دَ ټولونه وړاندِ وی، چه دَ خدائے اودَ رسول حکم دَ ټولونه مخکښے منونکی وی، که جهاد وی اوکه دَ الله په لار کښے خرچ کول وی، که دَ مخلوق خدمت کول وی اوکه دَ خیر دعوت وی او یا دَ حق تبلیغ وی، غرض داچه په دُنیا کښے دَ نیکئ دَ خورَولو اودَ بدئ دَ ختمولو دَ پاره دَ قربانئ اودَ محنت څه موقع مخے ته راشی هغوئ په هغے کښے دَ ټولونه مخکښے وی ۔ په دے وجه به په آخرت کښے هم هغوئ دَ ټولونه وړاندِ وی ۔ یعنی دَ الله په دربار کښے به نقشه داسے وی چه ښی طرفته به صالحین، کس طرفته به فاسقین اودَ ټولونه وړاندِ به دَ خدائے دربار ته نزدے سابقین خلق وی ۔ په حدیث کښے دَ حضرت عائشهؓ روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ خلقونه تپوس اوکړو "معلومه ده درته چه دَ قیامت په ورځ به کوم خلق دَ الله سوری ته دَ ټولونه مخکښے رَسی"۔ خلقو عرض اوکړو چه الله اودَ هغه رسول ښه پوهیږی ۔ نبیؐ اوفرمائیل الذین اذا اعطوا الحق قبلوه، و اذا سُئِلُوْهُ بذلوه، وحکموا الناس کحکمهم لانفسهم، "هغوی به هغه خلق وی چه کله هغوئ ته

عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ﴿١٧﴾ بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ ۙ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ ﴿١٩﴾ وَفَاكِهَةٍ

ابدی[۱۶] هلکان دروانے چینے د شرابونه او کے پیالئ اود شیشے لوښی اوکنډولونه په منډه منډه کرزوی چه د هغو په څکلو سره نه په هغوئ سرګردانی راځی او نهٔ به ئے عقل خرابیږی[۱۷]۔ او هغوئ به د هغوی مخے ته

حق پیش کړے شو نو هغوی قبول، چه حق تر اُوغوښتے شو نو هغوی ورکړو، اود بل چا په معامله کښے د هغوی فیصله هم هغه وه کومه چه د هغوئ په خپله ذات په معامله کښے وه"۔ (مُسندِ احمد)۔

۱۶ د مفسرینو په دے خبره کښے اختلاف دے چه د اولینو او آخرینو یعنی د پرو مبنو او روستنو نه مُراد څوک دی۔ زیږے پرے خیال دے چه د آدم علیہ السّلام د وخت نه د نبی صلی اللہ علیہ وسلّم د نبوّت پورے چه څومره اُمّتونه تیر شوی دی هغه اوّلین دی او د نبی صلی اللہ علیہ وسلّم د نبوّت نه روستو د قیامته پورے خلق آخرین دی۔ په دے لحاظ سره به د آیت مطلب داوی چه د محمد د نبوّت نه مخکښے په زرګونو کلونو کښے څومره انسانان تیر شوی دی د هغوی د سابقینو تعداد به زیات وی، او د نبیؐ د نبوّت نه روستو د قیامته پورے چه څومره انسانان راځی په هغوی کښے به د سابقینو تعداد کم وی۔ دویمه ډله وائی چه ډلته د اوّلین او آخرین نه مُراد د نبی صلی اللہ علیہ وسلّم د اُمت اوّلین او آخرین دی۔ یعنی د نبیؐ په اُمّت کښے د اولنی دور خلق اولین دی چه سابقین به پکښے زیات وی، او روستنی خلق به آخرین وی۔ چه سابقین به پکښے کم وی۔ د ریمه ډله وائی چه دَ دے نه مُراد د هر نبی د اُمّت اوّلین او آخرین دی، یعنی د هر نبی د اولنی دَور په خلقو کښے به سابقین زیږی او په روستنو خلقو کښے به کم وی۔ د آیت په الفاظو کښے دا درې واړه مطلبونه شامل دی او کیدے شی چه دا درې واړه صحیح وی، ځکه چه په حقیقت کښے په دے کښے هیڅ تضاد نشته۔ دَدے نه علاوه یو بل مطلب هم دَدے الفاظونه را اوزی او هغه هم صحیح دے چه په هر اولنی دَور کښے به په انسانانو کښے سابقین زیات وی او په روستنی دَور کښے به کم وی۔ وجه داده چه انسانی آبادی په کوم رفتار سره زیاتیږی، په هغه رفتار سره په نیکو کښے وړاندے کیدو نکی خلق نهٔ زیاتیږی۔ د شمار په اعتبار سره که د اخلق د اولنی دَور د سابقینو نه په تعداد کښے زیات هم وی، لیکن په مجموعی حیثیت سره د دُنیا د آبادئ په مقابله کښے د هغوی تناسب په مخه کمیږی۔

۱۷ دَدے نه مُراد دا دے هلکان دی چه هغوی به همیشه هلکان وی، د هغوی عُمر به همیشه په یو حالت باندے وی۔ حضرت علیؓ او حضرت حسنؓ فرمائی چه د اد انسانانو هغه بچی دی چه هغوی د څلیښتو نه مخکښے مړه شی، په دے وجه نهٔ به د هغوی نیکی وی چه د هغو بدله ورکړے شی اَونهٔ به ئے بدی وی چه د هغو سزا ورکړے شی۔ لیکن سنګاره خبره ده چه دَدے نه مُراد هغه کسان کیدے شی چه هغوئ ته جنّت نهٔ وی نصیب شوے۔ پاتے شو مومنان صالحان خلق، نو د هغوی پحقله اللہ تعالیٰ پخپله په قرآن کښے د اضمانت ورکړے دے چه د هغوی بچی به هغوی له جنّت ته بوتلے شی (الطور۔ آیت ۲۱)۔ دَدے

مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢١﴾ وَحُورٌ عِينٌ ﴿٢٢﴾
كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾
لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴿٢٥﴾ إِلَّا قِيلًا سَلَامًا سَلَامًا ﴿٢٦﴾

قِسما قِسم خوند نا کے میوے ډډی چه کومے ئے خوښے وی هغه به را اخلی، اودَ مرغو غوښے به ورته ډډی چه دَکومے مرغئ غوښه ئے خوښه. وی هغه به استعمالوی۔ اودَ هغوئ دَپاره به ښائسته ستر کووالا حُورے وی، دا سے ښائسته لکه چه پټے سا ئیلے شوی ملغلرے۔ دا ټول هرڅه به ورته دَ هغو عملونو دَ بدلے په طور ملاویږی کوم چه به هغوئ په دُنیا کښے کول۔ هلته به هغوئ هیڅ بیهوده خبرے یا دَ ګناه خبرے نه اوری۔ چه کومه خبره وی هغه به ټیک ټیک وی۔

تائید دَ هغه حدیث نه کیږی کوم چه ابوداؤد طَیالِسی، طَبَرانی، اوبزّار دَ حضرت اَنَسؓ اودَ حضرت سَمُرَہؓ بن جُندب نه نقل کړے دے۔ په هغے کښے نبیؐ فرمائی چه دَ مشرکانو بچی به دَ جنّتیانو خادمان وی۔ (دَ زیاتے تشریح دَپاره اُوګوره تفہیم القرآن، ځلورم جلد، تفسیر دَ سورۃ صافات، حاشیه ۲۶۔ پنځم جلد، الطّور، حاشیه ۱۹)۔

۱۰ دَ تشریح دَپاره اُوګوره تفہیم القرآن، ځلورم جلد، تفسیر دَ سورۃ صافات، حاشیه ۲۷۔ پنځم جلد، سورۃ محمّد، حاشیه ۲۲۔ الطّور، حاشیه ۱۸۔

۱۱ دَ تشریح دَپاره اُوګوره تفہیم القرآن، پنځم جلد، تفسیر دَ سورۃ طور، حاشیه ۱۷۔

۱۲ دَ تشریح دَپاره اُوګوره تفہیم القرآن، ځلورم جلد، تفسیر دَ سورۃ صافات، حاشیه ۲۸۔۲۹۔ الدّخان، حاشیه ۴۲۔ پنځم جلد، الرّحمٰن، حاشیه ۵۱۔

۱۳ دا دَ جنّت په لویو نعمتونو کښے یولوئ نعمت دے، چه قرآن مجید په ډیرو ځایونو کښے بیان کړے دے، چه دَ انسان غوږونه به هلته دَ بیهوده اوفضول خبرونه، دَ دروغو اودَ غیبت نه، دَ چغلئ اودَ بهتان نه، دَ ګنځلو اودَ بدو ردونه، دَ لاف واوټو مسخرونه، اودَ پیغورونو دَ خبرو اوریدونه محفوظ وی۔ هغه به دَ دَ بدزبانه اوبد تمیز وخلقو ځائے نه وی چه خلق به پکښے په یوبل پورے پشارے کوی۔ هغه به دَ شریفانو او دَ نبو خلقو ځائے وی چه په هغے کښے به دالغو خبرے نه وی۔ یو سړی له چه الله تعالیٰ څه لږه شان پوهه ورکړی وی نو هغه دَ دے خبرے بنه اندازه لګولے شی چه دا دَ دُنیا څومره لوئ عذاب دے چه انسان له دا اُمید ورکړے شوے دے چه په جنّت کښے به دانه وی۔

۱۴ اصل الفاظ دی الّا قیلاً سلاماً سلاماً۔ څینو مفسّرینو اومترجمینو دَ دے نه دا مطلب

وَاَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ﴿۲۷﴾ فِيْ سِدْرٍ مَّخْضُوْدٍ ﴿۲۸﴾
وَّطَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ ﴿۲۹﴾ وَّظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ ﴿۳۰﴾ وَّمَآءٍ مَّسْكُوْبٍ ﴿۳۱﴾
وَّفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ ﴿۳۲﴾ لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ ﴿۳۳﴾ وَّفُرُشٍ
مَّرْفُوْعَةٍ ﴿۳۴﴾ اِنَّآ اَنْشَاْنٰهُنَّ اِنْشَآءً ﴿۳۵﴾ فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا ﴿۳۶﴾

اودَ ښی لاس والا، دَ ښی لاس دَ خلقودَ خوش نصیبئ به څه وائے ۔ هغوئ به په بے ازغو بیرو[۱۵] کښے، اوقط په قط کیلو کښے، اوپه اُوږد واوږد و سورو کښے، اوهر وخت په روانو اُوبو کښے، اوپه نهٔ ختمید ونکو اوپه آسانه مِلاویدونکو میوو[۱۶] کښے، اوپه اُوچتو اُوچتو څایونو کښے وی ۔ مونږ به دَ هغوئ ببیاۓ خاص طورد نوی سرنه بیا پیدا کړو اوپیغلے جوړے[۱۷] کړو

اغستے دے چه هلته به دَ هرطرفنه دَ سلام سلام آواز ونه اوری ۔ لیکن صحیح خبره داده چه دَدے نه مُراد ده ښه خبره، یعنی داسے خبری اتری چه دَ عیب نه پاکے وی، چه په هغے کښے هغه خرابی نهٔ وی کومه چه په مخکینو فقرو کښے بیان کړے شوی ده ۔ دلته دَ سلام لفظ تقریباً تقریباً دَ انگریزئ ژبے دَ لفظ (Sahe) په معنیٰ کښے استعمال کړے شوے دے ۔

۱۵ یعنی داسے بیرے چه دَ هغے په اُونو کښے به اَزغے نهٔ وی ۔ یوسړے دَ حیرانتیا سره داخبره کولے شی چه بیره کومه داسے ښه میوه ده چه په جنّت کښے به وی اومونږ ته دَهغے زیرے اورَولے کیږی ۔ لیکن حقیقت داد ے چه دَ جنّت بیرے خو پریږده، پخپله دَدے دُنیا په ځینو علاقو کښے دا میوه دومره خوند ناکه خوشبویه اوخوږه وی چه یوځل ئے سړے خوراک شروع کړی نو بیا پرِ مَړیږی نهٔ ۔ او بیرے چه څومره دَ اعلیٰ درجے وی هغومره دَ هغے په اُونو کښے از غے کم وی ۔ په دے وجه دَ جنّت دَ بیرو دا تعریف بیان کړے شوے دے ۔ چه دَ هغے په اُونو کښے به بالکل از غے نهٔ وی، یعنی داسے دَ اعلیٰ درجے به وی چه هغه په دُنیا کښے نشته ۔

۱۶ اصل الفاظ دی لَا مَقْطُوْعَةٍ وَلَا مَمْنُوْعَةٍ ۔ دَ لا مَقْطُوْعَةٍ نه مُراد دادے چه دا میوے به نهٔ موسمی وی چه کِښی دَ موسم تیریدو نه روستو به نشی مِلا ویدے، نهٔ به ئے پیدا کیدل بند یږی چه که چرے دَ باغ نه ټولے میوے اُوشوکولے شی نو دَ څه وخته پورے به پکښے میوے نهٔ وی، بلکه هره میوه به هلته په هرموسم کښے مِلا ویږی اوکه هرځومره ډیره اُوخوړے شی خومسلسل به را پیدا کیږی ۔ اودَ لَا مَمْنُوْعَة مطلب دادے چه دَ دُنیا دَ باغونو پشان به هلته څه منع نهٔ وی، نهٔ به دَ میوو په را شوکولو کښے اونهٔ به دَ هغے په خوړلو کښے څه تکلیف پیښیږی یعنی نهٔ به په اُونو کښے ازغی وی اونهٔ به زیاتے اُوچتے وی ۔

۱۷ دَدے نه مُراد دَ دُنیا هغه نیکانے ښځے دی چه هغوی به دَ خپل ایمان اودَ نیک عمل په وجه جنّت ته ځی ۔ الله تعالیٰ به هلته دَ هغوئ نه پیغلے جوړے کړی، خواه که هغوی هرځومره دَ بوډا والی په عمر کښے

عُرُبًا اَتْرَابًا ﴿۳۷﴾ لِّاَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۳۸﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۹﴾ وَ
ثُلَّةٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿۴۰﴾ وَاَصْحٰبُ الشِّمَالِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الشِّمَالِ ﴿۴۱﴾
فِيْ سَمُوْمٍ وَّحَمِيْمٍ ﴿۴۲﴾ وَّظِلٍّ مِّنْ يَّحْمُوْمٍ ﴿۴۳﴾ لَّا بَارِدٍ وَّلَا كَرِيْمٍ ﴿۴۴﴾

په خپلو خاوندانو به عاشقه[۱۸] وی اوپه عُمر کښے به همزولے[۱۹] وی ۔ دا هرڅه د ښی لاس د خلقو د پاره دی[۲۰] ۔ هغوی به په ښکینو کښے ډیروی اوپه روستنو کښے به هم ډیروی ۔
او د کس لاس والا، د کس لاس د خلقو د بدنصیبۍ به څه تپوس کوے ۔ هغوئ به په ګرمو بادونو او یشید لو اُوبو او د تورو لوګو په سُورو کښے وی چه نه ٔ به یخ وی او نه ٔ به آرام ورکوُنکے وی ۔

مړے شوی وی ۔ ډیر بنایسته به ورله ورکړی، خواه که په دُنیا کښے هغوئ بنایسته وی اوکه نه ٔ ۔ ناوادهٔ شوئ پیغلے به ترجور ے کړے، خواه که په دُنیا کښے هغوی بے واده مړے شوی وی اوکه د ډال بچ والا ۔ د هغوئ خاوندان هم که د هغوئ سره جنّت ته لاړل نو هغوئ به ورسره یوځائے کړے شی، اوکه ئے نو الله تعالیٰ به ئے بل جنتی ته واده کړی ۔ د دے آیت هم دا تشریح په ډیر وحدیثونو کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلّم نه نقل کړے شوی ده ۔ په شمائل ترمذی کښے روایت د ے چه یو بوډئ ښځ ه ته عرض اُوکړو چه څما په حق کښے د جنّت دُعا اُوکړه ۔ نبیؐ اُوفرمایئل چه جنّت ته به بوډئ کانے نه ٔ ځی ۔ هغه په ژړا واپس لاړه نو نبیؐ خلقوته اُوفرمایئل چه "هغے ته اُووایئ، هغه به د بوډا والی په حالت کښے جنّت ته نه ٔ ورننوځی، الله تعالیٰ فرمائی چه مونږ به بوډئ کانے خاص د نوی سرنه پیدا کړو اوپیغلے به ئے کړو" ۔ ابن ابی حاتم د حضرت سَلَمه بن یزید دار وایت نقل کړے د ے چه ما د رسول الله نه د دے آیت د اتشریح اُورید لی ده، "د دے نه مُراد د دُنیا ښځ ئ دی، که هغه بے واده پیغلے مړے شوی وی اوکه واده شوی" ۔ په طبرانی کښے د حضرت اُمِّ سَلَمے یواُوږد روایت د ے چه په هغے کښے هغه د جنّت د ښځو په حقله د قرآن مجید د مختلفو ځایونو مطلب د نبیؐ نه تپوسی ۔ په دے سلسله کښے نبیؐ د دے آیت د اتشریح کوی چه: هن اللّوا تی قبضن فی دارالدنیا عجائز رمصاً شمطاً خلقهن الله بعد الکبر فجعلهن عذاریً ۔ "د اهغه ښځ ئ دی چه په دُنیا کښے مُړے شوی ؤ، په داحال کښے چه ډیرے بوډئ کانے وے، ستر کے ئے چرچنے وے، د سر ویښته ئے تک سپین وُو ۔ د دے بوډا والی نه به روستو الله تعالیٰ د هغوئ نه بیا پیغلے جوړی کړی" ۔ حضرت اُمِّ سَلَمه تپوس کوی که د ډیرے ښځ ئے په دُنیا کښے ډیر خاوندان تیر شوی وی او هغه ټول جنّت ته لاړ شی نو هغه به په هغوی کښے چا ته ملا ویږی؟ نبیؐ ورته فرمائی انها تُخیَّر فتختار احسنهم خلقا فتقول یارب ان هذا کان احسن خلقاً معی فزوجنیها یا اُمّ سَلَمه، ذهب حسن الخلق بخیر الدنیا والآخرة ۔ "هغے له به اِختیار ورکړے شی چه پخپله خوښه د چا سره کیدل غواړی د هغه سره د ے شی ۔ او هغه به هغهٔ سړے خوښوی کوم چه په هغوئ کښے د ټولو نه زیات د ښو اخلاقو مالک وُو ۔ هغه به الله تعالیٰ ته عرض اُوکړی چه اے ربه د دے سلوک څما سره ډیر ښه وُو نو ما د دے ښځه کړه ۔ اے اُمِّ سَلَمے، ښو اخلاقو

إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذٰلِكَ مُتْرَفِينَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُوا يُصِرُّونَ عَلَى
الْحِنثِ الْعَظِيمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُوا يَقُولُونَ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا
وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٤٧﴾ أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ إِنَّ
الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ ﴿٤٩﴾ لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَاتِ يَوْمٍ

دا به هغه خلق وی چه د بے انجام ته د رسید و نه مخکښے هغوی خوشحاله وُ واوپه لویه گناه باندِ به ئے تینګتیا کوله[۲۰] ـ او وئیل به ئے چه "کله مونږه مُړه شواو خاورے شو او تښته د هډو وکو یوه پنجره پاتے شونو آیا بیا به راژوندی کیږو؟ او آیا زمونږه هغه پلرُونه نیکونه به هم راژوندکیږی کوم چه مخکښے تیر شوی دی"۔ اے نبی دے خلقوته اُووایه ، یقیناً چه وړاندِ روستو ټول خلق به یوه ورځ خامخا راجمع کړے کیږی چه د هغے وخت مقرّر

د دنیا اود آخرت ټولے نیکئ ویوړے"۔ (د زیاتے تشریح د پاره اُوګورہ تفهیم القرآن ، پنځم جلد ، تفسیر د سورۃ رحمٰن ، حاشیه ۵۱)۔

۱۸ه په اصل کښے لفظ عُرُباً استعمال شوے دے۔ دالفظ په عربئ ژبه کښے د ښځے د ښه زنانوالا خویونو د پاره وئیلے کیږی ۔ د دے نه مُراد داسے ښځه ده چه د ولناکه ، ښه سلوک والا ، خوږ زبانه ، زنانوالا جذبات لرونکی ، د زړه نه په خپل خاوند مَیَنه وی اود هغے خاوند هم د هغے عاشق وی ۔

۱۹ه د دے دوه مطلبونه کیدے شی ۔ یودا چه هغوئ به په عُمر کښے د خپلو خاوندانو هم زولے وی ، دویم دا چه هغوی به په خپل منځ کښے هم زولے وی ، یعنی جنّتی ښځے به ټولے د یو عُمر وی اوهمیشه به هم په دغه یو عُمر کښے وی ۔ کیدے شی چه دا د واړه خبرے په یو وخت صحیح وی ، یعنی چه دا ښځے په خپل منځ کښے هم هم زولے وی او د هغوی خاوندان هم د هغوی هم زولے وی ۔ په یو حدیث کښے راځی چه یدخل اهل الجنة الجنة جرداً مردا بیضا جعادا مکحلین ابناء ثلاث وثلاثین ۔ "جنّتیان چه کله جنّت ته ورداخلیږی نو د هغوی بدنونه به د ویښتونه صفاوی ۔ بربت به ئے شنه شوی وی خوکیره به ئے لا نه وی راختلے ۔ سترګے سپین ښائسته ښائسته به وی ۔ د ګ د ګ بدنونه به ئے وی ۔ ستر کے به ئے تور رنګے وی ۔ د ټولو عُمرونه به درے[۳۳] دیرش کاله وی"۔ (مُسند احمد ، مرویّاتِ ابوهریرہؓ) ۔ تقریباً هم دا مضمون په ترمذی کتاب کښے د حضرت معاذ بن جَبَل اود حضرت ابوسعید خُدری نه هم روایت کړے شوے دے۔

۲۰ه یعنی خوشحالئ په هغوی اولیا اثر کړے وُو ۔ د الله تعالیٰ د شکر گزارہ کیدو په ځائے هغوئ اُلټا نعمت نا شکره شوی وُو ۔ د خپل نفس په خوند ونوکښے د وب شوی وُو اوخدائے ئے هیر کړے وُو ۔ اوپه لویه گناه کښے اخته وُو ۔ د "لوئے گناه" په لفظ کښے د یر مطلبونه شامل دی ۔ د دغه نه مراد کفر اوشرک اود هر بیت هم دے اود اخلاقو او د عملونو هره لویه گناه هم ۔

مَّعْلُوْمٍ ﴿۵۰﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ الْمُكَذِّبُوْنَ ﴿۵۱﴾ لَاٰكِلُوْنَ
مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ ﴿۵۲﴾ فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَشٰرِبُوْنَ
عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ﴿۵۴﴾ فَشٰرِبُوْنَ شُرْبَ الْهِيْمِ ﴿۵۵﴾ هٰذَا نُزُلُهُمْ
يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿۵۶﴾ نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ ﴿۵۷﴾ اَفَرَءَيْتُمْ
مَّا تُمْنُوْنَ ﴿۵۸﴾ ءَاَنْتُمْ تَخْلُقُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ الْخٰلِقُوْنَ ﴿۵۹﴾ نَحْنُ

کړے شوے دے ۔ بیابه تاسوا ے کمراهانواودروغ کنړونکو خلقو، د زقّوم[۲۱] د وني خوراکونه خوړئ ۔ هم د هغې نه به خپلې خیټې ډکوئ اودپاسه به یې پرې شید لے اوبهٔ د هغه اوبن پشان ځکئ چه هغه سخته تندی اغستے وی (اوتنده ئے مړه کیږی نهٔ) ۔ دا د کس طرف د خلقو میلمستیاده د جزا په ورځ ۔[۲۳]

مونږه تاسو[۲۲] پیدا کړی یئ بیاولے تصدیق نهٔ کوئ؟ تاسو چرته (د خبرې ته) فکر کړے دے، چا دا کومه نطفه تاسو (د زنانو بچه دان ته) ور اچوئ، نو آیا د دے نه بچے تاسو جوړوئ اوکه د هغې جوړونکی مونږه یو[۲۴] ؟ مونږه

---

۲۱ د زقّوم د تشریح د پاره اوګورئ تفہیم القرآن، څلورم جلد، تفسیر د سورۃ صافات، حاشیه ۳۴ ۔

۲۲ د دې ځائے نه د آیت ۷۴ پورے چه کوم دلیلونه پیش کړے شوی دی هغه د آخرت او د توحید په حقله دی ۔ د یکے خلقو به چونکه د نبیؐ صلی اللہ علیه وسلم د تعلیم په دے دواړو خبرو باندې اعتراض کوونو په دے وجه دلته دلیلونه په داسے انداز سره پیش کړے شوی دی چه د هغې نه د آخرت ثبوت هم ملاویږی او د توحید د صداقت هم ۔

۲۳ یعنی د دے خبرې تصدیق چه خاص هم ځه ستاسو رب اومعبودیم، اوځه تاسو دوباړه هم پیدا کولے شم ۔

۲۴ په دے مختصره فقره کښے یوه لویه اهمه خبره د انسان مخے ته کیښودلے شوی ده ۔ د دې نیا نورتول څیزونه چه انسان پرې پرې دی اوصرف په دے یوه خبره غور اوکړی چه هغه پخپله څنګه پیدا شوے دے نو قرآن چه د توحید او د آخرت پحقله کوم تعلیم پیش کوی په هغې کښے ئے هیڅ شک نشی پاتے کیدے ۔ انسان خو هم آخر په دے طریقه پیدا کیږی چه سړے خپله نطفه د بنځے بچه دان ته ور ځوړسوی ۔ لیکن آیا دا دے نطفے نه یے، او خاص طور د انسان. یے پخپله را پیدا کیږی؟ یا ئے تړ انسان پخپله را پیدا کوی؟ یا د خدائے نه علاوه ئے بل څوک را پیدا کوی؟ او آیا دا د سړی، یا د بنځے، یا د دنیا د بل یو طاقت په اختیار کښے شته چه دا نطفه په بچه دان کښے راتینګه کړی؟ بیا د بچی د پیدا کیدو پورے چه د مور په خیټه کښے یے په کومه طریقه غټیږی، او د هر بچی چه کوم جُدا جُدا شکل جوړیږی،

قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴿٦٠﴾ عَلَىٰ
أَن نُّبَدِّلَ أَمْثَالَكُمْ وَنُنشِئَكُمْ فِي مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾
وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْأَةَ الْأُولَىٰ فَلَوْلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾

ستاسو په منځ کښے مرګ تقسیم کړے دے[۲۵]، اومونږه ددے نه عاجزه نۀ یو چه ستاسو شکلونه بدل کړو او په داسے شکل کښے مو راپیدا کړو چه هغه هډو تاسو ته معلوم نۀ وی[۲۶]۔ خپل اولنے پیدائش خو تاسو ته معلوم دے[۲۷]، نو بیا ولے سبق نۀ اخلئ؟

او په هر بچی کښے چه کوم مختلف ذهنی اوبدلی قوتونه په یو خاص تناسب سره موجود وی چه د هغے په وجه هغه یو خاص صفتی انسان وی، آیا داتول هرڅه د یو خدائے نه سوا د بل چا کار دے؟ آیا په دے کښے د بل چا د ذرے هومره هم څه دخل شته؟ آیا دا کارمور او پلار پخپله کوی؟ یا ئے یوه انګړکوی؟ یا ئے هغه اولیاء او پیغمبران کوی چه هغوی پخپله په دے طریقه پیدا شوی دی؟ یا ئے نر، ستوری او سپوږمئ کوی چه پخپله د یو خاص قانون پابند دی؟ یا ئے هغه فطرت (Nature) کوی چه پخپله څه علم، څه حکمت، څه اراده، او څه اختیار نۀ لری؟ آیا بیا دا فیصله هم د خدائے نه سوا د بل چا په اختیار کښے ده چه چے به جینئ وی او که هلک؟ بناسته به وی اوکه بد شکله؟ طاقتور به وی اوکه کمزورے؟ روند، کوتړ، کوږ شل به وی اوکه صحیح سالم؟ ذهین به وی اوکه غبی؟ آیا بیا د خدائے نه سوا بل څوک دا فیصله کوی چه د قومونو په تاریخ کښے په کوم وخت کښے په کوم قوم کښے د کومو بنو یا بدو صفتونو سره پیدا کړی چه قوم د ترقئ طرفته بوځی یا ئے د زوال کندے ته ورا وغورزوی؟ که څوک په ضد کښے مبتلا نۀ وی نو هغه ته به پخپله پته اولږی چه د شرک یا د دهریت په بنیاد باندے ددے تپوسونو څه مناسب جواب نۀ شی ورکړے کیدے۔ ددے مناسب جواب اِکی یودے اوهغه داد ے چه انسان پوره په پوره الله تعالیٰ جوړ کړے دے۔ اوهر کله چه حقیقت دا دے نو د خدائے دِ جوړ کړی انسان ته څه حق حاصل دے چه د خپل خالق په مقابله کښے د آزادئ او د خپلواکئ دعوی اوکړی؟ یا د هغه نه سوا د بل چا بندګی اوکړی؟

د توحید پشان دا خبره د آخرت په معامله کښے هم فیصله کن خبره ده۔ د انسان پیدائش د یو داسے چینجی نه کیږی چه هغه د یوطاقتور خوردبین نه بغیر څوک ونشی لیدلے۔ دا چینجے د سنګے په بدن کښے په څه وخت کښے د هغه نسوالی اکئ سره یوځائے شی چه هغه هم د خوردبین نه بغیر نۀ لیدے کیږی۔ بیا ددے دواړو د یوځائے کیدونه یوه وړه شان ژوندئ حصه (Cell) جوړه شی، یعنی د انسان د ژوند شروع اوشی، او د ژوند دا شروع د دومره وړے حصے (Cell) نه اوشی چه هغه هم د خوردبین نه بغیر په نظر نشی راتلے۔ څه ورځے د پاسه په نهو میاشتو کښے الله تعالیٰ دغه وړه حصه غټه کړی او یو ژوندے انسان ترجوړشی۔ اوچه کله ښه مکمل انسان شی نو د مور بدن ئے پخپله د نیا ته د

شور شغب دَ پارہ را بھرکړی - ټول انسانان په دے طریقه دُنیاته راغلی دی اودَ خپل ځان پشان دَ انسانانو دَ پیدا کیدو حالت شپه اوورځ وینی راوینی - دَ دے نه روستو صرف یو بے عقله انسان دا ویلے شی چه کوم خدائے نن په دے طریقه انسانان پیدا کوی هغه صباله په څه وخت کښے داخپل پیدا کړی انسانان دوباره په بله طریقه نشی پیدا کولے -

۲۵ یعنی ستاسودَ پیدائش پشان ستاسومرګ هم زمونږ په اختیار کښے دے - مونږه دا فیصله کوُوچه څوک به دَ مور په خیټه کښے مُری ، اوڅوک به دَ پیدا کیدو سره مُری، اوڅوک به څه عُمرته رسی - مونږه چه دَ چا دَ مرګ د پاره څه وخت مقرّر کړے دے دَ هغے نه مخکښے دَ دُنیا بو طاقت هم هغه نشی وړلے اودَ هغے نه روستو ئے یو ساعت هم ژوند ے نشی ساتلے - په ټولو لویو هسپتالونو کښے دَ لویو لویو ډاکټرانو په مخکښے کسان مُری ، بلکه ډاکټر پخپله هم په خپل وخت باندِ مُری ، لیکن نهٔ دَ مرګ وخت چا ته معلوم شوے دے ، نهٔ چا دَ مرګ مخه بنده کړی ده ، نهٔ چا دا معلومه کړی ده چه مرګ به په کوم ځائے کښے راځی اوپه څه طریقه به راځی -

۲۶ یعنی لکه څنګه چه مونږه دَ دے خبرے نه عاجزه نهٔ ئُوچه تاسو په موجوده شکل کښے پیدا کړو، دغه شان مونږه دَ دے خبرے نه هم عاجزه نهٔ یو چه ستاسودَ پیدائش طریقه بدله کړو اوپه بل شکل کښے مودَ نورو صفتونو سره پیدا کړو - نن مونږه تاسو په دے طریقه پیدا کوُوچه ستاسو نُطفه دَ شحوُ بچه دان ته اُورسی اوتاسودَ مور په خیټه کښے رُو رُو غټ شئ اودَ بچی په شکل کښے دُنیا ته راشئ - دَ پیدا کیدو دا طریقه هم مونږه مقرر کړی ده - لیکن زمونږ سره بس هم دا یوه طریقه نهٔ ده چه دَ دے نه سِوا کښی په بله طریقه نهٔ پوهیږو ، یا په بله طریقه پیدا کول نشوکولے - دَ قیامت په ورځ مونږه تاسودَ هغه عُمر په شکل کښے پیدا کولے شو په کوم عُمر کښے چه تاسومړه شوی وئ - نن مونږ ستاسودَ اوریدو اودَ لیدو اودَ معلوماتو دَ نورو ذریعو پیمانه څه پسه بل ډول جوړه کړی ده - لیکن زمونږ سره دَ انسان دَ پاره بس هم دا یوه پیمانه نهٔ ده چه کښی مونږه ئے نهٔ شو بدلولے - دَ قیامت په ورځ به مونږه دا پیمانه څه په بل ډول کړو اَن تردے پورے چه تهٔ به هغه څه اُوو یني او هغه څه به واورے چه هغه دلته نهٔ لیدے شے اونهٔ اوریدے شے - نن ستاسو په څرمن کښے اوستاسو په لاس اوخپو کښے او ستاسو په سترګو کښے دَ ویناطاقت نشته - اوژبے ته دَ ویناطاقت خوهم مونږه ورکړے دے - مونږه دَ دے نه عاجزه نهٔ یو چه دَ قیامت په ورځ به ستاسو هر اندام اوستاسودَ بدن دَ څرمنے هره ټوکړه زمونږ په حکم سره ویناشروع کړی - نن تاسودَ یو خاص عُمر پورے ژوندی یئ اوبیا مړه کیږئ - داستاسو ژوند اومرګ هم زمونږ دَ مقرر کړے شوی قانون مطابق کیږی - صباله مونږه یو بل قانون ستاسودَ ژوند د پاره جوړ ولے شو چه په هغے کښے تاسو له مرګ هیڅ راځی نهٔ - نن تاسودَ یو خاص حده پورے عذاب برداشت کولے شئ ، که دَ هغے نه سِوا عذاب تاسوله درکړے شی نو تاسو ژوندی نهٔ شئ پاتے کیدے - دا قانون هم مونږه جوړ کړے دے - صباله مونږه ستاسودَ پاره یو بل قانون جوړ ولے شو چه په هغے کښے به تاسو دا سے اُوږد عذاب برداشت کولے شئ چه هغه ستاسو په خیال کښے هم نهٔ شی راتلے او په دِیر سخت عذاب سره به درله هم مرګ نهٔ راځی - نن تاسو دا سوچ نهٔ شئ کولے چه یو بوډا به څُوان شی، ناجوړه کیږی به نهٔ، بوډا والے به په پرِهیڅکله نهٔ راځی اودَ همیشه د پاره به هغه دَ یو عُمر څُوان وی - لیکن دلته په څُوانئ پسے بوډا والے هم زمونږ دَ جوړ شوی قانون مطابق راځی - صباله مونږه ستاسودَ ژوند دَ پاره بل قانون

أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾ ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﴿٦٤﴾

تاسو چرته په دے خبره سوچ کړے دے چه داکوم تخم تاسو کرئ دَ دے نه فصلونه تاسو راز رغوئ نوی او که دَ دے را زرغونوئ نکی مونږه یو؟ ۲۸

هم جوړ ولے شوچه دَ هغے مطابق به هر جنّتی بوډا خوان شی او دَ هغه خوانی او صحت به هیڅه وی.

۲۷ یعنی تاسو ته خو دا معلومه ده چه اوّل تاسو څنګه پیدا کړے شوی وئ - په څه طریقه دَ پلار دَ مَلا دَ تیرنه هغه نطفه را اووَتله چه دَ هغے نه تاسو پیدا شوئ - په څه طریقه دَ مور دَ خیټے په تیرو کښے تاسو غټ کړے شوئ او ژوند مے انسان درنه جوړ کړے شو - په څه طریقه یوه معمولی ذرّه غټه کړے شوه او په هغے کښے زړه او دماغ، ستړکے او غوږونه اولاس اوخپے پیدا کړے شول، عقل، علم او حکمت، دَ څیزونو جوړولو طاقت، او سوچ او فکر ورکړے شو - آیا دا مُعجزه دَ هر وَدَ دوباره ژوندی کولونه څه کمه دَ حیرانتیا ده؟ دا عجیبه مُعجزه چه کله تاسو پخپلو سترګو وینئ او دَ دے دَ شهادت په طور پخپله په دُنیا کښے موجود یئ نو دَ دے نه دا سبق وَلے نه ئ اخلئ چه دَ کوم خدائے په قدرت سره دا مُعجزه شپه او ورځ کیږی هم دَ هغه په قدرت سره دَ مرګ نه روستو ژوندون او حشر او نشر او جنّت او دوزخ را تلے شی؟

۲۸ پاسنئ خبری دَ خلقو توجه دے حقیقت ته را اړولے چه تاسو الله تعالیٰ پیدا کړی یئ او هم دَ هغه په پیدا کولو سره وجود ته راغلی یئ - اوس دَ دے دویمے خبری سره دَ هغوئ توجه دے دویم حقیقت ته را اړولے کیږی چه په کوم رزق تاسو غټیږئ هغه هم الله تعالیٰ ستاسو دَپاره پیدا کړے دے - لکه څنګه چه ستاسو په پیدا کیدو کښے دَ انسان کوشش دَ دے نه زیات نور هیڅ نه ئ دے چه ستاسو پلاران ستاسو په میاندو کښے نطفه ورواچوی، دغه شان ستاسو دَ رزق په پیدا کیدو کښے هم دَ انسان کوشش دَ دے نه سِوا نور هیڅ نه ئ دے چه تخم په پټ کښے واچوی - په کومه زمکه چه تاسو کروندہ کوئ دا تاسو نه ئ ده جوړه کړی - دے زمکے ته دَ زرغونے طاقت تاسو نه ئ دے ورکړے - دَ کوم څیزونو نه چه ستاسو خوراکونه جوړیږی هغه څیزونه په دے زمکه کښے تاسو نه ئ دی پیدا کړی - په زمکه کښے چه تاسو کوم تخم اچوی دَ هغے زرغونه تاسو نه ئ کوئ - دَ هر تخم نه هغه بوټے را پیدا کول چه دَ کوم بوټی هغه تخم دے، ستاسو کار نه ئ دے - دَ کرونډ نه چه کوم شنه شنه فصلونه را پیدا کیږی دَ دے دَ پاره چه په زمکه کښے دَ ننه کوم عمل کیږی او دَ زمکے نه بهر چه دَ کومے هوا، اوبو او کرمئ یخنئ ضرورت دے، په دے کښے یو څیز هم ستاسو تدبیر په وجه نه ئ دے - دا ټول هر څه دَ الله دَ قدرت او دَ هغه دَ پالنے کارنامه ده - نو هر کله چه تاسو خاص هغه پیدا کړی یئ او خاص هم دَ هغه په رزق غټیږئ، نو بیا آخر تاسو ته دَ هغه په مقابله کښے دَ خپل واکئ حق، یا دَ هغه نه سِوا دَ بل چا دَ بندګئ کولو حق څنګه حاصلیږی؟

دَ دے آیت ظاهری دَلیل خو دَ توحید په حق کښے دے، لیکن په دے کښے چه کومه خبره بیان کړے شوی ده په هغے چه سړے لږ زیات غور او کړی نو په هغے کښے دَ آخرت دلیل هم ملاویږی - کوم تخم چه په زمکه کښے کړ لے کیږی هغه مړوی لیکن کښ وندکړئ چه کله دَ زمکے په قبر کښے ور ننګ کړی نو الله تعالیٰ پکښے داسے ژوند را پیدا کړی چه تیغ تر

لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنٰهُ حُطَامًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ ﴿٦٥﴾ اِنَّا
لَمُغْرَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٦٧﴾ اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ
الَّذِىْ تَشْرَبُوْنَ ﴿٦٨﴾ ءَاَنْتُمْ اَنْزَلْتُمُوْهُ مِنَ الْمُزْنِ اَمْ نَحْنُ
الْمُنْزِلُوْنَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ اُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾

که مونږه اُوغواړو نو دَ دے فصلونه به بُوس جوړ کړو بیا به تاسو قِسما قِسم خبرې جوړوئ چه په مونږه خو اُولټا تاوان را غے ، بلکه زمونږه خو نصیب خراب شوے دے
تاسو چرته په غږید لو ستړکو کتلی دی چه داکومے اُوبهٔ تاسو څکئ ، آیا دا تاسو دَ وریځونه راوړَ وَلی دی اوکه دَ دے راوړُونکی مونږه یُو؟ که مونږه اُوغواړو نو دَ دے نه به سختے تُرَوے اُوبهٔ جوړے کړُو ، نو تاسو شُکر وَلے نهٔ اُوباسئ ؟

راأوزی او په پټو کښے شنه شنه فصلونه مُوجودنه وهی - دا بے شمارہ مَړی زمونږ په مخکښے هره ورځ دَ قبرونونه ژوندی راأوزی - دا مُعجزه وَ لے دَ حیرانتیا مُعجزه نهٔ ده څه چه سړے لاهغه دویمه مُعجزه ناممکنه اوګڼی کومه چه په قرآن کښے مونږ ته بیان شوی ده ، یعنی دَ مـړک نه روستو دوباره ژوند -

۲۹ یعنی یوازے ستاسو دَ لوړے ختمولو دَ پاره نهٔ ، بلکه ستاسو دَ تندے دَ ختمولو دَ پاره انتظام هم مونږ کړے دے - دا اُوبه ، چه ستاسو دَ ژوند دَ پاره دَ دومره نه هم زیاتے ضروری دی ، تاسو را جمع کړی نهٔ دی بلکه دا مونږه راجمع کړُو - په زمکه کښے دا سمندرونه مونږ را پیدا کړی دی - زمونږ دَ نمر په کړئ سره دَ سمندر دَ اُوبونه ښړاس اُوچتیږی - مونږ په دے اُوبو کښے داخاصیت پیدا کړے دے چه دَ دیر وکړ مَولو سره تر ښړاس جوړ پیږی - زمونږه هوا کانے دا دَ ځان سره ویسی - زمونږ په قدرت او حکمت سره هغه ښړاس راجمع شی او وریځے تر جوړے شی - زمونږ په حکم سره داوریځے په خاص تناسب سره تقسیم شی او دَ زمکے په مختلفو حصّو باندے خورے شی دَ پاره دَ دے چه دَ زمکے دَ کومے حصّے دَ پاره دَ اُوبو کومه حصّه مقرره ده چه هغه ور اُورسی - او مونږه پاس په هوا کښے هغه یخوالے پیدا کړو چه دَ هغے په ذریعه دا ښړاس په اُوبو کښے بدل شی - مونږه تاسو یوازے پیدا کړی نهٔ یئ ، بلکه ستاسو دَ پالنے دا ټول انتظام هم مونږ کوُو چه دَ دے نه بغیر تاسو ژوندی نشئ پاتے کیدے - نو چه مونږ پیدا کړئ او زمونږه رزق خورئ او زمونږه اُوبهٔ څکئ نو داحق درته څنګه حاصل شو چه زمونږ په مقابله کښے خپلواکه شئ ، یا زمونږ نه بغیر دَ بل چا بندګی شروع کړئ ؟

۳۰ په دے آیت کښے دَ اللہ دَ قدرت اودَ حکمت یوه اهمه کارنامه په ګوته کړے شوی ده - په اُوبو کښے چه اللہ تعالیٰ کوم بے شمارہ خاصیتونه کیښودلی دی په هغے کښے یوخاصیت داهم دے چه که په دے کښے هرڅومره څیزونه حل شی ، خو چه کله دَ ګرمو الی په وجه په ښړاس کښے بدلیږی

أَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ ﴿٧١﴾ ءَأَنتُمْ أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَآ أَمْ
نَحْنُ الْمُنشِـُٔونَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ جَعَلْنَـٰهَا تَذْكِرَةً وَمَتَـٰعًا لِّلْمُقْوِينَ ﴿٧٣﴾

تاسو چرته خیال کړے دے، داوُور چه تاسو بلوئ، آیا دَدے وُنه[۳۲] تاسو پیدا کړی ده، اوکه دَدے پیدا کوُنکی مونږ ه یو؟ مونږ ه هغه دَور یادَولو ذریعه[۳۳] اودَ حاجتمندو[۳۴] ودَ پاره دَ ژوند تیرَولو سامان جوړ کړے دَے۔

نوټول حل شوی څیزونه لاندې پریږدی اوصرف دَ خپلو اصلی اجزاوُو سره په هوا کښے والوزی۔ دا خاصیت که په اُوبو کښے نه وے نودَ براس جوړیدو په وخت کښے به هغه ټول حل شوی څیزونه هم په هوا کښے شامل دل اوبیا به پکښے دَ سمندر مالګه هم شامله وه اوچه باران کیدو نو ټوله زمکه به مالګینه کیدله۔ نۀ به انسان هغه اُوبه څکلے شوے اونۀ به پرې بوتی راز رغونیدے شو۔ اوس چه څوک لږ شان عقل په سر کښے لری آیا هغه دا دعوی کولے شی چه په اُوبو کښے دا دَحکمت نه وک خاصیت پخپله را پیدا شوے دے؟ دَ کوم خاصیت په وجه چه دَ تَرُوُ و اُوبودَ سمندر و نونه صفا خوږ ے اُوبۀ اُوچتے شی اودَ باران په شکل کښے راوریږی اوبیا دَ دریابونو، نهرونو، چینو اوکویانو په شکل کښے هرځائے ته رسی اودَ انسان خدمت کوی، دا په دے خبره څرګنده ګواهی کوی چه الله تعالیٰ په اُوبو کښے دا خاصیت بنه په سوچ فکر اوارادہ سره دَ دے مقصد دَپاره کیښودلے دَے چه دا اُوبۀ دَ الله دَ مخلوق دَ پالنے ذریعه جوړه شی۔ کوم مخلوق چه په تَرُوُ و اُوبو کښے دَ ننه ژوند تیروی هغے په سمندر کښے پیدا کړل اوهلته هغوئ بنه دَ مزے ژوند تیروی۔ لیکن کوم مخلوق چه هغه په وچه اوپه هوا کښے پیدا کړی وُودَ هغوئ دَ پالنے دَ پاره دَ خوږو اُوبو ضرورت وُو او دَ خوږو اُوبودَ راجمع کولو دَ پاره دَ باران دَ انتظام کولو نه مخکښے هغه په اُوبو کښے دا خاصیت کیښودو چه دَ براس جوړیدو په وخت کښے هغه یوحل شوے څیز دَ ځان سره وے نسی۔

۳۱ یعنی دَ نعمت ناشکری وَلے کوئ چه په تاسو کښے څوک دا باران دَ دیوتا ګانو کارنامه ګڼی، اوڅوک دا خیال کوی چه دَ سمندر نه ور یځے اُوچتیدل اوبیا دَ اُوبو په شکل کښے دَ آسمان نه راوریدل یوفطری چکر دَے چه پخپله کیږی، اوکه څوک ئے دَ خدائے رحمت ګڼی هم خودَ خدائے دا حق په ځان لازمی نۀ ګڼی چه هغه نه دَ مننے سر ښکته کړی؟ دَ خدائے دَ دومره لوئ نعمت نه فایده اخلئ اوبیا په جواب کښے کفر اوشرک او نافرمانی کوی؟

۳۲ دَ وُنے نه مُراد یا خو هغه ټولے وُنے دی چه دَ هغے دَ لرګونه وُورَبلَولے کیږی، یا تر مُراد مَرُخ او عَفار نومے هغه دوه وُنے دی چه پخوا په زمانه کښے به دَ عَرَبو خلقو دَ هغے شنے څانګے په یوبل اُووهلے او وُورَبه ئے تر بل کړو۔

۳۳ داوُور دَ وریادَولو ذریعه ده، دَدے مطلب دادے چه داوُور هغه څیز دَے چه څه وخت بل شی نوانسان ته دَ هغه هیرشوے سبق وریادَوی۔ که وُور نۀ وے نودَ انسان ژوند به دَ ځناورو دَ

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾ فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ
النُّجُومِ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ ﴿٧٦﴾ إِنَّهُ لَقُرْآنٌ
كَرِيمٌ ﴿٧٧﴾ فِي كِتَابٍ مَّكْنُونٍ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ ﴿٧٩﴾

نو اے نبیؐ، د خپل لوئ رب د نوم تسبیح[۳۵] ووایه ع

پس نه، څه قسم خورم د ستورو په ځایونو باندې، اوکه تاسو پوهیږئ نو دا د یو غټ قسم[۳۶] دے، چه دا د اوچتے مرتبے قرآن[۳۷] دے، په یو محفوظ کتاب[۳۸] کښے لیکلے شوے دے، چه د پاکانو نه سوا ورته هیڅوک کوتے نشی[۳۹] ورورلے۔

ژوند نه مختلف نه وے۔ د دُور په ذریعه انسانانو خپل خوراکونه پخول شروع کړل او بیا د دے د پاره د کار یکرئ اود ځیزونو جوړولو نوے نوے لارے معلومے شوے۔ بنکاره خبره ده که الله تعالیٰ هغه ذریعے پیدا کړی نه وے د کومونه چه دُور بلیږی، اوهغه ځیزونه ئے پیدا کړی نه وے کوم چه په دُور سره بلیږی، نو د انسان د ځیزونو جوړولو صلاحیت به بند پاتے شوے وے۔ لیکن انسان داخبره هیره کړی ده چه د هغه خالق یو حکیم پالونکے دے چه یو طرفته ئے انسان د پیروقابلیتونو سره پیدا کړو اوبل طرفته ئے په زمکه کښے هغه ځیزونه هم پیدا کړل چه په هغے سره د انسان دا قابلیتونه په عمل کښے راشی۔ انسان که په غفلت کښے بے هوشه نه وی نو یواز ے یو دُور هغه ته د دے خبرے د ور یاد د ولو د پاره کافی دے چه دا د چا احسانونه اود چا نعمتونه دی چه هغه تر په دُنیا کښے فائده اخلی۔

۳۴ په اصل کښے لفظ مَوقِعِ استعمال کړے شوے دے۔ لغت والو د دے مختلفے معنے بیان کړی دی۔ ځینی وائی چه د دے معنیٰ ده په صحرا کښے کرځیدونکی مسافران۔ ځینی وائی چه معنیٰ ئے ده ورځے سرے۔ اوځینی وائی چه د دے نه مُراد هغه ټول خلق دی څوک چه د دُور نه فائده اخلی، خواه که هغه د خوراک پخولو فائده وی، که د رڼا کولو فائده وی، اوکه د څان کرمولو فائده وی۔

۳۵ یعنی د هغه مبارک نوم واخله اود اعلان اوکړه چه هغه د هغه ټولو عیبونو، نقصانونو او کمزورونه پاک دے کوم چه کافران اومشرکان په هغه پورے تړی اوکوم چه د کفر او د شرک په هره عقیده کښے او د آخرت نه د انکار کولو په هر دلیل کښے د ننه پټ پراته دی۔

۳۶ یعنی خبره هغه نه ده کومه چه تاسو وائی۔ دلته په دے خبره قسم خورلے شوے دے چه قرآن پاک د الله د طرفنه دے، لیکن د قسم خورلو نه مخکښے لفظ "لا" استعمال شوے دے د دے "لا" د مخکښے استعمالولو نه داخبره پخپله معلومیږی چه خلقو د دے پاک کتاب په حقله څه خبرے کولے چه د هغے د تردید د پاره دا قسم خورلے شوے دے۔

۳۷ د ستورو د ځایونو نه مُراد د هغوی خپل مستقل ځایونه، د هغوی منزلونه او د هغوی د تلولارے دی۔ او په دوئ باندې چه کوم قسم د دے خبرے د ثبوت د پاره خورلے شوے دے چه قرآن دا اوچتے مرتبے کتاب دے نو د دے مطلب دا دے چه لکه څنګه په عالم بالا کښے د ستورو او د سپوږمئ نظام

یو مُحکَم او مضبوط نظام دے دغه شان مُحکَم او مضبوط دا کلام هم دے۔ کوم خدائے چه هغه نظام جوړ کړے دے هغه خدائے دا کلام هم نازل کړے دے۔ د کائنات په بے شمارہ کهکشانونو (Galaxies) کښے او په هغه کهکشانونو کښے د ننه چه کوم بے شمارہ ستوری (Stars) او سیارے (Planets) دی په هغے کښے چه کوم د کمال درجے ربط او نظم قایم دے، حالانکه هغه په ظاهره بالکل خواړه واړه شکاری، دغه شان دا کتاب هم د ژوند تیرولو د پاره د کمال درجے یو مربوط او منظم نظام پیش کوی چه په هغے کښے د عقیدے په بُنیاد باندے د اخلاقو، د عباداتونو، د ښه ژوند تیرولو، د قانون او د عدالت، د صلحے او د جنګ، غرض دا چه د انسان د ژوند په ټولو اړخونو باندے تفصیلی حکمونه ورکړے شوی دی، او په هغے کښے یو څیز هم د بل څیز نه جُدا نه دے، حالانکه په جُدا جُدا آیتونو کښے او په مختلفو ځایونو کښے چه کوم خطبے وسُیلے شوی دی په هغے کښے د فکر دا نظام بیان شوے دے۔ بیا لکه څنګه چه خدائے د عالم بالا کوم نظم مقرر کړے دے هغه نه بدلیدونکے دے او د ذرے هومره فرق پکښے نه راځی، دغه شان په دے کتاب کښے چه کوم حقیقتونه بیان کړے شوی دی او کوم حکمونه پکښے شوی دی هغه نه بدلیدونکی دی، په هغے کښے د ذرے هومره څه څیز څوک د خپل ځائے نه نشی بے ځایه کولے۔

۳۸ د دے نه مُراد دے لوحِ محفوظ دے۔ د هغه د پاره لفظ "کتاب مکنون" استعمال شوے دے چه معنیٰ ئے ده یوداسے لیک چه هغه پټ ساتلے شوے دے، یعنی چه هغے ته هیڅوک نشی رسیدے۔ په دغه محفوظ کتاب کښے د قرآن د لیکلو مطلب دا دے چه په نبی صلی الله علیه وسلم باندے د نازلولو نه مخکښے هغه د الله تعالیٰ سره په دا سے ځائے کښے لیکلے شوے پروت دے چه په هغے کښے د بدلون هیڅ امکان نشته، ځکه چه هغے ته یو مخلوق هم نشی رسیدے۔

۳۹ دا تردید دے د کافرانو د هغه الزامونو کوم چه به هغوی په قرآن باندے لګول۔ هغوی به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کاهِن (یعنی غیب ویونکی) وسُیلو او وئیل به ئے چه دا کلام هغه ته پیریان او شیطانان سائی۔ د دے جواب په قرآن کښے په دے ډول ځایونو کښے ورکړے شوے دے۔ مثلاً په سورۃ شُعَراء کښے فرمایئ: وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيٰطِيْنُ، وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيْعُوْنَ، اِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُوْلُوْنَ۔ "دا شیطانانونه دے نازل کړے، نه دا کلام د هغوی سره سمائ اونه هغوی دا سے کولے شی۔ هغوی خو د دے اوریدونه هم لرے ساتلے شوی دے" (آیتونه ۲۱۰ تا ۲۱۲)۔ هم دا خبره دلته په دے الفاظو کښے بیان کړے شوی ده چه "دے له د پاکانونه سوا بل هیڅوک کوتے نشی ورورے"، یعنی لا دا خبره چه شیطانان ئے راوړی، یا د دے د نازلیدو په وخت کښے څه مداخلت اوکړی، دا خو بیره څټه خبره ده، په کوم وخت کښے چه دا په نبیؐ باندے نازلولے کیږی په هغه وخت کښے د مُطَهَّرِینو یعنی د پاکو فرښتونه سوا بل څوک نزد ے هم نشی ورتلے۔ د فرښتو د پاره مُطَهَّرِین لفظ په دے معنیٰ کښے استعمال کړے شوے دے چه الله تعالیٰ هغوی د هر قسم ناپاکو جذباتو او خواهشاتو نه پاکے ساتلے دی۔

د دے آیت د تفسیر انسؓ بن مالک، ابن عباسؓ، سعید بن جُبَیرؒ، عِکرِمه، مُجاهد، قَتادہؒ، ابوالعالیه، سُدّی، ضحّاک او ابن زید بیان کړے دے، او د کلام د نظم سره هم دا تفسیر مناسبت لری، ځکه چه د روان عبارت نه دا څپلے معلومیږی چه د توحید او د آخرت په حقله د مکے د کافرانو د غلطو خیالاتو تردید اُوشو او اُوس د قرآن مجید په باره کښے چه د هغوی کوم د دروغو ګمانونه دی

دَهغې تردید کیږی او دَ ستورو په ځایونو باندِ په قَسم خوړلو سره دا څرګنده ونه کړی چه دا دَ اوچتې مرتبې کتاب دے، دَ الله تعالیٰ سره په دا سے محفوظ ځائے کښے لیکلے شوے پروت دے چه هلته دَ مخلوق دَ ورتلو هیڅ امکان نشته، او په نبیؐ باندِ په دا سے طریقه نازلیږی چه دَ پاکو فرښتو نه سِوا هغے له بل هیڅوک کوتے نشی ورؤړے۔

حُسینو مفسّرینو په دے آیت کښے "لا" دَ نَهی په معنیٰ کښے اغستے دے او دَ آیت ئے دا مطلب بیان کړے دے، "دا سے سړے دِ دے له کوتے نه ورؤړی چه هغه پاک نه وی" یا "ناپاک سړی له نه دی پکار چه دِے له کوتے ورؤړی"۔ او حُسینی نور مفسّرین اګرچه "لا" دَ نفی په معنیٰ کښے اخلی او دَ آیت مطلب دا بیانوی چه "دِے کتاب له دَ پاکانو نه سِوا بل څوک کوتے نه ورؤړی"، لیکن هغوی وائی چه دا نفی دَ نَهی په معنیٰ کښے ده لکه څنګه چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم دا حدیث دے چه "المسلم اخوالمسلم لا یظلمه"، (یو مسلمان دَ بل مسلمان رُور دے، هغه په هغه ظلم نه کوی)۔ په دے کښے اګرچه دا خبره شوی ده چه مسلمان په مسلمان ظلم نه کوی، لیکن په اصل کښے دَ دے نه دا حکم را اُوزی چه مسلمان دِ په مسلمان ظلم نه کوی۔ دغه شان په دے آیت کښے اګرچه دا فرمایلے شوی دی چه دَ پاکانو نه سِوا بل څوک قرآن له کوتے نه ورؤړی، لیکن دَ دے نه دا حکم را اُوزی چه ترڅو یو سړے پاک نه وی نو هغه دِ دِے له کوتے نه ورورؤړی۔

لیکن حقیقت دا دے چه دا تفسیر دَ آیت دَ وړاندِ روستو عبارت سره سَمُون نه خوری، چه دَ وړاندِ روستو عبارت نه جُدا کړے شی نو بیا دَ دے الفاظو نه دا مطلب را وتے شی، لیکن په کوم روان عبارت کښے چه دا آیت راغلے دے په هغې کښے چه ورته سړے اُوګوری نو دَ دے خبرې هډوځه موقع په نظر نه ځی چه "دِے کتاب له دِ دَ پاکانو نه سِوا بل څوک کوتے نه ورؤړی"۔ ځکه چه دلته خو خبره کافرانو ته ده او هغوی ته وئیلے کیږی چه دا دَ الله رب العالمین کتاب دے، دَ دے په بارہ کښے ستاسو دا ګمان بالکل غلط دے چه دا کښې شیطانان نبیؐ ته بنائی۔ دلته دَ دے شرعی حکم بیانولو آخر څه موقع کیدے شی چه څوک پاک نه وی نو هغه دِ دِے له کوتے نه ورؤړی؟ چه په دِ ډیره زیاته شی نو دا خبره کیدے شی چه اګرچه آیت دَ دے حکم دَ پاره نازل شوے نه دے لیکن دَ کلام دَ انداز نه دا معلومیږی چه لکه څنګه دَ الله تعالیٰ سره دے کتاب ته صرف پاک مخلوق کوتے ورؤړے شی، دغه شان په دے دُنیا کښے دِ هم هغه خلق چه کم از کم په دے کتاب باندِ دَ کلام الله په حیثیت ایمان لری، هغوی دِ ورله دَ ناپاکی په حالت کښے کوتے نه ورؤړی۔

په دے مسئله کښے لاندینی روایتونه مِلاویږی:

(۱) امام مالکؒ په مُؤطا کښے دَ عبدالله بن ابوبکر بن عَمرو بن حَزم دا روایت نقل کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم کوم لیکلی حکمونه دَ عمرو بن حَزم په لاس دَ یمن سردارانو ته لیږلی وُو په هغې کښے یو حکم دا هم وُو چه لَا یَمَسُّ القُرآنَ اِلَّا طَاهِرٌ (هیڅوک دِ قرآن له کوتے نه ورؤړی سِوا دَ پاک سړی نه)۔ هم دا خبره ابوداؤد په مراسیل کښے دَ امام زهری نه نقل کړی ده چه هغه دَ محمد بن عَمرو بن حَزم سره دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم کوم لیک لید لے وُو په هغې کښے دا حکم هم وُو۔

(۲) دَ حضرت علیؓ روایت چه په هغې کښے فرمائی، ان رسول الله صلی الله علیه وسلّم لم یکن یحجزه عن القرآن شیء لیس الجنابة۔ "رسول الله صلی الله علیه وسلّم به هیڅ څیز دَ قرآن دَ تلاوت نه نه منع کوُو سِوا دَ جنابت نه" (ابوداؤد، نَسائی، تِرمذی)۔

(۳) دَ ابن عُمرؓ روایت، چه په هغې کښے هغه فرمائی چه رسول الله علیه وسلّم فرمائی لا تقرأ

الحائض والجنب شیئا من القرآن ۔" حائضه ښځه اوجنبی انسان دِ د قرآن هیڅ حصه نه لولی "۔ (ابوداؤد ۔ ترمذی) ۔

(۴) د بخاری روایت، چه پکښے دا بیان دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د روم قیصر هرقل ته کوم خط لیږلے ؤو په هغے کښے د قرآن مجید دا آیت هم لیکلے شوے ؤو چه یٰاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ . . . . .

په دے مسئله کښے چه د صحابو او د تابعینو کوم عمل نقل کړے شوے دے هغه دادے:

حضرت سلمان فارسیؓ به د اودس نه بغیر په قرآن لوستلو کښے باک نه کاڼو، لیکن د هغه په نزږے آودسه قرآن نه کوتے او رؤړل جائز نه ؤو ۔ دا عمل د حضرت سعد بن ابی وقاصؓ او د حضرت عبدالله بن عمرؓ هم ؤو ۔ حضرت حسن بصریؒ او ابراهیم نخعی هم د اودس نه بغیر قرآن له کوتے او رؤړل مکروهه ګڼړل ۔ (احکام القرآن للجصاص) ۔ د عطاء او د طاؤس او د شعبی او د قاسم بن محمد نه هم دا خبره نقل کړے شوی ده (المغنی لابن قدامه) ۔ البته چه څوک د قرآن نه تلاوت کوی اولاس نه ورؤړی، یا ئے په یاد ولولی، نو دا د ټولو په نزږے او دسه هم جائز دی ۔

د جنابت او د حیض او د نفاس په حالت کښے قرآن لوستل د حضرت عمرؓ، د حضرت علیؓ، د حضرت حسن بصریؒ، د حضرت ابراهیم نخعی او د امام زهری په نزد مکروه ؤو ۔ لیکن د ابن عباسؓ رائے داوه او په هغے د هغه عمل هم ؤوچه د قرآن کومه حصه لوستل د سړی عادت وی هغه په یاد و لوستلے شی ۔ د حضرت سعید بن المسیّب او د حضرت سعید بن جُبیر نه په دے مسئله کښے تپوس اُوشو نو هغوئ اُوفرمائیل چه وَلے قرآن د هغه په حافظه کښے محفوظ نه دے ؟ نو په لوستلو کښے ئے څه ګناه ده ؟ (المغنی ۔ او المحلّٰی لابن حزم) ۔

په دے مسئله کښے د فقهاؤ مسلکونه لاندے دی:

د حنفی مسلک تشریح امام علاء الدین الکاشانی په بدائع الصّنائع نومے کتاب کښے دا سے کړے دے، "څنګه چه مونږ کول بے اودسه جائزه نه دے د هغه شان قرآن مجید له لاس ورؤړل هم جائز نه دی ۔ البته که په غلاف کښے د ننه ؤو نو بیا خیر دے ۔ حُنفی فقهاء وائی چه د غلاف نه مُراد د قرآن پاسنی ګڼه ده او حُنفی وائی چه دا دے نه مُراد هغه کپړه یا کسورئ یا پے دے چه په هغے کښے خلق قرآن ږدی او د هغے نه ئے راخلی ۔ د هغه شان د تفسیر کتابونو ته هم بے اودسه ګوتے نه ورؤړل پکار دی، نه یودا سے څیزته چه په هغے کښے د قرآن آیت لیکلے شوے وی ۔ البته د د فقهی کتابونو ته سړے بے اودسه لاس ورؤړے شی اګرچه مستحب خبره داده چه هغے له دِهم بے اودسه ګوتے نه ورؤړی، ځکه چه په هغے کښے هم د قرآن آیتونه لیکلے شوی وی ۔ حُنفی حنفی فقهاء دا دے خبری قائل دی چه د قرآن صرف هغه حصّے له ګوتے ورؤړل صحیح نه دی په کومه کښے چه د قرآن عبارت لیکلے شوے وی، پاتے شوے حاشیے یعنی غاړے نوکه هغه ساده وی اوکه څه تشریح پکښے لیکلے شوے وی، هغے له په ګوتو ورؤړلو کښے څه باک نشته ۔ لیکن صحیح خبره داده چه حاشیے هم د قرآن یوه حصّه ده او هغے له ګوتے ورؤړل قرآن له ګوتے ورؤړل دی، پاتے شو قرآن لوستل، نو دا بے اودسه هم جائز دے"۔ په فتاوی عالمګیری کښے چه په دے حکم کښے نه راځی ۔ بچی د تعلیم د پاره قرآن مجید په لاس کښے راغستے شی، خواه که د هغوئ اودس وی اوکه نه ۔

تَنْزِيلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٠﴾ اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ
مُّدْهِنُوْنَ ﴿٨١﴾ وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿٨٢﴾

دا دَ ربُّ العالمین دَ طرفنه نازل شوے دے۔ نوآیا تاسودَدِے کلام سره بے پروائی کوئ، او په دِے نعمت کښے موخپله حصّه دامقررکړی ده چه دادروغ کښئ؟

شافعیؒ مسلک امام نوَوی په المنهاج کښے په دے طریقه بیان کړے دے: "دَمونځ اودَ طواف پشان قرآن له لاس ورړل اودَ قرآن دَپانړے سره کوتے لګول هم دَ اودس نه بغیر حرام دی۔ دغه شان دَ قرآن پاسنئ ګټے له کوتے ورورړل هم منع دی۔ اوکه قرآن په څه کپړه کښے یا په ورړکی صندق کښے وی، یا دَ درس دَپاړه په یوه ټوکئ لیکلے شوے وی نوهغے له هم کوتے ورړل جائز نه دی۔ البته که قرآن په سامان کښے وی، یا دَ تفسیر په کتابونو کښے لیکلے شوے وی، یا په سکه کښے دَهغے څه حصّه لیکلے شوے وی نوهغے له لاس ورړل حلال دی۔ ماشوم هم قرآن له بے اودسه لاس ورړے شی۔ اوبے اودسه سړے که قرآن لولی نو په وکی یا په بل څیز دَهغے پانړے اړولے شی۔

مالکی مسلک چه کوم په "الفقه علی المذاهب الاربعه" کښے نقل شوے دے هغه داده چه دَجمهورفقهاؤ سره هغه په دے خبره کښے متفق دے چه قرآن له دَلاس ورورړلو دَ پاړه اودس شرط دے۔ لیکن دَ قرآن دَ تعلیم دَپاړه هغه استاذ اوشاګرد دواړه دَدے حکم نه جُدا کوی۔ بلکه هغه وائی چه دَ حائضے ښځے دَپاړه هم دَ تعلیم په غرض قرآن له کوتے ورورړل جائزدی۔ ابن قُدامه په المغنی کښے دَ امام مالکؒ دا قول هم نقل کړے دے چه دَجنابت په حالت کښے خوقرآن لوستل منع دی، لیکن دَ حیض په حالت کښے ښځے ته دَ قرآن لوستلو اجازت دے، ځکه که چرے ډیره موده مونږه هغه دَ قرآن لوستلونه منع کړو نودَهغے نه به قرآن هیرشی۔

دَحنبلی مذهب حکمونه چه کوم ابن قُدامه نقل کړی دی هغه دادی چه "دَجنابت په حالت کښے، او دَحیض اودَ نفاس په حالت کښے قرآن یا دَ قرآن پوره آیت لوستل جائز نه دی، البته بِسْمِ اللّٰه، الحمد لله وئیل جائز دی، اګرچه داهم دَ آیت څه حصّه ده، لیکن دَدے نه دَ قرآن تلاوت مقصود نه وی۔ پاتے شوقرآن له لاس ورړل، نوهغه په هیڅ حال کښے دَ اودس نه بغیر جائز نه دی، البته که دَ قرآن یوآیت په خط کښے یا دَ فقهے په کتاب کښے یا په بل لیک کښے درج وی نوهغے له کوتے ورړل منع نه دی۔ دغه شان که قرآن په څه څیز کښے کیښود لے شوے وی نوهغه بغیر دَ اودس نه را اوچتول جائز دی۔ دَ تفسیر کتابونو ته دَلاس ورورړلو دَپاړه هم اودس شرط نه دے۔ دارنګه که یوبے اودسه سړے دَضرورت ترڅنګه قرآن له کوتے ورورړی نوهغه تیمم کولے شی۔" په الفقه علی المذاهب الاربعه کښے دَ حنبلی مسلک دامسئله هم درج ده چه که ماشومان دَ تعلیم په غرض هم بے اودسه قرآن له کوتے ورورړی نودا صحیح نه ده اوداخبره دَهغوی په مشرانو فرض ده چه دَ قرآن راغستونه مخکښے په هغوی اودس اوکړی۔

فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ﴿۸۳﴾ وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿۸۴﴾
وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ فَلَوْلَآ اِنْ
كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ ﴿۸۶﴾ تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۸۷﴾
فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۸۸﴾ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ
نَعِيْمٍ ﴿۸۹﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۰﴾ فَسَلٰمٌ لَّكَ مِنْ
اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۱﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿۹۲﴾

اوس که چرے تاسو دَ حکم لاندِ نهٔ یئ اوپه دے څپل ځیال کښے ریښتینی یئ، نوځه وخت چه دَ مرګ ید ونکی سړی رُوح مَړئ ته راورسید لے وی اوتاسو ګورئ چه هغه مړ کیږی، نوپه دغه وخت کښے دَ هغه وتونکے رُوح وَلے نهٔ واپس کوئ؟ په دغه وخت کښے موښږه هغه ته ستاسونه زیات نزدے یو خوتاسو ونه یئ نهٔ۔ بیاکه چرے هغه مړے د مقرّبینونه وی نودَ هغه دَ پاره راحت، ښه رزق اودَ نعمت نه ډک جنت دے۔ اوکه دَ ښی اړخ دَ خلقونه وی نودَ هغه هرکلے به داسے کیږی چه سلام دے په تا، ته دَ ښی اړخ په خلقو کښے یے۔ اوکه چرے هغه په دروغ ګنړونکو ګمراهانو کښے وی

دَ ظاهریّه مسلک دا دے چه قرآن لوستل اوقرآن له لاس ورورل په هرحالت کښے جائزدی، خوا که سړے بے اودسه وی، اوکه دَ جنابت په حالت کښے وی، اوکه څنګه دَ حیض په حالت کښے وی۔ ابنِ حَزْم په المحلّیٰ کښے (اوّل جلد، صفحه ۷۷ تا ۸۴)۔ په دے مسئله باندِ تفصیلی بحث کړے دے چه په هغے هغه دَ دے مسلک دَ صحیحوالی دلیلونه پیش کړی دی اودا ئے وئیلی دی چه فقهاؤ دَ قرآن لوستلو دَ پاره اوقرآن له دَ لاس ورورلو دَ پاره کوم شرطونه بیان کړی دی په هغے کښے یوهم دَ قرآن اودَ سنت نه ثابت نهٔ دے۔

۴۰ اصل الفاظ دی اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْن۔ دَ اِدْهَان معنیٰ ده دَ یوشیز سره سُستی کول۔ هغے له اهمیت نهٔ ورکول۔ هغه دَ غور کولو قابل نهٔ ګڼړل۔ په انګریزئ ژبه کښے الفاظ دِے مفهوم ته ډیر نزدے دی۔ (To take lightly).

۴۱ امام رازی دَ تَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ په تفسیر کښے یوامکان داهم ظاهر کړے دے چه کیدے شی دلته لفظ رزق دَ روزګار په معنیٰ کښے وی۔ چونکه قریشی کافرانو به دا کنړله چه دَ قرآن دعوت زمونږ دَ روزګار دَ پاره نقصانی دے اوکه چرے دا دعوت کامیاب شو نوزمونږ په رزق کښے به کمے راشی،

فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿٩٣﴾ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ﴿٩٤﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ حَقُّ
الْيَقِيْنِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٩٦﴾

نودَ هغه دَ میلمستیا دَپاره یشیدلی اُوبهٔ دی اودوزخ ته ورننوتل دی ۔ ۴۲ھ
داټول هرڅه یقینی حق دی، نواے نبیؐ، دَ خپل لوئ رب دَ نوم تسبیح لُوَلَه ع

نوپه دے وجه دَد ے آیت دامطلب هم کید ے شی چه تاسو دَد ے قرآن نه دَ خپلے خپټے مسئله جوړه کړی ده ۔ ستاسو په نزدَ حق اودَ باطل خبره هیڅ اهمیت نه لری، ستاسو په نظرکښے اصل اهمیت دَ دو ډئ د ے اودَ هغے دَپاره تاسودَ حق مخالفت اودَ باطل ملګرتیا ډیر په آسانه کوئ ۔

۴۲ھ دَ حضرت عُقبَه بن عامرجُهَنی روایت دے چه کله دا آیت نازل شونورسول الله صلی الله علیه وسلّم حکم اُوکړو چه تاسودا په رکوع کښے وایئ، یعنی په رکوع کښے سُبحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْمُ وایئ ۔ (مُسند احمد، ابوداؤد، ابن ماجه، ابن حبّان، حاکم) ۔ دَدے نه معلومیږی چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَمونځ کومه طریقه مقرّرکړی ده دَهغے وړه وړه حصّه هم دَقرآن پاک دَ اشارونه راغستلے شوی ده ۔

تفهيم القرآن

الحديد

٥٧

الحَدِید

نوم | دَ پنځیشتم آیت دَ فقرې وَاَنْزَلْنَا الْحَدِیْدَ نه اغستلے شوے دے۔

دَ نازلیدو زمانه | دا په اتفاق سره مدنی سورة دے اودَ دے دَ مضمونونو نه معلومیږی چه غالباً دا به دَ جنګ اُحد اودَ صلح حُدَیبیے په منځ کښے په څه زمانه کښے نازل شوے وی۔ هم دا هغه زمانه وه چه دَ مدینے وړوکے شان اسلامی ریاست کافرانودَ هرطرفنه راګیرکړے وُو او یَوموتی مومنانو په تش لاس دَ ټول عرب مقابله کوله۔ په دے حالت کښے اسلام ته یوازے دَ مسلمانانودَ سر قربانولو ضرورت نه وُو بلکه دَ مالی قربانئ ضرورت هم وُو، اوپه دے سورة کښے دَدے قربانئ دَ پاره سه کلک اپیل شوے دے۔ دا قیاس په لسم آیت سره نورهم مضبوطیږی چه په هغے کښے الله تعالیٰ مومنانوته فرمائی چه دَ فتح نه روستو کوم خلق خپل مالونه خرچ کوی اودَ خدائے په لار کښے جنګ کوی هغوی هیڅکله هم دَ هغه خلقو سره نشی برابریدے چه هغوی دَ فتحے نه مخکښے خپل سرومال قربانی کړی۔ اودَدے تائید دَ حضرت انسؓ هغه روایت کوی کوم چه ابن مَرْدُوْیَه نقل کړے دے۔ هغه دَ آیت: اَلَمْ یَاْنِ لِلَّذِیْنَ آمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِکْرِاللّٰه په حقله فرمائی چه دَ قرآن دَ نازلیدو دَ وخت نه اُولس کاله روستو دَ مومنانو دَ رابیدارولو دَ پاره دا آیت نازل شو۔ په دے حساب سره دَدے دَ نازلیدو زمانه دَ څلورے اودَیرشو هجریُ په منځ کښے جوړیږی۔

موضوع اومضمون | دَدے موضوع دانفاق فی سبیل الله نصیحت دے۔ دَ اسلام دَ تاریخ په هغه سخت نازک دَور کښے چه دَ عربودَ جاهلیت سره دَ اسلام آخری جنګ شروع وُو، داسورة دَدے غرض دَ پاره نازل کړے شوے وُو چه مسلمانان خاص طورودَ مالی قربانئ دَ پاره تیارکړے شی اوداخبره ورته په ذهن کښے واچولے شی چه ایمان تش دَ ژبے اقرار اودَ یوځوظاهری عملونونوم نه دے بلکه دَ ایمان اصلی رُوح اوحقیقت دادے چه سړے دَ الله اودَ هغه دَ دین دَ پاره مخلص شی۔ ځوک چه دَدے رُوح نه خالی وی اودَ خدائے او دَ هغه دَ دین په مقابله کښے خپل سراو مال غوره کښږی نو دَ هغه دَ ایمان اقرار دَ دننه نه وَرْدے چه دَ الله سره ئے هیڅ قدراو قیمت نشته۔

دَدے مقصد دَ پاره دَ ټولونه اوّل دَ الله تعالیٰ صفتونه بیان کړے شوی دی چه اوریدونکو ته بنه معلومه شی چه دَ څنګه لوئے هستئ دَ طرفنه هغوی ته خبره کیږی۔ دَدے نه روستو لاندینی

مضمونونه پرلپسے بیان شوی دی،

ـــــ د ایمان سره د اخبره لازمی ده چه سړے ید د خدائے په لارکښے د مال خرچ کولونه نه پوه نهٔ کوی ـ داسے کول یوازے د ایمان د نشوالی نښه نهٔ ده بلکه د حقیقت په اعتبار سره هم غلطه ده ـ ځکه چه دامال په اصل کښے د خدائے مال دے اوتاله پرے دیو خلیفه په حیثیت سره اختیارات ورکړے شوی دی ـ پرون دامال د بل چا سره وُو، نن ستا سره دے اوصبا له به بیا بل چا لاس له لاړشی ـ آخر به داخدائے ته پاتے کیږی چه هغه د کائناتو د هرشے وارث دے ـ د دے مال که څه حصّه ستا په کار راتلے شی نوهغه صرف هغه حصّه ده چه تهٔ ئے په خپل دَور کښے د خدائے په لار کښے اُولګوے ـ

ـــــ د خدائے په لارکښے سرا ومال قربانی کول اگرچه په هرحال کښے یوقدر ومن کار دے، لیکن دَ دے قربانیانو قدراو قیمت په خاصوخاصوموقعوکښے جُدا جُدا وی ـ یوه موقعه هغه وی چه کله د کفر طاقت سخت په زُور کښے وی اوهر وخت د اخطره وی چه اسلام چرته د کُفر په مقابله کښے لاندے نهٔ شی ـ بله موقعه هغه وی چه کله د کفراو د اسلام په جنګ کښے د اسلام طاقت زیات شی اومومنانو د حق د دُشمنانو په مقابله کښے فتح نصیب کیږی ـ دا دواړه حالتونه یوشان نهٔ دی ـ نوپه دے وجه چه کوم قربانیانے په دے مختلفو حالتونو کښے اُوشی هغه هم په خپل قیمت کښے برابر نهٔ دی ـ کوم خلق چه د اسلام په کمزوری حالت کښے د اسلام د اُوچتولو د پاره اُوجنګیږی اوخپل مالونه خرچ کړی د هغوی درجے ته هغه خلق نهٔ شی رسید ے کوم چه د اسلام د غلبے په حالت کښے د اسلام د خورولو د پاره خپل سرا ومال قربانی کړی ـ

ـــــ د خدائے په لارکښے چه کوم مال خرچ کړے شی هغه د الله په ذمه قرض دے، اوهغه به الله تعالیٰ نهٔ یوازے داچه په څوځوچنده زیات واپس کوی بلکه د خپل طرفنه به زیات اَجر هم ورکوی ـ

ـــــ په آخرت کښے به نور هغه مومنانوته نصیب کیږی چاچه د خدائے په لارکښے خپل مال خرچ کړے وی ـ پاتے شوهغه منافقان خلق چه په دُنیا کښے خاص خپلو فایدو ته کوری او د دے خبری ورسره هیڅ پروانهٔ وی چه حق غالب کیږی اوکه باطل، هغوی اگرچه د دُنیا په دے ژوند کښے د مومنانو سره شریک اُوسیدلی وی، لیکن په آخرت کښے به هغوی د مومنانونه جُدا کړے شی، هغوی به د نُورنه محرومه وی اود هغوی انجام به د کافرانو سره وی ـ

ـــــ مسلمانانوله د هغه اهلِ کتابو پشان کیدل نهٔ دی پکارچه ټول عُمرئے په دُنیا پرستئ کښے تیر شوے دے او زړونه ئے د ډیرے زمانے د غفلتونو د وجے نه د کانړو پشان شوی دی ـ هغه به څه مومن وی چه زړه ئے د خدائے په ذکر سره وِیلی نه شی او د هغه نازل کړے شوی حق ته غاړه کیښږدی ـ

ـــــ د الله په نږ صدّیق او شهید صرف هغه مومنان دی چه هغوی خپل مال د ریا نه بغیر د زړه په صدق سره د الله په لارکښے خرچ کوی ـ

ـــــ د دُنیا ژوند صرف د یوځوورځو سپرلے اود دوکے سامان دے، د دے خائے لوبے، د دے خائے

مینے، دَدے ځائے ښائیست او ښکلا، دَدے ځائے په لوئ والی باندِ فخر، اودَدے ځائے مال اودولت، چه خلق پکښے دَیوبل نه دَزیاتید وکوشش کوی، داټول هرڅه فناکید ونکی دی، دَدے مثال دَ هغه فصل پشان دے چه اوّل شین شی، بیازیړشی اوپه آخر کښے تش بُوس پاتے شی۔ نهٔ ختمیدونکے ژوند په اصل کښے دَآخرت ژوند دے چه هلته به لوئے نتیجے څرګندیږی۔ تاسوکه دَیوبل نه دَورانديدِ والی کوشش کوئ نوداکوشش جنّت ته په منډه کولوکښے اُوکړی۔

——— په دُنیا کښے چه کومه خوشحالی اومصیبت راځی هغه دَاللہ تعالیٰ دَ مخکښے لیکلے شوی فیصلے مطابق راځی۔ مومن له پکاردی چه دَ مصیبت په راتلوسره حوصله نهٔ بائیلی، اوپه خوشحالئ کښے غرور اُونهٔ کړی۔ داخودَ منافق اودَکافر سړی کار دے چه اللہ ورله یو نعمت ورکړی نوځان ته غره شی اوفخر شروع کړی اودَ خدائے په کارکښے پخپله هم خرچ نهٔ کوی اونورو ته هم دَخرچ نهٔ کولومشوره ورکوی۔

——— اللہ تعالیٰ خپل رسولان دَ څرګندونښوسره اودَکتاب اودَ انصاف دَ میزان سره رالیږلی دی چه خلق په انصاف باندِ قایم وی، اودَدے سره ئے وُسپنه هم نازله کړه چه دَ حق دَ قایمولواودَ باطل دَ ښکته کولودَ پاره طاقت استعمال کړے شی۔ په دے طریقه اللہ تعالیٰ دامعلومَول غواړی چه په انسانانو کښے څوک داسے دی چه دَ هغه دَ دین دَ مرستے اودَ امداد دَ پاره راپاسی اودَ هغه دَ پارهٔ اُوجنګیږی۔ داموقعے اللہ تعالیٰ ستاسودَ خپلے ترقئ دَ پاره پیداکړی دی، کنئ نواللہ تعالیٰ دَ خپل کاردَ پاره چاته محتاج نهٔ دے۔

——— دَ اللہ تعالیٰ دَطرفنه اوّل پیغمبران راتلل چه دَ هغوی په دعوت سره څه خلق نیغ لارے ته راغلل اوډیرخلق فاسقان پاتے شو۔ بیا عیسیٰ علیه السّلام راغے چه دَ هغه دَ تعلیم سره په خلقو کښے ډیرے اخلاقی خوبیانے پیدا شوے، لیکن دَ هغه اُمّت دَ رهبانیّت بدعت شروع کړو۔ اُوس اللہ تعالیٰ محمد صلی اللہ علیه وسلّم رالیږلے دے۔ په هغه چه کوم خلق ایمان راوړی اودَ خدائے دَ یَرے ژوند شروع کړی، اللہ تعالیٰ به هغوی له دَ خپل رحمت دوه چنده حصّه ورکوی اوهغوئ له به هغه نُور ورکړی چه په هغے سره به هغوی دَ دُنیا په ژوندکښے په هرقدم باندِ دَ کږولارو په منځ کښے نیغه لارلیدے شی۔ اهلِ کتاب که هرڅومره خپل ځان دَ اللہ دَ فضل ټیکه داران کنړی، خودَ اللہ فضل دَ هغه پخپل لاس کښے دے، دَ هغه اختیار دے چه چاله خپل فضل ورکول غواړی هغه له ئے ورکوی۔

دا دَ هغه مضمونونوخلاصه ڈکوم چه په دے سورهٔ کښے په یوترتیب سره مُسلسل بیان شوی دی۔

سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ مَدَنِيَّةٌ

اٰيَاتُهَا ۲۹ رُكُوْعَاتُهَا ۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ①

دَاللہ تسبیح وئیلی دہ ہر هغه څیز چه په زمکه او په آسمانونو کښے دی، او خاص هم هغه طاقتور دے او د حکمت خاوند دے۔

① یعنی هیڅه د کائنا تو هر څیز د دے حقیقت اظهار او اعلان کړے دے چه د هغه خالق او پروردګار د هر عیب، د هر نقصان، د هر کمزورئ، د هر خطا او د هر بدئ نه پاک دے۔ د هغه ذات پاک دے، د هغه صفتونه پاک دی، د هغه کارونه پاک دی، او د هغه حکمونه هم، خواه که هغه تکوینی حکمونه دی او که شرعی، ټول سراسر پاک دی۔ دلته سَبَّحَ د ماضی صیغه استعمال کړے شوی ده، او په ځینو نورو ځایونو کښے يُسَبِّحُ د مضارع صیغه استعمال شوی ده چه پکښے حال او مستقبل دواړه شامل دی۔ د دے معنی داشوه چه د کائنا تو هره ذره هیڅه د خپل خالق او د خپل رب پاکی بیانوی، نن هم بیانوی او هیڅه به ئے بیانوی۔

② اصل الفاظ دی هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ۔ لفظ هُوَ چه ړومبے راشی نو مطلب په خپله خاص شی، یعنی خبره صرف دومره نه ده چه هغه عزیز او حکیم دے، بلکه حقیقت دا دے چه خاص هم هغه دا سے هستی ده چه هغه عزیز هم دے او حکیم هم۔ د عزیز معنی ده دا سے زبردست او طاقتور چه هغه یوځل فیصله اوکړی نو بیا طاقت ئے منع کولے نشی، د هغه مقابله کول د هیچا په وس کښے نه دی۔ د هغه حکم به هر یو منی خواه که څوک ئے غواړی اوکه نه، څوک چه د هغه نافرمانی اوکړی هغه د هغه د ګرفت نه په هیڅ طریقه نشی بچ کیدے۔ او د حکیم معنی داده چه هغه هرڅه کوی هغه د حکمت او د پوهے سره کوی۔ د هغه پیدا اوښت، د هغه تدبیر، د هغه بادشاهی، د هغه حکمونه، د هغه هدایات، ټول د حکمت نه پک دی۔ د هغه په یوکار کښے د ناپوهتیا بوئ قدر له هم نشته۔

دلته یوه باریکه نکته بله هم ده چه په هغځان ښه پوهه کول پکار دی۔ په قرآن مجید کښے پیر کم ځایونه داسے دی چه هلته د اللہ تعالیٰ د عزیز صفت سره قوی، مُقْتَدِر، جَبَّار او ذُوانْتِقَام غوندے الفاظ استعمال شوی دی چه د هغې نه صرف د هغه د مطلق اقتدار اظهار کیږی، او دا صرف په هغه ځایونو کښے استعمال شوی دی چرته چه داضروری وی چه ظالمان او نافرمانه خلق د اللہ د ګرفت نه اوبَر وَلے شی۔ د دغه شان دیو څو ځایونو نه علاوه باقی چه په کوم ځائے کښے د اللہ تعالیٰ د پاره لفظ عزیز استعمال کړے شوے دے هلته د هغې سره حکیم، علیم، رحیم، غفور، وهّاب او حمید لفظ ضرور راوړلے شوے دے۔ د دے وجه داده چه که چرے څوک داسے وی چه هغه ته بے پناه طاقت حاصل وی لیکن د هغې سره ناپوهه وی، جاهل وی، بے رحمه وی، معاف کول نه پیژنی، شوم وی، او بدعمله وی نو د هغه اقتدار د ظلم نه سوا بل هیڅ نه وی۔ په دُنیا کښے چه په کوم ځائے کښے ظُلم کیږی د هغې بُنیادی وجه هم داده چه کوم سړی ته په بل باندِ اقتدار حاصل دے نو هغه خو یا خپل طاقت په ناپوهتیا او په جهالت سره استعمالوی، یا هغه

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

دَ زمکے اودَ آسمانونو دَ باد شاهئ مالک هم هغه دے، ژوند اومرګ راولی، اوپه هرڅیر باندِ

بے رحمه دے اوزړه ئے دَ کانړی پشان سخت دے، یا شوم او کنجوس دے، یا بد خُویه اوبد عمله دے۔ دَ طاقت سره چه داخراب صفتونه په کوم ځائے کښے ملګری وی هلته دَ خیر اُمید نشی کیدے۔ داوجه ده چه په قرآن مجید کښے دَ اللہ تعالیٰ دَ صفت "عزیز" سره دَ هغه نورصفتونه یعنی حکیم، علیم، رحیم اوغفور، حمید اووهّاب لازماً راغلی دی دَپاره دَدے چه انسان ته معلومه شی چه کوم خدائے په دے کائناتو باد شاهی کوی هغه یوطرفته خو داسے کامل اقتدارلری چه دَ زمکے نه واخله دَ آسمانونو پورے هیڅوک دَ هغه دَ فیصلو مخے له نشی راتلے، لیکن بل طرفته هغه حکیم هم دے، دَ هغه هره فیصله دَ حکمت نه پکه وی۔ علیم هم دے، چه کومه فیصله کوی هغه پیک پیک دَ علم مطابق کوی۔ رحیم هم دے، خپل بے پناه اقتدار په بے رحمئ سره نهٔ استعمالوی۔ غفور هم دے، دَخپلو ماتحتو سره دَ نکته چینئ نهٔ بلکه دَ چشم پوشئ معامله کوی۔ وهّاب هم دے، دَ خپل رعیّت سره دَ شومتیانهٔ بلکه دَ پیر سخاوت سلوک کوی۔ اوحمید هم دے، دَ ستایښے ټول صفتونه او کمالونه دَ هغه په ذات کښے جمع دی۔

دَ قرآن دَ دے بیان په پوره اهمیت باندِ هغه خلق زیات بنه پوهیدے شی څوک چه دَ حاکمیّت (Sovereignty) په مسئله باندِ دَ سیاست دَ فلسفے اودَ قانون دَ فلسفے دَ بحثونونه واقف دی۔ حاکمیّت وائی دِ ے ته چه دَ حاکمیّت دَ مالک سره لامحدوده اِقتدار وی، دَ هغه حکم اوفیصله هیڅ یوداخلی اوخارجی طاقت نهٔ سند ولے شی، نهٔ ئے بدلولے شی، اونهٔ پر څوک غورکولے شی، اودَ هغے دَ منلونه بغیر بله هیڅ چاره نهٔ وی۔ دَدے لامحدوده اقتدار دَ پاره دَ انسان عقل لازما مطالبه کوی چه داسے اقتدار چاته حاصل وی نوهغه دِ بے عیبه وی اوهغه دِ په علم او حکمت کښے کامل وی۔ ځکه چه کوم چرے دا اقتدار دَ ناپوهه، دَ جاهل، دَ بے رحمه اودَ بد خویه هستئ سره وی نودَ هغه حاکمیّت به سراسر ظلم اوفساد وی۔ داوجه ده چه کومو فلسفیانو پوانسان له، یادَ انسانانو پوے ادارے یا یوے په لے له دَ حاکمیت واک ورکړے دے نوهغوی دا فرض کړی ده چه هغوی به دَ غلطئ نه پاک وی۔ لیکن ظاهره خبره ده چه نهٔ خوپه واقعه کښے لامحدوده حاکمیّت انسانی اقتدارته حاصلیدے شی، اونهٔ دا ممکنه ده چه یوباد شاه، یا پارلیمنټ، یا قوم، یا پارټی ته په محدوده دایره کښے کوم حاکمیّت حاصل وی هغه دِ هغوی په صفا او په صحیح طریقه استعمال کړے شی۔ ځکه چه داسے حکمت چه په هغے کښے دَ ناپوهتیا بوئ قدر له هم نهٔ وی اوداسے علم چه هغه په ټولو حقیقتونو خورو وی، دَ سرنه هډونو ے انسان تهٔ حاصل نهٔ دے نوځکه به دَ انسانانو پوے په لے یا یوقوم ته نصیب شی۔ اودغه شان انسان چه ترڅوانسان دے نوداهم ممکنه نهٔ ده چه دِ دَ خود غرضئ، دَ نفسانیّت، دَ یرے، دَ لالچ، دَ خواهشاتو، دَ تعصّب، دَ غصے اودَ مینے او دَ نفرت نه بالکل پاک اواُوچت وی۔ داحقیقت چه دَ سړی په نظر کښے وی اوغور اوکړی نوهغه ته بنه معلومه شی چه قرآن په حقیقت کښے دَ حاکمیّت بالکل صحیح اومکمل تصوّر پیش کوی۔ قرآن وائی چه "عزیز" یعنی مطلق اِقتدار والا په دے کائنات کښے دَ اللہ تعالیٰ نه سوا بل هیڅ څوک نشته، اودَ دے لامحدودہ اقتدار سره

شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢﴾ هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۖ وَ
هُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٣﴾ هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ
فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ

قدرت لری۔ هغه اوّل هم دے او آخر هم، اوښکاره هم دے اوپټ هم دے، او هغه دَهر څیز علم لری۔ خاص هغه دے چه آسمانونه او زمکه ئے په شپږ ورځو کښے پیدا کړل او بیا په عرش باندِ دَ نُور سره راغے۔ دَ هغه په علم کښے دی هغه څه

هم هغه یوه ذات داسے دے چه عیبه دے، حکیم او علیم دے، رحیم او غفور دے او حمید او وهّاب دے۔

۳ یعنی چه هیڅ نه ؤ او نو هغه ؤ او اوچه هیڅ پاتے نه شی نو هغه به وی۔ هغه دَ ټولو اوښکاره څیزونو نه زیات اوښکاره دے، ځکه چه په دُنیا کښے څه ظاهر دی دا هم دَ هغه دَ صفتونو او هم دَ هغه دَ کارونګړئ او هم دَ هغه دَ نُور ظهور دے۔ او هغه دَ ټولو پټو څیزونو نه زیات پټ دے، ځکه چه په حواسو سره دَ هغه ذات معلومَول خو څنګه خبره ده، عقل او فکر دَ هغه اصل او حقیقت ته نشی رسیدے۔ دَ دے بهترین تفسیر دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ یو دُعا دا الفاظ دی چه هغه امام احمد، مُسلم، تِرمِذی او بَیهَقی دَ حضرت ابوهریرهؓ نه او حافظ ابو یعلیٰ موصلی په خپل مُسند کښے دَ حضرت عائشے نه نقل کړی ده،

انت الاول فلیس قبلك شیء	ته اول ئے، هیڅوک ستانه اول نشته
وانت الاخر فلیس بعدك شیء	ته آخر ئے، هیڅوک ستانه روستو نشته
وانت الظاهر فلیس فوقك شیء	ته ظاهر ئے، هیڅوک ستانه بَره نشته
وانت الباطن فلیس دونك شیء	ته پټ ئے، هیڅوک ستانه زیات پټ نشته

دلته دا اعتراض پیدا کیږی چه په قرآن مجید کښے دَ جنتیانو او دَ دوزخیانو دَ پاره دَ همیشه ژوند کوم ذکر شوے دے دَ هغے سره دا خبره څنګه سمون خوری چه الله تعالیٰ آخر دے، یعنی هرکله چه هیڅ نه وی نو هغه به وی؟ دَ دے جواب پخپله په قرآن کښے موجود دے چه كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ (القصص - ۸۸)۔ یعنی، "هر څیز فانی دے سوا دَ الله دَ ذات نه"۔ یعنی دَ مخلوق ذات له بقا نشته۔ که یو څیز باقی دے یا باقی پاتے کیدے شی نو هغه الله باقی ساتی ځکه باقی دے او دَ هغه په باقی ساتلو سره باقی پاتے کیدے شی، کنئ نو دَ هغه نه سوا نُور ټول هر څه فانی دے۔ په جنّت او په دوزخ کښے به چاته همیشوالے په دے وجه نه ملاویږی چه هغه کنی پخپله غیر فانی دے، بلکه په دے وجه به ملاویږی چه الله به هغه ته همیشه ژوند ورکوی۔ دا معامله دَ فرښتو هم ده چه هغه بذاتِ خود غیر فانی نه دی۔ هرکله چه الله اُوغوښتل نو هغوی په وجود کښے راغلے، او چه ترڅو هغه غواړی تر هغے هغوی موجود پاتے کیدے شی۔

۴ یعنی دَ کائناتو خالق هم هغه دے او بادشاه هم هغه دے (دَ زیاتے تشریح دَ پاره اُوګورئ تفهیم القرآن

فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ
فِيهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤﴾
لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٥﴾ يُولِجُ
اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ ۚ وَهُوَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٦﴾

چه زمکے ته ځی اوهغه څه چه د زمکے نه راوزی اوهغه څه د آسمان نه راکوزیږی اوهغه څه چه آسمان ته خیژی - هغه ستاسوسره دے هرچرته چه تاسو یئ - کوم کار چه تاسو کوئ هغه هغهٔ وینی - هم هغه د زمکے اود آسمانونو د بادشاهئ مالک دے اوخاص هم هغه ته د ټولو معاملاتو فیصلے واپس کړے کیږی - هغه شپه په ورځ کښے اوورځ په شپه کښے ننباسی ، اوهغه د زړونو په پټو رازونو هم پوهیږی -

دویم جلد ، الاعراف ، حاشیے ۴۱ - ۴۲ - یونس ، حاشیه ۴ - الرعد ، حاشیے ۲ تا ۵ - څلورم جلد ، حٰمٓ السجدہ ، حاشیے ۱۱ تا ۱۵ -

۵ یعنی هغه یوازے د غټو غټو خبرو عالم نهٔ دے بلکه د وړو وړو خبرو علم هم لری - کومه دانه چه په زمکه کښے د څاورولاندے کیږی ، کوم تیغ او پانړه چه د زمکے نه راوزی ، د باران کوم یو یو څاڅکے چه د آسمان نه راپریوزی ، د ټولو کوم مقدار چه د سمندرونو او تالابونونه اوچتیږی او آسمان ته خیژی ، داټول هرڅه د هغه په نظر کښے دی - هغه ته معلوم دی چه دانه په زمکه کښے په کوم ځائے کښے پرته ده ، څکه خوهغه چوی اود هغے نه تیغ را وباسی اود هغے پالنه کوی اولوئ بوټے ترجوړوی - هغه ته معلوم دی چه د ټولو څومره مقدار د کوم کوم ځائے نه اوچت شوے دے او کوم ځائے ته رسیدلے دے ، څکه خوهغه ټول براس راجمع کوی او وریځ ترجوړوی اود زمکے په مختلفو حصوئے تقسیموی او په هر ځائے کښے په یوخاص حساب سره باران وروی - د غه رنګه نور ټول هغه څیزونه په دے قیاس کیدے شی کوم چه زمکے ته ځی اود زمکے نه راوزی او آسمان ته خیژی اود آسمان نه نازلیږی - داټول هرڅه که د الله په علم کښے نهٔ وے نود هرڅیز جدا جدا تدبیر او په پرحکمت سره د هرڅیز انتظام به څنګه ممکن وے -

۶ یعنی په یوځائے کښے هم تاسو د هغه د علم ، د هغه د قدرت ، د هغه د بادشاهئ اود هغه د تدبیر او انتظام نه بهر نهٔ یئ - په زمکه کښے ، په هوا کښے ، په اوبو کښے ، یا په یو یوازے ځائے کښے ، هرچرته چه تاسو یئ ، الله ته معلومه ده چه تاسو کوم ځائے یئ - هلته چه ته ژوند ے ئے نو دا د دے خبرې علامه ده چه الله تعالیٰ په هغه ځائے کښے ستاد ژوند انتظام کوی - ستا زړه که د زرزیږی ، ستا پرپوس که ساه اخلی

اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاَنْفِقُوْا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ ؕ

ایمان راوړئ په الله اود هغه په رسول باندې[۵۸] اوخرچ اوکړئ[۵۸] د هغه څیزونو څخه په کوم هغه تاسو خلیفګان

ستا غوږونه اوستړګې که کارکوی نو دا ټول هرڅه په دې وجه دی چه د الله په انتظام سره ستا د بدن ټولے پرزے چلیږی ۔ او په هرځائے کښے چه تاله مړګ راځی نو په دې وجه راځی چه د الله تعالیٰ د طرفنه ستا د ژوند انتظام ختم شی او ستا د واپس اغوښتلو فیصله اوشی ۔

۵۸ دا حکم کافرانو ته نۀ دے بلکه د روستنی ټول تقریر نه دا معلومیږی چه حکم هغه ټولو مسلمانانو ته دے کوموچه د اسلام د کلمے اقرار کړے وی او د مومنانو په ډله کښے شامل شوی وی ، لیکن د ایمان د کارونو کولونه او د مومن پشان د ژوند تیرولونه به ئے پرې کوله ۔ بنکاره خبره ده چه غیرمسلمه خلقوته د ایمان د دعوت ورکولو سره فوراً دا وینا نه شوه کیدے چه په جهاد فی سبیل الله کښے د زړه د اخلاصه خپله حصه خرچ کړئ ، او نه دا وینا کیدے شوه چه په تاسو کښے که چا د فتح نه مخکښے د الله په لار کښے جهاد اوخرچ اوکړو نو د هغه درجه به د هغه خلقونه اوچته وی چاچه د فتح نه روستو دا کارونه اوکړل ۔ غیرمسلمه ته د ایمان د دعوت ورکولونه روستو خو اوّل هغه ته د ایمان اولنی کارونه وراندې کړے کیږی نه ئې چه آخری کارونه ۔ په دے وجه د کلام د شان په لحاظ سره دلته د اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ویئلو مطلب دا دے چه اے هغه خلقو چه د ایمان دعویٰ لرئ او د مسلمانانو په ډله کښے شامل شوی یئ ، الله او د هغه رسول د زړه په صدق سره اومنئ او هغه کارونه شروع کړئ کوم چه په اخلاص سره مومنانو له کول پکار دی ۔

۵۸ دلته د خرچ کولونه مُراد د عام بنیګړے په کارونو کښے خرچ کول نه دی ، بلکه د لسم نمبر آیت الفاظ صفاوائی چه دلته دد ے نه مُراد په هغه کوشښونو کښے حصه اغستل دی کوم چه په هغه وخت کښے د کفر په مقابله کښے د اسلام د اوچتولو د پاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مشرئ کښے شروع وُو ۔ په هغه وخت کښے خاص طور دوه ضرورتونه دا سے وُو چه د هغے د پاره اسلامی حکومت ته د مالی امداد په سخت حاجت پیښ شوے وُو ۔ یو ، جنګی ضرورتونه ۔ دویم ، د هغه مظلومانو مسلمانانو سره امداد کول چه هغوی د کافرانو د ظلم زیاتی نه تنګ شوی وُو او د عرب د هرے حصے نه ئے هجرت کړے وُو او مدینے ته راغلی وُو او نُور هم راتلل ۔ مخلصانو مومنانو به د دے خرچونو پوره کولو د پاره په خپل ځان باندې دومره پیټے برداشت کولو چه هغه به د هغوئ د وس نه پیر زیات وُو ، او د هغوی د دے کار تعریف وراندې په آیت ۱۰ ۔ ۱۲ ۔ ۱۸ ۔ او ۱۹ کښے شوے دے ۔ لیکن د مسلمانانو په ډله کښے پیرداسے مالدار خلق موجود وُو چه د کفر او د اسلام د جنګ ته به ئے تش د تماشګیر په نظر کتل او د دے خبری ورسره هیڅ فکر نه وُو چه هغوی په کوم څیز باندې د ایمان راوړلو دعویٰ کوی د هغے څه حقونه هم د هغوی په جان او مال باندې راځی ۔ دا حکم دے دویم قسم خلقوته دے ۔ هغوئ ته ویئلے کیږی چه ریښتینی مومنان شئ او د الله په لار کښے مال خرچ کړئ ۔

فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَاَنْفَقُوْا لَهُمْ اَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝ وَمَا لَكُمْ

جوړکړی یئ۔ کوموخلقوچه په تاسوکښې ایمان[۹] راوړو اومال[۱۰] خرچ کړو۔ دهغوی دپاره لوئ اجردے۔ په تاسوڅه شوی دی

[۹] دَدے دوه مطلبونه دی اودواړه دلته صحیح دی۔ یومطلب دادے چه کوم مال ستاسوسره دے دا په اصل کښې ستاسوذاتی مال نهٔ دے بلکه الله درکړے دے۔ تاسو بذاتِ خود دَ دے مالکان نهٔ یئ، الله تعالیٰ دَ خپل خلیفه په حیثیت سره په دے مال تاسوله اختیار درکړے دے۔ نو دَمال دَ اصلی مالک دَ پاره دَ هغه دَمال دَ خرچ کولونه انکارمهٔ کوئ۔ دَ نائب دا کار نهٔ دے چه دَ مالک مال دَ مالک په کارکښې دَخرچ کولونه وَړه اوکړی۔ دویم مطلب دادے چه دامال نهٔ همیشه ستاسوسره اوونهٔ به همیشه ستاسوسره وی۔ پرون دا دَ بل چا سره اُو بیا الله دَ هغه په ځای تاته حواله کړو، بیابه یووخت دا سے راشی چه دابه ستاسره نهٔ وی اونورو خلقوته به حواله کړے شی۔ په دے لږه شان عارضی موده کښې، چه ترڅو دامال ستاپه قبضه اواختیارکښې دے، دا دَ الله په کارکښې خرچ کړه، چه په آخرت کښې دَ هغې همیشه اومستقل اجر تاته میلاؤشی۔ هم داخبره نبی صلی الله علیه وسلم په یوحدیث کښې بیان کړی ده۔ دَ ترمذی روایت دے چه یوځل دَ هغه کَره یوه بیزه ذبحه کړے شوه اودَ هغې غوښه تقسیم شوه۔ نبیؐ چه کورته راغلے نوتپوس ئے اوکړو چه په بیزه کښې څه پاتے شو؟ حضرت عائشهؓ عرض اوکړو مَا بَقِیَ اِلَّا کَتِفُهَا " دَ یوولی نه سوا نور هیڅ نهٔ دی پاتے شوی"۔ نبیؐ اوفرمائیل چه بَقِیَ کُلُّهَا غیر کَتِفِهَا " دَ یوولی نه سوا نوره ټوله بیزه پاتے شوی ده "۔ یعنی څه چه دَ الله په لارکښې خرچ شوهغه په اصل کښې باقی پاتے شو۔ په یوبل حدیث کښې دی چه یوسړی تپوس اوکړوا ے دَ الله رسوله دَ کومے صدقے ثواب دَ ډیرلونه زیات دے؟ نبیؐ اوفرمائیل ان تصدق وانت صحیح شحیح تخشی الفقر وتأمل الغنیٰ، ولا تمهل حتّٰی اذا بلغت الحلقوم قلت لفلان کذا ولفلان کذا وقد کان لفلان۔" چه تهٔ په داسے حال کښې صدقه ورکړے چه تهٔ روغ رمټ ئے، دَ مال دَکمی په وجه دَ مال دَ ډیرلونو ضرورت گنړے (یعنی دَ غریبئ نهٔ یَریږے)، اوپه هغې سره دَ زیات مال گټلو اُمید لرے۔ دَ هغه وخت انتظارمهٔ کوه چه کله روُح په وَتوشی نوبیاوائے چه دا فلانی له ورکړئ اودا فلانی له۔ بیاخوهیڅ هم دَ فلانی نه دے"۔ (بخاری او مُسلم)۔ په یوبل حدیث کښې دی چه نبیؐ فرمائی یقول ابن آدم مالی مالی، وهل لدٔ من مالک الا ما اکلت فافنیت، اولبست فابلیت، اوتصدقت فامضیت؟ وماسوی ذلک فذاهب وتارکه للناس۔" انسان وائی چه څامال، څامال-حالانکه ستاپه مال کښې ستاحصه دَدے نه سوا څه ده چه کومه وَتا اُوخوړه اوختم دِکړه، چه کومه تاواغوسته اوزَړه دِکړه، یادِ صدقه کړه اومخکښې دِاولیږله؟ دَ هغې نه سوا چه څه دی هغه ستادلاس نه تلونکی دی اوتهٔ به هغه بل ته پریږدے" (مُسلم)۔

[۱۰] دلته بیاپه جهاد کښې مال خرچ کول دَ ایمان سره لازمی دی اوپه دے سره په ایمان کښې اخلاص معلومیږی۔ یعنی لکه چه فرمان په دے طریقه شوے دے چه حقیقی اومخلص مومن هغه دے څوک چه په دا سے موقع دَ مال خرچ کولونه وَړه اونهٔ کړی۔

لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۚ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ وَقَدْ اَخَذَ
مِيْثَاقَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝٨ هُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ عَلٰى عَبْدِهٖٓ
اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ
بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝٩ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

چه تاسو په الله باندې ایمان نه راوړئ حالانکه رسول تاسو ته رابلي چه تاسو
په خپل رب ایمان[11] راوړئ اوهغه ستاسو نه وعده اغستلې[12] ده که تاسو واقعي مؤمنکي يئ۔
هغه خوهم الله دے چه په خپل بنده باندې صفا صفا آيتونه نازلوي چه تاسو ته تيرونه رڼا ته را
اوباسي ، او حقيقت دا دے چه الله په تاسو ډير مهربانه او رحم کونکے
دے ۔ آخرځه وجه ده چه تاسو د الله په لار کښے خرچ نه کوئ حالانکه

[11] يعنې تاسو د بے ايمانئ دا کار په دے حالت کښے کوئ چه د الله رسول پخپله ستاسو
په منځ کښے موجود دے او د ايمان دعوت ښيخ په ښيغه د الله رسول په مبارکه
ژبه درورسيږي۔

[12] څينو مفسرينو دا دے وعدے نه د الله تعالیٰ د بندګئ هغه وعده مُراد اغستلې
ده کله چه په ازل کښے د آدم عليه السّلام د شانه د هغه ټول اولاد را اُوويستلے شو او د
بندګئ وعده ترې واغستلے شوه ۔ اوځينو مفسرينو دا دے نه هغه وعده مُراد اغستلې ده کومه
چه د هرانسان په فطرت کښے او د انسان په فطري عقل کښے د الله د بندګئ د پاره موجود
ده ۔ ليکن صحيح خبره داده چه دا دے نه مُراد د الله او د هغه د رسول د بندګئ کولو هغه
وعده ده کومه چه په ايمان راوړلو سره هرمسلمان د خپل رب سره کوي ۔ په قرآن مجيد کښے په
بل ځائے کښے دا دے وعدے ذکر په دے الفاظو کښے شوے دے ۔

وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَ
مِيْثَاقَهُ الَّذِيْ وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ اِذْ قُلْتُمْ
سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ۡ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ
اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝
(المائده - ۷)

يادساتئ هغه نعمت کوم چه الله تاسو له درکړے دے
او هغه وعده کومه چه الله ستاسو نه اغستلې ده ،
هرکله چه تاسو اُووئيل "مونږ وريدل او اطاعت
مو قبول کړو"۔ او د الله نه يرې يئ ، الله د زړونو
په حال پوهيږي ۔

په حديث کښے د حضرت عباده بن صامت روايت دے چه :

بايعنا رسول الله صلى الله عليه
وسلم على السمع والطاعة فى النشاط
والكسل وعلى النفقة فى العسر

رسول الله صلى الله عليه وسلم زمونږ نه په دے خبره بيعت
اغستے وُو چه مونږ به د راستئ او د ناراستئ په هرحال کښے
مَونکي يو، د خوشحالئ او د غم په دواړو حالتونو کښے

وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ لَا يَسْتَوِيْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ
مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقٰتَلَ ۭ اُولٰۗىِٕكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيْنَ
اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَقٰتَلُوْا ۭ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ۭ وَاللّٰهُ بِمَا

دَ زمکے اودَ آسمانونو میراث خاص اللہ لرہ دے[۱۳]۔ په تاسو کښے چه کوموخلقودَ فتح نه روستوخرچ اوجهاد اوکړو هغوی هیڅکله دَ هغه خلقو برابر کیدے نشی کوموچه دَ فتح نه مخکښے خرچ اوجهاد کړے دے۔ دَ هغوی درجه دَ روستوخرچ کوونکو اوجهاد کوونکونه زیاته ده اګرچه اللہ دَدواړو سره ښے وعدے کړی دی[۱۴]۔ څه چه

اليسر وعلى الأمر بالمعروف و النهي عن المنكر وعلى ان نقول في الله تعالىٰ ولا نخاف لومة لائم ۔ (مسند احمد)

به دَ اللہ په لارکښے خرچ کوُو، دَ نیکئ به حکم کوُو اودَ بدئ نه به منع کول کوُو، دَ اللہ دَپاره به حق خبره کوو اوپه دے معامله کښے به دَ ملامت کوونکی دَ ملامتیانه نه پریږدو۔

۱۳؎ دَ دے دوه مطلبونه دی ۔ یوداچه دا مال ستاسره همیشه پاتے کیدُونکے نه دے، یوه ورځ به خامخا داپریږدے او ځئ به اواللہ به دَ دے وارث کیږی، بیاوَ له دا په خپل ژوند کښے په خپل لاس دَ اللہ په لارکښے نه خرچ کوے چه دَ اللہ سره دَ دے بدله ستا دَپاره ثابته شی ۔ که خرچ نه کوے نوهم به دا اللہ ته خامخا واپس ځی، البته فرق به داوی چه په دے باندے به ته دَ بدله مستحق نه ئے ۔ دویم مطلب دا دے چه کله ته دَ اللہ په لارکښے مال خرچ کوے نودا فکر مه کوه چه غریب به شے اولاس به دِ تنګ شی، ځکه چه دَ کوم خدائے دَپاره ته دا خرچ کوے هغه دَ زمکے اودَ آسمان دَ ټولو خزانو مالک دے، دَ هغه سره بس دغه هومره څه نه وُو کوم چه هغه نن تاله درکړی دی، صباله هغه تاله دَ دے نه زیات څه درکولے شی ۔ هم دا خبره په یوبل ځائے کښے په دے طریقه شوی ده:

قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَاۗءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ۭ وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهٗ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۔ (سبا ۔ ۳۹)

اے نبیؐ، دوی ته اُووایه چه ځمارب په خپلو بندګانوکښے چاله غواړی نوهغه له رزق فراښه کوی اوچه چاله غواړی هغه له رزق تنګوی، اوځه چه تاسو خرچ کوئ دَهغے په ځائے درله نور زیات رزق درکوی او هغه بهترین رزق ورکونکے دے ۔

۱۴؎ یعنی دَ اَجر مستحق خودواړه دی، لیکن دَ یوے په لے مرتبه دَ بلے په لے نه لازماً چه پرته اُوچته ده، ځکه چه یوے په لے په زیاتو سختو حالاتو کښے دَ اللہ دَپاره هغه خطرے ته غاړه کیښودی وه کومه خطره چه دَ بلے په لے مخے ته نه وه ۔ اَولے په دا سے حالت کښے مال خرچ کړو چه دَ پیرلږ پورے

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿١٠﴾ مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ
لَهٗ وَلَهٗٓ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿١١﴾ يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى

تاسوکوئ اللہ دَ هغے نه خبر دے[۱۵] ۔ ع

څوک دے چه اللہ له قرض ورکړی؟ ښه قرض، چه اللہ ئے ورله په څوځو چنده زیات واپس ورکړی، اودَ هغه دَ پاره بهترین اجر[۱۶] دے په هغه ورځ چه کله تاسو مومنان سړی او مومنانے ښځے اُوبینئ چه دَ هغوی نُور به

چرته دا امکان په نظر نه راتلو چه کُنې په فتوحاتو سره به دَ دے خرچ کمے پوره شی، اوپه داسے نازک وخت کښے ئے دَ کافرانو سره جنګ اُوکړو چه هر وخت دِ اخطره وه چه که دُشمن غالب شو نو مسلمانان به ریزه ریزه کړی ۔ په مفسّرینو کښے مجاهد، قتاده اوزید بن اسلم وائی چه په دے آیت کښے دَ کوم څیز دَ پاره لفظ "فتح" استعمال کړے شوے دے دَ هغے نه مُراد دَ مکّے فتحه ده، اوعامر شعبیؒ وائی چه دَ دے نه مُراد دَ حُدَیبیّے صُلح ده ۔ اولنے قول زیاتو مفسّرینو اختیار کړے دے، اودَ دویم قول په تائید کښے دَ حضرت ابوسعید خُدری دا روایت پیش کړے کیږی چه رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم دَ حُدَیبیّے دَ صُلحے په زمانه کښے اُوفرمائیل پیرزر به داسے خلق راشی چه دَ هغوئ عملونوته تاسو اُوکورئ نوخپل عملونوبه درته سپک بنکاره شی، لیکن نو کان لاحد هم جبل من ذهب فانفقهٗ ما ادرك مُدّ احدكم ولا نصیفه ۔ "که په هغوئ کښے دَ چا سره دَ غرهومره سره زر وی اوهغه ټول دَ خدائے په لار کښے خرچ کړی نوهغه به ستا دَ دُو رَطل بلکه دَ یو رَطل خرچ کولوهومره ثواب ته اُونشی رسیدے" (ابن جریر، ابن ابی حاتم، ابن مَردُویه، ابونعیم اصفهانی) ۔ دارنګه دَ دے تائید دَ هغه حدیث نه هم کیږی چه امام احمدؒ دَ حضرت انسؓ نه نقل کړے دے ۔ هغه فرمائی چه یو ځلے دَ حضرت خالدؓ بن ولید اودَ حضرت عبدالرحمٰنؓ بن عوف په منځ کښے جګړه اُوشوه ۔ دَ جګړے په دوران کښے حضرت خالدؓ حضرت عبدالرحمٰن ته اُووئیل "تاسو دَ خپلو مخکینو خدمتونو په وجه په مونږ ځان برګزیږئ" داخبره چه کله نبی صلی اللہ علیه وسلّم ته اُورسیده نو هغه اوفرمائیل "په هغه خدائے مې دِ قسم وی چه ځما روح دَ هغه په قبضه کښے دے، که تاسو دَ اُحد دَ غرهومره، یا دَ غرونو هومره سره زر خرچ کړئ نوهم دَ هغوی عملونوته به اُونشی رسیدے" دَ دے نه دا دلیل راایستلے کیږی چه په دے آیت کښے دَ فتحے نه مُراد دَ حدیبیّے صُلح ده، ځکه چه حضرت خالد دَ دے صلحے نه روستو ایمان راوړے وُ اودَ مکّے په فتح کښے شریک وُو ۔ لیکن په دے خاص موقع باندے دَ فتحے نه مُراد که دَ حدیبیّے صُلح واغستے شی اوکه دَ مکّے فتح، بهرحال دَ دے آیت مطلب دا نه دے چه دَ مرتبو فرق بس هم په دغه یو فتح باندے ختم شوے دے ۔ بلکه اصولاً دَ دے نه داخبره معلومیږی چه کله په اسلام باندے داسے یو وخت راشی چه په هغے کښے دَ کفر اودَ کافرانو زُور پیرزیات وی اوپه ظاهره دَ اسلام دَ غلبے اثرات لږے لږے چرته په نظر نه راځی، په هغه وخت کښے چه کوم خلق دَ اسلام دَ پاره اُوجنګیږی اومالونه خرچ کړی دَ هغوئ مرتبے ته هغه خلق نشی رسیدے چه هغوی دَ اسلام دَ غلبے نه روستو قربانیانے ورکړی ۔

[۱۵] یعنی اللہ چه چاله کومه بدله اوکومه مرتبه ورکوی نوهغه ورکوی چه هغه اُوکوری چه چا په کومو حالاتو کښے

نُوْرُهُمْ بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۲﴾

دَ هغوی نه مخکښے او دَ هغوی ښیۍ طرفته منډې وهي ۔ (هغوی ته به اُووئیلے شی چه) " نن دَ خوشحالئ زیرے دے ستاسو دَ پاره " ۔ جنّتونه به وی چه لاندے به تږهرونه بهیږی ، په هغے کښے به هغوی همیشه اُوسی ۔ هم دا لویه کامیابی ده ۔

پـه کومـے جذبے سره یوکارکړے دے ۔ دَ هغه تقسیم دَ پرند وتقسیم نه دے ۔ هغه هریوله دَ هغه مرتبه اودَ هغه دَ عمل بدله بنه پوره دَ پوهے سره مقـرَرَوی ۔

۱۶ دا دَ اللّٰه دَ بخشش شان دے چه کوم مال هغه انسان له ورکړے دے اوانسان هم دغه دَ هغه مال دَ هغه په لارکښے خرچ کړی نوهغه ئے ځان ته په قرض حسابوی ، خوهله چه هغه قرض حَسَن (یعنی بنه قرض) وی ، یعنی بے دَ څه ذاتی غرض نه په خالص نیت سره ورکړے شی ، دَ څه قِسم ریاکاری اوشهرت پکښے شامل نه وی ، دَ هغے په ورکولوسره په چا احسان نه زباتی ، ورکوُنکے ئے صرف دَ اللّٰه دَ رضا دَ پاره ورکړی اودَ هغه نه سِوائے دَ ډبل چا په اجراو دَ ډبل چا په رضا نظرنه وی ۔ دَدے قرض په حقله دَ اللّٰه دوه وعدې دی ۔ یوه داچه هغه به ورله داپه څوڅوچنده زیات واپس ورکړی ، دویمه داچه هغه به په دے باندے دَ خپل طرفنه بهترین اجرهم ورکړی ۔

په حدیث کښے دَ حضرت عبداللّٰه بن مسعودؓ روایت دے چه کله دا آیت نازل شواو دَ نبیؐ دَ خُلے مبارکے نه خلقوواوریدو نوحضرت ابوالدَّحداح انصاری عرض اُوکړو چه اے دَ اللّٰه رسوله ، ایا اللّٰه تعالیٰ زمونږ نه قرض غواړی ؟ نبیؐ اُوفرمائیل چه هَو ، اے ابوالدَّحداح ۔ هغه اُووئیل ، خپل لاس دِلږ ماته را بنکاره کړه ۔ نبیؐ خپل لاس دَ هغه طرفته وراُوږدکړو ، هغه دَ نبیؐ لاس په لاس کښے واغستواو وے وئیل " ما خپل رب له خپل باغ قرض ورکړو " ۔ حضرت عبداللّٰه بن مسعود فرمائی چه په هغه باغ کښے دَ کجورو شپږسوه وُنے وے ، په هغے کښے دَ هغه کُور وُو ، اوهم هلته دَ هغه بال بچ اُوسیدو ۔ دَ رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم سره چه ئے دا خبره اُوکړه نوسیده خپل کُورته لاړواوخپلے بنځے ته ئے آواز اُوکړو " اے دَ دحداح مور ، را اُوزه ، ما دا باغ خپل رب له قرض ورکړے دے " ۔ هغے ورته په جواب کښے اُووئیل " اے دَ دَحداح پلاره ، تا دَ نفع سودا اُوکړه " ، اوپه هغه وخت ئے خپل سامان اوخپل بال بچ دَ کُورنه را اُوویسّل (ابن ابی حاتم) ۔ دَدے واقعے نه معلومیږی چه دَ مخلص مومنانو عمل په هغه وخت کښے څه وُو ، او دَدے نه دا خبره هم په ذهن کښے راځی چه هغه څنګه قرضِ حسن دے چه دَ هغے اللّٰه تعالیٰ وعده کړی ده چه په څوڅوچنده به ئے زیات واپس ورکوی اودَ پاسه به په اَجرِکریم هم ورکوی ۔

۱۷ دَدے آیت نه او دَ روستنی آیت نه معلومیږی چه په میدان حشرکښے به نُور صرف دَ صالحانو مومنانو دَ پاره مخصوص وی ، پاتے شوکافران اومنافقان اونافرمانه اوګنهګار خلق ، نوهغوی به هلته هم همغسے په تیاره کښے پرغړے خورے لکه څنګه چه به ئے په دُنیا کښے تیندکونه خوړل ۔ هلته به ړنړا صرف دَ نیکے عقیدے اودَ نیک عمل وی ۔ صادق ایمان او پاک عمل به په نُور کښے بدلیږی اودَ هغے په وجه به نیکان خلق پُرَقا کوی ۔

يَوْمَ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا
نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ؕ
فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ ؕ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ

په دغه ورځ به د منافقانو سړو او د منافقانو ښځو حال دا وي چه هغوی به مومنانو ته وائي زمونږ طرف ته لږ اوکورئ چه مونږ ه ستاسو د نور نه څه فایده واخلو، خو هغوئ ته به اوویلے شي چه ر و ستو شئ، خپل نور چرته بل ځائے اوکورئ ۔ بیا به د هغوی په منځ کښے یو دیوال ودرولے شي چه په هغے کښے به یو دروازه وي ۔ د هغے دروازے نه دننه به رحمت وي او

چه د چا عمل څومره رو بنانه وي د هغه د بدن رڼا به هغومره تیزه وي او هغه چه کله د میدان حشر نه جنّت ته ځي نو د هغه نور به د هغه نه مخکښے مخکښے منډي وهي ۔ د قتاده مُرسل روایت د دے بهترین تشریح ده په دے روایت کښے هغه وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل "د چا نور به دومره تیزوی چه د مدینے نه د عدن پورے څو مره فاصله ده هغومره فاصلے ته به رسیږی، او د چا نور به د مدینے نه د صَنعاء پورے، او د چا به د دے نه کم وی، اَن ترده پورے چه یو مومن به داسے هم وی چه د هغه نور به د هغه د قدمونو وړاندے نه ځي" (ابن جریر) ۔ یعنی د چا د ذات نه چه په دُنیا کښے څومره نیکیانے خورے شوی وی د هغه نُور به هغومره تیز وی، او په دُنیا کښے چه کوم کوم ځائے ته د هغه نیکئ رسیدلی وی په میدانِ حشر کښے به هغومره لوے د هغه د نُور رڼا کانے منډی وهي ۔

دلته یوه خبره د سړی په ذهن کښے را تلے شي ۔ هغه دا چه د نُور مخکښے مخکښے منډی وهل خو په عقل کښے را ځي، لیکن د نُور صرف بنی طرفته منډے وهل څه معنی لري؟ آیا د هغوئ کس طرفته به تیاره وی؟ دے جواب دادے چه د یو سړی په بنی لاس کښے رڼا وی او روان وی نو په هغے سره خو به کس طرف هم رونبانه وی لیکن حقیقت دادے چه رڼا د هغه په بنی لاس کښے ده ۔ دے خبرې وضاحت د نبی صلی الله علیه وسلم هغه حدیث کوی چه هغه ابوذر او ابودرداء روایت کړے دے چه نبیؐ فرمائی " اعرفهم بنورهم الذی یسعیٰ بین ایدیهم وعن ایمانهم وعن شمائلهم ۔ " څه به د خپل اُمت نیکان خلق د هغوی د هغه نُور نه پیژنم چه د هغوئ وړاندے، د هغوی بنیٰ او کس طرفته به منډے وهي "۔ (حاکم، ابن ابی حاتم، ابن مَردویه) ۔

۱۵ مطلب دادے چه مومنان کله جنّت ته ځي نو رڼا به د هغوی نه وړاندے وی او روستو به منافقان په تیر وکښے تیند کړنه خوری ۔ په هغه وخت کښے به هغوی هغه مومنانو ته چه په دُنیا کښے د هغوئ سره یوځائے اوسیدل، چغے وهي چه لږ زمونږ طرفته اوکورئ چه مونږ ته هم څه رڼا ملاؤ شي ۔

قِيلَهِ الْعَذَابُ ﴿١٣﴾ يُنَادُونَهُمْ أَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۖ قَالُوا بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمْ
فَتَنتُمْ أَنفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ

بصر به عذاب[۱۹] وی ـ هغوی به مومنانوته په چغوچغووائی وَلے مونږه ستاسوسره[۲۰] نهٔ وُو؟ مومنان په جواب ورکوی ، هَو ، خوتاسوخپل ځان پخپله په فتنه کښے واچوُو[۲۱] ، موقعې[۲۲] ته مو کتل ، په شک کښے پراته[۲۳] وئ ، او د

[۱۹] دَدے مطلب دادے چه جنّتیان به په دغه دروازه جنّت ته ورننوزی اودروازه به بنده کړے شی ـ دَدروازے یوطرفته به دَ جنّت نعمتونه وی اوبل طرفته به دَدوزخ عذاب وی ـ منافقان به دَ هغه دیوال نه نشی وراَوړید ے کوم چه دَ هغوی اودَ جنّتیانو په منځ کښے ودرَولے شوے وی ـ

[۲۰] یعنی وَلے مونږه ستاسوسره یوځائے په مسلمانانوکښے شامل نهٔ وُو؟ وَلے مونږه کلمه نهٔ وئیله؟ وَلے ستاسوپشان مونږه موغځونه نهٔ کول؟ روژے مونهٔ نیولے؟ حج اوزکوٰة مو نهٔ ورکوُو؟ وَلے ستاسوپه مجلسونوکښے به مونږه نهٔ شریکیدو؟ ستاسوسره زمونږه بنادیانے اورشته داریانے نهٔ وے؟ نودانن زمونږه اوستاسوپه منځ کښے داجُدائی څنګه راغله؟

[۲۱] یعنی مسلمانان وئ ، خومخلص مسلمانان نهٔ وئ ، دَایمان اودَکفر په منځ کښے اویزان وئ ، دَکفرسره اودَ کافرانوسره ستاسومینه هیڅکله ختمه نهٔ شوه ، اوهمیشے موخپل ځان دَ اسلام سره پوره اُونهٔ ترُو ـ

[۲۲] اصل الفاظ دی تَرَبَّصْتُمْ ـ تَرَبُّص په عربئ ژبه کښے انتظار کولوته اودَ موقعے په تکل کښے ایساریدلوته وائی ـ هرکله چه یوسړے په دوُولارو کښے په یوه باندِ دَ تلوقطعی فیصله اُونهٔ کړی ، بلکه په دے فکرکښے ولاړ وی چه کوم خوافایده وی هغه طرفته به روان شی ، نووائی چه هغه په تَرَبُّص کښے مبتلا دے ـ منافقانو دَکفراودَاسلام دَکشمکش په دغه نازک دَور کښے داطریقه خپله کړی وه ـ هغوئ به نهٔ صفادَ کفرسره ملګرتیا کوله ، اونهٔ به ئے خپل طاقت په اطمینان سره دَاِسلام په مرسته کښے لګولو ـ بس په خپل ځائے ناست وُو اودا تماشائے کوله چه په دے کشمکش کښے به آخرڅوک زُورَور کیږی ، که اِسلام کامیاب شونوچه مسلمانانوسره شامل شی اودَ کلمے وئیلو تعلق په کارَراوَلی ، اوکه کفرغالب شونوچه دَ هغوئ طرفته واوړی اوپه جنګ کښے دَ حصّے نهٔ اغستلو بهانه ورباندِ کړی ـ

[۲۳] دَدے نه مراد مختلف قِسم شکُونه دی چه هغه دَ یومنافق زړه له راځی ، اوهم دغه شکُونه دَهغه دَ منافقت اصلی سبب وی ـ دَ هغهٔ دَ خدائے په وُجود کښے شک وی ـ دَ رسول په رسالت کښے ئے شک وی ـ دَ قرآن په حقله ئے شک وی چه دَ اللہ کتاب دے اوکه نه دے ـ دَ آخرت په حقله ئے شک وی ، دَسوال جواب او دَ جزا سزا په حقله ئے شک وی او په دے خبره کښے ئے شک وی چه دَ حق اودَ باطل داڅکړه واقعی څه حقیقت هم لری او کَه دَ دُنیا له مسے شے پرکوسے دَ او اصل څیز بس دَ دے چه مزے چرچے کوه ژوند هم دَ دے ـ

الْاَمَانِیُّ حَتّٰی جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ وَ غَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿۱۴﴾ فَالْیَوْمَ
لَا یُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْیَةٌ وَّ لَا مِنَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا ؕ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ؕ
هِیَ مَوْلٰىكُمْ ؕ وَ بِئْسَ الْمَصِیْرُ ﴿۱۵﴾ اَلَمْ یَاْنِ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْ
تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَ مَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ۙ وَ لَا یَكُوْنُوْا كَالَّذِیْنَ

دروغو امیدونو تاسوله دوکه درکوله، اَنْ تردے پورے چه دَ الله فیصله راغله[۲۴]، اودَ آخر وخته پورے هغه لوئ دوکه باز[۲۵] تاسوله دَ الله په معامله کښے دوکه دَرکوله - نو نن به نهٔ ستاسونه څه فدیه قبولے شی اونهٔ دَهغه خلقونه چه هغوی صفا صفا کُفر کړے[۲۶] وُو - ستاسوځائے دوزخ دے هم هغه به ستاسو خبرا[۲۷] اخلی اوداډیر بد انجام دے -

آیا دَ مومنانو دَپاره لا هغه وخت نهٔ دے راغلے چه د هغوئ زړونه دَ الله په ذکر سره نرم شی او هغه چه کوم حق نازل کړے دے هغے ته غاړه کیږدی[۲۸] او دَ هغه خلقو پشان نشی چه هغوئ ته

یوسړے چه ترڅو په دے شکونو کښے اخته نهٔ وی هغه هیڅکله منافق نشی کیدے -

۲۴ دَدے دوه معنے کیدے شی - یوه داچه تاسوله مرګ راغے او دَمرګ دَ وخته پورے تاسو دَدے دوکے نه اونهٔ وتئ - دویمه داچه اسلام ته غلبه نصیب شوه او تاسو تماشګیر پاتے شوئ -

۲۵ مُراد دے شیطان -

۲۶ دلته دَدے خبرې صفائ شوې ده چه په آخرت کښے به دَ منافقانو هغه انجام وی کوم چه به دَ کافرانو وی -

۲۷ اصل الفاظ دی هِیَ مَوْلَاكُمْ، " دوزخ ستاسو مَولیٰ دے "۔ دَدے دوه مطلبونه کیدے شی - یو داچه هم هغه ستاسودَپاره موزون ځائے دے - دویم داچه الله ته خوتاسو خپل مولیٰ ویلے نهٔ وُو چه هغه ستاسو خبر واخلی، اوس خو دوزخ ستاسو مولیٰ دے - هم هغه به ستاسو خبر اخلی -

۲۸ دلته بیا " مومنان " تګے عام دے لیکن دَدے نه مُراد ټول مسلمانان نهٔ دی بلکه دَ مسلمانانو هغه خاصه ډله ده چه دَ ایمان اِقرار ئے کړے وُو او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم په منونکو کښے شامل شوی وُو خو بیا ئے هم په زړونو کښے دَ اسلام سره مینه نهٔ وه - په ستړګو به ئے کتل چه دَکفر ټول طاقتونه دَ اِسلام دَ ختمولو دَپاره زُور لګوی - دَ ځلورواړو طرفونونه ئے مومنان راګیر کړی دی، په عرب کښے ځائے په ځائے په مسلمانانو ظلمونه کیږی، دَ ملک دَ کوټ کوټ نه مظلومان مسلمانان تښتی تُور دَ پنا اغستلو دَپاره مدینے ته راروان دی،

أُوتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿١٦﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿١٧﴾

مخکښے کتاب ورکړے شوے وُو، بیا په هغوی ډیره موده واوړیده نو زړونه ئے سخت شو اونن په هغوئ کښے اکثر خلق فاسقان جوړشوی دی[۲۹]؟ ښه پوه شئ چه الله ز مکه ژوندئ کوی روستو د مرګ د هغے نه، موبږ نښے تاسوته صفا صفا بنودلی دی، شاید چه تاسو د عقل نه کار واخلئ[۳۰]۔

د ډے مظلومانو سره په مدد کولو کولو د مخلصو مسلمانانو ملاتیږی او د دُشمنانو سره هم د مخلص مسلمانان مقابله کوی، لیکن د ایمان دِ ے دعوئ کیږو خلقو به داهرڅه لیدل او د ځائے نه به نه ځوزیدل - په دے باندِ هغوی له شرم ورکولے کیږی چه تاسو څنګه ایمان دار یئ؟ د اِسلام د پاره حالات دِ نازک حد ته رسیدلی دی، آیا اُوس هم هغه وخت نه ډے را غلے چه د الله په ذکر سره ستاسو زړونه نرم شی او د هغه د دین د پاره ستاسو په زړونو کښے د قربانئ جذبه پیدا شی؟ آیا ایمان دار خلق داسے وی چه د الله په دین باندِ خراب وخت را شی او د هغے لپاره تکلیف هم په زړونو کښے محسوس نه کړئ؟ د الله په نوم ورته آواز اُوشی او هغوی د خپل ځائے نه اُوهم نه ځوزی؟ الله په خپل نازل کړی کتاب کښے پخپله د چنده اپیل اُوکړی او هغه په خپله ذمه قرض کړی، اوصفا صفا داهم اُووائی چه که په دے حالاتو کښے چاخپل مال ځما د دین نه غوره اُوکنړو هغه به مومن نه وی بلکه منافق به وی، خوبیا هم د هغوی زړونه د خدائے د یَرے نه اُونه ړپیږی او نه د هغه حکم ته غاړه کیږودی؟

۲۹ یعنی یهودیان او عیسایان خو د خپلو پیغمبرانونه په سِوونو کلونو روستو نن تاسوته بے رُوحه اوبد اخلاقه په نظر راځی۔ آیا تاسو دومره بے غیرته او بے حیایئ چه رسول لا په تاسو کښے موجود دے، د خدائے کتاب نازلیږی، ستاسو د ایمان راوړلو ډیره موده هم نه ده شوی، او د اُوس نه ستاسو هغه حال دے کوم چه د سوُونو کالو پورے د خدائے د دین او د آیتونو سره د لُوبو کولو نه روسته اُوس د یهودیانو او د عیسایانو شوے دے؟

۳۰ دلته چه داخبره په کوم مناسبت سره شوی ده په هغے ښه ځان پوهه کول پکار دی۔ په قرآن مجید کښے په ډیرو ځایونو کښے د نبوّت او د کتاب نازلیدو ته د باران د برکتونو سره تشبیهه ورکړے شوی ده ځکه چه په انسانیت باندِ د دے هغه اثرات کیږی کوم چه په زمکه باندِ د باران وی۔ لکه څنګه چه مړه زمکه د رحمت د باران د څاڅکو سره تکه شنه را اُوتوکیږی، د غه شان چه په کوم ملک کښے د الله په رحمت سره یو نبی را شی او د وَحی او د کتاب نازلیدل شروع شی نو هلته

اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿١٨﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ ۚ وَالشُّهَدَآءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ لَهُمْ اَجْرُهُمْ

کوم نارینه اوزنانه چه صدقے[۳۱] ورکوونکی دی او الله له ئے قرض حسن ورکړے دے، یقیناً چه هغوی له به په څوڅو چنده زیات ورکولے کیږی اود هغوی د پاره بهترین اجر دے۔ اوکوم خلق چه په الله اود هغه په رسولانو باندې ایمان راوړے[۳۲] دے هم هغوی د خپل رب په نزد صدیقان[۳۳] اوشهیدان[۳۴] دی، د هغوی د پاره د هغوی اجر

انسانیت یودم را اوپوکیږی۔ د هغوی هغه خوبیانے بنکاره شی کوے چه د مود و مودو راسے د جاهلیت د لاسه د خاورولاندې پرتے وے۔ د هغوی نه د ښو اخلاقو چینے روانے شی اود خیر بښکړے چمن په غورزنګونوشی۔ دے حقیقت ته چه د کوم غرض د پاره دلته اشاره شوی ده هغه داوے چه د کمزوری ایمان والا مسلمانانو ستړکے اوغږیږی اوهغوی په خپل حالت باندې غوراوکړی۔ د نبوت اود وحی د باران د وجے نه چه انسانیت په کوم شان سره د نوی سرنه راڅرونده کیدو او په کوم شان سره د انسانیت لمن د برکتونو نه ډکه له هغه د هغوی د پاره څه زړه قیصه نه وه۔ هغوی په خپلو ستړکو د صحابه کرامو پاکیزه ژوند لیدلو۔ شپه او ورځ ئے د هغ جاج اغستلو۔ جاهلیت هم د خپلو کړوکارنامو سره د هغوی سخے نه موجود وُو، اود اسلام د پاکو عملونو سپر لے هم سمسور وُو۔ په دے وجه هغوی ته په تفصیل سره د دے خبرو په کولو هیڅ حاجت نه وُو۔ بس دا اشاره کافی وه چه بخښنه زمکے ته الله تعالیٰ د خپل رحمت په باران سره څه رنګے ژوند ورکوی، د دے ښکنے تاسوته صفا صفا ښکاره لے شوی دی، اوس تاسو پخپله د غفر نه کار واخلئ او په خپل حالت باندې غوراوکړئ چه دد ے نعمت نه تاسو څه فایده اخستوئ۔

۳۱ صدقه د اسلام په اصطلاح هغه "ورکړے" ته وائی چه هغه د زړه په صدق او په خالص نیت سره خاص د الله د رضا حاصلولو د پاره ورکړے شی، چه ریاکاری پکښے نه وی، په چا احسان اونه ښایلے شی، ورکونکے ئے صرف د دے د پاره ورکړی چه هغه د خپل رب د بندګئ رښتینی جذبه لری۔ دا لفظ د صدق نه اغستلے شوے دے په دے وجه صداقت خامخا د دے په حقیقت کښے شامل دے۔ هغه مال او هغه ورکړه ترهغے پورے صدقه نشی کیدے ترڅوچه په هغے کښے د انفاق فی سبیل الله خالصه جذبه موجود نه وی۔

۳۲ دلته د ایمان راوړو نکو نه مُراد هغه رښتینی ایماندار خلق دی چه د هغوی عمل د دروغژنو مومنانو او د کمزورو مومنانو نه بالکل مختلف وُو۔ چه په هغه وخت کښے ئے د یوبل نه زیات مالونه ورکول او د الله د دین د پاره ئے جنګونه کول۔

۳۳ دا د صدق مبالغه ده ۔ صادق ریښتینے او صِدّیق انتهائی ریښتینے ۔ لیکن په دے خبره ځان بنه پوهه کول پکار دی چه صدق یواز ے ریښتیا او د حقیقت مطابق ویناته نه وائی بلکه داخاص هغه ویناته وائی کوم چه پخپله هم ریښتیاوی اوچه د هغے ویونکی هم د زړه په صِدق سره هغه حقیقت منی کوم چه هغه په ژبه وائی ۔ مثلاً یوسړے که دا اُووائی چه محمد صلی الله علیه وسلّم د الله رسول دے ، نو دا خبره پخپل ځائے بالکل د حقیقت مطابق ده ، ځکه چه هغه واقعی د الله رسول دے ، لیکن هغه سړے په دے خپله ویناکښے هله صادق ګڼلے شی چه د هغه خپله عقیده هم داوی چه محمد د الله رسول دے ۔ نو د صدق د پاره ضروری ده چه ویناد د حقیقت سره هم مطابق وی او د ویونکی د زړه سره هم ۔ د غه شان د صِدق په معنیٰ کښے وفا او خلوص اور ښتینے عمل هم شامل دے ۔ صادق الوعد (یعنی د وعدے ریښتینے) به هغه سړی ته وئیلے کیږی چه هغه عملاً خپله وعده پوره کوی او هیڅکله د هغے خلاف ورزی نه کوی ۔ صِدیق (ریښتینے دوست) هغه چا ته وئیلے کیږی چه هغه د آزمیښت په وخت کښے د دوستئ حق ادا کړے وی او چرته ئے د چا سره بے وفائی نه وی کړی ۔ په جنګ کښے صادق فی القتال (یعنی ریښتینے سپاهی) صرف هغه سړی ته وئیلے کیږی چه د زړه د اخلاصه جنګیدلے وی او په خپل عمل ئے خپله بهادری ثابته کړی وی ۔ نو د صدق په حقیقت کښے د اخبره هم شامله ده چه د ویونکی عمل د د هغه د ویناسره مطابقت لری ۔ د خپلے ویناخلاف چه څوک عمل کوی هغه ته صادق نشی وئیلے کیدے ۔ په دے وجه خو تاسو هغه سړی ته دروغژن نصیحت کوونکے وایئ چه هغه وائی یو څه او کوی بل څه ۔ اُوس غور پکار دے چه هرکله دا تعریف د صِدق او د صَادِق دے نو د مبالغے په صیغه کښے چا ته صِدّیق وئیل به څه مطلب لری ۔ د دے نه مُراد لازماً داسے ریښتینے سړے دے چه هغه خالص وی ، د حق نه هیڅکله په شا شو نه وی ، چه د هغه نه د توقع هم وکیدے نشی چه هغه به چرته د خپل ضمیر نه خلاف خبره اوکړی ، چه هغه کومه خبره منلی وی نو بنه پوره په اخلاص سره ئے منلی وی ، د هغے د وفاداری حق ئے ادا کړے وی ، او د خپل عمل نه ئے ثابته کړی وی چه هغه واقعی هغسے منونکے دے لکه څنګه چه یو منونکی له کیدل پکار دی (د زیاتے تشریح د پاره اُوګورئه تفهیم القرآن ، اوّل جلد ، النساء ، حاشیه ۹۹) ۔

۳۴ د دے آیت په تفسیر کښے د لویو لویو مفسّرینو په منځ کښے اختلاف دے ۔ ابن عباسؓ ، مسروق ، ضحاک ، مُقاتِل بن حیّان وغیره وائی چه اُولٰئِکَ هُمُ الصِّدِّیقُوْنَ باندے یوه جُمله ختمه شوه ۔ د هغے نه روستو وَالشُّهَدَآءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ لَهُمْ اَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ جُدا یوه مستقله جُمله ده ۔ د دے تفسیر په لحاظ سره به د آیت ترجمه داوی چه "کومو خلقو په الله او د هغه په رسولانو باندے ایمان راوړے دے هم هغوی صِدّیقان دی ۔ او د شهداء د پاره د هغوی د رب سره د هغوی اَجر او د هغوی نُور دے" ۔ د دے برخلاف مجاهد او نور ډیر مفسّرین دے ته ول عبارت ته یوه جُمله وائی او د هغوی د تفسیر په لحاظ سره به ترجمه هغه وی کومه چه بَرَه مونږه په متن کښے کړی ده ۔ په دواړو تفسیرونو کښے د اختلاف وجه داده چه اوّلے ډلے شهیده د مقتول فی سبیل الله په معنیٰ کښے اغستلے دے ، او دے ته ئے کتلی دی چه هر مومن خو په دے معنیٰ کښے شهید نه وی وَالشُّهَدَاءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ ئے یوه جُدا جُمله کړی ده ۔ لیکن دوهمه ډله شهید د مقتول فی سبیل الله په معنیٰ کښے نه ، بلکه د حق گواهی ورکونکی په معنیٰ کښے اغستلے دے او په دے لحاظ سره هر مومن شهید دے ۔ زمونږ په نزد دوهم تفسیر قابل ترجیح دے او د قرآن او د حدیث نه د دے تائید کیږی ۔ په قرآن کښے فرمائی :

وَنُوْرُهُمْ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ
الْجَحِيْمِ ﴿١٩﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ وَّ
تَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِى الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ۭ كَمَثَلِ غَيْثٍ
اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ
حُطَامًا ۭ وَفِى الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۙ وَّمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَ

اودَ هغوی نوُرد دے۔ اوکومو خلقو چه کفُرکړے دے اوزمونږه آیتونه ئے دروغ ګڼلی دی هغوی دوزخیان دی۔ ع

بنه پوهه شئ چه دَدُنیا دا ژوند بس لوبے ټوقے دی اوظاهری ډول دے اوستاسو په خپل منځ کښے په یوبل فخرکول دی، اوپه مال اوپه اولاد کښے دَ بوبل نه دَ زیاتیدو کوشش کول دی۔ دَدے مثال داسے دے لکه چه یوباران اُوشواو دَ هغے په ذریعه را زرغون شوو بُوټوته چه زمیدار اُوکتل نوخوشحاله شو۔ بیا هغه فصل پخیږی او تاسو وینئ چه هغه زیړ شو۔ بیا دَ هغے نه بُوس جوړ شی۔ دَدے برعکس آخرت هغه ځائے دے چه هلته سخت عذاب دے اودَاللّٰه بخښنه او

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا ۔ (البقرہ ۔ ۱۴۳)

اودغه شان مونږه ستاسو یومیانه ډله اُمت جوړکړے دے دَپاره دَدے چه تاسو په خلقو ګواه شئ اورسول په تاسو ګواه شی۔

مُوْسّٰىكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ مِنْ قَبْلُ وَفِىْ هٰذَا لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ (الحج ۔ ۷۸)

اللّٰه مخکښے هم ستاسو نوم مسلمان کیښودلے وُاوپه دے قرآن کښے هم (ستاسو دانوم دے) چه رسول په تاسو ګواه شی اوتاسو په خلقو ګواه شئ۔

په حدیث کښے دَحضرت بَراء بن عازب روایت دے چه هغه دَرسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم نه دا اوریدلی دی مُؤمنوا اُمّتِیْ شُهَدَآءَ ،، خُما دَ امت مومنان شهیدان دی ،، بیا نبیؐ دَ سورۃ حدید دا آیت تلاوت کړو (ابن جریر) ۔ ابن مَرْدُوَیه په دے معنٰی کښے دَ حضرت ابوالدّرداء نه دا روایت نقل کړے دے چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائیلی دی من فرّ بدینه من ارضٍ مخافة الفتنة علٰی نفسه ودینه کتب عند اللّٰه صدّیقا فاذا مات قبضه اللّٰه شهیدًا ثم تلا هذه الاٰیة ۔ څوک چه خپل ځان اوخپل دین دَ فتنے نه دَ بچ کولو دپاره هیواد زمکے نه

رِضْوَانٌ ۭ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ۝۲۰ سَابِقُوْٓا اِلٰى
مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاۗءِ وَالْاَرْضِ

دھغه رضا ده - د دُنیا ژوند نور هیڅ نهٔ دے بس د دوکے سامان[۳۶] دے۔
منډه کړئ او د یوبل نه د مخکښے کیدو کوشش[۳۷] اُوکړئ د خپل رب بخښنے ته
اوهغه جنت ته چه د هغے فراښوالے د آسمان و د زمکے

اُوباسی هغه د الله سره صدیق لیکلے کیږی اوچه کله هغه مړ کیږی نو الله د هغه نه د شهید په حیثیت سره رُوح قبض کوی "۔ بیا دَد ے نه روستو نبیؐ دا آیت اولوستو (د شهادت د تشریح د پاره اُوګوره تفهیم القرآن، اوّل جلد، البقره، حاشیه ۱۴۴ - النساء، حاشیه ۹۹ - څلورم جلد، الاحزاب، حاشیه ۸۲)۔

۳۵ یعنی په هغوی کښے چه هریودَ کومے مرتبے د اجر اودَ کومے درجے د نُور مستحق وی هغه به هغه ته ملاویږی - هغوی به خپل خپل اجر اوخپل خپل نُور حاصلوی - د هغوی د پاره د هغوی حصه د ننه نهٔ محفوظ ده۔

۳۶ په دے خبره باندے د ځان پوهه کولو د پاره د قرآن مجید لاندینی ځایونه په نظر کښے ساتل پکار دی۔ سورۃ آل عمران، آیتونه ۱۴ - ۱۵ - یونس، ۲۴ - ۲۵ - ابراهیم، ۱۸ - الکهف، ۴۵ - ۴۶ - النُّور، ۳۹ - په دے ټولو ځایونو کښے چه انسان ته کومه خبره په ذهن کښے کینولے کیږی هغه داده چه د دُنیا دا ژوند په اصل کښے عارضی ژوند دے - د دے ځائے سپرلے هم عارضی دے اوخزان ئے هم عارضی دے - د زړه خوشحالولو سامان دلته پیرځه دی، لیکن په حقیقت کښے هغه پیرمعمولی او واړه واړه څیزونه دی چه انسان ئے د خپلے ناپوهئ په وجه غټ څیز ګڼړی اوپه دے دوکه کښے پریوزی چه د دے حاصلول داسے دی لکه چه سړے د کامیابئ آخری حد ته اورَسی - حالانکه چه کومے لوئے لوئے فایدے اود خوندونو سامانونه دلته سړے حاصلولے هم شی نو هغه پیرمعمولی دی اوصرف د یو څوکلونو د عارضی ژوند پورے محدود دی، اود هغے حال هم دا دے چه پخپله په دے دُنیا کښے دَد ے ټولو سامانونو د ختمولو د پاره د تقدیر یو چُورلک کافی دے - دَدے برعکس د آخرت ژوند یو عظیم او همیشه ژوند دے - د هغه ځائے فایدے هم عظیمے او مستقل دی او نقصان هم عظیم او مستقل دے - چاته چه هلته د الله بخښنه اود الله رضا حاصله شوه نو هغه ته د همیشه همیشه د پاره هغه نعمت نصیب شو چه د هغے په مقابله کښے د ټولے دُنیا دولت اوحکومت هیڅ هم نهٔ دے - اوڅوک چه هلته د خدائے په عذاب کښے گرفتار شو نوکه هغه ته په دُنیا کښے هغه هرڅه حاصل شوی وی کوم چه هغه په خپل نزکښے غټ څیزونه ګڼړل خوهغه ته به معلومه شی چه هغه پیره د خسارے سودا کړی ده۔

۳۷ په اصل کښے لفظ سَابِقُوْا استعمال شوے دے چه د هغے مطلب تش په "منډه کړئ" سره نهٔ ادا کیږی - د مسابقت معنی په مقابله کښے د یوبل نه د مخکښے کیدو کوشش کول دی - مطلب دادے چه تاسو د دُنیا د دولت اود فایدو په حاصلولو کښے د یوبل نه د مخکښے کیدو کوشش کوئ هغه پریږدئ اود خیر ته مخه کړئ او د طرفته په منډه کښے د یوبل نه د مخکښے کیدو کوشش اوکړئ۔

أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٢١﴾ مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٢٢﴾ لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا

هُومره دے[۳۸] چه دهغه خلقو دپاره تیارکړے شوے دے[۳۸] چې هغوی په الله اودهغه په رسولانو باندې ایمان راوړے وی۔ دا د الله فضل دے، چه چا ته ئے خوښه وی هغه له ئے ورکوی، اوالله د لوی فضل خاوند دے۔

یومصیبت داسے نشته چه هغه په زمکه باندې یاست سوپه خپل نفس باندې نازلیږی اومونږه هغه[۳۹] د پیدا کیدو نه مخکښے په یوکتاب کښے لیکلے نه[۴۰] وی۔ دا کار د الله دپاره[۴۱] ډیر آسان دے[۴۲]۔ (دا ټول هرڅه د دے دپاره دی) چه څه نقصان ستاسو اوشی نو چه په هغے غمژن نه شئ او چه څه الله درکړی

۳۸ اصل الفاظ دی عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ۔ څینو مفسرو عرض د پلنوالی په معنی کښے اغستلے دے۔ لیکن په اصل کښے دلته د الفظ د فرانبئ په معنی کښے استعمال شوے دے۔ په عربی ژبه کښے لفظ عرض صرف د پلنوالی د پاره نه وئیلے کیږی، بلکه دا صرف د فرانبئ دپاره هم استعمالیږی، لکه چه په یوبل ځائے کښے په قرآن کښے فرمائی: فَذُو دُعَاءٍ عَرِيضٍ، "انسان بیا اوږدے اوږدے دعا کانے شروع کړی۔" (حم السجدة۔ ۵۱)۔ د دے سره په دے خبره هم ځان پوهه کول پکار دی چه دلته د جنت رقبه بنودل مقصد نه دے بلکه د جنت فرانبرالے په فکر کښے راوستل دی۔ دلته د جنت فرانبرالے د آسمان اود زمکے هومره بنودلے شوے دے، اوبه سورة آل عمران کښے دی سَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ (آیت ۱۳۳)۔ "منډه کړئ د خپل رب بخښنے ته اوهغه جنت ته چه فرانبتیائے ټول کائنات دے، چه تیارکړے شوے دے د متقیانو خلقو دپاره"۔ د دے دواړو ایتونو د لوستلو نه چه کومه خبره په ذهن کښے کیني هغه دا ده چه په جنت کښے به انسان ته کوم باغونه اومحلات ملاویږی هغه خو به صرف د هغه د اوسید و دپاره وی، لیکن په حقیقت کښے ټول کائنات به د هغه د سیل ځائے وی۔ په یوځائے کښے به هغه بند نه وی۔ هلته به د هغه حال د دے دُنیا په شان نه وی چه سپوږمئ غوندې نږدے سیارے ته د رسید و دپاره هم انسان په کلونو کلونو کوششونه اوکړل اود دے لږ شان سفر د مشکلاتو په لړے کولو کښے ئے بے پناه وسائل خرچ کړل۔ هلته به ټول کائنات د هغه د پاره آزاد وی چه څه غواړی هغه به په خپل ځائے کښے په ناسته ناسته وینی او چه کوم خواتللو غواړی هلته به په آسانئ سره تلے شی۔

بِمَآ اٰتٰىكُمْ ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِ ۝۲۳ الَّذِيْنَ
يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ۭ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ

چه په هغے خاوره[۴۲] نۀ شئ ـ الله دا سے خلق نۀ خوښوی چه خپل ځان غټ کنړی او فخر کوی،
چه په خپله شومتیا کوی او نور و خلقونه د شومتیا سبق ورکوی[۴۳] اوس که څوک مخ اړوی نو الله

۳۹ه "هغه" دا اشاره مصیبت ته هم کیدے شی، زمکے ته هم، نفس ته هم او د کلام د اندازے په لحاظ سره مخلوقاتو ته هم ـ

۴۰ه د کتاب نه مُراد د تقدیر لیکۀ دے ـ

۴۱ه یعنی د خپل یو یو مخلوق تقدیر د مخکښے نه لیکل د الله د پاره څه ګران کار نۀ دے ـ

۴۲ه دلته چه د اخبره د کوم غرض د پاره شوی ده په هغے باندے د ځان پوهه کولو د پاره هغه حالات په نظر کښے ساتل پکار دی کوم چه دَ دے سورۀ د نازلیدو په وخت کښے مومنانو ته پیښ وُو ـ هر وخت د دشمنانو د حملے خطره، مُسلسل جنګونه، همیشه د قلابند کیدو غوندے حالت، د کافرانو د روزګار قطع کولو په وجه سخت بدحالی، د عربو په کوټ کوټ کښے په مومنانو باندے د کافرانو ظلمونه، دا هغه حالات وُو چه په هغه وخت کښے په مسلمانانو باندے تیریدل ـ دَ دے حالاتو په وجه به کافرانو وئیل چه دا د مسلمانانو د ضلالت اوسپکاوی دلیل دے ـ منافقانو به د خپلو شکونو په تائید کښے دا حالات پیش کول ـ او مُخلص مومنانو اګرچه د پیر په بهادرئ سره دَ دے حالاتو مقابله کوله، خو په خُپلو وختونو کښے به د پرګنې مصیبتونه د هغوئ د پاره هم ګران شو ـ په دے باندے مسلمانانو له تسلی ورکړے کیږی چه په تاسو باندے یو مصیبت هم داسے نۀ دے نازل شوے چه د هغے نه کِیْ الله ناخبره دے ـ څه چه کیږی، دا ټول د الله تعالیٰ د منصوبے مطابق دی چه د مخکښے نه د هغه په دفتر کښے لیکلے شوی موجود دی ـ او دا حالات خاص ستاسو د تربیت د پاره په تاسو راوستلے شوی دی ـ کوم لوئ کار چه الله تعالیٰ ستاسو نه اغستل غواړی د هغے د پاره دا تربیت ضروری دے ـ دَ دے تربیت نه بغیر که تاسو د کامیابئ منزل ته اُورسولے شئ نو ستاسو په عملونو کښے به هغه کیږی پاتے شی چه د هغے په وجه به نۀ د اقتدار د رُوْن خوراک هضم کړے شئ او نۀ به د باطل د طوفانی چپو سَپیړے برداشت کړے شئ ـ

۴۳ه دا اشاره ده هغه عمل ته کوم چه پخپله مسلمانانو په هغه وخت کښے په منافقانو کښے لیدو ـ د ایمان د ظاهرے اقرار په لحاظ سره په هغوئ کښے او په مخلص مسلمانانو کښے څه فرق نۀ وُو ـ لیکن د اخلاص د بنسټوالی په وجه هغوی په هغه تربیت کښے شامل شوی نۀ وُو کوم چه مخلص مسلمانانو له ورکړے کیدو، په دے وجه د هغوئ دا حال وُو چه کومه لږه شان خوشحالی او سرداری هغوی ته د عربو په یو معمولی شان کلی کښے په لاس ورغلی وه په هغے هغوی ځان ته پیر غاوره وُو او د غرور نه ټق چاودل، او شومتیا خوئ دَ دے حده پورے وه چه په کوم خدائے باندے د ایمان راوړلو او د کوم رسول د پیروئ کولو او د کوم دین د منلو دعوی

الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٤﴾ لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا
مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۖ وَأَنْزَلْنَا
الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ

بے نیازه اوستایلے شوے دے[۴۴]۔

مونږه خپل رسولان ډصفاصفا ښکاره اوهدایاتو سره اُولیږل، اوډ هغوی سره موکتاب او میزان نازل کړو چه خلق په انصاف باندِ قایم وی[۴۵]، او وُسپنه مونازله کړه چه په هغ کښے ډیر زُور دے اوډ خلقوډ پاره پکښے ډیرفایدے[۴۶] دی۔ دا ډډے ډپاره شوی دی چه الله ته معلومه شی چه

به ئے کوله ډ هغ ډپاره پخپله یوه پیسه ورکول خوښته خبره ده، چه بل چاته څه ورکول نو وئیل به ئے ورته چه وَلے خپلے پیسے هسے بربادوے۔ ښکاره خبره ده چه که چرے ډ مصیبتونو بَتیئ کرمه کړے شوے نهٔ وے، نودا کُوته مال، چه ډ الله ډ هیڅ کارنهٔ وُو، ډ خالصو زَړونه جُداکیدے نهٔ شو، اوډ هغے ډ جُداکیدونه بغیر ډ کچه اوډ پخومسلمانانو یوشریک کنډک ته ډ دُنیا ډ امامت هغه لرئ منصب نهٔ شوحواله کیدے چه ډ هغے ډ برکتونو ښُندارهٔ آخر ډ دُنیا خلقوډ خلافتِ راشده په دور کښے اُوکړه۔

۴۴ یعنی ډډے نصیحت ډ اَوریدونه روسِتوهم که څوک ډ الله اوډ هغه ډ دین ډپاره ډ خلوص اوډ فرمان برداری اوډ قربانئ لارښهٔ اختیارَوی او په خپل هغه کورِ رفتار باندِ تهینګ اُوسیدل غواړی کوم چه ډ الله پیرښدی شی، نوډ الله په دے هیڅ پروا نشته۔ هغه غنی دے، ډ هغه هیڅ حاجت دے خلقوته نشته۔ او هغه ستایلے شوے دے، ډ هغه په دربارکښے صرف ډ ښوصفتونو خلق مقبول کیدے شی، بدعمله خلق ډ هغه ډ توجه مستحق کیدے نهٔ شی۔

۴۵ په دے وړه شان فقره کښے ډ پیغمبرانو ډ کارپوره مطلب بیان کړے شوے دے چه ځان پرِ ښه پوهه کول پکار دی۔ په دے کښے وئیلے شوی دی چه ډ الله تعالیٰ ډ طرفنه دُنیا ته څومره پیغمبران راغلی دی هغوی تولو درے څیزونه ډ ځان سره راوړی وُو،

(۱) بیّنات، یعنی صفاصفا ښکاره چه دابه ترِ معلومیدله چه واقعی دا د الله رسولان دی، ډ چاجوړ شوی خلق نهٔ دی۔ رُوښانه دلیلونه، چه ډډے خبری ډ ثابتولو ډپاره بالکل کافی وُوچه کوم څیزته هغوی حق وائئ هغه واقعی حق دے او چه کوم څیزته هغوی باطل وائئ هغه واقعی باطل دے۔ واضحه هدایات، چه په هغے کښے بے شکه بے شُبهے صفاصفا داوئیلے شوی وُو چه په عقیدوکښے، په اخلاقوکښے، په عباداتوکښے، او په معاملاتو کښے ښیغه لارهٔ کومه ده چه په هغے خلق روان شی او غلطے لارے کوم دے چه ډ هغے نه خلق ځان اُوساتی۔

مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ بِالْغَيْبِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۲۵﴾ ع

څوک چې لیدو ډه هغه او ډه هغه ډ رسولانو امداد کوی ۔ یقیناً چه الله ډیر طاقتور او زبردست ډے ۔ ع

(۲) کتاب ، چه په هغې کښے هغه ټولے خبرې لیکلے شوے وے کومے چه ډ انسان ډ هدایت ډپاره ضروري وے چه خلق ډ خپلے لار سیده کولو ډ پاره هغے ته رجوع اوکړی ۔

(۳) میزان ، یعنی ډ حق او ډ باطل هغه معیار چه ټیک ټیک ډ تلے په کښه دا اوښائی چه ډ ګنډو فکرونو او اخلاقو او معاملاتو په منځ کښے ډ انصاف خبره څه ده ۔

ډ دے دریو څیزونو سره چه پیغمبران ډ کوم مقصد ډ پاره را اولیږلے شو هغه دا وو چه دُنیا کښے ډ انسان عمل او ډ انسان ډ ژوند نظام ، فرداً هم او اجتماعی طور هم ، په انصاف باندې قایم وی ۔ یو طرفته چه هر انسان ډ خپل خدائے حقونه ، ډ خپل نفس حقونه ، او ډ خدائے ډ ټولو متعلقه بندګانو حقونه ټیک ټیک اوپیژني او پوره په انصاف سره هغه اداکړی ۔ او بل طرفته چه ډ اجتماعی ژوند نظام په داسے اصولو باندې جوړ شی چه ډ هغې په وجه په خلقو کښے هیڅ قسم ظلم پاتے نه شی ، ډ ژوند هر اړخ ډ کمی زیاتی نه محفوظ شی ، ډ شریک ژوند په ټولو څانګو کښے صحیح صحیح توازن قایم شی ، او ټولو خلقو ته په انصاف سره خپل حقونه ملاؤ شی او خپل فرائض اداکړی ۔ یعنی ډ پیغمبرانو ډ رالیږلو مقصد انفرادی عدل هم وُو او اجتماعی عدل هم وُو ۔ هغوی ډ یو یو تن په ذاتی ژوند کښے هم عدل قایمول غوښتل چه ډ هغه ذهن ، ډ هغه خوئ خصلت ، ډ هغه عمل او ډ هغه په سلوک کښے توازن را پیدا شی ۔ او پوره انسانی نظام ئے هم په عدل قایمول غوښتل چه فرد او جماعت دواړه ډ یو بل په رُوحانی اخلاقی او مادی ترقئ کښے ډ یو بل مددګاران وی ۔

۴۶ ډ وُسپنے ډ رالیږلو مطلب په زمکه کښے وُسپنه پیدا کول دی ، لکه څنګه چه په یو بل ځائے کښے په قرآن کښے فرمائی وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ (الزمر ، ۶) ۔ " هغه ستاسو ډ پاره ډ څارو وا ته قسمه نر او ښځه را اولیږل " ۔ دا په زمکه کښے چه څه دی دا ډ الله په حکم سره را غلی دی ، پخپله نه دی جوړ شوی ، نو په دے وجه ډ هغوئ پیدا کولو ته په قرآن مجید کښے نازلول یا رالیږل وئیلے شوی دی ۔

ډ پیغمبرانو ډ کار بیانولو نه فوراً روستو دا فرمائیل چه " مونږ وُسپنه نازله کړه چه په هغې کښے ډیر زُور دے او ډ خلقو ډ پاره پکښے ډیر فائدے دی " ، پخپله دے خبرې ته اشاره کوی چه دلته ډ وُسپنے نه مُراد سیاسی او جنګی طاقت دے ، او ډ کلام مدعا دا ده چه الله تعالیٰ خپل رسولان تش ډ عدل قایمولو ډ یو سکیم پیش کولو ډ پاره رالیږلی نه وُو بلکه دا خبره هم ډ هغوئ په پیغمبری کار کښے شامله وه چه عملاً د ډ عدل قایمولو کوشش اوکړے شی او هغه قوت د را پیدا کړے شی چه په هغې سره واقعی عدل قایم شی ، او څوک چه ډ عدل ډ برباډولو کوشش کوی چه هغوی له سزا ورکړے شی او زُور ئے ختم کړے شی ۔

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا وَّاِبْرٰهِيْمَ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ
وَالْكِتٰبَ فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا

مونږ[۴۸] نوحؑ او ابراهیمؑ را اولیږل او د هغوی دواړو په نسل کښے مو نبوت او کتاب کیښود و۔ بیا د هغوئ په اولاد کښے چا د هدایت لار ځپله کړه او ډیر یې کښے فاسقان[۴۹] شو۔ د هغوئ نه روسته مونږ پرلپسے

۴۸ یعنی الله ته د دے امداد ضرورت څه په دے وجه نه دے چه هغه کمزورے دے، په خپل طاقت دا کار نشي کولے۔ بلکه دا طریقه هغه د انسانانو د آزمیښت د پاره اختیار کړی ده او په دے آزمیښت کښے د کامیابیدو نه روسته انسان د خپلے ترقئ او د خپلے کامیابئ په لاره تګ کولے شی۔ الله خو هر وخت دا قدرت لری چه کله اوغواړی نو په یوه اشاره ټولو کافرانو له شکست ورکولے شی او خپلو رسولانو له په هغوی باندے غلبه ورکولے شی۔ لیکن په دے کښے به بیا په رسولانو باندے د ایمان راوړونکو خلقو څه کمال وی چه هغوئ به د انعام مستحق شی؟ په دے وجه الله تعالیٰ دے د کار د پاره خپل غالب قدرت استعمال نه کړو او دا طریقه ئے اختیار کړه چه خپل رسولان ئے د بیّنات، او د کتاب او د میزان سره انسانانو ته را اولیږل۔ هغوئ ته ئے دے خبرے حکم اوکړو چه خلقو ته د عدل لاره مخکښے کړی او د ظلم او د بے انصافئ نه د منع کیدو دعوت ورکړی۔ انسانانو له ئے دے خبرے پوره اختیار ورکړو چه څوک غواړی هغوی د د رسولانو دعوت قبول کړی او چه څوک نه غواړی نو نه د ئے قبلوی۔ قبلونکو ته ئے آواز اوکړو چه را شئ، د عدل دے نظام په قایمولو کښے ځما او ځما د رسولانو ملګرتیا اوکړئ او د هغه خلقو په مقابله کښے سخت کوشش اوکړئ چا چه د ظلم د برقرار ساتلو د پاره ملا ټرلی ده۔ په دے طریقه الله تعالیٰ داکتل غواړی چه په انسانانو کښے څوک د انصاف خبره نه قبلوی او د بے انصافئ د پاره جنګیږی، او څوک د انصاف خبره قبلوی خو بیا د هغے د پاره د کوشش کولو نه ډډه کوی، او څوک بے لیدو د خدائے د پاره په دُنیا کښے دے حق غالب کولو د پاره خپل مال او سر قربانوی۔ په دے امتحان کښے چه څوک کامیاب شو د هغوئ د پاره به د ترقئ دروازے پرانستے ټرتے وی۔

۴۹ اوس دا بنودلے کیږی چه د محمد صلی الله علیه وسلّم نه مخکښے کومو رسولانو بیّنات او کتاب او میزان راوړے وُو د هغوی په منونکو کښے څه خرابتیا پیدا شوه۔

۵۰ یعنی کومو رسولانو چه د الله کتاب راوړے دے هغوی ټول د نوحؑ، او د هغه نه روسته د حضرت ابراهیمؑ د نسل نه وُو۔

۵۱ یعنی نافرمانه شو، د الله د بندګئ نه ئے ځان آزاد کړو۔

عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَاٰتَيْنٰهُ
الْاِنْجِيْلَ ۙ وَجَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ؕ
وَرَهْبَانِيَّةَ ِۨ ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ

خپل رسولان اُولیږل، اودَ هغوی ټولونه روستو موعیسیٰ دَ مریم ځوئ اُولیږو او هغه له موانجیل ورکړو، اوکومو خلقو چه دَ هغه پیروی اختیارکړه دَ هغوی په زړونو کښے مونږه ترس او رحم[۵۱] واچوُو۔ او رهبانیت[۵۲] هغوی پخپله جوړکړو، مونږه پرې فرض کړے نه وُو۔ خو هغوی دَ الله دَ رضا په تلاش کښے دَ ځانه دابد عت جوړ کړو[۵۳]

۵۱ اصل الفاظ دی رافةً و رحمةً۔ دَ دے دواړو تقریباً یوه معنیٰ ده خوچه کله په یو ځیلے کیږی نودَ رافة نه مُراد دَ زړه هغه نرموالے دے چه دَ سړی په زړه کښے په هغه وخت کښے راپیدا کیږی کله چه هغه څوک په تکلیف اومُصیبت کښے اُوویني۔ او دَ رحمة نه مُراد هغه جَذبه ده چه دَ هغے په وجه هغه دَ هغه دَ امداد کوشش کوی۔ حضرت عیسیٰ علیه السّلام چونکه ډیر نرم دله انسان وُو او دَ خدائے په مخلوق باندِ ډیر مهربانه وُو نو په دے وجه دا اَثر دَ هغه په پیروکارانو کښے هم وُو، هغوی به هم دَ الله په بندګانو ترس کولو او دَ زړه په مینه به ئے دَ هغوی خدمت کولو۔

۵۲ دا ټکے رَهْبانیّت هم ویئلے شی او رُهبانیّت هم۔ دَ دے مادّه رهب ده چه معنیٰ ئے ده یَرَه۔ دَ رَهبانیّت مطلب دے دَ یَرے لار، او دَ رُهبانیّت معنیٰ ده دَ یرید ونکو خلقو لار۔ اصطلاحاً دَ دے نه مُراد هغه سړے دے چه هغه دَ یَرے دَ وجے نه (خواه که هغه یَرَه دَ یو ظالم نه وی، یا دَ دُنیا دَ فتنو نه وی، یا دَ خپل نفس دَ کمزورئ نه وی) تارک الدُنیا شی او دَ دُنیا دَ ژوند نه اُو تښتی او چرته په ځنګلونو او غرونو کښے پناه واخلی یا چرته دَ تنهائئ په ځائے کښے ځان له کینی۔

۵۳ اصل الفاظ دی اِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ۔ دَ دے دوه مطلبونه کیدے شی۔ یو دا چه مونږه په هغوئ باندِ دا رهبانیّت فرض کړے نه وُو بلکه کوم څیز چه په هغوئ فرض وُو هغه دا وُو چه هغوئ دَ الله دَ رضا حاصلولو کوشش اُوکړی۔ او دویم مطلب دا دے چه دا رهبانیّت مونږه فرض کړے نه وُو بلکه دَ الله دَ رضا په تلاش کښے هغوی په خپله په ځان باندِ فرض کړے وُو۔ دَ دواړو مطلبونو نه دا خبره څرګنده یږی چه رهبانیّت یو غیر اسلامی څیز دے او دا هغه کله په حق دین کښے شامل پاتے شوے نه دے۔ هم دا خبره نبی صلی الله علیه وسلّم فرمائیلی ده چه "لا رهبانیة فی الاسلام" "په اسلام کښے رهبانیت نشته"۔ (مُسنَدِ احمد)۔ په یوبل حدیث کښے نبیؐ فرمائی "رهبانیة هٰذه الامّة الجهاد فی سبیل الله"، "جهاد فی سبیل الله دَ دے امّت رهبانیّت دے"۔ (مُسنَدِ احمد۔ مسند ابی یعلیٰ)۔ یعنی دَ دے امّت دَ پاره دَ رُوحانی ترقئ لار دُنیا پریښودل نه دی بلکه دَ الله په لار کښے جهاد کول دی، او دا امّت دَ فتنو دَ یَرے دَ وجے نه ځنګلونو او غرونو ته نه تښتی بلکه دَ خدائے په لار کښے دَ جهاد په ذریعه دَ هغوی مقابله کوی۔

فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٢٧﴾

اوبیا چه ددے د پابندئ کولوکوم حق ؤوهغه ئے ادا نه کړو۔[۵۴] په هغوی کښے چه کومو خلقو ایمان راوړے ؤو د هغوی اجرمونږ هغوی له ورکړو، خوپه هغوئ کښے اکثر خلق فاسقان دی ۔

د بخاری اود مُسلم متفق علیه روایت دے چه په صحابو کښے یوصاحب اُوویئل حُه به همیشه تهجد شپه مونځ کوم، بل اُوویئل حُه به همیشه روژه نیسم ناغه به پکښے نه کوم، دریم اُوویئل حُه به هیڅکله واده نه کوم اود نورو سره به هیڅ واسطه نه لرم ۔ رسول الله صلی الله علیه وسلّم د هغوی داخبری واورید له نوروے فرمائیل :
اما والله انی لاخشاکم لله و اتقاکم له لکنی اصوم و افطر و اصلی و ارقد و اتزوج النساء فمن رغب عن سنتی فلیس منی ۔" په خدائے مِ دِ قسم وی حُه ستاسو نه زیات د الله نه یَریږم او تقوٰی کوم ۔ لیکن حُما طریقه داده چه روژه هم نیسم او بوزه کوم هم ، د شپے مونځ هم کوم اوؤده ئ کیږم هم ، اود نحُوسره نکاح هم کوم ۔ د چاچه حُما طریقه خوښه نه وی د هغه حُماسره هیڅ واسطه نشته ۔" حضرت انس رضی الله عنه وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم به فرمائیل : لاتشددوا علی انفسکم فیشدد الله علیکم فان قوما شددوا فشدد الله علیهم فتلک بقایاهم فی الصوامع والدیار ۔" په خپل حُان سختئ مه کوی کنی نو الله به د ربانډ سختی اُوکړی ۔ یوے پاتے د سختئ لارخپله کړی وه نو الله هم بیا سخت را اُونیول ۔ کورئ ، دغه د هغوی نه پاتے خلق په راهب خانو او کرجُو کښے موجود دی ۔" (ابوداؤد) ۔

۵۴ یعنی هغوی په دوُو غلطو کښے اخته شو ۔ یوه غلطی داچه هغوئ په خپل حُان هغه پابندیانے اُولګولے چه الله ورته د هغے حکم نه ؤوکړے ۔ او دویمه غلطی داچه کومے پابندیانے هغوی په خپل نز کښے د الله د رضا د لټولو د پاره په خپل حُان لګولے وے نو د هغے حق ئے ادا نه کړو او هغه کارونه ئے اُوکړل چه د الله د رضا په حُائے پر التها د الله غضب راغے ۔
دلته د حُان ښه پوهه کولو د پاره د مسیحی رهبانیّت په تاریخ باندے یونظر اچول ضروری دی ۔ د حضرت عیسٰی علیه السّلام نه روستو د دوُو سَوُو کالوُ پورے عیسائی کرجا د رهبانیّت نه نابلده وه ۔ لیکن د رهبانیّت جراثیم په مسیحت کښے د اول نه موجود وُو او د خلقو په خیالاتو کښے داسے خبرے پُرتے وے چه رهبانیّت تر ید اکید ے شو ۔ یوازے بے واده ژوند ته اخلاقی کمال وئیل او د کاروباری ژوند په مقابله کښے د دروئشئ ژوند اعلیٰ اوغوره ګڼل په اصل کښے د رهبانیّت بنیاد دے ، اودا دواړه څیزونه په مسیحت کښے د اوّل نه موجود وُو ۔ د لوَنډئ ژوند ته خاص طور د تقدّس درجه ورکړے شوی وه ، او داوجه وه چه کومو خلقو به په کلیسا کښے مذهبی خدمتونه کول د هغوی په حقله به خلقو داخبره بنه نه ګڼله چه هغوی د واده اُوکړی ، بال بچه دار شی اود کور په کارونو کښے د اخته شی ۔ داځیرچه دریمے صدئ ته رسید و نو د فتنے شکل ئے اختیار کړو او رهبانیّت د وُبا د مرض پشان په مسیحت کښے خور شو ۔

تاریخی طور دَدے غټ غټ درے سببونه وُو،

یو دا چه دَ شرک په پخوانی ژوند کښے شهوانیت، بدکرداری اودَ دُنیا پرستی وِیر په زُور سره خوره شوی وه، دَدے زُوردَ ختمولودَپاره عیسائی عالمانودَ اعتدال لار خپله نه کړه بلکه دَ سختئ لارے خپله کړه - هغوئ پاکیزه ژوند له دومره زُور ورکړو چه دَ بنځے اودَ سړی تعلق دَ خلقو په نظر کښے یو پلیت ځیز بنکاره شو، خواه که هغه تعلق په جائزه نکاح سره وی - هغوی دَ دُنیا پرستئ خلاف دومره په سختئ سره مقابله اُوکړه چه دَ یوه دیندار سړی دَپاره څه قِسم جائیداد مسائل گناه شوه اودَ اُوچتو اخلاقو معیار دا مقرر شو چه سړے دِ بالکل مُفلس یعنی مِسکین وی او په هرلحاظ سره دِ دَ دُنیا سره تعلق نه لری - دغه شان دَ شرک دَ خوندَ ورژوند په جواب کښے هغوی دِے انتها ته اُورسیدل چه خوند ونه پریښودل، خپل نفس وژل اوخواهشات دَ بیخ نه ختمول اعلیٰ اخلاقی مقام جوړشو، او په قِسما قِسم طریقوسره بدن ته تکلیف رَسول دَ سړی دَ رُوحانیّت کمال اوثبوت اُوگڼل زیدو۔

دویم دا چه مسیحت کله دَ خپلے کامیابئ په دَور کښے په عاموکښے په خوریدو شو نوکلیسا دَ خپل مذهب دَ خورَولو په شوق کښے هر هغه بدعئ له دَ خپل مذهب دَ لمنے لاندے ځائے ورکړو کومه چه په عاموخلقوکښے مقبوله وه - اَولیاء پرستی دَ پخوانومعبودانو په ځائے وُدریده - دَ هورس (Horus) اودَ آئسس (Isis) بتانوپه ځائے دَ مسیح او دَ مریم دَ بتانوعبادت شروع شو - دَ سیټرنیلیا (Saturnalia) په ځائے دَکرسمس میله لگیدل شروع شو - دَ پخوا زمانے تعویذونه بندونه، فالونه، دَ غیبو خبرئ کول، پیریان پاسَول وغیره ټول کارونه عیسائی درویشانوشروع کړل - دغه شان چه کوم سړے به گنده اولغړ وُواو په یوغار کښے به اُوسیدو نوهغه به دَ خلقو په نزخدائے ته رسیدلے بزرگ انسان وُواو په دے وجه په عیسائی کلیسا کښے دَ ولایت (یعنی دَبزرگئ) هم دانقشه مقبوله شوه اودَغسے خلقودَ کِراماتودَ قیصونه دَ عیسایانوکتابونه پک شول۔

دریم دا چه دَ عیسایانوسره دَدین دَ حدونومقررولودَپاره څه تفصیلی شریعت اوبیوا ضحه سنت موجود نه وو۔ دَ موسیٰ شریعت هغوی پریښود ے وُو، اویوان ے په انجیل کښے مکمل هدایات نه موندے کیدل - په دے وجه مسیحی عالمانوڅه خودَ بهرنو فلسفودَ اثرپه وجه اوڅه دَ خپلو میلانانوپه وجه، په خپل دین کښے قِسما قِسم بدعتونه ورداخل کړل - رهبانیت هم په دِے بدعتونوکښے یوبدعت وُو - دَ مسیحی مذهب عالمانواوامامانودَ رهبانیت فلسفه اوطریقه دَ بدهـ مذهب دَ خیرات مارو ملنگانونه، دَهندوانودَ جادوگرواودُنیا پریښودرویشانونه، دَ پخوانومصری فقیرانو (Anchorites) نه، دَ ایران دَ نقشبندوهوښیارانونه اودَ افلاطون اودَ فلاټینوس دَ شاگردانواشراقی حاکمانونه واغستله اودَهغے نه ئے دَ نفس دَ پاکوالی، دَ رُوح دَ ترقئ اواللّٰه ته دَ نزدیکت ذریعه جوړه کړه - داغلطی څه معمولی خلقونه نه کوله - دَدریمے صدئ نه واخله دَ اُوومے عیسوی صدئ پورے (یعنی دَ قرآن دَ نازلیدودَ زمانے پورے) چه په مشرق او مغرب کښے دَ مسیحت کوم لوئ لوئ عالمان، بزرگان اوامامان گنړلے کیږی، یعنی سینټ (بزرگ) اَتھانا سیوس، سینټ باسل، سینټ گریگوری نازیانزین، سینټ گرائی سوستم، سینټ ایمبروز، سینټ جیروم، سینټ اگسټائن، سینټ بینیډکټ، گریگوری اعظم، دا ټول راهبان وُواودَ رهبانیّت زبردست مشران وُو - دَدوی په کوششونوسره رهبانیّت ته په کلیسا کښے ریواج ورکړے شو۔

دَتاریخ نه معلومیږی چه په عیسایانوکښے دَرهبانیّت شروع دَمصر نه اُوشوه - دَدے جوړونکے سینټ انتهنی (St Anthuny) وُوچه په ۲۵۰ء کښے پیدا شوے وُو او په ۳۵۰ء کښے دَدُنیا نه رخصت شو - دهٔ ته اولنے مسیحی راهب ویلے کیږی - دهٔ دَ قیوُم په علاقه کښے په پَسُپیرنو ځائے کښے (چه اُوس ورته دَیرُالمیمون وائی) اولنئ خانقاه (یعنی دَدرویشانوڼو اُوسیدو ځائے) جوړ کړو - دَدے نه روستو ئے دویمه خانقا دَبحرِاحمر په غاړه باندِ جوړه کړه چه اُوس دَیر مارُ انطُونیُوس وائی - په عیسایانوکښے دَرهبانیت بُنیادی قاعدے دَهغه دَ کتابونو اودَ هغه دَ هدایاتونه اغستے شوی دی - دَدے نه روستو داسلسله پیا په مصر کښے دَسیلاب پشان خوره شوه اوځائے په ځائے دَراهبانوسړو اوښځو دَپاره خانقاګانے جوړے شوے چه په خُینوکښے به په یووخت درے درے زره راهبان اُوسیدل - په ۳۲۵ء کښے په مصر کښے یوبل مسیحی بزرګ پاخومیُوس راپیدا شواودَ راهبانوسړو اوښځو دَپاره ئے لس لوئے لوئے خانقاګانے جوړے کړے - دَدے نه روستو دا سلسله دَشام اودَ فلسطین اودَافریقے اودَیورپ په مختلفو ملکونوکښے خوره شوه - کلیسائی نظام ته اوّل اوّل دَدے رهبانیّت په معامله کښے ډیر سخت مشکلات پیښ شو، ځکه چه هغوی دُنیا پریښودل اووادهٔ نه ګول اوغریبی مُفلسی دَرُوحانی ژوند دَپاره یوکمال خوګڼلو، لیکن دَراهبانوپشان ئے وادهٔ کولوته اوبچوراو وړلوته اوجائیداد سائلوته ګناه هم نه ګڼلو وئیله - آخر داچه دَ سینټ (یعنی بزرګ) انتهانا سیُوس (چه په ۳۷۳ء کښے وفات شوے دے)، اودَ سینټ باسِل (چه په ۳۷۹ء کښے وفات شوے دے)، اودَ سینټ آګستائن (چه په ۴۳۰ء کښے وفات شوے دے)، اودَګریګوری اعظم (چه په ۶۰۹ء کښے وفات شوے دے)، غوندِ خلقودَاثر دَوجے نه دَرهبانیت ډیرے قاعدے دَچرچ په نظام کښے باقاعده داخلے شوے۔

دَدے راهبانه بدعت یوځواخیستونه وُوچه هغه مونږه دلته مختصر طور بیانوو:

(۱) په سختو سختو اونوو نوو طریقوسره خپل بدن له تکلیفونه ورکول، په دے معامله کښے به هر راهب دَبل نه دَ مخکښے کیدو کوشش کولو - دَعیسائی اولیاء په کتابونوکښے چه دَدے خلقوکوم کمالات بیان کړے شوی دی هغه څه داقِسم دی: دَاسکندریه بزرګ مکاریُوس به هر وخت په خپل بدن باندِ اتیا پونډه بوج کیښود لے وُو - شپږ میاشتے به هغه په یوه حَبه کښے اُودهٔ کیدواوزهریلی مچانو به دَهغه لغړ بدن چیچلو - دَهغه مرید بزرګ یُوسِیبیُوس دَ خپل پیرنه هم زیاته سخته برداشت کړه - هغه به ۱۵۰ پونډه بوج دَځان دَپاسه کړ زولواودرے کاله په یو وچ شاړکوهی کښے پروت وُو - سینټ سابِیُوس به صرف هغه مَکیان خوړل چه هغه به ټوله میاشت په اُوبوکښے پراته وُواوبد بُوئی به ئے کولو - سینټ بَیسارِیُون ځلویښت ورځے په ازغنوجاړوکښے پروت وُواوځلویښت کاله ئے په زمکه شانهٔ وه لګولی - سینټ پاخومیوس پنځلس کاله، اودَیوروایت مطابق پنځوس کاله زمکے ته شانهٔ وه لګولے - یووَلی سینټ جان درے کاله په عبادت کښے ولاړ وُو - په دے ټوله موده کښے نهٔ هغه ناست وُو اونهٔ ملاست وُو - دَآرام دَپاره به ئے بس یوخت ته پډه وهله اودَاتوار په ورځ چه به ورته کوم تبرّکی خوراک راوړے شو په هغے به ئے ګذاره کوله - سینټ سیمیُون اسټائلائیټ (۳۹۰ء ـ ۴۴۹ء) چه دَعیسایانو غټ وَلی ګڼلے شی، دهٔ به دَهر ایسړنه مخکښے پوره ځلویښت ورځے ولږه تیرولے - آخر داچه هغه دَشمالی شام دَسیمان قلا حواته شپیته فوټه اُوچته یوه ستن (په مزدورانو) جوړه کړه چه دَهغے پاسنے سر صرف درے فوټه پلن وُو اودَپاسه پرجنګله جوړه کړے شوی وه - دَدغه ستن دَپاسه هغه پوره دیرش کاله تیرکړل - غارمه - باران، یخنی، ګرمی ټول هرڅه

به پر تیریدل اوهغه به د ستنې نه نهٔ راکوزیدو - د هغه مُریدانو به په اندرپایه هغه ته خوراک خیژوُاو د هغه کندګۍ به ئے صفا کوله - بیا هغه په یوه رَسۍ باندې خپل ځان د دغه ستنې سره اُوترِوان ترد ے چه هغه رَسۍ د هغه د غوښے سره جوخته اُولګیدله ، غوښه ئے سخا شوه اوچینجی پکښے پیدا شو - کله چه به یو چینجے د هغه د زخم نه پریوتو نو هغه به ئے واپس په زخم کښے واچوُاو وئیل به ئے " خوره هغه څه چه خدائے تا له درکړی دی " مسیحی خلق به د لرے لرے نه د هغه د زیارت د پاره راتلل - کله چه هغه مرشو نو د مسیحی عوامو دا فیصله وه چه هغه د عیسائ وَلی بهترین مثال وُو -

د د ے دَور د عیسائ اولیاوُو چه کوے خو بیانے بیان کړے شوی دی هغه ټول هم دغسے مثالونه دی - یو وَلی وُوچه د د یرشو کالو پورے هغه خاموش وُاو هیڅ ے چا په خبرو کولو لید لے نهٔ وُو - چا خپل ځان د یو خټ سره تړلے وُو - څوک به په ځنګلو کښے کرزید و او د ګیا په خوراک به ئے ګذاره کوله - چا به هر وخته غټ پیټے په ځان تړلے وُو - چا به په زغیرونو خپل اندامونه تړلی وُو - څوک به د ځناورو په غاړونو ، یا په شاړو کویانو یا په زړو قبرونو کښے اُوسیدل - او ځینی بن رکان به هر وخت لغړ اُوسیدل او خپل ستر به ئے په خپلو اُوږدو اُوږدو ویښتو باندې پټولو او په زمکه به په خوښۍ د و خوښۍ وګرزیدل د د اسے اولیاوُ د کرامتو شهرت هر طرفته خور وُو او چه کله به مړه شو نو هډوکی به ئے په خانقاهونو کښے محفوظ ساتلے کیدل - د سینا د غر په لمن کښے چه د سینټ کیتهرائن کومه خانقاده ماڅېله په هغے کښے د هډوکو یوه داسے لائبریری لیدلی ده چه په هغے کښے په یو ځائے کښے د اولیاوُ کوپړئ په تر تیب سره کیښودلے شوی وے ، په بل ځائے کښے د خپو هډوکی او په بل ځائے کښے د لاسونو هډوکی - او د یو وَلی خوښوله د اچه د شیشے په یوه الماري کښے کیښودلے شوی وه -

(۲) د هغوی دویم خصوصیت داوُوچه هغوی په هر وخت کنده وُاو د صفایئ نه به ئے سخت پرهیز کولو - لامبل یا بدن له اُوبه ور وُړل د هغوئ په نزد خدا پرستئ نه خلاف وُو - د بدن صفائ هغوئ د رُوح ګندګی ګڼله - سینټ اتهانا سیُوس د یر په عقیدت سره د سینټ اَینتهنی د اخوبی بیانوی چه هغه د مرګه پورے خپلے خپے نه وے اینځلے - سینټ ابراهام چه کله په مسیحیت کښے داخل شو ، نو پوره پنځوس کاله ئے نهٔ مخ اینځلے وُاونهٔ خپے - یو مشهور لَوناړے راهبے سِلوِیا ټول عمر د خپلو کوتو نه سِوا د بدن بل ځائے له اُوبهٔ نه وے ورورلے - د یو عیسائ خانقاد شپږ نیم شلو راهبو ښځو په تعریف کښے لیکی چه هغوی هډوخپلے خپے اینځلے نه وے ، او د غسل سوم خوچه به ئے واوریدو نو پیدل به پرِ راغلل -

(۳) دے رهبانیت سره کورنے ژوند بالکل حرام شو او د نکاح ټولے رشتے په بے دردئ سره ختمے شوے - د ځلورمے او د پنځمے صدئ ټول مذهبی کتابونه د د ے خیال نه ډک دی چه یوازے ژوند تیرول د ټولو نه اُوچت اخلاق دی ، او د پاکئ معنیٰ دا ده چه سړے د خپل نفس بالکل مړکړی او په هغے کښے د د جسمانی لذت هیڅ خواهش پرے نږدی - د دوئ په نز خپل خواهش مړکول په د ے وجه ضروری وُوچه د هغے نه حیوانیت ته طاقت رَسی - د هغوی په نز خوند اغستل ګناه وه ، آن تر د ے پورے چه خوشحالی هم د هغوئ په نظر کښے د خدائے د هیرولو ذریعه وه - سینټ بابِل خندا اومو سکا دواړه منع کوی - د د ے خیالا تو په وجه د ښځے او د سړی په منځ کښے د واده تعلق د هغوئ په نز بالکل پلیت کار وُو - د راهب د پاره

داضروری وہ چہ وادہ کول خوغټه خبره وه ، د ښځې شکل ته به هم نۀ کوری ، اوکه وادۀ ئے کړه وُ و نو ښځه به پریږدی ۔ د نارینو پشان د زنانو په زړه کښے هم داخبره کینولے شوی وُ چه هغوی که چرے په آسمانی بادشاهت کښے داخلیدل غواړی نو همیشه دِ وادۀ نۀ کوی ، او که واده شوی وی نو د خاوند نه دِ جُدا شی ۔ سینټ جیرُوم غوندِ عټ مسیحی عالم وائی چه کومه ښځه د مسیح د خاطره راهبه شوه او ټول عُمر لونده پاتے شوه نو هغه د مسیح ناوے ده او د هغ مور د خدائے ، یعنی د مسیح خواښے (Mother in Law of God) ده ۔ په یوبل ځائے کښے سینټ جیرُوم وائی چه " د پاکئ په تبرد کورنی تعلقاتو لرګی پر یکول د سا لک اولینے کار دے "۔ د دے تعلقاتو په وجه به مذهبی جذبه را پیدا شوه او په مسیحی سړی یا په مسیحی ښځه باندِ به د هغ اولینے اثر دَا اُوشو چه د هغوی بنا ئیسته کورنے ړوند به د همیشه د پاره ختم شو ۔ اوچونکه په مسیحیت کښے طلاق بند وُو ، نو په دے وجه به د نکاح باوُجود ښځه خاوند د یوبل نه جُدا وُو ۔ سینټ نائلس (St Nilus) د دوُ بچو پلار وُو ۔ هغه چه کله په رهبانیت کښے داخل شو نو د هغه ښځې ژړل او هغه ترِ جُدا شو ۔ سینټ امّون (St Ammon) د وادۀ په اوله شپه چیلے ناوے ته د یوځائے کیدو د پلیتئ وعظ اُوکړو او دوارو په اتفاق سره فیصله اُوکړه چه په ژوند به د یو بر نه جُدا وُسُو ۔ سینټ ابراهام د وادۀ په اوله شپه خپله ښځه پریښوده او تختیدو ۔ هم دا کار سینټ ایلیکسس اُوکړو ۔ د دا سے قِسم واقعاتونه د عیسائی اولیاؤ تذکرے وکے پرتے دی ۔

د کلیسا نظام د دریوسوُ کالو پورے په خپل حد کښے د ننه د دے انتها پسندانه خیالاتو په څه نه څه طریقه مخ نیوے کولو ۔ په هغه زمانه کښے د پادری د پاره بے واده کیدل لازمی نۀ وُو ۔ که چرے هغه د پادری په منصب باندِ د مقرر کیدو نه مخکښے وادۀ کړے وی خو خیر د ښځې سره یوځائے اُوسیدے شی ، البته د پادری کیدو نه روستو وادۀ کول د هغه د پاره منع وُو ۔ همدغه یو داسے سړے به پادری نۀ شو مقرریدے چه هغه به د یو کونډے یا طلاقے شوی ښځې سره وادۀ کړے وُو یا به ئے دوه ښځے وے اویا به ئے کورکښے وینځه وه ۔ زُور وُو په څلورمه صدئ کښے داخیال ښه پوخ شو چه کوم سړے په کلیسا کښے مذهبی خدمت کوی د هغه د پاره وادۀ کول د پیره بده خبره ده ۔ په ۳۶۲ء کښے د ګنګرا کونسل (Council of Gengra) آخری مجلس وُو چه په هغ کښے دا قِسم خیالات د مذهب نه خلاف اُوګڼلے شول ۔ لیکن د دے نه لږه موده روستو د ۳۸۶ء رومن سینا ډ (Synod) ټولو پادریانو له مشوره ورکړه چه هغوی دِ د کورنی تعلقاتو نه ډډه اُوکړی ، او بل کال له پوپ سائریکیس (Siricius) حکم اُوکړو چه کوم پادری واده اُوکړی ، یا د وادۀ نه روستو خپلے ښځې سره تعلق اُولری نو هغه دِ د منصب نه لرے کړے شی ۔ سینټ جیرُوم او سینټ ایمبروز او سینټ آګستائن غوندِ لویو لویو عالمانو پرے په زُور سره د دے فیصلے حمایت اُوکړو او د دے مقابلے کولو نه روستو په مغربی کلیسا کښے دا فیصله جاری شوه ۔ په دِ ے دَور کښے پرے دا سے غوندے اُوشوے چه په هغ کښے په دے شکایتونو غوز اُوشو چه کوم خلق د اول نه د کورواُوُ هغوی د پادری کیدو نه روستو هم د خپلو بیبیانو سره " ناجائزه " تعلقات لری ۔ آخر دا چه د هغوی د اصلاح د پاره دا قاعده جوړے شوے چه هغوی دِ په کورلاوُ ځائے کښے اودۀ کیږی ، یوازے دِ د خپلو بیبیانو سره نۀ ملاویږی ، او د هغوی د ملاقات په وخت کښے دِ کم نه کم دوه سړی موجود وی ۔ سینټ کریګوری د یو پادری په تعریف کښے لیکی چه څلوینټ

کاله هغه د خپلے ښځے نه جُدا وُو ۔ اَن تر دے پورے چه د مرګ په وخت کښے ور له کله ښځه نزدے را غله نو هغه ورته اُووئیل چه ښځے ، لږ ے شه !

(۴) د ټولونه دردناک حالت په دے رهبانیت کښے دا دے چه دِ د مور او پلار، د خور او رُور او د اولاد سره د سړی رشته ختم کړه ۔ د مسیحی اولیاؤ په نظر کښے د خُوی د پاره د مور او پلار محبت ، د رُور د پاره د رُور او خُور محبت ، او د پلار د پاره د اولاد محبت هم یوه ګناه وه ۔ د هغوی په نزد د روحانی ترقیٔ د پاره داضروری وه چه سړے د دا ټول تعلقات ختم کړی ۔ د مسیحی اولیاؤ په تذکرو کښے د دے دا سے دا سے عملونه کے واقعے ملاویږی چه انسان ئے اُوریدو ته ګران نه شی ټینګولے ۔ یوراهب ایواګریس (Evagrius) پیره موده په صحرا کښے سخته تیره وله یوه ورځ ناسپاه هغه ته د خپلے مور او پلار د طرفنه خطونه اُور سیدل چه د کلونو راسے د هغه په جُدایئ کښے ناقلاره وُو ۔ د هغه سره فکر شوچه هسے نه د دے خطونو په کتلو سره د هغه په زړه کښے د انسانی محبت جذبے رابیدار ے شی نو هغه خطونه ئے کولا وُنه کړل او فوراً ئے وُورته غوزار کړل ۔ د سینټ تهیوډورس مُور او خور د پیر وپادریانو نه سفارشی خطونه واغستل او هغه خانقاه ته اُور سیدلے چه په کوم کښے هغه اُوسیدو او د هغه د یو نظر لیدو د پاره ئے هغه ته درخواست اُوکړو خو هغه ور سره د ملاقات نه انکار اُوکړو ۔ د سینټ مارکس (St. Marcus) مُور د ملاقات د پاره د هغه خانقاه ته لاړه او د خانقاه د شیخ (Abbot) خوشامندګرۍ ئے اُوکړه او هغه ئے راضی کړو چه خُوئ ته د مُور سره د ملاقات کولو حکم اُوکړی لیکن خُوی په هیڅ طریقه د مُور سره ملاویدل نه غوښتل ۔ آخر داچه هغه د شیخ حکم په دا سے طریقه اُومنو چه شکل ئے بدل کړو او ستړګے ئے بند ے کړے او د مُور مخے له لاړو ۔ نه مُور خپل خُوئے اُوپیژند و او نه خُوی د مُور شکل اُولیدو ۔ یوبل وَلی سینټ پوئمن (St. Poemen) او د هغه شپږ رونړه د مصر په یوه صحرائی خانقاه کښے اُوسیدل ۔ د پیر کلونه پس د هغوئ بوډی مُور ته د هغوی پته اُولږیده له او د هغوئ سره د ملاقات د پاره ئے هلته ځان اُورَسَوُو ۔ چه ځامنو خپله مُور اُولیده له نو په منډه منډه خپلے کمرے ته لاړل او دروازه ئے بنده کړه ۔ مور ئے بهر کینا ستله او په ژړا شوه او وے وئیل چه خُه په دے بوډا والی کښے د دومره لرے نه صرف ستاسو د لیدو د پاره راغلے یم ، ستاسو به خه نقصان اُوشی که خُه ستاسو شکلونه اُووینم ، وَلے خُه ستاسو مور نه یم ؟ لیکن هغه بزرګانو دروازه بیرته نه کړه او مور ته ئے اُووئیل چه مونږ به ستاسره د خدائے په دربار کښے ملاویږو ۔ د دے نه هم زیاته دردناکه قیصه د سینټ سیمیون اِستائلائیټس (St. Simeon Stylites) ده چه مور او پلار ئے پریښودل او اُویشت کاله غیب وُو ۔ پلار د هغه په غم کښے مړ شو ۔ مُور ئے وندئ وه ۔ د خُوئ د بزرګئ خبرې چه د لرے لرے پورے خوږے شوے نو هغے ته د هغه ځائے پته اُولږیده ۔ هغه غریبه د هغه د ملاقات د پاره د هغه خانقاه ته اُورسیده له خو هلته بنځے ته د ننوتو اجازت نه وُو ۔ هغے د پیرمنت اُوکړو چه یا د خُوئے ما د ننه اُوغواړی یا د هغه بهر را اُوځی او خپل شکل د ما ته اُوښایئ ۔ لیکن هغه "ولی الله" صفا انکار اُوکړو ۔ درے شپے ورځے هغه د خانقاه په دروازه کښے پرته وه او آخر داچه هلته په ملاسته مړه شوه ۔ پس د هغے ولی صاحب راوُوتو ۔ د مُور د پاسه ئے اُوژړل او د هغے د پاره ئے د بخښنے دُعا اُوغوښتله ۔

د غه شان بے دردی دے اولیاؤ د خوښ د او د اولاد سره کړی ده ۔ یوسړے د میوتهیس (Muthis) قیصه لیکی چه هغه خوشحاله سړے وُو ۔ یودم پرمذهبی جذبه راغله او د اتو کالو پوځوئے ئے د خان سره خانقاه ته

بوتلو۔ هلته د رُوحانی ترقئ دپاره داخبره ضروری وه چه د حُوئ مینه د زړه نه اُوباسی ۔ نواوّل ترحُوئے جُدا کړے شو۔ بیا د ډیرمودے پورے به د هغه په محبتونے د هغه په ماشوم پخی قسما قسم سختیانے کیدلے اوهغه به ورته کټل ۔ بیا د خانقاه شیخ هغه ته حکم اُوکړو چه دے په خپل لاس د ریاب ته اُوغورزوه ۔ هرکله چه هغه دے حکم منلو ته هم تیار شو نو په د غه وخت کښے تر راهبانو پخے پخ کړو۔ د هغے نه روستو دا اُومنلے شوه چه هغه واقعی د ولایت مرتبے ته رسیدلے دے ۔

په دے معاملا توکښے د مسیحی رهبانیت داخیال وُوچه کوم سړے د خدائے محبت غواړی نو هغه له پکاردی چه د انسانی محبت هغه ټول زنځیرونه اوشلوی کوم چه په دُنیا کښے هغه د مُور اوپلار، د خوښو د رُوښوا و د بال پخ سره تړی۔ سینټ جیرُوم وائی چه " اګرچه ستاوُزاره ستاپه غاړه کښے لاسونه واچوی او په تاپورے اُوښکلی ، اګرچه ستامور د خپلو پیو په واسطه تامنع کړی، اګرچه ستاپلارستا د منع کولو د پاره ستاسمے ته سَمْلی ، بیاهم ته هرڅه پریږده او د پلار په بدن خپے کیږده خوچه یوه اُوښکه یې د ستړکونه لاړه نه شی او د صلیب جنډ مے ته منډه کړه ۔ یه دے معامله کښے بے رحمی تقویٰ ده " سینټ کرینکوری لیکی چه " یوځوان راهب د مُوراو پلار مینه د زړه نه اُوښه ښکلے شوه او یوه شپه په پټه را اُوتښتیدو او د پلار سره مِلا وُشو۔ خدائے هغه له دا دے قصور سزا ورکړه چه خانقاه ته د واپس رسیدو سره هغه مړشو۔ هغه په زمکه کښے ځخ کړے شو نو زمکے قبول نه کړو ۔ بار بار به په قبر کښے کیښودے کید واو زمکے به راغورزوُو۔ آخر داچه سینټ بینیډکټ د هغه په سینه باندِ د تبرّک لاس کیښود و نو پس د هغے قبر قبول کړو" ډیومے راهبے ښځے په بارہ کښے لیکی چه هغه د مرګ نه روستو د ورځے په عذاب کښے په دے وجه مبتلا وه چه هغے د خپلے مُور محبت د زړه نه نه وُوایستلے ۔ د یو وَلی په تعریف کښے لیکی چه هغه د خپلو رشته دارانو نه سوا د نورو هیڅاسره بے دردی نه ده کړی ۔

(۵) د خپلو نزدے رشته دارانو سره د بے رحمئ او د سنګدلئ کوم کارچه دِ خلقو کولو د هغے په وجه به د هغوئ انسانی جذبات مړه کیدل ۔ اوهم داوجه وه چه د کومو خلقو سره به د هغوی مذهبی اختلافات راغلل نو د هغوی په مقابله کښے به ئے بے انتها ظلم کولو۔ مسیحت چه څلورمے صدئ ته رسیدو نو ۸۰ ۔ ۹۰ فرقے پکښے پیدا شوی وے۔ سینټ اګستائن په خپله زمانه کښے ۸۸ فرقے شمار کړی دی ۔ دے فرقو به د یوبل نه سخت نفرت کولو۔ دا نفرت به راهبانو را پیدا کولو او د دے په سر به جنګونه هم راهبانو کول ۔ اسکندریه د دے ډیره د آرین (Arian) جنګونو یولوئ میدان وُو۔ هلته اول د آریَن فرقے بشپ د اتهاناسیُوس په دله حمله اُوکړه ، د هغه د خانقا ګانونه ئے لوټ مے لونډ راهبے ښځے په زُور را اُوستلے ، هغوئ ئے لغړے کړلے اوپه اړغنو کوتکونو ئے اُووهلے په بدن ئے ورله داغونه اُولګول چه د خپلے عقیدے نه توبه اُوباسی۔ بیاچه کله په مصر کښے کیتھولک پاتے ته غلبه حاصله شوه نو هغوی د آریَن فرقے سره داهڅه اُوکړل، آن تر دے پورے چه غالب خیال دا دے چه په خپله آریَس (Arius) هم په زهرومړکړے شو ۔ چه د سکندریه کښے یوځل د سینټ سائرل (St. Cyril) راهبانو مُرید انو لویه هنګامه جوړه کړه ، آن تر دے پورے چه د مخالفے پاتے یوه راهبه ښځے ئے خپل کلیساته راوستله ، هغه ئے اُووژله ، پوټی پوټی ئے کړه اوبیا ئے وُورته غوزاړکړه۔ د روم حال هم د دے نه څه مختلف نه وُو۔ په ۳۶۶ء کښے د پوپ لبیریس (Liberius) په وفات باندِ دُوو ډلو د پاپائیت د پاره خپل خپل امیدوار ان وُدرَول ۔

۱۳۷ دَدواړو په منځ کښے سخت خونړے جنګ اُوشو۔ تر دے چه په یوه وُرځ کښے دیوچرچ نه درے کم اوه شپے مړے راوُو بستلے شو۔

(۶) دَلوَن پرځ اودرویشئ دَدے ژوند سره دَدولت په جمع کولو کښے هم څه کمے نۀ دے پاتے شوے۔ دَ پنځمے صدئ په شروع کښے داحالت وُوچه دَرُوم بشپ به دَبادشاهانو پشان په خپل محل کښے اُوسیدواودَهغه سورلی چه به کله دَ بنارنه راوُوتله نوشان وشوکت به ئے دَقیصر دَ سورلئ نه کم نۀ وُو۔ سینټ جیرُوم (د څلورمے صدئ په آخر کښے) شکایت کوی چه دَ پیرو بشپانود عوتونه په پشان وشوکت کښے دَکورنۍ نود عوتونه شرمَوی۔ په اُوومه صدئ (یعنی دَقرآن دَنازلیدو په زمانه) کښے دَ دُنیا دولت خانقاهونواوکلیسا ګانوته دَاُوبودَ سیلاب پشان را بهیدلو۔ داحکمچه دَ خلقو په ذهن کښے داخبره کینولے شوی وه چه دَ چانه لویه ګناه اُوشی نوهغه هله بخښلے کیږی چه دَ یوَولی دربارته نذرانه وړیسی، یاخانقاه یاچرچ له قربانی ورکړی۔ دَدے نه روستو به هم هغه دُنیا راهبانوله راتلله دَکومے نه چه هغوی تینښته کړی وه۔ خاص طورچه کوم څیز دَدے دَتنزل سبب اُوګرزیدو هغه داوُوچه کله دَراهبانودَ کمالاتو دَوجے نه په عوامو کښے دَ هغوئ سره یے کچه عقیدت پیداشونو پیروُ دُنیا پرستو خلقودَ درویشئ جامه واغوستله اودَراهبانو په ډله کښے داخل شول او هغه دُنیائے اُوګټله چه غټو دُنیادارو خلقوهم چرے نۀ وه ګټلی۔

(۷) دَپاکئ په معامله کښے هم رهبانیّت دَفطرت سره جنګ کړے دے او پرې خراب شکست ئے خوړلے دے۔ په خانقاهونو کښے به دَنفس دَمړکولو دَپاره څه کارونه داسے هم کیدل چه په هغے کښے به راهب سړے او راهبه څنګه په یوځائے کښے اُوسیدل اودَزیات امتحان دَپاره به ئے اکثر په یوه بستره کښے شپه تیرَوله۔ مشهور راهب سینټ ایواګریَس (St. Evagrius) پرې په تعریف سره دَ فلسطین دَراهبانو دَضبطِ نفس ذکرکوی چه "هغوی په خپلو جذباتو باندِ دومره قابو موندلی وه چه دَ ښځو سره به ئے یوځائے غسل کولو، هغوئ به ئے لیدلے، هغوئ له به ئے کوتے ورورَ لے، اَن تردے پورے چه غیږ په غیږ به شوو رسره خوبیابه هم پرفطرت غلبه نۀ موندله"۔ غسل اګرچه په رهبانیت کښے سخت بدګنړلے شو لیکن دَنفس دَمړکولو پکارکښے به دَغسے غسلونه هم کیدل۔ آخر داچه دَدے فلسطین په حقله دَ نیسا (Nyssa) سینټ ګریګوری (متوفی ۳۹۶ء) لیکی چه دَهغے نه دَبدکارئ اوه جوړه شوی ده۔ انسانی فطرت خانخا دَهغه خلقونه بدله اخلی څوک چه دَهغه سره جنګ کوی۔ رهبانیت دَفطرت سره اُوجنګیدواو آخردَ بداخلاقئ هغه کنده ته پریوتو چه هغه دَاتمے صدئ نه دَیوُولسمے صدئ عیسوی پورے دَهغوی دَمذهبی تاریخ دَټولونه زیات بدنما داغ دے۔ دَلسمے عیسوی پواطالوی بشپ لیکی چه "که چرے په چرچ کښے دَمذهبی خادمانوخلاف دَزنا سزا ګانے عملاً جاری کړے شی نو دَورځلکانونه سِوا به نورهیڅوک دَسزا نه بچ پاتے نشی، اوکه داقاعده جاری شی چه حرامیان بچی دِهم دَمذهبی خدمت نه جُدا کړے شی نو شاید چه دَچرچ په خادمانو کښے به یو هلک پاتے نۀ شی"۔ دَمنځنی پیرئ دَلیکوالانو کتابونه دَدے شکایتونو نه ډک دی چه دَ راهبانو ښځو خانقاګانے دَ بداخلاقئ چکلے دی، دَ خانقاګانو دَننه دَ وړو ماشومانو قتل عام کیږی، په پادریانو او دَچرچ په مذهبی خادمانو کښے دَمحرماتو سره (هغه ښځے چه نکاح ورسره نۀ کیږی) ناجائزه تعلقات عام دی او په خانقاهونو کښے دَ فطرت نه خلاف جُرمونه خواره شوی دی، او په کلیساګانو کښے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، د الله نه اُویریږئ او د هغه په رسول (محمد صلی الله علیه وسلم) باندې ایمان۵۵ راوړئ، الله به تاسو له د خپل رحمت دوه برخې درکړي او هغه نُور به درکړي چه د هغې په رڼا کښے به تاسو مزل۵۶ کوئ،

د ګناهونو د اقرار کولو (Confession) رسم د بد کارئ ذریعه شوی ده۔

د دے تفصیلا تو نه صحیح اندازه ګڼید ے شی چه قرآن مجید دلته د رهبانیت د شروع کولو او بیا د هغې د حق نه ادا کولو کوم ذکر اوکړو نو چه په دے سړه هغه د مسیحت کومے خرابتیانه اشاره کوی۔

۵۵ د دے آیت په تفسیر کښے د مفسرینو په منځ کښے اختلاف دے۔ یوه ډله وائی چه دلته د یٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خطاب هغه خلقو ته دے چه هغوی په حضرت عیسیٰ باندې ایمان راوړے دے۔ هغوی ته فرمائیلے کیږی چه اُوس په محمد صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړئ تاسو ته په دے دوچند اجر ملاؤ شی، یو اجر په حضرت عیسیٰ باندې د ایمان په وجه او بل اجر په محمد باندې د ایمان په وجه۔ دویمه ډله وائی چه دا خطاب په محمد صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړونکو ته دے۔ هغوی ته حکم کیږی چه تش په ژبه د هغه د نبوت اقرار مه کوئ، بلکه د زړه په صدق سره ایمان راوړئ او د ایمان راوړلو حق ادا کړئ۔ په دے به تاسو ته دوچند اجر ملاؤ شی۔ یو اجر به د کفر نه اسلام ته د راتلو وی او دویم اجر به په اسلام کښے د اخلاص پیدا کولو او په اسلام باندې د مضبوط ودریدلو وی۔ د اولنی تفسیر تائید د سورۃ قصص آیتونه ۵۲ تا ۵۴ کوی او تائید دے د حضرت ابوموسیٰ اشعری دا روایت هم کوی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی، درے سړی دی چه د هغوی د پاره دوچند اجر دے۔ په هغوی کښے یو دے "رجل من اهل الکتاب اٰمن بنبیه و اٰمن بمحمدٍ"، "په اهل کتابو کښے هغه سړے چه په خپل نبی ئے ایمان راوړو او بیا ئے په محمد (صلی الله علیه وسلم) باندې ایمان راوړو"۔ (بخاری او مسلم)۔

د دویم تفسیر تائید د سورۃ سبا آیت ۳۷ کوی چه په هغې کښے فرمائیلے شوی دی چه د مومنانو صالحانو د پاره دوچند اجر دے۔ د دلیل په اعتبار سره د دواړو تفسیرونو وزن یو شان دے۔ لیکن چه په وړاندینی مضمون غور اوکړے شی نو دویم تفسیر دلته زیات مناسبت لری۔ بلکه په حقیقت کښے د دے سورۃ پهلو مضمون د اوّل نه د آخره پورے د دے تفسیر تائید کوی۔ د شروع نه د دے سورۃ مخاطب هغه خلق دی کومو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت اقرار کړے دے او په اسلام کښے داخل شوی دی، او په پهلو سورۃ کښے هغوی ته دا دعوت ورکړے شوے دے چه تش د خلے مومنان مه جوړیږئ بلکه په اخلاص سره او د زړه په صدق سره ایمان راوړئ۔

۵۶ یعنی په دُنیا کښے به د علم او د پوهے هغه نُور درکړی چه د هغې په رڼا کښے به تاسو په هر قدم صفا صفا وینئ چه د څوند په مختلفو معاملاتو کښے د جاهلیت د کږو لارو ترمنځه د اسلام نیغه لاره کومه یوه ده۔ او په آخر کښے به هغه نور درکړی چه د هغې ذکر په دولسم آیت کښے تیر شوے دے

وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٨﴾ لِّئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتٰبِ
اَلَّا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ
اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٩﴾ ع

اوستاسو ګناهونه به معاف کړی، الله پیر معاف کوونکے اومهربانه دے۔ (تاسوله دا لار اختیارول پکار دی) چه اهل کتابو ته معلومه شی چه د الله په فضل باندې دهغوی څه اجاره نه ده، د الله فضل د هغه په خپل لاس کښے دے، چه چاله ئے ورکول غواړی هغه له ئے ورکوی، اوهغه پیر فضل کوونکے دے۔ ع

۵۷ یعنی ستاسو د مخلصانه کوششونو باوجود چه د بشری کمزورئ په وجه ستاسونه کوم ګناهونه شوی دی هغه به درته معاف کړی، اوهغه ګناهونه به هم درته معاف کړی کوم چه د ایمان راوړلو نه مخکښے د جاهلیت په حالت کښے ستاسونه شوی وو۔

تفهم القرآن

المجادلة

٥٨

المُجَادَلة

نوم دَدے سورۃ نوم المجادَلة هم دے او المجادِلة هم ـ دا نوم دَ اولنی آیت دلفظ تُجَادِلُكَ نه اغستے شوے دے ـ چونکه دَ سورۃ شروع دَ هغه ښځُ دَ ذکر نه شویده چه هغے دَ خپل خاوند دَ ظهار مسئله رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته پیش کړی وه او بار بار ئے تر دَدے خبری تپوس کړے ؤو چه هغے ته څه دا سے شکل اُو بنائی چه په هغے سره دَ هغے او دَ هغے دَ بال بچ ژوند دَ تباه کیدو نه بچ شی، او الله تعالیٰ دَ هغے دغه بار بار ویناته لفظ مجادله ویلے دے، او په دے وجه هم دا دَدے سورۃ نوم کیښودے شو ـ که مجادله اُولوستلے شی نو دَدے معنیٰ به وی "بحث او تکرار"؛ او که مجادله اولوستلے شی نو معنیٰ به وی "بحث وتکرار کونکی ښځه"۔

دَ نازلیدو زمانه په هیڅ یو روایت کښے دَدے خبری څرګندونه نهٔ ده شوی چه دَ مجادلے دا واقعه کله شوی وه ـ لیکن یوه علامه دَدے سورۃ په مضمون کښے شته چه دَ هغے په وجه دا خبره سړے په کلکه ویلے شی چه دَدے زمانه دَ غزوه احزاب (شوال ۵ھ) نه روستنیٔ ده ـ په سورۃ احزاب کښے الله تعالیٰ دا خبره اُوکړه چه تش په خله بللے حُوئے حقیقی حُوئے نهٔ وی او بیا ئے صرف دا اُوفرمائیل چه: وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ الّٰٓئِیْ تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ـ "او الله ستاسو هغه ښځے چه تاسو ورسره ظهار کوئ ستاسو میندے کړی نهٔ دی"؛ لیکن په دے کښے دا نهٔ وُو ویلے شوی چه ظهار کول څه ګناه یا جُرم دے، او نهٔ دا ویلے شوی وُو چه دَدے کار شرعی حکم څه دے ـ دَدے برخلاف په دے سورۃ کښے دَ ظهار پوره قانون بیان کړے شوے دے ـ دَدے نه معلومیږی چه دا مفصّل حکمونه دَ هغه مُجمل هدایاتو نه روستو نازل شوے دے۔

موضوع او مضمون په دے سورۃ کښے مسلمانانو ته دَ هغه مختلفو مسئلو په حقله هدایات ورکړے شوی دی کومے چه په هغه وخت کښے مخے ته وے۔

دَ سورۃ دَ شروع نه دَ شپږم آیته پورے دَ ظهار شرعی حکمونه بیان کړے شوی دی، او دَدے سره مسلمانانو ته بنه په سختیٔ خبردارے ورکړے شوے دے چه دَ اِسلام نه روستو هم دَ جاهلیت په طریقو باندِ تینګ اوسیدل او دَ الله مقرر کړے شوی حدونه ماتول، یا دَ هغے دَ پابندیٔ نه اِنکار کول، یا دَ هغے په مقابله کښے پخپله مرضیٔ سره څه نور قاعدے اوقانون جوړول، بالکل دَ ایمان نه برخلاف کار دے، چه سزائے په دُنیا کښے ذلّت او رسوائی ده او په آخرت کښے به هم دَ هغے سخت تپوس کیږی۔

په آیتونو ۷ تا ۱۰ کښے دَ منافقانو په دے کار باندِ کرکت شوے دے چه هغوی به په خپلو کښے پټے پټے دَ غوږ خبری کولے او دَ شرارتونو قسمِ قسم منصوبے به ئے جوړولے،

او د هغوی په زړونو کښے چه کوم بُغض پټ پروت وُو د هغے په وجه به ئے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د یهودیانو پشان په داسے طریقه سلام ونه کول چه د هغے نه به د دُعا په ځائے د بد دُعا یئ بوئ ختلو۔ په دے سلسله کښے مسلمانانو له تسلی ورکړے شوی ده چه د منافقانو داپتے خبرے ستاسو هیڅ نشی خرابولے، تاسو خالص د الله په بروسه باندِ خپل کار کوئ۔ او د دے سره هغوی ته دا اخلاقی تعلیم هم ورکړے شوے دے چه گناه او ظلم زیاتے او د رسول د نافرمانئ د پاره پټے پټے خبرے کول د ریښتینی مومنانو کار نه دے، هغوی که چرے په خپلو کښے په ځان له ځائے کښے کینی او څه خبرے کوی نو پکار دی چه هغه د نیکئ او د تقوئ خبرے وی۔

د آیت ۱۱ نه د ۱۳ پورے مسلمانانو ته د مجلس څه آداب بنودلے شوی دی او د هغه عیبونو د لرے کولو د پاره ورته هدایات ورکړے شوی دی چه هغه اوّل هم په خلقو کښے موجود وُو او نن هم موجود دی۔ په یو مجلس کښے چه پیر خلق ناست وی او د بهر نه څه خلق راشی نو کوم خلق چه د مخکښے نه ناست وی هغوی دومره تکلیف نه کوی چه لږ لږ ورغونه شی او نور وته ځائے پریږدی۔ نتیجه ئے داوی چه روستو کوم خلق راشی هغوی ولاړ وی، یا مجبوره شی او په درشل کښے کینی، یا واپس لاړ شی، یا اُوکړی چه په مجلس کښے مخکښے ځائے شته نو د خلقو د پاسه ورواوړی۔ دا کار به اکثر د نبی صلی الله علیه وسلم په مجلسونو کښے کیدو۔ په دے وجه الله تعالیٰ خلقو ته دا هدایت اُوکړو چه په خپلو مجلسونو کښے خود غرضی مه کوئ او زړه مه تنگوئ بلکه چه څوک روستو راشی هغوئ له ښه په خوشحالئ سره ځائے ورکوئ۔

دغه شان یو عیب په خلقو کښے دا هم وُو چه د چا ځائے ته (او خاص طور د یو اهم سړی ځائے ته) به لاړل نو هلته به مضبوط کینا ستل او د دے خبرے هیڅ خیال به ئے نه کوُو چه د ضرورت نه زیات وخت اغستل به د هغه د پاره د تکلیف باعث وی۔ که هغه ورته وائی چه جناب اُوس خُئ نو بد گڼی۔ چه هغوی پریږدی او لاړ شی تر نو بیا وائی چه بد اخلاقی ئے اُوکړه۔ که په اِشاره اِشاره ورته اُووائی چه ماته د نورو ضروری کارونو د پاره وخت پکار دے نو په غوږ ئے نه لږی۔ خلقو به دا کار اکثر د نبی صلی الله علیه وسلم په مجلس کښے کولو، او د هغه د مجلس نه د فایدے اغستلو په شرق کښے به ئے د دے خبرے لحاظ نه کوو چه هغه کښے د نبیؐ زیات قیمتی وخت خرابوی۔ آخر دا چه الله تعالیٰ د دے عادت د ختمولو د پاره حکم اُوکړو چه کله د مجلس ختمولو د پاره وینا اُوشی نو بیا پاسئ او د مجلس نه خُئ۔

یو بل عیب په خلقو کښے دا هم وُو چه یویو تن به خامخا د نبیؐ سره د ځان له ځان له خبرو کولو خواهش لرلو یا به ئے په عام مجلس کښے دا غوښتلے چه هغه ته نزدے ورشی او ځان له د هغه سره خبره اُوکړی۔ دا کار د نبیؐ د پاره هم ګران وُو او په مجلس کښے چه به نور څوک وُو د هغوی به هم خوښ نه وُو۔ په دے وجه الله تعالیٰ دا پابندی اُولګوله چه څوک د هغه سره ځان له خبره کول غواړی

نوهغه د اول صدقه ورکړی ۔ مقصد صرف داؤ وچه خلق دَدَې خراب عادت نه خبردار کړے شی او پرے ئے نږدی ۔ چنانچه داپابندی بس د لږ وخت پورے اُوساتلے شوه او چه کله خلقو خپل عمل صحیح کړو نو بیا منسوخ کړے شوه ۔

د آیت ۱۴ نه د سورۃ د آخره پورے ټولو مسلمانانو ته چه پکښے مخلص مومنان ، او منافقان او مذبذبین خلق ټول شامل ؤو ، صفا دا ویئلے شوی دی چه په دین کښے د سړی د اخلاص معیار څه دے ۔ یوقسم مسلمانان هغه دی چه هغوی د اِسلام د دُشمنانو سره دوستی کوی ، او د خپلے فائدے د خاطره هغه دَهغه دین سره په غداری کولو کښے ناراستی نه کوی چه په کوم باندِ هغه د ایمان لرلو دعویٰ لری ، او د اِسلام خلاف قِسما قِسم شک شُبهے او وسوسے خوړوی او د اللہ بندګان د اللہ لارے نه دَراتللو نه منع کوی ، خو چونکه هغوی د مسلمانانو په ډله کښے شامل دی ، نو په دے وجه د هغوی د ایمان د دروغو اِقرار د هغوی دَپاره د ډالکار ورکوی ۔ دویم قِسم مسلمانان هغه هغه دی چه د اللہ دَدین په معامله کښے د بل چا لحاظ خوغټه خبره ده ، پخپله د خپل پلار ، د خپل رُور او د خپل خاندان هم پروانهٔ لری ۔ د هغوی حال داد ے چه څوک د خدائے او د رسول او د هغه دَدین دُشمنان دی نو د هغوی دَپاره ئے په زړه کښے هیڅ مینه نشته ۔ اللہ تعالیٰ په دے آیتونو کښے صفا فرمائیلی دی چه د اوّل قِسم خلق که د خپل اِسلام دَپاره هرڅومره قسمونه اُوخوړی خو په حقیقت کښے هغوی د شیطان د پارټئ خلق دے ۔ او دویم قِسم مسلمانان د اللہ د پارټئ خلق دے ۔ هم دا رښتینی مومنان دی ۔ هم دَدوئ نه اللہ راضی دے ۔ هم دوی فلاح موندونکی دی ۔

سُوْرَةُ الْمُجَادِلَةِ مَدَنِيَّةٌ

اٰیاتہا ۲۲ رکوعاتہا ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجزء ۲۸

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْٓ
اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ۝۱
اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَاۗىِٕهِمْ مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ ۭ

اللہ واوریدہ[1] دَ هغه ښځې خبره چه هغه دَ خپل خاوند په معامله کښے ستا سے تکرار کوی اواللہ ته فریادکوی ۔ اللہ ستاسودَ دواړو خبری اَوْرِی[2]، هغه هرڅه اَوریدونکے اوهرڅه لیدونکے دے ۔

په تاسوکښے چه کوم خلق دَ خپلو ښځو سره ظِهار[3] کوی دَ هغوی ښځې دَ هغوی میندے نه دی،

[1] دلته دَ اَوریدونه مُراد تش اَوریدل نه دی بلکه فیصله کول اوقبلول دی، یعنی ځکه چه مونږه وایو چه اللہ دُعا واوریده، یعنی قبوله ئے کړه ۔

[2] دلته عام طور ترجمه کونکو ترجمه کړی ده چه بحث اوتکرار ئے کوُو، فریاد ئے کـوُو، اواللہ هغه اَوریدو، دَدے نه دَ لوستونکی په ذهن کښے دامطلب راځی چه هغه ښځې به خپل شکایت اورَولے وی اوتَلپی بَه وی، اوروستو به بیا په څه وخت کښے په رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم باند وحی راغلی وی، ځکه خواللہ تعالیٰ اُوفرمائیل چه دَدے ښځې خبره مونږه واوریده چه تاسره ئے تکرارکولواومونږ ته ئے فریادکولواومونږ په هغه وخت کښے ستاسودَ دواړو خبری اَوریدلی ۔ لیکن دَدے واقعے په حقله چه کوم روایتونه په احادیثوکښے راغلی دی په هغے کښے په اکثروکښے داوئیلے شوی دی چه څه وخت هغه ښځې دَ خپل خاوند دَ ظِهار قیصه نبیؐ ته اَورَوله او بار بار ئے نبیؐ ته عرض کولوچه که چرے زمونږ دَ دواړو جُدائی اُوشوه نوځکه به په مصیبت کښے پریوزم اوځمانږی به تباه شی، عین په دغه حالت کښے په رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم باندِ دَ وحی دَ نازلیدو حالت راغے اوداآیتونه نازل شو ۔ په دے وجه مونږه دِے له ترجیح ورکړی ده چه ترجمه دِ دَ حال په صیغو کښے اُوشی ۔

دَ کومے ښځې په معامله کښے چه دا آیتونه نازل شوی دی هغه دَ خَزْرَج قبیلے وه او نوم ئے خَوْلَه بنت ثَعْلَبه وُو، او دَ هغے خاوند اَوْس بن صامت انصاری، دَ اَوْس قبیلے دَ سردار حضرت عُباده بن صامت رُور وُو ۔ دَ دوئ دَ ظِهار قیصه به مونږ ورانِدِ په تفصیل سره بیان کـړو ۔ دلته قابل ذکرخبره داده چه هرکله دَدِ ے صحابیے فریاد دَ اللہ په دربار کښے واوریدے شو اوفوراً دَ هغه ځائے

نه ډهغې د فریاد قبلولو ډپاره ډ الله تعالیٰ فرمان نازل شو نو دا یوه داسې واقعه وه چه ډډې په وجه هغې ته په صحابه کرامو کښې لوئ قدر حاصل شوے وُو۔ ابن ابی حاتم او بیهقی دا روایت نقل کړے دے چه یوځل حضرت عمرؓ د یوځو صحابو سره چرته روان وُو۔ په لاره کښې ورله یوه ښځه هغې له ورغله۔ هغې ورته اُووے چه وَډریږه۔ هغه فوراً ودریدو۔ سرئ بنکته کړو لو ډ ډیر وخته پورے ئے د هغې خبرے اوریدلے او چه ترڅو د هغې خبرې ختمے شوی نه وے نو تر هغې ولاړ وُو۔ په ملګرو کښې یو ملګری اُووے چه امیرالمؤمنینه، تا د قریشو سردارانو ډډے بوډئ د پاره دومره ډیر وخت ودرول۔ هغه اُوفرمائیل پیژنئ دا څوک ده؟ دا خوله بنټ ثعلبه ده۔ دا هغه ښځه ده چه ډډې فریاد په اُوّو آسمانونو کښې واوریدے شو۔ په خدائے م د قسم وی، که چرے ډې ځه د شپے پورے ودرولے نو ولاړ به وُوم، بس صرف د مونځونو په وختونو کښې به م ورته عُذر پیش کولے۔ ابن عبدالبرؒ په استیعاب کښې د قتادهؒ روایت نقل کړے دے چه دا ښځه په لارهٔ کښې د حضرت عمرؓ سره ملاؤ شوه نو هغه ورته سلام اُوکړو۔ هغې ورله د سلام جواب ورکړو او بیا ورته ګلیا شوه، "اُوهو، اے عمرؓ، یو وخت وُو چه ماته د عُکاظ په بازار کښې لیدلے وے۔ په هغه وخت کښې به خلق تا ته عُمیر وئیلو۔ کُوتک به د په لاس کښې وُو او بیزے به وخړولے۔ بیا د پیرۍ مودې نه وه تیره شوی چه خلقو د رته عمر وئیل شروع کړل۔ بیا یو وخت را غے چه خلقو د رته امیرالمؤمنین وینا شروع کړه۔ لږ شان د رعیت په معامله کښې د خدائے نه یَرَه کوه، او یاد ساته چه څوک د الله د عذاب نه یَرِیږی د هغه د پاره لږے سزا هم د نن ډے رشته دار پشان وی، او چه څوک د مرګ نه یَرِیږی کیدے شی چه هغه هغه څیز ضائع کړی کوم چه هغه بچ کول غواړی"۔ جارود عَبْدِی، چه د حضرت عمرؓ سره ملګرے وُو، هغې ته اُووئیل چه اے ښځے، ته د امیرالمؤمنین سره په خبرو کښې د یره لرے لاړے۔ حضرت عمرؓ اُوفرمائیل، دا پریږده چه وائی۔ پیژنے دا څوک ده؟ ډډې خبره خو په اُوّو آسمانونو کښې اَوریدلے شوی ده۔ عمرؓ له خو ډډې اَوریدل پکار دی۔ امام بخاریؒ هم په خپل تاریخ کښې د غسے قیصه مختصر شان بیان کړی ده۔

۳ په عربو کښې به اکثر دا سے کیدله چه د ښځے اود خاوند په منځ کښې به جنګ شو نو خاوند به په غصه کښې اُووئیل اَنْتِ عَلَیَّ کَظَهْرِ اُمِّیْ ډډے لغوی معنیٰ خو ده "ته د مانه دا سے ئے لکه څما د مور شا" لیکن ډډے اصلی مطلب دا ډے چه "ستاسره کور والے کول څما د پاره دا سے دی لکه چه د خپلے مور سره وی"۔ په ډے زمانه کښې هم د پیرے وقوفان دا سے دی چه د ښځے سره جنګ اُوکړی نو وائی چه ته د مانه د مور، خور، یا لُور پشان ئے، ډد ے مطلب دا وی چه اُوس سږے هغې ته د ښځے په ستړکه نه ګورې بلکه د هغه زنانو پشان ورته ګورې کومے چه د هغه د پاره حرامے دی۔ ډے کار ته ظِهار وائی۔ ظهر په عربی ژبه کښې د سورلئ د پاره د مثال په طور وئیلے کیږی۔ مثلاً د سورلئ څناور ته ظهر وائی، ځکه چه د هغې په شاباندې سږے سورِیږی۔ هغوی چه به ښځه په خپل ځان حرامه نو وئیل به ئے چه ستا نه ظهر جوړ ول ماله دا سے حرام دی لکه د خپلے مور نه ظهر جوړول۔ دا وجه وه چه دے وینا ته به هغوی په خپل اصطلاح کښې "ظِهار" وئیلو۔ د جاهلیت په زمانه کښې به دا وینا د طلاقونه سخته ګنړلے شوه، ځکه چه د هغوی په نزد ډے مطلب دا وُو چه خاوند د ښځے سره یواز ے کورنی تعلقات نه ځتموی بلکه هغه د مُور پشان په ځان باندې حرامو ی۔ دا وجه وه چه د عربو په نزد د طلاقونه روستو رجوع کیدے شوه لیکن د ظِهر نه روستو رجوع هډو ممکن نه وه۔

إِنْ أُمَّهَٰتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴿٢﴾

دَ هغوی میندے خوهغه دی چه دوی ئے زیکولی دی۔ دا خلق یوه سخته نامناسبه او دروغ خبره کوی، او حقیقت داد ے چه الله ډیر معاف کونکے او بخښونکے دے۔

۴ دا دَ ظِهار په حقله دَ الله تعالیٰ اولنی فیصله ده۔ دَ دے مطلب دادے چه کله چرے یوسړے بے شرمه شی او خپلے بنځے ته مور اُووائی نو په دا سے وینا بنځه مورکیده نهٔ شی اونه بنځه هغسے حرامیږی لکه څنګه چه مور حرامیږی۔ مور خو مورده ځکه چه سړے تر پیدا وی، او په دے وجه هغے ته همیشه حرمت حاصل دے۔ اُوس اخر هغه بنځه چه دَ هغے نه هغه نهٔ دے پیدا شوے تش دَ خُلے په وینا څنګه مُورکیده شی، او دَ هغے په باره کښے به دَ عقل، دَ اخلاقو، او دَ قانون په اعتبار سره هغه حرمت څنګه ثابت شی کوم چه دَ حقیقی مُور دَ پاره دے۔ په دے طریقه الله تعالیٰ په دے خبره دَ جاهلیت هغه قانون منسوخ کړو چه دَ هغے ترڅنګه به دَ ظِهار په الفاظو وئیلو سره دَ بنځے نکاح مائیدله او هغه به دَ خاوند دَ پاره دَ مُور پشان قطعی حرامه ګنړلے شوه۔

۵ یعنی بنځے له دَ مور سره تشبیه ورکول اول خو بیره بے مناسبه او شرمناکه خبره ده۔ بیو شریف سړی له دا په خیال کښے راوستل نهٔ دی پکار لا په ژبه وئیل خو غټه خبره ده۔ بله دا چه دا خبره دروغ هم ده۔ ځکه چه څوک داوائی چه ځما بنځه ځما دَ پاره اُوس مورده نو هغه دروغ وائی۔ اوکه هغه چرے خپله دا فیصله خلقو ته اَورَوی چه دَ ځان نه ماخپلے بنځے ته دَ مُور پشان حرمت ورکړے دے نو هم دَ هغه دا دعویٰ دروغ ده، ځکه چه خدائے هغه له دا اختیارات نهٔ دی ورکړی چه کله خوائی نو بنځے ته دِ بنځه وائی او چه کله خوائی نو مور دِ ورته وائی۔ شارع (یعنی شریعت جوړونکے) هغه نهٔ دے بلکه الله تعالیٰ دے، او الله تعالیٰ دَ سړی دَ خپلے مور سره دَ مور په حکم کښے دَ پلار مُور، دَ مُور مُور، خوا ښے، رضاعی مُور، او دَ نبی بیبیانے شامل کړی دی۔ چاته دا حق نهٔ دے حاصل چه په دے حکم کښے دَ خپل طرفنه بله بنځه وردا خله کړی لا بیا هغه بنځه چه دَ سړی خپله بنځه وی ــــــ دَ دے آیت نه دا دویم قانونی حکم را اُوو تو چه ظهار کول یوه غټه ګناه ده او حرام کار دے، او چه چا اوکړو هغه دَ سزا مستحق دے۔

۶ یعنی دا کار خو دا سے دے چه په دے باندِ سړی ته سخته سزا ملا ویدل پکار دی، لیکن دا دَ الله تعالیٰ مهربانی ده چه هغه اوّل خو دَ ظِهار په معامله کښے دَ جاهلیت قانون منسوخ کړو او دَ انسان کورنے ژوند ئے دَ تباهئ نه بچ کړو، دویمه دا چه دَ ظِهار کوونکی دَ پاره ئے هغه سزا مقرر کړه کومه چه دَ دے جُرم دَ تولونه سپکه سزا کیدے شوه، او دَ تولونه څټه مهربانی دا ده چه سزا دَ وهلو یا دَ قید په شکل کښے نهٔ ده بلکه دَ دا سے عبادتونو او نیکئ په شکل کښے ده چه هغه دَ انسان دَ نفس اصلاح کوی او په خلقو کښے نیکی خورَوی۔ په دے سلسله کښے ځان په دے پوهه کول پکار دی چه په اسلام کښے چه په کومو جُرمونو اوکنا هونو

وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا

کوم خلق چه د خپلو ښځو سره ظهار اوکړي او بیا د خپلې کړې خبرې نه واپس شي،

باندې څه عبادتونه د کفارې په طور مقرر کړے شوی دی هغه نهٔ تشه سزاده چه د عبادت د روح نه د خالی وی اونهٔ تش عبادت دے چه د سزا اړخ د پکښے نهٔ وی، بلکه په هغې کښے دا دواړه اړخونه راجمع کړے شوی دی، د پاره د دے چه سړی ته تکلیف هم وی او ورسره ورسره د یوے نیکئ او عبادت کولو په ذریعه د خپلے ګناه کیے هم پوره کړی۔

که د دے ځائے نه د ظهار قانونی حکم شروع کیږی۔ په دے باندې د ځان پوهه کولو د پاره ضروری ده چه د ظهار هغه واقعات د سړی په نظر کښے وی کوم چه د نبی صلی اللّٰه علیه وسلّم په زمانه کښے پیښ شوی وُو، ځکه چه په اسلام کښے د ظهار تفصیلی قانون هم د دے آیتونونه او د هغه فیصلونه اغستے شوے دے کوم چه د دے آیتونو د نازلیدونه روسته نبیؐ په پیښو واقعو کښے کړے وِے۔

د حضرت عبداللّٰه بن عباس د بیان مطابق په اسلام کښے د ظهار اولنئ واقعه د اوس بن صامت انصاری ده چه د هغه د ښځې خولے په فریاد باندې اللّٰه تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل۔ محدّثینو چه دے واقعے کوم تفصیلات ذکر کړی دی او راویانو نه نقل کړی دی، په هغې کښے فروعی اختلافات خو پیدا دی، لیکن کوم حصّے چه قانونی اهمیت لری هغه تقریباً متفق علیه دی۔ د هغه روایتونو خلاصه داده چه حضرت اوس بن صامت په بوډا والی کښے لږ شان سخت مزاجه شوے هم وُو، او د ځینو روایتونو ترڅنګه په هغه کښے څه لیونتوب غوندې پیدا شوے وُو چه د هغې د پاره راویانو کَانَ بِهٖ لَمَمٌ الفاظ استعمال کړی دی۔ لَمَمٌ په عربئ ژبه کښے لیونتوب ته نهٔ وائی بلکه د لیونتوب غوندې حالت ته وائی، لکه چه مونږ ته چه وایو چه "هغه د غصّے نه پاګل شوے دے"۔ په دے حالت کښے هغه ځکښے هم در ے ځلے د خپلې ښځې سره ظهار کړے وُو، لیکن په اسلام کښے دا اولنئ واقعه وه چه د ښځې سره په جنګ کښے د هغه نه بیا داحرکت اُوشو۔ په دے باندې د هغه ښځه د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم په خدمت کښے حاضره شوه او ټوله قیصه ئے هغه ته بیان کړه او عرض ئے اُوکړو چه اے د اللّٰه رسوله، ځما او ځما د بچو ژوند د تباهئ نه د بچ کولو د پاره څه لار وَتے شی؟ نبیؐ چه کوم جواب ورکړو هغه مختلفو راویانو په مختلفو الفاظو کښے بیان کړے دے۔ په ځینو روایتونو کښے الفاظ دادی چه "د اوسه پورے په دے مسئله کښے ماته څه حکم نهٔ دے راغلے"۔ او په ځینو کښے دا الفاظ دی چه "ځما خیال دادے چه ته په هغه باندې حرامه شوی ئے"۔ او په ځینو کښے دادی چه نبیؐ اُوفرمائیل "ته په هغه باندې حرامه شوی ئے"۔ د دے جواب په اُوریدو سره هغې فریاد شروع کړو بار بار ئے نبیؐ ته اُووئیل چه هغه خو د طلاق الفاظ نهٔ دی وئیلی، ته را ته څه دا سے لار اُوښایه چه په هغې کښے ځما او ځما د بچو او ځاوند ژوند د تباهئ نه بچ شی۔ خو هر ځل به نبیؐ هغې له د غه جواب ورکوُو۔ په دے کښے په نبیؐ باندې د وحی د نازلیدو حالت را غے او دا آیتونه نازل شو۔ د هغې نه روستو نبیؐ هغې ته اُوفرمائیل (او د ځینو روایتونو مطابق ئے د هغې خاوند را اُوغوښتو او ورته ئے اُوفرمائیل) چه یو غلام به آزادوے۔ هغه د دے نه عُذر اُوکړو، نو نبیؐ اُوفرمائیل دوه میاشتے مسلسل روژے به نیسے۔ هغه عرض

اُوکړو چه دَ اَوس خو داحال دے چه په وړځ کښے درے ځله خوراک څکاک اُونهٔ کړی نو بیا نظر نهٔ لږی ۔ نبیؐ اُوفرمائیل بیابه شپیتو مسکینانوته خوراک ورکوے ۔ هغه عرض اُوکړو چه دومره وَسِ نِ نشته، هغه تاامداد اُوکړو نو ټیک ده ۔ پس دَ هغے نبیؐ هغه له په دومره مقدار کښے دَ خوراک سامان ورکړو چه هغه دَ شپیتو کسانو دَ دُوَو وختو دَ خوراک دَ پارهٔ کافی وُو۔ دَ دے مقدار په مختلفو روایتونو کښے مختلف بیان کړے شوے دے، او په ځینو روایتونو کښے دی چه ځومره مقدار نبیؐ ورکړو هغومره حضرت خَولے خپل خاوند له ورکړو چه کفّاره اداکړی (ابن جریر ، مُسنَدِ احمد ، ابوداؤد ، ابنِ ابی حاتم) ۔

دَظِهار دویمه واقعه دَ سَلَمه بن صَخر بیاضی ده ۔ په ده باندِ دَ شهوت غلبه دَحد نه لږه زیاته وه ۔ چه دَ رمضان میاشت راغله نو هغه دَدے یَرے دَ وجے نه چه چرته دَ روژے په حالت کښے بے صبره نهٔ شم، دَ خپلے ښځے سره دَ روژے دَ ختمید و پورے ظِهار اُوکړو ۔ خو په دِے خپله خبره پوهیدلے نهٔ شواو یوه شپه ښځهٔ له ورغے ۔ بیا شرمنده شواو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ځے پوله قیصه واورولـه ۔ نبیؐ ورته اُوفرمائیل چه یوغلام آزاد کړه ۔ هغه عرض اُوکړو چه خُما سره خو دَ خپلے ښځے نه سِوا نور هیڅ نشته چه آزاد ځے کړم ۔ نبیؐ اُوفرمائیل مُسلسل دوه میاشتے روژے اُونیسه ۔ هغه عرض اُوکړو په روژو کښے خو دَ صبر نهٔ کولو په وجه په دِے مصیبت کښے ښخته یم ۔ نبیؐ اُوفرمائیل نو بیا شپیتو مسکینانونه ته خوراک ورکړه ۔ هغه اُووئیل چه ځه خو دومره غریب یم چه بیګاه پوډی نهٔ ده خوړلے ۔ په دے باندِ نبیؐ هغه له دَ بنی زُرَیق دَ زکوٰة دَ سامان نه دومره خوراک ورکړو چه په شپیتو کسانو ځے تقسیم کړو اوځه ځے دَ خپل بال بچ دَ ضرورت دَ پارهٔ هم کیښودو (مُسنَدِ احمد ، ابوداؤد ، ترمِذی) ۔

دریمه واقعه بے نومه دا بیان کړے شوی ده چه یوسړی دَ خپلے ښځے سره ظِهار اُوکړو اوبیا ځے دکفّارے اداکولونه مخکښے دَ هغے سره کوروالے اُوکړو ۔ روستو ځے دَ نبیؐ نه دَ مسئلے تپوس اُوکړو نو هغه حکم اوکړو چه دَ هغے نه جُداشه ترڅوچه دِ کفّارهٔ نهٔ وی اداکړی (ابوداؤد ، ترمِذی ، نَسائی ، ابنِ ماجه) ۔

څلورمه واقعه داده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم واوریدل چه یوسړی خپلے ښځے ته په خُورسۓ آواز اُوکړو ۔ نبیؐ ورته په غصّه کښے اوفرمائیل، " داسنا خورده شه " خونبیؐ دِے ته ظِهار اُونهٔ وے (ابوداؤد) ۔

داځلورمتبے واقعے دی چه په مستند ذریعوسره په احادیثو کښے ملاویږی اوهم دَ دِے په مدد سره دَ قرآن په هغه حکم سره پوهیدے شی کوم چه په وراندینوآیتونو کښے بیان شوے دے ۔

۴ اصل الفاظ دی یَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا ۔ لفظی ترجمه به داوی چه " هغوی واپس شی هغه خبری ته کومه چه هغوی اُوکړه " لیکن دَ عربیؔ ژبے دَ عام استعمال په لحاظ سره دَدے الفاظو په معنیٰ کښے دِیر اختلاف دے ۔

یومطلب ځے داکیدے شی چه یوځل دَ ظِهار دَ الفاظو وئیلونه روستو هغه بیادوباره اُووائی ۔ ظاهریّه اوبُکَیر بن الاشجّ ، او یحییٰ بن زیاد الفَرّاء دَدے قائیل دی، او دَ عطاء بن ابی رَباح نه هم یوقول دَدِے په تائید کښے نقل کړے شوے دے ۔ دَدوئ په نزد یوځل ظِهار خومعاف دے، البته چه سړے په دویم ځل اُووائی نو پس دَ هغے کفّاره لازمیږی ۔ لیکن دا تفسیر په دُوَو وجوهو صریحاً غلط دے ۔ یوداچه الله تعالیٰ ظِهار ته بے مناسبه اودروغ خبره وئیلی ده اودِے دَ پارهٔ ځے سزا مقرر کړی ده ۔ اُوس داځوک وئیلے شی چه دا دروغ او

فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا ۚ ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ ۚ وَاللَّهُ
بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٣﴾ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ

نو یوبل له ډلاس ورو پلونه مخکښې به یو غلام آزادوی ـ په دې سره تاسوته نصیحت کیږي[۱]، اوخدا چه تاسو کوئ الله ډ هغې نه خبر دے[۲] ـ اوځوک چه غلام بیانۀ مومی نو هغه ډ دوه میاشتې مسلسل روژې اونیسی

بے ہودہ خبرہ وئیل یوځل معاف دہ اوچه په دویم ځل چا اوویلله نو بیا ډ سزا مستحق دہ؟ دویمه داچه دې وجه غلطه ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ډ ظهار کونکی یو سړی نه هم داتپوس اونۀ کړو چه تا یوځل ظهار کړے دے اوکه دوه ځل ـ

دویم مطلب ډ دے دا دے چه ډ جاهلیت په زمانه کښې کوم خلق ډ دے وینا عادت ؤ هغوی که چرته په اسلام کښې دا حرکت دوباره اوکړو نو ډ هغې داسزا ده ـ ډ دے په دا مطلبو چه په ظهار کولو سره سزا واجبیږی اوهرځوک چه خپلې بڼځې ته ډ ظهار الفاظ ډ ځلې نه اوبا سی نو په هغه کفاره لازمیږی، خواه که هغه ډ هغې نه روستو بڼځې له طلاق ورکړی، یا بڼځه مړه شی، یا ډ خپلې بڼځې سایتلوځه اراده نۀ لری ـ په فقهاؤ کښې ډ طاؤس، مجاهد شعبی، زهری، سفیان ثوری اوقتاده هم دا مسلک دے ـ هغوی وائی چه ډ ظهار نه روستو که بڼځه مړه شی نو خاوند ډ هغه وخته پورے ډ هغې میراث نۀ شی اغستے چه تر خو ئے کفاره نۀ وی ورکړی ـ

دریم مطلب دا دے چه ډ ظهار ډ الفاظو وئیلونه روستو سړے ډ خپلې خبرې نه واپس شی او بیا ډ هغې کیږي پوره کول غواړی ـ یعنی ډ عَادَ لِمَا قَالَ معنی ده چه سړی ډ خپلې خبرې نه رجوع اوکړه ـ

څلورم مطلب دا دے چه کوم څیز سړی ډ ظهار په ذریعه ډ ځان ډ پاره حرام کړے وؤ ډ هغې نه واپس شو او بیا ئے ډ ځان ډ پاره حلالوی یعنی ډ عَادَ لِمَا قَالَ معنی ده چه سړی ډ حرامولی کومه خبره کړی وه ډ هغې نه اوس حلالولی ته واپس راځے ـ

اکثر فقهاؤ ډ دے دوارو مطلبونونه یوله ترجیح ورکړی ده ـ

[۱] یعنی داحکم تاسوته ډ ادب ښودلو ډ پاره دے چه مسلمانان دې ډ جاهلیت دا خراب عادت پریږدی او په تاسو کښې دغوک دا خراب حرکت اونۀ کړی ـ د بڼځې سره که جنګ کوئ نو ډ شریفانو خلقو پشان جنګ کوئ ـ که طلاق ورکوئ نو په صحیح الفاظو سره طلاق ورکوئ ـ دا آخر څه شرافت دے چه سړے کله ډ بڼځې سره جنګ کوی نو مکر و تزویر کړی او پرے ئے ږدی ـ

[۲] یعنی که سړے په کور کښې په پټه ډ بڼځې سره ظهار اوکړی اوبیا کفاره ادا نۀ کړی او هم دغسے ډ کورواڼو ژوند تیر وی، نو که په دنیا کښې تر هیڅوک هم خبر نۀ وی، نو بهرحال الله خو تر خبر دے ـ اوډ الله ډ گرفت نه بچ کیدل په هیڅ طریقه ممکن نۀ دی ـ

مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۭ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ۭ

یوبل له دَ کوتوور ورُونه مخکښې مخکښې - اودَ چا چه دَدے هم وس نه کیږی نو هغه دِ شپیتو مسکینانو ته خوراک ورکړی[۱۱] -

[۱۱] دا دے دَ ظِهار په باره کښې دَ الله تعالیٰ حکم - دَ اسلام فقهاؤ چه دَ دے آیت دَ الفاظونه اودَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ فیصلونه اودَ اسلام دَ عامو اُصولونه په دے مسئله کښې کوم قانون جوړ کړے دے هغه په تفصیل سره لاندِ بیان کړے شوے دے:

(۱) دَ ظِهار دا قانون دَ عربو دَ جاهلی دَور هغه ریواج منسوخ کړی دَ کوم ترڅنګه چه به په دے عمل سره نکاح ختمیده له اوښځه به دَ خاوند دَ پاره همیشه حرامیده له - دغه شان دا قانون هغه ټولے قاعدے اور یواجونه هم ختمولی په کوم کښې چه ظِهار هډ وهیڅ اثر نه لری اوسړی ته دَ دے خبرې اجازت ورکوی چه هغه دِ خپلے ښځې له دَ مُور یا دَ محرّماتو سره تشبیه ورکوی اوبیا دِ هم ورسره دَ کور والئ تعلق جاری ساتی، ځکه چه دَ اسلام په نظر کښې دَ مُور او دَ نور و محرّماتو عزّت څه داسے معمولی څیز نه دے چه انسان دِ دَ هغوی اودَ ښځې په منځ کښې دَ مشابهت خیال قدر له هم په ذهن کښې راولی لاپه ژبه وئیل خو غټه خبره ده - دَ دے دواړو تر منځه چه اسلامی قانون په دے معامله کښې کومه لاره خپلوی دَ هغې درے بنیادونه دی، یَوَ دا چه په ظِهار سره نکاح نه ماتیږی بلکه ښځه با قاعده دَ خپل خاوند ښځه وی - دَویم دا چه په ظِهار سره ښځه دَ خاوند دَ پاره وختی طور حرامیږی - دریم دا چه دا حرامی والے دَ هغه وخته پورے وی تر څو چه خاوند کفّاره ادا نه کړی، اوداچه صرف کفّاره دا حرامی والے ختمولے شی-

(۲) دَ ظِهار کوونکی سړی په باره کښې په دے خبره اتفاق دے چه دَ هغه خاوند ظِهار معتبر دے چه هغه عاقل او بالغ وی اوښه په هوش کښې ئے دَ ظِهار الفاظ وئیلی وی - دَ بچی اودَ لیونی ظِهار معتبر نه دے - دا رنګه دَ دا سے سړی ظِهار هم معتبر نه دے چه هغه دَ ظِهار دَ الفاظو وئیلو په وخت کښې په هوش کښې نه وی، مثلاً په اُودَ وکښې څه بَړبَړ اُوکړی، یا پرڅه قِسم بے هوشی وی - دَ دے نه روستو په لاندینو مسئلو کښې دَ فقهاؤ اختلاف دے:

(الف) دَ نشے په حالت دَ څلورو امامانو سره نور ټول فقهاؤ دا وئیلی دی چه که چرے یوسړی دَ نشے ځینې قصداً استعمال کړے وی نو دَ طلاقو پشان به دَ هغه ظِهار په قانون کښې صحیح منلے کیږی ځکه چه دَ نشے حالت هغه پغپله په ځان راوستلے دے - البته که چرے دَ مرض په وجه هغه څه دوائی ځکلی وی اودَ هغې سره پرنشه راځلی وی، یا دَ چرے تَندے دَ لاسه هغه دَ ځان بچ کولو دَ پاره په شرابو ځکلو مجبور شوے وی نو دَ نشے په دغسے حالت کښې دَ هغه دَ ځلے ظِهار او طلاق صحیح نه دی - دَ حنفیانو اودَ شافعیانو اودَ حنبلیانو رائے هم دا ده اودَ صحابو عام مسلک هم دا ؤو - دَ دے برخلاف دَ حضرت عثمانؓ قول دا دے چه دَ نشے په حالت کښې طلاق لغو ظِهار معتبر نه دے - په احنافو کښې امام طَحاوی اوکَرخی دے قول له ترجیح ورکړی اودَ امام شافعیؒ یو قول هم دَ دے په تائید کښې دے - دَ مالکیانو په ښ به دَ دا سے نشے په حالت کښې ظِهار معتبر وی چه په هغې کښې سړے بالکل بے هوشه شوے نه وی، بلکه هغه صحیح خبرې کوی، اوچه څه وائی په هغې پوهیږی چه دا وائیم-

(ب) د امام ابوحنیفہؒ او امام مالکؒ په نزد ظهار صرف د مسلمان خاوند معتبر دے۔ ذمیان د دے حکمونو پابند نهٔ دی، ځکه چه په قرآن مجید کښے اَلَّذِیْنَ یُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ الفاظ وئیلے شوی دی چه مُراد تر مسلمانان دی، او په قرآن کښے د دریو قسمو کفّارو نه یوه کفّاره روژه هم ده، اوبنکارهٔ خبره ده چه روژه د ذمیانو د پاره نهٔ شی کیدے۔ د امام شافعیؒ او د امام احمد په نزد به د ذمّی په ظِهار او د مسلمان په ظِهار، دواړو باندِ د احکمونه جاری کیږی، البته د ذمی د پاره روژه نشته، هغه به یا غلام آزادوی یا به شپیتو مسکینانو له ډوډۍ ورکوی۔

(ج) آیا د سړی پشان ښځه هم ظِهار کولے شی؟ مثلاً که هغه سړی ته اووائی چه ته ځما د پاره ځماد پلار پشان ئے، یا ځهٔ ستاسو د پاره ستاسو د مُور پشان یم، نو آیا دا به هم ظِهار وی؟ څلور واړه امامان وائی چه دا ظِهار نهٔ دے، او دا د ظِهار د قانونی حکمونو لاندِ هیڅ راځی نه۔ ځکه چه قرآن مجید په څرګنده والفاظو کښے دا حکمونه صرف د هغه موقع د پاره بیان کړی دی چه په هغے کښے خاوند د ښځهٔ سره ظِهار اوکړی اَلَّذِیْنَ یُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ۔ او د ظِهار کولو اختیار هغه چاته حاصلیدے شی چاته چه د طلاق ورکولو اختیار دے۔ ښځے له چه شریعت څنګه دا اختیار نهٔ دے ورکړے چه سړی له طلاق ورکړی د غه شان هغے له ئے دا اختیار هم نهٔ دے ورکړے چه خپل ځان د خاوند د پاره حرام کړی۔ هم دا رائے د سُفیان ثوری، اسحٰق بن راهَوَیه، ابوثور او د لیث بن سعد ده چه د ښځے دا قسم خبره بالکل بے معنیٰ او بے اثره ده۔ امام ابویوسف وائی چه دا ظِهار خو نهٔ دے، لیکن په دے سره به په ښځه باندِ د قسم کفّاره لازمیږی، ځکه چه د ښځے د دے وینا مطلب داد ے چه هغے د خپل خاوند سره د تعلق نهٔ ساتلو قسم خوړ لے دے۔ ابن قُدامه هم د امام احمد بن حنبل دا مسلک نقل کړے دے۔ امام اوزاعی وائی که چرے ښځے د وادهٔ نه مخکښے دا خبره کړی وی چه که چرے ما د فلانی سړی سره وادهٔ اوکړو نو هغه ځماد پاره دا سے دے لکه ځما پلار، نو دا به ظِهار وی، او که د وادهٔ نه روستو اووائی نو دا به قسم وی او په دے سره به پرے د قسم کفّاره لازمیږی۔ د دے برخلاف حسن بصری، زُهری، ابراهیم نخعی او حسن بن زیاد لؤلؤئی وائی چه دا ظِهار دے او په دا سے وینا به په ښځه باندِ د ظِهار کفّاره لازمیږی، البته ښځے ته به دا حق نهٔ وی چه د کفّارے ورکولو نه مخکښے خاوند د ځان نه منع کړی۔ ابراهیم نخعی د دے په تائید کښے دا واقعه بیانوی چه د حضرت ابوطلحه لور عائشے ته د حضرت زُبیر خوئ مُصعَب د نکاح پیغام اولیږو۔ نو هغے ورته په جواب کښے دا الفاظ اووئیل چه که چرے ما د هغه سره نکاح اوکړه نو هُوَ عَلَیَّ کَظَهْرِ اَبِیْ۔ (هغه ځماد پاڼ دا سے دے لکه ځماد پلار شا)۔ څه موده پس هغه د هغه سره په وادهٔ کولو راضی شوه۔ د مدینے د عُلماؤ نه د دے په حقله فتویٰ اوغوښتله شوه نو ډیرو فقهاؤ، چه پکښے ډیر صحابه هم شامل وُو، دا فتویٰ ورکړه چه په عائشه باندِ د ظِهار کفّاره لازم ده۔ د دے واقعے د بیانولو نه روستو ابراهیم نخعی خپله دا رائے بیانوی چه که چرے عائشے دا خبره د وادهٔ نه روستو وئیلے وے نو کفّاره به پرے نهٔ وه لازم شوے، لیکن هغے د وادهٔ نه مخکښے دا خبره کړی وه، چه هغے ته د نکاح کولو اونهٔ کولو اختیار حاصل وُو نو په دے وجه په هغے باندِ کفّاره واجب شوه۔

(۳)۔ کوم عاقل او بالغ سړے چه د ظِهار څرګند الفاظ بنه د هوش په حالت کښے اووائی نو بیا د هغه دا عُذر نشی قبلیدے چه ما په غصّه کښے، یا په ډوله ډوله کښے، یا د مینے نه دا سے وئیلی وُو، یا دا چه ځما نیت د ظِهار نهٔ وُو۔ البته چه کوم الفاظ په د معامله کښے څرګند نهٔ دی اوچه په هغے کښے د مختلفو معنو احتمال دے، نو د هغے حکم د الفاظو

مطابق دے۔ وړاندے به مونږه اُوایو چه د ظِهار څرګند الفاظ کوم دی او غیر څرګند کوم دی؛
(۴) په دے خبره د ټولو عالمانو اتفاق دے چه ظِهار د هغه ښځے سره کیدے شی چه هغه د سړی په نکاح کښے وی۔ البته په دے خبره کښے اختلاف دے چه د څیلے ښځے نه علاوه د بلے ښځی سره هم ظِهار کیدے شی۔ په دے معامله کښے فقهاء مختلف دی؛
حنفیان وائی چه غیر ښځے ته سړے دا اُووائی چه "که ماستا سره نکاح اُوکړه نو ته د ما دا سے ئے لکه څنګه د مورشا" نو بیا چه هغه هرکله د هغے سره نکاح کوی نو مخکښے به کفّاره ادا کوی او پس د هغے به لاس ورورې۔ هم دا فتویٰ د حضرت عمرؓ ده۔ د هغه په زمانه کښے یو سړی یوے ښځے ته دا خبره اُوکړه او روستو ئے ورسره نکاح اُوکړه۔ حضرت عمرؓ اُوفرمائیل دا سړے به د ظِهار کفاره ادا کوی۔
مالکیان او حنبلیان هم دا خبره کوی او دا ورپسے زیاته وائی چه که چرے سړی خاص ښځه نه وی یاده کړی اودا سے وئیلی وی چه تولے ښځے په ما باندے دا سے دی، نو چه د کوم سره نکاح کوی مخکښے به کفّاره ادا کوی او بیا به لاس ورورې۔ هم دا رائے د سعید بن المُسَیّبؒ، د عُروه بن زُبیر، د عطاء بن ابی رَباح، د حسن بصری او د اسحاق بن راهویه ده۔
شافعیان وائی چه د نکاح نه مخکښے ظِهار بالکل بے مطلبه دے۔ دا رائے د ابن عباس او قتادهؓ هم ده۔
(۵)۔ آیا ظِهار د یو خاص وخته پورے کیدے شی؟ حنفیان او شافعیان وائی چه که چرے یو سړی د یو خاص وخته پورے ظِهار کړے وی نو چه تر څو هغه وخت باقی وی تر هغے به ښځے ته په لاس ورورې لو سره کفّاره لازمیږی، او چه هغه وخت تیر شی نو ظِهار به بے اثره وی۔ د دے دلیل د سَلَمه بن صَخر بیاضی واقعه ده چه په هغے کښے هغه د څیلے ښځے سره د رمضان د پاره ظِهار کړے وُو او نبی صلی الله علیه وسلم هغهٔ ته دا نهٔ وُو فرمائیلی چه وخت مقرر ول بے مطلبه دی۔ دا دے برخلاف امام مالکؒ او ابن ابی لیلیٰ وائی چه ظِهار هرکله وی هغه به د همیشه د پاره وی او وخت مقرر ول پکښے هیڅ اثر نهٔ لری، حُکمه چه کوم حُرمت واقع شوے دے هغه په وخت تیریدو سره پخپله نشی ختمیدے۔
(۶)۔ د ظِهار سره چه شرط ګولے شوے وی نو څه وخت چه د هغه شرط خلاف ورزی اُوشی نو کفّاره به لازمیږی۔ مثلاً چه یو سړے ښځے ته دا اُووائی چه "که چرے ځُه کورته راغلم نو ته د ما باندے دا سے ئے لکه څنګه د مُورشا" په دے صورت کښے چه کله هغه کورته ورننوزی، نو د کفّارے ادا کولو نه بغیر به ښځے له لاس نهٔ ورورې۔
(۷)۔ یوے ښځے ته چه څوځله د ظِهار الفاظ وئیلی شوی وی نو حنفیان او شافعیان وائی چه که په یو مجلس کښے وئیلے شوی وی او که په ډیرو کښے، خو بهرحال چه څوځله الفاظ وئیلے شوی وُو هم هغومره ځله به کفّاره لازمیږی، هُن دومره خبره ده که چرے ویونکی یو ځل وینا اُوکړه او بیا ئے د څیلے وینا په تاکید کښے هغه خبره بار بار ذکره نو بیا یوه کفّاره لازمیږی۔ دا دے برخلاف امام مالک او امام احمد بن حنبل وائی چه که هرځومره ځله د ظِهار الفاظ بار بار وئیلی شوی وُو، خواه که د تکرار په نیت وُو او که د تاکید، خو کفّاره به یو ځل لازمیږی۔ هم دا قول د شَعبی، طاؤس، عِطاء بن ابی رباح، حسن بصری او اوزاعی رحمهم الله علیهم دے۔ د حضرت علی فتویٰ داده چه که چرے بار بار ویناپه یو مجلس کښے شوی وه نو یوه کفّاره به وی او که په ډیرو مجلسونو کښے وه نو چه په څومره مجلسونو کښے وه هغومره ځله به کفّاره ادا کوی۔ د قتاده او د عَمرو بن دینار رائے هم داده۔
(۸)۔ دوو یا زیاتو ښځو ته چه په یو وخت او په یو لفظ سره د ظِهار الفاظ اُووئیلے شی، مثلاً خاوند

هغوی ته اُووائی چه تاسو په مایانډ دا سه یئ لکه څنګه د مُورسُرا، نو حنفیان اوشافعان وائی چه د هرې یوې د حلالتولو د پاره به جُدا جُدا کفّاره ورکوی ۔ دارائے د حضرت عُمرؓ، حضرت علیؓ، عُروَہ بن زُبَیر، طاوس، عطاء، حسن بصری، ابراهیم نخعی، سُفیان ثوری اود ابن شهاب زُهری دۀ ۔ امام مالکؒ اوامام احمدؒ وائی چه د تولو د پاره به یوه کفّاره لازمیږی ۔ د ربیعه، اوزاعی، اسحاق بن راهُویه اود ابوثَور هم دارائے دۀ ۔

(۹) که یوسړی د ظِهار کفّاره ورکړه او بیائے ظِهار اُوکړو نو په دې د تولو فقهاؤ اتفاق دې چه بیا به کفّاره ورکوی نوهله به ښځه حلالیږی ۔

(۱۰) ۔ د کفّاراتو ورکولونه مخکښې که سړی د ښځې سره د کوروالی تعلقات قایم کړل د څلورواړو امامانو په نزد گرچه دا گناه ده، اوسړی له پکار دی چه په دې باندې توبه استغفار شی او بیا د هغسې کار اُو نۀ کړی، خو کفّاره به یوه ورکوی ۔ د رسول الله صلی الله علیه وسلّم په زمانه کښې چه کوم خلقو داسې کړی وُو هغوی ته خو نبیؐ دا فرمائیلی وُو چه استغفار وائیُ او چه ترڅو کفّاره نۀ وی ادا کړی تر هغې د خپلو ښځُو نه جُدا اُوسئ، لیکن نبیؐ دا حکم نۀ وُوکړے چه د ظِهار د کفّارې نه علاوه کښې په هغوی باندې بله کفّاره هم شته ۔ حضرت عروبن عاص، قَبیصَه بن ذُؤَیب، سعید بن جُبَیر، زُهری اوقتاده وائی چه په هغه به دوه کفارې لازم وی ۔ او د حسن بصری اوابراهیم نخعی رائے دا ده چه درې کفارې به ورکوی ۔ غالباً چه دې حضراتو ته به هغه احادیثُ نۀ وی رسیدلی په کومو کښې چه په دې مسئله باندې د نبیؐ فیصله بیان شوی ده ۔

(۱۱) ۔ ښځې له چه د چا سره تشبیه ورکړے شی نوهغه ظِهار دې ؟ په دې مسئله کښې د فقهاؤ اختلاف دې،

عامِر شَعبی وائی چه صرف د مُورسره تشبیه ظِهار دې ۔ اوظاهریه وائی چه صرف د مُور د شا سره تشبیه ظِهار دې، په بله یره خبره باندې هم داحکم نۀ کړی ۔ لیکن د اُمّت په فقهاؤ کښې یوې وله هم د هغوی سره په دې معامله کښې اتفاق نۀ دے کړے، حُکمه چه قرآن د مُورسره تشبیه ورکولو ته گناه وئیلی ده اود هغې ئے داوجه بیان کړی ده چه داډیره بیهوده اودروغ خبره ده ۔ اُوس دا ښکاره خبره ده چه د کومو ښځُو حرمت د مینډ و پشان دې د هغوئ سره خپلو ښځُو له تشبیه ورکول هم هغسې بیهوده اودروغ خبره ده، په دې وجه د هغې حکم هم هغه دې کوم چه د مورسره د تشبیه حکم دې ۔

حنفیان وائی چه په دې حکم کښې هغه ټولې ښځې داخلې دی کومې چه د نسب یا د رضاعت یا د واده د رشتې په وجه په سړی باندې د همیشه د پاره حرامې دی ۔ لیکن کومې ښځې چه وختی طور حرامې وی او په څه وخت کښې حلالیدے شی نوهغه په دې کښې داخلې نۀ دی ۔ لکه د ښځې خور یعنی خینی، د ښځې د مُورخور، د ښځې د پلارخور، یا بله ښځه چې د سړی په نکاح کښې نۀ وی ۔ کومې ښځې چه همیشه په سړی باندې حرامې دی په هغوئ کښې چه د هرې یوې ښځې د یو دا سې اندام سره تشبیه ورکړی چه هغې ته نظر کول د سړی د پاره حلال نۀ وی، نو دا به ظِهار وی ۔ البته د ښځې لاس، خپې، س، ویښته یا غاښ وغیره له د همیشه حرامې ښځې د شا سره تشبیه ورکول، یا ښځې له د هغې د س، لاس، خپه، وغیره سره تشبیه ورکول ظِهار نۀ دے، حُکمه چه د مُور خور دې اندامونه کټل حرام نۀ دی ۔ د څه شان داوینا کول چه ستا لاس ځما د مُور د لاس پشان دی یا ستا خپه ځما د مُور د خپو په شان دی، نو داظِهار نۀ دے ۔

شافعیان وائی چه په دې حکم کښې صرف هغه ښځې داخلې دی چه هغه همیشه حرامې دې اوحرامې به وی

یعنی مُور، خور، لُور وغیرہ لیکن هغه ښځې په دې کښے داخلے نۀ دی کوے چه په یو وخت کښے د سړی د پارہ حلالے وے، لکه رضاعی مُور، رضاعی خور، خوا ښے او اینکور، یا په څه وخت کښے د سړی د پارہ حلالیدے شی لکه حیض - د دے عارضی او وختی حرامو ښځو نه علاوہ چه کوم ښځې همیشه حرامے وی د هغوی د یوداسے اندام سره ښځې له تشبیه ورکول چه هغه عام طور د عزّت د پارہ څوک نۀ یادوی، ظهار دے - پاتے شو هغه انداه نه چه عام طور ئے خلق د عزّت د پارہ یادوی نو د هغے سره تشبیه به هله ظهار وی چه خبرہ د ظهار په نیت اوکړے شی - مثلاً ښځې ته داوئیل چه تۀ ماته څما د مُور د ستر کے پشان ئے، یا د مُور د لاس، د خپے، یا د شا پشان ئے، یا د مُور د خپتے یا د سینے سره د ښځې خپتے یا د سینے له تشبیه ورکول، یا د ښځې س، شا یا لاس د خپل څان د پارہ د مُور د شا پشان کول، یا ښځې ته داوئیل چه تۀ څما د پارہ څما د مُور پشان ئے، نو داکه د ظهار په نیت سره وی نو ظهار دے اوکه د عزّت په نیت وی نو عزّت دے -

مالکیان وائی چه کومه ښځه د سړی د پارہ حرام وی د هغے سره خپلے ښځې له تشبیه ورکول ظهار دے، اَنُ تر دے پورے چه ښځې ته داوینا کول هم ظهار دے چه تۀ په ماباندے د فلانۍ غیر ښځې د شا پشان ئے - دارنګے مالکیان وائی چه د مُور یا د همیشه حرامو ښځو د اندام سره ښځې له یا د ښځې یو اندام له تشبیه ورکول ظهار دے، اوپه دے کښے داشرط نشته چه هغه اندامونه دِ داسے وی چه هغے ته کتل حلال نۀ وی، ځکه چه د مُور هر اندام ته په داسے نظر کتل لکه څنګه چه ښځې ته سړے کورے حلال نۀ دی -

حنبلیان وائی چه په دے حکم کښے هغه ټولے ښځې داخلے دی کوے چه همیشه حرامے وی، خواه که هغه محکمے په څه وخت کښے حلالے وے لکه خوا ښے یا رضاعی مُور - اوکوے ښځې چه روستو په څه وخت کښے حلالیدے شی (لکه حیض) نو د هغوی په حقله د امام احمد یو قول داد دے چه د هغوی سره تشبیه هم ظهار دے اودویم قول داد دے چه د هغوی سره تشبیه ظهار نۀ دے - دارنګے د حنبلیانو په نزد د ښځې اندام له د محرماتو د اندام سره تشبیه ورکول ظهار دے - البته ویخته نوک، غاښ غوندے غیر مستقل اندامونه په دے حکم کښے نۀ راځی -

(۱۲) - په دے خبره د ټولو فقهاؤ اتفاق دے چه ښځې ته داوینا کول چه "تۀ په ماباندے څما د مُور د شا پشان ئے" څرګند ظهار دے ځکه چه په عربو کښے د ظهار هم داطریقه وه او د قران مجید حکم هم په دے باره کښے نازل شوے دے - البته په دے خبره کښے د فقهاؤ اختلاف دے چه نورکوم داسے لفظونه دی چه هغه څرګند ظهار دے، اوکوم داسے الفاظ دی چه د هغے فیصله به د دوئیو نکی په نیت باندے کیږی -

د حنفیانو په نزد ظهار څرګند الفاظ هغه دی چه په هغے کښے صفا خپلے حلالے ښځې له په حرامو ښځو کښے د یو ے ښځے سره تشبیه ورکړے شوی وی، یا داسے اندام سره ورکړے شوی وی چه هغے ته کتل حلال نۀ وی، لکه داوینا کول چه تۀ په ماباندے څما د مُور یا فلانۍ حرامے ښځې د شا یا د رُون (پټون) پشان ئے - د دے نه علاوہ په نورو الفاظو کښے اختلاف کیدے شی که اُووائی چه "تۀ په ماباندے داسے حرامه ئے لکه څما د مُور شا" نو د امام ابو حنیفه په نزد اځرګند ظهار دے - لیکن د امام ابو یوسف او د امام محمد په نزکه د ظهار نیت وُو نو ظهار دے اوکه د طلاق نیت وُو نو طلاق دی - که اُووائی چه "تۀ څما د مور غوندے ئے یا څما د مُور پشان ئے" نو د حنفیانو عامه فتوی داده چه داد ظهار په نیت سره ظهار دے، د طلاق په نیت سره طلاق بائن دی اوکه هیڅ نیت ئے نۀ وی نو بے مطلبه دی - لیکن د امام محمد په نزد اقطعی ظهار دے - که سړے خپلے ښځے ته مُور یا خور یا لُور اُووائی نو داسے سخته بے هودہ خبره ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم

پرد غصے اظہار کړے وُ وخود ظہار حکم ئے پرنہ وُ وکولے ۔ کہ سړے اُووائی چہ "تہ پہ ما باندے دمُور پشان حرامہ ئے"، نود د ظہار پہ نیت سرہ ظہار دے، د طلاق پہ نیت سرہ طلاق دی، او کہ ہیڅ نیت نہ وی نو ظہار دے ۔ کہ سړے اُووائی چہ "تہ ئ حُماد پارہ د مُور پشان یا د مُور غوندے ئے"، نو نیت پہ تر تیپوسلے کیږی ۔ کہ د عزت پہ نیت سرہ ئے وئیلی وُ و نو عزت دے ۔ کہ د ظہار پہ نیت سرہ ئے وئیلی وُ و نو ظہار دے، کہ د طلاق پہ نیت سرہ ئے وئیلی وُ و نو طلاق دے ۔ او کہ ہیڅ نیت ئے نہ وُ و او ہسے ئے د اخبرہ کړی وہ نود امام ابوحنیفہ پہ نزد بے مطلبہ دی، د امام ابویوسف پہ نزد ظہار خو پرے نہ ړاځی لیکن د قسم کفارہ پرلازمیږی ۔ او د امام محمد پہ نزد ظہار دے ۔

د شافعانو پہ نزد ظہار څرګند الفاظ دا دی چہ یوسړے خپلے بنځے تہ اُووائی چہ "تہ ځما پہ نزد، یا ځما سرہ، یا ځما د پارہ د اسے ئے لکہ ځما د مور شا ۔ یا تہ ځما د مُور د شا پشان ئے، یا ستا جسم یا ستا بدن، یا ستا نفس ځما د پارہ ځما د مُور د جسم یا بدن یا نفس پہ شان دے ۔ د دے نہ علاوہ بہ پہ نور و ټولو الفاظو کښے د وئیونکی پہ نیت باندے فیصلہ کیږی ۔

د حنبلیانو پہ نزد ہر ہغہ لفظ چہ پہ هغے سرہ یوسړی خپلے بنځے لہ یا د هغے پہ مستقل اندامونو کښے یو اندام لہ د یو مے دا سے بنځے سرہ چہ د هغہ د پارہ حرامہ وی، یا د هغے پہ مستقل اندامونو کښے د یو اندام سرہ تشبیہ ورکړی، نو هغہ بہ د ظہار پہ معاملہ کښے څرګند الفاظ وی ۔

د مالکیانو مسلک هم تقریباً دا دے، البتہ پہ تفصیلاتو کښے د هغوی فتوے جُدا جُدا دی ۔ مثلاً چہ یوسړے خپلے بنځے تہ دا اُووائی چہ "تہ ځما د پارہ ځما د مور غوندے ئے یا ځما د مُور پشان ئے" نو د مالکیانو پہ نزکہ دا د ظہار پہ نیت سرہ وی نو ظہار دے، کہ د طلاق پہ نیت وی نو طلاق دی او هیڅ نیت ئے نہ وی نو ظہار دے ۔ د حنبلیانو پہ نزد دا د نیت پہ شرط سرہ صرف ظہار دے ۔ کہ څوک خپلے بنځے تہ اُووائی چہ "تہ ځما مور ئے" نو مالکیان وائی چہ دا ظہار دے او حنبلیان وائی چہ کہ دا خبرہ د جګړے او د غصے پہ حالت کښے وئیلی شوی وی نو ظہار دے او کہ د مینے پہ خبرواترو کښے وئیلی شوی وی نو اګرچہ دا ډیرہ خرابہ خبرہ ده لیکن ظہار نہ دے ۔ کہ څوک اُووائی چہ "تہ ئ طلاقہ ئے تہ ځما د مُور پشان ئے" نو د حنبلیانو پہ نزد دا طلاق دی نہ چہ ظہار، او کہ اُووائی چہ "تہ ځما د مُور پشان ئے تہ طلاقہ ئے"، نو ظہار او طلاق دواړہ بہ واقع کیږی ۔ دا وینا چہ "تہ پہ ما باندے دا سے حرامہ ئے لکہ ځما د مُور شا"، د مالکیانو او حنبلیانو دواړو پہ نزد ظہار دے، خواہ کہ د طلاق پہ نیت سرہ ئے دا الفاظ وئیلی وی یا ئے هیڅ نیت هم نہ وی ۔

د ظہار د الفاظو پہ دے بحث کښے ځان پہ دے خبرہ بنہ پوهہ کول پکار دی چہ فقهاؤ پہ دے حقلہ څومرہ بحثونہ کړی دی هغہ ټول د عربی ژبے د الفاظو سرہ تعلق لری، او بنکارہ خبرہ ده چہ پہ دُنیا کښے څوک نُورے ژبے وائی هغوی بہ نہ پہ عربی ژبہ کښے ظہار کوی او نہ بہ د ظہار کولو پہ وخت کښے د عربی الفاظو ټیک ټیک ترجمہ ادا کوی ۔ نو غیر عربی الفاظو تہ پہ دے لحاظ سرہ کتل نہ دی پکار چہ هغہ د فقهاؤ د کومو الفاظو صحیح ترجمہ ده، بلکہ هغے تہ پہ دے لحاظ سرہ کتل پکار دی چہ آیا وئیونکی خپلے بنځے لہ د جنسی تعلق پہ لحاظ سرہ پہ محرّماتو کښے د چا سرہ صفا صفا تشبیہ ورکړی ده، او کہ د هغہ د الفاظو نہ نُور مطلبونہ هم را ایستلے کیدے شی؟ د هغے د ټولو نہ څرګند مثال پخپلہ هغہ فقرہ ده چہ د کومے پہ حقلہ د ټولو فقهاؤ او مفسّرینو اتفاق دے چہ هغہ بہ پہ عربو کښے د ظہار د پارہ استعمالیدلہ او د قرآن مجید حکم هم د هغے پہ بارہ کښے نازل شوے دے

یعنی، اَنْتِ عَلَیَّ کَظَھْرِ اُمِّیْ "تہ پہ ما باندِ څادمور د شا پشان ئے"۔ غالباً چہ دَ دُنیا پہ بلہ ھرہ ژبہ کښے اوکم ازکم زمونږ پہ ژبہ کښے خو دا سے الفاظ نہٗ استعمالیږی چہ ھغہ دَ عربیٔ دَد ے فقرے لفظی ترجمہ وی - البتہ ظِھار کوٗنکے پہ خپلہ ژبہ کښے دا سے الفاظ ضرور استعمالولے شی چہ دَ ھغے مطلب ټیک ھم ھغہ وی دَ کوم دَ پارہ چہ بہ یو عربی ھغہ الفاظ استعمال کول۔ دَ ھغے مطلب داوُوچہ "ستا سرہ کورروالے څما دَ پارہ دا سے دے لکہ چہ دَ خپلے مورسرہ کورروالے وی"؛ یالکہ څنګہ چہ حُسنی جاھلان خلق خپلے بنځے تہ وائی چہ "تالہ درتللہ خو خپلے مورلہ ورتللہ دے"۔

(۱۳) پہ قرآن مجید کښے چہ کوم څیز دَ کفّارے دَ لازمیدو سبب ګرزولے شوے دے ھغہ تش ظھار نہٗ دے بلکہ دَ ظِھار نہ روستو "عَود یعنی واپس کیدل" دی - یعنی کہ سړے صرف ظِھار اُوکړی اودَ ھغے نہ واپس نہٗ شی نو پہ ھغہ کفّارہ نہٗ لازمیږی - اُوس خبرہ دا دہ چہ ھغہ "عَود" یعنی واپسی څہ څیز دے چہ کفّارہ پرے لازمیږی؟ پہ دے بارہ کښے دَ فقھاؤ مسلکونہ دا دی:

حنفیان وائی چہ دَ "عَود" نہ مُراد دَ "کورروالی" ارادہ دہ - لیکن دے مطلب دا نہٗ دے چہ تش پہ ارادہ او خواھش باندِ دِ کفّارہ لازمہ شی اګرکہ سړے عملاً کورروالے اُونہٗ کړی۔ بلکہ دَدے اصلی مطلب دا دے چہ څوک ھغہ حرامو الے ختمول غواړی کوم چہ ھغہ دَ ظِھار پہ ذریعہ دَ خپلے بنځے سرہ دَ کورروالی پہ معاملہ کښے پہ خپل ځان لګولے دے نو ھغہ دِ اوّل کفّارہ ورکړی، ځکہ چہ د غہ حَرامو الے بغیر دَ کفّارے ادا کولونہ ختمیدے نہٗ شی -

دَ امام مالک پہ دے معاملہ کښے دریے قولونہ دی، لیکن دَ مالکیانو پہ نزد دَ پولونہ مشہور اودَ پولونہ صحیح قول دَ ھغہ مسلک مطابق دے کوم چہ بَرہ دَ حنفیانو بیان شوے دے - ھغوی وائی چہ دَ ظِھار پہ ذریعہ ھغہ کوم څیز پہ ځان باندے حرام کړے وُو ھغہ دَ خپلے بنځے دَ "کورروالی" تعلق وُو - دَ ھغے نہ روستو "عَود" دا دے چہ ھغہ دَ خپلے بنځے سرہ ھم د غہ تعلق واپس قایم کړی -

دَ امام احمد بن حنبلؒ مسلک ھم ابن قدامہ تقریباً ھغہ بیان کړے دے کوم چہ بَرہ دَدواړو اِمامانو دے - ھغہ وائی چہ دَ ظِھار نہ روستو دَ مباشرت یعنی "دَ کورروالی" حلالولو دَ پارہ کفّارہ ورکول شرط دہ - کوم ظِھار کوٗنکے سړے چہ کورروالے حلالول غواړی نو ھغہ لکہ چہ دَ کورروالی حرامو الی نہ واپس کیدل غواړی - پہ دے وجہ ھغہ تہ حکم ورکړے شو چہ دَ کورروالی حلالولو نہ مخکښے کفّارہ ورکړہ، بالکل ھغہ شان لکہ څنګہ چہ یوسړے دَ یوے بے نکاح بنځے سرہ کورروالے حلالول غواړی نو ھغہ تہ ویلے کیږی چہ اول نکاح اُوکړہ -

دَ امام شافعیؒ مسلک دَدے دریواړو نہ مختلف دے - ھغہ وائی چہ دَ ظِھار کولونہ روستو څوک خپلہ بنځہ دَ مخکینی پشان دَ بنځے پہ حیثیت سرہ ساتل غواړی نو دا "عَود" دے ځکہ چہ دَ ظِھار کولو دَ وخت نہ ھغہ دا خبرہ دَ ځان دَ پارہ حرامہ کړہ چہ ھغہ دَ بنځے پہ حیثیت اُوساتی - نو کہ چرے ھغہ دَ ظِھار کولو سرہ فوراً ھغے لہ طلاق ورنہٗ کړل اودَ دومرہ وخت پورے ئے دَ ځان سرہ اُوساتلہ چہ پہ ھغے کښے ھغہ دَ طلاق الفاظ ویلے شو نو ھغہ عَود اُوکړو او پہ ھغہ باندِ کفّارہ واجب شوہ - دَدے مطلب دا دے چہ پہ یوہ ساعت کښے دَ ظِھار کولونہ روستو کہ سړے پہ دویمہ ساعت کښے طلاق ورنہٗ کړی نو کفّارہ بہ پرے لازمیږی، اګرکہ روستو ھغہ دا فیصلہ اُوکړی چہ څہ د غہ بنځہ ھم دَ بنځے پہ حیثیت نہٗ ساتم - اَن تَرد پورے چہ ھغہ یو څومرہ غوراُوکړی او بنځے لہ طلاق

هم ورکړی خودَ امام شافعیؒ په مسلک کښے به کفّاره په هغه لازمیږی ۔

(۱۴) دَ قرآن حکم دے چه ظِهار کونکے دِ کفّاره ورکړی مخکښے دَ یو بل له ګوتی ورونړی دَ ځلور واړو اِمامانو په دے خبره اتفاق دے چه په دے آیت کښے دَ "مَس" نه مُراد ګوتے ورونړل دی، نو په دِے وجه دَ کفّارے ورکولونه مخکښے یوازے کور والے حرام نهٔ دے بلکه خاوند خپلے بښځے له په هیڅ طریقه کوتے نهٔ شی ورونړلے ۔ شافعیان وائی چه په شهوت سره ګوتے ورونړل حرام دی، حنبلیان وائی چه هر قِسم خوند اغستل حرام دی، اومالکیان وائی چه دَ خوند په غرض دَ بښځے بدن ته کتل هم ناجائز دی، دَ هغوی په نزد صرف مخ او لاسونو ته کتل په دے حکم کښے نهٔ راځی ۔

(۱۵) دَ ظِهار نه روستو که سړی بښځے له طلاق ورکړل نو که هغه طلاقِ رجعی وُو او رجوع ئے کوله نو بیا هم دَ کفّارے ادا کولونه بغیر هغه بښځے له لاس نشی ورونړلے ۔ اوکه بائن طلاق وُو او نکاح ئے دوباره اُوترله نو بیا به هم دَ لاس ورونړلونه مخکښے کفّاره ورکوی ۔ ان تر دے پورے که دریے طلاق ئے ورکړل، او بښځے دَ بل سړی سره نکاح اُوکړه اوبیا کونده شوه یا وزله هغه بل سړی هم طلاق ورکړل، اودَ هغے نه روستو ورسره ظِهار کونکی خاوند بیا دوباره دَ نوی سرنه نکاح اُوکړه نو بیا هم هغه بښځه دَ هغه دَ پاره دَ کفّارے ورکولونه مخکښے حلاله نهٔ ده ۔ ځکه هغه هغے له یوځل دَ مُور یا دَ محرّما تو سره تشبیه ورکړی ده اوپه ځان ئے حرامه کړی ده، او داحرام والے دَ کفّارے نه بغیر نهٔ ختمیږی ۔ په دے باندِ دَ ځلور واړو اِمامانو اتفاق دے ۔

(۱۶) دَ بښځے دَ پاره لازم دی چه کوم خاوند دَ هغے سره ظِهار کړے دے چه دَ هغه لاس ځان ته پرے نږدی نړ ځوچه هغه کفّاره ادا نهٔ کړی ۔ اوچونکه کور والے دَ بښځے حق دے چه هغه خاوند په ظِهار سره حرام کړے دے نو خاوند که چرے کفّاره ادا نهٔ کړی نو بښځه عدالت ته رجوع کولے شی ۔ عدالت به دَ هغے خاوند مجبوره کوی چه کفّاره ورکړی اوکوم حرام والے چه هغه په ځان نګولے دے هغه ختم کړی ۔ او که هغه نهٔ منی نو عدالت هغه وهَلے یا قیدَ وَلے یا دواړه سزا ګانے ورکولے شی ۔ داخبره هم دَ فقهے په ځلور واړو مذهبونو کښے متفق علیه ده ۔ البته فرق دا دے چه په حنفی مذهب کښے دَ بښځے دَ پاره صرف هم دا یوه لار ده، دَ دے نه علاوه که په ظِهار هر څومره موده تیره شی، خوچه عدالت بښځه دَ دے سخته نه نهٔ خلاصوی نو هغه به تمام عُمر آویزانده وی، ځکه چه په ظِهار سره نکاح نهٔ ختمیږی ۔ صرف دَ خاوند دَ کور والی حق ختمیږی ۔ په مالکی مذهب کښے که خاوند دَ بښځے دَ تنګولو دپارہ ظِهار اُوکړی اودغسے آویزانده ئے پریږدی نو په هغه باندِ دَ اِیلاء حکمونه جاری کیږی یعنی هغه دَ ځلورو میاشتونه زیاته بښځه نهٔ شی ایسارولے (دَ ایلاء دَ حکمونو دَ پاره اُوګورہ تفهیم القرآن، اوّل جلد، البقره، حاشیے ۲۴۵ تا ۲۴۷) ۔ دَ شافعیانو په نزد اګرچه په ظِهار کښے دَ اِیلاء حکمونه خو صرف په هغه وخت کښے جاری کیدے شی چه خاوند دَ یو ځاصے مودے دَ پاره ظِهار کړے وی اوهغه موده دَ ځلورو میاشتونه زیاته وی، لیکن په شافعی مذهب کښے چونکه پے خاوند باندِ په هغه وخت کفّاره واجیږی کله چه هغه بښځه دَ بښځے په حیثیت سره اُوساتی، په دِے وجه داهم دومکن نهٔ ده چه هغه بښځه دَ ډیرے مودے پورے آویزانده اُوساتی ۔

(۱۷) په قرآن او په سنت کښے صفا وَیلے شوی دی چه دَ ظِهار اولنۍ کفّاره غلام آزادول دی ۔ ځوک چه دَ دے نه عاجزه وی نو بیا به دوه میاشتے روژے نیسی ۔ اوچه دَ دے نه هم عاجزه وی نو شپیتو مسکینانو ته به خوراک ورکوی ۔ لیکن

کہ څوک ډډ دریوالړ وکفارونه عاجزه وی نوچونکه په شریعت کښے ډکفّارے څه بل شکل نشته نوپه ډے وجه هغه به ډ هغه وخته پورے انتظار کوی ترڅوچه هغه په ډے دریو کفارو کښے په یوه کفّاره باندقدرت بیانهٔ مومی ۔ البته ډ سنتونه داخبره ثابته ده چه ډدا سے سړی سره امداد کول پکاردی چه هغه دریمه کفاره ادا کړے شی ۔ نبی صلی الله علیه وسلّم ډ بیت المال نه ډدا سے خلقوامداد کړے دے چه هغوئ ډ خپلے غلطئ په وجه په داسے سخته کښے ښکته ؤواوډ دریوالړ وکفارونه عاجزه ؤو۔

(۱۸) قرآن مجید په کفّاره کښے ډ رَقَبَہ (یعنی ډ څټ) ډ آزادولو حکم کوی چه په هغے کښے وینځه اوغلام دواړه راځئ اوپه هغے کښے ډ عُمر هیڅ قید نشته ۔ ډ تے ماشوم هم که ډ غلامئ په حالت کښے وی نوډ هغه آزادول د کفّارے ډ پاره کافی دی ۔ البته په دے خبره کښے ډ فقهاؤ اختلاف ډے چه آیا مومن اوکافر، دواړه قسمه غلامان آزادیدے شی، یاصرف مومن غلام به آزادوی ۔ حنفیان اوظاهریه وائی چه غلام که مومن وی اوکه کافروی، ډ هغه آزادول ډ ظِهار ډ کفّارے ډ پاره کافی دی، ځکه چه په قرآن کښے ډ مُطلق رَقَبَہ ذکر دے، دانهٔ دی وئیلی شوی چه غلام دِ مومن وی ۔ ډډے برخلاف شافعیان، مالکیان اوحنبلیان ډډے ډ پاره ډ مومن شرط ګڼی، اوهغوی داحکم په هغه نورو کفارو باندِ قیاس کړے دے چه په هغے کښے ډ رَقَبَہ سره په قرآن مجید کښے ډ مومن قید ګڼلے شوے دے (یعنی چه غلام به خامخا مومن وی) ۔

(۱۹) چه غلام بیانهٔ مومی نود قرآن داحکم دے چه ظِهار کونکے به ښځهٔ له ډلاس ورورولونه مخکښے دوه میاشتے مُسلسل رُوژے نیسی ۔ ډ الله په دے حکم باندِ چه ډ عمل کولوکوم تفصیلات ډ فقهے په مختلفومذهبونوکښے دی هغه لاندِ لیکلے شوی دی:

(الف) ۔ په دے خبره باندِ اتفاق دے چه ډ میاشتونه مُراد ډ سپوږمئ میاشتے دی ۔ که ډ میاشتے ډ ختوسره ئے روژے شروع کړے نودوه میاشتے به پوره کوی ۔ اوکه په منځ کښے ئے ډ یوتاریخ نه شروع اوکړه نو حنفیان اوحنبلیان وائی چه شپیته روژے نیول پکاردی ۔ اوشافعیان وائی چه په اوّله اودریمه میاشت کښے دِ ټولے دیرش روژے اونیسی اوپه منځ کښے چه کومه میاشت ډ یوکم دیرشو یا ډدیرشو وی، نو ډ هغے روژے نیول کافی دی ۔

(ب) حنفیان اوشافعیان وائی چه ډ کفّارے روژے په داسے وخت کښے شروع کول پکاردی چه ئهٔ پکښے ډ رمضان میاشت په منځ کښے راشی، نه اخترونه، نهٔ یوم النحراونهٔ ایام تشریق، ځکه چه په منځ کښے ډډے ډ راتلوپه وجه ډ دَوْ میاشتو تسلسل ختمیږی اوبیابه ډ نوی سرنه روژے نیسی ۔ حنبلیان وائی چه په منځ کښے ډ رمضان ډ روژو نیولوسره اړ حرامو ورځو ډ روژونهٔ نیولوسره تسلسل نهٔ ختمیږی ۔

(ج) ډ دَوْ میاشتوپه دوران کښے که ډ سړی نه په عذر سره روژے پاتے شی اوکه بغیر ډ عُذرنه، په دواړو حالتونوکښے به ډ حنفیانو اوډ شافعیانوپه نزد تسلسل ماتیږی اوډ نوی سرنه به روژے نیسی ۔ هم دا رائے ډ امام محمد باقِر، ابراهیم نخعی، سعید بن جُبَیر اوډ سُفیان ثَوری ډډ ۔ ډ امام مالک اوامام احمد په نزد مرض یاډ سفرپه عذر سره په منځ کښے روژے پریښودے شی اوپه دے سره تسلسل نهٔ ماتیږی البته په بے عذره پریښودوسره ماتیږی ۔ ډ هغوئ ډ لیل دادے چه ډ کفّارے روژے ډ رمضان ډ فرض روژونه زیاتے غورځے نهٔ دی، نوهرکله چه هغه په عُذر سره پریښودے شی نوداپه څه وجه نهٔ شی پریښودے ۔ داقول ډ حضرت عبد الله بن عباس، حسن بصری، عطاء بن ابی رَباح، سعید بن المُسَیَّب، عمرو بن دینا، شَعبی، طاؤس، مجاهد، اسحاق بن راهَویه، ابو عُبَید او ډ ابو ثور دے ۔

(د) ډ دَوْ میاشتوپه دوران کښے که سړے ډ هغه ښځے سره کوروالے اوکړی چه ډ کومے سره هغه ظِهار

کړے وی نودَ ټولوامامانو په نزبه دَ دے سره تسلسل ختمیږی اودَ نوی سرنه به روژ ے نیسی ځکه چه دَ لاس ګکولو نه مخکښې دَ دَوَمیاشتو مسلسلو روژ نیولوحکم شوے دے ۔

(۴۰) دَ قرآن او دَ سنتو ترمخه دریمه کفّاره (یعنی شپیتو مسکینانوله ډوډۍ ورکول) به هغه سړے ورکوی څوک چه دَ دویمے کفّارے (یعنی دَ دَوَمیاشتو مسلسلو روژو نیولو) طاقت نهٔ لری ۔ دَ دے تفصیلی حکمونه لاندینی دی:

(الف) ۔ دَ څلورو واړو اِمامانو په نن په روژو باندِ دَ قدرت نهٔ لرلومطلب دا دَ چه سړے یاخودَ بوډا والی په وجه قدرت نهٔ لری، یادَ مرض په وجه، یاپه دَے وجه چه هغه مسلسل دَوَمیاشتوپورے دَ کورواڼی نه پرهیز نهٔ شی کولے اودَ هغه سره دایره وی چه هسے نهٔ په دے دوران کښے بے صبری اُونهٔ کړی ۔ دادَ ے واړه عذرونه صحیح دی دَ هغه احادیثونه ثابت دی کوم چه دَ اَوس بن صَامِت انصاری اودَ سَلَمَه بن صَخر بیاضی په معامله کښے راغلی دی ۔ البته دَ مرض په معامله کښے دَ فقهاؤ په منځ کښے څه لږشان اختلاف دے ۔ حنفیان وائی چه دَ مرض عُذر به هله صحیح وی چه یا خودَ مرض دَ ختمیدو اُمید نهٔ وی، یاپه روژ ونیولو سره دَ مرض دَ زیاتیدو یَره وی ۔ شافعیان وائی چه که چرے دَ روژ ونیولونه څه داسے سخت حالت په سړی راځی چه دَ هغے نه داخطره راپیدا کیږی چه هسے نهٔ دَ دومیاشتو په دوران کښے چرته تسلسل ختم نهٔ شی، نوداعُذر هم صحیح کیدے شی ۔ مالکیان وائی چه که چرے دَ سړی غالب گمان داوی چه هغه به په را تلونکی وخت کښے دَ روژو نیولو قابل شی نوانتظار اُوکړی، اوکه چرے غالب گمان داسے نهٔ وُ نو مسکینانوته دِ خوراک ورکړی ۔ حنبلیان وائی چه په روژو نیولو سره دَ مرض دَ زیاتیدو یَره بالکل کافی عُذر دے ۔

ب ۔ خوراک به صرف هغه مسکینانوله ورکړے کیدے شی چه دَ هغوی نفقه په سړی واجب نهٔ وی ۔

ج ۔ حنفیان وائی چه خوراک مسلمان اوذمّی، دواړه قِسمه مسکینانوله ورکړے کیدے شی، البته حربی او مستامن کافرانوته نهٔ شی ورکړے کیدے ۔ دَ مالکیانو شافعیانو او حنبلیانو رائے دادَ چه مسلمانانو مسکینانوته ورکړے کیدے شی ۔

د ۔ په دَے خبره اتفاق دَے چه دَ خوراک ورکولونه مُراد دوه وخته خوراک په مړه خیټه ورکول دی ۔ البته دَ خوراک ورکولو په مفهوم کښے اختلاف دَے ۔ حنفیان وائی چه دوه وخته پرسړے مړیږی هغومره غلّه ورکول، یاپنځه غلّه دوه وخته ورکول، دواړه یوشان صحیح دی ۔ ځکه چه په قرآن کښے دَ اِطعام لفظ استعمال شوے دَے چه دَ هغے مطلب خوراک ورکول هم دَی اوخورَول هم دَی، لیکن مالکیان، شافعیان اوحنبلیان دَ پنځه غلّے خورَولونه صحیح نهٔ وائی بلکه غلّه ورکول ضروری ګڼری ۔ په غلّه ورکولو کښے په دَے خبره اتفاق دَے چه هغه غلّه ورکول پکار دی چه هغه دَ هغه علاقے دَ عامو خلقو خوراک وی ۔ او ټولو مسکینانوته برابر برابر ورکول پکار دی ۔

هـ ۔ دَ حنفیانو په نزکه یومسکین له شپیته وُړځے خوراک ورکړے شی نوداهم صحیح دی، البته داصحیح نهٔ دی چه په یوه وړځ هغه ته دَ شپیتو وړځو خوراک ورکړے شی ۔ لیکن باقی درے واړه مذهبونه یو مسکین له ورکول صحیح نهٔ ګڼری ۔ دَ هغوی په نن شپیتو مسکینانوله ورکول ضروری دی ۔ او داخبره په څلورواړو مذهبونوکښے جائز نهٔ دی چه شپیتو کسانوله دیو وخت او نورو شپیتو کسانوله دَ بل وخت خوراک ورکړے شی ۔

و ۔ داخبره په څلورو واړو مذهبونوکښے په یومذهب کښے هم جائز نهٔ دی چه سړے دیرش

ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۭ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ
عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَاۗدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا

داحکم ځکه کیږی چه تاسو په الله اود هغه په رسول باندې ایمان راوړئ[۱۲]۔ دا د الله مقرر کړے شوی حدُونه دی ۔ او د کافرانو د پاره دردناکه سزا ده[۱۳]۔ کوم خلق چه د الله او د هغه د رسول مخالفت کوی[۱۴] هغوی به هغسے خوار

وُرځې روژے اُونیسی او دیرشو مسکینانو له خوراک ورکړی ۔ دوه کفّارے نهٔ شی جمع کیدے ۔ که روژے نیسی نو پوره دوه میاشتے مسلسل روژے نیول پکار دی ۔ اوکه خوراک ورکول وی نو شپیتو مسکینانو له د خوراک ورکړے شی ۔

ز ۔ اگرچه په قرآن مجید د طعام د کفّارے په حقله دا الفاظ نهٔ دی استعمال کړے شوی چه داکفّاره هم د لاس ورورلونه مخکښے اداکول پکار دی، لیکن د مخکینی کلام نه دا اندازه معلومیږی چه دَدے د ریمے کفّارے سره به هم داشرط خامخا وی ۔ داوجه ده چه څلور واړو اِمامانو دے خبرې ته جائز نهٔ دی وئیلی چه د طعام د کفّارے په دوران کښے د سړے بنځه له ورشی ۔ البته فرق دا دے چه که څوک داسے اوکړی نو د هغه په حقله د حنبلیانو داحکم دے چه هغه به بیا د دَنوی سره نه خوراک ورکوی ۔ اوحنفیان په دے معامله کښے رعایت کوی، ځکه چه د دَدے د ریمے کفّارے په معامله کښے د مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَاۗسَّا الفاظ نشته اوپه دے وجه په دے کښے د رعایت گنجایش شته دے ۔

داحکمونه د فقهے دلاندینو کتابونو نه را اخستے شوی دی: حنفی فقه: هدایه ۔ فتح القدیر۔ بدائع الصّنائع۔ احکام القرآن للجصّاص ۔ فقه شافعی: المنهاج للنّووی مع شرح مُغنی المحتاج ۔ تفسیر کبیر۔ فقه مالکی: حاشیه الدّسُوقی علی الشرح الکبیر۔ بدایة المُجتهد ۔ احکام القرآن ابن عربی۔ فقه حنبلی: المُغنی لابن قدامه ۔ فقه ظاهری: المُحَلّٰی لابن حَزم ۔

۱۲ دلته د "ایمان راوړلونه" مُراد ریښتینی اومخلص مومن پشان عمل کول دی ۔ بنکاره خبره ده چه په آیت کښے خبره د کافرانو او مُشرکانو نه نهٔ ده، بلکه مسلمانانو نه ده چه د مخکښے نه ئے ایمان راوړے دے ۔ هغوی نه د شریعت د یوحکم اورَولونه روستو د فرمائش چه "داحکم تاسو نه ځکه کیږی چه تاسو په الله اود هغه په رسُول باندې ایمان راوړی" صفا دا معنیٰ لری چه کوم سړے د دے حکم د اوریدلونه روستو هم د جاهلیت په ریواجی قانون پسے روان وی نو د هغه داعمل به د ایمان خلاف وی ۔ دَیو مومن دا کار نهٔ دے چه هرکله الله اود هغه رسول د ژوند په یوه معامله کښے د هغه د پاڼ یو قانون مقرر کړی نو هغه د هغه پریږدی اود دُنیا په بل قانون پسے د روان شی، یا د د خپل نفس په خواهشاتو باندې عمل کوی ۔

۱۳ دلته د کافرانو نه مُراد هغه انسان نهٔ دے چه هغه د خدائے او د رسالت نه مُنکر وی، بلکه هغه انسان ترمُراد دے چه هغه خدائے اورسول منی خو عمل نے د کافر پشان وی ۔ یعنی د دے حکم دا مطلب دے چه په اصل کښے دا د کافرانو کار دے چه د الله اود هغه د رسُول د حکم اوریدو نه روستو هم خپله مرضا کوی، یا د جاهلیت په طریقو باندې روان وی ۔ کنئ نوچاچه د زړه په صدق سره ایمان راوړے وی هغه هیڅکله داسے نشی کولے ۔ هم داخبره په سورۂ آل عمران کښے

كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ
عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا
عَمِلُوْا ۭ اَحْصٰىهُ اللّٰهُ وَنَسُوْهُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝ ع

اوذلیله کړے شی لکه څنګه چه دَ هغوی نه مخکینی خلق خوارا وذلیله کړے شوی دی۔ مونږ صفا صفا آیتونه نازل کړی دی، اودَ کافرانودَ پاره دَ ذلّت عذاب دے۔ په هغه ورځ (به داذلت عذاب وی) کله چه الله هغوی ټول راژوندی کړی اوهغه هرڅه ورته اوښائی کوم چه هغوی کړی دی۔ دَ هغوی نه هیر شوی دی خو الله دَ هغوی ټول عملونه په شمار شمار سنبال سائلی دی اوالله په یوپوځیز باندِ نظر لرونکے دے۔ ع

دَ حج دَ فرضیت دَ حکم نه روستو فرمائیلے شوی دہ چه وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ "او چه څوک کفراوکړی (یعنی په دے حکم عمل اونه کړی) نوالله دَ دُنیا دَ خلقونه بے نیازه دے" په دے دواړو ځایونوکښے دَ کفر معنی دا نه دہ چه کوم سړے دَ ظِهار کولونه روستو کفاره ادا نه کړی اودَ بنځے سره تعلق قایم اوساتی، یا داخیال اوکړی چه دَ ظِهار سره بنځه طلاقه شوی ده، یا ئے طاقت کیږی اوج اونه کړی، نوهغه ټه دِ دَ شرعے قاضی کافر اومرتد اووائی او ټول مسلمانان دِ هغه دَ اسلام نه خارج اوګڼی، بلکه دَ دے معنی داده چه دَ الله تعالیٰ سره داسے خلق په مومنانوکښے شمار نه دی چه هغوی دَ الله حکم په قول یا په عمل سره رد کړی اودَ دے خبری هیڅ پروا اونه لری چه دَ هغه پروردګار دَ هغه دَ پاره کوم حدونه مقرر کړی دی، کوم څیزونه فرض کړی دی، کوم څیزونه حلال کړی دی اوکوم څیزونه حرام کړی دی۔

۱۴ دَ مخالفت کولونه مُراد دَ الله مقرر کړے شوی حدونه نه منل اودَ هغے په خلاف څه نور حدونه مقرر ول دی۔ ابن جریر طبری دَ دے آیت دا تفسیر کوی: اَیْ يُخَالِفُوْنَ فِيْ حُدُوْدِهٖ وَفَرَائِضِهٖ فَيَجْعَلُوْنَ حُدُوْدًا غَيْرَ حُدُوْدِهٖ۔ "یعنی هغه خلق چه هغوی دَ الله دَ حدونو اودَ هغه دَ فرائضو په معامله کښے دَ هغه مخالفت کوی اودَ هغه دَ مقرر کړے شوو حدونو په خلاف نور حدونه مقرر وی"۔ بیضاوی دَ دے تفسیر داکړے دے: اَیْ يُعَادُوْنَهُمَا وَيُشَاقُّوْنَهُمَا اَوْ يَخْتَارُوْنَ حُدُوْدًا غَيْرَ حُدُوْدِهِمَا۔ "یعنی دَ الله اودَ هغه دَ رسُول سره دُشمنی اوجګړه کوی، یادَ هغه دَ مقرر کړے شوو حدونو نه سوا نور حدونه پخپله جوړ وی، یادَ بل چا جوړ کړے شوی حدونه اختیار وی"۔ آلوسی په رُوح المعانی کښے دَ بیضاوی دَ دے تفسیر سره اتفاق کړے دے اودَ شیخ الاسلام سعدالله چلپی دا قول ئے نقل کړے دے چه "په دے آیت کښے دَ هغه بادشاهانو اوحاکمانو دَ پاره سخت وعید دے چه هغوی دَ شریعت دَ مقرر کړے شوو حدونوخلاف خپل حکمونه دَ ځان نه جوړ کړی دی اوهغے له ئے دَ قانون مرتبه ورکړی ده"۔ دلته علامه آلوسی دَ شرعی قانون

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ مَا يَكُوْنُ

آیاتہ[۱۵] خبرنہ ئے چہ د زمکے او آسمانونو د هر څیز علم الله ته دے۔ هیڅکله داسے نہ وی چہ

په مقابله کښے د جوړکړے شوی قانون په آئینی (یعنی د اسلام په نظر سره په آئینی) حیثیت باندِ ښه په تفصیل سره بحث کړے دے او لیکی:

"د هغه سړی په کفر کښے خو هیڅ شک نشته چه د دے قانون (یعنی د ځان نه جوړکړے شوی قانون) ته ښه او د شریعت په مقابله کښے غوره وائ، او وائ چه دا پیرۍ حکمت نه پوک دے او د قوم د پاره زیات مناسب او موزون دے، او هرکله چه په یوه معامله کښے هغه ته اوریلے شی چه د شریعت حکم په دے باره کښے داد دے نو په هغے باندِ غصّه شی، لکه څنګه چه مونږه ځینی هغه کسان لیدلی دی څوک چه د الله په لعنت کښے پراته دی"۔

۱۵ په اصل کښے لفظ کُبِتُ استعمال شوے دے چه معنیٰ ئے ده رسوا کول، هلاکول، لعنت لیږل، د دربار نه شړل، په ډیکوډیکو بهرا ایستل، خوار او ذلیله کول۔ د آیت مُدّعا داده چه د الله او د هغه د رسول د مخالفت کولو او د هغه د حکمونو نه د بغاوت کولو چه کوم انجام د مخکینو پیغمبرانو اُمّتونو لیدلے دے د هغے نه به هغه مسلمانان هرکزبچ نشی چاچه د هغوی پشان لار خپله کړه۔ مغزی چه کله د خدائ ئے د شریعت نه خلاف پخپله قانون جوړکړو، یا ئے د بل چا جوړ کړے قانون خوښ کړو نو پس د هغے هغوی د الله د فضل او مهربانئ نه محرومه شو، او د هغے نتیجه داشوه چه د هغوی په ژوند کښے داسے گمراهی، بد عملی او بد اخلاقی شروع شوه چه آخر هغوئ ئے هم په دے دُنیا کښے خوار او ذلیله پاتے کړل۔ اُوس که چرے هم داغلطی د محمد اُمّتیانو اُوکړه نو دا کیدے نشی چه دوئ به د خدائ ئے په دربار کښے مقبول وی او خدائ ئے به ئے د ذلّت کندِ ے ته د غورزید ونه ساتی۔ د الله تعالیٰ نهٔ د مخکینو رسولانو د اُمّتیانو سره څه دُشمنی وه او نهٔ ئے د دے رسول د اُمّتیانو سره څه خاصه رشته ده۔

۱۶ په وړاندِ روستو عبارت باندِ چه سړے غور اُوکړی نو دا خبره تر معلومیږی چه د الله د دے عمل د دوُ سزا گانو ذکر دے۔ یوکُبِتُ، یعنی هغه خواری او رسوائ چه په دے دُنیا کښے اُوشوه اووِی به۔ دویم عذابِ مُهین، یعنی د ذلّت هغه عذاب چه په آخرت کښے به وی۔

۱۷ یعنی د هغوی په هیرَ ولو سره معامله ختمه شوی نهٔ ده۔ د هغوی د پاڼ د خدائ نافرمانی او د خدائ د حکمونو خلاف ورزی یو داسے معمولی څیز کیدے شی چه یاد قدرله ئے هم اُونهٔ ساتی، بلکه هدوگناه ئے هم اُونهٔ گڼړی چه کینی څه پروائے اُولړی۔ لیکن د خدائ په نزد داسے څه معمولی څیز نهٔ دے۔ د هغه سره د هغوئ هرعمل لیکلے شوے دے۔ کوم سړی چه کله او په کوم ځائے کښے، یو کار اُوکړو، د هغه کار نه روستو د هغه خپل رَدّ عمل څه وُو او د هغه د عمل نتیجے په کوم کوم ځائے کښے او په کوم شکل کښے را اُوتے، دا ټول هرڅه د الله په دفتر کښے لیکلے شوی دی۔

۱۸ د دے ځائے نه د لسم آیت پورے مُسلسل د منافقانو په هغه عمل بحث شوے دے کوم چه هغوی په هغه وخت کښے

مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ اِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ
وَلَآ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ۚ ثُمَّ
يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝
اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا نُهُوْا

دَ دریو کسانو ترمنځه دَ غوږ خبری وی او الله ورسره څلورم نهٔ وی، یا دَ پنځو کسانو ترمنځه دَ غوږ خبری وی او الله ورسره شپږم نهٔ وی[۱۹]۔ څوک چه پټې خبری کوی خواه که هغه دَ دے نه کم وی او که زیات، او په هرځای کښے چه وی، الله دَ هغوی سره[۲۰] وی۔ بیا به دَ قیامت په ورځ الله هغوی ته اُوښا لی چه هغوی څه عمل ونه کړی دی۔ الله دَ هرڅیز علم لری۔ آیا تا اُونهٔ لیدل هغه خلق چه هغوی دَ غوږ دَ خبرونه منع کړے شوی وُو بیا هم هغوی هغه کار کوی چه دَ کوم نه

په مسلمانانو کښے شروع کړے وُو۔ هغوی په ظاهره دَ مسلمانانو په ډله کښے شامل وُو، خو دننه دننه ئے دَ مومنانونه جُدا یوه ډله جوړه کړی وه۔ مسلمانانو به هر وخت هغوی لیدل چه یو بل ته به ئے سرونه نزدے کړی وُو او دَ غوږ خبری به ئے کولے۔ په دے خبرو کښے به هغوی په مسلمانانو کښے دَ بے اتفاقئ پیدا کولو اود فتنے راپورته کولو اود یرے خور ولو قسما قسم منصوبے جوړ ولے او نوی نوی افواګانے به ئے خور ولے۔

۱۹ ته ډاخبره په زړه کښے راځی چه دلته ئے دَ دُو اود دریو په ځای دَ پنځه په څه وجه وئیلی دی؟ اولنی دوه او بیا څلور ئے ولے پریښودی دی؟ مفسرینو دَ دے پرجوابونه کړی دی، لیکن زمونږ په نن صحیح خبره دا ده چه دا قسم بیان په اصل کښے دَ قرآن مجید دَ عبارت دَ اُدبی حُسن دَ برقرار ساتلو دَ پاره اختیار کړے شوے دے۔ که چرے دا سے طرز نهٔ وے اختیار کړے شوے نو عبارت به دا سے وے: مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى اثْنَيْنِ اِلَّا هُوَ ثَالِثُهُمْ وَلَا ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ په دے کښے به نَجْوٰى اثْنَيْنِ هم څه بنایسته ترکیب نهٔ وے۔ اوثَالِثُ اوثَلٰثَةٍ به هم په یو بل پسے بے مزے وے۔ هم دا بدرنګی به دَ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ نه روستو په وَلَآ اَرْبَعَةٍ وینا کښے هم وے۔ په دے وجه دَ دریو اود پنځو کسانو ذکر کولو نه روستو په دویمه فقره کښے دا کیے په دے وینا سره پوره کړے شو چه وَلَآ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ، کوم کسان چه پټې خبری کوی هغوی که دَ دریو نه کم وی یا دَ پنځو نه زیات، په هرحال کښے الله دَ هغوی سره موجود وی۔

۲۰ ته دا ملګرتیا په حقیقت کښے دَ الله تعالیٰ دَ علیم او خبیر، دَ سمیع او بصیر او دَ قادر مطلق په حیثیت سره ده، نهٔ چه معاذ الله په دے معنیٰ کښے ده چه الله کښی یو کس دے چه دَ پنځو کسانو په منځ کښے دَ شپږم کس په حیثیت سره چرته پټ ناست وی۔ په اصل کښے دَ دے وینا مقصد دا دے چه دَ خلقو سره دا فکر پیدا شی چه که هغوی هرڅومره په محفوظ ځایونو کښے پټې خبری کوی، دَ هغوی خبری دَ هټو لے دُنیے نه

عَنْهُ وَيَتَنٰجَوْنَ بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ
الرَّسُوْلِ ۫ وَاِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ
بِهِ اللّٰهُ ۙ وَيَقُوْلُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا
نَقُوْلُ ۭ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝۸

هغوی منع کړے شوی وُو؟ داخلق په خپل منځ کښے پټے پټے د ګناه اود زیاتی اود رسول د نافرمانئ خبری کوی، اوچه کله ستا خواله راځی نو تاته په هغه طریقه سلام کوی چه په کومه طریقه الله په تا باندِ سلام نه دے کړے[۲۲] اوپه خپلو زړونوکښے وائی چه زمونږه په دے خبرو باندِ الله مونږ له عذاب ولے نه راکوی[۲۳] ۔ د هغوی د پاره دوزخ کافی دے ۔ هم د هغے خشاک به وی ۔ ډیر خراب انجام دے د هغوی

پټیدے شی خو د الله نه نشی پټیدے، اوهغوئ د دُنیا د هر طاقت نه بچ کیدے شی خو د الله د ګرفت نه نشی بچ کیدے ۔

۲۱ د دے نه معلومیږی چه د دے آیت د نازلیدونه مخکښے نبی صلی الله علیه وسلم هغوی د دے قسم کارنه منع کړی وُو، په دے باندِ هم چه کله هغوی منع نه شو نو پس د هغے پرِ نیغ په نیغه د الله د طرفنه دا د قهر فرمان نازل شو ۔

۲۲ دا د یهودیانو او د منافقانو شریکه طریقه وه ۔ په ګنړو روایتونوکښے داخبره راغلی ده چه څه یهودیان د نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شوا وهغوی اُووئیل چه السام علیك یا ابا القاسم ۔ یعنی السلام علیك ئے په داسے انداز اُووے چه اوریدونکے والئ چه سلام ئے اُووے، حوپه اصل کښے هغوی سام وئیلے وُو چه معنیٰ ئے ده مرګ ۔ په جواب کښے نبیؐ اُوفرمائیل علیکم ۔ حضرت عائشهؓ پینګه نه شوه اوورته ئے اُووئیل چه مرګ دِ تاسو له راشی اوپه تاسو دِ د الله لعنت وی ۔ نبیؐ حضرت عائشےؓ ته اُوفرمائیل، بَده خُله خوزَوَل د الله خوښه نه ده ۔ حضرت عائشےؓ عرض اُوکړو چه اے د الله رسوله، تا وانوریدل چه هغوی څه اُووئیل؟ نبیؐ اُوفرمائیل اوتا وانوریدل چه ما ورله څه جواب ورکړو؟ ما هغوئ ته اُووئیل " اوپه تاسو دِ هم وی" (بخاری ، مسلم ، ابن جریر ، ابن ابی حاتم) ۔ د حضرت عبدالله بن عباس بیان دے چه منافقانو او یهودیانو دواړو د سلام دا طریقه اختیار کړی وه (ابن جریر) ۔

۲۳ یعنی هغوی په خپل نز داخبره د دے د پاره دلیل ګنړلو چه محمدؐ رسول نه دے ۔ د هغوی داخیال وُو چه که چرے د دے رسول وے نو څه وخت چه مونږه هغه ته په داسے طریقه سلام کړے وے نو په هغه وخت به په مونږه عذاب راغلے وے ۔ اُوس چونکه عذاب نه راځی، اومونږه شپه ورځ د غسے کوُو، نو معلومه شوه چه دا رسول نه دے ۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝ اِنَّمَا النَّجْوٰى مِنَ الشَّيْطٰنِ لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيْسَ بِضَاۗرِّهِمْ شَيْـــًٔا اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

اے هغو خلقو چه ایمان مو راوړے دے، کله چه تاسو په خپل منځ کښے پټے پټے خبرې کوئ نو دَ ګناه اودَ زیاتی اودَ رسول دَ نافرمانئ خبرې مه کوئ بلکه دَ نیکئ اودَ تقوىٰ خبرې کوئ اودَ هغه خدائے نه یره کوئ چه هغه ته به تاسو په حشر کښے پیش کیږئ[۲۴] ۔ دغه د خبرې خویو شیطانی کار دے، او دا دَ دے دَ پاره کیږی چه مومنان خلق پرغمژن شی حالانکه بغیرَ د خدائے دَ اجازت نه هغه هغوئ ته هیڅ نقصان هم نشی رَسولے اومومنانو له په الله باندِ بروسه ساتل

۲۴ دَ دے نه معلومه شوه چه نَجْوٰی (یعنی په خپل منځ کښے دَ راز خبرې کول) څه منع نه دی، بلکه دَ دے دَ جائز کیدو یا ناجائز کیدو دار و مدار دَ هغه خلقو په عمل باندِ دے څوک چه دا سے خبرې اُوکړی، او په هغه حالاتو باندِ دے چه په کومو حالاتو کښے دا سے خبرې اُوشی، اودَ هغه خبرو په نوعیت باندِ دے کوم چه په دے طریقه اُوشی ۔ دَ کومو خلقو اخلاص اوصداقت او پاک عمل چه خلقو ته معلوم وی، هغوی چه په یوځائے کښے سرونه یوځائے کړی وی او خبرې کوی نو دَ هیڅا داشک نه پیدا کیږی چه هغوی کښی څه دَ شرارت منصوبه جوړه وی۔ دَ دے برخلاف دَ کومو کسانو شراو بد عملی چه خلقو ته معلومه وی، هغوی چه دَ غور خبرې کوی نو دَ هر سړی په زړه کښے داشک را پیدا کیږی چه ضرور دَ څه نوے فتنے تیاری شروع ده ۔ دغه شان چه چرته اتفاقی طور دوه څلور کسان په خپلو کښے په څه معامله باندِ په پټ انداز کښے خبرې اُوکړی نو دا قابلِ اعتراض خبره نه ده ۔ لیکن که څه کسانو څان له خپله یوه ډله جوړه کړی وی اودَ هغوی مستقل کار داوی چه همیشه دَ مسلمانانو نه جُدا په خپل منځ کښے پټے پټے خبرې کوی نو دا لازماً دَ خرابئ بُنیاد دے ۔ که نور هیڅ نه وی نو کم نه کم نقصان ئے دا دے چه په دے سره په مسلمانانو کښے دَ پارتی بازئ بیماری خوریږی ۔ دَ دے ټولونه زیات چه کوم څیز دَ نَجْوٰی دَ جائز کیدو او ناجائز کیدو فیصله کوی هغه دَ هغه خبرو نوعیت دے کوم چه دَ نَجْوٰی کښے اُوکړے شی ۔ دوه کسان که دَ دَ دے دَ پاره په خپل منځ کښے پټے خبرې کوی چه دَ یوے جګړے فیصله اُوکړی، یا چاله حق ورکړی، یا په یوبیک کار کښے حصّه واخلی، نو دا څه بد کار نه دے بلکه دَ ثواب کار دے ۔ دَ دے برعکس که دوه کسان دَ دے غرض دَ پاره پټے خبرې کوی چه څه فساد را پورته کړی، یا دَ چا حق اُووهی، یا دَ ګناه څه کار اُوکړی، نو بنکاره خبره ده چه دا یو بد کار دے اودَ دے دَ پاره نَجْوٰی کول دَ بد و دَ پاسه بد کار دے ۔

نبی صلی الله علیه وسلّم چه په دے سلسله کښے دَ مجلس کوم آداب بنودلی دی هغه دا دی چه اذا کنتم ثلاثة فلا یتناجیٰ اثنان دون صاحبهما فان ذالك یحزنه ۔ "چه درے کسان ناست وی نو دوه کسان دِ په خپلو کښے

الْمُؤْمِنُوْنَ ⑩ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِى
الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَاِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا

پکار دی۔[۲۵]

اے مومنانو، کله چه تاسوته اُووئیلے شی چه په خپلو مجلسونو کښے فراخی پیدا کړئ نو فراخی[۲۶] ځائے فراښه کوئ، الله به تاسوته فراښی نصیب[۲۷] کړی۔ اوکله چه تاسوته اووئیلے شی چه پاسئ نوپیا پاسئ

پتے پتے خبری نه کوی، څکه چه دا به د دریم کس د غمژن کید و سبب وی۔" (بخاری۔ مسلم۔ مسند احمد۔ ترمذی۔ ابوداؤد)۔ په دویم حدیث کښے د نبیؐ الفاظ دادی فلا یتنا جیٰ اثنان دون الثالث الا باذنه فان ذالك یحزنه۔ "دوه کسان د دریم د اجازت نه بغیر په خپلو کښے پتے پتے خبری نه کوی، څکه چه دا به د هغه د غمژن کیدو د پاره سبب شی۔" (مسلم)۔ دے ته هم ناجائزه نجوٰی وئیلے شی چه دوه کسان د دریم سړی په موجودګئ کښے په داسے ژبه کښے خبری شروع کړی چه هغه پرے نه پوهیږی۔ اوددے نه هم زیاته ناجائزه خبره داده چه هغوی د غوږ د خبرو په دوران کښے چاته په داسے طریقه اوګوری یا داسے اشارے اوکړی چه د هغے نه دا معلومه شی چه د هغوی په ضرر کښے بحث هم د هغه کیږی۔

۲۵ داخبره ددے د پاره شوی ده چه که چرے یو مسلمان ته د چا د غوږ د خبرو نه دا شک هم راپیدا شی چه هغه د هغه خلاف کیږی خو بیا هم هغه له دومره غمژن کیدل نه دی پکار چه تش په شک باندے جوابی کارروائئ فکر شروع کړی، یا په خپل زړه کښے په هغے باندے د غم یا د کینے یا د لوئے پریشانئ بنیاد کیږدی۔ هغه له په دے خبره یقین پکار دے چه د الله د اجازت نه بغیر هیڅوک د هغه هیڅ نشی کولے۔ دا یقین به د هغه په زړه کښے داسے طاقت راپیدا کړی چه د دیرو فضولو فکرونو او خیالی خطرونه به هغه خلاص شی او د شریرانو خلقو به هیڅ پروانه ئ کړی او نه به په اطمینان او آرام سره به خپل کار کوی کوم مومن چه په الله باندے بروسه لری هغه نه تلوار کونکے وی چه په هر خبره پریشانه کیږی، او نه ځکه انسان وی چه د غلط خلقو په مقابله کښے په غصه شی او په خپله هم د بے انصافئ کارونه شروع کړی۔

۲۶ ددے تشریح د سورۃ په دیباچه کښے شوی ده۔ ځینو مفسرینو دا حکم صرف د نبی صلی الله علیه وسلم د مجلس پورے محدود ګڼلے دے۔ لیکن لکه څنګه چه امام مالکؒ فرمائیلی دی، صحیح خبره داده چه د مسلمانانو د ټولو مجلسونو د پاره دا یو عام هدایت دے۔ الله او د هغه رسول چه مسلمانانو ته کوم آداب ښودلی دی په هغے کښے یوه خبره داهم ده چه هر کله په یو مجلس کښے د اوّل نه څوک ناست وی او روستو څوک نور خلق راشی نو اولنو خلقو له پکار دی چه هغوی پخپله غوندے را غوندے شی او نوو را تلونکو خلقو ته ځائے پریږدی، او روستو را تلونکو خلقو له هم پکار دی چه هغوئ د بل د پاسولو او د هغه په ځائے د کیناستو کوشش نه کوی۔ په حدیث کښے د عبدالله بن عمرؓ او د حضرت ابوهریرهؓ روایت دے چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی لا یقیم الرجل الرجل من مجلسه

يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ⑪ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ۭ ذٰلِكَ

پہ تاسوکښے چہ کوم خلق ایماندار دی اوعلم ورکړے شوے دے ، اللہ بہ ھغوی لہ اُوچتے مرتبے ورکړی ، اوڅہ چہ تاسوکوئ اللہ ډھیخ نہ خبر دے ۔

اے ھغہ خلقو چہ ایمان مو راوړے دے ، تاسو چہ کلہ د رسول سرہ پټے خبرے کوئ نو د خبرو کولو نہ مخکښے څہ صدقہ ورکړئ ۔ دا کار

فیجلس فیہ ولکن تفسحوا وتوسعوا ۔" ھیڅوک دِ بل د خپل ځائے نہ نۂ پاسوی بلکہ تاسو پخپلہ د بل د پارہ ځائے فرابنہ کوئ " (مُسندِ احمد ۔ بخاری ۔ مُسلم) ۔ اود حضرت عبداللہ بن عمرو بن عاص روایت دے چہ نبیٔ فرمائی ، لا یحل لرجل ان یفرق بین اثنین الا باذنھما ۔ د ھیچا د پارہ دا حلال نۂ دی چہ د دوٗو کسانو پہ منځ کښے د ھغوی د اجازت نہ بغیر ورننوزی " (مُسندِ احمد ، ابوداوٗد ۔ ترمذی) ۔

۲۷ د عبدالرحمٰن بن زید بن اسلم بیان دے چہ خلق بہ د نبی صلی اللہ علیہ وسلّم پہ مجلس کښے د ډیر وختہ پوړے ناست وُو او د ھغوی بہ دا کوشش وُو چہ د آخر وختہ پورے کینی ۔ دَدے نہ بہ اکثر نبیٔ تہ تکلیف وُو ، د ھغہ پہ آرام کښے بہ ھم خلل را تلو او پہ کارونو کښے بہ ھم ۔ پہ دے باندے دا حکم نازل شو چہ کلہ تاسو تہ اُوویلے شی چہ پاسئ نو بیا پاسئ (ابن جریر و ابن کثیر) ۔

۲۸ یعنی دا ھغہ ګنړئ چہ کلہ چرے تاسو د رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلّم پہ مجلس کښے بل چاتہ د ځائے د ورکولو د خاطرہ د نبیٔ نہ لږ لرے کیناستئ نو کښے ستاسو مرتبہ کمہ کړے شوہ ، یا کہ د مجلس د ختمیدو نہ روستو تاسو تہ د پاسیدو د پارہ اُوویلے شو نو کښے ستاسو ذلت اُوشو ۔ د مرتبے د اُوچتیدو اصل ذریعہ ایمان اوعلم دے نۂ دا چہ چاتہ پہ مجلس کښے د رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم خوا تہ د نزدے کیناستو موقع ملاؤ شوہ ، یا څوک د ډیر وختہ پوړے د ھغہ پہ مجلس کښے کیناستو نو کښے د ھغہ مرتبہ اُوچتہ شوہ ۔ اُوچتہ مرتبہ بہ د ھغہ چاوی چاتہ چہ د ایمان او د علم دولت زیات ملاؤ شوہ ۔ د غہ شان څوک چہ د زیات وخت پوړے کیناستو او د اللہ رسول لہ ئے تکلیف ورکړو نو ھغہ اُلټا د جہالت کار اُوکړو ۔ د ھغہ پہ مرتبہ کښے بہ تش پہ دے خبرہ زیاتے نۂ راځی چہ ھغہ تہ د ډیر وختہ پوړے د نبیٔ سرہ د کیناستو موقع ملاؤ شوہ ۔ دَدے نہ زیاتہ اُوچتہ مرتبہ د اللہ سرہ د ھغہ چا دہ چہ د نبیٔ د مجلس نہ د ایمان او د علم سرمایہ حاصلہ کړہ او ھغہ اخلاق ئے زدہ کړل کوم چہ یو مومن لہ پکار دی ۔

۲۹ حضرت عبداللہ د دے حکم دا وجہ بیانوی چہ مسلمانانو د رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلّم تہ ډیرے زیاتے خبرے (یعنی د پټو خبرو) ټپوسل شروع کړی وُو تر دے پورے چہ رسولؐ ئے تنګ کړو ۔ آخر دا چہ اللہ تعالیٰ دا اُوغوښتلہ چہ د خپل نبی نہ دا بوج سپک کړی (ابن جریر) زید بن اسلم

خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ ۚ فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾
ءَأَشْفَقْتُمْ أَن تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَاتٍ ۚ
فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا وَتَابَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا
الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٣﴾ ع

ستاسو دَ پاره بهتره ده اوزیات پاکیزه دے۔ البته که چرته تاسو دَ صدقے ورکولو دَ پاره څه بیانهٔ مومنۍ نوالله بخښنو نکے مهربانه دے۔

آیا تاسو دَ دے خبرۍ نه اُویږدۍ چه دَ غوښ دَ خبر وکولونه مخکښ به تاسو صدقے ورکوئ؟ ښهٔ نوکه تاسو دا سے نهٔ کوئ ـــــــ او الله تاسو دَ دے نه معاف کړۍ ـــــــ نومونځ قائموئ، زکوٰة ورکوئ او دَ الله او دَ هغه دَ رسول اطاعت کوئ۔ تاسو چه څه کوئ الله دَ هغے نه خبر دے۔ ع

وائ چه نبی صلی الله علیه وسلم ته به چا درخواست اُوکړو چه څما سره ځان له خبرۍ اُوکړه نو هغه به ئے نهٔ ردّ کوُو۔ چه چا به غوښتله هغه به راتلو او عرض به ئے کولو چه څه درسره لږ شان ځان له خبرۍ کول غواړم، او هغه به موقع ورکوله، اَن تردے پورے چه پیرو خلقو به هغه دَ دا سے خبرو دَ پاره هم دَ خلقو نه جُدا کولو چه هغے کښے به دَ جُدا کولو هیڅ حاجت نهٔ وُو۔ دا هغه زمانه وه چه ټول عرب دَ مدینے خلاف جنګیدلو په ځینو وختونو کښے چه به دا قسم دَ غوښ خبرۍ اُوشوے نو شیطان به دَ خلقو په غوږونو کښے دا خبره واچوله چه دهٔ دَ فلانۍ قبیلے دَ طرفنه دَ حملے کولو خبر راوړے وُو او په دے سره به په مدینه کښے دا فوا کا نو بازار کرم شو۔ بل طرفته به دَ خلقو دَ دے حرکت دَ وجے نه منافقانو ته دَ دے ویناموقع ملاویدله چه محمد صلی الله علیه وسلم خو په غوږونو نو کچه دے دَ هر چا خبره اَوري۔ په دے وجه الله تعالیٰ دا پابندی اُولګوله چه څوک ستاسو پټ دَ غوښ خبرۍ کول غواړی نو هغوی دِ اوّل صدقه ورکړی (احکام القرآن لابن العربی)۔ قتاده وائ چه ځینو خلقو به په بل باندِ دَ ځان غټ حسابولو دَ پاره هم دَ نبیؐ سره ځان له جُدا خبرۍ کولے۔

حضرت علیؓ فرمائ چه کله دا حکم راغے نو نبیؐ ځمانه تښوس اُوکړو چه څومره صدقه مقرر کړے شی؟ یو دینار؟ ما عرض اُوکړو چه دا خلق نهٔ شی ورکولے۔ نبیؐ اُوفرمایل چه نیم دینار؟ ما عرض اُوکړو چه خلق دا هم نشی ورکولے۔ بیا ئے اُوفرمایل چه څومره؟ ما عرض اُوکړو بس دَ یوے وربشے هومره سره زر۔ وے فرمایل اِنّكَ لزهيد، یعنی تا خو پرکم مقدار مشوره راکړه۔ (ابن جریر، ترمذی، مُسند ابویَعلیٰ) په یو بل روایت کښے حضرت علیؓ فرمائ چه دا دَ قرآن یو داسے آیت دے چه په دے باندِ ځمانه سوا بل چا عمل نهٔ

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۭ مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ ۙ وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٤﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۭ اِنَّهُمْ سَاۗءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٥﴾ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿١٦﴾ لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

آیا تا اونهٔ لیدل هغه خلق چه داکسان ئے دوستان جوړکړی دی چه په هغوی د الله غضب شوے دے[۳۱]؟ هغوی نهٔ ستاسو دی اونهٔ د هغوئ[۳۲]، اوهغوی قصداً په دروغه قسمونه خوری[۳۳]۔ الله د هغوئ د پاره سخت عذاب تیار ساتلے دے، ډیر خراب کارونه دی هغه چه هغوئ ئے کوی۔ هغوی د خپلو قسمونو نه ډال جوړ کړے دے چه د هغې په پناه کښے د الله د لارې نه خلق منع کوی[۳۴]، په دے باندې د هغوئ د پاره د ذلت عذاب دے۔ د الله نه د هیڅ کولو د پاره به نهٔ د هغوئ مالونه څه پکار راشی او نهٔ د هغوی اولاد

دے کړے۔ د دے حکم د راتلو سره ما صدقه پیش کړه او د نبیٔ نه م د یو ے مسئلے تپوس اُوکړو (ابن جریر، حاکم، ابن المُنذِر، عبد بن حُمَید)۔

۳۰ دا دویم حکم د پاسنی حکم نه لږ موده پس نازل شو او په دے سره د صدقے ورکولو حکم منسوخ شو۔ په دے خبره کښے اختلاف دے چه د صدقے دا حکم څومره موده وُو۔ قتادہ وائی چه د یوے ورځے نه هم د کم وخته پورے وُو یا منسوخ کړے شو۔ مقاتل بن حیّان وائی چه د لسو ورځو پورے وُو۔ دا د زیاتو نه زیاته موده ده چه د دے حکم د باقی پاتے کیدو په حقله په دے روایت کښے بیان شوی دے۔

۳۱ اِشاره ده د مدینے یهودیانو نه چه منافقانو ځان له دوستان جوړکړی وُو۔

۳۲ یعنی د اخلاص تعلق نهٔ د هغوی د مومنانو سره شته او نهٔ د یهودیانو سره۔ د دواړو سره هغوئ تش د خپلو غرضونو د پاره تعلقات جوړ کړی دی۔

۳۳ یعنی په دے خبره باندې چه هغوی ایمان راوړے دے او محمد صلی الله علیه وسلّم ئے خپل مشر منلے دے او د اسلام او د مسلمانانو وفادار دی۔

۳۴ مطلب دا دے چه یو طرفته خو هغوی د خپل ایمان او د خپلے وفادارئ قسمونه خوری او

شَيْءًا ۚ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١٧﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ
اللَّهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلَىٰ
شَيْءٍ ۚ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْكَاذِبُونَ ﴿١٨﴾ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ
فَأَنسَاهُمْ ذِكْرَ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ ۚ أَلَا إِنَّ حِزْبَ
الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ
أُولَٰئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ ﴿٢٠﴾ كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي ۚ إِنَّ اللَّهَ

مغوی د دوزخ ملګری دی، اوهم په هغې کښے به همیشه اوسی ۔ په کومه ورځ چه الله مغوی ټول راژوندی کړی، نو د هغه په مخکښے به هم هغسے قسمونه خوری لکه څنګه چه ستاسو په مخکښے قسمونه خوری او په خپل نن کښے به داګمان کوی چه په دے سره به د هغوئ څه کار جوړشی ۔ خبردار، هغوی غټ دروغژن دی ۔ شیطان په هغوی باندې مسلط شوے دے اود خدائے یاد ئے د هغوی د زړونو نه هیرکړے دے ۔ هغوی د شیطان د ټولے خلق دی ۔ خبردارشه، د شیطان د ټولے خلق به په خساره کښے پاتے وی ۔ یقیناً چه د ټولونه ذلیله مخلوق هغه خلق دی چه هغوی د الله اود هغه د رسول مقابله کوی ۔ الله لیکلی دی چه څه اوځمارسول به خامخا غالب کیږو ۔ بے شکه چه الله

د مسلمانانو د ګرفت نه ځان بچ ساتی ، او بل طرفته د اسلام او د مسلمانانو اود پیغمبر خلاف هرقسم شک شُبهے او وسوسے د خلقو په زړونو کښے را پیدا کوی چه خلق د اِسلام قبلولو نه په وے خیال منع شی چه هرکله د مسلمانانو د "خپلے ټولے خلق" دا خبری کوی نو ضرور به په منځ کښے څه غلط وی ۔

۳۵ یعنی دوئ یوازے په دُنیا کښے اوصرف د مسلمانانو په مخ کښے دروغ قسمونه نه خوری بلکه په آخرت کښے به د الله په مخکښے هم دوئ دروغ قسمونه خوری ۔ دروغ او دوکه په دوئ کښے دومره ننوتی ده چه د مرګ سره به تر هم لرے نه شی ۔

۳۶ د تشریح د پاره اوګورئه تفهیم القرآن څلورم جلد، الصّٰفّٰت، حاشیه ۹۳ ۔

قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢١﴾ لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ
يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ
أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ

زبردست او زُور ور دے۔

تہٗ به هیڅرے دا خبره بیانه ٔ مو ے چه کوم خلق په الله او په آخرت باندِ ایمان لری چه هغوی دَ هغه خلقو سره محبت کوی چا چه دَ الله او دَ هغه دَ رسول مخالفت کړے دے، خواه که هغه دَ هغوی ٔ پلاران وی، که دَ هغوی ٔ ځامن وی، که دَ هغوی رُونړه وی، که دَ هغوی دَ خاندان خلق وی[۳۷]۔ دا هغه کسان دی چه خدائے دَ هغوی په زړونو کښے ایمان لیکلے دے

۳۷ په دے آیت کښے دوه خبری شوی دی۔ یوه خبره اُصولی ده، او بله دَ حقیقت بیان دے۔ اُصولی خبره دا ده چه په حق دین باندِ ایمان لرل او دَ دین دَ ٔ شمنانو سره مینه کول، دوه مخالف څیزونه دی چه په یوځائے کښے په هیڅ حال جمع کیدے نه ٔ شی۔ دا خبره بالکل ناممکنه ده چه په یوزړه کښے دِ ایمان هم وی او دَ خدائے او دَ رسول دَ ٔ شمنانو سره مینه هم، لکه څنګه چه دَ یوسړی په زړه کښے دَ خپل ځان سره مینه او دَ خپل دښمن سره مینه په یووخت جمع کیدے نشی۔ نو که تہٗ یوسړے اُوویني چه هغه دَ ایمان دعوٰی هم کوی او ورسره ورسره هغه دَ داسے خلقو سره دَ مینے تعلق هم جوړ کړے دے چه هغوی دَ اسلام مخالف دی نو په دے هرګز مه ٔ دوکه کیږه چه دَ دے کاروبار باوجود هم هغه دَ ایمان په دعوٰی کښے ربښتینے دے۔ دغه شان چه خلقو دَ اسلام سره او دَ اسلام دَ مخالفینو سره په یووخت تعلق ساتلے دے هغوی دِ پخپله هم په خپل ځان په ښه طریقه غوره ٔ وکړی چه هغوی په حقیقت کښے څه دی، مومنان دی اوکه منافقان؟ او په واقعه کښے مومنان جوړ یدل غواړی اوکه منافقان؟ که چرے په هغوی کښے څه لږ شان هم صداقت موجود وی او څه لږ شان هم دا فکر لری چه په اخلاقی حیثیت سره منافقت دَ انسان دَ پاره دَ ټولو نه زیات ذلیله عمل دے، نو هغوی له پکار دی چه په یووخت په دوٗر کښتو کښے دَ سورید لو کوشش پریږدی۔ ایمان خو دَ هغوی نه صفا واضحه فیصله غواړی۔ که هغوی مومنان اُوسیدل غواړی نو هر هغه تعلق دِ قربان کړی کوم چه دَ اسلام مخالف وی۔ که هغوی ته دَ اسلام نه بل څه غوره ٔ ښکاری نو بهتره خبره داده چه دَ ایمان دروغژنه وعده دِ پریږدی۔

دا خوده اُصولی خبره۔ لیکن الله تعالیٰ دلته صرف په اصولو بیانولو باندِ اکتفا نه ٔ ده کړی بلکه دا حقیقت ئے هم دَ ایمان دَ دعوٰی کیرو په مخکښے دَ ځمونے په طور پیش کړے دے چه کوم خلق ربښتینے مومنان وُو هغوی واقعی هغه ټول تعلقات ختم کړل کوم چه دَ الله دَ دین خلاف وُو۔ دا یودا سے حقیقت وُو چه دَ بدر او دَ اُحد په جنګونو کښے دَ ټول عرب خلقو لیدلے وُو۔ دَ مکّے نه چه کوم صحابه کرام په هجرت راغلی وُو هغوی صرف دَ خدائے او دَ هغه دَ دین دَ خاطره دَ خپلے قبیلے او دَ خپلو رشته دارانو سره جنګیدلی وُو۔

الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ۭ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ۭ اُولٰۗىِٕكَ حِزْبُ اللّٰهِ ۭ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۲۲﴾

اودَ خپل طرفنه ئے هغوی له په یورُوح سره طاقت ورکړے دے۔ هغه به هغوی داسے جنّتونو ته ور ننباسی چه لاندے به ترِ نهرونه بهیږی۔ په هغے کښے به هغوی همیشه وُسی۔ اللّٰه دَ هغوئ نه راضی شواوهغوئ دَ اللّٰه نه راضی شول۔ هغوی دَ اللّٰه دَ پاره خلق دے۔ خبردار شئ چه دَ اللّٰه دَ پاره خلق فلاح موندونکی دی۔ ع

حضرت ابوعبیده خپل پلار عبداللّٰه بن جرّاح قتل کړو۔ حضرت مُصْعَب بن عُمَیر خپل رُور عبید بن عُمَیر قتل کړو۔ حضرت عُمرؓ خپل ماما عاص بن هِشام بن مُغیره قتل کړو۔ حضرت ابوبکر دَ خپل حوئے عبدالرحمٰن سره جنګ کولوته تیار شو۔ حضرت علی، حضرت حمزه، او حضرت عبید بن الحارث خپل نزدے رشته داران عُتبه، شَیْبه او ولید بن عُتبه قتل کړل۔ حضرت عُمر دَ جنګ بدر دَ قید یانو په معامله کښے رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم ته عرض اُوکړو چه دا ټول دِ قتل کړے شی اوموبزه هریودِ خپل خپل رشته دار قتل کړو۔ هم په دے جنګ بدر کښے یوانصاری دَ حضرت مُصعَب بن عُمَیر سکه رُور ابوعَزیز بن عُمَیر اُونیوُو اوبیا ئے ترلو۔ حضرت مُصعَب چه هغه اُولید و نوآواز ئے ورته اُوکړو" بنسه کلک ئے اُوتړه، دَدهٔ مُور دِ بیره مالداره ده، هغه به درله دَده په بدله کښے ډیره فدیه درکړی"۔ ابو عزیز اُووئیل "تهٔ زِم رُورئے اودا خبری کوے"؟ حضرت مُصعَب ورته په جواب کښے اُووئیل "په دے وخت کښے تهٔ زما رُور نهٔ ئے بلکه دا انصاری زما رُور دے چه تهٔ ئے نیولے ئے"۔ هم په دے جنګ بدر کښے پخپله دَ نبی صلی اللّٰه علیه وسلّم خُوم ابوالعاص اُونیوے شواودَ هغه سره دَ نبیؐ دَ خُوځوالئ په وجه دَ نورو قیدیانونه هیڅ بدل سلوک اونهٔ کړے شو۔ دغه شان په حقیقت کښے دُنیاته دا ښودلے شوی وه چه مخلص مسلمانان څنګه وی اودَ اللّٰه اودَ هغه دَدین سره دَ هغوی تعلق څنګه وی۔

وَیُلْمِی دَ حضرتِ معاذ دَروایت نه دَ رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم دا دُعا نقل کړی دهٔ چه اللّٰهم لا تجعل لفاجر (وفی روایةٍ لفاسق) علیّ یداً ولا نعمة فیردّه قلبی فانی وجدت فیما اوحیتَ الیّ لا تجدُ قوماً یؤمنون باللّٰه والیوم الآخر یوادّون من حادّ اللّٰه ورسولهٔ۔" اے خدایه، دَ یوفاجر (اوپه یوروایت کښے دَ یوفاسق) په ما باندِ څه احسان مهٔ را اړوے چه زما په زړه کښے دَ هغه دَ پاره څه محبت پیدا شی۔ ځکه چه تا کومه وحی په ما نازله کړی ده په هغے کښے دا خبره هم ده چه کوم خلق په اللّٰه او په ورځ دَ آخرت ایمان لری تهٔ به هغوئ داسے اُونهٔ وینے چه دَ اللّٰه اودَ رسول دَ مخالفو خلقو سره به محبّت اُوکړی"۔

تفهيم القرآن

الحشر

٥٩

الحَشر

نوم | د دویم آیت د فقرے اَخْرَجَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْکِتٰبِ مِنْ دِیَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ نه دَدے سورۃ نوم اغستلے شوے دے ۔ مطلب داد ے چه دا هغه سورۃ دے چه لفظ حشر پکښے راغلے دے ۔

د نازلیدو زمانه | په بُخاری اومُسلم کښے د حضرت سعید بن جُبیر روایت دے چه ما د حضرت عبدالله بن عباسؓ نه د سورۃ حشر په حقله تپوس اُوکړو نوهغه اُوویل چه دا د غزوۂ بنی نضیر په باره کښے نازل شوے وُو لکه څنګه چه سورۃ انفال د غزوه بدر په باره کښے نازل شو ۔ د حضرت سعید بن جُبیر په دویم روایت کښے د ابن عباس رضی الله عنه الفاظ دا دی چه قُلْ سُوْرَةُ النَّضِیْر یعنی دا سے اُووایه چه دا سورۃ نضیر دے ۔ هم دا خبره د مُجاهد ، قَتَاده ، زُهری ، ابن زید ، یزید بن رُومان اود محمد بن اسحاق نه هم روایت کړے شوی ده ۔ دَدے ټولو بیان دا دے چه په دے کښے د کومو اهل کتابو د ایستلو ذکر دے د هغوی نه مُراد بنی نضیر دی ۔ د یزید بن رُومان ، مُجاهد اود محمد بن اسحاق قول دا دے چه د اوّل نه د آخره پورے دا ټوله سورۃ هم د دے غزا په باره کښے نازل شوے دے ۔

اُوس پاتے شوه دا خبره چه دا غزا کله شوی وه ؟ امام زُهری په دے خبره د عُروه بن زُبیر په حواله سره ویلی دی چه دا واقعه د جنګ بدر نه شپږ میاشتے روسته شوی ده ۔ لیکن ابن سعد ، ابن هشام او بلاذُری وائی چه دا واقعه د څلورمے هجرۍ په ربیع الاوّل میاشت کښے شوی ده ، اوهم دا صحیح ده ۔ ځکه چه ټول روایتونه په دے خبره متفق دی چه دا غزا د بئرِ مَعُونه د واقعے نه روسته شوی وه ، اود دا خبره هم تاریخی طور ثابته ده چه د بئرِ مَعُونه واقعه د جنګ اُحُد نه روسته هم شوی ده نه اُوچه مخکښے ۔

تاریخی حالات | د دے سورۃ په مطلب باندے د څان پوهه کولو د پاره ضروری ده چه د مدینے اود حجاز په تاریخ باندے یو نظر واچولے شی ، ځکه چه د دے نه بغیر سړی نه ښه ښه د انشی معلومیږے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په آخر کښے د مخالفو قبائیلو سره کومه معامله اُوکړه چه د هغے حقیقی اسباب څه وُو ۔

د عربو د یهود یانو څه مستند تاریخ په دُنیا کښے موجود نشته ۔ هغوی پخپله خپل تاریخ د یو کتاب یا د یو کتبے په شکل کښے لیکلے شوے نه دے پریښودے چه د هغوئ تیرشوے حالات ترے معلوم شی ۔ اوکوم یهودی تاریخدانان اولیکوالان چه د عربو نه بهر وُو هغوئ د عربی یهود یانو هیڅ ذکر نه دے کړے اود دے وجه دا بیا نیږی چه هغوئ کله عربوته راغلل نو د خپل قوم نه جُدا شول ، او د دُنیا نور و یهود یانو هدو د خپل څان نه نه شمارل ، ځکه چه هغوئ عبرانی ژوند ، عبرانی ژبه او عبرانی نوم پریښودے وُو او پوره عربیت ئے اختیار کړے وُو ۔ د حجاز په آثارِ قدیمه کښے چه کومے کتبے مِلا وُشوی دی په هغے کښے د اولے عیسوی صدئ نه مخکښے د یهود یانو هیڅ نښه نه مِلا ویږی ، او په هغے کښے هم صرف یو څو یهودی نومونه مِلا ویږی ۔ دا وجه ده چه د عربی یهود یانو د تاریخ زیات دارومدار په هغه زبانی روایتونو باندے دے کوم چه په عربو کښے مشهور وُو ، او په هغے کښے زیاته حصه خپل یهود یانو پخپله خوړه کړی وُو ۔

د حجاز د یهود یانو دا دعوی وه چه د ټولو نه اوّل هغوی د حضرت موسیٰ علیه السّلام په آخری زمانه کښے


دِلته را غلی وُو او آباد شوی وُو۔ دَدے قیصه هغوی دا بیانوی چه حضرت موسیٰ دَ یثرب دَ علاقے نه دَ عمالِقه قوم دَ ایستلو دَپاره یولښکر لیږلے وُو او حکم ئے ورته کړے وُو چه دَدے قوم یوسے ژوندے پرے نږدی۔ دَ بنی اسرائیلو دا لښکر دلته را غلے او دَ نبی فرمان ئے اُومنو، لیکن دَ عمالِقه دَ بادشاه یوجوړئے وِیر بنکلے خُوان وُو، هغه ژوندے پریښود او دَ خان سره ئے فلسطین ته بوتلو۔ په هغه وخت کښے حضرت موسیٰ وفات شوے وُو۔ دَ هغه خلیفه کالوبه دے خبره سخت اعتراض اُوکړو چه یوعمالیقی سړے ژوندے پریښودل دَ نبی دَ فرمان اود موسوی شریعت خلاف ورزی ده۔ په دے وجه هغوی دا لښکر دَ خپلے وِلے نه اُوویستو، او دغه لښکر مجبوراً یثرب ته واپس راغلے او هم دغلته آباد شو (کتاب الاَغانی، ج ۱۹، ص ۹۴)۔ په دے طریقه یهودیان کویا دَدے خبری دعوی کیږو وُو چه هغوی دَ مسیح نه دولس سوه کاله مخکښے دلته آباد شوی دی۔ لیکن په حقیقت کښے دَدے هیڅ تاریخی ثبوت نشته، او غالب گمان دادے چه یهودیانو دا قیصه په دے وجه جوړه کړی وه چه دَ عربو په خلقو باندِ دَ خپل پخوانی اصل او دَ اُوچت نسب دباؤ واچوی۔

دویم یهودی هجرت، دَ یهودیانو دَ خپل روایت مطابق دَ مسیح نه ۵۸۷ کاله مخکښے اُوشو چه کله دَ بابل بادشاه بخت نصر بیت المقدس تباه کړو او یهودیان ئے په ټوله دُنیا کښے خواره واره کړل۔ دَ عربو یهودیانو به وئیل چه په هغه زمانه کښے زمونږه پیر قبائیل وادی القراء، تیماء او یثرب ته راغلی وُو او آباد شوی وُو۔ (فتوح البُلدان۔ البلاذُری)۔ لیکن دَدے هم څه تاریخی ثبوت نشته۔ کیدے شی چه دَدے نه هم هغوی خپل زوړ اصل ثابتول غواړی۔

په حقیقت کښے چه کومه خبره ثابته ده هغه داده چه کله په ۷۰ عیسوی کښے رومیانو په فلسطین کښے عام یهودیان قتل کړل، او بیا ئے په ۱۳۲ کښے هغوی دَدے زمکے نه بالکل بهر اُوویستل، په هغه دَور کښے پیر یهودی قبائیل تبتید لی وُو او په حجاز کښے ئے پناه اغستلی وه، ځکه چه دا علاقه دَ فلسطین جنوب ته جوښته پرته وه۔ دلته چه هغوی په کوم کوم ځائے کښے چینے او شینکے اُولیدو هم هلته دِیره شوا وبیا ئے رُوږُودَ خپلو تعلقاتو او دَ سود په ذریعه په هغے قبضه پیښکه کړه۔ په اَیلَه، مَقنَا، تبوک، تَیماء، وادی القریٰ، فدک او خیبر باندِ دَ هغوی قبضه هم په دغه دَور کښے قایمه شوه۔ او بنی قُرَیظه، بنی نضیر، بنی بَهدل او بنی قَینُقاع هم په دغه دَور کښے راغلل او په یَثرِب ئے قبضه اُوکړه۔

په یثرب کښے چه کوم قبائل آباد شوی وُو په هغوی کښے بنی نضیر او بنی قُریظه زیات بنکاره وُو، ځکه چه هغوی دَ کاهنانو (Cohens) یا دَ پادریانو (Priests) دَ طبقے نه وُو، هغوی به په یهودیانو کښے اُوچت نسب ګڼلے شوا و هغوی ته په خپل ملّت کښے مذهبی حکومت حاصل وُو۔ دا خلق چه کله مدینے ته راغلل او آباد شوو نو په هغه وخت کښے څه نور عرب قبائل دلته اُوسیدل چه هغه هغوی دباؤ کړل او په خپله دَدے آباد ے زمکے مالکان جوړ شو۔ دَدَے نه تقریباً درے سوه کاله روستو په ۴۵۰ یا ۴۵۱ کښے دَ یمن دَ هغه لوئ سیلاب واقعه اُوشوه چه ذِکر ئے دَ سورۃ سبا په دویمه رکوع کښے تیر شوے دے۔ دَدے سیلاب دَ وجے نه دَ سبا دَ قوم مختلفے قبیلے دَ یمن نه را اُوتلے او مجبوراً په عربو کښے خورے وَرے شوے۔ غسّان په شام کښے، لَخمی په حِیره (یعنی عراق) کښے، بنی خزاعه دَ جدّے او دَ مکّے په منځ کښے، اوس اوخزرَج په یَثرِب کښے آباد شو۔ په یثرِب باندِ چونکه یهودیان خواره شوی وُو، په دے وجه هغوی اوّل اوّل

اَوس او خَزرج په ځائے پرے ښودل او داوو وارہ عرب قبیلے چاروناچار په بخره زمکه کښے آباد ے شوے چه هلته ورته په مُشکله خوراک مِلا ویدو۔ آخر داچه دَ هغوئ دَ سردارانونه یوسے دَ خپلو غسّانی رُومی ونه دَ مدد غوښتلو دَپارہ شام ته لاړو او دَ هغه ځائے نه ئے یولښکرَ دَ ځان سره راوستلو او دَ یهود یانو زُور ئے ختم کړو۔ په دے طریقه اَوس او خَزرج ته په یثرب باندے پوره غلبه حاصله شوه۔ دَ یهود یانو دوه لوئے قبیلے، بنی نَضیر او بنی قُریظه مجبوراً دَ ښار نه بهر آباد ے شوے۔ دَ دریمے قبیلے بنی قَینقاع چونکه دَد ے دواړو یهودی قبیلو سره ناچاقی وه نو په دے وجه هغوی دَ خَزرج قبیلے په پناه کښے په ښار کښے دَننه پاتے شو۔ اوس هغے په مقابله کښے بنی نضیر او بنی قُریظه قبیلو دَ اَوس پناه واغستله چه دَ یثرب په خوا کښے په امن سره وخت تیر کړی۔ دَلاندینئ نقشے نه به پته اولږی چه دَد ے نوی انتظام لاندِ په یثرب کښے او دَ یثرب په خواؤشا کښے یهودی کلی په کوم کوم ځائے کښے آباد وُو۔



د رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلّم د راتلونه مخکښے ، د هجرت په وخت کښے په حجاز کښے عام طور اوپه یثرب کښے خاص طور د یهودیانو سنکاره سنکاره حالات دا وُو ؛

—— هغوئ د ژبے ، د جاے اود ناستے پاستے په لحاظ سره پوره د عربو رنګ اختیار کړے وُو ، اَن تر دے پورے چه د هغوئ د پیرو کسانو نومونه هم د عربئ شوی وُو - کومے دولس یهودی قبیلے چه په حجاز کښے آباد ے شوی وے په هغے کښے د بنی زعوراء نه سِوا د بلے یوٓ قبیلے نوم په عبرانئ ژبه کښے نهٔ وُو - د هغوی د یوځو عالمانو نه سِوا بل هیڅا عبرانی ژبه پیژندله هم نهٔ - د جاهلیت د زمانے د یهودی شاعرانو کوم کلام چه موبنږ ته مِلا ویږی هغه د عربی شاعرانو د کلام سره په هر لحاظ سره یوشان دے - د هغوئ او د عربیانو په منځ کښے د واده کوئیدن تعلقات هم قائم شوی وُو - په حقیقت کښے په هغوئ کښے او په عامو عربیانو کښے د دین نه سِوا بل هیڅ فرق نهٔ وُو پاتے شوے - لیکن د دے خبرو باوجود هغوئ په عربو کښے بالکل جذب شوی نهٔ وُو ، او پیر په سختئ سره ئے خپل یهودی نوم برقرار ساتلے وُو - د عربو دا ظاهری رنګ هغوی صرف په دے وجه اختیار کړے وُو چه د دے نه بغیر هغوی په عربو کښے اوسیدے نهٔ شو -

—— د دوی د دے عربیت په وجه د مشرقی ژبو مغربی ماهرین په دے دوکه شوی دی چه شاید دا بنی اسراءیل نهٔ وُو بلکه عربیان وُو چه یهودی مذهب ئے قبول کړے وُو ، یاکم از کم د دوئ اکثریت عربی یهودیان وُو - لیکن د دے خبرے هیڅ تاریخی ثبوت نشته چه یهود یا نُو چرته په حجاز کښے څه تبلیغی کار کړے وُو ، یا د هغوئ عالمانو چرته د نصرانی پادریانو او تبلیغیانو پشان د عربو خلق یهودی دین ته را بللی وُو - د دے برعکس مونږ دا وینو چه په هغوئ کښے د اسرائیلیت سخت تنګ او نسلی فخر او غرور موجود وُو د عربو خلقو ته به هغوی اُمّی (Gentiles) وئیلو ، چه معنیٰ ئے یوازے غیر لوستونکے نهٔ وُو بلکه د وحشی او جاهل هم وو - د هغوئ دا عقیده وه چه دِے اُمّیانو ته هغه انسانی حقونه حاصل نهٔ دی کوم چه د اسراء یلیانو د پاره دی او د هغوی مال په هره جائزه او ناجائزه طریقه سره خوړل د اسراء یلیانو د پاره حلال - د عربو د سردارانو نه سِوا ، عام عربیان خلق هغوئ د دے خبرے قابل نهٔ ګڼل چه په یهودی دین کښے ئے داخل کړی او د څان سره برابر درجه ورکړی - تاریخی طور د دے خبرے هیڅ ثبوت نهٔ ملا ویږی ، او نهٔ د عربو په روایتونو کښے څه داسے شهادت شته چه یوے عربی قبیلے یا یولوئ خاندان یهودیت قبول کړے وی - البته د څینو کسانو ذکر شته چه هغوئ یهودیان شوی وُو - هیسے هم د یهود یانو د دین د تبلیغ په ځائے صرف د خپل کاروبار سره دلچسپی وه - دا وجه وُه چه په حجاز کښے یهودیت د یو دین په حیثیت سره خورنهٔ شو بلکه تش د یوځو اسراء یلی قبیلو د فخر ذریعه جوړه شوه - البته یهودی عالمانو د تعریذ ونو او فالونو او د جادوګرئ کاروبار بنه روان کړے وُو چه د هغے په وجه په عربو باندِ د هغوئ د "علم" او د "عمل" د باؤ ناست وُو -

—— د روزګار په حیثیت سره د هغوئ حالت د عرب قبائیلو په نسبت زیات مضبوط وُو - هغوئ چونکه د فلسطین او د شام د مُهذّبو علاقونه راغلی وُو ، په دے وجه هغوئ ته د پردے سے هزونه معلوم وُو چه هغه د عربو خلقونهٔ پیژندل - او د هغو خلقو سره د هغوئ

کاروباری تعلقات وؤ۔ په دے وجه یثرب ته او د حجاز پاسنو علاقو ته د غلے را تلل او د دے ځائے نه د چوارو بهر ته تلل د هغوئ په لاس کښے ورغلی وُو۔ د چرکانو په سا تلو او د میانو په نیولو باندِ زیاته قبضه د هغوئ وه ۔ د جولاګیرئ کار به هم هغوئ کولو۔ ځائے په ځائے شراب خانے هم هغوئ قایم کړے وے چه هلته به د شام نه شراب را تلل او خرڅیدل به ۔ بنی قَینُقاع به زیات تر د زرګرئ او د لوهارئ اود لوښو سازولو کار کوُو۔ په دے ټولو تجارتی کاروبار کښے به دِے یهودیانو بے دریغه کټه کوله ۔ لیکن د هغوئ د ټولو نه غټ کاروبار د سُود وُو۔ د سُود په کاروبار کښے هغوئ د خواوُشا ټول عربیان اخته کړی وُو ، او خاص طور د عرب قبائیل او شیخان او سرداران چه د خپل شان وشوکت او د بد بے ښکاره کولو د پاره به ئے د یهود یانو نه قرض اغستلو ، د سُود په جال کښے ګلک ښکتلی وُو۔ یهودیانو به ورله په ډیر سُود قرض ورکولو او بیا به ئے د سود د پاسه سود خیڑولو ، او چه یو ځل به څوک د سُود په دے چکر کښے را ښکے نو ډیر په مشکله به تر وتلو۔ په دے طریقه هغوئ د عربو خلق په معاشی حیثیت سره تباه کړی وُو ، لیکن بل طرفته د دے فطری نتیجه داهم وه چه په عربو کښے عام طور د هغوی خلاف غټ نفرت پروت وُو۔

ـــــ د هغوی د تجارتی اومالی فایدو ترڅنګه پکار داوه چه په عربو کښے د چا سره دوستانه قایمه کړی اود هیچا سره تعلقات خراب نه کړی ، اونه د هغوئ په جګړو کښے څه حصه واخلی۔ لیکن بل طرفته د هغوئ د مفاد وتقاضا داهم وه چه د عربو خلق متحد کید ونه پرِ ښږدی ، او په مخه ئے د یو بل سره جنګړی را جنګوی ، ځکه چه هغوئ په دِے خبره پوهیدل چه کله هم د عربو قبیلے د یو بل سره متحد شولے ، نو هغوئ چه کوم لوئ لوئ جائیداد ونه او باغونه اوزرخیز زمکے د خپلے نفع اوسُود خورئ په ذریعه پیدا کړے وے ، د هغے نه به ئے بے د خله کړی۔ د دے د پاسه هغوئ ته د دے خبرے هم ډیر ضرورت وُو چه د خپل حفاظت د پاره د هغوئ هره یوه قبیله د عربو د یوے طاقتور قبیلے سره دوستانه تعلقات قایم کړی چه د بلے طاقتور قبیلے د حملے نه محفوظ شی ۔ داوجه وه چه هغوئ به اکثر د قبائیلی عربو په کورنی جګړو کښے حصه اغستله ، بلکه اکثر خوبه دا سے اُوشوه چه یوه یهودی قبیله به د خپل حلیف عربی قبیلے سره ملګری شوه او د بلے دا سے یهودی قبیلے خلاف به جنګیدله چه هغوئ به د عربو د مخالفے د ډلے حلیفان وُو۔ په یثرب کښے بنی قُریظه او بنی نَضیر د اَوس قبیلے حلیف وُو او بنی قینقاع د خَزرج قبیلے د هجرت نه لږ موده مخکښے چه کوم خونړے جنګ د اَوس او د خَزرج په منځ کښے د بُعاث په مقام شوے وُو په هغے کښے دا یهود یان د خپلو خپلو حلیفانو سره ملګری شوی وُو او د یو بل خلاف جنګیدلی وُو۔

دا حالات وُو چه مدینے ته اِسلام را اُورسید او کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینے ته را ښے نو هلته یو اسلامی ریاست جوړ شو۔ د ریاست جوړولو سره چه کوم اولنی کارونه نبی اوکړل په هغے کښے یوه اُوچه اَوس او خَزرج او مهاجرین ئے را یوځائے کړل او د هغوئ په منځ کښے ئے رُورولی قایمه کړه ، او دویم داوُوچه د مسلمانانو او د یهود یانو په منځ کښے ئے یوه معاهده اوکړه چه په هغے کښے د دے خبرې ضمانت ورکړے شوے وُو چه هیڅوک به د بل حق نه وَهی او د بهرنو دُشمنانو په مقابله کښے به ټول په اتفاق سره جنګیږی۔ د دے معاهدے یو څو اهمے نقرے دا دی چه صفاتِ معلومه یږی چه یهود یانو او مسلمانانو د

یو بل سره په تعلقاتو کښے د کومو خبرو پابندی قبوله کړی وه :

ان علی الیهود نفقتهم علی المسلمین نفقتهم، وان بینهم النصر علی من حارب اهل هذه الصحیفة، وان بینهم النصح والنصیحة والبرّ دون الاثم، وانه لم یأثم امرؤ بحلیفه، وان النصر للمظلوم، وان الیهود ینفقون مع المؤمنین ما داموا محاربین، وان یثرب حرام جوفها لاهل هذه الصحیفة ..... وانه ما کان بین اهل هذه الصحیفة من حدث او اشتجار یخاف فساده فان مردّه الی الله عزوجل والی محمد رسول الله ..... وانه لا تجار قریش ولا من نصرها، وان بینهم النصر علی من دهم یثرب علی کل اناث حصتهم من جانبهم الذی قبلهم۔

(ابن ہشام، ج ۲، ص ۱۴۷ تا ۱۵۰)

داچه یهودیان به خپل خرچ برداشت کوی او مسلمانان به خپل، او داچه دَدے معاهدے شریکان به دَ حمله کونکی دُشمن په مقابله کښے دَ یوبل امداد کوی، او داچه هغوئ به په خلوص سره دَ یوبل دَ بنیګړے کارکوی او دَ هغوئ په منځ کښے به دَ نیکئ او یوبل ته دَ حق رسولو تعلق وی نه څه دَ ګناه او دَ زیاتی تعلق، او داچه هیڅوک به دَ خپل حلیف سره زیاتے نه کوی، او داچه دَ مظلوم سره به مرسته کیږی، او داچه ترڅو پورے جنګ وی تر هغے به یهودیان دَ مسلمانانو سره په شریکه دَ هغے جنګ خرچ برداشت کوی، او داچه په دے معاهده کښے څوک شریک دی په هغوئ باندِ په یثرب کښے څه قسم فتنه او فساد کول حرام دی، او داچه که چرے دَدے معاهدے دَ شریکانو په منځ کښے څه داسے کار یا اختلاف راشی چه دَ هغے نه دَ فساد خطره وی نو دَ هغے فیصله به محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ الله دَ قانون مطابق کوی، ..... او داچه قریشو ته او دَ هغوئ مرستیالو ته به پناه نشی ورکړے کیدے، او داچه په یثرب باندِ که هر څوک حمله اوکړی دَ هغهٔ سره په مقابله کولو کښے به دَ معاهدے شریکان دَ یوبل مدد کوی ..... هره ډله به دَ خپل طرف دَ علاقے دَ حفاظت ذمه وار وی۔

دا یوه قطعی او واضحه معاهده وه چه شرطونه دُ یهودیانو پخپله قبول کړی وُو۔ لیکن وروسته دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او دَ اسلام او دَ مسلمانانو خلاف دَ دُشمنئ عمل شروع کړو او دَ هغوئ دُشمنی روز په روز زیاته سخته شوه۔ دَدے څخه څخه وجے وه ؛

یوه داچه هغوئ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته صرف دَ یو قوم دَ سردار په حیثیت سره کتل غوښتل چه دَ هغوی سره بس یوه تشه سیاسی معاهده اوکړی او صرف دَ خپلے ډلے دَ ګټو یا وی فایدو غم اولری۔ لیکن هغوئ اوکتل چه هغه خو خلقونه دعوت ورکوی چه په الله او په آخرت او په رسالت او په کتاب باندِ ایمان راوړی (په دے دعوت کښے دَ هغوئ په خپلو رسولانو او کتابونو باندِ ایمان راوړل هم شامل وُو) او خلقونه وائی چه دَ ګناه کارونه پریږدئ او دَ الله حکمونه او منئ او دَ هغه اخلاقو پابندی اوکړئ کوم چه به ستاسو پیغمبرانو دَ دُنیا خلقونه بشودل۔ په دے کار هغوئ له سخته غصه ورتلله۔ دَ هغوئ سره خطره پیدا شوه چه که چرے

دا عالمگیر اصولی تحریک شروع شو نو دَدے مخے ته به دَ هغوئ وچ کلک مذهب اودَ هغوی نسلی قومیت تهینګ نهٔ شی -

دوَیمه داچه هغوی کله اُولیدل چه اَوس اوخَزْرَج اومهاجرین رُونړه رُونړه شو او دَ خواؤ شا په عرب قبائیلو کښے چه خُوک دَ اِسلام دا دعوت قبلوی هغوی ټول دَ مدینے په دے اِسلامی رُوږوَلئ کښے شامیږی او یو لوئ ملّت تر جوړیږی ، نو دَ هغوئ سره دا خطره پیدا شوه چه دَ سَوُونو کالو راسے هغوئ دَ خپلے سلا مټیا اودَ خپلے کټه دَ پاره په عرب قبیلو کښے کومه بے اتفاقی پیدا کړی وه او کومه خپل مطلبه پالیسی ئے اختیار کړی وه هغه به اُوس په دے نوی نظام کښے اُونهٔ چلیدے شی بلکه اُوس به هغوئ دَ عربو دَ یو متحده طاقت سره مخ کیږی چه دَ هغے په وجه به دَ هغوی یو کار هم کامیاب نشی -

دَرَیمه داچه رسول الله علیه وسلّم دَ خلقو کومه اصلاح کوله په هغے کښے دَروزګار دَ ټولو ناجائزو طریقو مخ نیوے شامل وُو ، او دَ ټولو نه څټه خبره داوه چه نبیٔ سُود ته هم حرام وئیلو چه دَ هغے نه هغوئ ته داخطره وه چه که چرے په عربو باندِ دَ نبیٔ حکومت راځے نو هغه به سُود قانوناً منع کوی اودا دَ هغوئ دَ پاره دَ مرګ خبره وه -

دا وجوهات وُو چه هغوئ دَ نبیٔ مخالفت ته قومی نصب العین اُوونیلو- نبیٔ ته دَ تکلیف رسولو دَپاره هغوئ هرکار جائز ګڼلو - هغوئ به دَ هغه خلاف هر قِسم دروغ وئیل چه خلق تر بدګمانه شی - کومو خلقو چه به اسلام قبول کړو دَ هغوئ په زړونو کښے به ئے هرقِسم شکونه اووَسوسے اچولے چه دَدے دین نه واپس شی- په خپله به ئے په دروغه اِسلام راوړواو بیا به مرتد شوچه په خلقو کښے دِاسلام اودَ رسول الله صلی الله علیه وسلم خلاف دَ زیاتونه زیاتے بدګمانیانے خوړے شی- دَ فتنے راپورته کولو دَپاره به ئے دَ منافقانو سره ساز بازکولو- دَ هر اسلام دُشمنه سره او ولے قبیلے سره به ئے تعلق پیدا کولو- دَ مسلمانانو په منځ کښے دَ بے اتفاقئ دَ پیدا کولو دَ پاره اوهغوئ په خپل منځ کښے دَ جنګولو دَ پاره به ئے ښه زُور لګولو- دَاُوس اودَ خَزْرَج خلقو ته به ئے خاص توجه ورکوله - دَ جنګ بُعاث خبری به ئے چیرلے او هغوئ ته به ئے زړے دُشمنیانے وریادَولے چه دَ هغوئ په منځ کښے یو څل بیا ټُوږے راأوچتے شی او دَ رُوږوَلئ هغه رشته تار تار شی کومه چه اسلام ټرلی وه - په مالی حیثیت سره دَ مسلمانانو دَ تنګولو دَ پاره به هغوئ هر قِسم ناجائزه کار کولو - دَ کومو خلقو سره چه دَ هغوئ دَ اوّل نه لین دین وُو په هغوئ کښے چه به چا اِسلام قبول کړو هغوئ ته به ئے دَ نقصان ورکولو کوشش کولو - که څهٔ به ئے تر غوښتل نو په غوښتلو غوښتلو به ئے ډیر زیات تنګول، اوکه دَهغوئ به ورته څه قرض وُو نو نهٔ به ئے ورکولو اوښکاره به ئے وئیل چه کله مونږ ستا سره معامله کړی وه په هغه وخت کښے ستا دین څه بل وُو ، اَو اُوس چونکه تا دین بدل کړے دے نو ستا په مونږ باندِ

هیڅ حق نشته ـ دَ دے ډیر مثالونه په تفسیر طبَری، تفسیر نیسابُوری، تفسیر طبُرسی او په تفسیر رُوح المعانی کښے دَ سورۃ آلِ عِمران دَ آیت ۷۵ په تشریح کښے نقل کړے شوی دی ـ

دَ معاهدے خلاف داخرګنده دُ شمنی خوهغوئ دَ جنګ بدرنه مخکښے شروع کړی وه ـ لیکن کله چه په بدر کښے رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته اومسلمانانو ته په قریشو باندِ فتح مُبین حاصله شوه نو په هغوی باندِ دَ غصّے نه وُوربل شواوبُغض ئے نورهم زیات شو ـ دَ دے جنګ سره هغوئ دا اُمید تړلے وُوچه مسلمانان به دَ قریشُو دَ طاقت سره اُوجنګیږی اوختم به شی ـ داوجه وه چه دَ اسلام دَ فتحے دَ خبر رسید ونه مخکښے هغوئ په مدینه کښے دا افسوا ګانے شروع کړے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم شهید شو، او مسلمانانو شکست اُوخوړ، اَو اُوس دَ ابوجهل په مشرئ کښے دَ قریشو لښکر مدینے طرفته راروان دے ـ لیکن کله چه کارد هغوئ دَ اُمیدونونه خلاف اُوشو نو دَ ډیر غم او غصّے دَ لاسه اوچاودل ـ دَ بنی نضیر سردار کعب بن اشرف چغے کړے چه " په خدائے مِ دِ قسم وی که چرے محمدؐ دَ عربودا شریفان خلق قتل کړل نو دَ زمکے خیټه زمونږ دَ پاره دَ زمکے دَ شانه زیاته بهتره ده " بیاهغه مکے ته اُورسید واو په بدر کښے چه دَ قریشو کوم سرداران وژلے شوی وُوهغوئ ئے دَ غم په نظمونو کښے یاد کړل او دَ مکّے خلق ئے بَدْلے اخستلو ته تیار کړل ـ بیامدینے ته واپس راغے اودَ خپل زړه دَ ټبرّاس ایستلو دَ پاره ئے دا سے غزلے وئیل شروع کړل چه په هغے کښے دَ مسلمانانو دَ بنځُو اولُونږو سره دَ عشق څرګندونه شوی وه ـ آخر داچه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ هغه دَ شرارتونو نه تنګ شواوپه ربیع الاول ۳ھ کښے ئے محمد بن مَسْلَمَه انصاری اُولیږواوهغه ئے قتل کړو (ابن سعد، ابن هِشام، تاریخ طَبَری) ـ

بن قَینُقاع، دَ یهودیانو اولنئ قبیله وه چه دَ جنګ بدرنه روستو ئے خپله معاهدهٔ پاکه ماته کړی وه ـ داخلق پخپله دَ مدینے په بنار کښے دَ ننه په یوه محلّه کښے اُوسیدل اوچونکه دوئ زرګران، لوهاران اولُوښی سازَونکی خلق وُونږه دے وجه به دَ دوئ بازار ته دَ مدینے خلق ډیر تلل راتلل ـ دوئ به په خپله بهادرئ اوزړورتیا ډیر نازکولو ـ دَ وُسپنے دَ کارکولو په وجه به دَ هغوئ دَ هرنجی سره وسله وه ـ اُوّه سوه جنګی خُوانان دَ هغوئ سره موجود وُو ـ دَ هغوئ په زړهٔ کښے داخبره هم وه چه دَ خَزْرَج قبیلے سره دَ هغوی زاړه دوستانه تعلقات وُو اودَ خَزْرَج سردار عبدالله بن اُبَی دَ هغوئ مرستیال وُو ـ دَ بَدْر دَ جنګ سره دوئ له دومره غصّه ورغله چه کوم مسلمان به دَ دوئ بازار ته تلل راتلل دَ هغوئ تنګول ئے شروع کړل اوخاص طور دَ هغوئ دَ بنځُو سره ئے چیرې چار شروع کړو ـ رُورُو خبره دِ دے ته اُورسیده چه یوه ورځ دَ هغوئ په بازار کښے یوه مسلمانه بنځه په واکه ماته کړے شوه ـ په دے باندِ سخته جګړه اوشوه، په جګړه کښے یو مسلمان او یو یهودی قتل شو ـ هرکله چه حالات ډیر حد ته اُورسیدل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ هغوئ محلّے ته لاړو، هغوئ ئے راجمع کړل او نصیحت ئے ورته اُوکړو چه ښځے لاړے ته راشئ ـ لیکن هغوئ ورته په جواب کښے اُووئیل " اے محمدؐ، شایدچه ستا په مونږ باندِ دَ قریشو خیال راغے؟ هغوئ په جنګ نهٔ پوهیدل حُکه تاسو مړه کړل ـ که زمونږ سره موجنګ شروع کړو نو پته به درته

اُولنی چه سړی څنګه وی "۔ دا لکه چه صفا صفا د جنګ اعلان وُو ۔ آخر دا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د دویمې هجرئ د شوال (او په یو روایت کښے د ذی القعدے) په آخر کښے د هغوئ د محلے نه کیږه واچوله ۔ صرف پنځلس ورځے دا کیږه وه او بیا هغوئ وسله اُوغورزوله او کوم کسان چه په هغوئ کښے د جنګ کولو قابل وُو هغوئ ټول اُوتړلے شو ۔ اُوس عبدالله بن اُبَی د هغوئ د مرستے دپاره را پاسید و او نبی ؐ ته ئے په سخته اُوویل چه دوئ ډِ معاف کړے شی ۔ نو نبی ؐ دهغه درخواست قبول کړو او دا فیصله ئے اُوکړه چه بنی قَینُقاع ډِ خپل ټول مال، وَسله او د کاریګرئ سامان پریږدی او د مدینے نه ډِ اُوزی (ابنِ سعد ، ابنِ هشام، تاریخ طبَری) ۔

دَدے دوَو کارونو (یعنی د بنی قَینُقاع د ایستلو او د کعب بن اشرف د قتل) دوجه نه د دویمے مودے پورے یهودیان دومره اُویَریدل چه د نور زیاتی شرارت کولو همت ئے اُونه شو ۔ لیکن دَدے نه روستو په شوال ۳ ؁ کښے د جنګ بدر د بَدَلے اغستلو دپاره د قریشو خلقو ډیر په زُور سره په مدینه حمله اُوکړه ، او دے یهودیانو اُولیدل چه د قریشو دَدرے زره فوج په مقابله کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره صرف یو زر کسان د جنګ دپاره راوتلی دی ، او په هغے کښے هم درے سوه منافقان واپس شوی دی ، نو هغوئ د معاهدے اولنئ اوخرکنده خلاف ورزی په دے طریقه اُوکړه چه د مدینے په دفاع کښے د نبی ؐ سره ملګری نه شو ، حالانکه هغوئ دَدے پابند وُو ۔ بیا چه کله د اُحُد په جنګ کښے مسلمانانو ته لوئ نقصان اُورسید و نو د هغوئ حوصلے نورے هم اُوچتے شوے ، اَن تر دے پورے چه بنی نضیر د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قتل کولو دپاره باقاعده یو سازش جوړ کړو چه هغه خاص په وخت باندِ نا کام شو ۔ دَدے واقعے تفصیل داد ے چه د بئرِ معونه د جنګ (صفر ۴ ؁) نه روستو عَمرو بن اُمیَّه ضَمرِی د بَدَلے اغستلو په طور په غلطئ سره د بنی عامر دوه کسان قتل کړل چه هغوئ په اصل کښے د یوے داسے قبیلے سره تعلق لرلو چه د هغوئ سره معاهده شوی وه لیکن عَمرو په هغوئ باندِ دا گمان کړے وُو چه کښی د دُشمن قبیلے کسان دی ۔ دَدے غلطئ په وجه د هغوئ د دِینے تاوان په مسلمانانو باندِ واجب شو ځُو ، اوچونکه د بنی عامر سره په معاهده کښے بنی نضیر هم شریک وُو ، نو په دِ وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَیوځے صاحبو سره پخپله د هغوئ کلی ته لاړو چه د تاوان په ورکولو کښے هغوئ ته هم د شریکید و دعوت ورکړی ۔ هلته هغوئ رسول الله ؐ په خوږو پستو خبرو کښے مشغول کړو او د دَننه د ننه ئے دا سازش اُوکړو چه دَکوم مکان د دیوال سُوری ته نبی ؐ ناست وُو چه د هغے مکان د چَت نه په هغه باندِ یو د َرون کانړے ورغوزار کړی ۔ لیکن دَدے کار کولو نه مخکښے الله تعالیٰ هغه ته خبر ورکړو ، او هغه فوراً پاسید و او مدینے ته واپس راغے ۔

اُوس د هغوی سره د رعایت کولو هیڅ گنجائش پاتے نه شو ۔ نبی ؐ هغوئ ته په هغه ساعت داخبر دارے اُولیږو چه تاسو د کومے دوکے ارادہ کړی وه د هغے نه ځه خبر شوے یم ۔ په لس ورځو کښے د ننه د مدینے نه اُوزئ ، د دے نه روستو که څوک ستاسو په کلی کښے

اُومونده ے شوتنعفه څټې په ټوره وهلے کیږی ۔ بل طرفته عبدالله بن اُبَیّ هغوئ ته پیغام اُولیږه چه څه به تاسوته دوه زره کسان د امداد د پاره درکوم، او بنی قُرَیظه او بنی غَطفان به ستاسو امداد له راځی، تاسو تینګ شئ اوهرګز د خپل ځائے نه مهٔ خوزئ ۔ د دوغو په دے بروسه باندو هغوی د نبیؐ د خبرداری داجواب ورکړو چه موږ د ده ځائے نه نهٔ اُوځو، ستانه چه څه کیدے شی هغه اُوکړه په دے باندِ په ربیع الاوّل ۴ھ کښے رسول الله علیه وسلّم د هغوئ ته کیږه واچوله اوصرف د یوځورورځے د کیږے نه روستو (چه مورده ځے په حُنین روایتونو کښے شپږ ورځے او په حُنینو کښے پنځلس ورځے ښودلے شوی ده) هغوئ په دے شرط مدینے پریښودلو ته تیار شو چه د وَسلے نه بغیر نور هرڅه چه هغوئ په خپلو اوښانو باندِ وړے شی هغه به وُړی ۔ دغه شان د یهودیانو دا دے دویمے شریرے قبیلے نه د مدینے زمکه خالی کړے شوه ۔ په هغوئ کښے صرف دوه کسان مسلمانان شوا و هلته پاتے شو۔ باقی ټول شام اوخیبر اړخ ته اُووتل ۔

په دے سورۃ کښے هم دا دے واقعے بحث شوے دے ۔

موضوع او مضمونونه د سورۃ موضوع، لکه څنګه چه مَره اُوویلے شو، د بنی نَضِیر په جنګ باندِ تبصره ده ۔ په دے کښے مجموعی طور څلور مضمونونه بیان شوی دی ۔

۱ ۔ په اولنو څلورو آیتونو کښے د دُنیا خلقو ته ویلے شوی دی چه د هغه انجام نه عبرت واخلئ کوم چه لږ مخکښے بنی نَضِیر قبیلے لیدلے وُو ۔ یوه لویه قبیله چه په هنه وخت کښے د هغوئ تعداد د مسلمانانو د تعداد نه څه کم نهٔ وُو، چه په مال او دولت کښے د مسلمانانو نه ډیر زیات وُو، چه د جنګی سامان ورسره هیڅ کمے نهٔ وُو، چه قلا کانے ئے هم مضبوطے مضبوطے وے، هغوئ صرف د یوځو ورځو کیږے ته هم تینګ نهٔ شو او بے د یو تن د قتل کیدونه هغوئ د سَرونو کالو د استوکښے کلے پریښودو ۔ الله تعالیٰ ویلی دی چه دا د مسلمانانو د طاقت کارنامه نهٔ وه بلکه دا د دے خبرے انجام وُو چه هغوئ د الله او د هغه د رسول سره په جنګ شوی وُو او کوم خلق چه د الله د طاقت سره د جنګیدو خیال اُوکړی هغوئ هم د دغسے انجام سره مخ کیږی ۔

۲ ۔ په آیت ۵ کښے د جنګ د قانون دا قاعده بیان شوی ده چه د جنګی ضرورتونو د پاره د دُشمن په علاقه کښے کوم ژرا نے اُوکړے شی هغے ته فساد فی الارض نشی ویلے ۔

۳ ۔ د شپږم آیت نه د لسم آیته پورے دا ویلے شوی دی چه کوم مُلکونه د جنګ یا د صلحے په نتیجه کښے د اسلامی حکومت لاندِ راغلی دی د هغے د زمکو او د هغے د جائیدادونو بندوبست په څه طریقه اُوکړے شی ۔ چونکه دا اولنی موقع وه چه د مسلمانانو په قبضه کښے یوه علاقه راغله نو په دے وجه دلته د دے قانون بیان کړے شو ۔

۴ ۔ د یوولسم آیت نه د اُولسم آیته پورے د منافقانو په هغه عمل باندِ تبصره شوی ده

کوم چه هغوئ د بنی نضیرد جنګ په موقع اختیارکړے وُو اوهغه سببُونه په ګوته کړے شو کوم چه په حقیقت کښے د هغوئ د دے عمل ذریعه ګرځیدلی وه ۔

۵ ۔ آخری رکوع ټوله یو نصیحت دے چه په هغے کښے خطاب هغه ټولو خلقوته دے چه کومو د ایمان دعوٰی کړی ده او د مسلمانانو په ډله کښے شامل شوی دی ، لیکن د ایمان د اصل رُوح نه خالی دی ۔ په دے کښے هغوئ ته وسیلے شوی دی چه د ایمان اصل تقاضا څه ده (یعنی ایمان په اصل کښے د انسان نه څنګه عمل غواړی) ، په تقوٰی اوپه فسق کښے حقیقی فرق څه دے ، د کوم قرآن د منلو دعوٰی چه هغوئ کوی د هغے اهمیت څه دے ، او په کوم خدائے باندِ چه د ایمان راوړلو اقرار هغوئ کوی د هغه کوم صفتونه دی ۔

سُوْرَةُ الْحَشْرِ مَدَنِيَّةٌ

اٰیاتہا ۲۴ رکوعاتہا ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱﴾
هُوَ الَّذِيْٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ دِيَارِهِمْ
لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ۭ مَا ظَنَنْتُمْ اَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ

خاص د اللہ تسبیح وئیلی دہ ہرهغه څیز کوم چه په آسمانونو اوپه زمکه کښے دے، اوهم هغه غالب اوحکیم[1] دے ۔

هم هغه دے چه اهل کتاب کافران[2] یے په اوله[3] حمله کښے د هغوئ د کور ونو بهر اووېستل[4] ۔ ستاسو هرگز دا گمان نه وُو چه هغوی به اُوزی، اوهغوی هم دا گمان کړے وُو چه د هغوی قلا گانے

[1] د تشریح د پاره اُوګورہ تفہیم القرآن، پنځم جلد، تفسیر د سورۃ الحدید، حاشیه ۱ اوه ۲ ۔ د بنی نضیر په ایستلو باندے د تبصرے شروع کولونه مخکښے دے فقرے د وئیلو مقصد دا دے چه په ذهن کښے دا حقیقت کښیني چه د دے طاقتورے یهودی قبیلے سره کومه معامله اُوشوه هغه د مسلمانانو د طاقت کارنامه نه وه بلکه د اللہ د قدرت کارنامه وه ۔

[2] اصل الفاظ دی لِاَوَّلِ الْحَشْرِ د حشر معنی د ځواږه واړه خلق راجمع کول، یاخواږه واړه خلق را جمع کول اوبهرته ایستل ۔ اود لِاَوَّلِ الْحَشْرِ معنی ده د اولنی حشر سره یا د اولنی حشر په موقع اُوس پاتے شوه د اخبرہ چه دلته د اوّل حشر نه مُراد څه دے، نو په دے کښے د مفسّرینو په منځ کښے اختلاف دے ۔ دَیو ے ولے په نِزد دے نه مُراد د بنی نضیر قبیله ده کله چه هغوی د مدینے نه اُووېستلے شو، او دے ته د هغوئ اولنے حشر په دے معنی کښے ویلے شو دے چه د هغوئ دویم حشر د حضرت عمرؓ په زمانه کښے په هغه وخت کښے اُوشو کله چه یهود او نصاریٰ د عربو د جزیرے نه اُووېستلے شو، او آخری حشر به د قیامت په ورځ وی ۔ د دویمے ولے په نِزد دے نه مُراد د مسلمانانو د فرج هغه اجتماع ده کومه چه د بنی نضیر سره د جنګ کولو د پاره راغونډ شوی وه او د لِاَوَّلِ الْحَشْرِ معنی داده چه مسلمانان د هغوئ سره د جنګ کولو د پاره راجمع شوی وُو خو جنګ لا شروع شوے نه وُو چه د اللہ په قدرت سره هغوی وطن پرېښود و ته تیار شو ۔ یعنی دلته دا الفاظ د اولے حملے په معنی کښے استعمال شوی دی ۔ شاه ولی اللہ صاحب د دے ترجمه کړی ده " د راوّل جمع کردن لشکر " او د شاه عبد القادر صاحب ترجمه ده "پهلے ہی جهڑ ہوئے" ۔ زمونږ په نزد دا دویم مفهوم د دے الفاظو څرګند مفهوم دے ۔

حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا ۚ وَقَذَفَ

به هغوئ د الله نه بچ کړي۔ لیکن الله د دې ارخ نه په هغوی راچه هغې ارخ ته د هغوئ خیال هم نه ؤو تلے هغه

۳ دلته په شروع کښے د اخبره په ذهن کښے کینول پکار دی چه د بنی نضیر د ایستلو په معامله کښے څه ذهنی پریشانی پیدا نه شی - د نبی صلی الله علیه وسلم سره د بنی نضیر باقاعده لیکلی شوی معاهده وه - دا معاهده هغوئ رد کړی نه وه چه معاهده ختمه شوی وی۔ لیکن په کومه وجه چه په هغوی باندې حمله اوشوه هغه داوه چه هغوئ د پیروخلاف ورزوکولو نه روستو په آخر کښے یو دا سے حرکت کارکړے ؤو چه د هغې مطلب وعده مایدل ؤو۔ هغه دا ؤو چه هغوی د خپل معاهد پرلے ، یعنی د مدینے د اسلامی ریاست د صدر د قتلولو سازش کړے ؤو او هغه سازش څه په د ے طریقه وا کړے ته شوے ؤو چه کله په هغوی د وعدے د ماتولو الزام اولګولے شو نو هغوئ ترانکاره اونه کړے شو۔ د هغې نه روستو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته د لسو ورځو مهلت ورکړو چه په دې موده کښے د مدینے نه بهر اوزئ ، کنئ نو بیا به ستاسو خلاف جنګ کیږی۔ دا مهلت ټیک د قرآن مجید د دے حکم مطابق ؤو چه " که چرے تاته د یوقوم د طرفنه د خیانت کولو (یعنی د وعدے ماتولو) یره وی نو د هغه معاهده په پاکه د هغه مخے ته اوغورزوه "۔ (الانفال - ۵۸) - په دے وجه د هغوئ ایستلوته الله تعالیٰ خپل فعل وئیلے دے ، لکه چه دا ټیک د الله د قانون مطابق ؤو۔ یعنی هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو نه بلکه الله اوویستل - او د هغوئ ایستلوته د الله تعالیٰ د خپل فعل وئیلو دوهمه وجه په ورانډ آیتونوکښے بیان شوی ده -

۴ دلته د ځان پوهه کولو د پاره د اخبره په نظر کښے ساتل پکار دی چه بنی نضیر د سوونوکالوراسے دلته پاخه دیره شوی ؤو - د مدینے نه بهر د هغوی ټوله آبادی په یو ځائے غونډه پرته وه چه په هغې کښے د هغوئ د خپلے قبیلے نه سوا بل څوک موجود نه ؤو۔ هغوئ د ټول کلی نه قلاً تاؤ کړی وه ، او د هغوئ کورونه هم د قلا کانو په شکل کښے جوړ شوی ؤو لکه څنګه چه عام طور په قبائلی علاقوکښے جوړیږی - بیا د هغوئ تعداد هم د هغه وخت د مسلمانانو نه څه کم نه ؤو۔ او په خپله په مدینه کښے د نه د یرمنافقان د هغوی په شا باندې ولاړ ؤو۔ دا وجه وه چه د مسلمانانو هرګز دا توقع نه وه چه دوئ به کښې د جنګ کولو نه بغیر صرف په کیرے اچولوسره بے حوصلے شی او خپل ځائے به بے کراره پریږدی - د غه شان پخپله د بنی نضیر هم دا خبره په وهم او ګمان کښے نه وه چه څوک به په شپږ و ورځو کښے د نه دا ځائے د هغوئ نه واخلی - اګرچه بنی قینقاع د هغوئ نه محکمے ایستلے شوی ؤو او د هغوئ د خپلے بهادرئ ټول خیال په ځائے بند پاتے شوے ؤو ، لیکن هغوئ د مدینے په یوه محله کښے آباد ؤو او د هغوئ خپل جُدا قلعه بند کلے نه ؤو ، په دے وجه به بنی نضیر دا ګمان کولو چه د مسلمانانو په مقابله کښے د هغوئ نه ټینګیدل څه نامناسب نه ؤو۔ دے برخلاف چه هغوئ به خپل محفوظ کلی ته او خپلو مضبوطو قلاګانوته کټل نو دا خیال به ئے هم نه شو کولے چه څوک به کښې هغوئ ډډے ځائے نه اوباسی - دا وجه وه چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ له د مدینے د وتلو د پاره لس ورځے مهلت ورکړو نو هغوئ د یرپه غرور سره جواب ورکړو چه مونږ نه اوځو او ستاسو چه څه کیدے شی هغه اوکړه۔

دلته دا خبره په ذهن کښے راپیدا کیږی چه الله تعالیٰ دا په کومه وجه اُوفرمائیلی چه "هغوئ هم دا گمان کړے وُوچه د هغوئ قلا گانے به هغوی د الله نه بچ کړی"؟ آیا واقعی بنی نضیرته دا معلومه وه چه د هغوئ مقابله د محمد بن عبدالله (صلی الله علیه وسلم) سره نهٔ ده بلکه د الله سره ده؟ او آیا دے معلوما تو باوجود هم د هغوئ داخیال وُوچه د هغوئ قلا گانے به هغوی د الله نه بچ کړی؟ دایوه دا سے خبره ده چه د هغه سړی ذهن به پریشانه کړی څوک چه د یهودی قوم د نفسیاتو نه او د هغوئ د سوُونو کالو د عمل نه نا خبره وی۔ د عاموانسانانو په حقله څوک دا گمان نهٔ شی کولے چه هغوئ ته دِ دا معلومه وی چه مقابله د الله سره ده او بیا دِ هم د هغوئ داخیال وی چه د هغوئ قلا گانے او وَسلے به هغوئ د الله نه بچ کړی۔ دا وجه ده چه یونا واقفه سړے به دلته د الله تعالیٰ د کلام دا معنی کوی چه بنی نضیر قبیلے په ظاهره د خپلو قلا گانو مضبوطیا ته کتلی وُو او په دے دوکه کښے پرا ته وُوچه هغوئ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حملے نه بچ شی، لیکن حقیقت دا وُوچه د هغوئ مقابله د الله سره وه او د هغه نه د هغوئ قلا گانو هغوئ نهٔ شو بچ کولے۔ لیکن واقعه دا ده چه یهودیان په دے دُنیا کښے یوه اسے عجیبه قوم دے چه قصداً د الله تعالیٰ مقابله کوی، د الله رسولانو ئے ښه پیژندل چه دا د الله رسولان دی او بیائے هم قتل کړی دی او په پیر په لخړسره ئے سینه ټپولی ده او وئیلی ئے دی چه موښره د الله رسول قتل کړو۔ دَدے قوم روایات دا دی چه د هغوئ د مشر وار حضرت یعقوبؑ سره ټوله شپه د الله تعالیٰ کبډی وه او د سحره پورے الله تعالیٰ هغه را اُونهٔ پرزوُو۔ چه سحر شو او الله تعالیٰ هغه ته اُووئیل چه ما پریږده چه لاړشم نو هغه ورته اُووئیل چه څه تا ترهغے نهٔ پریږدم ترڅوچه تا ماله برکت نهٔ وی راکړے۔ الله تعالیٰ د هغه نه تپوس اُوکړو چه ستانوم څه دے؟ هغه اُووئیل چه یعقوب۔ الله تعالیٰ اُوفرمائیل چه آئنده به ستانوم یعقوب نهٔ وی بلکه اسراءیل به وی "ځکه چه تا د خدائے او د سړو سره پرزَونه اُوکړه او غالب شوے"۔ اُوګورئ د یهودیانو د مقدّسو کتابونو نوے ترجمه (The Holy Scriptures) چه جوش پبلکیشن سوسائٹی آف امریکه په ۱۹۵۲ء کښے شائع کړی ده۔ کتاب پیدائش، باب ۳۲۔ آیتونه ۲۵ تا ۲۹۔ د عیسائیانو د بائیبل په ترجمه کښے هم دا مضمون په دے طریقه بیان شوے دے۔ د یهودی ترجمے په حاشیه د "اسرائیل" معنیٰ لیکلے شوی ده: (He who striveth with God) یعنی "هغه څوک چه د خدائے سره زور آزمائی اُوکړی"۔ او په سائیکلوپیډیا آف بِبلیکل لٹریچر کښے عیسائی عالمانو د اسراءیل د معنیٰ تشریح داکړی ده: (Wrestler with God)، "د خدائے سره کُشتی کونکے"۔ بیا د بائیبل په هُوسیع کتاب کښے د حضرت یعقوب تعریف دا بیان کړے شوے دے چه "هغه د خپل طاقت په زمانه کښے د خدائے سره کُشتی اُوکړه۔ هغه د فرښتو سره کُشتی اوکړه او غالب شو" (باب ۱۲۔ آیت ۴)۔ اُوس ظاهره خبره ده چه بنی اسرائیل آخرهم د هغه اسراءیلیانو څخه خو دی چا چه د هغوئ د عقیدے مطابق د خدائے سره زُور آزمائی کړی وه او د هغوئ سره ئے کُشتی کړی وه۔ د هغوئ د پاره آخر دا څه گرانه خبره ده چه ښه ورته معلومه وی چه د خدائے سره مقابله ده او بیا هم مقابلے ته تیار ولاړ وی۔ دا وجه وه چه هغوئ د خپل اقرار مطابق د خدائے پیغمبران قتل کړل او هم په دے وجه هغوئ حضرت عیسیٰؑ په خپل گمان کښے په سُولئ اُوخیژوُو او جهرائے دعویٰ اُوکړه چه اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ "موښره مسیح عیسیٰ ابن مریم د الله رسول قتل کړو"۔ لهذا دا خبره د هغوئ د روایاتو نه خلاف نهٔ وه چه هغوی محمّد صلی الله علیه وسلم پیژندو چه د الله رسول دے او بیا هم د هغه خلاف جنګ کوُو۔ که د هغوئ عوامونهٔ پیژندونو د هغوئ ربّی او احبار و خو نه پیژندو چه محمّد د الله رسول دے۔

فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ بِاَيْدِيْهِمْ وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ ۗ فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ ۝٢ وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ۭ وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ۝٣ ذٰلِكَ

دَ هغوئ په زړونو کښے رُعب واچوُ۔ نتیجه داشوه چه هغوئ پخپله په خپلو لاسونو هم خپل کورونه برباد ول اودَ مومنانو په لاسونو هم برباد ول۔ نو عبرت حاصل کړئ اے دَ ستر گو خاوندانو!

کیچرے اللہ دَ هغوئ په حق کښے بے وطنه کیدل نه وے لیکلے نو هم په دُنیا کښے به ئے ورله عذاب ورکړے وے اوپه آخرت کښے خودَ هغوئ دَپاره دَ دوزخ عذاب هسے هم دے۔ داتول هرڅه په دے وجه اُوشو چه

دَ دے دپر مثالونه پخپله په قرآن کښے موجود دی۔ (دَ تفصیل دَپاره اُوګورہ تفہیم القرآن، اوّل جلد، البقرہ، حاشیه ۷۹ - ۹۵۔ النساء، حاشیه ۱۹۰ - ۱۹۱ - څلورم جلد، الصّافات، حاشیه ۷۰ - ۷۳)۔

۵ په هغوئ باندے دَ اللہ تعالیٰ دَ رالتللو دا مطلب نه دے چه اللہ په بل ځائے کښے وُو او بیائے دَ هغه ځائے نه په هغوئ حمله اُوکړه۔ بلکه دا مجازی خبره ده۔ اصل مدّعا دِ دے خبرے ته پام راګرزول دی چه دَ اللہ سره په مقابله کولو کښے دَ هغوئ دا خیال وُو چه اللہ تعالیٰ په هغوئ باندے صرف په دے یو شکل کښے مُصیبت را وستلے شی چه یو لښکر په هغوئ راوَلی، اوهغوئ په دے ګمان کښے پراته وُو چه دَ دے مُصیبت نه خوبه مونږه دَ خپلو مضبوطو قلاګانو په ذریعه بچ شو۔ لیکن هغه دَ دا سے لارے نه په هغوئ حمله اُوکړه چه دَ هغے اړخ نه هغوی دَ څه مُصیبت رانللو توقع نه ؤ کړله۔ اوهغه لاره داوه چه هغه دَ ننه نه دَ هغوئ حوصلے کمزورے کړے چه بیائے نه وَسلے څه کار کولے شو اونه مضبوطو قلاګانو۔

۶ یعنی تباهی په دوه قسمه اُوشوه۔ دَ بهرنه مسلمانانو کیږه واچوله اودَ هغوئ دَ قلاګانو دیوالونه ماتول ئے شروع کړل۔ اودَ ننه نه پخپله اول خودَ مسلمانانو دَ هغ نیوی دَپاره خپل کورونه اُونړول اودَ هغے کانړی اولګی ئے دَ هغوئ په لاره کښے واچول۔ بیا چه کله دَ هغوئ یقین را غے چه هغوئ به دَ دے ځائے نه خامخا اُوزی، نو هغوئ خپل هغه کورونه چه دِیر په شوق سره ئے جوړ کړی او بنائسته کړی وُو، هغه ئے په خپلو لاسونو اُونړول چه دَ مسلمانانو په کار را نشی۔ دَ دے نه روستو چه کله هغوئ دَ رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم سره په دے شرط صلح اُوکړه چه مونږ دَ مرګ نه معاف کړے شو او اجازت دِ راکړے شی چه دَ وَسلے نه پرته نور څه دَ ځان سره دَ دے ځائے نه وُړے شو هغه وپسو نو په ټلو ټلو کښے ئے خپلے دروازے اوکړ کیانے اوستنے وغیره اُووستلے، او خُپلو خلقو خودَ لرګو چتو نه اوبشُونه په اُوښانو بار کړل اووے ئے وُړل۔

۷۵ یہ دے واقعہ کښے د عبرت ډیرا ځونه دی چه هغه څه یه دے وړه شان فقره کښے اشاره شوی ده - دا یهودیان آخر د ټیر وشو پیغمبرانو امتیان خړوو - خدائے ئے منلو - کتابونه ئے منل - مخکینی پیغمبران ئے منل - آخرت ئے منو - یه دے لحاظ سره یه اصل کښے هغوئ پخوانی مسلمانان وُو - لیکن کله چه هغوئ دین اواخلاق شاته اوغورزول اوصرف د خپل نفس د خواهشاتو اود دُنیا د فائیدو د پاره ئے د حق سره دُشمنی شروع کړه اوپخپله د خپلو وعدوئے هم څه لحاظ اُونه کړو نو د اللہ تعالیٰ د مهربانئ نظر د هغوئ نه واوړیدو - کنئ نو ظاهره خبره ده چه د اللہ تعالیٰ د هغوی سره څه ذاتی دُشمنی نه وه - یه دے وجه د ټولونه اوّل خو پخپله مسلمانانوته وئیلے شوی دی چه د هغوئ د انجام نه عبرت واخلی چه هسے نه هغوئ هم خپل ځان د یهودیانو پشان د خدائے نیازبین اولاد اوګڼی اودائے خیال راشی چه ګنی بس صرف د خدائے د آخری نبیؐ په اُمّت کښے شاملیدل د هغوئ د پاره کافی دی اود هغے نه روستو د دین اود اخلاقو څه پابندی د هغوی د پاره څه ضروری نه ده - د دے سره د دُنیا هغه ټولوخلقوته هم د دے واقعے نه عبرت ورکړے شوے دے چه هغوئ قصداً عمداً د حق مخالفت کوی اوبیاپه خپل دولت اوطاقت اوپه خپلو وسائلوباندے دابروسه کوی چه داځیزونه به ګنی هغوئ د خدائے د عذاب نه بچ کړی - د مدینے یهودیان د دے خبری نه څه ناواقفه نه وُو چه نبی صلی اللہ علیه وسلّم د یوقوم یا د یوے قبیلے د اُوچتولود پاره نه د دے راپاسید لے بلکه هغه یواُصولی دعوت پیش کوی چه د دُنیا ټولوانسانانوته خبر کوی اوهر انسان، خواه که هغه د هر نسل اود هر وطن سره تعلق لری، د دے دعوت په قبلولوسره د هغه په اُمّت کښے شاملیدے شی - هغوئ لیدل چه په اُمّت مُسلمه کښے د حبشو بلالؓ، د رُوم صُهیبؓ اود فارس سلمانؓ تے هغه حیثیت حاصل وُو کوم چه پخپله د رسول اللہ صلی علیه وسلم خپل خاندان ته حاصل وُو - په دے وجه د هغوئ په مخکښے داځه خطره نه وه چه قریش اواَوس اوخزرج به په هغوئ باند مُسلط شی - هغوئ د دے نه هم ناواقفه نه وُو چه نبیؐ کوم اُصولی دعوت پیش کوی هغه بالکل هم هغه دعوت دے کوم چه په پخپله د هغوئ پیغمبرانو پیش کولو - نبیؐ دا دعوی نه وه کړی چه مایوداسے نوے دین راوړے دے چه هغه مخکښے چا نه وُو راوړے اوتاسو خپل دین پریږدئ اوځما دا دین قبول کړئ - بلکه د نبیؐ دعوی داوه چه دا هم هغه دین دے چه د اوّل سرنه د خدائے ټولو پیغمبرانو راوړے دے، اود خپل توراة نه هغوئ پخپله هم د دے خبری تصدیق کولے شوچه واقعی دا هم هغه دین دے، د دے په اُصولوکښے د پیغمبرانو د دین د اُصولوسره هیڅ فرق نشته - په دے وجه خو په قرآن مجید کښے هغوئ ته وئیلے شوی وُوچه وَاٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍ بِهٖ " ایمان راوړئ ځما په نازل کړے شوی هغه تعلیم باند چه د هغه تعلیم تصدیق کوی کوم چه ستاسوسره د مخکښے نه موجود دے، اود ټولونه اول پرتاسو کافران مه جوړیږئ "

بیا هغوئ دا هم لیدل چه محمّد صلی اللہ علیه وسلّم د څنګه اخلاقو انسان دے، اود هغه د دعوت په قبلولوسره د خلقو په ژوند کښے څومره لوئ انقلاب راغلے دے - انصار خو د پیرے مودے راسے د هغوئ نزدے کاونډیان وُو - د اِسلام راوړلونه مخکښے چه د هغوئ کوم حالت وُو هغه هم دے خلقو لیدلے وُو او د اِسلام راوړو نه روستو چه د هغوئ کوم حالت شوهغه هم د دوئ مخے ته وُو - نود عوت او بلونکے یعنی داعی او د دعوت قبلولو اثرات، هرڅه هغوئ ته په واګه وُو - لیکن د دے هرڅه لیدلو اوپیژندلو باوجود هغوئ تش د خپل نسلی ننګ د پاره اود خپلو دُنیوی فائدو د خاطره د هغه څیز خلاف خپل ټول زُور اولګوئ

بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَآقِّ اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝٤ مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً عَلٰٓى اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ۝٥

هغوئ د الله اودهغه د رسول مقابله اوکړه ، اوځوک چه د الله مقابله کوی الله هغه له په سزا په سزا ورکولوکښے ډیر سخت دے ۔

تاسوچه د کجورو کومے ونے پرے کړے یاموپه خپلو جړ وباندې ولاړے پریښود لے ، دا هرڅه خاص د الله په اجازت سره وو ۔ اود (الله دا اجازت ځکه ورکړو) چه فاسقان خلق خوار اوذلیله کړی ۔

چه د هغے په حق والی کښے کم نه کم د هغوئ دپاره د شک گنجائش نه وُو ۔ د حق سره د قصداً دُشمنئ کولونه روستو هغوئ دا اُمید لرلو چه د هغوئ قلا گانے به هغوئ د خدائے د عذاب نه بچ کړی ۔ حالانکه ټول انسانی تاریخ په دے خبره گواه دے چه د خدائے طاقت د چا په مقابله کښے راشی نوهغه بیا په وَسله نشی بچ کیدے ۔

۵ د دُنیا د عذاب نه مُراد دے د هغوی نوم نشان ختمول ۔ که چرے هغوئ د صلے کولو په ځائے د خپل ځان د بچ کولو دپاره جنگ له راوتلی وے نونوم نشان به ئے بالکل ختم شوے وے ۔ د هغوئ سړی به وژلے شوی وے اود هغوئ ښځے اوبچی به و ښځے غلامان جوړ شوی وے ۔ چه د فدیے په ذریعه به ئے څوک خلاصوُنکے هم نه ٔ وے ۔

۹ دا اِشاره ده دے طرفته چه مسلمانانو لکه گیره شروع کړه نو د بنی نَضیر د کلی په خواوُ شا کښے چه د کجورو کوم باغونه وُو د هغے پرے ونے هغوئ پرے کړلے یا ئے اُوسوزولے چه گیره په آسانئ سره واچولے شی ، اوکومو ونو چه د فوجیانو مخه نه ٔ بند وله هغه ئے ولاړے پریښود لے ۔ په دے باندې د مدینے منافقانو او بنی قُریظه او بنځپله بنی نَضیر شور جوړ کړو چه محمد صلی الله علیه وسلم خوپه زمکه کښے د فساد کولو نه خلق منع کوی ، خوا وګورئ چه دا شنے شنے میوه دارے ونے وهلے کیږی ، دا په زمکه کښے فساد نه ٔ دے نو اخرڅه دی ۔ په دے باندې الله تعالیٰ داحکم نازل کړو چه تاسوکومے ونے پرے کړے اوکومے مو ولاړے پریښود ے ، په دے کښے یوکار هم ناجائزه نه ٔ دے بلکه دواړه د الله په اجازت شوی دی ۔ د دے نه دا شرعی مسئله را اُوزی چه د جنگی ضرورتونو دپاره کوم تخریبی کارضروری وی هغے ته په زمکه کښے فساد نشی وئیلے ، بلکه په زمکه کښے فساد داد ے چه یوفوج د جنگ په نشه کښے راشی اوهغه د دُشمن وطن ته ورننوزی او چه مخے له پټی ، څاروی ، باغونه او آبادی هرڅه ورزی هغه تباه کوی ۔ په دے معامله کښے عام حکم خوهغه دے کوم چه حضرت ابوبکر صدیق شام ته د لیږلو په وخت کښے فوجیانو ته کړے وُو چه میوه دارے ونے مه پرے کوئ ، فصلونه مه خرابوئ ، اوکلی مه وَرانوئ ۔ دا د قرآن مجید د هغه تعلیم مطابق دے

چه په کوم کښے په فساد یانو باندې بد وئیلے شوی دی او سخته زورنه وَرکړے شوی ده چه "کله هغوئ ته اقتدار په لاس ورشی نو فصلونه او نسلونه تباه کوی" (البقره - ۲۰۵) - لیکن د جنګی ضرورتونو د پاره خاص حکم داد ے چه که چرے د دُشمن خلاف د جنګ کهلو د پاره څه قسم تخریبی کار ضروری وی نو هغه کید ے شی - حضرت عبدالله بن مسعود دَد ے آیت په تشریح کښے داوضاحت کړے دے چه قطعوا منها ما کان موضعاً للقتال، "مسلمانانو د بنی نضیر د ونونه صرف هغه وُنے پرے کړے وِے کوم چه د جنګ په ځای کښے ولاړ وے" (تفسیر نیسابوری) - د اسلام په فقها وُ کښے څینو فقها وُ د معاملے دا اړخ پریښود ے اوداراے ظاهره کړی ده چه صرف خاص په واقعه کښے د بنی نضیر وُنے پرے کول جائز وُو، دَدے نه د جواز عامه مسئله نه را اُوزی چه کنی هرکله جنګی ضرورت وی نو د دُشمن وُنے پرے کړے کید ے شی - امام اَوزاعی، لَیث او ابوثور دے طرفته تلی دی - لیکن د جمهور فقها وُ مسلک داد ے چه د اهم جنګی ضرورتونو د پاره داسے کول جائز دی، البته د تخریب اود لُوټ مار د پاره دا کار جائز نه دے -

یوسے دا تپوس کولے شی چه د قرآن مجید دا آیت خو مسلمانان مطمئن کولے شی، لیکن کوم خلق چه قرآن د کلام الله په حیثیت سره نه منی هغوئ د خپل اعتراض په جواب کښے په څنګه مطمئن کید ے شو چه دا دواړه کارونه د الله د اجازت په وجه جائز دی؟ دَدے جواب داد ے چه د قرآن دا آیت خاص د مسلمانانو د مطمئن کولو د پاره نازل شوے دے، د کافرانو مطمئن کول هم د دَدے مقصد نه دے، داخو د یهود یانو او د منافقانو د اعتراض د وجے نه، یا پخپله د مسلمانانو په زړونو کښے دا فکر را پیدا شوے وُو چه هسے نه مونږه په زمکه کښے فساد کړے وی، په دے وجه الله تعالیٰ هغوئ له اطمینان ورکړو چه د کیږے اچولو د ضرورت د پاره څه وُنے پرے کول، او چه کوم وُنے د کیږے هغه نه بند وی هغه پریښودل دا دواړه کارونه د الله تعالیٰ د قانون مطابق صحیح وُو -

محدثینو چه کوم روایتونه نقل کړی دی په هغے کښے په دے خبره باند اختلاف دے چه آیا د دُونو د پریکولو اوسوزولو حکم پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم کړے وُو، یا مسلمانانو پخپله دا کار اُوکړو او روستو ئے بیا د دَد ے شرعی مسئله د نبیؐ نه اُوتپوسله - د حضرت عبدالله بن عمر روایت داد ے چه نبیؐ پخپله دَد ے حکم کړے وُو (بخاری، مُسلم، مسند احمد، ابن جریر) - هم دا روایت د یزید بن رُومان هم د ے (ابن جریر) - دَدے برخلاف د مُجاهد او د قتاده روایت داد ے چه مسلمانانو پخپله داوُنے پرے کړے وِے، بیا په هغوئ کښے په دے خبره اختلاف راځے چه دا کار کول پکار دی اوکه نه - څینو کسانو وئیل چه دا کار جائز د ے او څینو وئیل چه نه د ے جائز - آخر دا چه الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو او د دواړو دلو کارونو ته ئے صحیح اُووئیل (ابن جریر) - دَد ے تائید د حضرت عبدالله بن عباس دا روایت کوی چه د مسلمانانو په زړونو کښے په دے خبره فکر را پیدا شوچه په مونږه کښے څینو کسانو وُنے پرے کړی دی او څینو نه دی پریکړی، اُوس د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس کول پکار دی چه په مونږ کښے د چا کار د اجر مستحق دے او د چا په کار به کرفت وی - (نَسائی) - په فقها وُ کښے چه کوم خلقو اولنی روایت له ترجیح ورکړی ده هغوئ دَدے نه دا دلیل پیش کوی چه دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم اجتهاد وُو چه روستو الله تعالیٰ په وحی جلی (یعنی په قرآن) سره محکم کړو او دا دَدے خبری ثبوت دے چه په کوم معاملاتو کښے به د الله تعالیٰ حکم موجود نه وُو په هغے کښے به نبیؐ په اِجتهاد باند عمل کولو -

وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ

اوکوم مال چه الله تعالیٰ دَهغوئ دَ قبضے نه را اُوویستوا وخپل رسول ته ئے واپس ورکړو په هغے باندې تاسو خپل اَسونه اوخپل اُوښان نهٔ دی زُغلولی ، بلکه الله چه په چا اُوغواړی په هغوئ باندې خپل رسولان غالب راوَلی ،

بل طرفته چه کوموفقهاؤ دویم روایت له ترجیح ورکړی ده هغوئ دَدے نه دا دلیل پیش کوی چه دَ مسلمانانو دَوَړلو په خپل خپل اجتهاد سره دوه مختلفے رائے اختیارکړے وے اوالله تعالیٰ دواړه جائز اُوګرزَولے ، نوکه چرے په نیک نیتئ سره اجتهاد اُوکړے شی اوعالمان مختلفے رائے قائمے کړی نواګرکه دَهغوئ رائے دَیوبل نه مختلفے وی ، لیکن دَالله په شریعت کښے به هغوئ ټول په حق باندې وی ۔

۱۱ یعنی دَالله ارادہ داوه چه په وُنو پریکولو سره هم دَهغوئ رسوائئ اُوشی اوپه نهٔ پریکولو سره هم ۔ په وَنُو پریکولو سره دَ هغوئ دَ خوارو ذلیله کیدو اړخ داوُوچه کوم باغونه هغوئ په خپلولاسونو لګولی وُاودَ پرے مودے راسے دَهغے مالکان وُو ، هم دَهغه باغونو وُنے دَهغوئ په مخکښے پریکړے کیدلے اوهغوئ ترڅوک منع کولے نهٔ شو ۔ یومعمولی کروندګراو باغوان هم په خپل پټی یا باغ کښے دَبل چا واک اختیار برداشت کولے نهٔ شی ۔ که څوک دَهغه پټے یا باغ دَ هغه په مخ کښے بربادَوی نوهغه پرځان مرګوی ۔ اوکه هغه په خپل جائیداد کښے دَبل چا لاس نهٔ شی منع کولے نودا به دَ هغه دَپاره ډیره دَ ذلّت اودَ کمزورئ نښه وی ۔ لیکن دلته یوه پوره قبیله چه دَ سَوُونوکالوراسے په دِے ځائے کښے آباده وه ، ډیرپه بےوَسئ سره ګوری چه دَ هغوئ ګاونډیان دَ هغوئ په باغونو ورغلی دی اودَ هغے وُنے بربادَوی ، لیکن هغوئ ورته هیڅ نهٔ شی وئیلے ۔ دَدے نه روستو که هغوئ په مدینه کښے وُسیدلے هم خوهیڅ عزت به ئے پاتے نهٔ وُو ۔ پاتے شوَ وَنُو په نهٔ پریکولوکښے دَ ذلّت اړخ ، نوهغه داوُوچه کله هغوئ دَمدینے نه اُووتل نوهغوئ کنډ چه دَ پرونه پورے کوم شنه باغونه دَ هغوئ په قبضه کښے وُو هغه ټول دَ مسلمانانو په قبضه کښے دی ۔ که دَ هغوئ وَس کیدے نوټول باغونه به ئے وهلی وے او یوه وُنه به ئے هم مسلمانانوته نهٔ وے پریښودے ۔ لیکن دَ بےوَسئ په وجه هغوئ هرڅه په ځائے پریښودل اودَ افسوس دَ سَړو وسَړو اسویلو سره لاړل ۔

۱۲ اُوس دَ هغه جائیداد ونو ذکرکیږی کوم چه مخکښے دَ بنی نَضِیر په ملکیت کښے وُو او دَ هغوئ دَ بے وطنه کیدو نه روستو دَ اسلامی حکومت په قبضه کښے راغلل ۔ دَهغے په حقله دَدے ځائے نه دَلسم آیته پورے الله تعالیٰ دَهغے دَ انتظام کولوطریقه بنودلی ده ۔ چونکه دا اوله موقع وه چه یوعلاقه فتحه شوه اودَ اسلامی حکومت په قبضه کښے راغله ، اووړاندې پرے علاقے فتح کیدونکے وے ، نوپه دے وجه دَ فتوحاتو په شروع کښے دَ فتحه کړے شوو زمکو قانون بیان کړے شو ۔ دلته دَغور کولو قابله خبره داده چه الله تعالیٰ مَا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ " دَ هغوئ نه چه الله څه واپس کړل خپل رسول ته " الفاظ

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝٦ مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ
اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ
وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ كَىْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةً ۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ ؕ

اواللہ په هر څیز باندې قادر دے۔ کوم مال چه الله ورکړی د کلیو د خلقونه واپس خپل رسول ته ورکړی هغه د الله او د رسول او د رشته دارانو او د یتیمانو او د مسکینانو او د مسافرانو د پاره دے خاص د دے غرض د پاره چه هغه صرف ستاسو د مالدارو خلقو په منځ کښے تاویږی ۱۱۲ ۔

استعمال کړی دی ۔ د دے الفاظونه پخپله دا مطلب را اوزی چه دا زمکه او د زمکے په سرپټول څیزونه په اصل کښے د هغه خلقو حق نه دے کوم چه د الله جل شأنه باغیان دی ۔ د هغوئ که چرے په دوئ باندې قبضه ده نو داپه حقیقت کښے داسے قبضه ده لکه چه یو خیانت کونکو د خپل مالک مال اوړهی ۔ د دے ټولو مالونو اصل حق داد دے چه دا د د هغے د حقیقی مالک، الله رب العالمین په اطاعت کښے د هغه د مرضئ مطابق استعمال کړے شی، او د هغے دا استعمال صرف مومنان صالحان کولے شی ۔ دا وجه ده چه کوم مالونه د یوجائز او برحق جنګ په نتیجه کښے د کافرانو د قبضے نه را اوزی او د مومنانو په قبضه کښے راشی نو د هغے حقیقی حیثیت داد دے چه د هغے مالک هغه د خپل خیانت کونکو د کافرانو د قبضے نه را اووېستو او خپل فرمانبردار نوکرانو له ئے واپس ورکړو ۔ په دے وجه دے مالونو ته د اسلامی قانون په ژبه کښے فے (یعنی واپس کړے شوی مالونه) وئیلے شوی دی ۔

۱۱۲ یعنی دا مالونه داسے نه دی چه کوم فوج په میدان جنګ کښے د دشمن سره جنګیدلے دے هغوئ کنی په جنګ کولو سره دا مالونه ګټلی دی او په دے وجه داد هغوئ حق دے چه دا مالونه د په هغوئ تقسیم کړے شی، بلکه دا داسے مالونه دی چه په دے باندې الله تعالیٰ په خپل فضل سره خپلو رسولانو ته، او هغه نظام ته چه دا رسول ئے چلوی، غلبه ورکړی ده ۔ یعنی دا مالونه د مسلمانانو قبضے ته نیغ په نیغه د جنګی فوج په زور سره نه دی راغلی، بلکه دا د هغه مجموعی طاقت په وجه راغلی دی کوم چه الله تعالیٰ خپل رسول ته او د هغه امت ته او د هغه قائم کړے شوی نظام ته ورکړے دے ۔ دا وجه ده چه دا مالونه د غنیمت د مالونو نه بالکل مختلف حیثیت لری او د جنګی فوج دا حق نه دے چه د غنیمت د مال پشان د دا مالونه هم په هغوئ کښے تقسیم کړے شی ۔

په دے طریقه په شریعت کښے د غنیمت او د فے حکم جدا جدا کړے شوے دے ۔ د غنیمت حکم په سورۃ انفال آیت ۴۱ کښے بیان شوے دے، او هغه دا دے چه د غنیمت پنځه حصے ږ جوړے کړے شی، څلور حصے د په جنګید ونکی فوج باندې تقسیم کړے شی، او یوه حصه د په بیت المال کښے داخله کړے شی او په هغه ځایونو کښے د خرچ کړے شی کوم چه په هغه آیت و کښے بیان کړے شوی دی ۔ او د فے حکم دا دے چه دا د په فوج کښے نه تقسیمیږی، بلکه ټول د د هغه ځایونو کښے خاص کړے شی کوم چه په وړاندینو آیتونو کښے بیا نیولی ۔

په دے دواړو قسمونو مالونو کښے فرق فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ" تاسو په دے باندے خپل اسونه او اوښان نه دی زغلولی" په الفاظو سره ظاهر کړے شوے دے ۔ د اسونو او اوښانو زغلولو نه مراد دے جنګی کارروائی نو کوم مال چه بغیر په بیغه په دے ذریعه لاس له راغلے وی هغه غنیمت دے۔ او کوم مالونه چه په دے ذریعه نه وی حاصل شوی هغه ټول فے دی۔

دا کوم مجمل فرق چه د غنیمت او د فے په منځ کښے په دے آیت کښے بیان کړے شوے دے، د اسلام فقهاؤ دے لږه زیاته تشریح کړی ده او په دے طریقه ئے بیان کړے دے چه غنیمت صرف هغه منقوله مالونه دی کوم چه د جنګی کارروائئ په دوران کښے د دشمن د لښکرونه حاصل شوی وی ۔ د هغے نه ماسیوا د دشمن د ملک زمکے، مکانونه اونور منقوله اوغیر منقوله مالونه غنیمت نه دے ۔ د دے تشریح بنیاد د حضرت عمر رضی الله عنه هغه خط دے کوم چه هغه حضرت سعد بن ابی وقاص ته د عراق د فتحے نه روستو لیکلے وو ۔ په دے کښے هغه فرمائی چه فانظر ما اجلبوا به علیك فی العسکر من کراع او مال فاقسمه بین من حضر من المسلمین واترك الارضین والانهار لعمالها لیکون ذلك فی اعطیات المسلمین ۔" کوم مال سامان چه د فوج خلقو ستاپه لښکر کښے راوړے دے هغه په هغه مسلمانانو کښے تقسیم کړه کوم چه په جنګ کښے شریک وو او زمکے او نهرونه د هغه خلقو سره پریږده کوم چه په هغے باندے کار کوی د پاره د دے چه د هغے آمدن د مسلمانانو په تنخواګانو کښے پکار راشی"۔ (کتاب الخراج لابی یوسف صفحه ۲۴ ۔ کتاب الاموال لابی عبید صفحه ۵۹ ۔ کتاب الخراج لیحیٰی بن آدم، صفحات ۲۷ ۔ ۲۸ ۔ ۴۸)۔ په دے بنیاد باندے حضرت حسن بصری وائی "کوم څه چه د دشمن د کیمپ نه په لاس راشی هغه د هغه خلقو حق دے کومو چه په هغوئ باندے فتحه حاصله کړی ده او زمکه د مسلمانانو د پاره ده" (یحیٰی بن آدم، صفحه ۲۷) ۔ او امام ابو یوسف فرمائی چه "څه د دشمن د لښکرونه د مسلمانانو لاس ته راشی او کوم سامان او وسله او څاروی چه هغوئ خپل کیمپ ته راوړی هغه غنیمت دے او د دے نه به پنځمه حصّه ایستلے کیږی او باقی ځلور حصے به په فوج کښے تقسیمولے کیږی" (کتاب الخراج، صفحه ۱۸) ۔ هم دا رائے د یحیٰی بن آدم ده چه هغه په خپل کتاب الخراج کښے بیان کړی ده (صفحه ۲۷) ۔ د دے نه هم زیات وضاحت چه کوم څیز د غنیمت او د فے په منځ کښے کوی هغه دا دے چه د نهاوند د جنګ نه روستو کله د غنیمت مال تقسیم شوے وو او فتحه شوی علاقه په اسلامی حکومت کښے داخله شوی وه، یو صاحب سائب بن اقرع ته په قلعه کښے د ملګرو دوه ټیلئ ملاؤ شوے ۔ د هغه سره دا فکر راپیدا شو چه آیا دا د غنیمت مال دے چه په فوج د تقسیم کړے شی، او که دا په فے کښے شمار کیږی چه په بیت المال کښے ئے داخلول پکار دی؟ آخر دا چه هغه مدینے ته لاړو او معامله ئے د حضرت عمرؓ مخے ته پیش کړه او هغه فیصله اوکړه چه دا د خرچ کړے شی او د دے قیمت د په بیت المال کښے کیښودے شی ۔ د دے نه معلومه شوه چه غنیمت صرف هغه منقوله مالونه دی کوم چه د جنګ په دوران کښے د فوج لاس ته راشی ۔ د جنګ د ختمیدونه روستو د غیر منقوله مالونو پشان منقوله مالونه هم د فے په حکم کښے راځی ۔ امام ابو عُبید د دے واقعے په نقل کولو کښے لیکی، ما نیل من اهل الشرك عنوةً قسرا و الحرب قائمة فهو الغنیمة، وما نیل منهم بعد ما تضع الحرب اوزارها و تصیر الدار الاسلام فهو فیءٌ یکون للناس عاماً ولا خمس فیه"۔ کوم مال چه د دشمن نه په زور واغستلے شی او لا جنګ جاری وی، نو هغه غنیمت دے،

اودَ جنګ دَ ختمیدونه روستو چه کله دَ ملک نه دارالاسلام جوړ شوے وی، نو په هغه وخت کښے چه کوم مال لاس له راشی هغه فے ده چه هغه دَدارالاسلام دَعاموا وسیدونکو دَپاره وقف کول پکار دی - په هغے کښے خمس یعنی پنځمه نشته" (کتاب الاموال، صفحه ۲۵۴)۔

دَ غنیمت دَپاره دَ حَد مقرر ولونه روستو باقی چه کوم مالونه اوساما نونه اوزمکے دَکافرانو نه مسلمانانو ته منتقل شی هغه په دوولوړو قسمونو کښے تقسیم کړے شوی دی - یوهغه چه په جنګ سره فتح کړے شی هغے ته داسلامی فقهے په ژبه کښے عَنْوَةً فتحه شوی مُلکونه وئیلے شی - دویم هغه چه دَ صُلح په نتیجه کښے دَ مسلمانانو لاس ته راشی - خواه که هغه صُلح دَ مسلمانانو دَ فوجی طاقت دَ دباؤ یادَ رُعب اودَ هیبت په وجه شوی وی - او په دے قسم کښے هغه ټول مالونه هم راځی کوم چه عَنْوَةً دَ فتح کیدونه سِوا په بل شکل سره دَ مسلمانانو په قبضه کښے راشی - دَاِسلام دَ فقهاؤ په منځ کښے چه کوم بحثونه پیدا شوی دی هغه صرف دَ اوّل قِسم دَ مالونو په باره کښے پیدا شوی دی چه دَ هغے ټیک ټیک شرعی حیثیت څه دے ځکه چه هغه دَ فَمَا اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ په تعریف کښے نه راځی - پاتے شو دویم قِسم مالونه نو دَ هغے په باره کښے په دے خبره اتفاق دے چه هغه فے ده، ځکه چه دَ هغے حکم صفا صفا په قرآن مجید کښے بیان کړے شوے دے - وړاندے به مونږ ه دَ اول قِسم دَ مالونو په شرعی حیثیت باندے تفصیلی بحث کوُو -

۱۳ه په تیر شوی آیت کښے صرف دومره خبره شوی وه چه دا مالونه په څه وجه په جنګی فوجونو باندے دَ غنیمت پشان نه تقسیمیږی، اودَدے شرعی حکم دَ غنیمت نه وَلے جُدا دے - اُوس په دے آیت کښے دا وئیلے شوی دی چه دَدے مالونو حقدار څوک څوک دی -

په دے کښے دَ ټولونه اوّل حصّه دَ اللہ اودَ رسول ده - په دے حکم باندے چه رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم څنګه عمل کړے دے دَهغے تفصیل مالک بن اَوس بن الحَدَثان دَ حضرت عمر رضی اللہ عنه دَ روایت نه دارانقل کړے دے چه نبیؐ به دَدے حصّے نه دَ خپل ځان اودَ خپل اهل و عیال نفقه اغستله اوبا قی آمدنی به ئے دَ جهاد دَپاره په وَسلے اوسورلئ اغستلو باندے خرچ کوله (بخاری، مُسلم، مُسنَدِ احمد، ابوداؤد، ترمِذی، نسائی وغیره)۔ دَنبیؐ نه روستو دا حصّه دَ مسلمانانو بیت المال ته منتقل شوه چه دَ هغه مقصد دَپاره خرچ شی کوم چه اللہ خپل رسول ته حواله کړے وُو - دَ امام شافعیؒ نه دا رائے نقل کړے شوی ده چه دَرسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم دَ خاص ذات دَپاره کومه حصّه وه هغه دَ هغهٔ نه روستو دَ هغه دَ خلیفه دَپاره ده، ځکه چه نبیؐ دَ امامت دَ مَنصَب په وجه دَدے مستحق وُو نهٔ چه دَ رسالت دَ مَنصَب په وجه - لیکن دَ اکثرو شافعی فقهاؤ قول په دے معامله کښے هغه دے کوم چه دَ جمهور قول دے، چه دا حصّه اُوس دَ مسلمانانو دَ دینی او اجتماعی کارونو دَپاره ده دَیو خاص سړی دَپاره نهٔ ده -

دویمه حصّه دَ رشته دارانوده، اودَدے نه مُراد دَ رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم رشته دارانِ دی، یعنی بنی هاشم اوبنی المُطّلب - دا حصّه دَدے دَپاره مقرر کړے شوی وه چه رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم دَ خپل ذات اودَ خپل بال بچو دَ حقونو دَ ادا کولو سره سره دَ خپلو هغو رشته دارانو حقونه هم ادا کړے شی چه هغوئ دَ هغه دَ مدد محتاج وی، یا چه هغه دَ چا دَ امداد کولو ضرورت اُوکښی - دَ نبیؐ دَ وفات نه روستو دا حصّه هم دَ یوے جُدا او مستقلے حصّے په حیثیت سره باقی پاتے نهٔ شوه، بلکه

وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۗ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ

اوځه چه رسول تاسوله درکړی هغه واخلئ اوچه دکوم څیز نه تاسو هغه منع کړی دهغے نه منع شئ۔

د مسلمانانو د نورو مسکینانواو یتیمانواو مسافرانوسره د بنی هاشم اود بنی المُطّلب چه کوم محتاجه خلق وُو د هغوئ حقونه هم د بیت المال په ذمّه باندِ شول ، البته د هغوئ حق په نورو باندِ په دے وجه بَر اوکنړلے شوچه په زکوٰة کښے د هغوئ حصّه نشته ۔ د حضرت عبد اللّٰه بن عباس روایت دے چه د حضرت ابوبکرؓ ، حضرت عمرؓ اوحضرت عثمانؓ په زمانه کښے اَولنئ دوه حصّے ختمے کړے شوے اوصرف باقی درے حصّے (یتیمان ، مسکینان اومسافران) د فے په حقدارانو کښے شامل پاتے کړے شوے ، بیاهم په دے باندِ حضرت علی کرم اللّٰه وجهه په خپله زمانه کښے عمل اُوکړو۔ محمّد بن اسحاق د امام محمّد باقِر قول نقل کړے دے چه اگرچه د حضرت علیؓ خپله ذاتی رائے هم هغه وه کومه چه د هغه د اهلِ بیت رائے وه (چه دا حصّه د نبیؐ رشته دارانوته مِلاویدل پکاردی) لیکن هغه د ابوبکر اود عمرؓ د رائے نه خلاف کول خوښ نه کړل ۔ حَسَن بن محمد بن حَنَفِیّه وائی چه د نبیؐ نه روستو دَد دے دوارِ وحصّو(یعنی د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم د حصّے اود ذوی القربیٰ د حصّے) په حقله په رائے کښے اختلاف پیدا شوے وُو۔ د حُسینو خلقو رائے وه چه اوّله حصّه د نبیؐ خلیفه ته مِلاویدل پکاردی ۔ د څه خلقو رائے وه چه دویمه حصّه د نبیؐ رشته دارانوته مِلاویدل پکاردی۔ د حُسینو نورو خلقو خیال وُو چه دویمه حصّه د خلیفه رشته دارانوته ورکول پکاردی ۔ آخر داچه په دے خبره اجماع اُوشوه چه دا دواړه حصّے دِ جهاد په ضرورتونو باندِ خرچ کړے شی ۔ عطاء بن سائب وائی چه حضرت عمر بن عبد العزیز په خپله زمانه کښے د نبیؐ حصّه اود رشته دارانو حصّه بنی هاشم ته لیږل شروع کړی وُو ۔ د امام ابوحنیفه اود اکثر وحنفی فقهاوُو رائے داده چه په دِ دے معامله کښے هغه عمل صحیح دے کوم چه د خلیفه گانو په زمانه کښے جاری وُو (کتاب الخراج لابی یوسف صفحه ۱۹ تا ۲۱) ۔ د امام شافعی رائے داده چه د کومو خلقو په حقله دا ثابته وی چه هغوی هاشمیان مُطلّبیان دی یا عام طور خلقو ته معلوم وی نو د هغوی غنی اوفقیر دواړو ته د فے نه مال ورکړے کیدے شی ۔(مُغنی المحتاج)۔ حنفیان وائی چه صرف په هغوی کښے د محتاجو خلقو امداد دَدے مال نه کیدے شی ، البته د هغوئ حق په په نورو باندِ د پاسه دے (رُوح المعانی) ۔ د امام مالک په نزد په دے معامله کښے په حکومت باندِ څه پابندی نشته ، چه په کوم مَد کښے څه رنګے مناسب ګڼی هم هغسے دِ خرچ کړی ، لیکن بهتره خبره داده چه اِلِ رسول صلی اللّٰه علیه وسلم مخکښے کړی (حاشیه الدُّسُوقی علی الشرح الکبیر) ۔

د باقی دریو حصّو په بارهٔ کښے د فقهاوُ په منځ کښے څه بحث نشته ۔ البته د امام شافعی اود ائمه ثلاثه په منځ کښے اختلاف داد ے چه د امام شافعیؒ په نزد فے قول مالونه په پنځو برابر برابر حصّو کښے تقسیم کړے شی په هغے کښے یوه حصّه په پاسنو ځایونو باندِ په دے طریقه خرچ کول پکاردی چه د هغے ۱/۵ یعنی پنځمه حصّه دِ د مسلمانانو پکار باندِ ، ۱/۵ یعنی پنځمه حصّه په بنی هاشم اوبنی المُطلب باندِ ۱/۵ په یتیمانو باندِ ، ۱/۵ په مسکینانو باندِ اوه ۱/۵ په مسافرانو باندِ خرچ کړے شی ۔ د دے برخلاف امام مالک ، امام ابوحنیفه اوامام احمد دَدِے تقسیم قائل نه دی ، اود هغوئ رائے داده چه د فے قول مال د مسلمانانو د کارونو

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝ لِلْفُقَرَاۗءِ الْمُهٰجِرِيْنَ

د الله نه اُوېرېږئ، الله سخت سزا ورکوونکے دے۔[۱۵] (دا ټنګے هغه مال) د هغه غریبو مهاجرینو د پاره دے

د پاره دے (مغنی المحتاج)۔

۱۴ د دا د قرآن مجید هغه اهم ترین اُصولی آیت دے چه په دے کښے د مسلمانانو او د حکومت د معاشی پالیسئ دا بُنیادی قاعده بیان کړے شوی ده چه دولت دِ په ټولو خلقو کښے عام گردش کوی، دا سے دِ نه وی چه مال دِ صرف په مالدارو خلقو کښے چکر ے خوری، یا دِ مالدار خلق وُرځ په وُرځ بنه مالداران کیږی او غریبان خلق دِ وُرځ په وُرځ بنه غریبان کیږی، په قرآن مجید کښے صرف د دے پالیسئ په بیانولو باندِ اکتفا نه ده شوی بلکه د دِ مقصد د پارہ سُود حرام حرام کړے شوے دے، زکوٰة فرض کړے شوے دے، د غنیمت د مالونو نه د خمس یعنی د پنځمے حصّے د ایستلو حکم شوے دے، د نفلی صدقو نصیحت ځائے په ځائے شوے دے، مختلف قِسم کفارے په دا سے شکلونو کښے مقرر کړے شوی دی چه د هغے په ادا کولو سره د دولت مخه غریبو خلقو ته ورکرزَ ولے کیږی، د میراث دا سے قانون جوړ کړے شوے دے چه د هرمړی نه پاتے شوے دولت د زیاتو نه په زیاتو حصّو کښے خوریږی، په اخلاقی حیثیت سره په شومتیا کولو سخت بَد ویلے شوی دی او سخا یو بنکلے صفت گرزَ ولے شوے دے، مالدارو خلقو ته ډاویلے شوی دی چه د هغوی په مالونو کښے د سوالګری او د محروم سړی حق دے چه هغه خیرات نه دے بلکه هغه هغوئ ته د هغوئ حق ادا کولو په حیثیت ورکول پکار دی، او د اِسلامی حکومت د آمدنئ د یوے غټے ذریعے، یعنی فے په حقله دا قانون مقرّر کړے کړے شوے دے چه د دے یوه حصّه دِ لازماً د غریبو خلقو د اِمداد د پارہ خرچ کولے کیږی۔ په دے سلسله کښے دا خبره هم په نظر کښے ساتل پکار دی چه د اِسلامی حکومت د آمدنئ په ذریعو کښے اهم ترین ذریعے دوه دی - یو زکوٰة، بل فے - زکوٰة د مسلمانانو د هغے سرمائے یعنی پټنګے، ذخیرو، تجارتی مالونو او فصلونو نه اغستلے کیږی چه هغه د نصاب نه زیاتی وی، او دا زیات تر غریبانو له ورکړے کیږی - او په فے کښے د جزیے او د خراج سره هغه ټولے آمدنیانے شامل دی کومے چه د غیر مسلمه خلقونه حاصلے شی، او د هغے هم پنځمه حصّه د غریبانو د پارہ خاص کړے شوی ده - دا بنکارہ اِشارہ دِ دے طرفته ده چه یو اسلامی حکومت له پکار دی چه هغه د خپلے آمدنئ او د خرچ نظام، او د ملک د ټولو مالی او معاشی معاملاتو نظام په دا سے طریقه جوړ کړی چه د دولت په ذریعو باندِ د مالدارو او د بائرہ خلقو اجاره داری قایمه نه وی، او چه نه د دولت مخه د غریبانو نه امیرانو ته شی اونه صرف په امیرانو کښے تاویږی راتاویږی۔

۱۵ د بیان کومه سلسله چه راروانه ده د هغے په لحاظ سره د دے آیت مطلب دا دے چه د بنی نضیرو د مالونو په انتظام کښے، او د غه شان دِ فے د مالونو د تقسیم په معامله کښے رسول الله صلی الله علیه وسلم کومه فیصله اوکړی هغه بے تپوسه منئ، څه چه نبئ چاله ورکړی هغه واخلئ، او څه چه ور نه کړی د هغے خلاف آواز مه اوچتوئ۔ لیکن چونکه د حکم الفاظ عام دی نو په دے وجه دا نه مُراد صرف دَ فے د مالونو تقسیم نه دے، بلکه د دے نه مُراد دا دے چه په ټولو معاملاتو کښے د مسلمانانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم اِطاعت کوی - د امطلب په دِ دے خبره سره نور هم واضحه کیږی چه "څه تاسوله رسول درکړی" په مقابله کښے "اوچه درنه کړی" الفاظ نه دی استعمال کړے

الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ

چه هغوئ دَ خپلو کورونو او جائیدادونونه[۱۶] ایستلے شوی دی ۔ دا خلق دَ الله فضل او دَ هغه رضا

شوی، بلکه دا فرمائیلے شوی دی چه " دَ کوم څیز نه هغه تاسو منع کړی دَ هغې نه منع شئ "۔ که چرے دُحکم صرف دَ فَے دَ مالونو دَ تقسیم دَ پاره وے نو دَ " څه درکړی " په مقابله کښے به ئے " څه درنه کړی " فرمائیلی وے ۔ دَ منع کولو دَ الفاظونه پخپله دا معلومیږی چه دَ حُکم مقصد دَ نبیؐ امر او نهی منل دی ۔ دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله هم فرمائیلی ده ۔ دَ حضرت ابوهریره روایت دے چه نبیؐ فرمائیلی دی اِذَا اَمَرْتُکُمْ بِاَمْرٍ فَاْتُوْا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَمَا نَهَیْتُکُمْ عَنْهُ فَاجْتَنِبُوْهُ ۔" هرکله چه څه تاسو ته دَ یوے خبرے حُکم اُوکړم نو څومره چه کیدے شی په هغې عمل کوئ ۔ اوچه دَ کومے خبرے نه تاسو منع کړم دَ هغې نه ځان ساتئ "۔ (بخاری، مُسلم) ۔ دَ حضرت عبدالله بن مسعودؓ په حقله روایت دے چه یوځلے هغه په تقریر کښے اُوفرمائیل چه " الله تعالیٰ په فلانی فلانی فیشن کونکو ښځو باندِ لعنت وئیلے دے "۔ دَ دے تقریر په اَوریدو سره یوه ښځه دَ هغه خوله راغله او عرض ئے اوکړو چه دا خبره تا دَ کوم ځائے نه راغستی ده ؟ دَ الله په کتاب کښے خو دا خبره ځما دَ نظر نه نهٔ ده تیرَه شوی ۔ حضرت عبدالله اُوفرمائیل تاکه چرے دَ الله کتاب وئیلے وے نو دا خبره به ضرور تاته په هغې کښے ملاؤ شوی وه ۔ تادا آیت نهٔ دے لوستلے چه " مَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ؟ هغې عرض اُوکړو، هَو دا آیت خو ما لوستلے دے ۔ حضرت عبدالله ورته اُوفرمائیل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دَدے نه منع کړی ده اودائے فرمائیلی دی چه کومے ښځے دا سے کار کوی په هغوی باندِ الله تعالیٰ لعنت وئیلے دے ۔ هغې ښځے عرض اُوکړو چه څه اُوس پوهه شوم (بخاری، مُسلم، مُسند احمد، مُسند ابن ابی حاتم)۔

[۱۶] دَ دے نه مُراد هغه خلق دی کوم چه په هغه وخت کښے دَ مکّے نه اودَ عرب دَ نورو علاقو نه صرف په دے وجه ایستلے شوی وُو چه هغوی اِسلام قبول کړے وُو ۔ دَ بنی نَضِیر علاقه چه لا نهٔ وه فتحه کړے شوی دَ هغې پورے دَ دے مهاجرینو دَ پاره دَ ژوند تیرَولو څه مستقله ذریعه نهٔ وه ۔ اُوس حُکم اُوشو چه دا کوم مال په دے وخت کښے لاس له راغلے دے، او آئنده چه کوم مالونه دَ فَے په طور لاس له راشی، په هغې کښے دَ عامو مسکینانو، یتیمانو او مسافرانو سره سره دَ دے خلقو حق هم دے، دَ هغې نه دا سے ټولو خلقو ته امداد ورکول پکار دی کوم چه دَ الله او دَ هغه دَ رسول او دَ هغه دَ دین دَ خاطرِ په هجرت مجبوره کړے شی او دارالاسلام ته راشی ۔ دَ دے حُکم په بُنیاد باندِ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ بنی النَضِیر دَ جائیدادونو یوه حصّه په مهاجرینو کښے تقسیم کړه او دَ کجورو هغه وُنے کومے چه انصارو خپلو مهاجرینو رونړو ته دَ امداد دَ پاره ورکړی وِے هغه ئے هغوئ ته واپس کړے ۔ لیکن دا خیال کول صحیح نهٔ دی چه په فَے کښے دَ مهاجرینو دا حصّه صرف دَ هغه زمانے دَ پاره وه ۔ په حقیقت کښے دَ دے آیت مطلب دا دے چه دَ قیامته پورے کوم خلق دَ اسلام قبلولو په وجه بے وطنه شی او په یو اسلامی وطن کښے په پناه اغستلو مجبور شی ۔ هغوئ له ځائے ورکول، او هغوئ په خپلو متو دَ روزئ کهلو قابل جوړول دَ هغه وطن دَ اسلامی حکومت فرض دی، او دَ زکوٰة نه علاوه دَ فَے دَ مالونو نه هم په دے مَدّ باندِ خرچ کول پکار دی ۔

وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۭ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۝۸
وَالَّذِيْنَ تَبَوَّءُو الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ
اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ
عَلٰٓي اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۭ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ

غواړی اودَ اللہ اودَ هغه دَ رسول مرستے ته ملا تړلی وُسی ـ هم داربینښتینی خلق دی ـ (اودغه مال دَ هغه خلقو دپاره هم دے) چه هغوئ دَ دے هاجرو دَ راتلونه مخکښے ایمان راوړے وُو اوپه دارالهجرت کښے اُوسیدل[۱۷] ـ دوئ دَ هغه خلقو سره مینه کوی چه هغوئ دَ دوئ ځائے ته په هجرت راغلی دی اوهرڅه چه دوئ له ورکړے شی دَ هغے هیڅ حاجت قدر له هم په خپلو زړونو کښے نه لری اوپه خپل ځان باندے نور وله ترجیح ورکوی اګرچه پخپله هم محتاجه[۱۸] وی ـ حقیقت دا دے چه کوم خلق دَ خپل زړه دَ تنګسیانه بچ کړے شو

۱۷ دَ دے نه مُراد دی انصار ـ یعنی په فَے کښے صرف دَ مهاجرو حق نه دے، بلکه کوم مسلمانان چه دَ مخکښے نه په دارالاِسلام کښے آباد دی هغوئ هم په دے کښے دَ حصّے حقدار دی ـ

۱۸ دا صفت دے دَ مدینے دَ انصارو ـ مهاجرچه کله دَ مکّے اودَ نورو ځایونونه دَ هغوئ ښار ته په هجرت راغلل نوهغوئ دَ رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو او وے وئیل چه زمونږ ه باغونه اودَ کجورو وُنے حاضر دی، دا زمونږ ه اودَ مهاجرو په منځ کښے تقسیم کړه ـ نبیؐ اُوفرمائیل چه دا خلق خو په باغوانئ نه پوهیږی، دوئ دَ دا سے علاقے نه راغلی دی چه هلته باغونه نشته، آیا دا سے کیدے نشی چه تاسو په دے خپلو باغونواودَ کجورو په وُنو کښے کارکوئ اوپه پیداوار کښے دوئ له حصّه ورکوئ؟ هغوئ اووئیل سمعنا و اطعنا ـ (بخاری، ابن جریر) ـ مهاجرینواووئیل چه مونږ ه هیڅکله دا سے خلق نه دی لیدلی چه هغوئ دومره غټه قربانی کوی ـ دوئ به کار په خپله کوی اوحصّه به مونږ له راکوی ـ زمونږ خو دا خیال دے چه ټول ثوابونه دَ دوئ شو ـ نبیؐ اُوفرمائیل چه نه، ترڅو پورے تاسودَ دوئ صفتونه کوئ، اودَ دوئ په حق کښے دَ خیر دُعا کانے کوئ، تاسوته به هم ثوابونه ملاویږی (مُسند احمد) ـ بیاچه کله دَ بنی النَضیر علاقه فتح شوه نو رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم اُوفرمائیل چه اُوس دَ بندوبست یوشکل دا دے چه ستاسو جائیدادونه او دَ یهودیانونه پاتے شوی باغونه اودَ کجورو وُنے را یوځائے کړے شی او بیاټول په شریکه ستاسواو دَ مهاجرینو په منځ کښے تقسیم کړے شی ـ اودویم شکل دادے چه تاسو خپل جائیدادونه دَ ځان سره کړئ اودا پاتے شوی زمکے دِ په مهاجرینوکښے تقسیم کړے شی ـ انصارؓو عرض اوکړو چه داجائیدادونه په هغوئ تقسیم کړه اوزمونږ دَ جائیدادونونه هم چه څومره تنه غواړے

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

هم هغوئ فلاح موندونکی دی[۱۹]۔ (اودغه مال د هغه خلقو د پاره هم دے) چه هغوئ دوئ نه روستو را غلی دی[۲۰]،

هغومره دوئ له ورکړه ۔ دا دے په اوریدو سره حضرت ابوبکرؓ اوفرمائیل جزاکم الله یا معشر الانصار خیراً (یحییٰ بن آدم ۔ بلاذری) د غه شان د انصارو په رضا سره د یهودیانو پاتے شوے مال په مهاجرینو کښے تقسیم کړے شواو په انصارو کښے صرف حضرت ابو دُجانه ، حضرت سهل بن حُنَیف (او په څینی روایت کښے) حضرت حارث بن الصِّمَه ته حصے ورکړے شوی ، ځکه چه دوئ پیرغریبان وُو (بلاذری ، ابن هشام ، رُوح المعانی) ۔ هم د غه شان قربانی انصارو په هغه وخت کښے اوکړه کله چه د بحرین علاقه په اسلامی حکومت کښے شامله شوه ۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتله چه د دے علاقے فتحه شوی زمکے د انصارو له ورکړے شی ۔ لیکن هغوئ عرض اوکړو چه مونږه د دے نه هیڅ حصّه نه اخلو ترڅوچه دومره زمونږه مهاجرو رونړو ته نه وی ورکړے شوی (یحییٰ بن آدم) ۔ د انصارو دا هغه قربانی ده چه صفت ئے الله تعالیٰ بیان کړے دے۔

[۱۹] "بچ شو" نه دی فرمائیلے شوی بلکه "بچ کړے شو" فرمائیلے شوی دی ، ځکه چه د الله د توفیق اود الله د مدد نه بغیر هیڅوک پخپله پخپل زور سره د زړه مالداری نه شی مُوندلے۔ دا د خدائ هغه نعمت دے چه صرف د خدائ په فضل سره انسان ته نصیب کیږی ۔ شُح لفظ په عربئ ژبه کښے د کنجوسئ یعنی شومتیا او بُخل د پاره استعمالیږی ، لیکن هرکله چه دا لفظ د نفس سره استعمال کړے شی او شُحّ نفس اُوویلے شی نو دے معنیٰ د نظر تنګی ، او د زړه تنګی ، کمه حوصله او وَړه سینه شی چه د شومتیانه هم فرابنه مطلب لری ، بلکه د شومتیا هم اصلی بُنیاد دا دے ۔ د دے صفت په وجه د بل حق منل او د بل حق اداکول خولویه خبره ده بلکه بل ته د ښه وئیلو اقرارکول ئے هم زړه نه منی ۔ هغه غواړی چه په دُنیا کښے د هرڅه هغه ته ملاؤشی بل د هیڅ نه څه نه ملاوی ښی ۔ بل ته خوښه ورکړه کول خوغټه خبره ده ، بل څوک که چاله څه ورکړی نو د هغه زړه درد کوی ۔ د هغه حرص هیڅکله په خیل حق صبر نه کوی ، بلکه هغه د نورو حق ته لاسونه وراُوږدوی ، یا کم نه کم د زړه نه دا غواړی چه د هغه نه په کیږ چا پیره دُنیا کښے کوم شه څیزدے هغه د څان د پاره کړی اوبل چاله شیٔ پرے نږدی ۔ په دے وجه په قرآن مجید کښے د دے بدئ نه بچ کیدو ته د فلاح ضمانت ویئلے شوے دے ، اورسول الله صلی الله علیه وسلم د انسان دے خراب صفت ته د فساد جړه ویئلی ده ۔ د حضرت جابر بن عبدالله نه روایت دے چه نبیؐ اوفرمائیل ، اتقوا الشح فان الشح اهلك من قبلكم حملهم علىٰ ان سفكوا دماءهم واستحلوا محارمهم (مُسلم ، مُسند احمد ، بَیهقی ، بخاری فی الادب) ۔ د حضرت عبد الله بن عمرو په روایت کښے الفاظ دادی ، امرهم بالظلم فظلموا وامرهم بالفجور ففجروا ، وامرهم بالقطيعة فقطعوا (مُسند احمد ، ابوداؤد ، نسائی)۔ یعنی "د شح نه څان ساتئ ځکه چه ستاسونه وراندے خلق شُح هلاک کړل ۔ دے څیزئ هغوئ د یوبل وینو تویولو ته اود بل حرام څیزونه د څان د پاره حلال لولو ته تیارکړل ۔ دے څیز هغوئ ظلم کولو ته تیارکړل اوهغوئ ظلم اوکړو ۔ د بدئ (فجور) حکم ئے ورته اوکړو اوهغوی بدئ اوکړه ، خپلوئ خپلولو ته ئے تیارکړل اوهغوئ خپلولی خپله کړه "۔

دَ حضرت ابوهریرهؓ روایت دے چه نبیؐ اُوفرمائیل " ایمان اوشُحّ نفس دَ چا په زړهٔ کښے نشی جمع کیدے " (ابن ابی شیبه ، نَسائی ، بَیهقی فی شُعَبِ الایمان) حاکم) ۔ دَ حضرتِ ابو سعید خُدری بیان دے چه نبیؐ اُوفرمائیل : " دوه خُویُونه دی چه په مسلمان کښے جمع کیدے نشی ، بُخل اوبد خوئ " (ابوداؤد ، ترمذی ، بُخاری فی الادب) ۔ دَ اسلام دَ دے تعلیم وجه ده چه یونیم تن نهٔ ، بلکه ټول مسلمانان بحیثیت دَ یوقوم په دُنیا کښے ژوند دَ ټولونه زیات سخیان اوار تے سینے والا دی ۔ کوم قومونه چه په ټوله دُنیا کښے دَ زړه دَ تنګسیا اودَ شومتیا په اعتبار سره مثال نهٔ لری پخپله دَ هغوئ نه چه کوم په لکوُنو او کروړونو خلق مسلمانان شوی دی هغوئ دَ خپل غیر مُسلمه نسل سره اُوږه په اُوږه اوسی ۔ دَ دواړو په منځ کښے چه دَ زړه دَ فراښتیا اوتنګسیا کوم څرګند فرق دے دَ هغے وجه دَ دے نه سِوا بله هیڅ نشی کیدے چه دادَ اسلام دَ اخلاقی تعلیم فائیده ده چه دَ مسلمانانو زړونه ئے غټ کړی دی ۔

۲۰ دَ دے ځائے پورے چه کوم حکمونه بیان شوی دی په هغے کښے دا فیصله شوی ده چه په فَے کښے دَ اللہ اودَ رسول ، اودَ رسول دَ خپلوانو ، اودَ یتیمانواومسکینانواومسافرو ، اومهاجرینواوانصارو ، اودَ قیامته پورے دَ راتلونکومسلمانانوحقونه دی ۔ دَ قرآن مجید دا هغه اهمه قانونی فیصله ده چه دَ دے په رښتیا کښے حضرت عمرؓ دَ عراق اودَ شام اودَ مصرَ فتحه شوو ملکونو دَ زمکواوجائیدادونو نسوے بندوبست اُوکړو ، اودَ دغه ملکونودَ تیروشوو حکومتونواودَ هغوئ دَ حکمرانانو دَ جائیدادونو نوے بندوبست ئے هم اُوکړو ۔ دا ملکونه چه کله فتحه شوُنو حُینو صحابو چه په هغے کښے حضرت زبیر ، حضرت بلال ، حضرت عبدالرحمٰن بن عوف ، اوحضرت سلمان فارسی غوندِ بزرګان شامل وُو د ډیر په ټینګښتیا سره اُوویُیل چه دا د په هغه فوجونو باندِ تقسیم کړے شی څوک چه جنګیدلی دی اودا ئے فتحه کړی دی ۔ دَ هغوئ داخیال وُوچه دا مالونه فَمَآ اَوۡجَفۡتُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ خَيۡلٍ وَّلَا رِكَابٍ په تعریف کښے نهٔ راځئ بلکه په دے باندِ خو مسلمانانو خپل اسُونه او اُوښان زغلولی دی اودا ئے ګټلی دی ، په دے وجه دَ هغه ښارونو اوعلاقونه علاوه چه هغوئ دَ جنګ نه بغیر اطاعت قبول کړے دے ، باقی نُور ټول فتحه شوی مُلکونه په غنیمت کښے راځئ اودَ هغے شرعی حکم داد ے چه دَ هغے دَ زمکواودَ هغے دَ وُسیدونکو پنځمه حصّه دِ بیت المال له ورکړے شی ، او باقی څلور حصّے دِ په فوج باندِ تقسیم کړے شی ۔ لیکن دا رائے په دے وجه صحیح نهٔ وه چه دَ رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم په زمانه کښے کومے علاقے په جنګ سره فتحه کړے شوے وے په هغے کښے دَ هیڅا زمکے اووُسیدونکی نبیؐ دَ غنیمتونو پشان دَ پنځمے حصّے دَ ایستلونه روستو په فوج باندِ نهٔ وے تقسیم کړے ۔ دَ نبیؐ دَ زمانے دوه څرګند مثالونه دی یودَ مکے فتحه اوبله دَ خیبر فتحه ۔ په دے کښے مکّه خوهوبه هوهغه دَ مکّے وُسیدونکوته حواله کړه ۔ پاتے شوخیبر ، نودَ هغے پحقله دَ حضرت بشیر بن یَسار روایت دے چه نبیؐ هغه شپږ دیرش حصّے کړو او په هغے کښے اَتَلَس حصّے دَ اجتماعی ضرورتونو دَ پاره وقف کړلے او باقی اَتَلَس حصّے ئے په فوج باندِ تقسیم کړے (ابوداؤد ، بَیهقی ، کتاب الاموال لابی عُبید ، کتاب الخروج لیحیٰی بن آدم ، فتوح البلدان لِلبَلاذُری فتح القدیر لابن هُمام) ۔ دَ نبیؐ دَ دے عمل نه دا خبره څرګنده شوی وه چه دَ فتحه شوو زمکو حکم ، اګر چه هغه په جنګ سره فتحه شوی وی ، دَ غنیمت نهٔ دے ، کنئ نودا څنګه کیدے شوه چه نبیؐ خو مکّه بالکل دَ مکے وُسیدونکوته حواله کړے وے اودَ خیبر نه ئے دَ پنځمے حصّے دَ ایستلوپه ځائے دَ هغے پوره نیمه حصّه دَ اجتماعی ضرورتونو دَ پاره بیت المال ته حواله

کړے وے۔ نود سنترنه چه کومه خبره ثابته وه هغه داوه چه غَنُوۃٌ کوم ملکونه فتحه شوی وی د هغې په معامله کښے د خپل وخت امام له اختیارد ے چه د حالاتو په لحاظ سره د هغې په باره کښے څه فیصله مناسب کړی هغه دِ اوکړی ۔ هغه هغه تقسیمولے هم شی ۔ اوکه یوه علاقه پیره اهمه وی لکه مکّه معظّمه شوه ، نو د هغې د وَسید ونکو سره هغه احسان هم کولے شی لکه څنګه چه نبیؐ د مکّې والوسره اوکړو۔

لیکن د نبیؐ په زمانه کښے چونکه فتوحات ډیر نهٔ وُ شوی ، اوکوم مختلف قِسم مُلکونه چه فتحه شوی وُو د هغې جُدا جُدا حکم د خلقو مخے ته صفا صفا نهٔ وُورا غلے ، خوکله چه د حضرت عُمرؓ په زمانه کښے لوئ لوئ ملکونه فتحه شول نو صحابهٔ کرامو ته دا پریشانی را مخے ته شوه چه د تورے په زور کومے علاقے فتحه شوی دی آیا هغه غنیمت دے اوکه فَے ۔ د مصر د فتح نه روستو حضرت زُبیر مطالبه اوکړه چه اقسمها کما قسم رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم خیبر ، " دا پوله علاقه هسے تقسیم کړئ لکه څنګه چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم خیبر تقسیم کړے وُو " (ابوعُبَید) ۔ د شام او د عراق د فتحه شوُو علاقو په حقله حضرت بلال ډیر په ټینګتیا سره اُووئیل چه اقسم الاَرضین بین الّذین افتتحوها کما تقسم غنیمة العسکر ، " پوله زمکے په فاتح فوجونو باندِ هغسے تقسیم کړئ لکه څنګه چه د غنیمت مال تقسیمید ے شی " (کتاب الخراج ، ابو یوسف) ۔ بل طرفته د حضرت علیؓ رائے داوه چه د عهم یکونوا مادةً للمسلمین ۔ " دا زمکے دِ د هغوئ د کروندګرو سره پریښود ے شی چه دا د مسلمانانو د پاره د آمدن ذریعه وی " (ابو یوسف ، ابوعُبید) ۔ د غه شان د حضرت مُعاذ بن جَبل رائے داوه چه " که چرے تاتقسیم اوکړو نو د ے انجام به ډیر خراب وی ۔ د د ے تقسیم په وجه به لوئ لوئ جائیدادونه د یوځو هغه کسانو په قبضه کښے راشی چاچه دا علاقے فتحه کړی دی ۔ بیا به داخلق د ډیانه لاړشی او د دوئ جائیدادونه به د دوئ د وارثانو سره پاتے شی ، چه په هغوئ کښے به اکثر چرته یوه نفقه وی یا به یوسے وی ، لیکن د راتلونکو نسلونو د پاره به هیڅ پاتے نشی چه د هغوئ ضرورتونه پرِ پوره شی او د اسلامی سرحدونو د حفاظت خرچه هم پوره کړے شی ۔ نوتهٔ داسے بندوبست اوکړه چه په هغې کښے د موجوده نسلونو او د راتلونکو نسلونو د فائدے یوشان تحفظ وی " (ابوعُبید ص ۵۹ ۔ فتح الباری ، ج ۶ ۔ ص ۱۳۸) ۔ حضرت عُمرؓ حساب اونکوُ او وے کتل چه که چرے د عراق خواوُشا علاقه تقسیم کړے شی نو د یوتن په سَر به څومره حصّه راځی ۔ معلومه شوه چه دوه درے فلاحه د یوتن اوسط پریوزی ۔ (ابو یوسف ۔ ابوعُبید) ۔ د د ے نه روستو هغه په فرانبه زړه سره دا رائے قائمه کړه چه دا علاقے تقسیمول نهٔ دی پکار ۔ اوکومو صحابو کرامو چه د تقسیم مطالبه کوله هغوئ ته ئے داجوابونه ورکړی وُو ۔

تریدون ان یاتی آخر الناس لیس لهم شیء ۔ (ابوعُبید)	آیا تاسو غواړئ چه رُوستنی خلق دِ په داسے حالت کښے راشی چه د هغوئ د پاره هیڅ نهٔ وی ؟
ـــ فکیف بما یاتی من المُسلمین فیجدون الارض بعلوجها قد اقتسمت وورثت عن الآباء وحیزت ؟ ما	اوهغه مسلمانان به څه کوی چه هغوئ روستو راشی او اُووینی چه زمکه د خپلو زمیدارو سو تقسیم شوی ده او خلقونه د پلار نیکه نه په وراثت کښے ملاؤ شوی دی ؟

هذا برائ - (ابو یوسف)

— فما لمن جاء بعدکم من المسلمین واخاف ان قسمته ان تفاسدوا بینکم فی المیاه (ابو عُبَید)

— لولا آخر الناس ما فتحت قریه الا قسمتها کما قسم رسول الله صلی الله علیه وسلم خیبر (بخاری، موطاء، ابو عبید)۔

— لا، هذا عین المال، ولکنی اجلسُهٗ فیما یجری علیهم وعلی المُسلمین۔ (ابو عُبَیده)

دا هرگز مناسب نهٔ ده۔

ستاسونه روستوچه کوم مسلمانان راشی دَ هغوئ به څـه وی؟ اوځه پریږدم چه که چرځه دا تقسیم کړم نوتاسوبه په اُوبوباندِ په خپلوکښې جنګونه کوئ۔ که چرځ دَ روستورانلونکو خلقو خیال راسره نهٔ وی نو چه کومه علاقه ما فتح کولے هغه به م تقسیمولے لکه څنګه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خیبر تقسیم کړو۔ نهٔ، داخو عینُ المال (Real estate) دے۔ څه دا منع کوم چه دَ فاتح فوجیانواودَ عامو مسلمانانو ضرورتونه دَ دے نه پوره کیږی۔

لیکن دَ دے جوابونو سره خلق مطمئن نهٔ شو اوویل چه تهٔ ظلم کوے۔ آخر دا چه حضرت عمرؓ دَ مجلسِ شوریٰ اِجتماع مقرر کړه اودَ هغې مخے ته ځے دا معامله کیښوده ۔ په دِے موقع چه کوم تقریر هغه اوکړو هغې یوځو فقرے دا دی :

"ما تاسو له صرف په دِے وجه تکلیف درکړے دے چه تاسوځما سره دَ هغه امانت په اُوچتولو کښے شریک شئ چه دَ هغې بار ستاسو دَ معاملاتو چلولو دَ پاره په ما دَ پاسه کیښودلے شوے دے۔ څه هم ستاسونه یو تن یم ، اوتاسو هغه خلق یئ چه ننه دَ حق اِقرار کوئ یئ ۔ په تاسو کښے دَ هرچا خوښه ده چه ځما دَ رائے سره اتفاق کوی اوکه اختلاف ۔ څه دانهٔ غواړم چه تاسو ځما په خواهش پسے را روان شئ ۔ ستاسو سره دَ الله کتاب دے چه حق بیانونکے دے ۔ په خدائے م دِ قسم وی څه چه کومه خبره کول غواړم هغه چه ما کړی ده نوډ هغې نه ځما مقصد دَ حق نه سوا بل هیڅ نهٔ دے ..... تاسو دَ هغه خلقو خبرې اوریدلی دی چه دَ هغوئ خیال دادے چه زهٔ دَ هغوئ سره ظلم کوم اودَ هغوئ حق ضائع کول غواړم ۔ حالانکه چه څه دَ ظلم کولونه په خدائے پورے پناه غواړم ۔ څه به وپریږد بخته یم که په ظلم سره یوداسے څیز چه واقعی دَ هغوئ وی هغوئ له ورنهٔ کړم اوبل چاته ئے ورکړم ۔لیکن څه ویم چه دَ کښرئ دَ علاقے نه روستواوس بله علاقه فتح کیدونکی نشته ۔ الله تعالیٰ دَ ایرانیانو مالونه اودَ هغوئ زمکے اودَ هغوئ زمیداران ټول مونږ له په قبضه کښے راکړی دی ۔ زمونږ ه فوجیانوچه کوم غنیمتونه حاصل کړی وُو دَ هغې نه خوماپنځمه حصّه (یعنی خُمس) ایستلے ده اوپه هغوئ م تقسیم کړی ده ، اوکوم غنیمتونه چه لا اُوس تقسیم شوی نهٔ دی څه دَ هغې دَ تقسیمولو په فکر کښے یم ۔ البته دَ زمکو په باره کښے ځما رائے دا ده چه هغه

اودَ هغې زمیدارانو تقسیم نه کړم ، بلکه چه په هغه زمکه باندِ خراج او په زمیدارانو باندِ جزیه اولګوم چه هغوئ به ئے همیشه اداکوی اوداسه دَ دے وخت دَ عامو مسلمانانو اودَ جنګی فوجیانو اودَ مسلمانانودَ بچودَ پاره. او دَ رُوستو راتلونکو نسلونو دَ پاره ئے وی - آیا تاسونه ګورئ چه زمونږ دَ دے سرحدونودَ پاره لازماً دَ دا سے خلقوضرورت دے چه دَ دے حفاظت کوی؟ آیا تاسونه ګورئ چه دا لوئ لوئ مُلکونه شام، الجزیره، کوفه، بصره، مصر، په دِے ټولو کښے فوجونه اُوسیدل پکار دی اوهغوئ ته په پابندئ سره تنخواګانے ملاویدل پکار دی؟ که څه دا زمکے دَ دوئ دَ زمیدارانو سره تقسیم کړم نو دا خرچونه به دَ کوم ځائے نه راځئ "؟

دا بحث دوه درے ورځے روان وُو - حضرت عثمانؓ، حضرت علیؓ، حضرت طلحه، حضرت عبداللّٰه بن عمر وغیره دَ حضرت عمرؓ دَ رائے سره اتفاق اُوکړو - لیکن فیصله اُونه شوه آخر دا چه حضرت عمرؓ پاسیدو او وے فرمائیل چه ماته دَ اللّٰه دَ کتاب نه یو دَلیل ملاؤ شوے دے چه دَ دے مسئلے فیصله به اُوکړی - دَ هغې نه روستو هغه دَ سورة حشر هم دا آیتونه دَ ما افاء اللّٰه علیٰ رَسُوله منهم نه واخله دَ رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ پورے اُولوستل اودَ دے نه ئے دا دلیل پیش کړو چه دا کوم جائیداد دونه اللّٰه راکړی دی په دِے کښے صرف دَ دے زمانے دَ خلقو حصّه نه ده بلکه روستو راتلونکی خلق هم اللّٰه دَ دوئ سره شریک کړی دی، بیا دا څنګه صحیح کیدے شی چه دا کوم ئے دَ ټولو دَ پاره ده دا موښږ صرف په دے فاتحینو باندِ تقسیم کړو اودَ روستنو دَ پاره څه پرے نږدو؟ دا رنګے دَ اللّٰه تعالیٰ حکم دے کَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةً بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ" دَ پاره دَ دے چه دا مال صرف ستاسو په مالدارانو کښے تاویږی نه "؛ لیکن که چرے څه داپه فاتحینو باندِ تقسیم کړم نو دا به صرف ستاسو په مالدارانو کښے تاویږی اودَ نورو دَ پاره به هیڅ پاتے نشی - په دِے دلیل سره ټول مطمئن شوا وپه دے خبره باندِ اجماع اُوشوه چه دا فتحه شوی علاقه دِ دَ عامو مسلمانانو دَ پاره ئے اُوکړ زوله شی، کوم خلق چه په دِے زمکو باندِ کار کوی هغه دِ هم دَ هغوئ سره پاتے کړے شی اوپه هغوئ باندِ دِ خراج اوجزیه اُولګوله شی (کتاب الخراج لابی یوسف، صفحه ۲۳ تا ۲۷ و ۳۵ - احکام القرآن للجصّاص)۔

دَ دے فیصلے مطابق دَ فتحه شوُو زمکو اصل حیثیت دا مقرر کړے شوچه په مجموعی حیثیت سره مسلمان ملّت دَ دے مالک دے، کومو خلقو چه دَ مخکښے نه په دِے زمکو کار کوُو هغوئ دَ کروندګړو په طور ملّت دَ خپل طرفنه برقرار ساتلی دی، هغوئ به په دِے زمکو باندِ اسلامی حکومت ته یوه مقرره حصّه ورکوی، نسلاً نسلاً به دا دَ کرکیلے حقونه هغوئ ته په میراث کښے ملاویږی اوهغوئ به دا حقونه خرڅولے هم شی، لیکن دَ زمکے اصلی مالکان به هغوئ نه وی بلکه مسلمان اُمّت به دَ هغې مالک وی۔ امام عُبیده په خپل کتاب الاموال کښے دا قانونی-تکے په دِے طریقه بیان کړے دے -

اقرا هل السواد فی ارضیهم وضرب علیٰ رؤسهم الجزیة وعلیٰ ارضیهم الطسق - (ص ۵۷)

حضرت عُمرؓ دَ عراق خواؤشا خلق په خپلو زمکو باندِ برقرار اُوساتل، اوپه هغوئ باندِ ئے جزیه او دَ دَ هغوئ په زمکو باندِ ئے ټیکس اُولګوُو۔

اذا اقرّ الامام اهل العَنْوة فی ارضهم توارسوها وتبایعوها۔ (ص ۸۴)

امام (دَاِسلامی حکومت بادشاه) چه کله دَ فتحه شوُو مُلکونو خلق دَ هغوئ په خپلو زمکو باندِ برقرار اُوساتی نو هغوئ به هغه زمکې په میراث کښے هم پریښود ے شی اوخرڅولے به ئے هم شی۔

دَ عُمر بن عبدالعزیز په زمانه کښے دَ شَعْبی نه تپوس اُوکړے شوچه آیا دَ عراق دَ اکثر وخلقو سره څه معاهده شته ؟ هغه جواب ورکړو چه معاهده خو نشته، لیکن کله چه دَ هغوئ نه دَ خِراج اغستل قبول کړے شو نو دا دَ هغوئ سره معاهده اُوشوه (ابوعُبَیده ص ۴۹ - ابویوسف ص ۲۸)۔

دَ حضرت عُمرؓ په زمانه کښے عتبه بن فَرْقَد دَ فُرات په غاړه باندِ یوه زمکه واغستله۔ حضرت عُمرؓ دَ هغه نه تپوس اُوکړو تا دا زمکه دَ چا نه اغستے ده؟ هغه اُووئیل دَدے زمکې دَ مالکانو نه۔ حضرت عُمرؓ اُوفرمائیل دَدے زمکې مالکان خو دا خلق دے (یعنی مهاجرین او انصار)۔ رائی عمران اصل الارض للمسلمین، " دَ حضرت عُمرؓ رائے داوه چه دَدے زمکو اصلی مالکان مسلمانان دی" (ابوعُبَیده ص ۴۷)۔

دَدے فیصلے ترمخه دَ فتحه شوُو مُلکونو کوم مالُونه چه دَ مسلمانانو اجتماعی ملکیت کرزوَلے شوے دے هغه داوُو،

(۱) هغه زمکې اوعلاقے چه دَ صلحے په ذریعه دَاِسلامی حکومت په قبضه کښے راغلے۔

(۲) هغه فدیه یاخِراج یاجزیه چه دَ یوے علاقے خلقودَ جنګ نه بغیر دَ مسلمانانو دَامان حاصلولودَ پاره دَ هغے ادا کول قبول کړی وی۔

(۳) هغه زمکې او جائیدادونه چه مالکانو پریښودل اواُوتښتیدل۔

(۴) هغه جائیدادونه چه دَ هغے مالکان اُووژلے شو او څوک مالک ئے پاتے نه ؤ شو۔

(۵) هغه زمکې چه دَ اوّل نه دَ چا په قبضه کښے نه ؤ وے۔

(۶) هغه زمکې چه دَ اول نه دَ خلقو په قبضه کښے وے لیکن دَ هغے مخکینی مالکان برقرار اُوساتلے شو او په هغوئ باندِ جزیه اوخراج اُولګولے شو۔

(۷) دَ مخکینو حکمران خاندانونو جاګیرونه۔

(۸) دَ مخکینو حکومتونو ملکیّت۔

(دَ تفصیلاتو دَپاره اُوګورئ بدائع الصنائع، ج ۷، ص ۱۱۶ - ۱۱۸ - کتاب الخراج، یحییٰ بن آدم، ص ۲۲ - ۶۴ - مُغنی المحتاج، ج ۳، ص ۹۳ - حاشیه الدُسوقی علی الشرح الکبیر، ج ۲، ص ۱۹۰ - غایة المُنتهی، ج ۱، ص ۴۶۷ - ۴۷۱)۔

داځیزونه چونکه دَ صحابه کرامو په اتفاق سره فَے کرزَولے شوی وُو، په دے وجه دَ اِسلام دَ فقهاؤ په منځ کښے هم دِے ته په فَے وئیلو باندِ اصولاً اتفاق دے۔ البته په یو څو خبرو کښے اختلاف دے چه هغه مونږه

مختصراً بیانوُو:

حنفیان وائی چه د فتحه شوُو ملکونو د زمکو په معامله کښے اسلامی حکومت (د فقهاؤُ په ژبه کښے امام) ته اختیار دے، که غواړی نو دَ دے نه د خُمس (یعنی پنځمه حصّه) واخلی او باقی د په فاتح فوج باندِ تقسیم کړی، اوکه غواړی نو هغه د د مخکینو مالکانو په قبضه کښے پریږدی او د هغے په مالکانو باندِ د جزیه او په زمکو باندِ د خراج اُولګوی - په دے صورت کښے به دا د همیشه همیشه د پاره د مسلمانانو د پاره وقف وی - (بدائع الصنائع - احکام القرآن للجصّاص - شرح العنایه علی الهدایه - فتح القدیر) - دا رائے عبدالله بن مبارک د امام سُفیان ثوری نه هم نقل کړی ده (یحییٰ بن آدم - کتاب الاموال لابی عُبید) -

مالکیان وائی چه دا زمکے صرف د مسلمانانو په فتحه کولو سره خود بخود د مسلمانانو د پاره وقف کیږی - دَ دے د وقف کولو د پاره نهٔ د امام د فیصلے ضرورت شته او نهٔ د مجاهدینو د راضی کولو - دَ دے نه علاوه په مالکیانو کښے مشهور قول داد ے چه یوازے زمکے نهٔ، بلکه د فتحه شوو علاقو مکانونه او آبادیانے هم په حقیقت کښے مسلمانانو د پاره وقف دی، البته اسلامی حکومت به په هغے باندِ کرایه نهٔ لګوی (حاشیة الدّسوقی) -

حنبلیان دَ دے حده پورے د حنفیانو سره متفق دی چه زمکے په فاتحینو باندِ تقسیمول، یا د مسلمانانو د پاره وقف کول د امام په اختیار کښے دی - او په دے خبره کښے د مالکیانو سره اتفاق کوی چه د فتحه شوو ملکونو مکانونه هم اګرچه په وقف کښے به شامل وی لیکن په هغے به کرایه نهٔ لګولے کیږی (غایة المُنتهیٰ - دا د حنبلی مذهب د فتوی شوُو مسئلو مجموعه ده اود لسمے صدی نه په دے مذهب کښے فتویٰ هم دَ دے کتاب مطابق ورکولے کیږی) -

د شافعیانو مسلک داد ے چه د فتحه شوُو علاقو قول منقوله مالونه غنیمت دی، او قول غیر منقوله مالونه (یعنی زمکے اومکانونه) به فے وی (مُغنی المحتاج) -

حُینی فقهاء وائی چه کوم مُلکونه عَنْوةً فتحه شوی وی د هغے زمکے که چرے امام د مسلمانانو د پاره وقف کول غواړی نولازمی ده چه هغه د اول د فاتح فوجونو رضا حاصله کړی - دَ دے د پاره هغوی دا دلیل پیش کوی چه حضرت عُمرؓ د سوادِ عراق د فتح نه مخکښے د جَریر بن عبدالله البَجَلی سره، چه د هغه د قبیلے خلق د جنګِ قادسیه د فوج ځلورمه حصّه وه، دا وعده کړی وه چه د فتحه شوُو علاقو ځلورمه حصّه به هغوی له ورکوی - نو د دَوُو د ریوکالو پورے دا حصّه د هغوی سره وه - بیا حضرت علیؓ هغوی ته اوفرمائیل لو لا انی قاسم مسئول لکنتم علیٰ ما جعل لکم، وارِی الناس قد کثروا فارِیٰ ان ترده علیهم، "که چرے څه د تقسیم په معامله کښے زما وار او جوابده نهٔ وے نو څه چه تاسوله درکړے شوی دی هغه به هم تاسو ته پاتے کړے شوے وے - لیکن اُوس څه ویم چه خلق وډیر شوی دی، نو په دے وجه ځما رائے داده چه تاسو دا عامو خلقو ته واپس کړئ" حضرت جریر دا خبره قبول کړه او حضرت عُمرؓ هغوی له اتیا دینارہ د انعام په طور ورکړل (کتاب الخراج لابی یوسف - کتاب الاموال لابی عبید) - دَ دے نه هغوی دا دلیل پیش کوی چه حضرت عُمرؓ د فاتحینو د رضا کولو نه روستو د مسلمانانو د پاره د فتحه شوُو علاقو د وقف کولو فیصله کړی وه - لیکن جمهور فقهاؤُ دا دلیل منلے نهٔ دے - ځکه چه د پولو فتحه شوُو علاقو په معامله کښے د پولو فاتحینو نه دا قسم څه رضامندی نهٔ وه حاصله شوی،

يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَ
لَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠﴾

اووائی چه" اے زمونږه ربه، موږه اوزمونږه هغه ټول رُونړه اُو بخښنے چه زمونږ نه ئے مخکښے ایمان راوړے دے، اوزمونږ په زړونوکښے دَمومنانودَ پاره بُغض را پیدا نهٔ کړے، اے زمونږه ربه، تهٔ ډیر مهربان اورحم کوونکے ئے[۲۱]

اویوازے دَ حضرت جریر بن عبدالله سره دا معامله صرف په دے وجه شوی وه چه دَ فتحے نه مخکښے، چه لا دَ فتحه شوُ زمکو په حقله څه اجماعی فیصله نهٔ وه شوی، حضرت عُمرؓ دَ هغه سره یوه وعده کړی وه، نو په دے وجه دَ وعدے دَ پابندئ نه دَ ځان خلاصولودَپاره هغه دَ هغهٔ رضا حاصله کړه - دے ته عام قانون نشی ویئلے کیدے -

دَ فقهاؤ یوه بله ډله وائی چه دَ وقف کولو نه روستو هم په هر وخت کښے حکومت ته دا اختیار حاصل دے چه دا زمکے بیا په فاتحینو باندِ تقسیم کړی - دَدے دَ پاره هغوئ دَدے روایت نه دلیل پیش کوی چه یوځلے حضرت علیؓ خلقوته خطاب اوکړو اووے فرمائیل لولا ان یضرب بعضکم وجوه بعض لقسمت السواد بینکم، "که دایَره نهٔ وے چه تاسو به دَ یو بل سره جنګونه اُوکړئ نوما به دَ سَواد علاقه په تاسو باندِ تقسیم کړے وے" (کتاب الخراج لابی یوسف - کتاب الاموال لابی عُبَید) - لیکن جمهور فقهاؤ دا رائے هم قبول کړی نهٔ ده اودَ هغوئ په دے خبره اتفاق دے چه هرکله یوځلے دَ فتحه شوُ علاقو په خلقو باندِ جزیه اوخراج اُولګولے شی اودا فیصله اُوشی چه هغوئ به په خپلو زمکو باندِ برقرار پاتے وی نودَ هغے نه روستو بیا دَا فیصله هیڅکله نشی بدلیدے - پاتے شوه هغه خبره کومه چه دَ حضرت علیؓ سره تړلے کیږی نو په هغے باندِ ابوبکرؒ جصّاص په احکام القرآن کښے تفصیلی بحث کړے دے اوداسے ثابته کړی ده چه دا روایت صحیح نهٔ دے -

[۲۱] په دے آیت کښے اگرچه اصل مقصد صرف دا بنودل دی چه دَ فَے په تقسیم کښے یوازے دَ حاضرو اودَ موجودو خلقونهٔ، بلکه دَ روستو راتلونکو مسلمانانواودَ هغوئ دَ آینده نسلونو حصّه هم ده - لیکن ورسره ورسره په دے کښے یواهم اخلاقی سبق هم مسلمانانوته ورکړے شوے دے، او هغه دادے چه دَ یو مسلمان په زړه کښے دَ بل مسلمان دَ پاره بُغض ساتل نهٔ دی پکار، اودَ مسلمانانودَ پاره صحیح طریقه داده چه هغوئ دِ دَ خپلو مشرانو په حق کښے دَ بخښنے دُعاګانے غواړی، نهٔ دا چه په هغوئ دِ لعنتونه وائی - مسلمانان چه کوم څیزدَ یوبل سره تړلی دی هغه په اصل کښے ایمان دے - که دَ یوسړی په زړه کښے ایمان دَ نورو پولو څیزونو نه زیات خوږ وی نو خامخا به هغه دَ هغه ټولو خلقو خیرخواه وی کوم چه دَ ایمان په لړکښے دَ هغه رُونړه دی - دَ هغه په زړه کښے دَ هغوئ دَ پاره بد خواهی او بُغض او نفرت هله راتلے شی

کله چه د ایمان قدر د هغه په نظر کښے پریوزی او بل څیزله د هغے نه زیات اهمیت ورکړی۔ نو د ایمان سره دا خبره بالکل ضروری ده چه د یو مومن زړه دِ د بل مومن خلاف د نفرت او د بُغض نه خالی وی۔ په دِے معامله کښے د پیر ښه سَبق د یو حدیث نه ملاویږی چه هغه نَسائی د حضرت انسؓ نه روایت کړے دے۔ د هغه بیان دے چه یو ځلے د رسے ورځے مُسلسل دا سے ځُشوه چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم به په خپل مجلس کښے دا اُوفرمائیل چه اُوس ستاسو مخے ته یو داسے سړے راتلونکے دے چه هغه جنتی دے، او هر ځل به هغه راتلونکے سړے د انصارو نه یو تن وُو۔ په دِے سره د حضرت عبدالله بن عَمرو بن عاص سره دا فکر پیدا شو چه آخر دے څه داسے عمل کوی چه د هغے په وجه نبیؐ د هغه په باره کښے بار بار دا زیږے اورَولے دے۔ چنانچه هغه د یو سے بهانے په ذریعه د رسے ورځے مُسلسل د هغه ځائے ته د دے غرض د پاره لاړو او شپه به ئے تیره کړه چه د هغه د عبادت حال اُووینی۔ لیکن د هغه د شپے په عمل کښے هغه څه نا اشنا څیز اُونه لیدو۔ آخر پخپله ئے د هغه نه تپوس اُوکړو چه زُوره، تهٔ څه داسے عمل کوے چه د هغے په وجه مونږ د نبیؐ نه ستا په حقله دا لوئ زیږے اَورید لے دے؟ هغه اُووئیل چه زُما د عبادت حال خو تا لیدلے دے۔ البته یوه خبره ده کیدے شی چه هغه د دے سبب وی، او هغه دا ده چه لا اجد فی نفسی غِلاً لاحد من المسلمین، ولا احسده علی خیرٍ اعطاه الله تعالیٰ ایّاه۔" څه په خپل زړه کښے د بل مسلمان خلاف کینه نهٔ لرم اُوکوم خیر چه الله هغه له ورکړے وی په هغے ورسره حسد نهٔ کوم"۔

د دے دا مطلب نهٔ دے چه یو مسلمان که د بل مسلمان په قول او عمل کښے څه غلطی وینی نو هغے ته دِ غلطی نهٔ وائی۔ د ایمان تقاضا دا هرگز نهٔ ده چه که مومن غلطی هم اُوکړی نو هغے ته دِ صحیح وئیلے کیږی، یا دِ د هغه غلطے خبری ته غلطه خبره نهٔ وائی۔ لیکن یو څیز ته په دلیل سره غلط وئیل او په ښه طریقه هغه بیانول بل څیز دے، او بُغض او نفرت، بَد رَد وئیل او کنځلے کول بالکل یو بل څیز دے۔ دا حرکت که د خپلے زمانے د یوڑوندی انسان په حق کښے اوکړے شی نو هم یوه غټه گناه ده، لیکن د مړو مشرانو په حق کښے خو نوره هم زیاته غټه گناه ده، ځکه چه هغه نفس به بالکل یو د پرگنده نفس وی چه هغه مړو معاف کولو ته هم تیار نهٔ وی۔ او د دے ټولو نه د یره سخته گناه دا ده چه څوک د هغه خلقو په حق کښے بَده خُله اُوخوزی وی چه هغوئ په انتها ئ سخت آزمیښتونو کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملگرتیا حق ادا کړے وُو او خپل ځانونه ئے مرگ ته وراندِ کړی وُو او په دُنیا کښے ئے د اِسلام هغه رنړا خوره کړی وه چه د هغے په وجه نن مونږ ته د ایمان نعمت حاصل شوے دے۔ د هغوئ په منځ کښے چه کوم اختلاف راغلے دے په هغے کښے که یو سړے یوه ډله په حق باندِ گڼړی او د بلے ډلے عمل د هغه په رائے کښے صحیح نهٔ وی نو هغه دا رائے لرلے شی او هغه په مناسبه طریقه بیانولے هم شی۔ لیکن د یو سے ډلے په مرسته کښے دا سے لړے تلل چه د بلے ډلے خلاف زړهٔ د بُغض او د نفرت نه ډک شی او د ژبے او د قلم په ذریعه بَده رَده ویناشروع شی، دا یو داسے حرکت دے چه څوک د خدائے نه یَرِیږی نو دا هیڅکله نهٔ شی کولے۔ کوم خلق چه د قرآن د څرگند تعلیم نه خلاف دا حرکت کوی هغوئ عام طور د دے خپل کار د پاره دا عُذر بیانوی چه قرآن د مومنانو خلاف د بُغض سائلونه منع کړی ده، او مونږ چه د چا خلاف بُغض ساتو نو هغوئ مومنان نهٔ وُو بلکه منافقان وُو۔ لیکن دا الزام د هغه گناه نه هم بدتر دے

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا يَقُوْلُوْنَ لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

۲۲ تا اُونۀ لیدل هغه خلق چه د منافقت لار ئے اختیار کړی ده؟ دوئ خپلو کافرو اهلِ کتاب بو

د کومے په صفایئ کښے چه دا د عُذر په طور پیش کړے کیږی - د قرآن مجید هم دا آیتونه، چه پکښے الله تعالیٰ روستو راتلونکو مسلمانانو ته د خپلو تیروشوو مسلمانانو سره د بُغض نه ساتلو اود هغوئ په حق کښے د بخښنا نے د دُعا کانو عوښتلو تعلیم ورکړے دے ، د هغوئ دِ دے الزام د تردید د پاره کافی دی - په دے آیتونو کښے پرلپسے درے ډلے د فے حقدارے کرزولے شوی دی - اوّله ډله د مهاجرینو ، دویمه د انصارو ، دریمه ډله د هغوئ نه روستو راتلونکی مسلمانان - اود غه روستو را تلونکو مسلمانانو ته فرمائیلے شوی دی چه ستاسو نه مخکښے کومو خلقو ایمان راوړے دے د هغوئ په حق کښے د بخښنا نے دُعا کانے غواړئ - بنکاره خبره ده چه په دے موقع د مخکښے ایمان راوړونکو نه مُراد د مهاجرینو او انصارو نه سِوا بل څوک نشی کیدے - بیا الله تعالیٰ د دے سورۃ حَشر په آیتونو کښے داخبرې هم په پاکه کړی ده چه منافقان کوم خلق وُو - د دے نه دا خبره بالکل څرګنده ده چه منافقان هغه خلق وُو چه هغوئ د بنی نَضِیر د غزا په موقع باندِ د یهودیانو ملګرتیا کړی وه ، او د هغوئ په مقابله کښے مومنان هغه وُو چه په دے غزا کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره شامل شوی وُو - د دے نه روستو یو مسلمان ، چه هغه د خدائے نه یَره په زړه کښے لری ، دا زړه ورثیا کولے شی چه د هغه خلقو د ایمان نه انکار اُوکړی - د کومو د ایمان ګواهی چه الله تعالیٰ پخپله کړی ده؟۔

امام مالک او امام احمد د دے آیت په دلیل سره دا رائے ظاهره کړی ده چه په فے کښے د هغه خلقو هیڅ حصّه نشته څوک چه صحابه کرام ته بد وائی (احکام القرآن لابن عربی غایة المُنتهٰی) - لیکن حنفیانو او شافعیانو د دے را ئے سره اتفاق نه دے کړے - د دے وجه داده چه الله تعالیٰ درے ډلے په فے کښے حصّه دارے کرزولی دی او د هغے ډلے ئے یوځرګنده صفت بیان کړے دے ، لیکن په هغے کښے یو صفت هم د شرط په طور نه دے چه که چرے دا شرط په هغه ډله کښے وی نو هغوئ له د حصّه ورکړے شی اوکه نه وی نو نه یِ ورکړے کیږی - د مهاجرینو په حقله ئے اوفرمائیل چه " هغوئ د الله فضل او د الله رضا غواړی او د الله او د هغه د رسول د مرستے د پاره ملا تړلی تیار وُسی " د دے دا مطلب نه د دے چه په کوم مهاجر کښے دا صفت نه وی نو هغه په فے کښے د حصّے اغستو حقدار نه دے - د انصارو په حقله ئے اوفرمائیل چه " هغوئ د مهاجرینو سره مینه کوی ، او هرڅه چه ورله ورکړے شی د هغے غوښتنه په خپلو زړونو کښے نه لری ، اګرکه د هغوئ لاس تنګ وی " د دے هم دا مطلب نه دے چه په فے کښے د یو داسے انصاری حق نشته چه هغه د مهاجرینو سره مینه نه لری اوڅه چه هغه له ورکړے کیږی نو د هغے د حاصلولو خواهش په زړه کښے لری - نو د دریمے ډلے دا صفت چه " هغوئ د ځان نه مخکښے د ایمان راوړونکو په حق کښے د بخښنا نے دُعا کانے غواړی ، او الله ته دا درخواست کوی چه د هغه په زړه کښے د یو مومن د پاره هم بُغض را پیدا نشی " ، دا هم په فے کښے د حقدارکید و شرط نه دے بلکه دا یو بنه صفت بیانول دی او په دے خبره زُور ورکول دی چه مومنانو له د خپلو مومنانو رُونړو سره او د خپلو رُونړو مبنو تیرو شوو مومنانو په معامله کښے څه کول پکار دی۔

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَئِنْ اُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ اَحَدًا اَبَدًا ۙ وَّاِنْ قُوْتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱۱﴾ لَئِنْ اُخْرِجُوْا لَا يَخْرُجُوْنَ مَعَهُمْ ۚ وَلَئِنْ قُوْتِلُوْا لَا يَنْصُرُوْنَهُمْ ۚ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ۫ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۲﴾ لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ

رونړوته وائی "که چرے تاسوا اوویستلے شوئ نومونږ به هم درسره اُوزواوستاسوپه معامله کښے به مونږه دَ چا خبره هرگز نهٔ منو، اوکه ستاسوسره جنګ اُوشونومونږ به ستاسوامداد کوؤ" لیکن اللّٰه گواه دے چه داخلق بالکل دروغژن دی - که هغوئ اُوویستلے شونو دوئ به دَ هغوئ سره هرگز نهٔ اُوزی، اوکه دَ هغوئ سره جنګ اُوشونود وئ به دَ هغوئ هرگز اِمداد نهٔ کوی، اوکه امداد اُوکړی هم خوپه شابه تښتی اوبیا به دَ هیڅ ځائے نه څه امداد نهٔ مومی - دَ دوئ په زړونوکښے دَ اللّٰه نه زیاته ستاسویره پرته ده[۲۳]،

[۲۲] دَ دے ټولے رکوع دَ انداز بیان نه داخبره معلومیږی چه داپه هغه زمانه کښے نازله شوی وه کله چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم بنی نَضِیر قبیلے ته دَ مدینے نه دَ وتلودَ پاره دَ لسورځو مُهلت ورکړے وُو اودَ هغوئ نه گیره چاپیره په گیره اچولوکښے لایوځورځے باقی وے - لکه څنګه چه مونږه دَ دے نه مخکښے وئیلی دی چه کله رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم بنی نَضِیر ته دَ وتلو دا خبردارے ورکړو نوعبداللّٰه بن اُبَیّ اودَ مدینے نور ومنافقانو مشرانوهغوئ ته داخبرراولیږلو چه مونږ به دَ دوُ وزروکسانوسره ستاسوامداد له راځُو، اوبنی قُرَیظه اوبنی غطفان به هم ستاسو مرستے له راپاسی، نوتاسودَ مسلمانانو په مقابله کښے ټینګ ودریږئ اوهرگز هغوی ته وسله مه غورزوئ - که دوئ ستاسوسره جنګیږی نومونږ به ستاسوپه ملګرتیا کښے جنګیږو، اوکه تاسودَ دے ځائے نه اُوویستلے شوئ نومونږ به هم اُوزو - په دے باندے اللّٰه تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل - نودَ نازلیدو دَ ترتیب په لحاظ سره دارکوع اوله نازله شوی ده اواولنئ رکوع دَ دے نه روستونازله شوی ده چه بنی نَضِیر دَ مدینے نه ایستلے شوی وُو - لیکن دَ قرآن مجید په ترتیب کښے اولنئ رکوع مخکښے اودویمه رکوع په دوُ وجه روستو کړے شوی ده چه دیره اهمه خبره په اولنئ رکوع کښے بیان شوی ده -

[۲۳] یعنی دوئ چه په بشکاره میدان ته نهٔ راځی نودَ دے وجه دا نهٔ ده چه دوئ مسلمانان دی، دَ دوئ په زړونوکښے دَ خدائے یَرَه ده اودَ دے خبری ورسره فکر دے چه دَ ایمان دَ دعوے کولونه روستوکله دوئ دَ مومنانو په مقابله کښے دَ کافرانو مرسته کوی نوخدائے به ترِ تپوس کوی - بلکه دوئ چه دَ کوم څیز په وجه

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿۱۳﴾ لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ جَمِيْعًا اِلَّا فِيْ
قُرًى مُّحَصَّنَةٍ اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ ؕ بَاْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيْدٌ ؕ تَحْسَبُهُمْ
جَمِيْعًا وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۴﴾ كَمَثَلِ الَّذِيْنَ

ځکه چه دوئ داسے خلق دی چه هیڅ پوهه نه[۲۴] لری - دوئ به هیڅکله په جمع سره (په کولاؤ میدان کښے) ستاسو سره مقابله اونه کړی ، که جنګ کوی هم نو په قلعه بند کلوکښے به ناست وی یا به د دیوالونو نه شاته پټ وی - دوئ په خپل منځ کښے د یوبل سره په مخالفت کښے ډیر سخت دی - تهٔ په دوئ ګمان کوے چه ټول یوه ډله ده لیکن د دوئ زړونه د یوبل نه[۲۵] ډیر وړے دی - د دوئ داحال په دے وجه دے چه دوئ بے عقله دی - دوئ د هغه خلقو پشان دی

ستاسو مخے له نشی راتلے هغه داد ے چه د اسلام اود محمد صلی الله علیه وسلم سره ستاسو مینه اومحبت اوقربانی اووینی او ستاسو زبردست اتحاد ته اوګورئ نوزړونه ئے مات شی - دوئ ته ښه معلومه ده چه تاسو اګرچه یو موټے خلق یئ ، لیکن د شهادت کومے جذبے چه ستاسو د هرکس نه سر قربانۍ مجاهد جوړ کړے دے اود کوم تنظیم په وجه چه تاسو یوه فولادی ډله جوړه شوی یئ ، د هغے سره په مقابله کولوکښے به د یهود یانو سره دوئ مړ ټوټے ټوټے شی - دلته داخبره په نظر کښے ساتل پکار دی چه د چا په زړه کښے د د خدائے نه یره کمه اود بل چا نه زیاته وی نو عمل کښے د خدائے نه د نه ویریدو نښه ده - بنکاره خبره ده چه کوم سړے په دوؤ خطرو کښے یوه کمه اوبله زیاته ګڼی ، نوهغه د کمے خطرے پروانه[۲۶] لری اوټول فکر ورسره د زیاتے خطرے نه د بچ کیدو وی -

۲۴ په دے وړه فقره کښے یو لوئ حقیقت بیان کړے شوے دے - څوک چه عقل فکر لری هغه ته خو دا معلومه ده چه په اصل کښے یره د خدائے د طاقت نه پکار ده نهٔ چه د انسانانو د طاقت نه - په دے وجه هغه به د هر هغه داسے کارنه ځان ساتی چه هغه ته پرد خدائے سره د نیوے کید وخطره وی ، خواه که د انسانی طاقت نه د نیوکے یره د هغه سره وی اوکه نهٔ وی ، او هغه به د هر هغه کار د پاره ملا تړی کوم چه خدائے په هغه باندے فرض کړے وی اګر که د ټولے دُنیا طاقتونه هغه ته د لارے خنډ شی - لیکن یوناپوهه انسان ته چونکه د خدائے طاقت په ظاهره په نظر نهٔ بنکاری او د انسان طاقتونه په ظاهره وینی ، نو په دے وجه په ټولو معاملاتو کښے هغه د خپل عمل فیصله د خدائے په ځائے د انسانی طاقتونو په لحاظ سره کوی - که د یو څیز نه بچ کیږی نو په دے وجه نهٔ چه خدائے به ئے پرے راوُنیسی ، بلکه په دے وجه چه د هغه مخے ته د انسانی طاقت خطره موجوده ده - اوکه یو کار کوی نو هم په دے وجه نهٔ کوی چه خدائے پاک د هغے حکم کړے دے یا به پرهغه ته د خدائے د طرفنه اجر ملاؤ شی ، بلکه

مِنْ قَبْلِهِمْ قَرِيبًا ذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٥﴾
كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنْسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ
إِنِّي بَرِيءٌ مِنْكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦﴾

چه د دوئ نه لږه مودې عجبنې ئے د خپل عمل مزه ځکلې[۲۶] ده اودد وئ د پاره دردناک عذاب دے۔ د دوئ مثال د شیطان پشان دے چه هغه اول انسان ته وائ چه کفر اوکړه، او چه کله انسان کفر اوکړی نو بیا وائ چه ځه ستا ذمه وارنه یم، ځه خود الله ربّ العالمین نه یریږم[۲۷]

صرف په دے وجه ئے کوی چه یو انسانی طاقت د هغې حکم کوی یا هغه خوښوی او د هغې اجر به ورکوی - دا پوهه او ناپوهتیا په اصل کښے د مومن او د غیر مومن عمل د یو بل نه جُدا کوی۔

۲۵ دا د منافقانو د دویمے کمزورئ بیان دے - اوله کمزوری داوه چه هغوئ یَر زړی وُو، د خدائے نه د یریدو په ځائے به د انسانانو نه یَریدل اود مومنانو پشان اُوچت مقصد (یعنی نصب العین) د هغوئ مخے ته نه وُو چه د هغې د پاره پکښے د سَر قربانۍ لوجذبه راپیدا شوی وے - او دویمه کمزوری داوه چه د منافقت نه سِوا بل هیڅ څیز د هغوئ په منځ کښے شریک نه وُو چه هغوئ ئے یَو کړی وے او مضبوطه ډله ئے ترجوړه کړی وے - هغوئ چه د کوم څیز په وجه راجمع شوی وُو هغه صرف دا وُو چه محمّد صلی الله علیه وسلم د هغوئ بنارته د بهرنه راغلے وُو او هلته ئے مشری کوله، اود هغوئ د خپل وطن انصارو به د مهاجرینو حوصله اُوچتوله، دے ته چه به ئے کتل نود هغوئ زړونونه به لوخړې ختله او د غصّے نه به تاؤ راتاؤ کیدل - د دے حسد په وجه هغوئ غوښتله چه ټول راجمع شی او د اِسلام د خواؤشا د دُشمنانو سره سازوباز اُوکړی او دا بهرنۍ مشری او اقتدار په ځه چل ختم کړی - د دے نه علاوه بل هیڅ دا سے مقصد نه وُو چه هغوئ ئے راجمع کړی وے - په هغوئ کښے د هر سردار ډله جُداوه - هر یو خپله مشری غوښتله - هیڅوک د بل مخلص دوست نه وُو - بلکه د هر یو په زړه کښے د بل د پاره دومره بغض او حسد پروت وُو چه کوم ئے خپل شریک دُشمن ګڼلو د هغه مقابلے ته ئے هم خپلے دُشمنیانے نه شوے هیروَلے، او نه د یو بل د خپو وهلونه منع کیدے شو۔

د غه شان الله تعالیٰ د بنی نَضیر د غزا نه مخکښے د منافقانو حالت مسلمانانو ته اُوښودو چه د دوئ د طرفنه په حقیقت کښے ځه خطره نشته، نو تاسو د دوئ د دے خبرونه مه یَریږئ چه کله تاسو د بنی نَضیر قبیلے نه د ګیرے اچولو د پاره را اُوزئ نو دا منافقان سرداران به د دوُو زړولښکر سره په تاسو باندې د روستو نه

فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ اَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيهَا ۭ وَذٰلِكَ جَزٰۗؤُا الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸﴾

بیا به دَدواړو انجام داوی چه دَ همیشه دَپاره ځوزخ ته لاړشی، اودَ ظالمانوهم داجزاده ـ ع

۲۸ے هغه خلقوچه ایمان موراوړے دے، دَ اللّٰه نه اُویریږئ، اوهر سړے دا اُ کوری چه هغه دَ صبا دَپاره څه سامان تیارکړے ۲۹ے دے، دَ اللّٰه نه یَره کوئ، یقیناً چه اللّٰه ستاسودَ هغه ټولو عملونو نه خبر دے کوم چه تاسو کوئ ـ

حمله اُوکړی اوورسره ورسره به بنی قریظه اوبنی غَطَفان هم په تاسودرواچوی۔ داټولے هسے تشے لافے دی، دَدوئ باد به په اول آزمیښت کښے اُوزی ـ

۲۶ے اشاره ده دَ قریشوکافرانوته اودَ بنی قینقاع یهودیانوته چه په شماره هم ډیر وُاوو سازوسامان ورسره هم ډیر وُوخوبیائے هم دَدے کمزورئ په وجه دَ یو موټې بے سازوسامان مسلمانانونه شکست خوړلے وُو ـ

۲۷ے یعنی دا منافقان دَ بنی نَضیر سره هغه معامله کوی کومه چه شیطان دَانسان سره کوی ـ ټن دوئ هغوئ ته وائی چه تاسودَ مسلمانانوسره اُوجنګیږئ، اومونږه درسره یو ـ خوچه کله هغوئ واقعی اُوجنګیږی نودوئ به لمن اُوسنډی اودَ خپلوټولو وعدو نه به پَشا شی اوهډوکوری به نهٔ چه په هغوئ څه تیریږی ـ هم دغسے معامله شیطان دَ هرکافرسره کوی، اوهم دغسے معامله هغه دَ قریشودَکافرانوسره په جنګ بدرکښے کړی وه، چه دَ هغے ذکر په سورهٔ انفال آیت ۴۸ کښے راغلے دے ـ اول خوهغه هغوئ ته لوئ لوئ اُووئیلے اوهغوئ ئے په بدرکښے دَ مسلمانانو مقابلے ته راوستل اوورته ئے اُووئیل چه لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَاِنِّيْ جَارٌ لَّكُمْ، " ټن به هیڅوک په تاسوغالب کیږی نهٔ اوځه ستاسوشاته ولاړیم" خوچه کله دواړه فوجیان یوبل ته مخامخ شونوهغه واپس شواو وے وئیل چه اِنِّيْ بَرِيْۗءٌ مِّنْكُمْ، اِنِّيْٓ اَرٰى مَا لَا تَرَوْنَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ، " څه ستاسو ذمهٔ وار نهٔ یم، ماته هغه څه ښکاری کوم چه تاسوته نهٔ ښکاری، څه خودَ اللّٰه نه یَریږم"۔

۲۸ے دَ قرآن مجید دا قاعده ده چه کله دَ منافقو مسلمانانو په منافقت باندِ ګرفت کیږی نوورسره ورسره هغوئ ته نصیحت هم کیږی چه که په هغوئ کښے دَ چاضمیر څه لږشان ژوندے وی نوچه هغه په خپل عمل شرمنده شی اودَ خدائے نه اُویریږی اودَ هغه کندے نه دَ وتلوفکر اُوکړی کوهغه چه دَ دَ نفس بندګئ ورغور زَولے دے ـ په دے ټوله رکوع کښے هم دانصیحت دے

۲۹ے دَ صبا نه مُراد آخرت دے ـ یعنی دَدُنیا دا ټول ژوند "ټن" دے اُوضبا "دَقیامت هغه

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنسَاهُمْ أَنفُسَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ
هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿١٩﴾ لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۚ
أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴿٢٠﴾ لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا الْقُرْآنَ
عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللَّهِ ۚ

دَهغه خلقو پشان مه کیږئ چه الله ئے هیرکړو نو الله دَهغوئ نه خپل نفسونه هیر کړل[۳۰]، هم داخلق فاسقان دی - دوزخ ته تلونکی خلق اوجنت ته تلونکی خلق هیڅکله یوشان نشی کیدے - جنت ته تلونکی خلق په اصل کښے کامیاب خلق دی -

که چرے مونږ ه دا قرآن په یو غر باندِ هم نازل کړے وے نو تا به لیدلے وے چه هغه دَ الله دَ یرَے نه چتیږی او ټوټے ټوټے کیږی[۳۱] -

ورځ ده کومه چه په دے تن پسے راروانه ده - په دے قسم خبرو الله پاک پیر په حکمت سره انسان په دے پوهه کړے دے چه لکه څنګه په دُنیا کښے هغه سړے سخت بے وقوف دے څوک چه دَ تن په من وچړچو باندِ خپل هرڅه اَلوزَوی اوداسوچ نه کوی چه صباله به دَهغه سره دَ خوراک وړوئ اودَ سر پټولو ځائے هم پاتے شی اوکه نه - دغه شان هغه سړے هم خپلے خپلے ځان له پخپله وهی څوک چه دَ خپلے دُنیا جوړولو په فکر کښے دومره غټے وی چه هغه دَ خپل آخرت نه بالکل بے پرواشوے وی، حالانکه آخرت به یَقیناً هم هغسے راځی لکه څنګه چه په تن پسے صبا راتلونکے دے، اوهغه کړے دَ دُنیا په موجوده ژوند کښے دَ آخرت دَپاره څه سامان نه وی لیږلے نو هلته هغه هیڅ نشی موندلے - دَدے سره دَ حکمت دویمه نُکته داده چه په دے آیت کښے هرسړے پخپله دَ خپل ځان مُحتسب (یعنی حساب کونکے) جوړکړے شوے دے - ترڅوچه په یوسړی کښے پخپله دَ خپلے بدئ اونیکئ تمیز پیدا نه شی نوهغه ته دَدے خبرے هډوڅه احساس نشی کیدے چه هغه څه کوی چه په هغے دَهغه دَ آخرت ژوند نه کیږی اوکه خرابیږی - اوکله چه دَ هغه سره دا فکر راپیدا شی نوهغه به پخپله خپل حساب لګوی اوګوری به چه هغه خپل وخت، خپله سرمایه، خپل محنت، خپل قابلیتونه اوخپل کوششونه په کومه لارکښے لګوی چه آیا هغه دے جنت ته بوزی اوکه دوزخ ته - په دے حساب کولوکښے دَهغه خپله فائده ده، اوکه نه کوی نوپخپله به خپل راتلونکے ژوند خرابوی -

[۳۰] یعنی دا لازمی ده چه دَ خدائے دَهیرولو سره دَ انسان نه خپل ځان هیریږی - دَسړی نه چه کله داهیرشی چه هغه دَچا بنده دے نوهغه خامخا په دُنیا کښے خپل غلط حیثیت مقرروی اودَ هغه پټول ژوند دَدے بُنیادی غلط فهمئ په وجه غلط پاتے شی - دغه شان چه کله دَهغه نه داهیرشی چه هغه دَیو خدائے نه سِوا دَبل چا بنده نه دے نوهغه دَهغه یوبندګی خونه کوی دَکوم چه هغه په حقیقت کښے بنده دے، اودَهغه سَوُونوخدایانو بندګی کوی دَکوموچه هغه په حقیقت کښے بنده نه دے - دا بیا یوه لویه

وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۖ هُوَ الرَّحْمَٰنُ

دا مثالونه مونږ د خلقوته وړاندې غرض د پاره بیانوو چه هغوئ (په خپل حالت باندې) غور اوکړي۔ هغه[۳۲] هم الله دے چه د هغه نه سوا بل معبود نشته[۳۳]، د پټ اوښکاره د هر څیز نه خبر دار دے[۳۴]، هم هغه رحمان

غلط فهمی ده چه د هغې په وجه د هغه ټول ژوند په غلطه لار روانیږی ۔ د انسان اصل مقام په دُنیا کښے داد ے چه هغه بنده دے، آزاد او خپلواکه نۀ دے، او صرف د یو خدائے بنده دے، د هغه نه سوا د بل چا بنده نۀ دے ۔ چاته چه دا خبره نۀ وی معلومه هغه ته په حقیقت کښے خپل ځان نۀ وی معلوم ۔ او څوک چه د دے معلوما تو با وجود د لږ ساعت د پاره دا خبره هیره کړی نو په هغه ساعت د هغه نه هغه حرکت کیدے شی کوم چه د یو منکر یا د یو مشرک، یعنی د خود فراموشه انسان د کولو وی ۔ په صحیح لاره باندې د ټینګ وسیدو ټول دارومدار په دِے خبره دے چه هغه ته دِ خدائے یاد وی ۔ د هغه نه د بے پروا کیدو سره هغه پخپله د خپل ځان نه بے پروا کیږی، او هم دا بے پروا هی د هغه نه فاسق جوړوی ۔

۳۱؎ د دے مثال مطلب دا دے لکه څنګه چه قرآن د خدائے لویئ بیانوی او بنده ته صفا صفا وائی چه ته د خپل هر عمل ذمه وار ئے الله به د رنه د هغې ټپوس کوی، په دِے کے چرے د غرغونډ لوئ مخلوق هم پوهیدے اوهغه تسه پته لږ یدلے چه څومره قادر خدائے به د هغه نه د عملونو ټپوس کوی نو هغه به هم دیر ے نه ریږدے[۳۵]۔ لیکن حیرانتیاده هغه بے فکره انسان ته چه په قرآن پوهیږی او د هغه په ذریعه ئے حقیقت پیژندلے دے او بیا هم پرته څه پرته راځئ، نۀ ورسره دا فکر پیدا کیږی چه کوم ے ذمه وار یا نے په هغه اچولے شوی دی د هغې په باره کښے به هغه خپل خدائے له څه جواب ورکوی ۔ بلکه د قرآن د اوریدو یا لوستلونه روستو هغه دا سے بے اثره وی لکه چه هغه یو بے وسه کانړے دے[۳۶] چه نۀ څه اوری، نۀ څه وینی او نۀ په څه پوهیږی (د زیاتے تشریح د پاره اوګورئ تفہیم القرآن، ځلورم جلد، الاحزاب، حاشیه ۱۲۰)۔

۳۲؎ په دِے آیتونو کښے دا وئیلے شوی دی چه د کوم خدائے د طرفنه دا قرآن تاسوته رالیږلے شوے دے، چه هغه کوم ے ذمه وار ئ په تاسو اچولی دی، او چه آخر به تاسو هغه له د خپلو عملونو جواب ورکوئ، نو چه هغه څنګه خدائے دے او د هغه څه صفتونه دی ۔ د یاسنئ خبرې نه روستو فوراً د الله د دے صفتونو بیانولو سره پخپله په انسان کښے دا فکر راپیدا کیږی چه هغه به د یو معمولی هستئ سره نۀ پرته کیږی بلکه د هغے لوئے او بزرګے هستئ سره به مخ کیږی چه د هغه دا او دا صفتونه دی ۔ دلته په دِے خبره هم ځان پوهه کول پکار دی چه په قرآن مجید کښے اګرچه ځائے په ځائے د الله تعالیٰ صفتونه په دا سے بے مثاله طریقے سره بیان کړے شوی دی چه د هغې نه د الله د ذات واضحه تصور په ذهن کښے کیږی، لیکن دوه ځایونه دا سے دی چه په هغې کښے د الله تعالیٰ صفتونه په جامع ترین شکل کښے

الرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ

اورحیم دے[۳۵]۔ هغه هم خاص الله دے چه دَ هغه نه سِوا بل معبود نشته هغه بادشاه[۳۶] پرپاک دے،

بیان کړے شوی دی، یوپه سورۃ بقره کښے آیت الکرسی (آیت ۲۵۵)۔ دویم دَ سورۃ حشر دا آیتونه۔

۳۳ یعنی چه دَ هغه نه سِوا دَبل چا دا حیثیت اومرتبه نشته چه دَ هغه بندګی اوعبادت دِ اوکړے شی۔ چه دَ هغه نه سِوا بل څوک دَ خدائیؔ صفتونه او اختیارات هډولری نهٔ چه هغه دِ دَ معبود جوړیدو حقدار شی۔

۳۴ یعنی څه چه دَ مخلوقاتو نه پټ دی هغه هم هغه ته معلوم دی اوڅه چه مخلوقاتوته ښکاره دی دَ هیڅ نه هم هغه خبر دے۔ په دے کائناتو کښے هیڅ څیز دَ هغه دَ علم نه پټ نشته۔ مخکښے چه څه تیر شوی دی، اُوس چه څه موجود دی، او آئنده چه به څه کیږی، هرڅیز هغه ته ښۂ په ښه معلوم دے۔ دَ علم ذریعے ته هغه محتاج نهٔ دے۔

۳۵ یعنی دغه یوه هستی داسے ده چه دَ هغه رحمت بے حده دے، په ټول کائنات باندِ خورد دے، اودَ کائناتو هرڅیز ته دَ هغه فایدہ وَرَسی۔ په ټول جهان کښے داسے لامحدوده رحمت والا بل څوک نشته۔ په بله هره هستیٔ کښے چه دَ رحمت کوم صفت موندلے کیږی هغه جُزوی اومحدود رحمت دے، اوهغه هم دَ هغه ذاتی صفت نهٔ دے بلکه خالق دَ څه فایدے اوضرورت پخاطرهغه له ورکړے دے، په کوم مخلوق کښے چه هغه دَ بل مخلوق دَ پاره دَ رحم جذبه پیدا کړی ده، نوپه دے وجه ئے پیدا کړی ده چه هغه یومخلوق دَ بل مخلوق دَ پالنے اودَ خوښالیٔ ذریعه جوړول غواړی۔ دا پخپل ځائے دَ هغه دَ لامحدوده رحمت دلیل دے۔

۳۶ په اصل کښے لفظ اَلْمَلِكُ استعمال شوے دے۔ مطلب ئے داد ے چه اصل بادشاهم هغه دے۔ دارنګه مطلقاً دَ الملک لفظ استعمالولونه دا مطلب هم راوُزی چه هغه دَیوے خاصے علاقے یا دَیو خاص مملکت بادشاه نهٔ دے بلکه دَ ټول جهان بادشاه دے۔ په ټول کائنات باندِ دَ هغه بادشاهی ده۔ دَ هرڅیز هغه مالک دے۔ هرڅیز دَ هغه دَ اقتدار اودَ هغه دَ حکم تابع دے۔ او هیڅ څیز دا سے نشته چه دَ هغه حاکمیت محدود کړی۔ په قرآن مجید کښے په مختلفو ځایونو کښے دَ الله تعالیٰ دَ بادشاهیٔ دا ټول آړخونه ښه په وضاحت سره بیان کړے شوی دی:

وَلَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ۔ (الروم، ۲۶)۔

په زمکه اوپه آسمانونوکښے چه څه دی هغه ټول دَ هغه دی اوټول دَ هغه دَ فرمان تابع دی۔

يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ۔ (السجدہ، ۵)

دَ آسمان نه دَ زمکے پورے خاص هم هغه دَ هرکار تدبیر کوی۔

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ (الحدید، ۵)

دَ زمکے اودَ آسمانونو بادشاهی دَ هغه ده اوخاص الله ته ټول معاملات واپس کیږی۔

وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ (الفرقان، ۲)
بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ (یٰسٓ، ۸۳)
فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ (البروج، ۱۶)
لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُوْنَ (الانبیاء، ۲۳)
وَاللّٰهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهٖ (الرعد، ۴۱)
وَهُوَ يُجِيْرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ (المومنون، ۸۸)
قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ۔ (آل عمران، ۲۶)

په بادشاهئ کښے د هغه هیڅوک شریک نشته۔
د هرڅیز بادشاهی د هغه په لاس کښے ده۔
چه د څه څیز اراده اوکړی هغه کوی۔
څه چه هغه کوی د هغے به د هغه نه تپوس نشی کیدے، اود ټول مخلوق نه به تپوس کیږی۔
او الله فیصله کوی، څوک د هغه په فیصلے باندِ دوباره نظر اچولے نشته۔
اوهغه پناه ورکوی او بل هیڅوک د هغه په مقابله کښے پناه نشی ورکولے۔
اُووایه اے خدایا، د مُلک مالکه، ته څخپله خوښه مُلک ورکوے، اوپخپله خوښه مُلک اخلے۔ پخپله خوښه چاله عزت ورکوے او څوک ذلیله کوے، خیر هم ستا په لاس کښے دے یقیناً چه ته په هرڅیز باندِ قدرت لرے۔

دَدِے تشریحاتو نه دا معلومیږی چه د الله تعالیٰ بادشاهی محدوده یا مجازی بادشاهی نهٔ ده بلکه پوره او مکمله حقیقی بادشاهی ده۔ په حقیقت کښے حاکمیت نو هے څیز صرف اوصرف د الله تعالیٰ په بادشاهی کښے دے۔ د دے نه سِوا په بل هرځائے کښے چه د حاکمیت دعویٰ کیږی، خواه که هغه بادشاه وی یا ډیکتیټر وی، یا یوه ډله یا یو خاندان وی، یا یو قوم وی، هغوئ ته په حقیقت کښے حاکمیت حاصل نهٔ دے، حُکه چه حاکمیت هغه حکومت ته هډو والئ نهٔ چه د بل چا عطیه وی (یعنی بل چا ورکړے وی)، چه کله مِلا ویږی اوکله ختمیږی، چه د بل طاقت نه ورته خطره کیدے شی، چه هغه عارضی وی اود څه وخت د پاره وی، چه د هغه اقتدار بل مخالف قوت محدود کولے شی۔

لیکن قرآن مجید صرف په دے خبره اکتفا نهٔ کوی چه الله تعالیٰ د کائناتو بادشاه دے، بلکه رُوسټر ورپسے دا وضاحت کوی چه هغه دا سے بادشاه دے چه قدّوس دے، سلام دے، مومن دے، مُهیمن دے، عزیز دے، جبّار دے، متکبّر دے، خالق دے، باری دے او مصوّر دے۔

۲۷ په اصل کښے لفظ قدّوس استعمال شوے دے چه د مبالغے صیغه ده۔ د دے مادے قدس ده۔ د قدس معنیٰ ده د تمامو خرابو صفتونو نه پاک۔ او د قُدُّوس مطلب دا دے چه هغه د دے نه په څو درجے اوچت او برتر دے چه د هغه په ذات کښے د څه عیب، یا څه نقص یا څه خراب صفت وی۔ بلکه هغه یوه پاکه هستی ده چه د هغه په بارہ کښے د خرابتیا هیڅ تصوّر نشی کیدے۔ دلته په دے خبره ځان بنه پوهه کول پکار دی

السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ

سراسر سلا متیادہ[۳۸]، امن ورکوونکے دے[۳۹]، ساتونکے دے[۴۰]، په ټولو غالب دے[۴۱]، خپل حکم په زور جاری کوونکے دے[۴۲]، او په حقیقت کښے لوئ دے[۴۳]۔

چه قدّوسیت په حقیقت کښے د حاکمیت اولنے شرط دے۔ د انسان عقل او فطرت دا نهٔ منی چه حاکمیت د دیوے داسے هستئ سره وی چه هغه د شریر او بد خویه او بد نیته وی۔ چه په هغه کښے د خراب صفتونه وی۔ چه د هغه د اقتدار نه د هغه رعیت ته د خیر رسیدو په ځائے د بدئ رسید و خطره وی۔ د اوجه ده چه انسان په کوم ځائے کښے حاکمیت مقرّر وی هلته که قدّوسیت نهٔ هم وی نو د ځانه نے فضد کوی، ځکه چه د قدّوسیت نه بغیر د مطلق اقتدار تصوّر نشی کیدے۔ لیکن د اظاهره خبره ده چه د الله تعالیٰ نه سوا په حقیقت کښے بل هیڅ والا هم قدّوس نهٔ دے اونشی کیدے۔ که شخصی بادشاهی وی اوکه د جمهور حاکمیت وی، یاکه د اشتراکی نظام حکومت وی، یا د انسانانی حکومت بل څه شکل وی، بهرحال د هغے په حق کښے د قدّوسیت خیال هم نشی کیدے۔

۳۸ په اصل کښے لفظ السَّلام استعمال شوے دے چه معنیٰ نے ده سلا متیا۔ څوک چه چاته د سلیم یا د سالم وئیلو په ځائے سلا متیا اووائ نو د دے نه پخپله د مبالغے مطلب را پیدا کیږی۔ مثلاً چاته د حَسین (یعنی بنائسته) وئیلو په ځائے حُسن (بنائست) اووئیلے شی نو د دے مطلب به داوی چه هغه د سرنه د څپوپورے حُسن یعنی بنائست دے۔ الله ته د السَّلام وئیلو مطلب دا دے چه هغه سراسر سلا متیادہ۔ د هغه ذات د د دے نه اُوچت دے چه په هغه د څه آفت یا کمزورۍ یا کمے راشی۔ یا د چرته د هغه په کمال باندِ زوال راشی۔

۳۹ په اصل کښے لفظ المُؤمِنُ استعمال شوے دے چه ماده نے امن ده۔ د امن معنیٰ ده د یرے نه محفوظ کیدل۔ او مُؤمِن هغه دے چه بل له امن ورکړی۔ الله تعالیٰ ته په دے معنیٰ کښے مومن وئیلے شوے دے چه هغه خپل مخلوق له امن ورکوونکے دے۔ د هغه مخلوق د د دے یرے نه بالکل محفوظ دی چه هغه به پرچرته ظلم اُوکړی، یا به د هغه حق اُووهی، یا به د هغه اجر ضائع کړی، یا به د هغه سره د کړو وعدو خلاف ورزی اُوکړی۔ بیا چونکه د دے فاعل منعول نهٔ دے بیان کړے شوے چه هغه چاله امن ورکوونکے دے، بلکه مطلقاً المؤمن وئیلے شوے دے۔ په دے وجه د دے نه دا مطلب پخپله را اُوزی چه د هغه امن د ټول کائنات او د کائنات د هر څیز د پاره دے۔

۴۰ په اصل کښے لفظ المُهَيْمِنُ استعمال شوے دے چه د رے معنے لری۔ یو ه ساتونکے او حفاظت کوونکے۔ د و یمه، شاهد، یعنی کتونکے چه کوری چه څوک څه کوی۔ د رېمه، د خلقو په کارونو باندِ قایم، یعنی چه د خلقو د ضرورتونو اوحاجتونو پوره کولو ذمّه نے اغستلی وی۔ دلته هم چونکه مطلقاً المُهَيْمِنُ استعمال کړے شوے دے، او د دے فاعل مفعول نهٔ دے بیان کړے شوے چه هغه د چا ساتونکے او حفاظت کوونکے دے، چاته کتونکے دے، او د چا د ضرورتونو ذمّه واری نے اغستلی ده، نو په دے وجه د دے نه پخپله دا مطلب را اُوزی چه هغه د ټولو مخلوقاتو نگرانی او حفاظت کوی، د ټولو عملونه کوری، او د کائناتو د هر مخلوق د پالنے او د هغه د ضرورتونو پوره کولو ذمّه نے اغستلی ده۔

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٢٣﴾ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ
الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ؕ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٤﴾

پاک ہے اللہ ان شرک سے جو لوگ کر رہے ہیں۔ وہی اللہ جو خالق ہے، بارئ ہے، مصور ہے، اس کے لیے بہترین نام ہیں، زمین اور آسمان کی ہر چیز اس کی تسبیح کر رہی ہے، اور وہی زبردست اور حکیم ہے۔

۴۱ یہ اصل میں لفظ العزیز استعمال ہوا ہے جس کے زبردست تین معنی ہیں، ایک یہ کہ وہ ایسا طاقتور ہے کہ کوئی اس کے فیصلوں کو بدلنے کی طاقت نہیں رکھتا۔ دوسرے یہ کہ وہ ایسا غالب ہے کہ کوئی اس کے ارادے کو پورا ہونے سے نہیں روک سکتا۔ تیسرے یہ کہ وہ ایسا بے نظیر ہے کہ کوئی اس کا ہمسر نہیں ہے۔

۴۲ یہ اصل میں لفظ الجبار استعمال ہوا ہے جس کا مادہ ج ب ر ہے۔ جبر کے معنی ہیں زور سے کسی کو اس کام پر مجبور کرنا جو وہ نہ کرنا چاہتا ہو۔ اور اصلاح کے معنی ہیں کسی بگڑی ہوئی چیز کو زور سے درست کرنا۔ اسی لیے عربی زبان میں جبر کا لفظ ہڈی جوڑنے کے لیے بھی بولا جاتا ہے۔ اور جبار کا لفظ اس کاریگر کے لیے بھی بولا جاتا ہے جو ٹوٹی ہوئی چیزوں کو درست کرتا ہو۔ لیکن اس کے حقیقی معنی ہیں زبردست طاقت سے کام کرنے والا۔ اللہ تعالیٰ کے لیے جبار کا لفظ ان معنی میں ہوا ہے کہ وہ اپنی زبردست طاقت سے اپنی مخلوق کو اپنے ارادے کے مطابق چلا رہا ہے۔ اس کے فیصلوں کو بدلنے کی کسی میں طاقت نہیں ہے۔ اس کے ارادے کو پورا ہونے سے کوئی روک نہیں سکتا۔ اس کی مرضی کے خلاف کوئی کام ہو جانا تو درکنار، کوئی شخص اس کی مرضی کے خلاف سوچ بھی نہیں سکتا۔ اس کے علاوہ لفظ جبار میں اللہ کی عظمت کا مفہوم بھی شامل ہے۔ عربی زبان میں جو شخص بہت بڑا ہو اس کو جبار کہا جاتا ہے۔ اور جبار کا لفظ اس درخت کے لیے بھی بولا جاتا ہے جو بہت اونچا ہو اور جس کا پھل توڑنا آسان نہ ہو۔ اس شان کا کاریگر بھی جبار کہلاتا ہے جو بڑی عظیم الشان عمارتیں بناتا ہو۔

۴۳ یہ اصل میں لفظ المتکبر استعمال ہوا ہے جس کے دو مطلب ہو سکتے ہیں۔ ایک یہ کہ وہ حقیقت میں بڑا ہو۔ دوسرے یہ کہ وہ اپنے آپ کو بڑا سمجھتا ہو۔ پہلا مطلب اللہ تعالیٰ کے لیے صحیح ہے اور دوسرا مطلب اس کے لیے صحیح نہیں ہے۔ کیونکہ انسان کا بڑا ہونا ایک حقیقت ہے اور اس کا اپنے آپ کو بڑا سمجھنا ایک غلط خیال ہے۔ اللہ تعالیٰ کے لیے متکبر کا لفظ اس معنی میں استعمال ہوا ہے کہ وہ واقعی بڑا ہے۔ اس کے مقابلہ میں کوئی بڑا نہیں ہے۔ اس کی بڑائی کا یہ حال ہے کہ کوئی اس کے سامنے سر اٹھانے کی جرأت نہیں کر سکتا۔ اور اس کی بڑائی کا یہ حال ہے کہ کوئی اس کے مقابلہ میں بڑا بننے کی کوشش کرے تو وہ اس کو ذلیل کر دیتا ہے۔

چه دَ هغه نه سِوا په بل چا کښے نهٔ موندے کیږی ۔

۴۴ یعنی دَ هغه په اِقتدار او اختیاراتو اوصفتونو کښے ، یا د هغه په ذات کښے چه کوم خلق یو مخلوق دَ هغه سره شریکوی ، هغوی په حقیقت کښے ډیر غټ دروغ وائی ۔ الله تعالیٰ دَ دے نه پاک دے چه په یوه معنیٰ کښے دِځوک دَ هغه شریک شی ۔

۴۵ یعنی ټوله دُنیا اودَ دُنیا هرځیز دَ پیداکیدو دَ اولے منصُوبے نه واخله دَ خاص شکل جوړیدو پورے بالکل خاص دَهغه پیدا وښت دے ۔ یوځیز هم نهٔ پخپله پیدا شوے دے ، نهٔ اتفاقاً پیدا شوے دے ، نهٔ دَ هغه په پیدا وښت کښے دَ بل چا دَ ذرّے هومره څه دخل شته ۔ دلته دَ الله تعالیٰ دَ پیدا وښت منصُوبه په دریو جُدا جُدا مرتبو کښے بیان کړے شوی ده چه هغه په یو بل پسے جوښتے رازی ۔ اوله مرتبه دَ خَلْق یعنی دَ تقدیر یا دَ منصُوبے ده ۔ دَ دے مثال دا سے دَ دے لکه چه یو انجنیئر دَ یوے آبادئ جوړولو نه مخکښے دا اِراده کوی چه هغه به په دِے طریقه یوه آبادِی دَ فلانی مقصد دَپاره جوړوی او هغه په خپل ذهن کښے دَ هغے نقشه سازَوی چه دَ دے مقصد دَپاره دَآبادئ شکل په دِے طریقه پکارده ۔ دویمه مرتبه ده بَرْء ، چه اصل معنیٰ ئے ده جُدا کول ۔ دَ خالق دَپاره " باری " لفظ په دِے معنیٰ کښے استعمال شوے دے چه هغه خپله سازَه شوی نقشه جوړوی ، او دَ کوم څیز نقشه چه دَ هغه په سوچ کښے ده هغه وجود ته راولی ۔ دَ دے مثال دا سے دے لکه څنګه چه انجنیئر دَ آبادئ کومه نقشه په ذهن کښے جوړه کړی وه دَ هغے مطابق ټیک ټیک په زمکه کښے کچ میچ کوی ، بیا بُنیادُونه کنی ، او دیوالُونه اُوچتوی او دغه شان نور کار کوی ۔ دریمه مرتبه تصویر دے ، چه معنیٰ ئے ده شکل جوړول ، او دلته دَ دے نه مُراد دے یوځیز په خپل آخری مکمّل شکل کښے جوړول ۔ په دے دریواړو مرتبو کښے دَ الله تعالیٰ دَ کار اودَ انسانی کارونو په منځ کښے هیڅ څه مشابهت نشته ۔ دَ انسان یوه منصوبه هم داسے نهٔ ده چه هغه دَ مخکینو نمونو نه اغستے شوی نهٔ وی ۔ لیکن دَ الله تعالیٰ هره منصُوبه بے مثاله ده اودَ هغه خپل ایجاد دے ۔ انسان چه څه جوړوی ۔ نودَ الله تعالیٰ دَ پیدا کړو څیزونو نه ئے جوړوی ۔ هغه یوځیز دَ عَدَم نه وجود ته نهٔ راولی یعنی دا سے نهٔ ده چه یوځیز نهٔ وی اوهغه ئے شته کړی بلکه څه چه موجود دی هغه له په مختلفو طریقو سره ترکیب ورکوی ۔ دَ دے برخلاف الله تعالیٰ ټول څیزونه دَ عدم نه وجود ته راوَلی یعنی یوځیز نهٔ وی اوهغه ئے شته کړی اوهغه مادّه هم الله تعالیٰ پیدا کړی ده دَکومے نه چه هغه دا دُنیا جوړه کړی ده ۔ دغه شان په شکل جوړولو کښے هم انسان ایجاد کونکے نهٔ دے بلکه دَ الله تعالیٰ دَجوړوشُو شکلُونو نقل کوُنکے اونا جاړه نقل کونکے ۔ اصل مُصوّر یعنی شکل جوړونکے الله تعالیٰ دے چه هغه هرجنس ، هرقسم اودَ هرفرد شکل بے مثاله جوړ کړے دے او هیڅکله ئے یو شکل هُو به هُو دوباره نهٔ دے جوړ کړے ۔

۴۶ دَ نمونو نه مُراد صفتی نمونه دی ۔ اودَ هغه دَپاره دَ بهترینو نمونو مطلب دا دے

چه دَ هغه سره هغه صفتی نومونه موزون نهٔ دی دَ کومونه چه دَ څه نقصان اِظهار کیږی ، بلکه هغه په هغه نومونوسره یادَول پکاردی چه دَ هغه دَ کمالی صفتونو اِظهار کوی - په قرآن مجید کښے ځائے په ځائے دَ اللّٰه تعالیٰ دا ښائسته نومونه (اسمائے حُسنیٰ) بیان کړے شوی دی ، اوپه حدیث کښے دَ هغه پاک ذات یوکم ۹۹ سل نومونه شمارکړے شوی دی چه ترمذی اوابن ماجه دَ حضرت ابوهریره په روایت سره دیر په تفصیل سره نقل کړی دی - په قرآن اوپه حدیث کښے که سړے دغه نومونه په غور سره اُولولی نوهغه په آسانئ سره پوهیدے شی چه که چرے څوک دَ دُنیا په نورو ژبو کښے اللّٰه تعالیٰ یادَوی نوکوم لفظونه به د هغه دَ پاره موزون وی -

۴۷ یعنی په وینا سره یا په زُبانِ حال سره دا بیان کوی چه دَ هغه خالق دَ هر عیب ، دَ هر نقصان ، دَ هرے کمزورئ اودَ هرے غلطئ نه پاک دے -

۴۸ دَ تشریح دَ پاره اُوګورئ تفهیم القرآن ، پنځم جلد ، تفسیر دَ سورۃ حدید ، حاشیه ۲ -

تفهم القرآن

المُمتَحِنَه

٦٠

المُمتَحِنَه

نوم دَدے سورۃ په آیت ۱۰ کښے حکم شوے دے چه کومے ښځے په هجرت راشی او دَ مسلمانئ دعویٰ اُوکړی نو دَ هغوئ امتحان واخلئ ۔ په دے مناسبت سره دَدے نوم الممتحنه کیښودے شوے دے ۔ دا مُمتَحَنَه هم ویلے شی او مُمتَحِنَه هم ۔ دَ اولنی تلفظ په لحاظ سره معنیٰ ده "هغه ښځه چه امتحان ترې واغستے شی" او دَ دویم تلفظ په لحاظ سره معنیٰ ده "امتحان اغستونکے سورۃ"۔

دَ نازلیدو زمانه په دے کښے په دُوَو داسے معاملو باندے خبره شوی ده چه دَ هغے زمانه تاریخی طور معلومه ده ۔ اوله معامله دَ حضرت حاطِب بن ابی بَلْتَعَه دُ چه چه هغه دَ مکّے دَ فتح نه څه لږه موده مخکښے دَ یو پټ خط په ذریعه دَ قریشو سردارانو ته دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَدے ارادے اطلاع ورلیږلی وُ چه هغه په مکّه حمله کوُنکے دے ۔ اودویمه معامله دَ هغه مسلمانو ښځُوده چه هغوئ دَ حُدیبیے دَ صلح نه روستو دَ مکّے نه مدینے ته هجرت شروع کړے وُ او دَ هغوئ په باره کښے داخبره مخے ته راغلی وه چه آیا دَ صلح دَ شرطونو ترمخه دِدا ښځے هم دَ مسلمانانو سرو پشان کافرانو ته حواله کړے شی؟ دَدے دواړو معاملو دَ ذکر نه داخبره قطعی طور ثابتیږی چه داسورۃ دَ صلح حُدیبیے او دَ فتح مکّے په منځنی دَور کښے نازل شوے دے ۔ دَدے نه علاوه یوه دریمه معامله هم ده چه دَ هغے ذکر دَ سورۃ په آخر کښے راغلے دے، اوهغه داچه کله ښځے ایمان راوړی او دَ بیعت دَپاره دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم په خدمت کښے حاضرشی نوچه نبیؐ دَ هغوئ نه دَ کومو خبرو وعده واخلی ۔ دَدے حصّے په حقله هم قیاس داد ے چه داهم دَ مکّے دَ فتح نه څه لږه مخکښے نازله شوی ده ، ځکه چه دَ مکّے دَ فتح نه روستو دَ قریشو دَ سرو پشان دَ هغوئ ښځے هم په ګڼ تعداد کښے په یو وخت په اِسلام کښے داخلیدو نکی وے او په دے موقع داضرورت پیښ شوے وُ چه اجتماعی طور دِ دَ هغوئ نه وعده واغستلے شی ۔

موضوع او محتوٰی دَدے سورۃ دری حصّے دی:

اوله حصّه دَ سورۃ دَ شروع نه دَ نهم آیت پورے ده او دَ سورۃ په آخر کښے دیارلسم آیت هم دَدے سره تعلق لری ۔ په هغے کښے دَ حضرت حاطب بن ابی بَلْتَعَه په دِے کار باندِ سخته خبره شوی ده چه هغه صرف دَ خپل بال بچ دَ بچ کولو دَپاره دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَ یو ډیر اهم جنګی راز نه دَ دُشمنانو دَ خبرَولو کوشش کړے وُ چه کړے هغه په وخت نهٔ وے نا کام کړے شوے نو دَ مکّے دَ فتح په موقع به ډیر ے وینے توئ شوی وے ، ډیر قیمتی قیمتی مسلمانان به هم وژلے

شوی وُو ، دَ قریشو به هم پیر داسے خلق مړه شوی وُوچه هغوی روستو دَ اِسلام لوئ خدمتونه کو نکی وُو ، هغه ټولے فایدے به هم ضائع شوی وے کوهے چه دَ مکّے دَ پر امن فتحے سره حاصلیدے شوے ، اودومره لوئ نقصانونه به صرف په دِے وجه شوی وَے چه په مسلمانانو کښے یوسړی خپل بال بچ دَ جنګ دَ خطرونه محفوظ ساتل غوستل - په دے سخته غلطئ باندِ الله تعالیٰ زُورَنه کړی ده اوټولو مومنانو ته ئے دا تعلیم ورکړے دے چه مومن سړی له دَ دُشمن کافرانو سره دَځه غرض دَ پارهٔ په هیڅ حال کښے دَ مینے اودَ دوستئ تعلق ساتل نهٔ دی پکار اوځه داسے کارکول نهٔ دی پکارچه هغه دَ کفر اودَ اسلام په جنګ کښے دَ کافرانو دَ پارهٔ فایده مند وی - البته چه کوم کافران دَ اِسلام اودَ مسلمانانو خلاف عملاً دُشمنی نهٔ کوی اوهغوئ ته تکلیف نهٔ رَسَوی نودَ هغوئ سره په احسان کولو کښے څه باک نشته -

لسم اویُوولسم آیت دویمه حصّه ده - په دِے کښے دَ استوګنے دَ یوے اهمے مسئلے فیصله شوی ده چه په هغه وخت کښے ئے لوئ کړکیچ پیدا کولو - په مکّه کښے پیرے مسلمانانے ښځے داسے وِے چه دَ هغوئ خاوندان کافران وُو ، هغوئ به په څه طریقه هجرت اوکړو او مدینے ته به را اُو رسیدلے - دغه شان په مدینه کښے پیر مسلمانان سړی داسے وُوچه دَ هغوئ ښځے کافرانے وِے اوهغوئ په مکّه کښے پاتے شوی وِے - دَ هغوئ په بارهٔ کښے دا مسئله راپیدا کیدله چه ایا دَ هغوئ په منځ کښے دَ کوروالئ رشته باقی ده اوکه نهٔ - الله تعالیٰ دَ دے فیصله دَ همیشه همیشه دَ پارهٔ دا اُوکړه چه دَ مسلمانے ښځے دَ پارهٔ کافر خاوند حلال نهٔ دے ، اودَ مسلمان سړی دَ پارهٔ هم دا جائز نهٔ دی چه مشرکه ښځه په خپله نکاح کښے اُوساتی - په دے فیصله کښے پیرے اهمے قانونی خبری دی چه تفصیل به ئے وړاندِ مونږه په حاشیو کښے بیان کړو -

دریمه حصّه په دولسم آیت کښے ده چه په هغے کښے رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته فرمائیلے شوی دی چه کوم ښځے اِسلام قبول کړی نوتهٔ دَ هغوئ نه وعده واخله چه دَ هغه لوئیو لوئیو ګناهونونه ځان اُوساتی کوم چه به دَ جاهلیت په زمانه کښے ښځو کول او دَ دے خبرے اِقرار تر واخله چه آیندِه به هغه ټول نیک کارونه کوی دَ کوم حکم چه دَ الله دَ رسول دَ طرفنه هغوئ ته اُوشی -

سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةِ مَدَنِيَّةٌ

اٰیاتُہا ۱۳ رُکُوعاتُہا ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ ۚ يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ ؕ اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِيْ ۚ تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ۚ وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ اَخْفَيْتُمْ وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ؕ وَمَنْ يَّفْعَلْهُ

۱ھ هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، که چرے تاسو ځما په لار کښے د جهاد کولو د پاره اوځما د رضا موندلو د پاره (وطن پریښود ے وی او د کور و نو نه) وتلی یئ نو ځما د دُشمنان اوخپل دُشمنان مهٔ دوستان کوئ ـ تاسو د هغوئ سره د دوستئ بُنیاد ښ دئ، حالانکه چه کوم حق تاسو ته را غلے دے هغوئ د هغے د منلو نه اِنکار کړے دے اود هغوئ کارداد ے چه رسول اوتاسو صرف په دے وجه بے وطنه کوی چه تاسو په خپل رب، الله باندِ ایمان راوړے دے۔ تاسو پټ په پټه هغوئ ته د دوستانے پیغامونه لیږئ، حالانکه څه چه تاسو په پټه کوئ اوڅه چه په ښکاره کوئ هرڅیز ما ته ښه معلوم دے ۔ په تاسو کښے چه هر څوک دا سے

۱ھ مناسبه خبره داده چه په شروع کښے د هغه واقعے تفصیلات بیان کړے شی د کومے په باره کښے چه دا آیتونه نازل شوی دی چه په وړاندینئ خبره باندِ سړے په آسانه پوهه شی۔ د مفسرینو په دے خبره باندِ اتفاق دے اود ابن عباس، مُجاهد، قتاده اود عُروه بن زُبیر وغیرو متفقه روایت هم داده چه دا آیتونه په هغه وخت کښے نازل شوی وُو کله چه د مکے د مشرکانو په نوم د حضرت حاطب بن ابی بَلتَعَه خط نیولے شوے وُو۔

قیصه داده چه کله قریشو د حدیبیے د صلح معاهده ماته کړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلّم په مکّه معظّمه باندِ د حملے کولو تیاریانے شروع کړے، لیکن د یو څو خاصو صحابو نه سوائے بل چاته دا خبره ښکاره نه کړه چه هغه څه کول غواړی۔ اتفاقاً په دغه وخت کښے یوه ښځه د مکے نه یوه ښځه راغله چه هغه د اوّل نه د بنی عبد المطلب وینځه وه اوبیا آزاده شوه اود سندرو ډاموکار یه ئے کولو۔

هغه نبیؐ له راغله ، خپله غریبي ئے بیان کړه او څه مالي امداد ئے اوغوښتو ۔ نبیؐ بنی عبد المطّلب او بنی المطّلب ته اپیل اوکړو او دَ هغې حاجت ئے پوره کړو ۔ کله چه هغه مکّې ته روانه شوه نوحضرت حاطب بن ابي بلتعه دَ هغې سره ملاؤ شواو پټ شان ئے ورله دَ مکّې دَ حیني سردارانو په نوم خط ورکړو او ورسره ئے لس دینارہ ورکړل چه راز بنکاره نه کړی او پټ په پټه داخط هغوئ ته اورسوی ۔ هغه بس دَ مدینې نه روانه شوی وه چه الله تعالیٰ نبي صلی الله علیه وسلّم ته دَ هغې اطلاع ورکړه ۔ نبیؐ فوراً حضرت علیؓ ، حضرت زبیرؓ او حضرت مقداد بن اسود په هغې پسې اولیږل اوحکم ئے اوکړو چه تیز لاړ شئ ، په روضه خاخ نومے ځایئ کښے به (چه دَ مدینې نه مکّې طرفته دولس میله لرے وُو) تاسو ته یوه بنځه ملاؤ شی چه دَ هغې سره دَ مشرکانو په نوم دَ حاطب یوخط دے ۔ هرځنګه چه وی دَ هغې نه هغه خط واخلئ ۔ که خط ئے درکړو نو بیا ئے پریږدئ او که در ئے نه کړو نو وِے وژنئ ۔ هغوئ چه کله هغه ځایئ ته اورسیدل نو هغه بنځه هلته موجود وه ۔ هغوئ ترخط اوغوښتو ۔ هغې ورته اوویل چه ماسره خط نشته ۔ هغوئ ئے تلاشی واغسته خوخط ئے ورسره اونه موندو ۔ په آخر کښے ورته هغوئ اوویل چه خط موبنز له راکړه کنئ نوموبنز به تالغړه کړو او تلاشی به دِ واخلو ۔ هغې ته چه پته اولګیدله چه دَ بچ کیدو څه لار نشته نو دَ خپلې کمسئ نه ئے هغه خط را اووېستو او هغوئ له ئے ورکړو او هغوئ نبیؐ له راوړو ۔ چه وِے کتلو نو په هغې کښے دَ قریشو خلقوته داخبر ورکړے شوے وُو چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم په تاسو باندِ دَ حملې کولو تیاری کوی ۔ (په مختلفو روایتونو کښے دَ خط الفاظ مختلف دی ، لیکن مطلب دَ ټولو یو دے) ۔ نبیؐ دَ حضرت حاطِب نه تپوس اوکړو چه دا دِ څه کړی دی ؟ هغه عرض اوکړو چه تاسو حمًا په معامله کښے تلوار مۀ کوئ ۔ ما چه څه کړی په دے وجه مې نۀ دی کړی چه کنې څه کافر شوے او مرتد شوے یم ۔ اودَ اِسلام نه روستو مې کفر خوښ شوے دے ۔ اصل خبره داده چه حمًا خپلوان په مکّه کښے اوسی ۔ څه دَ قریشودَ قبیلے سړے نۀ یم ، بلکه دَ حیني قریشو په سرپرستئ کښے هلته آباد شوے یم ۔ په مهاجرینوکښے چه دَ نورو کومو خلقو اهل وعیال په مکّه کښے دی هغوئ خو به دَ هغوئ قبیله پیچ کړی ۔ لیکن حمًا قبیله هلته نشته چه کنې هغوئ به پیچ کړی ۔ نوما داخط په دِے خیال سره لیږلے وُو چه په قریشو باندِ حمًا یواحسان وِی چه دَ هغې په وجه حمًا بال بچ نۀ چیړی ۔ (دَ حضرت حاطِب دَ خوئ عبدالرحمٰن روایت دادے چه په هغه وخت کښے دَ حضرت حاطب بچی اوړونړه په مکّه کښے وُو ، اوچنګه دَ حضرت حاطِب دَ یو روایت نه معلومیږی چه دَ هغه مُورهم هلته وه) ۔ رسول الله صلی الله علیه وسلّم چه دَ حاطِب داخبره واوریده نوحاضرو خلقوته ئے اوفرمایئل چه قَدْ صَدَقَکُم ، " حاطِب تاسوته رښتیا خبره کړی ده ، " یعنی دَ هغه دَ دے کار اصلی وجه داوه ، دَ اِسلام نه پشاکیدل اودَ کفر مرسته ئے اصل وجه نۀ وه ۔ حضرت عمرؓ پاسید واوعرض ئے اوکړو چه اے دَ الله رسوله ماله اجازت راکړه چه څه دَ دے منافق څټ اوړهم ، دۀ دَ الله اودَ هغه دَ رسول اودَ مسلمانانو سره خیانت کړے دے ۔ نبیؐ اوفرمایئل " دے سړی په جنګ بدر کښے حصّه اغستلی ده ۔ تاته څه پته ده کیدے شی چه الله تعالیٰ بدر والو ته فرمایئلی وی چه که تاسو هرڅه اوکړئ ما تاسو معاف کړی یئ ۔ " (دَ دے آخری فقرے الفاظ په

مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ① اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ يَكُوْنُوْا لَكُمْ
اَعْدَآءً وَّيَبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ وَاَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوْٓءِ وَوَدُّوْا
لَوْ تَكْفُرُوْنَ ② لَنْ تَنْفَعَكُمْ اَرْحَامُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ ۚ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ

اُوکړی هغه یقیناً د ځینې لارې نه بې لارې شو۔ د هغوی عمل خو داد ے چه که په تاسو باندې ځلاس برشوې نو دُښمنی درسره کوی او په لاسونو او په ژبه درته آزار دررسوی۔ هغوی خو دا غواړی چه تاسو په څه طریقه کافران شئ ۔ د قیامت په ورځ به نه ستاسو خپل خپلوان څه په کار راشی او نه ستاسو اولاد۔

مختلفو روایتونو کښے مختلف دی۔ په یو روایت کښے دی قد غفرت لکم، ماتاسو اُوبخښلئ ۔ په بل کښے دی انی غافر لکم، څه بخښونکے یم تاسولره ۔ او په بل کښے دی سا غفر لکم ، څه به تاسو اُو بخښم) ۔ حضرت عمرؓ چه دا خبره واوریدله نو په ژړا شو او وے ویل چه الله او د هغه رسول د ښه پوهیږی ۔ دا د هغه کښے د روایتونو خلاصه ده چه د کتب و معتبر و سند و نو سره بخاری ، مسلم ، احمد ، ابوداؤد ، ترمذی ، نسائی ، ابن جریر طبری ، ابن هشام ، ابن حبان او ابن ابی حاتم نقل کړی دی په دے کښے د ټولونه زیات مستند روایت هغه دے چه هغه په خپله د حضرت علیؓ د خُلے نه د هغه لیکوال (سکرټری) عبدالله بن ابی رافع نه واوریدو او د هغه نه د حضرت علیؓ نوسی حسن بن محمد بن حنیفه واوریدو او روستنو روایانونه ئے اُورسوُو ۔ په هغے کښے په یو روایت کښے هم دا څرګندونه نشته چه د حضرت حاطب په دے عُذر اوریدو سره کښی هغه ته معافی اُوکړے شوه ۔ لیکن په هیڅ ذریعه دا معلومات هم نشته چه هغه ته څه سزا ورکړے شوه ۔ په دے وجه د اُمّت عالمانو دا خیال کړے دے چه د حضرت حاطب عُذر قبول شوے وُو او هغه پریښود ے شوے وُو ۔

۱ د دے ځائے پورے چه څه حکم شوے دے ، او وړاندے چه په دے سلسله کښے څه حکم راروان دے ، اګرچه دا دے د نازلیدو موقع خاص د حضرت حاطب واقعه وه ، لیکن الله تعالیٰ یوازے د هغه په مُقدمه باندے بحث نه دے کړے بلکه ټولو مومنانو ته ئے د همیشه همیشه د پاره دا سبق ورکړے دے چه په کوم ځائے کښے د کفر او د اسلام مقابله وی ، او هرچرته چه څه خلق د مومنانو سره د هغوی په مُسلمانید و باندے دُشمنی کوی ، هلته د څه غرض یا د څه مصلحت د پاره دا سے کارکول چه په هغے سره اسلام ته نقصان رسیږی او د کفر او د کافرانو خدمت کیږی ، بلکل د ایمان نه خلاف کار دے ۔ څوک چه د اسلام هډو بډ خواه نه وی او د بد نیتئ نه بالکل خالی وی ، او صرف د خپل ذاتی غرض د پاره دا کار اُوکړی بیا هم دا کار د یو مومن د کولو کار نه دے ، او هرچا چه دا کار اُوکړو هغه یقیناً د ځینې لارې نه بې لارې شو۔

۳ دا اشاره ده حضرت حاطب ته ۔ هغه دا کار د جنګ په موقع د خپلے مُور او رُور او د اولاد د بچ کولو د پاره کړے وُو ۔ په دے حقله فرمائی چه تا د چا د پاره دا دومره لویه ګناه اُوکړه هغه به د قیامت په ورځ ستا د بچ کولو د پاره رانشی ۔ د هیچا به داهمّت نه وی چه د خدائے په عدالت کښے وړاندے شی

يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝٣

په هغه ورځ به الله تعالیٰ ستاسو په منځ کښے جُدائی راولی[۴]، او الله ستاسو ټول عملونه وینی[۵]۔

اوداسې وائی چه خپلوان یا خپلوی یا خپلوروڼه دا ګناه کړی وه نو دده دده ګناه سزا ورکړے شی۔ په هغه وخت کښے به د هر چا سره خپل فکر وی، د خپل عمل د سزا نه د بچ کیدو غم به د هر سړی د پاره یو غټ جوړ شوے وی نو لا د بل چا سزا اغستونکے به څه تیاره شی۔ هم دا خبره د قرآن مجید په بیروڅایونو کښے په زیاتو ځایونو کښے په الفاظو سره فرمائیلے شوی ده۔ په یوځائے کښے فرمائی "په هغه ورځ به مجرم دا غواړی چه که چرے هغه خپل اولاد، خپله ښځه، خپل وروڼه، خپل مرستیالی خاندان او د ټولے دُنیا خلق په فدیه کښے ورکړی او د عذاب نه خلاص شی نو هغه به ورکړی خو چه د ده خلاص شی"۔ (المعارج، آیتونه ۱۱-۱۴)۔ په بل ځائے کښے فرمائی، "په هغه ورځ به سړے د خپل وروڼه، د خپلے مور، د خپل پلار، د خپلے ښځے او د خپل اولاد و نه تښتی۔ هریوه به په خپل حال کښے دا سے اخته وی چه د بل نه به خبر نه وی" (عبس ۳۴-۳۷)۔

۴؎ یعنی د دُنیا ټولے رشتے او تعلقات او را بطے به هلته ختمے کړے شی۔ د ډلو پرو او خاندانونو په شکل کښے به حساب کتاب نه کیږی، بلکه هریوه به په خپل ذاتی حیثیت کښے پیش کیږی، او هریو به خپل ذاتی حساب ورکوی۔ دا وجه ده چه په دُنیا کښے هیڅاله دا نه وی پکار چه د خپلوانو یا دوستانو یا د ډلے پرے د خاطره څه ناجائزه کار اُوکړی، ځکه چه د خپل عمل سزا به هغه څخه برداشت کوی، د هغه په ذاتی ذمه واری کښے به بل هیڅوک شریک نه وی۔

۵؎ د حضرت حاطب د دے مقدمے نه چه تفصیل ئے یوه موښه بیان کړے دے، او د دے آیتونونه چه د دے واقعے په باره کښے نازل شوی دی، لاندینۍ خبرے را برسیره کیږی:

(۱) چه دِے ته نه ګورے چه کوُنکی دا کار په کوم نیت سره اُوکړو، نو دا کار پخپله یو څرګند جاسوسی کار وُو، او جاسوسی هم په ډیره نازکه موقع باندِ سخته خطرناکه جاسوسی وه چه د حملے نه مخکښے بے خبره دُشمن خبر کړے شوے وُو۔ بیا معامله د شُبهے هم نه وه بلکه د مُلزم د خپل لاس لیکلے شوے خط نیولے شوے وُو چه د هغے نه روستو د څه ثبوت حاجت نه وُو۔ حالات هم دا سے وُو چه د امن زمانه نه وه، د جنګ زمانه وه۔ لیکن د دے باوجود نبی صلی الله علیه وسلم دا سے اُونه کړه چه حضرتِ حاطب له ئے د صفایئ موقع ورنه کړه او نظر بند ئے کړو۔ د صفایئ موقع ئے ورکړه او هغه هم په بندګړه کښے نه بلکه بنکاره په کولا وُ عدالت کښے۔ د دے نه صاف معلومیږی چه په اِسلام کښے د دا سے قانون او قاعدے هیڅ ګنجائش نشته چه د هغے په وجه په یو حالت کښے حاکمانو ته د احق رسی چه یو سړے صرف د خپل علم یا شُبهے په وجه قید کړی او په بنده کمره کښے پټ په پټه د مقدمے چلولو طریقه هم په اِسلام کښے نشته۔

(۲) حضرتِ حاطب نه یوازے د مهاجرینونه وُو بلکه د جنګ بدر په اصحابو کښے هم شامل وُو چه هغوئ ته په صحابو کښے یولوړ مقام حاصل وُو۔ لیکن د دے باوجود د هغه نه دومره لوئ جرم اُوشو، او په هغے باندِ الله تعالیٰ دومره سخت ګرفت اُوکړو چه هغه په پاسنو آیتونو کښے سړے لیدے شی۔ په احادیثو کښے هم د هغه قیصه سره په تفصیل سره بیان کړے شوی ده او تقریباً هر مفسر د دے ذکر کړے دے۔ دا د ګنړو ثبوتونونه یو ثبوت دے د دے خبرے

چه صحابه بے خطا نه ؤو، دَ هغوئ نه هم دَ بشری کمزورئ په وجه خطا کانے کیدے شوے، اوعلاً تر اُوشوے، اودَ هغوئ دَ عزّت او احترام کولو چه کوم تعلیم الله اودَ هغه رسول ورکړے دے کم از کم دَ هغے تقاضا دا هرگز نه ده چه په هغوئ کښے که چرے دَ چانه غلطی شوی وی نو دَ هغے ذکر دِ نه کیږی۔ کنئ نو ظاهره خبره ده که چرے دَ هغے تقاضا داوے نو نه ئ به الله تعالیٰ په خپل کتاب کښے دَ هغے ذکر کړے وے او نه ئ به صحابه کرامو او تابعینو او محدّثینو او مفسّرینو په خپلو روایتونو کښے دَ هغے تفصیلات بیان کړی وے۔

(۳) دَ حضرت حاطب په مقدمه کښے چه حضرت عمرؓ دَ کوم رائے څرګند ؤنه اُوکړه هغه دَ ظاهری شکل په لحاظ سره وه۔ دَ هغه دلیل داؤو چه کار داسے دے چه څرګند دَ الله اودَ هغه دَ رسول اودَ مسلمانانو سره دَ خیانت رنګ لری، نو په دِے وجه حاطب منافق دے اوقتل کول ئے واجب دی۔ لیکن رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَ هغه خبره رد کړه اودَ اسلامی شریعت اصلی بُنیادی خبره ئے په ګوته کړه چه صرف دَ کار په ظاهری شکل باندِ فیصله کول نه دی پکار بلکه دِے ته هم کتل پکار دی چه دَ کوم سړی نه هغه کار شوے وی چه دَ هغه دَ تیر شوی ژوند نه اودَ هغه دَ مجموعی عمل نه څه څرګند و نه کیږی او په کومه خبره دلالت کوی۔ بے شکه چه کار دَ جاسوسئ دے۔ لیکن آیا دَ کار کوونکی دَ عمل نه دا معلومیږی چه دے سړی دا کار دَ الله اودَ رسول اودَ مسلمانانو سره دَ خیانت په نیت کولے شو؟ هغه په هغه خلقو کښے دے چه هغوی دَ ایمان دَ خاطره هجرت اُوکړو۔ آیا دَ خلوص نه بغیر هغه دُومره قربانی کولے شوه؟ هغه دَ جنګ بدر غوندِ په نازکه موقع باندِ، چه دَ دُشمنانو دَ درے چنده اودَ وسله بند طاقت سره مقابله پیښه وه، اودَ ایمان دَ خاطره اُوجنګیدو، آیا دَدا سے سړی په اخلاص کښے شک کیدے شی؟ یا دَ هغه په باره کښے دَ چا داباور راتلے شی چه دَ هغه په زړه کښے دَ قریشو دَ کافرانو سره نرئ شان مینه هم موجوده وه؟ هغه دَ خپل کار صفا صفا وجه دا بیانوی چه په مکّه کښے دَ هغه بال بچے اوخاندان اوقبیله ته هغه تحفظ حاصل نه دے کوم چه نور د مهاجرینو ته حاصل دے، په دے وجه هغه دَ دے خاطره دا کار کړے دے چه هغوئ دَ جنګ په موقع دَ کافرانو دَ ضرر رسانئ نه بچ شی۔ دَ تحقیق سره دا خبره محکیږی چه واقعی په مکّه کښے دَ هغه قبیله نشته اودا هم معلومه ده چه واقعی دَ هغه بال بچ هلته موجود دے۔ نو هیڅ داسے وجه نشته چه دَ هغے له کبله دَ هغه دا بیان دروغ اُوګڼلے شی اودا رائے قایمه کړے شی چه دَ هغه دَ دے کار اصل سبب دا نه ؤو بلکه دَ هغه په زړه کښے خاص دَ خیانت اراده وه۔ بے شکه چه دَ یو مخلص مسلمان دَ پاره په نیک نیتئ سره هم دا حرکت جائز نه دے چه هغه صرف دَ خپلے ذاتی فائدے دَ خاطره دُشمنانو ته دَ مسلمانانو دَ جنګی منصوبو خبرور اُورَسوی، لیکن دَ مخلص سړی په غلطئ کښے اودَ منافق سړی په غدّارئ کښے بیرلوئ فرق دے۔ تش دَ کار په یوشان والی باندِ دَ دواړو یوه سزا نه شی کیدے۔ داوه په دے مقدّمه کښے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم فیصله، اوالله تعالیٰ دَ سورۃ مُمتحنة په دے آیتونو کښے دَ دِے تائید اُوکړو۔ پاسنی دریواړه آیتونه چه په غور سره اُولوستے شی نو صفا معلومیږی چه په هغے کښے په حضرت حاطب باندِ ملامتیا خوضرور فرمائیلے شوی ده لیکن دا ملامتیا په هغه طرز ده کومه چه دَ یو مومن دَ پاره وی نه هغه چه دَ یو منافق دَ پاره وی۔ دَ دے دَ پاسه دَ هغه دَ پاره څه مالی اوبدنی سزا نه ده مقرّر کړے شوی بلکه دَ عامو خلقو په مخکښے رتبه ورکړے شوی ده او بیا پریښود ے شوے دے۔ چه مطلب ئے دا دے چه په مسلمانانو کښے دَ یو خطا کار مومن په

عزّت باندِ داغ لګیدلی او دَ هغه په بروسه باندِ الزام راتلل هم دَ هغه دَ پاره یوه لویه سزا ده ۔

(۴) دَ بدر دَ صحابو په فضیلت کښے دَ رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم دا حدیث چه "تاسو څه خبر یئ، کید ے شی چه اللہ تعالیٰ دَ بدر یانو لحاظ کړے وی او فرمائیلی وی چه که تاسو هرڅه اُوکړئ، ما تاسو معاف کړئ"؛ دَ دے مطلب دا نهٔ دُ وچه بدری صحابو ته اوّه مرګونه معاف دی، اوهغوئ ته آزادی ده چه په دُنیا کښے کومه ګناه اوکوم جرم کول غواړی هغه دِ کوی، دَ بخښنے ضمانت هغوئ ته دَ مخکښے نه حاصل دے ۔ دا مطلب نهٔ دَ نبیؐ وُو، نهٔ صحابو دَ دے حدیث نه چرته دا مطلب اخستلے دے، نهٔ یو بدری صحابی دَ دے زیری په اَوریدو سره خپل ځان دَ هر ډول ګناه دَ پاره آزاد ګڼلے دے، اونهٔ په اسلامی شریعت کښے دَ دے په وجه څه داسے قاعده جوړه کړے شوی ده چه که چرے دَ بدری صحابی نه څه جرم اُوشی نو هغه له دِ سزا نهٔ ورکړے کیږی ۔ په اصل کښے چه په کومه موقع اوځل کښے دا خبره شوی وه په هغے باندِ، او نبیؐ چه کوم الفاظ استعمال کړی دی په هغے باندِ، که غور اُوکړے شی نو دَ دے صفا مطلب دا په ذهن کښے کیږی چه دَ بدر صحابو دَ اللہ اودَ هغه دَ دین دَ پاره دَ اخلاص اودَ قربانئ دومره لویه کارنامه کړی ده چه دَ هغے نه روستو که اللہ تعالیٰ دَ هغوئ مخکښے روستو ګناهونه پټول معاف کړی وی نو دا هم دَ دے خدمت اودَ اللہ دَ کرم ترڅنګه څه ناممکنه خبره نهٔ ده، نو په یو بدری باندِ دَ خیانت اودَ منافقت شک مهٔ کوئ، اودَ خپل جرم چه کوم سبب هغه پخپله بیانوی هغه قبول کړئ ۔

(۵) دَ قرآن مجید اودَ رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم دَ دے حکم نه دا خبره هم واضحه کیږی چه یو مسلمان که چرے دَ کافرانو دَ پاره جاسوسی اُوکړی نو صرف دا کار دَ دے فیصلے کولو دَ پاره کافی نهٔ دے چه هغه مرتد شوے دے، یا په هغه کښے ایمان نشته، یا منافق دے، دَ دا سے فیصلے کولو دَ پاره که نُور دلیلونه موجود وی نو بیا بیله خبره ده، کنئ نو دا کار پخپل ځائے صرف یو جرم دے کفر نهٔ دے ۔

(۶) دَ قرآن مجید دَ دے آیتونونه دا خبره هم څرګنده ده چه دَ مسلمان دَ پاره دَ کافرانو جاسوسی کول په هیڅ حال کښے جائز نهٔ ده، اګرکه هغه ته یا دَ هغه نزدے خپلو خپلوانو ته هرڅومره خطره وی ۔

(۷) حضرت عمرؓ چه کله دَ جاسوسی په جُرم کښے دَ حضرت حاطِب دَ قتل کولو اجازت اُوغوښتو نو نبیؐ په جواب کښے دا اونهٔ فرمائیل چه په دِ ے جُرم باندِ قتل واجب نهٔ دے، بلکه هغه له ځکه په وجه اجازت ور نهٔ کړو چه حضرت حاطِب په جنګِ بدر کښے شامل شوے وُو، او په بدر کښے دَ هغه شاملیدل دَ هغه دَ اِخلاص څرګند ثبوت دے او دَ هغه دا بیان صحیح دے چه هغه دَ دُشمنانو دَ بیګړے دَ پاره نهٔ بلکه دَ خپل بال.ې دَ کولو دَ پاره دا کار کړے وُو ۔ دَ دے نه دَ فقهاؤ یوے ډلے دا دَلیل راایستلے دے چه دَ مسلمان جاسوس دَ پاره عام قانون دا دے چه هغه دِ قتل کړے شی ماسوا دَ دے نه چه هغه له دَ کومے سزا ورکولو دَ پاره یا هسے دَ ملامته کولو دَ پاره وی دَ دُرون سبب موجود وی ۔ لیکن دَ فقهاؤ په منځ کښے په دِ ے مسئله کښے اختلاف دے ۔ دَ امام شافعیؒ او دَ حُسینو نورو فقهاؤ مسلک دا دے چه مسلمان جاسوس له دِ سزا ورکړے شی لیکن دَ هغه قتل جائز نهٔ دے ۔ امام ابو حنیفهؒ او امام اوزاعی وائی چه هغه له دِ بدنی سزا او اُوږد قید ورکړے شی ۔ امام مالک وائی چه هغه به وژلے کیږی ۔

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ ۚ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ

ستاسو دَ پاره په ابراهیم اود هغه په ملګرو کښے یو بنهٔ نمونه ده چه هغوی خپل قوم ته صفا اووئیل " مونږه ستاسونه اوستاسو دَ معبودانونه چه تاسو دَ خدائے په ځائے دَ هغوی عبادت کوئ بالکل بے زاره یو، مونږه ستاسو سره کفر اوکړو او زمونږه او ستاسو په منځ کښے دَ همیشه دَپاره بُغض او دُشمنی شروع شوه

لیکن دَ مالکی فقهاؤ قولونه په دِے مسئله کښے مختلف دی ۔ اَشْهَب وائی چه امام ته په دِے معامله کښے دِیر اختیارات حاصل دی، دَ جُرم اود مُجرم دَ حالاتو تر نظر هغه په خپل اجتهاد سره هرڅنګه سزا ورکولے شی ۔ یوقول دَ امام مالک اود ابن القاسم هم داد ے ۔ ابن الماجشُون او عبدالملک بن حبیب وائی چه که چرے مُجرم دَ جاسوسئ عادت جوړ کړے وی نو هغه دِ قتل کړے شی ۔ ابن وَهب وائی چه دَ جاسوس سزا خو قتل ده لیکن که هغه دَ دِے کار نه توبه کار شی نو هغه ته معافی کیدے شی ۔ سَحنُون وائی چه دَ هغه توبه صحیح ده اوکه نشه دوکه ده، دَ دِے پته به آخر څنګه لږی؟ په دِے وجه دَ هغه وژل پکار دی ۔ ابن القاسم هم دایو قول دَ دِے په تائید کښے دے ۔ اواَصْبَغ وائی چه دَ حربی جاسُوس سزا قتل ده، لیکن مُسلمان او ذمّی جاسُوس ته به دَ قتل په ځائے سزا ورکړے کیږی، خو هله چه هغه دَ مسلمانانو په مقابله کښے دَ دُشمنانو بنکاره امداد نهٔ کوی ۔ (احکام القرآن، ابن العربی، عمدۃ القاری، فتح الباری) ۔

(۸) دِے حدیث نه دا هم معلومیږی چه دَ جُرم دَ تفتیش دَپاره که ضرورت را غے نو بیا دِے دَ مُلزم سړی نه نهٔ بلکه دَ ملزم دِے بنځے نه هم جاسے ایستل جائز دی ۔ حضرت علیؓ، حضرت زُبیر او حضرت مقدادؓ اګرچه هغه بنځه لغړه کړی نهٔ وه، لیکن وئیلی ئے ورته وُوچه که چرے خط دِ راته حواله نهٔ کړو نو لغړه به دِ کړو او تالاشی به دِ واخلو ۔ بنکاره خبره ده که چرے دا کار جائز نهٔ وے نو دِے قدر منو صحابو به هغے ته دا خبره نهٔ وه کړے او دَ قیاس نه دا معلومیږی چه هغوی وایپس تلی وی نو ضرور به ئے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خپله پوله قیصه اورَولی وی ۔ که نبیؐ په هغے دَ نا خو بنئ اِظهار کړے وے نو هغه به ضرور چاوئیلے وے ۔ په دِے وجه فقهاؤ فتوی کړی ده چه دَ تفتیش دَپاره دَ مُلزم لغړول جائز دی (عمدۃ القاری) ۔

۶ یعنی مونږه ستاسو کافران یو، نهٔ تاسو په حق منلو نهٔ ستاسو دین، په الله باندِ دَ ایمان راوړلو سره دا خبره لازمی ده چه دَ طاغوت سره کفر اوکړے شی ۔ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انْفِصَامَ لَهَا ۔ "چاچه دَ طاغوت سره کفر اوکړو او په الله باندِ ئے ایمان راوړو نو هغه په حقیقت کښے مضبوطه ذریعه راتینګه کړه چه هغه هیڅکله شلیدونکی نهٔ دہ" البقرہ، ۲۵۶) ۔

أَبَدًا حَتّٰى تُؤْمِنُوا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗٓ اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ اَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ۭ رَبَّنَا

ترڅوچه تاسو په یواالله ایمان رانوړئ"۔ خودَ ابراهیمؑ خپل پلار ته دا وینا (په دے کښے شامل نهٔ ده) چه "ځه به ستادَ پاره دَ بخښنا نے درخواست ضرور کوم، او ستادَ پاره دَ الله نه څه حاصلول ځما په وَس کښے نهٔ دی"، (دَ ابراهیم علیه السّلام او دَ هغه دَ ملګرو دُعا داوه چه) "اے زمونږه ربه،

کله یعنی دَدے مطلب دا دے چه ستاسو دَ پاره دَ حضرت ابراهیمؑ دا اخبره خودَ عمل کولو قابل ده چه هغه دَ خپل کافر او مشرک قوم نه صفا صفا دَ بے زارئ اودَ بے تعلقئ اِعلان اوکړو، لیکن دَ هغه دا خبره د عمل کولو قابل نهٔ ده چه هغه دَ خپل مشرک پلار دَ پاره دَ بخښنا نے دَ دُعا غوښتلو وعده اوکړه او عملاً ئے دَ هغه په حق کښے دُعا اوکړه۔ ځکه چه دَ کافر انو سره دَ مینے اودَ همدردئ دومره تعلق هم مومنانو له نهٔ سائل پکار دی۔ دَ سورۃ توبے په آیت ۱۱۳ کښے دَ الله تعالیٰ صفا صفا حکم دے مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى۔ "دَ نبیؐ دا کار نهٔ دے او نهٔ دَ هغه خلقو سره دا بنائی چه ایمان ئے راوړے دے چه دَ مشرکانو دَ پاره دَ بخښنا نے دُعا اوغواړی، اګرکه هغه دَ هغوئ نږدے رشته داران وی"۔ نو یو مسلمان ته دا اجازت نشته چه دَ خپلو کافرو رشته دارانو په حق کښے دَ بخښنا نے دُعا اوغواړی او دا دلیل پیش کړی چه دا کار حضرت ابراهیمؑ کړے وُو۔ پاتے شو دا خبره چه پخپله ابراهیم علیه السّلام څنګه دا کار اوکړو؟ او آیا هغه په دے باندے قائم هم پاتے شو؟ دَدے جواب مونږ ته په قرآن مجید کښے نه په تفصیل سره ملاویږی۔ دَ هغه پلار چه کله هغه دَ کور نه اوویستو نو دَ تلو په وخت کښے هغه ویلی وُو سَلَامٌ عَلَيْكَ سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيْ، "تا ته سلام دے، ځه به دَ خپل رب نه ستا دَ پاره دَ بخښنا نے دُعا غواړم" (مریم، ۱۴۷)۔ دَدے وعدے په وجه هغه دوه ځله دَ هغه په حق کښے دُعا اوکړه۔ دَ یوے دُعا ذکر دَ سورۃ ابراهیم په آیت ۴۱ کښے دے: رَبَّنَا اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ، "اے زمونږه پروردګاره، ما او ځما مور او پلار او ټول مومنان په هغه ورځ معاف کړے کله چه حساب اغستے کیږی"۔ او دویمه دُعا دَ سورۃ شعراء په آیت ۸۶ کښے ده: وَاغْفِرْ لِاَبِيْٓ اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الضَّاۗلِّيْنَ وَلَا تُخْزِنِيْ يَوْمَ يُبْعَثُوْنَ۔ "ځما پلار معاف کړے ځکه چه هغه په ګمراهانو کښے وُو او ما په هغه ورځ مهٔ شرمنده کوه کله چه به ټول خلق ژوندی را پاسولے کیږی"۔ لیکن روستو چه کله هغه ته دا پته اُولګیده چه دَ کوم پلار دَ پاره هغه دَ بخښنا نے دُعا غواړی هغه خو دَ الله دُشمن وُو، نو هغه دَ هغه نه بے زاره شو اودَ هغه سره ئے دَ مینے او دَ همدردئ دا تعلق هم ختم کړو،

عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ۝٤ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝٥

خاص په تا باندې مونږه بروسه اوکړه او خاص تا ته مونږه رجوع اُوکړه او خاص تا ته زمونږ واپس درتلل دی ۔ اے زمونږه ربه، مونږه دَ کافرانو دَ پاره فتنه مهٔ جوړوهٔ ۔ او اے زمونږه ربه، زمونږه ګناهونه مونږ ته معاف کړه، بے شکه تهٔ زبردست ئے او دَ حکمت خاوند ئے "۔

وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ، فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ ۝ (التوبہ - ۱۱۴)

اوابراهیمؑ چه دَ خپل پلار دَ پاره دَ بخښنے دُعا غوښتلې وه دَ هغے وجه دَ دے نه سوا بله نهٔ وه چه هغه یوه وعده وه او هغه دَ خپل پلار سره کړې وه ۔ بیا چه کله هغه په دے خبره پوهه شو چه هغه دَ الله دُشمن وو نو هغه دَ هغه سره تعلق ختم کړو ۔ حقیقت دا دے چه ابراهیمؑ یونرم دله اونرم خُویه انسان وُو ۔

په دے آیتونو چه سړے غور اُوکړی نو دا اُصولی حقیقت څرګندیږی چه دَ پیغمبرانو صرف هغه کار دَ عمل کولو قابل دے چه په هغے باندې هغه دَ آخر وخته پورے قایم پاتے شوے وی ۔ پاتے شو دَ پیغمبرانو هغه عملونه چه هغه هغوئ روستو پخپله پریښودی وی، یا پرې الله تعالیٰ قایم پاتے کیدو ته پرې پینودی نهٔ وی، یا دَ هغے منع دَ الله په شریعت کښے راغلی وی، نو هغه دَ عمل کولو قابل نهٔ دی، او هیڅوک په دے بحث سره دَ هغوئ دَ دا سے عملونو پیروی نشی کولے چه دا دَ فلانی نبی عمل دے ۔

دلته یو بله خبره هم دَ سړی په زړه کښے شک را پیدا کولے شی ۔ په دے آیت کښے چه الله تعالیٰ دَ حضرت ابراهیم علیه السّلام کوم قول دَ نمونے جوړولو قابل نهٔ دے ګرزولے دَ هغے دوه حصّے دی ۔ یوه حصّه دا ده چه هغه خپل پلار ته اُووے "خُه به ستا دَ پاره دَ بخښنے دُعا غواړم" او دویمه حصّه دا ده چه "خُما په وَس کښے هیڅ نشته چه الله نه در له معافی اُوغواړم" په دے اولنئ خبره خو په عقل کښے راځی چه دَ تقلید قابل نهٔ ده ۔ لیکن په په دویمه خبره کښے څه خرابی ده چه هغه دِ هم دَ نمونے جوړولو قابله اونهٔ ګرزی؟ حالانکه هغه په خپل ځائے حقه خبره ده ۔ دَ دے جواب دا دے چه دَ حضرت ابراهیمؑ دا قول دَ تقلید قابل په دے وجه نهٔ دے چه کله یو سړے دَ چا سره دَ یو کار وعده اُوکړی او بیا روستو دا اُووائی چه ستا دَ پاره دَ دے نه زیات څه خُما په وَس کښے نشته نو دَ دے نه پخپله دا مطلب را اُوزی چه که چرے دَ دے نه زیات څه دَ هغه په وَس کښے وے نو هغه به دَ هغه سړی دَ پاره هغه هم کړے وے ۔ دَ دے نه پته لږی چه دَ هغه دَ هغه سړی سره پوره زیاته سخته مینه ده ۔ په دے وجه دَ حضرت ابراهیمؑ دا دویم قول هم دَ تقلید جوړولو مستحق نهٔ وُو، اګرچه دا خبره په خپل ځائے حقه وه چه په الله تعالیٰ باندې

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْهِمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ ۭ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝۶ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ۭ وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۷

دد ے خلقو په ژوند کښے ستاسو دپاره اودَ هرهغه سړی دَپاره بنهٔ نمونه ده څوک چه دَ اللّٰه اودَ آخرت دَورځے اُمید لرُی[۵] ۔ دَد ے نه چه چا مخ واړوُونو اللّٰه بے نیازه د ے اوپه خپل ذات کښے پخپله ستائیلے شوے دُے ۔ ع

داخبره لرے نهٔ ده چه اللّٰه ستاسو اودَهغه خلقو ترمنځه مینه پیدا کړی چه نن ورسره ستاسو دُشمنی ده ۔ اللّٰه لوئ قدرت لری ۔ اوهغه بخښونکے اومهربانه دُے ۔

څوک بخښل دَ یو نبی دَوَس نه بهر خبره ده ۔ علامه آلوُسی هم په رُوح المعانی کښے دَد ے خبرے دا جواب کړے د ے ۔

۵ دَ کافرانو دَپاره دَ مومنانو دَ فتنے جوړیدلو پیر شکلونه کید ے شی چه هر مومن له ترِ په خدائے پور ے پناه غوښتل پکار دی ۔ دَ مثال په طور یو شکل دا جوړید ے شی چه کافران په هغوئ باندِ غالب شی او خپلے غلبے ته د د ے خبرے دلیل اُوګڼئ چه مونږه په حق یو او مومنان په باطله دی، کنئ نو دا څنګه کید ے شوه چه دِ ے خلقو ته دِ دَ خدائے رضا حاصله وی او بیا دِ هم مونږ ته په دوئ باندِ غلبه حاصله شی ۔ دویم شکل دا کید ے شی چه په مومنانو باندِ دَ کافرانو ظلمونه دومره پیر شی چه هغه د بس داشت دَ حد نه واوړی او آخر داچه مومنان دَ کافرانو نه دباؤ شی اوخپل دین اوخپل اخلاق خرڅول شروع کړی ۔ داځیز به په ټوله دُنیا کښے دَ مومنانو دَ بد نامئ سبب وی اوکافرانو ته به دَد ے نه په دین پور ے اوپه دیندارو خلقو پور ے دَ خندا کولو موقع په لاس ورشی ۔ دریم شکل داکید ے شی چه مومنان دَ حق دین په لوړ مقام باندِ ولاړ هم وی او بیا هم دَ هغه بنو اخلاقونه محروم وی کوم چه دَد ے مقام سره بنائی، اودَ دُنیا خلق هم دَ هغوئ په عملونو کښے هغه عیبونه وینی کوم چه په جاهلانو خلقو کښے عام طور په نظر راځی ۔ دَد ے نه به کافرانو ته دَد ے وینا موقع ملاویږی چه په دُے دین کښے آخر هغه څه خوبی ده چه زمونږ په کفر باندِ غوره شی؟ (دَ زیات تفصیل دَپاره اوګورہ تفہیم القرآن، دویم جلد، یونس، حاشیه ۸۳) ۔

۶ یعنی چه دَدُے خبرے اُمید لری چه یوه ورځ به دَ اللّٰه دربار ته حاضریږی، اودَدُے څیز

لَا يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝ اِنَّمَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَاَخْرَجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ وَظٰهَرُوْا عَلٰٓى اِخْرَاجِكُمْ اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝

اللہ تاسودَ دے خبرې نه نهٔ منع کوی چه تاسودَ هغه خلقوسره دَ نیکئ اودَ انصاف سلوک اوکړئ چاچه دَدین په معامله کښے ستاسوسره جنګ نهٔ دے کړے اوتاسوئے دَ خپلوکور ونونه نهٔ یئ ایستلی ـ اللہ انصاف کونکی خلق خوښوی[۱۲] ـ اللہ چه تاسو دَکوهے خبرې نه منع کوی هغه خوداده چه تاسودَ هغه خلقوسره دوستی شروع کړئ چاچه ستاسوسره دَدین په معامله کښے جنګ کړے دے اوتاسوئے دَ خپلوکور ونونه ایستلی یئ اوستاسو په ایستلوکښے ئے دَ یوبل سره امداد کړے دے حدَ هغوی سره چه څوک دوستی کوی هم هغوی ظالمان دی[۱۳] ـ

اُمید وار وی چه اللہ پرِ خپل فضل اُوکړی او دَ آخرت په اُرځ ورته خوشحالی نصیب شی ـ

۱۲ یعنی اللہ ته دَداسے مومنانو هیڅ حاجت نشته چه دَ هغه دَ دین د منلو دعوی هم کوی او بیا دَ هغه دَ دُشمنانو سره دوستی هم ساتی ـ هغه بے نیازه دے ـ دَ هغه خدائی دے ته محتاجه نهٔ ده چه داخلق دَ هغه خدائی اُومنی ـ اوهغه په خپل ذات کښے په خپله ستائیلے شوے دے، اودَ هغه ستاینه دے ته بنده نهٔ ده چه دوئ دِ دَ هغه حمد اووائی ـ دوئ که ایمان راوړی نودَ اللہ دَ څه فائدے دَ پاره نهٔ، بلکه دَ خپلے فائدے دَ پاره راوړی ـ اودوئ ته دَ ایمان هیڅ فائده نشی حاصلیدے ترڅوچه دوئ دَ حضرت ابراهیمؑ اودَ هغه دَ ملګرو په شان دَ اللہ دَدُشمنانو سره دَ مینے اودَ دوستئ تعلقات ختم نهٔ کړی ـ

۱۳ په پاسنو آیتونو کښے چه مسلمانانو ته دَ خپلو کافرانو رشته دارانو سره دَ تعلق ختمولو کوم حکم شوے وُو په هغے باندِ ریښتینی مومنانو اګرچه په پیر په صبر سره عمل کولو، لیکن اللہ ته معلومه وه چه دَ خپل مور او پلار، اوخویندو رونړ اونزدے رشته دارانو سره تعلق ختمول څومره سخت کار دے اودَ دے نه به دَ مومنانو په زړونو باندِ څه تیریږی ـ په دے وجه اللہ تعالیٰ هغوی له تسلی ورکړه

چه هغه وخت لرې نه ؤ دے چه ستاسو هم ارشته داران به مسلمانان شی او د دې دُشمنی به صبا له په محبت کښے بدله شی ـ کله چه دا خبره کیدله په هغه وخت کښے دَهیچا دا په خیال کښے نه ؤ راتللله چه دا کار به څنګه اوشی ـ لیکن دَدے آیتونو د نازلیدو نه یوځو هفتے روستو مکّه فتحه شوه، د قریشو خلق ډلے ډلے په اسلام کښے دا خلیدل شروع شول او مسلمانانو په خپلو ستر ګو اولیدل چه د کوم څیز اُمید هغوئ له ورکړے شوے وُ هغه څنګه پوره شو ـ

۱۲ دلته دَ سړی په ذهن کښے دا شک راپیدا کیدے شی چه کوم کافران دُشمنی نه کوی د هغوئ سره نیک سلوک کول خو خیر نیک ده، لیکن آیا انصاف هم صرف د هغوئ د پاره خاص دے؟ او آیا د دُشمنانو کافرانو سره بے انصافی کول پکار دی؟ دَدے جواب دا دے چه دلته په اصل کښے انصاف په یوخاص مفهوم کښے استعمال شوے دے ـ دَدے مطلب دا دے چه څوک ستاسو سره دُشمنی نه کوی نو انصاف دا دے چه تاسو هم د هغوئ سره دُشمنی مه کوئ ـ دُشمن او غیر دُشمن له یومقام ورکول او د دواړو سره یوشان سلوک کول انصاف نه دے ـ تاسو ته داحق حاصل دے چه د هغه خلقو سره سخت سلوک اُوکړئ کومو خلقو چه د ایمان راوړلو په وجه په تاسو ظلمونه اُوکړل، او تاسو ئے د وطن نه اوشړلئ، او د شړلو نه روستو ئے هم تاسو په آرام پرے نښودئ ـ لیکن کومو خلقو چه په دِے ظلم کښے څه حصّه نه ده اخستے، انصاف دا دے چه تاسو د هغوئ سره ښه سلوک اُوکړئ او د رشتے او د رُورولئ په لحاظ سره چه د هغوئ کوم حقونه په تاسو باندِ راځی هغه ادا کړئ ـ

۱۳ په تیرو شو آیتونو کښے چه د کافرانو سره د کوم تعلق ختمولو کوم حکم شوے وُ د هغے په حقله خلقو ته دا غلط فهمی راتلے شوه چه دا کښے د هغوئ د کافر کیدو وجه دا ـ په دِے وجه په دِے آیتونو کښے دا اُویلے شو چه د هغے اصل وجه د هغوئ کفر نه دے بلکه د اسلام او مسلمانانو سره د هغوئ د دُشمنی ده او د هغوئ د ظلم سلوک دے ـ نو مسلمانانو له پکار دی چه د دُشمن کافر او د غیر دُشمن کافر په منځ کښے فرق اُوکړی، او د هغه کافرانو سره د اِحسان سلوک اُوکړی کومو چه د هغوئ سره هیڅ بَد نه ؤ ی کړی ـ دَدے ښه تشریح هغه واقعه ده کومه چه د حضرت اسماء بنت ابی بکر او د هغے د کافرے مُور په منځ کښے راغلی وه ـ د حضرت ابوبکرؓ یوه بښځه قُتَیلَه بنت عبدالعُزّیٰ کافره وه او د هجرت نه روستو هم په مکّه کښے پاتے شوی وه ـ حضرت اسماء د هغے لُور وه ـ د صلح حدیبیے نه روستو کله چه د مدینے او د مکّے په منځ کښے د تلورا تلولار کولاؤ شوه نو هغه د لُور کړه مدینے ته راغله او څه تحفے ئے هم د ځان سره راوړے ـ د حضرت اسماءؓ خپل روایت دا دے چه څه لاړم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مِ تپوس اُوکړو چه د خپلے مُور سره ملاؤ شم؟ او ایا څه ورسره صله رحمی هم کوله شم؟ نبیؐ ورته په جواب کښے اُوفرمائیل چه د هغے سره صله رحمی کوه، (مُسند احمد، بخاری، مُسلم) ـ د حضرت اسماء څوے عبدالله بن زُبَیر دے واقعے زیات تفصیل دا بیانوی چه اوّل حضرت اسماء د مُور سره د ملاویدو نه اِنکار کړے وُ ـ روستو چه کله د الله او د هغه د رسول اجازت ملاؤ شو نو پس د هغے ورسره ملاؤ شوه (مُسند احمد، ابن جریر، ابن ابی حاتم) ـ دَدے نه پخپله دا نتیجه راأوزی چه یو مسلمان له د خپل کافر مُور او پلار

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ مُهٰجِرٰتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ ۭ
اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِهِنَّ ۚ فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ
اِلَى الْكُفَّارِ ۭ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ۭ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، کله چه مومنانے ښځے هجرت اوکړي اوتاسو له راشي نو (د هغوئ د ایمان) جاچ واخلئ، اود هغوئ د ایمان په حقیقت الله ښه پوهه دے۔ بیا چه کله تاسو ته پته اولږي چه هغوی مومنانے دی نو هغوئ کافرانو ته مهٔ واپس کوئ۔ نهٔ هغوئ د کافرانو د پاره حلالے دی اونهٔ کافران د هغوئ د پاره حلال دی۔ د هغوئ کافرانو خاوندانو

خدمت کول اود خپلو کافرو رڼو واخیند واورشته دارانو امداد کول جائز دی خو هله چه هغوئ د اسلام دښمنان نه وی۔ اود غه شان په ذمیانو مسکینانو باندې صدقې هم خرچ کیدے شی (احکام القرآن للجصاص۔ روح المعانی)۔

۱۲ دا دے حکم نه مخکینی حالات دادی چه د صلح حدیبیې نه روسته به اول اول خو مسلمانان سره د مکې نه تښتیدل اومدینے ته به تلل اوهغوئ به د معاهدے د شرطونو مطابق واپس کیدل۔ بیا د مسلمانو ښځو د تلو سلسله شروع شوه اود پهلو نه اول ام کلثوم بنت عقبه بن ابی معیط هجرت اوکړو اومدینے ته اورسیده۔ کافرانو د معاهدے په حواله سره دهغې د واپس کولو مطالبه هم اوکړه اود ام کلثوم دوه رونړه ولید بن عقبه او عماره بن عقبه د هغې د واپس بوتللو د پاره مدینے ته لاړل۔ په هغه وخت کښے داخبره ښکاره شوه چه ایا د حدیبیې معاهده د ښځو پاره هم ده؟ الله تعالیٰ دا دے خبرې دلته جواب ورکړے دے چه که چرے هغوی مسلمانانے وی اود سړی پر دا باور راشی چه واقعی هغوئ د ایمان د خاطره په هجرت راغلی دی، په بل غرض نه د راغلی، نو هغوئ د نهٔ واپس کولے کیږی۔

د صلح حدیبیې د شرطونو په حقله چه د احادیثو کومه روایتونه موږ ته ملاویږی هغه اکثر معنوی روایتونه دی۔ اود دے معنوی روایتونو د وجے نه دلته یولوئ کړکیچ راپیدا شوے دے چه د هغې حل کول ضروری دی۔ دلته چه په کوم شرط بحث شروع دے د هغې په حقله چه کوم روایتونه ملاؤ شوی دی په هغې کښے د پورو روایت الفاظ دادی: من جاء منکم لم نرده علیکم ومن جاءکم منا ردد تموه علینا۔ "په تاسو کښے چه څوک موږ ته راشی هغه به موږ نه واپس کوئ او په موږ کښے چه څوک تاسو ته راشی هغه به تاسو واپس کوئ۔" د بل روایت الفاظ دادی: من اتی رسول الله من اصحابه بغیر اذن ولیه رده علیه۔ "رسول الله ته چه د هغه د اصحابو نه څوک د خپل ولی د اجازت نه بغیر راشی هغه به هغه واپس کوی۔" او په بل کښے دی: من اتی محمدا من قریش بغیر اذن ولیه ردّه علیهم۔ "په قریشو کښے چه څوک محمدﷺ ته د خپل ولی

د اجان قتله بغیر راشی هغه به قریش ته واپس کوی" د ۴ روایتونو د طرز بیان نه پخپله دا معلومیږی چه په دے کښے د معاهدے د شرط په هغه الفاظو کښے نه ۴ دے نقل کړے شوے کوم چه په اصل معاهده کښے لیکلے شوے وُو، بلکه راویانو د هغے مطلب پخپلو الفاظو کښے بیان کړے دے۔ لیکن چونکه د روایت روایتونه په دے رنګ دی نو په دے وجه عام طور مفسّرینو او محدّثینو د دے نه دا مطلب واخستو چه معاهده عامه وه په هغے کښے نبے ٔ او سړی ټول شامل وُو او نبے ٔ هم د هغے ترجمه واپس کیدل پکار وُو۔ د دے نه روستو چه کله هغوی ته د الله تعالیٰ دا حکم راغے چه مومنانو نبے ٔ د نه ٔ واپس کیږی نو د ۴ حضراتو د دے د امطلب واخستو چه الله تعالیٰ په دے آیت کښے د مومنو نبے ٔ د حده پورے د معاهدے د ختمولو فیصله اوکړه۔ لیکن دا څه معمولی خبره نه ٔ ده چه د ومره په آسانۍ سره د قبوله کړے شی۔ که چرے معاهده واقعی د نبے ٔ سړو ټولو پاره عامه وه نو آخر دا څنګه جائز کیدے شوه چه یوه ډله د په هغے کښے د یو طرفنه بدلون راولی یا د هغے یوه حصّه د پخپله رضا بدله کړی؟ او بالفرض که دا سے شوے هم وے نو دا څنګه عجیبه خبره ده چه د قریشو خلقو په هغے باندے څه احتجاج اونه ٔ کړو۔ د قریشو خلق خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د مسلمانانو یوے یوے خبرے ته تګی ناست وُو۔ هغوی ته که د دے خبرے پته لګیدلی وے چه نبی ٔ د معاهدے د شرطونو څرګنده خلاف ورزی کړی ده نو هغوی به ز مکه او آسمان یوکړے وے۔ لیکن مونږ ته په یو روایت کښے د دے خبرے اشاره قدر له نه ٔ ملاویږی چه هغوی د قرآن په دے فیصله باندے د ذرّے هومره خبرے اترے کړی وی۔ دا دا سے خبره وه چه په دے غور شوے وے نو د معاهدے د اصل الفاظو د لټون په ذریعه د دے کړکیچ حل پیدا کیدے شو، لیکن د پیر و خلقو خو د دے طرفنه توجه اونه ٔ کړه، او څینو حضراتو (مثلاً قاضی ابوبکر ابن عربی) توجه هم اوکړه خو هغوی د قریشو د اعتراض نه ٔ کولو داوجه بیان کړه چه الله تعالیٰ په دے معامله کښے د معجزے په طور د قریشو زبه بنده کړی وه۔ تعجب دے چه په دے تشریح باندے د دے حضراتو زړه څنګه مطمئن شو۔

اصل خبره داده چه د صلحے دا شرط د مسلمانانو د طرفنه نه ٔ بلکه د قریشو د کافرانو د طرفنه وُو، او د هغوی د طرفنه چه د هغوی نمائنده سُهیل بن عمرو کوم الفاظ په معاهده ٔ کښے لیکلی وُو هغه داوُو، "علیٰ ان لا یاتیک منا رجل وان کان علیٰ دینک الا رددته الینا۔" او داچه که تاسو ته زمونږ نه یو نارینه هم راشی، اګرچه هغه ستاسو په دین باندے وی، تاسو به هغه مونږ ته واپس کوئ" د مفسّرینو دا الفاظ د بخاری په کتاب الشروط، باب الشروط فی الجهاد والمصالحه کښے د قوی سند سره نقل شوی دی۔ کیدے شی چه سُهیل د "رجل" لفظ د سړی په معنی کښے استعمال کړے وی، لیکن دا به د هغه ذهنی مُراد وی۔ په معاهده کښے چه کوم لفظ لیکلے شوے وُو هغه "رَجُل" وُو چه په عربی ٔ ژبه کښے د نارینه سړی د پاره ویلے کیږی۔ دا وجه وه چه کله د اُمِّ کلثوم بنت عُقبه په واپسئ پسے د هغے رونړه رسول الله صلی الله علیه وسلم له راغلل نو (د امام زهری د روایت مطابق) رسول الله ۴ د هغے د واپس کولو نه انکار اوکړو او وے فرمائیل چه کان الشرط فی الرجال دون النساء۔ "شرط د سړو په باره کښے وُو نه ٔ چه د ښځو په باره کښے۔" (احکام القرآن، ابن عربی، تفسیر کبیر، امام رازی)۔ د دغه وخته پورے پخپله د قریشو خلق هم په دے دوکه کښے پرانه ٔ وُو چه

معاهدہ دَ هرقسم مهاجر دَ پارہ دہ خواہ کہ هغه سړے وی اوکه ښځه وی لیکن کله چه نبیؐ دَ هغوئ توجه دَ معاهدے ډے الفاظوته را اوګرزوله نوهغوئ حیران پاتے شواوبه ناچاری سره ځ دا فیصله اومنله ـ

دَ معاهدے دَدے شرط په لحاظ سره مسلمانانوته حق وُوچه کومه ښځه دَ مکے نه مدینے ته را تلله، اوکه په هرڅه غرض را تلله، چه هغه مکے ته واپس نه کړی ـ لیکن دَ اسلام صرف دَ مومنو ښځو دَ حفاظت سره د لچسپی وه، دَ هرقسم ښځو دَ پاره دَ مدینے نه دَ پناه ګاه جوړولو مقصد نه وُو ـ په دے وجه الله تعالیٰ حکم اوکړو چه کومے ښځے په هجرت راشی اودَ خپل ایمان څرګندونه اوکړی، نو دَ هغوئ نه تپوسونه اوکړئ چه واقعی هغوئ ایمان راوړے دے، اوچه کله دَ هغوئ په ایمان باندے ستاسو اطمینان راشی نوهغه مهٔ واپس کوئ ـ نودَ الله تعالیٰ په دے حکم باندے دَ عمل کولو دَ پاره چه کومه قاعده جوړه کړے شوه هغه داوه چه کومو ښځو به هجرت اوکړو اورا به غلے نودَ هغوئ نه به تپوسونه کیدل چه آیا هغوئ دَ الله په توحید اودَ محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت باندے ایمان لری اوصرف دَ الله اودَ هغه دَ رسول دَ خاطره ځے هجرت کړے دے؟ چرته داسے خونهٔ ده چه دَ خاوند نه خفه شوی وی اودَ کورنه راوتلی وی؟ یا په مونږ کښے دَ یوسړی سره دَ محبت په وجه را غلی وی؟ یا دَ دُنیا دَ بل غرض په وجه ځے دا کارکړے وی؟ دده تپوسونو جوابونه چه به کومو ښځو ورکول اودَ زړه اطمینان به پرے را تللونو صرف هغوئ به منع کیده شوے، باقی نورے تولے به واپس کیدلے (ابن جریر، په حواله دَ ابن عباس، قتاده، مجاهد، عکرمه، ابن زید) ـ

په دے آیت کښے دَ قانونِ شهادت هم یوه اصولی قاعده بیان کړے شوی ده اودَدے ز یاته تشریح دَ هغه طریقے نه شوی ده کومه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دے باندے دَ عمل کولو دَ پاره مقرر کړی وه ـ په آیت کښے درے خبرے فرمائیلے شوی دی ـ یوه دا چه کومے ښځے ځان ته مومنانے وائی او په هجرت راشی نودهغوئ دَ ایمان جاج واخلئ ـ دویمه دا چه دَ هغوئ دَ ایمان حقیقت خوصرف الله تعالیٰ ته معلوم دے، ستاسو سره دَ هغوئ دَ ایمان معلومولو څه ذریعه نشته ـ دریمه دا چه په جاج اغستو سره کله تاسوته معلومه شی چه هغوئ مومنانے دی نوهغوئ مهٔ واپس کوئ ـ بیا دَ دے حکم مطابق چه نبیؐ دَدے ښځو دَ ایمان دَ جاج اغستلو دَ پاره کومه طریقه مقرر کړه هغه داوه چه دَ هغوئ په قسمی بیان باندے اعتماد اوکړے شی اودَ ضروری بحث کولونه روستو دا اطمینان راوستے شی چه دَ هغوئ هجرت دَ ایمان نه سوا دَ بل څه غرض دَ پاره نهٔ دے ـ دَدے نه اوّل خودا قاعده معلومه شوه چه دَ معاملاتو دَ فیصلے کولو دَ پاره عدالت ته دَ حقیقت علم حاصلول ضروری نهٔ دی بلکه صرف هغه علم کافی دے کوم چه دَ شهادتونونه حاصل شوے وی ـ دویمه خبره دا معلومه شوه چه مونږ به دَ یوسړی په قسمی بیان ترهغے برو سه کوُو تر څوچه یو څرګند دلیل دَ هغے په دروغژن کیدو باندے دلالت نهٔ کوی ـ دریمه خبره دا معلومه شوه چه سړے دَ خپلے عقیدے اودَ خپل ایمان پخپله کوم بیان ورکوی مونږ به هغه قبلوُو اودَدے خبرئ لټون به نهٔ کوُو چه آیا واقعی دَ هغه هم هغه عقیده ده کومه چه هغه پخپله بیانوی، سوا دَدے نه چه یوه څرګنده نښه مونږ ته داسے معلومه شی چه هغه دَ هغے تردید کوی ـ اوخلورمه خبره داچه دَ یوسړی کوم ذاتی حالات بل ته نهٔ شی معلومیدے په هغے کښے به هم دَ هغه په بیان برو سه کیدے شی، مثلاً دَ طلاقو اودَ عدّت په معاملاتو کښے دَ ښځے دَ حیض او دَ طُهر (یعنی دَ ناروغتیا اودَ پاکوالی) په حقله به دَ هغے خپل بیان معتبر وی، خواه که هغه

وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا ۭ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۭ وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَسْـَٔـلُوْا مَآ اَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔـلُوْا مَآ اَنْفَقُوْا ۭ ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ ۭ

چه کوم مَهر هغوی له ورکړے وُو هغه هغوئ له ورکړئ ـ اوپه تاسو هیڅ ګناه نشته چه دَ هغوئ سره نکاح اُوکړئ هله چه تاسو هغوئ له دَ هغوئ مَهر ورکړئ ـ اوتاسو پخپله هم کافرے بنځے په خپله نکاح کښے مه ساتئ ـ کوم مَهر چه تاسو خپلو کافرو بنځو له ورکړے وُو هغه تر تاسو واپس اُوغواړئ اوکوم مَهر چه کافرانو خپلو مسلمانانو بنځو له ورکړے وُو هغه دِ هغوئ واپس اُوغواړی ـ دا دَ اللّٰه حُکم دے،

دروغ وائی اوکه ربنتیا ـ دَدے قاعدو مطابق په علم حدیث کښے به هم هغه روایتونه قبلیدے شی چه دَهغے دَ راویانو ظاهری حال دَ هغوئ دَ ربنتینولئ ګواهی ورکوی ـ ماسوا دَ هغے نه چه څه بل دلیل دا سے موجود وی چه دَ هغے په وجه یو روایت دَ قبلیدو قابل نهٔ وی ـ

۱۵ مطلب دا دے چه دَ هغوی کافر خاوندانو ته کوم مَهر واپس کړے شی هغه به دَ هغه بنځو مَهر نهٔ شمار لے کیږی، بلکه اوس چه کوم مسلمان په هغوی کښے دَ یوے بنځے سره نکاح کول غواړی هغه دِ دَ هغے مَهر هغے له ورکړی اودَ هغے سره دِ نکاح اُوکړی ـ

۱۶ په دِے آیتونو کښے څلور غټ غټ مطلبونه بیان کړے شوی دی چه دَ هغے تعلق دَ اِسلام دَ خاندانی قانون سره هم دے اودَ بین الاقوامی قانون سره هم،

اوّل داچه کومه بنځه مسلمانه شی نو هغه دَ خپل کافر خاوند دَ پاره حلاله نهٔ ده او نه کافر خاوند دَ هغے دَ پاره حلال دے ـ

دویم داچه کومه نکاح شوی بنځه مسلمانه شی اودَ دارالکُفر نه دارالاسلام ته هجرت اُوکړی نو دَ هغے نکاح پخپله ماتیږی اوبیا چه هر مسلمان دَ هغے سره نکاح کول غواړی نو کولے شی خو مَهر به ورکوی ـ

دریم داچه کوم سړے مسلمان شی نو دَ هغه دَ پاره داجائز نهٔ دی چه که دَ هغه بنځه کافره پاتے شی نو هغه دِ په خپله نکاح کښے اُوساتی ـ

څلورم داچه که چرے دَ دارالکُفر اودَ دارالاِسلام په منځ کښے دَ صلح تعلقات موجود وی نو اِسلامی حکومت له پکار دی چه دَدارالکُفر حکومت سره دَدے فیصلے کولو کوشش اُوکړی چه دَ کافرانو کومے نکاح شوی بنځے مسلمانے شوی وی اودارالاسلام ته په هجرت راغلی وی نو چه دَ هغوئ مَهرونه دَ مسلمانانو دَ طرفنه واپس ورکړے شی، اودَ مسلمانانو نکاح شوی کافرانے بنځے چه په دارالکُفر کښے پاتے شوی وی نو چه دَ هغوی مَهرونه دَ کافرانو دَ طرفنه واپس مِلاؤ شی ـ

دَ دے حکمونو تاریخی حالات دادی چه دَ اسلام په شروع کښے د مرسړی دا سے وُو چه هغوئ اسلام قبول کړو خو بښځے ئے مسلمانے نه شوے - او د مړے بښځے دا سے وے چه مسلمانے شوے خو خاوندانو ئے اسلام قبول نه کړو - پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوے لور حضرت زینبؓ خاوند ابوالعاص مسلمان نه وُو او د د یرو کلونو پورے غیر مسلم وُو - په اولنی دَور کښے دا سے څه حکم نه وُو شوے چه د مسلمانے بښځے د پاره د هغے کافر خاوند حلال نه دے او د مسلمان سړی د پاره د هغه مشرکه بښځه حلاله نه ده - په دے وجه د هغوئ په منځ کښے خاندانی تعلقات برقرار وُو - د هجرت نه روستو هم د یو څوکالو د پاره دا حالت وُو چه د مړے بښځے مسلمانے شوے او په هجرت راغلے او د هغوئ کافران خاوندان په دارالکفر کښے وُو - او د مړ مسلمان سړی په هجرت راغلے او د هغوئ کافره بښځه په دارالکفر کښے پاتے شوے خو بیا هم د هغوئ تر منځه خاندانی تعلقات قایم وُو - دَ دے نه خاص طور د بښځو د پاره د مړکړکې پیدا کیدو، ځکه چه سړے خو به دویمه نکاح هم کولے شوه، لیکن د بښځو د پاره دا ممکن نه وُو چه د دویم خاوند سره نکاح اوکړی تر څو چه ئے د مخکینو خاوندانو سره نکاح ختمه شوی نه وی - د صلح حدیبیے نه روستو چه کله دا آیتونه نازل شو نو هغے د مسلمانانو او د کافرانو او د مشرکانو تر منځه مخکینی خاندانی رشتے ختمے کړے او د آئنده د پاره ئے د هغے په بارہ کښے یو قطعی او واضحه قانون جوړ کړو - د اسلام فقهاؤ دا قانون د څلورو لویو لویو عنوانونو لاندے په ترتیب کړے دے -

یو، هغه حالت، چه په هغے کښے بښځه خاوند په دارالاسلام کښے وی او په هغوئ کښے یو مسلمان شی او بل کافر پاتے شی -

دویم، هغه حالت چه په هغے کښے بښځه خاوند په دارالکفر کښے وی او په هغوئ کښے یو مسلمان شی او بل کافر پاتے شی -

دریم، هغه حالت چه په هغے کښے د بښځے خاوند نه یو مسلمان شی او دارالاسلام ته هجرت اوکړی او بل په دارالکفر کښے پاتے شی -

څلورم، هغه حالت چه په هغے کښے د بښځے خاوند نه یو مُرتد شی یعنی کفر ته واپس لاړ شی -

لاندے مونږ د دے څلورو واړو حالتونو په حقله د فقهاؤ مسلکونه جُدا جُدا بیانوُو -

(۱) په اولنی شکل کښے که چرے سړی اسلام قبول کړے وی او د هغه بښځه عیسائیه یا یهودیه وی او هغه په خپل دین باندے ټینګه پاتے شی نو د دواړو په منځ کښے به نکاح باقی وی، ځکه چه د مسلمان سړی د پاره د اهلِ کتابو بښځه جائز ده - په دے خبره د ټولو فقهاؤ اتفاق دے -

او که چرے د اسلام قبلونکی سړی بښځه د غیر اهلِ کتابو نه وی او هغه په خپل دین باندے قایم پاتے شی، نو حنفی عالمان په دے حقله وائی چه بښځے ته به اسلام پیش کړے شی، که قبول ئے کړو نو نکاح به باقی پاتے شی، او که قبول ئے نه کړو نو د هغوئ په منځ کښے به تُرنګ والے راوستلے شی - په دے صورت کښے که چرے د بښځے خاوند په منځ کښے کور والے شوے وی نو بښځه به د مهر مستحقه وی، او که کور والے نه وی شوے نو د مهر حق به ئے نه وی ځکه چه جُدائی د هغے د انکار په وجه راغلے دے (المبسوط ، هدایه ، فتح القدیر) امام شافعی او امام احمد وائی چه که چرے د بښځے خاوند په منځ کښے کور والے ته

وی شوے نو دَ سړی دَ اسلام قبلولو سره ښځه دَ هغه دَ نکاح نه بهر کیږی، اوکه چرے کور والے شوی نو ښځه به دَ دریے ځله ناجوړ تیا (حیض راتلو) پورے دَ هغه په نکاح کښے وی، په دے دَوران کښے که هغے پخپله مرضا سره اِسلا قبول کړو نو نکاح به باقی وی، کنئ نو دَ دریم ځل ناجوړتیا دَ ختمیدو سره به نکاح خود بخود ختمه شی۔ امام شافعیؒ دا هم وائی چه دَ میانو توته دَ مسلمانانو دَ طرفنه دَ هغوی دَ مذهب نه چیرلو کوم ضمانت ورکړے شوے دے دَ هغے تر څنګه دا صحیح نهٔ ده چه ښځے ته دِ اسلام پیش کړے شی۔ لیکن په حقیقت کښے دا یوه کمزورې خبره ده، ځکه چه دَ یوے ذمی ښځے مذهب چیرل خو به هله وی چه هغه په اِسلام قبلولو باندِ مجبوره کړے شی۔ هغے ته صرف دا وینا کول څه بے ځایه خیرل نهٔ دی چه ته اِسلام قبول کړه نو دَ خپل خاوند سره به پاتے شے کنئ نو ته به دَ خاوند نه جُدا کیږے۔ دَ حضرت علیؓ په زمانه کښے دَ دے مثال پیش شوے هم دے۔ دَ عراق یو مجوسی زمیندار اسلام قبول کړو او دَ هغه ښځه کافره پاتے شوه۔ حضرت علیؓ هغے ته اسلام پیش کړو۔ او چه کله هغے اِنکار اُوکړو نو پس دَ هغے نے دواړه جُدا کړل (المبسوط)۔ امام مالکؒ وائی چه که چرے کور والے مخکوی شوے نو دَ سړی دَ اسلام قبلولو سره به دَ هغه کافره ښځه فوراً دَ هغه نه جُدا کیږی اوکه چرے کور والے شوے وی نو ښځے ته به اِسلام پیش کیږی که انکار نے اُوکړو نو جُدا والے به راځی (المغنی لابن قدامه)۔

اوکه چرے اسلام ښځے قبول کړے وی او سړے کافر پاتے شی، نوکه هغه دَ اهلِ کتابو نه وی اوکه دَ غیر اهلِ کتابونه وی، حنفیان وائی چه که دَ دواړو کور والے شوے وی اوکه نهٔ وی، په هرحال کښے به خاوند ته اسلام پیش کړے کیږی، که قبول نے کړو نو ښځه به دَ هغه په نکاح کښے وی، که انکار نے اُوکړو نو قاضی به په دواړو کښے جُدا والے راولی۔ په دے دَوران کښے چه ترڅو پورے سړی دَ اسلام نه اِنکار نهٔ وی کړے، تر هغے به ښځه دَ هغه ښځه وی خوذ کور والی حق به نے نهٔ وی۔ چه خاوند نے دَ اسلام قبلولو نه اِنکار اُوکړی نو جُدا والے به دَ طلاق بائن په حکم کښے وی۔ که چرے دَ هغے نه مخکښے کور والے نهٔ وی شوے نو ښځه به دَ دنیم مَهر حقدار ه وی، اوکه کور والے شوے وی نو ښځے ته به ټول مَهر ملاویږی اودَ عدّت نفقه هم (المبسوط، هدایه، فتح القدیر)۔ مَا امام شافعیؒ په دے چه کور والے نهٔ وی شوے نو دَ ښځے دَ اِسلام قبلولو سره به نکاح مات کیږی، اوچه کور والے شوے وی نو دَ عدّت دَ ختمیدو پورے به ښځه دَ هغه سړی په نکاح کښے وی۔ په دے موده کښے چه که هغه اسلام قبول کړو نو نکاح به باقی پاتے وی، کنئ نو دَ عدّت دَ ختمیدو سره به جُدائی راشی۔ لیکن دَ سړی په معامله کښے هم امام شافعیؒ هغه رائے ظاهره کړی ده کومه چه دَ ښځے په بارے کښے بوه نقل شوی ده چه هغه ته اسلام پیش کول جائز نهٔ دی، اودا رائے ډیره کمزوری ده۔ دَ حضرت عُمرؓ په زمانه کښے ډیر واقعات دا ځے راځلی دی چه ښځے اسلام قبول کړو او سړی ته اسلام پیش کړے شو او چه کله هغه انکار اُوکړو نو دَ دواړو په منځ کښے جُدا والے راوستے شو۔ مثلاً دَ بنی تَغلِب دَ یو عیسائی سره معامله هغه ته پیش شوه۔ هغه سړی ته اُووے پاخوتهٔ اسلام قبول کړه کنئ نو ځه به تاسو دواړه جُدا کړم۔ هغه اِنکار اُوکړو او حضرت عُمرؓ ورله دَ

جُدا والی سند ورکړو - دَ بهرُنی المَلِک یوه زمیندارہ ښځه نوی مسلمانه شوی وه دَ هغې مقدمه حضرت عُمرؓ ته اُولیږلے شوه - دَ هغې په معامله کښے هم هغه حکم اُوکړو چه دَ هغې خاوند ته دِ اِسلام پیش کړے شی، که قبول ئے کړو خو پیره ښه ده، کنئ نو دواړه دِ جُدا کړے شي - دا واقعات دَ صحابه کرامو په مخکښے راغلی وُو او هیچا تر انکارنهٔ دے کړے (احکام القرآن للجصّاص، المبسوط، فتح القدیر) - دَ امام مالکؒ رائے په دِے معامله کښے داده چه که چرے دَ کورواِلی نه مخکښے ښځه مسلمانه شی نو خاوند ته دِ اسلام پیش کړے شی، که هغه قبول کړو خو پیره ښه دہ، کنئ نو فوراً دِ جُدا والے اُوکړے شی - اوکه چرے کورواِلے شوے وی اودَ هغې نه روسته ښځه اِسلام قبول کړی، نودَ عدت دَ ختمیدو پورے دِ اِنتظار اُوکړے شی، که په دِے موده کښے خاوند اسلام قبول کړو نو نکاح به باقی پاتے وی، کنئ نودَ عدّت دَ تیریدو سره به جُدا والے راشی - دَ امام احمد یو قول دَ امام شافعیؒ په تائید کښے دے، اودویم قول ئے داد ے چه دَ ښځې خاوند په په منځ کښے دَدین دَ اختلاف په وجه په هر حال کښے فوری جُدا والے واجبیږی، خواه که کورواِلے شوے وی اوکه نهٔ وی (المُغنی) -

(۲) په دارالکُفر کښے که ښځه مسلمانه شی اوسړے کافر پاتے شی، یاسړے مسلمان شی اودَ هغه ښځه (چه عیسایۍ یا یهود نۍ نهٔ وی بلکه غیر کتابی وی) په خپل مذهب قایمه پاتے شی، نودَ حنفیانو په نزکه کُورواِلے شوے وی اوکه نهٔ وی، خوجُدا والے به تر هغې پورے نهٔ راځی ترڅوچه دَ ښځې میاشتیزے ناجوړتیا درے ځله نهٔ وی راغلی، یا ئے که "ناجوړتیا" بنده شوی وی نوچه درے میاشتے نهٔ وی تیرے شوی - په دِے دَوران کښے که دویم فریق هم مُسلمان شو نو نکاح به باقی پاتے وی، کنئ نودَ مودے دَ تیریدو سره به جُدا والے راځی، امام شافعیؒ په دِے معامله کښے هم دَ کورواِلی اودَ نهٔ کورواِلی په منځ کښے فرق کوی - دَ هغه رائے داده چه که چرے کورواِلے نهٔ وی شوے نودَدین دَ اختلاف په وجه به دَ ښځې خاوند په منځ کښے جُدا والے راځی، اوکه دَ کورواِلی نه روستو دَدین اختلاف راغلے وی نودَ عدّت دَ ختمیدو پورے به دَهغوئ نکاح باقی وی - په دِے دَوران کښے که چرے دویم فریق اِسلام قبول نهٔ کړو نودَ عدّت دَ ختمیدو سره به نکاح هم ختمیږی - (المبسوط، فتح القدیر، احکام القرآن للجصّاص) -

(۳) کله چه دَ ښځې خاوند په منځ کښے دَدین دَ اختلاف سره دَ وطن اختلاف هم راشی، یعنی په هغوئ کښے یو په دارالکفر کښے کافر پاتے شی، او بل دارالاسلام ته هجرت اُوکړی، نودَ دے په بارہ کښے حنفیان وائی چه دَ دواړو په منځ کښے به دَ نکاح تعلق پخپله ختمیږی - که ښځې هجرت اُوکړو نو هغې ته فوراً دَ دویم نکاح کولو حق حاصل دے، په هغې باندې هیڅ عدّت نشته، البته دَ کورواِلی دَ پاره به دَ هغې خاوند هغې ته دَ بچه دان دَ پاکئ دَ خاطره دَ یو میاشتیزے ناجوړتیا (یعنی دَ یو حیض راتلو) پورے انتظار کوی، اوکه چرے هغه حامله وی یعنی بچے ئے په کیده وی نو بیا هم نکاح کیدے شی خو دَ کورواِلی کولو دَ پاره به دَ بچې دَ پیدا کیدو پورے انتظار کوی - امام ابو یوسف اوامام محمد په دِے مسئله کښے دَ امام ابو حنیفهؒ نه صرف دومره اختلاف کړے دے چه هغوی وائی چه دَ ښځې دَ پاره عدّت لازمی دے، اوکه دَ ښځې بچه په کیده وی نودَ بچې دَ پیدا کیدو نه مخکښے دَ هغې نکاح نشی کیدے (المبسوط - هدایه - احکام القرآن للجصاص) - امام شافعیؒ، امام احمدؒ، اوامام مالکؒ وائی چه په دِے معامله کښے دَ وطن اختلاف هیڅ دخل نهٔ لری، بلکه اصل څیز صرف دَ دین اختلاف دے - دا اختلاف چه په ښځه خاوند کښے راشی نو حکمونه هم هغه دی کوم چه په دارالاسلام کښے دَ مسلے په

پیسارہ کښے دی (المغنی) ۔ امام شافعیؒ د خپلے پاسنۍ رائے سره سره د هجرت کونکی مسلمانے ښځے په باره کښے دا رائے هم ظاهر وی چه که چرے ښځے د خپل کافر خاوند سره جنګ کړے وی او د هغه نه د جدا والی په اراده سره راوتلی وی نو د وطن د اختلاف په وجه نه ٔ بلکه د هغے د دے اراده ے په وجه به فوراً جدا والے واقع کیږی (المبسوط ۔ هدایه) ۔

لیکن د قرآن مجید په دے آیت باندے د غور کولو نه صفا معلومیږی چه په دے معامله کښے د ټولو نه صحیح رائے هم هغه ده کومه چه امام ابوحنیفهؒ ظاهر کړی ده ۔ الله تعالیٰ دا آیت د هجرت کونکو مومنو ښځو په باره کښے نازل کړے دے او هم د هغوئ په حق کښے ئے دا فرمائیلی دی چه هغوئ د هغه کافرانو خاوندانو د پاره حلال نه ٔ دی کوم چه هغوئ په دارالکفر کښے پریښودے دی، او د دارالاسلام مسلمانانو ته ئے اجازت ورکړے دے چه د هغوئ مهر ادا کړهٔ او د هغوئ سره نکاح اوکړئ ۔ بل طرفته ئے مهاجر و مسلمانانو ته دا فرمائیلی دی چه خپلے هغه کافرے ښځے په خپل نکاح کښے مه ساتئ کوم چه په دارالکفر کښے پاتے شوی دی او د کافرانو نه خپل هغه مهرونه واپس اوغواړئ کوم چه تاسو هغه ښځو له ورکړی وُو ۔ بنکاره خبره چه دا صرف د دین د اختلاف حکمونه نه ٔ دی بلکه د دے حکمونو خاص وجه د وطن اختلاف دے ۔ که د هجرت په وجه د مسلمانو ښځو نکاحونه د خپلو کافرو خاوندانو سره مات شوے نه ٔ وے نو مسلمانانو ته به د هغوئ سره د نکاح کولو اجازت څنګه ورکړے شوے وے ، او هغه هم په دے طریقه چه په دے اجازت کښے عدّت طرفته هیڅ اشاره نشته ۔ دغه شان که چرے د لَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ د حکم راتلونه روسته هم د مسلمان مهاجرینو کافرے ښځے د هغوئ په نکاح کښے باقی پاتے وے نو ورسره ورسره به دا حکم هم شوے وے چه هغوئ له طلاق ورکړئ ۔ لیکن دلته دے طرفته هم څه اشاره نشته ۔ بے شکه دا خبره صحیح ده چه د دے آیت د نازلیدو نه روسته حضرت عُمرؓ او حضرت طلحهؓ او حُیئنو نورو مهاجرینو خپلو ښځو له طلاق ورکړی وُو ۔ لیکن دا د دے خبرے ثبوت نه ٔ دے چه د هغوئ د پاره دا سے کول کښی ضروری وُو ، او د هغوئ د ښځو پریښودل کښی د هغوئ طلاق و ورکولو نه بند وُو ، که هغوئ طلاق نه ٔ ورکولے نو د هغوئ ښځے به کښی د هغوئ په نکاح کښے باقی پاتے وے ۔

د دے په جواب کښے د نبیؐ د زمانے درے واقعات په مثال کښے پیش کړے کیږی چه هغے ته د دے خبرے شهرت ویئلے شی چه د دے آیتونو د نازلیدو نه روسته هم نبی صلی الله علیه وسلم د وطن د اختلاف سره د مومن او د کافر ښځے خاوند په منځ کښے د نکاح تعلق برقرار اوساتو ۔ اولنۍ واقعه دا ده چه د مکّے د فتحے نه لږ شان مخکښے ابوسفیان په مرّالظهران (چه اُوس ورته وادی فاطمه وائی) نوے ځائے کښے د اسلام لښکرته را غے او هلته ئے اسلام قبول کړو او د هغه ښځه چه نوم ئے هند وُو په مکّه کښے اُوسیدله ۔ بیا د مکّے د فتحے نه روسته هند هم اسلام قبول کړو او نبی صلی الله علیه وسلم د هغوئ نکاح نوی اُونه ٔ تړله بلکه هغه پخوانۍ نکاح ئے برقرار اُوساتله ۔ دویمه واقعه داده چه د مکّے د فتحے نه روسته عِکرِمه بن ابی جَهل او حکیم بن حِزام د مکّے نه اُوتښتیدل او د هغوئ د تښتیدو نه روسته د هغوئ دواړو ښځے مسلمانے شوے ۔ بیا هغوئ د نبیؐ نه د خپلو خاوندانو د پاره امان اُوغوښتو هغوئ دواړه لاړے او خپل خاوندان ئے راوستل ۔ دواړه را غلل او اسلام ئے قبول کړو او نبی صلی الله علیه وسلم د هغوئ هم مخکښی نکاحونه برقرار اُوساتل ۔ دریمه واقعه د نبیؐ د خپلے لُور حضرت زینبؓ ده چه مدینے ته ئے هجرت کړے وُو او د هغے خاوند ابوالعاص د کفر په حالت کښے

په مکّه کښے پاتے شوے وُو۔ دَ هغه په حقله په مُسند احمد، ابوداوُد، تِرمذی او ابن ماجه کښے دَ ابن عباس روایت داد ے چه هغه په اتمه هجرئ کښے مدینے ته راغلے او مسلمان شو۔ نبیؐ دَ هغوئ نکاح نوی نه کړه بلکه دَ مخکینئ نکاح مطابق ځیله لوړه هغه سره وکړه ۔ لیکن په دے کښے اولنو وُوایو ته خو په حقیقت کښے دَ وطن اختلاف نشی وئیلے، ځکه چه دَ وطن اختلاف دے ته نه وائی چه یو سړے عارضی طور دَ یو وطن نه بل وطن ته لاړ شی یا اُوتښتی، بلکه دَ وطن اختلاف هغے ته وئیلے شی چه کله یو سړے دَ یو وطن نه لاړ شی او په بل وطن کښے آباد شی اودَ هغه اودَ هغه دَ ښځے په منځ کښے دَ موجوده زمانے دَ وینا مطابق دَ "قومیت" (Nationality) فرق راشی ۔ پاتے شوه دَ حضرت زینب رضی اللّٰه عنها معامله نو دَ هغے په باره کښے دوه روایتونه دی ۔ یو روایت دَ ابن عباس دے چه دَ هغے حواله بَره ورکړے شوی ده، او دویم روایت دَ حضرت عبداللّٰه بن عمرو بن عاص دے چه هغه امام احمد، تِرمذی او ابن ماجه نقل کړے دے ۔ په دے دویم روایت کښے وئیلے شوی دی چه نبی صلی اللّٰه علیه وسلم خپله لوُرَ دَ نوی نکاح اودَ نوی مَهر سره بیا ابوالعاص ته ورکړه ۔ دَ دے روایت دَ اختلاف په وجه اوّل خو دا مثال دَ هغه کسانو دَ پاره قطعی طور دَلیل نه ګرزی څوک چه دَ وطن اختلاف په قانونی حیثیت سره بے اثره ګڼی ۔ دویم، که چرے هغوئ دَ ابن عباس روایت له زور ورکړی چه هم دا صحیح دے نو دا بیا دَ هغوئ دَ مسلک خلاف کیږی ۔ ځکه چه دَ هغوی دَ مسلک مطابق خو چه دَ کوم ښځے خاوند په منځ کښے دَ دین اختلاف راغلے وی او هغوئ کافر والے کړے وی نو دَ هغوئ نکاح صرف دَ ښځے درے ځله میاشتیزے ناجوړتیا راتلو پورے باقی پاتے کیږی، په دے دوران کښے که دویم فریق اسلام قبول کړو نو نکاح به برقرار وی، کنه نو دَ دریم ځل ناجوړتیا راتلو سره به نکاح پخپله ماتیږی ۔ لیکن دَ حضرت زینبؓ دَ کوم واقعے نه چه هغوی دلیل ورکوی په هغے کښے دَ ښځے خاوند په منځ کښے دَ وطن دَ اختلاف پر ځای کُوفه تیر شوی وُو، دَ حضرت زینب دَ هجرت نه شپږ کاله وروسته ابوالعاص ایمان راوړے وُو، اودَ هغه دَ ایمان راوړو نه کم از کم دوه کاله مخکښے په قرآن کښے هغه حکم نازل شوے وُو چه دَ هغے ترڅنګ مسلمانه ښځه په مشرکانو باندے حرامه کړے شوی وه ۔

(۴) ځلورمه مسئله کفرته دَ اوړیدو (یعنی دَ ارتداد) ده دَ دے په صورت داد ے چه ښځه خاوند په یووخت کفرته واوړی، اودویم صورت داد ے چه په هغوئ کښے یو کفرته واپس واوړی او بل مسلمان پاتے شی ۔

که چرے ښځه خاوند دواړه په یووخت کفرته واپس لاړ شی نو شافعیان او حنبلیان وائی چه که چرے دَ کورواله نه مخکښے دا سے اُوشی نو فوراً به هغه نکاح ختمیږی کومه چه دَ اسلام په حالت کښے ترلے شوی وه، اوکه دَ کورواله نه روستو اُوشی نو دَ عدت دَ موده ے دَ ختمیدو سره په مخکینئ نکاح ختمیږی ۔ دَ دے برعکس حنفیان وائی چه اګرچه قیاس خو هم داد ے چه دَ هغوئ نکاح دِ ماته شی، لیکن دَ حضرت ابوبکرؓ په زمانه کښے په دَ ارتداد کومه فتنه شروع شوی وه په هغے کښے زرګونه کسان مرتد شول، بیا مسلمانان شول، او صحابه کرامو یو ته هم دَ نکاح دَ نوی کولو حکم اُونه کړو، په دے وجه مونږ دَ صحابو دا متفقه فیصله قبلوُو اودَ قیاس نه خلاف دا خبره منوچه کله ښځه خاوند په یووخت مرتد شی نو دَ هغوی نکاح نه ماتیږی ۔ (المبسوط، فتح القدیر، الفقه علی المذاهب الاربعه)۔

يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۚ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١٠﴾ وَاِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِّنْ
اَزْوَاجِكُمْ اِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَاٰتُوا الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ اَزْوَاجُهُمْ
مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿١١﴾

هغه ستاسو په منځ کښے فیصله کوی او الله ډیر پوهه اوډ حکمت خاوند دے۔ اوکه چرے ستاسو ډ کافرو ښځو ډ مهرونو نه څه تاسو ته ډ کافرانو نه واپس مِلاؤنهٔ شی او بیا پرِ ستاسو وار راشی نو ډ کومو خلقو ښځے چه هلته پاتے شوی دی هغوئ له هغومره پیسے ورکړئ چه هغه ډ هغوئ ډ ورکړے شوو مهرونو برابرے وی۔ اوډ هغه الله نه یَرَه کوئ چه تاسو پرِ ایمان راوړے دے۔

که چرے خاوند مُرتد شی او ښځه مسلمانه پاتے شی نو ډ حنفیانو او مالکیانو په مَن به فوراً نکاح ماتیږی، خواه که ښځهٔ ئے کور والے شوے وی اوکه نهٔ وی۔ لیکن شافعیان او حنبلیان وائی چه که چرے ډ کور والے نه ښځے دا سے شوے وی نو فوراً به نکاح ماتیږی اوکه ډ کور والے نه روستو دا سے شوے وی نو نکاح به ډ عدّت ډ مودے پورے باقی وی، په دے دوران کښے که هغه سړے مسلمان شو نو نکاح به برقراره پاتے شی کنهٔ نو ډ عدّت ډ ختیدو سره به ډ ارتداد ډ وخت نه نکاح ماته شمار لے کیږی، یعنی ښځه به بیا نوے عدّت نهٔ ټیږوی۔ ډ څلورو وارو فقهاؤ په دے باندِ اتفاق دے چه که چرے ډ کور والی نه ښځے دا معامله پیښه شوی وی نو ډ ښځهٔ نیم مَهر حق دے اوکه ډ کور والی نه روستو پیښه شوی وی نو پوره مَهر ئے حق دے۔

اوکه چرے ښځه مرتده شوی وی نو ډ حنفیانو نه پوښتنه وکړئ نو هغوئ دا وه چه په دے مسئله کښے به هم نکاح فوراً ماتیږی، لیکن په روستنی ډ ورکښے ډ بلغ اوډ سمرقند عالمانو دا فتویٰ ورکړه چه ډ ښځے ډ مرتد کیدو په وجه فوراً جدا نهٔ واقع کیږی، اوډ دے نه ډ هغوئ مقصد ډ دے خبرے مخ ټیږے ډ وچه هسے نه ښځے ډ خاوند انونه ډ ځان خلاصولو ډ پاره ډ ارتداد په لاره تک شروع نه کړی۔ ډ مالکیانو فتویٰ هم ډ دے سره تقریباً یوشان ده۔ هغوئ والی که چرے ډ حالاتونه دا معلومیږی لهچه ښځے صرف ډ خاوند نه ډ جُدایئ حاصلولو ډ پاره ډ دے چلے په طور ډ کفر لار اختیار کړی ده نو جُدا والے به نهٔ واقع کیږی۔ شافعیان او حنبلیان وائی چه ډ ښځے ډ ارتداد په مسئله کښے هم قانون هغه دے کوم چه ډ مرتد ډ ارتداد په مسئله کښے دے، یعنی که ډ کور والی نه ښځے مرتده شوه نو فوراً به نکاح ماتوی، اوکه ډ کور والی نه روستو مُرتده شوه نو ډ عدّت ډ ټیریدو پورے به نکاح باقی وی، په دے دوران کښے که هغه مسلمانه شوه نو نکاح به برقرار پاتے وی، کنهٔ نو ډ عدّت ډ ټیریدو سره به ډ ارتداد ډ وخت نه نکاح ماته شمار لے کیږی۔ ډ مَهر په بارهٔ کښے په دے خبره باندِ اتفاق دے چه ډ کور والی نه ښځے که مُرتده شوی وه نو هغے ته به هیڅ مَهر نهٔ مِلاویږی،

اوکه چرے دَکورواڼی نه روستوهغه مُرتده شوی وه نوپوره مَهر به ورته ملاویږی (المبسوط هدایه - فتح القدیر - المُغنی - الفقه علی المذاهب الاربعه) -

۱۱ دَدے مسئلے دوه شکلونه دی اودا آیت دَدواړو سره لکی،

یو شکل داوُوچه دَکومو کافرانو سره دَمسلمانانومعاهدوڼواودَهغوئ سره مسلمانانوداڼ فیصله کول اُوغوښتل چه کومو ښځو هجرت کړے دے اومونږ ته راغلی دی دَهغوئ مَهر به مونږ واپس درکوُو، اوزمونږ دَ خلقوچه کومے کافرانے ښځے هلته پاتے شوی دی دَهغوئ مَهر تاسو واپس کړئ - لیکن هغوئ داخبره قبول نهٔ کړه - نوامام زُهری والئ چه دَاللّٰه تعالیٰ دَحکم مطابق خومسلمانان دَهغه ښځو مَهرونه واپس کولوته تیار شوکومے چه دَمشرکانو سره په مکّه کښے پاتے شوی وِے، لیکن مشرکانو دَهغه ښځو دَ مَهرونو واپس کولونه اِنکار اُوکړو کوموچه هجرت کړے وُو او مسلمانانوله راغلے وِے - په دِے باندِ اللّٰه تعالیٰ حکم اُوکړو چه دَ مهاجرو ښځو کوم مَهرونه به تاسومشرکانوته واپس کوئ هغه دِهغوئ ته دَلیږلو په ځائے په مدینه کښے راجمع کړے شی اوچه کوم خلق به دَمشرکانونه خپل ورکړی مَهرونه واپس اخلی په هغوئ کښے دِهریوته هغومره پیسے ورکړے شی څومره چه هغوئ له دَ کافرانونه وصولی کول پکار وُو -

دویم شکل داوُوچه دَکومو کافرانو سره دَ مسلمانانومعاهده نهٔ وه دَهغوئ دَعلاقونه هم وِیرو سړو اسلام قبول کړه وُو او دارالاسلام ته راغلی وُو او دَهغوئ کافرانے ښځے هلته پاتے شوی وِے - دَهغوئ په باره کښے دا فیصله اُوشوه چه هم په دارالاسلام کښے دِ اَدَل بَدَل اُوکړے شی - هرکله چه دَ کافرانو نه څه مَهر واپس نهٔ ملاویدو نو هغوئ ته دِهم مَهر نهٔ واپس کړے کیږی - دَدے په ځائے چه کومه ښځه دلته راغلی ده دَهغے دَ بدلے مَهر دِ هغه سړی له ورکړے شی چه دَ چا ښځه هلته پاتے شوی ده -

لیکن که په دے طریقه حساب برابر نشی، اوچه دَکومو مسلمانانو ښځے هلته پاتے شوی دی دَهغوئ مَهرونه دَ هجرت کوُنکو مسلمانو ښځو دَ مَهرونونه زیات وی، نوحکم اُوشو چه دَ هغه مالِ غنیمت نه دِ باقی پیسے ورکړے شی کوم چه دَ کافرانو سره په جنګ کښے دَ مسلمانانو لاس ته راغلے وی - دَ ابن عباسؓ روایت دے چه دَکوم سړی دَ حقّے مَهر به هغه ته ادا نهٔ کړے شو نو نبی صلی اللّٰه علیه وسلّم به حکم اُوکړو چه دَدهٔ کهے دِ دَ مالِ غنیمت نه پوره کړے شی (ابن جریر) - دا مسلک عطاء، مُجاهد، زُهری، مسروق، ابراهیم نَخعِی، قَتاده، مُقاتِل اوضَحّاک اختیار کړے دے - دوئ وَایی چه دَکومو خلقو مَهر کافرانو ته پاتے شوے وی، دَهغوئ بدله دِ دَهغه مالِ غنیمت نه ورکړے شی کوم چه دَ کافرانونه لاس له راغلے وی، یعنی دَ غنیمتونو دَ تقسیمولونه مخکښے دِ دَدے خلقو پاتے شوے مَهر دوئ له ورکړے شی او پس دَ هغے دِ تقسیم اُوشی چه په هغے کښے دِ دوئ ته هم دَ نورو ټولو مجاهدینو هومره برابر حصّه ملاوُ شی - خُینی فقهاء داهم وائی چه صرف دَ مال غنیمت نه نهٔ بلکه دَ فَے دَ مال نه هم دَدا سے خلقو کے پوره کیدے شی - لیکن دَ عالمانو یوے لوئے ډلے دا مسلک قبول کړے نهٔ دے -

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰٓى اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ؕ

اے نبیؐ، کله چه تاته مومنانے ښځے د بیعت کولو د پاره راشی[۱۸] او د دے خبرې وعده درسره کوی چه هغوی به د الله سره هیڅ شیز نه شریکوی، نه به غلا کوی[۱۹]، نه به زنا کوی، نه به خپل اولاد وژنی[۲۰]، نه به د خپلولاسونو او خپو مخے ته بُهتان راوړی[۲۱]، او نه به د نیکئ په کار کښے ستا نافرمانی کوی[۲۲]، نو د هغوئ سره بیعت اوکړه[۲۳] او د هغوئ په حق کښے د الله نه د بخښنے دُعا اُوغواړه،

۱۸ لکه څنګه چه مونږ ته بخکښے ویلی دی، دا آیت د مکّې د فتحے نه څه لږ مخکښے نازل شوے وُو - د دے نه روستو چه کله مکّه فتحه شوه نو د قریشو خلق د نبیؐ سره د بیعت کولو د پاره ډله ډله حاضریدل شروع شول - نبیؐ پخپله د صفا په غرباندے د سړو نه بیعت واخستو او حضرت عُمرؓ ئے د خپل طرفنه مقرر کړو چه د زنا نو نه بیعت واخلی او د هغه خبرو اقرار تر واخلی کوم چه په دے آیت کښے بیان شوی دی (ابن جریر په روایت د ابن عباس، ابن ابی حاتم په روایت د قتاده) - بیا چه کله نبیؐ مدینے ته واپس لاړو نو حکم ئے اُوکړو چه د انصارو ښځے دِیوکُور ته راجمع شی او د هغوئ نه د بیعت اخستلو د پاره ئے حضرت عُمرؓ ور اُولیږو (ابن جریر، ابن مَردُویه، بزّار، ابن حِبّان په روایت د اُمّ عطیّه انصاریه) - د اختر په ورځ هم چه کله نبیؐ سړو ته خطبه اُوویلَه نو بیا د ښځو طرفته لاړو او هلته ئے د خپلے خُطبے په دَوران کښے دا آیت تلاوت کړو او د هغه خبرو وعده ئے تر واخستله کوم چه په دے آیت کښے ذکر شوی دی (بُخاری په روایت د ابن عباس) - د دے موقعونه علاوه به هم په مختلفو وختونو کښے یوه یوه ښځه هم او پیرے ښځے هم د نبیؐ په خدمت کښے حاضریدله او بیعت به ئے کولو چه ذکر ئے په پیرو احادیثو کښے راغلے دے -

۱۹ په مکّه کښے چه کله د ښځو نه بیعت اخستلے کیدو نو په هغه وخت کښے د حضرت ابوسفیان ښځے هِند بنت عُتبه د دے حکم په تشریح کښے د نبیؐ نه تپوس اوکړو چه اے د الله رسوله، ابوسفیان لږ شان بخیل سړے دے، آیا ماته به په دِے کښے څه ګناه وی چه څه د خپل ځان او د خپل بال بچ د ضرورتونو د پاره د هغه د پوس نه بغیر د هغه د مال نه څه را واخلم؟ نبیؐ اُوفرمائیل چه نه، لیکن د معروف د حد په پورے اخله - یعنی بس دومره مال اخله چه هغه واقعی د جائز و ضرورتونو د پاره کافی وی (احکام القرآن، ابن عربی) -

۲۰ یہ دے کښے استاطِ حمل (یعنی د خیټے نه کچه بچے لرے کول) هم شامل دی، خواه که هغه جائز حمل لرے کول وی اوکه ناجائزه حمل ۔

۲۱ دَد ے نه دوه قسمه بهتان مُراد دے ۔ یوَ داچه یوه ښځه په نورو ښځو باندِ د پردو سړو سره د آشنایئ کولو تهمتونه لګوی او دا قسم خبرے په خلقو کښے خُورَوی ، ځکه چه په ښځو کښے خاص طور دَد ے خبرو د مشهورولو مَرض پروت وی ۔ دوَیم داچه یوه ښځه بچے د بل سړی نه راوړی او خپل خاوند له یقین ورکوی چه دا هم ستا بچے د ے ۔ په ابوداؤد کښے د حضرت ابوهریرهؓ روایت د ے چه هغه د نبیؐ نه دا اَوریدلی دی چه " کومه ښځه یو خاندان ته دا سے بچے راوړی چه هغه دَهغه خاندان نه ٔ وی ، نو دَ هغے د الله سره هیڅ واسطه نشته ، او هغه به الله تعالیٰ هیڅ کله جنّت ته داخله نه ٔ کړی ۔

۲۲ یه دے لنډه شان فقره کښے دوه لوئے لوئے اهمے قانونی نکتے بیان کړے شوی دی ، اوله نکته داده چه د نبی صلی الله علیه وسلم په اطاعت باندِ هم د اطاعت فی المعروف قید لګولے شوے د ے ، حالانکه د نبیؐ په حقله دَد ے خبرے څه معمولی غوندِ شک هم نه ٔ وُچه هغه په ګنی د منکر د پاره هم حکم اُوکړی ۔ دَد ے نه دا خبره پخپله معلومه شوه چه په دُنیا کښے د خدائے د قانون نه بَهر د یو مخلوق اطاعت نشی کیدے ، ځکه چه هرکله د خدائے د رسول د اطاعت سره د معروف شرط لګولے شوے د ے نو بیا بل څوک دا سے کیدے شی چه د هغه اطاعت د بے شرطه وی او د هغه یوداسے قانون یا قاعده یا ریواج د اُوملے شی چه هغه د خدائے د قانون نه خلاف وی ۔ دا قاعده رسول الله صلی الله علیه وسلّم په د ے الفاظو کښے بیان کړی ده ، لا طاعة فی معصیّة الله ، انما الطاعة فی المعروف ۔ " د الله په نافرمانئ کښے اطاعت نشته ، اطاعت صرف په معروف کښے د ے ۔ " (مُسلم ، ابوداؤد ، نَسائیؒ) ۔ هم دا خبره لُویو لُویو عالمانو دَد ے آیت نه را ایستلی ده ۔ حضرت عبدالرحمٰن بن زید بن اسلم فرمائی ،

" الله تعالیٰ دا اُونهٔ فرمائیل چه هغوئ د ِ ستا نافرمانی اُونه کړی ، بلکه دا ئے اُوفرمائیل چه هغوئ د ِ په معروف کښے ستا نافرمانی اُونه کړی ۔ نو هرکله چه الله تعالیٰ د نبیؐ اطاعت سره د معروف شرط لګولے د ے نو د بل چا څه حق کیدے شی چه د معروف نه سِوا د ِ په یوه معامله کښے د هغه اطاعت اُوکړے شی " (ابن جریر) ۔

امام ابوبکر جصّاص لیکی ،

" الله ته معلومه وه چه د هغه نبی هیڅکله د معروف نه سِوا د بل څیز حُکم نه ٔ کوی ، بیا هم هغه د خپل نبی د نافرمانئ نه د منع کولو د پاره د معروف شرط اُولګوُوچه چرته څوک تَرَدّد ے خبرے کُنجا ئش را اُونهٔ باسی چه د باد شاهانو اطاعت و ِ په هغه حالت کښے هم کیږی کله چه د هغوئ حکم د الله په اطاعت کښے نه ٔ وی ۔ د نبی صلی الله علیه وسلّم حکم د ے چه من اطاع مخلوقاً فی معصیّة الخالق سلّط الله علیه ذٰلك المخلوق ، یعنی څوک چه د خالق په نافرمانئ کښے د مخلوق اطاعت اُوکړی ، الله تعالیٰ په هغه باندِ هم هغه خلق مسلّط کړی " (احکام القرآن) ۔

علامہ آلوسی فرمائی ،

" داحکم دَ هغه جاهلانو دَ خیال تردید کوی چه هغوئ وائ چه دَ اولی الامر اطاعت بالکل لازم دے ۔ الله تعالیٰ خودَ رسول په اطاعت باندِ هم دَ معروف قید لګولے دے ، حالانکه رسول هیڅکله دَ معروف نه سوا بل څه حکم نه کوی ۔ دَدے مقصد دا دے چه خلق دَدے خبری نه خبردار شی چه دَ خالق په نافرمانئ کښے دَ هیچا اطاعت اجازت جائز نه دے "

(روح المعانی) ۔

ثابته شوه چه په حقیقت کښے داحکم په اسلام کښے دَ قانون دَ حکمرانئ (Rule of Law) بُنیاد دے ۔ اصولی خبره داده چه کوم کار دَ اسلامی قانون خلاف وی هغه جُرم دے اوهیڅوک داحق نه لری چه دَدا سے یوکار حکم چاته اوکړی ۔ هرڅوک چه دَ قانون نه خلاف حکم کوی هغه پخپله مُجرم دے ، اوڅوک چه دَ هغه حکم منی هغه هم مُجرم دے ۔ یوما تحت سړے په دے عُذر دَ سزا نه نشی بچ کیدے چه دَ هغه بالا افسر هغه ته دَ یودا سے کار حکم کړے وُو چه هغه په قانون کښے جُرم دے ۔

په آئینی حیثیت سره چه بله کومه خبره پیر اهمیت لری هغه داده چه په دے آیت کښے مخکښے دَ ښځو څیزونو دَ نه کولو حکم شوے دے او بیا ورپسے صرف دَ یوڅیز دَ کولو حکم شوے دے اوهغه داچه په ټولو نیکوکارونو کښے به دَ نبی صلی الله علیه وسلم حکم منلے کیږی ۔ ترڅوچه دَ بَدَئ دَ نه کولو خبره ده نو هغه لوئے لوئے بدیانے په کوته کړے شوے کوے چه به دَ جاهلیت دَ زمانے ښځو کولے او دَ هغے دَ نه کولو وعده دَ مسلمانو ښځو نه واغستلے شوه ، لیکن څومره چه نیک کارونه دی هغه په کوته نه کړے شو چه تاسو به فلانے فلانے نیک کار کوئ بلکه دَ هغے په حقله صرف داوعده واغستلے شوه چه دَ کوم نیک کار حکم نبیؐ کوی په هغے به تاسو خامخا عمل کوئ ۔ اوس دابنکاره خبره ده که چرے هغه نیک عملونه صرف هغه وی دَ کومودَ حکم چه الله تعالیٰ په قرآن مجید کښے کړے دے نو وعده په دے الفاظو کښے اغستل پکار وُو چه " تاسو به دَ الله نافرمانی نه کوئ " یا داچه " تاسو به دَ قرآن دَ حکمونو نافرمانی نه کوئ " لیکن هرکله چه وعده په دے الفاظو کښے واغستلے شوه چه " دَ کوم نیک کار حکم رسول الله صلی الله علیه وسلم کوی تاسو به دَ هغه خلاف ورزی نه کوی " نو دَدے نه پخپله دا نتیجه راوزی چه دَ خلقو دَ اصلاح دَ پاره نبیؐ له دیر فراسنه اختیارات ورکړے شوی دی اودَ هغه ټول حکمونه واجب الاطاعت دی یعنی دَ هغه دَ ټولو حکمونو منل واجب دی خواه که هغه په قرآن مجید کښے وی اوکه نه وی ۔

دَدے آئینی اختیار په وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ بیعت اغستلو په وخت کښے دَ هغه کنړو کناهونو پریښودلو وعده واغستله کوم چه په هغه وخت کښے دَ عربو په ښځو کښے عام وُو اوبیا دا سے حکمونه ئے اوکړل کوم چه په قرآن مجید کښے ذکر کړے شوی نه دی ۔ دَدے دَ پاره لاندینی حدیثونه اوګورئ :

دَ ابن عباسؓ ، امّ سَلَمه اوامّ عَطیهؓ انصاریه وغیره روایتونه دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کله دَ ښځونه بیعت اغستلو نو دا وعده ئے تر واغستله چه هغوی به په مړو باندِ ماتم (یعنی ژړا انګولا اومخ سروهل) نه کوی ۔ دا روایتونه بُخاری ، مُسلم ، نَسائی اوابن جریر نقل کړی دی ۔

دَ ابن عباس په یو روایت کښے دا تفصیل دے چه نبیؐ حضرت عُمرؓ ته حکم اُوکړو چه دَ ښځُونه بیعت واخلی اوهغوی دَ مـاتم کولونه منع کړی، ځکه چه دَ جاهلیت په زمانه کښے به ښځو په مړو باندِ ماتم کولو، جامے به ئے شلولے، مخ به ئے را شوکولو، ویښته به ئے پریکول او سخته وا ویلا به ئے کوله (ابن جریر) ۔

زید بن اسلم روایت کوی چه نبیؐ دَ بیعت په وخت کښے ښځے دَ دے نه منع کړے چه په مړو ماتم اُوکړی، مخ را اُوشوکوی، کریوان اُوشلوی، چغے سُورے اُووهی او دَ ژړا په رنگ کښے ستاینے اُوکړی ۔ (ابن جریر) ۔ دغه رنگ یو روایت ابن ابی حاتم او ابن جریر دَ یوے دا سے ښځے نه نقل کړے دے چه هغه په بیعت کونکو کښے شامله وه ۔

قتادہؒ اوحسن بصریؒ والیٔ چه کومے وعدے نبیؐ دَ بیعت په وخت کښے دَ ښځُونه اغستلے وے په هغے کښے یوه وعده داوه چه هغوئ به دَ غیرمحرمه سړو (یعنی چه نکاح ئے ورسره کیږی دَ هغه سړو) سره خبرے نه کوی ۔ دَ ابن عباس په روایت کښے دَ دے داوضاحت دے چه دَ غیرمحرمه سړو سره به په ځان له ځائے کښے خبرے نه کوی ۔ قتاده زیات وضاحت داکړے دے چه دَ نبیؐ دَ دے حکم په اوریدو سره حضرت عبدالرحمٰن بن عوف عرض اُوکړو چه کله دا سے اُوشی چه مونږه په کورکښے نه یو او څوک کورته دَ ملاویدو دَ پاره راشی ۔ نبیؐ اوفرمایئل چه ځامُراد دانه دے ۔ یعنی دا منع نه دی چه ښځه چاته دومره خبره اوکړی چه "هغه" په کورکښے نشته (دا روایتونه ابن جریر او ابن ابی حاتم نقل کړی دی) ۔

دَ حضرت فاطمےؓ دَ تروراُمَیمهؓ بنت رُقَیقهؓ نه حضرت عبدالله بن عَمرو بن العاصؓ دا روایت نقل کړے دے چه نبیؐ دهغوی نه دا وعده واغستله چه ماتم به نه کوئ اودَ جاهلیت پشان به په ډول سنگار سره خپل نمائش نه کوئ (مُسندِ احمد، ابن جریر) ۔

دَ نبیؐ یوه تروره سلمیٰ بنت قیس والیٔ چه ځه دَ انصارو دَ یوځوښځوسره دَ بیعت دَ پاره لاړه نو نبیؐ دَ قرآن دَ دے آیت مطابق زمونږ نه وعده واغسته، بیا ئے اُوفرمایئل "ولا تَنشُرْنَ اَزواجکن"، "دَ خپلو خاوندانو سره دوکه بازی مَه کوئ"، چه کله مونږ واپس شو نو یوے ښځے ماته اُووئیل چه لاړه شه اودَ نبیؐ نه تپوس اُوکړه چه دَ خاوندانو سره دَ دوکه بازئ کولوڅه مطلب دے؟ ځه لاړم تپوس اُوکړو نو نبیؐ اُوفرمایئل تا خـذ ماله فقابی به غیره "دا چه تهٔ دَ هغه مال را واخلے او په بل باندِ ئے اُوشیندے" (مسند احمد)۔

امّ عطیهؓ فرمائی چه دَ بیعت اغستلو نه روستو نبیؐ مونږ ته حکم اُوکړو چه تاسو به دَ اختر ونو مونځُونو ته حاضریږئ البته دَ جمعے مونځ په تاسو باندِ فرض نه دے، اودَ جنازو سره مَه ځئ (ابن جریر) ۔

کوم خلق چه دَ نبیؐ دِے آئینی اختیاراتو نه دَ رسالت په ځائے دَ امارت حیثیت ورکوی اووائی چه هغه چونکه دَ خپل وخت حکمران هم وُو نو په دے وجه چه په دِے حیثیت کښے هغه کوم حکمونه کړی دی دَهغے منل صرف دَ هغه په زمانه کښے واجب وُو، نو هغوی د پیرهٔ دَ جهالت خبره کوی ۔ په پاسنو کرښو کښے چه مونږه دَ نبیؐ کوم حکمونه نقل کړی دی په هغے یو نظر واچوئ ۔ په هغے کښے چه دَ ښځُو دَ صحیح کولو دَ پاره نبیؐ کومے خبرے کړی دی هغه که چرے دَ هغه وخت دَ حکمران کیدو په حیثیت سره وے نو دَ ټولے دُنیا دَ مسلمانانو په ښځُو کښے دا اصلاحات دَ همیشه هیشه دَ پاره څنگه جاری شوے وے؟ آخر دَ دُنیا هغه کوم حاکم دے چه هغه ته دا مرتبه حاصله وی

چه د هغه د ځلې نه کوم حکم اُوزی او د زمکې په مخ چه په کوم کوم ځائے کښے مسلمانان آباد وی هلته د هميشه د پاره هغه اصلاح جاری شی د کوم چه هغه حکم کړے وی؟ (د زیاتے تشریح د پاره اُوګورہ تفہیم القرآن، پنځم جلد، تفسیر د سورۃ حشر، حاشیه ۱۵)۔

۲۳ د معتبرو ګنړو احادیثونه معلومیږی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے د بیعت د ښځُونه د بیعت اغستلو طریقه د سړو د بیعت نه مختلفه وه - د سړو نه د بیعت اغستلو طریقه دا وه چه بیعت کونکی به د نبیؐ په لاس کښے لاس ورکړو او وعده به ئے کوله - لیکن د ښځُونه د بیعت اغستلو په وخت کښے نبیؐ هیڅکله د ښځے لاس په خپل لاس کښے نه دے اغستلے بلکه نورے مختلفے طریقے ئے اختیار کړے دے - په دے باره کښے چه کوم روایتونه نقل کړے شوی دی هغه مونږه لاندے لیکو:

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه "په خدائے مې قسم وی چه په بیعت اغستلو کښے د نبیؐ لاس هیڅکله د یوے ښځے د لاس سره نه دے لګیدلے - نبیؐ چه به د ښځے نه بیعت اغستلو نو بس په ژبه به ئے دا اُوفرمائیل چه ما ستانه بیعت واغستو" (بخاری - ابن جریر)۔

اُمیمه بنت رُقیقه بیان کوی چه ځه او یو څو ښځے د بیعت د پاره نبیؐ له لاړو او هغه د قرآن د دے آیت مطابق زمونږ نه وعده واغسته - کله چه مونږه اُو وئیل "چه مونږ به په معروف کښے ستا نافرمانی نه کوُو" نو نبی اُوفرمائیل: فیما استطعتنّ و اطقتنّ، "ترڅوچه ستاسو په وس کښے وی او ستاسو د پاره ممکن وی"۔ مونږه عرض اُوکړو "الله او د هغه رسول زمونږ د پاره پخپله زمونږ نه زیات رحیم دے"۔ بیا مونږه عرض اُوکړو اے د الله رسوله لاس مې را اوږد کړه چه مونږه ستاسو بیعت اُوکړو - نبیؐ اُوفرمائیل ځه د ښځُو سره لاس نه مِلاوُم، بس ځه به ستاسونه وعده اخلم - نو هغه زمونږ نه وعده واغسته - په یوبل روایت کښے د هغے بیان دے چه نبیؐ په مونږ کښے د یوے ښځے سره هم لاس مِلاؤ نه کړل (مُسندِ احمد، ترمذی، نسائی، ابن ماجه، ابن جریر، ابن ابی حاتم)۔

ابوداؤد په مراسیل کښے د شعبی روایت نقل کړے دے چه د ښځُونه د بیعت اغستلو په وخت کښے یو څادر د نبیؐ طرفته را اُوږد کړے شو - نبیؐ بس هغه په لاس کښے را واغستو او وے فرمائیل ځه د ښځُو سره لاس نه مِلاوُم - هم دا حدیث ابن ابی حاتم د شَعبی نه او عبدالرزاق د ابراهیم نخعی نه او سعید بن منصور د قیس بن ابی حازم نه نقل کړے دے۔

ابن اسحاق په مَغازی کښے د اَبان بن صالح نه روایت نقل کړے دے چه نبیؐ به د اُوبو په یولُوښی کښے لاس کیښودلو، او بیا به هم په هغه لُوښی کښے ښځے خپل لاس کیښودلو۔

په بخاری کښے د حضرت عبدالله بن عباس روایت دے چه د اختر د خطبے ورکولو نه روستو نبیؐ د سړو د صفونو نه هغه ځائے ته لاړو په کوم ځائے کښے چه ښځے ناستے وے - نبیؐ هلته په خپل تقریر کښے د قرآن مجید دا آیت اُولوستو، بیائے د ښځُونه تپوس اُوکړو آیا تاسو د دے وعده کوئ؟ په مجلس کښے یوے ښځے جواب ورکړو چه هو اے د الله رسوله -

یو روایت ابن حِبّان، ابن جریر او بزّار وغیره نقل کړے دے، په هغے کښے د اُمّ عَطیّه دا بیان دے چه

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَوَلَّوْا
قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوا مِنَ الْآخِرَةِ كَمَا
يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَابِ الْقُبُورِ ﴿١٣﴾

یقیناً اللہ بخشنہار کے اور رحم کونکے دے ۔

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، هغه خلق دوستان مه جوړوئ چه په کومو الله غضب کړے دے، چه د آخرت نه داسے نا اُمیده دی لکه څنګه چه په قبرونو کښے پراته کافران نا اُمیده دی ۔ع

" نبیؐ د کور د بهر نه لاس را اوږد کړو او مونږ ورته د نه لاسونه ور اوږده کړل "، لیکن دا دے نه دا نه لان میږی چه بطور به د هغه سره لاس هم ملاؤ کړی وی، څکه چه اُمّ حبیبهؓ د لاس ملا وهلو څرګنده وَنه نه ده کړی ۔ غالباً چه په دے موقع به داسے کار شوے وی چه د وعدے اغستلو په وخت کښے به نبیؐ د بهر نه لاس ور اوږد کړے وی او د دننه نه به بعضو خپل خپل لاسونه د نبیؐ طرفته ور اوږده کړی وی او د هیڅوا لاس به د هغه د لاس سره نه وی لګیدلے ۔

۲۴ اصل الفاظ دی قَدْ يَئِسُوا مِنَ الْآخِرَةِ كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَابِ الْقُبُورِ ۔ دا دے دوه معنی کاني کیدے شی ۔ یوه دا چه هغوئ د آخرت د خوشحالئ او هغے د ثوابونو نه هغسے نا اُمیده دی لکه څنګه چه د مرګ نه روسته د ژوند نه انکار کونکی خلق دا دے خبری نه نا اُمیده دی چه د هغوئ کوم خپل خپلوان قبرونو ته تلی دی هغوئ به بیا ژوندی کړے شی ۔ دویمه معنی دا کیدے شی چه هغوئ د آخرت د رحمت او بخښنے نه هغسے نا اُمیده دی لکه څنګه چه په قبرونو کښے پراته کافران د هر خیر نه نا اُمیده دی، څکه چه د هغوئ د خپلو عذابید و یقین راغلے دے ۔ دا معنی د عبدالله بن مسعودؓ، او مجاهد، عکرمه، ابن زید، کلبی، مقاتل او منصور رحمهم الله نه نقل کړے شوی ده ۔

تفهم القرآن

الصّف

٦١

الصّف

نوم دا نوم د ځلورم آیت د فقرے یُقَاتِلُوْنَ فِیْ سَبِیْلِهٖ صَفًّا نه اخستے شوے دے ۔ مُراد دا دے چه دا هغه سورة دے چه په هغے کښے لفظ صف راغلے دے ۔

د نازلیدو زمانه د معتبر روایت نه ددے د نازلیدو زمانه معلومه نهٔ شوه لیکن ددے په مضمونونو باندے د غور کولو نه دا اندازه لږی چه دا به غالباً د جنګ اُحد سره په جوخته زمانه کښے نازل شوے وی ، ځکه چه په دے کښے کومو حالاتو ته اشاره معلومیږی هغه هم په دغه دَور کښے موندے کیدل ۔

موضوع او مضمون د دے موضوع دا ده چه مسلمانان په خپلو ایمانونو کښے اخلاص را پیدا کړی او د اللّٰه په لار کښے جنګ کولو ته تیار شی ۔ په دے کښے د کمزورے ایمان والا مسلمانانو ته هم خبرے شوے دی ، او هغه خلقو ته هم چه د ایمان د دروغو دعوے ئے کړے وه او په اسلام کښے داخل شوے وُو ، او هغه خلقو ته هم چه هغوئ مخلصان وُو ۔ حُینئ آیتونه اولنو دواړو ډلو ته دی ، په حُینو کښے خبره صرف منافقانو ته شوے ده او په حُینو کښے د خبرو مخه صرف مخلصانو ته ده ۔ د کلام د اندازے نه پخپله معلومیږی چه خبره چا ته ده ۔

په شروع کښے ټولو مومنانو ته خبردارے ورکړے شوے دے چه د اللّٰه په نظر کښے هغه خلق ډیر خراب دی چه هغوئ وائی یوځه اوکوی بل ځه ، او هغه خلق ډیر ښه دی چه د حق په لاره کښے د جنګ د پاره د ویلی کړے شوی سِیسے د دیوال پشان مضبوط ولاړ وی ۔

بیا د پنځم آیت نه د اوّم آیت پورے د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم اُمّتیانو ته خبردارے ورکړے شوے دے چه تاسو له د خپل رسول او د خپل دین سره هغه طریقه اختیار نه کول نهٔ دی پکار کومه چه بنی اسراءیلو د موسیٰ علیه السّلام او د عیسیٰؑ سره اختیار کړی وه ۔ حضرت موسیٰؑ به هغوئ د خدائے رسول کنړو او سره د هغے به ئے تنګولو ، او د حضرت عیسیٰؑ څرګند دے نبیے هغوئ لیدلے وے او سره د هغے هغه ته د دروغژن وئیلو نه منع نهٔ شو ۔ نتیجه ئے داشوه چه د هغه قوم د مزاج لُوبنے کوږ شو او د هغوئ نه د هدایت توفیق واغستلے شو ۔ داځه دا سے ښه حالت نهٔ دے چه بل قوم ورته او پسخیږی او د هغوئ پشان د کید و آزار و اُوکړی ۔

بیا په آیت اتم نهم کښے ډیر په زُور سره اعلان اُوکړے شوچه یهودیان او عیسایان او د هغوئ سره ساز باز لرونکی منافقان د اللّٰه د دے نُور د مړ کولو که هر څومره کوشش اوکړی خو دا به ډیر په زُور سره په ټوله دُنیا کښے خوریږی ، اوکه مشرکان ئے هر څومره نهٔ خوښوی

خو رسول چه کوم دین راوړے دے هغه باخامخا په ټولو دینونو باندې غالب کړی ۔

دَدے نه روسته په آیتونو ۱۰ ۔ ۱۳ کښے مومنانو ته وړیلے شوی دی چه په دُنیا او په آخرت کښے دَ کامیابئ لار صرف یوه ده ، او هغه داده چه په اللّٰه اودَ هغه په رسول باندِ دَ زړهٔ په صدق سره ایمان راوړئ ، او دَ اللّٰه په لار کښے په سر و مال سره جهاد اوکړئ ۔ په آخرت کښے دَدے فایئده دَ خدائے دَ عذاب نه خلاصے ، دَ ګناهونو بخښنه ، او دَ همیشه همیشه دَ پاره جنّت ملاویدل دی ، او په دُنیا کښے دَدے انعام دَ خدائے امداد او مرسته او فتحه اوکامیابی ده ۔

په آخر کښے مومنانو ته نصیحت شوے دے چه لکه څنګه دَ حضرت عیسیٰ علیه السّلام حواریانو دَ اللّٰه په لار کښے دَ هغه سره ملګرتیا کړی وه د غه شان دِ هغوئ هم " انصار اللّٰه " جوړ شی چه دَ کافرانو په مقابله کښے هغوئ ته هم هغسے دَ اللّٰه تائید او مرسته حاصله شی لکه څنګه چه اولنو مومنانو ته حاصله شوی وه ۔

سُوْرَةُ الصَّفِّ مَدَنِيَّةٌ — اٰیاتہا ۱۴ — رکوعاتہا ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝١ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۝٢ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۝٣ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

د الله تسبیح ویلی ده هرهغه څیز چه په آسمانونو اوپه ځمکه کې دی، اوهغه ځان غالب اوحکیم ښیي ۱ اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے ، تاسو ولے هغه خبره کوئ چه پوره کوئ نے نه؟ د الله په نزد دا ډیر ناخوښه کار دے چه تاسو اوکړئ هغه خبره چه پوره کوئ نے ۲ نه - د الله خوښوی هغه خلق دی

۱ دا د دے خطبے مختصر شان تمهید دے - د تشریح د پاره اوګورئ تفهیم القرآن، پنځم جلد ، تفسیر د سورۃ الحدید ، حاشیه ۱ - ۲ - شروع د دے تمهید نه په دے وجه شوی ده چه وړاندے څه فرمایلے کیږی چه د هغے د اوریدلو یا لوستلو نه مخکے سړے په دے خبرو پوهه شی چه الله تعالیٰ به څنګه دے د هغه خدائ د جاړه ایمان اوډ چا په امداد او قربانۍ باندے نه چلیږی - هغه که مومنانو ته د نصیحت کیږی چه په ایمان کښے اخلاص پیدا کړئ اوډ صداقت د اوچتولو د پاره په سر و مال سره کوشش اوکړئ ، نو دا ټول هرڅه د هغوئ د خپلے هیکړے د پاره دی - کنئ نږدے هغه اراده خاص د هغه په خپل طاقت اوپه خپل تدبیر سره پوره کیږی ، خواه که څوک د هغے په پوره کولو کښے د ډډے هومره کوشش هم اونه کړی ، بلکه که ټوله دنیا را یو ځائے شی اوډ هغے مخ پیږی نه تیار شی نو هم به د هغه اراده پوره کیږی -

۲ د دے حکم یو مطلب خو عام دے کوم چه د دے د الفاظو نه را معلومیږی - او یو مطلب ئے خاص دے کوم چه د روستنی آیت د یو ځائے کولو سره څرګندیږی - اولنے مطلب دا دے چه د یو رهبر پیښی مسلمان په قول اوپه عمل کښے یو شانوالے پکار دے - چه څه وائ هغه به پوره کوی ، اوچه د کولو نیت یا همت ئے نه وی نو د هغے خبره نه دا اوباسی - ویلے یو څه اوکړل بل څه ، دا د انسان هغه خراب ترین صفت دے چه د الله په نظر کښے د ټولو نه ډیر ناخوښ دے ، نو دا اخلاقی عیب به په هغه انسان کښے څنګه راشی چه هغه په الله باندے د ایمان لرلو دعوی کوی - نبی صلی الله علیه وسلم څرګند ونه کړی ده چه په کوم سړی کښے دا صفت وی نو هغه مومن نه دے بلکه منافق دے - په یو حدیث کښے دی چه نبی اوفرمایل :

آیۃ المنافق ثلاث (زاد مسلم وان صام وصلّیٰ وزعم انہ مسلم) اذا حدث کذب واذا وعد اخلف واذا اؤتمن خان۔ (بخاری و مسلم)

دمنافق درې نښې دي اګرچه هغه مونځ کوي اوروژه نیسي اوځان مسلمانۍ دعویٰ کوي، هغه داچه کله خبرې کوي نو دروغ وائي، اوچه کله وعدا وکړي نو وعدې خلاف ورزي کوي او چه امانت ورته حواله کړے شي نو په هغې کښه خیانت کوي۔

بله یوبل حدیث کښې نبي ﷺ فرمائي:

اربع من کن فیہ کان منافقاً خالصاً ومن کانت فیہ خصلۃ منھن کانت فیہ خصلۃ من النفاق حتی یدعھا، اذا اؤتمن خان، واذا حدث کذب، واذا عاھد غدر، واذا خاصم فجر

(بخاری او مسلم)

خلور صفتونه داسے دي چه په کوم سړي کښې هغه خلور واړه وي نو هغه خالص منافق دے، اوچه په کوم سړي کښې دوې نه پرصفت وي نو په هغه کښې د منافقت یو خصلت دے تر څوچه هغه هغه پرے نږدي۔ داچه کله امانت هغه ته حواله کړے شي نو په هغې کښه خیانت کوي، اوچه کله خبرې کوي نو دروغ وائي، اوچه کله وعده اوکړي نو وعدې خلاف ورزي کوي۔ اوچه کله جنګ کوي نو د اخلاقو حدود مات کړي یعنې کفر کوي۔

د اسلام د فقهاؤ تقریباً په دې خبره اتفاق دے چه که چرته یو سړے د الله سره وعده اوکړي (مثلاً د پوخېږ نذر ځان اومنو)، یا د بندګانو سره یو معاهده اوکړي نو دا سړے د دواړو سره وعدې اوکړې نو د هغې پوره کول لازمي دي، ماسوا د هغه چه هغه کار پخپله ګناه وي د کوم چه هغه وعده کړې وي۔ اوکه هغه کار ګناه وي د کوم چه هغه کړې ده نو بیا هغه کار حرام کول پکار دي، لیکن د هغې د پابندۍ نه د خان آزادولو د پاره د قسم کفاره دا کول پکار دي کومه چه د سورۃ مائده په آیت ۸۹ کښې بیان کړے شوې ده۔ (احکام القرآن للجصاص و ابن عربی)۔

داخبره د دې آیتونو عام مطلب۔ یا د شرهغه خاص مطلب چه د هغې د پاره یه دې موقع دا آیتونه نازل کړے شوي دي نو هغه چه د دې آیت سره روستنۍ آیت یوځائے شي نو پس د هغې څرګنده پېژندګلوي۔ دالله هغه خلق ملامته کول مقصد دي کومو چه په د اسلام د پاره د قربانۍ کولو ځائے ځائے وعدے کولے، خو چه کله په د آزمیښت وخت راغے نو تبدیل به۔ د کمزورۍ ایمان والو په دې کمزورۍ باندې په قرآن مجید کښې په دې پیرایه کښې ګرفت شوے دے۔ مثلاً د سورۃ نساء په آیت ۷۷ کښې فرمائي، "تا هغه خلق هم اولیدل چه هغوئ ته وئیلے شوي وو چه خپل لاسونه منع اوساتئ او مونځ قایم کړئ او زکوٰۃ ورکړئ؟ اوس چه ورته د جنګ کولو حکم اوشو نو په هغوئ کښې د یوے ډلے حال دا دے چه د خلقو نه داسے ډیریږي لکه څنګه چه د خدائے نه یره پکار ده، یا د دے نه هم زیات۔ وائي چه اے خدایا، دا په مونږ باندې د جنګ کولو حکم ولے اولیګو؟ ولے دې مونږ له لږ څو مهلت رانه کړوے۔ اود سورۃ محمد په آیت ۲۰ کښې فرمائي، "چه کوم خلق

الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ④

چه دَ هغه په لارکښے داسے په ترتیب سره جنګیږی لکه چه هغوئ دَ ویلی کړے شوی سیسے دیوال وی ۳۵

ایمان راوړے دے هغوئ به وئیل چه یو (داسے) سورة وَلے نهٔ نازلیږی (چه په هغے کښے دَ جنګ حکم اُوشی)، خوچه کله یو محکم سورت نازل کړے شوچه پکښے دَ جنګ ذکر نهٔ وُو نو تا اُولیدل چه دَ کومو خلقو په زړونو کښے مرض وُو هغوئ تاته داسے کوری لکه چه چاته مرګ راروان وی ۳۵ دَ جنګ اُحُد په موقع داکمزورو یانے خاص طور مخے ته راغلے چه هغے ته په سورة آلِ عمران کښے دَ دیار لسے رکوع نه دَ اُوّلسمے رکوع پورے مُسلسل اِشارے شوی دی۔

مفسّرینو دَ دے آیتونو په شانِ نزول کښے دَ هغه کمزورو یانو مختلف شکلونه بیان کړی دی په کومو چه دلته بحث شوے دے۔ ابن عباس فرمائی چه دَ جهاد دَ فرض کیدو نه مخکښے څه مسلمانان داسے وُو چه وئیل به ئے چه ارمان دے که موږ ته هغه عمل معلوم شوے چه هغه دَ الله دَ ښولونه زیات خوښ وی نو موږ به هم هغه کوُو۔ خوچه کله هغوئ ته اُوویلے شوچه هغه عمل جهاد دے نو هغوئ ته هغه خپله خبره پوره کول ډیر ګران شو۔ مُقاتِل بن حیّان وائی چه دَ اُحُد په جنګ کښے په دے خلقو آزمیښت راغے نو دوئ نبیؐ پریښودو او اُوتښتیدل۔ ابن زید وائی چه ډیرو خلقو به نبی صلی الله علیه وسلم له یقین ورکولو چه که تهٔ دَدُ شمن مقابلے ته اُوځے نو موږ به ستاسره اُوزو۔ خوچه کله دَ وتلو وخت راغے نو دَ هغوئ وعدے دروغ اُوخته۔ قتاده او ضحّاک وائی چه حُنین خلق به په جنګ کښے شریک هم شوخو څه کار به ئے نهٔ کولو خوچه واپس به راغلل نو دالاف به ئے کولے چه موږ نه داسے اُوجنګیدو او موږ نه داسے داسے وهل اُوکړل۔ داسے خلق الله تعالیٰ په دے آیتونو کښے ملامته کړی دی۔

۳۵ دَدے نه اوّل خو دا معلومه شوه چه دَ الله تعالیٰ رضا هغه مومنانو ته حاصلیږی چه هغوئ دَ الله په لارکښے جنګ کولو ته او سختو برداشت کولو ته تیار وی۔ دوَیمه خبره دا معلومه شوه چه دَ الله تعالیٰ کوم فوج خوښ دے په هغے کښے درے صفتونه پکار دی۔ یَودا چه هغه بنهٔ په سوچ سره دَ الله په لارکښے جنګیږی او په داسے لارکښے هیڅکله نهٔ جنګیږی چه هغه فی سبیل الله نهٔ وی۔ دوَیم دا چه هغوئ بے ترتیبه او خواره واره نهٔ وی بلکه په مضبوط نظم کښے په ترتیب سره جنګیږی۔ دریم دا چه دَ دُشمنانو په مقابله کښے دَ هغوئ حالت دَ "ویلی کړے شوی سیسے دَ دیوال" پشان وی۔ بیا دا آخری صفت پخپله دَ معنیٰ نه ډک دے۔ یو فوج دَ هغه وخته پورے په میدانِ جنګ کښے دَ ویلی کړے شوی سیسے دَ دیوال پشان نشی ودریدے تر څو چه پکښے لاندینی صفتونه نهٔ وی پیدا شوی:

—— چه دَ هغوئ په عقیده او مقصد کښے کامل اتفاق وی، چه دَ هغے په وجه دَ هغوئ سپاهیان او افسران پخپلو کښے پوره متحد وی۔

—— چه دَ هغوئ دَ یوبل په خلوص باندِ بروسه وی، او دا بروسه دَدے نه بغیر پیدا کیدے نشی چه ټول په خپل مقصد کښے واقعی مخلص وی او دَ ناپاکو ارادو نه پاک وی۔ کنهٔ نو جنګ یو داسے سخت آزمیښت دے

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ ۭ فَلَمَّا زَاغُوْٓا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝۵

اویادہ کړئ د موسیٰ هغه خبره چه هغه خپل قوم ته کړی وه چه "اے زما د قوم خلقو، تاسو ماله ولے تکلیف راکوئ حالانکه تاسو ښه پوهه یئ چه زه تاسوته د الله رالیږلے شوے رسول یم؟" نو هرکله چه هغوی کوږ والے اختیار کړو نو الله د هغوئ زړونه کاږه کړل، الله فاسقانو ته هدایت نه کوی۔

چه د چا د زړه خیږے پټ نه پاتے کوی، او هرکله چه بروسه ختمه شی نو د فوج سپاهیان په یوبل باندې د اعتبار کولو په ځائے الټا شک کول شروع کړی۔

—— چه د هغوئ د اخلاقو یو اوچت معیار وی، چه که چرے د هغے معیار نه د فوج افسر او سپاهی را اوغوږ زیږی نو بیا د هغوئ په زړونو کښے نه د یوبل سره محبت پیدا کیدے شی اونه عزّت، اونه هغوی په خپلو کښے د جنګیدو نه بچ کیدے شی۔

—— چه په هغوئ کښے د خپل مقصد سره دا سے لیونئ مینه او د هغے د حاصلولو دا سے کلکه اراده وی چه هغه په ټول فوج کښے د قربانئ یوه نه بدلیدونکی جذبه پیدا کړی او هغوئ په میدانِ جنګ کښے واقعی د سیسے د دیوال پشان مضبوط و دریږی۔

دا هغه بنیاد دے چه په هغے باندې د نبی صلی الله علیه وسلم په مشرئ کښے یو داسے زبردست لښکری تنظیم را اوچت شو چه د هغے سره په ډغره کښے لوئ لوئ طاقتونه ټوکر ے ټوکر ے شو او د سوو نو کلونو پورے د دُنیا یو طاقت د هغے مخے ته ټینګ نه شو۔

۴ په قرآن مجید کښے په ډیرو ځایونو کښے د ډیر په تفصیل سره وئیلے شوی دی چه بنی اسرائیلو حضرت موسیٰ د الله نبی او خپل محسن کنډلو خو بیا ئے هم هغه په قسما قسم طریقو سره تنګولو او قسما قسم بے وفایانے به ئے د هغه سره کولے۔ د مثال په طور اوګورئ البقره، آیتونه ۵۱-۵۵-۶۰-۶۷ تا ۷۱۔ النساء ۱۵۳۔ المائده ۲۰ تا ۲۶۔ الاعراف ۱۳۸ تا ۱۴۱-۱۴۸ تا ۱۵۱۔ طٰهٰ ۸۶ تا ۹۸۔ په بائیبل کښے د یهود یانو خپل بیان کړے تاریخ هم د دے قسم واقعاتونه ډک دے۔ صرف د نمونے په طور د یوشوا واقعاتو د پاره اوګورئ خروج ۵: ۲۰-۲۱-۱۴: ۱۱-۱۲-۱۶: ۲-۳-۱۷: ۳-۴۔ گنتی ۱۱: ۱-۱۵-۱۴: ۱-۱۰-۱۶: مکمل-۲۰: ۱-۵۔ دلته د دے واقعاتو ته اشاره د دے د پاره کیږی چه مسلمانان خبردار شی چه خپل نبی سره هغه سلوک اونه کړی کوم چه بنی اسراءیلو د خپل نبی سره کړے وو، کنئ نو د هغوئ به هم هغه انجام شی کوم چه د بنی اسراءیلو وو۔

۵ یعنی د الله تعالیٰ دا طریقه نه ده چه کوم خلق پخپله په کږه لاره تلل غواړی هغوئ د خامخا په ښه لار راوړی، او چاچه د هغه نافرمانئ ته ملاتړ لی وی نو هغه ته د په زور هدایت اوکړی۔ دا دے نه دا خبره پخپله معلومه شوه چه د یوسړی یا د یوقوم ګمراهی د الله تعالیٰ د طرفنه نه شروع کیږی بلکه د هغه سړی یا د هغه قوم د

وَاِذْ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ

اوپاړه د کړۍ د عیسیٰ ابن مریم هغه خبره چه هغه کړی وه چه " اے بنی اسرایلو، ځه تاسو ته

طرفنه شروع کړی، البته د الله قانون دا دے چه څوک گمراهی خوښه کړی نو هغه د هغه د پاره د ښې لارې نه، بلکه د گمراهۍ اسباب پیدا کوی د ده د پاره چه هغه به گومړه غلطولار وتلل خواړی نوچه لار شی - الله تعالیٰ خو انسان له د چلې خوښه د کار کولو آزادی (Freedom of Choice) ورکړی ده - د ده نه روستو د فیصله کول د هر انسان یا د هر هغه چا چه هغه د خپل کار د چه هغه د خپل رب اطاعت کول خواړی اوکه نه، او نیغه لارې خوښوی اوکه په کږه لارو تلل خواړی - په دې خوښه کړې د الله تعالیٰ د طرفنه څه زور نشته - که څوک د اطاعت اود هدایت لارې خوښه کړی نو الله تعالیٰ هغه په زور گمراهۍ اونا فرمانۍ ته نه ورډیکه کوی، اوکه څوک فیصله اوکړی چه هغه به خامخا نافرمانی کوی او په نیغه لارې به نه حق نوی الله تعالیٰ د طریقه هم نه ده چه هغه مجبور کوی او د اطاعت او د هدایت په لارې ځی راوړی - لیکن داپخپل ځای پر حقیقت دی چه څوک چه الله تعالیٰ د هغه د پاره هغوی کړی نوره هغې باندې هغه ترهغې پورې پرقدم هم نشی تلې ترڅو چه الله تعالیٰ د هغه د پاره هغه اسباب اوحالات پیدا نه کړی گوم چه په هغې باندې د ده د پاره خوښ وی - هم دا د الله هغه "توفیق" دی چه په هغې باندې د انسان د هرکوشش د کامیابیدو دارومدار وی اوس که چرته پورتنی د یوکې توفیق هم د سړه خواړی نه، بلکه البته د بندې توفیق خواړی نوهغه ته هم هغه پلاویږی - اوهرکله چه هغه ته د بندې توفیق پلاویږی نو هغې مطابق د هغه د ذهن لوبه کیږی او د هغه د عمل لارې کیږی، اُن تردې پورې چه په هغه کښې د نیکۍ د قبلولو صلاحیت بالکل ختم شی - هم دا معنی ده د دې حکم چه " گله هغوی کړه والے اختیار کړو نو الله هم د هغوی زړونه کاږه کړل " په دې حالت کښې د خبره د الله د قانون نه خلاف ده چه څوک په خپله گمراهۍ خواړی او گمراهۍ په لټون کښې تیز تیزوی او د هغه د پاره خپل توان لګوی او کوشش استعمالوی نو هغه د په زړه د هدایت ته را اوګرځولے شی، لکه چه په داسے کولو سره به د ده د هیبت او د امتحان هغه غرض ختم شی د کوم د پاره چه په دې کښې انسان ته د خوښولو آزادی ورکړے شوی ده، او په دې طریقه چه انسان ته هدایت پلاوُ شی او هغه بیا په نیغه لارو روان شی نو مناسب نه ده چه په دې باندې هغه ذهنی بدلے مستحق شی - بلکه په دې طریقه خو چه چاته په زور هدایت نه وی پلاوُ شوے او د هغې په وجه هغه په گمراهۍ کښې پاتے شوے وی نو هغه له هم د سزا حقدار کیدل نه دی پکار، لکه چه بیا خو د هغه د گمراهه پاتے کیدو ذمه واری په الله تعالیٰ باندې راځی او هغه به آخرت کښې د حساب کتاب په وخت کښې د دلیل پیش کولے شی چه هرکله ستاسو قانون کښې به زور نیغه لارې ته د رسولو قاعده موجوده نو ولې ما خو ولې نه رالیږلے شوے رسول؟ هم دا مطلب د دې د دې حکم چه " الله ناستو ته هدایت نه کوی " یعنی چه گومړه خلقو د خپل ځان د پاره خپله د فسق او د نافرمانۍ لار خوښه کړی وه هغوی ته الله تعالیٰ د اطاعت او د فرمانبردارۍ په لارې د تللو توفیق نه ورکوی -

۱۰ د بنی اسرائیلو د درې نافرمانۍ ذکر دے - دوه نافرمانی هغه وو کومه چه هغوی د خپل ترڅو د زور په شروع کښې کړی وه - او دریمه نافرمانی دا چه د ده د زور په آخر کښې هغوی اوکړه چه د هغه نه روستو د همیشه همیشه د پاره په هغوی باندې د خدائے لعنت پریوتو - د دې دواړو واقعو د پیښولو مدت تقریباً

لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ مُصَدِّقًا

د الله رالیږلے شوے رسول یم، تصدیق کوونکے یم د هغه تورات چه ځما نه مخکښ راغلے دے او موجود دے،

دا ده چه چرته مسلمانانو هم د خدائے د رسول سره د بنی اسراءیلو پیشوان سلوک اوکړو نو انجام به ئے ښه نه وی۔

که د دے فقرے دریے معنے دی:

یوه دا چه ماځه نا آشنا دین نه د ے راوړے بلکه هغه دین یم راوړے د ے کوم چه موسیٰ علیه السلام راوړے وو۔ ځه د تورات تردیدنه کوم بلکه د هغه تصدیق کوم، لکه ځنګه چه همیشه د خدائے رسول د خپلو مخکښو رسولانو تصدیق کوی۔ نوهیڅ وجه دا سے نشته چه تاسو به هغے ځما د رسالت نه انکار اوکړئ۔

دریمه معنی دا ده چه کوم زبری ځما د راتلونکے حملے په تورات کښے موجود دی ځه هم هغه زبرے یم۔ نو په ځمائے د دے چه تاسو ځما مخالفت اوکړئ، تاسو له په دے خبره خوشحالی کول پکار دی چه د چا د راتلونکے بارہ کښے مخکښ پیغمبران خبر ورکړے وو هغه راغلے۔

اوداسے فقرے چه د روستنئ فقرے سره ملاؤ کړے شی نو دریمه معنی ترے راوزی چه په تورات کښے د احمد (صلی الله علیه وسلم) د راتلونکے حملے کوم زبرے ورکړے شوے دے ځه د هغه زبری تصدیق کوم او پخپله هم د هغه د راتلو زبرے درکوم۔ د دے دریے معنی په لحاظ سره د حضرت عیسیٰ علیه السلام د دے قول اشاره هغه زبری ته ده کوم چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حمله حضرت موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته په خطاب کښے کړے وو۔ په هغے کښے هغه فرمائی:

"ستا خداوند خدائے به ستا دپاره هم ستا د منځ نه، یعنی ستا د وروڼو نه ځما پشان پیغمبر راوچت کړی۔ تاسو به د هغه اوروئ۔ دا به ستا د هغے درخواست مطابق وی کوم چه تا خداوند خپل خدائے ته د حوریب په غر کښے کړے وو چه ځه نه خو د خداوند خپل خدائے آواز بیا واورم او نه دا سے لوئ اور اوګورم د دے چه مړ نه شم۔ او خداوند ماته اوویل چه هغوی ځه رائے هغه ښه رائے۔ ځه به د هغوئ د پاره هم د هغوئ د وروڼو نه ستا پشان پیغمبر راوچت کړم او خپل کلام به د هغه په ځوله کښے راچړم او څه ځکم چه ځه هغه ته کوم هغه به هم هغه هغوئ ته رائے۔ او څوک چه ځما هغه خبرے وانه وری کړے چه هغه ځما په نوم خلقو ته رائے نو ځه به د هغے حساب د هغوی سره کوم۔

(استثناء۔ باب ۱۸۔ آیتونه ۱۵۔ ۱۹)

دا د تورات څرګنده پیشن ګوئی ده چه د محمد صلی الله علیه وسلم له پاره دلیل جوړ ه حمله نه صحیح کیږی۔ په دے کښے حضرت موسیٰ خپل قوم ته د الله تعالیٰ دا حکم اوروی چه ځه به ستا د پاره ستا د وروڼو نه پیغمبر راوچت کړم۔ ظاهره خبره ده چه د یوقوم د "وروڼو" نه مراد پخپله د هغه قوم پره قبیله یا خاندان نه نه وی کیدے بلکه بل دا سے قوم کیدے شی

چه دَهغه سرهٔ دَهغه نزدے نسلی رشته وی - که چرے مُراد پخپله دَ بنی اسراءیلونه دَ یونبی راتلل وے نو الفاظ به داوے چه ځه به ستاسو دَ پاره هم ستاسونه یونبی را اُوچتوم - نودَ بنی اسراءیلو دَ رُونړونه مُراد خامخاهم بنی اسمٰعیل کیدے شی چه دَ حضرت ابراهیمؑ اولاد دی او په دِے وجه دَهغوی نسبی رشته دار دی - دَدے نه علاوه دا پیښ کوئی دَ بنی اسراءیلو په یونبی په دِے وجه هم صادقانه راځی چه دَ حضرت موسیٰؑ نه روستو په بنی اسراءیلو کښے څه یونبی نهٔ دے راغلے، بلکه پیر نبیان راغلی دی چه بائیبل تړوک دے -

دویمه خبره په دِے زیږی کښے داشوی ده چه کوم نبی به راځی هغه به دَ حضرت موسیٰؑ پشان وی - دَدے نه مُراد دا نهٔ دے چه په شکل یا دَ ژوند په حالا توکښے به یوشان وی، ځکه چه په دِے لحاظ سره یوسړے هم دَ بل سړی پشان نهٔ وی - اودَدے نه مُراد صرف دَ نبوت په صفت کښے یو شانوالے هم نهٔ دے، ځکه چه دا صفت په هغه ټولو پیغمبرانو کښے شریک دے کوم چه دَ حضرت موسیٰؑ نه روستو راغلی دی، په دِے وجه دَ یونبی دا خصوصیت نشی کیدے چه هغه دِے په دِے صفت کښے دَهغوی پشان وی - نوهرکله چه دَ دے دواړو مشابهتونه مُراد هغه مشابهت نهٔ دے دَکوم په وجه چه یوخاص راتلونکے نبی پیژندے شی، نوبیا دَیوشانوالی بله وجه دَدے نه سِوا نشی کیدے چه هغه نبی به یومستقل شریعت راوړی او په دِے اعتبار سره به هغه دَ حضرت موسیٰؑ پشان وی - اوداخصوصیت دَ محمد صلی اللہ علیه وسلم نه سِوا په بل پیغمبر کښے نهٔ موندے کیږی، ځکه چه دَ نبیؐ نه مخکښے په بنی اسراء یلو کښے کوم پیغمبران راغلی وُو هغوئ ټول دَ موسیٰؑ دَ شریعت پیروکار وُو، په هغوئ کښے یوهم ځان له یومستقل شریعت نهٔ وُو راوړے -

دِے تشریح ته زیات طاقت دَ پیښ کوئیؑ دَدے الفاظونه ملاویږی چه "دا به ستا" (یعنی دَ بنی اسراء یل) دَ هغه درخواست مطابق وی کوم چه تاخداوند خپل خدائے ته دَ مجمعے په وخت په حوریب کښے کړے وُو چه نهٔ خو دَ خداوند خپل خدائے بیاواورم اونهٔ داسے لوئ وُور اُووینم دَ پاره دَدے چه مړنهٔ شم - اوخداوند ماته اُووئیل چه هغوئ څه وائی هغه ټیک وائی - ځه به دَهغوئ دَ پاره هم دَ هغوئ دَ رُونړو نه ستا پشان یونبی را اُوچت کړم اوخپل کلام به دَ هغه په خُله کښے واچوم" په دِے کلام کښے دَ حوریب ته مُراد هغه غرد ے چه په کوم ځائے کښے حضرت موسیٰؑ ته په اول ځل دَ شریعت حکمونه ورکړے شوی وُو - اودَ بنی اسراء یلو دَ کوم درخواست ذکر چه په دِے کښے شوے دے دَهغے مطلب داد ے چه که چرے بیامونږ له شریعت راکړے کیږی نودَ یرے په هغه حالا توکښے دِے نهٔ راکړے کیږی کوم چه دَ حوریب غر په لمن کښے دَ شریعت ورکولو په وخت کښے پیدا کړے شوی وُو - دَهغه حالا توذکر په قرآن مجید کښے هم موجود دے اوپه بائیبل کښے هم - (اُوګورئ البقره، آیتونه ۵۵ - ۵۶ - ۶۳ - الاعراف، آیتونه ۱۵۵ - ۱۷۱ - بائیبل، کتاب خروج ۱۹: ۱۷ - ۱۸) - دَدے په جواب کښے حضرت موسیٰؑ بنی اسراء یلوته وائی چه اللہ تعالیٰ ستاسو ادرخواست قبول کړے دے، هغه فرمائی چه ځه به دَهغوئ دَ پاره یوداسے نبی را اُوچت کړم چه دَ هغه په خُله کښے به ځه خپل کلام واچوم - یعنی آیندہ به دَ شریعت ورکولو په وخت کښے دَ یرے هغه حالات نهٔ پیدا کړے کیږی کوم چه دَ حوریب غر په لمن کښے پیدا کړے شوی وُو، بلکه اُوس چه کوم نبی ته دا منصب حواله کړے کیږی دَهغه په خُلهٔ کښے به بس دَ اللہ کلام اچولے کیږی اوهغه به هغه دَ خدائے مخلوق ته اورَوی - په دِے تشریح باندِ دَ غور کولونه روستو په دِے خبره کښے هیڅ شک نهٔ پاتے کیږی چه دا پیښ کوئی صرف په محمد صلی اللہ علیه وسلم باندِ صادقه راځی - دَحضرت موسیٰؑ

وَمُبَشِّرًا بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ ؕ

اوزیږے درکوُنکے یم دَ یو رسول چه ځمانه روستو به راځی اونوم به ئے اَحْمَدُ وی۔ ۵۸

نه روستو مُستقل شریعت صرف نبیؐ ته ورکړے شو، دَهغے دَورکولو په وخت کښے دا سے غونډه اُونه شوه لکه څنګه چه دَ حورب غرپه لمن کښے دَ بنی اسراءیلو شوی وه، اودَ شریعت دَ حکمونو ورکولو په موقع باندِ په یووخت کښے هم هغه حالات پیدا نه کړے شو کوم چه هلته پیدا کړے شوی وُو۔

۵۸ دادَ قرآن مجید یو ډیر اهم آیت دے چه دَ اسلام دَ مخالفینو دَ طرفنه پرِ ډیر کوشش هم شوے دے اودَ ډیر غټ خیانت نه هم کار اغستے شوے دے، ځکه چه په دِے کښے داویلے شوی دی چه حضرت عیسٰی علیه السّلام دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم صفا صفانوم اغستے وُو او دَ هغه دَ راتلوزیږے ئے ورکړے وُو۔ نو په دِے وجه ضروری ده چه په دِے باندِ په تفصیل سره بحث اُوکړے شی۔

۱۔ په دِے کښے دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نوم احمد بنود لے شوے دے۔ دَ احمد دوه معنے دی۔ یوهغه سړے چه دَالله دَ ټولونه زیات تعریف کونکے وی، دویم هغه سړے چه دَهغه دَ ټولونه زیات تعریف شوے وی، یاچه په بندګانو کښے دَ ټولونه زیات دَ تعریف قابل وی، دَ صحیح احادیثو نه ثابته ده چه دا هم دَ نبیؐ یو نوم وُو۔ په مُسلم او ابوداؤد طیالسی کښے دَ حضرت ابوموسٰی اشعریؓ روایت دے چه نبیؐ اُوفرمائیل چه انا محمّد و انا احمد والحاشر..... "ځه محمّد یم اوځه احمد یم اوځه حاشر یم ....." دا قسم روایتونه دَ دَ حضرت جُبیر بن مُطعِم نه امام مالک، بُخاری، مُسلم، دارمی، تِرمذی او نَسائیؒ نقل کړی دی۔ دَ نبیؐ دا نوم په صحابو کښے ډیر مشهور وُو، دَ حضرت حسّان بن ثابت شعر دے:

صلی الالٰه ومن یحف بعرشه والطیبون علی المبارك احمد

"الله اودَ هغه دَ عرش نه ګیرچاپیره راغونډ و شوُو فرښتو او ټولو پاکو مسټو په برکتناک احمد باندِ درود لیږلے دے"۔

دَ تاریخ نه هم دا ثابته ده چه دَ نبیؐ نوم مبارک صرف محمّدؐ نه وُو بلکه احمد هم وُو۔ دَ عربو ټول لیک دَدے خبرې نه خالی دے چه دَ نبیؐ نه مخکښے دَ چا نوم احمد کیښود لے شوے وُو۔ اودَ نبیؐ نه روستو احمد او غلام احمد دَ دومره خلقو نومونه کیښود لے شوی دی چه دَ هغے شمار نشی کیدے۔ دَدے نه زیات ثبوت دَدے خبرې څه کیدے شی چه دَ نبوت دَ زمانے نه واخله دَ تر زمانے پورے په ټول اُمّت کښے دَ دَ هغه دا نوم معلوم اومشهور دے۔ که دَ نبیؐ دا نوم نه وے نو چا چه دَ خپلو چو نه غلام احمد نوم کیښود لے دے نو هغوئ آخر خپلو بچو ته دَ کوم احمد غلام وئیلو؟

۲۔ انجیل یوحنّا په دِے خبره ګواه دے چه دَ مسیح دَ راتلو په زمانه کښے بنی اسراءیل دَ دریو کسانو په انتظار وُو۔ یو مسیح، دویم ایلیا (یعنی دَ حضرت الیاس دوباره راتلل)، اودریم "هغه نبی"۔ دَ انجیل الفاظ دا دی،

" اوړ یوحنّا (حضرت عیسیٰ علیہ السّلام) گواهی داده چه کله یهود یانو ډ
ډیرشلم نه کاهن اولاوی ډ ده تپوس ډ پاره هغه ته اولیږل چه ته
څوک ئے ، نوهغه اقرار اوکړو او انکار ئے اونه کړو بلکه اقرار ئے اوکړو
چه څه خرمسیح نه یم ، هغوی ډهغه نه تپوس اوکړو نو بیا څوک ئے ؟ آیا
ته ایلیاه ئے ؟ هغه اووئیل څه نه یم ؟ آیا ته هغه نبی ئے ؟ هغه جواب
ورکړو چه نه ۔ نوهغوی هغه ته اووئیل نو بیا ته څوک ئے ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔
هغه اووئیل څه په بیابان کښے ډ یو آواز کونکی آواز یم چه تاسو ډ خداوند
لاره نیغه کړئ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ هغوی ډ هغه نه داتپوس اوکړو چه که چرے ته
نه مسیح ئے ، نه ایلیاه ، نه هغه نبی ، نو بیا بپتسمه (غسل) ولے
ورکوے ؟

(باب ۱ ، آیتونه ۱۹ ۔ ۲۵)

دا الفاظ په وے خبره څرګند دلالت کوی چه بنی اسراءیل ډ حضرت مسیح اوډ حضرت الیاس
نه علاوه ډ یوبل نبی په انتظار هم وُ ، اوهغه حضرت یحییٰ نه وو ۔ ډ هغه نبی ډ راتلو عقیده
په بنی اسراءیلو کښے دومره مشهوره وه چه " هغه نبی " وئیل کږیا ډ هغه طرفته ډ اشارے
کولو ډ پاره بالکل کافی وُ ، ډ ده وینا ضرورت هم نه وُ وچه " خبی ئے په توراة کښے
ورکړے شوے دے " ۔ اوډ ده نه داهم معلومه شوه چه ډ کوم نبی طرفته هغوی
اشاره کوله ډ هغه راتلل قطعی طور ثابت وُ ، ځکه چه هرکله ډ حضرت یحییٰ نه دا
تپوسونه اوشو نوهغه دا اونه ووئیل چه بل نبی نه راځی تاسو ډ کوم نبی په
حقله تپوس کوئ ؟

۳ ۔ اوس هغه پیشن ګویانے اوګورئ کوے چه په انجیل یوحنا کښے مسلسل ډ باب
۱۴ نه ډ ۱۶ پورے نقل کړے شوی دی ،

" او څه به پلار ته درخواست کوم نوهغه به تاسوله دویم مددګار درکوی
چه همیشه ستاسوسره وی ، یعنی حق رُوح چه دُ نیا ئے نه شی حاصلولے
ځکه چه نه هغه وینی نه ئے پیژنی ۔ تاسوهغه پیژنئ ځکه چه هغه ستاسو
سره وُسی او په تاسوکښے ډ ننه دے " (۱۴ : ۱۶ ۔ ۱۷) ۔

" ما دا خبرے ستاسو په ملګرتیا کښے ستاسوسره اوکړے لیکن مددګار یعنی
رُوح القدس چه پلار به ئے زما په نوم راولیږی هغه به تاسوته ټولے خبری بنائی
اوځه چه ما تاسوته وئیلی دی هغه ټول به درته درپادکړی (۱۴ : ۲۵ ۔ ۲۶) ۔

" ډ ده نه روستو به څه ستاسوسره ډیرے خبری نه کوم ځکه چه ډ دُ نیا
سردار راځی اوپه ما کښے ډ هغه هیڅ نشته " (۱۴ : ۳۰) ۔

" لیکن کله چه هغه مددګار راشی چه څه به ئے تاسوته ډ پلار ډ طرفنه در
اولیږم ، یعنی ډ رښتیا وُ رُوح چه ډ پلار نه راوځی ، نوهغه به زما گواهی کوی " (۱۵ : ۲۶) ۔

" لیکن څه تاسوته رښتیا وایم چه زما تلل ستاسو ډ پاره فایده مند دی ځکه چه که چرے
څه لاړ نه شم نوهغه مددګار به تاسوته نه راځی ، لیکن که چرے لاړم نوهغه به تاسوته در اولیږم "
(۱۶ : ۷) ۔

" زما به تاسوته نور ډیر څه خبری کوم خو اوس تاسو هغه نه شئ برداشت کولے ۔ لیکن چه

هله یعنی د ربښتیا رُوح راشی نو هغه به د ټولې ربښتیا ټولې لارې اُوښائی ځکه چه هغه به د خپل طرفنه نه وائی لیکن چه څه اُوری هغه به وائی او تاسوته به راتلونکی خبری بنائی ۔ هغه به ځما بزرګی ظاهروی ۔ ځکه چه هغه به خاص ځما څخه حاصلوی او تاسوته به خبر درکوی ۔ څه چه د پلار دی هغه ټول ځما دی ۔ په دې وجه ما اُوویل چه هغه به خاص ځما څخه حاصلوی او تاسوته به خبر درکوی" (۱۶: ۱۲-۱۵)۔

۴ - دَدې عبارتونوڅخه معلومیږی چه دا پوهه راوستل ضروری دی چه د مسیح علیه السّلام او د هغه د زمانې د فلسطین عامه ژبه هغه اړامی ژبه وه چه هغه ته سُریانی (Syriac) ژبه ویلے کیږی ۔ د مسیح د پیدا کیدونه دوه دیم سوه کاله مخکښې د سلوقی (Seleucide) اقتدار په زمانه کښې دَدې علاقې نه عبرانی ژبه رخصت شوی وه او د هغې پرځائے سُریانی ژبه راغلی وه ۔ اګرچه د سلوقی اوسیاد روی سلطنتونو د اثر نه یونانی ژبه هم دې علاقې ته رارسیدلی وه، لیکن هغه صرف هغه طبقې وینلې څوک چه د سرکار په دربار کښې وُو یا ځائے د سرکار دربارته ځان رسول غوښتل او دَدې خاطره ځائے یونانیت اختیارکړے وُو ۔ د فلسطین عام خلقو به د سُریانی ژبې یو خاص طرز (Dialect) استعمالولو چه د هغې وینا به د دمشق په علاقه کښې د سُریانی ژبې د وینا نه مختلفه وه، او دَدې ملک عام خلق د یونانی ژبې نه دومره ناخبره وُو چه کله په ۷۰ء کښې یروشلم باندې د قبضې کولونه روستو رُومی جنرل ټیټس (Titus) د یروشلم خلقوته په یونانی ژبه کښې خطاب اُوکړو نو د هغې ترجمه په سُریانی ژبه کښې اُوکړې شوه ۔ دَدې نه داخبره پخپله معلومیږی چه حضرت مسیح خپلو شاګردانوته څه ویلی وُو هغه به خامخا په سُریانی ژبه کښې وُو۔

دویمه داخبره پیژندل ضروری دی چه د بائیبل څلورواړه انجیلونه هغه عیسایانو لیکلی دی چه ژبې یونانی وه او د حضرت عیسیٰؑ نه روستو په دې مذهب کښې داخل شوی وُو ۔ هغوی نه د حضرت عیسیٰ اقوال او اعمال د سُریانی ژبې وَیُونکو عیسایانو په ذریعه د تحریر په شکل کښې نه ٔ بلکه د زبانی روایتونو په شکل کښې ورسیدلی وُو او د څه سُریانی روایتونه هغوی په خپله ژبه کښې ترجمه کړی وُو او بیائے لیکلی وُو ۔ په هغې کښې یو انجیل هم د ۷۰ء نه مخکښې نه دے لیکلے شوے، او انجیل یوحنّا خود حضرت عیسیٰؑ نه سل کاله روستو غالباً چه د ایشیائے کوچک په اِفسُس ښار کښې لیکلے شوے دے ۔ او بله داچه دَدې انجیلونو هم اصلی شکله په هغه یونانی ژبه کښې محفوظ نه ٔ ده په کومه ژبه کښې چه اوّل دا لیکلے شوی وُو ۔ د چاپخانې د جوړیدونه مخکښې چه څومره یونانی لیکونه ځائے په ځائے په تلاش سره راجمع کړے شوی دی په هغې کښې یولیک هم د څلورو صدیو نه مخکښې نه دے ۔ په دې وجه داوئیل مشکل دی چه په دریو صدیو کښې به په هغې کښې څه ردو بدل شوے وی ۔ دا معامله چه خاص طور د کوم څیز په وجه شکمنه کیږی هغه دادے چه عیسایان په خپلو انجیلونوکښې د خپلې خوښې مطابق قصداً ردوبدل کول بالکل جائز ګڼی ۔ دانسائیکلو پیډیا برټانیکا (ایډیشن ۱۹۶۷ء) د مضمون "بائیبل" مُصنّف لیکی:

"په انجیلونوکښې داسے څوکنډ ردوبدل قصداً شوی دی لکه چه مثلاً حُیٰنی پوره پوره عبارتونه د بل ځائے نه راغستل او په کتاب کښې شاملول .... دا ردوبدل بنکاره هغه خلقو په قصد کړے دے چه په اصلِ کتاب کښې د شاملولو د پاره

ورته دَ چرته نه څه مواد ملاؤ شو، اوهغوئ خپل ځان دَ ځبری جوړه کړو
چه دَ کتاب دَ بهتره کولو دَ پاره په هغے کښے دَ خپل طرفنه څه مواد ورزیات
کړی .... دا قسم زیاتوالے زیاد تر په دویمه صدئ کښے شوے وُو او هیڅ
پته نه لږی چه دَ هغے ماخذ څه وُو"۔

په دے صورتِ حال کښے قطعی طور دا وینا کول دیرگران دی چه په انجیلونو کښے دَ حضرت عیسٰی علیه السّلام کومه وینا مونږته ملاویږی چه هغه بالکل ټیک ټیک لیکلے شوی ده او په هغے کښے هیڅ ردّوبدل نه دے شوے۔

دریمه اوڅیره اهمه خبره داده چه دَ مسلمانانو دَ فتحے نه روستو هم تقریباً دَ دریو سَوو کالو پورے دَ فلسطین دَ عیسایانو ژبه سُریانی وه اوچرته په څمه عیسوی صدئ کښے عربی ژبه دَ هغے په ځائے راغلی وه ۔ دَ سُریانی ژبے ویونکو فلسطینیانو په ذریعه چه دَ عیسائ روایتونو په حقله کوم معلومات په اولنو دریو صدُو کښے مسلمانانو عالمانوته حاصل شوهغه پکار دی چه دَ هغه خلقو دَ معلوماتو په نسبت زیات معتبر وی چاته چه دَ سُریانی ژبے نه په یونانی ژبه کښے اوبیا دَ یونانی ژبے نه په لاطینی ژبه کښے دَ ترجمو په ذریعه دا معلومات رارسیدلی دی ۔ ځکه چه دَ هغوئ سره دَ مسیح دَ ژبے اصلی سُریانی الفاظ محفوظ پاتے کیدل زیات ممکن وُو۔

۵ ۔ دا رینبتینے تاریخی حقیقت په نظر کښے لره او اُوګوره چه دَ انجیل یوحنّا په پاسنی عبارت کښے حضرت عیسٰی علیه السّلام دَ خپل ځان نه روستو دَ یورا تلونکی خبر ورکوی اودَ هغه په حقله هغه وائ چه "هغه به دَ دُنیا سردار (سرورِعالم) وی"۔ "همیشه" به وی، "دَ رښتیاوُ ټولے لارے به بنائ"، اوپخپله دَ هغه (یعنی دَ حضرت عیسٰی) "گواهی به ورکوی"۔ یو حنّا په دے عبارتونو کښے "روح القدس" او "دَ رښتیاوُ رُوح" وغیره الفاظ شامل کړے شوی دی اودَ مدّعا دَ غلطولو پوره کوشش شوے دے، لیکن دَ دے باوجود که دا ټول عبارتونه په غور سره اولوستے شی نوصفا معلومیږی چه دَ کوم راتلونکی خبر ورکړے شوے دے هغه رُوح نه دے بلکه انسان دے اوخاص سړے دے چه دَ هغه تعلیم به عالمګیر اوهمه ګیروی، اودَ قیامته پورے به باقی وی۔ دَ غه خاص سړی دَ پاره په اُردو ترجمه کښے لفظ "مددګار" استعمال کړے شوے دے اودَ یوحنّا په اصل انجیل کښے چه دَ یونانی ژبے کوم لفظ استعمال کړے شوے وُو دَ هغے په باره کښے عیسایان په کلکه وائ چه هغه (Paracletus) وُو ۔ لیکن دَ دے په معنی کولو کښے پخپله عیسائ عالمانوته سخت مشکلات راوړاندے شوی دی ۔ په اصلی یونانی ژبه کښے دَ (Paraclete) دیرے معنے دی: یوځائے ته رابلل، دَ امداد دَ پاره اوان کول، یَرَونه اوخبردارے، راپسَخَول، آرزو کول، دُعا غوښتل ۔ بیا دالفظ په هیلینی مفهوم کښے دا معنی لری: تسلّی اوتسکین ورکول۔ حوصله اُوچَتول ۔ په بائیبل کښے چه دالفظ په کوم کوم ځائے کښے استعمال کړے شوے دے په هغه ټولوځایونو کښے دَ دے یوه معنی هم ټیک نه راځی ۔ اُورائجن (Origen) چرته دَ دے (Consolator) ترجمه کړی ده اوچرته (Deprecator) ، لیکن نورو مفسّرینو دا دواړه ترجمے ردکړے ځکه چه اوّل خودا دَ یونانی قاعدے (یعنی گرامر) په لحاظ سره صحیح نه دی ، دویم په ټولو عبارتونو کښے چه په کوم ځائے کښے دالفظ راغلے دے هلته دا معنے نه چلیږی ۔ حُسینو نورو ترجمه کونکو (Teacher) دَ دے ترجمه کړی ده ، لیکن دَ یونانی ژبے دَ استعمالاتو نه دا معنی هم نشی راغستے کیدے ۔ ترتولیان اوآګسټائن لفظ (Advocate) له ترجیح ورکړی ده، اوحُسینو نورو

خلقو (Assistant) ، او (Comforter) ، او (Consoler) وغیره الفاظ لیکلی دی۔ (اُوګوره سائیکلوپیډیا آف بیبلیکل لټریچر، لفظ پیریکلیټس)۔

اُوس دلچسپه خبره داده چه په یونانی ژبه کښے یو بل لفظ (Periclytos) موجود دے چه معنیٰ ئے ده "ستایلے شوے" دالفظ بالکل د "محمّد" معنی لری، اوپه ویناکښے دا لفظ او (Paracletus) یوشان راځی ۔ داهم کیدے شی چه کومو مسیحی خلقو په خپلو مذهبی کتابونو کښے د خپلے مرضئ اود خپلے خوښے مطابق ردّوبدل کولو هغوئ چه د یوحنّا د پیشن گوئی دالفظ د خپلے عقیدے خلاف لیدلے وی نو دَد ے په لیکلو کښے به ئے دالبرشان بدلون راوستے وی۔ دَد ے معلومات تو کولو د پاره د یوحنّا لیکلے شوے اولنے یونانی انجیل هم چرته نشته چه د هغے نه دا تحقیق اُوکړے شی چه په هغے کښے په دِے دواړو لفظونو کښے په اصل کښے کوم یو لفظ استعمال کړے شوے وُو۔

۷ ۔ لیکن فیصله دِے ته هم نه ده ایسارہ چه یوحنّا په یونانی ژبه کښے په اصل کښے کوم لفظ لیکلے وُو، ځکه چه بهرحال هغه هم ترجمه خوره اود حضرت مسیحؑ ژبه ، لکه څنګه چه مونږه بَره ذکر کړے دے د فلسطین سُریانی ژبه وه، نو په دِے وجه هغه چه په خپل زیری کښے کوم لفظ استعمال کړے وی نو پکار دی چه هغه خامخا یو سُریانی لفظ وی ۔ خوش قسمتی داده چه هغه اصلی سُریانی لفظ مونږته د ابنِ هشام دَد ے تشریح سیرت کښے ملا ویږی او ورسره ورسره داهم دَدے کتاب نه معلومیږی چه دَد ے پشان معنیٰ لرونکے یونانی لفظ څه دے۔ د محمد بن اسحاق په حواله سره ابنِ هشام د یُحَنّس (یوحنّا) د انجیل د باب ۱۵ آیتونه ۲۳ تا ۲۷، اود باب ۱۶ د اولنی آیت پورہ ترجمه نقل کړی ده اوپه هغے کښے د یونانی "فارقلیط" په ځائے د سُریانی ژبے لفظ مُنَحَمَنّا استعمال کړے شوے دے ۔ بیا د ابنِ اسحاق یا ابنِ هشام دَد ے تشریح داکړی ده چه د مُنَحَمَنّا معنیٰ په سُریانی ژبه کښے محمّد او په یونانی ئی ژبه کښے پرقلیطُس ده"(ابنِ هشام اول جلد، ص۲۴۸)۔

اُوس اُوکوره چه تاریخی طور د فلسطین د عامو عیسایانو ژبه د نهے عیسوی صَدئ پورے سُریانی ژبه وه۔ دا علاقه د اوّلے صَدئ د نیمے نه په اسلامی مقبوضاتو کښے شامله وه ۔ ابنِ اسحاق په ۷۶۸ء کښے اوابنِ هشام په ۸۲۸ء کښے وفات شوے دے۔ دَد ے مطلب داد ے چه دَدے دواړو په زمانه کښے فلسطینی عیسایانو سُریانی ژبه ویله، او دِے دواړو ته د خپل ملک د عیسائی رعیت سره ربط پیدا کول هیڅ ګران کار نه وُو۔ دارنګه په هغه زمانه کښے یونانی ژبه د یونکی عیسایان هم د لکونو په تعداد کښے په اسلامی مقبوضاتو کښے د ننه اُوسیدل، نو په دے وجه د هغوئ د پاره دا معلومول هم ګران نه وُو چه د سُریانی ژبے د کوم لفظ معنیٰ د یونانی ژبے د کوم لفظ سره یوشان ده۔ اُوس که چرے د ابن اسحاق په نقل کړے شوی ترجمه کښے سُریانی لفظ مُنَحَمَنّا استعمال شوے دے، اوابنِ اسحاق یا ابنِ هشام دَدے تشریح داکړی ده چه په عربی ژبه کښے دَد ے پشان معنیٰ لرونکے لفظ محمّد دے اوپه یونانی ژبه کښے پرقلیطُس دے ، نو په دِے خبره کښے هیڅ شک نه پاتے کیږی چه حضرت عیسیٰ د نبیؑ نوم اغستے وُو او خاص دَهغه د راتلو زیرے ئے کړے وُو، او ورسره ورسره داهم معلومیږی چه د یوحنّا په یونانی انجیل کښے په اصل کښے لفظ (Periclytos) استعمال شوے وُو چه هغه عیسایانو روستو په څه وخت کښے په لفظ (Paractetus) سره بدل کړو ۔

۸۔ دَدے نه هم زیات پخوانے تاریخی شهادت دَ حضرت عبدالله بن مسعود دا روایت دے چه کله نجاشی دَ حبشے مهاجرین خپل دربار ته راأوغوښتل ، اودَ حضرت جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه نه ئے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم تعلیمات واوریدل نوهغه اووئیل : مَرْحَبًا بِكُمْ وَبِمَنْ جِئْتُمْ مِنْ عِنْدِهٖ ، اَشْهَدُ اَنَّهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَاَنَّهُ الَّذِیْ نَجِدُ فِی الْاِنْجِیْلِ وَاَنَّهُ الَّذِیْ بَشَّرَ بِهٖ عِیْسٰی بْنُ مَرْیَمَ (مُسند احمد)۔ یعنی "هرکلے وړی تاسوته اوهغه هستی ته چه دَ چادَ طرفنه تاسو راغلی یئ ـ ځه گواهی کوم چه هغه دَ الله رسول دے اوهم دَ هغه ذکر مونږ ته په انجیل کښے ملاویږی ، اودا هم هغه دے چه زیږے ئے عیسیٰ ابن مریم ورکړی وو" دا قیصه په احادیثو کښے پخپله دَ حضرت جعفر اودَ حضرت اُمِّ سلمےٰ نه هم نقل کړے شوی ده ـ دَ هغے نه یوازے نه دا ثابتیږی چه دَ اوسے صدئ په شروع کښے نجاشی ته دا معلومه وه چه حضرت عیسیٰ علیه السّلام دَ یوے نبی پیشن گوئی کړی ده ، بلکه دا هم ثابتیږی چه دَ هغه نبی دا سے صفا نبنے په انجیل کښے موجود دی چه دَ هغے په وجه نجاشی زرداراے قائمه کړه چه محمد صلی الله علیه وسلم هم هغه نبی دے ـ البته دَدے روایت نه دا نه معلومیږی چه دَ حضرت عیسیٰ دے زیږی په حقله نجاشی ته معلومات هم دَ یوحنّا انجیل په ذریعه شوی وُ او که څه هم ذریعه دَ هغے دَ پیژندگلو په هغه وخت کښے موجوده وه ـ

۹۔ حقیقت دا دے چه یوازے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم په باره کښے دَ حضرت عیسیٰ دَ پیشگویانو دَ پیژندلونه ، بلکه پخپله دَ حضرت عیسیٰ دَ خپلو صحیح حالاتو اودَ هغه دَ اصلی تعلیماتو دَ پیژندلو هم معتبره ذریعه هغه څلور انجیلونه نه دی کوم چه مسیحی کلیسا معتبر انجیلونه (Canonical Gospels) گرزولی دی ، بلکه دَ هغے زیاته قابل اعتماد ذریعه هغه انجیل برناباس دے چه هغے ته کلیسا غیرقانونی او شکمن (Apocryphal) وائی ـ عیسایانو دَدے دَ پټولو په یرکوشش کړے دے ـ په سَوُونو کاله دا دَ دُنیا نه ورک وُو ـ په شپاړسمه صدئ کښے دَدے دَ اطالوی ترجمے صرف یوه نسخه دَ پوپ سکستس (Sixtus) په کُتب خانه کښے موجوده وه اوهیڅاته دَ هغے دَ لوستلو اجازت نه وُو ـ دَ اتلسمے صدئ په شروع کښے هغه دَ یوسړی جان تولینډ لاس له ورغله ـ بیائے په مختلفو لاسونو کښے چکړے خوړلے اَن تردے چه په ۱۷۳۸ء کښے دَ ویانا امپیریل لائبریرئ ته اورسیده ـ په ۱۹۰۷ء کښے دَدے نسخے انگریزی ترجمه دَ آکسفورډ کلیرنډن پریس نسخه خوره شوی وه لیکن غالباً چه دَدے دَ خوریدونه روستو فوراً په عیسایانو کښے دا فکر راپیدا شوچه دا کتاب خودَ هغه مذهب جوړے پریکوی کوم چه دَ حضرت عیسیٰ په نوم یادیږی ـ په دے وجه دَدے چاپ شوی نسخے په خاص تدبیر سره غیبے کړے شوے اوبیا هغځکله دَ هغے دَ چاپ کولو وار رانغے ـ دَدے اطالوی ترجمے یوه بله نسخه چه په اسپینی ژبه کښے شوی وه ، په اتلسمه صدئ کښے موجوده وه ، چه ذکرئ جارج سیل دَ قرآن مجید دَ خپلے انگریزئ ترجمے په مقدمه کښے کړے دے ـ لیکن هغه هم چرته غیبه کړے شوه اونن دَ هغے هم چرته پته نښه نه ملاویږی ـ ما دَ آکسفورډ نه شائع شوی دَ انگریزئ ترجمے یوه فوتوستیټ کاپی لیدلی ده او هغه م لفظ په لفظ لوستلی ده ـ څما خیال دا دے چه دا یو پیرلوئ نعمت دے چه عیسایانو ترِتش دَ تعصب اوضد په وجه خپل ځان محروم ساتلے دے ـ

په مسیحی کتابونو کښے چه دَد ے انجیل ذکر چرته راځئ نوهغه په ویناسره ردکړے شی چه دایو جعلی انجیل دے چه شاید چرته یومسلمان سړی لیکلے دے اودَ برناباس په نوم ئے مشهور کړے دے ، لیکن دا ډیر غټ دروغ دی اوصرف په دِے وجه دا غټ دروغ اُوویلے شوچه په دِے کښے ځائے په ځائے په ځرکند والفاظو سره دَ نبی صلی الله علیه وسلم په حقله پیشن ګویانے ملاویږی اوّل خودَ انجیل دَلوستلونه دا صفا معلومیږی چه دا کتاب دَ مسلمان لیکلے شوے کتاب نشی کیدے ۔ دویم که چرے دا یومسلمان لیکلے وے نو په مسلمانانو کښے به په ګڼ تعداد کښے خور شوے وے اودَ اسلام دَ عالمانو په کتابونو کښے به دَ هغے ذکر ډیر وے۔ لیکن دلته حال داد ے چه دَ جارج سیل دَ قرآن دَ انګریزیٔ ژبے دَ مقدمے نه مخکښے مسلمانانو ته هیڅ دَد ے وجود علم نه ؤُو ۔ طبَری ، یعقوبی ، مسعودی ، البیرونی ، ابنِ حزم او نُور مسلمانان لیکوالان ، چه په مسیحی لټریچر باندِ زیات خبردار ؤُو ، هغوی چه دَ مسیحی مذهب په لړکښے کوم بحث کړے دے په هغے کښے دَ هیڅا په بحث کښے هم انجیل برناباس ته اِشاره قدرله نه ؤ ملاویږی ۔ دَ اسلامی دُنیا په کُتب خانو کښے چه کوم کتابونه موجود ؤُو دَ هغے بهترین فهرستونه دَ ابن ندیم الفهرست اودَ حاجی خلیفه کشف الظّنون دی ، او په هغے کښے هم دَد ے هیڅ ذکر نشته ۔ دَ نولسمے صَدَیٔ نه مخکښے یومسلمان عالم دَ انجیل برناباس نوم قدرله نه ؤ ے اغستے ۔ دریم اودَ ټولونه غټ دلیل دَد ے خبری دَ دروغوالی داد ے چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ پیدا کیدونه هم پخُه اویا کاله مخکښے دَ پوپ کلا سِیَس اوّل په زمانه کښے چه دَ خرابے عقید ے اودَ ګمراه کُن (Heretical) کتابونو کوم فهرست لیکلے شوے ؤُو ، اوچه دَ یوے پاپا ئیٔ فتوے په ذریعه دَ هغے لوستل منع کړے شوی ؤُو ، په هغے کښے انجیلِ برناباس (Evangelium Barnabe) هم شامل ؤُو ۔ خبره داده چه په هغه وخت کښے کوم مسلمان ؤُو چه هغه دا جعلی انجیل تیارکړے ؤُو؟ دا خبره خوپه خپله عیسائیٔ عالمانو منلی ده چه دَ شام ، اسپین ، مصر وغیره ملکونو په اولنی مسیحی کلیسا کښے دَ یوے مودے پورے دَ برناباس انجیل جاری ؤُو اوپه شپږمه صَدَیٔ کښے هغه منع کړے شو۔

۱۰ ۔ په دِے انجیل کښے چه دَ نبی صلی الله علیه وسلّم په حقله دَ حضرت عیسیٰ علیه السّلام کوم زیری دی دَهغے دَ نقل کولونه مخکښے دَ دِے انجیل مختصرشان پیژندګلو ضروری ده ، دَ پاره دَ دِے چه دَ دِے اهمیت معلوم شی اودا خبره هم مخے ته راشی چه عیسایان دَ دِے نه دومره ناراضه وَلے دی ۔

په بائیبل کښے چه کوم څلور انجیلونه شامل کړے شوی دی اوقانونی اومعتبر کرزوَلے شوی دی ، په هغے کښے یو لیکوال هم دَ حضرت عیسیٰ صحابی نه ؤُو ۔ او په هغوی کښے یو هم دا دعویٰ نه ؤ ده کړی چه هغه دَ حضرت عیسیٰ دَ صحابونه معلومات حاصل کړی دی اوبیا ئے په خپل انجیل کښے لیکلی دی ۔ دَ کومو ذریعونه چه هغوی معلومات حاصل کړی دی دَهغے څه حواله هغوی نه ؤ ده ورکړی چه دَ هغے نه دا پته اُولږی چه آیا راوی پخپله هغه واقعات لیدلی دی او هغه قولونه ئے اوریدلی دی چه کوهغه بیانوی یا دَ دِے یا دَ کُنړو واسطو په ذریعه دا خبری هغه ته رسیدلی دی ۔ دَد ے برخلاف دَ انجیل برناباس لیکوال وائی چه څُه دَ مسیح په اولنو دولسو حوارِیانو کښے یم ، دَ اوّل نه دَ آخره پورے دَ مسیح سره پاتے شوے یم اودَ خپلو سترګو لیدلی واقعات اوپه خپلو غوږونو اوریدلی اقوال په دِے کتاب کښے لیکم ۔ یوازے دا نه ؤ بلکه دَ کتاب په آخر کښے هغه وائی چه دَ دُنیا نه دَ رخصتید و په وخت کښے

حضرت مسیح ماته فرمائیلی وُو چه حُما په حقله کومے غلط فهمیانے په خلقو کښے خورے شوی دی هغه صفا کول او صحیح حالات د دُنیا مخے ته راوستل ستا ذمه واری ده ۔

دا برناباس څوک وُو؟ د بائیبل په کتاب اعمال کښے د دے نوم د یوسړی ذکر دی چه یو سړی راځی چه د قبرص د یو یهودی خاندان سره ئے تعلق لرلو ۔ د مسیحیّت د تبلیغ او د مسیح د پیرو کارانو د امداد او د اعانت په سلسله کښے د هغه د خدمتونو په تعریف شوے دے ۔ لیکن دا پکښے هیڅرته نه ئے دی ویئلے شوی چه هغه د مسیح په دین کښے کله داخل شو، او د اولنو دولسو حواریانو نه چه کوم فهرست په دریوا انجیلونو کښے ورکړے شوے دے په هغے کښے هم چرته د هغه نوم لیکلے شوے نه ئے دے ۔ په دے وجه څوک دا ښئی ویئلے چه د دے انجیل لیکوال هم هغه برناباس دے یا بل څوک دے ۔ متی او مرقس چه د حواریانو (Apostals) کوم فهرست ورکړے دے، د برناباس فهرست د هغے نه صرف په دوو نومونو کښے مختلف دے ۔ بوتُوما، چه د هغے په ځائے برناباس خپل نوم ورکړے دے، دویم شمعون قنانی، چه د هغه په ځائے هغه یهوا بن یعقوب نوم اخلی ۔ د لوقا په انجیل کښے دا دویم نوم هم موجود دے ۔ په دے وجه داقیاس کول به صحیح وی چه روستو په څه وخت کښے د برناباس نوم د حواریانو د فهرست نه خارج کړے شوے دے او د هغه په ځائے تُوما نوم داخل کړے شوے دے د پاره د دے چه د برناباس د انجیل نه ځان خلاص کړی، او داقسم بدلون کول په خپلو مذهبی کتابونو کښے د دے خلقو په نزځه ناجائز کارنه وُو ۔

دا انجیل که څوک د تعصب نه بغیر په پرانستو سترګو اولولی او د نوے عهد نامے د څلورو واړو انجیلونو سره د دے مقابله اُوکړی نو د هغه به خامخا دا فکر راځی چه دا د هغه څلورو واړونه ډیر زیات بهتر دے ۔ په دے کښے د حضرت عیسٰی علیه السّلام حالات زیات په تفصیل سره بیان شوی دی او په دا سے طریقه بیان شوی دی لکه چه څوک واقعی هلته ټول هرڅه وینی او په هغه واقعاتو کښے پخپله شریک وی ۔ د څلورو واړو انجیلونو د بے ربطه قیصو په مقابله کښے دا تاریخی بیان زیات مربُوط هم دے او د دے په روانو واقعاتو سړے هم ښه پوهیږی ۔ د حضرت عیسٰی علیه السّلام تعلیمات په دے کښے د څلورو واړو انجیلونو په نسبت زیات واضحه په تفصیل سره او په اثرناکه طریقه بیان شوی دی ۔ د توحید تعلیم، د شرک تردید، د الله تعالیٰ صفتونه، د عباداتو رُوح او د ښو اخلاقو بیان په دے کښے ډیر زُوردار، مدلّل او مفصل دے ۔ دا مضامین چه په کوم عبرتناک مثالونو سره مسیح بیان کړی دی د هغے سلَمه حصّه هم په څلورو واړو انجیلونو کښے نشته ۔ د دے نه دا هم زیات په تفصیل سره معلومیږی چه هغه به د خپلو شاګردانو تربیت په څنګه حکمتی طریقے سره کولو ۔ د حضرت عیسٰیؑ د ژوند، د بیان د طرز او د مزاج نه چه سړے څه لږ ډیر هم آشنا وی او دا انجیل اُولولی نو مجبوراً به دا متی چه دا څه جعلی قیصه نه ده چه کښے روستو چا د خانه جوړه کړی ده، بلکه په دے کښے حضرت مسیحؑ د څلورو واړو انجیلونو په نسبت په خپل اصلی شان کښے زیات څرګند ملګے ته راځی، او په دے کښے د هغه اختلافاتو نوم نشان هم نشته کوم چه په څلورو واړو انجیلونو کښے د هغه په مختلفو قولونو کښے موندے شی ۔

په دے انجیل کښے د حضرت عیسٰیؑ ژوند او د هغه تعلیمات ټیک ټیک د یوې نبی د ژوند او د تعلیماتو مطابق په نظر راځی ۔ هغه خپل ځان د یوې نبی په حیثیت سره پیش کوی ۔ د تیر وشو و تهولو

پیغمبرانو اوکتا بونو تصدیق کوی ۔ هغه صفاوائی چه د پیغمبرانو د تعلیماتونه سوا د حق د پیژندلو بله هیڅ ذریعه نشته ، اوڅوک چه پیغمبران پریږدی هغه په اصل کښے خدائے پریږدی ۔ هغه د توحید ، د رسالت اود آخرت ټیک هغه عقیدے پیش کوی کوم چه ټولو پیغمبرانو پیش کړی دی ۔ د مونځ ، د روژے اود زکاة تلقین کوی ۔ د هغه د مونځونو ذکر چه برنا باس په اکثرو ځایونو کښے کړے دے د هغے نه پته لږی چه هم دا د صبا ، د ما سپښین ، د ماز دیګر ، د ماښام ، د ما ښتن اود تهجد وختونه وُو چه هغه به پکښے مونځونه کول ، او همیشه به ئے د مونځ نه مخکښے اود س کولو ۔ هغه حضرت داؤد او سلیمان ته پیغمبران وائی حالانکه یهودیانو اوعیسایانو هغوی د پیغمبرانو د فهرست نه بهرکړی دی ۔ هغه حضرت اسماعیل ته ذبیح وائی اویو یهودی عالم نه دا اقرار اخلی چه حضرت اسماعیل واقعی ذبیح وُو او بنی اسراء یلو په زُور زبرد ستئ سره د حضرت اسحاق نه ذبیح جوړ کړے دے ۔ د آخرت او د قیامت او د جنّت دوزخ په حقله د هغه تعلیمات تقریباً هم هغه دی کوم چه په قرآن کښے بیان شوی دی ۔

۱۱ ۔ عیسایانو چه په کومه وجه د برنا باس د انجیل نه مخالف دی ، هغه په اصل کښے دا نهٔ ده چه په دے کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلّم په حقله ځائے په ځائے صفا صفا پیشګوئی نه وی ، ځکه چه هغوی خو د نبیٔ د پیدا کیدو نه هم د پیر مخکښے دا انجیل ردکړے وُو ۔ د هغوئی د ناراضګئ د اصلی وجے د معلومولو د پاره لږ شان تفصیلی بحث ضروری دے ۔

اول اول د حضرت عیسیٰؑ پیروکارانو حضرت عیسیٰ صرف نبی منلو ، هغوی به د موسیٰ د شریعت پیروی کوله ، په عقیده او حکمونو او عباتونو کښے به هغوی خپل ځان د نورو بنی اسراء یلونه قطعاً جُدا نهٔ ګڼلو ، او د یهودیانو سره د هغوئی اختلاف صرف په دے خبره کښے وُو چه دوئی حضرت عیسیٰؑ مسیح منلو او په هغه ئے ایمان راوړے وُو او هغوی هغه مسیح نهٔ منلو ۔ روستو چه کله سینټ پال په دے ډله کښے داخل شو نو هغه په رُومیانو ، یُونانیانو او نورو غیر یهودیانو او غیر اسراء یلیانو کښے هم د دے دین تبلیغ شروع کړو ، او د دے غرض د پاره ئے یونّے دین جوړ کړو چه د هغے عقیدے او اُصول او حکمونه د هغه دین نه بالکل مختلف وُو کوم چه حضرت عیسیٰؑ پیش کړے وُو ۔ دا سړے د حضرت عیسیٰؑ مجلس له هډو تلے نهٔ وُو بلکه د هغه په زمانه کښے د هغه سخت مخالف وُو او د هغه نه روستو هم د یرکلونه د هغه د پیروکارانو دُشمن وُو ۔ بیا چه کله هغه په دے ډله کښے شامل شو او یونّے دین جوړ ول ئے شروع کړل په هغه وخت کښے هم هغه چرته د حضرت عیسیٰؑ د یو قول سند پیش نهٔ کړو بلکه خپل کشف او الهام ئے بُنیاد جوړ کړو ۔ د دے نوی دین په جوړ ولو کښے د هغه مخے ته بس دا مقصد وُو چه دین دِ داسے وی چه عام غیر یهودیان (Gentlile) خلق ئے قبول کړی ۔ هغه اعلان اُوکړو چه عیسائی د یهود د شریعت د ټولو پابند یانونه آزاد دے ۔ هغه په خوراک ښکاک کښے د حلالو او د حرامو ټولے پابندیانے ختم کړے ۔ هغه د هلکانو د "سُنّت کولو" حکم هم منسوخ کړو چه خاص طور د غیر یهود یانو خوښ نهٔ وُو ۔ اَن تر دے پورے چه هغه د مسیح د خدائیئ عقیده او د هغه د اِبنُ الله کیدو عقیده او په صلیب باندِ د رُوح ورکولو سره د انسان د ګناهونو د پاره د کفارے جوړیدو عقیده هم جوړه کړه ځکه چه دِ ئے د عامو مشرکانو د مزاج سره د یر مناسبت لرلو ۔ د مسیح اولنو پیروکارانو د دے بدعتونو مخ نیوے اُوکړو ، لیکن سینټ پال چه کومه دروازه پرانستے وه په هغے باندِ د غیر یهودو عیسایانو

دومره ډیرخلق په دې مذهب کښے راشوتل چه د هغې مقابلے ته د غه یومو ټے خلق ټینګ نه شو۔ بیاهم د دریمے عیسوی صدئ د ختمید و پورے ډیرخلق داسے موجود وُو چه د مسیح د خدائی د عقیدے نه به ئے انکارکولو۔ لیکن د څلورمے صدئ په شروع (۳۲۵ء) کښے د نیقیه (Nicaea) کونسل (یعنی غونډے) پولوسی عقیدوته قطعی طور د مسیحیّت مذهب اُوویلو۔ بیارومی سلطنت پخپله عیسائی شواود قیصر تهیو دوسیس په زمانه کښے هم دا مذهب د سلطنت سرکاری مذهب شو۔ دَد ے نه روستو قدرتی خبره وه چه کوم کتابونه دَد ے عقیدے خلاف وی هغه ټول د ردکړے شی اوصرف هغه کتابونه د معتبر اُوګرزولے شی کوم چه دَد ے عقیدے سره مطابقت لری ۔ په ۳۶۷ء کښے اول ځل د اتهانا سیوس (Athanasius) د یوخط په ذریعه د معتبر وکتابونو د یوے مجموعے اعلان اُوشو ، بیا د هغې پخلے (توثیق) په ۳۸۲ء کښے د پوپ د یمسیس (Damasius) د صدارت لاندې یومجلس اُوکړو، اود پنځمے صدئ په آخر کښے پوپ کلاسیس (Gelasius) دا مجموعه صحیح اُوګرزوله اوورسره ورسره ئے د غیرصحیح کتابونو یوه فهرست هم اُولیکلو۔ حالانکه چه د کومو پولوسی عقیدو په وجه د مذهبی کتابونو د معتبرکیدو اود غیرمعتبر کیدو دا فیصله شوی وه ، د هغې په حقله هیڅکله هم یوعیسائی عالم دا دعویٰ نه ده کړی چه په هغې کښې د یوے عقیدے تعلیم پخپله حضرت عیسیٰؑ ورکړے وُو۔ بلکه د معتبر وکتابونو په مجموعه کښے چه کوم انجیلونه شامل دی ، پخپله په هغې کښے هم د حضرت عیسیٰؑ د خپل یو قول نه دَد ے عقیدو ثبوت نه ملاویږی ۔

انجیل برناباس په غیرصحیح کتابونوکښے په دے وجه شامل کړے شوچه هغه د مسیحیّت دَد ے سرکاری عقیدے نه بالکل خلاف وُو۔ دَد ے لیکوال د کتاب په شروع کښے د خپل کتاب مقصد دا بیانوی چه " د هغه خلقو د خیالاتو اصلاح د اُوکړے شی چه د شیطان په دوکه کښے راغلی دی اویسُوع ته ابن الله وائی ، د هلکانو " سُنّت کول " غیرضروری ګڼی، اوحرام خوړا کونه حلالوی، چه په هغې کښے یو دوکه خوړونکے پولوس هم دے "۔ هغه وائی چه کله حضرت عیسیٰؑ په دُنیا کښے موجود وُو په هغه زمانه کښے چه د هغه مُعجزے بنکاره شوے نو د ټولونه مخکښے مشرکانو رُومی سپاهیانو هغه ته خدائے ویئل اوځینوکسانو ورته د خدائے جُوئے ویئل شروع کړل، بیادامرض د بنی اسراءیلو عوامونه هم اُولږیدو۔ په دے باند حضرت عیسیٰؑ سخت پریشانه شو۔ هغه باربار ډیرپه سختئ سره د خپل ځان په حقله دَد ے غلطے عقیدے تردید اُوکړو اوپه هغه خلقوباند ئے لعنت اُولږوچه د هغه په حقله به ئے داسے خبرې کولے۔ بیا هغه خپل شاګردان په ټول یهود یه کښے دَد ے عقیدے د تردید د پاره اُولږول اود هغه په دُعاسره د شاګردانو د لاسه هم هغه معجزے بنکاره کړے شوے چه به پخپله د حضرت عیسیٰؑ نه خلقولیدلے ، د پاره د دَد ے چه خلق دَد ے غلط خیال کولونه منع شی چه دا معجزے د چا د لاس نه بنکاره کیږی هغه ګڼی خدائے یا د خدائے جُوئے دے۔ په دے سلسله کښے هغه د حضرت عیسیٰؑ تفصیلی تقریرونه نقل کړی چه په هغې کښے هغه ډیرپه سختئ سره د دَد ے غلطے عقیدے تردید کړے وُو، اوځائے په ځائے دا لیکی چه حضرت عیسیٰؑ د دَد ے ګمراهئ په خورید و باند ډیر پریشانه وُو۔ دَد ے نه علاوه هغه د پولوُ سی عقیدے هم صفا صفا تردید کړی چه مسیح علیه السّلام په صلیب باند رُوح ورکړے وُو۔ هغه د خپلو ستړکولید لی حالات دا بیانوی چه کله یهوداه اسکریوتی د یهودیانو د سردار

کاهن نه رشوت واغستواو د حضرت عیسیٰؑ د نیسولو د پاره د سپاهیانو سره راغے نو د اللّٰه تعالیٰ په حکم سره څلور و فرښتو حضرت عیسیٰؑ پورته اوچت کړو، او د یهوداه اسکریوتی شکل او آواز ئے بالکل هغه شان کړو کوم چه د حضرت عیسیٰؑ وُو۔ په صلیب (یعنی سُولیٰ) باندِ هم هغه خیژوَلے شوے وُو نهٗ چه حضرت عیسیٰؑ ۔ په دِے طریقه دا انجیل د پولوسی مسیحیّت جرړ ے پریکوی او د قرآن د بیان پوره توثیق (یعنی پخلے) کوی۔ حالانکه د قرآن د نازلیدونه پخُه کم شپږ شلے کاله مخکښے د هغه د ے بیانا تو په وجه مسیحی پادری هغه رد کړے وُو۔

۱۲۔ د د ے بحث نه دا خبره واضحه کیږی چه انجیلِ برناباس په حقیقت کښے د څلورو واړو انجیلونونه زیات معتبر انجیل دے، د مسیح علیه السّلام د تعلیماتو، د هغه د سیرت او د هغه د اقوالو صحیح ترجمانی کوی، او دا د عیسایانو خپله بد قسمتی ده چه د د ے انجیل په ذریعه د خپلو عقیدو د صحیح کولو او د حضرت مسیح د اصلی تعلیماتو پیژندلو کومه موقعه هغوئ ته مِلاوُشوی وه هغه صرف د ضد په وجه هغوئ ضائع کړه۔ د د ے نه روستو مونږه ښه په اطمینان سره هغه زیری نقل کولے شوکوم چه د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم په باره کښے برناباس د حضرت عیسیٰؑ نه روایت کړی دی۔ په دے بشارتونو (یعنی زیرو او پیشګویانو) کښے حضرت عیسیٰؑ په یونیم ځائے کښے د نبیؐ نوم احلی، په یونیم ځائے کښے "رسول اللّٰه" والیٰ، په یونیم ځائے کښے د هغه د پاره لفظ "مسیح" استعمالوی، چرته "قابل تعریف" (Admirable) استعمالوی اوچرته صفا صفا دا سے فقرے فرمائی چه بالکل د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ پشان معنیٰ لری۔ مونږه هغه ټول بشارتونه دلته نشولیکلے، ځکه چه هغه دومره زیات دی چه د هغے نه یوه لویه رساله جوړیږی۔ دلته مونږه صرف د نمونے په طور یو څو لیکو:

"ټول پیغمبران چه خدائے دُنیا ته راليږلی دی، چه په شمار ه یولاک څلور څلویښت زره وُو، هغوئ په ابهام سره (یعنی په کول مول انداز کښے) خبره کړی ده۔ لیکن څُمانه روستو به د ټولو پیغمبرانو او د مقدسو هستیانو نو نُور راځی چه د پیغمبرانو په وَیلے شوُو خبرو باندِ به رښتیا اچوی ځکه چه هغه د خدائے رسول دے" (باب ۱۷)۔

"فریسیانو اولاویانو اُوویُل چه تهٗ نهٗ مسیح ئے، نهٗ الیاس، نهٗ بل نبی، نو تهٗ وَلے شوے تعلیم ورکوے او خپل ځان د مسیح نه هم زیات پیش کوے؟ یسوع جواب ورکړو چه کوے معجزے خدائے پاک ځما د لاس نه ظاهروی د هغے نه دا معلومیږی چه ځُه هغه څه وایم کوم چه خدائے غواړی، کنئ نو ځُه په حقیقت کښے خپل ځان د هغه "مسیح" نهٗ د غټ کنړلو قابل نهٗ یم د کوم ذکر چه تاسو کوئ۔ ځُه خود خدائے د هغه رسول د موزو بند یاد هغه د پیزارد تسمو پرانستلو لائق هم نهٗ یم چاته چه تاسو مسیح وائیٔ، چه ځُمانه مخکښے جوړکړے شوے وُو او ځُمانه روستو به راځی او د صداقت خبری به راوړی د پاره د د ے چه د هغه د دین څه انتها نهٗ وی" (باب ۴۲)۔

"په یقین سره ځُه تاسو ته وایم چه کوم نبی راغلے دے هغه صرف د یوقوم د پاره د خدائے د رحمت د نبے په حیثیت سره پیدا شوے دے۔ داوجه ده چه د هغه پیغمبرانو خبری د هغه خلقونه سِوا چرته په بل ځائے کښے خورے نهٗ شوے چاته چه هغوئ لیږلے

شوی وُو۔ خود خدائے رسول چه کله راشی، گویا چه خدائے به هغه له دَ خپل لاس مُهر ورکړی، اَن تردے پورے هغه به دَ دُنیا هغه ټولو قومونو ته چه دَ هغه تعلیم بیاموهی، نجات او رحمت رَسَوی۔ هغه به په بے خدایه خلقو باندِ دَ اقتدار سره راځی اوبُت پرستی به داسے ختموی چه شیطان به پریشانه شی" دَدے نه وړاندِ دَ شاګرد انوسره په اُوږدبحث کښے حضرت عیسیٰؑ څرګند بیان کوی چه هغه به دَ بنی اسماعیل دَ څانګی نه وی (باب ۴۳)۔

" ځکه څه تاسوته وایم چه دَ خدائے رسول هغه ربنړاده چه په هیڅ سره به تقریباً دَ خدائے پیدا کړے شوُ ټولو څیزونوته خوشحالی نصیب شی ځکه چه دَ هغه پوهے اودَ نصیحت نه، دَ حکمت اودَ طاقت نه، دَ یرَے اودَ محبت نه، دَ احتیاط اودَ پرهیزګارئ دَ رُوح نه ډک دے۔ هغه دَ سخاوت اودَ رحمت، دَ عدل اودَ تقوی، دَ شرافت اودَ صبر دَ رُوح نه بنایسته مُوندلے دے، دا رُوح چه خدائے په خپل مخلوق کښے چاله ورکړے دے دَ هغوئ ټولو په نسبت درے چنده زیات هغه ته ملاوُ شوے دے۔ ځکه برکتناک وخت به وی کله چه هغه دُنیاته راشی۔ یقین اُوکړئ ما هغه لیدلے دے اودَ هغه تعظیم مے کړے دے لکه څنګه چه هر نبی هغه لیدلے دے۔ دَ هغه رُوح ته دَکتو په وجه خدائے هغه له نبوّت ورکړو۔ اوکله چه ما هغه اُولیدو نو ځما رُوح په دے وینا سره دَ تسکین نه ډک شوچه اے مُحمّد، خدائے دِ ستاسَل وی، اوهغه دِ ما ستاَ پیژار دَ تسمو ټولو قابل کړی، ځکه چه کله چرے دا مرتبه راته مِلاوُ شی نوځه به یولوئ نبی اودَ خدائے یوه پاکه هستی شم" (باب ۴۴)۔

"(ځما په تلوسره) دِ ستازړه پریشانه نهٔ شی، مهٔ تهٔ یَرَه کوه، ځکه چه ما تهٔ پیدا کړے نهٔ ئے، بلکه خدائے زمونږه خالق، چه تهٔ ئے پیدا کړے ئے، هم هغه به ستا حفاظت کوی۔ پا تے شوم څه، نو په دے وخت کښے څه دَ خدائے دَ هغه رسول دَ لارے تیارَ ولودَ پاره را غلے یم چه هغه به دَ دُنیا دَ پاره دَ ځان سره نجات راوړی ..... اندریاس اُوویُیل اے اُستاذه، مونږ ته دَ هغه نبنه اُوښایه چه مونږئ اُوپیژنو۔ یَسوع جواب ورکړو هغه به ستاسو پریزمانه کښے نهٔ راځی بلکه ستاسونه به یوځوکاله روستو راځی چه ځما انجیل به داسے مسخ شوے وی چه په مُشکله سره به دیرُش سړی مومنان پاتے شوی وی۔ په هغه وخت کښے به الله په دُنیا باندِ رحم اُوکړی اوخپل رسول به را اُولیږی چه په سر به ئے دَ سپینے وریځے سُورے وی چه دَ هغے په وجه به دَ خدائے مَیَن کنډلے شی، اودَ هغه په ذریعه به دَ خدائے پیژندګلو دُنیا ته حاصله شی۔ هغه به دَ بے خدایه خلقو خلاف دَ ډیر طاقت سره راځی اوپه زمکه به بُت پرستی ختموی۔ اوماته په دِے ډیره خوشحالی ده ځکه چه په دے ذریعه به زمونږ خدائے اُوپیژندلے شی اودَ هغه پاکی به وی اوځما صداقت به دُنیا ته معلوم شی اوهغه به دَ هغه خلقو نه بدله واخلی چه مادَ انسان نه زیات څه څیزګرزَوی ..... هغه به دَ یوداسے صداقت سره راځی چه دَ ټولو پیغمبرانو دَ صداقت نه به زیات څرګند وی" (باب ۴۲)۔

"د خدائے وعدہ په یروشلم کښے، د سلیمان په عبادت خانه کښے د ننه شوی وه، بل ځای نه وه شوی۔ لیکن ځما په خبره یقین اوکړئ چه یو وخت به را شی چه خدائے به خپل رحمت په بل ښار کښے نازل کړی، بیا به په هرځائے کښے د هغه صحیح عبادت کیدے شی، او الله به په خپل رحمت سره په هرځائے کښے ربنتینے مونځ قبلوی ..... ځه په اصل کښے د اسراءیل کورنئ ته د نجات نبی رالیږلے شوے یم، لیکن ځما نه روستو به مسیح راځی، د خدائے رالیږلے شوے، چه د دُنیا ته، چه د هغه د پاره خدائے دا چوله دُنیا جوړه کړی ده، په هغه وخت کښے به په چوله دُنیا کښے د الله عبادت کیږی او د هغه رحمت به نازلیږی" (باب ۸۳)۔

"(یسوع سردارکاهن ته اُوویل) په ژوندی خدائے مې قسم چه هغه ته ځما روح حاضر دے، ځه هغه مسیح نه یم چه د هغه د راتلو انتظار د چولے دُنیا قومونه کوی، چه د هغه وعده زمونږه د پلار ابراهیمؑ سره خدائے په وے وینا کړی وه چه "ستا د نسل په وسیله سره به د زمکے چول قومونه برکت بیاموی" (پیدائش، ۱۸:۲۲)۔ لیکن چه کله خدائے ما د دُنیا نه بوځی نو شیطان به بیا دا بغاوت را پورته کوی چه غیر پرهیزګار خلق ما خدائے او د خدائے خوئے اُومنی۔ د هغے په وجه به ځما خبری او ځما تعلیمات مسخ کړے شی اَن تر دے پورے چه په مشکله به دیرش کسان ایماندار پاتے شی۔ په هغه وخت کښے به خدائے په دُنیا باندِ رحم اُوکړی او خپل رسول به را اُولیږی چه د هغه د پاره هغه د دُنیا دا چول څیزونه جوړ کړی دی، چه د طاقت سره به د جنوب نه راځی او بتان به د بُت پرستانو سره برباد کړی، چه د شیطان نه به هغه اقتدار په زُور واخلی کوم چه هغه په انسانانو باندِ حاصل کړے دے۔ هغه به د ځان سره د خدائے رحمت د هغه خلقو د نجات د پاره راوړی چه په هغه باندِ ایمان راوړی، او برکتناک دے هغه څوک چه د هغه خبری اُومنی" (باب ۹۶)۔

"سردارکاهن پتوس اُوکړو آیا د خدائے د هغه رسول نه روستو به بل نبی هم راځی؟ یسوع جواب ورکړو د هغه نه روستو به د خدائے رالیږلے شوے ربنتینے نبی نه راځی خو د دروغو پیرنبیان به راځی چه ما سره د هغے په پیرغم دے۔ ځکه چه شیطان به د خدائے د عادلانه فیصلے په وجه هغوی اُوچت کړی او هغوی به ځما د انجیل په پرده کښے خپل ځانونه پټوی" (باب ۹۷)۔

"سردارکاهن پتوس اُوکړو چه هغه مسیح به په کوم نوم سره یادیږی او د هغه د راتلو به څه ښے وی؟ یسوع جواب ورکړو د هغه مسیح نوم "د تعریف قابل" یعنی "ستائیلے شوے" دے ځکه چه خدائے کله د هغه رُوح پیدا کړے وُو نو په هغه وخت ئے د هغه دا نوم پخپله کیښود لے وُو، او هلته هغه په یو ملکوتی شان کښے ساتلے شوے وُو۔ خدائے اُوویل "اے محمدؐ، انتظار کوه، ځکه چه ستا د خاطره به ځه جنّت، دُنیا او پرمخلوق پیدا کوم، او هغه به تاله د ځمکے په طور درکوم، اَن تر دے پورے چه څوک په تا برکت لیږی هغه له به برکت ورکړے کیږی او څوک چه په تا لعنت کوی په هغه به لعنت کیږی۔ هرکله چه ځه تا دُنیا ته لیږم نو ځه به تا خپل پیغمبر د نجات په حیثیت سره لیږم۔ ستا خبره

به ریښتینی وی آن تر دے پورے چه زمکه او آسمان به اُوخوزی لیکن ستا دین به نهٔ خوزی - دَهغه برکتناک نوم محمدؐ دے" (باب ۹۷)۔

برناباس لیکی چه په یوموقع کښے حضرت عیسیٰؑ شاګردانوته اُووئیل چه ځما دَ شاګردانو نه به یو (چه روستو بیا معلوم شوچه یهوداه اسکریوتی وُو) دَدیرشو سِکّو په بدله کښے ما دَدُشمنانو په لاس خرڅوی، بیائے اُوفرمایئل،

"دَدے نه روستو ځما یقین دے چه څوک ماخرڅوی هغه به هم ځما په نوم مرکیږی، ځکه چه خدائے به ما دَ زمکے نه پورته واخلی اودَهغه غدّارسړی شکل به داسے بدل کړی چه هرسړے به داګمان کوی چه هغه ځُه یم - بیاهم چه کله هغه په خراب مرګ مړشی نودَ یوے مودے پورے به ځما سپکاوے کیږی - خوکله چه محمّد دَخدائے پاک رسول راشی نوځما هغه بدنامی به لرے کړے شی - اوخدائے به داپه دے وجه کوی چه ما دَهغه مسیح دَصداقت اقرارکړے دے - هغه به ماله دَهغے دا انعام راکړی چه خلقوته به معلومه شی چه ځُه ژوند دے یم اودَهغه ذلت دَمرګ سره ځما هیڅ واسطه نشته" (باب ۱۱۳)۔

"(شاګردانوته حضرت عیسیٰؑ اُووئیل) بے شکه ځُه تاسوته وایم چه کوم چرے دَ موسیٰ دَکتاب نه صداقت نه وے مسخ کړے شوتوخدائے به زمونږه پلار داؤد ته یوبل کتاب نهٔ وے ورکړے - اوکه چرے دَداؤد په کتاب کښے تعریف نهٔ وے شوے نوخدائے به ماله انجیل نهٔ وے راکړے، ځکه چه خداوند زمونږه خدائے بدلیدونکے نهٔ دے اوهغه پتولوانسانانوته اِلّا یوپیغام ورکړے دے - نوکله چه دَ اللہ رسول راشی نوهغه به دَدے دَپاره راځی چه هغه پتول څیزونه صفا کړی په کومو چه بے خدایه خلقو ځما ککړ کړے دے" (باب ۱۲۴)۔

په دے صفا صفا اوتفصیلی پیشن ګوئیانو کښے صرف درے څیزونه داسے دی چه په ظاهره په نظر بشه نهٔ لږی - یوداچه په دے کښے، اودَانجیل برناباس په نورو پیرو عبارتونو کښے حضرت عیسیٰ علیه السّلام دَخپل مسیح کیدونه انکارکړے دے - دویم داچه یوازے په دے عبارتونوکښے نهٔ بلکه دَدے انجیل په پیروڅانونوکښے دَرسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم اصلی عربی نوم "محمّد" لیکلے شوے دے، حالانکه داَپیغمبرانودَ پیشن ګوئیانو عامه طریقه نهٔ ده چه دَروستو راتلونکی هستیٔ اصلی نوم واغستلے شی - دریم داچه په دے کښے نبی صلی اللہ علیه وسلم ته مسیح ویلے شوے دے۔

دَاولنیٔ خبرو جواب دادے چه یوازے په انجیلِ برناباس کښے نهٔ بلکه دَلوقا په انجیل کښے هم داذکر موجود دے چه حضرت عیسیٰؑ خپل شاګردان دَدے خبرې نه منع کړی وُوچه هغه ته مسیح اُووائیٔ - دَلوقا الفاظ دادی، "هغه هغوئ ته اُووئیل، لیکن تاسو ماته څه وایئ؟ پطرس په جواب کښے اُووئیل دَخدائے مسیح - هغه هغوئ ته په تاکید سره حکم اُوکړو چه داچاته مَه وایئ" (۹: ۲۰-۲۱)۔ غالباً دَدے وجه داوه چه بنی اسرائیل دَکوم مسیح په انتظار کښے وُو دَهغه په حقله دَهغوئ داخیال وُو چه هغه به دَتورے په زور دَ حق په دُشمنانو باندِ غالب کیږی، په دے وجه حضرت عیسیٰؑ اُوفرمایئل چه هغه مسیح ځُه نهٔ یم بلکه هغه ځما نه روستو راتلونکے دے۔

دَدویمے خبرې جواب دادے چه دَبرناباس کومه اطالوی ترجمه په دے وخت کښے په دُنیا کښے موجوده په

هغې کښې خودَ نبیؐ نوم بے شکه محمّد لیکلے شوے دے، لیکن داهیڅاته معلومه نهٔ ده چه داکتاب دَځومره ژبونه ترجمه شوے دے اواطالوی ژبے ته وارسیدلی دے۔ ظاهره خبره ده چه اصلی انجیل برنا باس به په سُریانیؒ ژبه کښے وی، ځکه چه هغه دَ حضرت عیسیٰؑ اودَهغه دَملګرو ژبه وه۔ که چرته هغه اصل کتاب وے نو پته لږیدے شوه چه په هغې کښې دَ نبیؐ نوم څه لیکلے شوے وُو۔ اُوس چه کوم قیاس کیدے شی هغه داد ے چه په اصل کتے خوبه حضرت عیسیٰؑ لفظ مُحَمَّنا استعمال کړے وی، لکه څنګه چه مونږه دَابنِ اسحاق دَورکړے شوی انجیل یوحنّا په حواله سنّ ویلی دی۔ بیا به مختلفو ترجمه کونکو په خپلو خپلو ژبو کښے دَدے ترجمے کړی وی۔ دَدے نه روستو به غالباً چه یوترجمه کونکی داایډلی وی چه په پیشن ګوئیؒ کښے دَ راتلونکی پیغمبرکوم نوم ښودلے شوے دے هغه بالکل دَ "مُحَمَّد" معنیٰ لری، نوهغه به دَهغه هم دغه نوم لیکلے وی۔ په دِے وجه تش دَدے نوم دَوجے نه داشُبهه کول هرګز کافی نهٔ ده چه ټول انجیلِ برنا باس یو مسلمان دَ ځانه لیکلے دے۔

دَدریمے خبرې جواب داد ے چه لفظ مسیح په حقیقت کښے یواسراءیلی ټکے دے چه په قرآن مجید کښے خاص طورد َحضرت عیسیٰؑ دَپاره صرف په دِے وجه استعمال کړے شوے دے چه یهود یانوبه دَ هغه دَمسیح کیدونه انکارکوُو، کنیٔ نونهٔ داد َقرآن اِصطلاح جوړے دے نهٔ په قرآن کښے چرته دا دَ اسراءیلی اصطلاح په معنوکښے استعمال کړے شوے دے۔ نوکه چرے دَرسول الله صلی الله علیه وسلّم په حق کښے حضرت عیسیٰ علیه السّلام لفظ مسیح استعمال کړے وی اوپه قرآن کښے دَهغه دَپاره دا لفظ استعمال کړے شوے نهٔ وی نودَدے نه دا نتیجه نشی راایستلے کیدے چه انجیل برنا باس نبیؐ ته یو داسے څیز منسوب کوی چه دَهغې نه قرآن اِنکارکوی۔ په اصل کښے دَبنی اسراءیلو پخوانیٔ طریقه داوه چه یو څیز یا یوسړے به کله دَیو پاک مقصد دَپاره خاص کړے شو نو په هغه څیز باندِ یا دَهغه سړی په سر باندِ به تیل اُومبړلے شوا وهغه به برکتناک (Consecrate) کړے شو۔ په عبرانیؐ ژبه کښے به دَ تیلومَبړلو دِے کارته مسح خلقو ویُیله اوچه په چا به مَبړلے کیدل هغه ته به مسیح وییلے کیدو۔ دَعبادت خانے لوښی به په دِے طریقه مسح کړے شوا ودَ عبادت دَپاره به وقف کړے شو۔ کاهنان چه به دَکهانت (Priesthood) په منصب باندِ مقررکړے شو نوهغوئ به هم مسح کړے کیدل۔ بادشاه اونبی به هم چه کله دَخدائے دَطرفنه دَبادشاهئ یا دَنبوت دَپاره مقررکړے کړے شونوهغوئ به مسح کړے کیدل۔ چنانچه دَبائیبل مطابق دَبنی اسراءیلو په تاریخ کښے د یو مسیحان موندلے کیږی۔ حضرت هارونؑ دَکاهن په حیثیت سره مسیحؑ وُو۔ حضرت موسیٰؑ دَ کاهن اودَ نبی په حیثیت سره، طالوت دَ بادشاه په حیثیت سره، حضرت داوُدؑ دَبادشاه اودَ نبی په حیثیت سره، مَلکِ صَدَق دَبادشاه اودَکاهن په حیثیت سره، اوحضرت اَلیَسُع دَ نبی په حیثیت سره مسیحان وُو۔ روستو بیا داهم ضروری نهٔ وه چه په تیلومَبړلو دِے څوک مقررکړے شی بلکه تش مامورمن الله کیدل به دَمسیح کیدو دَپاره کافی وُو۔ دَمثال په طور اُوګورہ ا۔ سلاطین باب ۱۹ کښے ذکرراغلے دے چه خدائے حضرت الیاس (ایلیاه) نه حکم اُوکړو چه حزائیل مسح کړه چه دَآرام (دمشق) بادشاه شی، اودَ نِمْسی حُوئے یاهومسح کړه چه دَاسراءیل بادشاه شی، اوالیشع (اَلیَسُع) مسح کړه چه ستاپه ځائے نبی شی۔ په دوئ کښے دَهیڅاپه سرباندِ تیل اونهٔ مَبړلے شو۔ بس دَ خدائے دَطرفنه دَهغوئ دَمقرویدو فیصله اَورَوَل ګوپا دَهغوئ مسح کول وُو۔ نودَ اسراءیلی تصوّرمطابق لفظ مسیح په حقیقت کښے دَ "مامورمن الله" معنیٰ لرله اوهم په دِے معنی کښے حضرت

فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٦ وَمَنْ
اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعٰٓى اِلَى الْاِسْلَامِ ۭ
وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝٧ يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ
اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۝٨

خو هر کله چه هغه هغوئ ته د صفا صفا نښو سره راغے نو هغوئ اُو وئیل چه دا خو ښکاره دوکه ده ۔ بنه نو اُوس به د هغه سړی نه غټ ظالم بل څوک وی چه هغه په الله پورے دروغ بُهتان اُوتړی حالانکه هغه ته د اسلام (یعنی الله ته د اطاعت د سر ښکته کولو) دعوت ورکړے کیږی؟ داسے ظالمانو ته الله هدایت نه کوی ۔ دا خلق غواړی چه د خپلو خلو په پوکو د الله نُور مړ کړی او د الله فیصله داده چه هغه به خامخا خپل نُور پوره پوره خوروی اگرکه کافران ئے هرڅومره نه خوښوی۔

عیسیٰ علیه السّلام د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاره دا لفظ استعمال کړے وُو (د لفظ "مسیح" چه کوم اسراءیلی مفهوم دے د هغے د تشریح د پاره اُوګورہ سائیکلوپیډیا آف بیبلیکل لټریچر لفظ "میسیاه")۔

۹ یه اصل کښے لفظ سِحر استعمال شوے دے ۔ سحر دلته د جادو په معنیٰ کښے نه بلکه د دوکے په معنیٰ کښے استعمال شوے دے ۔ په عربی ژبه کښے د جادو پشان دے دا معنی هم مشهوره ده۔ وائی چه سَحَرَهٗ ای خَدَعَهٗ "هغه په فلانی سړی جادو اُوکړو، هغه له ئے دوکه ورکړه"۔ زړه وړونکو ستړکوته "عینٌ ساحرة" وئیلے کیږی، (یعنی ساحرے ستړکے) ۔ په کومه زمکه کښے چه هرطرفته سَراب سَراب ښکاری هغے ته ارضٌ ساحرة وائی ۔ د سپینو زرو د پاسه چه سره زر اُوخیژولے شی نو وائی چه سُحِرت الفضّة ۔ نو د آیت مطلب دادے چه هرکله هغه نبی، چه د هغه د راتلو زیرے حضرت عیسیٰ علیه السّلام ورکړے وُو، د خپلے پیغمبرئ د واضحه نښو سره راغے نو بنی اسراءیلو او د عیسیٰ اُمّت اُووئیل چه دده د نبوّت د دعویٰ ښکاره دوکه ده۔

۱۰ یعنی د الله رالیږلی شوی نبی ته دروغژن اُووائی، او د الله هغه کلام چه د هغه په نبی باندِ نازلیږی هغے ته د نبی خپل جوړ کړے کلام اُووائی ۔

۱۱ یعنی اوّل خو ریښتینی نبی ته د دروغو دعوګیر وئیل څه کم ظلم نه دے، لاچه دده د پاسه دا ظلم اُوشی چه بلونکے د خدائے بندګئ ته را بلل کوی او اُوریدونکے په جواب کښے هغه ته کنځلے اُوکړے او د هغه دعوت ته د نقصان رسولو د پاره دروغ او بُهتان لګول شروع کړی ۔

هُوَ الَّذِیْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰی وَدِیْنِ الْحَقِّ لِیُظْهِرَهٗ
عَلَی الدِّیْنِ كُلِّهٖ ۙ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ۝۹ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا
هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰی تِجَارَةٍ تُنْجِیْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِیْمٍ ۝۱۰

هم هغه دے چه خپل رسول ئے د هدایت اود حق دین سره رالیږلے دے چه هغه په ټول دین باندې غالب کړي اګرکه مشرکان ئے هرڅومره نه خوښوي[۱۳] ـ ع

اے هغه خلقو چه ایمان موراوړے دے ، څه درته اوبنایم هغه تجارت[۱۴] چه تاسو د دردناک عذاب نه بچ کړی ؟

۱۲ه داخبره په ذهن کښے یاده ساتئ چه دا آیتونه په دریمه هجرئ کښے د جنګ اُحُد نه روستو نازل شوی وُ چه اسلام لاصرف په مدینه کښے وُ، د مسلمانانو تعداد صرف یوڅو زره وُو، اوټول عرب د دے دین د ختمولو د پاره ملا تړلی وه ـ د اُحُد په جنګ کښے چه کوم نقصان مسلمانانو ته رسید لے وُ د هغې په وجه د هغوئ د بد به ختمه شوی وه ، اود خواوُ شا قبائیل پرې زړور شوی وُو ـ په دے حالا تو کښے اُوفر، اثلے شو چه د الله دا نُور به څوک مړ نه کړے شی بلکه بنسه به روښانه شی او په ټوله دُنیا کښے به خور شی ـ دا یوه څرګنده پیشن ګوئ ده چه ټکے په ټکی صحیح ثابته شوه ـ د الله نه سِوا په هغه وخت کښے بل چاته دا معلومه وه چه د اسلام مستقبل څه دے ؟ انسان ته خو په هغه وخت کښے دا معلومیدله چه دا یوه مُړه کیدونکی ډیوه ده اود مړکولو د پاره پرتیزے هوا ګانے ورروانے دی ـ

۱۳ه د "مشرکانو" نه مُراد هغه خلق دی چه د الله د بندګئ سره نورے بندګیانے شریکوی، اود الله په دین کښے نُور دینونه ورځائ کوی ـ یعنی هغه خلق چه په دِے خبره راضی نه دی چه د ژوند ټول نظام دِ صرف د یو خدائے په اطاعت اوهدایت باندې قایم وی ـ چه هغوئ په دِے خبره ټینګ ولاړ دی چه د خپلے خوښے د معبودانو بندګی به کوی اود خپلے خوښے د فلسفو اونظریاتو مطابق به خپلے عقیدے ، اخلاقیات اود ژوند تیرَولو نقشه جوړوی ـ د دا سے ټولو خلقو د مزاج خلاف دا فرمائ چه د الله رسول د هغوئ سره د مصالحت کولو د پاره نه دے رالیږلے شوے بلکه د دے د پاره را لیږلے شوے دے چه کوم هدایت اوحق دین هغه د الله د طرفنه راوړے دے هغه په ټول دین یعنی د ژوند په هرارخ باندې غالب کړی ـ دا کار به هغه خامخا کوی ـ که کافران اومشرکان ئے منی نو بیا هم اوکه نه منی نو بیا هم اوکه د هغے نیوی د پاره د پرزُور اُولګوی نو بیا هم ، د رَسول دا مِشن به په هرحالت کښے پوره کیږی ـ دا اعلان د دے نه محکښے په قرآن کښے دوه ځایه شوے دے ـ یو، د سورۃ توبه په آیت ۳۳ کښے ـ دویم ، د سورۃ فتح په آیت ۲۸ کښے ـ اوُس په دریم ځل دلته بیا کیږی ـ (د زیاتے تشریح د پاره اُوګورہ تفہیم القرآن ، دویم جلد ، التوبه حاشیه ۳۲ ، پنځم جلد ، الفتح ، حاشیه ۵۱) ـ

تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ ۭ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝۱۱ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۱۲ وَاُخْرٰى تُحِبُّوْنَهَا ۭ نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيْبٌ ۭ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۱۳

ایمان راوړئ په الله او دَ هغه په رسول[۱۵] باندې، اوجهاد اُوکړئ دَ الله په لارکښے په خپلو مالونوسره او په خپلوځانونوسره ـ هم داستاسو دَ پاره بهتره ده که تاسو پوهیږئ[۱۶]، الله به ستاسو ګناهونه معاف کړی اوتاسو به داسے باغونوته ورننباسی چه لاندې به ټرِ نهرونه بهیږی، اودَ همیشه اُوسیدو په جنتونوکښے به درله بهترین کورونه درکړی دالویه کامیابی ده[۱۷] ـ اوهغه دویم څیز چه تاسو غواړئ هغه به هم درکړی، (یعنی) دَ الله دَطرفنه امداد اونزدے حاصلیدو نکی فتح[۱۸] ـ اے نبی، مومنانوته دَ دے زیرے ورکړه ـ

---

۱۴ تجارت یو داسے څیز دے چه سړے پکښے خپل مال، وخت، محنت او ذهانت او قابلیت دَ دے دَپاره خرچ کوی چه هغه ته نفع حاصله شی ـ په دِے وجه دلته ایمان اوجهاد فی سبیل الله ته تجارت وئیلے شوے دے ـ مطلب دادے که تاسو په دِے لارکښے خپل هرڅه خرچ کړل نوهغه نفع به درته حاصله شی کومه چه وړاندِ بیانیږی ـ هم داخبره دَ سورۀ توبے په آیت ۱۱۱ کښے په یوه بله طریقه بیان کړے شوی ده ـ (اوګورئ تفہیم القرآن، دویم جلد، التوبه، حاشیه ۱۰۶) ـ

۱۵ مومنانوته چه کله اُووئیلے شی چه تاسو ایمان راوړئ، نودَ دے نه پخپله دا مطلب را اُوزی چه مخلص مسلمانان جوړشئ ـ تش دَ ژبے په دعوو اکتفا مه کوئ بلکه چه په کوم څیز سو ایمان راوړے دے دَ هغے دَپاره هرقسم قربانئ کولوته تیار شئ ـ

۱۶ یعنی دا تجارت ستاسو دَ دُنیا دَ تجارتونونه زیات بهتر دے ـ

۱۷ دا دَ دے تجارت اصلی فائیدے دی چه دَ آخرت په همیشه ژوند کښے به حاصلیږی ـ یو، دَ خدائے دَ عذاب نه محفوظ پاتے کیدل، دویم، دَ ګناهونو معافی، دریم، دَ خدائے هغه جنتونوته ورننوتل، چه نعمتونه به ئے همیشه وی زوال به نۀ مومی ـ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْٓا اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ عِيْسَى ابْنُ
مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيّٖنَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۭ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ
نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ فَاٰمَنَتْ طَّاۗىِٕفَةٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ وَ
كَفَرَتْ طَّاۗىِٕفَةٌ ۚ فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلٰي عَدُوِّهِمْ
فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ ۝۱۴

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، د الله مددګار شئ، لکه څنګه چه عیسیٰ ابن مریم حواریانو ته[۱۸] ویلی وُو: "الله طرفته (په بلنه کولو کښے) څوک ځما مددګار دے؟" او حواریانو جواب ورکړے وُو: "مونږه د الله مددګار یُو۔" په هغه وخت کښے د بنی اسراءیلو یوے ډلے ایمان راوړو او بلے ډلے انکار اُوکړو۔ بیا مونږه د دُشمنانو په مقابله کښے د مومنانو تائید اُوکړو او هم هغوی غالب شُو۔[۱۹] ع

۱۸ په دُنیا کښے فتح او کامیابی هم اګرچه د الله یولوئ نعمت دے، لیکن د مومن د ژوند اصلی څیز دا نه دے بلکه د آخرت کامیابی ده۔ داوجه ده چه کومه نتیجه د دُنیا په دے ژوند کښے حاصلیدو نکی ده د هغے ذکر روستو اُوکړے شو او کومه نتیجه چه به په آخرت کښے را اُوزی د هغے ذکر اوّل اُوکړے شو۔

۱۹ د حضرت عیسیٰ علیه السّلام د مُنکرو د پاره په بائیبل کښے عام طور لفظ "شاګرد" استعمال کړے شوے دے، لیکن روستو د هغوئ د پاره "رسول" (Apostiles) ټکے په عیسایانو کښے استعمالیدل شروع شو، په دے معنیٰ کښے نه چه هغوئ کښی د خدائے رسولان وُو، بلکه په دے معنیٰ کښے چه حضرت عیسیٰ په هغوئ د خپل طرفته د تبلیغ یانو په حیثیت فلسطین ته لیږل۔ یهودیانو په د مخکښے نه دا لفظ د هغه خلقو د پاره استعمالولو چه د هیکل د پاره به چندو جمع کولو له لیږلے کیدل۔ دَدے په مقابله کښے د قرآن ټکے "حواری" د دے دواړو مسیحی ټکونه بهتر دے۔ د دے لفظ اصل "حور" دے چه معنیٰ ئے ده سپینوالے دُونی ته حواری ځکه وائی چه هغه جامے په وینځلو سره سپینوی۔ خالص اوبے ګډوڼه څیز ته هم حواری ویُلے کیږی۔ کوم وُړه چه چا نه شوی وی او بُوس تر جُدا کړے کړے شوی وی هغے ته حُوّاری وائی۔ د هغه شان په دے معنیٰ کښے د خالص دوست او د بے غرضه مرستیال د پاره دا لفظ ویُلے کیږی۔ ابن سیّده وائی "هر هغه سړے چه د چا په امداد کولو کښے مبالغه اُوکړی نو هغه د هغه حواری دے" (لسان العرب)۔

۲۰ دا په قرآن مجید کښے آخری ځائے دے چه هغه خلقوته د الله مدد کاران وئیلے شوی دی څوک چه د خدائے مخلوق د الله دَین ته را بلی او د کفر په مقابله کښے د الله د دین د غالب کولو کوشش کوی ۔ دَ دے نه مخکښے هم دا مضمون د سورۃ آلِ عمران په آیت ۵۲ کښے، د سورۃ حج په آیت ۴۰ کښے، د سورۃ محمد په آیت ۷ کښے، د سورۃ حدید په آیت ۲۵ کښے او د سورۃ حشر په آیت ۸ کښے تیر شوے دے، او د دے آیتونو تشریح مونږه په تفہیم القرآن اول جلد، آلِ عمران حاشیه ۵۰ کښے، دریم جلد، الحج، حاشیه ۸۴ کښے، پنځم جلد، سورۃ محمد حاشیه ۱۲ کښے، او سورۃ حدید حاشیه ۴۷ کښے کړی ده، دا رنګه د سورۃ محمد په حاشیه کښے هم د دے مسئلے په یواړخ باندے رڼا اچولی شوی ده ۔ دَ دے باوجود د ځینو خلقو ذهن صفا نه دے او وائی چه هرکله الله تعالیٰ قادر مطلق دے، د ټول مخلوق نه بے نیازه دے، د چا محتاج نه دے او ټول د هغه محتاج دی نو یوبنده آخر د الله څنګه مدد کار کیدے شی ۔ د ذهن صفا کولو د پاره مونږه دلته د دے مسئلے لږ زیات وضاحت کوُو ۔

په اصل کښے دا سے خلقوته د الله مدد کاران په دے وجه نه دی وئیلے شوی چه، معاذالله، الله رب العالمین د څه کار د پاره د خپل مخلوق د امداد محتاج دے، بلکه دا په دے وجه فرمائیلے شوی دی چه د دُنیا په ژوند کښے الله تعالیٰ پخپله انسان ته د کفر او د ایمان د منلو او د نه منلو آزادی ورکړی ده، هغه خلق د خپلے خدائیئ په طاقت په زُور نه مومنان کوی بلکه د خپلو پیغمبرانو او د خپلو کتابونو په ذریعه هغوئ ته د ښے لارے ښودلو د پاره د تذکیر یعنی د یاد دهانئ او د تعلیم او د پوهه کولو او د نصیحت کولو طریقه اختیار وی ۔ دا تذکیر او تعلیم چه څوک په خپله رضا سره قبول کړی هغه مومن دے، چه څوک عملاً حکم منونکے جوړ شی هغه مسلمان، صابر او عابد دے، څوک چه د خدائے نه په یَره یَره ژوند تیرول شروع کړی هغه متّقی دے، څوک چه نیکیانو ته د هرچانه مخکښے منډه وهی هغه محسن دے، او څوک چه د دے نه یو قدم ور وړاندے شی او هغه هم د تذکیر او د تعلیم په ذریعه د خلقو د اصلاح د پاره او د کفر د نظام په ځائے د الله د اطاعت د نظام قایمولو د پاره کار شروع کړی هغه ته الله تعالیٰ خپل مدد کار وائی لکه څنګه چه په دے آیتونو کښے څرګنده وینا شوی ده ۔ که چرے اصلی مقصد د الله مدد کاران وئیل نه وو دے بلکه د الله د دین مدد کاران وئیل وے نو د اَنصارُ الله په ځائے به ئے اَنصارُ دِینِ اللهِ وئیلے وے، د یَنصُرُونَ الله په ځائے به ئے یَنصُرُونَ دِینَ اللهِ وئیلے وے، او د اِن تَنصُرُوا الله په ځائے به ئے اِن تَنصُرُوا دِینَ اللهِ وئیلے وے ۔ هرکله چه د یو خبرې د کولو د پاره الله تعالیٰ پرلپسے په دیرو ځایونو کښے اِلّا یوطرز اختیار کړے دے نو دا په دے خبره باندے دلالت کوی چه اصل مقصد دا سے خلقوته د الله مدد کاران وئیل دی ۔ لیکن دا "مدد کاری" نعوذ بالله په دے معنیٰ کښے نه ده چه د اخلق د الله تعالیٰ یو ضرورت پوره کوی چه د هغے د پاره هغه کښے د هغوئ د امداد محتاج دے، بلکه دا په دے معنیٰ کښے دے چه د اخلق په هغه کار کښے حصّه اخلی چه هغه الله تعالیٰ د زُور په ذریعه نه بلکه د خپلو پیغمبرانو او د خپلو کتابونو په ذریعه کول غواړی ۔

۲۱ په مسیح باندے د ایمان نه راوړونکو نه مُراد یهودیان دی، او د ایمان راوړونکو نه مُراد عیسایان او مسلمانان دواړه دی او الله تعالیٰ دے دواړو له د مسیح په منکرانو باندے غلبه ورکړه ۔ دلته د دے خبرې د بیانولو نه مقصد مسلمانانو ته دا اور ورکول دے چه لکه څنګه اول د حضرت عیسیٰ منونکی د هغه په انکارکونکو باندے غالب راغلی دی، دغه شان به اوس د محمد صلی الله علیه وسلم منونکی د هغه په اِنکارکونکو باندے غالب راځی ۔

تفهم القرآن

الجمعة

٦٢

الجُمُعَة

نوم | د نهم آیت د فقرې اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ نه اخستے شوے دے ۔ اګرچه په دې سورة کښے د جُمعې د مانځه حکمونه هم بیان کړے شوی دی، لیکن "جُمعة" ئے د ټولو مضمونونو عنوان نهٔ دے، بلکه د نُورو سورتونو پشان دا نوم هم د علامت په طور دے ۔

د نازلیدو زمانه | د اولنئ رکوع د نازلیدو زمانه ځه ده، اوغالباً چه دا د خیبر د فتح په موقع یا د هغے نه روستو په نزدے زمانه کښے نازله شوی ده ۔ بُخاری، مُسلم، تِرمذی، نَسائی او ابنِ جریر د حضرت ابوهریرة دا روایت نقل کړے دے چه مونږ ه د نبیؐ سره ناست وُو چه دا آیتونه نازل شو ۔ د حضرت ابو هریره په حقله دا خبره د تاریخ نه ثابته ده چه هغه د صلح حدیبیے نه روستو او د خیبر د فتح نه مخکښے ایمان راوړے وُو ۔ او د خیبر فتحه د ابنِ هِشام د قول مطابق په محرّم کښے، او د ابن سعد د قول مطابق په جمادی الاولیٰ ځه کښے شوی ده ۔ پس قیاس ته نزدے خبره داده چه د یهودیانو د دے آخرۍ قلعے د فتح کولونه روستو به الله تعالیٰ هغوئ ته خطاب کړے وی او دا آیتونه به ئے نازل کړی وی، یا به بیا دا په هغه وخت کښے نازل شوی وی کله چه د شمالی حجاز ټول یهودی کلی د خیبر د انجام په لیدلو سره د اِسلامی حکومت تابع فرمان شوی وُو ۔

دویمه رکوع د هجرت نه روستو په نزدے زمانه کښے نازله شوی ده ۔ ځکه چه نبیؐ کله مدینے ته اُورسیدو نو په پنځمه ورځ ئے جُمعه قایم کړی وه، او د دے رکوع په آخرۍ آیت کښے چه کومے واقعے ته اشاره شوی ده د هغے نه صفا معلومیږی چه هغه په د جُمعے د شروع کیدونه روستو لازماً په دا سے زمانه کښے شوی وی چه خلقونه لا د دینی اجتماعاتو د آدابو پوره تربیت نه وُو مِلا وُشوے ۔

موضوع او مضمونونه | لکه څنګه چه مونږ ه بَره وئیلی دی، د دے سورة رکوعګانے په دوُو جُدا جُدا زمانو کښے نازله شوی دی ۔ په دے وجه د دواړو موضوع جُدا جُدا ده او جُدا جُدا خلقونه شوی ده ۔ اګرچه د دواړو په منځ کښے یوقسم مناسبت شته چه د هغے په وجه دواړه په یوسورة کښے راجمع کړے شوی دی، لیکن د مناسبت نه مخکښے مونږ له پکار دی چه د دواړو موضوعات جُدا جُدا اُو پیژنو ۔

اولنئ رکوع په هغه وخت کښے نازله شوه څه وخت چه د یهودیانو هغه ټول کوششونه ناکام شوی وُو کوم چه د اِسلام د مخ نیوی د پاره په تیرو شپږو شپږو کالو کښے هغوئ کړی وُو ۔

اوّل په مدینه کښے د هغوئ دریو طاقتورو قبیلو بنه پوره زُور لګولے وُو چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم له شکست ورکړی خودَ هغے دا نتیجه را اُوتله چه یوه قبیله پوره تباه شوه او دوه قبیلے د وطن نه شړونکے شوے ـ بیا هغوی د سازشونو په ذریعه د یو قبائیل د ځان سره ملګری کړل او په مدینه ئے حمله اُوکړه لیکن د اَحزاب په غزا کښے هغوئ ټولو شکست اُوخوړو ـ دَدے نه روستو د هغوئ د ټولونه لویه قلا خیبر پاتے شوی وه چه هلته هغه یهودیان هم په کنړ تعداد کښے جمع شوی وُو کوم چه د مدینے نه شړونکی شوی وُو ـ دَدِے آیتونو د نازلیدو په وخت کښے هغه هم په آسانه فتحه شوه ، او یهودیانو څخیله درخواست اُوکړو او هلته ئے د مسلمانانو د ګروندګرو په حیثیت سره اُوسیدل قبول کړل ـ دَدے آخری شکست نه روستو په عرب کښے یهودی طاقت بالکل ختم شو ـ وادی القریٰ ، فَدَک ، تَیما ، تبوک ، ټولو د سُله اُوغورزوله ، اَن تردِے پورے چه د عرب و ټول یهودیان د اِسلام ماتحت شول ـ دا موقع وه چه الله تعالیٰ یوځل بیا په دِے سورة کښے هغوئ ته خِطاب اُوکړو ، او غالباً دا آخری خِطاب وُو چه په قرآن مجید کښے هغوئ ته اُوشو ـ په دِے کښے هغوئ ته درے خبرے فرمائیلے شوی دی :

(۱) تاسو دَدے رسول د منلونه په دِے وجه اِنکار اُوکړو چه دا په هغه قوم کښے را ځلے وُو کوم ته چه به تاسو په سپکاوی سره " اُمیان " وئیل ـ ستاسو دا غلط ګمان وُو چه رسول خامخا ستاسو د قوم نه پکار دے ـ تاسو دا فیصله کړی وه چه ستاسو د قوم نه بهر څوک سړے د پیغمبرئ دعویٰ اُوکړی نو هغه به ضرور دروغژن وی ځکه چه پیغمبری ستاسو د نسل د پاره خاص ده او په " اُمیانو " کښے هیڅکله رسول نشی را تلے ـ لیکن د الله تعالیٰ دَدے اُمیانونه یو رسول را پورته کړے دے چه ستاسو په مخکښے د الله کتاب اُورَوی ، نفسونه پاکوی او هغه خلقوته نیغه لار ښائی چه د هغوئ د بے لارے کیدو حال تاسوته بنه معلوم دے ـ دا د الله فضل دے چه چاله ئے ورکول غواړی هغه له ئے ورکوی ـ د هغه په په فضل باندِ ستاسو اجاره نه ده چه تاسو ئے چاله ورکول اُوغواړئ نو هغه له به ئے ورکوی اوچه چاله نه غواړئ نو نه به ئے ورکوی ـ

(۲) تاسوله توراة درکړے شوے وُو ، خو تاسو د هغے ذمه واری اُونه پاڼدله اونه مو اداکړه ـ ستاسو حال د هغه خر پشان دے چه د هغه په شا باندِ کتابونه بار وی او هغه ته هیڅ پته نه لږی چه په هغه باندِ د څه څیز بار دے ـ بلکه ستاسو حال د خر نه هم زیات خراب دے ـ هغه خو پوهه نه لری لیکن تاسو پوهه لرئ او بیا هم د کتاب الله د ذمه وارئ نه یوازے تیښته نه کوئ ، بلکه قصداً د الله آیتونو ته دروغ هوایئ ـ او دَدے سره ستاسو ګمان دا دے چه تاسو د الله نیاز بین یئ او پیغمبری همیشه ستاسو په نوم لیکلے شوی ده ـ یعنی لکه چه ستاسو را ئے داده چه

که تاسو دَ اللّٰه دَ پیغام حق ادا کوئ اوکه نهٔ ادا کوئ ، خواللّٰه دَ ده خبری پابند دے ، چه هغه به ستاسو نه سِوا بل څوک نهٔ پیغمبر کوی ۔

(۳) تاسوکه چرے واقعي دَ اللّٰه نیازبین وے اوواقعی مودا یقین وے چه دَ اللّٰه په نز ستاسولوئ قدراوعزّت دے نوتاسوبه دَ مرګ نه دا سے نهٔ یَریدئ چه دَ ذِلّت ژوند موقبول دے خومرګ موپه هیڅ شان قبول نهٔ دے ۔ داخوهم دَدے مرګ یَره ده چه په تیروشوو کلونوکښے موبس تش شکستونه خوړلی دی ۔ ستاسوداحالت پخپله دَدے خبری دلیل دے چه دَ خپل عمل نه تاسو پخپله خبریئ ، اوتاسو په زړه کښے ښه پوهه یئ چه که چرے دَ دے عمل سره مړه شونودَ اللّٰه سره به دَ هیڅ نه زیات خوارو ذلیله یو څومره چه په دُنیا کښے یُو ۔

دا دے دَ اولنئ رکوع مضمون ۔ په دِے پسے دویمه رکوع ، چه یوځوکاله مخکښے نازله شوی وه ، په دِے سورۃ کښے په دِے وجه شامله کړے شوی ده چه اللّٰه تعالیٰ دَ یهودیانو دَ سَبْت په مقابله کښے مسلمانانوله جُمعه ورکړی ده ، او اللّٰه تعالیٰ مسلمانان دَدے خبری نه خبردارَول غواړی چه هغوئ دَ خپلے جُمعے سره هغه معامله اُونهٔ کړی کومه چه یهودیانودَ سَبْت سره کړی وه ۔ دارکوع په هغه وخت کښے نازله شوی وه څه وخت چه په مدینه کښے یوه ورځ دَ جُمعے دَ ماڼځه په وخت کښے یوه تجارتی قافله را غله اودَ هغے دَ دُولکوآواز چه دَ خلقوترغوږ شونودَ دولسوکسانونه علاوه باقی ټولو دَ مسجد نبوی نه قافلے طرفته منډه کړه ، حال دا چه په هغه وخت کښے رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلّم خُطبه ورکوله ۔ نودا حکم اُوشوچه دَ جُمعے دَ آذان دَکید و نه روستوهرقسم اغستل خرڅول اونورکارونه حرام دی ۔ دَ مومنانوکاردادے چه په دغه وخت کښے ټول کارونه پریږدی اودَ اللّٰه ذکرته منډه اُوکړی ۔ اوچه کله مونځ ختم شی نوبیاهغوئ ته حق حاصل دے چه دَخپل کاروبار چَلَولو دَ پاره په زمکه کښے خواره شی ۔ دَ جُمعے دَ حُکمونو په باره کښے دَدے رکوع نه یومستقل سورۃ هم جوړیدے شو او دارکوع په بل سورۃ کښے هم شاملیدے شوه ۔ لیکن دارکوع دلته دَ هغه آیتونو سره شامله کړے شوه چه په هغے کښے یهودیانوته دَ خپل بدانجام اسباب بنودلے شوی دی ۔ زمونږ په نز په دیکښے حکمت هم هغه دے کوم چه مونږ وړه وړه بیان کړے دے ۔

سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ مَدَنِيَّةٌ

اٰيَاتُهَا ۱۱ رُكُوْعَاتُهَا ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ① هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ فِي الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا

دَ اللہ پاکی بیانوی هر هغه څه چه په آسمانونو او په زمکه کښے دی ـــــ هغه بادشاه دے، پاک دے، زبردست دے اود حکمتونو خاوند دے۔
هم هغه دے چه په اُمیانو کښے یے هم د هغوئ نه یو رسول راپورته کړو، چه هغوئ ته

لہ د تشریح د پاره اُوګورہ تفہیم القرآن، پنځم جلد، تفسیر د سورة حدید حاشیے ۲۰۱۔ الحشر، حاشیے ۳۶ ـ ۳۷ ـ ۴۱ ـ دَ وړاندے یني مضمون سره دا اولنئ خبره پیرزور مناسبت لري۔ د عرب یهود یانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ذات اوصفتونو کښے اود هغه په کارنامو کښے د پیغمبرئ څرګند ے نښے په خپلو سترګو لیدلے وے، او په توراة کښے چه موسیٰ علیه السّلام کوم څرګند زیرے د نبئ په حقله کړے وُو چه د هغه نه سِوا د بل چاسره نه ٔ برابریدو، د دے ټولو باوجود هغوئ صرف په دے وجه د هغه د پیغمبرئ نه اِنکار کولو چه د هغوئ د خپل قوم اود خپل نسل نه سِوا د بل چا پیغمبری بالکل خوښه نه ٔ وه ـ هغوئ به صفا وئیل چه څه موږ ته راغلی دی موږ نه به صرف هغه منو ـ بل هرڅه تعلیم، چه د غیراسراء یلی پیغمبر په ذریعه راشی، خواه که هغه د خدائ د طرفنه وی، د هغ منلرته هغوئ قطعاً تیار نه ٔ وُو ـ په وړاندے ینو آیتونو کښے په دے عمل باندے هغوئ ته د ملامتیا خبره کیږی نو په دے وجه د کلام شروع د دے فقرے نه شوے ده ـ په دے کښے اولنئ خبره داشوی ده چه د کائناتو هرڅیز د الله تسبیح والئ ـ یعنی دا ټول کائنات په دے خبره ګواه دی چه الله تعالیٰ د هغه ټولو نقصانونو او کمزورِیانو نه پاک دے د کومو په وجه چه یهود یانو د خپل نسل د غوره والی تصوّر قایم کړے دے ـ هغه د چارشته دار نه ٔ دے ـ د هغه په دربار کښے جانبداری (Favouritism) نشته ـ د خپل ټول مخلوق سره د هغه معامله یوشان د عدل او د رحمت اود پالنے ده ـ یو خاص نسل او قوم د هغه نشته چه که هغوی هرڅه اُوکړی خود هغه مهربانیانے په د هغوئ د پاره خاص وی، او د یو نسل او قوم سره د هغه دُشمنی نشته چه که هغوئ هرڅومره بنه وی خود هغه د مهربانئ نه به هغوئ محروم وی ـ بیا اُوفرمایلے شو چه هغه بادشاه دے، یعنی د دُنیا یو طاقت د هغه اختیارات محدود کولے نشی ـ تاسو بندګان یئ اورعیت یئ، تاسوته دا ګُنده دَکله نه ملاؤشوه چه تاسو د انیصله اُوکړئ چه الله ستاسو د هدایت د پاره څوک پیغمبر کړی او څوک نه ٔ ـ د دے نه روستو حکم اُوشو چه هغه پاک دے، یعنی د دے خبری نه بالکل پاک دے چه د هغه په فیصله

عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ

دَهغه آیتونه اَورَوی، دَهغوئ ژوند پاکوی، اوهغوئ ته دَکتاب اودَ حکمت خبری ښائی۔

کښے په خطا اوغلطی وی۔ غلطی ستاسو په عقل فکرکښے کیدے شی، دَهغه په فیصله کښے نشی کیدے۔ په آخرکښے دَاللہ تعالیٰ دوه نُور صفتونه بیان کړے شوی دی۔ یوداچه هغه زبردست دے، یعنی دَهغه نه په جنګ سره څوک ګټه نشی کولے۔ دویم داچه هغه حکیم دے، یعنی څه چه کوی هغه بالکل دَپوهے مطابق وی اودَهغه تدبیرونه داسے مضبوط وی چه په دُنیا کښے څوک هغے له ماتے نشی ورکولے۔

۲ے دلته لفظ اُمّی دَیهودی مفهوم په طورراغلے دے، اوپه دِیکښے یو باریک شان طنز پټ پروت دے۔ دَدے مطلب داد ے چه کومو خلقونه یهودیان په سپکاوی سره اَمیان وائی اودَ ځان په مقابله کښے ئے ذلیله ګڼری، هم په هغوئ کښے غالب اودانا اللہ یورسول راپورته کړے دے۔ هغه پخپله نهٔ دے راپورته شوے، بلکه دَهغه راپورته کولنکے هغه دے چه دَکائناتو بادشاه دے، زبردست دے اوحکیم دے، دَهغه دَطاقت سره جنګیدل ځان خرابول دی، داخلق به ځان خراب کړی اودَهغه هیڅ نشی کولے۔

خبر شه چه په قرآن مجید کښے لفظ "اُمّی" په دِیروځایونوکښے راغلے دے اوپه ټولوځایونو کښے دَهغے یوه معنیٰ نهٔ ده بلکه په مختلفوځایونوکښے مختلفومعنوکښے استعمال شوے دے۔ کله خوهغه دَاهلِ کتابو په مقابله کښے دَهغه خلقودَپارهٔ استعمال کړے شوے دے چه دَهغوئ سره څه آسمانی کتاب نشته چه کښی په هغے باندے عمل کوی، مثلاً فرمائی: قُلْ لِّلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْاُمِّيّٖنَ ءَاَسْلَمْتُمْ (اٰلِ عمران - ۲۰)۔ "دَاهلِ کتابواواَمیانونه ټپوس اوکړه چه آیا تاسواسلام قبول کړو"؟ دلته دَاَمیانونه مُراد دَعربومشرکان دی، اوهغوئ دَاهلِ کتابو، یعنی دَیهودیانواونصاراؤنه جُدا یوه ډله شمارلے شوی ده۔ کله دا لفظ پخپله دَاهلِ کتابو دَاَنْ پرے واودَکتابُ اللہ نه دَنا خبرو خلقودَپارهٔ استعمال شوے دے۔ لکه چه فرمائی: دَ مِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ (البقره - ۷۸)۔ په دے یهودیانوکښے څه خلق اَمّیان دی، دَکتاب علم نهٔ لری، بس خپلے آرزوګانے پیژنی"۔ اوکله دا لفظ خالص دَیهودی مفهوم په طوراستعمال شوے دے چه مُراد ترڅو دُنیا پورې غیریهودیان دی مثلاً فرمائی: ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ (آلِ عمران - ۷۵)۔ یعنی "په هغوئ کښے دَدے خیانت پیدا کیدلو سبب داد ے چه هغوئ وائی چه دَامیانودَ مال په خوړلو کښے په مونږ باندے څه ګناه نشته"۔ اوهم داد ریمه معنیٰ دَدے آیت نه مُراد اخستلے شوی ده۔ دَدے لفظ معنیٰ دَعبرانیٔ ژبے دَلفظ گوئیم پشان ده، چه دَهغے ترجمه په انګریزی بائبل کښے شوی ده، اودَدے نه مُراد ټول غیریهودیان یا غیراسراءیلیان خلق دی۔ (Gentiles)

لیکن دَدے یهودی مفهوم اصلی معنیٰ صرف دَدے دَتشریح کولونه په پوهه کښے نشی راتلے۔ په اصل کښے دَعبرانیٔ ژبے لفظ گوئیم په اوّل کښے صرف دَقومونو په معنیٰ کښے وئیلے کیدو لیکن رُورُو یهودیانو دا اوّل خو دَخپل ځان نه دَنورو قومونودَپارهٔ مخصوص کړو، بیائے ورسره دا معنیٰ شامله کړه چه دَیهودیانو نه سِوا باقی ټول قومونه ناپوهه، بدمذهبه، ناپاکه او ذلیله دی، اَنْ تردے پورے چه دَ

وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝۲ وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا

حالانکه دَدے نه مخکښے هغوئ په څرګنده ګمراهئ کښے پراته وُو۔ او (دَدے رسول پیغمبری) دَ هغه نُورو خلقو

سپکاوی اودَ کړکے په معنی کښے دالفظ دَ یونانیانودَ بَربَری (Barbarian) نه هم وړاندے تیرشوچه هغه به هغوئ دَ ټولوغیر یونانیانودَ پاره استعمالوُو۔ دَ بربَریانو په کتابونوکښے کوئم دَ نفرت قابل خلق دی چه هغوئ انسانی رُوښه نشی کنړلے کیدے، دَ هغوئ سره سفرنشی کیدے، بلکه که دَ هغوئ نه یوسړے ډوبیږی نودَهغه دَ بچ کولوکوشش هم نشی کیدے۔ دَیهودیانوعقیده داوه چه راتلونکے مسیح به اَول ګوئیم هلاک کړی اُوبه ئے سوزَوی اوخاورَ ایرے به ئے کړی (دَ زیاتے تشریح دَ پاره اُوګورہ تفهیم القرآن اول جلد، آلِ عمران، حاشیه ۶۴)۔

۳ په قرآن مجید کښے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم دا صفتونه په څلورو ځایونوکښے بیان کړے شوی دی، اوپه هرځائے کښے دَ هغے دَ بیانولوغرض مختلف دے۔ دَ سورۃ بقرے په آیت ۱۲۹ کښے دَ هغے ذکر اهلِ عربوته دَ دے غرض دَ ښودلودَ پاره شوے دے چه دَ نبی کومه پیغمبری هغوئ دَ ځان دَ پاره یوزحمت اومصیبت ګنړلوهغه په حقیقت کښے یولوئ نعمت دے چه دَ هغے دَ پاره په حضرت ابراهیمؑ اوحضرت اسماعیلؑ دَ الله تعالیٰ نه دُعا ګانے غوښتلے۔ دَ سورۃ بقرے په آیت ۱۵۱ کښے هغه دَدے دَ پاره بیان کړے شوی دی چه مسلمانان دَ نبیؐ قدر اُوپیژنی اودَهغه نعمت نه پوره پوره فائده حاصله کړی کوم چه دَ نبیؐ دَ پیغمبریؐ په شکل کښے الله تعالیٰ هغوئ له ورکړے دے۔ دَ سورۃ آلِ عمران په آیت ۱۶۴ کښے منافقانوته اودَ کمزوری ایمان والاخلقوته دَدے خبری دَ وریادَولودَ پاره دَ هغے بیان شوے دے چه الله تعالیٰ څومره غټ احسان کړے دے چه په هغوئ کښے ئے خپل رسول زالیږلے دے او داخلق څومره غټ بے وقوفان دی چه دَدهٔ قدر نه کوی۔ اُوس په څلورم ځل دا صفتونه په دے سورۃ کښے دلته بیان کړے شوی دی او مقصد ئے یهودیانوته دا خبره ښودل دی چه محمد صلی الله علیه وسلم ستاسو په مخکښے کوم کارکوی هغه څرګند دَ یورسول کارد ے۔ هغه دَ الله آیتونه اوَروی چه دَ هغے ژبه، مضمونونه، دَ بیان انداز اوهرځیز دَدے خبری ګواهی کوی چه واقعی هغه دَ الله آیتونه دی۔ هغه دَ خلقو ژوند پاکوی، دَ خلقو اخلاق اوعادتونه اومعاملات دَ هرقسم ګندګئ نه پاکوی، اودَ اعلا درجے بنه اخلاق ورښائی۔ دا هم هغه کارد ے چه دَدَه نه مخکښے ټولو پیغمبرانو کړے دے۔ بیا هغه صرف په آیتونواَوروَلو اکتفانه کوی بلکه هروخت په خپل قول اوعمل سره اودَ خپل ژوند په نمونے سره خلق دَ الله دَکتاب په منشا پوهه کړی اوخلقوته دَ هغه حکمت او پوهے تعلیم ورکوی چه هغه دَ نن ورځے پورے دَ پیغمبرانونه سوا بل چانه دے ورکړے۔ دا هغه څرګند صفتونه دی چه پیغمبران پرې پیژندے شی۔ بیا دا څنګه ضد دے چه دَ چادَر سالت حق والے دَ هغه دَ کارنامو نه څرګند ثابتیږی دَ هغه دَ منلونه تاسو صرف په دِے وجه انکار اوکړو چه الله هغه ستاسو دَ قوم په ځائے په هغه قوم کښے پیدا کړے دے چه تاسو ورته اُمّی وایئ۔

۴ دا دَ نبیؐ دَ پیغمبریؐ یوبل ثبوت دے چه دَ یهودیانودَ ستړګو غړولودَ پاره پیش کړے شوے دے۔

يَلْحَقُوْا بِهِمْ ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ

دَپارہ هم ده چه اوس لا دَ هغوئ سره نهٔ دی ملاؤ شوی ۔
الله زبردست او حکیم دے ۔ دا دَ الله فضل دے ، چه

دا خلق دَ سَوُ ونوکالُورا سے دَ عربو په زمکه کښے آباد وُو او دَ عربیانو مذهبی او اخلاقی ژوند ، او دَ هغوئ دَ ژوندیو اړیخ دَ هغوئ نه پټ نهٔ وُو ۔ دَ هغوئ پخوانی حالت ته اشاره کیږی چه په یو څوکاله کښے دَ ننه دَ محمد صلی الله علیه وسلم په مشرئ کښے دَ دے قوم حالت څنګه بدل شوے دے هغه ستاسو دَ سترګو په وړاندے دے ۔ ستاسو مخے ته هغه حالت هم دے دے کوم چه دَ اِسلام قبلولونه مخکښے دَ هغوی وُو ۔ هغه حالت هم دے دے کوم چه دَ اِسلام راوړلونه روستو دَ هغوئ شو ، اودَ دے قوم دَ هغه خلقو حالت هم تاسو وینئ چه هغوی لا اسلام نهٔ دے قبول کړے ۔ آیا دا بنکاره فرق چه یو پرونده ئ هم لیدے شی تاسو له دَ دے خبری دَ باور دَ ورکولو دَپاره کافی نهٔ دے چه دا دَ یو نبی نه سِوا دَ بل چا کارنامه نشی کیدے ؟ بلکه دِیته خو دَ پخوانو پیغمبرانو کارنامے هم نشی رسیدے ۔

۵ یعنی دَ محمد صلی الله علیه وسلّم رسالت صرف دَ عربو دَپاره نهٔ دے بلکه دَ ټولے دُنیا دَ هغه قومونو او نسلونو دَپاره هم دے چه اُوس لا په مومنانو کښے شامل شوی نهٔ دی خو روستو دَ هغوئ دی خو وړاندِ به دَ قیامته پورے شاملیږی ۔ اصل الفاظ دی ، وَآخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ ۔ "او نُورخلق دَ هغوئ نه چه اُوس لا دَ هغوی سره نهٔ دی مِلاؤ شوی" ۔ په دِ کښے دَ لفظ "منهم" (د هغوئ نه) دوه مطلبونه کیدے شی ۔ یو دا چه هغه نُورخلق به دَ اَمیانونه وی ، یعنی دَ دُنیا دَ غیر اسراء یلی قومونونه به وی ۔ دویم دا چه هغوئ به محمد صلی الله علیه وسلم منی چه اُوس لا په مومنانو کښے شامل شوی نهٔ دی خو روستو به شاملیږی ۔ دغه شان په دِے آیت کښے دا څرګندَونه شوی ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم ټولو انسانانو ته رالیږلے شوے دے اودَ همیشه دَپاره دے ۔ دَ قرآن مجید نُورهغه ځایونه چه په هغ کښے دا مضمون څرګند بیان کړے شوے دے ، لاندینی دی : الانعام ، آیت ۱۹ ۔ الاعراف ، ۱۵۸ ۔ الانبیاء ، ۱۰۷ ۔ الفرقان ۱ ۔ سبا ، ۲۸ (دَ زیاتے تشریح دَپاره تفہیم القرآن ، ځلورم جلد ، تفسیر دَ سورۃ سبا ، حاشیه ۴۷) ۔

۶ یعنی دا دَ هغه دَ قدرت اوحکمت کارنامه دِ چه په داسے ناپوهه امّی قوم کښے هغه داسے عظیم نبی پیدا کړو چه دَ هغه تعلیم دومره انقلابی دے اواُصول ئے دومره عالمګیر او اَبدی دی چه ټول انسانان پرِ را جمع کیدے شی او یو امّت ترجوړیدے شی او همیشه همیشه دَ هغه اُصولونه رَنړا حاصلولے شی ۔ یو بنا وَتی انسان که هرځومره کوشش کړے دے خو د امقام او د امرتبه ئے هیڅکله حاصلولے نهٔ شوه ۔ دَ عربو غوندِ روستو پاتے قوم خو غټه خبره ده ، دَ دُنیا دَ لوئ قوم دَ ذهین نه ذهین سړے په دِے قدرت نشی لرلے چه دغسے یو قوم حالت مکمل طور بدل کړی ، او یو داسے جامع اُصول دُنیا ته ورکړی چه ټول انسانان پرِ راجمع شی او یو امّت ترجوړ شی او دَ یودین عالمګیر نظام دَ همیشه دَپاره اُوچلولے شی ۔ دا یو معجزه ده چه دَ الله په قدرت سره بنکاره شوی ده ، اودَ الله چه په خپل حکمت سره کوم سړے ، کوم مُلک او کوم قوم خوښ وُوهغه ئے دَ دَ دَپاره غوره کړے دے ۔ په دِے باندِ که دَ یو بے وقوف سړی زړه درد کوی نو کوی دِ ۔

مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝۴ مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا
التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا ۭ بِئْسَ
مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ
الظّٰلِمِيْنَ ۝۵ قُلْ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْٓا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ اَوْلِيَاۗءُ

چاله ئے خوښه وی هغه له ئے ورکوی ، او هغه ډ لوئ فضل خاوند دے ۔

۴ کومو خلقو چه ډ توراة بار کیښود ے شوے وُو خو هغوئ هغه بار اُوچت نه کړو ، ډ هغوئ مثال ډ هغه خر پشان دے چه په هغه باندِ کتابونه بار کړے شوی وی ۔ ډ دے نه هم زیات خراب مثال ډ هغه قوم دے چه هغوئ ډ الله آیتونه دروغ ګڼلی دی ۔ داسے ظالمانو ته الله هدایت نه کوی ۔

دوئ ته اُووایه ، " اے هغه خلقو چه یهودیان جوړ شوی یئ ، که چرے تاسو په دے غاوره یئ چه په ټولو خلقو کښے

۴ ډ دے فقرے دوه معنے دی ۔ یوه عامه او بله خاصه ۔ عامه معنی داده چه په کومو خلقو باندِ په توراة باندِ ډ عمل کولو اودِ هغے مطابق دُنیاته ډ هدایت کولو بار کیښود ے شوے وُو ، لیکن هغوئ نه ئ خپله ذمه واری اُوپیژندله اونه ئ ډ هغے حق ادا کړو ۔ خاصه معنی داده چه کومو خلقو ته توراة راغلے وُو هغوئ له پکار وُو چه ډ ټولونه مخکښے ئ ډ هغه رسول ملګرتیا کړے وے چه ډ هغه ډ راتلو صفا صفا ښے په توراة کښے بنود لے شوے وے ، لیکن هغوئ ډ ټولونه زیات ډ هغه مخالفت اُوکړو او په توراة باندِ ډ عمل کولو حق ئے ادا نه کړو ۔

۵ لکه څنګه چه په خر باندِ کتابونه بار شوی وی او هغه ته معلوم نه وی چه ډ هغه په شا باندِ څه دی ، دغه شان دا توراة دوئ په ځان باندِ بار کړے دے او پته ورته نشته چه دا کتاب ډ څه ډ پاره راغلے دے او ډ دوئ نه څه غواړی ۔

۶ یعنی ډ هغوی حال ډ خر نه هم زیات خراب دے ۔ هغوی خو پوهه نه لری نو په دے وجه معذور دی ۔ لیکن هغوی پوهه لری ۔ توراة پخپله ټولی اونور وته ئے بنائی ۔ ډ دے ډ مطلب نه ناخبره نه دی ۔ بیا هم دوئ قصداً ډ دے ډ هدایت نه مخ اړوی او ډ هغه نبی ډ منلونه انکار کوی چه ډ توراة ډ پیشن ګوئ ترڅه سراسر په حق باندِ دے ۔ دوئ ډ نا پوهتیا په وجه ګنهګار نه دی بلکه سره ډ پوهے ډ الله آیتونو ته ډ دروغو ویلو په وجه مجرمان دی ۔

۷ دے نکتے ته توجه پکار ده ، " اے یهودیانو " ئے نه دی ویلی بلکه " اے هغه خلقو چه یهودیان جوړ شوی یئ " یا " چه کومو خلقو یهودیت اختیار کړے دے " ئے فرمایلی دی ۔ ډ دے وجه داده چه اصل دین

لِلّٰهِ مِنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝٦

بس یواځے تاسو د اللہ دوستان یئ نو د مرګ آرزو اوکړئ که چرے تاسو په دے خپل خیال کښے رښتینی یئ۔"

موسیٰ علیه السّلام او د هغه نه مخکښے او روستو پیغمبرانو راوړے وُو - په هغه پیغمبرانو کښے یو هم یهودی نه وُو اونه د هغوئ په زمانه کښے یهودیت پیدا شوے وُو- دا مذهب په دے نوم د پیر روستو مشهور شوے دے - د دے نسبت هغه خاندان ته شوے دے چه هغه د حضرت یعقوب علیه السّلام د څلورم زوئ د یهوداه د نسل نه وُو - د حضرت سلیمان علیه السّلام نه روستو چه کله سلطنت په دُوو حصّو کښے تقسیم شو نو د اخاندان د هغه ریاست مالک شو او د یهودیه په نوم مشهور شو ، او د بنی اسراءیلو نُورو قبیلو خپل جُدا ریاست قایم کړو چه د سامریه په نوم مشهور شو - بیا اسیریانهٔ یواځے داچه سامریه ریاست ئے تباه کړو بلکه د هغه اسراء یلی قبیلو نوم نشان هم ختم شو کوم چه د دے ریاست جوړ ونکی وو- د دے نه روستو صرف یهوداه ، او د هغه سره د بنِ یامین نسل پاتے شو چه په هغوئ باندِ د یهوداه د نسل د غلبے په وجه لفظ "یَهُود" ور اُوتپلے شو- په دے نسل کښے د ننه چه کاهنانو او ربّیانو او اَحبارو د خپلو خپلو خیالاتو او نظریاتو او میلانا تو مطابق د عقیدو او د رسمونو ریواجونو او د مذهبی قاعدو کومه پاڅه په سَوُونو کالو کښے تیاره کړه ، هغے ته یهودیت وائی - دا پاڅه د څلورمے صدئ قبل مسیح نه شروع شوی وه او د پنځمے صدئ عیسوی پورے جوړ یدله - د اللہ رسولانو چه کوم ربانی هدایت راوړے وُو په دے کښے د هغے د پیرو کمه حصّه شامله ده - او د هغے م اصلی شکل د پیرو حده پورے وُران شوے دے - په دے وجه په قرآن مجید کښے په اکثرو ځایونو کښے هغوئ ته په اَلَّذِيْنَ هَادُوْا سره خطاب شوے دے ، یعنی " اے هغه خلقو چه یهودیان جوړ شوی یئ" په هغوئ کښے تپل اسراءیلیان نه وُو، بلکه هغه اسراء یلی خلق هم پکښے وُو چه هغوی یهودیت قبول کړے وُو - په قرآن کښے چه په کوم ځائے کښے بنی اسراء یلو ته خطاب شوے دے هلته الفاظ "اے بنی اسراءیل" استعمال شوی دی ، او په کوم ځائے کښے چه د یهودی مذهب پیروکارانو ته خطاب شوے دے هلته الفاظ اَلَّذِيْنَ هَادُوْا استعمال شوی دی -

۱۱ په قرآن مجید کښے په پیرو ځایونو کښے د هغوئ د دے دعوے تفصیلات ورکړے شوی دی - مثلاً هغوئ وائی چه د یهودیانو نه سوا به بل څوک جنّت ته نه ورننوزی (البقره - ۱۱۱) - زمونږ سره به د دوزخ وُور هرگز نه لږی ، که مونږ ته سزا ملا ویږی هم خو بس یو څو ورځے به وی (البقره - ۸۰ - اٰل عمران - ۲۴) - مونږ د اللہ ځامن او د هغه خوارِه دوستان یو (المائده - ۱۸) - د غه رنګه یو څو دعوے د یهودیانو په خپلو کتابونو کښے هم ملا ویږی - کم از کم داخبره خو ټولے دُنیا ته معلومه ده چه هغوئ خپل ځان ته د خدائے غوره مخلوق (Cdessn People) وائی او په دے ګمان مست دی چه د خدائے د هغوئ سره خاصه رشته ده او د نورو سره ئے نه ده -

۱۲ دا خبره په قرآن مجید کښے دوه ځله یهودیانو ته شوی ده - اول په سورۃ بقره کښے فرمائیلے شوی وُو "دوئ ته اووایه که چرے د آخرت کُور په ټولو انسانانو کښے صرف تاسو د پاره اللہ خاص کړے دے نو بیا تاسو د

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗٓ اَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ۝ قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ

لیکن دوئ به هرگز دَدے آرزو اُونهٔ کړی په سبب د خپلو هغه عملونو چه دوئ کړی دی[۱۳]، او الله دا ظالمان بنه پیژنی - دوئ ته اُووایه، "چه دَکوم مرګ نه تاسو تښتئ هغه به خامخا تاسو له راځی -

مرګ آرزو اُوکړئ که تاسو په دِے خپل خیال کښے ریښتینی یئ - لیکن دوئ به هرګز دَدے آرزو اُونهٔ کړی د خپلو هغه عملونو په وجه چه دوئ کړی دی، او الله ظالمان بنه پیژنی - بلکه ته به د ټولو انسانانو نه زیات، اَن تردے چه د مشرکانو نه هم زیات هغوئ د ژوند حریص بیا موے - په دوئ کښے څوک غواړی چه زرکاله ژوند ے وی، حال دا چه که عمر ئے اُوږد هم شی خو دا څیز هغه د عذاب نه نشی بچ کولے - د هغوی ټول عملونه د الله په نظر کښے دی" (آیتونه - ۱۴ - ۹۶) - اوس هم دا خبره دلته بیا دوباره شوی ده، لیکن دا هسے تکرار نهٔ دے - د سورۂ بقرے په آیتونو کښے دا خبره په هغه وخت کښے شوی وه چه د یهودیانو سره د مسلمانانو څه جنګ نهٔ وُو شوے - او په دِے سورۂ کښے دا خبره دوباره په هغه وخت کښے شوی ده څه وخت چه د هغوئ سره پیر جنګونه اُوشو او په عرب کښے د هغوی آخری او قطعی طور زُور ختم کړے شو - د دے جنګونو په وجه هغه خبره په تجربے سره ثابته شوه کومه چه اوّل په سورۂ بقره کښے وئیلے شوی وه - په مدینه کښے او په خیبر کښے د تعداد په لحاظ سره د یهودیانو طاقت د مسلمانانو نه په هیڅ طریقه کم نهٔ وُو او د وسائِلو په لحاظ سره د هغوئ نه پیر زیات وُو - بیا د عرب و مشرکان او د مدینے منافقان هم د هغوئ په شا باندِ ولاړ وُو او د مسلمانانو د ختمولو ارادہ ئے کړی وه - لیکن د دَکوم څیز په وجه چه په دے د نه مقابله کښے مسلمانان غالب شوا و یهودیانو شکست اُوخوړ، هغه دا وُو چه مسلمانان به د خدائے په لارکښے د مرګ نه نهٔ یریدل، بلکه په شوق سره به د شهادت د پاره میدانِ جنګ جنګ ته وتل - ځکه چه د هغوئ په دِے خبره یقین وُو چه هغوئ د الله په لارکښے جنګیږی، او په دِے خبره ئے هم کامل یقین لرو چه په دے لارکښے د شهید د پاره جنّت دے - د دے برعکس د یهودیانو حال دا وُو چه هغوی په یوه لارکښے هم سر و رکولو ته تیار نهٔ وُو، نهٔ د خدائے په لارکښے، نهٔ د قوم په لارکښے، نهٔ د خپل سرا و مال او عزّت په لارکښے - هغوی ته صرف د ژوند ضرورت وُو، خواه که هغه هرڅنګه وی - دِے څیز هغوی بزدلان کړی کړی وُو -

۱۳ یعنی د مرګ نه دا تیښته د هغوئ بے سببه نهٔ ده - هغوئ که په ژبه هرڅومره غټے غټے دعوے کوی، لیکن هغوئ ته په زړه ونو کښے بنه معلومه ده چه د خدائے او د هغه د دین سره د هغوئ معامله څنګه ده، او په آخرت کښے به د هغوئ د دُنیا دَدے عملونو څه انجام وی - دا سبب وُو چه هغوی د خدائے عدالت ته د مخامخ ځیدو نه څنډه کوله -

ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ
تَعْمَلُوْنَ ۝٨ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ
الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ۭ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ

بیا به تاسو دهغه (خدائے مخے ته پیش کړے شئ چه هغه په پته او په ظاهره پوهه دے،
نو هغه به درته هغه هرڅه اوښائ کوم چه به تاسو کول ـ ع
اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، کله چه د جمعے په ورځ د مانځه د پاره آواز اوشی[۱۴]
نو د الله ذکر ته منډه کړئ او آغستل خرڅول پریږدئ[۱۵]، داستاسو د پاره ز یاته بهتره ده که

[۱۴] په دے فقره کښے د خبرې خاص طور توجه غواړی ـ یوه داچه په دے کښے د مانځه د پاره د آواز کولو ذکر دے ـ دویمه داچه آواز کول د داسے مانځه د پاره دی چه هغه خاص طور د جمعے په ورځ کول پکار دی ـ دریمه داچه د دے د واړو خبرو ذکر په داسے طریقه نه دے شوے چه تاسو د مانځه د پاره آواز اوکړئ او د جمعے په ورځ یوخاص مونځ اوکړئ، بلکه د انداز بیان نه او د وړاندے روستو عبارت نه صفا معلومیږی چه د مونځ د پاره آواز کول د جمعے خاص مونځ، د واړو د مخکښے نه جاری وُو، البته خلقو دا غلطی کوله چه د جمعے د مونځ د پاره آواز به ئے واوریدو او په راتلو کښے به ئے سُستی کوله او په اغستلو خرڅولو کښے به اخته وُو، دا وجه ده چه الله تعالیٰ دا آیت صرف د دے غرض د پاره نازل کړو چه خلق د دے آواز او د دے خاص مونځ قدر اُوپیژنی او فرض ئے اوکړی او هیڅ ته په منډه ورشی ـ په دے د واړو خبرو چه غور اوکړے شی نو د دے نه دا اصولی حقیقت قطعی طور ثابتیږی چه الله تعالیٰ به رسول الله صلی الله علیه وسلم له داسے حکمونه هم ورکول چه هغه په قرآن کښے نه وی نازل شوی، او په دغه حکمونو باندے عمل کول هغسے واجب وُو لکه څنګه چه په قرآن کښے په نازلو شوو حکمونو باندے عمل کول واجب دی ـ د مونځ د پاره آواز هغه آذان دے چه من په تولہ دُنیا کښے هره ورځ پنځه وخته په هرجومات کښے و یئلے کیږی ـ لیکن په قرآن کښے په یوځای کښے نه دے الفاظ بیان کړے شوی دی، نه چرته داحکم شوے دے چه د مانځه د پاره خلقو ته په دے طریقه آواز کوئ ـ دا څیز رسول الله صلی الله علیه وسلم مقرر کړے دے ـ په قرآن مجید کښے په دوو ځایونو کښے صرف د دے پخلے شوے دے، یو په دے آیت کښے، دویم د سورۃ مائدے په آیت ۵۸ کښے ـ د غه شان د جمعے د کوم خاص مونځ چه من په تولہ دُنیا کښے مسلمانان کوی، د دے هم په قرآن کښے نه حکم شوے دے، نه وخت مقرر شوے دے او نه ئے طریقه بنودلی شوی ده ـ دا طریقه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم جاری کړی ده، او د قرآن دا آیت صرف د دے غرض د پاره نازل شوے دے چه د هغے اهمیت او وجُوب له زُور ورکړی ـ د دے څرګند دلیل باوجود چه څوک دا والی چه شرعی حکمونه صرف هغه دی کوم چه په قرآن کښے بیان شوی دی، هغه په اصل کښے د سنتونه، بلکه پخپله د قرآن نه منکر دے ـ

د وړاندې تلونه مخکښې یوځوخبرې نور ځې هم پیژندل پکاردی ؛

ـــ جُمعه په اصل کښې یواسلامی ټکی دے ۔ د جاهلیت په زمانه کښې به عربیانو ډیے ته یَومِ عَرُوْبَه وئیله ۔ په اسلام کښې چه کله دا د مسلمانانو د راغونډیدو ورځ اُوګرځولے شوه نو دا دے نوم جمعه کیښودے شوه ۔ اګرچه تاریخ لیکونکی وایئ چه کعب بن لؤیّ ، یا قصّیّ بن کلاب هم دا دے ورځے د پاره دا نوم استعمال کړے وُو، ځکه چه په دے ورځ به هغوئ د قریشو غونډه کوله (فتح الباری) ، لیکن د هغوئ په دے کارسره پخوانے نوم بدل نهٔ شو ، بلکه عاموعربیانو به ورته عَرُوْبَه وئیله ۔ نوم په حقیقت کښې په هغه وخت کښې بدل شو کله چه پراسلام کښې دے ورځے دا نوم کیښودے شو ۔

ـــ د اسلام نه مخکښې په اهلِ کتابو کښې دا طریقه موجوده وه چه د هفتے یوه ورځ د عبادت د پاره خاص وه اوهغه د ملّت د پاره یوه نښه (شعار) وه ۔ یهود یانو د دے غرض د پاره د سَبَتْ (یعنی د خالی) ورځ مقرر کړی وه ، ځکه چه په دے ورځ اللّٰه تعالیٰ بنی اسراءیل د فرعون د غلامئ نه آزاد کړی وُو ۔ عیسایانو خپل ځان د یهودیانونه جُدا کړے وُو او د خپل ملت نښه ئے د اتوار ورځ مقرر کړی وه ۔ اګرچه نهٔ حضرت عیسیٰؑ دا دے حکم کړے وُو، نهٔ په انجیل کښې دا دے ذکر چرته راغلے دے ، لیکن د عیسایانو عقیده داده چه په صلیب باندې د دُوځ ورکولونه روستو حضرت عیسیٰؑ په دے ورځ د قبرنه راوتلے وُو او اسمان طرفته تلے وُو ۔ په دے وجه روستنو عیسایانو دا د خپل عبادت ورځ مقرر کړه او بیا په ۳۲۱ء کښې رُومی سلطنت حکم اُوکړو او دا ئے د عالمے چوتئ ورځ مقرر کړه ۔ اسلام دا دے دواړو ملّتونونه د خپل ملّت د جُدا کولو د پاره دواړو ورځو پریښودے او د جمعے ورځ ئے د اجتماعی عبادت د پاره مقرر کړه ۔

ـــ د حضرت عبداللّٰه بن عباس او د حضرت ابومسعود انصاری د روایتونونه معلومیږی چه د جُمعے د فرضیّت حکم په نبی صلی اللّٰه علیه وسلم باندې د هجرت نه لږه موده مخکښې په مکّه کښې نازل شوے وُو ۔ لیکن په هغه وخت کښې هغه په هغې باندې عمل نهٔ شوکولے ، ځکه چه په مکّه کښې اجتماعی عبادت کول ممکن نهٔ وُو ۔ نوکومو خلقو چه د نبیؐ نه مخکښې هجرت کړے وُو او مدینے ته رسیدلی وُو، نبیؐ هغوی ته دا حکم ورکړو لیږو چه د غلته جُمعه قایمه کړی ۔ نو د اولنو مهاجرینو سردار حضرت مُصْعَب بن عُمَیر د د ولسوکسانو سره په مدینه کښې د جُمعے اولینے مونځ اُوکړو (طَبَرانی ۔ دارقُطنی) ۔ د حضرت کعب بن مالک او ابن سیرین روایت دا دے چه د د دے نه هم مخکښې د مدینے انصارو د خپله ځانه (چه لا د نبی حکم ورته نهٔ وُو رسیدلے) په خپلو کښې دا فیصله کړی وه چه په هفته کښې به یوه ورځ راغونډیږو او اجتماعی عبادت به کړُو ۔ د د دے غرض د پاره هغوئ د یهود یانو د سَبْت یعنی د خالی ورځ او د عیسایانو د اتوار ورځ پریښوده او د جُمعے ورځ ئے خوښه کړه او د جُمعے اولینے مونځ حضرت اسعد بن زراره د بنی بیاضه په علاقه کښې اُوکړو او په هغې کښې څلویښت کسان شریک شول (مُسند احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه ، ابن حِبّان ، عبد بن حُمید ، عبدالرزاق ، بَیْهَقی) ۔ د د دے نه معلومیږی چه په هغه وخت کښې د مسلمانانو په زړونو کښې دا مطالبه پرته وه چه دا سے یوه ورځ پکارده چه په هغې کښې د زیات نه زیات مسلمانان راجمع شی او اجتماعی عبادت اُوکړی او مسلمانانو دا هم غوښتله چه هغه ورځ د د خالی او د اتوار ورځ نهٔ وی ، د مسلمانانو د ملّت شعار د د یهود و او د نصاراؤ د شعار نه جُدا وی ۔ دا د صحابه کرامو د اِسلامی ذهنیت یوه

عجیبه کارنامه ده چه اکثر به دَ یو حکم دَ اتلونه مخکښے دَ هغوئ په زړونو کښے دا تلله چه فلانے څیز پکار دے ۔

ـــــ رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دَ هجرت نه مخکښے کوم اولنے کار کړے دے په هغے کښے یو کار دَ جُمعے قایمول هم وُو ۔ چه دَ مکے نه ئے هجرت اُوکړو نو دَ کُل په ورځ قبا ته اُورسیدو، هلته څلور ورځے ایسار شو، دَ جُمعے په ورځ دَ هغه ځائے نه مدینے طرفته روان شو، په لاره کښے دَ بنی عَوف په ځائے کښے وُو چه دَ جُمعے دَ مانځه وخت راغے هم هلته ئے دَ جمعے اولنے مونځ اداکړو (ابنِ هِشام) ۔

ـــــ دَ دے مانځه دَ پاره رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَ زوال نه روستے وخت مقرر کړے وُو، یعنی کوم چه دَ ماسپښین دَ مانځه وخت دے ۔ دَ هجرت نه مخکښے چه حضرت مُصعَب بن عُمَیر ته کوم لیکلے حکم نبیؐ لیږلے وُو په هغے کښے نبیؐ دا فرمائیلی وُو چه فاذا مال النهار عن شطره عند الزوال من یوم الجمعه فتقربوا الی الله تعالیٰ برکعتین (دارقطنی) ۔" کله چه دَ جُمعے ورځ دَ نیمے وُرځے نه واوړی نو دَ دوو رکعتو په ذریعه الله ته نزدیکت حاصل کړئ "۔ دَ هجرت نه روُستو نبیؐ هم داحکم اوکړو نو هم په دغه وخت به ئے عملاً دَ جُمعے مونځ کولو ۔ دَ حضرت انسؓ، حضرت سَلَمَہؓ بن اکوَعؓ، حضرت جابرؓ بن عبدالله، حضرت زُبَیر بن العوّام، حضرت سهلؓ بن سعد، حضرت عبدالله بن مسعودؓ، حضرت عمّارؓ بن یاسر او دَ حضرت بلالؓ نه دغسے روایتونه دَ احادیشو په کتابونو کښے نقل کړے شوی دی چه نبیؐ به دَ جُمعے مونځ دَ زوال نه روستو کولو ۔ (مُسند احمد، بُخاری، احمد، مُسلم، ابوداؤد، نَسائی، ترمذی) ۔

ـــــ دا خبره هم دَ نبیؐ دَ عمل نه ثابته ده چه په دغه ورځ به نبیؐ دَ ماسپښین دَ مانځه په ځائے دَ جُمعے مونځ کولو، دا به صرف دوه رکعته وُو، او دَ دے نه مخکښے به نبیؐ خطبه ورکوله هم دا فرق دَ جُمعے دَ مانځه او دَ عامو ورځو دَ ماسپښین دَ مانځه وُو ۔ حضرت عُمر رضی الله عنه فرمائی: صلوٰۃ المسافر رکعتان، صلوٰۃ الفجر رکعتان، وصلوٰۃ الجمعة رکعتان، تمام غیر قصر علیٰ لسان نبیکم صلی الله علیه وسلم وانما قصرت الجمعة لاجل الخطبة (احکام القرآن للجصّاص) ۔" ستاسو دَ نبیؐ دَ حکم مطابق دَ مسافر مونځ دوه رکعته دے، دَ سحر مونځ دوه رکعته دے، او دَ جُمعے مونځ دوه رکعته دے، دا پوره مونځ دے، قصر نه دے، او جُمعه دَ خطبے په وجه مختصر کړے شوی ده "۔

ـــــ دَ کوم آذان ذکر چه دلته شوے دے دَ هغے نه مُراد هغه آذان دے کوم چه دَ خطبے نه مخکښے ویُلے کیږی، نه هغه آذان کوم چه دَ خلقو دَ اطلاع دَ پاره دَ خطبے نه پیر مخکښے ویُلے کیږی ۔ په حدیشو کښے دَ حضرت سائبؓ بن یزید روایت دے چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے به صرف یو آذان کیدو، او هغه به په هغه وخت کښے کیدو کله چه به امام په منبر باندے کیناستو ۔ دَ حضرت ابوبکر او دَ حضرت عُمرؓ په زمانه کښے به هم دا عمل کیدو ۔ بیا کله چه دَ حضرت عثمان رضی الله عنه په دَور کښے آبادی زیاته شوه نو هغه یو بل آذان وئیل شروع کړل چه دَ مدینے په بازار کښے به دَ هغه دَ مکان زوراء نه کیدو ۔ (بُخاری، ابوداؤد، نَسائی، طَبَرانی) ۔

۱۵ په دې حکم کښې د ذکرنه مُراد خطبه ده ، ځکه چه د آذان نه روستو به کوم عمل نبی صلی اللہ علیه وسلم کولو هغه به مونځ نه وُو بلکه خُطبه به وه ، او مونځ به ئې همیشه د خُطبې نه روستو کولو - د حضرت ابوهریرهؓ روایت دے چه رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم اُوفرمائیل د جُمعې په ورځ فرښتې د هرې تلونکی نوم د هغه د راتلو په ترتیب سره لیکی - بیا اذا خرج الامام حضرت الملئکة یستمعون الذکر - " کله چه امام د خُطبې د پاره راوُزی نو هغوئ نومونه لیکل بند کړی او ذکر (یعنی خُطبه) اوریدل شروع کړی " (مُسند احمد ، بخاری ، مُسلم ، ابوداؤد ، ترمذی ، نسائی) - د دې حدیث نه هم معلومه شوه چه د ذکرنه مُراد خُطبه ده - پخپله د قرآن بیان هم دې طرفته اِشاره کوی - اول ئې اُوفرمائیل فاسعوا الی ذکر اللہ - " د خدائ ذکر ته منډه کړئ " بیا ئې وړاندې اُوفرمائیل فَاِذَا قُضِیَتِ الصَّلٰوۃُ فَانْتَشِرُوْا فِی الْاَرْضِ " کله چه مونځ پوره شی نو په زمکه کښې خواره شئ " د دې نه معلومه شوه چه د جُمعې د ورځې د عمل ترتیب دا دے چه اوّل د اللہ ذکر او بیا مونځ - د مفسرینو هم په دې خبره اتفاق دے چه د ذکرنه مُراد یا خو خُطبه ده ، یا بیا خُطبه او مونځ دواړه - د خُطبې د پاره د لفظ " ذکر اللہ " استعمالولو نه پخپله پته لږی چه په دې کښې هغه خبرې کول پکار دی چه هغه د اللہ د یاد سره مناسبت لری - مثلاً د اللہ حمد او ثنا وئیل ، د هغه په رسول باندې د رُود او صلوٰة وئیل ، د هغه د حکمونو او د هغه د شریعت مطابق د عمل کولو تعلیم او نصیحت کول ، کوم نیکان چه د هغه نه تیریږی د هغوی تعریف کول وغیره ، په دې وجه زمخشری په کشّاف کښې لیکلی دی چه په خُطبه کښې د ظالمانو حاکمانو تعریف او ثناوئیل ، یا د هغوئ نومونه اغستل او د هغوئ د پاره د دُعا غوښتل ، د اللہ د ذکر سره هیڅ مناسبت نه لری ، بلکه دا خو ذکر الشیطان دے -

" ذکر اللہ ته منډه کړئ " د دې مطلب دا نه دے چه په منډه منډه ځئ ، بلکه د دې مطلب دا دے چه زر زر هلته د رسید و کوشش کوئ - په پښتو ژبه کښې هم مونږ منډه تړه وهل ، د زیات کوشش په معنی کښې استعمالوو ، د تیښتې په معنی کښې نه - د غه شان په عربی کښې هم د سعی معنی تیښته نه ده - په قرآن کښې په اکثرو ځایونو کښې لفظ سعی د کوشش په معنی کښې استعمال شوے دے ، مثلاً لَیْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰی - وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰی لَهَا سَعْیَهَا - فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْیَ - وَاِذَا تَوَلّٰی سَعٰی فِی الْاَرْضِ لِیُفْسِدَ فِیْهَا - مفسرینو هم په اتفاق سره دا ټکے د بندوبست کولو په معنی کښې اغستلے دے ، د هغوئ په نزد سعی داده چه سړے د آذان آواز واورې او فوراً جومات ته د رسید و فکر شروع کړی - او معامله صرف دومره نه ده - په حدیث کښې صفا منع شوی ده چه د ما نځه د پاره منډه مَنه وهئ - د حضرت ابوهریرهؓ روایت دے چه رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم اُوفرمائیل " کله چه مونځ شروع شی نو ما نځه ته په آرام او په وقار سره ورځئ ، په منډه مه ورځئ ، بیا چه هر څومره مونځ اُورسوئ په هغې کښې شامل شئ او څومره چه درنه اُوشی هغه روستو پوره کړئ " (صحاح ستّه) - حضرت قتاده انصاریؓ فرمائی ، یوځلے مونږ په رسول اللہ علیه وسلم پسے مونځ کوُو چه ناسا په مود خلقو د منډے آواز په غوږ شو ، چه مونځ ختم شو نو نبیؐ د هغه خلقو نه تپوس اُوکړو چه دا د څه آواز وُو ؟ هغوئ اُو وے مونږ ما نځه له په منډه راتلو - نبیؐ اُوفرمائیل ، دا مه کوئ ما نځه له چه کله راځئ بنه په آرام سره راځئ - چه څومره مونځ اُورسوئ هغه د امام سره اُوکړئ ، او چه څومره پاتے شی هغه روستو اُوکړئ (بُخاری - مُسلم) -

" اغستل خرڅول پریږدئ " دے مطلب صرف اغستل خرڅول پریښودل نه دی، بلکه هغه ټول کاروبار پریښودل مطلب دے کوم چه د مانځه دپاره د تیاری کولونه علاوه وی۔ د بیع ذکر خاص طور دد ے دپاره شوے دے چه د جُمعے په وخت به تجارت ښه کیدو، د خواؤشا کلو خلق به یوځائے ته راجمع کیدل۔ سودا کرانو به هم خپل مالونه هلته وړل۔ خلقو به هم د ضرورت څیزونه اغستل۔ لیکن د منع حکم یوازے د بیعے دپاره نه دے، بلکه نورکارونه هم په دے کښے شامل دی، اوچونکه الله تعالیٰ صفا صفا منع د دے نه کړی ده، په دے وجه د فقهاؤ په دے خبره اتفاق دے چه د جُمعے د اذان نه روستو بیعه اوهر قسم کاروبار حرام دے۔

دا حکم قطعی طور د جُمعے د مونځ په فرضیت باندِ دلالت کوی۔ اوّل خو چه کوم تاکید شوے دے چه د اذان د اوریدو سره د جُمعے د مانځه دپاره کوشش شروع کړئ نودا پخپله د فرضیت دلیل دے۔ بیا د دے د خاطره چه حلاله بیعه حرامیږی نو د دے نه معلومیږی چه دا مونځ فرض دے۔ د دے نه علاوه د جُمعے په ورځ د ماسپښین فرض مونځ ختمیدل او د هغے په ځائے د جُمعے مونځ راتلل د دے د فرضیت څرګند ثبوت دے۔ حُکمه چه یو فرض هله ختمیږی کله چه د هغے په ځائے راتلونکے فرض د هغے نه زیات اهم وی۔ د دے تائید د هغه احادیثونه کیږی چه په هغه کښے رسول الله صلی الله علیه وسلم د جُمعے سخت تاکید کړے دے او دِے ته ئے په صفا الفاظو کښے فرض وئیلے دے۔ د حضرت عبدالله بن مسعود روایت دے چه نبیؐ فرمائی " څما زړهٔ غواړی چه د مونځ کولو د پاره بل څوک په خپل ځائے و د روم او پخپله لاړ شم او د هغه خلقو کورونه اوسوزوم چه د جُمعے مانځه له نه راځی " (مُسندِ احمد، بُخاری)۔ حضرت ابوهریرهؓ او حضرت عبدالله بن عباسؓ او حضرت عبدالله بن عمرؓ وائی چه موږ د جُمعے په خطبه کښے د نبیؐ نه دا اوریدلی دی، " خلقو له پکار دی چه د جُمعے مونځ نه پریږدی، کنئ نو الله به د هغوئ په زړونو باندِ ټاپه اولګوی او هغوئ به غافلانِ پاتے شی " (مُسندِ احمد، مسلم، نَسائی)۔ د حضرت ابوالجعدؓ ضَمری، حضرت جابرؓ بن عبدالله، او د حضرت عبدالله بن ابی اَوفی په روایتونو کښے چه د نبیؐ کوم احادیث نقل کړے شوی دی د هغے نه معلومیږی چه کوم سړے د څه حقیقی ضرورت او جائز عُذر نه بغیر صرف د بے پروائی په وجه مسلسل درے جُمعے پریږدی، نو الله به د هغه په زړه باندِ مُهر لګوی۔ بلکه په یو روایت کښے خو الفاظ دادی چه " الله د هغه د زړه نه د منافق زړه جوړوی "۔ (مُسندِ احمد، ابوداؤد، نَسائی، ترمذی، ابن ماجه، دارمی، حاکم، ابن حبّان، بـزّار، طَبرانی فی الکبیر)۔ حضرت جابر بن عبدالله وائی چه نبیؐ اوفرمائیل " د ننه نه د قیامته پورے جُمعه په تاسو باندِ فرض ده۔ څوک چه دا یو معمولی څیز اوګڼی یا د دے حق اونه منی او دا پریږدی، خدائے دِ د هغه حال صحیح نه کړی، نه دِ برکت ورکړی، نه د اوړی، د هغه مونځ مونځ نه دے، د هغه زکواة زکواة نه دے، د هغه حج حج نه دے، د هغه روژه روژه نه ده، د هغه یوه نیکی نیکی نه ده ترڅو چه هغه توبه اونه باسی، بیا چه څوک توبه اوباسی الله به هغه معاف کړی " (ابن ماجه - بزّار)۔ د دغه رنګه یو روایت طَبرانی په اوسط کښے د ابن عُمرؓ نه نقل کړے دے۔ د دے نه علاوه د پیر روایتونه دی چه په هغے کښے نبیؐ په څرګنده الفاظو سره جُمعه فرض کړے ولی ده او دِے ته ئے یو واجب حق وئیلے دے۔ د حضرت عبدالله بن عُمرؓ بن عاص روایت دے چه نبیؐ فرمائیلی دی۔ " جُمعه په هر هغه سړی باندِ فرض ده چه د جُمعے اذان واوری " (ابوداؤد - دارقطنی)۔ جابرؓ بن عبدالله او ابوسعید خُدریؓ وائی چه نبیؐ په

كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝٩ فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝١٠

تاسو پوهیږئ ۔ بیا چه کله مونځ پوره شی نو په زمکه کښے خواره شئ اود اللہ د فضل تلاش اوکړئ[۱۵] ۔ اواللہ ډیر ډیر یاد کړئ[۱۶] ، شاید چه تاسو ته کامیابی نصیب[۱۷] شی ۔

خطبه کښے اوفرمائیل ، " پوه شئ چه اللہ په تاسو باندے د جمعے مونځ فرض کړے دے " (بیهقی) ۔ البته نبئ بنچے ، بچی ، غلامان ، مریضان اومسافران دد ے د فرضیت نه خلاص کړی دی ۔ د حضرت حفصه روایت دے چه نبئ اوفرمائیل ، " د جمعے د پاره وتل په هر بالغ باندے واجب دی " (نسائی) ۔ د حضرت طارق بن شهاب په روایت کښے د نبئ حدیث دا دے چه " جمعه په هر مسلمان باندے د اماماتئ سره واجب ده سوا د غلام ، د بنچے ، د بچی اود مریض نه " (ابوداؤد ، حاکم) ۔ د حضرت جابر بن عبداللہ په روایت کښے د نبئ الفاظ دادی ، " څوک چه په اللہ او په ورځ د آخرت ایمان لری په هغه باندے جمعه فرض ده ، ماسوا د بنچے ، د مسافر ، د غلام اود مریض نه " ، (دار قطنی ، بیهقی) ۔ د قرآن اود حدیث دد ے تشریحاتو په وجه د جمعے په فرضیت باندے د ټول امت اجماع ده ۔

۱۶ دد ے مطلب دا نهٔ د ے چه د جمعے د مانځه نه روستو په زمکه کښے خوریدل اود رزق د تلاش د پاره منده ترړه وهل کښی ضروری دی بلکه مطلب دا د ے چه بیا د روزئ کټلو د پاره اجازت د ے ۔ مخکښے د جمعے د آذان د اوریدو سره د ټول کاروبار پریښودلو حکم شوے وو نو په دے وجه اوفرمائیلے شو چه د مونځ ختمولو نه روستو تاسو ته اجازت د ے چه خواره شئ اوچه کوم کاروبار کول غواړئ هغه کوئ ۔ دا هغسے حکم د ے لکه څنګه چه د احرام په حالت کښے د بنکار منع کولو نه روستو فرمائ فَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا (المائده - ۲) ۔ " کله چه احرام مات کړئ نو بنکار کوئ " د دد ے مطلب دا نهٔ د ے چه د احرام ماتولو نه روسته ضرور بنکار کوئ ۔ بلکه مطلب دا د ے چه دد ے نه روستو په بنکار باندے څه پابندی نشته ، که غواړئ نو بنکار کولے شئ ۔ یا مثلاً په سورة نساء کښے د یو نکاح نه د زیاتو نکاحونو اجازت په فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ کښے ورکړے شوے دے ۔ دلته اګرچه فَانْكِحُوْا د امر په صیغ سره دے ، لیکن هیڅوهم د حکم په معنئ کښے نهٔ دے اغیستے ۔ دد ے نه دا اصولی مسئله راوزی چه د امر صیغه همیشه د وجوب په معنئ کښے نهٔ وی بلکه کله د اجازت اوکله د مستحبو په معنئ کښے هم وی ۔ دا معلومات د مخکښے روستو عبارت نه کیږی چه په کوم ځائے کښے دا د حکم په معنئ کښے دے اوپه کوم ځائے کښے دا د اجازت په معنئ کښے دے اوپه کوم ځائے کښے ترمراد دا وی چه د اللہ داسے خوښه ده لیکن دا مراد ترنهٔ وی چه دا کار فرض اوواجب دے ۔ پخپله په دے فقره ے پسے په بله فقره کښے فرمائ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا " اللہ ډیر ډیر یاد کړئ " دلته هم صیغه د امر ده ، لیکن ظاهره خبره ده چه دا د استحباب په معنئ کښے ده د وجوب په معنئ کښے نهٔ ده ۔

دلته دد ے خبری ذکر هم په کار دے چه اګرچه په قرآن مجید کښے د یهود یانو د سبت اود عیسایانو د اتوار پشان د جمعے ورځ د عامے چوتئ ورځ نهٔ ده کړے ولے شوی لیکن دد ے خبری نه هیڅوک انکار نهٔ شی کولے چه جمعه ټیک هم هغسے د مسلمانانو د ملت شعار دے لکه څنګه چه د خالی ورځ اود اتوار ورځ

دَ یهودیانو اودَ عیسایانو دَ مِلّت شعار دے۔ اوکه چرے په هفته کښے یوه ورځ دَ عاملے چوتهٔ دَ پاره مقرر ول دَ ژوند یوضرورت وی نو لکه څنګه چه یهودیان فطری طور دَ خالی ورځ او عیسایان دَ اتوار ورځ مقرر کړی وی دغه شان به مسلمانان (که په فطرت کښے ئے څه اسلامی فکر موجود وی) خامخا دَ غرض دَ پاره دَ جمعے ورځ مقرر وی۔ بلکه عیسایانو خو په داسے ملکونو باندے هم دَ اتوار ورځ مقرر کړی وه چه هلته عیسایان په ډیر وکښے دَ مالګے هومره هم نهٔ وُو۔ یهودیانو چه کله په فلسطین کښے خپل اسراء یلی ریاست جوړ کړ و نو اولینے کار هغوئ دا اوکړ وچه دَ اتوار په ځائے دَ خالی ورځ دَ چوتهٔ ورځ مقرر کړه۔ دَ تقسیم نه مخکښے په هندوستان کښے دَ برطانیے دَ هند اودَ مسلمانانو دَ ریاستونو په منځ کښے څوګند فرق دا بنکاره کیدو چه دَ مُلک په یوه حصّه کښے به دَ اتوار ورځ چُوتهٔ وه او په بله حصّه کښے به دَ جُمعے ورځ۔ البته چه په کوم ځائے کښے په مسلمانانو کښے اِسلامی فکر موجود نهٔ وی نو هلته هغوئ ته دَ اقتدار مِلاویدونه روستو هم دَ اتوار ورځ خوړه وی لکه چه په پاکستان کښے مونږ ه لیدله۔ بلکه دَ دے نه زیاته بے فکری چه کله راشی نو دَ جُمعے چُوتهٔ منسوخ کړے شی اودَ اتوار ورځ چُوتهٔ مقرر کړے شی، لکه چه مصطفیٰ کمال په ترکی کښے کړی وه۔

۱۷؎ یعنی په خپل کاروبار کښے دَ ننه هم الله مَه هیروئ، بلکه په هر حال کښے هغه یاد ساتئ اودَ هغه ذکر کوئ۔ (دَ تشریح دَ پارهٔ اُوکوره تفہیم القرآن، څلورم جلد، تفسیر دَ سورۃ احزاب، حاشیه ۶۳)۔

۱۸؎ په قرآن مجید کښے په ډیرو ځایونو کښے دَ یوهدایت یا دَ یو نصیحت یا دَ یو حکم کولو نه روستو لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ (شاید چه فلاح بیا مومئ) او لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ (شاید چه په تا سو رحم اوکړے شی) الفاظ فرمایلے شوی دی۔ په داسے موقعو کښے دَ لفظ شاید استعمالولو مطلب دا نهٔ وی چه دَ الله تعالیٰ ګنې (معاذ الله) څه شک دے، بلکه دا په اصل کښے یو شاهانه انداز بیان دے۔ دا داسے ده لکه چه یو مهربانه مالک خپل نوکر ته اُووائی چه تهٔ فلانے کار اُوکړه، شاید چه تا نه ترقی مِلا وُشی۔ په دے کښے یوه باریکه وعده پټه پرته وی چه دَ هغے په اُمید کښے نوکر ډیر په شوق سره هغه خدمت کوی۔ دَ یو بادشاه دَ ځلے نه چه دَ یو نوکر دَ پاره دا الفاظ راوُزی نو دَ هغه په کور کښے خوشحالیا نے کیږی۔

دلته چونکه دَ جُمعے حکمونه ختم شوی دی نو په دے وجه مناسب معلومیږی چه په څلورو واړو مذهبونو کښے دَ قرآن اودَ حدیث اودَ صحابو دَ قول اودَ اِسلام دَ عاموا صولونه دَ جمعے کوم حکمونه په ترتیب کړے شوی دی، دَ هغے خلاصه پیش کړے شی۔

دَ حنفیانو په نزد جمعے وخت هغه دے کوم چه دَ ماسپخین وخت دے۔ نهٔ دَ دے نه مخکښے جُمعه کیدے شی اونهٔ روستو۔ دَ بیعے حرامولے دَ اولنی آذان نه شروع کیږی، نهٔ چه دَ هغه دویم آذان نه کوم چه په منبر باندے دَ امام دَ کیناستونه روستو کیږی، ځکه چه په قرآن کښے اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ الفاظ مُطلقاً دی۔ نو دَ زوال نه روستو چه کله دَ جُمعے وخت شروع شی په هغه وخت کښے چه کوم آذان دَ جُمعے دَ مانځه دَ پاره اُوشی، خلقوله پکار دی چه دَ هغے په اوریدو سره اغستل خرڅول پریږدی۔ لیکن که یوسړی په هغه وخت کښے اغستل خرڅول کړی وی نو هغه بیعه به فاسده یا منسوخ نهٔ وی، بلکه دا به صرف یوه ګناه وی۔ جُمعه په هرکلی کښے نهٔ کیږی بلکه صرف په مِصرِ جامع کښے کیږی، اودَ مِصرِ جامع معتبر تعریف داد ے چه هغه ښار چه په هغے کښے بازار وی، دَ امن دَ قایمولو اِنتظام پکښے موجود وی، او آبادی ئے دومره وی چه کوم چرے دَ هغے په لوئ جومات کښے دَ جُمعے دَ مانځه دَ پاره هغه ټول خلق راجمع شی چه په هغوئ دَ جمعے مونځ فرض وی نو په هغے کښے نهٔ ځائیږی۔ کوم خلق چه دَ

بنارنه بهراوسی په هغوئ باندِ د جُمعې د مانځه د پاره بنارته راتلل هله فرض دی چه هغوئ ته د اذان آواز رسی یا هغه د بنارنه شپږ میله لرې اوسی ۔ د هونځ د پاره ضروری نه ده چه خاص په جومات کښې دِ وی ۔ د جُمعې هونځ په اَرت میدان کښې هم کیدے شی اوپه داسے میدان کښے هم کیدے شی چه د بنارنه بهروی خو د بنار یوه حصّه گنړلے شی ۔ د جمعې هونځ صرف په هغه ځائے کښے کیدے شی چه هلته د هرسړی د پاره د شریکید و عام اجازت وی ۔ په یو داسے بند ځائے کښے چه هلته هرچا ته د ور تلو اجازت نه وی ، که هرځومره پیوسړی راجمع شی ، خو جمعه پکښے صحیح کیدے نشی ۔ د جُمعې د صحیح کیدو د پاره ضروری ده چه په اِمامتئ کښے کم ازکم (د امام ابوحنیفهؒ په قول) د امام نه سِوا درے سړی وی یا (د ابویوسف او محمد په قول) د امام سره دوه داسے کسان موجود وی چه په هغوئ باندِ جمعه فرض وی ۔ د کومو عذرونو په وجه چه د یوسړی نه د جمعې هونځ ساقط بری هغه دادی ، چه سړے په سفر وی ، یا داسے بیمار وی چه راتلے نه شی ، یا په دوا او رو خپو معذور وی ، یا ړوند وی (لیکن د اِمام ابویوسفؒ او امام محمدؒ په نزد په ړوند باندِ صرف هله جُمعه فرض نه ده چه هغه داسے سړے وی چا اُونه موی چه هغه بوځی) ۔ یا د یو ظالم د لاسه هغه ته د خپل سر یا د خپل عزت ، یا د مالی نقصان خطره وی ، یا سخت باران او خپتے او اُوبه وی ، یا سړے په قید کښے وی ۔ د قید یانو او معذورانو د پاره داخبره مکروهه ده چه هغوئ د جُمعې په وړځ د مانسپښین هونځ د اِمامتئ سره اُوکړی ۔ د کومو خلقونه چه د جُمعې هونځ شوے وی د هغوئ د پاره هم د مانسپښین هونځ په اِمامتئ سره کول مکروهه دی ۔ خُطبه د جمعې د صحیح والی د پاره یو شرط دے ، ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم د جمعې هونځ د خُطبے نه بغیر هیڅوکړے نه دے ، او خُطبه لازماً د هونځ نه مخکښے پکاردہ ، او دوه خُطبے پکاردی ، د خُطبے د پاره چه امام کله منبر ته اُوخیژی ، د هغه وخت نه د خُطبے د ختمیدو پورے هرقسم خبری کول منع دی ، او هونځ هم په هغه وخت کښے کول نه دی پکار ، خواه که د امام آواز هغه ته رَسی اوکه نه رَسی (هدایه ، فتح القدیر ، احکام القرآن للجصّاص ، الفقه علی المذاهب الاربعه ، عُمدة القاری) ۔

د شافعیانو په نزد د جُمعې وخت هغه دے کوم چه د مانسپښین دے ۔ د بیے حرامو الے او جُمعې ته د منډے وهلو حکم د هغه وخت نه شروع کیږی کله چه دوهم آذان اُوشی (یعنی هغه آذان چه په منبر باندِ د امام د کینا ستونه روستو وئیلے کیږی) ، بیا هم که څوک په دغه وخت کښے بیعه اُوکړی هغه به منسوخ نه وی ۔ جُمعه په هرهغه کلی کښے کیږی چه د هغے په مستقلو اُوسیدونکو کښے څلویښت کسان داسے موجود وی چه په هغوی د جُمعې هونځ فرض وی ۔ کوم خلق چه د کلی نه بهراُوسی او هغوی ته د آذان آواز ورسی نو په هغوی باندِ جُمعے ته حاضریدل ضروری دی ۔ جمعه خامخا د کلی په حد کښے د ننه پکارده خو دا ضروری نه ده چه په جومات کښے دِ وی ۔ کوم خلق چه په صحرا کښے په خیمو کښے اُوسیږی په هغوئ باندِ جمعه واجب نه ده ۔ د جمعې د صحیح والی د پاره ضروری ده چه د اِمام سره کم از کم څلویښت داسے کسان په اِمامتئ کښے شریک وی چه په هغوی جمعه فرض وی ۔ د کومو عذرونو په وجه د سړی نه د جُمعې هونځ ساقطیږی هغه دادی ، د سفر حالت ، یا په یوځاے کښے څلور ورځے یا د دے نه کم د قیام کولو اراده ، خو په دِے شرط چه سفر جائز وی ۔ داسے بوډا یا مریض چه په سورلئ باندِ هم د جمعې د مانځه د پاره نشی تلے ۔ ړوند ، چه مانځه ته د بوتلوئے څوک نه وی ۔ چه د سر یا د مال یا د عزت خطره وی ۔ یا په قید کښے وی ،

خو په ۵ شرط چه هغه د خپل قصور په وجه نه وی قید شوے ۔ د مونځ نه مخکښے دوه خطبے پکاردی ۔ د خطبے په دوران کښے چپ کینا ستل سنت دے ، خوخبری کول حرام نه دی ۔ څوک چه امام ته دومره نزدے ناست وی چه خطبه اوری نو د هغه د پاره خبری کول مکروه دی ، لیکن هغه د سلام جواب ورکولے شی ، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نوم په اوریدو سره په اوچت آواز درود وئیلے شی (مغنی المحتاج ۔ الفقه علی المذاهب الاربعه) ۔

د مالکیانو په نزد جمعے وخت د زوال نه شروع کیږی او د مابنام نه دومره مخکښے ختمیږی چه د نمر د ډوبیدو نه مخکښے خطبه او مونځ ختم شی ۔ د بیع حرام والے او د کوشش کولو حکم د دویم آذان نه شروع کیږی ۔ دے نه روستو که بیعه اوشوه نو هغه فاسده ده او منسوخ به وی ۔ جمعه صرف په هغه کلو کښے کیدے شی چه د هغے اوسیدونکی هلته مستقل طور کور و نه جوړ وی او اوسی ، او په کومئ یخنئ کښے یو خوابل خوانئ حئ ، او د هغوی ضرورتونه هم په هغه کلی کښے پوره کیږی ، او د تعداد په وجه خپل حفاظت کولے شی ۔ د استوګنے په عارضی ځایونو کښے که هر څومره خلق وی او که هغوی هر څومره موده ایسار شی خو جمعه نشی قایمولے ۔ په کوم کلی کښے چه جمعه کیږی د هغے نه درے درے میله لرے چه کوم خلق اوسیږی په هغوی باندے جمعے ته حاضریدل فرض دی ۔ د جمعے مونځ صرف په هغه جوماتونو کښے کیدے شی چه هغه په کلی کښے د ننه وی یا د کلی سره جوخت وی او عمارت ئے د کلی د عامو اوسیدونکو د کور و نونه د کیے درجے نه وی ۔ حنفی مالکیانو دا شرط هم لګولے دے چه د جوماتونو د پاسه د چت ضرور وی او په هغے کښے پنځوخته مونځ باقاعده پکاردے ۔ لیکن د مالکیانو ترجیحی مسلک دا دے چه د جمعے د صحیح والی د پاره د جوماتونو چت شرط نه دے ، او په دا سے جوماتونو کښے هم جمعه کیږی چه هغه صرف د جمعے د مانځه د پاره جوړ شوے وی او پنځوخته مونځ پکښے باقاعده نه کیږی ۔ د جمعے د پاره په امامتئ کښے د امام نه سوا کم از کم دولس دا سے سړی حاضریدل ضروری دی چه په هغوی جمعه فرض وی ۔ د کومو عذرونو په وجه چه د سړی نه جمعه ساقطیږی هغه دا دی ، د سفر په حالت کښے ، یا د سفر په دوران کښے په یوځائے کښے د څلورو ورځو نه د کم ایسارید و اراده ۔ دا سے مریض چه جومات ته تلل ورته ګران وی ۔ چه د چا مور یا پلار یا بڼځه یا بچے بیمار وی ، یا د یو دا سے مریض خدمت کوی چه د هغه د خدمت کولو هیڅوک نه وی ، یا د هغه نږدے رشته دار سخت بیمار وی یا مړ ک ته نږدے وی ۔ چه د چا دا سے مال ته خطره وی چه د هغے نقصان د برداشت نه بهر وی ، یا چاته د خپل سر یا د خپل عزت خطره وی ، یا څوک د وهلو نه یا د قید نه پټ شوے وی خو په دے شرط چه هغه په دے معامله کښے مظلوم وی ۔ یا سخت باران وی اوختے وی ، یا سخته ګرمی یا سخته یخنی وی چه جومات ته تلل پکښے ګران وی ۔ دوه خطبے د مونځ نه مخکښے لازمی دی ، اَن ترڅو چه که چرے خطبه د مونځ نه روستو شی نو د مونځ دوباره کول ضروری دی ۔ او دا خطبے لازماً په جومات کښے د ننه پکاردی ۔ د خطبے د پاره چه امام منبر ته اوخیژی د هغه وخت نه نفل کول حرام دی او چه کله خطبه شروع شی نو خبری کول هم حرام دی اګرکه سړے د خطبے آواز نه اوری ۔ لیکن که چرے خطیب په خپله خطبه کښے دا سے خرابے خبری شروع کړے چه هغه د خطبے نه بهر وی ، یا یو دا سے سړی ته کنځلے اوکړی چه هغه د کنځلو مستحق نه وی ، یا د یو دا سے سړی صفت شروع کړی چه د هغه صفت کول جائز نه وی ، یا دا سے خبری شروع کړی چه هغه د خطبے سره تعلق نه لری ، نو خلقو ته حق حاصل دے چه د هغے خلاف اوکړی ۔

وَاِذَا رَاَوْا تِجَارَةً اَوْ لَهْوًا انْفَضُّوْٓا اِلَيْهَا وَتَرَكُوْكَ

اوکله چه هغوئ تجارت اولوبه تماشا اُولیده نوهغے ته ئے منډه کړه اوتهٔ ئے ولاړ

دارنګه په خُطبه کښے دَ وخت دَ بادشاه دَپاره دُعا کړا، مکروهه دی خوهله چه خطیب ته دَ خپل سر خطره نهٔ وی ـ خطیب لازماً هغه سړے پکار دے چه هغه مخکښے مونځ ورکوی. که دَ خطیب نه علاوه بل سړی مونځ ورکړے وی نوهغه به باطل وی (حاشیه الدّسوقی علی الشرح الکبیر ـ احکام القرآن ابن عربی ـ الفقه علی المذاهب الاربعه).

دَ حنبلیانو په نزچه نمر یوه نیزه اُوچت شی نودَ جُمعے دَ مونځ وخت شروع شی او کله چه دَ مازدیګر وخت شروع شی نودَ جُمعے دَ مونځ وخت ختم شی ـ لیکن دَ زوال نه مخکښے جمعه صرف جائزده، اودَ زوال نه روستو واجب اوافضل ده ـ دَ بیعے حرامولے اودَ کوشش کولو وخت دَ دویم آذان نه شروع کیږی ـ دَ دے نه روستو چه کومه بیعه اُوشی هغه هډوډ سره کیږی نهٔ ـ جُمعه صرف په هغه ځائے کښے کیږی په کوم ځائے چه څلویښت دا سے کسان موجود وی چه په مفوئ جُمعه فرض وی اومستقل طور په کورونو کښے (نهٔ په خیمو کښے) آباد وی، یعنی په یخنئ کرمئ کښے نهٔ ځی راځی ـ دَ دے غرض دَپاره دَ کلی کورونه اومحلّے که دَ یوبل سره جوخته وی اوکه جُدا جُدا وی په دِ دے سره هیڅ فرق نه راځی، که دَ دے پولو نوم یَو وی نوهغه یو کلے دے اګرکه حصّے ئے دَ یوبل نه په میلونو میلونو لرے وی ـ په دا سے کلی کښے چه کوم خلق په دریو میلو کښے دَننه اُوسی په هغوی باندِ جمعے ته حاضریدل فرض دی ـ دَ امام سره څلویښت کسان دَ امامتئ دَپاره ضروری دی ـ مونځ ضروری نهٔ دے چه خاځاِ په جومات کښے وی، په ارت میدان کښے هم کیدے شی ـ دَ کومو عذرونو په وجه چه دَ یوسړی نه دَ جمعے فرض ساقطیږی هغه دادی، چه مسافر وی اودَ جمعے په کلی کښے دَ څلورو وُرځو یا دَ دے نه دَ کمو وُرځو دَ ایسارید لوارادهٔ لری ـ چه دا سے مریض وی چه په سور لئ باندِ تلل ورته هم ګران وی ـ چه روند وی، خوکه په خپله په لاړه تلے شو نو بیا معذور نهٔ دے ـ دَ روند دَپارهٔ دَ بل په امداد سره تلل واجب نهٔ دی ـ چه سخته یخنی وی یا سخته کرمی وی یا سخت باران اوچڅړے وی اودَ مونځ ځائے ته رسیدل ګران وی چه دَ یو ظالم دَ ظلم نه دَ بچ کیدو دَ پاره پټ شوے وی ـ چه دَ سر یا دَ عزّت پکښے خطره وی یا دَدا سے مالی نقصان یَره وی چه هغه دَ برداشت نه بَهر وی ـ دَ مونځ نه مخکښے دوه خُطبے پکار دی ـ دَ خُطبے په دَوران کښے دَ هغه سړی دَپارهٔ خبرې کول حرام دی چه هغه خطیب ته دومره نزدے ناست وی چه دَ هغه آواز اَورید ے شی البته لرے سړے چه دَ خطیب آواز ورته نهٔ رسی هغه خبره کولے شی ـ خطیب که عادل یعنی انصاف والا وی اوکه نهٔ وی خو خلقوله دَ خُطبے په دَوران کښے چپ اُوسیدل پکار دی ـ که دَ جُمعے په ورځ اختر شی نوکومو خلقو چه دَ اختر مونځ کړے وی دَ هغوی نه دَ جمعے فرض ساقطیږی ـ په دِے مسئله کښے دَ حنبلیانو مسلک دَ نورو دریو اماما نودَ مسلک نه مختلف دے (غایة المُنتهیٰ ـ الفقه علی المذاهب الاربعة).

په دِے خبره باندِ دَ پولو فقهاؤ اتفاق دے چه په کوم سړی باندِ جمعه فرض نهٔ دہ هغه که دَ جمعے په مونځ کښے شریک شی نودَ هغه مونځ صحیح دے اودَ هغه دَپارهٔ بیا دَ ما سپښین مونځ فرض نهٔ دے ـ

فَاِنَّمَا ۚ قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ ۭ وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۱۱﴾

پریښودے[۱۹] ۔ دوئ ته اُووایه، څه چه دَ اللہ سره دی هغه دَ لوبے تماشے اودَ تجارت نه بهتر دی[۲۰] ۔ اواللہ دَ ټولونه بهتر روزی رسان دے[۲۱] ۔ ع

[۱۹] داهغه واقعه ده چه دَ دے په وجه په پاسنو آیتونوکښے د جمعے حکمونه نازل شوی دی ۔ دَ دے کومه قیصه چه دَ احادیثو په کتابونوکښے دَ حضرت جابر بن عبداللہ نه، دَ حضرت عبداللہ بن عباس نه، دَ حضرت ابوهریره رضی اللہ عنه نه، دَ حضرت ابومالک نه، اودَ حضرات حسن بصری، ابن زید، قتاده، اومقاتل بن حیّان نه نقل کړے شوی ده، هغه داده، چه په مدینه کښے دَ شام نه یوه تجارتی قافله راغله، بالکل دَ جمعے دَ مانځه وخت وُو، قافلے والو دُول نغارے شروع کړے چه دَ کلی خلقوته دَ هغوئ دَ راتلو خبر اوشی ۔ رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم په هغه وخت کښے خُطبه ورکوله ۔ دَ نغارو دَ آواز سره خلق بے قراره شواودَ دولسوکسانونه علاوه باقی نورو ټولو بقیع طرفته منډه کړه چه هلته قافلے دَ تجارت سامان کوز کړے وُو ۔ دَ دے قیصے په روایتونوکښے دَ ټولونه زیات معتبر روایت دَ حضرت جابر بن عبداللہ دے چه هغه امام احمد، بُخاری، مُسلم، ترمذی، ابوعُوانه، عبد بن حُمید، ابویعلیٰ وغیرهم دَ کُتبو سندونوسره نقل کړے دے ۔ په دے کښے فرق صرف دا دے چه په پوره روایت کښے ویُلے شوی دی چه دا واقعه دَ مونځ په حالت کښے شوی وه، اوپه بل روایت کښے دا دی چه دا په هغه وخت کښے اُوشوه کله چه نبی خُطبه ورکوله ۔ لیکن دَ حضرت جابر اودَ نورو صحابو اوتابعینو ټول روایتونه چه راجمع کړے شی نوصحیح خبره دا معلومیږی چه دا واقعه دَ خُطبے په دَوران کښے شوی ده اوحضرت جابر رضی اللہ عنه چه کوم ځائے دا ویُلی دی چه دا دَ جُمعے دَ مانځه په دَوران کښے شوی ده، نوهلته هغه خُطبے اومونځ دواړو ته دَ جمعے مونځ ویُلے دے ۔ دَ حضرت عبداللہ بن عباس په روایت کښے دی چه په هغه وخت کښے دَ دولسو سړو سره اُوه بنځے هم پاتے شوے وے (ابن مَردُویه) ۔ قتاده وائی چه دَ دولسو سړو سره یوه بنځه وه (ابن جریر ۔ ابن ابی حاتم) ۔ دَ دارقطنی په یو روایت کښے ځلویښت کسان اودَ عبد بن حُمید په روایت کښے اُوه کسان شنود لے شوی دی ۔ او فرّاء لیکلی دی چه اَتهٔ کسان وُو ۔ لیکن دا ټول ضعیف روایتونه دی ۔ اودَ قتاده دا روایت هم ضعیف دے چه د غسے واقعه درے ځله شوی وه (ابن جریر) ۔ معتبر روایت دَ حضرت جابر بن عبداللہ دے چه په هغے کښے پاتے سوی کسان دولس شنود لے شوی دی ۔ اودَ قتاده دَ یو روایت نه سِوا باقی دَ ټولو صحابو او تابعینو روایتونه په دِے باندِ متفق دی چه دا واقعه صرف یوځل شوی ده ۔ دَ پاتے کیدونکو په حقله دَ مختلفو روایتونو راجمع کولونه معلومیږی چه په هغوی کښے حضرت ابوبکر رضی اللہ عنه، حضرت عُمر رضی اللہ عنه، حضرت عثمان رضی اللہ عنه، حضرت علی رضی اللہ عنه، حضرت عبداللہ بن مسعود رضی اللہ عنه، حضرت عمّار بن یاسر رضی اللہ عنه، حضرت سالم رضی اللہ عنه مَولیٰ حُذیفه اوحضرت جابر بن عبداللہ رضی اللہ عنهم شامل وُو ۔ حافظ ابویَعلیٰ چه دَ حضرت جابر بن عبداللہ کوم روایت نقل کړے دے په هغے کښے ویُلے شوی دی چه کله خلق د غسے اُووتل اوصرف

دولس صحابه پاتے شوی نو هغوی ته نبیؐ اُوفرمائیل ، وَالَّذِیْ نفسی بیدہٖ لوتتا بعتم حتیٰ لمریق منکم احدٌ لسال بکم الوادی ناراً ، " که چرے تاسو ټول تلی وئ او یو هم نهٔ وے پاتے شوے نو په دے میدان کښے به وُور بهید لے وے " هم دغسے خبره ابن مَرْدُوَیه د حضرت عبد الله بن عباس نه او ابن جریر د قتاده نه نقل کړی ده -

شیعه کانو حضراتو د واقعه هم په صحابوؓ باندِ د طعن کولو د پاره استعمال کړی ده - هغوی وائ چه د دومره کنړو صحابو خطبه او مونځ پریښودل او تجارت اولو بے تما شے ته منډے وهل د دے خبری ثبوت دے چه هغوئ دُنیا له په آخرت باندِ ترجیح ورکوله - لیکن دا بو سخت بے ځایه اعتراض دے ، دا اعتراض هله کیدے شی چه سړے د حقیقت نه ستړکے پټے کړی - په اصل کښے دا واقعه د هجرت نه روستو په نزد ے زمانه کښے شوی وه - په هغه وخت کښے یو طرفته خود صحابو د اجتماعی تربیت اولنئ ورځ وے - او بل طرفته د مکے کافرانو په خپل اثر سره د مدینے د خلقو سخته معاشی ناکه بندی کړی وه چه د هغے په وجه په مدینه کښے د ضرورت څیزونه ډیر کم شوی وُو - حضرت حسن بصری فرمائ چه په هغه وخت کښے په مدینه کښے خلق د لوږے نه مړه کیدل او قیمتونه ډیر بَره ختلی وُو (ابن جریر) - په دے حالت کښے چه کله یوه تجارتی قافله راغله نو د دے یَرے نه چه هسے نهٔ چرته د مونځ د خلاصیدو پورے سامان خرڅ شوے وی ، خلق اُوبَریدل او قافلے طرفته ئے منډه کړه - دا یوه داسے کمزوری او داسے غلطی وه چه د تربیت د کمی او د حالا تو د سختئ په وجه ناسپه شوی وه - لیکن څوک چه د دے صحابو هغه قربانو ته اُوګوری کوم چه هغوئ د دے نه روستو د اِسلام د پاره اُوکړل - او دِ ے ته اُوګوری چه په عباداتو او معاملاتو کښے هغوئ څومره د تقویٰ ژوند تیرکړو نو هغه به هرګز د الزام اُونشی لګولے چه هغوئ دُنیا په آخرت باندِ غوره ګنړلی وه ، دا اِلزام صرف هغه سړے لګولے شی چه پخپله د هغه په زړه کښے د صحابو سره د بُغض کولو مرض پروت وی -

بیا هم دا واقعه لکه څنګه چه په صحابو باندِ د اعتراض کونکو تائید نهٔ کوی دغسے د هغه خلقو د خیالاتو تائید هم نهٔ کوی کوم چه د صحابو په عقیدت کښے وراندِ تلی دی او دا د دعوی کوی چه د هغوئ نه هیڅکله څه غلطی نهٔ ده شوی ، یا که شوی هم ده خود هغے ذکر کول نهٔ دی پکار ، ځکه چه د هغوئ غلطی ذکر کول او هغے ته غلطی ویئل د هغوی توهین او سپکاوے دے ، او په دے سره د هغوئ عزّت او وقار په زړونو کښے نهٔ پاتے کیږی ، او د دے ذکر د هغه آیتونو او د هغه احادیثو خلاف دے چه په هغے کښے د صحابو د بخښنے او د الله په دربار کښے د مقبول کیدو څرګندونه شوی ده - دا ټولے خبری سراسر مبالغه ده ، د دے د پاره په قرآن او په حدیث کښے هیڅ سند نشته - دلته هرسړے وینی چه الله تعالیٰ پخپله د هغه غلطئ ذکر کړے دے چه هغه د کنړو صحابو نه شوی وه - او دا ذکر ئے په هغه کتاب کښے کړے دے چه د قیامته پورے به ئے ټول اُمّت لولی ، او په هغه کتاب کښے ئے کړے دے چه په هغے کښے د هغوئ د بخښنے او د الله په دربار کښے د مقبول کیدو څرګندونه شوی ده - بیا د حدیث او د تفسیر په ټولو کتابونو کښے د صحابوؓ نه واخله او د روستنو لویو لویو اهلِ سنتو پورے ټولو د دے غلطئ تفصیلات بیان کړی دی - آیا د دے معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ دا ذکر د دے د پاره کړے دے چه د دے صحابو هغه وقار او عزّت د خلقو د زړونو نه اُوځی کوم چه هغه پخپله د خلقو

په زړونو کښے اچول غواړی؟ او آیا دَ دے مطلب دا دے چه صحابو او تابعینو او محدثینو او مفسرینو دَ دے قیصے پرته تفصیلات په دے وجه بیان کړی دی چه هغوئ دَ هغه شرعی مسئلے نه ناخبره وُو کومه چه دِ دے حضرا تو بیان کړی ده؟ او آیا واقعی څوک چه سورۃ جُمعه لسولی او دَ دے دَ تفسیر مطالعه کوی دَ هغوئ دَ زړونو نه دَ صحابو عزّت و تلے دے؟ که چرے دا سے نه ده، او یقیناً چه دا سے نه ده نو هغه پرته له خبری بے ځایه دی او دَ مبالغے نه پاک دی کومے چه دَ صحابو دَ احترام په نوم حُسینی خلق کړی۔

حقیقت دا دے چه صحابه کرامؓ څه آسمانی مخلوق نه وُو بلکه په دے زمکه باندِ پیدا شوی انسانان وُو۔ دَ هغوی نه چه څه جوړ شوی وُو دَ رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه و سلم په تربیت سره ترجوړ شوی وُو۔ دا تربیت هغوئ ته رُوړُو درجه په درجه په پیروکلونو کښے ورکړے شوے وُو۔ دَ دے تربیت چه کومه طریقه مونږ ته په قرآن او په حدیث کښے په نظر راځی هغه داده چه کله به په هغوئ کښے څه کمزوری بنکاره شوه، نو اللّٰه او دَ هغه رسول به په هغه وخت هغے ته توجه اُوکړه، او فوراً به دَ هغه کمزورئ دَ لرے کولو دَ پاره دَ هغوئ دَ تعلیم او تربیت پروګرام شروع شو۔ دَ دے جمع دَ مانځه په معامله کښے مونږه وینو چه کله دَ تجارت دَ قافلے واقعه اُوشوه نو اللّٰه تعالیٰ دَ سورۃ جُمعے دا رکوع نازله کړه او دَ جمع دَ مانځه آداب ئے اُوښودل۔ بیا دَ دے سره رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه و سلم مُسلسل په خپلو خُطبو کښے دَ جمع دَ فرضیت په اهمیت باندِ خلق پوهه کړل، چه ذکر ئے مونږه په حاشیه ۱۵ کښے کړے دے۔ او نبه په تفصیل سره ئے هغوئ ته دَ جمعے دَ آدابو تعلیم ورکړو۔ دا پرته هدایات مونږ ته په احادیثو کښے ډیر په وضاحت سره ملاویږی۔ حضرت ابو سَعید خُدری وائی چه نبیؐ اُوفرمائیل هر مسلمان له پکار دی چه دَ جُمعے په ورځ غُسل اُوکړی، غاښونه صفا کړی، بلے جامے واغوندی، او خوشبوئ اُولګوی (مُسند احمد، بُخاری مُسلم، ابوداؤد، نَسائی)۔ حضرت سَلمان فارسیؓ وائی چه نبیؐ فرمائی چه کوم مسلمان دَ جمعے په ورځ غُسل اُوکړی، او چه څومره زیات ځان پاک کړی، په تیلو سَر غوړ کړی او چه کومه خوشبوئ کور کښے وی هغه اُولګوی، بیا جومات ته لاړ شی، او دَ دوُو کسانو په منځ کښے ځان له په زوُر ځای نه اُونه کړی، بیا چه څومره اللّٰه توفیق ورکړے وی هغومره (نفل) مونځ اُوکړی، بیا چه کله امام خبری کوی نو چپ شی، نو دَ دے جمعے نه دَ بلے جمعے پورے دَ هغه ګناهونه معاف کیږی (بُخاری۔ مُسند احمد)۔ تقریباً هم دغسے روایتونه حضرت ابرایوب انصاریؓ، حضرت ابوهریرهؓ، او حضرت نُبَیشَۃُ الهُذَلِیؓ هم دَ نبیؐ نه نقل کړی دی (مُسند احمد، بُخاری، مُسلم، ابوداؤد، ترمذی، طَبَرانی)۔ حضرت عبدُاللّٰه بن عباس وائی چه نبیؐ اُوفرمائیل څه وخت چه امام خُطبه ورکوی په هغه وخت کښے چه څوک خبری اُوکړی دَ هغه مثال دَ هغه خرپشان دے چه په هغه باندِ کتابونه بارکړے شوی وی، او څوک چه هغه ته اُووائی چه چپ شه، دَ هغه هم جُمعه اُونه شوه (مُسند احمد)۔ دَ حضرت ابوهریره بیان دے چه نبیؐ اُوفرمائیل که چرے تاسو دَ جُمعے په ورځ دَ خطبے په دَوران کښے یو خبری کونکی ته اُووئیل چه چپ شه نو تاسو هم عبث کار اُوکړو (بُخاری، مُسلم، نَسائی، ترمذی، ابوداؤد)۔ دغه رنګه روایتونه، امام احمد، ابوداؤد او طَبَرانی دَ

حضرت علیؓ او د حضرت ابوالدَّرداءؓ نه نقل کړی دی - دَدے سره نبیؐ خطیبانو ته هم فرمائیلی دی چه په اُوږدو اُوږدو خطبو سره خلق مَه تنګوئ - نبیؐ به پخپله د جمعے په ورځ مختصر خُطبه ورکوله او مونځ به ئے هم زیات اُوږد نهٔ کوُو - حضرت جابرؓ بن سَمُره وائی چه نبیؐ به اُوږدے خُطبے نهٔ ورکولے ، هغه به بس مختصر یو څو خبرې وے (ابوداؤد) - حضرت عبدالله بن ابی اَوفیٰ وائی چه د نبیؐ خُطبه به د مونځ په نسبت کمه وه او مونځ به د هغے نه اُوږد وُو (نَسائی) - د حضرت عمّار بن یاسر روایت دے چه نبیؐ اُوفرمائیل چه سړے مونځ اُوږد کوی او خُطبه مختصره ورکوی نو دا دَدے خبرې دلیل دے چه هغه دَدین پوهه لرې (مُسندِ احمد ، مُسلم) - تقریباً هم دغسے روایت بزّار د حضرت عبدالله بن مسعودؓ نه نقل کړے - دَدے خبرونه اندازه لرې چه نبیؐ څه رنګے خلقو ته د جُمعے آداب اُوښودل اَنُ تردے پورے چه د جُمعے د مونځ هغه شان قایمُ شو چه د هغے مثال د دُنیا د یوقوم په اجتماعی عبادت کښے نهٔ موندے کیږی -

۲۰ دَدے فقرے نه پخپله معلومیږی چه د صحابونه کومه غلطی شوی وه هغه کوم قِسم غلطی وه - معاذالله (یعنی خدائے دِ نهٔ کړی) که چرے دَدے وجه د ایمان کمی وے او په آخرت باندِ دُنیا غوره کنړل وے نو د الله تعالیٰ د غضب او د رټنے انداز به بل رنګے وے - لیکن چونکه داسے څه خرابی خو هلته وه نهٔ ، بلکه څه چه شوی وُو د تربیت د کمی په وجه شوی وُو ، په دے وجه اوّل د پوهه کولو په اندازِ کښے د جُمعے آداب اُوښودل شو ، بیا په هغه غلطئ باندِ په تربیتی انداز کښے خبره اُوشوه چه د جمعے د خُطبے په اوږدو او د جمعے د مونځ په کولو تاسوته څه د الله سره مِلاویږی هغه دَدے دُنیا د تجارت او د لوبو تماشو نه بهتر دی -

۲۱ یعنی په دِے دُنیا کښے چه ظاهراً څه څیز د روزئ ذریعه جوړیږی د هغه ټولو نه بهترین روزی رسان الله تعالیٰ دے - دا رنګے فقرے په قرآن مجید کښے په ډیرو ځایونو کښے را غلی دی - چرته الله تعالیٰ ته احسن الخالقین ویلے شوے دے ، چرته خیرالغافرین ، چرته خیرالحاکمین ، چرته خیرالرّاحمین ، چرته خیرالنّاصرین ، په دِے ټولو ځایونو کښے مخلوق طرفته د رزق ، د تخلیق ، د مغفرت ، د رحم او د نصرت نسبت مجازی دے او الله تعالیٰ طرفته حقیقی دے - مطلب دادے چه کوم خلق تاسوته په دُنیا کښے تنخوا یا مزدوری یا رزق درکونکی بنکاری ، یا چه کوم خلق په خپل صنعت او کاریګرئ سره څه جوړونکی بنکاری ، یا چه کوم خلق د چا ګناه معاف کونکی او په چا رحم کونکی او د چا سره امداد کونکی بنکاری نو الله تعالیٰ د هغوئ ټولو نه بهتره روزی رسان ، خالق ، رحم کونکے ، بخښونکے ، او مدد کار دے -

تفهم القرآن

المنافقون

٦٣

المُنٰفِقُوْنَ

نوم | د اولنی آیت اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ نه اخستے شوے دے ۔ دادے سورۃ نوم هم دے او دَدے عنوان هم دے ، ځکه چه په دیکښے د منافقانو په طرز عمل باندِ تبصره شوی ده ۔

د نازلیدو زمانه | لکه چه وړاندِ به مونږه په تفصیل سره اُووایو، دا سورۃ یا خو په هغه وخت کښے نازل شوے دے کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د بنی المُصْطَلِق د غزا نه واپس په سفر را روان وُو ، یا خو چه کله نبیؐ مدینے ته اُورسیدو نو د رسید و نه فوراً روستو نازل شو ۔ او مونږه د سورۃِ نُور په دیباچه کښے دا خبره په تحقیق سره بیان کړی ده چه د بنی المُصْطَلِق غزا په شعبان شپږمه هجریٔ کښے شوی وه ۔ په دِے طریقه دَدے د نازلیدو تاریخ ټیک ټیک متررییږی ۔

تاریخی حالات | د کومے خاصے واقعے په بارہ کښے چه دا سورۃ نازل شوے دے د هغے د بیانولو نه مخکښے ضروری ده چه د مدینے د منافقانو په تاریخ باندِ یو نظر واچولے شی ځکه چه کومه واقعه په هغه وخت کښے پیښه شوی وه هغه صرف یوه اتفاقی واقعه نه وه ، بلکه د هغے په شاباندِ د واقعو یوه پوره سلسله وه چه آخر دِے حد ته را اُورسیدله ۔

مدینے ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتلونه مخکښے اَوس اوخزرج قبیلے په خپل منځ کښے د خانه جنګی نه سترې ستومانه شوے وے او د یوسرې په مشرئ باندِ ئے تقریباً تقریباً اتفاق راغلے وُو او د دے خبرې تیاریانے ئے کولے چه هغه ته باقاعده د بادشاهئ تاج ورپه سر کړی ، اُن تردے پورے چه د دے غرض د پاره تاج هم جوړ کړے شوے وُو ۔ داسړے د خزرج قبیلے سردار عبدالله بن اُبَیّ بن سلول وُو ۔ محمد بن اسحاق وائی چه په خزرج قبیله کښے د هغه په بزرګئ باندِ خلق بالکل متفق شوی وُو ، او اوس اوخزرج د دے نه مخکښے چرته دیوسرې په مشرئ باندِ متفق شوی نه وُو (ابن هِشام ، جلد ۲ ، ص ۲۳۴) ۔

په دِے دوران کښے د اِسلام آواز مدینے ته اُورسید و او د دواړو قبیلو با اثره خلق مسلمانیدل شروع شو ۔ د هجرت نه مخکښے د بیعت عقبهٔ ثانیه په موقع باندِ چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم له مدینے ته د تللو دعوت ورکړے کید و نو په هغه وخت کښے حضرت عباس بن عُبادہ بن نَضْلہؓ انصاری دا دعوت صرف په دِے وجه روستو کول غوښتل چه عبدالله بن اُبَیّ هم په بیعت او دعوت کښے شریک شی ، چه مدینه تړله په اتفاق سره د اِسلام مرکز جوړ شی ۔ لیکن کومه وله چه د بیعت د پاره راغلی وه هغوئ دِے له هیڅ اهمیت ورنه کړو او هغوئ ټولوچه د دواړو قبیلو پنځه اویا کسان پکښے شامل وُو ،

هره خطره په خپل سر واغستله اونبیؐ ته ډ دعوت ورکولو ډ پاره تیار شو (ابن هشام، ج ۲، ص ۸۹) ـ
ډ ډ ے واقع تفصیلات مونږه ډ سورۃ انفال په دیباچه کښے بیان کړی ده ـ

ډ ډ ے نه روستو چه کله نبیؐ مدینے ته اورسید و نو ډ انصارو په هرکور کښے اسلام دومره خورشوے وُو چه عبد اللّٰه بن اُبیَ بے وسه شو او ډ خپلے سردارئ ډ پاره ورته ډ ډ ے نه سوا بله هیڅ لاره په نظر را نغله چه پخپله هم مسلمان شی ـ نو ډ خپلو ګڼو ملګروسره، چه پکښے ډ ډ وا پرو قبیلو شیخان اوسردار ان شامل وُو، په اسلام کښے داخل شو، حالانکه ډ هولو زړونه دننه سوړیدل، اوخاص طور ډ عبد اللّٰه ابن اُبیَ سره ډ ډ ے خبرې سخت غم وُو چه رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم ډ هغه نه تیاره بادشاهی واغستله ـ ډ پیروکلونو پورے به ډ هغه په ایمان کښے ډ منافقت رنګ په قسما قسم طریقو څرګندیدو او ډ خپلے بادشاهئ په غم کښے به سخت غمژن وُو ـ یوطرفته دا حال وُو چه هره جُمعه به کله رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم ډ خُطبے ډ پاره کیناستو نو عبد اللّٰه بن اُبیَ به را پاسیدو او ویُیل به ئے چه "اے خلقو، دا ډ اللّٰه رسول په تاسو کښے موجود دے، ډ ډ په وجه اللّٰه تاسو له عزّت درکړے دے نو تاسو ډ ډ ۀ تائید اومرسته اُوکړئ" اوځه چه ډ ے فرمائی هغه په غور سره واورئ او ډ ډ ۀ اطاعت اُوکړئ" (ابنِ هشام، ج ۳، ص ۱۱۱) ـ بل طرفته حالت دا وُو چه وُرځ په وُرځ به ډ هغه منافقت ښه څرګندیدو او مخلص مسلمانانو ته به داخبره په واګه کیدله چه هغه او ډ هغه ملګری ډ اسلام او ډ رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم او ډ مومنانو سره سخت بُغض لری ـ

یوه وړځ نبیؐ په لاره تیریدو چه ابن اُبیَ ډ هغه سره بَد تمیزی اُوکړه ـ نبیؐ حضرت سَعد بن عُباده ته ډ ډ ے شکایت اُوکړو نو هغه عرض اُوکړو، "اے ډ اللّٰه رسوله، ډ ډ ے سړی سره نرمی اُوکړه ده ستا ډ را تلونه مخکښے مونږه ډ ډ ۀ ډ پاره ډ بادشاهئ تاج تیار ولو، اُوس ډ ے په خپل خیال کښے دا وائی چه تا ډ ډ ۀ نه بادشاهی اغستلی ده" (ابن هشام، ج ۲، ص ۲۳۷، ۲۳۸) ـ

ډ جنګ بدر نه روستو چه کله ډ یهودیانو بنی قَینُقاع قبیلے ډ، عهدے څرګنده خلاف ورزی اُوکړه او ډ هغے په وجه پرِ رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم حمله اُوکړه نو دا سړے ډ هغوئ په مرسته کښے وُدریدو او ډ نبیؐ زغره ئے اُونیوله او وے ویُیل چه "دا اُوّه سوه جنګیان سړی، چه ډ هر ډ شمن په مقابله کښے ځما ملګرتیا کوی، آیا تن دا ټول ته ۀ په یوه وړځ ختمول غواړے؟ په خدائے مِ ډ قسم وی، ځه تا تر هغے هرګز نه ۀ پریږدم ترڅو چه ته ۀ ځما دا ملګری معاف نه ۀ کړے" (ابن هشام، ج ۳، ص ۵۱-۵۲) ـ

ډ جنګ اُحُد په موقع ډ ے سړی څرګنده غدّاری اُوکړه او بالکل په نازک وخت کښے ئے خپل درے سوه ملګری ډ میدانِ جنګ نه ډ ځان سره واپس کړل ـ دا داسے نازک وخت وُو چه ډ قریشو درے زره لښکر یانو په مدینه باندِ حمله کړی وه، او رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم ډ هغوئ په مقابله کښے صرف ډ زرو کسانو سره ډ هغ نیوی ډ پاره وتلے وُو ـ ډ ډ ے زرو کسانونه هم ډ ے منافق درے سوه

کسان واپس کړل او د نبیؐ سره صرف اُوَه سوه کسان د دریو زرو دُشمنانو په مقابله کښے پاتے شول۔

دَدے واقعے نه روستو د مدینے عامو مسلمانانو ته یقین سره معلومه شوه چه داسرے قطعی منافق دے او د هغهٔ هغه ملګری هم اُوپټ ند دے شوکوم چه د هغه سره په منافقت کښے شریک وُو۔ داوجه وه چه د جنګ اُحُد نه روستو کله اوّله جمعه راغله او داسرے د نبیؐ د خُطبے نه مخکښے د خپل معمول مطابق د تقریر کولو د پاره پاسیدونو خلقو هغه د لمَنے نه راښکاووړته ئے اُووئیل "کینه، دا خبری ستاسره نهٔ بنائی" په مدینه کښے دا اولنیٔ موقع وه چه په عام محفل کښے دَدے سرې سپکاوے اُوشو۔ هغه په دِے باندِ غصّه شو او د خلقو په څټونو باندِ په ټوپونو ټوپونو د جومات نه اُووتو۔ د جومات په دروازه کښے حُینو انصارو هغه ته اُووئیل "دا څه کوے، واپس لاړ شه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه بخښنانه اُوغواړه" هغه په غصّه کښے جواب ورکړو "حُه د هغه نه هیڅ بخښنانه نهٔ غواړم" (ابن هِشام ج ۳، ص ۱۱۱)۔

بیا په څلورمه هجریٔ کښے د بنی النَّضِیر غزا پیښه شوه او په دِے غزا کښے دَسرې او دَدهٔ ملګرو د اِسلام خلاف د دُشمنانو مرسته نوره هم زیاته اُوکړه۔ یو طرفته رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه صحابو دَدے یهودی دُشمنانو سره د جنګ تیاری کوله، او بل طرفته دِے منافقانو پټ په پټه یهودِ یانو ته پیغام لیږلو چه تاسینګ اُودریږئ مونږ ستاسو سره یو، که ستاسو سره جنګ اُوشو نو مونږ به ستاسو مدد کوُو، اوکه تاسو اُووِستلے شوئ نو مونږ به درسره اُوځُو۔ دَدے پټو خبرو راز الله تعالیٰ پخپله بنکاره کړو، لکه څنګه چه د سورهٔ حشر په دویمه رکوع کښے تیر شوی دی۔

اګرچه هغه او د هغه ملګری په منافقت کښے دومره بنکاره وُو خو بیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوئ سره د چشم پوشیٔ معامله کوله۔ دَدے وجه داوه چه د منافقانو لویه ډله د هغه سره ملګری وه، د اَوس او د خزرج د ډیر سردارانو د هغه مرستیال وُو۔ په مدینه کښے کم از کم درېمه حصه خلق د هغه سره ملګری وُو، لکه څنګه چه د اُحُد په جنګ کښے معلومه شوی وه۔ په دا سے حالت کښے دا په هیڅ شان سره مناسب نهٔ وه چه د بهر نو دُشمنانو سره سره دَدے د ننه دُشمنانو سره هم جنګ شروع کړے شوَے وَے۔ دا وجه وه چه نبیؐ ته د هغوئ د منافقت حال سِنه معلوم وُو خو بیا ئے هم ورسره د څه مودے پورے د هغوئ د ظاهری ایمان په لحاظ سره نرمی کوله۔ بل طرفته دَدے خلقو هم نهٔ دومره طاقت وُو، او نهٔ ئے دومره همّت وُو چه بنکاره کافران شوی وَے او د مومنانو سره جنګیدلی وَے، یا د دُشمن سره په بنکاره شامل شوی وَے او میدان ته راوتلی وَے۔ په ظاهره خو هغوئ یو مضبوطه ډله جوړه کړی وه لیکن په هغوئ کښے هغه کمزورِیانے موجود وِے چه هغه د سورهٔ حشر په آیتونو ۱۲-۱۴ کښے الله تعالیٰ صفا صفا بیان کړی دی۔ دا وجه وه چه هغوئ خپل خیر په دِے کښے لیدو چه څان ته مسلمانان اُووائی۔ هغوئ به جوماتونو ته راتلل، موغځونه به ئے کول۔ زکاة به ئے

هم ورکولو- په خُله به ئے دَایمان هغه غټې غټې دعوے کولے چه مخلصو مسلمانانو ته دَ هغې ډَکولو هیڅ ضرورت نه وُو- دَ منافقت دَهرکار دَ پاره دَ هغوئ سره دَ دروغو زړبها ئے موجود وے چه په هغې به ئے خاص طور خپلے قبیلے انصارو له دا دوکه ورکوله چه مونږه ستا سو ملګری یو- په دے اکو دُوکو به هغوئ خپل ځان دَ هغه نقصانونو نه هم بچ کولو کوم چه دَ انصارو دَ رُورولئ نه دَ جُدا کیدلو په صورت کښے هغوئ ته رسید ے شو، اودَ فتنے دَ پورته کولو دَ هغه موقعو نه به ئے هم فائده اُوچتوله کوے چه په دے رُورولئ کښے دَ یوځائے اوسیدو په وجه هغوئ ته په لاس ورتلے شوے ۔

دَ دے اسبابو په وجه عبدالله بن اُبیَ دَ هغه منافقانو ملګرو ته دَ بنی المُصطلِق غزا ته دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دَ تللو موقع مِلاوُ شوه، او هغوئ په یو وخت کښے دوه دا سے لوئے فتنے راپورته کړے چه دَ مسلمانانو اتحاد ئے بالکل درے وړے کولے شو، لیکن دَ قرآن پاک په تعلیم اودَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا سره چه مومنانو ته کوم بهترین تربیت مِلاوُ شوے وُو دَ هغې په وجه دَ دے دواړو فتنو خامه په وخت اُوکړے شوه اودا منافقان اُلټا پخپله رُسوا پاتے شو- په دے کښے یوه فتنه هغه وه چه ذکر ئے په سورۃ نُور کښے تیر شوے دے - او دویمه فتنه دا وه چه په دے سورۃ کښے ئے ذکر شوے دے ۔

داواقعه بخاری، مُسلم، احمد، نسائی، ترمذی، بَیهقی، طَبرانی، ابن مردویه، عبدالرزاق ابن جریر طَبری، ابن سعد او محمد بن اسحاق په کنږو سندونو سره نقل کړی ده - په ځینو روایتونو کښے ئے نوم نه دے[1] اغستے شوے او په ځینو روایتونو کښے ورته دَ غزوۂ تبوک واقعه ویلے شوی ده - لیکن دَ مغازی اودَ علم تاریخ عالمان په دے خبره متفق دی چه داواقعه دَ بنی المُصطلِق دَ غزا په موقع شوی وه - چه ټول روایتونه راجمع کړے شی نو واقعه څه دا رنګے جوړیږی :

بنی المُصطلِق ته دَ شکست ورکولو نه روستو لا دَ اِسلام لښکر په هغه کلی کښے دیره وُو کوم چه په مُریسیع نوم سره یاد وُو چه یو نا ځاپه په اُوبو باندِ دَ دوُو کسانو جګړه شوه - دَ یو نوم جَهجَاه بن مسعود غفاری وُو چه دَ حضرت عمرؓ نوکر وُو اودَ هغه دَ اَس خدمت به ئے کولو- او دویم سِنان بن وَبَرا الجُهَنِی وُو چه قبیلے ئے دَ خَزرج دَ قبیلے حلیف وه - دَ خُلے دَ خبرونه نوبت لاس اَچولو ته اُورسیدو اوجَهجَاه سِنان له یوه لته ورکړه چه انصارو به دَ خپل څوائی یمنی روایاتو په وجه سخت سپکاوے کښلو- سِنان انصارو ته دَ امداد دَپاره آواز اُوکړو، اوجَهجَاه مهاجرینو ته آواز اُوکړو- ابن اُبیَ چه دَ دے جګړے خبر واوریدو نو دَ اَوس اودَ خَزرج خلق ئے را اُوپاروَل اوچغے ئے شروع کړے چه را منډه کړئ دَ خپل حلیف امداد اُوکړئ - دَ بل اړخ نه څه مهاجرین هم را اُوتل - نزدے وه چه

---

[1] دَ دواړو صاحبانو نومونه په مختلفو روایتونو کښے مختلف بنودلے شوی دی - مونږه دا نومونه دَ ابن هِشام دَ روایت نه راغستلی دی۔

خبرہ زیاته شوی وے او هم په هغه ځائے کښے انصار او مهاجرین په خپل منځ کښے په جنګ شوی وے په کوم ځائے کښے چه اُوس اُوس هغوئ په شریکه د د شمن قبیلے سره جنګ کړے وُو او هغوئ له د شکست ورکولو نه روستولا د هغوئ په علاقه کښے ایسار وُو ۔ لیکن دا شور چه رسول الله صلی الله علیه وسلم واورید و نو را اُووتو او وے فرمائیل: ما بالُ دعوی الجاهلیة ؟ ما لکم ولدعوة الجاهلیة ؟ دعوها فانها مُنتنة ۔" دا د جاهلیت آواز څنګه ؟ تاسو او دا د جاهلیت آواز وَلے؟ دا پریږدئ ، دا ډیر کنده څیز دے[1] ۔" بیا د د واړو طرفونو صالحان خلق راوړا ند شوا و معامله ئے رفع دفع کړه او سِنان ، جُحجاه معاف کړو او صلح ئے اُوکړه ۔

د د ے نه روستو چه د چا په زړه کښے منافقت پروت وُو هغه عبد الله بن اُبَی ته اُور سید و او چه کله ډیر منافقان راجمع شو نو هغه ته ئے اُووئیل چه " تر اوسه پورے خو ستاسره اُمید و نه تړلی وُو او تاسو مخ نیوے کولو ، خو اُوس معلومیږی چه ته زمونږ په مقابله کښے د د ے کنګالو مدد کار جوړ شوے ئے ۔" ابن اُبَی د مُحکښے نه خوتکیدو ، په ډِے خبرو نورهم غصّه شوا و وِے وئیل " دا ټول هرڅه ستاسو د خپل لاس کړه دی ۔ تاسو ځلقوله په خپل ملک کښے ځائے ورکړو ، په دوی مو خپل مال تقسیم کړو ، تر ډِے پورے چه اُوس غوږ زیږ شو نو

---

[1] دا یوه ډیره اهمه خبره ده چه نبی په ډِے موقع اُوفرمائیله ۔ د اِسلام د صحیح رُوح د پیژندلو د پاره په ډِے خبره ځان ټیک ټوهه کول ضروری دی ۔ د اسلام طریقه داده چه که چرے دوه سړی په جګړه شی او خلق د امداد د پاره راغواړی نو وائی به چه مسلمانو ، راشئ او ځما امداد اُوکړئ ، یا به وائی چه اے خلقو ځما امداد له راشئ ۔ لیکن که چرے هر یو د خپلے خپلے قبیلے ، یا رُور رولئ ، یا نسل او رنګ ، یا د خپلے علاقے په نوم خلقو ته آواز کړی نو دا د جاهلیت آواز د ے ، او په ډِے آواز چه څوک راځی هغوئ که دا نه کوری چه ظالم څوک د ے او مظلوم څوک د ے ، او د حق او د انصاف مطابق د مظلوم سره د مرستے کولو په ځائے د خپلے خپلے د لے په مرسته کښے د یو بل سره په جنګ شی نو دا کار د جاهلیت د ے چه په دُنیا کښے تر فساد را پورته کیږی ۔ داوجه ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ډِے ته کنده او خراب څیز اُووئیلو او مسلمانو ته ئے اُوفرمائیل چه ستاسو د جاهلیت د د ے آواز سره څه واسطه ده ؟ تاسو د اسلام په بُنیاد باندِ یو ملت جوړ شوی وئ ، اُوس دا د انصارو او د مهاجرو په نوم آوان تاسو ته څنګه کیږی ، او په ډِے آواز باندِ تاسو چرته منډے وهئ ؟ علاّمه سُهَیلی په روض الانف کښے لیکلی دی چه د اسلام فقها وائی چه په جګړه کښے یا په اختلاف کښے د جاهلیت آواز اُوچتول یو فوجداری جرم دے ۔ یوه ډله وائی چه د هغه سزا پنځوس کوړے ده ۔ دویمه ډله وائی چه لس کوړے ده ، او دریمه ډله وائی چه هغه له سزا د حالاتو مناسب ورکول پکار دی ۔ په ځینو حالاتو کښے صرف رټنه کافی ده ، په ځینو نورو حالاتو کښے د جاهلیت آواز اُوچتونکے قیدول پکار دی ، اوکه زیات شر جوړ ونکے وی نو د کوړو سزا ورکول پکار دی ۔

[2] کومو خلقو چه به اِسلام قبول کړو او مدینے ته به را تلل نو د مدینے منافقانو به هغوی ته "جلابیب" وئیلو ۔ د دے لفظ لُغوی معنیٰ څوکمبل اغوستونکی یا غټے غټے جامے اغوستونکی ده ، لیکن هغوئ چه په دا لفظ د کومو غریبو مهاجرو د سپکاوی د پاره استعمالولو د هغے اصلی مطلب په لفظ کنګال سره زیات صحیح ادا کیږی ۔

زمونږه دُشمنان شو- زمونږه اودَ دے قریشی کنګالو (یادَ محمدؐ دَ اصحابو) دا مثال دے لکه چه سړے خپل سپی له ښه خورا کونه ورکړی او ښه ئے څورب کړی او بیا خپل مالک اُوچیچی- تاسو دَ دوئ نه لاس اُونیسئ او بیا کورئ چه دوئ هیڅ هم نهٔ دی - په خدا ئے م دِ قسم وی چه مدینے ته واپس اُورسونو په مونږ کښے چه څوک عزّت والا دے هغه به ذلیل لره اُوباسی -

اتفاقاً په دغه مجلس کښے حضرت زید بن ارقم هم موجود وُو چه په هغه وخت کښے ئے عمر ډیر کم وُو- هغه داخبری واوریدے او خپل تره ته ئے اُوکړے، اودَ هغه تره، چه دَ انصارو په سردار انو کښے یو سردار وُو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ټوله واقعه بیان کړه - نبیؐ زید را اُوغوښتو او پتوس ئے تر اُوکړو هغه چه څه اُوریدلی وُو هغه ئے ورته ټکی په ټکی اُوئیل[1]- نبیؐ اُوفرمایئـــل شاید چه ته دَ ابن اُبَی نه خفه ئے، کیدے شی چه ستانه په اوریدو کښے څه غلطی شوی وی - کیدے شی چه ستا دا شک را غلے وی چه ابن اُبَی دا وائی - لیکن زید عرض اُوکړو چه نهٔ جناب، په خدا ئے م دِ قسم وی ما اُوریدلی دی چه هغه دا خبری کولے - بیا نبیؐ ابن اُبیؐ را اُوغوښتو او پتوس ئے تر اُوکړو خو هغه صفا انکار اُوکړو او قسمونه ئے اُوخوړل چه ماهغه دا خبری کړی نهٔ دی - دَ انصارو خلقو هم اُووئیل چه جنابؐ، دَ هلک خبره ده - کیدے شی دَده هسے شک را غلے وی - دا زمونږه مشر او بزرګ سړے دے - دَدهٔ په مقابله کښے دَ یو هلک په خبره اعتبار مَه کوه - دَ قبیلے مشر انو خلقو زید هم ملامته کړو او هغه غریب خفه دلګیر په خپل ځائے کیناستو- لیکن نبیؐ زید هم پیژندو او عبدالله بن اُبَی هم، هغه ته پته اُولږیده چه اصل خبره څه ده -

حضرت عمرؓ ته چه پته اُولږیده نو را غے او عرض ئے اُوکړو چه " ماله اجازت راکړه چه دَدے منافق سَر والوُزوم - یاکه ماته اجازت کول مناسب نهٔ ګڼئ نو خپله دَ انصارو نه مُعاذ بن جَبل، یا عبّاد بن بِشرؓ، یا سعد بن مُعاذ، یا سعد بن مَسلَمه ته حکم اُوکړه[2] چه هغه قتل کړی " لیکن نبیؐ اُوفرمایئل " دا سے مَه کوه، خلق به وائی چه محمدؐ خپل ملګری قتل کوی " دَدے نه روستو نبیؐ فوراً دَ روانیدو حکم اُوکړو، حالانکه دَ نبیؐ دَ معمول په لحاظ سره هغه دَ روانیدو وخت نهٔ وُو- په مخه دیرش ګنټے روان وُو، تردے پورے چه خلق ستړی ستومانه شو- بیا نبیؐ په یوځائے کښے دمه اُوکړه او ستړی خلق زمکے ته دَ رسیدو سره اُوده شو- نبیؐ داسے ځکه اُوکړل چه دَ مُریسیع کوهی په خوا کښے څه شوی وُو چه دَهغے اثرات دَ خلقو دَ ذهنونو نه لرے شی - په لاره کښے دَ انصارو یو سردار حضرت اُسَید بن حُضَیر

---

[1] فقهاؤ وُدَدے نه دا حکم راغستے دے چه دَ یوسړی بده خبره بل سړی ته رَسُول که دَ دینی، یا اخلاقی یا ملی فائدے دَپاره وی نو دِے ته چغلی نشی وئیلے- په شریعت کښے چه کومه چُغلی حرامه ده هغه هغه چغلی ده چه دَ فساد په غرض وی اودَ خلقو دَ جنګولو دَپاره وی -

[2] په مختلفو روایتونو کښے دَ مختلفو انصاری بزرګانو نومونه راغلی دی چه دَ هغوی په حقله حضرت عمرؓ عرض کړے وُو چه تهٔ په دوئ کښے دَیوتن نه دا خدمت واخله که چرے ځُمانه په دِے خیال دا کار اغستل مناسب نهٔ ګڼرے چه څه مهاجرین، ځما په لاس دَ هغه په قتل کیدو سره دَ فتنے راپورته کیدو امکان دے -

دَ نبی سره ملاؤشو او عرض ئے اوکړو " اے دَاللہ رسوله ننه تا په دا سے وخت کښے د روانیدو حکم اُوکړو چه دَ سفر کولو دَپاره مناسب نهٔ وُو ،اوتا به هیڅکله په دا سے وخت کښے سفر نهٔ شروع کولو"؟ نبیؐ جواب ورکړو،" تا اَوریدلی نهٔ دی چه ستاسو هغه ملګری څه ګلونهٔ وړَوَلی دی؟ هغه ټپوس اُوکړو کوم ملګرے؟ نبیؐ اُوفرمائیل عبداللہ ابن اُبیَ - هغه ټپوس اُوکړو چه هغه څه وئیلی دی؟ نبیؐ اوفرمائیل " مدینے ته دَرسیدو سره به عزّت والا ذلیله سړے بهر اوباسی" هغه عرض اُوکړو،" اے دَاللہ رسوله ، په خدائے مِ دِ قسم وی ،عزّت والا خوته ئے او ذلیله هغه دے ، تهٔ چه کله اُوغواړے هغه ایستلے شے"

رُورُو داخبره په ټولو انصارو کښے خوره شوه او په هغوئ کښے دَ ابن ابیّ خلاف سخته غصّه پیدا شوه - خلقو ابن ابیّ ته اُووئیل چه لاړ شه دَ رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلّم نه معافی اُوغواړه - لیکن هغه په غصّه جواب ورکړ ورکړو" تاسو اُووئیل چه په هغه ایمان راوړه - ما ایمان راوړه - تاسو اُووئیل چه دَ خپل مال زکوٰة ورکړه - ما زکوٰة هم ورکړو - بس اُوس داخبره پاتے ده چه څه محمّد ته سجده اُوکړم" په دِے خبروسره انصار مومنان نورهم ناراضه شو اوهغه دَ هرطرفنه ملامته کړے شو - هرکله چه دا قافله مدینے ته ورننوتله نو دَ عبداللہ بن اُبیّ حُوئے چه دَ هغه نوم هم عبداللہ وُو ، تره راُوښکله اودَ پلار مخے ته اُودریدو اووُیل " تا وئیلی وُو چه مدینے ته واپس لاړشو نو عزّت والا به ذلیله اُوباسی، اُوس به تاته پته اُولږی چه عزّت والا تهٔ ئے اوکه اللہ اودَ هغه رسولؐ دے - په خدائے مِ دِ قسم وی تهٔ مدینے ته ترهغے داخلیدے نشے ترڅوچه رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم تاته اجازت اُونهٔ کړی" په دِے خبره ابن اُبیَ چغے کړے ،" دَ خزرج خلقو، لږ اُوګورئ، څاوُئ ما دَ مدینے نه منع کوی" خلقو داخبره نبی ته اُورَسوله اوهغه اُوفرمائیل ، عبداللہ ته اُووایئ ، خپل پلار کور ته پریږده" عبداللہ اُووئیل، "چه دَ هغه حکم دے نو اُوس مدینے ته ننوتے شے" په هغه وخت کښے نبیؐ حضرت عمرؓ ته اُوفرمائیل، " وَلے عُمره ، اُوس ستا څه خیال دے ؟ په کوم وخت کښے چه تاوئیلی وُو چه ماله دَ دهٔ دَ وژلو اجازت راکړه په هغه وخت کښے که تا دے قتل کړے وے

نو دہیر و خلقو رحم به پرې را غلے وُو۔ بن که څه دَدهٔ دَ قتل کولو حکم اُوکړم نو دے وژلے کیدے هم شی"۔ حضرت عمرؓ عرض اُوکړو، "په خدائے مې قسم وی چه اُوس ماته معلومه شوه چه دَ اللّٰه دَ رسول خبره ځما دَ خبرې نه زیاته حکمتی وه"۔

داوُو هغه حالات چه په هغے کښے دا سورة، غالب یقین داد ے چه نبیؐ کله مدینے ته اُورسیدو نو پس دَ هغے نازل شو۔

لہ دَ دے نه دوه اهمے شرعی مسئلے څرګندیږی - یوه داچه کوم عمل ابن اُبَی کولو، بل څوک که هغسے عمل په مسلمان ملّت کښے دننه اُوکړی نو هغه دَ قتل مستحق دے - دویمه داچه څوک قانوناً دَ قتل مُستحق شی نو دا لازم نه ٔده چه هغه دِ ضرور قتل کړے شی - دَ دا سے فیصلے نه محکمے دا کمّل پکاردی چه آیا دَ هغه دَ قتل نه به څه لویه فتنه خوجوړه نه ٔ شی - دَ حالا تونه چه ستر ګے پټے کړے شی او په پټوستر ګو قانون استعمال کړے شی نو کله ناکله بالکل اُلټا اثر پیدا کوی او دَ کوم مقصد دَ پاره چه قانون استعمالیږی دَ هغے مقصد نه خلاف بالکل اُلټا نتیجه راپیدا کوی - که چرے دَ یو منافق یا یو مفسد سړی شاته څه خاص سیاسی طاقت موجود وی او هغه له په سزا ورکولو سره دَ فتنے را اُوچتیدو خطره وی نو نبه داده چه په حکمت او تدبّر سره هغه اصلی سیاسی طاقت ختم کړے شی دَ کوم په رُوُر چه هغه شرارت کوی - هم داحکمت وُو چه نبیؐ عبداللّٰه بن اُبَی له په هغه وخت کښے هم سزا ورنه ٔکړه په کوم وخت کښے چه هغه له په سزا ورکولو قادر وُو، بلکه دَ هغه سره بهٔ برابر دَ نورو سلوک کولو، اَن تردے چه پورے چه په دوه دڑے کاله کښے دننه دَ منافقانو زُور دَ همیشه دَ پاره ختم شو۔

سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْنَ مَدَنِيَّةٌ

اٰيَاتُهَا ۱۱ رُكُوْعَاتُهَا ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ۚ ۱ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهُمْ

اے نبی، کله چه دا منافقان تاله راشی نو وائی "مونږه گواهی کوو چه تهٔ بے شکه د الله رسول ئے"۔ هو، الله ته معلومه ده چه تهٔ ضرور د الله رسول ئے، خو الله گواهی کوی چه دا منافقان بالکل دروغژن[1] دی - دوئ د خپلو قسمونو نه دال جوړ کړے دے[2] او په دے طریقه دوئ د الله د لاره نه پخپله هم منع شوی دی او بل هم منع کوی[3]

[1] یعنی کومه خبره چه هغوئ په خُله کوی هغه خو بخپل ځائے ریښتینی ده، لیکن چونکه د هغوئ خپله عقیده هغه نهٔ ده کومه چه هغوئ په خُله وائی، په دے وجه هغوی په دے خپله وینا کښے دروغژن دی چه هغوئ ستا د رسول کیدو گواهی کوی - دلته په دے خبره ځان بنه پوهه کول پکار دی چه په شهادت کښے دوه څیزونه وی - یو هغه اصل خبره چه د کومے گواهی اُوشی - دویم د هغے خبری په حقله گواهی کونکی خپله عقیده - اُوس که چرے خبره په خپل ځائے هم ریښتینی وی او د گواهی کونکی عقیده هم هغه وی کومه چه هغه په خُله بیانوی، نو هغه به په هرلحاظ سره ریښتینے وی - اوکه چرے خبره په خپل ځائے دروغ وی، لیکن گواهی کونکے د هغے د حق والی عقیده لری، نو مونږ به هغه ته په یو لحاظ سره ریښتینے وایو، ځکه چه هغه په خپله عقیده بیانولو کښے ریښتینے دے، او په بل لحاظ سره به ورته دروغژن وایو، ځکه چه د کومے خبرې هغه گواهی ورکوی هغه پخپله غلطه ده - د دے برعکس که چرے خبره په خپل ځائے ریښتیا وی لیکن د گواهی ورکونکی خپله عقیده د هغے خلاف وی، نو مونږ به په دے لحاظ سره هغه ته ریښتینے وایو چه هغه د صحیح خبرې گواهی کوی، او په دے لحاظ سره به هغه ته دروغژن وایو چه د هغه خپله عقیده هغه نهٔ ده کومه چه هغه په خُله بیانوی - د مثال په طور یو مومن که چرے اِسلام ته حق دین اُووائی نو هغه په هرلحاظ سره ریښتینے دے - لیکن که چرے یو یهودی چه په خپل یهودیت باندے ټینګ ولاړ وی هغه که اِسلام ته حق دین اُووائی نو خبره به د هغه ریښتینی وی خو گواهی به ئے دروغژنه وی، ځکه چه هغه د خپلے عقیدے خلاف گواهی کوی - اوکه چرے هغه اِسلام دین ته باطل اُووائی، نو مونږ به وایو چه خبره د هغه دروغژنه ده، لیکن هغه د خپلے عقیدے مطابق ریښتینی گواهی کوی -

سَآءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝٢ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ اٰمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا فَطُبِعَ
عَلٰى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ۝٣ وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ
أَجْسَامُهُمْ ۖ وَإِنْ يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ۖ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُسَنَّدَةٌ ۖ

داخلی ویر خراب کارونه کوی - دَدے ټول هرڅه وجه داده چه دِ خلقو ایمان راوړو بیا ئے کفر اوکړو نو ځکه ئے په زړونو مُهر اُوهلے شو، اُوس دوئ په هیڅ نۀ پوهیږی -

چه ورته ګورے نو ځُثے به ئے درته ویرے شاندارے ښکاره شی - چه خبرے کوی نو واځے به چه خبرو ته ږ ئے غوږ ونیسے - خو په اصل کښے دوئ لکه دَ لرګی کندے دی چه دیوال ته وُدرَوَلے شوی وی -

۲ یعنی هغوئ چه دَ خپل مُسلمانیدو دَ باور راوستلو دَ پاره کوم قسمونه خوری، دَهغے نه هغوئ دَ دوال کار اخلی چه د مسلمانانو دَ غصے نه بچ شی او مسلمانان دَ هغوئ سره هغه سلوک اُونۀ کړے شی کوم چه دَ ځرګندو دُشمنانو سره کیږی -

دَدے قسمونو نه مُراد هغه قسمونه هم کیدے شی کوم چه به هغوئ عام طور دَ خپل ایمان دَ یقین راوستلو دَ پاره خوړل، او هغه قسمونه هم کیدے شی کوم چه به هغوئ په هغه وخت کښے خوړل کله چه به دَ منافقت په کار کښے اُونیولے شو چه مسلمانانو له داباور ورکړی چه هغه کار هغوئ دَ منافقت په وجه نۀ وُوکړے، او هغه قسمونه هم کیدے شی کوم چه عبد الله بن اُبَیَ دَ حضرت زید بن ارقم دَ خبر دَ دروغژن کولو دَ پاره خوړلی وُو - دَدے ټولو قیاسونو سره یو قیاس داهم دے چه الله تعالیٰ به دَ هغوئ داوینا قسم کرزولے وی چه "مونږ ګواهی کوُو چه تهٔ دَ الله رسول ئے" دَدے آخری قیاس په وجه دَ فقهاؤ په منځ کښے دا بحث پیدا شوے دے چه که یوسړے دا الفاظ چه "ځُه ګواهی کوم" اُووائی او یوه خبره اُوکړی نو آیا هغه به قسم یا حلف (Oath) کښړلے شی اوکه نۀ - امام ابوحنیفهؒ او دَ هغه ملګری (دَ امام زُفر نه سوا) او امام سُفیان ثوری او امام اَوزاعی دِے ته حلف (په شرعی ژبه کښے یمین (یعنی قسم) وائی - امام زُفر وائی چه دا حلف نۀ دے دَ امام مالک نه دوه قولونه روایت نقل کړے شوی دی - یو داچه دا مطلقاً حلف دے، او دویم قول دا دے چه که چرے دَ هغه دَدے الفاظو چه "ځُه ګواهی کوم" وئیلو په وخت کښے نیت داوُوچه "په خدائے دِ قسم وی ځُه ګواهی کوم"، یا "خدائے ګواه کوم چه ځُه شهادت کوم" نو بیا به دا حلفیه بیان وی کنۀ نو نۀ به وی - امام شافعیؒ وائی چه که چرے ویونکے دا الفاظ هم اُووائی چه "خدائے مې ګواه دے چه شهادت کوم" خو بیا به هم دَ هغه دا بیان حلفیه بیان نۀ وی، بغیر دَدے نه چه هغه دا الفاظ دَ قسم په نیت وئیلی وی (احکام القرآن للجصّاص - احکام القرآن لابن العربی) -

۳ صَدّ لفظ په عربی ژبه کښے فعل لازم هم دے او فعل متعدّی هم دے - په دے وجه دَ صَدّوُا

عَنْ سَبِیْلِ اللّٰہِ معنیٰ دا هم ده چه هغوئ د الله دلار ے نه پخپله منع کیږی، او دا هم ده چه هغوی د الله دلار ے نه نورخلق منع کوی، په دے وجه موښږه په ترجمه کښے دواړه معنے لیکلی دی ۔ د اولے معنے په لحاظ سره بـــه مطلب داوی چه هغوئ د دے خپلو قسمونو په ذریعه په مسلمانانو کښے د ننه د خپل ځان د پاره د ایمانی کارونو د نه ٔ کولو او د خدائے او د رسول د اطاعت نه د ډډے کولو آسانتیا ګانے پیدا کوی ۔ د دویم معنے په لحاظ سره به مطلب داوی چه هغوئ د دے خپلو دروغو قسمونو په وجه ښکار کوی، د مسلمانئ په جامه کښے په مسلمانانو کښے د ننه فساد پیدا کوی، د مسلمانانو را زونه معلومَوی او د ُشمنانو ته ئے رَسوی، د اِسلام نه غیرمسلمه خلق بدګمانه کوی، او د ساده مسلمانانو په زړونو کښے شک شُبهے او وَسوسے اچَوی، او دا ټول کارونه صرف هغه منافق کولے شی چه هغسه د مُسلمانئ په جامه کښے پټ وی، ښکاره د اِسلام دُشمن ئے هیڅکله نشی کولے ۔

۴ په دے آیت کښے د ایمان راوړلونه مُراد د ایمان د اقرار کولو سره په مسلمانانو کښے شاملیدل دی ۔ او د کُفر کولونه مُراد د زړه نه ایمان نه ٔ راوړل دی او په هغه کفر باندِ ټینګ اُوسیدل دی په کوم باندِ چه هغه د ایمان د ظاهری اقرار نه مخکښے ټینګ ولاړ وُو ۔ د کلام مقصد دادے چه هر کله هغوئ سره د ډډے نه ٔ صفا صفا ایمان قبول کړو او نه ٔ ئے صفا د کُفر لارا اختیار کړه بلکه د منافقت لار ئے اختیار کړه نو د الله تعالیٰ د طرفنه د هغوئ په زړونو باندِ مُهر اُووهلے شو او هغوئ له دا توفیق ورنه ٔ کړے شوچه د یو ربښتینی او شریف انسان پشان صفا لار اختیار کړی ۔ اُوس د هغوئ پوهه ختمه شوی ده ۔ د هغوئ اخلاق تباه شوی دی ۔ په دے لار کښے د هغوئ هډوډا فکرنه ٔ راځئ چه دا شپه وُرځ دروغ وئیل او دا هروخت اکے دو کے کول او دا همیشه په قول او فعل کښے تضاد کول، څنګه ذلیله حالت دے چه دوئ پکښے خپل ځان اخته کړے دے ۔

دا آیت په هغه آیتونو کښے یو آیت دے چه په هغے کښے د الله د طرفنه د چا په زړه باندِ د مُهر لګولو مطلب بالکل په واضحه طریقه بیان کړے شوے دے ۔ د دے منافقانو دا حالت په دے وجه سره نه ٔ دے چه الله د هغوئ په زړونو باندِ مُهر لګولے وُو نو په دے وجه ایمان د هغوئ زړونه هډو ورکوزنه ٔ شوا و هغوئ مجبوراً منافقان پاتے شو ۔ بلکه الله تعالیٰ د هغوئ په زړونو باندِ دا مُهر په هغه وخت کښے اُولګوُو کله چه هغوئ د اِظهار نه روستو په کفر باندِ د ټینګ اوسیدو فیصله اُوکړه ۔ پس د هغے د هغوئ نه د خالص ایمان او د نیک عمل توفیق واغستلے شو او د هغه منافقت او بد اخلاقئ توفیق ورکړے شو کوم چه هغوی پخپله د خپل ځان د پاره خوښ کړے وُو ۔

۵ حضرت عبدالله بن عباس رض وائی چه عبدالله بن اُبَی پیر ږول ناک، غټ کټ، ښکلے اوچالاک، سړے وُو ۔ هم دا رنګه بنائست د هغه د پیرومل کړو وُو ۔ دا ټول د مدینے سردارانِ خلق وُو ۔ کله چه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم مجلس له را غلل نو دیوالونوته به ښه ډډے اُووهلے او خوندنا کے خبرې به ئے کولے ۔ د هغوئ جُثوته چه به چا اُوکتل او د هغوئ خبرې به ئے واوریدے نو دا ګمان قدر له به ئے نه ٔ شو کولے چه د مدینے دا عزتمند خلق به د خپل کردار په لحاظ سره دومره ذلیله وی ۔

۶ یعنی دے کومو خلقو چه دیوالونوته ډډے وهلی وی اوناست وی، دا انسانان نه ٔ دی بلکه د لرګی کنده دی ۔

يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۭ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ۭ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝۴ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَرَاَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ۝۵

په زُوره هر آواز د خپل ځان خلاف ګڼي[۸۸] ـ دوئ پاخه دُشمنان دي[۸۹]، دَدوئ نه ځان وساته، دَالله غضب دے په دوئ باندِ[۹۰]، دوئ کوم خوا واپس بوتللے کيږي[۹۱]ـ

اوکله چه دوئ ته اُووئيلے شي چه راشئ چه دَالله رسول ستاسو دَپاره دَبخښنے دُعا اُوکړي، نو سر ونوله جتکه ورکوي اوته وينے چه هغوئ ډيره غرور سره دَرتلونه منع کيږي[۹۲]

دوئ له په لرګو پورے مثال ځکه ورکړے شوے دے چه دوئ دَاخلاقونه بالکل خالی دی ـ بيا دَدوی مثال دَهغه لرګو پشان ګڼے چه هغه ديوال ته ودرَولے شوی وی يعنی دوئ بالکل ناکاره دی ـ ځکه چه لرګی هله فائده ورکوی کله چه هغه په چت کښے، يا په دروازه کښے يا دَاستعمال په يو ځاے کښے اُولږی ـ ديوال ته چه کوم لرګے ودرَولے شوے وی هغه هيڅ فايده نه ورکوی ـ

۸۸ په دے مختصره فقره کښے دَهغوئ دَ زړونو پټ حالت څرګند کړے شوے دے ـ هغوئ ته په خپلو زړونو کښے بنسه معلومه وه چه هغوئ دَ ايمان په ظاهری پرده کښے دَ منافقت کومه لوبه کوی، په دے وجه به دَ هغوئ سره هروخت دا تلوسه وه چه اُوس دا دے زمونږ دَ غلطو کارونو راز بنکاره کيږی يا دَ مومنانو صبر تماميږی او په مونږ حمله کوی ـ په کلی کښے چه به هرخواته په زُوره آواز اُوشو يا به چرته څه شور اُوچت شو نو په دوئ به يَره راغله او دا به ئے خيال وُو چه کښی زمونږ دَ بدبختئ وخت راغے ـ

۸۹ يعنی دَ څرګند و دُشمنانو په نسبت دا پټ دُشمنان زيات خطرناک دی ـ

۹۰ يعنی دَدوئ په ظاهره مَه دوکه کيږه ـ هروخت دا خيال ساته چه دوئ هروخت دوکه ورکولے شی ـ

۹۱ دا بد دُعائ نه ده بلکه دَالله دَطرفنه دَهغوئ په باره کښے دَدے فيصلے اعلان دے چه هغوئ دَغضب مستحق شوی دی، په هغوئ باندِ به دَالله غضب خامخا راځی ـ دا هم کيدے شی چه دا الفاظ الله تعالیٰ په لُغوی معنیٰ کښے نه وی استعمال کړی بلکه دَعربئ ژبے مطابق ئے دَلعنت دَپاره استعمال کړی وی لکه څنګه چه مونږ ه دَچا بدی نه بيانوونوا يسو تباهی ده دَهغه څومره خراب سړے دے ـ دَلفظ "تباه" نه دَهغه خرابوالے ظاهروَل مقصد وی نه چه دَهغه په حق کښے بد دُعائ کول وی ـ

سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝٦

اے نبی، که دَدوئ دَ پاره دَ بخښنا دُعا اُوکړے اوکه اُونه کړے، دَدوئ په حق کښے یوشان دے، اللّٰه هغوئ هرگز نه معاف کوی[۱۱]، اللّٰه فاسقانو خلقونه هدایت هرگز نه کوی[۱۲]۔

۱۱ھ دا اُونه وسیلے شو چه څوک هغوئ دَ ایمان نه منافقت ته اُلتا بوځی۔ دَدے دَ نه ظاهر ولو نه پخپله دامطلب را اُوزی چه دَ هغوئ دَدے نسکورتلوڅه یوه وجه نه ده بلکه ډیرے وجے په دے کښے کارکوی۔ شیطان دے۔ بدان دُوستان دی۔ دَ هغوئ دَ خپل نفس غرضونه دی۔ دَ چا خپله بنځه دَدے سبب دے، دَ چا خپل بچی دَدے سبب دے۔ دَ چا دَ خپلے رورُولئ شریران خلق دَدے سبب دے۔ اوڅوک دَ خپل حسد او بُغض او تکبّر په وجه په دے لار روان دی۔

۱۲ھ یعنی صرف یواز دے په دے اکتفا نه کوی چه رسول له دَ بخښنا نے دَ پاره نه ځی، بلکه دَ هغه نه دَ بخښنا نے غوښتلو خبره چه واوری نو ډیر په غرور سره خپلو سرونو له جټکے ورکوی اور سول له تلل اودَ هغه نه معافی غوښتل خپله بے عزّتی ګڼړی او دَ خپل ځائے نه نه خوزی۔ دا دَ هغوئ دَ غیر ایمان بنکاره نښه ده۔

۱۳ھ دا خبره په سورۃ توبه کښے (چه دَ سورۃ منافقون نه دَ ډیر کاله روستو نازل شوے دے) نوره هم زیاته په تاکید سره فرمائیلے شوی ده۔ په هغے کښے اللّٰه تعالیٰ رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم ته دَ منافقانو په حقله اُوفرمائیل چه "که ته دَ هغوئ دَ پاره دَ بخښنا نے دُعا اُوغواړے اوکه نه اُوغواړے که ته اُویا خُله هم دَ هغوئ دَ پاره دَ بخښنا نے دُعا اُوغواړے نو اللّٰه هغه هرگز نه معاف کوی، داپه دے وجه چه هغوئ دَ اللّٰه او دَ هغه دَ رسول سره سفر کړے دے، او اللّٰه فاسقانو خلقو ته هدایت نه کوی (التوبه آیت ۸۰)۔ وړاندے بیا فرمائی که په هغوی کښے څوک مړشی نو دَ هغه جنازه مَه کوه او مَه دَ هغه په قبر ودریږه۔ دے خلقو دَ اللّٰه او دَ هغه دَ رسول سره کفر کړے دے او دوئ دَ فسق په حالت کښے مړه شوی دی" (التوبه آیت ۸۴)۔

۱۴ھ په دے آیت کښے دوه خبرے بیان کړے شوی دی۔ یو دا چه دَ بخښنا نے دُعا صرف دَ هغه خلقو په حق کښے فائده لری چا چه هدایت موندلے وی۔ کوم سړی چه دَ هدایت نه مخ اړولے وی او دَ هدایت په ځائے دَ فسق او دَ نافرمانئ لار اختیار کړی وی، دَ هغه دَ پاره یو عام سړے خو پریږده، پخپله دَ اللّٰه رسول هم که دَ بخښنا نے دُعا اُوغواړی نو هغه معاف کیدے نشی۔ دویم دا چه کوم خلق دَ اللّٰه دَ هدایت طلبګار نه وی هغوئ ته هدایت کول دَ اللّٰه طریقه نه ده۔ چه یو بنده پخپله دَ اللّٰه تعالیٰ دَ هدایت نه مخ اړولے وی، بلکه هغه چه هدایت ته را غوښتلے کیږی نو په ډیر غرور سره سر له جټکه ورکړی او د هغه دعوت نه انکار اُوکړی، نو دَ اللّٰه څه ضرورت دے چه په هغه پسے خپل هدایت ګرزوی او دَ هغه خوشامندګری کوی چه نیغے لار ته را شی۔

هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى
يَنْفَضُّوْا ؕ وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ
لَا يَفْقَهُوْنَ ۝۷ يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَاۤ اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ
الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ؕ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ
وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۸ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَاۤ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ

دا هم هغه خلق دی چه وائی چه دَرسول په ملګرو باندِ خرچ بند کړئ چه (وله ئے) خوره شی ـ حال داچه دَ زمکے اودَ آسمانونو دَ خزانو مالک الله دے، خو دا منافقان نه پوهیږی ـ دوی وائی چه مونږه مدینے ته واپس اُورسونو څوک چه عزّت والا دے هغه به ذلیله کس دَ هغه ځائے نه بهر اُوباسی[۱۵] ـ حالانکه عزّت خودَ الله اودَ هغه دَرسول اودَ مومنانو دَ پاره[۱۶] دے، لیکن دا منافقان پوهیږی نه ـ ع

اے مومنانو[۱۷]، ستاسو مالونه اوستاسو اولادِ تاسو دَ الله دَ یاد نه غافله نه کړی[۱۸] ـ

۱۵ حضرت زید بن اَرقم وائی چه کله مادَ عبدالله بن اُبَیّ داوینا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اُورسوله اوهغه را غے اوصفا انکار ئے اُوکړو اوپه ډِے باندِ ئے قسم هم اُوخوړو، نودا انصارو مشرانو کسانو اوپخپله ځما خپل تره ځه دیر ملامته کړم، تر دے پورے چه ځما دا گمان را غے چه نبیؐ ته هم ځه درو غژن اوعبدالله بن اُبَی ریښتینے ښکاره شوے دے ـ په ډِے دومره خفه شوم چه په ټول عمر کښے چرته دا سے خفه شوے نه وُوم اوخفه دلګیر په خپل ځائے کیناستم ـ بیا چه کله دا آیتونه نازل شونو رسول الله صلی الله علیه وسلم ځه را اُوغوښتم، په خندا خندا ئے ځما غوږ را اُونیواو وے فرمائیل چه دَ هلک غوږ ریښتینے وُو، الله پخپله دَ ډے تصدیق اُوکړو (ابنِ جریر ـ په ترمذی کښے هم دغسے روایت موجود دے) ـ

۱۶ یعنی عزّت دَ الله دَ ذات دَ پاره خاص دے، او دَ رسول دَ پاره دَ رسالت په وجه اودَ مومنانو دَ پاره دَ ایمان په وجه ـ پاتے شو کافران، فاسقان او منافقان خلق، نو په حقیقی عزّت کښے دَ دوی هیڅ وخه حصّه نشته ـ

۱۷ اُوس عام مسلمانانو ته نصیحت کیږی خواه که هغوی ریښتینی مومنان دی اوکه تش دَ خُلے اقرار کوونکی دی ـ دَ دے نه مخکښے څو ځله مونږه دا خبره بیان کړی ده چه په قرآن مجید کښے

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝٩ وَاَنْفِقُوْا
مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ
رَبِّ لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنْ مِّنَ
الصّٰلِحِيْنَ ۝١٠ وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ۭ
وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝١١

اوځوک چه داسې اُوکړي نوهم هغوی په خساره کښې پاتې کیدونکی خلق دی - کوم رزق چه مونږ تاسوله درکړے دے ډډه ځغې نه خرچ کړئ مخکښې ددے نه چه په تاسوکښې چا ته ډمرګ وخت راشي اوبیا په هغه وخت کښې اُووائی چه" اے ځماربه، ماته ډیوځوُرځے مُهلت نور وَلے رانکړوچه ما صدقه ورکړے وے اوپه نیکانوخلقوکښې شامل شوے وے"۔ حالانکه کله چه ډ چا ډعمل ډ پوره کیدو نیټه راشي نواللّٰه هغه له هرګز نُور مُهلت نۀ ورکوی، اوځه چه تاسوکوئ، اللّٰه ډ هغې نه خبر دے -

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا کله خو ریښتینی مومنانوته ویُلے شوے دے اوکله منافقانوته ویُلے شوے دے حکه چه هغوئ ډ ایمان اقرار په خُله باندې کوی، اوکله تې عام مسلمانان مُراد وی - ډ کلام ډ موقع اوډ محل نه دامعلومیږی چه په کوم ځائے کښې کومه وله مُراد ده -

۱۸ ډ مال اوډ اَولاد ذکرخاص طورپه ډے وجه اُوشوچه انسان اکثر ډډے دواړو ډ خاطره ډ ایماندارئ ډ کارونونه مخ اړوی او په منافقت یا په فِسق یا په نافرمانئ یا ضُعفِ ایمان کښې اخته کیږی، کنئ نو په حقیقت کښې خوډ ے نه مُراد ډ ډُنیا هرهغه څیز ډے چه هغه انسان ډ ځان سره دومره مشغوله کړی چه هغه ډ خدائے ډ یاد نه غافله شی - دا ډ خدائے ډ یاد نه غافله کیدل په اصل کښې ډ تولوګناهونوجړ ده - که چرے انسان ته دا یاد پاتے شوچه هغه آزاد نه ډے، بلکه ډ یوخدائے بنده ډے، او هغه خدائے ډ هغه ډ تولو عملونونه خبرډے، اویوه ورځ به ډ هغه مخې ته وُدریږی اوډ خپلو تولو عملونوجواب به ورکوی، نوهغه به هیڅکله ډ ځپلو لارے نه بے لارے شوے نۀ وُاوبد عملی به ئے هډوا ختیارکړی نۀ وه، اوکه ډ انسانی کمزورئ په وجه ئے کله نا کله خپه هم خوښُد لے نوډ فکر ډ را تلوسره به فوراً صحیح کیدلے -

تفهم القرآن

التغابن

٦٤

التَّغَابُن

نوم | دَدے سورۃ نوم دَآیت نمبر۹ دَفقرے ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ نه اخستلے شوے دے۔ یعنی دا هغه سورة دے چه پکښے تَغَابُن تکے راغلے دے۔

دَ نازلیدو زمانه | مُقاتل اوکلبی وائی چه دَدے څه حصّه مکّی ده او څه مدنی ده ۔ حضرت عبداللّٰه بن عباس او عطاء بن یَسار وائی چه دَ اوّل نه دَ آیت ۱۳ پورے مکی دے او د آیت ۱۴ نه دَ سورة دَ آخره پورے مدنی دے ۔ لیکن اکثر مفسّرین ټول سورت ته مدنی سورة وائی ۔ اگرچه په دِے کښے څه داسے اِشاره نهٔ موندے کیږی چه دَ هغے نه دَدے سورة دَ نازلیدو زمانه معلومه کړے شی، لیکن دَ کلام په مضمون باندِ دَ غورکولونه دا اندازه لږی چه غالباً دا به دَ مدینے په اَولنی دَور کښے نازل شوے وی ۔ دا وجه ده چه په دِے کښے څه رنګ دَ مکّی سورتونو پشان دے او څه دَ مدنی سورتونو پشان ۔

موضوع او مضمون | دَدے سورة موضوع دَ ایمان اودَ اطاعت کولو دعوت اودَ بنو اخلاقو تعلیم دے ۔ دَکلام ترتیب داسے دے چه په اولنو څلورو آیتونو کښے خطاب ټولو انسانانو ته شوے دے، بیا دَ آیت ۵ نه دَ آیت ۱۰ پورے هغه خلقوته خطاب شوے دے څوک چه دَ قرآن دعوت نهٔ منی، او بیا دَ یَوْملسم آیت نه دَ آخره پورے هغه خلقوته خطاب دے څوک چه دا دعوت منی ۔

ټولو انسانانو ته خطاب په یوځومختصرو فقرو کښے شوے دے او هغوئ ته څلور بُنیادی حقیقتونه ښودلے شوی دی:

اوّل دا چه په کوم کائنات کښے تاسو ژَمئ، دا بے خدایه کائنات نهٔ دے بلکه دَدے خالق او مالک اوبادشاه یو دا سے قادرمطلق خدائے دے چه دَ هغه په حقله دَدے کائناتو هرځیز دا ګواهی کوی چه هغه کامِل دے او بے عیبه دے۔

دویم دا چه دا کائنات بے مقصده او بے حکمته نهٔ دے بلکه دَدے خالق دا سراسر په حقه پیدا کړے دے ۔ دلته په دِے دوکه کښے مهٔ پریوزئ چه دا کِښی یوه فضول تماشاده چه عبث شروع شوی ده او هم دغسے عبث به ختمه شی ۔

دریم دا چه تاسو دَ کوم بنکلی شکل سره الله پیدا کړی یئ او بیائے درله دَکُفر کولو اودَ ایمان راوړلو اختیار درکړے دے، نو دا څه بے مطلبه کار نهٔ دے چه که تاسو کُفر اختیاروئ اوکه ایمان، خو دَ دواړو به هیڅ نتیجه نهٔ راوزی ۔ په اصل کښے خدائے دا ګوری چه تاسو داخپل اختیار په کومه طریقه استعمالوئ ۔

څلورم داچه تاسو غیر ذمه وار خلق نه یئ، ستاسونه به ستاسو د عملونو تپوس کیږی - آخرنه آخر به تاسو خپل خالق ته واپس ځی او هغه ذات ته به مخامخ کیږئ چه د کائناتو د هرشیئ نه خبر دے، ستاسو یوه خبره هم د هغه نه پټه نه ده، ستاسو د زړونو پټ خیالات هم هغه ته معلوم دی -

د کائناتو او د انسان د حقیقت په باره کښے د دے څلورو بُنیادی خبرو بیانولو نه روستو خبره هغه خلقو ته کیږی چا چه د کُفر لار اختیار کړی ده، او د هغوئ توجه د تاریخ دِے منظر ته راأړوی چه په ټول انسانی تاریخ کښے بار بار په نظر راځی چه قومونه اُوچتیږی او بیا په آخر کښے د تباهئ سره مخ کیږی - انسان په خپل عقل سره د تاریخ دَدے منظر په زړګونو وجے بیانوی، لیکن الله تعالیٰ اصل حقیقت څرګند وی او هغه دا دے چه د قومونو د تباهئ بُنیادی سبَبُونه صرف دوه وُو:

یو دا چه الله تعالیٰ د انسانانو د هدایت د پاره کوم رسولان رالیږلی وُو، انسانانو د هغوئ د خبرو منلونه إنکار اُوکړو - دَدے نتیجه داشوه چه الله هم هغوئ په خپل حال باندِ پریښودل او هغوئ پخپله د خانه فلسفے جوړول شروع کړل او په ګمراهئ کښے وګیر لړے لاړل -

دویم داچه هغه د آخرت عقیده هم اُونه منله او په خپل ګمان کښے ئے دا اُوګڼله چه بس هم دا د دنیا ژوند هرڅه هرڅه دے، دَدے نه روستو بل دا سے ژوند نشته چه په هغے کښے به هوښه خپل خدائے ته د خپلو عملونو جواب ورکوُو - دے عقیدے د هغوی ټول ژوند خراب کړو او د هغوئ اخلاق او کِردار دومره ګنده شو چه آخر د خدائے عذاب راغے او دُنیائے د هغوئ نه پاکه کړه -

د انسانی تاریخ دَدے دوُو عبرتناکو حقیقتونو بیانولو نه روستو د حق نه إنکار یانو خلقو له دعوت ورکړے کیږی چه هغوئ د عقل نه کار واخلئ او که د مخکینو قومونو پشان انجام لیدلئ غواړئ نو په الله او د هغه په رسول او د هغه په رالیږلی شوی کتاب باندِ ایمان راوړی - دَدے سره هغوئ له خبردارے ورکړے کیږی چه آخر هغه ورځ راتلونکی ده چه په هغے کښے به اَولنی او آخرینی ټول خلق یوځائے ته راجمع کړے شی او د هر انسان غَبن به د ټولو خلقو په مخ کښے څرګند کړے شی - بیا به د ټولو انسانانو د قسمت فیصله په دِے بُنیاد باندِ اُوکړے شی چه د ایمان او د نیک عمل لارچا اختیار کړی وه، او د کفر او د دروغو په لار څوک تلے وُو - اولنئ ډله به د همیشه جنّت حقدار وی او د دویمے ډلے په نصیب کښے به همیشه دوزخ وی -

دَدے نه روستو مومنانو ته یوځواهمے خبرے کیږی:

یو دا چه په دُنیا کښے کوم مُصیبت راځئ، هغه د الله په اجازت سره راځی -

په مصیبتونو کښے چه کوم سړے په ایمان باندِ مضبوط پاتے شی، الله د هغه زړه ته هدایت کوی، اوځوک چه د مصیبتونو نه اُویَریږی یا نورهم په غصّه شی او د ایمان د لارے نه پَښا شی، نو د هغه مصیبتونه خود الله د اِجازت نه بغیر لرے کیدے نشی، البته هغه یو بل غټ مُصیبت ځان له په بیعه واخلی، او هغه داچه د هغه زړه د الله د هدایت نه محروم شی۔

دوَیمه داچه د مومن کار صرف ایمان راوړل نهٔ دی بلکه د ایمان راوړلو نه نه روستو هغه له عملاً د الله او د هغه د رسول حکم منل پکار دی۔ که د حکم منلو نه ئے مخ وارَوُو نو هغه به د خپل نُقصان پخپله ذمه وار وی۔ ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم حق وارَسَولے دے او خپله غاړه ئے خلاصه کړی ده۔

دَرَیمه داچه مومن له پکار دی چه هغه په خپل طاقت یا د دُنیا په طاقت بروسه نهٔ کوی بلکه صرف په الله باندِ بروسه کوی۔

څلورمه داچه د مومن دَپاره د هغه مال او د هغه اهل وعیال یولوئ آزمیښت دے ځکه چه زیات تر د دے په محبت کښے انسان د ایمان او د اطاعت د لارے نه بے لارے کیږی۔ په دِے وجه مومنانو له د خپل اهل وعیال نه هوښیار اُوسیدل پکار دی چه هغوی ورته د خدائے په لارکښے خنډ ان جوړ نشی، او هغوئ له خپل مال د خدائے په لارکښے خرچ کول پکار دی چه هغوئ د زَر پرستیُ د فتنونه محفوظ پاتے شی۔

پنځمه داچه هرانسان د خپل وَس مطابق پَرُ دے۔ د الله تعالیٰ مطالبه دا نهٔ ده چه سړے دِ د خپل وَس نه زیات کار اُوکړی۔ البته مومن له چه د کومے خبرے کوشش کول پکار دی هغه داده چه هغه د خپله وسه پورے د خدائے نه په یَرَه کولو کښے څه کمے اُونهٔ کړی او د هغه ویناء، او د هغه عمل او د هغه معاملات د هغه د خپلے کوتاهیُ په وجه د الله د حدونو نه وا نَوړی۔

سُوْرَةُ التَّغَابُنِ مَدَنِيَّةٌ

اٰيَاتُهَا ۱۸ رُكُوْعَاتُهَا ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝١ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ

دَاللہ تسبیح بیانوی هرهغه څه چه په آسمانونو کښے دی[1] او هرهغه څه چه په زمکه کښے دی - بادشاهی خاص هم دَهغه[2] ده او تعریف خاص هم هغه لره دے[3] اوهغه په هرڅیز باندِ قادر دے[4] - هم هغه دے چه تاسوئے پیدا کړئ ،

[1] دَتشریح دپاره اُوګورہ تفہیم القرآن ، پنځم جلد ، تفسیر دَسورۃ الحدید ، حاشیه ۱ - په رُوستنی مضمون باندِ چه سړے غور اُوکړی نو دا خبره پخپله په ذهن کښے راځی چه دَکلام شروع دَدے فقرے نه وَلے شوی ده - وړاندِ چه دَکائناتو اودَانسان کوم حقیقت بیان کړے شوے دے هغه داده چه خاص الله دَدے خالق ، مالک او بادشاه دے - اوهغه دا کائنات بے مقصده او بے حکمته نهٔ دے جوړ کړے - اوانسان دلته غیر ذمه وار نهٔ دے پریښود ے شوے چه څه غواړی هغه دِ کوی دَهغه نه به څوک تپوس نهٔ کوی - اودَدے کائناتو بادشاه څه ناخبره بادشاه نهٔ دے چه دَهغه په بادشاهئ کښے دِ څه کیږی اوهغه دِ ترخبره نهٔ وی - دَدے مضمون بهترینه شروع هم هغه کید ے شوه کومه چه دَدے دِ شان فقرے نه شوی ده - دَموقعے اودَمحل په لحاظ سره دَدے تمهیدی فقرے مطلب داد ے چه دَزمکے نه واخله دَآسمانونو پورے چه په کوم ځائے ته نظر اچوے نوکه عقل دِ خراب شوے نهٔ وی ، نوصفا به دِ درته معلومیږی چه دَیو ے ذرے نه واخله دَلویولویو کهکشانونو پورے هرڅیز نهٔ یوازے دَخدائے په وجود باندِ گواه دے بلکه دَدے خبرې گواهی هم کوی چه دَهغه خدائے دَهرعیب اونقصان اوکمزورئ اوغلطئ نه پاک دے - دَهغه په ذات اوپه صفتونو کښے ، دَهغه په کار اوپه حکمونو کښے که دَدے هومره دَعیب اودَخطا ، دَکمزورئ اودَنقصان ، څه شک شُبهه وے نو دا دَکمال درجے حکیمانه نظام به هډو په وجود کښے نهٔ وے راغلے ، دریغه چه دَازل نه دَابده پورے په داسے مضبوطه طریقه چلیدلے وے -

[2] یعنی دا ټول اِکّی یوان ے دَهغه سلطنت دے - داسے نهٔ ده چه هغه دا کائنات جوړ کړو اوصرف یوځل ئے حرکت ورکړو او بیا په ځائے کیناستو بلکه هغه عملاً په دِ ے باندِ هروخت حکومت کوی - په دِ ے حکومت اوبادشاهئ کښے دَبل چاقطعاً هیڅ دَخل یاحصّه نشته - بل چا ته که تعارضی طور او په محدوده پیمانه په دِ ے کائناتو کښے په یوځائے کښے دَملکیت یادَحکمرانئ اختیارات حاصل دی نوهغه دَهغه ذاتی اختیارات نهٔ دی چه گنی هغه ته په خپل زور سره حاصل شوی دی ، بلکه هغه الله ورکړی دی ، ترڅوچه الله غواړی هغه به هغه ته حاصلیږی او چه کله اُوغواړی هغه ټول اختیارات تِرا غستے شی -

فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝۲

بیا په تاسو کښے څوک کافر دے او څوک مؤمن ، او الله هغه هرڅه وینی کوم چه تاسو کوئ ۔

۳؎ یعنی هغه یواز ے د تعریف مُستحق دے ، په ټوله هره هستئ کښے چه کومه خوبی دا هغه الله ورکړی ده ۔ او که حمد د شکر په معنی کښے واغستے شی نو د شکر مستحق هم په اصل کښے هغه دے ، ځکه چه ټول نعمتونه هغه پیدا کړی دی او د ټولو مخلوقاتو حقیقی مُحسن د هغه نه سوا بل څوک نشته ۔ دبل چا د اِحسان شکر چه موږ ښه ادا کوُو نو په دِے وجه ئے ادا کوُو چه الله خپل نعمت د هغه په لاسونو موږ ته را اوُرَسوُو ، کنئ نو نهٔ هغه پخپله دا نعمت پیدا کړے دے ، او نهٔ د الله د توفیق نه بغیر هغه دا نعمت موږ ته رارَسولے شو ۔

۴؎ یعنی قادرِ مطلق دے ۔ چه څه کول غواړی هغه کولے شی ۔ هیڅ یو طاقت د هغه قدرت وَدَرَو لے نشی ۔

۵؎ د دے څلور مطلبونه وِی او څلورواړه په خپل خپل ځائے صحیح دی :

یو دا چه هم هغه ستاسو خالق دے ، بیا په تاسو کښے څوک د هغه د خالقیت نه اِنکار کوی او څوک دا حقیقت منی ۔ اولنئ فقره او دویمه فقره چه یوځائے اُولوستے سی نو دا مطلب تِرخرګندیږی ۔

دوِیم دا چه هغه تاسو په داسے طریقه پیدا کړی یئ چه که تاسو کفر کول غواړئ نو هم کولے شئ او که ایمان راوړل غواړئ نو هم راوړلے شئ ۔ د ایمان او د کُفر په اختیار ولو کښے هغه تاسو مجبوره کړی نهٔ یئ ۔ په دِے تاسو د خپل کُفر او د خپل ایمان په خپله ذمه وار یئ ۔ د دے معنیٰ تائید دا روستنئ فقره کوی چه " الله هغه ټول هرڅه وینی کوم چه تاسو کوئ " یعنی هغه تاسو له دا اختیار درکړے دے او تاسو ئے په امتحان کښے آچولی یئ او هغه ګوری چه تاسو دا خپل اختیار په کومه طریقه استعمالوئ ۔

دریم مطلب دا دے چه هغه خو تاسو په صحیح فطرت پیدا کړی وئ نو پکار داوه چه تاسو ټولو د ایمان لار اختیار کړی وے ، لیکن په دِے صحیح فطرت باندِ د پیدا کیدو نه روسته په تاسو کښے څینو خلقو کُفر اختیار کړو چه هغه د هغوی د فطرت نه خلاف ژُو ، او څینو د ایمان لار اختیار کړه چه د هغوئ د فطرت مطابق وَه ۔ دا آیت چه د سورۃ روم د دیرشم آیت سره یوځائے اُولوستے شی نو خبره به ښه په ذهن کښے کینی ، په هغے کښے فرمایلے شوی دی چه " خپل مخ په دِے دین باندِ قایم لره او یو مخیز ے اُوسیږه او په هغه فطرت باندِ قایم شه چه په کوم باندِ الله انسانان پیدا کړی دی ، الله چه څه څیزونه د کوم جوړښت سره پیدا کړی دی په هغے کښے دِ بدلون نهٔ راوستلے کیږی ، هم دا بالکل سَمُ او صحیح دین دے " او دا خبره د هغه کُنې وحدیثونو سره ښه خرګندیږی چه په هغے کښے نبی صلی الله علیه وسلم بار بار فرمایلی دی چه هر انسان په صحیح فطرت باندِ پیدا کیږی ، بیا روستو په هغه باندِ د کفر او د شرک او د ګمراهئ اثرات ښکاره کیږی ۔ (د تشریح د پاره اُوګورہ تفہیم القرآن د ریم جلد ، تفسیر د سورۃ رُوم ، حاشیے ۴۲ تا ۴۷) ۔ دلته د دے خبرې

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝٣ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝٤

هغه زمکه اوآسمانونه په حقه پیدا کړی دی، اوستاسو شکل ئې جوړ کړے دے او ډیر ښه ئې جوړ کړے دے، اوخاص هم هغه ته آخرنه آخرستاسو واپس کیدل دی۔ دَزمکے اودَآسمانونو هرشیز هغه ته معلوم دے۔ څه چه تاسو پټوئ اوڅه چه تاسو ښکاره کوئ هغه ټول هغهٔ ته معلوم دی، اوهغهٔ دَزړونو په حال هم ښه عالِم دے۔

ذکرکول ضروری دی چه آسمانی کتابونو هیڅکله هغه تصوّر نهٔ دے پیش کړے کوم چه دَیونیم زرکالو راسے عیسایانو ځپله بُنیادی عقیده جوړه کړی ده چه انسان پیدا ئشی ګنهګار دے۔ ددې ځپله دَکیتھولک عالمانو داوائی چه په بائیبل کښے دَدے عقیدے هیڅ بُنیاد نشته۔ دَبائیبل یومشهورجرمن عالم ریورینډ هربرټ هاګ (Haag) په خپل تازه کتاب (Is original sin in scripture) کښے لیکی چه دَاولنی دَور په عیسایانو کښے کم ازکم دَدریمے صدئ پورے داعقیده هډوموجود نهٔ وه چه انسان پیدا ئشی ګنهګار دے، اوکله چه داخیال په خلقو کښے خوریدل شروع شونو دَدووصدو پورے عیسائی عالمانو دَدے تردید کولو۔ لیکن آخر داچه په پنځمه صدئ کښے سینټ آګسټائن دَخپل منطق په زور وسره داخبره دَمسیحیت په بُنیادی عقیدو کښے شامله کړه چه "انسان دَآدم دَګناه وبال په میراث کښے موندلے دے اودَدے نه دَنجات موندلو دَپاره دَمسیح دَکفّارے نه بغیر بله لار نشته"۔

ځلورم مطلب دادے چه الله تاسو دَنیش نه شته کړئ۔ تاسو نهٔ وئ اوبیا پیدا شوئ۔ دا یوه داسے معامله وه چه که چرے تاسو په دے باندے په صفا طریقے سره غور او فکر کړے وے اودے ته موکتلے وے چه شته والے هغه اصلی نعمت دے چه دَهغے په وجه تاسو دَدُنیا دَنورونعمتونو نه فائدے اخلئ، نو په تاسو کښے به هیڅوا دَخپل خالق په مقابله کښے دَکفر او دَبغاوت لار اختیار کړے نهٔ وے۔ لیکن په تاسو کښے حُیني خلقو هډو سوچ اُونهٔ کړو، یا ئے په غلطه طریقه سوچ اُوکړو او دَکفر لار ئے اِختیار کړه، اوحُیني خلقو دَایمان هغه لار اختیار کړه کومه چه دَصحیح فکر سره پکار وه۔

۷۵ په دے فقره کښے دَلیدلو مطلب تش لیدل نهٔ دی، بلکه دَدے نه ځپله دا مطلب راُوزی چه څنګه ستاسو ګلونه دی دَهغے مطابق به تاسو ته جزا یا سزا درکړے کیږی، داخبره بالکل داسے ده لکه چه یوحاکم یوسړے په نوکرئ اُولګوی اودا ورته اُووائی چه "څه ګورم چه تهٔ څنګه کار کړے"۔ نو دَدے مطلب داوی چه که تیک کار دِکوُ نو تاته به انعام درکوم اوترقی به دِ کیږی، کنئ نو بیا به سخته سزا درکوم۔

۷۶ په دے آیت کښے دے خبرے په ترتیب سره بیان کړے شوی دی چه دَدریاوړو یوتر بله ډیر زور ترڼه دے۔

اوله خبره دا اُوشوه چه الله دا کائنات په حقه پیدا کړی دی ـ "په حقه" لفظ چه کله د خبر د پاره اُووئیلے شی نو مُراد وی ربستیني خبر ـ چه د حُکم د پاره اُووئیلے شی نو مطلب به وی د عدل او د انصاف حکم ـ چه د یو قول د پاره اُووئیلے شی نو مقصد وی صحیح قول ـ اوکله چه دالفظ د یوکار د پاره استعمال شی نو دا سے کار ترِ مُراد وی چه هغه سراسر د حکمت نه ډک او موزون وی نه چه بے مطلبه او فضول وی ـ اُوس دا ظاهره خبره ده چه پیدا کول یوکار دے، نو د کائنا تو پیدا کولو ته "په حقه" وئیل خامخا دا مطلب لری چه دا کائنات څه د لوبو په طور نه دی پیدا کړے شوی بلکه د یو حکیم خالق په یر غرضی کار دے ـ د دے هر څیز یو خاص مناسب مقصد لری، او دا مقصد په کښے دومره څرګند دے چه کوم چرے یو عقلمند انسان د یو څیز په اصل څان ښه پوهه کړی نو د هغه د پاره بیا دا پیژندل هیڅ ګران نه وی چه د دا سے څیز د پیدا کیدو حکمتی او مناسب مقصد څه کیدے شی ـ په دُنیا کښے چه انسان څومره سائینسی ترقی کړی ده دا د دے خبرې ګواهی ده چه انسان د کوم څیز په اصل باندِ د غور او فکر او د تحقیق په ذریعه پوهه شو نو د هغه څیز په باره کښے دا خبره هم آخر نه آخر معلومه شوه چه هغه د څه مقصد د پاره جوړ کړے شوے دے، او د هغه مقصد د پیژندو په وجه انسان دا سے بے شماره څیزونه جوړ کړل چه د انسان په ژوند کښے استعمالیږی ـ دا خبره به هغو ممکنه نه وے که چرے دا کائنات هسے لوبے تو قے وے او څه حکمت او مقصد پکښے پروت نه وے (د زیاتے تشریح د پاره اُوګورئ تفہیم القرآن، اوّل جلد، سورۃ انعام، حاشیه ۴۶ ـ دوم جلد، یونس، حاشیه ۱۱ ـ ابراهیم، حاشیه ۲۶ ـ النحل، حاشیه ۶ ـ دریم جلد، الانبیاء، حاشیه ۱۵ ـ ۱۶ ـ المومنون، حاشیه ۱۰۲ ـ العنکبوت، حاشیه ۷۵ ـ الروم، حاشیه ۶ ـ څلورم جلد، الدّخان حاشیه ۳۴ ـ الجاثیه، حاشیه ۲۸)ـ

دویمه خبره دا اُوشوه چه په دے کائنا تو کښے الله تعالیٰ انسان په ډیر بنکلی شکل کښے پیدا کړے دے ـ د شکل نه مُراد صرف د انسان مخ نه دے، بلکه د دے نه مُراد د انسان د ټول بدن جوړښت دے او هغه قوّتونه او صلاحیتونه هم په دے مطلب کښے شامل دی کوم چه د کار کولو د پاره په دے دُنیا کښے انسان له ورکړے شوی دی ـ په دے دواړو حیثیتونو سره انسان د زمکے په مخلوقاتو کښے د ټولو نه بهتره جوړ کړے شوے دے، او په دے بُنیاد باندِ هغه د دے قابل شوے دے چه په هغه ټولو څیزونو باندِ حکمرانی اُوکړی کوم چه په زمکه کښے او د زمکے په خواؤ شا کښے موندے کیږی ـ انسان له ولاړ قد ورکړے شوے دے ـ د ګرزیدو د پاره ورله مناسبے څنګه ورکړے شوی دی ـ د کار کولو د پاره ورله مناسب لاسونه ورکړے شوی دی ـ هغه له دا سے حَواس او د علم دا سے ذریعے ورکړے شوی دی چه د هغے په ذریعه هغه هر قسم معلومات حاصلوی ـ هغه له د سوچ فکر او د پوهے او د معلوماتو راجمع کولو او د هغے نه د نتیجے را ایستلو د پاره د اعلیٰ درجے یو ذهن ورکړے شوے دے ـ هغه له بنه اخلاق او د بنه بد پیژندلو طاقت ورکړے شوے دے چه د هغے په وجه هغه په بنه او بد کښے، او په صحیح او په غلط کښے فرق کوی ـ هغه له د فیصلے کولو قوّت ورکړے شوے دے چه د هغے په وجه هغه څان له د عمل لار په خپله خوښوی او دا فیصله کوی چه په کومه لار کښے کوشش اُوکړی او په کومه کښے نه ـ هغه له تر دے پورے آزادی ورکړے شوی ده چه که خپل خالق منی او د هغه بندګی کوی او که نه د هغه نه انکار کوی، یا څوک څان له خدایان جوړوی، یا چه کوم خدائے منی د هغه خلاف هم که بغاوت کول

خواړې نوکوی دِ - دَ دے ټولو قوّتونو او دَ دے ټولو اختیاراتو سرہ هغه لِه اللّٰه پاک په خپلو بے شمارو مخلوقاتو باندِ دَ حُکم کولو اختیار ورکړے دے او هغه عملاً دا اختیار استعمالوی۔ (دَ زیاتے تشریح دَ پاړه اُوکړه تفهیم القرآن څلورم جلد، المؤمن، حاشیه ۹۱)۔

دا کوے دوه خبرې چه بَره بیان کړے شوی دی دَ دے نه هغه دریمه خبره پخپله راأوزی کومه خبره چه دَ آیت په دریمه فقره کښے شوی ده چه" او خاص هم هغه ته آخر نهٔ آخر ستاسو واپس کیدل دی"۔ ظاهره خبره ده چه هرکله دَ کائنات په یوداسے حکمتی او مقصدی نظام کښے یوداسے بااختیاره مخلوق پیدا کړے شوے دے نو دَ حکمت ترمخه داهر ګز نهٔ بنائی چه هغه دِ دلته دَ بے مُهاره اُوښ پشان غیر ذمه وار پریښود ے شی، بلکه لازماً دا بنائی چه دا مخلوق به هغه هستئ له جواب ورکوی چا چه ورله دَ دے اختیارات سرہ په خپل کائنات کښے دا مقام اومرتبه ورکړی ده - دَ" واپس کیدلو" نه مُراد په دِے آیت کښے صرف واپس کیدل نهٔ دی بلکه دَ جواب ورکولو دَ پاړه واپس کیدل دی، او په روستنی آیت کښے صفا وئیلے شوی دی چه دا واپسی به په دِے ژوند کښے نهٔ وی بلکه دَ مرګ نه روستو به په دویم ژوند کښے وی، او دَ دے اصلی وخت به هغه وی چه کله ټول انسانان بیا دَ نوی سَرنه دوباره ژوندی کړے شی او په یووخت دَ حساب کتاب دَ پاړه راجمع کړے شی، او دَ حساب کتاب نه روستو به جزا اوسزا په دِے بُنیاد باندِ وی چه سړی دَ خدائے ورکړے شوی اختیارات په صحیح طریقه استعمال کړی دی اوکه په غلطه - پاتے شوه دا خبره چه دا حساب کتاب دَ دُنیا په موجوده ژوند کښے وَلے نشی کیدے ؟ او دَ دے صحیح وخت دَ مرګ نه روستو په دویم ژوند کښے وَلے دے ؟ او دا وَلے ضروری ده چه حساب کتاب به په هغه وخت کښے وی کله چه ټول انسانان په دِے دُنیا کښے ختم شی او ټول اولنی او آخرنی انسانان په یو وخت دوباره راژوندی کړے شی او راجمع کړے شی ؟ چه سړے لږ شان هم دَ عقل نه کار واخلی نو په دِے پوهیږی چه دا ټول هرڅه مناسب دی او دَ حکمت تقاضا هم داده چه حساب کتاب دِ په دویم ژوند کښے وی او دَ ټولو انسانانو دِ په یو وخت کښے وی۔ دَ دِے اولنیٔ وجه داده چه انسان به دَ خپل ژوند دَ ټولو عملونو جواب ورکوی - نو په دِے وجه دَ هغه دَ جواب ورکولو لپاره وخت لازماً هم هغه پکار دے کله چه دَ هغه عملنامه مکمل شوی وی - او دویمه وجه دَ دے داده چه دَ انسان دَ خپل عمل به وجه دَ بل په ژوند کوم اَثر شوے وی هغه اَثر دَ دَ مرګ سره ختمیږی نهٔ بلکه دَ دهٔ دَ مرګ نه روستو هم په مودو مودو چلیږی نو دَ هغے اَثراتو هم دے ذمه وار دے - نو صحیح حساب کتاب په هغه وخت کیدے شی کله چه دَ ټولو انسانانو عملنامے ختمے شی او ټول اولنی او آخرنی په یووخت دَ حساب کتاب دَ پاړه جمع کړے شی - (دَ زیاتے تشریح دَ پاړه اُوکړه تفهیم القرآن دویم جلد، الاعراف، حاشیه ۳۰ - یونس، حاشیے ۱۰، ۱۱ - هود، حاشیه ۱۰۵ - النحل، حاشیه ۳۵ - دریم جلد، الحج، حاشیه ۹ - النحل، حاشیه ۲۷ - الروم، حاشیے ۵ - ۶ - څلورم جلد، صٓ، حاشیے ۲۹ - ۳۰ - المومن حاشیه ۸۰ - الجاثیه، حاشیے ۲۷ - ۲۹)۔

۵ دویمه ترجمه دا هم کیدے شی" څه چه تاسو په پته کوئ او څه چه تاسو په ښکاره کوئ"۔

۹ یعنی هغه صرف دَ انسان دَ هغه عملونو نه خبر نهٔ دے کوم چه دَ خلقو په عِلم کښے راځی بلکه دَ هغه عملونو نه هم خبر دے چه هغه دَ ټولو نه پټ وی - بیا هغه صرف دَ عملونو ظاهری شکل نه نهٔ کوری بلکه دَ دے نه هم خبر دے چه دَ انسان

اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ فَذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝٥ ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالُوْٓا

آیا تاسوته دَ هغه خلقوڅه خبرنه دے راغلے چه هغوئ دَ دے نه مخکښے کفر اُوکړو اوبیا ئے دَ خپلو عملونو دَ سزا مزه اُوڅکله؟ اوورانده دَ هغوئ دَ پاره یو دردناک عذاب ثابت دے۔ هغوئ دَ دے انجام ځکه مستحق شو چه هغوئ ته دَ هغوی رسولان دَ صفا صفا دلیلونه او ښکاره سره را غلل نو هغوئ اُوویل

هر عمل دَ کومے اراده سے اودَ کوم مقصد لاندے شوے دے اوانسان چه څه کړی دی نودَ کوم نیت لاندے ئے کړی دی۔ دا یو داسے حقیقت دے چه په دے باندے انسان غور اُوکړی نو هغه اندازه لګولے شی چه انصاف صرف په آخرت کښے کیدے شی اوخاص دَ خدائے په عدالت کښے صحیح انصاف ممکن دے۔ دانسان عقل پخپله داغواړی چه سړی ته دَ هرجُرم سزا ملاویدل پکار دی، لیکن آخر دا خبره چاته نه ده معلوم چه په دُنیا کښے ډیر جرمونه یا خو پټ پاتے کیږی یادَ شهادت دَ کمی په وجه مُجرم خلاصیږی، یاکه جُرم بشکاره هم شی نو مُجرم دومره بااثره اوطاقتور وی چه هغه له سزا نشی ورکړے کیدے بیا دَ انسان عقل داهم غواړی چه سړی ته صرف په دے وجه سزا ملاویدل نه دی پکار چه دَ هغه کار دَ مُجرمانو دَ کارپشان دے، بلکه دا تحقیق کول پکار دی چه کوم کار هغه کړے دے ښه په اراده اوپه سوچ سره ئے کړے دے، دَ هغے دَ کولو په وخت کښے هغه دَ یوذمه وار انسان په حیثیت سره کار کولو، دَ هغه نیت واقعی دَ جُرم کولو وُو، او هغه په دے پوهید وچه داڅه هغه ګوی دا جُرم دے۔ دا وجه ده چه دَ دُنیا عدالتونه دَ مقدمو په فیصله کولو کښے دَ دے خبرو تحقیق کوی اودَ هغوئ تحقیق ته انصاف ویلے کیږی۔ لیکن آیا واقعی په دُنیا کښے څه داسے ذریعه موندے کیږی چه په هغے سره ټیک ټیک دا سے تحقیق اُوشی چه په هغے کښے هیڅ شک نه وی؟ چه په دے لحاظ سره اُوکتے شی نودا آیت هم دَ الله تعالیٰ دَ دے حکم سره ژور تړون لری چه "هغه زمکه او آسمانونه په حقه پیدا کړی دی" په حقه پیدا کولو سره دا لازمی ده چه په دے سے کائنات کښے دِ صحیح اوکامل عدل وی۔ دا عدل هله قائمیدے شی چه دعدل کونکی دَ نظر نه نه پواړے دَ انسان غوندے دَ یوذمه وار مخلوق یوکارپټ پاتے نشی بلکه چه هغه نیت تر هم پټ نه وی دَ کوم لاندے چه یوسړی یوکار کړے وی۔ او ظاهره خبره ده چه دَ کائناتو دَ خالق نه سوا بله هستی دا سے نشی کیدے چه دا قسم عدل اُوکړے شی۔ اُوس که یوسړے دَ الله اودَ آخرت نه انکار کوی نو هغه لکه چه دا دعوٰی کوی چه موږه په دا سے کائنات کښے اُوسو چه هغه په حقیقت کښے دَ انصاف نه خالی دے، بلکه په هغے کښے دَ انصاف هډو څه امکان نشته۔ دَ بے وقوفتیا په دے خیال باندے چه دَ کوم سړی عقل او زړه مطمئن وی نو هغه غټ بے شرمه انسان دے کنه چرته هغه خپل ځان ترقی پسند (یعنی ترقی خوښونکے یاعقلیت پسند (یعنی دَ عقل مطابق کار خوښونکے) ګڼری او هغه خلق تاریک خیالی (یعنی دَ زړه خیالا تو والا) یا رجعت پسند (یعنی زړے زمانے ته واپس تلونکی خلق) ګڼری ځوک چه دَ کائناتو دا انتهائی معقول (Rational) تصور

أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا فَكَفَرُوا وَتَوَلَّوا وَّاسْتَغْنَى اللَّهُ ۚ وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٦﴾

"آیا انسان به مونږ ته هدایت کوی"؟ په دې طریقه هغوئ د منلونه انکار اوکړو او مخ ئې واړوو، نو الله هم د هغوئ پروا اونه ساتله او الله خود مے بے نیازه (د چا پروا نه ساتی) او په خپل ذات کښے پخپله ستایئلے شوے دے[۱۳]۔

قبلوی کوم چه قرآن پیش کوی۔

[۱۰] یعنی په دُنیا کښے چه هغوی د عملونو کومه سزا اُومونده هغه د هغوئ د جُرمونونه اصلی سزاوه اونه پوره سزاوه۔ اصلی او پوره سزا خو به اُوس په آخرت کښے موی۔ لیکن په دُنیا کښے چه کوم عذاب په هغوئ باندې راغے د هغے نه خلق داسبق اخستے شی چه کومو خلقو د خپل رب په مقابله کښے د کفر لار اختیار کړه نو د هغوئ عملونه څنګه خراب شو او آخری انجام ئے څه شو۔ (د زیاتے تشریح د پاره اُوګورئه تفهیم القرآن، دویم جلد، الاعراف، حاشیه ۱۰۵)۔

[۱۱] په اصل کښے لفظ بیّنات استعمال شوے دے چه مطلب ئے پیرفرانبه دے۔ بَیّن په عربئ ژبه کښے دا سے څیزته وائی چه بالکل ظاهر او واضحه وی۔ د پیغمبرانو په حقله دا فرمائیل چه هغوئ به بیّنات راوړل، دا معنیٰ لری چه یو خو به هغوئ دا سے څرګندے کښے راوړلے چه هغے به د دے خبری صفا صفا ګواهی ورکوله چه هغوئ د الله تعالیٰ د طرفنه راغلی دی۔ دویم، هغوی چه به کومه خبره کوله پیر په مناسب او روښانه دلیلونو سره به ئے کوله۔ دریم، د هغوئ تعلیم غیر واضحه نه وُو، بلکه هغوئ به صفا صفا ویئل چه حق څه دے او باطل څه دے، جائز څه دے او ناجائز څه دی، انسان له په کومه لاره تلل پکار دی او په کومه لاره تلل نه دی پکار۔

[۱۲] دا وه د هغوئ د تباهئ اولنئ او بُنیادی وجه۔ انسانانو ته په دُنیا کښے د عمل صحیح لار بغیر د دے نه معلومیده ے نه شوه چه د هغوئ خالق هغوئ له صحیح علم ورکړی، او د خالق د طرفنه د علم ورکولو عملی طریقه د دے نه سوا بله کیدے نه شوه چه هغه په انسانانو کښے ځینو کسانو له علم ورکړی او هغوئ ته دا خدمت حواله کړی چه دا علم نورو انسانانو ته اُورسوئ۔ د دے غرض د پاره هغه پیغمبران د بیّنات سره را اُولیږل چه د هغوئ په حق والی کښے د خلقو هیڅ شک شُبهه پاتے نشی۔ لیکن هغوی هډو د س نه د د دے خبری نه انکار اُوکړو چه انسان د خدائے رسول کیدے شی۔ نو د د دے انکار نه روستو د هغوئ د پاره د هدایت موندلو هیڅ ضرورت پاتے نشو (د زیاتے تشریح د پاره اُوګورئه تفهیم القرآن، څلورم جلد، سورهٔ یٰسٓ، حاشیه ۱۱)۔ په دے معامله کښے د ګمراهه انسانانو د جهالت اه د نا پوهتیا عجیبه کارنامه زمونږ مخے ته راځی چه د انسان د رهنمایئ په قبلولو کښے خو هغوئ هیڅکله تراسته نه ده کړی، تر دے چه د انسان په رهنمایئ کښے ئے دلګرواو د کانړو د بتانو نه خدایان جوړ کړل پخپله انسانانو ئے خدائے او د خدائے اوتار او د خدائے خویئے اُومنو، او د ګمراهه لیډرانو په تابعداری کښے ئے

زَعَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا ۭ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۭ وَذٰلِكَ عَلَي اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝

انکاریانو پیر په دعویٰ سره وئیلی دی چه هغوی به د مرګ نه رو ستود وبارہ هرګز نه ژاپا څولے کیږی[۱۴]۔ دوئ ته اُووایه "نه، ځما په رب قسم دے چه تاسو به ضرور ژاپا څولے کیږئ[۱۵]، بیا به ضرور تاسو ته اُوښود لے شی چه تاسو (په دُنیا کښے) څه کړی دی[۱۶]، اوداکار الله ته پیر آسان دے[۱۷]۔"

داسے عجیبه عجیبه لار ے اختیار کړلے چه هغے د انسان د استوګنے طریقه اود انسان اخلاق بالکل تباه کړلو لیکن کله چه د خدائے رسول هغوی ته حق راوړو او هغوی اُورته د هرڈاڼی غرض نه پاک یوصداقت پیش کړو نو هغوی اُووئیل "آیا بشر به موبنږ ته هدایت کوی؟" دا دے مطلب دا وُو چه انسان که د ګمراهئ لار بنائی نو په سرستړګو قبول ده، خوکه صحیح لار بنائی نو بیا قبول نه ده۔

۱۳؎ یعنی هرکله چه هغوی د الله د رالیږلی شوی هدایت نه بے پروا هی اُوکړه نو بیا الله ته هم دا دے خبری څه پروا نشته چه هغوی په کومه کنده کښے ورپریوزی۔ د الله د هغوی سره څه غرض تړلے شوے نه وُو چه ګِنی که هغوی هغه خدائے اُومنو نو هغه به خدائے وی کنی نو د خدایئ تخت به د هغه نه واغستے شی۔ الله نه د هغوی د عبادت محتاج وُو، نه د هغوی د حمد او ثنا۔ الله خود هغوی د فائدے د پاره هغوی ته پیغله لاړه ښودل غوښتل۔ خوچه کله هغوی د هغے نه مخ واړوُو نو الله هم د هغوی نه بے پرواشو۔ بیا هغوی ته نه هدایت اُوکړو، نه ئے د هغوی حفاظت په خپل ذمه واغستو، نه ئے هغوی د هلاکیدو نه بچ کړل، نه ئے هغوی د دے نه منع کړل چه په خپل ځان پخپله تباهی راوَلی، ځکه چه هغوی پخپله د الله د هدایت او د سر پرستئ طلبګار نه وُو۔

۱۴؎ یعنی په هره زمانه کښے چه د حق نه انکاریان خلق په بله کومه بُنیادی ګمراهی کښے اخته شوی دی، اوچه آخرد هغوی د تباهئ سبب کرزید لے دے، نوهغه اوه۔ څوک چه د آخرت نه منکر دی اګرچه د هغوی سره نه د اوّل نه د دے خبری څه ثبوت وُو، نه ئے ننه شته او نه ئے چرے کیدے شی چه د مرګ نه رو ستود وم ژوند نشته۔ لیکن دے نا پوهانو همیشه په پیر زور سره هم دا دعوٰی کړی ده، حالانکه د آخرت نه د انکار کولو د پاره قطعی طور نه څه عقلی بُنیاد شته او نه څه علمی بُنیاد۔

۱۵؎ دا دریم ځائے دے چه په دے کښے الله تعالیٰ خپل نبی ته فرمائیلی دی چه په خپل رب قسم اُوخوره او خلقو ته اُووایه چه ضرور به داسے کیږی۔ اوّل ئے په سورۃ یونس کښے اُوفرمائیل وَيَسْتَنْۢبِـُٔوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ ، قُلْ اِيْ وَرَبِّيْٓ اِنَّهٗ لَحَقٌّ ۭ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ۔ "هغوی تپوس کوی آیا واقعی دا حق دے؟ ورته اُووایه ځما په خپل رب قسم دے چه دا یقیناً حق دے او تاسو د مړو زُور نه لرئ چه هغه د راتلونه منع کړئ۔" (آیت ۵۳)۔ بیا ئے په سورۃ سبا کښے اُوفرمائیل وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَاْتِيْنَا السَّاعَةُ ، قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتَاْتِيَنَّكُمْ۔ "منکرین وائی څه وجه ده چه قیامت په موبنږ نه راځی! ورته اُووایه، قسم دے ځما په خپل رب چه هغه به خامخا په تاسو راځی" (آیت ۳)۔

دلتہ دا ټوس کیدے شی چہ د آخرت نہ د منکر سرہ د پارہ آخر پہ دے کښے څہ فرق راځی چہ کہ تہ ورتہ د آخرت د راتلو خبر پہ قسم سرہ واورے اوکہ بے قسمہ ئے ورتہ واورے ؟ هغہ چہ آخرت نہ منی نو صرف پہ دے وجہ بہ ئے څنگہ اومنی چہ تہ ورتہ پہ قسم سرہ د اخبرہ کوے ؟ د دے جواب دا دے چہ اوّل خو رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم خبرہ هغہ خاتونہ کولہ چہ هغوی تہ د خپل ذاتی علم او تجربے پہ وجہ دا خبرہ بنہ معلومہ وہ چہ دے سړی پہ ټول عمر کښے چرتہ دروغ نہ دے وئیلی ، نو کہ هغوئ پہ خپلہ باندِ د هغہ خلاف هرځومرہ دروغ وئیل ، خو پہ زړہ نو کښے ئے دا خیال قدرلہ هم نہ شو راتلے چہ دا سے رښتینے انسان بہ پہ خدائے قسم اوخوری او هغہ خبرہ بہ اوکړی چہ د هغے د حق والی بہ هغہ تہ کامل یقین نہ وی ۔ دویمہ دا چہ هغہ تشہ د آخرت عقیدہ نہ بیا نولہ ، بلکہ د دے د پارہ ئے نهایت مناسب دلیلونہ هم پیش کول ۔ لیکن کوم څیز چہ د نبی او د غیر نبی پہ منځ کښے فرق کوی هغہ دا دے چہ یو غیر نبی د آخرت پہ حق کښے کوم مضبوط مضبوط دلیلونہ ورکوی د هغے د زیاتونہ زیاتہ فایدہ بس دا کیدے شی چہ د آخرت کنہ کیدو پہ نسبت د هغے کیدل زیات مناسب اوګڼلے شی ۔ د دے برعکس د نبی مقام د یو فلسفی د مقام نہ ډیر اوچت دے ۔ د هغہ اصل حیثیت دا نہ دے چہ هغہ دے پہ عقلی دلیل سرہ دے خبرے تہ رسید لے وی چہ آخرت راتلل پکار دی ۔ بلکہ د هغہ اصل حیثیت دا دے چہ هغہ دا علم لری چہ آخرت بہ وی او پہ یقین سرہ وائی چہ آخرت بہ ضرور وی ۔ نو پہ دے وجہ خاص یو نبی پہ دے خبرہ قسم خوړے شی ، یو فلسفی پہ دے قسم نہ شی خوړے ۔ او خاص د نبی د بیان نہ پہ آخرت باندِ ایمان پیدا کیدے شی ، د فلسفی دلیل دا طاقت نہ لری چہ بل سړے خولا پریږده ، فلسفی بہ پخپلہ هم د خپل دلیل پہ وجہ هغہ خپلہ ایمانی عقیدہ جوړہ کړی ۔ فلسفی کہ واقعی د صحیح فکر والا فلسفی وی نو هغہ د " کیدل پکار دی " نہ وړاندِ نشی تلے ۔ " دے او یقیناً دے " دا وینا صرف یو نبی کولے شی ۔

۱۶ دا هغہ مقصد دے چہ د دے د پارہ بہ انسانان د مرګ نہ روستو د بارہ را پاڅولے کیږی ، او پہ دے کښے د دے خبری جواب هم دے چہ دا سے کولو آخر ضرورت څہ دے ۔ کہ چرے هغہ بحث د سړی پہ نظر کښے وی کوم چہ د سورۃ ق شروع نہ د څلورم نمبر آیتہ پورے شوے دے نو دا خبرہ پہ آسانئ سرہ د سړی پہ ذهن کښے کیږی چہ پہ دے برحق کائنات کښے کوم مخلوق تہ د کفر او د ایمان نہ د یوے لارے د اختیار ورکولو آزادی ورکړے شوی وی ، او پہ دے کائنات کښے ورتہ د پیرو څیزونو د استعمالولو واک اختیار هم ورکړے شوی وی ، او چہ هغوئ د کفر یا د ایمان قبلولو پہ وجہ خپل ټول عمر دا واک اختیار پہ صحیح یا پہ غلطہ طریقہ استعمال کړے وی او د څلے ئے پیرے نیکیانے یا بد یانے پہ خپلہ ذمہ وارئ سرہ کړی وی ، د هغوئ پہ بارہ کښے دا خیال کول انتہائی نامناسب دے چہ دا ټول هرڅہ هغوئ کړی وی نو پہ آخر کښے دے د بنکئ او د بدئ انجام بے نتیجے پاتے شی او هډو دا سے یو وخت وړانشی چہ پکښے د دے مخلوق د عملونو جاج واغستلے شی ۔ کوم سړے چہ دا سے نامناسبہ خبرہ کوی هغہ د دوو بے وقوفو کارونو نہ یو بے وقوف کار خامخا کوی ۔ یا خو هغہ دا ګڼړی چہ دا کائنات خو د حکمت پہ بنیاد جوړ دے ، لیکن دلتہ د انسان غوندِ بااختیار مخلوق غیر ذمہ وار پریښود ے شوے دے ۔ یا بیا هغہ دا خیال کوی چہ دا کائنات پہ

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ اَنْزَلْنَا ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ۭ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ۭ

نو ایمان راوړئ په الله باندې، او دَ هغه په رسول باندې، او په هغه رڼا باندې کومه چه موږ نازل کړې ده[۱۸]۔ څه چه تاسو کوئ الله دَ هغې نه خبر دے (دَ دے پټه به تاسو ته په هغه وَرځ اُولبی) کله چه دَ اجتماع په ورځ هغه تاسو ټول راجمع کړی[۱۹]۔ دغه به دَ یوبل په مقابله کښے دَ خلقو دَ کټې بائیلات ورځ وی[۲۰]۔

اټکل جوړشوے دے په دِے کښے دَ حکیم دَ حکمت هیڅ دخل نشته۔ په اوّل صورت کښے هغه دوه خبری کوی اودواړه دَ یوبل نه مخالف دی ځکه چه کوم کائنات دَ حکمت په بُنیاد باندې جوړشوے وی او په هغې کښے با اختیاره مخلوق اُوسی اوهغوئ دِ غیرذمه وار ژوند تیروی نودا خبره سراسر دَ عدل اود حکمت نه خلاف ده۔ او په دویم صورت کښے هغه دَد ے خبری څه مناسب وجه نه شی ښودلے چه په اټکل جوړشوی بے حکمته کائنات کښے دَ انسان غوندِ عقلمند مخلوق پیدا کیدل آخر څنګه ممکن شواودَ هغه په ذهن کښے دَ عدل اودَ انصاف خیال څنګه راپیدا شو؟ دَ بے عقلئ نه عقل پیدا کیدل اودَ بے انصافئ نه انصاف راوتل یوه داسے خبره ده چه یا خو یوضدناک سړے دَ هغې قائل کیدے شی، یا بیا هغه سړے چه هغه په فلسفه کښے ډیرلړے تلے وی اودماغی مریض ترجوړشوے وی۔

[۱۸] دادَ آخرت دویم دلیل دے۔ اولنے دلیل دَد ے وُوچه دَ آخرت دَ راتلو ضرورت دے، اودا دلیل دَدے خبری دے چه دَ آخرت راتلل ممکن دی۔ بنکاره خبره ده چه کوم خدائے ته دَ کائناتو دا دومره لوئ نظام جوړول ګران نه ؤ او په دُنیا کښے ورته دَ انسانانو پیدا کول ګران نه دی، نو هغه ته به دا خبره آخر وَلے ګرانه وی چه انسانان دوباره پیدا کړی اوخپل ځان ته ئے حاضر کړی او حساب کتاب ورسره اُوکړی۔

[۱۸] یعنی هرکله چه دا حقیقت دے او ټول انسانی تاریخ په دِے خبره ګواه دے چه دَ قومونو دَ تباهئ اصلی سبب دَ رسولانو خبره نه منل او دَ آخرت نه انکار کول ؤو، نو په دغه غلطه لار مه ځئ، خپل ځان مَه تباه کوئ، او په الله اودَ هغه په رسول اودَ قرآن په هدایت باندې ایمان راوړئ۔ دلته دَ وړاندې روستو عبارت نه پخپله معلومیږی چه دَ الله دَ نازلے کړے شوے رڼا نه مُراد قرآن دے۔ لکه څنګه چه رڼا پخپله رُوښانه وی او دَ خوا وُ شا هغه ټول څیزونه روښانه کوی کوم چه مخکښے په تیاره کښے پټ پراته وی، دغه شان قرآن هغه رڼا ده چه دَ هغه حق والے په خپل ځائے رُوښانه دے، اودهغه په رڼا کښے انسان په هرهغه مسئله پوهیدے شی دَکوم دَ پوهیدو دَ پاره چه دَهغه دَ خپل عِلم اوعقل ذرائع کافی نه ؤی۔ دا رڼا چه دَکوم سړی سره وی هغه دَ فکر او دَ عمل دَ بے شماره کړکیچنولار وپه منځ کښے دَحق نیغه لاره صفا صفا لیدے شی اوټول عُمر په صراط مستقیم باندې په داسے طریقه تلے شی چه په هرقدم به هغه ته دامعلومیږی چه دَګمراهئ طرفته بوتلونکی نرئ نرئ

لارے کومے کومه دی او د هلاکت کند ے په کوم کوم ځائے کښے راځی او د د ے په منځ کښے د سلامتیا لار کومه یوه ده ۔

۱۹ د اجتماع د ورځے نه مُراد د ے قیامت ، او د ټولو د راجمع کولونه مُراد د ے هغه ټول انسانان په یووخت راژوندی کول او راجمع کول کوم چه د اول نه د قیامته پورے په دُنیا کښے پیدا شوی دی ۔ دا خبره په قرآن مجید کښے ځائے په ځائے صفا صفا بیان کړے شوی ده ۔ مثلاً په سورۃ هود کښے فرمائی ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ لَّهُ النَّاسُ وَ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ، " هغه به داسے ورځ وی چه په هغے کښے به ټول انسانان راجمع کیږی او بیا چه په هغه ورځ څه وی هغه به د ټولو په وړاندے وی " (۱۰۳) ۔ او په سورۃ واقعه کښے فرمائی قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ لَمَجْمُوْعُوْنَ اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ، " دوئ ته اُووایه چه ټول تیرشوی او روستو راتلونکی خلق به یقیناً د یوے مقرر ورځے په وخت باندے راجمع کیږی " (آیت ۵۰) ۔

۲۰ په اصل کښے لفظ يَوْمُ التَّغَابُنِ استعمال شوے د ے چه معنیٰ ئے دومره فرابنه ده چه اُردو ژبه خو پرے نه ده ، د بلے ژبے هم یو لفظ ، بلکه یوه فقره د د ے مطلب نشی ادا کولے ۔ پخپله په قرآن مجید کښے هم چه د قیامت څومره نومونه راغلی دی ، په هغے کښے غالباً د ټولونه زیات معنیٰ دار نوم هم دا د ے ۔ په دے وجه د د ے په مطلب باندے د ځان پوهه کولو د پاره لږه شان تشریح ضروری ده ۔

تَغَابُن د غبن نه د ے چه غَبْن هم وئیلے کیږی او غَبَن هم ۔ غَبْن زیات تر د اغستلو خرڅولو او د لین دین په معامله کښے وئیلے کیږی او غَبَن د رائے په معامله کښے ۔ لیکن کله کله د د ے برعکس هم استعمالیږی ۔ په لغت کښے د د ے دیرے معنے بیان کړے شوی دی ، غَبَنُوا خَبَرَ النَّاقَةَ ، " هغوئ ته پته اُولږیده چه د هغوئ اُوښه چرته لاړه " ۔ غَبَنَ فُلَانًا فِي الْبَيْعِ ، " هغه فلانی سړی له په اغستلو خرڅولو کښے دوکه ورکړه " ۔ غَبَنَ فُلَانًا ، " هغه فلانی سړی له نقصان ورکړو " ۔ غَبِنْتُ مِنْ حَقِّيْ عِنْدَ فُلَانٍ ، " د فلانی سړی نه خپل حق وُصولول ځما هیر شو " ۔ غَبِيْن ، " هغه سړے چه په هغه کښے ډیره کمے وی او چه د هغه رائے کمزوری وی " ۔ مَغْبُوْن ، " هغه سړے چه هغه دوکه اُوخوری " ۔ الغبن ، الغفلة ، النسيان ، فوت الحظ ، ان يبخس صاحبك في المعاملة بينك و بينه لضرب من الاخفاء ، " د غبن معنیٰ ده غفلت ، هیر ، د خپلے حصّے نه محرومه پاتے کیدل ، د یو سړی بل سړی له په غیر محسوس طریقے سره په کاروبار کښے یا په خپله معامله کښے نقصان ورکول " ۔ امام حسن بصریؒ اُولیدل چه یو سړے بل سړی له په بیعه کښے دوکه ورکوی نو وے فرمائیل هذا يغبن عقلك ، " دا سړے ستانه بے وقوف جوړوی " ۔

د د ے نه چه کله تغابُن لفظ جوړ کړے شی نو په هغے کښے د دوُو سړو یا د زیاتو سړو په منځ کښے د غَبَن راتلو مطلب پیدا کیږی ۔ د تَغَابَنَ الْقَوْمُ معنیٰ ده د خُپلو خلقو د خُپلو خلقو سره د غبن معامله کول ۔ یا د یو سړی بل سړی ته نقصان رَسول او د هغه د لاسه د بل سړی نقصان کیدل ۔ یا د یو حصّه بل ته مِلاویدل او د هغه خپلے حصّے نه محرومه پاتے کیدل ۔ یا په تجارت کښے د یوے ولے نقصان کیدل او د بلے ولے نفع کیدل ۔ یا خُپلو خلق د خُپلو خلقو په مقابله کښے غافله یا د کمزوری رائے ثابتیدل ۔

اُوس په دے خبره غور اُوکړئ چه په آیت کښے دَ قیامت په حقله فرمائیلے شوی دی ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ، " هغه ورځ به وی دَ تغابُن " دَ دے الفاظونه پخپله دا مطلب را اُوزی چه په دُنیا کښے خوشپه او وُرځ تغابن کیږی ، لیکن دا تغابُن ظاهری دے او دَ نظر دوکه ده ، اصلی او حقیقی تغابُن نهٔ دے ۔ اصل تغابُن به دَ قیامت په ورځ وی ۔ هلته به پته اُولږی چه په اصل کښے نقصانی څوک شوا و فایُده چا ته اُورسیده ۔ په اصل کښے دَ چا حصّه چا ته مِلاوُ شوه او څوک دَ خپلے حصّے نه محرومه پاتے شو ۔ په اصل کښے چا دوکه اُوخوړه او څوک هوښیار ثابت شو ۔ په اصل کښے چا دَ خپل ژوند ټوله سرمایه په غلط کار و بار کښے اُولګوله او ځان ئے دیوالے کړو ، او چا خپل قوتونه او قابلیتونه او کوششونه او مالونه او وخت دَ نفع په کار و بار کښے اُولګول او هغه ټوله فایُدے ئے حاصلے کړے چه هغه مخکښی سړی ته هم حاصلیدَے شوے که چرے هغه دَ دُنیا په حقیقت پوه شوے وے او دوکه شوے نهٔ وے ۔

مفسّرینو دَ يَوْمُ التَّغَابُنِ په تفسیر کښے پیر مطلبونه بیان کړی دی چه هغه ټول صحیح دی او په مختلفو اړخونو باندِ رڼا اچوی ۔ خُینو مفسّرینو دَ دے دا مطلب بیان کړے دے چه په هغه ورځ به جنّتیان دَ دوزخیانو هغه حصّه واخلی کومه چه به هغوئ ته په جنّت کښے ملاویدله خو که چرے هغوئ دَ جنّتیانو پشان کار کړے وے ، او دوزخیان به دَ جنّتیانو هغه حصّه واخلی کومه چه به هغوئ ته په دوزخ کښے مِلاویدله خو که چرے هغوی په دُنیا کښے دَ دُوزخیانو پشان کار کړے وے ۔ دَ دے خبرے تائید دَ بُخاری هغه حدیث کوی کوم چه هغه په کتاب الرّقاق کښے دَ حضرت ابوهریرهؓ نه روایت کړے دے چه نبیؐ اُوفرمائیل " کوم سړے چه جنّت ته حئ هغه ته به هغه ځائے ښودلے کیږی چه هغه ته به په دوزخ کښے مِلاویدوکه چرے هغه بد عمل کړے وے ، دَ پاره دَ دے چه هغه زیات شکرګذار شی ۔ او کوم سړے چه دوزخ ته حئ هغه ته به هغه ځائے ښودلے کیږی چه هغه ته په جنّت کښے مِلاویدوکه چرے هغه نیک عمل کړے وے ، دَ پاره دَ دے چه هغه زیات افسوس ارمان اُوکړی "۔

خُینی نور مفسّرین وائی چه په هغه ورځ به مظلوم دَ ظالم نه دومره نیکیانے واخلی څومره چه هغه ظُلم کړے وی ، یا به په ظالم باندِ دَ مظلوم دومره ګناهونه بار کړے شی څومره چه دَ هغه دَ حق برابروزن لری ۔ ځکه چه دَ قیامت په ورځ به دَ سړی سره څه مال اوزر خونهٔ وی چه ظالم ئے دَ مظلوم دَ حق ادا کولو دَ پاره په تاوان کښے ورکړی ۔ هلته خو به بس دَ سړی اَعمال پوه زرمبادله وی ۔ نو کوم سړی چه په دُنیا کښے په چا ظلم کړے وی هغه به دَ مظلوم حق په دِے طریقه ادا کولے شی چه دَ خپلو نیکونه دَ هغه تاوان ادا کړی ، یا دَ مظلوم دَ ګناهونو څه ګناه په جرمانه کښے واخلی ۔ دا خبره هم په ډیرو احادیثو کښے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کړے شوی ده ۔ دَ بخاری په کتاب الرّقاق کښے دَ حضرت ابوهریرهؓ روایت دے چه نبیؐ فرمائیلے ، " چا چه په خپل رُور باندِ څه ظلم کړے وی او دَ هغے بار دَ هغه په ذمه وی نو هغه له پکار دی چه هم دلته دَ هغے بدله ادا کړی ، څکه چه په آخرت کښے به روپئی اَشرفئ خونهٔ وی ۔ هلته به دَ هغه دَ نیکونه څه نیکیانے مظلوم له ورکړے کیږی ، یا که چرے دَ هغه سړ نیکیانے نهٔ پوره کیږی نو دَ مظلوم څه ګناهونه به په هغه بار ولے کیږی " ۔ دغه شان په مسندِ احمد کښے دَ حضرت جابر بن عبد الله بن اُنیس روایت دے چه نبیؐ اُوفرمائیل " یو جنّتی به جنّت ته اویو دوزخی به دوزخ ته ترڅو چه دَ هغه ظلم بدله ورنهٔ کړے شی کوم چه هغه په چا

کړے وی، اُن تردے پورے چه دَ یوے سپیڑے بدله به هم ورکوی" مونږه عرض اُوکړو چه دا بدله به څنګه ورکړے کیږی مونږ خو به په قیامت کښے دَ مال و دولت نه کنګال یو؟ نبیؐ او فرمائیل "دَ خپلو نیکو اوبَدُو نه به بدله ورکړے کیږی" په مسلم او په مُسند احمد کښے دَ حضرت ابوهریرهؓ روایت دے چه نبیؐ یوځل په خپل مجلس کښے دَ خلقو نه تپوس اُوکړو، "پیژنئ چه غریب څوک دے؟" خلقو عرض اوکړو چه په مونږ کښے غریب هغه څوک دے چه دَهغه سره مال او سامان نه وی - نبیؐ اُوفرمائیل "ځما په امت کښے غریب هغه دے چه مونځ روژه او زکوٰة ادا کړی او دَ قیامت په ورځ په دا سے حال کښے حاضر شی چه چا ته ئے گنځلی کړی وی او په چا ئے تور پورے کړے وی، او دَ چا مال ئے خوړلے وی، او دَ چا وینه ئے تویٔ کړی وی، او څوک ئے وهلی ټکولی وی - بیا په دے ټولو مظلومانو باندِ دَهغه نیکیانے تقسیم کړے شی - او چه دَ هغه نیکیانے ختمے شی نو بیا دَ هر مظلوم ګناهونه په هغه بار کړے شی او دوزخ ته ورغوزار کړے شی" یوبل حدیث دے چه مُسلم او ابوداؤد دَ حضرت بُریده نه نقل کړے دے، په هغے کښے نبیؐ فرمائی چه "دَ یو مجاهد نه روستو که چرے یو سړی دَهغه دَ ښځے او دَ هغه دَ کور والو په معامله کښے خیانت اُوکړو نو دَ قیامت په ورځ به هغه دَ هغے مجاهد مخ ته ودرولے شی او ورته به اُو وئیلے شی چه دَ دهٔ دَ نیکیانو نه څومره اغستل غواړے هغومره واخله" بیا نبیؐ زمونږ طرفته توجه وکړه اُو وے فرمائیل "بیا ستاسو څه خیال دے"؟ یعنی ستاسو څه اندازه ده چه هغه به دَهغه سره څه پریږدی؟

څینو مفسرینو وئیلی دی چه دَ تغابُن لفظ زیات تر دَ تجارت په معامله کښے وئیلے کیږی - او په قرآن مجید کښے ځائے په ځائے دَ کافرانو او دَ مومن عمله دَ تجارت سره تشبیه ورکړے شوی ده مومن چه دَ نافرمانئ لار پریږدی او دَ اطاعت قبلوی او خپل سر و مال او جنت دَ خدائے په لار کښے لګوی نو لکه چه هغه دَ نقصان سودا پریږدی او په یوداسے تجارت کښے خپله سرمایه لګوی چه آخر به نفع کوی - او یو کافر چه دَ اطاعت لار پریږدی او دَ خدائے دَ نافرمانئ او دَ بغاوت په لار کښے خپل هرڅه لګوی نو لکه چه هغه یوداسے سوداګر دے چه دَ هدایت په بدله کښے ئے ګمراهی اغستلی ده او آخر به نقصان مومی - دَدواړو نفع او نقصان به دَ قیامت په ورځ څرګند یږی - په دُنیا کښے داکیدے شی چه مومن سړا سر په نقصان کښے وی او کافر لوئے لوئے فایدے حاصلوی - لیکن په آخرت کښے به معلومه شی چه په اصل کښے دَ نفع سودا چا کړی ده او دَ نقصان سودا چا کړی ده - دا مضمون دَ قرآن مجید په ډیرو ځایونو کښے بیان شوے دے - دَ مثال په طور لاندینی آیتونه اُوګورئ: البقره، آیتونه ۱۶ - ۱۷۵ - ۲۰۷ - آلِ عمران ۷۷ - ۱۷۷ - النساء ۷۴ - التوبه ۱۱۱ - النحل ۹۵ - فاطر ۲۹ - الصف ۱۰ -

یوبل صورت دَ تغابُن دا هم دے چه په دُنیا کښے خلق دَ یوبل سره دَ کفر او دَ فِسق او دَ ظُلم او دَ نافرمانئ په کارونو کښے بنه په اطمینان سره امداد کوی او دا بروسه لری چه زمونږ ه په منځ کښے ډیر ژور محبت او دوستی ده - دَ بد عمله کُورَنُو خلق، ګمراهی خورَونکی مشران او دَ هغوئ ملکری، دَ غلو او دَ ډاکوانو ټولے، دَ رشوت خورُو

وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَ
يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ

اوچاچه په الله ایمان راوړے دے اونیک عمل کوی[۲۱]، الله به د هغه ګناه اوریژوی اوهغه به په داسے جنتونوکښے داخل کړی چه لاندے به ترنهرونه بهیږی ـ داخلق به تل ترتله په هغے کښے اوسیږی ـ

اود ظالمانو افسرانو اوملازمانو دوستانه ، د بے ایمانو سودا کړو ، کارخانه داروا وزمید ارو په لے ، د ګمراهئ اود شرارت اوخباثت راپورته کړنکی پارټیانے ، اوپه غټه پیمانه باندے په ټوله دُنیا کښے د ظلم اود فساد سرپرست حکومتونه اوقومونه ، د دے ټولو په خپل منځ کښے ساروباز هم په دے بروسه باندے قایم دے ـ په دے کښے چه د هریو سره څوک تعلق لری هغوی په دے ګمان کښے پراته دی چه موږه د یوبل سره دُوستان یُواوزموږه په خپل منځ کښے ډیره کامیابه ملګرتیا چلیږی ـ خوچه کله داخلق آخرت ته اوُر سیږی نوهغوی ټولو ته به ناسپاه داخبره څرګنده شی چه موږه ټولو غټه دوکه خوړلی ده ـ هریوته به پته اولږی چه ماځوک خپل بهترین پلار ، رُور ، ښځه ، خاوند ، اولاد ، دوست ، مشر ، لیډر ، پیر ، مُرید یا مرستیال اومددګار ګڼلو هغه په اصل کښے ځما د ټولونه زیات بدترین دُشمن وُو ـ هره خپلوکی اودوستانه اومینه به په دُشمنئ کښے بدله شی ـ ټول به یوبل ته کنځلی کوی ، په یوبل به لعنت وائی ، اوهریوبه داغواړی چه د خپلوګناهونوزیاته ذمه واری په بل ورواچوی اوهغه له د سختونه سخته سزا ورکړی ـ دامضمون هم په قرآن مجید کښے ځائے په ځائے بیان کړے شوے دے مثلاً یوځوآیتونه اوګورہ : البقره ۱۶۷ ـ الاعراف ۳۷ تا ۳۹ ـ ابراهیم ۲۱ ـ ۲۲ ـ المومنون ۱۰۱ ـ العنکبوت ۱۲ ـ ۱۳ ـ ۲۵ ـ لقمٰن ۳۳ ـ الاحزاب ۶۷ ـ ۶۸ ـ سبا ۳۱ تا ۳۳ ـ فاطر ۱۸ ـ الصّٰفّٰت ۲۷ تا ۳۳ ـ صٓ ۵۹ تا ۶۱ ـ حٰمٓ السجدہ ۲۹ ـ الزُّخرُف ۶۷ ـ الدُّخان ۴۱ ـ المعارج ۱۰ تا ۱۴ ـ عبس ۳۴ تا ۳۷ ـ

[۲۱] په الله باندے د ایمان راوړلو نه مُراد یوازے دامنل نه دی چه الله شته ، بلکه په هغه طریقه ایمان راوړل مُراد دی څنګه چه الله تعالیٰ پخپله د خپل رسول اود خپل کتاب په ذریعه بنودلے دے ـ په دے ایمان کښے په پیغمبرئ او په کتاب باندے ایمان راوړل پخپله شامل دی ـ دغه شان د نیک عمل نه مُراد هم هرهغه عمل نه دے چه سړی په خپله نیک ګڼلے وی یا چه انسانانو پخپله د اخلاقو کوم معیار مقرر کړے وی اود هغے پیروی ئے اختیار کړی وی ، بلکه د دے نه مُراد هغه نیک عمل دے چه هغه د خدائے د رالیږلی شوی قانون مطابق وی ـ نوچاله په دے دوکه کښے پریوتل نه دی پکار چه کښی د رسول اود کتاب د واسطے نه بغیر د الله د منلو او د نیک عمل کولو هغه فایدے دی کوے چه وړاندے بیانیږی ـ څوک چه قرآن مجید په سوچ فکر سره اوګوری نو د هغه نه به داخبره پټه پاتے نشی چه قرآن مجید دِے قسم ایمان ته ایمان بالله اودِے قسم عمل ته عملِ صالح هډو د سرنه والئ نه ـ

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝٩ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ
اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝١٠
مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ
يَهْدِ قَلْبَهٗ ۭ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝١١ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ

دالویه کامیابی ده ـ اوچه کومو خلقو کفر کړے دے اوزمونږه آیتونه ئے دروغ ګڼلی دی[۲۲] هغوئ دوزخیان دی چه همیشه به په دوزخ کښے اوسی اوهغه ډیر بد ځائے دے اوسیدو دے ـ ع

څه[۲۳] مصیبت چه راځی هغه د الله په حکم سره راځی[۲۴] ـ څوک چه په الله ایمان لری الله د هغه زړه ته هدایت نصیب[۲۵] کوی، او الله ته د هر څیز علم دے[۲۶] ـ د الله حکم ته غاړه کیږدئ او

۲۲ د دے الفاظونه پخپله د کفر مطلب څرګندیږی ـ د الله د کتاب آیتونه د الله د آیتونو په حیثیت سره نه منل، اوهغه حقیقتونه نه منل چه په دے آیتونو کښے بیان شوی دی، او په هغه حکمونو باندے د عمل کولو نه انکار کول کوم چه په دے آیتونو کښے بیان شوی دی، هم دا کفر دے او د دے انجام هغه دے کوم چه وړاندے بیانیږی ـ

۲۳ اُوس خبره مومنانو ته شروع شوه ـ دلته دا یاد سائل پکار دی چه په کومه زمانه کښے دا آیتونه نازل شوی دی هغه د مسلمانانو د پاره سخته د مصیبتونو زمانه وه ـ هغوئ په کلونو کلونو په مکه کښے د کافرانو ظلمونه برداشت کړی وُو او بیا ئے هرڅه پریښودی وُو او مدینے ته راغلی وُو ـ او په مدینه کښے چه کومو حق پرستو خلقو هغوئ له پناه ورکړی وه په هغوئ باندے دوه مصیبتونه راغلی وُو ـ یو طرفته هغوئ د مهاجرینو سره امداد کولو چه د سوُونو په تعداد کښے د عربو د مختلفو حصّو نه د هغوئ طرفته راروان وُو، او بل طرفته چه په عربو کښے د اسلام څومره دُشمنان وُو هغوئ پټول د هغوئ مخالف شوی وُو ـ

۲۴ دا خبره د سورة الحدید په آیتونو ۲۲ او ۲۳ کښے هم تیره شوی ده او هلته د ۲۹ نمبر حاشیے نه د ۴۲ نمبر حاشیے پورے مونږه د دے تشریح کړی ده ـ چه په کومو حالاتو کښے او د کوم مقصد د پاره دا خبره هلته حاصله شوی وه، هم په هغے حالاتو کښے د هغے مقصد د پاره دا دلته بیا دوباره کیږی ـ د مسلمانانو په ذهن کښے چه کوم مقصد کینول دی هغه دا دے چه نه مصیبتونه پخپله راځی، نه په دُنیا کښے د چا دا طاقت شته چه په خپل اختیار سره په چا باندے څه مصیبت راولی ـ دا خو سراسر د الله اختیار دے چه په چا باندے مصیبت راوَلی یا نه راوَلی ـ او د الله په هرکار کښے څه نه څه حکمت ضرور وی خو انسان پرے نه پوهیږی ـ

۲۵ یعنی صرف په الله باندے ایمان لرل هغه څیز دے چه انسان په کړو مصیبتونو کښے په ټینګ

باندِ برقرار لری او په سخت حالت کښے ئے هم خپے نهٔ خوئیږی۔ دَکوم سړی په زړه کښے چه ایمان نهٔ وی هغه مصیبتونه یا خودَ اتفاقاتو نتیجه ګڼړی، یا دَ دُنیا طاقتونه دَ هغے په راوستلو اولرے کولو کښے اثرناک ګڼړی، یا هغه دَ داسے خیالی طاقتونو عمل ګڼړی چه هغه انسان په خپل وَهم کښے دَ نفع اودَ نقصان رسولودَ پاره مقرر کړی دی، یا خو خدائے فاعلِ مختار یعنی کامل اختیار والا منی لیکن دَ صحیح ایمان سره ئے نهٔ منی۔ په دِے ټولو مختلفو صورتونو کښے سړے بے حوصلے پاتے کیږی۔ دَیو خاص حده پورے خوهغه مصیبت برداشت کوی، لیکن دَ هغے نه زیاتو هغه خپل شکست اومنی، هردربارته ټیټیږی، هر ذلت قبلوی، دَ رذالت هر کارکول ورته آسان شی، هرغلط کار ته تیاریږی۔ خدائے ته دَ ګڼلو پورے ورځی، اَن تردِے چه خودکشی هم کوی۔ دَدے نه برعکس چه څوک دَ زړه په صدق سره دا منی چه ټول هرڅه دَ الله په لاس کښے دی او خاص هغه دَدے کائنات مالک اوبادشاه دے، او خاص دَ هغه په حکم سره مصیبت راځی اولرے کیږی، نودَ هغه زړه ته الله دَ صبراودَ رضامندګی توفیق ورکوی، هغه ته دَ لوړ همت سره دَ هرقسم دَ حالاتو دَ مقابلے کولو طاقت ورکوی، دَ خرابونه په خرابو حالاتو کښے هم دَ هغه مخے ته دَالله دَ فضل دَ اُمید رڼا روښانه وی، اودَ څټو نه څټ مصیبت هم هغه دومره کم همته کوی نهٔ چه هغه دَ ښکے لارے نه بے لارے شی، یا دَ باطل مخے ته سرښکته کړی، یا دَ الله نه سِوا دَ بسل چا دَ دَرنه دَ خپل درد شِفا اُوغواړی۔ دغه شان هرمصیبت چه راځی نودَ هغه دَ پاره زیات خیر راوړی اویو مصیبت هم په حقیقت کښے دَ هغه دَ پاره مصیبت نهٔ وی بلکه دَ نتیجے په اعتبار سره سراسر رحمت جوړیږی، ځکه چه ګډ هغه په دغه مصیبت کښے ختم شی یا تر په خیریت سره بچ شی، نو په دواړو صورتونو کښے هغه دَ خپل رب په آزمیښت کښے کامیابیږی۔ هم دا خبره په یومتفق علیه حدیث کښے رسول الله صلی الله علیه وسلم په دِے طریقه بیان کړی ده، عجباً للمؤمن لا یقضی اللّٰهُ لَهٗ قضاءً الا کان خیرًا لهٗ، اِنْ اَصابتهٗ ضَراء صبر، فکان خیرًا لهٗ وَ اِن اصابتهٗ سرّاء شکر، فکان خیرًا له، ولیس ذالک لاَحدٍ الا المؤمن۔" دَمؤمن کار هم عجیبه دے، الله چه دَ هغه په حق کښے کومه فیصله کوی هغه دَ هغه دَ پاره ښه وی۔ چه مصیبت پرِ راشی نوصبر کوی، او دا دَ هغه دَ پاره خیر دے، چه خوشحالی پرِ راشی نوشکر اُوباسی، اودا هم دَ هغه دَ پاره خیر دے۔ دا کار دَ مومن نه بغیر دَ بل چا دَ پاره نهٔ دے۔"

۲۶ دلته دَدے دوه معنے کیدے شی۔ یَوه داچه الله ته معلومه ده چه کوم سړے واقعی ایمان لری او کوم قِسم ایمان لری۔ نو هغه دَ خپل علم په بُنیاد باندِ هغه زړه ته هدایت کوی چه په کوم کښے ایمان وی او هغه قِسم هدایت کوی کوم قِسم ایمان چه په هغه کښے وی۔ دوَیم مطلب دا هم کیدے شی چه الله دَ خپلو مومنانو بندګانو دَ حالاتو نه ناخبره نهٔ دے۔ هغه ایمان ته را اُوبلی او دَ ایمان سره ئے دَ دُنیا په سختو آزمیښتونو کښے واچول نوبیا ئے هغوئ هم په دغه حالت کښے پرے نښودل۔ الله ته علم دے چه په کوم مومن باندِ په دُنیا کښے څه تیریږی او هغه په مختلفو حالاتو کښے دَ خپل ایمان تقاضے په کومه طریقه پوره کوی۔

اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ
الْمُبِيْنُ ﴿۱۲﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۳﴾
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ
فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَاِنْ تَعْفُوْا وَتَصْفَحُوْا وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

دَرسول خبره اُومَنئ ـ خوکه تاسو چکم منلونه مخ وارِوُو نوزمونږه په رسول باندِ دَ صفا صفا حق رَسولونه سِوا بله هیڅ ذمه واری نشته[۲۷] ـ اللّٰه هغه دے چه بے دَهغه نه بل خدائے نشته ، نومومنانوله خاص په هغه باندِ بس وسه سائل پکار دی[۲۸] ـ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے ، ستاسو په بنځو اوستاسو په اَولاد کښے ځینی ستاسو دُشمنان دی ، دَهغوئ نه هوښیار اُوسئ ـ اوکه چرے تاسو دَ معافئ نه او دَ چشم پوشئ نه کار واخلئ اوبخښنه اُوکړئ نو اللّٰه بخښونکے

نواطمینان لرئ چه کوم مصیبت دَاللّٰه په حکم سره راځی ، دَاللّٰه په علم کښے ضرور دَهغے څه لویه فایده وی او په هغے کښے لوئ خیر پټ پروت وی ، ځکه چه اللّٰه دَ خپلو مومنانو بنده ګانو خیرخواه دے ، بغیر دَ څه وجے نه هغوئ په مصیبت کښے اخته کول نه غواړی ـ

۲۷ دَروان عبارت په لحاظ سره دلته دَدے فقرے مطلب دادے چه که بنهٔ حالات وی اوکه خراب حالات وی ، په هرحال کښے دَاللّٰه اودَهغه دَرسول په اطاعت باندِ قایم اُوسئ ـ لیکن که چرے تاسو دَ مصیبتونونه اُویریدئ او دَ اِطاعت یعنی دَ حکم منلونه موښ وارِوُو نوخپل نقصان به اُوکړئ ـ زمونږ په رسول باندِ صرف دا ذمه واری وه چه تاسوته نیغه لار ښیک ښائ ، او دَهغے حق رسول اداکړے دے ـ

۲۸ یعنی دَ خدائ ټول اختیارات یوازے دَاللّٰه تعالیٰ په لاس کښے دی ـ بل څوک هډو دَسره دااختیارات نه لری چه ستاسو ښه یا بد تقدیر جوړکړی ـ ښه وخت را تلے شی خوخاص دَهغه په اجازت سره راتلے شی ، اوخراب وخت لرے کیدے شی خوخاص دَهغه په لرے کیدو لرے کیدے شی ـ نوکوم سړے چه دَ زړه په صدق سره اللّٰه یوخدائ منی دَهغه دَ پاره دَ نه سِوا بله څه لار نشته چه په اللّٰه بروسه اُولری او په دُنیا کښے دَ یومن په حیثیت سره خپل کار په وِے یقین سره سرته رَسوی چه په هرحال کښے خیر هم په هغه لار کښے دے کومه چه اللّٰه بنائ ـ که په وِے لار کښے کامیابی نصیب کیږی نوخاص دَ اللّٰه په امداد اوتائید سره به نصیب کیږی ، بل دویم طاقت نشته چه امداد اُوکړی ـ او په وِے لار کښے که مشکلات او مصیبتونه او خطرے اوهلاکتونه مخے ته راشی

رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾ إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۚ وَاللَّهُ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾

اورحم کونکے دے۔ ستاسو مال اوستاسو اولاد خو یوآزمیښت دے، اوخاص اللہ دے چه دهغه سره لوئ اجر دے۔

نو دهغې نه هم بچ کونکے خاص اللہ دے، بل هیڅوک بچ کونکے نشته۔

۲۹ دد ے آیت دوه مطلبونه دی۔ دیومطلب په لحاظ سره دد ے نه مُراد هغه ګڼ مشکلات دی کوم چه د خدائ په لارکښے مومنانو سړو ته د خپلو ښځو اومومنا ښځو ته د خپلو خاوندانو نه اومورا وپلار ته د خپلو بچونه پیښیږی۔ په دُنیاکښے ډیرکم داسے کیږی چه یوسړی ته داسے ښځه او یوه ښځے ته داسے خاوند ملاؤ شی چه هغه په ایمان او په صداقت کښے د یوبل پوره پوره مددګاران وی، او بیا د دواړو بچی هم داسے وی چه د عقید ے اود عمل او د اخلاقو په اعتبار سره د هغوئ د پاره د خوشحالئ ذریعه وی۔ کنې نوعام طورکیږی داسے چه که خاوند نیک اوایماندار وی نو ښځه اواولاد هغه ته داسے ملاویږی چه د هغه دیانت اوامانت اوصداقت په خپل حق کښے بد قسمتی کنړی اوداغواړی چه خاوند اوپلار د هغوئ د پاره د دوزخ خطره په خپل سر واخلی او د حلا لواو د حرامو تمیز پریږدی اوپه هره طریقه د عیش اوعشرت او د فسق وفجور ژوند جوړکړی۔ او د د ے برعکس اکثر دیوے نیکے مُومنے ښځے ته داسے خاوند ملاویږی چه د هغے د شریعت پابندی د هغه هډو خوښه نه وی، او اولاد هم د پلار په نقشِ قدم روان شی او د خپلے ګمراهئ اوبدعملئ په وجه د مورژوند تنګوی۔ بیاخاص طورچه کله د کفراو د اسلام په جنګ کښے دیومومن د ایمان سره دا ښائ چه د اللہ او د هغه د دین د خاطر د نقصانات برداشت کړی، قسماقسم خطرے په سر واخلی، خپل ملک پریږدی اوهجرت اوکړی، یاپه جهاد کښے د سرقربانی پیش کړی، نو د هغه په لارکښے د هغه اهل وعیال د ټولونه زیات خنډ جوړ یږی۔

د دویم مطلب تعلق د هغه خاصو حالاتو سره دے کوم چه به د د ے آیتونو د نازلیدو په زمانه کښے اکثرو مسلمانانوته پیښیدل او نن هم هر هغه کس ته پیښیږی چه هغه په غیر مسلمه خلقو کښے اسلام قبول کړی۔ په هغه وخت کښے به په مکّه کښے او د عربو په نورو ځایونو کښے عام طورداسے کیدل چه یوسړی ایمان قبول کړے دے، خو ښځه اوبچی ئے نه صرف اسلام قبلولوته تیار نه وی، بلکه پخپله د هغه د اسلام نه د اړولو کوشش کوی۔ اوهم د غسے حالات به هغه ښځو ته پیښیدل چه هغوئ به په خپل خاندان کښے یوازے اسلام قبول کړو۔

دا دواړه قسمه حالات چه کومو مومنانو ته پیښ وی هغوی ته د ے خبری فرمائیلے شوی دی:

د ټولونه اوّل هغوی ته خبردارے ورکړے شوے دے چه د دُنیا د رشتے په لحاظ سره اګرچه داخلق انسان ته د ټولونه زیات خوږ وی، لیکن د دین په لحاظ سره داستاسو "دُشمنان" دی۔ دا دُشمنی که په د ے حیثیت سره وی چه هغوئ تاسو د نیکئ نه منع کوی او بدئ ته موړ وی، یاکه په د ے حیثیت سره وی چه

هغوئ تاسو د ایمان نه منع کوی او کفر ته مو را کاږی، او که په ډیه حیثیت سره وی چه د هغوئ ټوله مینه د کافرانو سره وی او ستاسو په ذریعه که د مسلمانانو د جنګی رازونو په حقله څه خبره د هغوئ په علم کښے راشی نو هغه د اسلام د ډشمنانو ته رسوی، نو دد ے نه د ډشمنئ په رنګ کښے فرق خو را تلے شی، لیکن په هرحال دا ده ډشمنی، او که تاسو ته ایمان خوږ وی نو بیا تاسو له پکار دی چه هغوئ ډشمنان اوګڼئ، د هغوئ په مینه کښے دا خبره هیڅ ول نه ئ دی پکار چه ستاسو او د هغوئ په منځ کښے د ایمان او د کفر، یا د حکم منلو او نه منلو غټ دیوال ولاړ دے۔

د دے نه روسته اوفرمایئلے شو چه د هغوئ نه هوښیار اوسئ۔ یعنی د هغوی د ډنیا جوړولو د پاره خپل آخرت مه ئ برباد وئ۔ په زړونو کښے د هغوئ سره دومره زیاته مینه مه لرئ چه ستاسو د الله او د رسول او د اسلام سره کوم تعلق دے چه په هغے کښے څه خلل راشی۔ په هغوئ دومره اعتماد هیڅکله مه کوئ چه ستاسو د بے احتیاطئ په وجه د مسلمانانو د جماعت رازونه هغوئ ته معلوم شی او هغه ډشمنانو ته اورسی۔ دا هم هغه خبره ده د کومے نه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو حدیث کښے مسلمانان خبردار کړی دی چه یُؤتیٰ برجلٍ یوم القیٰمة فیقالُ اکل عیالهٖ حسناته۔ "یو سړے به د قیامت په ورځ راوستلے شی او اوبه ویئلے شی چه د ده بال بچ د ده ټولے نیکیانے اوخور لے"۔

په آخر کښے اوفرمایئلے شو چه "که چرے تاسو د معافئ نه کار واغستو او بخښنه مو اوکړه نو الله غفور او رحیم دے"۔ د دے مطلب دا دے چه د هغوئ د ډشمنئ نه تاسو له صرف په دے وجه خبردار ے در کړے کیږی چه تاسو د هغوئ نه هوښیار اوسئ او د هغوئ نه د خپل دین د بچ کولو فکر اوکړی۔ د دے خبردار ے مقصد هرګز دا نه دے چه ښځه او بچی وهه، یا د هغوئ سره په سختی کوه، یا د هغوئ سره تعلقات دا سے خراب کړه چه ستاسو د کورنی ژوند نه عذاب جوړ شی۔ دا څکه چه د دا سے کولو د وه نقصانونه بالکل واضحه دی۔ یو دا چه په دے سره د ښځے او د بچو د اصلاح دروازه د همیشه د پاره د بند یدو خطره ده۔ دویم دا چه په دے سره په خلقو کښے د اسلام خلاف الټا بدګمانیانے پیدا کیدے شی او د خواؤ شا خلقو په نظر کښے د مسلمانانو د اخلاقو دا نقشه جوړیږی چه د اسلام قبلولو سړے هغه په خپله پخپل کور کښے د خپل بال بچ د پاره سخت اوبد مزاجه جوړ یږی۔

په دے سلسله کښے دا خبره هم په ذهن کښے ساتل پکار دی چه د اسلام په شروع کښے به کله خلق نوی نوی مسلمانیدل، نو هغوئ ته به یو مشکل په هغه وخت کښے پیښید و چه کله به د هغوی مور او پلار کافران وُو او په هغوئ به ئے داد باؤ اچوؤ چه د دے نوی دین نه واوړی۔ او دویم مشکل به په هغه وخت کښے وُو چه کله به د هغوئ ښځے او بچی (یا که به ښځه وه نو د هغوئ خاوند آن او بچی) به په کفر باندے ټینګ ولاړ وُو او د حق دین د لارے نه به ئے د هغوئ د اړولو کوشش کولو۔ د اولنی مشکل په حقله د سورۃ عنکبوت په اتم آیت کښے او د سورۃ لقمان په خوارلسم او پنځلسم آیتونو کښے داحکم اوشو چه د دین په معامله کښے د مور او پلار خبره هرګز مه منئ، البته د د ډنیا په معاملو کښے د هغوئ سره ښه سلوک کوئ۔ د دویم مشکل په حقله حکم دلته بیان شوے چه د خپل بال بچ نه د خپل دین د بچ کولو فکر خو ضرور کوئ، لیکن د هغوئ سره د سختئ سلوک مه کوئ، بلکه د نرمئ او د معافئ نه کار اخلئ۔ (د زیاتے تشریح د پاره اوګورہ تفہیم القرآن، دویم جلد، التوبہ، آیتونه ۲۳-۲۴۔

فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا وَاَنْفِقُوْا خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ ۭ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝۱۶

نوچه ترڅو پورے چه ستاسو په وس کښے وی د الله نه یَرہ کوئ[۳۱]، اوخبره اَورئ اوحکم منئ، اوخپل مال خرچ کوئ دا ستاسو د پاره بهتره ده ـ څوک چه د خپل زړه د تنګسیا نه محفوظ پاتے شو بس هم هغوئ کامیابی موندونکی[۳۲] دی ـ

پنځم جلد، المجادله، حاشیه ۳۷ ـ الممتحنه، حاشیے ۱ تا ۳ ـ المنافقون، حاشیه ۱۸ ـ

۳۰ د تشریح د پاره اوګورئ تفهیم القرآن دویم جلد، الانفال، حاشیه ۲۳ ـ په دے موقع د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث هم په نظر کښے ساتل پکار دی چه طبرانی د حضرت ابومالک اَشْعَرِیؓ نه روایت کړے دے چه "ستا اصلی دُشمن هغه نه دے چه ته ئے قتل کړے نوستا د پاره کامیابی ده اوکه هغه تا قتل کړی نوستا د پاره جنّت دے، بلکه ستا اصلی دُشمن، کید ے چه ستا خپل هغه بچے وی کوم چه ستا د صُلب نه پیدا شوے وی، بیا ستا د پهلو نه غټ دُشمن ستا هغه مال دے چه ته ئے مالک ئے" نوحکم الله تعالیٰ دلته هم او په سورۃ انفال کښے هم دا فرما ئیلی دی چه که چرے تاسو خپل ځان د مال او د اولاد د فتنے نه بچ کړو، او د هغوئ په مینه باندے مود الله مینه غالب کړه نوستاسو د پاره د الله سړے پیرلوئ اجر دے ـ

۳۱ په قرآن مجید کښے په یو ځائے کښے فرما ئیلے شوی دی اِتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ، "د الله نه دا سے اوَیَرِیږئ لکه څنګه چه د هغه نه د یَرے حق دے" (آلِ عمران ـ ۱۰۲) ـ په بل ځائے کښے فرمائی لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا، "الله په یونفس باندے د هغه د وَس نه زیات بوج نه اَچَوی" (البقره ۲۸۶) ـ او دلته فرما ئیلے کیږی چه "ترڅو پورے ستاسو په وَس کښے وی د الله نه یَرہ کوئ" په دے درے واړو آیتونو چه غور اوکړے شی نو معلومیږی چه اولنے آیت هغه معیار زمونږ مخے ته ږدی چه هرمومن له هغے ته د رسیدلو کوشش پکار دے ـ دویم آیت دا اصولی خبره مونږ ته بنائی چه د وَس نه د زیات کارکولو مطالبه د هیچا نه نه ده شوی، بلکه د الله په دین کښے د سړی نه بس هغومره مطالبه ده څومره چه هغه وَس لری ـ او دا آیت هرمومن ته هدایت کړی چه هغه دِ د تقویٰ په کوشش کښے د خپله وَسه پورے هیڅ کمے نه پریږدی ـ ترڅو چه ممکن وی د الله تعالیٰ حکمونه دِ مَنی او د هغه د نافرمانئ نه دِ ځان ساتی ـ په دے معامله کښے که د ناراستئ نه کار واغستے شو نو د سزا نه به هیڅ نشی ـ البته چه کوم څیز د چا د وَس نه بَهر وی (او دا فیصله الله ښه کولے شی چه کوم څیز واقعی د چا د وَس نه بَهر وُو) نو د هغے نه پوښتنه به د هغه نه نه کیږی ـ

۳۲ د تشریح د پاره اوګورئ تفهیم القرآن، پنځم جلد، الحشر، حاشیه ۱۹ ـ

إِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ
وَاللّٰهُ شَكُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿١٧﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾

که چرے تاسو الله له قرضِ حَسَن ورکړو نو هغه به ئے درله په څوځو چنده زیات درکړی[۳۳] اوستاسو ګناهونه به معاف کړی، الله ډیر قدردان اوصبرناک دے[۳۴]، پټ اوښکاره په هرڅه باندِ پوهه دے، زبردست دے اوحکیم دے۔ ع

۳۳؎ دَ تشریح دَپاره اُوګورہ تفهیم القرآن، اول جلد، البقره، حاشیه ۲۶۷- المائده، حاشیه ۳۳- پنځم جلد، الحدید، حاشیه ۱۶-

۳۴؎ دَ تشریح دَپاره اُوګورہ تفهیم القرآن، څلورم جلد، فاطر، حاشیے ۵۲- ۵۹- الشوریٰ، حاشیه ۴۲-

تفهم القرآن الكريم

الطلاق

٦٥

الطّلاق

نوم دَدے سورۃ نوم هسے الطّلاق نهٔ دے، بلکه دادڈ دَمضمون عنوان هم دے، ځکه چه په دِے کښے دَ طلاقو حکمونه بیان شوی دی۔ حضرت عبدالله بن مسعودؓ دے ته سُورۃ النِساءِ القُصریٰ هم وئیلے دے یعنی وړوکے سورۃ نساء۔

دَ نازلیدو زمانه حضرت عبدالله بن مسعودؓ صفا فرمائیلی دی، او دَ سورۃ دَ مضمون نه هم دا معلومیږی چه دا لاندے مـاً دَ سورۃ بقـرے دَ هغه آیتونونه روستو نازل شوے دے په کومو کښے چه دَ طلاقو حکمونه په اوّل ځل شامل شوی وُو۔ اګرچه دا وئیل ګران دی چه دَدے دَ نازلیدو ټیک زمانه څه ده، لیکن په هـرحال دَ روایتونونه دومره ضرور معلومیږی چه کله دَ سورۃ بقـرے په حکمونو کښے خلقوڈ نهٔ پوهتیا په وجه غلطیانے شروع کړے، نو پس دَ هغے الله تعالیٰ دَ هغوئ دَ اصلاح دَ پارهٔ دا هدایات نازل کړل۔

موضوع او مضمون دَدے سورۃ په حکمونو باندِ دَ ځان پوهه کولو دَ پارهٔ ضروری ده چه هغه هدایات بیا په ذهن کښے تازه کړے شی کوم چه دَدے نه مخکښے په قرآن مجید کښے دَ طلاق او دَ عدّت په حقله بیان شوی دی:

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ، فَاِمْسَاكٌ بِمَعْرُوْفٍ اَوْتَسْرِيْحٌ بِاِحْسَانٍ (البقره ـ ۲۲۹)۔ "طلاق دوه ځله دی، بیا خو دِ یا ښځه په صحیح طریقه رامنع کړے شی، یا دِ په ښه طریقه رخصت کړے شی۔"

وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ ..... وَبُعُوْلَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ اِنْ اَرَادُوْٓا اِصْلَاحًا (البقره ـ ۲۲۸)۔ او طلاقه شوی ښځه دِ (دَ طلاق نه روستو) دَدریو حیضو پورے خپل ځان په انتظار کښے اوساتی ..... او دَ هغوی خاوندان په دِے موده کښے دَ ننه دَ هغوی دَ واپس اغستلو حقدار دی که چرے هغوی اصلاح ته تیاروی۔

فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ..... (البقره ـ ۲۳۰)۔ "بیا که چرے هغه (په دریم ځل) هغے له طلاق ورکړی نو دَدے نه روستو به هغه دَ هغه دَ پارهٔ نهٔ حلاله وی ان تردے پورے چه دَ هغه ښځے نکاح دَ بل چا سره اوشی ....."

إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا (الاحزاب - ۴۹) - "هرکله چه تاسو د مومنانو نجونو سره نکاح اوکړئ او بیا هغوئ له د لاس ورورلونه محکمنے طلاق ورکړئ نو ستاسو د پاره په هغوئ باندے څه عدّت لازم نه دے چه د هغے د پوره کولو مطالبه تاسو اوکړے شئ"

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا (البقره - ۲۳۴) - "او په تاسو کښے چه کوم خلق مړه شی او بیبیانے ترِ روستو پاتے شی نو هغوئ د څلور میاشتے اولس ورځے ځان منع ساتی"

په دے آیتونو کښے چه کومے قاعدے مقرر کړے شوے دے هغه داوے:

(۱) یوسړے خپل بنځے له د زیاتونه زیات درے طلاق ورکولے شی۔

(۲) د یو یا د دو وطلاقو ورکولونه روستو په عدّت کښے د ننه خاوند ته د رجوع کولو حق حاصل دے او چه عدّت تیر شی نو که هغوئ دواړه بیا نکاح کول غواړی نو کولے شی، دا دے د پاره د تحلیل څه شرط نشته۔ لیکن که سړے درے طلاقه ورکړی نو په عدّت کښے د ننه د رجوع کولو حق ختمیږی او دوباره نکاح هم هله کیدے شی چه د هغے بنځے نکاح د بل سړی سره اوشی او هغه سړے ورله بیا چرته په خپل مرضا سره طلاق ورکړی۔

(۳) مدخوله بنځه یعنی کومه بنځه چه واده شوی وی او حیض یعنی میاشتیزے ناجوړتیا ئے کیږی نو د هغے عدّت دا دے چه د طلاقونه روستو هغے ته درے حُله حیض راشی۔ د یو یا دو وُ طلاقو ورکولونه روستو دا دے عدّت مطلب دا دے چه هغه بنځه لا د هغه سړی په نکاح کښے ده اوهغه ورته په عدّت کښے د ننه رجوع کولے شی۔ لیکن که سړی درے طلاقه ورکړی وی نو دا عدّت د رجوع د کنجائش د پاره نه دے بلکه صرف دا دے د پاره دے چه دا دے د خقید ونه محکمنے بنځه د بل سړی سره نکاح نشئ کولے۔

(۴) غیر مدخوله بنځه یعنی چه واده شوی نه وی اوطلاق ورکړے شی، د هغے د پاره هیڅ عدّت نشته۔ هغه د طلاقونه روستو فوراً نکاح کولے شی۔

(۵) د کومے بنځے چه خاوند مړ شی د هغے عدّت څلور میاشتے اولس ورځے دے۔

اُوس په دے خبره ښه ځان پوهه کول پکار دی چه سورۃ طلاق په دے قاعدو کښے د یوے قاعدے د منسوخ کولو یا د ترمیم کولو د پاره نازل شوے نه دے، بلکه د دوُو مقصدونو د پاره نازل شوے دے۔

یو دا چه سړی ته د طلاقو کوم اختیار ورکړے شوے دے د هغے د استعمالولو داسے حکمتی طریقے اُوښودلے شی چه په هغے سره خبره جُدایئ ته اُونه رسی اوکه جُدائی وی نو په داسے حالت کښے د وی چه په خپلو کښے د روغے جوړے ټول امکانات ختم شوی وی۔ مګر چه د خدائے په شریعت کښے د طلاقو کنجائش صرف د یولازمی ضرورت په طور کیښودے شوے دے، کنئ نو الله تعالیٰ داخبره بالکل نه خوښوی چه د یوسړی

اودَ یوے بنځے په منځ کښے کومه نکاح شوی وی هغه دِ بیاماته شی ۔ نبی صلی اللّٰه علیه وسلم فرمائی چه مَا اَحَلَّ اللّٰه شیئاً اَبغضَ الیه من الطلاق ۔" اللّٰه تعالیٰ داسے یوځیز حلال کړے نهٔ دے چه هغه دَ طلاقونه زیات هغه ته ناخوښه وی ۔ (ابوداؤد) ۔ اوابغض الحلال الی اللّٰه عزوجل الطلاق ۔ " په ټولو حلالو ځیزونوکښے اللّٰه تعالیٰ ته دَ ټولونه زیات ناخوښه ځیز طلاق دے" (ابوداؤد)۔

دویم مقصد دا دے چه دَ سورۃ بقرے دَ حکمونو نه روستو باقی کومے مسئلے پاتے شوے وے چه هغه پوره کړے شی اودَ اسلام دَ خاندانی قانون څانګه مکمله کړے شی ۔ په دِے لړ کښے دا وئیلے شوی دی چه دَ کومو وادهٔ شوُو بنځو حیض بند شوے وی یادَ کومو بنځولاحیض نهٔ وی شروع شوے، نودَ هغوی دَ طلاقو عدت به څه وی۔ او کومه بنځه چه حَامِله وی، یعنی بچے ئے په ګیډه وی هغه له که طلاق ورکړے شی یا دَ هغے خاوند مړ شی نودَ هغے دَ عدّت موده به څه وی ۔ اودَ مختلف قِسم طلاقو شوُو بنځو خرچه او دَ اُوسیدو انتظام به څه رنګے وی او دَ کوم بچی موراو پلار چه دَ طلاقو په ذریعه جُدا شوی وی دَ هغه دَ رضاعت یعنی دَ ټی ورکولو انتظام به څه رنګے کیږی ۔

سُوْرَةُ الطَّلَاقِ مَدَنِيَّةٌ

اٰیَاتُهَا ۱۲ رُكُوْعَاتُهَا ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ

اے نبیؐ، هرکله چه تاسو ښځوله طلاق ورکوئ نو هغوئ له د هغوئ د عدّت د پاره طلاق ورکوئ[1]

[1] یعنی تاسو د طلاق ورکولو په معامله کښے دا تلوارمهٔ کوئ چه په معمولی جګړه کښے فوراً په غصّه کښے را شئ او طلاق ورکړئ او د نکاح په مړئ باندے دا سے توړه راکاږئ چه د رجوع کولو ګنجائش هم پرے نښږدئ ۔ بلکه تاسو چه کله ښځوله طلاق ورکول غواړئ نو د عدّت د پاره ئے ورکړئ ۔ د عدّت د پاره د طلاق ورکولو دوه مطلبونه دی او دواړه دلته مُراد هم دی:

یو مطلب د دے دا دے چه د عدّت شروع کولو د پاره طلاق ورکړئ، یعنی په هغه وخت کښے طلاق ورکوئ چه د کوم نه د هغوئ عدّت شروع کیږی ۔ دا خبره د سورة بقره په آیت ۲۲۸ کښے ویلے شوی ده چه د کوم مَدْخُولے ښځے (واده شوی ښځے) حیض (میاشتیزے ناجوړتیا) راځی د هغے عدّت دا دے چه د طلاقونه روستو ورته درے ځله حیض راشی ۔ د دے حکم په رنړا کښے چه اُوکتلے شی نو د عدّت د شروع کولو د پاره د طلاقورکولو طریقه هم دا کیدے شی چه ښځے له د حیض په حالت کښے طلاق ورنه کړے شی، ځکه چه د هغے عدّت د هغه حیض نه شروع کیدے نشی په کوم کښے چه هغے له طلاق ورکړے شوی وی، او په دے حالت کښے د طلاقورکولو مطلب دا کیږی چه د الله د حکم نه خلاف ورزی د ښځے عدّت د درے حیضونو په ځائے څلور حیضه شی ۔ د غه شان د دے حکم ترڅنګ دا هم ضروری ده چه ښځے له دے په هغه طُهر (یعنی پاکوالی) کښے طلاق نه ورکړے کیږی چه په کوم کښے خاوند د هغے سره کور والے کړے وی، ځکه چه په دے حالت کښے طلاق ورکړے شی نو ښځے اوخاوند دواړو ته دا شی معلومیږی چه آیا د کوروالی کولو سره په کیده کښے بچے شروع شوے دے اوکه نه، په دے وجه د عدّت شروع نه دا سے کیدے شی چه دا عدّت به د راتلونکو حیضونو په اعتبار سره وی اونه دا سے کیدے شی چه دا به د حاملے ښځے عدّت وی ۔ نو دا حکم په یو وخت دوه خبرې غواړی ۔ یو دا چه د حیض په حالت کښے دِ ښځے له طلاق نه ورکړے کیږی ۔ دویمه دا چه طلاق دِ یا خو په هغه طُهر کښے ورکړے کیږی چه په کوم کښے کور والے نه وی شوے، یا دِ بیا په هغه حالت کښے ورکړے شی چه د ښځے حامله کیدل معلوم وی ۔ چه سړے غوراُوکړی نو معلومیږی چه په طلاقوباندے په دے پابند ئ لګولو کښے دِ پرفائده دے دی ۔ د حیض په حالت کښے د طلاقونه ورکولو فائده دا ده چه دا هغه حالت وی چه په دے کښے د ښځے او د خاوند په منځ کښے د کوروالی د نه کولو په وجه یو قسم جُدائی والے وی، او په طبعی حیثیت سره هم دا خبره ثابته ده چه په دے حالت کښے د ښځے طبیعت په صحیح حالت باندے نه وی ۔ نو که چرے په دے

وخت کښے دَدواړو په منځ کښے څه جګړه اُوشی نو ښځه اوخاوند دواړه دَ هغے په ختمولو کښے دَیوحده پورے بے وسه وی، او په ځائے دَ دے چه خبره دَ جګړے نه طلاق ته اورَسی، که چرے دَ ښځے دَ حیض دَ ختمیدو پورے انتظار اُوکړے شی نو دَدے خبرې کافی امکان وُ چه دَښځے مزاج هم صحیح حالت ته راشی او دَدواړو په منځ کښے چه اللہ کومه مینه کیښودی ده هغه بیا خپل کار شروع کړی او دواړه بیا یوبل ته رانزدے کړی۔ دغه شان چه په کوم طُهر کښے کوروالے شوے وی په هغے کښے دَ طلاقونهٔ ورکولو فائِده داده چه که چرے په دغه وخت کښے پته گیډه کښے بچے شروع شی نو نهٔ ترسره خبریدے شی اونهٔ ښځه۔ نو داوجه ده چه دغه وخت دَ طلاقورکولو دَ پاره موزون نهٔ دے۔ چه دَ حَمل پته اُولږی نو سړے به هم لس ځله سوچ کوی چه دَ کوم ښځے په گیډه کښے دَ هغه بچے پالنے کیږی چه هغے له طلاق ورکړی اوکه نهٔ، او ښځه به هم دَ خپل ځان او دَ خپل بچی دَ راتلونکی ژوند خیال ساتی او دَ خاوند دَ خفګان دَ لرے کولو پوره کوشش به کوی۔ لیکن په سوچه بے فکره دَ طلاقورکولو نه روستو که پته اُولږی چه حَمل شروع شوے وُ، نو دواړه به افسوس کوی۔

داخو دے "دَ عدّت دَ پاره" دَ طلاقورکولو اولنے مطلب، چه دَدے تعلق صرف دَ هغه مَدْخُوله ښځے وادهٔ شوُو ښځُو سره دے چه هغوی ته حیض راځی اوچه دَ هغوی دَ حامله کیدو امکان وی۔ اُوس پاتے شو دَدے دویم مطلب، نو هغه دادے چه که طلاق ورکول غواړے نو دَ عدّت پورے طلاق ورکړه، یعنی په یووخت درے طلاقه مَه ورکوه چه دَ همیشه دَ پاره جُدائی راشی، بلکه یو یا دوه طلاقه ورکړه اودَ عدّت پورے انتظار کوه چه په دِے موده کښے هروخت ستا دَ پاره دَ رجوع کولو گنجائش پاتے وی۔ دَدے مطلب په لحاظ سره داحکم دَ هغه مَدْخُوله ښځُو په معامله کښے فائِده مند دے چه هغوی ته حیض راځی اودَ هغه ښځُو په معامله کښے هم فائِده مند دے چه دَ هغوی حیض راتلل بند شوی وی، یا چه دَهغوی لاحیض نهٔ وی شروع شوے، یا چه دَ طلاق ورکولو په وخت کښے دَ هغوی حامله کیدل معلوم وی۔ دَ اللہ تعالیٰ په دِے حُکم چه عمل اُوشی نو ډیرشوک به هم په طلاقورکولو افسوس نهٔ کوی، ځکه چه په دِے طریقه په طلاقورکولو سره په عدّت کښے دَ ننه رجوع هم کیدے شی، اودَ عدّت دَ تیریدو نه روستو هم دا ممکنه وی چه که ښځه خاوند بیا کورکول غواړی نو بیا دِ نکاح اُوکړی۔

دَ طَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ هم دا معنیٰ لویولویو مفسّرینو بیان کړی دِے۔ ابن عباسؓ دَدے په تفسیر کښے فرمائی چه "طلاق دِ دَ حیض په حالت کښے نهٔ ورکوی، او نه دِ په هغه طُهر کښے ورکوی چه په کوم کښے خاوند کوروالے کړے وی، بلکه دَ حیض دَ ختمیدو پورے دِ صبر اوکړی، او چه حیض ختم شی او پاک شی نو بیا دِ یو طلاق ورکړی۔ په دِے صورت کښے که هغه رجوع هم اونهٔ کړی او عدت تیرشی نو هغه به صرف په یو طلاق سره جُدا شی"۔ (ابن جریر) ۔ حضرت عبداللہ بن مسعودؓ فرمائی "دَعدّت دَ پاره طلاق دادی چه په طُهر کښے دَ کوروالی کولو نه بغیر طلاق ورکړے شی"۔ هم دا تفسیر دَ حضرت عبداللہ بن عُمر، عطاء، مجاهد، میمون بن مهران، مُقاتل بن حیّان، او ضحاک رحمهم اللہ نه روایت شوے دے (ابن کثیر) ۔ عِکرِمه دَدے مطلب بیانوی "طلاق دِ په داسے حالت کښے ورکوی چه دَ ښځے حامله کیدل معلوم وی، او په داسے حالت کښے دِ نهٔ ورکوی چه هغه ورسره کوروالے کړے وی او پته نهٔ لږی چه هغه حامله شوی ده اوکه نه" (ابن کثیر) ۔ حضرت حسن بصری او ابن سیرین

دواړه وائ " د طُهر په حالت کښے د ذکورو والی کولونه بغیر طلاق ورکړے شی ، یا د بیا په دا سے حالت کښے ورکړے شی حمل ښکاره شوے وی " (ابن جریر) ۔

دد ے آیت مطلب څخه له رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه موقع بنه واضح کړے وُو کله چه حضرت عبدالله بن عمر خپلے ښځے له د حیض په حالت کښے طلاق ورکړے وُو ۔ دد ے واقعے تفصیلات تقریباً د حدیثو په ټولو کتابونو کښے نقل شوی دی ، اوهم هغه په حقیقت کښے په دے معامله کښے د قانون ماخذ دے ۔ قیصه داده چه کله حضرت عبدالله خپلے ښځے له د حیض په حالت کښے طلاق ورکړو نو حضرت عمر لاړو او نبی ته ئے د هغے ذکر اوکړو ۔ نبی چه واوریدو نو سخت ناراضه شوا و ے فرمائیل چه " هغه ته حکم اوکړه چه رجوع اوکړی او هغه په خپل نکاح کښے اوساتی تر څو چه هغه پاکه شی ، بیا هغے ته حیض راشی او هغه حیض هم ختم شی او بیا پاکه شی ، د هغے نه روستو که هغه طلاق ورکول غواړی نو د طُهر په حالت کښے د ذکورو والی کولونه بغیر طلاق ورکړی ۔ دا هغه عدّت دے چه د دے د پاره د طلاقو ورکولو حکم الله تعالیٰ کړے دے " ۔ د یو روایت الفاظ دا دی چه " یا خو د طُهر په حالت کښے د ذکورو والی کولونه بغیر طلاق ورکړی ، یا د بیا په دا سے حالت کښے طلاق ورکړی چه د هغے حمل ښکاره شوے وی " ۔

یوځو نور احادیث هم د دے آیت په مطلب پاند رنړا اچوی کوم چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه او د لویو لویو صحابو نه نقل کړے شوی دی ۔ په نسائی کښے روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خبر اُوشو چه یوسړی خپلے ښځے له په یو وخت درے طلاقه ورکړی دی ۔ نبی چه دا واوریدل نو د غصے نه ودریدو او و ے فرمائیل " أیلعبُ بکتابِ اللهِ وَأنا بَینَ أظهُرِکُم " ؟ " آیا د الله د کتاب سره لوبے کیږی حالانکه څه ستاسو په منځ کښے موجودیم " ؟ په دے حرکت پاند د نبی د غصے دے حالت ته چه یوسړی اُوکتل نو پوس ئے تر اُوکړو چه دغه سړے وژنم نه ؟ عبدالرزاق د حضرت عُباده بن الصّامت په حقله روایت نقل کړے دے چه د هغه پلار خپلے ښځے له زر طلاقه ورکړل ۔ هغه لاړو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ئے د دے مسئلے پوس اُوکړو ۔ نبی اوفرمائیل " بانت منه بثلاث فی معصیة الله تعالیٰ ، و بقی تسع مائة وسبع و تسعون ظلماً وعُدواناً ، ان شاء الله عذّبه ، وان شاء غفرله " ۔ " د الله د نافرمانئ سره خو هغه څخه په درے طلاقو د هغه نه جُدا شوه ، اونهه سوه اوا وه نوی د ظلم او د زیاتی په طور باقی پاتے شوکه د الله خوښه شوه نو په هغے به ئے اوعذابوی اوکه ئے خوښه شوه نو معاف به ئے کړی " ۔ د حضرت عبدالله بن عمر د قیصے چه کوم تفصیل په دارقطنی او ابن ابی شَیبه کښے روایت شوے دے په هغے کښے یوه خبره داهم ده چه نبی کله حضرت عبدالله بن عمر ته حکم اُوکړو چه ښځے ته رجوع اُوکړه نو هغه ته پوس اُوکړو چه که چرے ما ورله درے طلاقه ورکړے وے نو بیا هم مارجوع کولے شوه ؟ نبی ورته په جواب کښے اُوفرمائیل ، لا ، کانت تبین منك وکانت معصیة " نه ، هغه به ستانه جُدا کیدله او دا به ګناه وه " په یو روایت کښے د نبی الفاظ دا دی چه اذا قد عصیت ربك و بانت منك امرأتك ۔ " که تا دا سے کړے وے نو د خپل رب نافرمانی به دِ کړی وه او ستا ښځه به ستانه جُدا شوی وه " ۔

د صحابہ کرامونہ چہ پہ دے بارہ کښے کومے فتوے نقل کړے شوی دی هغه هم د نبیؐ د دے حکمونو سره مطابقت لری ۔ په مؤطا کښے دی چه یوسړے راغے اوحضرت عبدالله بن مسعودؓ ته ئے اووئیل چه ما خپلے بیخے له اته طلاقه ورکړی دی ۔ ابن مسعود رضی الله عنه تر تپوس اوکړو "بیا په دے باندے تا له څه فتوی درکړے شوه"؟ هغه عرض اوکړو "ما ته اووئیلے شو چه بیخه تا نه جُدا شوه"۔ هغه اوفرمائیل : صدقوا ، هو مثل ما یقولون ، "خلقو ربښتیا اووئیل ، مسئله هم داده کومه چه هغوی بیانوی"۔ عبدالرزاق د عَلْقَمَہ نه روایت نقل کړے دے چه یوسړی ابن مسعود ته اووئیل چه ما خپلے بیخے له یوکم سل طلاقه ورکړی دی ۔ هغه اووفرمائیل ثلاث بیّنها وسائرهن عدوان ۔" درے طلاقه هغه جُدا کوی ، باقی ټول زیاتے دے"۔ وکیع بن الجرّاح په خپل سُنَن کښے د حضرت عثمانؓ او د حضرت علیؓ د دواړو هم دا مسلک نقل کړے دے ۔ حضرت عثمان له یوسړے راغے اوعرض ئے اوکړو چه ما خپلے بیخے له زر طلاقه ورکړی دی ۔ هغه اوفرمائیل بانت منك بثلاث ۔" هغه په دریو طلاقو ستانه جُدا شوه"۔ هم دغسے واقعه حضرت علی ته پیښه شوه نو هغه جواب ورکړو چه بانت منك بثلاث واقسم سائرهن علی نسائك ۔" په دریو طلاقو هغه ستانه جُدا شوه ، باقی طلاق په خپلو نورو بیخُو باندے تقسیموه"۔ ابوداؤد او ابن جریر د لږ شان لفظی فرق سره د مجاهد روایت نقل کړے دے چه هغه د ابن عباسؓ سره ناست وُو ۔ په دے کښے یوسړے راغے اوویُل چه ما خپلے بیخے له درے طلاقه ورکړی دی ۔ ابن عباسؓ چه واوریدل نو چپ پاتے شو ، ان تردے چه ما خیال اوکړو چه دے کنی د هغه بیخه هغه ته واپس کوی ۔ بیا هغه اوفرمائیل ، "په تا سو کښے یوسړے اوّل په طلاقو ورکولو کښے بے وقوفتیا اوکړی ، د هغے نه روستو راشی او وا ئی چه اے ابن عباس ، اے ابن عباس ۔ حالانکه الله تعالیٰ فرمائیلی دی چه څوک د الله نه په یَرہ کار کوی الله به د هغه د پاره د مشکلاتو نه د وتلو لار پیدا کوی ، اوتا د الله نه تقوٰی (یعنی یَرہ) اونه کړه ۔ اوس څه ستا د پاره څه لار نه وینم چا د خپل رب نافرمانی اوکړه او ستا بیخه ستانه جُدا شوه"۔ هم د مجاهد نه یو بل روایت پاتے دے او تفسیر ابن جریر کښے د لږ لفظی فرق سره نقل کړے شوے دے ، په هغے کښے دا ذکر دے چه یوسړی خپلے بیخے له سل طلاقه ورکړل ، بیا ئے د ابن عباس نه مسئله اوتپوسله ۔ هغه ورته په جواب کښے اووئیل "په درے طلاقو خو هغه ستانه جُدا شوه باقی په درے کم سلو تا د الله د آیتونونه لوبه جوړه کړه"۔ دا د مؤطاء الفاظ دی ۔ په ابن جریر کښے د ابن عباس د جواب الفاظ دادی : "تا د خپل رب نافرمانی اوکړه او ستا بیخه ستانه جُدا شوه اوتا د الله نه یَرہ اونه کړه چه هغه ستا د پاره د دے مشکل نه د وتلو لار پیدا کړے وے"۔ امام طحاوی روایت نقل کړے دے چه یوسړے ابن عباسؓ له راغے اووے ویُل چه چا ثَرہ خپلے بیخے له درے طلاقه ورکړی دی ۔ هغه جواب ورکړو اِنّ عمك عصی الله فاثم و اطاع الشیطان فلم یجعل له مخرجاً ۔" ستا ثَرہ د الله نافرمانی اوکړه اوګناه ئے اوکړه او د شیطان پیروی ئے اوکړه ۔ الله د هغه د پاره د د دے مشکل نه د وتلو د پاره څه لار نه ده پیدا کړی"۔ په ابوداؤد او مؤطاء کښے دی چه یوسړی خپلے بیخے له د خلوت نه مخکښے یعنی د کورواڼی نه مخکښے درے طلاقه ورکړل ، بیا ئے د هغے سره دوباره نکاح کول اوغوښتل او د فتوے د تپوس د پاره اووتو ۔

دَحدیث راوی محمد بن اِیاس بن بُکیر والیٔ چه څه دَهغه سره ابن عباسؓ اوابوهریرهؓ له لاړم۔ دَدواړو جواب داوُوچه انکَ ارسلت من یدکَ ما کان من فضل ۔" ستا دَپاره چه کوم ګنجائش وُ هغه تا دَخپله لاسه ختم کړو۔" زَمَخشَری په کشّاف کښے لیکلی دی چه حضرت عمرؓ له به کوم سړے داسے راتلو چه هغه به خپلے ښځے له درے طلاقه ورکړی وُو نو هغه به ئے وهلو او ښځه به ترجُدا کوله۔ سعید بن مَنصُور هم داخبره دَصحیح سند سره دَحضرت اَنَس دَروایت نه نقل کړی دِه ۔ په دِے معامله کښے دَصحابه کرامو عامه رائے، چه ابن شَیبه اوامام محمد دَابراهیم نَخَعِی رحمة الله علیه نه نقل کړی ده، داوه چه اِنّ الصّحابة رضی الله عنهم کانوا یستحبون ان یطلقها واحدة ثم یترکها حتیٰ تحیض ثلاثة حیض ۔" صحابو به داخبره خوښوله چه سړے ښځے له صرف یوطلاق ورکړی اوبیائے پریږدی اَن تردے چه درے حیضه ورته راشی"۔ داد َابن ابی شَیبه الفاظ دی۔ اودَامام محمد الفاظ دی: کانوا یستحبون الا تزیدوا فی الطلاق علی واحدة حتی تنقضی العدة ۔" دَهغوئ داطریقه خوښه وه چه دَطلاقو په معامله کښے دَیونه زیات نهٔ شئ تردے چه عدّت پوره شی"۔

دَدے احادیثو اودَ صحابودَ قولونو په مدد سره چه فقها وُ دَ قرآن مجید دَدے آیت نه کوم مطلب اخستلے دے اودَ طلاقو په حقله ئے کوم تفصیلی قانون جوړ کړے دے هغه مونږ لاندِ نقل کوُو:

(۱) دَحنفیانو په نزد َطلاقو درے قِسمونه دی ۔ احسن، حَسَن اوبدعی ۔ احسن طلاق دادے چه سړے خپلے ښځے له په داسے طُهر کښے صرف یوطلاق ورکړی چه په هغے کښے ئے کوروالے نه وی کړے اوعدّت پوره کړی ۔ حَسَن طلاق دادی چه په هر طُهر کښے یویو طلاق ورکړی ۔ په دِے طریقه په دریو طُهرونو کښے درے طلاقه ورکول هم دَسنتونه خلاف نهٔ دی، اګرچه بهتره خبره داده چه دَیو طلاق په ورکولوسره عدّت پوره کړے شی ۔ اوبدعی طلاق دادی چه سړے په یو وخت درے طلاقه ورکړی، یا په داسے طُهر کښے طلاق ورکړی چه په هغے کښے ئے کوروالے کړے وی ۔ په دِے کښے چه هرکار اوکړی هغه به ګنهګار وی ۔ داخودداسے وا ده شوی ښځے (یعنی مَدخوله ښځے) حکم دے چه دَهغے حیض راځی ۔ پاتے شوه غیرمَدخوله یعنی ناواده ښځه نوهغے له دَسنتو مطابق په طُهر اوپه حیض دواړو حالتونو کښے طلاق ورکړے کیدے شی ۔ اوکه چرے واده شوی ښځه (مَدخوله) داسے وی چه حیض راتلل ئے بند شوی وی، یا ئے لاحیض راتلل نهٔ وی شروع شوی نوهغے له دَکوروالی نه روستو هم طلاق ورکړے کیدے شی، ځکه چه دَهغے دَحامله کیدو امکان نشته اوکه ښځه حامله وی نودَکوروالی کولونه روستو هغه له هم طلاق ورکړے کیدے شی، ځکه چه دَهغے حامله کیدل دَاول نه معلوم دی ۔ لیکن دے درے قِسمه ښځُوله دَسنتو مطابق دَطلاقو ورکولو طریقه داده چه یوه یوه میاشت روستو دِ طلاق ورکړے شی، او بنه خبره داده چه صرف په یوطلاق ورکولو سره عدّت پوره کړی ۔ (هدایه، فتح القدیر، احکام القرآن للجصّاص، عمدة القاری)۔

دَامام مالک په نزد هم دَطلاقو درے قِسمونه دی ۔ سُنّی، بدعی مکروه، اوبِدعی حرام ۔ دَسنتو مطابق سُنّی طلاق دادی چه

دَکوړے مدخولے ښځے حیض راځی، هغے له دَطُهر په حالت کښے دَکورِ والی کولو نه بغیر صرف یوطلاق ورکړے شی اوعدت پوره کړے شی ۔ بِدْعی مکروه طلاق دادی چه په داسے طُهر کښے طلاق ورکړے شی چه په هغے کښے سړی کور والے کړے وی ، یا دَ کورِ والی کولو نه بغیر په یوطُهر کښے دَیو نه زیات طلاق ورکړے شی ، یا په عدّت کښے دَ ننه په جُدا جُدا طُهرونو کښے درے طلاقه ورکړے شی ، یا په یو وخت درے طلاقه ورکړے شی ۔ او بِدْعی حرام طلاق دادی چه دَ حیض په حالت کښے طلاق ورکړے شی ۔ (حاشیه الدّسُوقی علی الشرح الکبیر ۔ احکام القرآن لابن العربی)۔

دَ امام احمد بن حنبلؒ معتبر مذهب داد ے چه دَ اکثرو حنبلیانو پرِ اتفاق دے : کوم مَدْخولے ښځے ته چه حیض راځی هغے له دَ سنتو مطابق دَ طلاقو ورکولو طریقه داده چه دَطُهر په حالت کښے دَکورِ والی کولو نه بغیر ښځے له طلاق ورکړے شی او بیا پریښود ے شی تر دے چه عدّت پوره شی ۔ لیکن که چرے ښځے له په دریو طُهرونو کښے درے جُدا جُدا طلاق ورکړے شی ، یا په یوطُهر کښے درے طلاقه ورکړے شی ، یا په یو وخت دَ درے طلاقه ورکړے شی ، یادَحیض په حالت کښے طلاق ورکړے شی ، یا په داسے طُهر کښے طلاق ورکړے شی چه په هغے کښے کور والے شوے وی اودَ ښځے حامله کیدل ښکاره نه وی ، نو دا ټول بدعی اوحرام طلاق دی ۔ لیکن که چرے ښځه غیرمدخوله وی ، یاداسے مدخوله وی چه حیض راتلل ئے بند شوی وی ، یالاحیض راتلل شروع شوی نه وی ، یاحامله وی ، نو بیانه دَ وخت په لحاظ سره دَ سنتواودَ بدعت څه فرق شته اونه دَ تعداد په لحاظ سره ۔ (الإنصاف فی معرفة الراجح من الخلاف علیٰ مذهب احمد بن حنبلؒ) ۔

دَ امام شافعیؒ په نزدَ طلاقو په معامله کښے دَ سنت اودَ بدعت فرق صرف دَ وخت په لحاظ سره دے دَ تعداد په لحاظ سره نه دے ۔ یعنی دَکوم مدخولے ښځے چه حیض راځی ، هغه له دَحیض په حالت کښے طلاق ورکول ، یا چه کومه ښځه حامله کیدے شی هغے له په داسے طُهر کښے طلاق ورکول چه په هغے کښے کور والے شوے وی اودَ ښځے حامله کیدل ښکاره شوی نه وی ، دا بدعت اوحرام دی ۔ پاتے شو دَ طلاقو تعداد ، نو که په یو وخت درے طلاقه ورکړے شی ، یاکه په یوطُهر کښے ورکړے شی ، یاکه په جُدا جُدا طُهرونو کښے ورکړے شی ، بهرحال دادَ سنّت نه خلاف نه دی ۔ اوغیرمدخوله ښځه یاداسے ښځه چه حیض راتلل ئے بند شوی وی ، یائے حیض هیڅ وخت نه وی ، یا ئے حامله کیدل ښکاره شوی وی ، دَ هغے په معامله کښے دَ سنّت اودَ بدعت هیڅ فرق نشته (مُغنی المحتاج) ۔

(۲) دَ طلاقو دَ بدعی کیدو ، دَمکروهه کیدو ، دَحرامیدو ، یادَ طلاقو په ورکولو سره دَګناه کیدو مطلب دَ ځلورو واړو اماما نو په نزدَ نه دے چه یعنی طلاق نه واقع کیږی ، په ځلورو واړو مذهبونو کښے که طلاق دَ حیض په حالت کښے ورکړے شی ، یا په یو وخت درے طلاقه ورکړے شی ، یا په داسے طُهر کښے ورکړے شی چه په هغے کښے کور والے شوے وی اودَ ښځے حامله کیدل ښکاره نه وی ، یا په داسے طریقه ورکړے شی چه هغے ته یوامام بدعی طلاق ویلی وی ، بهرحال طلاق واقع کیږی اګرچه سړے پرګنهګاریږی ۔ لیکن حُینی نور مجتهد ښه په دے مسئله کښے دَ ځلورو اماما نو نه اختلاف کړے دے ۔

سعید بن المُسیّب او حُینی نور تابعین وائی چه کوم سړے دَ سنّت نه خلاف دَحیض په حالت کښے طلاق ورکړی ، یا په یو وخت درے طلاقه ورکړی دَ هغه طلاق هیڅ واقع کیږی نه ۔

هم دا رائے دَ امامیه ده - اودَ دے رائے بُنیاد داد دے چه دا سے کول چونکه منع دی اوبدعت مُحرّمه دی نو په دِے وجه دا بے اثره دی - حالانکه بَره چه کوم احادیث مونبز نقل کړی دی په هغے کښے دا بیان شوے دے چه حضرت عبدالله بن عمرؓ کله چه دَ حیض په حالت کښے طلاق ورکړل نو نبیؐ هغه ته حکم اُوکړو چه رجوع اُوکړه - که چرے دا طلاق واقع شوی نهٔ وے نو دَ رجوع دَ حکم کولو څه مطلب وُو؟ اودا خبره هم دَ ډیرو احادیثو نه ثابته ده چه نبیؐ او صحابه کرام اگرچه هغه سړی ته کنهکار ویلے دے چے هغه دَ یو نه زیات طلاق ورکړی، خودَ هغه طلاقونه ئے بے اثره نه دی ویلی -

طاؤس اوعکرمه وائی چه په یو وخت کښے له درے طلاقه ورکړے شی نو صرف یو طلاق واقع کیږی، اودا رائے امام ابن تیمیهؒ اختیار کړی ده - دَهغوئ دَ دے رائے ماخذ دا روایت دے چه ابوالصّهباء دَ ابن عباس نه پوښتنه اُوکړه " آیا تا ته معلومه نهٔ ده چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم اودَ حضرت ابوبکرؓ په زمانه کښے اودَ حضرت عمرؓ په اولنی دور کښے به درے طلاقه یو کنړلے شو"؟ هغه جواب ورکړو هو (بخاری اومُسلم) اوپه مسلم، ابوداؤد اومُسند احمد کښے دَ ابن عباس دا قول نقل کړے شوے دے چه " دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم اودَ حضرت ابوبکرؓ په زمانه کښے، اودَ حضرت عمرؓ دَ خلافت په اولنو دوو کلونو کښے به درے طلاقه یو طلاق ګڼلے شو - بیا حضرت عمرؓ اُوویل چه خلقو په یوه دا سے معامله کښے تلوار شروع کړی ده چه په هغے کښے دَ هغوئ دَ پاره په سوچ فکر سره دَ کار کولو ګنجائش ساتلے شوے وُو - اُوس وَلے مونږ ه دَ هغوئ دا فعل جاری نهٔ کړو، چنانچه هغه ئے جاری کړو"

لیکن دا رائے په ډیرو وجوهاتو سره قابل قبول نهٔ ده - اول خودَ ګڼړو روایتونو مطابق دَ ابن عباس خپله فتوٰی دَ ده ے خلاف وه لکه څنګه چه هغه روایتونه مونږ ه بَره نقل کړی دی - دویمه دا چه دا خبره دَ هغه احادیثو نه خلاف راځی کوم چه دَ نبیؐ اودَ لویو صحابو نه نقل کړے شوی دی، چه په هغے کښے کوم سړی په یو وخت درے طلاقه ورکړی دی دَ هغه په حقله دا فتوٰی ورکړے شوی ده چه دَ هغه درے واړه طلاقه واقع کیږی - دا احادیث هم مونږ ه بَره نقل کړی دی - دریمه دا چه پخپله دَ ابن عباس دَ روایت نه معلومیږی چه حضرت عمرؓ دَ صحابو په مجلس کښے دَ درے یو طلاقو دَ جاری کولو اعلان کړے وُو، لیکن په صحابو کښے چا نهٔ په هغه وخت کښے اونهٔ دَ هغے نه روسته دَ هغے نه اختلاف کړے وُو - اُوس دا خیال څوک کولے شی چه حضرت عمرؓ به کِنی دَ یو کار فیصله دَ سنتونه خلاف کوله؟ دَ ټولو صحابو به پرے خاموشی هم کوله؟ دَ دے دَ پاسه دَ رُکانه بن عبد یزید په قیصه کښے ابوداؤد، تِرمذی، ابن ماجه، امام شافعیؒ، دارمی اوحاکم دا روایت نقل کړے دے چه کله رُکانه په یو مجلس کښے خپلے ښځے له درے طلاق ورکړل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه له قسم ورکړو او تپوس ئے تر اُوکړو چه آیا ستانیت دَ یو طلاق ورکولو وُو؟ (یعنی باقی دوه طلاقه په اولنی طلاق باندِ دَ زُور ورکولو دَ پاره ستاد خپلے نه وتلی وُو، په دریو طلاقو سره دِ دَ همیشه دَ پاره دَ جُدا کولو مقصد نهٔ وُو) اوهرکله چه هغه دا قسم اُوخوړو نو نبیؐ هغه له دَ رجوع کولو حق ورکړو - دَ دے نه دَ ده معاملے اصلی حقیقت معلومیږی چه په اولنی دَور کښے به کوم قسم طلاق یو طلاق ګڼلے شو - دا وجه ده چه کوم خلق

د احادیثو تشریح کوی مغوی د ابن عباس د روایت نه دا مطلب اخستلے دے چه په اولنی دور کښے چونکه خلق د دینی معاملاتو سخت پابند وو، نوچا چه به خپله ښځه له درے طلاق ورکړی وُو او دا بیان به ئے اوکړو چه حُما اصل نیت د یو طلاق ورکولو وُو او باقی دوه طلاقه م صرف په اولنی طلاق باندِ د زور ورکولو د پاره د خُلے نه وتلے وُو، نو د مغوئ په دِے بیان باندِ به باور کیدلو۔ لیکن حضرت عمر چه کله اُوکتل چه خلق اول په تیزئ سره درے درے طلاقه ورکوی او بیا دا بهانه کوی چه حُما غرض زور نه ورکول وُو نو هغه د دے بهانے قبلولونه انکار اُوکړو۔ امام نووی او امام سُبکی دِے ته د ابن عباس د دے روایت بهترین تاویل وئیلے دے۔ آخری خبره داده چه پخپله د ابو الصَّهباء په هغه روایتونو کښے فرق دے کوم چه د ابن عباس د قول په بارہ کښے د هغه نه روایت شوی دی۔ مُسلم او ابوداؤد او نسائی د ابو الصَّهباء نه یوبل روایت دا نقل کړے دے چه د هغه په تیوس کولو سره ابن عباس اوفرمائیل "یوسړی چه به کله د کور والی نه مخکښے خپله ښځه له درے طلاقه ورکول نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے او د حضرت عمرؓ په اولنی دور کښے به هغه یو طلاق ګڼلے شوئ د غه شان یوراوی د ابن عباس نه دوه مختلف روایتونه نقل کړی دی او دا اختلاف دواړه روایتونه کمزوری کوی۔

(۳) د حیض په حالت کښے چه چا طلاق ورکړی وُو هغه ته چونکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د رجوع کولو حکم کړے وُو، په دِے وجه د فقهاؤ په منځ کښے دا خبره راپورته شوی ده چه دا حکم په کومه معنیٰ کښے دے۔ امام ابوحنیفه، امام شافعی، امام احمد، امام اوزاعی، ابن ابی لیلیٰ، اسحاق بن راهویه او ابوثور وائی چه دا سے سړی ته به د رجوع کولو حکم خو ورکولے کیږی لیکن په رجوع به نه مجبورولے کیږی (عمدة القاری)۔ په هدایه کښے د حنفیانو مذهب دا بیان شوے دے چه په دِے مسئله کښے رجوع کول نه یوازے مستحب دی بلکه واجب دی۔ په مغنی المحتاج کښے د شافعیانو مسلک دا بیان شوئ دے چه چا په حیض کښے طلاق ورکړی وی او د طلاق ئے نه وی ورکړے د هغه د پاره سنّت طریقه دا ده چه هغه رجوع اوکړی، او د هغے نه روستو چه کوم طُهر راځی په هغے کښے طلاق ورنه کړی بلکه د طُهر د تیریدو نه روستو چه کله په دویم حُل د ښځے حیض ختم شی نو پس د هغے که طلاق ورکول غواړی نو ورِ دِ کړی، د پاره د دے چه د حیض په حالت کښے دِ ورکړے شوی طلاق نه رجوع کول صرف د لوبے په طور نه وی۔ په الانصاف کښے د حنبلیانو مسلک دا بیان شوے دے چه د حیض په حالت کښے د طلاق ورکونکی سړی د پاره رُجوع کول مستحب دی۔ لیکن امام مالکؒ او د هغه ملګری وائی چه د حیض په حالت کښے طلاق ورکول حرام دے چه پوښتنه پکښے مداخلت کولے شی۔ که ښځه مطالبه کوی او که نه کوی، بهرحال د حاکم دا فرض دی چه کله د یوسړی دا کار د هغه په علم کښے راشی نو هغه دِ هغه په رُجوع کولو باندِ مجبوره کړی او د عدّت د آخری وخته پورے دِ په هغه دباؤ اچوی که هغه انکار کوی نو هغه دِ قید کړی۔ که بیا هم انکار کوی نو اوردِ وهی۔ که په دِے هم اونه منی نو حاکم دِ پخپله فیصله اوکړی چه ماسته ښځه تانه واپس کړه۔ او د حاکم دا فیصله به رُجوع وی چه د هغے نه روستو به د سړی د پاره د هغه ښځے سره کور والے کول جائز وی، خواه که نیت ئے د رُجوع وی او که نه وی، حُکمه چه د حاکم نیت د هغه د نیت په ځائے دے (حاشیه الدسوقی)۔ مالکیان دا هم وائی چه کوم سړی په رضا یا په زُور د حیض په حالت کښے د ورکړے

شوی طلاق نه رُجوع کړی وی هغه که چرې طلاق ورکول غواړی نو دَ هغه دَ پاره مستحب طریقه دا ده چه په کوم حیض کښې هغه طلاق ورکړی وی دَ هغې نه په روستنی طُهر کښې دِ هغې له طلاق نه ورکوی بلکه کله چه دوباره حیض راشی او دَ هغې نه هغه پاکه شی نو په هغه وخت کښې دِ طلاق ورکړی ـ په طلاقو سره چه کوم طُهر راځی په هغې کښې دَ طلاقونه ورکولو حکم په اصل کښې په دِے وجه شوے دے چه کوم سړی دَ حیض په حالت کښې طلاق ورکړی وی چه دَ هغه رجوع صرف زُبانی خبره نه وی بلکه هغه له پکار دی چه په طُهر کښې دَ ښځې سره کور والے اوکړی بیا چه په کوم طُهر کښې کور والے شوے وی په هغې کښې چونکه طلاق ورکول منع دی، نو په دِے وجه دَ طلاقو ورکولو صحیح وخت دَ هغې نه روستنے طُهر دے (حاشیة الدّسُوقی) ـ

(۴) دَ رجعی طلاق ورکونکی سړی دَ پاره دَ رُجوع موقع څه وخته پورے ده؟ په دِے کښې هم دَ فقهاؤ په منځ کښې اختلاف را غلے دے، اودا اختلاف په دے خبره راپیدا شوے دے چه دَ سورۀ بقرے په آیت ۲۲۸ کښې دَ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ نه مُراد درے حیضه دی او که درے طُهره؟ دَ امام شافعی او دَ امام مالکؒ په نزد دَ قُرء نه مُراد طُهر دے، اودا رائے دَ حضرت عائشےؓ، ابن عمرؓ، او زید بن ثابتؓ نه نقل شوی ده ـ دَ حنفیانو مذهب داد ے چه دَ قُرء نه مُراد حیض دے او دَ امام احمد بن حنبل معتبر مذهب هم دا دے ـ دا رائے دَ څلورو واړو خلیفه ګانو، دَ عبدالله بن مسعودؓ، عبدالله بن عباسؓ، اُبَیّ بن کعب، مُعاذ بن جَبَل، ابو الدّرداء، عباده بن صامت او ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنهم نه نقل شوی ده ـ امام محمد په موطاء کښې دَ شَعبی قول نقل کړے دے چه هغه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ دیارلسو صحابوسره مِلاوُشوے دے، او دَ هغوی هُولو رائے داوه ـ اوهم دا رائے اکثرو تابعینو اختیار کړی ده ـ

دَ دے اختلاف په بُنیاد باندِ دَ شافعیانو او مالکیانو په نزد چه ښځه په دریم حیض کښې داخله شی نو عدّت ئے ختم شی، اودَ سړی دَ رُجوع حق ختم شی ـ اوکه طلاق دَ حیض په حالت کښې ورکړے شوی وی نو دا حیض به په عدّت کښې نه شماریږی، بلکه چه ښځه په څلورم حیض کښې داخله شی نو عدّت به ختمیږی (مُغنی المحتاج ـ حاشیة الدّسُوقی). دَ حنفیانو مذهب داد ے چه که چرے په دریم حیض کښې لس وَرځے تیرے شی او وینه بنده شی نو دَ ښځې عدّت به ختم وی خواه که ښځې لمبلی وی اوکه نه وی ـ اوکه دَ لسو وَرځُونه په کمه موده کښې وینه بنده شی نو عدّت به تر هغه وخته پورے نه ختمیږی تر څوچه ښځې لمبلی نه وی، یا پرِدَیومونځ وخت نه وی تیر شوے ـ چه اُوبه نه وی نو دَ امام ابوحنیفهؒ او امام ابویوسفؒ په نزد چه څه وخت ښځه تیمم اُوکړی او مونځ اُوکړی نو په هغه وخت دَ سړی دَ رجوع حق ختمیږی، اودَ امام محمد په نزد دَ تیمم کولو سره دَ رُجوع حق ختمیږی (هدایه) ـ دَ امام احمد معتبر مذهب چه دَ اکثرو حنبلیانو په اتفاق دے، دادے چه دَ څه وخته پورے ښځې دَ دریم حیض نه لمبلی نه وی دَ هغه وخته پورے به دَ سړی دَ رُجوع حق باقی وی (الانصاف) ـ

(۵) رجوع څنګه کیږی او څنګه نه کیږی؟ په دِے مسئله کښې دَ فقهاؤ په منځ کښې اتفاق دے چه کوم سړی خپلې ښځې له رجعی طلاق ورکړی وی هغه چه دَ عدّت دَ ختمیدو نه مخکښې کله او غواړی رُجوع کولے شی، که ښځه راضی وی اوکه نه وی ـ ځکه چه دَ سورۀ بقرے په آیت ۲۲۸ کښې فرمایلے شوی دی

وَ بُعُوْلَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِیْ ذٰلِكَ، "د هغوی خاوندان په دې موده کښے د ننه د هغوئ د واپس اغستلو پوره حقدار دی" د دے نه پخپله دا معلومیږی چه د عدّت تیریدو نه مخکښے د هغوئ نکاح برقرار وی او د پریښودو نه مخکښے سړے هغوئ واپس اغستے شی - یعنی رُجوع کول څه نکاح نوی کول نه دی چه د دے د پاره د بنځے رضا ضروری وی - په دے مسئله کښے د دے حده پورے د فقهاؤ اتفاق دے، د دے نه روستو د رُجوع په طریقه کښے د فقهاؤ رائے مختلفه شوی ده -

د شافعیانو په نزد رُجوع صرف په وینا سره کیدے شی، په عمل سره نشی کیدے - که چرے سړی په خُله دا اونه وئیل چه ما رجوع کړی ده نو کورواله یا د اختلاط بل څه کارته، اګر که د رُجوع په نیت سره شوے وی، رُجوع نشی وئیلے کیدے، بلکه په دے صورت کښے د بنځے نه هر قسم فائده اغستل حرام دی اګرکه هغه بے شهوته کاروی - لیکن کوے بنځے له چه طلاق رجعی ورکړے شوی وی د هغے سره په کورواله کولو باندے حدّ نشته دے، ځکه چه د دے په حرامواله باندے عالمان متفق نه دی - البته څوک چه د دے د حرامواله عقیده لری هغه له به سزاورکړے کیږی - په دے د پاسه د شافعی مسلک ترڅنګه کومه بنځه چه په طلاقِ رجعی سره طلاقه شوی وی د هغے سره په کورواله باندے په هرحال کښے مهرِ مثل لازمیږی که د هغے نه روستو سړے په ویناسره رُجوع اُوکړی اوکه نه (مُغنی المُحتاج) -

مالکیان وائ چه رُجوع په قول او فعل دواړو سره کیدے شی - که چرے سړے د قول په رجوع کښے څرګند الفاظ استعمال کړی نوکه د هغه نیت د رُجوع وی اوکه نه وی، رُجوع به کیږی، بلکه که هغه د تورے په طور هم د رُجوع څرګند الفاظ اُووائ نو هغے ته به رُجوع وئیلے شی - لیکن که الفاظ څرګند نه وی نو هغے ته به هله رُجوع وئیلے کیږی چه هغه د رُجوع په نیت سره وئیلے شوی وی - پاتے شوه په فعل سره رُجوع نو یوکار خواه که هغه لوبے تورے کول وی یا کورواله کول وی، خو هغے ته د هغه وخته پورے رُجوع نشی وئیلے کیدے ترڅوچه هغه د رُجوع په نیت سره نه وی شوے (حاشیة الدّسُوقی - احکام القرآن لابن عربی) -

د حنفیانو او د حنبلیانو مسلک د قول په رُجوع کښے هم هغه دے کوم چه د مالکیانو دے - پاتے شوه په فعل سره رُجوع نو د مالکیانو برعکس د دے دواړو مذهبونو فتوی داده چه کومه بنځه په طلاقِ رجعی سره طلاقه شوی وی د هغے سره که خاوند په عدّت کښے د ننه کورواله اُوکړی نو دا رُجوع ده خواه که د رُجوع نیت ئے وی اوکه نه وی - البته د دواړو په مسلک کښے فرق دا دے چه د حنفیانو په نزد کګدون یعنی د اختلاط هرکار رُجوع ده خواه که هغه د کورواله نه د کومے درجے کار وی، او حنبلیان یوازے اختلاط یعنی هسے د خبرو اترو او ټوقوتهالو کولو نه رُجوع نه ګڼی (هدایه، فتح القدیر، عمدة القاری، الانصاف) -

(۶) د سنت طلاقو او د بدعی طلاقو د انجام فرق دا دے چه د یو طلاق یا د دوو طلاقو په صورت کښے که عدّت تیرهم شی خو د طلاقے شوی بنځے او د هغے د پخوانی خاوند په منځ کښے په خپله رضامندئ سره نکاح کیدے شی - لیکن که سړی درے طلاقه ورکړی وی نو نه په عدّت کښے د ننه رُجوع ممکن ده او نه د عدّت تیریدو نه روستو دوباره نکاح کیدے شی - ماسوا د دے نه چه د هغه بنځے نکاح د یوبل سړی سره اُوشی، او هغه صحیح قسم نکاح وی، دویم خاوند د هغه بنځے سره کورواله هم کړے وی، بیا خو یا هغه هغے له طلاق ورکړی یا مړ شی - د دے نه روستو که د هغه بنځه او د هغے پخوانے خاوند پخپله رضامندئ سره بیا نکاح کول اُوغواړی نو کولے شی - د احادیثو په

وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْۢ بُيُوْتِهِنَّ
وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَتِلْكَ

اودَ عدّت دَمودے ټیک ټیک شمارکوئ[۲۲]، اودَ اللہ نہ یَرِیرئ چه ستاسورب دے۔ (دَعدّت په موده کښے) مهٔ تاسوهغوئ دَ خپلوکورونونه اُوباسئ اونهٔ دِ هغوئ پخپله اُوځئ[۲۳]، ماسِوا دَدے نه چه هغوئ دَ بدئ یوکار په څرګنده اوکړئ[۲۴]۔ دا دَ اللہ

اکثرو کتابونوکښے دَصحیح سند سره داروایت را غلے دے چه دَ رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم نه ټپوس اُوشو چه یوسړی خپلے ښځے له درے طلاقه ورکړل، بیا هغه ښځے دَبل سړی سره نکاح اُوکړه، اودَ هغه بل سړی سره ئے واده هم اُوشو خوکورواله اُونهٔ شو، بیا هغه سړی هغے له طلاق ورکړل، اُوس دَ هغه ښځے دَخپل اولنی خاوند سره نکاح کیدے شی؟ نبیؐ ورله جواب ورکړو: لا، حتّٰی یذوق الاخر عسَیلتها ما ذاق الاوّل۔ "نهٔ، ترڅوچه دویم خاوند دَ هغے نه هغسے خوند نهٔ وی اخستے څنګه چه اولنی خاوند اخستے وُو"۔ پاتے شوه دَسازش نکاح، چه په هغے کښے دَاول نه دا فیصله شوی وی چه یوسړے به دَ اولنی خاوند دَ حلالولودَپاره دَ ښځے سره نکاح اُوکړی اودَ مباشرت (یعنی کورواله) کولونه روستو به هغه له طلاق ورکړی، نودَ امام ابو یوسف په نزد دا نکاح فاسده ده یعنی نهٔ کیږی، اودَ امام ابو حنیفهؒ په نزد دے سره حلاله خوشی لیکن دا کارمکروهِ تحریمی دے۔ دَ حضرت عبداللہ بن مسعودؓ روایت دے چه رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم اوفرمائیل لعن اللہ المحلل والمحلل لهٗ "اللہ لعنت کړے دے په تحلیل کونکی سړی باندِ اوچه دَچادَپاره تحلیل یعنی حلاله کیږی په هغه باندِ"۔ (ترمذی۔ نَسائی)۔ حضرت عقبه بن عامر وائی چه رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم دَ صحابونه ټپوس اُوکړو، الا اخبرکم بالتّیس المستعار؟ "درته اُوښایم چه دَ کرایئ سانډ څوک وی"؟ صحابوؓ عرض اُوکړو چه ضرور اُوښایه نبیؐ اُوفرمائیل هو المحلل، لعن اللہ المحلل والمحلل لهٗ، "هغه تحلیل کونکے دے۔ دَ خدائے لعنت دِ په تحلیل کونکی سړی باندِ هم اوپه هغه سړی باندِ هم چه دَچادَپاره تحلیل کیږی"۔ (ابن ماجه۔ دارقطنی)۔

۲۲ دا حکم سړوته هم دے او ښځوته هم دے اودَ هغوی دَ خاندان خلقوته هم دے۔ مطلب دادے چه طلاق هسے لوبه ټوقه مهٔ ګڼئ چه دَ طلاقورکولونه روستو دا یادنهٔ ساتئ چه طلاق کله ورکړے شوی دی، عدّت دَ کله نه شروع شواوکله به ختمیږی۔ طلاق یوه ډیره نازکه معامله ده چه دَدے نه دَ ښځے اودَ خاوند اودَ هغوئ دَ اولاد اودَ هغوئ دَ خاندان دَپاره ډیرے قانونی مسئلے پیدا کیږی۔ نو چه کله طلاق ورکړے شی نو دَ هغے وخت اوتاریخ یادساتئ، اوه اهم یادساتئ چه په کوم حالت کښے ښځے له طلاق ورکړے شوی دی، اوحساب لګوئ چه عدت دَ کله نه شروع شوے دے، څومره پاتے دے، اوکله به ختمیږی۔

په دِے حساب باندِ دَ دے خبر و فیصله کیږی چه خاوند ته کوم وخت پورے دَ رجوع حق حاصل دے، دَکوم وخت پورے به هغه ښځه په کورکښے ساتی، دَکوم وخت پورے به نفقه ورکوی، دَکوم وخت پورے به هغه دَ ښځے وارث وی او ښځه به دَ هغه وارثه وی، کله به ښځه دَ هغه نه جدا کیږی او هغے ته به دَ دویم نکاح کولو حق حاصلیږی - اوکه چرے دا معامله دَ مقدمے شکل اختیارکړی نو عدالت ته به هم دَ صحیح فیصلے کولو دَ پاره دَ دے خبرې ضرورت وی چه دَ طلاقو صحیح تاریخ او وخت څه دے اودَ ښځے حالت څه دے، ځکه چه دَ دِے نه بغیر عدالت دَ وادۂ شوُو (مَدْخوله) اوناواده شوُو (غیرمَدْخوله) ښځو، دَ حامله اوغیر حامله ښځو، دَ بے حیضه اودَ حیض والا ښځو، دَ رجعیّه اوغیر رجعیّه ښځو په معامله کښے دَ طلاقو دَ مسئلو صحیح فیصله نشی کولے -

۳ یعنی نهٔ دَسړی دَ پیرے غصّے نه ښځه دَکورنه اُوباسی، اونهٔ دِ ښځه دِ غصّے دوجے نه کور پریږدی - دَ عدّت پورے کورد هغے دے - هم په دغه کورکښے دواړو له اُوسیدل پکاردی، چه کله چرے دَ هغوئ په خپل منځ کښے دَرونے چوړے موقع راشی نوچه دَ هغے نه فائده واغستے شی - طلاق که چرے رجعی وی نو په څه وخت کښے دَ خاوند طبیعت دَ ښځے طرفته مائله کیدے شی، او ښځه هم دَ اختلا فاتو لرے کولو اودَ خاوند دَ رضا کولو کوشش کولے شی - چه دواړه په یوکورکښے وُسی نودَ دریو میاشتو دَ تیریدو پورے، یا دَ دریو حیضو دَ راتلو پورے، یاکه بچی ئے په کیده وی نودَ بچی دَ کیدو پورے پرځله دا موقع راتلے شی - لیکن که چرے سړے تلوار اُوکړی او ښځه دَکورنه اُوباسی، یا ښځه پوهه نشی اودَ مورکره لاړه شی او هلته کینی نوبیا دَ رُجوع امکانات پیرکم وی او عام طور مستقله جُدائی راشی - په دِے وجه فقهاؤ دَ دے پورے خبره کړی ده چه دَ رجعی طلاقو په صورت کښے کومه ښځه عدّت تیروی نوهغے له پکاردی چه د ول سینګار کوی چه خاوند ورته مائله شی (هدایه - الانصاف) -

فقهاء په دِے خبره متفق دی چه کومے ښځے له رجعی طلاق ورکړے شوی وی دَ عدّت په زمانه کښے هغے ته دَ اُوسیدو اودَ نفقے حق حاصل دے، او ښځے له دا جائز نهٔ دی چه دَ خاوند دَ اجازت نه بغیر دَکورنه لاړ شی او سړی له هم دا جائز نهٔ دی چه هغه دَکورنه اُوباسی - که سړے ئے اُوباسی نو هغه گنهګار دے اوکه ښځه پخپله اُوزی نو گنهګاره هم ده اودَ اُوسیدو او دَ نفقے دَحق نه هم محرومیږی -

۴ مختلف فقهاؤ دَ دے پیر مطلبونه بیان کړی دی - حضرت حسن بصری، عامِر شَعبی، زید بن اسلم، ضحّاک، مجاهد، عِکرمه، ابن زید، حمّاد او لیث وائی چه دَ دے نه مُراد بدکاری ده - ابن عباس وائی چه دَ دے نه مُراد بَده خُلۍ خوزَول دی، یعنی چه دَ طلاقونه روستو هم دَ ښځے طبیعت صحیح نهٔ شی، بلکه هغه دَ عدّت په زمانه کښے دَ خاوند اودَ هغه دَ خاندان والو سره جګړے کوی او بَده خُلۍ خوزَوی - قتاده وائی چه دَ دے نه مُراد نُشوز یعنی نافرمانی کول دی، یعنی ښځے له دَ هغے دَ نافرمانی په وجه طلاق ورکړے شوی وی اودَ عدّت په زمانه کښے هم دَ خاوند سره دَ سرکشی کولونه منع نهٔ شی - عبدالله بن عُمر - سُدّی - ابن السّائب اوابراهیم نَخَعی وائی چه دَ دے نه مُراد ښځه دَکورنه وتل دی، یعنی دَ هغه په رائے کښے دَ طلاقونه روستو دَ عدّت په زمانه کښے ښځه دَکورنه وتل پخپله فاحشة مبینه (څرګند بدکار) دے،

حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ۝١ فَاِذَا بَلَغْنَ

مقرر کړے شوی حدونه دی، اوځوک چه د الله د حدونو نه واوړید و تو هغه پخپله پخپل ځان ظلم اوکړو۔ تاته پته نۀ لږی، کید ے شی چه د د ے نه روسته الله (د زړه د لګیدو) څه شکل راپیدا کړی۔ بیا چه کله د هغوئ

اوداحکم چه "هغوئ دِ نۀ پخپله اوزی ماسواد دے" نه چه هغوئ د بدئ یوکار په څرګنده اوکړی" څه دارنګه کلام د ے نکه چه څوک اووائی چه "تۀ چاته کنځلے مۀ کوه ماسواد د ے نه چه تۀ بد تمیزه جوړشے" په دے څلورو قولونوکښے د اولنو دریو قولونو مطابق د "ماسواد دے"، تعلق د "هغوئ د کورونو نه مه اوباسئ" سره د ے او د د ے فقرے مطلب داد ے چه که چرے هغه بدچلنه یا بدزبانه یا نافرمانه وی نود هغے ایستل به جائز وی۔ او د ځلورم قول ترڅنګه د د ے تعلق "اوهغوئ دِ پخپله نۀ اوزی" سره د ے او مطلب داد ے چه که چرے هغوئ اووتلے نوځرګنده بدی به کوی۔

۵ داد واړه فقرے د هغه خلقو د خیال تردیدهم کوی چه هغوئ د د ے خبری قائل دی چه د حیض په حالت کښے په طلاق ورکولوسره یا په یووخت کښے په درے طلاقو ورکولوسره هډو طلاق واقع کیږی نۀ، اود هغه خلقو رائے هم غلطه ثابتوی چه د هغوئ خیال داد ے چه په یو وخت درے طلاقه ورکول د یو طلاق حکم لری۔ خبره داده چه که چرے بدعی طلاق هډو واقع کیږی نۀ یا درے طلاقه د یو رجعی طلاق په حکم کښے دی نود د ے وینا کولو آخرځه ضرورت پاتے کیږی چه څوک د الله د حدونو، یعنی د سنتو د بنودلی شوی طریقے خلاف ورزی کوی نو هغه به په خپل نفس ظلم کوی، اوتاسوته پته نۀ لږی کید ے شی چه د د ے نه روسته الله د زړۀ د لګیدو څه شکل راپیدا کړی؟ داد واړه خبری خوهله معنی لری چه د سنتو خلاف په طلاق ورکولوسره واقعی څه داسے نقصان راځی چه په هغے بیا سړے د افسوس ملګرے مروړی، اوپه یووخت په دریو طلاقو ورکولوسره د رجوع کولو امکان نۀ پاتے کیږی۔ کنځۀ نوظاهره خبره ده چه کوم طلاق واقع کیږی نۀ نود هغے په ورکولوسره د الله د حدونه تجاوز نۀ راځی چه هغے ته سړے په خپل نفس باندِ ظلم کول اووائی اوکوم طلاق چه رجعی وی نود هغے نه روسته خوخامخا د موافقت شکل پاتے کیږی، نوبیا د د ے وینا هیڅ حاجت نشته چه کید ے شی د د ے نه روسته الله د زړۀ د لګیدو څه شکل پیدا کړی۔

دلته یوځل بیا د سورۀ بقرے د آیتونو ۲۲۸ تا ۲۳۲ او د سورۀ طلاق د د ے آیت چه په خپل منځ کښے کوم تعلق د ے په هغے ځان بنه پوهه کول پکار دی۔ په سورۀ بقرۀ کښے د طلاقو نصاب درے بنودلے شوے د ے، چه په هغے کښے د د و طلاقو ورکولونه روسته د رجوع کولو حق سړی ته حاصل وی، او چه عدّت تیرشی نو بیا به بلا تحلیله د دواړه نکاح کولو حق باقی وی، او د دریم طلاق په ورکولوسره داد واړه حقونه ختمیږی۔ د سورۀ طلاق دا آیتونه په دِ ے حکم کښے د بدلون راوستلو یا د د ے د منسوخ کولو د پاره نۀ دی نازل شوی،

اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ وَّاَشْهِدُوْا ذَوَىْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ؕ

(دَعدّت) موده ختمیدو ته اُورسی نو یا خو هغوئ په ښه طریقه سره (په خپله نکاح کښے) بنده سے اُوساتئ، یا په ښه طریقه دَهغوئ نه جُداشئ[۵۶]۔ اودوه داسے گواهان جوړکړئ چه هغوئ په تاسو کښے دَعدل خاوندان وئ[۵۷]۔ او (اے گواهانو) گواهی ټیک دَالله دَپاره کوئ۔

بلکه دَدے ښود نے دَپاره نازل شوی دی چه سړو له دَطلاق ورکولو کوم اختیارات ورکړے شوی دی دَهغے دَصحیح استعمالولو طریقه څه ده چه کله چرے په هغے عمل اُوکړے شی نو کُور دَوَرانیدونه بچ کیدے شی، دَطلاق ورکولو نه روستو سړے دَافسوسونو کولونه بچ کیدے شی، دَروغے جوړے دَپیداکیدو دَزیاتونه زیاتے موقع راتلے شی، اوکه په آخر کښے جُداوالے هم راشی نو بیا هم دا آخری موقع وی چه کله چرے بیا دوباره کور کول غواړی نو دوباره دِ نکاح اُوکړی۔ لیکن که چرے یوسړے په ناپوهتیا سره دا اختیارات په غلطه استعمال کړی نو هغه پخپله په خپل ځان ظلم کوی اودَ روغے جوړے ټولے موقع ضائع کوی۔ داخبره بالکل دا سے ده لکه چه یو پلار خپل خوئ له درے سوه روپئ ورکړی اوورته اُووائی چه داستادی، تاته اختیار دے چه داپخپله رضا سره خرچ کړه۔ بیاورته نصیحت اُوکړی چه داکوم مال تاته درکړے دے دا دا سے په احتیاط سره استعمال کړه چه تهٔ تر نه صحیح فایُده واخلے، اوکه نهٔ خو ما په نصیحت دِعمل اُونهٔ کړو او دامال دِ بے موقع اُولګوُو یا دِ ټول مال په یوو خت اُولګوُو نو نقصان به اُوکړے او بیابه څه نور مال دَ بربادَولو دَپاره نهٔ درکوم۔ داټول نصیحت به ترهغے بے فایُده وی ترڅوچه پلار خوئ له ټولے پیسے په لاس کښے ورکړی نهٔ وی، یائے خوئ ہم موقع خرچ کول غواړی خوپیسے دَپلار دَ جیب نه هډوړا اُوزی نهٔ یاچه خوئے ټولے درے سوه اُولګوی خو بیاهم دَپلار دَ جیب نه صرف سل روپئ را اُوزی او دوه سوه ئے په جیب کښے پاتے وی۔ که داسے وی نو بیا آخر دَدے نصیحت څه حاجت دے؟

[۵۶] یعنی دَیو طلاق یا دَدوُو طلاقو وورکولونه روستو بیا دَعدّت دَختمیدونه مخکښے مخکښے فیصله اُوکړئ چه آیا بنځه به په خپله نکاح کښے ساتئ اوکه نهٔ۔ که ساتئ ئے نو دَژوند تیرولو په غرض ئے اُوساتئ په دے غرض ئے مهٔ ساتئ چه دَتنګولو دَپاره ورته رجوع اُوکړئ اوبیا طلاق ورکړئ اودَعدّت موده اوږده کړئ۔ اوکه پریږدئ ئے نو دَشریفانو خلقو پشان ئے رخصت کړئ، جګړے ورسره مهٔ کوئ، که مَهر یا څه حصّه ئے پاتے وی نو هغه ورله ورکړئ، او دَخپل وس مطابق څه نه څه سامان ورکړئ، لکه څنګه چه دَسورة بقرے په آیت ۲۴۱ کښے حکم شوے دے۔ (دَزیاتے تشریح دَپاره اُوګورئه تفهیم القرآن څلورم جلد، الاحزاب، حاشیة ۸۶)۔

ذٰلِكُمْ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۝ وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۭ

داخبری دی چه تاسو ته دَد ے نصیحت کیږی، (خاص طور) هرهغه چاته چه هغه په الله اوپه ورځ دَ آخرت ایمان لری۔ څوک چه دَ الله نه یَوَیږی الله به دَهغه دَ پاره دَ مشکلاتو نه دَ وتلوځه لار پیدا کړی او هغه له به دَ داسے لار ے نه رزق ورکړی چه هغه به دَ هغهٔ په ګمان کښے هم نهٔ راځی۔

ے۴ ابن عباس والیٔ چه دَد ے نه مُراد په طلاقو باندِ هم ګواه جوړول دی او په رُجوع باندِ هم (ابن جریر)۔ دَ حضرت عِمران بن حُصَین نه تپوس اُوشوچه پوسړی خپلے بیځے له طلاق ورکړل او بیا ئے ورته رُجوع اُوکړه، خونهٔ ئے په طلاقو باندِ ګواه اُونیوا اُونهٔ په رُجوع باندِ۔ هغه ورته په جواب کښے اُووئیل "تاطلاق هم دَسنتونه خلاف ورکړل اورُجوع دِ هم دَ سنتونه خلاف اُوکړه۔ په طلاق او په رُجوع دواړو باندِ ګواه اُونیسه او بیادا سے مهٔ کوه"۔ (ابوداؤد۔ ابن ماجه)۔ لیکن دَ څلورو فقهاؤ په دِ ے باندِ اتفاق دے چه په طلاقو او په رُجوع او په جُداکیدو باندِ ګواه نیول دَد ے کارونو د صحیح کیدو دَپاره شرط نهٔ دے چه که چرے ګواه اُونهٔ نیوے شو نونهٔ طلاق کیږی، نهٔ رُجوع صحیح ده اونهٔ جُدائی راځی، بلکه دا حکم دَد ے احتیاط دَپاره شوے دے چه څوک بیا روستو انکار اُونهٔ کړی، اوکه دَدواړو په منځ کښے جګړه راشی نوچه په آسانه فیصله اُوشی، اودَ شک شُبهو کولو لار بنده شی۔ دا حکم بالکل داسے دے لکه چه فرمائی وَاَشْهِدُوْٓا اِذَا تَبَايَعْتُمْ، "کله چه تاسو په خپلو کښے بیعه کوئ نو ګواه جوړ کړئ" (البقره، ۲۸۲)۔ دَد ے مطلب دا نهٔ دے چه دَ بیعے په وخت کښے ګواه نیول فرض دی اوکه ګواه پکښے اُونهٔ نیوے شی نو بیعه به صحیح نهٔ وی، بلکه په دِ ے حکم کښے یو حکمت دے چه دَ جګړی دَ مخ نیوی دَپاره پیر بهتر دے۔ دغه شان دَ طلاقو اودَ رُجوع په معامله کښے هم صحیح خبره داده چه په دِ ے کښے هر یو کار دَ ګواهانو نه بغیر هم دَ قانون په لحاظ سره صحیح کیږی، لیکن دَ احتیاط دَپاره پکار داده چه که هر کار کیږی، نو په هغه وخت کښے یا دَ هغے نه روستو په هغے باندِ دوه کسان دَ انصاف اودَ عدل خاوندان ګواهان اُونیولے شی۔

ے۵ دَد ے الفاظو نه پخپله معلومیږی چه بَره کوم حکمونه شوی دی هغه دَ نصیحت حیثیت لری نهٔ چه دَ قانون۔ چه سړے دَ سنتو خلاف طلاق ورکړی، دَ عدّت دَ وُرځو شمار محفوظ اُونهٔ ساتی، بنځه دَ مناسب عُذر نه بغیر دَ کور نه اُوباسی، دَ عدّت دَ تیریدو نه روستو که رُجوع اُوکړی نو دَ بنځے دَ ټنګولو دَپاره ئے اُوکړه۔ اوکه رخصتوی ئے نو دَ جنګ جګړی سره ئے رخصت کړی، او دَ طلاقو، اودَ رُجوع اودَ جُداکیدو په وخت کښے هم ګواه اُونهٔ نیسی، نودَد ے سره به دَ طلاقو اودَ رجوع اودَ جُدا والی په قانونی نتیجو کښے هیڅ فرق نهٔ راځی۔ البته دَ الله تعالیٰ دَ نصیحت نه خلاف کول به دَدے خبرې دلیل وی چه دَ هغه

وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ ۭ
قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ۝۳ وَالّٰۗـِٔيْ يَىِٕسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ

څوک چه په الله بروسه اوکړی نو دَ هغه دپاره هغه کافی دے۔ الله خپل کار په هرحال کښے سرته رَسَوی۔ الله دَ هرشے دپاره یوه اندازه مقرر کړی ده۔
اوستاسو په ښځو کښے چه کومے ښځے دَ حیض نه ناامیده شوی وی دَ هغوئ په معامله کښے

په زړه کښے په الله او په وُرځ دَ آخرت باندِ صحیح ایمان نشته چه دَ هغے په وجه هغهٔ هغه کار اوکړو چه هغه یو ربستینی مومن له کول نهٔ وُو پکار۔

۹ دَ کلام نه پخپله معلومیږی چه دلته دَ الله نه په یَرَه سره دَ کارکولو مطلب دَ سنتو مطابق طلاق ورکول دی، دَ عدّت حساب ټیک ټیک ساتل دی، ښځه دَ کور نه نهٔ ایستل دی، دَ عدّت دَ ختمید و په وخت کښے که ښځه ساتل وی نو دَ ښه ژوند تیرَولو په نیت سره رُجوع کول دی، اوکه جُدا کول وی نو دَ شریفانو خلقو پشان هغے له رخصت ورکول دی، او دَ طلاقو ورکولو، یا رُجوع کولو یا دَ جُدا کیدو په وخت کښے دوه عادلان کسان گواهان نیول دی۔ دَ دے په حقله دَ الله تعالیٰ حکم دے چه څوک دغه شان دَ تقوٰی نه کار واخلی دَ هغه دپاره مونږه څه مَخرَج (یعنی دَ مشکلاتو نه دَ وتلولار) اُو باسو۔ دَ دے نه پخپله دا مطلب را اُوزی چه څوک په دِے کارونو کښے دَ تقوٰی نه کار نهٔ اخلی هغه به دَ خپل ځان دپاره پخپله دا سے مشکلات پیدا کړی چه بیا به ترِ دَ وتلولار نهٔ مومی۔

چه په دِے الفاظو غور اُوکړے شی نو صفا معلومیږی چه دَ کومو خلقو په نز بدعی طلاق هډو واقع کیږی نهٔ اوچه کوم خلق په یو وخت په یوُطهر کښے دریو طلاقو ورکولو ته یو طلاق وائی، دَ هغوئ رائے صحیح نهٔ ده۔ ځکه چه که چرے بدعی طلاق نهٔ واقع کیږی نو بیا خو هډو وخه مشکلات مخے ته نهٔ راځی چه دَ هغے نه دَ وتلو دپاره دَ مَخرَج (یعنی دَ لارے) ضرورت وی۔ او که چرے په یَر په دریو طلاقو ووکیلو سره یو طلاق واقع کیږی نو بیا هم څه مشکلات نشته چه دَ هغے نه دَ وتلو دپاره کنی دَ څه لارے ضرورت راشی۔

۱ مقصد دا دے چه دَ عدّت په دوران کښے طلاقه شوی ښځه په کور کښے ساتل، دَ هغے خرچ برداشت کول، او دَ رخصتولو په وخت کښے هغے له مَهر یا څه سامان ورکول بے شکه چه په سړی باندِ مالی بوج اَچَوی۔ چه دَ کومے ښځے نه سړے خفه شوے وی او دَ هغے سره دَ تعلقاتو ختمولو اراده کړی وی، په هغے باندِ مال خرچ کول به خامخا هغه ته گران وی۔ اوکه سړے طریب وی نو دا خرچ کول به ورته نور هم ډیر گران وی۔ لیکن څوک چه دَ الله نه یَرَیږی هغه له پکار دی چه دا ټول هرڅه برداشت کړی۔

مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ ۙ وَّالّٰٓئِيْ

که چرے تاسو ته شک وی نو (تاسو ته د معلومه وی چه) دَ هغوئ عدّت درے میاشتے دے[۱۲] ۔ او هم دا حکم دَ هغوئ دے

که ستاسو زړه تنګ وی شوی به، دَ الله لاس دَ رزق ورکولو دَ پاره تنګ نه دے ۔ دَ الله دَ حکم مطابق که مومال خرچ کړو نو هغه به دَ دا سے لارونه تاسوله رزق درکړی چه دَ هغے نه به دَ رزق ملاویدو ګمان هم ستاسونه راځی ۔

[۱۱] یعنی میځ دا سے طاقت نشته چه هغه دَ الله حکم دَ جاری کیدو نه منع کړی ۔

[۱۲] دا دَ هغو ښځو حکم دے چه دَ هغوئ حیض راتلل بالکل بند شوی وی او دَ ډیر عُمر دَ وجے نه هغوئ دَ نا اُمیدئ په عُمر کښے داخلے شوی وی ۔ دَ هغوئ عدّت به دَ هغه ورځے نه شمارېږی چه دَ کومے ورځے نه هغوئ له طلاق ورکړے شوی وی ۔ او دَ درے میاشتو نه مُراد درے قمری یعنی دَ سپوږمئ میاشتے دی ۔ که دَ سپوږمئ دَ میاشتے په شروع کښے طلاق ورکړے شوی وی نو په اتفاق سره به دَ میاشتے دَ لیدو په لحاظ سره عدّت شمارېږی، اوکه چرے دَ میاشتے په منځ کښے طلاق ورکړے شوی وی نو دَ امام ابو حنیفه رح په ټن به میاشت دیرش ورځے او دغسے به درے میاشتے پوره کوی (بدائع الصنائع) ۔

پاتے شوے هغه ښځے چه دَ هغوئ حیض بے قاعدے وی، نو دَ هغوئ په باره کښے دَ فقهاؤ په منځ کښے اختلاف دے ۔

حضرت سعید بن المُسَیَّب وائی چه حضرت عُمر رض فرمائیلی دی چه کومے ښځے له طلاق ورکړے شوی وی او بیا دَ یو دوه حُلو حیض راتلونه روستو دَ هغے حیض بند شوے وی، نو هغه دِ نهه میاشتے انتظار کوی ۔ که حَمل ښکاره شی خو ټیک ده، کنئ نو دَ نهو میاشتو تیریدونه روستو دِ هغه درے میاشتے زیات عدّت تیرکړی پس دَ هغے به هغه بل سړی له په نکاح حلاله وی ۔

ابن عباس، قَتَادہ، اوعِکرمه وائی چه دَ کومے ښځے ټول کال حیض نه وی راغلے دَ هغے عدّت درے میاشتے دے ۔

طاؤس وائی چه دَ کومے ښځے په کال کښے یو حیض راشی دَ هغے عدّت درے حیضه دے ۔ هم دا رائے دَ حضرت عثمان رض، دَ حضرت علی رض او دَ حضرت زید بن ثابت نه روایت کړے شوی ده ۔

دَ امام مالک روایت دے چه حَبّان نومے یو سړے وُو، هغه خپلے ښځے له په داسے زمانه کښے طلاق ورکړل چه هغے پخی له دَ ټی پئ ورکول او په هغے باندے یو کال تیر شو خو دَ هغے حیض را نغے ۔ بیا هغه سړے مړشو ۔ دغے طلاقے شوی ښځے دَ میراث دعوٰی اُوکړه ۔ حضرت عثمان رض ته مقدمه پیش شوه ۔ هغه دَ حضرت علی رض او دَ حضرت زید بن ثابت نه مشوره اُوغوښتله ۔ دَ دواړو په مشوره سره حضرت عثمان رض فیصله اُوکړه چه دَ ښځے میراث کیږی ۔ دلیل داؤ وچه دا نه هغه ښځه ده چه دَ حیض نه مایوسه شوی وی او نه هغه

لَمْ يَحِضْنَ ۚ وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ

چه حیض ئے لا را غلے نه وی[۱۳]۔ اودَ حامله ښځودَ عدّت حد دا دے چه دَ هغوئ ښځے اوشی۔

جینئ ده چه حیض ئے لا را غلے نه وی، نوهغه دَ خپل خاوند دَ مرګه پورے په خپل هغه حیض باندِ وه کوم چه هغه اوّل را غلے وُو اودَ هغے عدّت پاتے وُو۔

حنفیان والئ چه دَ کومے ښځے حیض بند شوے وی، خودَ حیض بند یدل ئے دَ نا اُمیدئ دَ وجے نه نه وی چه کِنی عُمر ئے دا سے حد ته رسید لے دے چه بیا به ئے حیض جاری نه شی، نودَ هغے عدّت یا خو به دَ حیض نه وی که چرے هغه بیا جاری شو، یا به بیا دَ هغه عُمر په لحاظ سره وی چه په کوم کِنے دَ ښځو حیض بند یږی اوهغه عُمر ته دَ رسیدو نه روستو به هغه درے میاشتے عدّت تیرَوی اودَ نکاح نه به آزاده وی۔ داقول دَ امام شافعیؒ، امام ثوری اودَ امام لیث دے۔ اوهم دا مذهب دَ حضرت علیؓ حضرت عثمانؓ اودَ حضرت زید بن ثابتؓ دے۔

امام مالک دَ حضرت عُمراودَ حضرت عبدالله بن عباس قول اختیارکړے دے او هغه دا دے چه ښځه به اوّل نهه میاشتے تیرَوی۔ که چرے په دے دوران کِنے حیض جاری نه شو نوبیا به هغه درے میاشتے دَ هغه ښځو پشان عدّت تیرَوی چه هغوی دَ حیض نه نا اُمیده شوی وی۔ ابن القاسم دَ امام مالک دَ مسلک دا وضاحت کړے دے چه نهه میاشتے به دَ هغه ورځے نه شمارِ یږی کله چه په آخرئ وُرځ دَ هغے حیض ختم شوے وُو نه دَ هغه ورځے نه کله چه هغے له طلاق ورکړے شوی وُو۔ (دا ټول تفصیلات دَ احکام القرآن للجصّاص او بدائع الصنائع للکاسانی نه اخستے شوے دے)۔

دَ امام احمد بن حنبل مذهب دا دے چه که چرے یوه ښځه، چه دَ هغے عدّت دَ حیض په اِعتبار سره شروع شوے وُو، دَ عدّت په دوران کِنے دَ حیض راتلونه نا اُمیده شی نوهغه به دَ حیض والو ښځو په ځائے دَ نا اُمیدو ښځو عدّت تیرَوی۔ اوکه چرے دَ حیض راتلل بند شی اوپته نه لږی چه په څه وجه بند شوے دے نواوّل به دَ حمل په شک کِنے نهه میاشتے تیرَوی او بیا به درے میاشتے دَ عدّت پوره کوی۔ اوکه چرے دا معلومه وی چه حیض په دے وجه بند شوے دے، مثلاً څه بیماری وی، یا یې له پَئ ورکوی، یا دا سے بل څه سبب وی، نوهغه به دَ هغه وخته پورے په عدّت کِنے وی دَ څو پورے چه یا خو حیض شروع شوے نه وی اوعدّت دَ حیض په لحاظ سره شمارشی، یا بیا هغه نا اُمیده شی اودَ نا اُمیده ښځو پشان عدّت تیرکړی (الانصاف)۔

[۱۳] حیض که دَ کم عُمرد وجے نه نه وی راغلے، یا په دے وجه چه څینو ښځو ته په روستو حیض شروع کیږی، اوکله نا کله دا سے هم کیږی چه یوه ښځه ته ټول عُمر حیض نه راځی، په دے ټولو صورتونو کِنے دَدا سے ښځے عدّت هم هغه دے کوم چه دَ حیض نه نا اُمیدے ښځے (اَیِسَة) عدّت دے، یعنی دَ طلاق دَ وخت نه درے میاشتے۔

دلته دا خبره په خیال کِنے ساتل پکار دی چه دَ قرآن مجید دَ بیان مطابق دَ عدّت خبره دَ هغه ښځے په معامله کِنے پیدا کیږی چه دَ هغے سره خاوند کوروالے کړے وی، ځکه چه دَ کوروالی نه

مخکښے په طلاق ورکولو سره هډو عدّت نشته (الاحزاب ،۴۹) ۔ نوډ دا سے چینکو عدّت بیا نۀ ول چه د هغوئ حیض نۀ وی شروع شوے ، ښکاره په دې خبره دلالت کوی چه په دې عمر کښے نه صرف د جینئ نکاح کول جائز دی بلکه د خاوند ورسره کور والے کول هم جائز دی ۔ اوس دا ظاهره خبره د وچه کوم څیز ته قرآن جائز وئیلی وی هغه ته ناجائز وئیل د مسلمان حق نۀ دے ۔

کومے جینئ ته چه په دا سے حالت کښے طلاق ورکړے شوی وی چه د هغې حیض لا نۀ وی شروع شوے او بیا ورته د عدّت په دوران کښے حیض راشی ، نو هغه به بیا د هغه حیض نه عدّت شروع کوی او د هغې عدّت به د حیضدار و ښځو پشان وی ۔

۱۴ په دې خبره د ټولو عالمانو اجماع ده چه کومه ښځه حامله وی یعنی بچے ئے په ګیډه وی او طلاق ورکړے شی نو د هغې عدّت د بچی د پیدا کیدو پورے دے ۔ لیکن په دې خبره کښے اختلاف راغلے دے چه آیا هم دا حکم د هغې ښځې دے چه د هغې خاوند د حمل په دوران کښے وفات شوے وی ؟ دا اختلاف په دې وجه راغلے دے چه د سورۀ بقرې په آیت ۲۳۴ کښے د هغه ښځې عدّت څلور میاشتې اولس ورځے بیان شوے دے چه ورکړے شوے خاوندان هر شی ، او ملته دا دے خبری هیڅ وضاحت نشته چه دا حکم آیا د ټولو کونډو ښځو پاره عام دے یا د هغه ښځو د پاره خاص دے چه هغوئ حامله نه وی ۔

حضرت علیؓ او حضرت عبدالله بن عباسؓ د دے دواړو آیتونو نه دا مسئله را اوباسی چه د حامله مطلقې ښځې عدّت خو د بچی د پیدا کیدو پورے دے ، لیکن د کونډے حملدارے ښځې عدّت آخر الاجلین دے ، یعنی د مطلقې د عدّت نه او د حامله د عدّت نه چه کوم زیات اوږد وی هم هغه د هغې عدّت دے ۔ مثلاً که د هغې بچے د څلورو میاشتو اولسو ورځو نه مخکښے پیدا شی نو هغه به د څلورو میاشتو اولسو ورځو پورے عدّت تیرے وی ۔ او که د هغې بچے د دغه وخته پورے پیدا نۀ شی نو بیا به د هغې عدّت د هغه وخته پورے وی چه کله بچے پیدا شی ۔ هم دا مذهب د امامیه دے ۔

حضرت عبدالله بن مسعودؓ وائی چه د سورۀ طلاق دا آیت د سورۀ بقرې د آیت نه روستو نازل شوے دے ، په دې وجه روستنی حکم د اولنی آیت حکم د غیر حامله کونډے د پاره خاص کړے دے او د هغے حامله عدّت ئے د بچی د پیدا کیدو پورے مقرر کړے دے ، خواه که هغه مطلقه وی او که کونډه وی ۔ د دے مسلک ترجمه د ښځې ده چه که د خاوند د مرګ نه فوراً روستو اوشی او که د څلورو میاشتو اولسو ورځو نه زیات وخت واوړی خو چه بچے پیدا شی نو د ښځې عدّت به ختم وی ۔ د دے مسلک تائید د حضرت اُبیّ بن کعب دا روایت کوی چه هغه فرمائی چه کله د سورۀ طلاق دا آیت نازل شو نو ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه چه آیا دا د مطلقې او کونډے دواړو د پاره دے ؟ نبیؐ اوفرمائیل چه هو ۔ په بل روایت کښے نبیؐ زیات وضاحت اوکړو اجل کل حامل ان تضع ما فی بطنها ، " د هرے حاملے ښځې عدّت د هغې د بچی د پیدا کیدو پورے دے " (ابن جریر ۔ ابن ابی حاتم ۔ ابن مردویه چه اګرچه د دے په سند کښے خبری کیدے شی ، لیکن دا چونکه د کنز و سند و نورو نقل شوے دے نو په دے وجه سره یو ځای وی چه اوس چه د دے اصل ضرور ثابته) ۔ د دے نه هم زیات مضبوط تائید د سُبَیعَۀ اَسلَمِیَه واقعه ده چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم

په مبارکه زمانه کښے شوی وه ۔ هغه چه کُونډه شوه نو په کیده ئے بچے وُواو د خاوند د وفات نه یو څو ورځے روستو (په حُینو روایتونو کښے شل ۲۰ ورځے رو ستو، په حُینو کښے د ریشت ۲۳ ورځے روستو، په حُینو کښے پنځیشت ۲۵ ورځے روستو، په حُینو کښے څلویښت ۴۰ ورځے او پنځه دیرش ۳۵ ورځے بیان شوی دی) د هغے بچے اُوشو ۔ د نبیؐ نه د هغے په حقله تپوس اُوشو نو نبیؐ هغے له د نکاح اِجازت ورکړو ۔ دا واقعه بخاری او مُسلم په کنړو طریقوسره د حضرت اُمِّ سلمےٰ نه روایت کړی ده ۔ دا واقعه بُخاری، مُسلم، امام احمد، ابو داؤد، نَسائی او ابن ماجه د مختلفو سندونوسره د حضرت مِسوَر بن مَخرَمه نه هم روایت کړی ده ۔ مُسلم د سُبَیعه اسلمیه دا بیان نقل کړے دے چه هُغه د حضرت سعد بن خَوله ښځه وُوم ۔ د حجة الوداع په زمانه کښے هُغا خاوند مړ شو او هُغا بچے په کیده وُو یعنی هُغه حامله وُوم ۔ د خاوند د مرګ نه یو څو ورځے روستو هُغا بچے اُوشو ۔ یو تن اُوویل چه تهٔ د څلورومیاشتو او لسو ورځُو نه مخکښے نکاح نهٔ شے کولے ۔ هُغه لاړم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ړم تپوس اُوکړو نو هغه حکم اُوکړو چه تهٔ د بچی د پیدا کیدو سره حلاله شوی ئے ۔ اُوس که غواړے نو دوېم نکاح کولے شے ۔ دا روایت بُخاری هم مُختصر شان نقل کړے دے ۔

د ګنړو صحابونه هم دا مسلک نقل کړے شوے دے ۔ امام مالک، امام شافعی، عبد الرزاق، ابن ابی شَیبَه او ابن المُنذِر روایت نقل کړے دے چه د حضرت عبد الله بن عُمر نه د حاملے کُونډے مسئله اُوتپوسلے شوه نو هغه اُوویل چه د هغے عدّت د بچی د پیدا کیدو پورے دے ۔ په دے باندِ د انصارو یو تن خبره اُوکړه چه حضرت عُمر خو د دے پورے وئیلی وُو چه که چرے خاوند لا ښخ شوے هم نهٔ وی بلکه په کور کښے مړ په کټ کښے پروت وی او د هغه د بچے بچے اُوشو نو هغه به د دوېم نکاح د پاره حلاله وی ۔ هم دا رائے د حضرت ابو هریرهؓ، حضرت ابو مسعودؓ بدری او حضرت عائشےؓ ده، او هم دا رائے څلورو واړو اماما نو او نورو لوی فقهاؤ اختیار کړی ده ۔ شافعیان وائی چه که چرے د حاملے په کیده کښے د یو نه زیات بچی وُو نو د آخری بچی د پیدا کیدو سره به عدّت ختم وی ۔ که بچے مړ پیدا شوے وی خو د هغه د کیدو سره به عدّت ختمیږی ۔ د اِسقاط حَمل یعنی د زیان په صُورت کښے که چرے دایۍ نے د خپلے پوهے ترڅنګه دا اُووائی چه دا هسے د وینے ټوټه نهٔ وه بلکه په دے کښے د انسان شکل موندے کیدو، یا دا رَسُولیٔ نهٔ وه بلکه د انسان اصل وُو نو د هغے خبره به قبوله وی او عدّت به ختمیږی (مُغنی المحتاج) ۔ د حنبلیانو او حنفیانو مسلک هم دے ته نزدے نزدے دے ۔ لیکن د زیان په معامله کښے د هغوی مذهب داد ے چه تر څو پورے انسانی شکل په ظاهره نهٔ بنکاریږی نو تر هغے به تش د دایۍ نو په خبرو باندِ باور نهٔ کیږی او په هغے سره به عدّت نهٔ ختمیږی (بدائع الصنائع ۔ الانصاف) ۔ لیکن په موجوده زمانه کښے د طِبّی تحقیقاتو په ذریعه دا معلومول څه ګران نهٔ دی چه د زیان شوے څیز واقعی انسان وُو یا هسے رَسُولیٔ یا د وینے ټوټه وه، نو اُوس چه په کوم ځائے کښے د دا کټرانو رائے اغستل ممکن وی هلته دا فیصله په آسانه کیدے شی چه کوم څیز ته زیان ویلے شی آیا هغه واقعی زیان وُو او که نهٔ او په هغے سره عدّت ختم شو او که نهٔ ۔ البته چه په کوم ځائے کښے دا سے طِبّی تحقیق ممکن نهٔ وی هلته د حنبلیانو او د حنفیانو په مسلک کښے زیات احتیاط شوے دے او په ناپوهه دایۍ نو باندِ اعتماد کول مناسب نهٔ دی ۔

وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ۝۴ ذٰلِكَ اَمْرُ
اللّٰهِ اَنْزَلَهٗٓ اِلَيْكُمْ ۭ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ
وَيُعْظِمْ لَهٗٓ اَجْرًا ۝۵ اَسْكِنُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ
مِّنْ وُّجْدِكُمْ وَلَا تُضَاۗرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا عَلَيْهِنَّ ۭ

څوک چه د الله نه یرېږي الله د هغه په کار کښے آسانتیا پیدا کوی ۔ دا د الله حکم دے چه تاسوته ئے نازل کړے دے ۔ څوک چه د الله نه یرہ اوکړی الله به د هغه ګناهونه د هغه نه اوریږوی او لوئ اجر[۱۵] به ورله ورکړی ۔

طلاق شوے ښځے (د عدّت په زمانه کښے) په هغه ځائے کښے ساتئ چه په کوم ځائے کښے تاسو اوسیږئ ستاسو د خپل وس مطابق هرځنګه ځائے چه وی ۔ او د تنګولو د پاره هغوئ له تکلیف[۱۶] مه ورکوی ۔

[۱۵] دا اګرچه یو عام نصیحت دے چه د انسان د ژوند د ټولو حالاتو سره لږی ، لیکن دلته د دے مقصد مسلمانانو له خبردارے ورکول دی چه ښه کوم حکمونه بیان کړے شوی دی ، په هغے سره چه هرځومره ذمه واری په تاسو راځئ خود خدائے نه اوویږئ او په هغے عمل اوکړئ الله به ستاسو په کار کښے آسانتیا پیدا کوی ، ستاسو ګناهونه به معاف کوی او تاسو له به لوئ اجر درکوی ۔ ظاهره خبره ده چه د کومو طلاقونو ښځو عدّت درے میاشتے مقرر کړے شوے دے د هغوئ د عدّت زمانه به د هغو ښځو په نسبت زیاته اوږده وی چه د کومو عدّت درے حیضه مقرر کړے شوے دے ۔ او د حامله ښځے د عدّت زمانه خو د دے نه هم یو څو میاشتے زیاته کیدے شی ۔ په دے ټوله زمانه کښے د د ښځے استوګنه او د هغے د خرڅ خوراک ذمه واری په سر اغستل خلقو ته ګرانه پریوزی ، او خاص طور په هغه صورت کښے چه سړی د هغے د پریښودلو اراده کړی وی ۔ لیکن کوم بار چه د الله د یرے د وجے نه د الله د حکم په عمل کښے اوچت کړے شی د هغے په حقله د الله وعده ده چه دغه بار به الله په خپل فضل سره سپک کړی او د هغے به دومره لویه بدله ورکړی چه د د نیا د دے لږ ښ بوج په نسبت به ډیر زیات وی ۔

[۱۶] په دے خبره د ټولو فقهاؤ اتفاق دے که ښځے له رجعی طلاق ورکړے شوی وی نو په خاوند د هغے استوګنه او د هغے د خرچ خوراک ذمه واری راځی ۔ او په دے خبره هم اتفاق دے چه که چرے ښځه حامله وی نو که رجعی طلاق ورکړے شوی وی او که بالکل د جدا کیدو طلاق

ورکړے شوی وی، په هرحال کښے به د ډیرې د پیدا کیدو پور ے د هغې د استوګنې او د هغې د خرچ خوراک ذمه وار خاوند وی ۔ د دے نه روستو اختلاف په دے خبره کښے راغلے دے چه آیا غیر حامله طلاقه شوی مبتوته (یعنی چه قطعی طور د جدا کولو طلاق ورکړے شوی وی) د استوګنې او د خرچ خوراک دوار و حقداره ده؟ که صرف د استوګنې حق لری؟ که په دواړو کښے د یو هم حقداره نه ده؟

یوه ډله وائی چه هغه د استوګنې او د خرچ خوراک د دواړو حقداره ده ۔ دا رائے د حضرت عمرؓ، حضرت عبدالله بن مسعود، حضرت علی بن حسین (امام زین العابدین) د قاضی شریح او د ابراهیم نخعی ده ۔ هم دا رائے حنفیانو اختیار کړی ده، او د امام سفیان ثوری او د حسن بن صالح هم دا مذهب دے ۔ د دے تائید د دارقطنی د هغه حدیث نه کیږی چه په هغے کښے حضرت جابر بن عبدالله وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی المطلقة ثلاثا لها السکنیٰ والنفقة "کوم ښځے له چه درے طلاقه ورکړے شوی وی، د عدت په زمانه کښے د هغې د استوګنې او د خرچ خوراک حق دے" د دے زیات تائید د هغه روایتونو نه کیږی چه په هغے کښے ویلے شوی دی چه د فاطمے بنت قیس حدیث حضرت عمر په دے وینا سره رد کړے و وچه موښه د یوه ښځے په وینا باندے د خپل رب کتاب او د خپل نبیؐ سنت نه شو پریښود ے ۔ د دے نه معلومیږی چه د حضرت عمر په علم کښے به خامخا د رسول الله صلی الله علیه وسلم داسنت وی چه داسے ښځه د خرچ خوراک او د استوګنې حق لری ۔ بلکه د ابراهیم نخعی په یوروایت کښے خود ا څرګند بیان دے ۔ چه حضرت عمر د فاطمے بنت قیس حدیث په دے وینا سره رد کړے و وچه، سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول لها السکنیٰ والنفقة "ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلی دی چه د داسے ښځے د استوګنې حق هم دے او د خرچ خوراک هم ۔ امام ابوبکر جصاص په احکام القرآن کښے په دے مسئله باندے تفصیلی بحث کړے دے او د دے مسلک په حق کښے ئے اولنے دلیل داور کړے دے چه الله تعالیٰ مطلقاً فرمائیلی دی فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ "هغوئی له د هغوئی د عدت د پاره طلاق ورکړئ" د الله تعالیٰ په دے حکم کښے هغه سړے هم راځی چه ښځے ئے دوه طلاقه ورکړی وی او په رجوع کړی وی او اوس ورته صرف د یو طلاق ورکولو حق پاتے وی ۔ دوهم دلیل د هغه حدیث دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کله د طلاق ورکولو طریقه اوښودله چه "سړے خو د یا په داسے طهر کښے طلاق ورکړی چه په هغے کښے کور والے نه وی شوے یا د په داسے حالت کښے طلاق ورکړی چه د ښځے حامله کیدل ښکاره شوی وی" نو په دے کښے نبیؐ اولنی، د دوهم، یا د دریم طلاق په منځ کښے څه فرق نه دے کړے ۔ نو د الله تعالیٰ د حکم چه "هغوی په داسے حالت کښے سائئ په کوم حالت کښے چه تاسو لوئی" د دا په د هر قسم طلاقونو شامل دے ۔ دریم دلیل هغه حدیث دے چه حامله طلاقه ښځه، خواه که رجعی طلاق ورکړے شوی وی او که د جدا والی، د هغے استوګنه او د هغے خرچ خوراک په خاوند باندے واجب دے ۔ او کومه ښځه چه غیر حامله وی او رجعی طلاق ورکړے شوی وی د هغے د پاره هم دا دواړه حقونه واجب دی ۔ د دے نه معلومه شوه چه استوګنه او نفقه د حمل په وجه واجب نه ده بلکه په دے وجه واجب ده چه دا دواړه قسمه ښځے د شریعت په لحاظ سره د خاوند په کور کښے په ویښ باندے مجبوره دی ۔ اوس که چرے د احکم د هغه غیر حامله په باره کښے هم وی چه هغه مبتوته وی یعنی هغے له د جدا والی طلاق ورکړے شوی وی نو بیا د هغے د استوګنے او د نفقے ذمه هم په سړی ده ۔

دویمه ډله وائی چه کومے ښځے له دَ جُدا والی طلاق ورکړے شوی وی (یعنی مَبتوته طلاقه ښځه وی) نودَ هغے دَ استوګنے حق خوشته لیکن دَ نفقے حق ئے نشته ـ دا مسلک دَ سعید بن المُسَیّب، سلیمان بن یَسار، عطاء، شَعبی، اوزاعی، لیث اودَ ابو عبید (رحمهم الله) دے، اوامام شافعی اوامام مالک هم دا مسلک اختیارکړے دے، لیکن په مُغنی المحتاج کښے دَ امام شافعی مسلک دَ دے نه مختلف بیان شوے دے لکه څنګه چه وړاندے راروان دے ـ

دریمه ډله وائی چه کومے ښځے له دَ جُدا والی طلاق ورکړے شوی وی دَ هغے نه دَ استوګنے حق شته اونه دَ نفقے ـ دا مسلک دَ حَسن بصری، حمّاد، ابن ابی لیلیٰ، عَمرو بن دینار، طاؤس، اسحاق بن راهویه، اودَ ابو ثور دے ـ ابن جریر دَ حضرت ابن عباس هم دا مسلک اختیارکړے دے ـ امام احمد بن حنبل اوامامیّه هم دا مسلک اختیارکړے دے ـ اوپه مُغنی المحتاج کښے دَ شافعیانو مسلک هم دا بیان شوے دے چه: تجب سکنیٰ لمعتدةِ طلاقٍ حائلٍ او حاملٍ و لا بائنٍ ..... والحائل البائن لا نفقة لها ولا کسوة "دَ طلاقو په وجه چه کومه ښځه عدّت تیرَوی دَهغے دَپارهٔ دَ استوګنے حق واجب دے، خواه که هغه حامله وی اوکه نه وی، لیکن دَ بائنے ښځے دَپاره یعنی کومے ښځے له چه دَ جُدا والی طلاق ورکړے شوی وی دَ هغے دَپاره واجب نه دے ..... اوکومه ښځه چه حامله نه وی او دَ جُدا والی طلاق ورکړے شوی وی دَ هغے دَپاره نه نفقه شته اونه کپړا" دَ دے مسلک په دلیل کښے یوخو دَ قرآن مجید دا آیت دے چه: لَا تَدْرِیْ لَعَلَّ اللّٰهَ یُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا، تاته پته نه لږی، شاید چه دَ دے نه روستو الله دَ زړه دَ لږید وڅه لاړ پیدا کړی" دَ دے نه هغوی دا مطلب راأوباسی چه دا خبره دَ هغه ښځے په حق کښے صحیح کیدے شی کومے له چه رَجعی طلاق ورکړے شوی وی، اوکومے ښځے له چه دَ جُدا والی طلاق ورکړے شوی وی دَ هغے په حق کښے صحیح کیدے نشی ـ نودَ طلاقے شوی ښځے په کورکښے دَ ساتلو حکم هم دَ رجعیّے ښځے دَپاره خاص دے ـ دویم دلیل دَ فاطمے بنت قیس حدیث دے چه هغه دَ حدیثو په کتابونو کښے دَ کنږو صحیح سندونو سره روایت شوے دے ـ

دا فاطمهٔ بنتِ قیس الفِهْرِیّه په اولنو مُهاجرو ښځو کښے وه، ډیره عقلمنه به کنړله شوه، اودَ حضرت عمرؓ دَ شهادت په موقع دَ شوریٰ والو غوندے هم دَ دے په ځائے کښے شوی وه ـ دا اول دَ ابو عَمرو بن حَفص بن المُغیرة المَخزومی په نکاح کښے وه، بیا خاوند په دریو طلاقو سره جُدا کړله، اوروستو بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ هغے نکاح دَ حضرت اسامه بن زید سره اوکړه ـ دَ دے قیصه داده چه دَ دے خاوند ابو عَمرو اوّل دے له دوه طلاقه ورکړی وُو ـ بیا چه کله دَ حضرت علیؓ سره یمن ته اُولیږلے شو نو دریم طلاق ئے ورته دَ هغه ځائے نه را اُولیږو ـ په خپلو روایتونو کښے دا دی چه ابو عَمرو خپلو رشته دارانو ته خبر اولیږلے وُو چه دَ عدّت په زمانه کښے هغه په کور کښے اُوساتی اودَ هغے خرچ برداشت کړی ـ اوپه خپلو کښے دا دی چه هغے په خپله دَ نفقے اودَ استوګنے دَ حق مطالبه کړی وه ـ بهرحال هرڅه چه وُو، دَ خاوند رشته دارانو دَ هغے دَ حق منلونه انکار اوکړو ـ نودا نبی صلی الله علیه وسلم له لاړه اودا دعوی ئے اوکړه، اونبیؐ فیصله اُوکړه چه نه ستا دَ پاره نفقه شته اونه استوګنه ـ په یو روایت کښے دی چه نبیؐ اوفرمایئل انّما النفقه والسکنیٰ للمرأة علیٰ زوجها ما کانت لهٗ علیها رجعة، فإذا لم یکن له علیها رجعة فلا نفقه ولا سکنیٰ" دَ ښځے نفقه او استوګنه خوپه خاوند باندے هله واجب ده چه دَ خاوند هغه ته دَ رُجوع حق وی ـ لیکن هرکله چه دَ رُجوع حق نهٔ وی نو نهٔ نفقه شته

او نه ٔ استوګنه" (مسند احمد) ۔ طبرانی او نسائی هم تقریباً دا روایت نقل کړے دے اود هغے آخری الفاظ دادی، فاذا کانت لا تحل له حتی تنکح زوجا غیره فلا نفقة ولا سکنی ،" لیکن هرکله چه هغه د هغه دپاره حلاله نه وی ترڅو چه ئے د بل سړی سره نکاح نه وی کړی نو بیا د هغے دپاره نه ٔ نفقه شته او نه ٔ استوګنه"۔ د دے حکم بیانولو نه روستو نبی هغے ته اوّل د اُمّ مشریک په کور کښے د عدّت تیرولو حکم اوکړو او بیا روستو ئے اوفرمایل چه ته اُمّ مکتوم کره اوسه ۔

لیکن دا حدیث چه کوم خلق قبول کړے نه ٔ د هغوی دلیلونه دادی ؛

(۱) داچه هغے ته د خاوند د خپلوانو د کور پریښودو حکم په دے وجه شوے وو چه هغه د خُلے نه پیره تیزه وه اود خاوند خپلوان د هغے د خُلے نه تنګ وو۔ سعید بن المُسیَّب وائی چه" د غه ښځے د خپل حدیث په بیانولو سره خلق په فتنه کښے اچولے دے ۔ اصل خبره دا ده چه هغه ژبوړه وه ، په ډیو وجه هغه د ابن اُمّ مکتوم کره د اوسید و د پاره پاتے کړے شوه" (ابوداؤد)۔ په دویم روایت کښے د سعید بن المُسیَّب دا قول نقل کړے شوے دے چه هغے د خپل خاوند د خپلوانو سره ژبه وهلے وه په دے وجه هغے ته د هغه کُور نه د لرے کید و حکم شوے وو (جصّاص)۔ سلیمان بن یَسار وائی ،" د هغے د کُور نه د وتلو اصلی وجه د هغے بد مزاجی وه" (ابوداؤد)۔

(۲) دویم داچه د هغے روایت حضرت عمرؓ په هغه زمانه کښے رد کړے وُو چه صحابه کرام لا په کښے تعداد کښے موجود وُو اود دے معاملے پوره کید ے شو۔ ابراهیم نخعی وائی چه هرکله حضرت عمرؓ ته د فاطمےؓ دا حدیث اُورسید و نو هغه اوفرمایل لسنا تبارک آیة فی کتاب اللّٰہ و قول رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم لقول امراۃ لعلها او همت سمعت رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلّم یقول لها السکنی والنفقة ۔" مونږ د کتابُ اللّٰہ یو آیت او د رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم قول د یوے ښځے د قول نه نه ٔ شو پریښودے چه هغے ته شاید څه وهم شوے دے۔ ما پخپله د رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم نه اوریدلی دی چه د مبتوته د پاره یعنی د جُدایئ په طلاقو طلاقے شوی ښځے د پاره د استوګنے حق هم شته او د نفقے هم" (جصّاص)۔ ابو اسحاق وائی چه څه د ابو اُسود بن یزید سره د کوفے په جومات کښے ناست وُوم ۔ هلته شَعبی د فاطمے بنتِ قیس د حدیث ذکر اوکړو ۔ په دے باندے حضرت اُسود شَعبی ته کټکی راخکل اووے وئیل چه د حضرت عمرؓ په زمانه کښے هرکله د فاطمے دا روایت پیش کړے شوے وُو نو هغه فرمائیلی وُو" مونږ ه د خپل رب کتاب او د خپل نبی سنت دیوے ښځے د وینا په وجه رد کولے نه ٔ شو، پته نه ٔ لږی چه هغے یاد اُوساتل اوکه هیر شوتر د هغے د پاره نفقه او استوګنه شته ، د اللّٰہ حکم دے لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْۢ بُيُوْتِهِنَّ" دا روایت د الفاظو د اختلاف سره په مُسلم، ابوداؤد، تِرمذی او نسائی کښے نقل کړے شوے دے ۔

(۳) دریم داچه د مروان د حکومت په زمانه کښے کله د جُدایئ په طلاقو سره د طلاقے شوی ښځے (یعنی د مَبتُوتے مطلقے) په حقله یوګرم بحث روان وُو نو حضرت عائشےؓ د فاطمے بنتِ قیس په روایت باندے سخت اعتراض کړی وُو ۔ قاسم بن محمد وائی چه ما د حضرت عائشےؓ نه تپوس اُوکړو چه آیا تاته د فاطمے قیصه معلومه نه ٔ ده ؟ هغے په جواب کښے اُوفرمائیل " چه د فاطمے د حدیث ذکر اُونه ٔ کړے نوښه ده" (بخاری)۔

وَاِنْ كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ

اوکه چرے هغوئ حاملے وی نو په هغوئ باندے دهغه وخته پورے خرچ کوئ چه ترڅو ئے اولادنه وی پیدا کړے

بخاری چه کوم دویم روایت نقل کړے دے په هغے کښے د حضرت عائشے رضی الله عنها الفاظ دا دی ، "په فاطمے څه شوی دی هغه د خدائے نه یریږی نه ؟" په دریم روایت کښے حضرت عُروَه بن زُبیر وائی چه حضرت عائشے اوفرمائیل " د فاطمے د پاره په دے حدیث بیانولو کښے څه خیر نشته" حضرت عُروَه په یوبل روایت کښے بیان کوی چه حضرت عائشے رضی الله عنها په فاطمے باندے سخته ناراضگی بنکاره کړه اوویے وئیل ، " هغه په اصل کښے په یو خالی ځائے کښے وه چه هلته څوک میښے والا نه وُو په دے وجه د هغے د سلا متیا د خاطره نبی صلی الله علیه وسلم هغے ته د کور د بدلولو حکم کړے وُو ۔"

(۴) څلورم داچه د دے بنځے نکاح روستو د اُسامه بن زید سره شوی وه ، او محمد بن اُسامه وائی چه کله به فاطمے د دے حدیث ذکر کولو نو مُحَمَّد پلار لاس له چه به څه ورغلل په هغه به ئے پرکوزار کولو (جصّاص) ۔ بنکاره خبره ده چه کله چرے د حضرت اُسامه په علم کښے سنّت د دے خلاف نه وے نو هغه به د دے حدیث په روایت باندے دومره د ناراضگئ اظهار نه شو کولے ۔

۷ له په دے خبره اتفاق دے چه طلاقه شوی بنځه ، خواه که رجعی طلاق ورکړے شوی وی اوکه د جُدائیئ ، که حامله وی نو د بچی ډکیدو پورے د هغے د استوګنے او د نفقے ذمّه وار خاوند دے ۔ البته اختلاف په دے خبره کښے دے چه د حاملے خاوند مړ شوے وی ، خواه که د طلاق ورکولو نه روستو مړ شوے وی اوکه هغه طلاق ئے نه وی ورکړی او د بنځے د حمل په دوران کښے مړ شوے وی ۔ په دے معامله کښے د فقهاؤ بسکونه دا دی :

(۱) د حضرت علی رضی الله عنه او د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قول دے چه د خاوند په تول میراث کښے د هغے نفقه واجب ده ۔ د حضرت عبدالله بن عمر ، قاضی شریح ، ابوالعالیه ، شعبی او ابراهیم نخعی نه هم دا قول نقل کړے شوے دے ، او د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما هم یو قول د دے په تائید کښے دے (آلوسی ۔ جصّاص) ۔

(۲) ابن جریر د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دویم قول دا نقل کړے دے چه په هغے باندے د هغے ډکیدو د بچی د حصّے نه خرچ اوکړے شی که چرے د مړی نه څه میراث پاتے شوے وی ۔ اوکه میراث نه وی پاتے شوے نو د مړی وارثانو ته پکار دی چه په هغے خرچ اوکړی ، ځکه چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ (البقره ، آیت ۲۳۳) ۔

(۳) حضرت جابر بن عبدالله ، حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه ، حضرت حسَن بصری ، حضرت سعید بن المُسَیّب او حضرت عطاء بن ابی رَبَاح وائی چه د وفات شوی خاوند په مال کښے د هغے د پاره هیڅ نفقه نشته ۔ د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه هم یو دریم قول دا نقل شوے دے (جصّاص) ۔ د دے مطلب دا دے چه د خاوند د میراث نه هغے ته کومه حصّه رسیدلو شوی وی د هغه نه هغه خپله خرچه پوره کولے شی ، لیکن د خاوند په تول میراث باندے د هغے نفقه نه راځی چه بوج ئے په تولو وارثانو باندے راشی ۔

فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ وَاْتَمِرُوْا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوْفٍ ۚ وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهٗٓ اُخْرٰى ۝٦ لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ ۭ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ فَلْيُنْفِقْ مِمَّآ اٰتٰىهُ اللّٰهُ ۭ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا مَآ اٰتٰىهَا ۭ سَيَجْعَلُ اللّٰهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُّسْرًا ۝٧

بیاکه چرے هغوئ ستاسو د پاره (بچی له) پئ ورکړل نو هغوئ له خپل اُجرت ورکړئ، او (د اُجرت معامله) په خپل منځ کښے په مشوره سره په ښه طریقه فیصله کړئ[۱۸]۔ اوکه چرے تاسو (د اُجرت په فیصله کولو کښے) یو بل تنګ کړو نو بچی له به یوه بله ښځه پئ ورکوی۔ مالدار سړے د خپلے مالدارئ مطابق نفقه ورکړی، اوچاله چه رزق کم ورکړے شوے وی هغهٔ د دهغه مال نه خرچ اُوکړی کوم چه الله هغه له ورکړے دے۔ الله چه چاله څومره څه ورکړی د هغے نه زیات بوج په هغه نهٔ اچوی۔ لږے نهٔ په چه د تنګسیا نه روستو الله فراختیا هم ورکړی۔ ع

(۴) ابن ابی لیلیٰ وائی چه د هغے نفقه د وفات شوی خاوند په مال کښے داسے واجب ده لکه څنګه چه د هغه په مال کښے د چا قرض واجب وی (جصّاص)۔ یعنی د پولو میراث نه چه څنګه قرض ورکړے کیږی د غه شان د د هغے نفقه هم ورکړے شی۔

(۵) امام ابو حنیفهؒ، امام ابو یوسفؒ، امام محمّدؒ او امام زُفرؒ وائی چه د مړی په مال کښے د هغے نهٔ د استوګنے حق شته او نهٔ د نفقے۔ څکه چه د مړک نه روستو د مړی څه ملکیّت هیڅ نشته۔ د مړک نه روستو خو هغه د وارثانو مال دے۔ د هغوئ په مال کښے د حاملے کونډے نفقه څنګه واجبیږے شی (هدایه، جصّاص)۔ هم دا مسلک د امام احمد بن حنبل دے (الانصاف)۔

(۱۱) امام شافعیؒ وائی چه د هغے د پاره هیڅ نفقه نشته، البته د استوګنے حق ئے شته (مغنی المحتاج)۔ د هغه دلیل د حضرت ابو سعید خُدریؓ د خُور فُرَیعة بنت مالک دا واقعه ده چه د هغے خاوند کله اُووژلے شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغے ته حکم اُوکړو چه د خاوند په کور کښے عدّت تیر کړه (ابو داؤد، نسائی، ترمذی)۔ په دے د پاسه د هغه دلیل د دارِ قُطنی دا روایت دے چه نبیؐ فرمائیلی دی: لیس للحامل المتوفی عنها زوجها نفقة۔ "د کونډے حاملے د پاره هیڅ نفقه نشته"۔ دا مسلک د امام مالک هم دے (حاشیة الدّسُوقی)۔

۱۸؎ دَ دے حکم نه ډیرهٔ خبرې معلومیږي شوے ـ یوه داچه بنځه دَ خپلو پیو مالکه ده ، کنې نوظاهره خبره ده چه هغه دَ دے دَ اُجرت اغستلو حقداره کیدے نهٔ شوه ـ دویمه داچه کله دَ بچی دَ پیدا کیدو سره هغه دَ خپل خاوند دَ نکاح نه بهر شوه نو هغه په قانون کښے په دِے مجبوره نهٔ ده چه بچی له دِ خامخا پَیٔ ورکړی بلکه دَ بچی پلار که په هغے پَیٔ ورکول غواړی او هغه هم راضی وی نو بچی له به پَیٔ ورکوی او په هغے به دَ اُجرت اغستو حقدار ؤ ـ دریمه داچه پلار هم په قانون کښے مجبور نهٔ دے چه خامخا دِ دَ بچی دَ مور پَیٔ ورکوی ـ څلورمه داچه دَ بچی نفقه په پلار راځیٔ ـ پنځمه داچه بچی له دَ پَیٔ ورکولو اولنیٔ حقداره مُوردہ اودَ بلے بنځے نه دَ پَیٔ ورکولو کارهله اَغستے شی چه خپله مور ئے په پَیٔ ورکولو راضی نهٔ وی ، یا دَ پیو ورکولو دا سے اُجرت اُوغواړی چه دَ هغے ورکول دَ پلار دَ وَس نه بَهر وی ، دَ دے نه شپږمه قاعده دا را اُوځیٔ چه که چرے بله بنځه هم هغه اُجرت غواړی کوم چه دَ بچی خپله مور غواړی نو دَ مور حق اول دے ـ

دَ فقهاؤ رائے په دِے مسئله کښے دا دی :

ضحّاک وائیٔ چه " دَ بچی مُوردَ پَیٔ ورکولو زیاته حقداره ده ـ لیکن هغے ته اختیار دے چه که پَیٔ ورکوی او که نهٔ ـ البته که چرے دَ بلے بنځیٔ سینه قبول نهٔ کړی نو مُور به په پیو ورکولو باندِ مجبوره کړے کیږی " ، هم دغسے رائے دَ قَتَاده اودَ ابراهیم نَخَعی او دَ سُفیان ثَوری ده ـ ابراهیم نخعی داهم وائیٔ چه " که چرے بله بنځه دَ پَیو ورکولو دَ پاره نهٔ مِلاویدله نو بیا به هم مُور په پَیٔ ورکولو مجبوره کړے کیږی " (ابن جریر) ـ

په هدایه کښے دی " که چرے دَ مُوراو پلار دَ جُدایَیٔ په وخت کښے بچے پَیٔ خوری نو په مُور باندِ دا فرض نهٔ دی چه خاص هم هغه دِ پَیٔ ورکوی ـ البته که چرے بله بنځه نه مِلاویدله نو خپله مُور به په پَیٔ ورکولو مجبوره کړے کیږی ـ اوکه چرے پلار دا اُووائیٔ چه څه به دَ بچی مُورله دَ اُجرت ورکولو په څائے بلے بنځے له دَ پیو اُجرت ورکوم ، اومور دَ بلے بنځے هومره اُجرت غوښتلو ، یا بے اُجرته په پیو ورکولو راضی وه ، نو بیا به دَ مُور حق دَ تولو نه اول وی ، اوکه چرے دَ بچی مُور زیات اُجرت غوښتلو نو پلار به په هغے نهٔ مجبوره کولے کیږی ـ

۱۹؎ په دِے کښے دَ مُوراو دَ پلار دواړو دَ پاره یو قسم زُوَرنه ده ـ دَ عبارت نه صفا دا اندازه معلومیږی چه که چرے دَ محکمے نالګیا په وجه ، چه دَ هغے نه خبره طلاقونه رسیدلی وه ، دواړه په خپل منځ کښے بچی ته دَ پیو ورکولو معامله په بنه طریقه فیصله نهٔ کړی نو دا دَ الله خوښه نهٔ ده ـ بنځے ته وئیلے شوی دی چه که چرے تهٔ په زیات اُجرت غوښتلو سره دَ سړی دَ تنګولو کوشش اُوکړے نو دَ بچی پالنه څه په تاپورے خاص نهٔ ده ، بلکه بنځه به ورله پَیٔ ورکړی ـ اوسړی ته هم وئیلے شوی دی چه که چرے تهٔ دَ مُور دَ مینے نه ناجائزه فائده اخلے او بنځه هسے تنګولو غواړے نو دا څه دَ ښو خلقو کار نهٔ دے ـ تقریباً هم دا مضمون دَ سورۃ بقرے په آیت ۲۳۳ کښے زیات په تفصیل سره بیان شوے دے ـ

وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ اَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهٖ فَحَاسَبْنٰهَا
حِسَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّعَذَّبْنٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا ۝٨ فَذَاقَتْ وَبَالَ
اَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ اَمْرِهَا خُسْرًا ۝٩ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا
شَدِيْدًا ۙ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ ۚ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۭ قَدْ اَنْزَلَ
اللّٰهُ اِلَيْكُمْ ذِكْرًا ۝١٠ رَّسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ
لِّيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۭ

خو[۲۰] ډېره کلی دی چه هغوی د خپل رب او د هغه د رسولانو د حکم نه مخ واړوو نو موږ ښ. د هغوئ سره سخت حساب اوکړو او سخته سزا مو ورکړه ـ هغوئ د خپل عمل مزه اوڅکله او د هغوئ انجام پول نقصان نقصان دے، (په آخرت کښے) الله تعالیٰ د هغوی د پاره سخت عذاب تیارکړے دے ـ نو د الله نه اویریږئ اے د عقل خاوندانو چه ایمان مو راوړے دے ـ الله تاسوته یو نصیحت رالیږلے دے، یو داسے رسول[۲۱] چه تاسوته د الله څرګند آیتونه اورَوی د پاره د دے چه مومنان او نیک عمله خلق د تیرونه رنړاته را اوباسی[۲۲] ـ

[۲۰] اوس مسلمانانو ته خبردار ے ورکړے کیږی چه د الله د رسول او د هغه د کتاب په ذریعه کوم حکمونه هغوئ ته ورکړے شوی دی که د هغے نافرمانی ئے اوکړه نو په دُنیا او په آخرت کښے به د کوم انجام سره مخ کیږی، اوکه هغه ئے اومنل نو څه بدله به مومی ـ

[۲۱] څینو مفسرینو د نصیحت نه مُراد قرآن اغستلے دے، او د رسول نه مُراد محمد صلی الله علیه وسلم ـ اوځینی وائی چه د نصیحت نه مُراد پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم دے، یعنی د هغه ذات پول نصیحت نصیحت وُو ـ زمونږ په نزد دویم تفسیر زیات صحیح دے، ځکه چه د اولنی تفسیر سره به فقره داسے جوړول پکار وی چه "مونږ تاسوته یو نصیحت رالیږلے دے او یو داسے رسول مو رالیږلے دے" د قرآن په عبارت دے تبدیلی راوستل ضرورت آخرته دے هرکله چه د دے نه بغیر هم عبارت نه یوازے دا چه پوره معنیٰ لری بلکه زیات د معنیٰ نه وک هم دے ـ

[۲۲] یعنی د جهالت د تیرونه ئے د علم رنړاته را اوباسی ـ د دے حکم پوره اهمیت د سړی په ذهن کښے په هغه وخت کښے راځی کله چه سړے د طلاقو، د عدّت او د نفقاتو په حقله د دُنیا نُور پخوانی او نوی عائلی قانونونه اوګوری ـ د دے کتلو نه

وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا ⑪ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ۭ يَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ

څوک چه په الله ایمان راوړی اوښه عمل اُوکړی، الله به هغه داسې جنتونو ته داخل کړی چه لاندې به ترې نهرونه بهیږی۔ داخلیږی به په هغې کښې همیشه همیشه اُوسیږی۔ الله دَ داسې سړی دَ پاره بهترین رزق سا تلے دے۔

الله هغه ذات دے چه اُوه آسمانونه ځ جوړ کړل اودَ هغې پشان دَ زمکے دَ قسم نه هم پیدا ۲۳ کړے تولو کښې

معلومیږی چه دَ بار بار بدلولو اونوی نوی قانونونو جوړولو باوجود یو قوم نه دَ ننه ورځ پورے داسے مناسب او فطری او فائده مند قانون په لاس نه ورغلے لکه څنګه چه یونیم زرکاله مخکښې دے کتاب او دَ دے راوړونکی رسول مونږ له راکړے وُو او چه دَ هغې نه دَ غلطئ ایستلو دَ پاره دَ دوباره نظر اچولو ضرورت نه ٔ چرته پیښ شوے دے او نه ٔ پیښیدے شی۔ دلته دَ دواړو دَ یوبل سره دَ مقابله کولو موقع نه ٔ ده۔ دَ دے صرف یوه مختصره شان نمونه مونږ ه په خپل کتاب "حقوق الزوجین" کښې په آخری حصه کښې لیکلی ده۔ لیکن کوم عالمان چه غواړی هغوئ دِ دَ دُنیا دَ مذهبی اولادینی قانُونو سره دَ قرآن او دَ سنّت دَ دے قانون مقابله اُوکړی او پخپله دِ اُوګوری۔

۲۳ دَ "هغې پشان" دا مطلب نه ٔ دے چه څومره ئے آسمانونه جوړ کړل هغومره ئے زمکے هم جوړے کړے، بلکه مطلب دا دے چه لکه څنګه هغه پیرا سمانونه جوړ کړی دی دغه شان ئے پیرے زمکے هم جوړے کړی دی۔ او "دَ زمکے دَ قسم نه هم" دَ دے مطلب دا دے چه لکه څنګه دا زمکه دَ خپل مخلوقاتو دَ پاره فرش اوزا نګو جوړه شوی ده دغه شان الله تعالیٰ په کائناتو کښې نورے زمکے هم جوړے کړی دی چه دَ خپل خپل مخلوق دَ پاره فرشونه اوزا نګوکانے دی۔ بلکه په قرآن کښې په ځینو ځایونو کښې دا اِشاره هم شوی ده چه دَ سا مخلوق یوازے په دِ ے زمکه آباد نه ٔ دی، په عالم بالا کښې هم شته (دَ مثال په طور اُوګورئ تفهیم القرآن، څلورم جلد، الشوریٰ، آیت ۲۹، حاشیه ۵۰)۔ یعنی په آسمان کښې چه کوم بے شماره ستوری بنکاری، دا ټول هسے شړ پرا ته نه ٔ دی، بلکه دَ زمکے په شان په دِ ے کښې ډیر ستوری داسے دی چه په هغې کښې دُنیا ګانے آباد دے دی۔

په پخوانو مفسّرینو کښې صرف ابن عباسؓ یوداسے مفسّر دے چه هغه دا حقیقت په هغه دور

بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴿۱۲﴾

حکم نازلیږی ۔ (دا خبره تاسوته په دې وجه بنودلے کیږی) چه تاسوته معلومه شی چه الله په هرڅیز باندِ قدرت لری، اودَ الله علم په هرڅیز باندِ خوردے ۔ ع

کښے بیان کړے وُوکله چه دَ سړی په خیال کښے هم دا نهٔ راتلله چه په کاُنا ترکښے دَ دے زمکے نه سِوا چرته بل ځائے هم دَ عقل مند مخلوق وطن شته ۔ نن دَ دے زمانے سائنس دانان هم دَ دے خبری په حقله په شک کښے پراته دی، نولا څوارلس سوه کاله مخکښے به خلقوپه دے څه باورکړے وے ۔ داوجه وه چه ابن عباس رضی الله عنه به دَ عاموخلقوپه مخکښے داخبره نهٔ کوله چه هسے نهٔ په دې خبره دَ خلقوایمانونه اُوخوئیږی ۔ مجاهد وائی چه دَ ابن عباسؓ نه دَ دے آیت مطلب اُوتپوسلے شو نوهغه اُوفرمائیل که دَ دے تفسیر ما تاسوته بیان کړو نو تاسو به کافران شئ اوستاسوکفربه داوی چه هغه به دروغ اُوکنړی ۔" تقریباً هم دا خبره دَ سعید بن جُبیر نه هم نقل کړے شوی ده چه ابن عباس اُوفرمائیل " څه باورد ے چه که چرے څه تاسوته دَ دے مطلب اُوبنایئ نوتاسو به کافران نهٔ شئ ۔" (ابن جریر ۔ عبد بن حُمید) ۔ بیاهم ابن جریر، ابن ابی حاتم اوحاکم، او په شُعَبُ الایمان اوکتاب الاسماء والصفات کښے بَیْهَقِی دَابو الضُّحیٰ په واسطه سره دَ ابن عباس دا تفسیر نقل کړے دے چه الفاظ دَ یوبل نه لږ لږ مختلف دَ فرمائی چه، فی کلِّ ارضٍ نبیٌّ کنبیِّکم وَاٰدَمُ کاٰدَمَ ونوحٌ کنوح وابراهیمُ کابراهیمَ وعیسیٰ کعیسیٰ ۔" په هره زمکه کښے نبی دے ستاسودَ نبیؐ پشان اوآدم دے ستاسودَ آدمؑ پشان اونوح دے ستاسودَ نوحؑ پشان اوابراهیم دے ستاسودَ ابراهیمؑ پشان اوعیسیٰ دے ستاسو دَ عیسیٰؑ پشان ۔" دا روایت اِبن جَرِیرؒ په فتح الباری کښے او ابن کثیر په خپل تفسیر کښے هم نقل کړے دے ۔ اوامام ذَهبی وئیلی دی چه دَ دے سند صحیح دے البته دُما په علم کښے دَ ابوالضُّحیٰ نه بِسوا دا بل هیڅا نهٔ دے روایت کړے، نو په دِے وجه دا بالکل یوشاذ روایت دے ۔ حُینی نورو عالمانو دِے ته دروغ اوموضوعی حدیث وئیلے دے اوملّا علی قاری دے ته په موضوعات کبیر صفحه ۱۹ کښے موضوع وئیلے دے اولیکلی ئے دی چه کله چرے دادَ ابن عباس روایت هم دے خواسرائیلیات دی ۔

لیکن حقیقت داد ے چه دَ دے دَ ردّ کولو اصلی وجه دا ده چه خلق دادَ عقل نه لرے کنړی، کنړ نو په دِے کښے هیڅ خبره دَ عقل نه خلاف نشته ۔ علامه آلوسی په خپل تفسیر کښے په دِے باندِ بحث کړے دے هغه لیکی، " دَ دے په صحیح منلوکښے نهٔ عقلاً څه څیز مانع دے او نهٔ شرعاً ۔ مطلب داد ے چه په هره زمکه کښے یومخلوق شته دے چه خپل یوبُنیاد لری لکه څنګه چه زمونږ په زمکه دَ بنیادمو آدم علیه السّلام بُنیاد دے اوپه هره زمکه کښے داسے افراد شته دے چه په خپل مخلوق

کښے دَ نورو په نسبت غوره دی لکه چه په مونږ کښے نوحؑ او ابراهیم علیهما السّلام غوره او ممتاز دی۔" وړاندِ هغه وائی، کیدے شی چه زمکے دَ اوّونه زیاته وی او دغه شان آسمانونه هم صرف اوّه نهٔ وی۔ په اوّم عدد باندے دَ اکتفا کولو نه داخبره نهٔ لازمیږی چه دَدے نه زیاتے نهٔ وی۔" بیا په حُسینو احادیثو کښے چه دَ آسمانونو په منځ کښے فاصله پنځه پنځه سوه کاله بیان کړے شوی ده، دَدے په حقله علّامه آلوُسی وائی چه هو من باب التقریب للاَفهام، یعنی دَدے نه مُراد ټیک ټیک دَفاصلےناپ بَیانول نهٔ دی، بلکه مقصدی خبره په داسے طریقه بَیانول دی چه هغه دَ خلقو پوهے ته زیات نزدے وی۔

داخبره قابل ذکر ده چه اُوس اُوس دَ امریکے رانډ کارپوریشن (Rand Corporation) دَ فلکی مشاهداتو نه اندازه لګولی ده چه زمکه په کوم کهکشان (Galaxy) کښے پرته ده صرف په هغے کښے تقریباً شپږیته کروړه سیارے داسے دی چه دَ هغے طبعی حالات زمونږ دَ زمکے سره ډیر زیات مِلاؤ دی او اِمکان دے چه په هغے کښے هم ژوندی مخلوق آباد وی (اکانومسټ، لنډن۔ مورخه ۲۶ جولائی ۱۹۶۹ء)۔